حسبنا اللہ ونعم الوکیل

د نحوی مشهور او مشکل ترین کتاب اسانه شرحه

فیضُ الجامی

پښتو شرح

مُلا جامی

تالیف

حضرت مولانا عبدالرحمٰن جامی رحمہ اللہ





مرتب

مولانا محمد فیض الہادی حقانی

پسند فرمودہ

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس ترنگزئی دام مجدہ

خصوصیات

* اعراب
* تحت السطور ترجمہ
* خلاصہ د متن
* اغراض د جامی
* فوائد نادرہ
* نکات، لطیفہ
* نقشہ جات

معرب

مبنی

مکتبہ رحمانیہ

محلہ جنگی قصہ خوانی بازار پشاور

0302- 62 09 815

بسم الله الرحمن الرحيم

دکتاب نوم : فیض الجامي پښتو شرح دشرح جامي

مصنف : حضرت مولانا عبدالرحمن جامی رحمۃ اللہ

مُرتب: ابو الطيب مولوي محمد فيض الهادي " حقاني "

فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

مدرس بمدرسة عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چارسده روډ .پشاور

تصحیح : مولوی نصیر الدین "حقانی"

فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

تصحيح ونظرِ ثاني : مولوی محمد جان "حقانی"

فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

نظرِ ثالث : مولوی حافظ عبدالصبور "حقانی"

فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

کمپوزنګ : ابوبدر کمپوزنګ سنټر، پشاور

پروپرائیټر : ابوالطیب "حقاني" موبائل نمبر: 0311-9316109

سالِ اشاعت بار اول: ۱۴۳۵ھ موافق ۲۰۱۴ء

سالِ اشاعت بار سوم : ۱۴۳۷ھ موافق ۲۰۱۶ء

ناشر : مکتبه رحمانیه محله جنګي پشاور

فهرست جُز اول :

تقريظ

بركة العصر ، المحدث الكبير شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ادريس ترنګزئي صاحب

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدنا محمد خاتم النبيين وعلى آله وأصحابه هداة الدين أما بعد!

زيرِ نظر كتاب "فيض الجامي پښتو شرح د شرح جامي" د بعضې مواضعو مطالعه مې وكړه.

فاضل مؤلف "مولانا محمد فيض الهادي حقاني صاحب" په پښتو ژبه كې د شرحِ جامې ډير بهترين خدمت كړې دي.

كافيه د نحوې په كتابونو كې ډير اهميت لري ډير مختصر كتاب دي ليكن كه په غور يې مطالعه وكړې شي نو د نحوې د قواعدو يوه عظيمه مجموعه ده ددې وجې نه د درسِ نظامي په نصاب كې ډير اهميت لري.

په مختلفو ادوارو كې لوي لوي علماء كرامو ددې شروح او حواشي په مختلفو ژبو كې ليكلي دي ليكن مولانا عبد الرحمن جامي رحمه الله چې كومه شرحه ليكلي ده نو د "سونے پہ سہاگہ" مصداق دي الله تعالى دې لره يو مقبوليت وركړې دي او د متن په شان د درس نظامي د نصاب اهم كتاب منلې شوي دي.

په مختلفو ازمنو كې ډيرو علماء كرامو دې حواشي او شروح ليكلي دي په مختلفو ژبو كې.

زيرِ نظر كتاب هم د شرح جامي د شروحو په شان يوه شرحه ده ، ما په ډير عجلت د بعضې مواضعو مطالعه وكړه فاضل مؤلف په سليس انداز ليكل كړي دي او د متن آسانه ترجمه او د مولانا جامي رحمه الله اغراض ، شرح او وضاحت د مغلقو ځايونو ، فوائد قيود او د امثلو وضاحت او د شرح او متن ضروري تطبيقاتو باندې مزين كتاب مرتب كړي دي او محترم ورور شهزاده صاحب ترې د اشاعت ذمه داري اخستې ده.

د الله تعالى نه دعا ده چې د مدرسينو او طلباو د پاره يې باعث د استفادې او د فاضل مؤلف او ناشر د پاره باعث د اجر او ثواب ذريعه وګرځوي آمين فقط

محمد ادريس عفي عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

اعتذار او غوښتنه :

الحمد لولیه والصلوة علی نبیه والصلاة والسلام علی عبادہ الذین اصطفی ، أما بعد !

دیني عالمانو سلفاً او خلفا په هر وخت کې د دین د نشر او اشاعت په غرض د خپل ذوق او استعداد او د وخت د ضرورت او مصلحت په اساس په مختلفو علومو کې لیکنې کړې دي او د ذي ربط خلکو دیني ضرورت او مشکل یې پوره کړي دي .

محترمو ! شرح ملا جامي چې د درسِ نظامي یو مهم او قیمت بها کتاب دي او په دې باندې ځان پوه کول او مقصود ته رسیدل ډیر زیات ګران او مشکل کار دي ، چونکې موجوده وخت کې طالب العلم د مختلف النوع مشکلاتو او پریشانو سره لاس او ګریبان دي ، او څه د همتونو کمزورتیاګانې دي ، نو د مشکلاتو او د کم همتې د وجې نه مقصود ته رسیدل ورته مشکل او سخت وي .

نو ددې وجې نه د بعضو ملګرو دا خواهش وو چې داسې یوه مجموعه تیاره شي چې مدرسین ورونه او طالب علمان ترې په آسانه مستفید او د شرح جامي چې کوم مقصود دي هغه حاصل کړي ، نو ددې مجموعې په جمع کولو باندې مو شروع وکړه .

اصلاً زمونږ نیت او اراده داسې وه چې دشرح جامي معرب اومبني دواړو شرحه تیاره کړو او محترمو طالبانو او علماو ته یې ور وړاندې کړو ، خو چونکې د بیمارۍ او د مشکلاتو د ډیر والي او د وخت د تنګوالي په اساس باندې مو مبني تر معرفې او نکرې پورې وکړه او ان شاء الله آئنده ایډیشن کې به مبني تر آخره پورې مکملوو .

نو الحمد لله دالله تعالی په فضل او کرم او د مشفقو استاذانو د نیکو دعاګانو په برکت سره دا مجموعه یو څه وخت وروسته اختتام ته ورسیده .

این سعادت بزور بازو نیست ☆ تا نه بخشد خدای بخشنده

د خپل استعداد او طاقت موافق مو ددې مجموعې په تیارولو کې ښه کوشش او محنت کړې ترڅو چې غلطې او تیروتنه په کې رانه شي خو انسان کمزورې او د نسیان خکار کیدلې شي نو په دې اساس که تاسو په دې مجموعه کې څه کمی محسوس کړې نو مونږ ته یې نشاندهي کړئ ترڅو په آئنده ایډیشن کې اصلاح او اصلاح شده مجموعه محترمو طالبانو او مدرسینو ورونو لاس ته مخکې شي .

د کتاب په باره کې يو څو ګذارشات :

(۱) **په متن باندې اعراب** : په اعراب کې مو ډير کوشش کړې دي ترڅو ظاهره او علمي غلطي تيره نه شي خو بيا هم خلق الانسان ضعيفاً.

(۲) **تحت السطور ترجمه** : په ترجمه کې مونږ حد الوسع کوشش کړې ترڅو روانه ، سليسه اوعام فهمه ترجمه وکړو ترڅو د عبارت مغلقات پرې حل شي .

(۳) **خلاصه دمتن** : تر خپل طاقته پورې مو کوشش کړې چې د متن خلاصه بيان کړو .

(۴) **اغراض دجامي** : د هر يو لفظ اغراض اومقاصد دجامي مو بيان کړي او د ډير قيل او قال نه مو ډډه او اجتناب کړې دي .

او په څه ځايونو کې مو نقشه جات ، نکت غريبه او فوائد عجيبه هم ذکر کړي دي .

دکتاب دحجم زياتوالې په اساس مو کوشش کړې دي چې ډير قيل اوقال رانه شي او چې کوم مهم سوالات اوجوابات ، مغلقات دجامي دي نو هغه مو تر يو اندازه حل کړي دي .

اود تصحيح مو هم تر حتى الوسع کوشش کړې خو د وقت د تنګوالي په اساس به ان شاء الله په آينده دوهم ايډيشن کې د کتاب په ترتيب اوتزين اوتصحيح کې به نور کوشش هم وشي .

د ټولو هغو علماو نه مشکور يم او د قادر ذات نه ورته د دارينو د خوشحالۍ ، سعادت او کاميابي غوښتونکې يم کومو علماو چې مونږ سره ددې مجموعې په ترتيب ، تصحيح اوتزين کې همکاري کړي ده او ددې کتاب په تکميل کې يې زمونږ سره تکاليف او سختۍ ګاللې دي .

الله تعالى دې زما د عاجز بنده دا کمزوري خدمت په خپل دربار کې قبول او منظور کړي ، او زما او زما والدينو ، استاذانو او د ټول امت مسلمه د پاره د مغفرت او بخښنې سبب وګرځوي .

غرض نقشے است کز ما یاد ماند ❁ کہ ہستی را نمی بینم بقائے
مگر صاحبدلی روزے برحمت ❁ کند در حق این مسکین دعائے

محمد فيض الهادي حقاني

مدرس بمدرسة عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

لنډي سرک ستاپ ، چارسده روډ پشاور

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

د مصنف د ژوند حالات :

د مصنف نوم عبدالرحمن او لقب يې عماد الدين يا نور الدين دي او كنيت يې ابوالبركات دي د پلار نوم يې احمد او د نيكه نوم يې محمود دي

او بعضې علماء وايي چې دده لقب عماد الدين وو ، ليكن صحيح خبره داده چې اولاً دده لقب عماد الدين وو ، ليكن وروسته بيا په نورالدين لقب سره مشهور شو .

پيدائش : دده پيدائش په جام كلي كې په يو بستي خرجرد نومې ځاې كې په ۲۳ د شعبان ۸۱۷هـ مطابق ۷ نومبر ۱۴۱۴ء ماخوستن پيداشوي دي

په خپله علامه جامي د خپل پيدائش ځاې او خپل نسبت طرف ته په دې لاندې اشعارو كې اشاره كړې ده .

مولد جام و رشحه قلم　　جرعة جام شيخ الإسلام است

لا جرم در جريدة أشعار　　بدو معنى تخلصم جامي است

دده نسب امام محمد بن الحسن الشيباني شاګرد امام الاعظم ابي حنيفه نعمان بن ثابت ته رسيږي .

شيبان د عربو په قبيلو كې مشهوره ده مثنى بن حارثه الشيباني او معن بن زائدة الشيباني دې قبيلې سره تعلق لري .

تعليم او تعلم : داد ذهن نه ډير كمزوري ؤ چې دده ذهن د كمزورۍ په باره كې يوه قصه نقل ده چې يو ځل يې خوب وليده ملګري ورته په خوب كې وايي چې راځه چكر ووهو ، ده ورته وويل چې يو خو زما ذهن ډير كمزوري دي اوبل مې تاسو چكر ته بوځئ خو دريم ځل باندې ورته ملګروو وويل چې نبي عليه السلام دې غواړي نو دې زر ورغلو .

نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې : عبدالرحمن مونږ دې غواړو او ته نه راځې هغه ورته وويل چې زه د تاسو نه خبر نه وم چې تاسو يې ، نو د خپل ذهن د كمزورتيا شكايت يې ورته وكړو .

نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته په خوله كې خپلې لاړې مباركې ور واچولې نو سهار يې استاذ په سبق كې خپل استاذ ته مسلسل جوابونه وركول نو استاذ يې ورته وويل چې : ته خو هغه عبدالرحمن نه يې كوم چې مخكې وې .

په ماشومتوب کې د پلار سره هرات او سمرقند ته لاړو چې په دې وخت کې د اسلامي علومو او د فارسي د ادب مرکز وو ، شمس الدين محمد الشتي چې په خپله زمانه کې مشهور قاضي او مفتي او د احنافو د اکابرو علماو نه وو دده نه يې علم حاصل کړو

بيا دده پلار هرات ته لاړو او علامه جامي يې په مدرسه نظاميه کې داخل کړو چې هلته دوي د شيخ جنيد الاوصلي ، شهاب الدين الحاجري په شان د علم د غرونو نه علم حاصل کړو، بيا سمرقند ته لاړو او خواجه علي السمرقندي او قاضي زاده الرومي نه يې سبق وويلو .

استاذان : دده په مشهورو استاذانو کې نظام الدين احمد الدشتي ، شيخ جندي الاصولي ، شهاب الدين الحجري ، خواجه علي السمرقندي ، قاضي زاده الرومي رحمهم الله وغيره شامل دي .

تصوف او بيعت : د تعليم نه پس تصوف او بيعت ته يې رجوع وکړه او سعدالدين محمد کاشغري او خواجه علي سمرقندي په حلقهء طريقت کې داخل شو ، اوپه لږوخت کې دده شمار په خلفاو کې وشو .

په ۱۴۷۲ کې حج ته لاړو، په مختلفو ښارونو کې د ګرځيدو نه پس هرات ته واپس راغې او همدلته وفات شو .

اولاد : د علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ نکاح د خپل مرشد شيخ سعدالدين الکاشغري د لور سره شوي وه ، دده څلور زامن وو، اول بچي يې د ولادت نه پس متصل وفات شو ، او دوهم بچي يې د ولادت نه يو کال پس وفات شو دده نوم صفي الدين محمد وو ، دريم بچي يې ضياء الدين يوسف وو دا يواځې ښغه بچي وو چې دا ژوندي پاتې شوي وو چې ده ته خپل پلار علامه جامي د کافيې شرحه **الفوائد الضيائية** ليکلي وه ، دده پيدائش ۸۸۲هـ کې شوي وو ،اوڅلورم بچي يې ظهيرالدين عيسى دى دادخپل ورور ضياء الدين يوسف دپيدائش نه نهه (۹) کاله پس پيدا شو ليکن داهم دپيدائش نه څلويښت (۴۰) ورځې پس وفات شو .

اخلاق او عادات : علامه جامي انتهائي متواضع انسان وو اکثر به په زمکه مخ په قبله کيناستو او هر راتلونکي ته به اودريدو او ملاويدو ، هميشه به يې په خوراک کې فقيران اونور غريب خلک شاملول ، د نرم طبيعت او د دقيق احساس مالک وو ، خوش طبعه اوخنده رُوي انسان وو ، دده يو کتاب مستقل په لطائفو ليکل شوي چې نوم يې **لطائف الطوائف** ،دى ، تنهايي او فقيري به يې خوښوله .

تصنيفات : دده تصانيف ډير زيات دي ، په قاموس المشاهير کې دده تصنيفات ۴۴ ليکلي دي ، او د بعضو حضراتو په قول باندې يې د تصنيفاتو تعداد ۹۹ دی دده په تصانيفو کې مشهور تصانيف په لاندې ډول دي :

عربي تصانيف : تفسير القرآن الكريم ، دا تفسير يوه سيپاره ده ، الدرة الفاخرة ، شرح فصوص الحكم لابن العربي ، الفوائد الضيائية چې په شرح ملا جامي په نوم باندې مشهور شوي .

فارسي تصانيف : اشعة اللمعات ، بهارستان ، تاريخ هراة ، ديوان قصائد وغزليات ، رسالة در فن قافية ، رسالة في السلسلة النقشبندية ، شرح النقاية ، مختصر الوقاية ، مثنويات هفت اورنگ ، مناقب الشيخ جلال الدين الرومي ، نفحات الأنس ، نقد النصوص في شرح نقش الفصوص ، للإمام محيى الدين بن العربي ، حاشية على المفتاح ، رسالة في أسئلة الهندستان وأجوبتها ، رسالة في الموسيقي ، وغيره .

وفات : دا په ۱۳ محرم په ۸۹۸هـ کې بيمار شو ، او بيا په ۱۸ د محرم په ۸۹۸هـ کال کې وفات شو او د خپل مرشد خواجه سعد الدين کاشغري په څنګ کې دفن کړې شو .

يو څو ضروري خبرې:

د هر علم د شروع کولو نه مخکې د څو شيانو پيژندل ضروري دي:

(۱) **تعريف دعلم**: ددې دپاره چې طلب د مجهول مطلق لازم رانه شي.

(۲) **موضوع دعلم**: ځکه چې يو علم چې دبل علم نه جدا کيږي نو هغه په موضوع سره جدا کيږي نو ددې وجې نه موضوع دعلم پيژندل ضروري دي.

(۳) **غرض او مقصد**: ددې دپاره چې طلب او کوشش عبث او بې ځايه لازم رانه شي.

(۴) **واضع دعلم**: ددې دپاره چې دعلم عظمت او مرتبه اوشان په زړه کې کيني.

(۵) **تاريخ دعلم**: ددې دپاره چې دعظيم الشان علماو د محنت او کوشش معلوميدو نه په زړه کې ددې علم نور عظمت او قدر هم راشي.

(٦) **مقام او مرتبه دعلم**: ددې دپاره چې ددې علم دويلو شوق پيدا شي.

(۱) تعريف دعلم:

دنحوې لغوي معنى:

نحو په لغت کې په څو معانيو سره راځي، چې اوه معاني په دې لاندې شعر کې ذکر دي:

نحونا نحو نحوک يا حبيبي نحونا نحو الف من رقيب

قصد وکړو مونږ ستاد تبيلي په طرف اى زما دوسته – وګرځوله مونږه اندازه دزرو رقيبانو

وجدنا [illegible] مريضا نحو قلبي تمنوا منک نحوا من زبيب

وموندل مونږ هغوي مريضان دخپل زړه په شان - تمنا کوله دتانه ديو قسم کشمش (اوسکي).

په دې شعر کې اوه معاني ذکر دي: (۱) قصد، (۲) طرف، (۳) قبيله، (۴) ګرځول، (۵) اندازه، (٦) مثل (۷) قسم.

ددې نه غير نورې معانې هم دى لکه: (۱) **الطريق** لاره، محاوره ده: (**هذا النحو السوي**)، يعني **الطريق المستوي** (نيغه او سيدها لاره). (۲) **الفصاحة**: محاوره ده چې **ما احسن نحوک في الكلام** ستافصاحت في الكلام څومره ښه دي. (۳) **الانحاء** (اړول) لکه انحيتُ عنه بصري اي: عدلته، ما دهغه نه خپلې سترګې واړولې. (۴) **الانتحاء الاعتماد والميل** (متوجه کول، اعتماد کول، مايل کول).

دنحوې اصطلاحي معنی :

هو علم يعرف بها احوال اواخر الكلم الثلاث من حيث الاعراب والبناء وكيفية التركيب بعضها مع بعض .دا داسې علم دی چې پيژندل شي په دې سره احوال داخرو كلمو دريو دحيثيت داعراب اوبناء نه اود كيفيت دتركيب دبعضو سره دنورو بعضو .

فائده :چې كله ديو څيز تعريف كولې شي نو دې ته معرف اومحدود ويلې شي اودتعريف الفاظو ته معرِف او حد اوتعريف ويلي شي ، په تعريف كې ابتدائي الفاظ په درجه دجنس كې وي چې هغه معرَف ته هم شامليږي اوغيرمعرف ته هم ، او وروستي الفاظ په درجه دفصل كې وي چې ددې په ذريعه دنورو نه خارجولې شي ، نو دلته النحو معرف اومحدود دی ، علم بأصول الخ معرف اوحد اوتعريف دی په دې تعريف كې اولنې لفظ علم بأصول په درجه دجنس كې دې چې معرَف يعنې نحوې ته هم شامل دی اوغير دنحوې نه نورو ته هم .

يعرف بها احوال اولنې فصل دی په دې سره ترې هغه علم خارج شو چې په هغې سره دكلمې احوال نه شي پيژندل كيدي بلكې دكلمې ذات پرې پيژندل كيدی شي ، لكه علم صرف او همدارنګې هغه علم ترې هم خارج شو چې په هغې سره دكلمې معاني پيژندل كيدي شي لكه علم منطق ، علم معاني ، علم بيان

اواخر الكلم الثلث دوهم فصل دی ددې نه هغه علم خارج شو چې په هغې سره دكلمې اول او دوسط حال معلوميږي لكه علم لغت ، اوهغه علم ترې هم خارج شو چې په هغې سره دپيريانو اودانسانانو احوال معلوميږي نه ددري كلمو دآخر احوال لكه علم فقه .

او من حيث الاعراب والبناء دريم فصل دی ددې نه هغه علم خارج شو چې دهغه نه دكلماتو احوال معلوميږي مګر په اعتبار دمعرب اومبني سره نه ، بلكې په اعتبار دقافيې سره لكه علم عروض او علم قوافي .

كيفية تركيب بعضها مع بعض ، داخلورم فصل دی په دې سره ترې هغه علم خارج شو چې په هغه سره د مفرداتو كيفيت معلوميږي نه د بعضې كلماتو د نورو بعضو سره د يو ځاې كولو طريقه لكه علم هندسه ، علم هيئت اوعلم اشتقاق وغيره .

(۲) غرض او غايت :

دغرض لغوي معنى نښه ده او اصطلاحي معنى **مايكونُ باعثاً للفعل** ، غرض هغه څيز دي چې په يو كار باندې باعث او برانګيخته كولو والاوي

دنحوې غرض او غايت :

صيانة الذهن عن الخطأ اللفظي في كلام العرب ،ساتل دذهن دي دخطاء لفظي نه په كلام دعربو كې ،

عن الخطاء اللفظي په دې قيد سره ترې علم صرف اوعلم معاني ، علم بيان ، علم منطق خارج كړې شو ځكه چې دعلم صرف غرض دصيغوي غلطو نه بچ كيدل دي اودعلم معاني اوبيان غرض معنوي غلطي نه بچ كيدل دي اودعلم منطق غرض فكري غلطي نه بچ كيدل دي اودعلم نحوې غرض لفظي غلطي نه بچ كيدل دي .

(۳) موضوع :

دموضوع لغوي معنى وضع ايخودل دي او اصطلاحي معنى **مايبحث فيه عن عوارضه الذاتية** .

موضوع هغه څه ته وايي چې بحث كيږي په دې علم كې دعوارضوذاتيو نه،اودهرعلم موضوع هرهغه څيز دي چې دهغې دعوارضوذاتيويعنې حالات ذاتيونه په دې علم كې بحث كيږي لكه دعلم طب موضوع دانسان بدن دى ځكه چې په علم طب كې دانسان دبدن داحوالونه بحث كولې شي .

دعلمِ نحوې موضوع :

دعلم نحوې موضوع **كلمه اوكلام** دى ځكه چې په علمِ نحو كې دكلمې او كلام دعوارضوذاتيو اوداحوال ذاتيو مثلاً منصرف ، غيرمنصرف،معرب ، مبني ، مفرد ، تثنيه ، جمع ، مذكر ، مؤنث،مركب تام ، ناقص ، وغيره نه بحث كيږي .

(۴) واضع دعلمِ نحوې :

دعلمِ نحوې دواضع په باره كې دوه (۲) قوله دي :

اول قول :اول اومشهور قول دادې چې دعلمِ نحوې واضع هغه حضرت ابوالاسوددوئلي رَحِمَهُ اللَّهُ دي ، دده نه مروي دي چې څلورم خليفه اميرالمؤمنين حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خدمت كې حاضر شوم نو ما حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وليدو چې په سوچ كې ناست دي ، ماترې دسوچ اودفكر كولو په باره كې ترې تپوس وكړو نوحضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل : چې ما سوچ كول چې

دعجمو او عربو داختلاط اودګډوډيدودوچې نه په لغت عربي کې فسادراځي مادځه اصولود منضبط کولواوتيارولو اراده کړي چې په دې اصولوباندې عمل وشي اودفسادنه محفوظ پاتې شي، دري ورځې پس زه بياحاضرشوم نوماته يوه قطعه راياده شوه چې په هغه قطعه کې دا مضمون وو :

﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلْكَلَامُ كُلُّهُ ثَلَاثَةٌ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ فَالْاِسْمُ مَا اَنْبَأَ عَنِ الْمُسَمّٰى وَالْفِعْلُ مَا اَنْبَأَ عَنِ الْفَاعِلِ وَالْحَرْفُ مَا اَنْبَأَ عَنْ مَعْنًى لَيْسَ بِاِسْمٍ وَلَا فِعْلٍ﴾.

بيا يې وويل ته په دې کې څه اضافه وکړه ، بيا ابوالاسود رَحِمَهُ اللهُ وايي چې ما څه نور قواعد جمع کړل ، عطف ، لغت ، تعجب ، استفهام ، باب اِنّ وغيره دا مې راجمع کړل اوحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته مې پيش کړل په حروف مشبه بالفعل کې ما لٰکِنَّ ذکر نه کړو نو هغوئ وويل چې داپه کې هم شامل کړه نودنحوې يوه خاصه مجموعه اوقواعد مرتب شو ، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله دامجموعه وليده نو وويل : ﴿ما احسن هذا النحو الذي قد نحوت﴾ څومره ښه دا چې دکومې تاسو قصد کړي وو ، يعني ډير ښه قواعد دې تيار کړي ، ددې قول مطابق واضع اول دنحوې هغه څلورم خليفه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي .

دويم قول : ددوهم خليفه حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې يو بانډه چې دخلکو نه درخواست وکړو چې ماته په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نازل شوي کلام الهي يعنې د قرآن مجيد تلاوت وکړي يو عجمي دې بانډه چې ته تلاوت شروع کړو چې کله سورة براءة دې آيت ته ورسيدو چې : ﴿أَنَّ اللهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولِهِ﴾

ترجمه :بې شکه الله تعالى د مشرکينو نه هم بري دى او د خپل رسول نه هم بري دي (العياذ بالله).

نو دې بانډه چي وويل چې : أبرئ الله من رسوله؟ ، آيا الله تعالى دخپل رسول نه بري دي ، نو بيا دې بانډه چي وويل چې : ان كان الله بريئا من رسوله فانا برئ منه ، که چيرته الله تعالى دخپل رسول نه بري دي نو زه هم ددې رسول نه بې زاره اوبري يم ، (نعوذبالله)

چې کله حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ددې واقعې اطلاع ملاو شوه نوډير زيات خفه شو او فکر يې وکړو چې څه قوانين وضع کول په کار دي چې په دې قواعدو سره عجمي خلک د غلطيو نه محفوظ شي نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت ابوالاسود دولي ته دقوانينو دوضع کولو حکم

وکړو دحضرت عمر رضي الله عنه دحکم مطابق حضرت ابوالاسود دولي قواعد وضع کړل ددې قول مطابق په حيثيت دآمر سره حضرت عمر رضي الله عنه ګويا چې واضع دعلم نحوې دي .

دريم قول : حضرت ابوالاسود دؤلي رحمه الله (چې دحضرت حسن اودحضرت حسين رضي الله عنهما استاذ دی) ديو کس نه دا واوريده : ﴿أَنَّ اللهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولِهِ﴾ وَرَسُولُهُ يې په کسرې سره وويل ، نوحضرت ابوالاسوددؤلي رحمه الله خفه شو او وي ويل : **هذا كفر** ، بيا دحضرت علي رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو چې : **نحوت ان اصنع ميزانا للعرب** ، زما اراده ده چې زه دعربو دپاره يوميزان اوقانون جوړ کړم چې دوي دخپلې ژبې الفاظ اوکلمات صحيح ادا کوي ، نو حضرت علي رضي الله عنه وويل : **اقصد نحوه** ، دې طرف ته قصد وکړه ، ددې وجې نه ددې نوم هم علم نحو ايخودل شوي دي اودې علم ته علم الاعراب هم ويلې شي ځکه چې اعراب ته په دې کې هم دخل دی . ددې قول مطابق دعلم نحوې اول واضع حضرت ابوالاسود دؤلي رحمه الله دي .

وجه تسميه دعلم نحو :

چونکې حضرت علي رضي الله عنه دخوشحالي اظهار وکړو او دې مجموعې ته يې لفظ د النحو استعمال کړو نو ددې وجې نه ددې علم نوم هم علم نحو کيخودل شو .

(۵) تاريخ دعلم نحوې :

اول دور : اول دور خو دادي چې په کوم کې دوهم خليفه حضرت عمر رضي الله عنه او څلورم خليفه حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت ابوالاسود دؤلي رحمه الله بنياد ايخوي وو .

دوهم دور : ابوالاسود دؤلي رحمه الله ددوي دبچو نه داعلم نحوه حاصله کړي ده همدارنګې دده نه ابواسحق ، عيسى الثقفي، ابوعمرو بن العلاء رحمهم الله هم دا علم حاصل کړي ، نضر بن عاصم او عبدالرحمن بن هرمز الاعرج، يحيى بن يعمر رحمهم الله وغيره هم په تدريج سره دې علم ته ترقي ورکړي ده .

دريم دور : ابوعمربصري رحمه الله اودده شاګردابوعبدالرحمن خليل بن احمد فراهيدي رحمه الله (متوفى ۱۷۰هـ) اودخليل شاګردامام ابوبشر عمروبن عثمان سيبويه رحمه الله (متوفى ۱۸۱هـ) تحقيق کړي . امام سيبويه رحمه الله کلي په کلي وګرځيدو اودکلو نه يې خالص فصيحه عربي اوريده اوددې نه به يې قواعد راټولول لکه دوي يو کتاب ليکلي چې کتاب دسيبويه په نوم

مشهور شوي چې د راتلونکي نحوي کتابو دپاره دامام حيثيت لري . ابوعمروعيسى بن عمرو الثقفي رَحِمَهُ اللَّهُ په نحوه کې دوه کتابونه ليکلي دي (١) الاکمال (٢) الجامع بيا نحويان په دوه ډلو وويشل شو (١) يوه ډله نحويان د کوفې (٢) اودوهمه ډله نحويان د بصرې ، مشهور علماء چاچې په علم نحو کې کوششونه کړي دي دهغوي مشهورو شخصياتو نومونه دادي مبرد ،اخفش ،ابوعثمان بکربن محمدبن عثمان المازني ، زجاج ، محمد بن سراج ،ابوعلي فارسي ،عبدالقاهرجرجاني ،ابن هشام ،جارالله زمخشري . امام ثعلب . علامه رضي ، علامه ابن حاجب اوصاحب دکتاب ابوحيان رحمهم الله وغيره.

(٦) مقام اومرتبه دعلم نحوې :

علوم په دوه قسمه دي (١) **مقصوده عاليه** (٢) **غيرمقصوده آليه** علم نحو خو ده دغيرمقصودو نه ځکه چې دادعلوم عاليو تفسير ،حديث فقه وغيره دپاره آله ده اوپه خپله مقصود نه دي ليکن دمقصود دپاره موقوف عليه ده ، ددې وجې نه صاحب دمفتاح وايي چې د علم نحوې حاصلول فرض کفايه دی ، ددوهم خليفه حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول دي چې : (**تعلموا النحو کما تعلمون السنن والفرائض**) علم نحوه زده کړئ لکه څنګه چې تاسو سنن اوفرائض زده کوي .

ايوب سجستاني رَحِمَهُ اللَّهُ وايي : (**تعلموا النحو فانه جمال للوضيع وترکه هجنة للشريف**) علم نحو زده کړي ځکه چې دا جمال دي دکمزوري سړي دپاره اوددې پريخودل باعث دعيب دی دشريف سړي دپاره.

امام کسائي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي : (**انما النحو قياس يتبع وبه کل علم ينتفع**) علم نحو قابل داتباع دقياس دی اوهم ددې نه په هر علم کې فائده حاصلولې شي.

ددې عظمت اوضرورت دظاهريدو نه پس د علماء کرامو عجيب اونا اشنا آثار دی لکه :

(١) **النحو في الکلام کالملح في الطعام .**

نحو په کلام کې لکه مالګه په طعام کې .

(٢) **النحو للعلوم کالضوء للنجوم .**

نحو دعلوم دپاره لکه رڼا د ستورو دپاره

(٣) **النحو في الکلام کالضوء في الظلام.**

نحو په کلام کې لکه رڼا په تياره کې .

دعلمِ نحوې دفضيلت په باره کې يو خوب :

ابوبکر بن مجاهد المقري رَحِمَهُ اللَّهُ امام ثعلب رَحِمَهُ اللَّهُ سره ناست وو امام ثعلب رَحِمَهُ اللَّهُ دنااميدئ او د افسوس اظهار يې وکړو چې چا دعلم تفسير خدمت وکړو چا د علم حديث خدمت وکړو او چا د فقهې او چا د اصولِ فقهې ، او مونږ ټوله زندګي په ضرب زيد عمرواً کې تيره کړه ، د شپې ابوبکر مقري رَحِمَهُ اللَّهُ ته په خوب کې دنبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيارت ورنصيب شو او ورته يې وفرمايل : ثعلب ته زما سلام ووايه ، اوزيري ورته واوره او : **أنت صاحب العلم المستطيل** ، يعني ته مه خفه کيږه ته هم يو اوږد علم والا يې عندالله .



مقدمه :

اَلحَمدُ لِوَلِيِّهٖ وَ الصَّلاَةُ عَلٰى نَبِيِّهٖ وَ عَلٰى آلِهٖ وَ اَصحَابِهٖ
ثناء ده هغه رب لره چې لائق دحمد دي اورحمت دې وي په پيغمبر دهغه باندې اوپه آل دهغه اوپه اصحابو دهغه
الْمُتَأَدِّبِيْنَ بِآدَابِهٖ اَمَّا بَعْدُ فَهٰذِهٖ فَوَائِدُ وَافِيَةٌ بِحَلِّ مُشْكِلَاتِ الْكَافِيَةِ لِلْعَلَّامَةِ
چې ادب اخستونكي دي اخلاقو دهغه لره اما بعد دا فوائد دي پوره په حل د مشكلاتو د كافيې د علامه چې مشهور
الْمُشْتَهِرِ فِي الْمَشَارِقِ وَ الْمَغَارِبِ الشَّيْخِ ابْنِ الْحَاجِبِ تَغَمَّدَهُ اللّٰهُ بِغُفْرَانِهٖ وَ اَسْكَنَهُ
دي په مشرق او مغرب كې شيخ ابن حاجب رَحِمَهُ اللّٰهُ ، پټ دې كړي الله په خپل مغفرت سره او ودې وسوي الله په
بِحُبُوْحَةِ جِنَانِهٖ نَظَمْتُهَا فِيْ سِلْكِ التَّقْرِيْرِ وَ سِمْطِ التَّحْرِيْرِ لِلْوَلَدِ الْعَزِيْزِ ضِيَاءِ الدِّيْنِ يُوْسُفَ
مينځ د جنت كې چې نظم كړي دي لره په تار د تقرير اوپه ريشه د تحرير كې دپاره دبچي گران ضياء الدين يوسف
حَفِظَهُ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ عَنْ مُوْجِبَاتِ التَّلَهُّفِ وَ التَّأَسُّفِ وَ سَمَّيْتُهَا بِالْفَوَائِدِ الضِّيَائِيَّةِ لِاَنَّهُ لِهٰذَا
ودې ساتي الله تعالى د تكليفونو دهلاكت نه او دغم نه اونامدار ه كړه دا ما په فوائد ضيائيه سره ځكه چې دا ددې
الْجَمْعِ وَ التَّأْلِيْفِ كَالْعِلَّةِ الْغَائِيَّةِ . نَفَعَهُ اللّٰهُ بِهَا وَ سَائِرِ الْمُبْتَدِئِيْنَ
جمع اوتاليف دپاره په شان دعلت غائيه وو نفع دې وركړي الله تعالى په دې سره ده ته اوټولو شروع كوونكو ته
مِنْ أَصْحَابِ التَّحْصِيْلِ وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللّٰهِ وَهُوَ حَسْبِيْ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ.
د خاوندانو د علم نه وما توفيقي الا بالله وهو حسبي ونعم الوكيل .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د كافيې مقدمه بيان كړې او په مقدمه كې علت غائيه يې بيان كړه چې هغه علت غائي دده زوي ضياء الدين يوسف وو.

اغراض دجامي : الحمد: په دې عبارت سره غرض د شارح په الحمد كې د پنځو (۵) خبرو بيانول دي: (۱) وجه د راوړو د حمد (۲) الف لام (۳) معنى د حمد (۴) وجه دغوره كولو ددې جملې (۵) معنى ددې جملې .

اوله خبره : وجه دراوړو دحمد ، اودا خو مشهوره ده .

دوهمه خبره : په الف لام كې دري (۳) مذاهب دي : (۱) صاحب د كشاف جار الله زمحشري وايي چې دلته الف لام جنسي دي يعنې جنس حمد الله لره ثابت دي .

الف لام جنسي دې ته وايي چې حكم شوې وي په طبيعت باندې قطع نظر دلحاظ د افرادو نه لكه په علم منطق كې الانسان نوع نو يو انسان خو نوعه نه ده بلكې مكمل انسانان نوعه او جنس دي .

(۲) محققين علماء لکه علامه تفتازاني وايي چې دلته الف لام استغراقي دي

الف لام استغراقي دې ته وايي چې حکم وشي په ټولو افرادو باندې نو معنى به يې داسې شي چې هر فرد دافرادو دحمد داثابت دي الله تعالىٰ لره ، او په دې دواړو باندې اعتراض دي

اعتراض : اعتراض په الف لام استغراقي کې دادې چې که هر فرد د افراد و دحمد نه شي نو هر فرد دافرادو د حمد خو الله لره نه دي ثابت لکه ښه موټر او داسې نور اوکه الف لام جنسي شي نو جنس خو په يو فرد کې نه متحقق کيږي ؟.

جواب : دا ټول صفات الله تعالى ته ثابت دي حالاًوي او که مآلاًوي نو حالاًخو انسان دا موټر جوړ کړې او انسان خو الله جوړ کړې نو بيا آخر هم رجوع يې الله تعالى ته کيږي .

(۳) دريم قول دادې چې الف لام عهد خارجى دي ، نو په دې باندې اعتراض وارديږي :

اعتراض : چې الف لام عهد خارجي شي نو الف لام عهدى خو معهود غواړى نو معهود کوم يو دي ؟.

جواب : مراد دحمد نه هغه صفتونه دي چې هغه خاص وي تر الله تعالى پورې .

دريمه خبره معنى دحمد : محققين علماء وايي چې حمد ، شکر او مدحه يو څيز دي .

بعضې علماء وايي چې حمد عبارت دي د **هو الثناء باللسان على الجميل الاختياري سواء كان بمقابلة النعمة أولا** . چې دا ثناء ده په ژبه باندې په ټولو صفاتواختيارو برابره خبره ده که په مقابله دنعمت کې وي اويا نه ، په **باللسان** قيد سره ترې شکر خارج شو ځکه شکر عام دي هغه که جوارحو سره وي اويا په غيرجوارحو ، او په **على الجميل** سره سخريه خارج شو او په **اختياري** سره مدحه خارج شوه ځکه مدحه عامه ده .

نو حمد خاص دي په اعتبار دمورد سره او عام دي په اعتبار دمتعلق سره شکر په لغت کې : **فعل ينبئ عن تعظيم المنعم لكونه منعماً** ، نو شکر عام شو په اعتبار دمورد سره ځکه چې **باللسان** وي او که **بالجوارح** وي ، او په اعتبار دمتعلق سره خاص دي ځکه چه دا حرف په مقابله د نعمت کې وي نو دحمد او دشکر په ما بين کې نسبت دعموم او خصوص من وجه دي يوه ماده داجتماع او دوه مادې دافتراق غواړي .

مدحه صفت کول دي په هغه صفاتو سره چې دمحمود په اختيار کې نه وى لکه عرب وايي **مدحت اللؤلؤ على صفائها** .

څلورمه خبره : وجه دغوره كولو ددې جملې ، نو په دې باندې يو سوال دي

اعتراض : مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ ولې مخالفت وكړو دنورو كتابونو ؟

جواب : شارح ددې دوه جوابات وركړي دي

اول جواب : ددې يوه وجه داده چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ اشاره كوي دې ته چې داحمد زما تقليدي نه دي بلكه دا زما دزړه څخه دي نو ددې وجې نه يې جمله بدله كړه

دوهم جواب : دوهم جواب يې دادې چې د متوهم دا وهم رانه شي چې حمد صرف الحمدلله ويل دي په خوله باندې ، كه دزړه نه وي او يا نه وي، نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وويل چه هر لفظ وي خو چې دزړه نه وي .

لوليه: په دې عبارت سره غرض د شارح د ولي د لفظ وضاحت كول دي . د ولي څلور (۴) معاني دي . (۱) ولي په معنى د لائق ، (۲) په معنى د صاحب ، (۳) په معنى د متصرف ، (۴) په معنى د قريب ، او دلته اوله معنى مراد ده چې هغه لائق د حمد د پاره چې الله تعالى دي حمد هغه لره دي .

سوال : عام مصنفين دالله علم ذاتي ذكر كوي او وايي الحمدلله مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د الله پاک علم ذاتي ولې ذكر نه كړو ؟

جواب : شارح ددې داجواب وركړې دي چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ تعظيماً او احتراماً داسې ونه كړو ځكه چې د يو معزز كس په نوم اخستلو كې دومره ادب نه وي څومره چې د يو معزز كس د صفاتو په ذكر كولو سره وي .

سوال : لفظ د ولي په ذات دالله تعالى باندې دلالت كوي نو هغه مستحق د تقديم وو نو هغه دې ولې مقدم نه كړو ؟.

جواب : حمد مبتدا جوړيده او په مبتدا كې اصل تقديم وي نو ددې وجې نه مو حمد په لوليه باندې مقدم كړو .

والصلوة: په دې عبارت كې شارح معنى لغوي دصلاة بيانوي . په معنى لغوي د صلاة كې اختلاف دي : جارالله زمحشري وايي چې صلوة تحريک الصلوين ته وايي بيا ددې معنى رانه نقل شو او نوم شو دپاره داركان مخصوصو نو ددې سره يې مناسبت دادي چې په مونځ كې هم تحريک الصلوين كيږي .

او جمهور علماء وايي چې صلوة په لغت کې دعا ته وايي بيا رانقل شو ارکان مخصوصو ته ځکه لمونځ هم مشتمل دي په دعاء باندې

على نبيه: په دې عبارت سره شارح د نبي وضاحت کوي او بل د يو سوال مقدر جواب ورکوي نبي يا خو د نبأ نه مشتق دي چې د نبأ معنى ده خبر ورکول او نبي هم د الله تعالى د طرف نه د راتلونکو حالاتو خبر بندګانو ته رسوي ، نو په دې صورت کې به د دې اصل نبيئ شي نو د خطيئة او مقروٴة په قانون سره به همزه به يې په ياء سره بدله کړې شي او ياء به په ياء کې مدغم شي نو نبي به ترې جوړ شي

او ياداد نبوة نه مشتق دي د نبوة معنى ده اوچت والې . اونبي هم په اعتبار د مرتبې سره اوچت وي ، نو د دې وجې نه ده ته نبي ويلې شي ، نو په دې صورت کې به د ده اصل نبيو وي نو د قوټل په قانون سره به واو په ياء سره بدل کړې شي او ياء به په ياء کې مدغم کړې شي نو نبي به ترې جوړ شي

سوال: په نبيه کې ۂ ضمير چاته راجع دې حمد طرف ته که ولي طرف ته ، که حمد طرف ته يې راجع کړي نو معنى يې نه صحيح کيږي او معنى به يې داسې شي چې درود دې نازل وي د حمد په نبي باندې اودا معنى غلطه ده ، اوکه ضمير ولي طرف ته راجع کوي نو معنى يې اګر چې صحيح ده ليکن انتشار دضمائرو لازم راځي د دې دپاره چې د وليه ضمير حمد طرف ته راجع شي اود نبيه ضمير ولي طرف ته راجع شي نو انتشار دضمائر به لازم راشي اودا صحيح نه دي .

جواب: په دواړو کې يې چې کوم يو ته يې راجع کوي نو هيڅ انتشار لازم نه راځي ځکه چې که چيرته حمد طرف ته راجع شي نو مراد به ترې نه صفت استخدام شي او دصفت استخدام دعلم معاني يو اصطلاح ده چې کله ديوشيز طرف ته صراحتاً ذکر وکړې شي نو معنى به يې يوه شي او چې کله يې ضمير طرف ته راجع شي نو معنى به يې بله شي نو دلته هم مراد صفت استخدام دي ، همدارنګې که چيرته د الحمد ذکر صراحتاً وکړې شي نو معنى مصدري به يې مراد وي او چې کله دې طرف ته د نبيه ضمير راجع شي نو مصدر مبني للمفعول به وي نو معنى به يې دا شي چې درود دې نازل وي د محمود په نبي باندې اودا معنى بالکل صحيح ده . اوکه چيرته ضمير راجع وي ولي طرف ته بيا هم صحيح دي . باقي پاتې شو ستا اعتراض چې انتشار دضمائرو لازم دې نو د دې جواب دادې چې دا دوه جملې دي او انتشار د ضمايرو په يو

جمله کې قبیح وي په دوه جملونې کې قبیح نه وي

سؤال : سوال دادې چې تاسو علی نبیه وویل او علی رسوله مو ولې ونه ویل ؟

جواب : دادې چې د سجعې دموافقت دپاره یې داسې وکړل که چیرته رسوله یې ویلې وي نو د لولیه سره یې سجع صحیح نه راتله

دلته یو سوال را ځي.

سوال : سوال داچې تا دلته نبي ذکر کولو نو دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نوم به یې ذکر کړې وي ؟

جواب : شارح ددې نه دوه جوابات ورکړې دي :

اول جواب : دا چې تعظیماً یې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نوم ذکر نه کړو.

دوهم جواب : دا چې په دې سره دې خبرې طرف ته اشاره ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د نبوت هغه مقام ته رسیدلې دي چې اوس دا وصف د نبوت دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دپاره په منزله د عَلَم جوړ شوې دي نو کله هم چې د نبي ذکر وشي نو ذهن نبي کریم صلی الله علیه وسلم طرف ته ځي.

په نبي اور سول کې فرق : نبي عام دي او رسول خاص دي رسول ته نوې شریعت اود نوي کتاب ورکول ضروري وي ، اود نبي دپاره دا ضروري نه وي هر رسول نبي کیدې شي مګر هر نبي رسول نه شي کیدې .

وعلی آله : په دې عبارت سره شارح د آل تفصیل اود آل مصداق بیانوي : آل په اصل کې اهل وو په دلیل د اهیل سره بیا اعلال وشو په کې نو آل شو ، دوهم داچې د آل نه مراد **کل تقي ونقي فهو** آلي دي .

اود آل په مصداق کې پنځه اقوال دي : (۱) **کل تقي نقي فهو آلي** ، په دې صورت کې داصحابو ذکر تخصیص بعد التعمیم وي . (۲) بنو هاشم او بنو عبدالمطلب . (۳) صرف بنو هاشم . (۴) ازواج مطهرات لوریانې او زومان ، (۵) صرف لوریانې اوزمان اودا قول د روافضو دي .

فرق په مینځ دآل اواهل کې : د آل او اهل په مینځ کې فرق په پنځو طریقې سره بیانیږي.

اول : دا چې : د آل استعمال صرف په ذوي العقولو کې وي او اهل عام دي .

دوهم : آل په ذوي العقول کې صرف دمذکر دپاره استعمالیږي او اهل عام دي .

دریم : آل داشرافو دپاره ویلې کیږي او اهل عام دي

څلورم : د آل اضافت ضمیر طرف ته زیات وي او اهل کله کله وي .

پنځم : دا چې آل استعمالیږي په اشرافو کې برابره خبره ده چې دا شرافت دنیوي وي او که اخروي وي ، او اهل عام دي اشرافو او ارزالو دواړو ته استعمالیږي.

واصحابه: ددې مفرد صحب دي لکه **انهار** جمع د **نهر** یعنې **صحب جمع د اصحاب** ، نو صحابي هغه چاته وايي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې په حالت دایمان کې لیدلې وي او بیا په حالت ددې ایمان کې وفات شوې وي حقیقتاً وي او که حکماً حکماً لکه عبدالله ابن ام مکتوم څکه چې دا ړوند وو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې نه شو لیدلې نو حکماً صحابي شو .

المتأدبین بآدابه: په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه سوالونه جوابات ورکول دي .

اول سوال: **المتأدبین** جمع ده او په دې باندې الف لام استغراقي داخل شوې دي نو معنی یې دا شوه چې ټول صحابه او **بآدابه** هم جمع ده نو معنی یې داشوه چې ټول صحابه مؤدب وو په ټولو آدابو دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نو لازم شو مساوات ، او دلته دصحابه کرامو او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مینځ کې مساوات نه صحیح کیږي .

دوهم سوال: دا چې ادب خو عرض دي انتقال په کې نه راځي څکه انتقال د عوارضو دا مستلزم دي انعدام داعراضو لره نو څنګه منتقل شو صحابو ته .

داول سواب جواب :اول اعتراض دفع شو په قید دجنس داداب دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سره نو الف لام جنسي دي استغراقي دي اوقرینه پرې داده چې المتادبین جمع ده او آدابه هم جمع ده اوجمع چې په مقابله دجمع کې راشي نو مقصود تقسیم وي په افرادو باندې لکه عرب وايي **رکبوا دوابهم لبثوا ثیابهم** .

ددوهم سوال جواب : دا چې مونږ قید ولږولو چې په مثل دجنس داداب دنبي علیه السلام باندې ، نو په مثل د جنس قید سره هغه سوال دفع شو .

امابعد: په دې عبارت سره شارح د **امابعد** دلفظ تحقیق کوي : اما بعد دا په اصل کې **مهما یکن من شئ بعد الحمد والصلاة** وو د یو قول مطابق **هما** لره یې د متعلقاتو سره حذف کړو او د هغې په ځاې یې **اما** راوړو لکه څنګه چې یوه جمله حذف کړې اودهغې په ځاې صرف **نعم** راوړې ، او بعضو ویلې دي چې فعل شرط لره یې سره دخپل متعلقاتو حذف کړو نو صرف **مهما**

باقي پاتې شو بيا يې ها په همزې سره بدل كړو نو **مئما** ترې نه جوړ شو او بيا يې د همزې او ميم قلب مكاني وكړه او ميم يې په ميم كې مدغم كړو نو **اما** ترې نه جوړ شو بيا چې حرفِ شرط او جزا سره جمع شو نو **بعدُ** يې په مينځ كې راوړو نو **امابعد** شو

فهذه فوائد وافية : په دې عبارت سره غرض د شارح ددرې سوالونو جوابات وركول دي :

اول سوال : دا چې **هذه** اسم اشاره ده مشار اليه غواړي نو مشار اليه كومه ده ؟.

جواب : دا چې تا وويل چې **هذه** اسم اشاره ده مشار اليه غواړي اومشار اليه نشته نو زه درته وايم چې كوم **ما حضر في ذهن المصنف** دي نو هغه يې مشار اليه شوه .

دوهم سوال : دا چې په **هذه** سره اشاره مفرد ته كيږي او فوائد خو جمع دي مفرد نه دي .

جواب : چې تا وويل چې په **هذه** سره اشاره مفرد ته كيږي او **فوائد** خو جمع دي مفرد نه دي نو جواب يې داې چې په حضور اجمالي سره دا فوائد اجمالاً په ذهن دمصنف كې امر واحد گرځيدلي او امر واحد مفرد دي نه جمع .

دريم سوال : دا چې په **هذه** سره اشاره محسوس ته كيږي او كتاب خو محسوس نه دي .

جواب : نو جواب دادې چې داد كمالِ استحضار دوجې نه كالمحسوس وگرځيده

دلته يو بل سوال هم واردېږي :

سوال : **فوائد** خو موصوف دي او **وافية** ددې صفت دي او موصوف جمع ده او صفت واحد مؤنث دي نو دموصوف اوصفت په مينځ كې مطابقت رانغي .

جواب : **فوائد** په تاويل د **جماعة** سره واحد مؤنث دي لهذا مطابقت راغي .

بحل مشكلات الكافية : په دې عبارت سره شارح په بحل كې د **باء** متعلق بيانوي چې **باء** متعلق ده تر **فوائد** پورې .

للعلامة : للعلامة جار مجرور دي متعلق دي تر **صنف** پورې ، او علامه مبالغه ده په عالم كې او علامه داهغه عالم ته وايي چې عالم وي په علومو نقليو عقليو باندې ، او په **علامة** كې **تاء** د مبالغې دپاره ده ، نو په دې باندې يو سوال واردېږي :

سوال : چې **تاء** دپاره دمبالغې شوه نو په كار داوه چې د **علامة** اطلاق په الله هم وشي ؟.

جواب : په دې كې لږه شبهه دتانيث ده لكه څنگه چې الله پاک دي دتانيث حقيقي نه نو

همدارنګې د ده اسماء هم پاک دي د شبهه د تانيث نه

في المشارق والمغارب: په دې عبارت سره شارح د يو سوال مقدر جواب ورکوي

سوال مشرق او مغرب خو يو يو دي نو جمع راوړ ته څه ضرورت وو ؟

جواب: ملا عصام رَحِمَهُ اللهُ ددې جواب دا ورکړې دي چې دلته د مشرق او مغرب نه حقيقي معنى مراد نه ده بلکه ددې نه مراد بلاد شرقيه او بلاد غربيه دي نو ځکه د جمع په راوړو کې سه اشکال نشته

الشيخ: شيخ دا بدل دي د علامة نه نو علامة مجرور دي نو دا به هم مجرور وي ، شيخ يا بوډا ته وايي او يا شيخ ماهر في الفن ته وايي . ماشوم چې په ګېډه د مور کې وي نو جنين ورته وايي اوچې پيدا شي تر دوو (۲) کالو پورې هغې ته رضيع او طفل وايي او د دوو (۲) نه تر اوه کالو پورې دې ته صبي وايي او د اوو (۷) کالو نه تر پنځلسو کالو پورې دې ته مراهق وايي او د پنځلسو (۱۵) نه تر ديرشو (۳۰) يا څلويښتو (۴۰) کالو پورې دې ته شباب وايي او د ديرشو (۳۰) نه تر اتيا (۸۰) کالو پورې دې ته شيخ وايي او د اتياو (۸۰) نه چې زيات شي نو بيا ورته کهول وايي .
او په دې باندې درې واړه اعرابات صحيح دي که مرفوع يې وايي نو دا به خبر وي د مبتدا محذوف د پاره او که منصوب يې وايي نو مفعول به وي د اعني فعل محذوف د پاره او که مجرور يې وايي نو بدل به وي د للعلامة نه .

ابن الحاجب: دا يې اسم کنيه ده لقب يې جمال الدين دي او نوم يې عثمان دي په ۵۷۰ کې پيدا شوې دي او وفات يې په ۶۴۲ کې وفات شوي دي بناء بر اختلاف .

تغمده الله بغفرانه: په دې عبارت سره غرض شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال: تغمد او غفران دواړه پټولو ته وايي او په بغفرانه کې باء سببيه ده نو لازم شو سببيت د شيز د خپل نفس نه او دا باطل دي .

جواب: شارح ددې نه دوه جوابات ورکړې دي :

اول جواب: دا چې دلته د پټولو نه خاص پټول مراد دي نو سببيت د خاص راغي د عام نه ، او عام پټول دا چې ګناهونه ورته وبخښي ، او خاص پټول دا چې ګناهونه يې په نيکيو بدل کړي .

دوهم جواب: دا چې مونږ په دې ځاې کې تجريد کوو ، تجريد دې ته وايي چې استعمال د لفظ وکړي په بعضې معنى کې لکه سبحن الذي اسرى بعبده ليلاً . نو دلته د غفران معنى پټول د

ګناهونو دي نو موږه به معنی داسې وکړو چې پټ دي کړي الله ګناهونه دده.

بحبوحة: بحبوح په معنی د وسط، درمیان او یاد بهتر سره راځي

نظمتها في سلک التقریر وسمط التحریر: ددې ځاې نه شارح دخپلې شرحې صفت کوي: نظم وايي په تار کې دملغلرو اچول، سلک خالي تار دملغلرو ته وایي، او سمط چې ملغلرې په کې وي ددې شرحې الفاظ سلک (یعنې خالي تار د ملغلرو) دي او معاني یې په شان د سمط (چې ملغلرې په کې وي) دي.

للولد العزیز: په دې عبارت سره شارح وجه دتصنیف ذکر کوي، للولد جار مجرور دامتعلق دي په نظمتها پورې اویا متعلق دي په صنفها پورې، عزیز هغه ځامنو ته وايي چې ډیر کم پیدا کیږي، ضیاء الدین یې لقب دي اونوم یې یوسف دي.

التلهف والتأسف: تلهف او تأسف دواړه غم ته وایي نو دا الفاظ مترادفه اومعنی واحد شو. بعضې علماء وايي چې تلهف هغه غم ته وایي چې راشي په سبب دداسې یو کار کولو چې پریخودل یې ضروري وي لکه جواري کول وغیره. او تأسف هغه غم ته وایي چې په پریخودو دداسې کار سره راشي چې کول یې ضروري وي لکه لمونځ.

وسمیتها بالفوائد الضیائیة الخ: په دې عبارت سره شارح نوم دشرحې ذکر کوي، نو دلته یوه قاعده ده:

قاعده: په سمی یسمی باب کې چې کله نسبت مفعول اول ته وشي نو معنی بیا ذکر وي لکه په مفعول مالم یسم فاعله کې او کله چې اضافت وشي مفعولین ته نو بیا په معنی دنوم ایخودلو سره راځي لکه هُوَ سَمّٰکُمُ الْمُسْلِمِیْنَ الآیة دلته معنی دنوم ایخودلو سره راغلې دي.

لانه لهذا الجمع والتالیف الخ: په دې عبارت سره شارح وجه دتسمیې ذکر کوي، او دفع دیو سوال هم کوي:

سوال: د کتاب نسبت مصنف ته کیږي او تا د کتاب نسبت زوي ته کړي دي په کار دا وه چې تا فوائد جامیه ویلې وایي.

جواب: دا چې زما زوي دپاره تصنیف دا علت غائي دي ځکه یې نسبت ورته کړي دي.

سوال: جمع او تالیف یو څیز دي لهذا ذکر د تالیف پس دجمع نه مستدرک اوبې فائدي دي.

جواب: جمع مطلق جمع کولو ته وايي او تالیف جمع سره دترتیب ته وایي نو ذکر دخاص شو

پس دعام نه

وسائر المبتدين: د سائر دوه معنی ګانې دي يو په معنی دباقي سره لکه سؤر الحمار ، او دوهم په معنی د جميع سره لکه سور البلد

وما توفيقي: توفيق په لغت کې: دست دادن کسي را درکاري ، لاس ورکول دي يو چاته په يو کار کې ، او په اصطلاح کې: جعل الاسباب موافقة للمطلوب ، او بعضې په کې قيد د خير زياتوي اود بد کار اسباب تيارولو ته خذلان وايي.

وهو حسبي ونعم الوکيل الخ: په دې عبارت کې يې دې طرف ته اشاره وکړه چه زه به څه يم او زما علم به څه وي داهر څه چي دي دادالله په توفيق وشو او همدا خبره حقيقت ده او داهل الله هم داعقيده ده.او په دې عبارت سره ديو سوال جواب ورکول هم دي

سوال: نعم الوکيل عطف دي په حرف حسبي باندې او دا خو عطف دجملې راځي په مفرد باندې اودا باطل دي

جواب: حسبي په معنی د يحسبني سره دي نو عطف د انشاء په انشاء باندې راغې او يحسبني په معنی د کافي دي نو سوال دفع شو.

په الحمد لله سره د کتاب دنه شروع کولو وجه:

إِعْلَمْ اَنَّ الشَّيْخَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى لَمْ يَصْدِرْ رِسَالَتَهُ هٰذِهِ بِحَمْدِ اللّٰهِ سُبْحَانَهُ بِأَنْ جَعَلَهُ جُزْءً
پوه شه ! چې شيخ رَحِمَهُ اللّٰهُ صادره نه کړه رسالهٔ خپله دا په حمد د الله تعالی سره په داسې شان چې وګرځوي جزء
مِنْهَا هَضْماً لِنَفْسِهِ بِتَخْيِيْلِ اَنَّ کِتَابَهُ هٰذَا مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ کِتَابَهُ لَيْسَ
ددې رسالې دوجې دانکسار دنفس نه په دې خيال چې داکتاب دده په داسې شان چې داکتاب دده نه دي په
کَکُتُبِ السَّلَفِ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى حَتّٰى يُصَدَّرَ بِهِ عَلٰى سُنَنِهَا وَلاَ يَلْزَمُ مِنْ ذٰلِكَ عَدَمُ الْاِبْتِدَاءِ بِهِ
شان د کتابونو دسلفو رحمهم الله ترڅو صادر کړي په طريقې دهغوي اونه لازميږي ددې نه عدم ابتداء په حمد
مُطْلَقاً حَتّٰى يَکُوْنَ بِتَرْکِهِ اَقْطَعُ لِجَوَازِ اِتْيَانِهِ بِالْحَمْدِ مِنْ غَيْرِ
سره مطلقا ترڅو چې شي په پريخودلو دهغې سره کمزوري دوجې دراتلو دده نه په حمد سره قولاً په غير ددې نه
اَنْ يَّجْعَلَهُ جُزْءً مِنْ کِتَابِهٖ وَ بَدَأَ بِتَعْرِيْفِ الْکَلِمَةِ وَ الْکَلَامِ لِاَنَّهُ يُبْحَثُ فِيْ
چې وګرځوي جزء د کتاب خپل نه اوشروع يې وکړه په تعريف د کلمې اوکلام سره ځکه چې بحث کيدې شي په
هٰذَا الْکِتَابِ عَنْ اَحْوَالِهِمَا فَمَتٰى لَمْ يَعْرِفَا کَيْفَ يُبْحَثُ عَنْ اَحْوَالِهِمَا
دې کتاب کې داحوالو دهغې نه نو ترڅو چې ونه پيژندل شي دادواړه نو څرنګه به بحث وکړي شي داحوالو ددې

وَ قَدَّمَ الْكَلِمَةَ عَلَى الْكَلَامِ لِكَوْنِ اَفْرَادِهَا جُزْءً مِنْ اَفْرَادِ الْكَلَامِ وَ مَفْهُوْمُهَا جُزْءً
نه اومخکې يې کړه کلمه په کلام باندې خکه چې افراد د کلمې جزء دي دافرادو د کلام نه او مفهوم د کلمې داجزء
مِنْ مَفْهُوْمِهِ.
دي دمفهوم د کلام نه.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د کتاب شروع په الحمد لله سره د نه کولو وجه بيانوي.

اغراض دجامي : اعلم : په دې عبارت سره غرض دشارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال : دا چې په اعلم سره بعضې شارحين اوه (۷) شيان اخلي : (۱) کله غرض دشارح بيان د مذاهبو وي ، (۲) کله غرض دشارح بيان ددلائلو دمذاهبو وي ، (۳) کله غرض د شارح بيان د ترجيح ما هو الراجح وي ، (۴) کله شارح دماتن راى نه وي خوښه نو دهغې رد کوي ، (۵) کله غرض دشارح په ماتن باندې سوال راځي نو شارح ورسره قيد و لګوي ، (۶) کله غرض د شارح په ترکيب کې خفاء وي نو شارح د هغې خفاء ازاله و کړي ، (۷) کله غرض د شارح تتميم د ماتن کوي ، نو بعضې شارحين دا اوه (۷) اغراض اخلي ، نو تاسو په کې کوم يو غرض اخستي دي ؟

جواب : دادې چې دلته شارح دفع د يو سوال کوي :

سوال : الحمد لله دې ولې رانه وړه دقرآن حديث اوسلفو نه دې مخالفت ولې وکړو؟

جواب : شارح ددې نه دوه جوابات ورکړې دي :

اول جواب : نو شارح په أن الشيخ لم يصدر رسالته بحمد الله سبحانه وتعالى سره جواب ورکړو چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ خو په رساله يعنې په منتخب الوصول کې الحمد راوړي دي نو دې هذه سره اشاره کافيې ته کوي چې په دې کې يې الحمد نه ده راوړې .

دوهم جواب : چې ماتن شروع په الحمد لله سره ونه کړه نو دا يې دقرآن کريم ، حديث شريف اود سلفو صالحينو مخالف ونه کړو بلکه دا يې کسر د نفس وکړو يعنې زه هم ورکوټې يم او زما کتاب هم ورکوټې دي نو زه ځان څنګه دقرآن کريم اود حديث شريف اود سلفو صالحينو سره برابر کړم .

بأن جعله جزء منها الخ : په دې عبارت سره دفع د يو سوال مقدر کوي :

سوال : چې تاته څه پته ده کیدې شي چې په ژبه یې ویلې وي

جواب : چې ددې نه مراد دادې چې ماتن به بې شکه په ژبې سره الحمد لله ویلې وي خو بیا یې هم الحمد لله جزء د کتاب نه دي ګرځولې نو دا مخالفت شو کنه .

بتخیل ان کتابه : په دې عبارت سره شارح د هضماً لنفسه کوي د هضماً لنفسه معنی خپل نفس ماتول دي ، نو شارح الحمد لله رانه وړه په دې خیال سره چې دده کتاب دسلفو په شان نه دي

من حیث انه کتاب الخ : په دې عبارت سره شارح دیو سوال جواب ورکوي .

سوال : سوال دادې چې تا وویل چې دده کتاب په شان دسلفو نه دي ، نو زه وایم چې ولې نه دي په دې کتاب کې خو هم صرف اونحو دي . اودسلفو په کتابونو کې هم همدا وي

جواب : جواب دادې چې ددې کتاب دوه حیثیته دي یو دا چې دا کتاب دنحوې دي نو دې حیثیت سره دسلفو نه هم مخکې دي ، او بل حیثیت دا چې زما کتاب دي او زه خلف یم دهغوي نه نو زه هغوي ته نه شم رسیدې .

حتی یصدر به : دا تفریع ده په منفی باندې چې کتب السلف دي . نو معنی دا شو چې که دده کتاب په شان دسلفو وي نو ده به په کې هم الحمد راوړې وي نو چې کله دده کتاب په شان د سلفو نه شو نو الحمد یې په کې رانه وړه

ولا یلزم من ذلک عدم الابتداء الخ : په دې عبارت سره شارح دیوسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : دا خبره خو ډیره آسانه ده چې نه وایي چې زه کمزورې یم او زما کتاب دسلفو په شان نه دي نو ما ځکه الحمد رانه وړه . نو یو کس نه وایي چې زه لمونځ نه کوم ځکه چې زه ګنهګار یم او لمونځ کول خو لوي کار دي نو دمصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دا توجیه صحیح نه ده ځکه چې دحدیث نه مخالفت راځي .

جواب : شارح په ولا یلزم سره جواب طرف ته اشاره کوي چې په حدیث شریف کې خو لیکل نه دي راغلي بلکه لم یبدأ راغلې دي اوداېتداء درې صورتونه دي (۱) زړه کې راتلل (۲) لیکل (۳) په ژبه ویل ، که لیکلي یې نه وي نو یا به یې په ژبه ویلې وي اویابه یې په زړه کې راغلې وي ، نو اشکال دفع شو

وبدأ بتعریف الکلمة والکلام الخ : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : مقصود په نحو کې مرفوعات، منصوبات او مجرورات دي او تا په کلمه او کلام کې شروع وکړه نو دا خو غیر مقصود دي په کار داو چې په مقصود کې دې شروع کړې وې

جواب : مرفوعات، منصوبات او مجرورات دا احوال د کلمې دي او تر څو چې کلمه نه وي پیژندلې نو څنګه به یې د احوالو نه بحث وکړي نو مرفوعات وغیره دا موقوف دي په کلمه او کلام پورې او بحث د شئ د موقوف علیه نه دا عین بحث وي په موقوف کې

وقدم الکلمة علی الکلام الخ : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : کلمه یې ولې مقدم کړه په کلام باندې سره د دې نه چې کلمه مفید د فائده تامې نه ده او کلام مفید د فائدې تامې دی نو په کار داوه چې کلام یې مقدم کړې وې په کلمه باندې

جواب : شارح د دې نه دوه جوابات ورکول دي

اول جواب : کلمه مقدمه وه طبعاً نو موښږ مقدم کړه وضعاً د پاره د دې چې مناسبت د وضعي راشي د طبعي سره نو د دې وجې نه یې کلمه مقدم کړه په کلام باندې

دوهم جواب : دا چې کلمه محتاج الیه ده او کلام محتاج دی او کلام محتاج وي کلمې ته نو د دې وجې نه یې کلمه مقدم کړه په کلام باندې

لکون أفرادها جزاء الخ : په دې عبارت سره شارح دیو سوال جواب ورکول دي

سوال : افراد د کلمې خو جزء نه دي د افرادو د کلام نه

جواب : مفهوم اجمالي د افرادو د کلمې دا جزء دي د مفهوم تفصیلي د افرادو د کلام نه

ومفهومها جزء من مفهومه : او مفهوم د کلمې دا جزء دي د مفهوم د کلام نه او جزء مقدم وي په کُل باندې طبعاً نو کلمه مقدم شوه په کلام باندې

تعریف د کلمې :

فَقَالَ اَلْكَلِمَةُ قِيْلَ هِيَ وَ الْكَلَامُ مُشْتَقَّانِ مِنَ الْكَلْمِ بِتَسْكِيْنِ اللاَّمِ وَ هُوَ الْجَرْحُ

پس وې ویل کلمه . چاویلي دي چې دا کلمه او کلام مشتق دي د کلم نه په سکون د لام سره دا ویلې شي زخم نه د

لِتَاثِيْرِ مَعَانِيْهَا فِيْ النُّفُوْسِ كَالْجَرْحِ وَ قَدْ عَبَّرَ بَعْضُ الشُّعَرَاءِ عَنْ بَعْضِ

وجې د تأثیر د معنی د هغې نه په نفسونو کې لکه زخم او په تحقیق سره تعبیر کړی دي بعضې شعراو د بعضې

تَاثِيْرَاتِهِمَا بِالْجَرْحِ حَيْثُ قَالَ شِعْرٌ: جَرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِيَامُ وَلاَ يَلْتَامُ مَا

تأثیراتو د هغې نه په زخم سره لکه څنګه چې ویل شوی دي شعر: زخمونو د نوږې لره د جوړېدل شته او نه جوړېږي څه

جَرَحَ اللِّسَانُ وَ الْكَلِمُ بِكَسْرِ اللاَّمِ جِنْسٌ لاَ جَمْعٌ كَتَمْرٍ وَ تَمْرَةٍ بِدَلِيْلِ
زخمونه كوم چې ژبو زخمي كړي دي او كلِم په كسرې د لام سره جنس دي جمع نه ده لكه تمر او تمرة په دليل
قَوْلِهِ تَعَالٰى إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَ قِيْلَ جَمْعٌ حَيْثُ لاَ يَقَعُ اِلاَّ عَلَى الثَّلٰثِ
ددې قول دالله تعالى سره اليه يصعد الكلم الطيب چاوېنې دي چې جمع ده ځكه چې دانه واقع كيږي مګر په دريو
فَصَاعِداً وَ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ مُؤَوَّلٌ بِبَعْضِ الْكَلِمِ وَ اللاَّمُ فِيْهَا لِلْجِنْسِ وَ التَّاءُ
باندې او ياد دريو نه په زياتو او الكلم الطيب مؤول دي په بعضې كلمو سره او لام په دې كې دجنس دي او تاء په كې
لِلْوَحْدَةِ وَلاَ مُنَافَاةَ بَيْنَهُمَا لِجَوَازِ اِتِّصَافِ الْجِنْسِ بِالْوَحْدَةِ وَ الْوَاحِدُ
دوحدت ده او نشته منافات په مېنځ ددې دواړو كې ځكه چې جنس متصف كيدې شي په وحدت سره او واحد په
بِالْجِنْسِيَّةِ يُقَالُ هٰذَا الْجِنْسُ وَاحِدٌ وَ ذٰلِكَ الْوَاحِدُ جِنْسٌ وَ يُمْكِنُ حَمْلُهَا عَلَى الْعَهْدِ الْخَارِجِيِّ
جنسيت سره ويلې شي هذا الجنس واحد وذلك الواحد جنس نو ممكن دي حمل كول دالف لام په عهد خارجي باندې
بِإِرَادَةِ الْكَلِمَةِ الْمَذْكُوْرَةِ عَلَى اَلْسِنَةِ النُّحَاةِ
چې كلمه مذكوره ترې واخستل شي په ژبه د نحويانو باندې

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب د كافيې تعريف د كلمې كوي

اغراض دجامي : فقال: په دې عبارت سره شارح توطيه او تمهيد بيانوي ، او په دې عبارت باندې يو سوال وارديږي :

سوال : قال فعل دي او ضمير په كې هو دي چې راجع دي شارح ته نو هغه يې **فاعل** او **الكلمةُ** يې مرفوع وويله په كار خو دا وه چې **الكلمة** يې منصوب ويلې وې چې مفعول مطلق واقع شوې وې

جواب : اعراب په دوه قسمه دي حالي . حكائي . دلته اعراب حكائي دي نه حالي . او ستا اعتراض په هغه وخت كې راتللو چې اعراب حالي وې .

الكلمة: په دې عبارت سره شارح د كلمې او كلام د اشتقاق تفصيل بيانوي په دې كې دعلماو اختلاف دي چې كلمه او كلام مشتق دي او كه نه دي . نو په دې كې دوه ۲ مذاهب دي

اول مذهب دجمهورو علماو : جمهور علماء وايي چې دا اسماء برأسها دي

دوهم مذهب دبعضې علماو : بعضې علماء وايي چې دا مشتق دي د **كلمٌ** نه

دليل دجمهورو : جمهور علماء وايي چې دارومدار داشتقاق دا بناء دي په تكلفاتو بعيدو باندې . يو تكلف دادې چې **كلم** په معنى دجرحې سره دي او هره كلمه خو جرحه نه كوي بلكې

کلمه سینه او بده کلمه جرحه کوي اوددې په مینځ کې هیڅ مناسبت نشته دي
او بل تکلف دادې چې کلمه غوځول نه کوي بل دا چې دجرحې سره به څه مشابهت لري په حذف کې نو دا ټول تکلفات دي

دوهم مذهب ضعیف دي ځکه چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ په **قیل** سره ذکر کړې او اختلاف په کې دي دبعضو دپاره دلیل هغه دا شعر دي

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ما جرح اللسان

لتأثیر معانیها في النفوس: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي
سوال: اشتقاق هلته کیږي چیرته چې د دوو لفظونو په مینځ کې مناسبت لفظي اومعنوي دواړه وموندل شي، دلته خو ددې دواړو په مینځ کې مناسبت لفظي خو شته او معنوي نه شي موندلې ځکه چې کلم په سکون د لام سره په معنی د زخم او دکلام معنی ده ما یتکلم به او ددې دواړو په مینځ کې څه مناسبت نشته دي.

جواب: علامه جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ هغه طرف ته جواب ورکړې دې چې دمشتق اود مشتق منه په مینځ کې چې کوم معنوي مناسبت دي هغه عام دي برابره خبره ده که په معنی مطابقي کې وي او یا په تضمني کې اویا التزامي کې وي او په مدلولات ثلاثه کې هر یو مدلول کې چې وي نو د اشتقاق دپاره کافي دي او دلته مدلول التزامي کې مناسبت موجود دي هغه داسې چې زخم ته هم تاثیر لازم دي او کلمې او کلام ته هم تاثیر لازم دي.

قیل هي والکلام: دلته مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ **هي** ضمیر راوړو او **کلم** یې په اسم ظاهر سره ذکر کړو ځکه چې کلمه مخکې ذکر وه صراحتا او کلام نه ؤ ذکر.

والکلام جنس لاجمع: په دې عبارت سره غرض دشارح بیان اختلاف دي: چې **کلم** جنس دي او که جمع په دې کې دوه مذاهب دي: اول مذهب دجمهورو علماو. دوهم مذهب دبعضې علماو جمهور علماء وایي چې دا جنس دي جمع نه ده او ددوي دپاره څلور دلائل دي:

اول دلیل دادې چې تمیز دعدد اوسط مفرد نکره راځي لکه **اثنا عشر کلما** او مفردونه وي مګر جنس

دوهم دلیل دادې چې تصغیر ددې بنفسه **کلیم** راځې او ددې رجع مفرد ته نه کیږي.
دریم دلیل دادې چې ددې وزن د جمعې په اوازنو کې نشته دي.
څلورم دلیل دادې چې په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي **إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ** الطَّيِّبُ

صفت د كلم دي ، كه چيرته كلم جمع وي نو صفت به يې الطيبات راغلې وي .
او بعضې علماء وايي چې دا جمع ده جنس نه دي جمع وايي : **مايطلق على ثلاثة فصاعدا وليس له مفرد من لفظه نحو مسلمون** . يعنې جمعه هغې ته وايي چې اطلاق يې په دريو اويا په زيات د دريو باندې كيږي اونه وي ددې دپاره مفرد من لفظه ، او جنس هغه دي چې : **يطلق على الماهية معرى عن الافراد نحو انسان وليس له مفرد من لفظه** .
دليل د بعضو : د بعضو د پاره دليل دادې چې ددې اطلاق په دريو او په زيات ددريو باندې كيږي .
دوي رد كوي په جمهورو باندې داول دليل نه جواب دا كوي چې زه دا منم چې تميز د عدد اوسط **كلماً** نه راځي بلكه **كلمةً** راځي .
او ددوهم دليل نه دا جواب كوي چې ددې تصغير اول راجع كيږي مفرد ته يعنې **كلمةً** ته او بيا يې تصغير **كليم** راځي .
او د دريم دليل نه جواب دا كوي چې وزن يې په جمعو كې شته چې همدا وزن دي .
اود څلورم دليل نه جواب دا كوي چې دا آيت مؤل دي په تاويل د **بعض** سره يعنې آيت داسې دي چې : **بعض الكلم الطيب** نو الطيب صفت د **بعض** واقع شوې او **بعض** مفرد دي .
نو مونږ ملګرتيا كوو دجمهورو او داول رد نه دا جواب وركوو چې ستاسې دعوه بلا دليله ده ځكه په كلام دعربو كې ددې ثبوت نشته دي .
اوددوهم رد نه هم جواب دا كوو چې ستاسې دعوه بلا دليله ده .
او ددريم رد نه جواب داوركوو چې دا خو **مصادرة على المطلوب** كوي .
او د څلورم رد نه جواب دا كوو چې تاويل هغه وخت كيږي چې استعمال د حقيقت متعذر وي .
دلته سائل يو سوال كوي :
سوال : دادې چې تا اول تحقيق داشتقاق وكړو اوبيا دې دجنس وكړو او اوس دالف لام كوي ، په كار خو دا وه چې اول دې بحث د الف لام كړې وي او بيا دې تحقيق په نفسِ كلمه كې كړې وو .
جواب : دادې چې كلمه معروض ده او الف لام عارض دي كلمې ته او معروض مقدم وي په عارض باندې .

والّلام فيها للجنس: په دې عبارت سره غرض د شارح اول تعين دالف لام کوي ، دوهم تعين د تاء کوي او دريم دفع دسوال کوي:

اول الف لام په دوه قسمه دي اسمي ، حرفي . الف لام اسمي هغه ته وايي چې په اسم فاعل او اسم مفعول کې وي نو په الکلمة کې خو الف لام اسمي نه دي ځکه کلمه خو نه اسم فاعل ده او نه اسم مفعول ، او الف لام حرفي هغه دي چې په غير داسم فاعل او اسم مفعول نه وي خو الف لام حرفي په دوه قسمه دي زائد ، غير زائد . زائد هغه ته وايي چې سقوط يې مخل نه وي معنی لره نو دلته خو دا هم نه دي ځکه سقوط سره يې نکارت دمبتداء لازميږي ، او غير زائد په څلور قسمه دي : (۱) جنسي . (۲) استغراقي ، (۳) عهد خارجي ، (۴) عهد ذهني ، دلته جنسي استغراقي نه صحيح کيږي ځکه چې په دې کې کثرت وي او دکلمې په آخر کې تاء د وحدت لپاره ده اود کثرت او وحدت په مينځ کې منافات دي ، که چيرې الف لام عهد خارجي جوړ کړي نو ددې دپاره مخکې معهود ضروري وي او دلته مخکې معهود نشته . او که چيرې الف لام عهد ذهني جوړ کړي نو ددې مدخول به دنکرې په حکم کې وي نو بيا د نکارت والاخرابي لازم راځي ، نو الف لام په ټولو اقسامو کې دلته يو قسم هم نه جوړيږي

جواب: دلته الف لام جنسي دي اوپاتې شوه دا خبره چې د جنس او وحدت په مينځ کې منافات دي نو ددې جواب دادې چې وحدت په څلور قسمه دي وحدت جنسي لکه حيوان ، وحدت نوعي لکه انسان ، وحدت صنفي لکه رومي ، وحدت فردي لکه زيد . اوس الف لام جنسي ا ووحدت فردي کې منافات دي . باقي وحدتونه درې واړه قسمون الف لام جنسي سره جمع کيدې شي .

ويمكن حملها على العهد الخارجي: په دې عبارت سره شارح د سوال دوهم جواب ورکوي چې په الکلمة باندې داخل الف لام عهد خارجي دې باقي ستاسو دا وينا چې ددې نه مخکې معهود نه دي ذکر نو ددې جواب دادې چې معهود مخکې ذکر کول ضروري نه دي بلکه معلوم کيدل اومعين کيدل کافي دي او دلته کلمه معلوم اومعين دي چې ددې نه مراد هغه کلمه ده چې مذکوره ده په ژبو د نحاتو .

وضاحت د لفظ:

لَفظٌ اَللَّفظُ فِي اللُّغَةِ اَلرَّمْيُ يُقَالُ اَكَلْتُ التَّمْرَةَ وَ لَفَظْتُ النَّوَاةَ اَیْ رَمِيْتُهَا ثُمَّ نُقِلَ
لفظ په لغت کې ويشتلو ته ويلې شي ويلې کيږي اکلت التمرة ولفظت النواة ای رميتها معنی وه مي ويشتو بيا نقل

فِيْ عُرْفِ النُّحَاةِ اِبْتِدَاءً اَوْ بَعْدَ . جَعْلَهٗ بِمَعْنَى الْمَلْفُوْظِ كَالْخَلْقِ بِمَعْنَى الْمَخْلُوْقِ
شوه په عرف دنحويانو كي اولا وروستو دهغي نه وګرځيده په معنى دملفوظ سره لكه خلق په معنى دمخلوق سره
اِلٰى مَا يَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْمًا مُهْمَلًا كَانَ اَوْ مَوْضُوْعًا مُفْرَدًا كَانَ اَوْ
هغه څه ته چي په هغي باندي انسان تلفظ كوي حقيقتا اوحكما مهمل وي او كه موضوع وي مفرد وي اوكه
مُرَكَّبًا وَ اللَّفْظُ الْحَقِيْقِيُّ كَزَيْدٍ وَ ضَرَبَ وَ الْحُكْمِيُّ كَالْمَنْوِيِّ فِيْ زَيْدٌ ضَرَبَ وَ اَضْرِبْ اِذْ
مركب وي اولفظ حقيقي لكه زيد او ضرب اوحكمي لكه په نيت كي وي په جمله زيد ضرب او اضرب كي خكه چي
لَيْسَ مِنْ مَقُوْلَةِ الْحَرْفِ وَ الصَّوْتِ اَصْلًا وَ لَمْ يُوْضَعْ لَهٗ لَفْظٌ وَ اِنَّمَا عَبَّرُوْا عَنْهُ
نشته په مقوله د حرف او آواز كي بالكل اونه دي وضع شوي دي دپاره لفظ بلكي تعبير كړي دي ددي نه په
بِاِسْتِعَارَةِ لَفْظِ الْمُنْفَصِلِ لَهٗ مِنْ نَحْوِ هُوَ وَ اَنْتَ وَ اَجْرَوْا عَلَيْهِ اَحْكَامَ اللَّفْظِ
استعاري دلفظ دمنفصل ددي دپاره لكه په هواوانت كي اوجاري كړي دي په دي باندي احكام دلفظ نو دا
فَكَانَ لَفْظًا حُكْمًا لَا حَقِيْقَةً وَ الْمَحْذُوْفُ لَفْظٌ حَقِيْقَةً لِاَنَّهٗ قَدْ يَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ فِيْ بَعْضِ
شو لفظ حكمي نه حقيقي اومحذوف دا لفظ دي حقيقي خكه چي تلفظ كوي په دي باندي انسان په بعضي
الْاَحْيَانِ وَ كَلِمَاتُ اللّٰهِ تَعَالٰى دَاخِلَةٌ فِيْهِ اِذْ هِيَ مِمَّا يَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ
وختونو كي اوكلمات دالله تعالى داخل دي په دي كي خكه چي دا دهغي جملي نه دي چي تلفظ كوي انسان
وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ كَلِمَاتُ الْمَلٰئِكَةِ وَالْجِنِّ وَالدَّوَالُّ الْاَرْبَعِ وَهِيَ الْخُطُوْطُ وَالْعُقُوْدُ وَالنَّصْبُ وَالْاِشَارَاتُ غَيْرُ دَاخِلَةٍ
وعلى هذا القياس كلمات دفرشتو او دپيريانو اودول اربعه يعني خطوط، عقود، نصب او اشارات داخل نه دي په
فِيْهِ فَلَا حَاجَةَ اِلٰى قَيْدٍ يُخْرِجُهَا وَ اِنَّمَا قَالَ لَفْظٌ وَ لَمْ يَقُلْ
لفظ كي پس ضرورت نشته داسي يو قيد ته چي هغه پري وويستل شي اومصنف وويل لفظ اووي يي نه ويل
لَفْظَةٌ لِاَنَّهٗ لَمْ يَقْصُدِ الْوَحْدَةَ وَ الْمُطَابَقَةُ غَيْرُ لَازِمَةٍ لِعَدَمِ الْاِشْتِقَاقِ مَعَ كَوْنِ
لفظة خكه چي دهغه قصد وحدت نه دي اومطابقت غيرلازم دي دوجي دنشتوالي د اشتقاق نه سره ددي نه چي
اللَّفْظِ اَخْصَرُ .
لفظ كوتاه دي

خلاصه دمتن : په دي عبارت سره صاحب دكافيي د لفظ لغوي اواصطلاحي تعريف بيانوي.

اغراض دجامي : لفظ: په دي عبارت سره شارح د لفظ وضاحت كوي لفظ مصدر دي او مصدر مبني للفاعل او مفعول دواړه كيدي شي دلته مبني للمفعول دي په معني دملفوظ سره لكه خلق په معني د مخلوق سره او شرب په معني د مشروب سره نو داعام شو كه موضوع وي او كه مهمل كه مفرد وي او كه مركب حقيقتا وي او كه حكما، قليلا وي او كه كثيرا .

کله چې دلفظ تعریف په مایتلفظ به الانسان سره وکړه نو ټول اجزاء او اقسام دکلام په کې داخل شو حتی چې کلام الله چې کله متلفظ دانسان وګرځي اګر چې دالله پاک کلام دي لکن په تعریف دلفظ کې داخلیږي ، نو دلته یو سوال راځي

سوال : چې ضمائرو ته لفظ ویل کیدې شي اوکه نه ؟

جواب : چې کله ناکله وربانديي تلفظ کیږي نو هغه هم په تعریف دلفظ کې داخل دي

سوال : سائل سوال کوي چې صاحب دکتاب د لفظ په ځای لفظة ولې ونه ویلو نو بیا به مطابقت د الکلمة سره راغلي وي نو دغه اعتراضات چې په الکلمة باندي راغلي دابه نه راتلې .

جواب : صاحب دجامي جواب کوي چې لفظ داخبر دي دمبتداء . او په مینځ دمبتداء او خبر کې چې کله شروط ثلاثه موجودوو بیا مطابقت شرط دي او هغه دلته نه دي موجود نو مطابقت شرط نه دي ، او هغه شروط ثلاثه دادي :

(۱) دواړه به په اشتاق او عدم اشتاق کې برابر وي ، او دلته نه دي برابر ځکه کلمه مشتق ده او لفظ غیر مشتق دي .

(۲) بله داچې ضمیر مسند به راجع وي خبر ته ، او هغه هم نه دي موجود ځکه په لفظ کې ضمیر نشته .

(۳) عدم تساوي په تذکیر او تانیث کې لکه لفظ د جریح نو کله چه شرط منتفي شي نو مشروط هم منتفي کیږي اودلته زمونږ مقصد وحدت ذکر کول نه دي بلکې عامه کلمه تعریف کول ځکه که وحدت مقصودشي بیا لفظ دعبدالله به خارج شي دکلمي نه اوحالانکې عبدالله دیو رجل اسم داخل دي په تعریف دکلمی کی نو ځکه مو لفظ ذکر کړو نه لفظة .

بله داچې دا تعریف دکلمي دي او بهتر په تعریف کې هغه الفاظ دي چې مختصر وي نو لفظ دا مختصر دي د لفظة ځخه او نطق کول پرې هم آسان دي .

<u>والمطابقة غیر لازمة</u> : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : الکلمة مبتدا ده او لفظ ددې خبر دي اوپه مبتدا او خبر کې مطابقت ضروري وي او دلته مطابقت نشته دي .

جواب : دمبتدا او خبر دمطابقت دپاره اوه (۷) شرطونه دي :

اول : مبتدا اوخبر به دواړه اسم ظاهر وي احترازي مثال لکه هي اسم وفعل وحرف .

دوهم: خبر به مشتق وي احترازي مثال لکه الكلمة لفظ

دريم: په خبر کې به د مبتدا ضمير وي احترازي مثال لکه زينب ، وسقر

څلورم: د خبر په اسم تفضيل مستعمل په من سره نه وي احترازي مثال لکه الصلوة

پنځم: چې خبر صفت خاصه دمؤنث دپاره نه وي احترازي مثال لکه المرأة .

شپږم: چې خبر به د مفعول په وزن باندې نه وي احترازي مثال لکه المرأة صبور

اوم: چې خبر به دفعيل په وزن باندې نه وي احترازي مثال لکه المرأة جريح

نو خلاصه د جواب داده چې دلته خبر مشتق نه وي ددې وجې نه مطابقت ضروري نه دي

مع كون اللفظ اخصر: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: چې که چيرته مطابقت ضروري نه وي نو عدم مطابقت به هم ضروري نه وي مطابقت په هر حال کې دعدم مطابقت په مقابله کې بهتر خو دې .

جواب: شارح جواب ورکړې دي چې دلته عدم مطابقت بهتر دي په نسبت سره مطابقت ته ځکه چې دا متن دي او بناء د متونو په اختصار وي نو په لفظ کې زيات اختصار دي په نسبت سره لفظة ته ، نو په دې باندې يو بل سوال راځي :

سوال: چې په غورزيدو ديو تاء سره نفس اختصار خو حاصل شو مګر دا خبره چې زيادت داختصار راځي دا خبره دې د کوم ځاى نه ثابته کړه چې تا صيه د اسم تفضيل وويله مع كون اللفظ اخصر.

جواب: دلته يوه تاء نه ده غورزيدلې بلکه درې تاء ګانې غورزيدلې دي که چيرته لفظة يې ويلې وي نو وضعت به يې هم ويلو اوپه يو احتمال سره ددې صفت جوړيدو نو معلومه شوه چې په ظاهره خو يو تاء غورزيږي خو په حقيقت کې درې تاء ګانې غورزيږي ددې وجې نه مونږه صيغه د اسم تفضيل استعمال کړه .

تعريف دوضع :

وُضِعَ	اَلْوَضْعِ	تَخْصِيْصُ	شَيْءٍ	بِشَيْءٍ	بِحَيْثُ	مَتٰى	أُطْلِقَ	اَوْ	أُحِسَّ	الشَّيْءُ

وُضِعَ وضع خاص کول ديو څيزدې په بل څيزپورې په داسې شان سره چې کله مطلق ذکر شي اويا حس شي شئ

الْأَوَّلُ	فُهِمَ	مِنْهُ	الشَّيْءُ	الثَّانِيْ	قِيْلَ	يُخْرِجُ	عَنْهُ	وَضْعُ	الْحَرْفِ	حَيْثُ لَا	يُفْهَمُ مِنْهُ مَعْنَاهُ

اول نو فهميږي ترې شئ ثاني ، چاويلي دي خارج شو ددې نه وضع دحرف ځکه نه فهميږي ددې معنى ددې

مَتٰى أُطْلِقَ بَلْ إِذَا أُطْلِقَ مَعَ ضَمِّ ضَمِيْمَةٍ وَ أُجِيْبَ بِأَنَّ الْمُرَادُ مَتٰى أُطْلِقَ
کله چې مطلق ذکر شي بلکې چې کله مطلق یادشي سره دضم دضمیمې به جواب داد ې چې مراد کله چې ذکر
إِطْلَاقاً صَحِيْحاً وَ إِطْلَاقُ الْحَرْفِ بِلَاضَمِّ ضَمِيْمَةٍ غَيْرُ صَحِيْحٍ وَلَا يُبْعَدُ أَنْ يُقَالَ
شي په اطلاق صحیحه سره او اطلاق دحرف بې دضم دضمیمې نه دا غیرصحیح ده بعیده نه ده چې وویلې شي
الْمُرَادُ بِإِطْلَاقِ الْأَلْفَاظِ أَنْ يُسْتَعْمِلَهَا أَهْلُ اللِّسَانِ فِيْ مُحَاوَرَاتِهِمْ وَ بَيَانُ مَقَاصِدِهِمْ
چې مراد په اطلاق دالفاظو سره چې استعمالوي هغې لره اهل لسان په خپلو محاورو کې او بیان د مقاصدو کې
فَلَا حَاجَةَ إِلٰى إِعْتِبَارِ قَيْدٍ زَائِدٍ.
پس حاجت نشته اعتبار د یو قید زائد ته

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافیې تعریف دوضع بیانوي

اغراض دجامي : وضع: په دې عبارت سره شارح د کلمې په تعریف کې اول فصل بیانوي دا د کلمې په تعریف کې اول فصل دي ، نو په دې سره ترې مهملات خارج شو او هغه الفاظ چې دلالت بالطبع کوي هغه هم خارج شو ،ددې وجې نه چې اګر که الفاظ دلالت په خپلو معانیو باندې کیږي مګر هغه دلالت بالوضع نه کیږي

وضع په لغت کې نهادن ایخودلو ته وایي او په اصطلاح کې تخصیص الشئ بالشئ بحیث متی اطلق او احس الشئ الاول فهم منه الشئ الثاني .تخصیص دیو څیز دبل څیز سره خاص کول په داسې شان سره چې کله هم د اولني څیز اطلاق یا احساس وکړې شي نو دهغې نه دویم څیز په ذهن کې راځي .

سوال : لفظ د متی دعموم د اوقاتو دپاره راځي چې کله هم وویلې شي نو شئ ثاني ترې نه په ذهن کې راځي چې کله په اولنئ ځل ویلو سره په ذهن کې راځي نو که چیرته په دوهم ځل ویلو سره هم په ذهن کې راځي نو تحصیل د حاصل لازمیږي اودا باطل دي .

جواب : د منهم نه مراد التفات اودالتفات نه مراد جدید یعنې چې کله متکلم خبرې کوي نو مخاطب اوسامع لره ددې معنی طرف ته التفات جدید وي .

سوال : ستا دوضع په تعریف سره هغه الفاظ خارجیږي چې دهغې علم نه متکلم ته شته دي اونه سامع ته لکه متشابهات وغیره همدارنګه هغه الفاظ ترې نه هم خارجیږي چې دهغې علم خو متکلم ته شته دي خو سامع او مخاطب ته نشته دي لکه عربي والاعجمي د غیر عالم په مخامخ الفاظ عربیه وایي .

جواب: دلته د بعد العلم بالوضع والا قيد معتبر او ملحوظ دي.

سوال: ستا دوضع تعريف جامع نه دي خپلو ټولو افرادو لره ددې نه وضع دحروفو خارجيږي ځکه چې کله ددې اطلاق وکړې شي نو ددې معنى په ذهن کې نه راځي بلکه په هغه وخت کې راځي چې کله ورسره ضم د ضميمې هم وي.

جواب: شارح ددې نه دوه جوابات ورکړي دي:

اول جواب: شارح هندي په **واجيب** سره جواب ورکړي دي چې داطلاق نه مراد اطلاق صحيحه دي اودحروفو اطلاق په غير د ضم د ضميمې نه دسره نه صحيح کيږي.

دوهم جواب: شارح په **ولا يبعد** سره دوهم جواب ورکوي چې داطلاق نه مراد اهل لسانو لره په خپلو محاوراتو کې استعمال اواهل لسان دحروفو اطلاق په غير دضم دضميمې نه کوي نو کله هم چې اهلِ لسان دحروفواطلاق کوي دضم دضميمې سره نوددې معنى په ذهن کې راځي.

فلا حاجة الى اعتبار قيد زائد: په دې عبارت سره شارح د علامه هندي د جواب کمزورې طرف ته اشاره کوي: چې زما جواب د علامه هندي دجواب نه بهتر دي ځکه چې علامه هندي په جواب کې د اطلاق صحيحه قيد ولګولو په غير دضرورت نه يې مطلق مقيد کړو چې کله مطلق په خپل اطلاق باندې په پريخودلو سره سوال ختميږي نو بيا په غير دضرورت نه مطلق مقيد کول هم صحيح نه دي.

تعريف د معنى:

لِمَعْنىً اَلْمَعْنٰى مَا يُقْصَدُ بِشَيْءٍ فَهُوَ اِمَّا مَفْعَلَ اِسْمُ مَكَانٍ بِمَعْنَى الْمَقْصَدِ
لمعنىً معنى هغه ده چې قصد کولې شي په يو څيزسره پس داوزن دمفعل اسم مکان دي په معنى دمقصد سره
اَوْ مَصْدَرٌ مِيْمِيٌّ بِمَعْنَى الْمَفْعُوْلِ اَوْ مُخَفَّفٌ مَعْنَى اِسْمُ مَفْعُوْلٍ كَمَرْمِيٍّ وَ لَمَّا كَانَ الْمَعْنٰى
اويامصدرميمي دي په معنى دمفعول سره اويامخفف په معنى داسم مفعول سره لکه مرمي هرکله چې وه معنى
مَأْخُوْذاً فِي الْوَضْعِ فَذَكَرَ الْمَعْنٰى بَعْدَهُ مَبْنِيٌّ عَلَى تَجْرِيْدِهِ عَنْهُ فَخَرَجَ بِهٖ
ماخوذه په وضع کې نوذکردمعنى وروستو دهغې نه دا مبني ده په تجريد دمعنى دوضع نه نوخارج شوېه دې
الْمُهْمَلَاتُ وَ الْاَلْفَاظُ الدَّالَّةُ بِالطَّبْعِ اِذْ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهَا وَضْعٌ وَ تَخْصِيْصٌ اَصْلاً وَ بَقِيَتْ
سره مهملات اوالفاظ داله بالطبع ځکه چې تعلق نشته ددې پورې دوضع اوتخصيص بالکل اوباقي پاتې شو
حُرُوْفُ الْهِجَاءِ الْمَوْضُوْعَةُ لِغَرَضِ التَّرْكِيْبِ لَا بِاِزَاءِ الْمَعْنٰى وَ خَرَجَتْ بِقَوْلِهٖ لِمَعْنًى
حروف هجاء چې وضع شوي وودپاره دغرض ترکيب نه په مقابله دمعنى اوخارج شوېه دې قول سره چې لمعنى

إِذْ وَضْعُهَا لِغَرَضِ التَّرْكِيْبِ لاَ بِإِزَاءِ الْمَعْنٰى.
ځکه چې وضع د دې د پاره د غرض ترکیب ده نه په مقابله د معنی

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب د کافيې د معنی وضاحت کوي

اغراض دجامي: لمعنی: په دې عبارت سره شارح د کلمې په تعریف کې دوهم فصل بیانوي ، په دې سره حروف تهجي ترې خارج شول ، د دې وجې نه چې حروف تهجي اګر که موضوع کیږي لیکن په مقابلې

کې موضوع نه کیږي بلکه غرض ترکیب د پاره هغه وضع کولې شي معنی په لغت کې ما یقصد بشئ ته وايي ، چې د یو څیز نه مقصود وي یعنې مقصود من الشئ ته معنی وايي او د معنی لغوي معنی دا دعنایت نه مشتق ده د معنی معنی ده قصد کول ده

مفرد: په دې عبارت سره شارح د کلمې په تعریف کې دریم فصل بیانوي . په دې سره مرکبات کلامیه او غیر کلامیه ټول خارج شول نو ګویا چې د کلمې په تعریف کې یو جنس دي او درې فصله دي اوس د کلمې د تعریف لاندې صرف هغه لفظ پاتې کیدې شي چې هغه لفظ هم وي موضوع هم وي او موضوع هم د معنی په مقابله کې وي او مفرد هم وي لکه زید ، رجل وغیره .

فخرج به المهملات الخ: په دې عبارت سره شارح دا بیانوي چې وضع اول فصل دي په دې سره مهملات او الفاظ داله بالطبع خارج شول او لمعنیً دا دوهم فصل دي په دې سره حروف تهجي خارج شول ځکه چې هغه اګر که وضع کولې خو شي لیکن د معنی په مقابله کې نه وضع کیږي بلکه عرض ترکیب د پاره هغه وضع کیږي .

د یو سوال جواب :

فَإِنْ قُلْتَ قَدْ وُضِعَ بَعْضُ الْاَلْفَاظِ بِإِزَاءِ بَعْضٍ اٰخَرَ فَكَيْفَ يَصْدُقُ
که چیرته وویل شي په تحقیق سره وضع شوي بعضې الفاظ په مقابله د بعضې نورو کې نو څنګه به اطلاق کیدې
عَلَيْهِ اَنَّهُ وُضِعَ لِمَعْنًى قُلْنَا اَلْمَعْنٰى مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ
شي په هغې باندې چې دا وضع شوي دي د پاره د معنی ، مونږ وایو معنی هغه ده چې تعلق نیسي د هغې پورې
الْقَصْدُ وَ هُوَ اَعَمُّ مِنْ اَنْ يَكُوْنَ لَفْظًا اَوْ غَيْرَهُ فَإِنْ قُلْتَ قَدْ وُضِعَ بَعْضُ
پورې قصد دا عامه ده د دې نه چې لفظ وي او که غیر لفظ که چیرته وویل شي په تحقیق سره وضع شوي بعضې
الْكَلِمَاتِ الْمُفْرَدَةِ بِإِزَاءِ الْاَلْفَاظِ الْمُرَكَّبَةِ كَلَفْظِ الْجُمْلَةِ وَ الْخَبَرِ فَكَيْفَ يَكُوْنُ مَوْضُوْعاً لِمُفْرَدٍ قُلْنَا
کلمات مفرده په مقابله دالفاظ مرکبو کې لکه لفظ د جملې او دخبر نو څنګه به دا وضع وي د پاره د مفرد مونږ وایو

هَذِهِ الْأَلْفَاظُ وَإِنْ كَانَتْ بِالْقِيَاسِ إِلَى مَعَانِيْهَا مُرَكَّبَةً لَكِنَّهَا بِالْقِيَاسِ إِلَى أَلْفَاظِهَا الْمَوْضُوْعَةِ بِإِزَائِهَا مُفْرَدَةٌ

داالفاظ اګرچې په قياس سره خپلومعناوته مرکب دي ليکن په قياس سره الفاظ موضوعه ته په مقابله د مفردو

وَ قَدْ أُجِيْبَ عَنِ الْإِشْكَالَيْنِ بِأَنَّهُ لَيْسَ هَهُنَا لَفْظٌ وُضِعَ

کې دي او په تحقيق سره جواب ورکړې شو د دواړو اشکاليو نه چې نشته دلته يو لفظ چې وضع شوې وي په

بِإِزَاءِ لَفْظٍ آخَرَ مُفْرَداً كَانَ أَوْ مُرَكَّباً بِإِزَاءِ مَفْهُوْمٍ كُلِّيٍّ أَفْرَادُهُ أَلْفَاظٌ كَلَفْظِ الْإِسْمِ

مقابله دلفظ آخر کې مفرد وي او که مرکب وي په مقابله د مفهوم کلي چې افراد د هغې الفاظ دي لکه لفظ د اسم

وَ الْفِعْلِ الْحَرْفِ وَ الْخَبَرُ وَ الْجُمْلَةُ وَ غَيْرِهَا وَلَا يَخْفَى عَلَيْكَ أَنَّ هَذَا الْحُكْمَ مَنْقُوْضٌ بِأَمْثَالِ

اودفعل اودحرف او د خبر او د جملې او غير د دې نه پټه دې نه وي په تا باندې چې دا حکم مات سره دې په مثل د

الضَّمَائِرِ الرَّاجِعَةِ إِلَى الْأَلْفَاظِ مَخْصُوْصَةٍ مُفْرَدَةٍ أَوْ مُرَكَّبَةٍ فَإِنَّ الْوَضْعَ فِيْهَا وَ إِنْ كَانَ عَامّاً

ضمائرو چې راجع دي الفاظ مخصوصو ته مفرد وي او که مرکب وي خکه چې وضع په هغې کې اګرچې عامه

لَكِنَّ الْمَوْضُوْعَ لَهُ خَاصٌّ فَلَيْسَ هُنَاكَ مَفْهُوْمٌ كُلِّيٌّ هُوَ الْمَوْضُوْعُ لَهُ فِي الْحَقِيْقَةِ مُفْرَدٌ

ده ليکن موضوع له خاص دي نو نشته هلته يومفهوم کلي چې وضع شوې وي د هغې دپاره په حقيقت کې مفرد

وَ هُوَ إِمَّا مَجْرُوْرٌ عَلَى أَنَّهُ صِفَةٌ لِمَعْنًى وَ مَعْنَاهُ حِيْنَئِذٍ مَا يَدُلُّ

دا يا مجرور دي بناء په دې چې داصفت دي دپاره دمعنى اومعنى يې په دې وخت کې هغه ده چې دلالت کوي

جُزْءُ لَفْظِهِ عَلَى جُزْئِهِ وَ فِيْهِ أَنَّهُ يُوْهِمُ أَنَّ اللَّفْظَ مَوْضُوْعٌ لِمَعْنًى

جزء دلفظ ددې په جزء د معنى باندې اوپه دې کې داوهم کيدې شي چې لفظ وضع شوې دپاره دمعنى هغه معنى

الْمُتَّصِفُ بِالْإِفْرَادِ وَ التَّرْكِيْبِ قَبْلَ الْوَضْعِ وَ لَيْسَ الْأَمْرُ كَذَلِكَ فَإِنَّ اِتِّصَافَ الْمَعْنَى

چې کومه متصفه ده په افراداوترکيب سره مخکې د وضع نه حالانکه داسې نه ده خکه چې اتصاف دمعنى په

بِالْإِفْرَادِ وَالتَّرْكِيْبِ إِنَّمَا هُوَ بَعْدَ الْوَضْعِ فَيَنْبَغِي أَنْ يَرْتَكِبَ فِيْهِ تَجُوْزٌ كَمَا يَرْتَكِبُ فِيْ مِثْلِ مَنْ قَتَلَ قَتِيْلاً

افراداوترکيب داوروستو دوضع نه دي پس مناسب دي چې واخستل شي په دې کې مجاز لکه په من قتل قتيلاً

فَلَهُ سَلْبُهُ أَوْ مَرْفُوْعٌ عَلَى أَنَّهُ صِفَةٌ لِلَّفْظِ وَ مَعْنَاهُ حِيْنَئِذٍ مَا لَا

فله سلبه کې يامرفوع دي بناء په دې چې داصفت دي دپاره دلفظ نومعنى يې په دې وخت کې هغه ده چې نه

يَدُلُّ جُزْؤُهُ عَلَى جُزْءِ مَعْنَاهُ.

کوي دلالت جزء دلفظ په جزء د معنى باندې.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د يو سوال جواب ورکوي

اغراض دجامي : فان قلت : قد وضع بعض الالفاظ په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال : تعریف د کلمې دې جامع نه دي خپلو ټولو افرادو لره ځکه چې تا د کلمې په تعریف کې ذکر کړې دي لفظ وضع لمعنی ، نو ددې هغه تمام کلمات خارج شو چې لفظ خو وي خو هغه دبل لفظ په مقابله کې وضع کړې شوې وي لکه لفظ د اسم چې دا زید په مقابله کې وضع کړې شوي دي اولفظ فعل لره د ضرب او نصر په مقابله کې وضع کړې وي نو لفظ اسم او فعل دواړه د کلمې دتعریف نه خارج شول .

جواب : ستا خبره صحیح نه ده ځکه چې زما مراد دلمعنی نه هغه ده چې د چاسره قصد تعلق ونیسي نو هغه ځیر که لفظ وي اوکه معنی .

سوال : ستا تعریف بیا هم جامع نه شو خپلو ټولو افرادو لره تا چې دمفرد کوم قید ذکر کړې دي د هغه قید دوجې نه هغه الفاظ خارج شول چاله چې دالفاظ مرکبه په مقابله کې وضع کړې ړو هغه الفاظ مرکبه اګر چې ستا دقول مطابق په معنیٰ کې داخلیږي خو هغه ددې قید نه خارجیږي لکه چې لفظِ جمله اولفظ خبر لره د **زید قائم** وغیره په مقابله کې وضع کړې شوي دي نو زید قائم خو مرکب دي خو لفظِ جمله او لفظِ خبر ستا د کلمې په تعریف سره خارج شو .

جواب : شارح ددې جواب دا ورکړې دي چې زید قائم وغیره دوه حیثیته دي یو دخپل مافوق دلفظ موضوع په اعتبار سره او دوهم دخپل ماتحت معنی موضوع له (زید قائم) په اعتبار سره د اولنۍ حیثیت په اعتبار سره دامعنی ددې ځکه چې دلفر جز دمعنی په حیز باندې دلالت نه کوي یعنې دلفظ جملې جسم دقائم په ځان باندې دلالت نه کوي ددې حیثیت نه دامعنه ددې اوکوم حیثیت نه دامرکب دي هغه حیثیت نه لفظ جمله اوخبروالاموضوع له نه دي .

<u>**وقد اجیب**</u> : په دې عبارت سره شارح د مخکنۍ سوال جواب کوي : مونږ دا خبره نه منو چې مذکوره الفاظ د الفاظ مفرده او الفاظ مرکبه په مقابله کې وضع شوې وي بلکه الفاظ دیو مفهوم کلي په مقابله کې وضع شوې دي او مفهوم کلي معنی من المعاني دي مثلاً اسم ته مفهوم کلي **ما دل علی معنیً في نفسه غیر مقترن بأحد الازمنة الثلاثة** ، په مقابله کې وضع شوې دي او ضرب نصر وغیره ددې مفهوم کلي والاافراد دي وعلی هذا القیاس خبرجمله وغیره هم

<u>**مفرد ، هو امام مجرور**</u> : په دې عبارت کې علامه جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ په لفظ دمفرد کې په احتمالي ترکیبونو کې دري احتماله بیانوي :

اول احتمال : دا به مجرور وایي اود معنی دپاره به یې صفت جوړ کړي په دې صورت کې به دکلمې تعریف داسې شي چې کلمه هغه لفظ دي چې وضع کړې شوې وي د داسې معنی په

مقابله کې چې هغه مفرد وي او معنی مفرد هغه وي چې ددې معنی په مقابله کې چې کوم لفظ موضوع وي ددې لفظ موضوع یو جز هم ددې معنی په جزء باندې دلالت نه کوي

وفیه انه یوهم: په دې عبارت سره شارح په اولني احتمال باندې یو سوال راخي هغه ذکر کوي

سوال: د ځان پوهولو دپاره مخکې دیو تمهیدي خبرې پیژندل ضروري دي چې قانون او قاعده داده چې کله دفعل یاشبه فعل تعلق د یو متصف بالصفة سره وي نو ددې متصف اتصاف ددې صفت سره ددې تعلق نه مخکې وي اول به هغه متصف وي اوبیابه ددې فعل یاشبه فعل تعلق وي لکه **ضربت رجلاً قیاماً** یا **جاءني زید راکباً** نو دلته به **رجل قائم** اول کې وي او مضروب به وروستو جوړیږي همدارنګې **زید راکب** په اول کې وي او مجئیت به وروستو وي

نو خلاصه د سوال داده چې کله د وضع فعل تعلق د یو داسې معنی سره وي چې متصف بالافراد وي نو دمذکورې قاعدې مطابق دا خبره په ذهن کې راځي چې دمعنی اتصاف افراد او ترکیب سره مخکې دوضع نه وي یعنې مخکې به معنی مفرد یامرکب جوړیږي او وروستو به موضوع لـه جوړیږي اودا خبره بالکل غلطه ده بلکه وضع کیدل دلفر دمعنی په مقابله کې مخکې وي اومفرد اومرکب خو بیا وروستو جوړیږي ځکه چې افراد اوترکیب خو فرع ده د دلالت اوعدم دلالت اودلالت اوعدم دلالت مرتب کیږي په وضع باندې لهذا اول به لفظ لره وضع کړې شي دهغې په مقابله کې بیا به ددې لفظ جز دلالت کوي په جز دهغې باندې یابه یې نه کوي چې دهغې په نتیجه کې هغه معنی به مفرد جوړه شي یامرکب اوهغه ترکیب چې کوم تا ذکر کړې دې دهغې نو خو بالکل مخالف په ذهن کې راځي

جواب: علامه جامي رحمه الله ددې جواب ورکړې دې چې دا دمجاز مشارفت دقبیلې نه دې یعنې په اعتبار د **مایؤول** سره دې معنی لره دمفرد جوړیدو نه مخکې مفرد وویلو یعنې دمفرد جوړیدو په خپله باندې دوضع نه وروستو مګر ده لره یې دوضع نه مخکې مفرد وویلو لکه طالب علم ته چې دعالم جوړیدو نه مخکې عالم ووایي

لکه څنګه چې رسول الله ﷺ قتیل لره دقتیل جوړیدو نه مخکې قتیل ویلې وو او ارشاد یې وفرمایلو **من قتل قتیلاً فله سلبه** ، اوهمدارنګې په قرآن کریم کې الله تعالی دحضرت یوسف علیه السلام دقید خانې په دوه ملګرو کې د یوخوب رانقل کوي چې هغه وویل **انی اری اعصر خمرا** نو د شراب جوړیدو نه مخکې یې ورته شراب وویل نو دې ته یې مجاز مشارفت اویه نویل د مایؤول سره وویلو نو همدارنګې دلته هم دمفرد دجوړیدو نه مخکې یې ورته مفرد

وو بلو په اعتبار د ما یول سره

او مرفوع علی انه صفة للفظ: **دوهم ترکیبي احتمال**: یا به مفرد لره مرفوع وايي نو په دې صورت کې به دا صفت جوړ شي دلفظ دپاره نو د کلمې تعریف به دساې شي چې کلمه هغه لفظ مفرد دي چې هغه لره یې دیوې معنی په مقابله کې وضع کړې وي او لفظ مفرد هغه ته وايي چې ددې دلفظ جز په خپله معنی موضوع له باندې دلالت نه کوي په دې باندې یو سوال وارد یږي:

سوال: چې لفظ موصوف دي او لفظ ورلره صفت دي دصفت او موصوف په مینځ کې په وضع لمعنی سره فاصله راغله اودا صحیح نه ده.

جواب: دافاصله د اجنبي نه ده بلکه وضع لمعنی هم دلفظ اولنې صفت دي.

یوه نکته:

وَ لَا بُدَّ حِيْنَئِذٍ مِنْ بَيَانِ نُكْتَةٍ فِيْ إِيْرَادِ اَحَدِالْوَصْفَيْنِ جُمْلَةً فِعْلِيَةً وَالْاٰخَرِ مُفْرَداً وَ كَاَنَّ النُّكْتَةَ
پس ضروري ده په دغه وخت کې بیره نکته په مراد کولو دیود صفتینو نه جمله فعلیه اوبل مفرد گویاچې نکته
فِيْهِ التَّنْبِيْهُ عَلٰى تَقْدِيْرِ الْوَضْعِ عَلٰى اَفْرَادٍ حَيْثُ اَتٰى بِهٖ بِصِيْغَةِ الْمَاضِيْ
په دې کې تنبیه ده په تقدیم دوضع په افراد باندې خکه چې راتګ یې وکړوپه دې سره په صیغې دماضي سره په
بِخِلَافِ الْاَفْرَادِ وَ اَمَّا نَصْبُهُ وَ اِنْ لَمْ يُسَاعِدْهُ رَسْمُ الْخَطِّ فَعَلٰى اَنَّ حَالَهُ مِنَ الْمُسْتَكِنِّ
خلاف دافراد او هرچې نصب ددې اګرکه موافق نه دي د رسم الخط سره سره په دې چې حال د هغې چې مستکن
فِيْ وَضْعٍ اَوْ مِنَ الْمَعْنٰى فَاِنَّهُ مَفْعُوْلٌ بِهٖ بِوَاسِطَةِ اللَّامِ وَ وَجْهُ صِحَّتِهٖ
دي په وضع دهغې کې یاماخوذ دي دمعنی نه خکه چې دا مفعول دي په واسطې دلام سره وجه دصحت یې داده
اَنَّ الْوَضْعَ وَ اِنْ كَانَ مُقَدَّماً عَلَى الْاَفْرَادِ بِحَسْبِ الذَّاتِ يَكُنُّهُ مُقَارِنٌ لَهُ بِحَسْبِ الزَّمَانِ وَ هٰذَا
چې وضع اګرکه مقدمه ده په اعتبار دوضع دذات سره لیکن پیوسته ده دهغې سره په اعتبار دزمان سره اودا
الْقَدْرُ كَافٍ لِصِحَّتِهِ الْحَالِيَةِ وَ قَيْدُ الْاِفْرَادُ لِاِخْرَاجِ الْمُرَكَّبَاتِ مُطْلَقاً سَوَاءٌ
قدر کافي دي دپاره دصحت دحالیت دهغې اوقید دافراد دپاره دخروج دمرکباتو دي مطلقا برابره خبره ده چې
كَانَتْ كَلَامِيَةً اَوْ غَيْرَ كَلَامِيَةٍ فَيَخْرُجُ بِهٖ عَنْ حَدِّ الْكَلِمَةِ مِثْلُ اَلرَّجُلُ وَ قَائِمَةٌ وَ بَصْرِيٌّ وَ
کلامي وي اوکه غیر کلامي وي پس خارجیږي په هغې سره تعریف دکلمې نه لکه الرجل او قائمة اوبصري کې او
اَمْثَالُهَا مِمَّا يَدُلُّ جُزْءُ اللَّفْظِ عَلٰى جُزْءِ الْمَعْنٰى لٰكِنَّهُ يُعَدُّ لِشِدَّةِ الْاِمْتِزَاجِ لَفْظَةً
په مثل ددې باندې هغه چې دلالت کوي جزءدلفظ په جزءدمعنی باندې لیکن داشمارلې شي دشدت امتزاج دلفظ
وَاحِدَةً وَ اُعْرِبَ بِاِعْرَابٍ وَاحِدٍ وَ بَقِيَ مِثْلُ عَبْدُاللهِ عَلَماً دَاخِلاً فِيْهِ مَعَ
واحده نه اومعرب شوې دي په یو اعراب سره اوباقي پاتې شو په مثل دعبدالله علم چې داخل وي په هغې کې سره

اَنهٗ مُعْرَبٌ بِاِعْرَابَيْنِ وَلَا يَخْفٰى عَلَى الْفَطِنِ الْعَارِفِ بِالْغَرْضِ مِنْ عِلْمِ النَّحْوِ
ددې نه چې دا معرب دي په دوواعرابونوسره اوپټه نه دې په هغه زيرک چې پوهه وي په غرض د علم نحوې باندې
اَنهٗ لَوْ كَانَ الْاَمْرُ بِالْعَكْسِ لَكَانَ اَنْسَبَ وَ مَا اَوْرَدَهٗ صَاحِبُ الْمُفَصَّلِ فِيْ تَعْرِيْفِ الْكَلِمَةِ حَيْثُ
که چيرته امر بالعکس وي نودابه مناسب وه اوهغه چې راوړي صاحب دمفصل په تعريف د کلمې کې چې
قَالَ هِيَ اللَّفْظَةُ الدَّالَّةُ عَلٰى مَعْنًى مُفْرَدٍ بِالْوَضْعِ فَمِثْلُ عَبْدِاللهِ عَلَمُهٗ اَخْرَجَ عَنْهُ
ويلي دي چې دالفظ داله دي په معنى مفرد بالوضع باندې نوپه مثل د عبدالله چې علم وي پس خارج شود هغې
فَاِنَّهٗ لَا يُقَالُ لَهٗ لَفْظَةٌ وَاحِدَةٌ وَ بَقِيَ مِثْلُ اَلرَّجُل وَ قَائِمَةٍ وَ بَصرِيٍّ مِمَّا
نه ځکه چې نه شي ويل کيدې هغې ته لفظ واحد اوباقي پاتې شو په مثل د الرجل او قائمة او بصري د هغه نه چې
يَعُدُّ لِشِدَّةِ الْاِمْتِزَاجِ لَفْظَةٌ وَاحِدَةٌ دَاخِلاً فِيْهِ فَاَخْرَجَهٗ بِقَيْدِ الْاِفْرَادْ
شمارلې شي دوجې دزيات اختلاط دهغې نه يولفظ داخل په هغې کې پس خارج کړې به يې وي په قيد د افراد
وَ لَوْ لَمْ يُخْرِجْهُ بِتَرْكِهٖ لَكَانَ اَنْسَبَ لِمَا عَرَفْتَ.
سره ليکن چې خارج يې نه کړو په پريخودلو دهغې سره دازيات مناسب دي لکه ځنګه چې تا وپيژندل

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافيې يوې نکتې طرف ته اشاره کوي

اغراض دجامي <u>ولا بد حينئذ من بيان نكتة</u> په دې عبارت سره غرض دشارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : چې کله د يوموصوف دپاره دوه صفته وي نو په دې کې مطابقت ضروري وي يا خوبه دواړه جملې وي اويابه دواړه مفرد وي اودلته د لفظ صفت اول جمله ده او صفت ثاني يې مفرد دي اوداد فصاحت نه خلاف دي

جواب : علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ ددې جواب داسې ورکړې دي چې ماتن ديوې نکتې طرف ته اشاره کول غوښتل نو يو صفت يې جمله راوړه اوبل يې مفرد راوړو اوهغه دانکته بيانول وو چې د الفاظو وضع مقدم ولې ده دافراد اوترکيب نه ځکه چې افراد اوترکيب موقوف وي په دلالت اوعدم دلالت باندې او دلالت موقوف وي په وضع باندې نو وضع به مقدم وي دافراد او ترکيب نه .

اوس ددې تقدم دبيانولو دپاره صفت اول لره جمله په صورت دفعل ماضي کې راوړه ځکه چې فعل ماضي په تقدم زماني باندې دلالت کوي . اودلته يو سوال وارديږي

سوال : تقدم دوضع دافرادو اوترکيب نه داتقدم ذاتي دي نه زماني ځکه چې وضع علت دي او

افراد اوترکيب معلولو دي اومقدم کول دعلت دمعلول نه دا تقدم ذاتي وي تا ددې تقدم د بيانولو دپاره چې کومه صيغه دماضي ذکر کړې ده نو هغه په تقدم زماني باندې دلالت کوي

جواب : ستا خبره خو صحيح ده مګر د تقدم ذاتي دبيانولو دپراه بوه صيغه هم په کلام دعربو کې موضوع نه وه ددې دپاره يې په طريقې داستعارې دفعل ماضي صيغه استعمال کړه

واما نصبه وان لم يساعده : په دې عبارت سره علامه جامي دريم احتمال بيانوي

دريم احتمال : دادې چې دا منصوب وويلې شي نو بيا به دا وضع دضمير مستتر نه حال جوړ شي او ددې تعلق به د لفظ سره وي ځکه د **وضع هو** ضمير مستتر راجع وي د لفظ طرف ته اويابه دا حال وي دمعنى نه په دې صورت کې ظاهره ده چې ددې تعلق دمعنى مفرد سره دي نو اوس په دې احتمال باندې شارح درې سوالات کړي

اول سوال : دا رسم الخط دمنصوب کيدو درسم الخط سره موافق نه دي ځکه چې په رسم الخط کې دمنصوب په آخر کې الف ليکلې کيږي

جواب : د منصوب په آخر کې دالف دليکلو دپاره شپږ ﴿۶﴾ شرطونه دي

اول شرط : چې ددې منصوب کيدل به قطعي و يقيني وي او دويم احتمال به په کې نه وي او دلته په مفرد کې درفع اوجر احتمال هم شته دي .

دوهم شرط : دامنصوب به معرف باللام نه وي احترازي مثال لکه **ضربت الرجل** .

دريم شرط : ددې منصوب په آخر کې به تاې متحرکه نه وي لريدلي داحترازي مثال لکه **رأيت جارية**

څلورم شرط : دا منصوب به غير منصرف نه وي احترازي مثال لکه **رأيت احمد** .

پنځم شرط : دا منصوب به مضاف نه وي احترازي مثال لکه **رأيت غلام الرجل** .

شپږم شرط: ددې منصوب په آخر کې به داسې الف مقصوره نه وي چې په ياء سره بدل شوي وي احترازي مثال لکه **رضى**

دوهم سوال : **فانه مفعول به بواسطة اللام** . دې لره د **معنىً** نه حال جوړول صحيح نه دي ځکه چې حال هغه چا ته ويلې شي چې دفاعل هيئت بيانوي يادمفعول هيئت بيانوي او **معنىً** نه فاعل دي اونه مفعول .

جواب : شارح ددې جواب دا ورکړې دي چې دلام په واسطې سره دا مفعول جوړيږي دوضع

دپاره خلاصه داده چې مفعول به په دوه قسمه ده صريح او غير صريح

مفعول به صريح: هغه ته وايي چې په غير دواسطې دحرف جر نه وي لکه ضرب زيد عمراً په دې کې عمراً مفعول به صريح ده

مفعول به غير صريح: هغه ته وايي چې په واسطې د حرف سره وي نو دلته لمعنىً د لام جاره دوجې نه مفعول به غير صريح دي

دريم سوال: دې لره د وضع دضمير نه حال جوړول صحيح نه دي ځکه چې قانون دادې چې دحال اودعامل دذوالحال زمانه يوه وي او دلته زمانه يوه نه ده ځکه چې د ذوالحال عامل وضع دي او هغه مقدم وي د افرادو نه

جواب: شارح چې ددې کوم جواب ورکړې دي په هغې باندې د خان پوهه کيدلو نه مخکې يوه تمهيدي خبره باندې خان پوهه کړي چې د تمهيد خلاصه داده چې دتقدم شپږ(٦) صورتونه دي

اول: **تقدم ذاتي**: چې متقدم د متأخر دپاره محتاج اليه اوعلت وي لکه حركة اليد د حركة المفتاح دپاره

دوهم: **تقدم طبعي**: چې متقدم د متأخر دپاره محتاج اليه خو وي مګر علت نه وي لکه تقدم الواحد على الاثنين.

دريم: **تقدم رتبي**: چې متقدم د متأخر نه صرف رتبتاً مقدم وي اګر که زماناً مؤخر وي لکه تقدم رتبتاً دنبي کريم صلى الله عليه وسلم په نورو انبياء کرامو عليهم السلام باندې

څلورم: **تقدم زماني**: چې په اعتبار دزمانې سره مقدم وي لکه تقدم د حضرت آدم عليه السلام په نورو انبياء کرامو عليهم السلام باندې.

پنځم: **تقدم مکاني**: چې تقدم په اعتبار د ځای اود مکان سره وي لکه تقدم د امام په مقتديانو باندې.

شپږم: **تقدم ذکري**: چې په اعتبار د ذکر سره مقدم وي لکه تسميې لره په تحيمد باندې تقدم ذکري حاصل دي يا تحميد لره په باقي مضمونونو باندې تقدم ذکري حاصل دي.

وس ددې تمهيد نه پس دجواب خلاصه داشوه چې تقدم دوضع په افرادو باندې دا تقدم ذاتي ي او تقدم ذاتي د حاليت منافي نه دي بلکه دحاليت منافي هغه تقدم زماني دي او په وضع په افرادو کې تقدم او تأخر زماني نه دي بلکه اقتران زماني دي چې کومه زمانه د وضع وي

بعينه هغه دلفظ هم ده مفرد اومركب كيدو زمانه وي په مينځ كې يې څه فصل نه وي . نو خلاصه دا شوه چې وضع اګر چې په اعتبار دافرادو اوتركيب سره مقدم ذاتي دي خو په اعتبار د زماني سره هغه ددې سره مقارن وي اومقارنت زماني هم دحاليت دصحيح كيدو دپاره كافي وي اودتقدم ذاتي سره اقتران زماني جمع كيدل ممكن وي لكه تقدم د **حركة اليد** په **حركة المفتاح** باندې داتقدم ذاتي دي نو په دواړو كې اقتران زماني موجود دي

وقيد الافراد لاخراج المركبات مطلقاً: غرض دشارح په دې عبارت سره دوه خبرې بيانول دي : اوله خبره دا چې لفظ دمفرد په تعريف دكلمې كې دريم فصل دي او دلفظ مفرد ويلو سره ماتن د كلمې دتعريف نه مركبات خارج كړل برابره خبره ده كه دا مركبات كلاميه وي اوكه غير كلاميه د مركبات كلاميه مثال لكه **زيد قائم** . او د مركبت غير كلاميه مثال لكه **غلام زيد**

دوهمه خبره دا چې په ماتن باندې يو سوال واردېږي

سوال: تا چې دكلمې كوم تعريف وكړو نو دا جامع نه شو افرادو خپلو لره اومانع هم نه دي د دخول دغير نه . جامع خو ځكه نه دي چې **الرجل** او**قائمة** او **بصري** دكلمې افراد دي دكلام افراد نه دي ددې وجې نه ددې اعراب يو دي كه چيرته دكلام افراد هم وي نو بيا به يې اعراب يو نه وي بلكه دوه به وي نو دكلمې افراد دي نو چې كله تا دمفرد قيد ولړولو نو دادكلمې دتعريف نه خارج شو ځكه چې دامفرد نه دي ځكه چې ددې جز دلفظ دلالت كوي په جزء دمعنى باندې لكه په الرجل كې الف لام په تعيين باندې او رجل په رجليت باندې ، اوپه **قائمة** كې **قائم** دلالت كوي په **ذات من له القيام** باندې او **تاء** ددې ذات په مؤنث كيدو باندې دلالت كوي ، همدارنګې په **بصري** كې دبصره لفظ دلالت كوي په ښار دبصري باندې اوياپه **منسوب الى البصرة** باندې دلالت كوي نو خلاصه يې دا شوه چې داعراب ديو كيدو په وجه باندې دا كلمه وه خو چې تا ورسره كله دمفرد قيد ولړولو نو تا دې لره دكلمې تعريف نه وويستله نو تعريف د كلمې جامع نه شو خپلو افرادو لره اومانع هم نه شو ځكه چې كلمه نه ده ځكه چې ددې اعرابه دوه دي كه چيرته كلمه وي نو اعراب به يې وي مګر دمفرد دقيد دوجې نه دا دكلمې په تعريف كې داخليدو ځكه چې په حالت دعلميت كې ددې جز دلفظ دلالت نه كوي په جزء د معنى باندې نو پته ولړيده چې هغه مفرد دي نو د **مفرد** په قيد سره هغه دكلمې په تعريف كې داخل شو نو تعريف دكلمې ... هم نه شو دخول د غير نه

جواب: علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ ددې جواب وركړې دي او وايي چې تعريف دكلمې جامع هم

دي اومانع هم دي اود الرجل اوقائمة اوبصري خارجول ښه خبره ده ځکه چې دا مرکب دي او پاتې شوه دا خبره چې ددوي اعراب يو دي هغه ددې وجې نه . نه دي چې دا يوه کلمه ده بلکې دا دوه کلمې دي نو د شدت اتصال دوجې نه يې دې لره په منزله ديوې کلمې وګرځولو اودې لره يې يو اعراب ورکړو

اوهمدارنګې عبدالله مفرد دي اودکلمې يو فرد دي نو ددې داخلولو ښه خبره ده او پاتې شوه داخبره چې دې لره يې دوه اعرابه ورکړي دي نو دا يې ورله دوضع سابقه دوجې نه ورکړل اوهغه دکلمې يو فرد جوړ شو اويه کلمه کې داخليدو نو هغه دوضع ثاني دوجې نه دعلميت په اعتبار سره دي بهر حال تاسو ته غلط فهمي شوې وه نو دکلمې تعريف جامع هم دي اومانع هم دي

ولا يخفى على الفطن العارف بالغرض الخ · په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي . خو د سوال نه مخکې يوه خبره په ذهن کې کينوئ هغه خبره دا چې ابن الحاجب او علامه زمخشري رَحِمَهُ‌اللَّهُ په دې خبره باندې اتفاق کړي دي چې دکلمې کيدو دپاره وحدت دمعنى ضروري دي خو په دې خبره کې اختلاف دي چې دکلمې کيدو دپاره وحدت دلفظ هم ضروري دي او که نه ؟ نو دعلامه زمخشري رَحِمَهُ‌اللَّهُ په نزد د وحدت معنوي سره سره وحدت لفظي هم ضروري دي ځکه چې ده تاء دوحدت ذکر کړه اوي ويل هي اللفظة الدالة . اود ابن حاجب رَحِمَهُ‌اللَّهُ په نزد باندې دوحدت دمعنى سره وحدت دلفظ ضروري نه يد نو ددې وجې نه ده لفظ وويلو اوتاء دوحدت يې ذکر نه کړه او وحدت چې ددواړو په نزد ضروري دي نو ددې وجې نه دواړو الرجل قائمة اوبصري لره دکلمې د تعريف نه خارج کړو ځکه چې په دې کې وحدت دمعنى نشته دي . البته د عبدالله په حالت دعلميت کې داخلول او ويستلو کې ددواړو اختلاف دي . د علامه زمخشري رَحِمَهُ‌اللَّهُ په نزد وحدت دلفظ ضروري دي نو هغه عبدالله لره دکلمې دتعريف نه خارج کړو ځکه چې ددې الفاظ دوه دي اود ابن حاجب په نزد وحدت دلفظ ضروري نه دي نو هغه عبدالله لره داخل پريخودو ځکه چې په دې کې وحدت دمعنى موندل کيږي اودکلمې کيدولو دپاره وحدت دمعنى هم کافي دي دا پوره تفصيل په ذهن کې د کينولو نه پس اوس دعلامه جامي رَحِمَهُ‌اللَّهُ سوال ته غوږ شئ

سوال : نحويان بحث کوي دالفاظو نه او غرض د تدوين دعلم النحو هم همدا دي نو ددې غرض تقاضا داوه چې الرجل سره دخپلو ملګرو نه ده کلمې په تعريف کې به دې داخل کړي وي ځکه چې دا ده الفاظو په اعتبار سره کلمه ده او عبدالله دکلمې دتعريف نه وخي ځکه چې هغه

د الفاظو په اعتبار سره کلمه نه ده نو دابن حاجب په تعريف کې دوه نقصانات راغلل

اول: دا چې الرجل يې سره دخپلو ملګرو خارج کړو ليکن ده لره داخلول په کار وو

دوهم: دا چې عبدالله لره يې داخل کړو حال دا دې چې هغه لره خارجول په کار وو نو چالره چې داخلول په کار وو هغه يې خارج کړو او چالره چې ويستل په کار وو هغه يې داخل کړو.

اود علامه زمحشري رَحِمَهُ اللهُ تعريف کې يو نقصان راځي او هغه يو نقصان دا چې په الرجل يې سره دملګرو دمفرد قيد ولړولو او دکلمې دتعريف نه يې خارج کړو حال دا دې چې ده لره داخلول په کار وو البته عبدالله لره خارجول يې ډير ښه کار وکړو ، نو په دې سره دشارح ذکر شوې عبارت په خپله حل کيږي ان شاء الله.

وَاعْلَمْ اَنَّ الْوَضْعَ يَسْتَلْزِمُ الدَّلَالَةَ لِاَنَّ الدَّلَالَةَ كَوْنُ الشَّيْءِ بِحَيْثُ يُفْهَمُ مِنْهُ شَيْءٌ آخَرُ
پوه شه چې وضع لازم ده دلالت لره ځکه چې دلالت ديو څيزدې په داسې شان سره چې فهميږي دهغې نه بل څيز
فَمَتٰى تَحَقَّقَ الْوَضْعُ تَحَقَّقَتِ الدَّلَالَةُ فَبَعْدَ ذِكْرِ الْوَضْعِ لَا حَاجَةَ اِلٰى ذِكْرِ الدَّلَالَةِ
څيز پس کله چې تحقق دوضع راشي نوثابت شي دلالت نوروستو دذکر دوضع نه ضرورت نشته ذکر د دلالت
كَمَا وَقَعَ فِي هٰذَا الْكِتَابِ لٰكِنَّ الدَّلَالَةَ لَا تَسْتَلْزِمُ الْوَضْعَ لِاِمْكَانَيْنِ اَنْ
ته لکه څنګه چې واقع دي په دې کتاب کې ليکن دلالت نه لازموي وضع لره دوجې ددوه امکانونونه چې کيدې
تَكُوْنَ بِالْعَقْلِ كَدَلَالَةِ لَفْظِ دِيْزْ اَلْمَسْمُوْعُ مِنْ وَرَاءِ الْجِدَارِ عَلٰى وُجُوْدِ اللَّافِظِ وَ اَنْ
شي چې وي په عقل سره لکه دلالت دلفظ د ديز چې واوريدل شي وروستو دديوال نه په وجود دلافظ باندې اويا
تَكُوْنَ بِالطَّبْعِ كَدَلَالَةِ اُحْ اُحْ عَلٰى وَجْعِ الصَّدْرِ فَبَعْدَ ذِكْرِ الدَّلَالَةِ لَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ الْوَضْعِ
وي په طبع سره لکه دلالت دلفظ د اح اح په درد دسينې باندې نوروستو دذکرددلالت نه لابدي ده د ذکر دوضع
كَمَا فِي الْمُفَصَّلِ.
لکه په مفصل کې چې ذکردي.

اغراض دجامي: واعلم ان الوضع يستلزم الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي.

سوال: سوال چا دا کړې دې چې مونږ دتانه پوښتنه کوو چې دکلمې په تعريف کې د دلالت اعتبار شته دي اوکه نه که چيرته ته وايې چې ددلالت اعتبار په کې شته دي نو بيا دکافيه والا تعريف ناقص دي ځکه چې هغه په تعريف کې ددلالت ذکر کړې دې اوستا دقول مطابق دلالت دکلمې په تعريف کې معتبر نه دي.

جواب: علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ په اعلم ان الوضع يستلزم الدلالة سره ددې اعتراب جواب ورکړې دي چې خلاصه يې داده چې د دلالت کلمه په تعريف کې معتبر دي

باقي پاتې شو دا سوال چې کافيې والا د دلالت ذکر ولې نه دي کړي داسې د کلمې تعريف ناقص لازم راځي

ددې جواب دادې چې د کافيې والا په تعريف د کلمې کې د وضع ذکر کړي دي او دلالت ته مستلزم دي نو دوضع په ضمن کې دلالت والا ذکر هم راغې اوصاحب مفصل اول دلالت والا ذکر وکړو نو دلالت وضع ته مستلزم نه دي ددې وجې نه دې لره بعد کې وضع والا ذکر هم وشو

اوس په آخر کې داخبره چې وضع دلالت ته څنګه مستلزم دي اودلالت وضع ته څنګه مستلزم نه دي ددې تفصيل چې دلالت عام دي او وضع خاص دي ددې وجې نه چې دلالت خو وضع په صورت کې هم موندلې شي او د دلالت طبعي او دلالت عقلي په صورت کې هم موندلې شي او وضع صرف دلالت وضعي کې متحقق وي نو دلالت عام دې او وضع خاص ده .او قانون دادې چې خاص وجود عام وجود لره مستلزم کيږي مگر عام وجود خاص وجود ته نه مستلزم کيږي لکه د انسان وجود د حيوان وجود لره مستلزم دي ، مگر د حيوان وجود انسان وجود لره مستلزم نه دي ، ددې وجې نه چې ممکن دي چې هغه د غوا او چيلې په شکل کې وي.

د کلمې اقسام :

وَ هِيَ اَيْ اَلْكَلِمَةُ اِسْمٌ وَ فِعْلٌ وَ حَرْفٌ اَيْ مُنْقَسِمَةٌ إِلَى هٰذِهِ الْاَقْسَامِ الثَّلٰثَةِ مُنْحَصِرَة فِيْهَا لِاَنَّهَا
او دا يعني کلمه اسم .فعل اوحرف دي چې منقسم دي دې اقسام ثلاثوته چې منحصردي په دې کې ځکه چې
اَيْ اَلْكَلِمَةُ لَمَّا كَانَتْ مَوْضُوْعَةً لِمَعْنًى وَ الْوَضْعُ يَسْتَلْزِمُ الدَّلَالَةَ اِمَّا مِنْ صِفَتِهَا اَنْ تَدُلَّ
دايعني کلمه چې کله وضع وي دپاره دمعنى اووضع لازمونکې وه دلالت لره يادصفت دهغې نه دادې چې دلالت
عَلٰى مَعْنًى كَائِنٌ فِيْ نَفْسِهَا اَيْ فِيْ نَفْسِ الْكَلِمَةِ وَ الْمُرَادُ بِكَوْنِ الْمَعْنٰى فِيْ نَفْسِهَا
وکړي په هغه معنى چې کومه پرته ده په نفس ددې کلمې کې اومرادپه کيدلودمعنى په نفس دکلمې کې دادې
اَنْ تَدُلَّ عَلَيْهِ بِنَفْسِهَا مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ إِلَى اِنْضِمَامِ كَلِمَةٍ اُخْرٰى اِلَيْهَا لِاِسْتِقْلَالِهِ
چې دلالت وکړي په نفس کلمه باندې په غير د ضرورت د انضمام د بلې کلمې نه دې ته ځکه چې دامستقله ده په خپل
بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ اَوْ مِنْ صِفَتِهَا اَنْ لَا تَدُلَّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا بَلْ عَلٰى مَعْنًى
مفهوم کې ياد صفت د کلمې نه دا چې دلالت وکړي په معنى باندې په خپل نفس کې بلکې په داسې معنى چې
فِي الدَّلَالَةِ عَلَيْهِ إِلَى اِنْضِمَامِ كَلِمَةٍ اُخْرٰى اِلَيْهَا لِعَدَمِ اسْتِقْلَالِهِ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ وَ سَيَجِيءُ
دلالت وکړي په هغې سره دانضمام دکلمې آخري نه دي ته دوجې دعدم استقلال دمفهوم دهغې نه اوزردي چې رابه شي

تَحْقِيقُ ذٰلِكَ فِيْ بَيَانِ حَدِّالْاِسْمِ اِنْ شَاءَاللّٰهُ تَعَالٰی سُبْحَانَهٗ .

تحقیق د دي په بیان دتعریف داسم کې ان شاء الله تعالی

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب دکافیې د کلمې تقسیم کوي اقسامِ ثلاثـو ته چې هغه اسم ، فعل او حرف دي

اغراض د جامي : وهي: ماتن چې کله د کلمې دتعریف نه فارغ شو نو شروع یې وکړه په تقسیم دکلمې باندې ځکه چې تقسیم د تعریف تتمه وي نو وي ویل چې کلمه په دري (۳) قسمه ده اسم ،فعل ، حرف

ای الکلمة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي

سوال : سوال دا دې چې د ما ، هي ، ضمیر مرجع څوک جوړوي ، دکلمې الفاظ ، یا دکلمې مفهوم که چیرې دکلمې الفاظ جوړ کړي نو تقسيم الشئ الی نفسه والاخرابي لازم راځي ځکه چې دکلمې الفاظ خو اسم دي په دلیل ددخول دلام په دې باندې مخکې په تقسیم کې تا اسم ، فعل او حرف ذکر کړو نو لازم شو تقسیم دشئ الی نفسه او که چیرې ته د هي ضمیر مرجع دکلمې مفهوم جوړ کړي نو دضمیر اومرجع په مینځ کې مطابقت نه پاتې کیږي چې مفهوم مذکر دي او ضمیر یې مؤنث دي ، نو ددواړو په مینځ کې مطابقت نشته دي .

جواب : د هي دضمیر مرجع الکلمة ده په اعتبار دالفاظو سره اومقسم جوړیږي د مفهوم په اعتبار سره

ومنحصرة فیها: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي .

سوال : چې راتلونکي عبارت د ماتن لانها سره دلیل دحصر بیانوي اودلیل دحصر خو دعوی وي اودلته دعوی دحصر خو دسره نشته نو دلیل دڅه څیز ورکوي .

جواب : دمصنف عبارت اگرچې دعوی دحصر صراحتاً مذکور خو نه دي مگر ضمنا ذهن ته راځي همدارنگې چې کله یې دکلمې اقسام بیان کړي نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دري قسمه بیان کړل او خاموش شو . نو اوس که چیرې څلورم قسم وي نو ضرور به یې بیان کړې وي چې کله یې بیان نه کړو نو ذهن کې راغې چې دکلمې اقسام په دري اقسامو کې منحصر دي ځکه چې قاعده ده چې السکوت في مقام البیان بیان ، نو دعوی دحصر ضمنا ذکر ده

لانها: په دې عبارت سره شارح دلیل دحصر بیانوي په اقسامِ ثلاثه کې ، نفسِ مسئله خو

بالکل واضحه ده چې يا به کلمه په خپلې معنی باندې په خپله دلالت کوي او يا نه . که دلالت نه کوي نو حرف که چيرې دلالت کوي نو بيا به خالي نه وي يا به په دريو زمانو کې ديوې زمانې سره مقترن وي يا به نه وي ، که نه وي نو اسم . او که چيرې مقترن وي نو فعل.

اى الكلمة : په دې عبارت سره شارح په **لانها** کې د ها دضمير مرجع يې متعينه کړه .

لماكانت موضوعةً الخ : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي

سوال : ته چې دلته کوم دليل پيش کوي دهغه دليل او دعوی مينځ کې مطابقت نشته ځکه چې په دليل دلالت او عدم دلالت ذکر دي او په دعوی کې د دليل بالکل ذکر نشته

جواب : علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ په **اى الكلمة منقسمة الى هذه الاقسام الثلاثة** سره د دې سوال جواب ورکړې دي ، چې خلاصه دجواب داده چې کله انواع حمل وي په جنس باندې نو مراد هغه حمل نه وي کوم چې عبارت دي د **صدق الخبر على جميع افراد المبتدأ** ، بلکه مقصود د متکلم **تقسيم الجنس الى الانواع** وي لکه څنګه چې متکلم دا عبارت ووايي چې **الحيوان انسان ، وفرس وبقر وغنم** نو مقصود تقسيم د حيوان دي انسان ، فرس ، بقر او غنم ته نو همدارنګې دلته هم چې کله ماتن وويل چې **الكلمة اسم وفعل وحرف** نو د ماتن مقصود هم تقسيم دکلمې دي اسم اوفعل اوحرف ته

دلته دري سوالات راځي

اول سوال : **هي** ضمير مبتدا ده او اسم يې خبر دي نو دلته د مبتدا اوخبر په مينځ کې مطابقت نشته دي ځکه چې مبتدا مؤنث ده اوخبر مذکر دي اګر چې دلته د مطابقت دضروري کيدو دپاره شرطونه خو نه شي موندل کيږي چې مبتدا اسم ظاهر نه ده بلکه اسم ضمير ده او خبر مشتق هم نه دي مګر بيا هم مطابقت مستحسن خو وو .

دوهم سوال : قانون دادې چې ضمير کله دائر وي په مينځ دخبر اومرجع کې نو رعايت دخبر اولی وي نه دمرجع نو تاد خبر رعايت وکړو ضمير دمذکر دې رانه وړو بلکه د مرجع رعايت يې وکړو چې ضمير د مؤنث يې راوړې دي .

دريم سوال : قاعده داده چې : **الجمع بحرف الجمع كالجمع بلفظ الجمع** ، يعني **مسلمون** لفظ جمع کې دري مسلمانان جمع دي همدارنګې که چيرې واو حرف جمع سره دا ووېلې چې **مسلمٌ و مسلم ومسلم** نو دې کې هم دري مسلمانان جمع ششول ، نو سوال دادې چې **هي** ضمير چې

مرجع يې الكلمة ده دا مبتدا جوړيږي . اسم او فعل اوحرف يې خبر جوړيږي اوددې په مينځ کې حرف عطف واو راوړې شوې دي چې هغه دجمعيت په معنی باندې دلالت کوي نو ددې درې واړو مجموعه سره يوځاى كړي نو خبر جوړيږي او حمل به شي الكلمة په مبتدا باندې اومعنی به يې دا جوړه شي چې كلمه د اسم ، فعل اوحرف دمجموعې نوم دي حالانكه داخبره بداهةً باطله ده بلكه كلمه خو يواځې د اسم او يواځې د فعل او يواځې د حرف نوم دي ددې درې واړو نه هر يو كلمه ده

جواب : علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ ددې درې واړو سوالونو ته دجواب وركولو دپاره دا عبارت ذكر كړي دي چې اي منقسمة الى هذه الاقسام الثلاثة ، نو خلاصه دجواب داده چې ته په غلط فهمي كې واقع شوې يې تا خبر اسم اوفعل اوحرف په ذهن كې كينولي دي ، اسم وغيره خبر نه دي بلكه خبر دلته مقدر دي منقسمة او قرينه په مقدر كيدلو باندې مقام دتقسيم دي چې كله منقسمة خبر جوړ شو نو مبتدا اوخبر كې هم مطابقت پيدا شو.

اوس دريم سوال پاتې شو ددې جواب كولو نه مخكې دوه خبرې په ذهن كې يادې ساتئ :

اوله خبره : چې كله يو مبتدا دپاره متعدد خبرونه ذكر كړې شي په واسطه دحرف عطف نو هلته يو ربط او يو عطف كيږي د ربط مطلب دادې چې دا خبر دمبتدا دپاره ثابتيږي او د عطف مطلب دادې چې چې دويم خبر اودريم خبر په اول خبر باندې د معطوف كيدولو په واسطه سره مبتدا لره ثابتيږي د متعدد خبرونو په صورت كې كله عطف مقدم كيږي اوكله ربط مقدم كيږي په دواړو صورتونو كې په معنی كې فرق راځي . مثلاً الكلمة اسم وفعل وحرف ، كه چيرې عطف مقدم وي نو معنی يې داجوړيږي چې كلمه اسم اوفعل اوحرف دي اوكه ربط مقدم وي نو معنی يې دا جوړيږي چې كلمه اسم دي اوفعل دي او حرف دي .

دوهمه خبره : تقسيم په دوه قسمه دي يو تقسيم كل طرف ته د اجزاو كيږي او يو تقسيم كلي طرف ته دخپلو جزئياتو كيږي نو قانون دادې چې كه چيرته تقسيم كل طرف ته اجزاء وي نو هلته به عطف مقدم وي نه ربط مثال لكه مكان كل دي هغه اجزاء ديوالونه ، كهړكي او دروازه او چهت وغيره دي نو دلته عطف مقدم وي ربط نه اوهمدارنګې به وايو مكان ديوالونه كهړكي او دوازه اوچت دي همدارنګې به نه شي ويلې چې مكان ديوالونه او كهړكي دي يا لكه دمثال په طور باندې چاى كل دي اوبه ، چيني اوپتي دا يې اجزاء دي نو همدارنګې به ويلې شي : چاى ، پئ اوبه او چيني او پتي دي همدارنګې نه ويلې چې چاى پئ دي .

او که چيرته تقسيم کلي طرف ته د خپلو جزئياتو وي نو هلته به ريند مقدم وي عطف نه لکه انسان کلي دي زيد عمر بکر دده جزئيات دي نو همدارنګې ويلې شي چې انسان زيد دي او عمر دي اوبکر دي همدارنګې داسې نه شي ويلې چې انسان زيد عمر اوبکر دي.

فهي امامن صفتها الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي.

سوال: سائل سوال کوي چې په لانها کې ها ضمير چې هغه راجع دي صرف کلمه ته هغه د ان اسم جوړيږي او کلمه ذات دي او ان تدل دمصدر په تاويل کې شوي د ان دپاره خبر جوړيږي او خبر د ان په اسم د ان باندې محمول کيږي اودلته حمل صحيح نه دي ځکه چې اسم خو ذات دي اوخبر مصدر په تاويل کې وصف شول او د وصف حمل په ذات باندې صحيح نه دي.

جواب: چې ان تدل په تاويل دمصدر سره دي او مصدر په معنی داسم فاعل سره وي په معنی د دال سره اوحمل داسم فاعل په ذات باندې صحيح دي خو دا جواب کمزوري دي ځکه چې په دې جواب کې مجاز في المجاز لازم راځي ځکه چې ددې مضارع لره په تاويل دمصدر سره کول هم مجاز دي اوبيا مصدر لره په معنی داسم فاعل کول هم مجاز دي.

کائن في نفسها: د کائن عبارت يې ذکر کړو نو د علامه رضي ترديد کوي علامه رضي لنفسها ظرف لغو ومنو د ان تدل متعلق يې جوړ کړې وو بيا په دې باندې يو سوال وارديږي:

سوال: سوال دادې چې د دلالت صله في نه راځي بلکه باء يا علی راځي.

جواب: ددې جواب علامه رضي دا ورکړې دي چې دلته في په معنی د باء سره ده.

علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ دعلامه رضي ترديد کوي چې في په معنی د باء سره کول دا مجازدي او په تعريف کې په غير دضرورت نه ارتکاب دمجاز صحيح نه دي ځکه چې مقصود دتعريف نه وضاحت وي اوپه مجاز سره ابهام پيدا کيږي چې په مقصود کې خلل پيدا کوي نو علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ د کائن لفظ راوړو اشاره يې وکړه چې في نفسها ظرف مستقر دي اود معنی دپاره صفت دي.

والمراد بکون المعنی الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي:

سوال: په في نفسها کې ضمير چا ته راجع دي کلمې ته، که معنی، که کلمې ته راجع کوي نو هم صحيح نه دي ځکه چې ظرفية دکلمې راځي دپاره دمعنی يعنې ظرفية الدال للمدلول لازم راځي اودا باطل دي، اوظرف به يا زمان وي اويا به مکان اوکلمه نه زمان ده اونه مکان، اوکه

مرجع معنی جوړوي نو د ضمير او د مرجع په مينځ کې مطابقت هم پاتې نه شو ځکه ضمير مؤنث دي او مرجع مذکر ده او بله دا چې **ظرفية الشئ لنفسه** لازم راځي

جواب: علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ د دې جواب ورکړې دي چې د **ها** ضمير مرجع کلمه ده پاتې شوه دا خبره چې کلمه نه ظرف زمان دي او نه مکان نو د دې جواب دا دې چې دلته **في** د ظرفيت په معنی باندې نه ده بلکه **في** په معنی د باء سره ده او معنی يې داده چې دا کلمه په خپله معنی باندې په خپله دلالت کوي يعنې د خپل ذات په اعتبار سره دلالت کوي او د ضم د ضميمې محتاج به نه وي په وجه د **مستقل بالمفهومية** سره

تعريف د حرف:

اَلْقِسْمُ الثَّانِيْ وَ هُوَ مَا لَا يَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا اَلْحَرْفِ كَمِنْ وَ اِلٰى فَاِنَّهُمَا
دوهم قسم دا هغه دي چې دلالت نه کوي په خپله معنی په نفس د هغې کې لکه حرف د مِن او الی ځکه چې دا
يَحْتَاجَانِ فِي الدَّلَالَةِ عَلٰى مَعْنَيَيْهِمَا اَعْنِي الْاِبْتِدَاء وَ الْاِنْتِهَاء اِلٰى كَلِمَةٍ اُخْرٰى كَالْبَصْرَةِ وَ الْكُوْفَةِ
دواړه محتاج دي په دلالت کې په خپلو معنی گانو باندې يعنې ابتداء او انتهاء بلې کلمې ته لکه بصره او کوفه
فِيْ قَوْلِكَ سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ اِلَى الْكُوْفَةِ وَ اِنَّمَا سُمِّيَ هٰذَا الْقِسْمُ حَرْفاً لِاَنَّ الْحَرْفَ فِي اللُّغَةِ اَلطَّرَفُ
په دې قول ستا کې سرت من البصرة الى الكوفة او مسمى کړې شو دا قسم په حرف سره ځکه حرف په لغت کې طرف
وَ هُوَ فِيْ طَرَفٍ اَىْ جَانِبٍ مُقَابِلٍ لِلْاِسْمِ وَ الْفِعْلُ حَيْثُ يَقَعَانِ
ته ويلې شي او دا هم په طرف کې دي يعنې په جانب مقابل د اسم او فعل کې په داسې شان چې واقع دي اسم او
عُمْدَةٌ فِي الْكَلَامِ وَ هُوَ لَا يَقَعُ عُمْدَةٌ فِيْهِ كَمَا سَتَعْرِفُ.
فعل عمده په کلام کې او دا نه واقع کيږي عمده په کلام کې ،زر ده چې ته به پوه شې

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب د کافيې د حرف تعريف بيانوي

اغراض د جامي: القسم الثاني: دلته شارح د الثاني نه مخکې القسم مقدر راوويستو نو په دې سره د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: الثاني صفت دي چې د دې د پاره موصوف لازمي وي او د دې موصوف کلمه ده او هغه مؤنث ده او الثاني مذکر دي نو د موصوف او صفت په مينځ کې مطابقت رانغلو

جواب: شارح رَحِمَهُ اللهُ دلته **القسم** لفظ مقدر راوويستو نو دې خبرې طرف ته يې اشاره وکړه چې د دې موصوف **الكلمة** نه ده بلکه **القسم** دي او **القسم** مذکر دي . نو سوال دفع شو

وهو مايدل على نفسه الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي

سوال: د ماتن عبارت الثاني الحرف په دې کې الثاني مبتدا ده او الحرف د دې خبر دي او خبر په مبتدا باندې محمول وي او دلته حمل صحيح نه دي ځکه چې که حمل شي نو بيا يې معنی دا جوړيږي چې الثاني حرف دي حال دا دې چې الثاني حرف نه دي بلکه اسم دي ځکه چې په الثاني باندې د اسم د خواصو نه الف لام داخل دي

جواب: شارح د دې جواب دا ورکړې دي چې د ثاني نه مراد لفظ ثاني نه دي بلکه د ثاني مصداق دي او هغه مالا يدل على معنىً في نفسها دي او په دې مفهوم باندې د حرف حمل صحيح نه دي

كمن و الى: په دې عبارت سره شارح د حرف مثالونه بيانوي ، چې د من او الى معنى ابتداء او انتهاء ده او دا حروف په معنى باندې د دلالت کولو کې غير ته محتاج دي .

وانما سمي هذا القسم حرفاً: په دې عبارت سره شارح وجه تسميه د حرف بيانوي چې حرف ته حرف ځکه وايي چې حرف په لغت کې طرف ته وايي لکه عرب وايي جلست حرف الوادي اى طرف الوادي . او حرف هم د کلام په يو طرف کې وي د دې وجې نه دې ته حرف وايي .

اى جانب مقابل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال: په زيد في الدار کې حرف په مينځ کې واقع شوې دي په طرف باندې نه دې واقع شوې .

جواب: د طرف نه مراد د کلام طرف نه دي بلکه مراد د طرف نه دا دې چې حرف د اسم او فعل جانب مقابل جوړيږي په دې اعتبار سره چې هغه دواړه په کلام کې عمده واقع وي او د کلام رکن جوړيږي او دا بالکل د دې په جانب مقابل کې وي چې په کلام کې عمده او رکن نه جوړيږي

تعريف د فعل:

وَ الْقِسْمُ الْاَوَّلُ وَ هُوَ مَا يَدُلُّ عَلٰى مَعْنىً فِيْ نَفْسِهَا اِمَّا مِنْ صِفَتِهَا اَنْ يَقْتَرِنَ ذٰلِكَ الْمَعْنٰى
او قسم اول هغه دي چې دلالت کوي په معنى په خپل نفس د هغې يا د صفت د دې نه چې پيوسته به وي دا معنى
الْمَدْلُوْلُ عَلَيْهِ بِنَفْسِهَا فِي الْفَهْمِ عَنْهَا بِاَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ اَعْنِى الْمَاضِيْ وَ الْحَالَ وَ الْاِسْتِقْبَالَ اَىْ
مدلول عليه په نفس د هغې کې په فهم کې د دې نه په يو د زمانو ثلاثو سره چې ماضي، حال او استقبال دي يعني
حِيْنَ يُفْهَمُ ذٰلِكَ الْمَعْنٰى عَنْهَا يُفْهَمُ اَحَدُ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ اَيْضاً مُقَارِناً لَهُ اَوْ مِنْ [illegible]
په داسې شان چې فهم د دې معنى نه معلوميږي فهم دا زمنو ثلاثو هم د ارنګې چې پيوسته وي هغې لره او يا د [illegible]

اَنْ لَّا يَقْتَرِنَ ذٰلِكَ الْمَعْنٰى فِي الْفَهْمِ عَنْهَا مَعَ اَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ.
دهغې نه داخبره ده چې پیوست نه وي دامعنی په فهم کې ددې نه سره دیو دازمنوثلاثونه

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافیې د فعل تعریف بیانوي ،

اغراض دجامي: <u>یقترن ذلک المعنی</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي

سوال: د یقترن ضمیر چنا ته راجع دي د الاول الفاظو ته راجع دي اوکه د الاول معنی ته راجع دي او هر یو ته یې چې راجع کوي نو صحیح نه دي ځکه چې که چیرته د الاول الفاظو ته یې راجع کوي نو لازمیږي چې د الاول الفاظ دزماني سره مقترن دي ، حال دادې چې یو خودزماني سره اقتران دالفاظو نه وي بلکه دمعاني وي ، دوهم داچې الاول اسم دي نو لازمیږي داسم د زماني سره مقترن کیدل حال دادې چې اقتران دزماني سره خودفعل کار دي داسم نه دي اوکه چیرته ته دیقترن دضمیر مرجع دالاول معنی لره جوړه کړي نو دوه نقصانات لازمیږي .

اول: اضمار قبل الذکر لازم راځي ځکه چې دمعنی په ماقبل کې ذکر نشته دي .

دوهم: اقتران دزماني دزماني سره راځي ځکه چې د الاول نه مراد فعل دي او دفعل معنی د درې ځیزونو دمجموعې نوم دي او چې کله ضمیر راجع شي دمعنی طرف ته نو دفعل معنی به مقترنه شي دزماني سره اودفعل معنی دا درې ځیزونه دي درې زمانو سره مقترن کیدل نو ددې په ضمن کې زمانه هم د زماني سره مقترنه شوه نو لازم شو اقتران دزماني دزماني سره اوداباطل دي .

جواب: علامه جامي رحمه الله په دې ذکر شوي عبارت کې ددې سوال جواب ورکوي چې مونږ داقتران ضمیر د الاول الفاظو ته نه راجع کوو بلکې معنی ته یې راجع کوو .

اوپاتې شو ستا دا سوال چې اضمار قبل الذکر لازم راځي نو ددې جواب دادې چې دمعنی ذکر اګر چې په ماقبل کې صراحتاً ذکر نه دي خو ضمناً ذکر دي ځکه چې د الاول نه مراد کلمه د اوکلمه دال وي او معنی ددې مدلول جوړیږي اودال په ضمن کې مدلول هم موجود وي

دوهم نقصان چې اقتران الزمان بالزمان لازم راځي نو ددې جواب دادې چې دفعل دوه معنی دي مطابقي اوتضمني معنی مطابقي خو ددرې ځیزنو دمجموعې نوم دي معنی تضمني ددې درې ځیزنو کې د هر یو نوم دي او زمونږ مقصد دلته دفعل دتضمن معنی مراد ده معنی مصدري

او باقي نور شيان مراد نه دي

في الفهم عنها: په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالاتو جوابات ورکول دي

اول سوال: ستا چې کوم تعريف د فعل دوجې دحصر نه معلومېږي هغه مانع نه دي ددخول د غير نه ځکه چې دا تعريف په مصادرو باندې رښتوني راځي مثلاً ضربا دا په خپله معنی مصدري باندې دلالت کوي او دا معنی د زمانې سره مقترنه وي ځکه چې وهل خو يا په زمانه ماضي کې موندلې شي او يا په حال او يا په استقبال کې

جواب: د في الفهم لفظ يې راوړو شارح جواب ورکړو چې د اقتران بالزمان دوه حيثيته دي اولنې حيثيت د اقتران بالزمان من حيث الوجود والتحقق دي ځکه چې هغه په زمانه کې موندلې شي او موجودېږي ځکه چې هغه دزمانې سره مقترن دي . او دوهم حيثيت من حيث الفهم د زمانې سره اقتران وي چې کله د فعل تلفظ وکړې شي نو ددې دلالت په معنی مصدري باندې کېږي ددې حيثيت نه چې ددې د الفاظو نه زمانه په ذهن کې راشي نو دلته د اقتران بالزمان نه مراد باعتبار الفهم دي نه په اعتبار دوجود او تحقق سره او د مصادرو چې کوم اقتران دزمانې سره وي نو هغه په اعتباد دوجود او تحقق سره وي .

دوهم سوال: مونږ تاته يو داسې اسم چې دهغې به دزمانې سره اقتران بالفهم وي لکه زيد ضارب عمر غدا . زيد وهونکي دي عمر لره سبا نو بيا هم ستا د فعل تعريف مانع نه شو د دخول د غير نه

جواب: په منها سره شارح جواب ورکړو چې هغه زمانه ددې فعل د الفاظو نه په ذهن کې راځي او تا چې کوم مثال ورکړو نو په دې کې زمانه ده ، د دوهم لفظ غداً نه په ذهن کې راځي.

اعني الماضي والحال والاستقبال: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال: ستا تعريف ددخول د غير نه مانع نه شو ځکه چې صبوح د سهر شراب او غبوق د ماخام شراب ته ويلې کېږي نو دا اسم دي خو زمانه ددې دخپلو الفاظو نه په ذهن کې راځي نو د فعل په تعريف کې دا داخل شو .

جواب: شارح جواب ورکړو چې دزمانې نه مراد مطلق زمانه نه ده بلکه په درې زمانو کې يوې زمانې سره اقتران دي د صبوح او غبوق چې کومه دسحر او ماخام والا زمانه په ذهن کې راځي هغه مطلق زمانه ده ماخام او سهر که دماضي وي او که دحال وي او که د استقبال

تعريف د اسم

اَلْقِسْمُ الثَّانِيْ وَ هُوَ مَا يَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا غَيْرَ مُقْتَرِنٍ بِأَحَدِ

قسم ثاني هغه دي چې دلالت کوي په خپله معنى باندې چې پيوسته نه وي تريو د ازمنو ثلاثو يوري اسم دا مأخوذ

الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ اَلْاِسْمُ وَ هُوَ مَأْخُوْذٌ مِنَ السُّمُوِّ وَهُوَ الْعُلُوُّ لِاِسْتِعْلَائِهٖ عَلٰى اَخَوَيْهِ حَيْثُ يَتَرَكَّبُ مِنْهُ

دی سمونه په معنى دا وچتوالي سره ځکه چې دا هم اوچت دي په خپلو اخوينو په داسې شان چې جوړيږي دې نه

وَحْدَهُ الْكَلَامُ دُوْنَ اَخَوَيْهِ وَ قِيْلَ مِنَ الْوَسْمِ وَ هُوَ الْعَلَامَةُ لِاَنَّهٗ عَلَامَةٌ

مستقل کلام نه د فعل او حرف نه او چا ويلي چې اسم مرکب دي د وسم نه په معنى د نښې سره ځکه چې دا نښه ده

عَلٰى مُسَمَّاهُ وَ الْقِسْمُ الْاَوَّلُ وَ هُوَ مَا يَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا مُقْتَرِنٍ بِأَحَدِ الْاَزْمِنَةِ

په خپل مسمى باندې او اول قسم دا هغه دي چې دلالت کوي په خپله معنى باندې چې مقترن وي يو د ازمنو

الثَّلٰثَةِ اَلْفِعْلُ سُمِّيَ بِهٖ لِتَضَمُّنِهِ الْفِعْلَ اللُّغَوِيَّ وَ هُوَ الْمَصْدَرُ.

ثلاثو يوري فعل دي مسمى شو په دې لفظ د وجې د تضمن د فعل لغوي لره چې هغه مصدر دي

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب د کافيې د اسم تعريف بيانوي.

اغراض د جامي: وهو مأخوذ من السمو: په دې عبارت سره شارح وجه تسميه د اسم بيانوي

په وجه تسميه د اسم کې د بصريانو او کوفيانو اختلاف دي بصرين وايي چې دا د سمو نه مأخوذ دي چې معنى يې ده اوچت والې او اسم هم په خپلو ملګرو فعل او حرف باندې اوچت دي په دې اعتبار سره چې صرف په اسم سره کلام په وجود کې راځي او حرف خو د کلام رکن هم نه شي جوړيدې او فعل هم د کلام په جوړيدو کې اسم ته محتاج دي.

د بصريانو دليل: په کلام د عربو کې او په قرآن مجيد او احاديث مبارکو کې د دې باب ټولې صيغې د ناقص واوي نه مستعمل شوې دي د مثال واوي نه، نه دي لکه سمى يسمى تسمية باب تفعيل د ناقص واوي نه راځي جمع تکسير اسماء راځي بيا د دعاء والا قانون سره ترې نه اسماء جوړ شو تصغير د دې سمي راځي چې په اصل کې سميو وو نو بيا د قويل په قانون سره ترې سمي جوړ شو.

نو خلاصه د کلام دا شو چې دا په اصل کې ناقص واوي وو، سمو واو موحذف کړو او د ميم سکون د سين طرف ته مو خلاف القياس منتقل کړو په شروع کې مو همزه وصلي ورسره ولګوله نو اسم ترې نه جوړ شو.

دليل د کوفيانو: کوفيان وايي چې دا مثال واوي دي او په اصل کې دا وسم وو او د وسم معنى

ده علامت 'اودا'هم په خپل مسمی باندې علامت جوړيږي او کوفين دبصرينو ددليل جواب ورکوي چې تاسو څومره مثالونه دناقص واوي پيش کوي په دغه ټولو کې قلب مکاني شوې ده مثلاً اسماء په اصل کې اوسام وو ، خو دکوفينو مذهب ددوه وجهو نه کمزوري دي څکه شارح دي لره په قيل سره ذکر کړو .

اولنۍ وجه دکمزورتيا يې داده چې په مسمی باندې علامت جوړيدل دا داسم خصوصيت نه دي بلکه حرف اوفعل هم په خپله مسمی باندې علامت جوړيږي اګرچې ددې جواب دکوفينو د طرف نه دا ورکړې شوې دي چې دوجهي دتسميې جامع کيدل اومانع کيدل ضروري نه دي خو بيا هم سوال وارد يږي خو چې دبصرينو وجه تسميه چې ددې په مقابله کې ده جامع اومانع ده په دې باندې څه سوال هم نه وارد يږي او وجه دتسميې لره جامع او مانع کيدل ضروري خو نه دي خو وجه دترجيح خو جوړيدې شي .

دوهم وجه دکمزوروتيا يې داده چې ستا دقول مطابق قلب مکاني کول په کار دي څکه چې قلب مکاني په يو نيمه صيغه کې کيږي دلته که چيرته ستا مذهب مراد واخستلې شي نو په ټول باب کې به قلب مکاني کول په کار وي ، ولا نظير له .

<u>**سمي به لتضمنه الفعل اللغوي**</u>: ددې ځای نه وجه تسميه دفعل بيانوي چې خلاصه يې داده چې فعل په لغت کې کردن يعنې کول اودا مصدر شو نو فعل مصدر شو اوجز شو ، او د فعل اصطلاحي معنی ددري څيزونو دمجموعې نوم دي هغه دري څيزونه زمانه ، **نسبت الی الفاعل** او معنی مصدري ده نو فعل لغوي مصدر جوړ شو دفعل اصطلاحي نو دا **تسمية الکل باسم الجزء** د قبيلې نه شو ، همدارنګې فعل لغوي مدلول شو دفعل اصطلاحي دپاره نو **تسمية الدال باسم المدلول** دقبيلې نه شو اوفعل لغوي فعل اصطلاحي لره متضمن شو نودا **تسمية المتضمن** (اسم فاعل) **باسم المتضمن** دقبيلې نه شو .

وَ قَدْ عُلِمَ بِذٰلِکَ اَیْ بِوَجْهِ حَصْرِ الْکَلِمَةِ فِي الْاَقْسَامِ الثَّلَاثَةِ حَدُّ کُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهَا اَیْ
په تحقيق سره معلوم شو په دې سره يعنې په وجې دحصر دکلمې په اقسام ثلاثو کې تعريف دهريو ددې نه يعنې
مِنْ تِلْکَ الْاَقْسَامِ وَ ذٰلِکَ لِاَنَّهُ قَدْ عُلِمَ بِهٖ اَیْ بِوَجْهِ الْحَصْرِ اَنَّ الْحَرْفَ کَلِمَةٌ لَا تَدُلُّ
ددې اقسامونه اوداڅکه چې معلوم شوبه دې سره يعنې په وجې دحصرچې حرف کلمه ده چې دلالت نه کوي په
عَلٰی مَعْنًی فِيْ نَفْسِهَا بَلْ تَحْتَاجُ اِلَی اِنْضِمَامِ کَلِمَةٍ اُخْرٰی وَالْفِعْلُ کَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰی مَعْنًی فِيْ نَفْسِهَا لٰکِنَّهٗ مُقْتَرِنٌ
خپله معنی بلکې محتاج وي انضمام دبلې کلمې ته اوفعل کلمه ده چې دلالت کوي په خپله معنی ليکن پيوسته

بِأَحَدِ الْأَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ وَالْاِسْمُ كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا غَيْرَ مُقْتَرِنٍ بِأَحَدِ الْأَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ
وي تړيو دازمنوثلاثو يوري او اسم كلمه ده چې دلالت كوي په خپله معنى او پيوست نه وي تر ازمنوثلاثو يوري پس
فَالْكَلِمَةُ مُشْتَرَكَةٌ بَيْنَ الْأَقْسَامِ الثَّلٰثَةِ وَ الْحَرْفُ مُمْتَازٌ عَنْ اَخَوَيْهِ لِعَدَمِ الْاِسْتِقْلَالِ فِي الدَّلَالَةِ وَ
كلمه مشتركه شوه په مابين ددري قسمونو كې حرف جدا دي دخپلو اخوينونه په عدم استقلال سره په دلالت كې او
الْفِعْلُ مُمْتَازٌ عَنِ الْحَرْفِ بِالْاِسْتِقْلَالِ وَعَنِ الْاِسْمِ بِالْاِقْتِرَانِ وَالْاِسْمُ مُمْتَازٌ عَنِ الْحَرْفِ بِالْاِسْتِقْلَالِ وَعَنِ الْفِعْلِ
فعل جدا دي دحرف نه په استقلال كې او داسم نه په اقتران كې اسم جدا دي دحرف نه په استقلال كې او دفعل نه
بِعَدَمِ الْاِقْتِرَانِ فَعُلِمَ لِكُلٍّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُعَرِّفٌ جَامِعٌ لِاَفْرَادِهٖ مَانِعٌ عَنْ دُخُوْلِ غَيْرِهَا فِيْهِ
په عدم اقتران كې پس معلوم شو دهريو دپاره تعريف چې جامع وي خپلو افرادولره او مانع وي ددخول دغيرنه په دې
وَ لَيْسَ الْمُرَادُ بِالْحَدِّ هٰهُنَا اِلَّا الْمُعَرِّفُ الْجَامِعُ وَ الْمَانِعُ وَ لِلّٰهِ دَرُّ الْمُصَنِّفِ حَيْثُ اَشَارَ
كې او نه دي مراد دلته مګر داسې تعريف چې جامع او مانع وي الله دې خير كثير وركړي مصنف ته چې اشاره يې
اِلٰى حُدُوْدِهَا فِيْ ضِمْنِ دَلِيْلِ الْحَصْرِ ثُمَّ نَبَّهَ عَلَيْهَا بِقَوْلِهٖ وَ قَدْ عُلِمَ بِذٰلِكَ
وكړه تعريف داسم، فعل او حرف ته په ضمن ددليل دحصر كې بيا تنبيه وكړه په دې باندې په دې قول وقد علم بذلك
ثُمَّ صَرَّحَ بِهَا بِنَاءً عَلٰى تَفَاوُتِ مَرَاتِبِ الطَّبَائِعِ.
سره بيا تصريح وكړه په هغې سره په لحاظ ساتلو دفرق دمختلفو طبيعتونو.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دكافيې د كلمې د ذكر شوو دريو تعريفونو نتيجه او خلاصه بيانوي.

اغراض دجامي: <u>وقد علم بذلك اى بوجه حصر الكلمة في الاقسام الثلاثة الخ</u>: په دې عبارت سره دانحصار سره داقسام ثلاثه نه د هر يو حد او جامع او مانع تعريف هم معلوم شوې دي ځكه چې جامع او مانع تعريف هغه دي چې په جنس او فصل باندې مشتمل وي په دې دليل دحصر كې د هر يو جنس او فصل مذكور وي د دري واړو په تعريف كې كلمه جنس ده او دحرف په تعريف كې عدم استقلال في الدلالة فصل دي چې دهغې نه اسم او فعل دواړه خارجيږي او دفعل په تعريف كې استقلال في الدلالة فصل اول دي چې حرف ترې نه خارج شو او اقتران بالزمان فصلِ ثاني دي چې دهغې نه اسم خارج شو او داسم په تعريف كې استقلال في الدلالة فصل اول دي چې دهغې نه حرف خارج شو او عدم اقتران بالزمان فصلِ ثاني دي چې دهغې نه فعل خارج شو.

دلته دوه سوالات راځي:

اول سوال : د کوم يو څيز ذکر چې کله په دوهم ځل وکړې شي نو دضمير په شکل کولې شي ماتن داسم اشاره په صورت کې دوباره وجه دحصر ولې ذکر کړه ده لره دا ويل په کار وو وقد علم به ، شارح هم تفصيل بيانوي .

جواب : دا وضع المظهر موضع المضمر دقبيلې نه يد اونکته په دې کې دخپل وجه حصر دکمال انکشاف طرف ته اشاره کول مقصود دي ځکه چې داسم اشاره مشار اليه محسوس مبصر وي نو دلته هم مصنف اسم اشاره راوړه دا دعوى کول غواړي چې زما بيان شوې وجه حصر دومره واضحه ده چې دې لره يې په منزله دمحسوس مبصر وګرځوله اوپه اسم اشاره سره يې دې طرف ته اشاره هم کولې شي .

دوهم سوال : دليل دحصر خو قريب وو اسم اشاره بعيده يې ولې استعماله کړه اشاره به يې قريبه ذکر کړې وي .

جواب : شارح ددې نه دوه جوابات کړي دي :

اول جواب : بُعد په دوه قسمه ده : بُعد رتبي اوبعد مکاني دلته داوجه دحصر دعظمت شان دوجې نه بُعد رتبي لره يې دبعدمکاني قائمقام وګرځولو اسم اشاره بعيده يې استعمال کړه لکه چې په قرآن کې ارشاد دي ذلک الکتاب لاريب فيه يا ذلکم الله ربکم .

دوهم جواب : وجه دحصر په اعتبار دانتهاء سره خو قريب وه خوپه اعتبار دابتداء سره بعيد وه نو دابتداء اعتبار يې وکړو اسم اشاره بعيده يې استعماله کړه

وليس المراد بالحد الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال : حد خو د يو څيز هغه وي چې د ذاتياتو نه مرکب وي اوددې وجه دحصر نه چې کوم تعريف معلوم شو هغه دعرضياتو نه مرکب دي ځکه چې په هر يو تعريف کې داقتران اوعدم اقتران اوددلالت ذکر دي اوداد کلمې احوال اوعوارض دي ذاتيات خو نه دي نو ماتن لره د اسم لفظ ويل په کار وو حد کل واحد ويل صحيح نه وو .

جواب : ماتن چې کوم لفظ ويلې دي چې کل واحد منها دادنحويانو داصطلاح موافق دي او نحويان دحد نه تعريف جامع او مانع مراد اخلي اوجامع اومانع تعريف هغه دي چې په جنس او فصل باندې مشتمل وي اوداقسام ثلاثه تعريفونه چې دوجه حصر نه معلوميږي هغه جنس او فصل باندې دمشتمل کيدو دوجې نه جامع هم دي اومانع هم دي په دې اعتبار سره دې ته حد

ویل صحیح دي اوتاچې کوم اعتراض وکړو هغه دمناطقه اصطلاح مراد اخستي اوکړي یې ده دمناطقو په نزد حد هغه ته وایي چې د ذاتیاتو نه مرکب وي.

ولله : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي

سوال : مقصد دماتن اختصار وو اوداختصار تقاضا دا وه چې داقسام ثلاثو یې صرف یو ځل تعریف کړې وي نو ده دري ځله تعریف وکړو اوارتکاب دتکرار یې وکړو چې داختصار منافي دي. اول ځل یې په ضمن دوجه دحصر کې تعریف وکړو ، اوپه دوهم ځل یې په **وقد علم بذلک** سره تنبیه وکړه د اقسام ثلاثه حدودو طرف ته په دریم ځل یې دټولو په صراحت سره تعریف وکړو لکه څنګه یې چې ویلي دي چې **الاسم ما دل الخ** .

جواب : په دې کې هیڅ تکرار نشه دي داخبره چې تاته عیب په نظر راځي دا خو خوبي ده مصنف ددریووارو ذهنونولحاظ وساتلو: (۱) دذکي دپاره یې په وجه دحصر کې دننه تعریف وکړو (۲) دمتوسط دپاره یې په **وقد علم بذلک** سره تنبیه وکړه (۳) اودغبي دپاره یې تصریح وکړه.

در المصنف : در په لغت کې پئیو (شودو) ته وایي اواهل عربو به اکثره ګزاره په پئیو کوله نو د پئیو دپاره خیر کثیر لازم دي ، نو ذکر یې دملزوم وکړو اومراد ترې نه لازم واخستو .

تعریف د کلام :

اَلْكَلَامُ فِي اللُّغَةِ مَا يَتَكَلَّمُ بِهِ قَلِيْلاً كَانَ اَوْ كَثِيْراً اَوْ فِيْ اِصْطِلَاحِ النُّحَاةِ مَا تَضَمَّنَ
کلام په لغت کې مایتکلم به ته ویل کیږي که لږوي اوکه ډیروي اوپه اصطلاح دنحویانو کې هغه دي چې متضمن
اَيْ لَفْظٌ تَضَمَّنَ كَلِمَتَيْنِ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً اَيْ يَكُوْنُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِيْ ضِمْنِهِ
وي یعني داسي لفظ چې متضمن وي دوو کلموته حقیقتاً یاحکماً یعني کیدل هریو ددي دواړونه په ضمن ددي
فَالْمُتَضَمِّنُ اِسْمُ فَاعِلٍ هُوَ الْمَجْمُوْعُ وَ الْمُتَضَمَّنُ اِسْمُ مَفْعُوْلٍ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ كَلِمَتَيْنِ فَلاَ
کلمي کې پس متضمن اسم فاعل دي چې هغه جمع کړې شوې دي اومتضمن اسم مفعول دي هریو ددوو کلمونه
يَلْزِمُ اِتِّحَادُهُمَا بِالْاِسْنَادِ اَيْ تَضَمُّنًا حَاصِلاً بِسَبَبِ اِسْنَادِ اِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ
پس نه لازمیږي یوځاي ددواړوپه اسنادسره یعني داسي متضمن چې حاصل وي په سبب داسنا دد یو ددوو کلمونه
اِلَى الْاُخْرىٰ وَ الْاِسْنَادُ نِسْبَةُ اِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً اِلَى الْاُخْرىٰ بِحَيْثُ تُفِيْدُ الْمُخَاطَبَ فَائِدَةً
بلې ته اواسنادنسبت دیو کلمي دي حقیقتاً اوحکماً بلې ته په داسي شان چې فائده ورکوي مخاطب ته فائده
تَامَّةً فَقَوْلُهُ مَا يَتَنَاوَلُ الْمُهْمَلَاتِ وَ الْمُفْرَدَاتِ وَ الْمُرَكَّبَاتِ الْكَلَامِيَّةِ وَ غَيْرِ الْكَلَامِيَّةِ.
پوره پس داوینادده چې ما داشاملیږي مهملاتو اومفرداتو اومرکباتو کلامیو اوغیر کلامیو ته

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د کلام تعريف او تفصيل بيانوي

اغراض د جامي : الكلام في اللغة ما يتكلم به قليلاً كان اوكثيراً : په دې عبارت سره شارح د کلام لغوي او اصطلاحي تعريف بيانوي : کلام په لغت کې : **ما يتكلم به قليلاً كان اوكثيرا**، او دنحويانو په اصطلاح کې : **ما تضمن كلمتين بالاسناد** ، يعنې کلام هغه لفظ ته وايي چې متضمن وي دوه کلمو لره په سبب د اسناد سره .

په دې تعريف کې د **مالفظ** جنس دي چې مهملات ، مفردات اومرکبات کلاميه اوغير کلاميه ټولو ته شامل شو ، او **تضمن كلمتين** اولنې فصل دي ددې په وجې سره **مهملات** اومفردات خارج شو ، او **بالاسناد** دا دوهم فصل دي په دې سره مرکبات غير کلامه خارج شو لکه اضافي توصيفي وغيره ځکه چې هغه داسې دوه کلمو لره متضمن وي چې په هغې کې اسناد نه وي .

دلته يو سوال راوارديږي :

سوال : کلمه اوکلام دا دواړه دنحويانو موضوع وه نو په دواړو کې مناسبت وو نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ له په کار وو چې د **الكلام** عطف يې کړې وي په **الكلمة** باندې نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ حرف عطف ولې رانه وړو؟.

جواب : شارح ددې نه دوه جوابات ورکړي دي :

اول جواب : کلاچيرته داسې يې کړې وي نو کلمه به متبوع وي اوکلام به تابع وي لکه څنګه چې معطوف عليه متبوع وي اومعطوف تابع وي نودا وهم به پيدا کيدو چې کلمه دعلم نحو په موضوع کيدو کې اصل ده اوکلام دعلم النحو په موضوع کيدو کې ددې تابع دي او حال دا دې چې په دې کې هر يو په موضوع کيدو کې اصل اومستقل بالذات دي يو دبل تابع نه دي .

دوهم جواب : داعبارت **فصل بعد فصلٍ** او **باب بعد بابٍ** دقبيلې نه دي اودواړو فصلونو په مينځ کې حرف عطف نه شي راوړې .

وفي اصطلاح النحاة : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال : ستا دکلام تعريف په قرآن باندې صادق نه راځي ځکه چې هغه متضمن کلمتين لره نه دي بلکه هغه متضمن دي سورتونو لره نو ستا دکلام تعريف جامع نه شو خپل ټولو افرادو لره .

جواب : قران دمعرف فرد نه دي که چيرته په ده باندې رښتيا نه راځي نو نه دي راځي ځکه چې په **الكلام** باندې الف لام دعهد دي اومراد ددې نه هغه کلام دي چې هغه ته دنحويانو په

اصطلاح کې کلام وايي

لفظ: په دې عبارت سره غرض د شارح ددوه سوالونو جوابات ورکول دي

اول سوال: د ما د لفظ نه ته څه مراد اخلې لفظ يا کلمه يا شئ کوم يو هم چې ترې نه اخلې صحيح نه دي که چيرته لفر ترې نه مراد اخلې نو ستا تعريف د زيد قائم په جواب کې واقع کيدونکې والې پاندې صادق راځي ځکه چې هغه چې هغه لفظ هم دي او کلمتين لره متضمن هم دي ځکه چې د نعم معنی ده ای زيد قائم اوکه چيرته کلمه ترې نه مراد واخلې نو الکلام به مبتدا شي او ما خبر ، او خبر په مبتدا باندې محمول وي اودلته حمل صحيح نه دي ځکه چې الکلام کُل دي اود ما نه مراد که ته کلمه اخلې او کلمه دکلام جزء دي اوحمل د کل په جزء باندې صحيح نه دي ځکه چې داسې نه شي ويلې چې الکلام کلمة بلکې داسې ويلې شي چې الکلام کلمتين

اوکه چيرته کلام ترې نه مراد واخلې نو اخذ دمحدود راځي په حد کې چې دامستلزم دي دور لره او دور خو باطل دي اوکوم څيز چې باطل لره مستلزم وي هغه هم باطل دي لهذا ستاد کلام تعريف باطل شو ، چې تفصيل ددې دادې چې دمحدود اومعرف پيژندل موقوف وي په حد او تعريف باندې اوس که چيرته په حد کې هم معرف مذکور وي نو بيا په حد باندې ځان پوهول دوباره موقوف شوپه محدودسره اوهم دې ته دوروايي اوکه چيرته ته د ما نه مراد شئ اخلې نوستا تعريف په کاپئ اوپه هغه ديوال هم صادق راځي چې په هغې باندې ليکل شوې وي زيد قائم

جواب: د ما نه زمونږ مراد لفظ دي پاتې شوه دنعم والاسوال نو دهغې جواب دادې چې د ما نه وروستو تضمن کلمتين راغلې دي اودتضمن نه مراد په مثل دتضمن کل دي اجزاو لره اونعم چې متضمن دي دوه کلمو لره هغه په طريقې دتاويل سره دي يعنې نعم مؤول دي لکه زيدقائم همدارنګې متضمن نه دي کله چې کل خپلو اجزاو لره متضمن وي ځکه چې نعم کل نه دي او زيد قائم دهغې اجزاء نه دي .

دوهم سوال: الکلام مبتداء دي او ماتضمن کلمتين ددې خبر دي ځکه چې الکلام هم معرفه ده اوپه ماتضمن کلمتين کې ماموصوله ده اوتضمن کلمتين ددې صله ده اوموصول هم معرفه وي نو خبر هم معرفه شو اوقانون دادې چې کله مبتدا اوخبر دواړه معرفه وي نو ددې په مينځ کې ضمير دفصل راوړې شي مصنف رَحِمَهُ اللهُ دلته دخبر اومبتدا په مينځ کې ضمير د فصل ولې

ذكر نه كړو

جواب : دا **ما** موصوله نه ده بلكه موصوفه ده چې دنكرې په حكم كې ده ځكه چې دامقام د خبر دي اواصل په خبر كې تنكير وي ددې وجهې نه **ما** يې موصوفه كړه شارح لفظ نكره راوړ نو دې جواب طرف ته يې اشاره وكړه ، اوچې كله **ما** موصوفه شوه نو خبر نكره شو نو مبتدا اوخبر دواړه معرفې نه شوې بلكه صرف مبتدا معرفه شوه

حقيقتاً اوحكماً : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب وركول دي .

سوال : تعريف د كلام دې جامع نه شو خپلو ټولو افرادو لره ځكه چې ددې نه **زيد قائم ابوه** او **جسق مهمل** او **ديز مقلوب زيد** او **اضرب** خارج شو ځكه چې په دې كې اول **كلمتين** لره متضمن نه دي بلكه متضمن دي كلمې اوجملې لره اودوهم او دريم متضمن دي مهمل اوكلمې لره اوڅلورم يوه كلمه ده دوكلمو لره متضمن نه ده .

جواب : د**كلمتين** نه مراد عام دي كه حقيقتاً وي هغه كلمتين اوكه حكماً په دې ټولو كې اګر چې **تضمن كلمتين** حقيقتاً نه ده خو حكماً **تضمن** دكلمتين موجود دي چې تفصيل يې په دې ډول دي : حقيقتاً كلمه هغه وي چې په هغې كې تلفظ هم حقيقتاً وي اوافراد هم حقيقتاً وي او وضع هم حقيقتاً وي اوحكماً هغه ته وايي چې په هغې كې ددې دري امورو نه يو څيز حكماً وي اوس په اولنې مثال كې **زيد قائم ابوه** كې جمله په تاويل دمفرد سره ده **قائم الاب** سره نوداحكماً كلمه شوه ځكه چې په دې كې افراد حكماً دي وجه يې داده چې دا قضيه حمليه ده اودقضيه حمليې داطرافو تاويل په مفرد سره كيدې شي .

نو خلاصه دجواب داشوه چې **زيد قائم ابوه** يا **زيدابوه قائم** يوې كلمې اويوې جملې ته متضمن نه دي بلكه دوه كلمو ته متضمن دي چې په هغې كې يوه كلمه حقيقي اودوهمه حكمي وي همدارنګې **جسق مهمل** د **جسق** په تاويل د **هذااللفظ** سره كولې شي او**ديز مقلوب زيد** كې دلفظ **ديز** تاويل په **هذااللفظ** سره كولې شي چې معنې يې ده **هذا اللفظ مهمل** او **هذا اللفظ مقلوب زيد** نو په دې كې اولنې كلمه حكماده ځكه چې په دې كې وضع حكمي ده نوداهم متضمن مهمل اوكلمې لره نه شو بلكه متضمن كلمتين لره دي چې په معنى كې يوه كلمه حكمي ده همدارنګې په دريم مثال په **اضرب** او **لاتضرب** كې **انت** ضمير مستتر دي چې فاعل جوړيږي نو دا **انت** كلمه حكمي ده ځكه چې په دې كې تلفظ حقيقتاً نه دي بلكه حكماً دي نو **اضرب** هم

متضمن كلمتين لره شو خو يوه كلمه حقيقي ده اويوه حكمي ده

ای يكون كل واحد منهما في ضمنه: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب وركول دي.

سوال: تاچې كوم تعريف دكلام تعريف كړې هغه باطل دي ځكه چې دامستلزم دي اتحاد المتضمِن والمتضمَن چې داباطل دي ددې وجې نه ستاتعريف باطل شود كلام تعريف تاداكړي چې كلام هغه دي چې متضمن وي دووكلمولره اوكلمتين بعينه كلام دي نومتضمِن هم كلام شو او متضمَن هم كلام شو، يامتضمِن هم كلمتين شواومتضمَن هم كلمتين شولكه زيد قائم دا كلمتين هم دي اوكلام هم دي نوخلاصه داشوه چې دلته متضمِن په كسرې دميم سره اومتضمَن په فتحې دميم سره اتحادلازم راځي اوتضمن خويونسبت دي چې دهغې په اطرافوكې تغائرت وي.

جواب: اتحاد نه لازميږي ځكه چې په دواړو كې اعتباري فرق دي مثلاً زيد قائم مجموعه من حيث المجموعه متضمن علی صيغة اسم فاعل جوړيږي اوزيد انفرادي حيثيت سره او قائم انفرادي حيثيت سره متضمن علی صيغة اسم مفعول جوړيږي نو فلا اتحاد.

تضمناً حاصلاً: په دې عبارت سره شارح د بالاسناد تركيب ذكر كوي چې بالاسناد په تركيب كې مفعول مطلق محذوف صفت جوړيږي يعنې بالاسناد ظرف مستقر دي حاصلاً لره اوهغه صفت دي تضمناً محذوف دپاره چې مفعول مطلق جوړيږي تضمن الكلمتين لره.

بسبب الاسناد الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب وركول دي.

سوال: اسناد دكلام دتعريف جزء دي كله تضمن كلمتين چې څنګه دتعريف جزدي اواسناد يو معنوي څيز دي اوكوم څيز چې دلفظ اومعنی نه مركب وي هغه غير لفظ وي نو بيا ستا كلام لره لفظ ويل صحيح نه دي.

جواب: په بالاسناد كې باء د سببيت دپاره ده او د اسناد اعتبار په كلام كې بطور سبب دی او سبب په سبب كې داخل نه وي، بلكې خارج وي لكه وقت د لمونځ دی لپاره سبب دی خو هغه د لمونځ نه خارج وي همدارنګې دلته اسناد هم د كلام نه خارج دی.

وَ بِقَيْدِ تَضَمُّنِ كَلِمَتَيْنِ خَرَجَتِ الْمُهْمَلَاتُ وَ الْمُفْرَدَاتُ وَ بِقَيْدِ الْإِسْنَادِ خَرَجَتِ الْمُرَكَّبَاتُ الْغَيْرِ الْكَلَامِيَّةُ
اوپه قيد دتضمن كلمتين سره خارج شومهملات اومفردات اوپه قيد داسنادسره خارج شو مركبات غير كلاميه
مِثْلُ غُلَامُ زَيْدٍ وَ رَجُلٌ فَاضِلٌ وَ بَقِيَتِ الْمُرَكَّبَاتُ الْكَلَامِيَّةُ سَوَاءٌ كَانَتْ خَبَرِيَّةً مِثْلُ ضَرَبَ زَيْدٌ وَ ضَرَبَتْ
لكه غلام زيد و رجل فاضل او باقي پاتې شو مركبات كلاميه برابره خبره ده كه خبري وي لكه ضرب زيد و ضربت

هِنْدٌ وَ زَيْدٌ قَائِمٌ أَوْ إِنْشَائِيَّةٌ مِثْلُ اِضْرِبْ وَلَا تَضْرِبْ فَإِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا تَضَمَّنَ كَلِمَتَيْنِ
هند وزيد قائم او كه انشائيه وي لكه اضرب ولا تضرب ځكه چې هر يو واحد ددې دواړو نه متضمن دي كلمتينو
إِحْدَاهُمَا مَلْفُوظَةٌ وَ الْأُخْرَىٰ مَنْوِيَّةٌ وَ بَيْنَهُمَا إِسْنَادٌ يُفِيدُ الْمُخَاطَبَ فَائِدَةً
لره چې يو يې لفظي ده او بل يې منوي ده او په مينځ ددې دواړو كې اسناد دي چې فائده وركوي مخاطب ته فائده
تَامَّةً وَ حَيْثُ كَانَتِ الْكَلِمَتَانِ أَعَمَّ مِنْ أَنْ تَكُوْنَا كَلِمَتَيْنِ حَقِيْقَةً أَوْ حُكْماً دَخَلَ فِي التَّعْرِيْفِ
پوره په داسې شان چې وي دواړه كلمې عامې ددې نه چې دا كلمې دي حقيقتاً او حكماً داخل شو په تعريف
مِثْلُ زَيْدٌ أَبُوْهُ قَائِمٌ أَوْ قَامَ أَبُوْهُ أَوْ قَائِمٌ أَبُوْهُ فَإِنَّ الْإِخْبَارَ فِيْهَا مَعَ أَنَّهَا مُرَكَّبَاتٌ
ددې كې لكه زيد ابوه قائم او قام ابوه او قائم ابوه ځكه چې اخبار په دې كې سره ددې نه چې دا مركبات دي
لٰكِنَّهَا فِي حُكْمِ الْكَلِمَةِ الْمُفْرَدَةِ أَعْنِي قَائِمُ الْأَبِ وَ دَخَلَ فِيْهِ أَيْضاً مِثْلُ جَسَقٌ مُهْمَلٌ وَ دَيْزٌ مَقْلُوْبُ زَيْدٍ
لكن دا په حكم د كلمې مفردې كې دي يعني قائم الاب او داخل شو په دې كې په مثل د جسق مهمل ديز مقلوب زيد
مَعَ أَنَّ الْمُسْنَدَ إِلَيْهِ فِيْهِمَا مُهْمَلٌ لَيْسَ بِكَلِمَةٍ فَإِنَّهُ فِي حُكْمِ هٰذَا اللَّفْظِ.
سره ددې نه چې مسند اليه په دې دواړو كې مهمل ده كلمه نه ده ځكه دا په حكم ددې لفظ كې ده.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب دكافيې د قيوداتو فائدې بيانوي .

اغراض د جامي : <u>وبقيد تضمن كلمتين</u> : په دې عبارت سره شارح دتضمن كلمتينو د قيد فائده بيانوي چې په دې قيد سره ترې مهملات اومفردات خارج شو .

<u>وبقيد الاسناد</u>: په دې عبارت سره شارح داسناد د قيد فائده بيانوي چې په دې قيد سره ترې مركبات غير كلاميه خارج شو لكه مثال **غلام زيد ورجل فاضل** .

<u>وبقيت المركبات الكلامية</u> : په دې عبارت سره شارح د مركب كلاميه بيان كوي چې مركب كلامي كه خبري وي لكه مثال **ضرب زيد وضربت هند وزيد قائم** اوكه مركب انشائي وي لكه **اضرب ولا تضرب** دا په خپل حال پاتې شو ځكه چې هر يو ددې دواړو نه متضمن وي كلمتينو لره چې يوه كلمه ملفوظ اوبله منوي وي اوپه مينځ ددې دواړو كې داسې اسناد دي چې فائده وركوي مخاطب ته فائده تامه .

<u>وحيث كانت الكلمتان</u> : په دې عبارت سره شارح د حقيقتاً او حكماً قيد فائده ذكر كوي ، اود يو سوال جواب هم كوي :

سوال : تعريف د كلام دې جامع نه شو خپلو ټولو افرادو لره ځكه چې ددې نه **زيد قائم ابوه** او **جسق مهمل** او **ديز مقلوب زيد** او **اضرب** خارج شو ځكه چې په دې كې اول **كلمتين** لره متضمن نه

دي بلکه متضمن دي کلمې اوجملې لره اودوهم او دریم متضمن دي مهمل اوکلمې لره اوڅلورم یوه کلمه ده دوکلمو لره متضمن نه ده

جواب : دکلمتین نه مراد عام دي که حقیقتاً وي هغه کلمتین اوکه حکماً په دې ټولو کې اګر چې تضمن کلمتین حقیقتاً نه ده خو حکماً تضمن دکلمتین موجود دي چې تفصیل یې په دې ډول دي حقیقتاً کلمه هغه وي چې په هغې کې تلفظ هم حقیقتاً وي اوافراد هم حقیقتاً وي او وضع هم حقیقتاً وي اوحکماً هغه ته وایي چې په هغې کې ددې دریو امورو نه یو څیز حکماً وي اوس په اولنۍ مثال کې زید قائم ابوه کې جمله په تاویل دمفرد سره ده قائم الاب سره نوداحکماً کلمه شوه ځکه چې په دې کې افراد حکماً دي وجه یې داده چې دا قضیه حملیه ده اودقضیه حملیې داطرافو تاویل په مفرد سره کیدې شي .

نو خلاصه دجواب داشوه چې زید قائم ابوه یا زیدابوه قائم یوې کلمې اویوې جملې ته متضمن نه دي بلکه دوه کلمو ته متضمن دي چې په هغې کې یوه کلمه حقیقي اودوهمه حکمي وي همدارنګې جسق مهمل دجسق په تاویل دهذااللفظ سره کولې شي اودیز مقلوب زید کې دلفظ دیز تاویل په هذاالفظ سره کولې شي چې معنې یې ده هذا اللفظ مهمل او هذا اللفظ مقلوب زید نو په دې کې اولنۍ کلمه حکماده ځکه چې په دې کې وضع حکمي ده نوداهم متضمن مهمل او کلمې لره نه شو بلکه متضمن کلمتین لره دي چې په معنی کې یوه کلمه حکمي ده همدارنګې په دریم مثال په اضرب او لاتضرب کې انت ضمیر مستتر دي چې فاعل جوړیږي نو دا انت کلمه حکمي ده ځکه چې په دې کې تلفظ حقیقتاً نه دي بلکه حکماً دي نو اضرب هم متضمن کلمتین لره شو خو یوه کلمه حقیقي ده اویوه حکمي ده .

إِعْلَمْ اَنَّ كَلَامَ الْمُصَنِّفِ رَحِمَهُ اللهُ ظَاهِرٌ فِيْ اَنَّ نَحْوَ ضَرَبْتُ زَيْداً قَائِماً بِمَجْمُوْعِهٖ كَلَامٌ بِخِلَافِ
پوه شه چې کلام د مصنف رَحِمَهُ اللهُ ظاهر دي په مثل د ضربت زیداًقائماً کې چې مجموع ددې کلام دي په خلاف د
كَلَامِ صَاحِبِ الْمُفَصَّلِ حَيْثُ قَالَ الْكَلَامُ هُوَ الْمُرَكَّبُ مِنْ كَلِمَتَيْنِ اُسْنِدَتْ
کلام دصاحب دمفصل په داسې شان چې هغه ویلي چې کلام دامرکب ددوه کلمو نه دي چې اسناد شوې وي یو
إِحْدَاهُمَا إِلَى الْاُخْرٰى فَإِنَّهٗ صَرِيْحٌ فِيْ اَنَّ الْكَلَامَ هُوَ ضَرَبْتُ وَ الْمُتَعَلِّقَاتُ خَارِجَةٌ عَنْهُ.
ددواړو کلموبلې ته ځکه داویناده صریحه ده په دې کې چې کلام دا ضربتُ دي اومتعلقات خارج دي ددې نه

اغراض د جامي : اعلم ان کلام المصنف رَحِمَهُ اللهُ الخ: په دې عبارت سره شارح د ماتن او دصاحب مفصل د تعریف په مینځ کې فرق واضح کوي، چې خلاصه یې داده چې مصنف په

خپل عبارت کې د بالاسناد سره د فقط قيد هم ونه لړولو، او کلمه د حصريې هم ذکر نه کړه. چې د هغې نه معلومه شوه چې د ضربت زيدٌ قائماً د پوره مجموعې نوم کلام دی. ځکه چې په هغې کې اسناد يو دی نو د مصنف په نزد متعلقات د کلام په کلام کې داخل وي او صاحب د مفصل مبتدا او خبر دواړو لره معرفه ذکر کړو د دواړو په منځ کې ضمير د وصل ذکر کړو، چې مفيد للحصر دی چې د هغې نه معلوه شوه، چې کلام صرف د دوه کلمو نوم دی او متعلقات د کلام د کلام نه خارج دي.

اوبعضې په دې سره ديو سوال جواب کوي.

سوال: کافيه مأخوذ ده د مفصل نه مصنف په تعريف کې د دې مخالفت ولې وکړو؟

جواب: جواب يې دا ورکړو چې دې ددواړو د متعلقاتو د کلام، د دخول د کلام او د عدم دخول په باره کې اختلاف ؤ داد تعريف والاسوال په هغه اختلاف باندې مبني دی هر يو د خپل مذهب مطابق تعريف کړې دی.

ثُمَّ اِعْلَمْ اَنَّ صَاحِبَ الْمُفَصَّلِ وَصَاحِبَ اللُّبَابِ ذَهَبَا إِلٰى تَرَادُفِ الْكَلَامِ وَ الْجُمْلَةِ وَ كَلَامِ الْمُصَنِّفِ اَيْضًا
بيا پوه شه چې صاحب دمفصل اوصاحب دلباب ذهاب کړې ترادف د کلام اوجملې ته اود کلام دمصنف نه هم
يَنْظُرُ إِلٰى ذٰلِكَ فَإِنَّهُ قَدِ اكْتَفٰى فِيْ تَعْرِيفِ الْكَلَامِ بِذِكْرِ الْإِسْنَادِ مُطْلَقاً وَ لَمْ يُقَيِّدْهُ
همدا نظر معلوميږي ځکه چې ده اکتفاء وکړه په تعريف د کلام کې په ذکر داسناد سره مطلقاً اومقيد يې نه کړو
بِكَوْنِهٖ مَقْصُوْداً لِذَاتِهٖ وَ مَنْ جَعَلَهُ اَخَصَّ مِنَ الْجُمْلَةِ قَيَّدَهُ بِهٖ
په کيدلو ددې چې مقصود لذاته اوچاچې ګرځولی خاص دجملې نه مقيد کړې يې دې په مقصودلذاته سره نو
فَحِيْنَئِذٍ يُصَدَّقُ الْجُمْلَةُ عَلَى الْجُمَلِ الْخَبَرِيَّةِ الْوَاقِعَةِ إِخْبَاراً اَوْ اَوْصَافاً بِخِلَافِ الْكَلَامِ وَ فِيْ
په دې وخت کې اطلاق کيږي دجملې په جمله خبريه باندې چې واقع وي اخبار اوياصفت په خلاف د کلام اوپه
بَعْضِ الْحَوَاشِيْ اَنَّ الْمُرَادَ بِالْإِسْنَادِ هُوَ الْإِسْنَادُ الْمَقْصُوْدُ لِذَاتِهٖ وَ حِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ الْكَلَامُ
بعضوحواشيوکې راغلې چې مراد داسنادنه هغه اسناد مقصودلذاته دي اوپه دغه وخت کې به وي کلام په
عِنْدَ الْمُصَنِّفِ اَيْضاً اَخَصَّ مِنَ الْجُمْلَةِ.
نزد د مصنف هم خاص دجملې نه.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب د کافيې د کلمې اوجملې په مينځ کې فرق بيانوي.

اغراض د جامي: ثم اعلم ان صاحب المفصل الخ: په دې عبارت سره علامه جامي په کلام او

جمله کې فرق کول بيانوي، خو په دې باندې د ځان پوهه کېدلو نه مخکې په يوه خبره باندې ځان پوهه کول ضروري دي، هغه خبره داده چې اسناد په دوه (٢) قسمه دي (١) اسناد مقصود لذاته (٢) اسناد غير مقصود لذاته

(١) **اسناد مقصود لذاته** هغه اسناد ته وايي چې د هغې نه مخاطب ته فائده مقصود وي او دا اسناد د يو بل اسناد دپاره موقوف عليه او وسيله جوړه نه شي، لکه **زيد قائمٌ** او **ضرب زيدٌ** نو په دې کې چې کوم اسناد دي نو دا مقصود لذاته دي.

(٢) **اسناد غير مقصود لذاته** هغه ته وايي چې د يو بل اسناد لپاره موقوف عليه او وسيله جوړيږي لکه چې هغه جملې خبرې چې د يو مبتدا لپاره خبر جوړيږي يا د يو موصوف د لپاره صفت جوړيږي لکه **زيدٌ ابوه قائمٌ** په دې کې اسناد غير مقصود لذاته دي.

اوس دلته دوه جملې دي يوه جمله کبرى ده چې په هغې کې **زيدٌ** مبتدا جوړيږي او **قائمٌ ابوه** ددې خبر جوړيږي، په دې جمله کبرى کې چې کوم اسناد دى هغه مقصود لذاته دى او دوهمه جمله صغرى ده چې په هغې کې **قائمٌ** شبه فعل مسند جوړيږي، او **ابوه** ددې فاعل مسنداليه دى او په دې دواړو کې چې کوم اسناد دي هغه غير مقصود لذاته دي، ځکه چې دا جمله صغرى والا اسناد دجمله کبرى والااسناد دپاره موقوف عليه او وسيله او ذريعه جوړيږي.

اوس ددې نه پس د جملې او د کلام په مينځ کې په فرق باندې ځان پوهه کړئ چې خلاصه ددې داده چې په دې کې دوه قوله دي، اول قول د صاحب د مفصل د صاحب د لباب او د مصنف رَحِمَهُ اللهُ دى. د دوي په نزد په کلام او جمله کې ترادف دى دواړه يو څيز دى کوم چې کلام دى **هغه جمله هم ده او کوم چې جمله ده هغه کلام هم دى نو نسبت په کې د مساوات دى.**

دوهم قول د بعضې نحاتو دى، د دوى په نزد په کلام او جمله کې نسبت د عموم خصوص مطلق دى، کلام خاص دى او جمله عامه ده، د هر کلام جمله کيدل ضروري ده، خو د هرې جملې کلام کيدل ضروري نه دي، وجه دفرق په دې دواړو کې داده چې کلام هغه ته وايي چې په هغې کې اسناد مقصود لذاته نه وي او په جمله کې موندونکي اسناد عام دي برابره خبره ده، که مقصود لذاته وي او که نه وي نو **زيدٌ قائمٌ ابوه** دې ټول ته کلام هم ويلې شي او جمله هم ويلې شي خو ددې جملې کبرى په ضمن کې چې کومه صغرى ده صرف **قائمٌ ابوه** په دې باندې د جملې اطلاق خو کيداى شي، خو د کلام اطلاق پرې نه شي کيداى شي، ځکه چې په دې کې اسناد د لذاته نه دي.

وفي بعض الحواشي: په دې عبارت سره شارح د علامه هندي قول نقل کول غواړي، علامه هندي وفرمايل. چې د متن په عبارت کې کوم لفظ اسناد مطلق وي او د هغې نه مراد اسناد مقصود لذاته دی، نو ددې وجې نه د دوي په نزد کلام خاص او جمله عامه ده، ځکه چې په دې اسناد باندې داخليدونکی الف لام عهدي دی او معهود اسناد مقصود لذاته دی.

دکلام دواقع کيدو ځايونه:

وَلَا يَتَأَتّٰى اَىْ لَا يَحْصُلُ ذٰلِكَ اَىِ الْكَلَامُ اِلَّا فِيْ ضِمْنِ اِسْمَيْنِ اَحَدُهُمَا مُسْنَدٌ وَ الْاٰخَرُ مُسْنَدٌ اِلَيْهِ اَوْ فِيْ ضِمْنِ اِسْمٍ
اونه حاصليږي دا کلام مګر په ضمن ددوه اسمونو کې چې يومسند او بل مسند اليه وي اويا په ضمن د اسم د
مُسْنَدٌ اِلَيْهِ وَ فِعْلٍ مُسْنَدٍ وَ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ اَوْ فِيْ فِعْلٍ وَ اِسْمٍ فَاِنَّ التَّرْكِيْبَ
مسند اليه او په فعل مسند کې او په بعضې نسخو کې په ضمن د فعل او يا په ضمن د اسم کې ځکه چې ترکيب
الثُّنَائِيَّ الْعَقْلِيَّ بَيْنَ الْاَقْسَامِ الثَّلٰثَةِ يَرْتَقِيْ اِلٰى سِتَّةِ اَقْسَامٍ ثَلٰثَةٌ مِّنْهَا مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ اِسْمٌ وَاِسْمٌ فِعْلٌ
ثنائي عقلي په مينځ دا اقسام ثلاثو کې رسيږي شپږو اقسامو ته دري د هغې نه دجنس واحد نه دااسم اودااسم دفعل
وَ فِعْلٌ حَرْفٌ وَ حَرْفٌ وَ ثَلٰثَةٌ مِّنْهَا مِنْ جِنْسَيْنِ اِسْمٌ وَّ فِعْلٌ اِسْمٌ وَّ حَرْفٌ فِعْلٌ وَّ حَرْفٌ وَ مِنَ الْبَيِّنِ
اوفعل دحرف اوحرف اودري دهغې نه ددوه جنسونو نه چې اسم اوفعل اسم اوحرف اوفعل اوحرف اوظاهره داده
اَنَّ الْكَلَامَ لَا يَحْصُلُ بِدُوْنِ الْاِسْنَادِ وَ الْاِسْنَادُ لَا بُدَّ لَهٗ مِنْ مُسْنَدٍ وَ مُسْنَدٍ اِلَيْهِ وَ هُمَا لَا يَتَحَقَّقَانِ
چې کلام نه حاصليږي په غير د اسناد نه او د اسناد د پاره ضروري دي چې مسند او مسند اليه وي او نه محقق
اِلَّا فِيْ اِسْمَيْنِ اَوْ اِسْمٍ وَّ فِعْلٍ وَ اَمَّا الْاَقْسَامُ الْاَرْبَعَةُ الْبَاقِيَةُ فَفِي الْحَرْفِ وَ الْحَرْفُ
کيږي دا دواړه مګر په دوه اسمونو کې اويا په اسم اوفعل کې هرچې اقسام اربعه باقي دي نو په حرف اوحرف
كِلَاهُمَا مَفْقُوْدَانِ وَ فِي الْفِعْلِ وَ الْفِعْلُ وَ الْفِعْلِ وَ الْحَرْفُ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ مَفْقُوْدٌ وَ فِي الْاِسْمِ وَ الْحَرْفِ اَحَدُهُمَا
کې دواړه مفقود دي اوپه فعل اوفعل اوفعل اوحرف کې مسند اليه مفقود ده اوپه اسم اوحرف کې يو ددې دواړو
مَفْقُوْدٌ فَاِنَّ الْاِسْمَ اِنْ كَانَ مُسْنَدًا فَالْمُسْنَدُ اِلَيْهِ مَفْقُوْدٌ اِنْ كَانَ مُسْنَدًا اِلَيْهِ فَالْمُسْنَدُ مَفْقُوْدٌ
نه مفقود دي ځکه اسم که چيرته مسندوي نو مسند اليه مفقود ده او که چيرته مسند اليه وي نو مسند مفقود ده
وَنَحْوُ يَازَيْدُ بِتَقْدِيْرِ اَدْعُوْا زَيْدًا فَلَمْ يَكُنْ مِنْ تَرْكِيْبِ الْحَرْفِ وَالْاِسْمِ بَلْ مِنْ تَرْكِيْبِ الْفِعْلِ وَالْاِسْمُ الَّذِيْ هُوَ
اوپه مثل د يازيد په تقدير د ادعوا زيدا پس نه شو داد ترکيب دحرف نه بلکې دا شو د ترکيب دفعل اودهغه اسم نه
الْمَنْوِيُّ فِيْ اَدْعُوْ وَ هُوَ اَنَا.
چې هغه منوي وي په ادعو کې چې هغه انا دي.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې د کلام تقسيم کوي، چې کلام په دوه قسمه دي. يو جمله اسميه او بل جمله فعليه.

اغراض د جامي : اي لا يحصل: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : لايتاتى : اتيان نه مشتق دى او دا خاصه ده د ذي روح او کلام خو غير ذي روح دى نو تا ددې دپاره د اتيان لفظ ولې استعمال کړو؟

جواب : اتيان لره حصول لازم دى نو ذکر د ملزوم او مراد ترې نه لازم شو، نو لا يتاتى لازم دى نو لا يتاتى کنايه ده، د لا يحصل نه

دلته بيا بل سوال وارديږي:

سوال : د لايتاتى به ځاى به يې لا يحصل ويلې وي کنه لا يتاتى يې ولې ذکر کولو؟

جواب : مونږ لايتاتى ځکه ذکر کړو ځکه چې کنايه دا ابلغ وي دتصريح نه ځکه چې په کنايه کې لږ شان سوچ راځي اودسوچ نه پس ذهن ته راځي دطلب اومشقت نه پس حاصليدونکي څيز اوقع في الذهن وي ځکه وبلې شي چې: الکناية ابلغ من التصريح نو ددې وجې نه مونږ هم کنايه استعمال کړه.

اي الکلام: په دې عبارت سره شارح د ذلک مشاراليه متعينه کوي ، او يو سوال طرف ته هم اشاره کوي:

سوال : چې کله د يو څيز دوباره ذکر وکړاى شي نو د ضمير په شکل به کولې شي نو تا د اسم اشاره په صورت کې ولې ذکر کړو.

جواب : که چېرته د ذلك په ځاى مونږ اسم ضمير راوړى وي، نو د هغې په مرجع کې به درې احتماله وى : بالاسناد بالاسناد به هم ددې مرجع جوړيداى شي او د ماتضمن نه چې کوم مصدر په ذهن کې راځي هغه هم مرجع جوړېداى شي او د الکلام هم مرجع جوړيدى شي او په مرجع کې بهتره خبره داده چې هغه نزدې وي نو الاسناد اقرب دى او تضمن قريب دى او الکلام بعيد دى نو دا وهم پيدا کيدو چې ددې مرجع شايد الاسناد يا تضمن وي د وجې دنژدې والې نه او الکلام د لرې والې دوجې نه مرجع نه ده او ددې دواړو د مرجع جوړېدو په صورت کې د حد تقسيم لازم راتلو او تقسيم خو د محدود کولې شي د دې تولې خرابيو نه د ځان ساتلو دپاره ماتن اسم اشاره بعيده ذکر کړه ددې دپاره چې د دې مشارٌ اليه صرف کلام جوړ شي او د الاسناد او تضمن د مشارٌ اليه د جوړېدو احتمال بالکل ختم شي.

ضمن اسمين: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: د الا في اسمين عبارت صحيح نه دی ځکه چې في د ظرفيت دپاره راځي ددې ما بعد ظرف جوړيږي، او ما قبل يې مظروف جوړيږي او په دې دواړو کې مغائرت وي او دلته مظروف خو کلام دی او ظرف اسمين دی او اسمين هم کلام دی نو ظرف او مظروف يو شول نو ظرفية الشئ لنفسه لازم راغلو، نو تقدير د عبارت داسې شو چې: لا يتاتی الکلام الا في الکلام او ظرفية الشيء لنفسه باطل دی

جواب: شارح د ضمن لفظ راوړو او جواب يې ورکړو، چې دا ظرفية الشئ لنفسه نه دی، بلکې ظرفية الخاص للعام دی او دا صحيح دي، ځکه چې د خاص په ضمن کې عام موجود وي دلته چې ظرف دی نو هغه عام دی، ددې په وجود کې د راتلو دوه صورتونه دي، يو د في اسمين والاصورت او بل د فی اسم و فعل والاصورت او فی اسمين په دې صورت کې چې کلام په وجود کې راځي. ظاهره ده چې هغه خاص وي د مطلق کلام نه نو ظرف خاص شو او مظروف عام شو، نو د ظرفية الخاص للعام د قبيلې نه جوړ شو دا عبارت چې صحيح دی نو فلا اعتراض.

احدهما منه والاخر مسند اليه: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دی چې مونږ تاته ښايو دوه اسمونه خو د هغې نه کلام په وجود کې نه راځي لکه غلام زيدٌ؟

جواب: د اسمين نه مراد مطلق دوه اسمونه ، نه دي، بلکې داسې دوه اسمونه ترې نه مراد دي چې په هغې کې يو مسند اليه او دويم مسند جوړيږي.

في بعض النسخ او في فعل و اسم: په دې عبارت سره شارح اختلاف د نسخو بيانوي چې خلاصه داده چې په بعضو نسخو کې اسم يې مقدم کړې دی که څېرته دا نسخه صحيح وي، نو وجه تقديم به ددې شرافت وي د پورتني فعل هغه چې ظاهر دی چې اسم مسند او مسند اليه دواړه جوړيږي او الکلام لره په وجود ورکولو کې اسم د فعل محتاج نه دی په خلاف د فعل نه چې هغه صرف مسند جوړيدای شي او مسند اليه نه شي جوړيدای نو کلام لره په وجود ورکولو دفعل اسم ته محتاج وي او په بعضو نسخو کې فعل لره يې مقدم کړی دی وجه د تقديم يې داده، چې په ترتيب کې فعل مقدم وي په اسم باندې لکه څنګه چې په جمله فعليه کې وي.

فان الترتيب الثنائي العقلي: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : د کلمې په تقسيم کې د اداتو د حصر ذکر ونه کړو نو د کلام په تقسيم کې يې د اداتو د حصر ذکر ولې وکړو؟

جواب : هلته د اقسام ثلاثه نه علاوه څه دويم احتمال نه و، چې هغې لره د ويستلو لپاره د اداة حصر ذکر کوي او دلته عقلي طريقې سره (۶) احتمالات دي. چې په هغې کې صرف دوه داسې احتمالات صحيح دي، چې د هغې نه کلام مرکب وي نو د باقي احتمالات د ويستلو لپاره اداة د حصر لره يې ذکر کړو.

و نحو يازيد بتقدير ادعوا زيداً: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : تا وويل چې کلام صرف د اسم او فعل او يا د دوه اسمونو نه مرکب وي نو زه به تاته وښائم چې کلام د اسم او حرف نه هم مرکب وي، لکه په يازيد کې لفظ يا حرف دی او زيد اسم دی او د دې دواړو نه کلام مرکب شوې دی.

جواب : دلته يا او زيد دواړه لره په کلام کې هيڅ دخل نشته دی بلکې يا حرف ندا قائمقام د ادعوا دی او کلام ادعوا دی، چې په دې کې يو فعل په خپله ادعوا دی او دويم په دې کې انا ضمير مستتر اسم دی د دې دواړو نه کلام مرکب کېږي، نو يازيدٌ کې هم کلام دی اسم او فعل نه مرکب شو، د حرف او اسم نه مرکب نه دی.

اَلْاِسْمُ مَا دَلَّ اَیْ کَلِمَةٌ دَلَّتْ عَلٰی مَعْنًی کَائِنٍ فِیْ نَفْسِهٖ اَیْ فِیْ نَفْسٍ مَا دَلَّ یَعْنِی الْکَلِمَةُ فَتَذْکِیْرُ
اسم هغه کلمه ده چې دلالت کوي په معنی چې کائنه وي په نفس د کلمې کې يعنې په نفس د کلمه کې نو تذکير د
الضَّمِیْرِ بِنَاءً عَلٰی لَفْظِ الْمَوْصُوْلِ قَالَ الْمُصَنِّفُ رح فِی الْاِیْضَاحِ شَرْحِ الْمُفَصَّلِ اَلضَّمِیْرُ فِیْ مَا دَلَّ عَلٰی
ضمير بناء دي په لفظ د موصول باندې وويل مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ په ايضاح شرح د مفصل کې ضمير په ما دل علی
مَعْنًی فِیْ نَفْسِهٖ یَرْجِعُ اِلٰی مَعْنًی اَیْ مَا دَلَّ عَلٰی مَعْنًی بِاِعْتِبَارِهٖ فِیْ نَفْسِهٖ
معنی في نفسه کې راجع دې معنی ته يعنې هغه چې دلالت کوي په معنی په اعتبار د دې معنی په نفس د دې کې
وَ بِالنَّظَرِ اِلَیْهِ فِیْ نَفْسِهٖ لَا بِاِعْتِبَارِ اَمْرٍ خَارِجٍ کَقَوْلِكَ الدَّارُ فِیْ نَفْسِهَا
او په نظر سره دې معنی ته په نفس د دې کې نه په اعتبار د امر خارج سره د دې نه لکه د اقول ستا الدار في نفسها
حُکْمُهَا کَذَا اَیْ لَا بِاِعْتِبَارِ اَمْرٍ خَارِجٍ عَنْهَا وَ لِذٰلِكَ قِیْلَ اَلْحَرْفُ مَا دَلَّ عَلٰی
حکمها کذا يعنې نه په اعتبار د امر خارج د دې نه د دې وجې نه وويل شوې دي چې حرف هغه دي چې دلالت کوي په
مَعْنًی فِیْ غَیْرِهٖ اَیْ حَاصِلٍ فِیْ غَیْرِهٖ اَیْ بِاِعْتِبَارِ مُتَعَلَّقِهٖ لَا بِاِعْتِبَارِهٖ فِیْ نَفْسِهٖ اِنْتَهٰی کَلَامُهٗ.
معنی د غير کې يعنې حاصل وي په غير کې يعنې په اعتبار د متعلق سره نه په اعتبار د نفس سره ختم شو کلام د مصنف

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافیې داسم تعریف او تفصیل بیانوي اودې ځای نه صاحب دکافیې داقسامِ ثلاثو تعریفات بالتفصیل بیانوي اسم ته په اخوینو یعنې فعل او حرف باندې شرافت حاصل دي نو ددې شرافت دوجې نه یې مقدم کړو .

اغراض دجامي : كلمة دلت : په دې عبارت سره شارح ددوه سوالونو جوابات ورکوي

اول سوال :تا مبتدا هم الاسم معرفه راوړې ده او خبر هم معرفه، ځکه چې ما موصوله ده او اسم موصول معرفه وي نو کله چې مبتدا او خبر دواړه معرفه وي نو ضمیر فعصل راوړلی شي نو تا د ضمیر فصل ذکر ولې ونه کړو؟

جواب : شارح جواب ورکړی دی چې ای كلمة کلمه یې نکره راوړه او وي ویل چې دا ما موصوله نه ده، بلکې ما موصوفه ده. چې د نکرې په حکم کې وي، ځکه چې دا مقام د خبر دی او اصل په خبر کې نکارت وي

دوهم سوال : چې ته د ما نه څه مراد اخلې. عقلا څلور احتمالات دي مګر یو هم صحیح نه دي چې هغه څلور اسم اشاره یا شيء یا لفظ یا کلمه چې داهر یو احتمال مراد کوې نو صحیح نه دي که ته اسم مراد کړې نو اخذ د محدود راځي په حد اواخذ دمحدود په حد کې دا مستلزم وي دور لره او دور باطل دي که چیرته شئ مراد اخلې نو دوال اربعه اونقوش دزید کوم چې په دیوال لیکل شوې وي په هغه باندې هم تعریف داسم صادقیږي اوکه چیرته لفظ مراد اخلې نو دزید قائم په مجموعې باندې داسم تعریف صادقیږي اوهمدارنګې ټول مرکبات اوکه چیرته کلمه مراد اخلې نو د دل دضمیر اومرجع په مینځ کې مطابقت نه پاتې کیږي کلمه مؤنث ده او د دل ضمیر مذکر دی.

جواب :شارح كلمة دلت جدا ذکر کړو نو په دې سره جواب کوي چې زمونږ مطلب په څلورو احتمالاتو کې کلمه ده باقي پاتې شو ستا دا سوال چې دضمیر او مرجع په مینځ کې مطابقت نشته نو جواب دا دی چې لفظ دما په اعتبار د الفاظو سره مذکر دی ددې وجه نه دې طرف ته ضمیر راجع کیدونکی هغه مذکر راوړلی شو.

كائنٌ :په دې عبارت سره شارح دبعضې شارحینو تردید کوي : چې بعضو في نفسه ظرف لغو ګرځولې او متعلق کړي یې تر مادل پورې ، علامه جامي وایي چې في نفسه ظرف مستقر دی

اومتعلق دي تر كائنٌ پورې، د معنىً صفت دى ددې وجې نه كه چېرې مادل متعلق شي نو سوال وارديږي چې د دلالت صله على يا باء راځي في نه راځي

في نفس مادل يعني الكلمة فتذكير الضمير بناء لى لفظ الموصول الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال : د في نفسه ضمير به تاسو څه جوړوئ، اسم يا كلمه يا معنى كوم يو هم چې جوړ كړئ، نو صحيح نه دى كه چېرې اسم جوړ كړئ، نو پنځه خرابيانې لازم راځي.

۱: اخذ د محدود په حد كې ، (۲) عدم مطابقت په مينځ د تفصيل اواجمال كې ، (۳) ظرفيت د الاسم دپاره د معنى به لازم راځي، (۴) توجيه القول بما لا يرضى به القائل به لازم راشي ، (۵) د حرف تعريف به باطل شي ځكه چې اسم اوحرف دواړه په خپل مينځ كې يو بل سره مقابل دي

جواب : شارح ددې دوه جوابات ذكر كړي دي:

اول جواب : چې خلاصه د جواب داده، چې مونږه ددې مرجع كلمې لره جوړوو د اولنۍ خرابۍ جواب دا دى، چې د ضمير مذكر كېدل د موصول په بناء باندې دي، ځكه چې لفظ د مامذكر دى د دوهمې خرابۍ جواب دادى چې د مفصل په شرح ايضاح كې مصنف د في نفسه ضمير مرجع معنىً ددې دپاره جوړ كړې دى چې هغه مرجع نږدې وه او په مفصل كې هيڅ وجه د حصر نه وه ، اود دريمې خرابۍ جواب دادى چې ظرف په دوه قسمه دي ظرف حقيقي او ظرف تشبيهي، كلمه اګر چې د معنىً لپاره حقيقتاً خو ظرف نه دى مګر تشبيهي ضرور دى ، د څلورمې خرابۍ جواب دادى چې د حرف تعريف هم صحيح دى ځكه چې كله د اسم په تعريف كې د في نفسه د ضمير مرجع كلمه يې جوړه كړې ده او معنى يې كړې ده، چې اسم هغه كلمه ده چې دلالت كوي په معنى باندې په اعتبار د خپل ذات سره يعنې هغه كلمه مستقل بالمفهوميت وي، نو د حرف په تعريف كې د في غيره ضمير مرجع به هم كلمه وي اود مادل على معنىً في غير الكلمة مطلب به داشي، چې حرف هغه كلمه ده چې دلالت كوي په معنى باندې په اعتبار د خپل غير كې ، يعنې هغه معنى چې غير مستقل باالمفهوميت وي.

قال المصنف في الايضاح شرح المفصل: په دې عبارت سره شارح د دوهم جواب ذكر كوي:

دوهم جواب : يا خو مونږ د في نفسه د ضمير مرجع معنىً لره جوړوو، لكه څنګه چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ په خپله د ايضاح په شرح مفصل كې جوړه كړې ده.

دحاصل او محصول بحث :

وَ مَحْصُوْلُهُ مَا ذَكَرَهُ بَعْضُ الْمُحَقِّقِيْنَ حَيْثُ قَالَ كَمَا اَنَّ فِيْ الْخَارِجِ مَوْجُوْداً قَائِماً
اومحصول هغه چې ذکر کړي بعضي محققينوپه داسې شان سره چې ويلي دي چې په خارج کې موجود قائم
بِذَاتِهٖ وَ مَوْجُوْداً قَائِمًا بِغَيْرِهٖ كَذٰلِكَ فِيْ الذِّهْنِ مَعْقُوْلٌ هُوَ مُدْرِكٌ قَصْداً مَلْحُوْظاً فِيْ ذَاتِهٖ
بالذات اوموجود قائم بالغيرهمدا رنګې په ذهن کې معقول دامدرک دي قصداً چې ملحوظ وي په ذات خپل
يَصْلُحُ اَنْ يَّحْكُمَ عَلَيْهِ وَ بِهٖ وَ مَعْقُوْلٌ هُوَ مُدْرِكٌ تَبَعاً وَ آلَةٌ
کې صالح ددې چې حکم وکړي شي په دې باندې اوددې دپاره اومعقول هغه مدرک دي تبعا اوآله ده دپاره د
لِمُلَاحَظَةِ غَيْرِهٖ فَلَا يَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِّنْهُمَا فَالْاِبْتِدَاءُ مَثَلاً اِذَا لَاحَظَهُ الْعَقْلُ
لحاظ دغير پس صالح نه شي کيدې دپاره ديوشيز ددواړوپس ابتداء مثلاً کله چې ملحوظه کړي دي لره عقل
قَصْداً اَوْ بِالذَّاتِ كَانَ مَعْنًى مُسْتَقِلاً بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ مَلْحُوْظاً فِيْ ذَاتِهٖ وَ لَزِمَهُ تَعَقُّلُ مُتَعَلِّقِهٖ
قصداً او بالذات دابه وي معناً مستقل بالمفهومية ملحوظه وي په ذات خپل کې اولازم به وي تعقل دمتعلق
اِجْمَالاً وَ تَبَعاً مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ اِلٰى ذِكْرِهٖ وَ هُوَ بِهٰذَا الْاِعْتِبَارِ مَدْلُوْلُ لَفْظِ الْاِبْتِدَاءِ فَقَطْ فَلَا حَاجَةَ
ددې اجمالاً وتبعاً په غير دحاجت نه ذکر ددې ته اودا په دې اعتبار مدلول دلفظ ابتداء ده فقط پس حاجت نشته
فِيْ الدَّلَالَةِ عَلَيْهِ اِلٰى ضَمِّ كَلِمَةٍ اُخْرٰى اِلَيْهِ لِتَدُلَّ عَلٰى مُتَعَلِّقِهٖ وَ هٰذَا هُوَ الْمُرَادُ بِقَوْلِهِمْ
دلالت ته په دې باندې ضم دکلمې اخرى ته چې دلالت وکړي په متعلق دهغې باندې اوهمدا مراد دي په قول
اَنَّ لِلْاِسْمِ وَ الْفِعْلِ مَعْنًى كَائِناً فِيْ نَفْسِ الْكَلِمَةِ الدَّالَّةِ عَلَيْهِ اِذَا
ددوي چې داسم او فعل دپاره داسې معنى ده چې کائنه ده په نفس دکلمې چې دال وي په همدې معنى کله چې
لَاحَظَهُ الْعَقْلُ مِنْ حَيْثُ هُوَ حَالَةٌ بَيْنَ السَّيْرِ وَ الْبَصْرَةِ مَثَلاً وَ جَعَلَهُ آلَةً
ملاحظه کړي عقل په دې اعتبار سره چې دا يو حالت دي په مينځ دسير اودبصره کې مثلاً وګرځول دهغې آله
لِتَعَرُّفِ حَالَهُمَا كَانَ مَعْنًى غَيْرَ مُسْتَقِلٍّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ وَلَا يُمْكِنُ اَنْ يَّتَعَقَّلَ اِلَّا
دپاره دپيژندلو دحال ددواړووي به معنى غير مستقله بالمفهومية ممکن نه دي چې عقل ته راشي دامعنى مګر
بِذِكْرِ مُتَعَلِّقِهٖ بِخُصُوْصِهٖ وَلَا اَنْ يَّدُلَّ عَلَيْهِ اِلَّا بِضَمِّ كَلِمَةٍ اُخْرٰى دَالَّةٍ
په ذکر دمتعلق دهغې خاصتاً اونه داچې دلالت وکړي په هغې باندې مګر په ضم دکلمې آخرې سره چې دلالت کوي
عَلٰى مُتَعَلِّقِهٖ.
په متعلق دهغې.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافيې د حاصل اومحصول بيان کوي .

اغراض دجامي : وَمحصوله: دا په حقيقت کې د يو سوال جواب دي چې کوم دکاف تشبيه

چې کوم په ذکر شوي مثال الدار في نفسها نه پيدا کيږي

سوال : خلاصه دسوال داده چې داسم په تعريف کې چې کوم في نفسه ذکر دي نو داد في نفسها په شان نه کيږي ځکه چې د اسم په تعريف کې چې کوم في نفسه ددې مقابله في غيره ده، لکه الدار في نفسها حکمها کذا نو لهذا ستاسو داسم په تعريف کې في نفسه د الدار في نفسها حکما کذا سره تشبيه ورکول صحيح نه دي

جواب : د تشبيه نه مقصود دا نه دی. چې مشبه من کل الوجوه د مشبه به په شان وي، بلکې د تشبيه نه مقصود داوي، چې مشبه په وجه د شبهه کې د مشبه به په شان وي، يعنې مشبه په هر اعتبار سره د مشبه به په شان کېدل ضروري نه دي. بلکې صرف په هغه څيز کې د مشبه به په شان ضروري وي، يعنې چې په کوم څيز کې تشبيه ورکولې شي

فالابتداء مثلاً الخ : د دې ځای نه شارح د مدرك بالذات او د مدرك بالتبع مثال بيانولو سره فرق واضح کول غواړي چې خلاصه يې داده چې ابتداء يوه معنى ده چې کله عقل د دې لحاظ وکړي نو قصداً و بالذات په غير د خيال کولو نه د مامنه الابتداء نه يعنې په خپله دې لره پېژندل مقصود وي نو په دې صورت کې به دا مدلول جوړ شي د لفظ ابتداء. چې کوم مصدر دی د باب افعال نه چې د هغې معنى د تشريح کړل او په دې صورت کې مدرك بالذات به شي معنى اسمي به يې شي چې مستقل بالمفهوميت به وي او د محکوم عليه او محکوم به صلاحيت به لري . او چې کله عقل ددې لحاظ وساتي بالتبع يعنې دې لره آله جوړه کړي، بصره او د سير د احوال د پېژندلو د پاره دا خو به معنى دار شي . او د لفظ من مدلول به شي غير مستقل بالمهفوميت به وي او د محکوم عليه او محکوم به د جوړېدو صلاحيت به نه لري

ولزمه تعقل متعلقاته اجمالاً : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : چې کله عقل د ابتداء لحاظ وساتي قصداً يا بالذات نو په دې وخت کې به هم دا يو نسبت وي، چې ددې لپاره به د منسوب او منسوب اليه خيال کول او پېژندل ضروري وي. نو دا ابتداء چې کله د لفظ ابتداء مقصدر د باب افتعال مدلول جوړ شي نو هله به د منسوب او منسوب اليه خيال کول او ذکر کول ضروري وي نو دا محتاج شو نو بيا مستقل بالمفهوميت څنګه شو او معنى اسمي څنګه شوه بيا خو دا معنى حرفي جوړه شوه

جواب: چې کله ابتداء د باب افتعال د مصدر مدلول جوړيږي. او عقل ددې قصداً او بالذات لحاظ کوي نو په دې وخت کې ددې متعلقات د منسوب او منسوب اليه تصور او تعقل اجمالاً کافي وي په تفصيل سره ددې ذکر کولو ته ضرورت نه وي په خلاف د هغه ابتداء چې د لفظ من معنى او مدلول جوړيږي، او عقل ددې بالتبع لحاظ کوي.

وَ الْحَاصِلُ اَنَّ لَفْظَ الْاِبْتِدَاءِ مَوْضُوْعٌ لِمَعْنًى كُلِّيٍّ وَ لَفْظَةُ مِنْ مَوْضُوْعَةٌ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْ
اونتيجه دبحث داده چې لفظ دابتداء وضع شوې دپاره دمعنى کلي اودا يولفظ دي چې وضع شوې دهريو
جُزْئِيَّاتِهِ الْمَخْصُوْصَةِ الْمُتَعَلِّقَةِ مِنْ حَيْثُ اَنَّهَا حَالَاتٌ لِمُتَعَلِّقَاتٍ اَوْ آلَاتٌ لِتَعَرُّفِ
جزئياتو مخصوصو متعلقو دپاره په داسې شان چې داحالات دي دخپلو متعلقاتو دپاره اوآلات دي دپاره دپيژندلو
اَحْوَالِهَا اَوْ ذٰلِكَ الْمَعْنَى الْكُلِّيِّ يُمْكِنُ اَنْ يَتَعَقَّلَ قَصْدٌ اَوْ يُلَاحِظُهُ فِيْ ذَاتِهِ
داحوالو دهغې اودامعنى کلي ممکنه ده چې معلومه شي قصداًاوملحوظه شي په تعريف دذات خپل کې پس
فَيَسْتَقِلُّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ وَ يَصْلُحُ اَنْ يَكُوْنَ مَحْكُوْماً عَلَيْهِ وَ بِهِ وَ اَمَّا تِلْكَ
مستقله به شي په اعتبار دمفهوميت سره اوصالحه به وي چې شي محکوم عليه اومحکوم به اوهرچې دا
الْجُزْئِيَّاتُ فَلَا تَسْتَقِلُّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ وَ لَا تَصْلُحُ اَنْ تَكُوْنَ مَحْكُوْماً عَلَيْهَا وَ بِهَا
جزئيات دي مستقل نه دي په اعتبار دمفهوميت سره اوصالح نه دي چې محکوم عليه اومحکوم به وګرځي
اِذْ لَا بُدَّ فِيْ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا اَنْ يَكُوْنَ مَلْحُوْظاً قَصْداً لِيُمْكِنَ اَنْ يَعْتَبَرَ النِّسْبَةُ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ
ځکه چې ضروري ده په هريو ددې کې چې ملحوظ شي قصداًددې دپاره چې معتبرشي نسبت په مينځ ددې اود
غَيْرِهِ بَلْ تِلْكَ الْجُزْئِيَّاتُ لَا تَتَعَقَّلُ اِلَّا بِذِكْرِ مُتَعَلِّقَاتِهَا لِتَكُوْنَ آلَاتٍ لِلْمُلَاحِظَةِ
غير کې بلکې دغه جزئيات نه معلوميږي مګرپه ذکر دمتعلقاتوسره ددې دپاره چې آلات دپاره ملحوظولو د
اَحْوَالِهَا وَ هٰذَا هُوَ الْمُرَادُ بِقَوْلِهِمْ اَنَّ الْحَرْفَ كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ غَيْرِهَا وَ اِذَا
احوالو دهغې اوهمدغه مراددي په قول ددوي سره چې حرف کلمه ده چې دلالت کوي په معنى په غير کې هرکله
عَرَفْتَ هٰذَا عَلِمْتَ اَنَّ الْمُرَادَ بِكَيْنُوْنَةِ الْمَعْنَى فِيْ نَفْسِهِ اِسْتِقْلَالُهُ
چې دې دا وپيژندل نو پوه شه چې مراد په کيدلو د معنى په خپل ذات کې استقلال ددې معنى په اعتبار د
بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ وَ بِكَيْنُوْنَةِ الْمَعْنَى فِيْ نَفْسِ الْكَلِمَةِ دَلَالَتِهَا عَلَيْهِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ اِلٰى ضَمِّ كَلِمَةٍ
مفهوميت سره اوپه کيدلو دمعنى په نفس دکلمه کې دلالت دمعنى په دې باندې په غير دحاجت نه ضم دکلمې
اُخْرٰى اِلَيْهَا لِاِسْتِقْلَالِهِ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ فَمَرْجِعُ كَيْنُوْنَةِ الْمَعْنَى فِيْ نَفْسِهِ
اخرى ته ځکه چې استقلال دکلمې په اعتبار دمفهوميت سره پس مرجع دکيدلو دمعنى په نفس دمعنى کې او
وَ كَيْنُوْنَتِهِ فِيْ نَفْسِ الْكَلِمَةِ الدَّالَّةِ عَلَيْهِ اِلٰى اَمْرٍ وَّاحِدٍ وَ هُوَ اِسْتِقْلَالُهُ
کيدلو ددې معنى په نفس د کلمې کې چې دلالت کوي په دې باندې امر واحد ته هغه استقلال ددې معنى

بِـالْـمَـفْهُوْمِيَّةِ.

بالمنفهومية دي

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافیې دحاصل بیان کوي

اغراض دجامي : <u>لفظ الابتداء</u>: په دې عبارت سره شارح ددوه سوالونو جواب ورکوي:

اول سوال : چې ابتداء خو يو څيز دى هغه مستقل هم جوړېږي، او غير مستقل هم حال دا دى. چې مستقل او غير مستقل خو د يو بـل منـافي دي دا دواړه پـه يـو څيز كې نـه شي جمع كېداى يعنې يو څيز مستقل او غير مستقل دواړه نه شي جوړېداى

دوهم سوال : داچې كله ابتداء معنى مستقل بالمفهوميت دى نو بيا لفظ من لره هم مستقل كيدل په كار دي، ځكه چې د هغې معنى هم ابتداء ده.

جواب : شارح ددې سوالونو يو مشتركه جواب وركوي، چې استقلال او عـدم استقلال پـه دوه جهتنو سره دى لفظ د ابتداء چې كله د باب افتعال نه مصدر وي د دې وضع يـو معنـى كلي پـه مقابلې كې د مطلق شروع كول د كوم مكان نه چې وي او كـوم فعـل لـره چې شـروع كـوي گويا چې د لفظ ابتداء وضع د مطلق شروع پـه مقابلـه كې ده، چې يـوه معنـى كلي ده (يعنـې مطلق شروع كول).

او ددې معنـى كلي چې كـوم جزئيـات دي د سير ابتـداء كـول د بـصره وغيـره نـه ابتـدا كـول د خوراك ابتداء كول ددې جزئياتو په مقابل كې لفظ من لره يې وضـع كـړې دى نـو پـه اول جهت سره استقلال دى او د دويـم جهت پـه اعتبـار سـره عـدم استقلال دى نـو كلـه چې اعتبـارات او جهتونه بدل شو نو د تناقض او منافات والا سوال لازم رانغلو.

<u>واذا عرفت هذا علمت ان المراد</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال : چې كله د ه ضمير مرجع معنىً جوړ كړه، نو په اجمال او تفصيل كې مخالفت لازم راځي ځكه چې په اجمال كې يې د ضمير مرجع الكلمة جوړ كړې او دلته ته معنىً جوړوي.

جواب : د جواب خلاصه داده، چې دا صرف لفظي مخالفت دى پـه حقيقت كې هـيڅ مخالفت نشته دى د دواړو حال يو دى، ځكه چې كله د ضمير مرجع كلمې لـره جـوړ كـړې، نـو مفهـوم بـه يې شي كينونة المعنى في نفس الكلمة، ددې مطلب هم دا دى. چې هغه معنى مستقل بالمفهوميت وي او چې كله د ه ضمير مرجع معنىً لره جوړ كـړې نـو مفهـوم بـه يې شي كينونـة المعـنى في المعنى

ددې مطلب هم دا دی. چې هغه معنی مستقل بالمفهوميت وي بهر حال د دواړو حال دا دی، چې هغه معنی مستقل بالمفهوميت وي لهذا په اجمال او تفصيل کې هيڅ مخالفت نشته دی.

فَفِيْ هٰذَا الْكِتَابِ الضَّمِيْرُ الْمَجْرُوْرُ فِيْ نَفْسِهٖ يَحْتَمِلُ اَنْ يَّرْجِعَ اِلٰى مَا الْمَوْصُوْلَةُ الَّتِيْ هِيَ عِبَارَةٌ عَنِ
پس په دې کتاب کې ضمير مجرور په في نفسه کې احتمال لري چې راجع شي ماموصولې ته چې عبارت دي د
الْكَلِمَةِ وَ هٰذَا هُوَ الظَّاهِرُ لِيَكُوْنَ عَلٰى طَبْقِ مَا سَبَقَ فِيْ وَجْهِ الْحَصْرِ مِنْ كَيْنُوْنَةِ الْمَعْنٰى فِيْ نَفْسِ وَ
کلمې نه او دا ظاهري ده چې شي موافق د ماسبق سره په وجه د حصر کې د کيدلو د معنی نه په نفس د کلمې کې او
يَحْتَمِلُ اَنْ يَّرْجِعَ اِلَى الْمَعْنٰى وَ لِذَا ذِكْرُ الضَّمِيْرِ تَنْبِيْهاً عَلٰى صِحَّةِ اِرَادَةِ
احتمال لري چې راجع شي معنی ته او ددې وجې نه ذکر کړو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ تنبيه په صحت د مراد کولو د
كِلَا الْمَعْنَيَيْنِ وَ لٰكِنْ عِبَارَةُ الْمُفَصَّلِ ظَاهِرَةٌ فِي الْمَعْنَى الْاٰخِيْرِ وَ هُوَ اِرْجَاعُ الضَّمِيْرِ اِلَى الْمَعْنٰى
دواړو معنو ليکن عبارت د مفصل ظاهر دي په آخره معنی کې چې هغه راجع کيدل د ضمير دي معنی ته دوجې د
لِعَدَمِ مَسْبُوْقِيَّتِهَا بِمَا يَدُلُّ عَلٰى اِعْتِبَارِ كَيْنُوْنَةِ الْمَعْنٰى فِيْ نَفْسِ الْكَلِمَةِ وَ لِهٰذَا اَجْزَمَ
عدم مسبوقيت د معنی نه چې دلالت کوي په اعتبار د کيدلو د معنی په نفس د کلمې کې ددې وجې نه يقيني
الْمُصَنِّفُ رَحِمَهُ اللّٰهُ هُنَاكَ بِرُجُوْعِهٖ اِلَى الْمَعْنٰى وَ بِمَا سَبَقَ مِنَ التَّحْقِيْقِ فَظَهَرَ اَنَّهٗ
کړو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دلته په راجع کولو ددې ضمير معنی ته او هغه چې تير شو د تحقيق نه پس ښکاره شوه چې
لَا يَخْتَلُّ حَدُّ الْاِسْمِ جَمْعاً وَلَا حَدُّ الْحَرْفِ مَنْعاً بِالْاَسْمَاءِ
نه ګډوډيږي تعريف د اسم په اعتبار د جمعيت سره او نه تعريف د حرف په اعتبار د معنويت سره په هغه اسماو چې
اللَّازِمَةِ الْاِضَافَةِ مِثْلُ ذُوْ وَ فَوْقٍ وَ تَحتٍ وَ قُدَّامٍ وَ خَلْفٍ اِلٰى غَيْرِ ذٰلِكَ لِاَنَّ مَعَانِيَهَا مَفْهُوْمَاتٌ كُلِّيَّةٌ مُسْتَقِلَّةٌ
لازم دي اضافت لره لکه ذو، فوق، تحت، قدام او خلف وغيره ځکه چې معنی ددې مفهومات کليه دي چې مستقل
بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ مَلْحُوْظَةٌ فِيْ حَدِّ ذَاتِهَا لَزِمَهَا تَعَقُّلُ مُتَعَلِّقَاتِهَا اِجْمَالاً
دي په اعتبار د مفهوم سره ملحوظ دي په تعريف د ذات ددې کې پس لازم شو تعقل د متعلقاتو د هغې لره اجمالاً
وَ تَبَعاً مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ اِلٰى ذِكْرِهَا لٰكِنْ لِمَا جَرَتِ الْعَادَةُ بِاِسْتِعْمَالِهَا فِيْ
او تبعاً په غير د حاجت نه ذکر کولو د هغې ته ليکن کله چې جاري وو عادت په استعمالولو د هغې په خپلو
مَفْهُوْمَاتِهَا مُضَافَةً اِلٰى مُتَعَلِّقَاتٍ مَخْصُوْصَةٍ لِاَنَّهَا اَلْغَرَضُ مِنْ وَضْعِهَا لَزِمَ ذِكْرُهَا لِفَهْمِ
مفهوماتو کې چې مضاف وي متعلقات مخصوصو ته ځکه چې غرض د وضع د هغې نه لازموي ذکر د هغې په فهم
هٰذِهِ الْخُصُوْصِيَّاتِ لَا لِاَجْلِ فَهْمِ اَصْلِ الْمَعْنٰى فِيْ دَالَّةٌ عَلٰى مَعَانِيْهَا مُعْتَبَرَةٌ فِيْ حَدِّ
دد غو خصوصياتو بانديې نه دوجې د فهم د اصلي معنی پس دا دلالت کوي په معانيو خپلو چې معتبروي په تعريف
نَفْسِهَا لَا فِيْ غَيْرِهَا فِيْ دَاخِلَةٍ فِيْ حَدِّ الْاِسْمِ لَا فِي الْحَرْفِ.
د ذات د هغوي کې نه په بل کې پس دا داخل دي په تعريف د اسم کې نه په حرف کې

اغراض دجامي : وبما سبق من التحقيق ظهر انه : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکړي

سوال : تعريف داسم دې جامع نه دی او د حرف تعريف دی مانع نه دی. ځکه چې اسماء لازم الاضافة اسم دی خو په دې باندې د حرف تعريف صادق راځي، ځکه چې ددې معنی د مضاف اليه نه په غير په ذهن کې نه راځي، لکه فوق چې ترڅو پورې فوق السطح وغيره ونه وايې نو پته نه لږي چې ددې څه مطلب اومقصد دی.

جواب : چې د اسماء لازم الاضافة وضع هم په اصل کې ديو مفهوم کلي په مقابله کې دی او هغه مفهوم کلي مستقل بالمفهوميت دی او ددې د متعلقاتو تعلق اجمالاً کافي وي د ذکر کولو ضرورت نه وي لکه دلغت کتاب ويونکي استاذ طالبانو ته وايي چې د فوق معنی ده پورته اود تحتَ معنی ده لاندې د قدام معنی ده مخکې نو په دې ټولو مفهومات کليو باندې ددې دلالت مستقل وي د طالبانو په ذهن کې د متعلقاتو اود مضاف اليه تصور اجمالاً راځي.

بيا په دې باندې اعتراض کيږي چې کله ددې دلالت په مفهومات کليو باندې مستقل دې نو بيا دې ته اضافت ولې لازم دي.

جواب : ددې جواب دادې چې داصلِ وضع په اعتبار سره خو د مضاف اليه ضرورت نشته مګر په اعتبار داستعمال سره ده ته اضافت لازم وي چې عرب په خپلو محاوراتو کې چې کله دا استعمالوي نو داستعمال نه په غير يې نه استعمالوي ځکه چې مضاف اليه نه په غير ددې څه خاص معنی نه معلوميږي.

نو خلاصه دجواب داشوه چې داصلِ وضع په اعتبارسره دې ته دمضاف اليه ضرورت نه وي.

وَ لَمَّا كَانَ الْفِعْلُ دَالاً عَلَى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهٖ بِاِعْتِبَارِ مَعْنَاهُ التَّضَمُّنِيِّ اَعْنِيْ اَلْحَدَثُ وَ كَانَ ذٰلِكَ
او هر کله چې وو فعل چې دلالت يې کول په معنی خپله په اعتبار د معنی تضمني سره يعني حدوث او وي دغه
الْمَعْنٰى مُقْتَرِنًا مَعَ اَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ فِي الْفَهْمِ عَنْ لَفْظِ الْفِعْلِ اَخْرَجَهٗ بِقَوْلِهٖ غَيْرَ مُقْتَرِنٍ
معنی مقترنه تر يو دازمنو ثلاثو پورې په فهم کې د لفظ د فعل نه خارج يې کړو په قول د مصنف چې غير مقترن
بِاَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ اَیْ غَيْرَ مُقْتَرِنٍ مَعَ اَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ فِي الْفَهْمِ عَنْ لَفْظِهِ الدَّالِّ عَلَيْهِ
باحد الازمنة الثلاثة يعني غيرمقترن به وي سره ددريوزمانويه فهم کې دهغه لفظ نه چې دال وي په هغې باندې
فَهُوَ صِفَةٌ بَعْدَ صِفَةٍ لِلْمَعْنٰى فَبِالصِّفَةِ الْاُوْلٰى اَخْرَجَ الْحَرْفُ عَنْ حَدِّ الْاِسْمِ وَ
پس دا صفت شودپاره دمعنی وروستودبل صفت نه پس په اول صفت سره خارج شو حرف د تعريف داسم نه او په

بِالثَّانِيَةِ الْفِعْلُ وَ الْمُرَادُ بِعَدَمِ الْاِقْتِرَانِ اَنْ يَّكُوْنَ بِحَسْبِ الْوَضْعِ الْاَوَّلِ فَدَخَلَ فِيْهِ
دوهم صفت سره خارج شوفعل مراد په عدم اقتران چې وي به په اعتبار داولې وضعې پس داخل شو په دې کې
اَسْمَاءُ الْاَفْعَالِ لِاَنَّ جَمِيْعَهَا اِمَّا مَنْقُوْلَةٌ عَنِ الْمَصَادِرِ الْاَصْلِيَّةِ سَوَاءٌ كَانَ النَّقْلُ فِيْهَا صَرِيْحاً نَحْو
اسماءافعال خکه چې داتول يا منقول دي دمصادرواصليونه برابره خبره ده چې وي نقل په هغې کې صريح لکه
رُوَيْدَ فَاِنَّهُ قَدْ يَسْتَعْمِلُ مَصْدَراً اَيْضاً اَوْ غَيْرَ صَرِيْحٍ نَحْوَ هَيْهَاتَ فَاِنَّهُ وَ اِنْ لَمْ يَسْتَعْمِلْ مَصْدَراً اِلاَّ اَنَّهُ
رويدخکه چې دامستعمليږي مصدرهم ياغيرصريح لکه هيهات خکه چې اگرکه مستعمل نه شي مصدرمگردا
عَلٰى وَزْنِ قَوْقَاةٍ مَصْدَرُ قَوْقِيْ اَوْ عَنِ الْمَصَادِرِ الَّتِيْ كَانَتْ فِي الْاَصْلِ اَصْوَاتًا نَحْوَ صَهْ اَوْ عَنِ الظَّرْفِ
په وزن دقوقاة چې مصدر دقوقي دي اويادهغه مصادرونه وي چې هغه په اصل کې اصوات دي لکه صه اويادظرف
اَوِ الْجَارِ وَ الْمَجْرُوْرِ نَحْوُ اَمَامَكَ زَيْداً وَ عَلَيْكَ زَيْداً فَلَيْسَ لِشَيْءٍ مِّنْهَا الدَّلَالَةُ عَلٰى اَحَدِ
نه وي اويادجاراومجرور نه وي لکه امامک زيدا وعليک زيدا پس نشته ددې څيز دپاره ددغو الفاظو دلالت په يو
الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ بِحَسْبِ الْوَضْعِ الْاَوَّلِ.
دازمنو ثلاثو په اعتبار دوضع اولې سره

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره غرض شارح داسم په تعريف باندې سوالات وراد شوې نو داد هغه سوالونو جواب ورکوي .

اغراض د جامي : ولماكان الفعل دالاً: په دې عبارت سره غرض د شارح په تعريف داسم باندې يو سوال ذکر کوي :

سوال : داسم په تعريف کې مادل على معنى في نفسه کې دمعنى نه مراد ستا څه څيزدې مطابقي، تضمني اوکه التزامي که چيرته مطابقي ترې نه مراد اخلې نو بيا د معنى في نفسه دقيدنه ځنگه چې حرف خارجيږي داسم دتعريف نه همدارنگې فعل هم خارجيږي ځکه چې دمعنى في نفسه نه مراد معنى مستقل وي اودفعل مطابقي معنى غير مستقل وي ځکه چې فعل نوم دې ددرې څيزنو دمجموعې چې هغه درې شيان : زمانه ،نسبت الى الفاعل او معنى مصدري په دې کې نسبت غير مستقل دي اوکوم څيزچې دمستقل اوغيرمستقل نه مرکب وي هغه هم غيرمستقل وي نوثابتيږي داخبره چې دفعل مطابقي معنى غيرمستقل ده نو دمعنى في نفسه دقيدنه ځنگه چې حرف خارجيږي نو همدارنگې فعل ترې هم خارج شو نو بيا خو غير مقترن باحدالازمنة الثلاثة خو مستدرک شو اوس که چيرته ،ته دمعنى نه مراد تضمني اخلې نو اسماء بسيطه داسم دتعريف نه خارجيږيَ ځکه چې دهغې جزنه وي نو معنى تضمني به دکوم ځاى نه وي لکه

وي اوکه عام مراداخلي نو هغه هم دخاص په ضمن کې موجودوي

جواب: شارح په ولماکان الفعل دالا سره ددې سوال جواب ورکړو چې داسم په تعریف کې چې کومه معنی ده ددې نه مرادعام دي که مطابقي وي اوکه تضمني نه التزامي یعنې دالتزامي نه غیر باقي دواړو کې په نسبت سره دې کې عموم دي اوس په دې کې اسماء بسیطه داخلیږي خکه چې ددې معنی مطابقي وي اوفعل ددې قید نه نه خارجیږي خکه چې اګرکه دفعل معنی مطابقي غیرمستقل وي خودفعل معنی تضمني یعنې معنی مصدري مستقل وي نوددې قید نه ،نه خارجیږي نو غیرمقترن باحد الازمنة الثلاثة قید ددې دخارجولو دپاره ولړولو نو هغه قید مستدرک اوبې فائدې نه دي.

<u>لما فرغ</u>: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: چې دتعریف تتمه تقسیمیږي مصنف رَحِمَہُاللّٰہُ دتعریف نه پس اودتقسیم نه مخکې د خواصوبیان ولې شروع کړودتعریف اودتقسیم په مینځ کې فاصله راوړل په اجنبي سره صحیح نه دي

جواب: دخواصو بیان هم دتعریف تتمه وي دتقسیم په شان خکه چې ددې نه هم دمعرف دمعرفت فائده حاصلیږي نو فاصله داجنبي لازمه رانغله وجه ددې داده چې مثلاً چې داسم دپاره چې کوم دوه وجوده دي یو وجودذهني اودوهم وجودخارجي دوجودذهني معرفت دتعریف نه حاصلیږي اودوجود خارجي معرفت دخواصو دمعرفت نه حاصلیږي.

وَ خَرَجَ عَنْهُ الْاَفْعَالُ الْمُنْسَلِخَةُ عَنِ الزَّمَانِ نَحْوُ عَسَى وَ كَادَ لِاِقْتِرَانِ مَعَانِيْهَا بِهٖ بِحَسْبِ اَصْلِ
اوخارج شوددې نه افعال منسلخه عن الزمان لکه عسی وکاددوجې داقتران دمعانیودهغې نه په اعتبارداصل
الْوَضْعِ وَ خَرَجَ عَنْهُ الْمُضَارِعُ اَيْضاً فَاِنَّهٗ عَلٰى تَقْدِيْرِ اشْتِرَاكِهٖ بَيْنَ الْحَالِ وَ الْاِسْتِقْبَالِ يَدُلُّ
وضعې سره اوخارج شوددې نه مضارع هم خکه چې په تقدیرداشتراک ددې په مینځ دحال اواستقبال کې دلالت
عَلٰى زَمَانَيْنِ مُعَيَّنَيْنِ مِنَ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ فَيَدُلُّ عَلٰى وَاحِدٍ مُعَيَّنٍ اَيْضاً فِيْ ضِمْنِهِمَا اِذْ
کوي په دووزمانومعینوباندې دیوددریوزمانونه پس دلالت کوي په یوې معنی هم په ضمن ددوو کې خکه چې
لَا يَقْدَحُ فِي الدَّلَالَةِ عَلٰى اَحَدٍ مُعَيَّنٍ اَلدَّلَالَةُ عَلٰى مَا سِوَاهُ نَعَمْ يَقْدَحُ فِيْ اِرَادَةِ الْمُعَيَّنِ اِرَادَةُ مَا سِوَاهُ
بعیده نه ده په دلالت کې په یو معین باندې دلالت په نورو هغو بعیده ده په ارادې د معینې سره اراده د ماسوی
وَ اَيْنَ الدَّلَالَةُ مِنَ الْاِرَادَةِ.
اوچیرته دي دلالت دارادې نه

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح دقيوداتو فوائد بيانوي

اغراض دجامي : وخرج عن المضارع : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : ستا تعريف داسم مانع نه دي ددخول دغير نه ځکه چې فعل مضارع ستا په تعريف کې داخليږي ځکه چې تاوويل چې داسم معنى ددريو زمانو نه يوې زمانې پورې مقترنه نه وي اوفعل مضارع معنى هم ديوې زمانې پورې مقترنه نه وي بلکې ددوو پورې مقترنه وي

جواب : په فعل مضارع کې دري (۳) مذاهب دي

(۱) په حال کې حقيقت ،په استقبال کې مجاز . (۲) په حال کې مجاز ، په استقبال کې حقيقت، (۳) په حال او استقبال دواړو کې شريک وي نو په اولنې دوو باندې خو سوال نه واردیږي ليکن که چيرته دريم مذهب واخستل شي داشتراک والانو ددې جواب بيا دادې چې فعل مضارع کوم چې په دوه زمانوباندې دلالت کوي نوددې په ضمن کې په يو باندې هم دلالت کوي اوديوسره مقترن هم وي نو داسم تعريف نه به فعل مضارع خارجه شي .

اذلا يقدح: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : تا وويل چې فعل مضارع په دواړو زمانو باندې دلالت کوي نو چې کله په دواړو زمانو باندې دلالت کوي نو لازميږي عموم الاشتراک او عموم الاشتراک خو جائز نه دي .

جواب : دلته دوه شيان دي تاسو ته دالتباس دوجې نه غلط فهمي شوې يو ځيزدي دلالت دادلفظ صفت دي چې معنى يې ده معنى دلفظ نه په ذهن کې راتلل او دې ته دلالت وايي په دې کې عموم اشتراک جائز وي لکه لفظ دعين په ډيرو معنو باندې دلالت کوي .

خواص داسم :

وَ لَمَّا فَرَغَ مِنْ بَيَانِ حَدِّ الْإِسْمِ أَرَادَ أَنْ يَّذْكُرَ بَعْضَ خَوَاصِّهِ
کله چې فارغ شو مصنف دبيان دتعريف داسم نه نو اراده يې وکړه چې ذکر کړي بعضې خواص داسم ددې دپاره
لِيَزِيْدَ زِيَادَةَ مَعْرِفَتِهِ بِهِ فَقَالَ وَ مِنْ خَوَاصِّهِ مُنَبِّهاً بِصِيغَةِ جَمْعِ الْكَثْرَةِ عَلٰى
چې فائده ورکړي دډيرتعريف نووي ويل اودخواصوداسم نه تنبيه ورکړه مصنف په صيغې دجمع کثرتې سره په
كَثْرَتِهَا وَ بِمِنْ التَّبْعِيْضِيَّةِ عَلٰى أَنَّ مَا ذَكَرَهُ بَعْضٌ مِنْهَا وَ هِيَ جَمْعُ خَاصَّةٍ
کثرت دخواصوداسم باندې اوپه مِن تبعيضيه سره هغه چې ذکر کړي دي بعضې دهغې نه اوداجمع دخاصة ده
وَ خَاصَّةُ الشَّيْءِ مَا يَخْتَصُّ بِهِ وَلَا يُوْجَدُ فِيْ غَيْرِهِ وَ هِيَ إِمَّا شَامِلَةٌ لِجَمِيْعِ أَفْرَادِ
اوخاصه دځيزهغه ده چې خاص وي ددې پورې او نه موجوديږي په غيرددې کې اودابه ياشامله وي ټولو افرادو

مَا هِيَ خَاصَّةٌ لَهُ كَالْكَاتِبِ بِالْقُوَّةِ لِلْإِنْسَانِ اَوْ غَيْرُ شَامِلَةٍ كَالْكَاتِبِ بِالْفِعْلِ لَهُ.
خاصو لره لکه کتابت بالقوة انسان ته اويابه غيرشامل وي لکه کتابت بالفعل انسان ته

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې خواص داسم بيانوي

اغراض د جامي: منبها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي.

سوال: مصنف خو صرف پنځه خاصې ذکر کړي دي اوصيغه دجمع يې دکثرت دپاره راوړه حال دادې چې ددې مناسب خودجمع قلت صيغه وه نه د جمع کثرت

جواب: دجمع کثرت صيغه يې راوړه د في نفسه کثرت طرف ته يې اشاره وکړه چې په نفس الامر کې داسم خواص ډير دي اومن تبعيضيه يې راوړه اواشاره يې وکړه چې په دې کې به صرف بعضو لره ذکر کومه اوبعضو لره ددې دپاره بيان کړل چې مقصود وه وضاحت دتعريف او هغه ددې نه پوره کيدو اودې پنځو لره يې ددې دپاره بيان کړل چې دا زيات مشهور دي.

وهي جمع خاصة: ددې ځای نه شارح دخاصې تحقيق کوي چې خواص جمع د خاصې ده اود خاصې تعريف دي مايختص بالشئ ولايوجد في غيره چې خاص وي تر يو ځيز پورې اونه موندل کيږي په غيرددې کې ، اوس په دې باندې يو سوال راځي:

سوال: چې دخاصې په تعريف کې ولايوجد في غيره قيد زائد دي ځکه چې داقيد د مايختص بالشئ نه په ذهن کراځي اختصاص بالشئ خو هله کيږي چې کله ددې په غير کې ونه موندلې شي نودوباره ددې دذکرکولو څه ضرورت وو ؟.

جواب: دادقبيلې د تصريح بما علم ضمناً نه دي ياموږ وايو چې په مايختص کې دننه چې کوم اختصاص دي دهغې دوه جزونه دي جزايجابي مايوجد فيه اوجز سلبي ولايوجد في غيره نوموږ په اختصاص کې د جزء سلبي تجريد کوو او مايختص بالشئ معنى به شي مايوجد فيه فقط.

وهي اما شاملة: په دې عبارت سره شارح دخاصې تقسيم کوي چې دخاصې دوه قسمه دي: شامله اوغيرشامله: شامله هغې ته وايي چې دمختص به په ټولوافرادوکې موندلې شي لکه کاتب بالقوة دانسان دپاره خاصله شامله ده ، اوغير شامله هغې ته وايي چې دمختص به په ټولو افرادوکې موندلې کيږي نه بلکې په بعضوکې موندلې شي اوپه بعضو کې نه شي موندلې لکه کاتب بالفعل دانسان دپاره خاصه غيرشامله ده.

دخول د لام :

فَمِنْ خَوَاصِّ الْاِسْمِ دُخُوْلُ اللَّامِ اَيْ لَامِ التَّعْرِيْفِ وَ لَوْ قَالَ دُخُوْلُ حَرْفِ التَّعْرِيْفِ لَكَانَ شَامِلًا
پس د خواصو د اسم نه دخول د لام دي يعني لام د تعريف که چيرته ويلې وې مصنف حرف التعريف نو دا به شامل
لِلْمِيْمِ فِيْ مِثْلِ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام لَيْسَ مِنَ امْبِرِّ امْصِيَامُ فِيْ امْسَفَرِ لٰكِنَّهُ لَمْ يَتَعَرَّضْ لَهُ
وې ميم ته هم په مثل د قول د نبي عليه السلام کې ليس من امبر امصيام في امسفر ليکن تعارض ونه کړو هغې ته د
لِعَدَمِ شُهْرَتِهِ وَ فِيْ اخْتِيَارِهِ اَللَّامُ اِشَارَةٌ اِلٰى اَنَّ الْمُخْتَارَ عِنْدَهُ مَا
وجې د نه شهرت د هغې نه او په اختيار د مصنف کې لام ته اشاره ده چې مختار د ده په نزد باندې هغه دي چې
ذَهَبَ اِلَيْهِ سِيْبَوَيْهِ مِنْ اَنَّ اَدَاةَ التَّعْرِيْفِ هِيَ اللَّامُ وَ وَحْدَهَا زِيْدَتْ عَلَيْهَا هَمْزَةُ الْوَصْلِ
ذهاب کړې دي هغې ته سيبويه چې حروف د تعريف هغه لام دي يواخې اضافه کړې په هغې باندې همزه د وصل
لِتَعَذُّرِ الْاِبْتِدَاءِ بِالسَّاكِنِ وَ اَمَّا الْخَلِيْلُ فَقَدْ ذَهَبَ اِلٰى اَنَّهَا اَلْ كَهَلْ وَ الْمُبَرِّدُ
دوجې د عدم ابتداء په ساکن سره او هرچې خليل دي نو ذهاب يې کړې دې ته چې ال په شان د هل دي او مبرد
اِلٰى اَنَّهَا الْهَمْزَةُ الْمَفْتُوْحَةُ وَ حْدُهَا زِيْدَتِ اللَّامُ لِلْفَرْقِ بَيْنَهَا
ذهاب کړې چې همزه مفتوحه خان ته آله د تعريف ده اضافه کړې دي په هغې باندې لام د پاره د فرق په مينځ
وَ بَيْنَ هَمْزَةِ الْاِسْتِفْهَامِ وَ اِنَّمَا اخْتُصَّ دُخُوْلُ حَرْفِ التَّعْرِيْفَ بِالْاِسْمِ لِاَنَّهُ لِتَعْيِيْنِ
د دې او په مينځ د همزه د استفهام کې او خاص شو دخول د حرف تعريف په اسم خکه چې دا د پاره د معلومولو د
مَعْنًى مُسْتَقِلٍّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ يَدُلُّ عَلَيْهِ اللَّفْظُ مُطَابَقَةً وَ الْحَرْفُ لَا يَدُلُّ
معنى مستقل بالمفهومية دي چې دلالت کوي په دې باندې لفظ مطابقتاً حرف هغه دي چې دلالت نه کوي په
عَلَى الْمَعْنَى الْمُسْتَقِلِّ وَ الْفِعْلُ يَدُلُّ عَلَيْهِ تَضَمُّناً لَا مُطَابَقَةً وَ هٰذِهِ الْخَاصَّةُ لَيْسَتْ شَامِلَةً
معنى مستقله او فعل هغه دي چې دلالت کوي په دې معنى باندې تضمني نه مطابقتي او دا خاصيت شامل نه
لِجَمِيْعِ اَفْرَادِ الْاِسْمِ فَاِنَّ حَرْفَ التَّعْرِيْفِ لَا يَدْخُلُ الضَّمَائِرُ وَ اَسْمَاءُ الْاِشَارَةِ وَ غَيْرِهَا
دې ټولو افرادو د اسم ته خکه چې حرف تعريفي نه داخليږي په ضمائرو اسماء اشارات او په غير د دې نه لکه
كَالْمَوْصُوْلَاتِ وَ كَذٰلِكَ سَائِرُ الْخَوَاصِّ الْخَمْسِ الْمَذْكُوْرَةِ هٰهُنَا .
موصولات او همدا رنګې ټول خواص خمسه مذکوره دلته .

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې په خواصو د اسم کې د اول خاصيت يعني دخول د لام تفصيل بيانوي .

اغراض د جامي : اى دخول لام التعريف : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال : نا وویل چې دخول دلام خاصه داسم ده زه به تاته وښایم چې الف خو په فعل باندې هم داخلیږي لکه لیضرب .

جواب : زمونږ دلام نه مراد لام تعریفي دي ځکه چې په دخول اللام باندې چې کوم الف لام داخل دي داعوض دي دمضاف الیه داپه اصل کې وو دخول لام التعریف .

ولو قال حرف التعریف : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي :

سوال : چې لام دتعریف دې نو همدارنګه میم هم دتعریف وي لکه څنګه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دي : لیس من امبر امصیام في امسفر کې نو ماتن لره په کار وو چې حرف التعریف یې ویلې وي ددې دپاره چې میم تعریف ته هم خاصه شامله شوې وي .

جواب : میم لره یې دعدم شهرت دوجې نه پریخودو یاداچې میم بدل دي دلام نه اواصل په تعریف کې لام دي نو چې کله یې اصل لره ذکر کړو نو فرع هم ددې په ضمن کې ذکر شو .

وفي اختیاره : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي :

سوال : عام نحویان دخول الالف واللام وایي نو ده دهغوي مخالفت ولې وکړو اوصرف دخول اللام یې ولې وویلو ؟

جواب : په لام تعریف کې درې مذاهب دي چې په الف لام کې کوم یو تعریف دي اولنۍ مذهب دسیبویه دي دسیبویه په نزد حرف لام دتعریف دي نواوس په هغې باندې ضمه ثقیله وه چې فتحه یې وویله نو دلام ابتدائیه تاکیدیه سره یې اقتباس راتلو اوکه چیرته کسره یې ویلې نو دلام جاره سره یې اقتباس راتلو نو پته ولږیده چې دمتحرک ویلو هیڅ صورت نه جوړیږي نو مجبورا دې لره یې ساکن کړو اوابتداء بالسکون مشکل وه نو په شروع کې یې همزه وصلي راوړه .

دلیل : اودلیل پرې دادې چې تعریف ضد دتنکیر دي اودتنکیر دپاره یو حرف دي نون تنوین هغه چې نون ساکن وي ددې وجې نه مناسب داده چې تعریف دپاره هم یو حرف وي لام ساکن .

دوهم مذهب دمبرد دي دمبرد په نزد همزه دتعریف داستفهام اودتعریف په مینځ کې دفرق دپاره لام یې زیات کړو دلیل یې دادې چې تعریف ضد دتشکیک دي اودتشکیک دپاره حرف همزه ده لهذا دتعریف دپاره هم یو حرف وي .

دریم مذهب دخلیل دي چې الف لام په شان دهل دي یعنې څنګه چې داستفهام دپاره پوره هل

دي دها اودلام مجموع دي همدارنګې دتعريف دپاره هم پوره ان وي يعني دالف اولام مجموعه وي دليل يې هغه دمبرد والا دې ماتن په دې درې واړو کې دسيبويه والام مذهب اختيار کړي نو ددې وجهې نه يې وويل دخول اللام وجه يې داده چې يو خو ددواړو دليلونه په خپل مينځ کې مخامخ کيږي دوهم همزه وصلي په درج دکلام کې غورځيږي اودعلامت قانون دادې چې دې لره نه شي غورځولې ددې نه معلومه شوه چې همزې لره په تعريف کې دخل نشته دي.

وانما اختص دخول حرف التعريف: په دې عبارت سره غرض دشارح وجه داختصاص بيانوي چې خلاصه يې داده چې لام دتعريف واضح وضع کړي ددې معنى دعني دپاره په دې معنى کې دوه شرطونه موندل کيږي : اول هغه معنى مستقل بالمفهوميت وي ، دوهم لفظ په هغې باندې دلالت کوي مطابقتا نو اوس دحرف معنى خو مستقل بالمفهوميت نه وي اودفعل معنى اګرکه مستقل بالمفهوميت وي خو فعل لره په دې باندې دلالت مطابقي نه وي بلکې دلالت تضمني وي.

وهذه الخاصة ليست شاملة الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب ورکول دي :

سوال : چې ته وايې چې لام تعريف د لام سره خاص دی، زه به درته وښائم چې ډېر داسې اسمونه دي چې په هغې باندې خو الف لام داخل کېدای نه شي، لکه اسماء اشارات اسماء موصولات، اسماء ضمائر او اسماء اعلام وغيره، ځکه چې دا د ټولو نه مخکې معرفه ده اوس که چېرته دې باندې حرف تعريف داخل شي نو تحصيل د حاصل لازمېږي، او تحصيل د حاصل خو محال وي، نو معلومه شوه چې په مذکوره ټول اسماء باندې لام تعريف نه داخلېږي، نو دا بيا څنګه خاص شوه د اسم پورې.

جواب : دلته چې څومره خواص بيان شوي دي، هغه ټول په ټوله خواص غير شامل دي.

دخول د جر :

وَ	مِنْهَا	دُخُوْلُ	الْجَرِّ	اِنَّمَا	اِخْتُصَّ	دُخُوْلُ	الْجَرِّ	بِالْاِسْمِ	لِاَنَّهُ
او بعضې د خواصو د اسم نه دخول د حرف جر دي په تحقيق سره خاص يې کړو دخول د جر په اسم باندې ځکه									
اَ ـِ ـرْفِ الْجَرِّ فِي الْمَجْرُوْرِ بِهٖ لَفْظاً وَ فِي الْمَجْرُوْرِ بِهٖ تَقْدِيْرًا كَمَا فِي الْاِضَافَةِ الْمَعْنَوِيَّةِ وَ دُخُوْلُ حَرْفِ الْجَرِّ									
دااثردحرف جردي په مجروربه کې لفظااوپه مجروربه کې تقديرآلکه په اضافت معنوي کې اودخول دحرف جر									
لَفْظاً اَوْ تَقْدِيْراً يَخْتَصُّ بِالْاِسْمِ لِاَنَّهُ مَوْضُوْعٌ لِاِفْضَاءِ مَعْنَى الْفِعْلِ اِلَى الْاِسْمِ فَيَنْبَغِيْ									
لفظااوتقديرآخاص دي تراسم پورې ځکه چې وضع شوي دپاره داضافت دمعنى دفعل اسم ته پس مناسب دي									

أن يَدْخُلَ الْإِسْمُ لِيُفْضِيَ مَعْنَى الْفِعْلِ إِلَيْهِ وَ أَمَّا الْإِضَافَةُ اللَّفْظِيَّةُ فَهُوَ
چې داخل شي په اسم باندې ددې دپاره چې اضافت وکړي دمعنی دفعل دې ته اوهرچې اضافت لفظیه دي نودا

فَرْعٌ لِلْمَعْنَوِيَّةِ فَيَنْبَغِي أَنْ يُخَالِفَ الْأَصْلَ بِأَنْ يُخْتَصَّ بِمَا
فرع داضافت معنوي ده نو مناسب دي چې مخالف نه شي داصل سره په داسې شان چې خاص شي هغه چې

يُخَالِفُ مَا يَخْتَصُّ بِهِ الْأَصْلُ أَعْنِي الْفِعْلُ أَوْ يَزِيْدُ عَلَيْهِ بِأَنْ يَعُمَّ الْإِسْمُ وَ الْفِعْلُ.
مخالف وي د هغې سره اصل یعنې فعل یا زیات شي په هغې باندې چې عام شي اسم اوفعل دواړوته

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافیې بل خاصیت بیانوي دخاصیتو داسم نه چې هغه دخول د جر دي .

اغراض دجامي : ومنها دخول: په دې عبارت سره شارح د الجر عطف ظاهروي ، چې دې لره مجرور وویلې شي او ددې عطف وکړې شي په اللام باندې نو څنګه چې دا د دخول دپاره مضاف الیه جوړیږي نو همدارنګې دا هم په واسطې د عطف سره د دخول مضاف الیه جوړیږي او تقدیر دعبارت به داسې شي چې : ومن خواصه دخول الجر .
په دې باندې یو سوال وارد یږي :

سوال : د دخول لفظ خو په ابتداء کې د راتللو دلپاره ویلې شي اوجر خو ددې په آخر کې لګي. ددې وجې نه تاته لحوق ویل په کار وو .

جواب :دلته ذکر د ملزوم اومراد ترې لازم دی همدارنګې چې دخول لره اتصال لازم دي، نو ذکر ددخول یې وکړو چې مراد ترې اتصال دي برابره خبره ده چې په شروع کې وي او که په آخر کې .

وانما اختص دخول الجر :په دې عبارت سره شارح د جر داختصاص وجه بیانوي چې خلاصه یې داده چې جر اثر د حرف جر دی که لفظاً وي او که تقدیراً او حرف جرچونکه د اسم سره خاص دی ددې وجې نه ددې اثر به هم د اسم سره خاص وي ورنه مخالفت به لازم راشي په مینځ داثر اومؤثر کې ، پاتې شود دا خبره چې حرف جر داسم پورې ولې خاص دی نو ددې وجه داده چې واضع دې لره وضع کړې دی د معنی د فعل تراسم پورې د رسولو دپاره نو ظاهره ده چې دا به په اسم باندې داخلیږي نو معنی د فعل به خپل مدخول ته رسوي نو معلومه شوه چې حرف جر اسم پورې خاص دی لکه په مررت بزید کې باء د مرور معنی زید ته ورسوله .

وامّا الاضافة اللفظية: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال : ستا په دعوی او دلیل کې مطابقت نشته دعوی عام ده. او دلیل خاص دی دعوی خو د مطلق جر ده د اسم سره د اختصاص برابره خبره ده چې هغه جر اثر د حرف جروي او یا نه .او دلیل یې دادې چې تاسو ددې جر د اختصاص د ثابتولو دپاره چې کوم جر دحرف جر اثر وي نو چې کوم جر اثر د حرف جر نه وي لکه اضافت لفظیه کې ددې جر اختصاص لره ستا دلیل نه ثابتوي ، نو دعوی عام او دلیل خاص شو حال دا دی. چې دعوی او دلیل کې مطابقت کېدل ضروري دي

جواب : داسې جرصرف په اضافت لفظیه کې موندلی کېږي او اضافت لفظیه فرع ده د اضافت معنویه او د اضافت معنوي جر دحرف جر اثر وي نو ددلیل نه چې کله د اضافت معنویه والاجر د اختصاص د اسم سره ثابته شو نو بالتبع ددې فرع د اضافت لفظیه والاد جر اختصاص هم د اسم سره ثابت شو ددې ځکه چې که چېرته اضافت لفظیه والا جر اختصاص د اسم سره تسلیم نه کړي نو بیا دوه صورتونه جوړېږي، د عدم اختصاص یا خو به د اضافت لفظیه والاجر د فعل سره خاص وي نو بیا به مخالفت د فرع د اصل سره لازم راشي او یا د اضافت لفظیه والاجر اسم او فعل دواړو ته شامل وي نو زیادت د فرع په اصل باندې لازمېږي

دخول د تنوین :

وَ مِنْهَا دُخُوْلُ التَّنْوِيْنِ بِأَقْسَامِهِ اِلَّا تَنْوِيْنَ التَّرَنُّمِ وَ سَيَجِيْءُ فِيْ
او بعضې دخواصو داسم نه دخول دتنوین دي دټولو اقسامو سره مگر تنوین ترنم او وزر دي چې رابه شي بحث ددې
آخِرِ الْكِتَابِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى تَعْرِيْفُهُ وَ بَيَانُ اَقْسَامِهِ عَلٰى وَجْهٍ يَظْهَرُ جِهَةَ اخْتِصَاصِ
په آخر د کتاب کې ان شاء الله تعریف ددې او بیان دا قسامو ددې په داسې شان چې ښکاره به شي شرط د اختصاص
مَا عَدَا تَنْوِيْنِ التَّرَنُّمِ بِهٖ وَجِهَةُ عَدَمِ اخْتِصَاصِ تَنْوِيْنِ التَّرَنُّمِ بِهٖ.
دهغې په غیر د تنوین ترنم نه په اسم پورې او وجه د عدم اختصاص د تنوین ترنم په اسم پورې.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافیې یو بل خاصیت بیانوي د خاصیتو د اسم نه چې هغه دخول د تنوین دي

اغراض د جامي : و منها دخول التنوین الخ: په دې عبارت سره شارح د اسم دریمه خاصه بیانوي چې تنوین په پنځه قسمه دي

۱: **تنوین تمکن** : چې د اسم منصرف په آخر کې راځي لکه زیدٌ.

۲: **تنوین تنکیر** : چې د تعریف او تنکیر په مینځ کې د فرق کولو دپاره د نکرې په آخر کې

راخي لکه د صهٍ تنوين

۳: تنوين عوضي: چې د مضاف اليه په عوض کې راخي لکه **يومئذٍ** چې دا په اصل کې **يوم اذ كان كذا** وو

۴: تنوين مقابله: چې د مذكر سالم د نون په مقابله کې د جمع مونث سالم په آخر کې راخي لکه **مسلماتٍ**

دا څلور واړه اقسام تر اسم پورې خاص دي، ځکه چې منصرف او غير منصرف كېدل معرفه نكره كيدل مضاف كيدل جمع كيدل دا تر اسم پورې خاص دي

۵: تنوين ترنم: هغه چې د اشعارو په آخر کې راخي او چونكه د اشعارو په آخر کې اسم فعل حرف درې واړه راتلې شي، ځکه چې تنوين ترنم د يو سره هم خاص نه دي . بلكې د درې واړو په آخر کې راتلى شي.

د اسم او فعل په آخر کې د تنوين ترنم د راتلو مثال

اقلي اللوم عاذل والعتابن   فقولي ان اصبت لقد اصابن

په **العتابن** کې د اسم په آخر کې تنوين ترنم راخي او په **لقد اصابن** کې د فعل په آخر کې تنوين ترنم راخي .

او د حرف په آخر کې د تنوين ترنم د راتلو مثال:

افد الرحل غير ان ركابنا   لما تزل برحالنا و كان قدن

قد حرف دى او د دې په آخر کې تنوين ترنم راغې.

نو خلاصه داده چې د تنوين څلور قسمه د اسم سره خاص دي او يو قسم د كلمې په اقسام ثلاثه کې د هر يو په آخر کې راځي.

اسناد:

وَ مِنْهَا الْإِسْنَادُ اِلَيْهِ هُوَ بِالرَّفْعِ عَطْفٌ عَلَى الدُّخُوْلِ لَا عَلٰى مَدْخُوْلِهٖ
او بعضې د خواصو د اسم نه اسناد دي اسم ته دا په رفع سره عطف دي په دخول باندې نه په مدخول د لام باندې
لِاَنَّ الْمُتَبَادِرَ مِنَ الدُّخُوْلِ الذِّكْرُ فِي الْاَوَّلِ اَوِ اللُّحُوْقِ بِالْاٰخِرِ وَ كِلَاهُمَا مُنْتَفِيَانِ فِي الْاِسْنَادِ
ځکه چې متبادر د دخول نه ذکر دي په اول کې او يا لحوق دي په آخر کې او دواړه منتفي دي په اسناد کې او
وَ كَذَا فِي الْاِضَافَةِ وَ الْمُرَادُ بِهٖ كَوْنُ الشَّيْءِ مُسْنَدًا اِلَيْهِ وَ اِنَّمَا اخْتَصَّ هٰذَا
همدارنګې په اضافت کې او مراد په هغې سره کيدل د يو څيز دي مسند اليه او به تحقيق سره خاص شوه دغه

اَلْمَعْنَى بِالْاِسْمِ لِاَنَّ الْفِعْلَ قَدْ وَضَعَ لِاَنْ يَكُوْنَ اَبَداً مُسْنَداً فَقَطْ فَلَوْ جَعَلَ
معنى د اسم پورې ځکه چې فعل کله وضع کيږي چې شي د هميشه د پاره مسند فقط پس که چيرته وګرځولې
مُسْنَدٌ اِلَيْهِ يَلْزِمُ خِلَافُ وَضْعِهِ.
شي مسند اليه لازم به شي خلاف د وضع

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې بل خاصيت بيانوي دخاصيتو داسم نه چې هغه اسناد دي اسم ته

اغراض دجامي : هو بالرفع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال : د الاسناد عطف په التنوين باندې او د التنوين عطف په الجر باندې او د الجر عطف په اللام باندې او اللام مضاف اليه دی د دخول يعني اى دخول اللام و دخول الجر والتنوين نو د عطف په واسطې سره الف لام مضاف اليه جوړيږي، د دخول لپاره نو معنی به يې جوړه شي چې د اسم د خواصو نه دی د لام داخليدل او د جر داخليدل او د تنوين داخليدل او د اسناد اليه داخليدل ، حال دا دی چې اسناد خو مصنوعي څيز دی په دې کې دخول او لحوق نه شي متصور کيدای

جواب : هو بالرفع يعني مرفوع دی او ددې عطف په دخول باندې دی او دا مجرور نه دی، ځکه چې ددې عطف د دخول په مدخول اللام باندې وي چې کله ددې عطف د دخول په لفظ باندې دي نو اوس به يې معنی جوړه شي چې داسم خاصه دلام داخليدل دي اوداسم خاصه ده مسند اليه کيدل .

والمراد به کون الشئ مسنداً اليه : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : د الاسناد اليه نه مراد مسند اليه دی او مسند اله خو ذات دی او د اسم خواص ټول په ټوله د اوصاف د قبيلې نه دي لهذا دې لره د اسم په خواصو کې شمارل صحيح نه دي؟

جواب : زمونږ مراد کون الشيء مسنداليه دی يعني کوم يو څيز مسند اليه کيدل خاصه د اسم ده په خپله مسند اليه د اسم خاصه نه ده او کون الشيء وصف دی ذات نه دی.

وانما اختص : په دې عبارت سره شارح دمسند اليه د اختصاص وجه بيانوي، چې خلاصه يې داده چې فعل خو واضع وضع کړی دی، د هميشه مسند کيدلو دپاره ددې دپاره که چېرته فعل مسند اليه جوړ کړي نو خلاف وضع لازم راځي هغه جائز نه ده باقي پاتې شو حرف نو ددې

معنی خو غیر مستقل وي نه دغه مسند جوړیږي او نه مسند الیه جوړیږي. چې کله د اسم نه په د اخوینونه په کوم یو کې دننه د مسند الیه د جوړېدو صلاحیت د سره نه وي نو صرف اسم پاتې شو د مسند الیه د جوړېدو دپاره نو دا د اسم سره خاص شوه

اضافت:

وَ مِنْهَا الْاِضَافَةُ اَیْ کَوْنُ الشَّيْءِ مُضَافًا بِتَقْدِیْرِ حَرْفِ الْجَرِّ لَا بِذِکْرِهٖ
اوبعضې دخواصو داسم نه اضافت دي معنی کیدل دیوڅیزدي مضاف په تقدیردحرف جر سره نه په ذکردهغې
لَفْظاً وَ وَجْهُهٗ اخْتِصَاصُهَا بِالْاِسْمِ اخْتِصَاصُ لَوَازِمِهَا مِنَ التَّعْرِیْفِ
سره لفظاً اووجه داختصاص ددې داسم سره له وجې داختصاص دلوازمو دهغې نه پراسم پورې لکه تعریف.
وَ التَّخْصِیْصِ وَ التَّخْفِیْفُ بِهٖ وَ اِنَّمَا فَسَّرْنَا الْاِضَافَةَ بِکَوْنِ الشَّيْءِ مُضَافًا لِاَنَّ الْفِعْلَ اَوِ
تخصیص اوتخفیف اوپه تحقیق سره تفسیرداضافت موږوکړوپه کیدلودڅیزسره مضاف خکه چې فعل اویا
الْجُمْلَةَ قَدْ یَقَعُ مُضَافًا اِلَیْهِ کَمَا فِيْ یَوْمَ یَنْفَعُ الصَّادِقِیْنَ صِدْقُهُمْ وَ قَدْ یُقَالُ هٰذَا بِتَاْوِیْلِ الْمَصْدَرِ
جمله کله واقع کیږي مضاف الیه لکه په یوم ینفع الصادقین صدقهم کې اوکله ویلې شي داپه تاویل دمصدر سره
اَیْ یَوْمَ نَفْعِ الصَّادِقِیْنَ فَالْاِضَافَةُ بِتَقْدِیْرِ حَرْفِ الْجَرِّ مُطْلَقاً یَخْتَصُّ بِالْاِسْمِ وَ اِنَّمَا قَیَّدْنَاهُ
یعنې یوم نفع الصادقین پس اضافت په تقدیردحرف جر سره مطلق خاص دي تر اسم پورې او مقید کړو موږ په
بِقَوْلِنَا بِتَقْدِیْرِ حَرْفِ الْجَرِّ لِاَنَّ لاَ یَنْتَقِضُ بِقَوْلِنَا مَرَرْتُ بِزَیْدٍ فَاِنَّ مَرَرْتُ
دې قول خپل سره بتقدیر حرف الجر خکه چې منقوض نه شي په دې قول زموږ مررت بزید سره خکه چې مررت
مُضَافٌ اِلٰی زَیْدٍ بِوَاسِطَةِ حَرْفُ الْجَرِّ لَفْظاً.
مضاف دي زیدته په واسطه دحرف جرسره لفظاً

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب د کافیې بل خاصیت بیانوي دخاصیتو داسم نه چې هغه اضافت دي.

اغراض دجامي: اي کون الشئ مضافاً بتقدیر: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: چې د اضافت نه مراد مضاف دی او مضاف خو ذات دی او خواص د اسم خو اوصاف وي

جواب: ددې جواب دا ورکړی دی چې کون الشئ مضافاً یعنې زموږ مراد د یو څیز مضاف کېدل دي په خپله مضاف مراد نه دی او کون وصف دی

و وجه اختصاصهما: په دې عبارت سره شارح د اسم پورې د اضافت وجه د اختصاص بيانوي چې وجه د اختصاص يې داده چې د اضافت لوازم درې دي تعريف چې کله نکره معرفې طرف ته مضاف کړې شي ، تخصيص چې کله نکره نکرې طرف ته مضاف کړې شي . او تخفيف په اضافت لفظي کې نون د تنوين ، نون د تثنيې او د جمع د سقوط نه . او دا درې لوازم د اسم سره خاص دي ځکه چې معرفه نکره کيدل هم د اسم سره خاص دي او نون تنوني او نون تثنيه جمع هم د اسم په آخر کې وي نو کله چې دا درې لوازم د اضافت د اسم سره خاص وي نو د دې ملزوم اضافت هم د اسم سره خاص وي ورنه مخالفت به راشي په مينځ د لازم او ملزوم کې چې کوم ناجائز دي

اقسام د اسم :

وَ هُوَ اَيِ الْاِسْمُ قِسْمَانِ مُعْرَبٌ وَ مَبْنِيٌّ لِاَنَّهُ لَا يَخْلُوْا اِمَّا اَنْ يَكُوْنَ مُرَكَّبًا مَعَ غَيْرِهٖ اَوْ لَا وَ الْاَوَّلُ
او دا يعني اسم په دوه قسمه دي معرب او مبني ځکه چې دا به خالي نه وي يا به مرکب وي سره د غير او يا نه او اول
اِمَّا اَنْ يُشْبِهَ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ اَوْ لَا وَ هٰذَا اَعْنِيْ اَلْمُرَكَّبَ الَّذِيْ لَمْ يُشْبِهْ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ هُوَ الْمُعْرَبُ
يا به مشابه وي د مبني اصل سره او يا نه او دا يعني هغه مرکب چې مشابه نه وي د مبني اصل سره دا اسم معرب
وَ مَا عَدَاهُ اَعْنِيْ غَيْرَ الْمُرَكَّبِ وَ الْمُرَكَّبُ الَّذِيْ يُشْبِهُ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ مَبْنِيٌّ.
دي او ماسوى د دې نه يعني غير مرکب او هغه مرکب چې مشابه وي د مبني اصل سره دا مبني دي .

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د اسم اقسام بيانوي، چونکې تقسيم د تعريف تتمه وي نو د دې وجې نه د تعريف نه پس ماتن د لته د اسم تقسيم کوي چې اسم په دوه (۲) قسمه دي : (۱) معرب ، (۲) مبني

اغراض د جامي : **وهو اي الاسم قسمان**: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : **هو** ضمير مبتدا دی او **معربٌ** او **مبنی** د دې خبر دی خو د دې خبر جوړيدل صحيح نه دي، ځکه چې خبر په مبتدا باندې محمول وي، ځکه چې دلته مبتدا عامه ده **الاسم** او خبر معرب او مبني خاص دی او حمل د خاص په عام باندې نه کيږي، ځکه چې د حمل معنی وي **صدق الخبر علی جميع افراد المبتداء** نو لازميږي چې د اسم ټول افراد معرب هم دي او د اسم ټول افراد مبني هم دي.

جواب : د معرب او مبني د پاره خبر نه دی، بلکې مبتداء مخذوفه ده **قسمان** او په معرب او مبني کې هر يو خبر دی د مبتدا مخذوفې چې تقدير د عبارت داسې شو چې **احدهما معرب و**

ثانيهما مبنيٌ

لانه لا يخلوا: په دې عبارت سره شارح وجه دحصر بيانوي چې خلاصه يې داده چې اسم به د دوه حالو نه خالي نه وي يا خو به هغه د خپل غير سره مرکب وي يا به نه وي که چيرته مرکب نه وي، نو مبني به وي که چيرته مرکب وي نو بيا به د دوه حالو نه خالي نه وي يا به مشابه وي د مبني الاصل سره او يا به نه وي که چيرته مشابه وي نو دا به بيا مبني وي او که چيرته مشابه نه وي، نو بيا به معرب وي ددې نه پس ماتن د معرب تعريف کوي

تعريف د معرب:

فَالْمُعْرَبُ اَلَّذِيْ هُوَ قِسْمٌ مِنَ الْاِسْمِ الْمُرَكَّبِ اَيِ الْاِسْمِ الَّذِيْ رُكِّبَ مَعَ غَيْرِهِ تَرْكِيْباً
پس هغه معرب چې هغه قسم دي داسم مرکب نه يعنې هغه اسم چې مرکب وي دغير سره په داسې ترکيب کې
يَتَحَقَّقُ مَعَهُ عَامِلُهُ فَيَدْخُلُ فِيْهِ زَيْدٌ وَ قَائِمٌ وَ هٰؤُلَاءِ فِيْ قَوْلِكَ زَيْدٌ
چې محقق وي د هغې سره عامل د هغې پس داخليږي په هغې کې زيد قائم و هؤلاء په دې قول ستا کې چې زيد
قَائِمٌ وَ قَامَ هٰؤُلَاءِ بِخِلَافِ مَا لَيْسَ بِهٖ مُرَكَّبٌ اَصْلاً مِنَ الْاَسْمَاءِ الْمَعْدُوْدَةِ نَحْوَ اَلِف بَا تَا زَيْدٌ وَ عَمْرٌو وَ بَكْرٌ
قائم وقام هؤلاء په خلاف د هغه چې مرکب نه وي بالکل د اسماء معدودو نه لکه الف. با. تا. زيد عمرو بکر په
بِخِلَافِ مَا هُوَ مُرَكَّبٌ مَعَ غَيْرِهِ لٰكِنْ لَا تَرْكِيْباً يَتَحَقَّقُ مَعَهُ عَامِلُهُ
خلاف دهغه چې مرکب وي دغير سره ليکن نه په داسې ترکيب چې محقق وي دهغې سره عامل دهغې لکه
كَغُلَامٍ فِيْ غُلَامُ زَيْدٍ فَاِنَّ جَمِيْعَ ذٰلِكَ مِنْ قَبِيْلِ الْمَبْنِيَّاتِ عِنْدَ الْمُصَنِّفِ اَلَّذِيْ لَمْ يُشْبِهْ
غلام په غلام زيد ترکيب کې څکه چې دا ټول د قبيلې د مبنياتو نه دي په نزد د مصنف هغه چې مشابه نه وي
اَيْ لَمْ يُنَاسِبْ مُنَاسَبَةً مُؤَثِّرَةً فِيْ مَنْعِ الْاِعْرَابِ.
يعنې چې مناسب نه وي په مناسبت مؤثره سره په منع داعراب کې

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې د اسم معرب تعريف کوي.

اغراض د جامي: فالمعرب المركب الذي لم يشبه مبني الاصل: په دې عبارت سره شارح دمعرب تعريف کوي چې معرب هغه ته وايي چې مرکب وي او د مبني الاصل سره مشابهت نه لري نو د معرب په تعريف کې دوه قيدونو لرول ضروري دي ۱: چې دا به مرکب مع الغير وي. ۲: دا به د مبني الاصل سره مشابهت نه لري او يو دريم قيد شارح لرولې دي چې ترکيباً يتحقق معه عامله، چې دا به مرکب مع الغير وي په داسې ترکيب کې چې ددې سره ددې عامل هم موجود وي.

الذي هو قسم من الاسم : په دې عبارت سره شارح د يو سوال مقدر جواب ورکوي

سوال : ستا د معرب تعريف جامع نه شو خپل افرادو لره ځکه چې فعل مضارع هم معرب دی خو ستا تعريف په هغې صادق رانغلو

جواب : شارح جواب ورکړو په الذي هو قسم من الاسم سره چې تعريف د مطلق معرب نه دی، بلکې د معرب اسمي دی لهذا که چيرته په فعل مضارع نه صادقيږي نو مه دې صادقيږي ځکه چې فعل مضارع خو دسره دمعرب فرد نه دي

اي الاسم الذي رکب مع غيره: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال :تا چې د معرب کوم تعريف کړې دی نو هغه مانع نه دی د دخول د غير نه ځکه چې ستا تعريف په ضرب زيد او اضرب زيد او من البصرة مثالونو کې په ضرب ، اضرب او لفظ د من باندې صادق راځي، ځکه چې دا درې واړه مرکب هم دي او دمبني الاصل سره مشابهت هم نه لري، ځکه چې دا خو په خپله مبني الاصل دي که چيرته دا د مبني الاصل سره مشابهت لري نو لازم به راشي مشابهت د شئ بنفسه او دا خو باطل دی؟

جواب : شارح اي الاسم وويلو نو په دې سره يې جواب ورکړو، چې زمونږ مراد د مرکب نه اسم مرکب دی، يعني په محدود او حد دواړو کې د اسم قيد ملحوظ دی اسم معرب او اسم مرکب مراد دی نو دا سوال دفع شو ځکه چې په دې کې ضرب، اضرب او من فعل او حرف دی اسم نه دی .

ترکيباً يتحقق معه عامله : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : ستا د معرب تعريف مانع نه دی د دخول د غير نه، ځکه چې غلامْ زيد (بسکون الميم) په دې تعريف باندې صادق راځي او دا مرکب مع الغير هم دی او دمبني الاصل سره مشابه هم نه دی .

جواب : د دې جواب علامه هندي ورکړې ده چې د مرکب مع الغير نه مراد عامل دی او دلته په غلامْ زيد کې زيد عامل نه دی، ليکن دا جواب کمزوری دی او شارح د دې جواب په ترکيباً يتحقق معه عامله سره ورکړو، چې خلاصه يې داده چې د ترکيب نه مراد داسې ترکيب دی، چې عامل هم په هغې کې متحقق وي برابره خبره ده که هغه غير عامل وي او يا بل څه وي اوس په غلام زيد کې خو زيد معرب دی. ځکه هغه مرکب مع الغير دی او غلام په دې کې عامل هم دی، خو غلام معرب نه دی ځکه چې هغه اګر که مرکب مع الغير وي. خو د دې عامل دلته متحقق نه

دی. خو که چېرته وويلی شي جاءني غلام زيد نو اوس غلام هم معرب کيږي

مَبْنِيُّ الْاَصْلِ اَیْ الْمَبْنِيُّ الَّذِيْ هُوَ الْاَصْلُ فِي الْبِنَاءِ فَالْاِضَافَةُ بَيَانِيَّةٌ وَ هُوَ الْمَاضِيْ وَ الْاَمْرُ

مبني الاصل دي يعنې هغه اسم مبني چې هغه اصل وي په بنا، کې پس اضافت بيانيه هغه ماضي ده امر دي په

بِغَيْرِ اللَّامِ وَ الْحَرْفُ وَ بِهٰذَا الْقَيْدِ خَرَجَ مِثْلُ هٰؤُلَاءِ فِيْ مِثْلِ قَامَ هٰؤُلَا لِكَوْنِهٖ مُشَابِهًا

غير د لام نه او د حرف نه او په دې قيد سره حارج شو په مثل د هؤلاء په قام هؤلاء ترکيب کې خکه چې دا مشابه

لِمَبْنِي الْاَصْلِ كَمَا سَيَجِيْئُ فِيْ بَابِهٖ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.

دي دمبني اصل سره چې رابه شي په باب دمبني کې ان شاء الله

اغراض د جامي : فالاضافة بيانية، په دې عبارت سره شارح د يو سوال مقدر جواب ورکوي

سوال : مبني مضاف دی او الاصل مضاف اليه دی او په مضاف او مضاف اليه کې مغائرت وي او دلته مغائرت نشته دی. بلکې اتحاد ددې چې مبني دی او هغه اصل دی او چې کوم اصل دی هغه مبني دی لکه فعل ماضي مبني هم دی او اصل هم دی

جواب : شارح ددې جواب ورکړی دی چې دا سوال په غلط فهمی باندې مبني دی چې تا د مبني الاصل اضافت لره اضافت لامي اخيستی دی او دا اضافت بياني دی معنی داده چې نه مشابه وي د معنی سره هغه معنی چې اصل ده په بناء کې او مغائرت خو په اضاف لامي کې وي او اضافت بياني دمضاف او مضاف اليه په مينځ کې نسبت د عموم و خصوص من وجه وي هلته درې مادې وي يوه ماده اجتماعي لکه فعل ماضي امر حاضر جمله حروف دا درې واړه مبني هم دي او اصل هم دي او ماده افتراقي لکه قام زيد کې کوم چې لفظ د زيد دی دا اصل دی د معرب کيدلو د وجې نه مګرمبني نه دی. دوهمه ماده د افتراق اسماء اشارات وغيره مبني خو دی مګر اصل نه دی.

اِعْلَمْ اَنَّ صَاحِبَ الْكَشَّافِ جَعَلَ الْاَسْمَاءَ الْمَعْدُوْدَةَ الْعَارِيَةَ عَنِ الْمُشَابِهَةِ الْمَذْكُوْرَةِ مُعْرَبَةً وَ لَيْسَ

پوه شه چې صاحب د کشاف ګرځولي اسماء معدوده کوم چې خالي وي د مشابهت مذکورونه معرب او نشته

النِّزَاعُ فِي الْمُعْرَبِ الَّذِيْ هُوَ اسْمُ مَفْعُوْلٍ مِنْ قَوْلِكَ اَعْرَبْتُ فَاِنَّ ذٰلِكَ لَا يَحْصُلُ اِلَّا

نزاع په هغه معرب کې چې هغه اسم مفعول وي په دې قول ستا کې چې اعربت خکه چې دا نه حاصليږي مګر په

بِاِجْرَاءِ الْاِعْرَابِ عَلٰى آخِرِ الْكَلِمَةِ بَعْدَ التَّرْكِيْبِ بَلْ فِي الْمُعْرَبِ اِصْطِلَاحاً فَاعْتُبِرِ الْعَلَامَةَ

اجراء داعراب په آخر د کلمې وروستو د ترکيب نه بلکې نزاع په معرب اصطلاحي کې ده پس غوره کړې علامه

مُجَرَّدُ الصَّلَاحِيَّةِ لِاِسْتِحْقَاقِ الْاِعْرَابِ بَعْدَ التَّرْكِيْبِ وَهُوَ الظَّاهِرُ مِنْ كَلَامِ الْاِمَامِ عَبْدِالْقَاهِرِ
زمحشري مجرد صلاحيت دپاره داستحقاق داعراب وروستو دترکيب نه اوداظاهريږي دکلام داامام عبدالقاهر
وَ اعْتَبَرَ الْمُصَنِّفُ مَعَ الصَّلَاحِيَّةِ حُصُوْلَ الْاِسْتِحْقَاقِ بِالْفِعْلِ وَ لِهٰذَا اَخَذَ
نه اومعتبرکړي مصنف سره دصلاحيت دحصول داستحقاق بالفعل نه ددې وجې نه غوره کړي دي مصنف
التَّرْكِيْبَ فِيْ تَعْرِيْفِهِ وَ اَمَّا وُجُوْدُ الْاِعْرَابِ بِالْفِعْلِ فِيْ كَوْنِ الْاِسْمِ مُعْرَباً فَلَمْ
ترکيب په تعريف دمعرب کې هرچې وجود داعراب بالفعل دي په کيدلوداسم کې چې معرب وي پس نه دي
يُعْتَبَرْهُ اَحَدٌ وَ لِذٰلِكَ يُقَالُ لَمْ تُعْرَبِ الْكَلِمَةُ وَ هِيَ مُعْرَبَةٌ.
غوره کړي هيچا ددې وجې نه ويلې کيږي لم تعرب الکلمة وهي معربة

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره په ماتن باندې د شوې سوال جواب ورکوي ، سوال وشو چې کافيه ماخود دي دمفصل نه اوصاحب دمفصل دمعرب په تعريف کې دمرکب قيد نه دي ذکر کړي

اغراض دجامي : اعلم ان صاحب الکشاف : په دې اعلم سره شارح په ماتن باندې د وارد شوې سوال جواب ورکوي

سوال: کافيه ماخوذه د مفصل نه او صاحب د مفصل د معرب په تعريف کې د مرکب قيد نه دی ذکر کړی او د کافيې والاد مرکب قيد ذکر کړې او د صاحب مفصل مخالفت يې ولې وکړو؟

جواب : دا مخالفت په يو اصولي اختلاف باندې مبني دی په دې اختلاف باندې ځان داسې پوهه کړئ، چې په دومره خبره خو د دواړه اتفاق دی، چې د يو معرب د لغوي کېدلو لپاره په دې باندې بالفعل اعراب او حرکت راتلو ضرورت وي د اعراب او د حرکت د راتلو نه بغير دې اسم ته معرب لغوي نه شي ويلې .

واليه اشار الشارح بقوله وليس النزاع الخ: همدارنګې په دې خبره باندې هم اتفاق دی، چې د يو معرب اصطلاحي کېدلو لپاره په دې باندې بالفعل اعراب او د حرکت راتلل څه ضروري نه ده ددې وجې نه که چيرته يو سړی د عبارت او کلام په وخت کې يو اسم معرب لره موقوف ووايي او په ده باندې حرکت ونه وايي لکه ووايي چې جاءني زيد (بسکون الدال) نو ددې په باره کې ويلې شي چې لم تعرب الکلمة وهي معربة يعني تا کلمې لره اعراب ورنه کړل او حال دا دی چې هغه خو معرب دی نو په لم تعرب کې د اعراب نفي هم کولې شي او په وهي معربة کې د معرب

اصطلاحي اثبات او اقرار هم کولی شي نو پته ولګیده چې د معرب اصطلاحي لپاره بالفعل اعراب او حرکت راوړل د چا په نزد هم ضروري نه دي
نو په دې دواړو خبرو باندې اتفاق دی، البته اختلاف په دې خبره کې دی چې د اسم د معرب اصطلاحي کېدلو لپاره محض صلاحیت د اعراب کافي دی یا بالفعل د اعراب التحاق هم ضروري دی.

د یو سوال جواب:

وَ إِنَّمَا عَدَلَ الْمُصَنِّفُ عَمَّا هُوَ الْمَشْهُوْرُ عِنْدَ الْجُمْهُوْرِ مِنْ اَنَّ الْمُعْرَبَ مَا
او بیشکه عدول کړي مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د هغه څه نه چې مشهور دي په نزد د جمهورو چې معرب هغه دي چې
اخْتَلَفَ آخِرُهُ بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ لِاَنَّ الْغَرَضَ مِنْ تَدْوِيْنِ عِلْمِ النَّحْوِ اَنْ يُعْرَفَ
مختلف کیږي آخر دهغې په اختلاف دعواملو څکه چې غرض دتدوین دعلم نحوې نه دادي چې وپیژندلی شي
بِهٖ اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْكَلِمَةِ فِي التَّرْكِيْبِ مَنْ لَمْ يَتَتَبَّعْ لُغَةَ الْعَرَبِ وَ لَمْ يَعْرِفْ
په دې سره احوال دآخر د کلمو په ترکیب کې چا چې تلاش نه دي کړي د لغت د عربو او نه یې دي پیژندلي
اَحْكَامَهَا بِالسِّمَاعِ مِنْهُمْ فَإِنَّ الْعَارِفَ بِاَحْكَامِهَا كَذٰلِكَ
احکامات د ژبې د عربو په اوریدلو سره د هغوي نه څکه چې پیژندونکي د احکامو د ژبې د عربو همدارنګې
مُسْتَغْنٍ عَنِ النَّحْوِ وَلَا فَائِدَةَ لَهُ مُعْتَدًّا بِهَا فِيْ مَعْرِفَةِ اصْطِلَاحَاتِهِمْ
مستغني دي دنحوې نه او هیڅ فائده نشته دهغه دپاره چې دې اتکاء وکړي په پیژندلو د اصطلاحاتو دعربو پس
فَالْمَقْصُوْدُ مِنْ مَعْرِفَةِ الْمُعْرَبِ مَثَلًا اَنْ يُعْرَفَ اَنَّهٗ مِمَّا يَخْتَلِفُ اٰخِرُهُ فِيْ كَلَامِهِمْ
مقصود دپیژندلو د معرب نه مثلاً دادي چې وپیژندلی شي هغه څه چې مختلف کیږي آخر دې په کلام دهغوي کې
لِيَجْعَلَ اٰخِرَهُ مُخْتَلِفًا فَيُطَابِقَ كَلَامَهُمْ فَمَعْرِفَتُهُ مُتَقَدِّمَةٌ عَلٰى
چې وګرځوي آخر د معرب مختلف پس موافق شي د لغت د هغوي سره پس معرفت د معرب مخکې دي په
مَعْرِفَةِ اَنَّهٗ مِمَّا يَخْتَلِفُ اٰخِرُهُ فَلَوْ كَانَ مَعْرِفَتُهُ الْمُتَقَدِّمَةُ حَاصِلَةً بِمَعْرِفَةِ
معرفت د هغه څه چې سبب وي د اختلاف د آخر ددې پس که چیرته شو هغه معرفت متقدمه حاصل په معرفت
هٰذَا الْاِخْتِلَافِ وَ تَعْرِيْفُهُ بِهٖ وَجَبَ اَنْ يُعْرَفَ اَوَّلًا بِاَنَّهٗ مِمَّا
دد غه اختلاف باندې او پیژندل د معرب په دې اختلاف نو لازمیږي چې ودې پیژندلی شي اولاً چې داهغه څه دي
يَخْتَلِفُ اٰخِرُهُ لِيُعْرَفَ اَنَّهٗ مِمَّا يَخْتَلِفُ اٰخِرُهُ
چې مختلف کیږي آخر ددې، ددې دپاره چې وپیژندلی شي چې دا د قبیلې د هغه څه نه دي چې مختلف کیږي آخر
فَيَلْزَمُ تَقَدُّمُ الشَّيْءِ عَلٰى نَفْسِهٖ فَيَنْبَغِيْ اَنْ يُعْرَفَ اَوَّلًا بِغَيْرِهٖ مَا
یې پس لازم به شي تقدم د څیز په خپل نفس باندې پس مناسب دي چې وپیژندلی شي اولاً په غیر د هغه څه چې

عَرِفَهُ بِهِ الْجَمْهُوْرُ وَ يَجْعَلُ مَا عَرِفُوْهُ بِهِ مِنْ جُمْلَةِ اَحْكَامِهِ
پيژندلې وي په هغې سره جمهورو او وګرځولې شي هغه څه چې پيژندلې وي معرب لره د جملې د أحکامو د
كَمَا فَعَلَهُ الْمُصَنِّفُ .
هغې نه لکه دا کار کړي مصنف

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د يو سوال جواب کوي ، هغه سوال دا دې چې مصنف ولې د جمهورو علماو مخالفت وکړو چې تفصيل يې لاندې په شرحه کې : کړ دې

اغراض د جامي : **وانما عدل المصنف**: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دا دی چې جمهورو د معرب تعريف کړې دی **ما اختلف آخره باختلاف العوامل** مصنف د جمهورو د تعريف نه عدول ولې وکړو ؟

جواب : شارح د دې جواب ورکړو چې د جمهورو تعريف دَور لره مستلزم وو او دور باطل دی نو د دې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللهُ خپل تعريف وکړو او د جمهورو تعريف يې پريخودو د جمهورو تعريف دَور لره څنګه مستلزم دی د دې د تفصيل د پاره درې مقدمې په ذهن کې ساتئ

اوله مقدمه دا چې د علم نحو د تدوين غرض دا دی چې کوم يو کس د لغت عرب تتبع او تالاش هم نه وي کړی او د هغوی نه يې سماع هم نه وي کړې نو دې کس لره د کلمې د آخر حالاتو معرفت حاصل شي او معرب هم د علم نحو حصه ده د دې په معرفت اوپيژندلو سره به هم دا غرض اومقصد وي يعنې معرفت اوپيژندل د حالات آخر .

دوهمه مقدمه دا چې غرض د شئ دا مؤخر وي د شئ نه لکه د کټ جوړېدو غرض په کټ کې اوده کيدل دي نو اوده کېدل وروستو وي د کټ جوړېدو نه.

دريمه مقدمه دا چې د حد او تعريف معرفت دا مقدم وي د معرف او د محدود د معرفت نه ځکه چې حد او تعريف موقوف عليه وي او د معرف معرفت موقوف وي او قانون دا دې چې موقوف عليه د موقوف نه مقدم وي .

په دې درې مقدماتو باندې د خان پوهه کولو نه پس اوس په دې خبرې خان پوهه کړئ، چې د اولنۍ او دوهمې مقدمې تقاضا داده چې د آخر معرفت د معرب د معرفت نه مؤخر وي او د معرب معرفت دا ختلاف آخر د معرفت نه مقدم وي او که چيرته د جمهوروالا تعريف وکړې شي نو د دريمې مقدمې تقاضا به دا وي چې د اختلاف آخر معرفت به مقدم وي د معرب د معرفت نه چې د دې په نتيجه کې به د اختلاف آخر معرفت په خپله د اختلاف آخر د معرفت نه مقدم وي نو

لازم به شي تقدم الشيء على نفسه او دا باطل دی لهذا مناسب داده چې تعریف دې د مصنف والا وکړی شي او د جمهورو تعریف دی د معرب د احکامو نه وګرخولې شي

د معرب حکم :

وَ حُكْمُهُ اَىْ مِنْ جُمْلَةِ اَحْكَامِ الْمُعْرَبِ، وَ آثَارِهِ الْمُتَرَتِّبَ عَلَيْهِ مِنْ حَيْثُ هُوَ مُعْرَبٌ اَنْ
او حکم ددې يعني د جملې د احکامو د معرب نه او د آثار مرتبو د معرب نه ددې حيثيت نه چې معرب دې چې
يَخْتَلِفَ آخِرُهُ اَيِ الْحَرْفُ الَّذِيْ هُوَ آخِرُ الْمُعْرَبِ ذَاتاً بِاَنْ يَتَبَدَّلَ حَرْفٌ بِحَرْفٍ آخَرَ
مختلف کيږي آخر دهغې يعني هغه حرف چې هغه آخر د معرب دې ذاتاچې بدليږي به حرف په حرف آخر دهغې
حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً اِذَا كَانَ اِعْرَابُهُ بِالْحَرْفِ اَوْ صِفَةً بِاَنْ يَتَبَدَّلَ صِفَةٌ
سره حقيقتاً او يا حکماً چې کله اعراب د هغې په حرف سره وي يا صفتا په داسې شان چې بدليږي به صفت
بِصِفَةٍ اُخْرىٰ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً اِذَا كَانَ اِعْرَابُهُ بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ
د هغې په صفت آخر سره حقيقتاً او يا حکما چې کله وي اعراب د هغې په حرکت سره په اختلاف د عواملو سره
اَىْ بِسَبَبِ اِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ الدَّاخِلَةِ عَلَيْهِ فِي الْعَمَلِ بِاَنْ يَّعْمَلَ
يعني په سبب د اختلاف د عواملو چې کوم داخليږي په دې باندې په عمل کې په داسې شان چې عمل به کوي
بَعْضٌ مِنْهَا خِلَافُ مَا يَعْمَلُ الْبَعْضُ الْاٰخَرُ وَ اِنَّمَا خَصَصْنَا اِخْتِلَافَهَا بِكَوْنٍ فِي الْعَمَلِ
بعضې د هغې نه مخالف د عمل د بعضې نورو او خاص کړو مونږ اختلاف د عواملو په کيدلو ددې په عمل کې
لِئَلَّا يَنْتَقِضَ بِمِثْلِ قَوْلِنَا اَنَّ زَيْداً مَضْرُوْبٌ وَ اِنِّيْ ضَرَبْتُ زَيْداً وَ اِنِّيْ ضَارِبٌ زَيْداً فَاِنَّ
ددې د پاره چې منقوض نه شي په مثل ددې قول زمونږ چې ان زيد مضروب واني ضربت زيدا و اني ضارب زيدا خکه
الْعَامِلَ فِيْ زَيْداً فِيْ هٰذَا الصُّوَرِ مُخْتَلِفٌ بِالْاِسْمِيَّةِ وَ الْفِعْلِيَّةِ وَ الْحَرْفِيَّةِ مَعَ اَنَّ آخِرَ
چې عامل په زيدا په دغه صورتونو کې مختلف دې په اسميت او فعليت او حرفيت سره. سره ددې نه چې آخر د
الْمُعْرَبِ لَمْ يَخْتَلِفْ بِاخْتِلَافِهٖ لَفْظاً اَوْ تَقْدِيْراً نُصِبَ عَلَى التَّمْيِيْزِ اَىْ يَخْتَلِفُ
معرب نه دې مختلف شوې په اختلاف د عواملو سره لفظاًوتقديراًمنصوب دې بناء برتميز يعني مختلف کيږي
لَفْظُ آخِرِهٖ اَوْ تَقْدِيْرِهٖ اَوْ عَلَى الْمَصْدَرِيَّةِ اَىْ يَخْتَلِفُ اِخْتِلَافُ لَفْظٍ اَوْ تَقْدِيْرٍ وَ
په لفظ آخر د هغې بناء برتقدير، يا بناء برمصدريت يعني چې مختلف کيږي به اختلاف لفظي او يا تقديري او
الْاِخْتِلَافُ لَفْظاً كَمَا فِيْ قَوْلِكَ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَ رَاَيْتُ زَيْداً وَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ تَقْدِيْراً كَمَا فِيْ قَوْلِكَ جَاءَنِيْ فَتًى
اختلاف لفظي په دې قول ستا کې جاءني زيد ورأيت زيدا ومررت بزيد او تقديري په دې قول ستا کې جاءني فتیٰ و
وَ رَاَيْتُ فَتًى وَ مَرَرْتُ بِفَتًى فَاِنَّ اَصْلَهُ فَتَىٌ وَ فَتَياً وَ فَتَىٍ اِنْقَلَبَتِ الْيَاءُ اَلِفاً فَصَارَ الْاِعْرَابُ تَقْدِيْرِيّاً وَ
رأيت فتیٰ ومررت بفتیٰ خکه چې اصل ددې فتیٌ وفتياً وفتیٍ بدله شو ياء په الف سره نو وګرځيده اعراب تقديري او

الْإِخْتِلَافُ اللَّفْظِيُّ وَ التَّقْدِيْرِيُّ اَعَمُّ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً كَمَا اَشَرْنَا اِلَيْهِ
اختلاف لفظي او تقديري عام دي ددې نه چې وي حقيقتاً او يا حكماً لكه ځنګه چې اشاره كړې مونږ هغې ته
لِئَلَّا يَنْتَقِضَ بِهِ مِثْلُ قَوْلِنَا رَاَيْتُ اَحْمَدَ مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ وَ قَوْلِنَا رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَ مَرَرْتُ
ددې ځكه چې منقوض شي په مثال ددې قول زمونږ رأيت احمد مررت بأحمد او دا قول زمونږ رأيت مسلمين و مررت
بِمُسْلِمِيْنَ مُثَنًّى اَوْ مَجْمُوْعاً فَاِنَّهُ قَدِ اخْتَلَفَ الْعَوَامِلُ فِيْهِ وَلَا اِخْتِلَافَ فِيْ آخِرِ
بمسلمين چې تثنيه وي او يا جمع وي ځكه چې مختلف شو عوامل په دې كې او اختلاف نه ليدل كيږي په آخر د
اَحْمَدَ حَقِيْقَةً بَلْ حُكْماً فَاِنَّ فَتْحَةَ اَحْمَدَ بَعْدَ النَّاصِبِ عَلَامَةُ النَّصْبِ وَ بَعْدَ
احمد كې حقيقتاً بلكه حكماً دي ځكه چې فتحه د احمد وروستو د عامل ناصبه نه علامه د نصب ده او وروستو د
الْجَارِّ عَلَامَةُ الْجَرِّ وَ كَذَا الْحَالُ فِي التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ فَآخِرُ الْمُعْرَبِ فِيْ هٰذِهِ الصُّوَرِ يَخْتَلِفُ
عامل جاره نه علامه د جر ده همدا رنګې حال دي په تثنيه او جمع كې نو آخر د معرب په دې صورتونو كې مختلف
بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ حُكْماً لَا حَقِيْقَةً.
كيږي په اختلاف د عواملو سره حكماً نه حقيقتاً.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب د كافيې د معرب حكم بيانوي د معرب حُكم دا دی، چې د معرب آخر په اختلاف د عواملو سره مختلف كېږي بيا ددې اختلاف اجمالاً شپږ صورتونه جوړېږي. په دريو تعميمونو سره:

اولنی تعميم دا چې هغه اختلاف به ذاتاً وي يا صفتاً اختلاف ذاتاً وي يعنې حرف د حرف سره بدل شي او اختلاف صفتاً وي يعنې حركت د حركت سره بدل شي.

دوهم تعميم دا چې لفظاً دي يا تقديراً اختلاف لفظاً هغه ته وايي چې د هغې تلفظ كيدې شي او اختلاف تقديراً هغه ته وايي چې د هغې تلفظ نه شي كيدې.

دريم تعميم دا چې حقيقةً وي يا حكماً، حقيقةً وي يعنې په درې واړو حالتونو كې اختلاف واقع وي اختلاف حكماً وي يعنې په بعضو حالتونو كې اختلاف واقع وي.

نو ددې درې واړو تعميمونو د وجهې نه په اجمالي طريقې سره خو شپږ صورتونه جوړېږي، خو په تفصيلي طريقې سره اته صورتونه جوړېږي، ځكه چې اصل تقسيم د اعراب اختلاف د ذاتاً او صفتاً طرف ته كيږي بيا د هر يو سره لفظاً او تقديراً حقيقةً او حكماً لږولې شي، نو ټول اته قسمونه جوړېږي چې مثالونه يې په لاندې ډول دي:

۱: اختلافي ذاتي لفظي حقيققي جاءني ابوك، رايت اباك، مررت بابيك

۲: اختلاف ذاتي لفظي حكمي جاءني مسلمان، ورايتُ مسلمين، و مررت بمسلمين.

۳ اختلاف ذاتي تقديري حقيقي لکه جاءني ابو القوم. رأيت ابا القوم. مررت بأبي القوم

۴ اختلاف ذاتي تقديري حکمي، جاءني مسلميَّ و رايت مسلمي، مررت بمسلمي

۵ اختلاف صفتي لفظي حقيقي، جاءني زيدٌ، رايت زيد و مررت بزيد

۶ اختلاف صفتي لفظي حکمي، جاءني احمد و رايت احمد و مررت باحمد

۷ اختلاف صفتي تقديري حقيقي، جاءني فتیً رايت فتیً و مررت بفتیً

۸ اختلاف صفتي تقديري حکمي، جاءني موسی و رايت موسی و مررت بموسی.

اغراض د جامي : <u>و حکمه</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : د حکم اضافت ضمير طرف ته صحيح نه دی، ځکه چې ضمير واپس کېږي د معرب طرف ته او د حکم معنی ده اثر نو دا اختلاف د عامل اثر وي نه د معرب نو د معرب طرف ته دې لره ولې مضاف کړو ؟

جواب : شارح ددې دوه جوابونه ورکړي دي:

اول جواب : چې دا اضافت بتقدير اللام دی ای حکم له يعني حکم د عامل چې ثابتيږي، په واسطې د معرب سره .

دوهم جواب : بعضو دا جواب ورکړې دې چې دا اضافت د ادنی ملابست د وجې نه دی، ځکه چې په عامل او معمول کې شدت اتصال وي نو د ادنی ملابست د وجې نه اضافت يې معرب طرف ته وکړو

<u>ای من جملة احکام المعرب</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال مقدر جواب ورکوي :

سوال : چې تا د معرب کوم حکم اختلاف والابيان کړو دا جامع نه دی، خپل ټول افرادو لره ځکه چې کله د اسماء معدوده نه يو اسم واخلې ابتداءً او د عامل سره يې يوځای کړې، نو هلته د اسم معرب په آخر کې په اولني ځل اعراب راځي، چې هغې ته حدوث اعراب ويلی کېږي. اختلاف آخر خو هلته موجود نه وي، لکه په جاءني زيد کې زيد معرب خو دی خو ددې په آخر کې اختلاف نشته دی، بلکې حدوث د اعرابو شوې دی د جاءني د راتلو د وجې نه او د جاءني نه پس چې کله رأيت پرې داخل کړې او رايت زيداً ووايې نو بيا به د اختلاف آخر حکم موجوديږي، نو د اختلاف آخر والا حکم جامع نه شو کله موندلی کېږي، او کله نه موندلی کېږي

كيدې شي سماعاً په خلاف د نورو اسماء محذوفو معجزو سره لكه يد او دم ځکه چې سمع نه ده شوې په دې كې د

الْعَرَبِ اِعَادَةُ الْحُرُوْفِ الْمَحْذُوْفَةِ عِنْدَ الْاِعْرَابِ الْمُثَنّٰى وَمَا يَلْحَقُ بِهٖ وَ هُوَ كِلَا وَ كَذَا كِلْتَا وَلَمْ يَذْكُرْهُ

عربو نه اعاده د حرف محذوفه په وخت د اعراب كې مثنى او ملحقات د دې چې كلا او همدارنګې كلتا دي او ذكر نه

لِكَوْنِهٖ فَرْعُ كِيْلَا مُضَافاً اَىْ حَالَ كَوْنِ كِلَا وَ كِلْتَا مُضَافاً اِلٰى مُضْمَرٍ.

كړه مصنف كلتا ځکه چې دا فرع د كلا ده مضاف وي يعني په حال كون د كلا او كلتا چې مضاف وي مضمرته.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب كافيه د دوه قيدونو د عدم تصريح وجه بيانوي.

اغراض دجامي: وانما لم يصرح بهذين القيدين: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال : چې مکبره او موحده قیودات په کې معتبر وو نو بیا به دې ذکر کړې وي کنه .

جواب : دا یې ذکر نه کړل اکتفاء یې وکړه په مثالونو سره .

مضافة إلى غير ياء المتكلم : په کافیه کې دا عبارت مقدم دي په بہالواو باندې اودا اصحیح هم دي ځکه چې د بہالواو نه داحال دي او بہالواو داظرف دي نو ظرف عامل وګرځیده اوظرف ضعیف العمل وي په معمول مقدم کې عمل کوې فقط

اوشارح دا **مضافة** وروستو راوړي دې وایي چې ظرف دا عامل دي لفظاً اوعامل لفظي داپه معمول متقدمه اومتاخره دواړو کې عمل کولې شي .

یابله وجه دادچې دادکاتب غلطي ده کاتب چیرته مولاؤ هغه دا سوچ کړې دي چې داحال دې د بہالواو نه حال دادې چې دا صفت دي حکماً اوصفت دا مؤخر وي دموصوف نه نو دلته هم وروستو کول په کار دي .

لانها اذا كانت مكبرة وموحدة ولم تكن مضافة : په دې عبارت سره شارح د **مضافة** دقید فائده ذکر کوي چې دا قید یې ځکه ولږول چې کله دا اسماء مکبره وي اوموحده وي اومضاف نه وي نو بیا اعراب ددوي بالحرکة دي لکه جاءني اخ ورأيت اخا ومررت باخ .

لانها اذا كانت مضافة : دا اسماء به مضاف وي غیر د ياء دمتکلم ته ځکه که چیرته مضاف شي ياء دمتکلم ته نو بیا به یې دا اعراب نه وي .

ولم يكتف في هذا الشرط بالمثال : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : په مکبرو اوموحدو قیوداتو کې دې اکتفاء په مثالونو سره کړې وه نو دلته دې هم اکتفاء په مثال سره کړې وې کنه .

جواب : اکتفاء په مثال سره ځکه ونه کړه چې خلکو بیا دا توهم کولو چې ددې اسماو به دا اعراب په هغه وخت کې وي چې کله یې اضافت حرف کاف ته شوې وي .

وانما جعل اعراب هذه الاسماء بالحروف : په دې عبارت سره شارح وجه دتخصیص داعراب بیانوي چې ددې اسماو اعراب یې بالحرف وګرځولو ځکه چې دعامو تثنیو اوجموعو اعراب بالحرف وو اودعامو مفرداتو اعراب بالحرکة ؤ نو مونږ دغه بعضو مفرداتو ته اعراب بالحرف ورکړو چې دتثنیو اوجموعو دمفرداتو سره وحشت اومنافرت تامه رانه شي .

وانما اختاروا أسماء ستة : دا شپږ اسماء یې خاص کړل داعراب بالحرف پورې ځکه دتثنیې درې

حالات ؤاو د جمعې د رې حالات ؤنو ټول شپږ اقسام جوړ يدل د هر اعراب په مقابله کې يو اسم وګرځولو

والما اختاروا هذه الاسماء الستة: دا شپږ اسماء يې بيا د نورو اسماو نه خاص کړل ځکه د دوي مشابهت د تثنيې او جمع سره وو ځکه دوي هم په تعدد دلالت کوي ځکه چې اب دلالت کوي په من له الاب باندې او بل دا چې د دوي په اخر کې حرف صالح د پاره د اعراب شته .

بخلاف سائر الاسماء المحذوفة الاعجاز: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : يد او دم د دې آخر هم صالح دي د پاره د اعراب دا به دې خاص کړې وې .

جواب : دا اسماء محذوفة الاعجاز دي يعنې کوم حروف چې د دوي نه حذف شوې هغه په وخت د اضافت کې نه رامعاد کيږي او د اخ اب الخ را معاد کيږي .

المثنى: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : د مثنى نه لفر د مثنى اخلي او که ماصدق عليه د مثنى اخلى که لفظ اخلي نو د مثنى د لفظ اعراب خو بالالف والياء نه دي بلکه تقديري دي او که ما صدق عليه د مثنى اخلي نو د كلا او كلتا ذکر کولو ته حاجت نه ؤ ځکه په دې هم د مثنى لفظ صادقيږي .

جواب : زه دا دواړه نه اخلم بلکه مصداق د تثنيې اخلم نو چې دا مې واخستو نو كلا او كلتا دا مصداق د تثنيې نه دي ځکه د دې مفرد من لفظ نشته نو دا ملحقات د تثنيې دي .

وما يلحق به: په دې عبارت سره شارح حال د متن اتي بيانوي چې دا راتلونکي شيان ملحقات د تثنيې دي چې هغه كلا دي .

وكذا كلتا: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دا چې صرف كلا يې ذکر کړه او كلتا يې ذکر نه کړه ؟.

جواب : ځکه چې كلا اصل دي او كلتا دا فرع ده .

مضافا اى حال كون كلا وكلتا: دا حال دي د كلا او كلتا نو ځکه منصوب دي ، په دې باندې يو سوال وارديږي :

سوال : مونږ خو ويلي دي چې الحال ما يبين هيئة الفاعل اوالمفعول به دلته دا كلا او كلتا څه واقع دي .

جواب : په دې کښې درې توجيهات دي اوله توجيه ابن مالک کړې ده اوهسې ځان يې خلاص کړې دې وايي چې المثنی معطوف عليه او کلا او کلتا دامعطوف دي دا مبتدا او بالواو خبر دې اوحال راتلل دمبتدا نه صحيح دي نو کلا او کلتا دا ذوالحال شو

دوهمه توجيه داچې دا کلا او کلتا دافاعل دي دفعل مقدر دپاره تقدير يې داسې دي چې اعرب کلا وکلتا.

دريمه توجيه دا چې دابناء ده په يوه قاعده باندې اوهغه قاعده داچې حال دمضاف اليه نه هم واقع کيدې شي خو چې حذف دمضاف جائز وي اواقامت دمضاف اليه دهغې په ځای باندې صحيح وي لکه بل نتبع ملة ابراهيم حنيفا ، دلته نتبع فعل ملة مضاف او ابراهيم مضاف اليه حنيفا داحال دي و اوس دلته حذف دمضاف چې ملة دي جائز دي اواقامت دابراهيم په مقام دده باندې صحيح دي ځکه ملة دمخکې فعل دپاره مفعول به واقع شوې دي اوس ابراهيم د هغه قائمقام شو او چې شئ واقع شي په ځای دغير نو هغه ته حکم دغير وي نو ابراهيم هم مفعول شو نو د حنيفاً حال جوړيدل ترې نه صحيح شو.

اوس دلته مضافاً حال دي دکلا اوکلتا نه اودامضاف اليه واقع شوې دپاره دمضاف مقدره چې هغه اعراب کلا وکلتا دي تقدير يې داسې شو چې اعرب المثنی اعراب کلا وکلتا اعرب فعل فاعل المثنی مفعول اعراب مضاف کلا وکلتا مضاف اليه مضاف حذف شو اومضاف اليه داد هغه قائمقام شو نو مضاف خو مفعول مطلق وو نو دا هم مفعول مطق شو اوحال دمفعول مطلق نه صحيح دي.

<u>**اى حال كون كلا وكلتا مضافاً**</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : حال قيد وي دپاره د ذوالحال نو ذوالحال المثنی کلا وکلتا دا ټول شو نو دتثنيې به هم هله دا اعراب وي چې کله مضاف وي.

جواب : نو شارح جواب ورکړو چې ذوالحال هغه صرف کلا وکلتا دي دتثنيې مطلقا دا اعراب دي که مضاف وي اوکه نه وي.

وَ اِنَّمَا قُيِّدَ بِذٰلِكَ لِاَنَّ كِلَا بِاِعْتِبَارِ لَفْظِهٖ مُفْرَدٌ وَ بِاِعْتِبَارِ مَعْنَاهُ مُثَنًّى
اوبيشکه مقيد يې کړو په دې قيد سره ځکه چې کلا په اعتبار دلفظ سره مفرد ده اوپه اعتبار د معنی سره مثنی ده
فَلَفْظُهٗ يَقْتَضِي الْاِعْرَابَ بِالْحَرَكَاتِ وَ مَعْنَاهُ يَقْتَضِي الْاِعْرَابَ بِالْحُرُوْفِ فَرُوْعِيَ فِيْهِ
پس لفظ دکلا تقاضا داعراب بالحرکة کوي اومعنی يې تقاضا داعراب بالحرف کوي پس مراعت شو په دې کې

كِلَا الْاِعْتِبَارَيْنِ فَاِذَا اُضِيْفَ اِلَى الْمُظْهَرِ الَّذِيْ هُوَ الْاَصْلُ رُوْعِيَ
دواړه اعتبارات كله چې اضافت وكړې شي اسم ظاهر ته چې هغه اصل دي نو رعايت به وكړې شي په هغې كې د
جَانِبُ لَفْظِهِ الَّذِيْ هُوَ الْاَصْلُ وَ اُعْرِبَ بِالْحَرَكَاتِ الَّتِيْ هِيَ الْاَصْلُ وَ لٰكِنْ تَكُوْنَ حَرَكَاتُهُ
جانب لفظې چې هغه اصل دي او معرب شي په هغه حركت سره چې هغه هم اصل دي ليكن حركات د شغې
تَقْدِيْرِيَّةً لِاَنَّ اٰخِرَهُ اَلِفٌ تَسْقُطُ بِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ نَحْوُ جَاءَنِيْ كِلَا الرَّجُلَيْنِ وَ رَاَيْتُ كِلَا
تقديري وي څكه چې آخر يې الف دي چې ساقطيږي په التقاء د ساكنينو سره لكه جاءني كلا الرجلين ورأيت كلا
الرَّجُلَيْنِ وَ مَرَرْتُ بِكِلَا الرَّجُلَيْنِ وَ اِذَا اُضِيْفَ اِلَى الْمُضْمَرِ الَّذِيْ هُوَ الْفَرْعُ رُوْعِيَ
الرجلين ومررت بكلا الرجلين او چې كله يې اضافت وكړې شي ضمير ته چې هغه فرع ده نو رعايت به وكړې شي په
جَانِبُ مَعْنَاهُ الَّذِيْ هُوَ الْفَرْعُ وَ اُعْرِبَ بِالْحُرُوْفِ الَّتِيْ هِيَ الْفَرْعُ نَحْوُ جَاءَنِيْ كِلَاهُمَا وَ رَاَيْتُ كِلَيْهِمَا وَ
جانب د هغه معنى چې هغه هم فرع ده او معرب شي په حروفو سره چې دا هم فرع ده لكه جاءني كلاهما ورأيت كليهما و
مَرَرْتُ بِكِلَيْهِمَا فَلِذٰلِكَ قُيِّدَ كَوْنُ اِعْرَابِهٖ بِالْحُرُوْفِ بِكَوْنِهٖ مُضَافًا اِلَى مُضْمَرٍ
مررت بكليهما نو د دې وجې نه يې مقيد كړو په كيدلو د اعراب د دې په حروفو سره چې كله مضاف وي ضمير ته
وَاِثْنَانِ وَ كَذَا اثْنَتَانِ وَ ثِنْتَانِ فَاِنَّ هٰذِهِ الْاَلْفَاظَ وَ اِنْ كَانَتْ مُفْرَدَةً لٰكِنْ صُوْرَتُهَا صُوْرَةُ التَّثْنِيَةِ
اثنان او همدا رنګې اثنتان او ثنتان څكه چې دا الفاظ اګر كه مفرد دي ليكن صورتونه د دې صورتونه د تثنيې دي
وَ مَعْنَاهَا مَعْنَى التَّثْنِيَةِ فَاُلْحِقَتْ بِهَا بِالْاَلِفِ رَفْعًا وَ الْيَاءِ الْمَفْتُوْحِ
او معنى د دې معنى د تثنيې ده نو پيوسته شو په هغې پورې په الف سره په حالت رفعي كې ياء چې مفتوح وي
مَا قَبْلَهَا نَصْبًا وَ جَرًّا كَمَا سَيَجِيْئُ.
ماقبل د هغې په حالت نصبي او جري كې چې رابه شي.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب كافيه د مضافا د قيد فائدې بيانوي.

اغراض د جامي : <u>**والما قيد بذلك لان كلا باعتبار لفظه مفرد :**</u> **د كلا او كلتا** سره يې د مضافا قيد ولږولو څكه چې كلا په اعتبار د لفظ سره مفرد دي څكه چې مفرد يې نښته او په اعتبار د معنى سره جمع ده لفظ يې تقاضا د اعراب بالحركة كوي او معنى يې تقاضا د اعراب بالحرف كوي نو د دواړو اعتبارينو لحاظ په كې ساتلې شوي دي هر كله يې چې اضافت اسم ظاهر ته وشي نو اعراب به يې بالحركة وي خو تقديرا څكه چې په اخر كې الف دي نو دا به د التقاء ساكنينو د وجې نه غورزيږي او اعراب به په عين كلمه جاري كيږي لكه **جاءني كلا الرجلين ورأيت كلا الرجلين ومررت بكلا الرجلين ،** او چې كله يې اضافت اسم ضمير ته وشي نو بيا به يې اعراب بالحرف وي

لکه جاء ني کلاهما ورأیت کلیهما ومررت بکلیهما

فلذلک قید کون اعرابه بالحروف بکونه مضافا الی مضمر : په دې عبارت سره شارح نتیجه ذکر کوي

واثنان وکذا اثنتان : دا حکم دا اثنان نه دي بلکه د اثنتان اوثنتان هم دا حکم دي ، بل داچې دا الفاظ اګر که مفرد دي لیکن صورت یې دتثنیې دي ، په دې باندې یو سوال وارديږي :

سوال : کلا دې ذکر کړو اوکلتا دې ذکر نه کړو اوودې ویل چې دا فرع ده دلته به دې هم داسې کړې وي

جواب : شارح ددې دوه جوابات ذکر کړي دي

اول جواب : دا اسماء العدد دي اوددوي تمیز خلاف القیاس راځي خو دلته مونث دا کار خلاف القیاس وکړو خو دا وجه ضعیفه ده

دوهم جواب : دا چې مونث دفع دتوهم دپاره ذکر کړو چې متوهم به دا وهم کولو چې د اثنان به داسې اعراب وي اود اثنتان به داسې اعراب نه وي نو دا سوال او وهم خو په کلا هم راځي چې هلته هم داسې وهم کیدای شو .

جَمْعُ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ وَ الْمُرَادُ بِهٖ مَا سُمِّيَ بِهٖ اِصْطِلَاحاً وَ هُوَ الْجَمْعُ بِالْوَاوِ وَ النُّوْنُ فَيَدْخُلُ
جمع مذکرسالم اومرادپه دې سره هغه ده چې مسمی کوي اصطلاحاهغه جمع په واواونون سره ده نوداخلیږي
فِيْهِ نَحْو سِنِيْنَ وَ اَرَضِيْنَ مِمَّا لَمْ يَكُنْ وَاحِدُهٗ مُذَكَّراً لِيكُنْ يَجْمَعُ بِالْوَاوِ وَ النُّوْنِ وَ مَا
په دې کې په مثل د سنین او ارضین هغه چې نه وي واحد د هغې مذکر لیکن جمع کیږي په واو او نون سره او هغه
اُلْحِقَ بِهٖ وَ هُوَ اُلُوْا جَمْعُ ذُوْ لَا عَنْ لَفْظِهٖ وَ عِشْرُوْنَ وَ اَخَوَاتُهَا اَيْ نَظَائِرُهَا
چې ملحق وي تردې پورې چې هغه اولو ده چې جمع د ذوده نه په لفظ کې اوعشرون اواخوات ددې یعني نظائر
السَّبْعُ وَ هِيَ ثَلٰثُوْنَ اِلٰى تِسْعِيْنَ وَ لَيْسَ عِشْرُوْنَ جَمْعُ عَشَرَةٍ وَلَا ثَلٰثُوْنَ جَمْعُ ثَلٰثَةٍ وَ اِلاَّ لَصَحَّ اِطْلَاقُ
سبع چې د ثلاثون نه ترتسعین پورې اونه عشرون جمع د عشرة اونه ثلاثون جمع د ثلاثة ورنه صحیح به وي اطلاق
عِشْرِيْنَ عَلٰى ثَلٰثِيْنَ لِاَنَّهٗ ثَلٰثَةُ مَقَادِيْرَ الْعَشَرَةِ وَ اِطْلَاقُ ثَلٰثِيْنَ عَلَى التِّسْعَةِ لِاَنَّهَا ثَلٰثَةُ
دعشرین په ثلاثین خکه چې ثلاثه مقادیرد عشرودي اوصحیح به وواطلاق د ثلاثین په تسعو باندې خکه چې ثلاثه
مَقَادِيْرَ الثَّلٰثَةِ وَ عَلٰى هٰذِهِ الْقِيَاسِ الْبَوَاقِيْ وَ اَيْضاً هٰذِهِ الْاَلْفَاظُ عَلٰى مَعَانٍ مُعَيَّنَةٍ
مقادیر د ثلاثودي اوپه همدې قیاس باندې باقي هم دي اوهمدارنګې دغه الفا .. دلت کوي په معنی معینو

وَلَا تَعْيِيْنَ فِي الْجُمُوْعِ بِالْوَاوِ رَفْعاً وَ الْيَاءِ الْمَكْسُوْرِ مَا قَبْلَهَا نَصْباً وَ جَرًّا.

باندې تعین نشته په جموع کې په واوسره په حالت رفعي په یاء مکسورې ماقبل سره په حالت نصب اوجري کې

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافیه تعریف دجمع مذکر سالم کوي

اغراض دجامي : جمع المذكر السالم : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال : دا دی چې تا کوم د جمع مذکرې سالمې اعراب ذکر کړی دی هغه جامع هم نه دی او مانع هم نه دی . جامع خو ځکه نه دی چې سنون او ارضون د مونث جمع سالمې دي خو ددې اعراب بالحرکت حکمي نه دی هغه چې کوم تا بیان کړې بلکې ددې اعراب بالحرف دی او مانع خو ځکه نه دی چې مرفوعات منصوبات او مجرورات د مذکرجمع سالمه ده خو ددې اعراب هم دغه دی کوم چې تا د جمع مذکر سالمې لپاره ښودلی و

جواب : شارح په مذکوره عبارت کې ددې جواب ورکړو، چې تا دلته د جمع مذکر سالمې لغوي معنی اخیستې ده او سوال دې کړی دی، چې کومه د مذکر جمع سالمه ده او زمونږ مراد اصطلاحي معنی ده او په اصطلاحي کې د جمع مذکر سالمې نه مراد هغه جمع ده، چې د هغې په آخر کې واو او نون وي قطع نظر د دې نه، چې ددې مفرد مذکر وي یا مؤنث بس چې د چا په آخر کې چې الف او تاء وي هغه جمع مؤنث سالمه ده.

وما الحق به : الو دا جمع ده خو دمحلقاتو دجمع څخه ده ځکه معنی خو یې دجمع ده خو مفرد ورلره من لفظه نشته دي ځکه مفرد یې ذو دي نو چې لفظ دمفرد یې جدا شو نو هم حقیقتا ونه ګرځیده جمع ذو لا عن لفظه دا دلیل دي دملحق کیدلو دپاره .

وعشرون واخواتها : او اخوات یې د ثلاثون نه دي تر تسعون پورې .

ولیس عشرون جمع عشرة : عشرون داجمع دعشرة نه ده اوکه چیرته شي نو صحیح به شي اطلاق دعشرون په ثلاثون باندې ځکه اقل دجمع دري دي اودرې وارې عشرة دانه دي مګر ثلاثین اونه ثلاثین جمع دثلاثة ده ځکه صحیح به شي اطلاق دثلاثین په تسعة باندې ځکه اقل افراد دجمع دري دي اودري وارې ثلاثة دا نه دي مګر تسعة .

وایضاً هذه الالفاظ تدل علی معان : دا الفاظ چې عشرون نه تر تسعون پورې دا دلالت کوي په معانیو معینو باندې اوپه جموعو کې تعین نه وي .

وَ إِنَّمَا جُعِلَ إِعْرَابُ الْمُثَنَّى مَعَ مُلْحَقَاتِهِ وَ الْجَمْعُ مَعَ مُلْحَقَاتِهِ بِالْحُرُوْفِ لِأَنَّهُمَا فَرْعَانِ لِلْوَاحِدِ

اوو ګرځولې شي اعراب دمثنى سره دملحقاتو او دجمع سره دملحقاتو ځكه چې دادواړه فرعي دي دپاره دواحد

وَ فِيْ آخِرِهِمَا حَرْفٌ يَصْلَحُ لِلْإِعْرَابِ وَ هُوَ عَلَامَةُ التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ فَتَنَاسَبَ

او په آخر ددې دواړو كې دا سې حرف دي صلاحيت لري داعراب چې هغه علامه دتثنيې او دجمع دي پس مناسب

أَنْ يَجْعَلَ ذٰلِكَ الْحَرْفُ إِعْرَابَهُمَا لِيَكُوْنَ إِعْرَابُهُمَا فَرْعاً لِإِعْرَابِهِ

دي چې وګرځولې شي دغه اعراب ددې دواړو دي د پاره چې شي اعراب بالحرف فرع دپاره داعراب بالحركة

كَمَا أَنَّهُمَا فَرْعَانِ لَهُ لِأَنَّ الْإِعْرَابَ بِالْحُرُوْفِ فَرْعٌ لِلْإِعْرَابِ بِالْحَرَكَاتِ وَ لَمَّا

لكه ځنګه چې دادواړه فرعې دي د پاره دهغې ځكه چې اعراب بالحرف فرعه ده داعراب بالحركة او هركله

جُعِلَ إِعْرَابُهُمَا بِالْحُرُوْفِ وَ كَانَ حُرُوْفُ الْإِعْرَابِ ثَلٰثَةً وَ إِعْرَابُهُمَا سِتَّةً ثَلٰثَةً لِلْمُثَنّٰى

چې وګرځولې شو اعراب ددې دواړو په حرف سره او وو حروف داعراب درې او اعراب ددې دواړو شپږ وو درې دمثنى

وَ ثَلٰثَةً لِلْمَجْمُوْعِ فَلَوْ جَعَلَ إِعْرَابُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِتِلْكَ الْحُرُوْفِ الثَّلٰثَةِ لَوَقَعَ

او درې د جمع پس كه چيرته ګرځولې شوې وې اعراب د هر يو ددې په دغه حروفو ثلاثو سره نو واقع شوې به وې

الْاِلْتِبَاسُ وَ لَوْ خُصَّ الْمُثَنّٰى بِهَا بَقِيَ الْمَجْمُوْعُ بِلَا إِعْرَابٍ وَ لَوْ خُصَّ

التباس او كه چيرته خاص شوې وې مثنى په دې سره باقي به پاتي وه جمع به غير داعراب نه او كه خاص شوې وې

الْمَجْمُوْعُ بِهَا بَقِيَ الْمُثَنّٰى بِلَا إِعْرَابٍ فَوُزِّعَتْ عَلَيْهِمَا بِأَنْ جُعِلُوا الْأَلِفَ

جمع په دې سره نو باقي به وې مثنى په غير داعراب نه پس تقسيم كړې شو په دې دواړو چې وګرځولې شو الف

عَلَامَةَ الرَّفْعِ فِي الْمُثَنّٰى لِأَنَّهُ الضَّمِيْرُ الْمَرْفُوْعُ لِلتَّثْنِيَةِ فِي الْفِعْلِ نَحْوُ يَضْرِبَانِ وَ ضَرَبَا وَ الْوَاوُ

علامت د رفع په مثنى كې ځكه چې دا ضمير مرفوع دي د پاره د تثنيې په فعل كې لكه يضربان و ضربا او واو

عَلَامَةُ الرَّفْعِ فِي الْمَجْمُوْعِ لِأَنَّهُ الضَّمِيْرُ الْمَرْفُوْعُ لِلْجَمْعِ فِي الْفِعْلِ نَحْوُ يَضْرِبُوْنَ وَ ضَرَبُوْا وَ

علامه د رفعې په جمع كې ځكه چې دا ضمير مرفوعه دي د پاره د جمع په فعل كې لكه يضربون او ضربوا او وې

جُعِلُوْا إِعْرَابَهُمَا بِالْيَاءِ حَالَ الْجَرِّ عَلَى الْأَصْلِ وَ فَرَّقُوْا بَيْنَهُمَا

ګرځول اعراب د دواړو په ياء سره په حالت جوې كې بناء براصليت او فرق يې راوستو په مينځ د دواړو كې چې

بِأَنْ فَتَحُوْا مَا قَبْلَ الْيَاءِ فِي التَّثْنِيَةِ لِخِفَّةِ الْفَتْحَةِ وَ لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِ التَّثْنِيَةِ وَ كَسَرُوْهُ

فتحه يې وركړه ماقبل دياء ته په تثنيه كې دوجې دخفت دفتحې نه اودزيات استعمال دتثنيې نه او كسره يې

فِي الْجَمْعِ لِثِقْلِ الْكَسْرَةِ وَ قِلَّةِ الْمَجْمُوْعِ وَ حَمَلُوا النَّصْبَ عَلَى الْجَرِّ

وركړه په جمع كې دوجې دثقيل والي دكسرې نه اودكم استعمال دجمع نه او حمل يې كړو نصب په جر باندې نه

لَا عَلَى الرَّفْعِ لِمُنَاسَبَةِ النَّصْبِ بِالْجَرِّ لِوُقُوْعِ كُلٍّ مِنْهُمَا فُضْلَةً فِي الْكَلَامِ.

په رفع باندې دوجې دمناسبت دنصب دجر سره ځكه چې دواړه په كلام كې فضله واقع كيږي

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافیه وجه داعراب بیانوي

اغراض دجامي : <u>وانما جعل الاعراب المثنى مع ملحقاته بالحروف</u> : تثنيې اوجمع او محلقاتو ددې ته اعراب بالحرف ورکړې شو ځکه چې دافرع دواحد ده اواعراب بالحرف دا فرع داعراب بالحرکة وي اوپه آخر ددې دواړو کې چې تثنيه اوجمع ده حرف صالح للاعراب ؤ چې هغه علامه دتثنيه اودجمع ده نو مناسب وه چې دغه حرف صالح اعراب وګرځي ددې دواړو دپاره چې شي اعراب ددوي فرعه داعراب دمفرد لکه څرنګه چې دوي فرعه وو دمفرد

په دې باندې يو سوال وارديږي .

سوال : دا خو لازم شو توارد دعلتينو مستقليتنو په معلول واحده باندې علامه دتثنيه او د اعراب دواړو شوه اوهمدارنګه واو .

جواب : دا خو علل حقيقيه نه دي بلکه علامات دي او يو شئ د ډيرو شيانو دپاره هم علامه ګرځيدې شي .

<u>ولما جعل اعرابهما بالحروف وكان حروف الاعراب ثلاثه</u> : هر کله چې اعراب دتثنيه اودجمع بالحرف وو اوحروف داعراب دري وو اواعراب دتثنيه هم دري حالات وو اودجمع هم دري حالات وو که چيرته مو حروف داعراب تثنيه ته ورکړې وي نو جمع بلا اعرابه پاتې کيده اوکه عکس مو کړې وي نو تثنيه بلا اعرابه پاتې کيده اوکه مشترک کړې مو وي نو ويره دالتباس وه نو تقسيم مو وکړو په داسې طريقې سره چې الف مو علامه درفع کړې په تثنيه کې ځکه دا الف ضمير دفاعل دې په تثنيه کې لکه يضربان اوضربا ا واو مو علامه درفع وګرځوله په جمع کې ځکه دا ضمير دفاعل دې په جمعو کې اوحالت جري يې په دواړو کې په ياء سره وګرځولو .

<u>وفرقوا بينهما الخ</u> : په دې عبارت سره شارح فرق بيانوي چې فرق مو دتثنيې وکړو دجمع سره په ماقبل د ياء سره په تثنيه کې به مفتوح وي ماقبل دياء اوپه جمعو کې به مکسور وي اوحالت نصبي مو تابع دجري وګرځولو .

<u>وحملوا النصب على الجر لا على الرفع</u> : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي .

سوال : جر يې تابع دنصب ولې نه کړو ؟

جواب : چې نصب يې تابع دجر کړو ځکه مناسبت دنصب دجر سره شته چې هغه وقوع ددې دواړو ده په کلام کې فضله .

د اعراب لفظي او تقديري ځايونه:

وَ لَمَّا فَرَغَ مِنْ تَقْسِيمِ الإِعْرَابِ إِلَى الحَرَكَةِ وَ الحَرْفِ وَ بَيَانُ مَوَاضِعِهِمَا المُخْتَلِفَةِ شَرَعَ
او کله چې فارغ شو مصنف د تقسيم د اعراب نه حرکت او حرف ته او د بيان د مواضعو مختلفو د هغې نه نو شروع

فِي بَيَانِ مَوَاضِعِ الإِعْرَابِ اللَّفْظِيِّ وَ التَّقْدِيرِيِّ الَّذِيْنَ أُشِيْرَ إِلَى تَقْسِيمِهِ إِلَيْهِمَا فِيْمَا سَبَقَ وَ لَمَّا
يې وکړه په بيان د مواضعو د اعراب لفظي او تقديري کې چې اشاره يې وکړه تقسيم د دې دواړو ته مخکې هر کله

كَانَ التَّقْدِيرِيُّ أَقَلَّ إِشَارَةً إِلَيْهِ أَوَّلًا ثُمَّ بَيَّنَ أَنَّ اللَّفْظِيَّ مَا عَدَاهُ فَقَالَ
چې وو اعراب تقديري کم نو اشاره يې وکړه هغې ته اولاً بيا يې وويل چې لفظي ماسوا د هغې دي پس ري ويل

التَّقْدِيرُ أَيْ تَقْدِيرُ الإِعْرَابِ فِيْمَا أَيْ فِي الإِسْمِ المُعْرَبِ الَّذِيْ تَعَذَّرَ الإِعْرَابُ فِيْهِ أَيْ
چې تقديري اعراب يعني تقدير د اعراب په هغه اسم معرب کې چې متعذر وي اعراب په هغې کې يعني چې

اِمْتَنَعَ ظُهُوْرُهُ فِي لَفْظِهِ وَ ذٰلِكَ إِذَا لَمْ يَكُنِ الحَرْفُ الَّذِيْ هُوَ مَحَلُّ الإِعْرَابِ قَابِلاً لِلْحَرَكَةِ
مانع وي ظهور د اعراب په لفظ کې او دا چې کله نه وي حرف چې هغه محل د اعراب دي قابل د پاره د حرکت

الإِعْرَابِيَّةِ كَمَا فِي الإِسْمِ المُعْرَبِ بِالْحَرَكَةِ الَّذِيْ فِي آخِرِهِ أَلِفٌ مَقْصُوْرَةٌ سَوَاءٌ كَانَتْ مَوْجُوْدَةً فِي
اعرابيه لکه څنګه چې په اسم معرب بالحرکة دي چې آخر يې الف مقصوره وي برابره خبره ده که موجود وي په

اللَّفْظِ كَالْعَصَا بِلَامِ التَّعْرِيْفِ أَوْ مَحْذُوْفَةً بِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ كَعَصاً بِالتَّنْوِيْنِ فَإِنَّ الأَلِفَ
لفظ کې لکه عصا په لام د تعريف سره يا محذوف وي په التقاء د ساکنينو لکه عصاً په تنوين سره څکه چې الف

المَقْصُوْرَةَ فِي الصُّوْرَتَيْنِ غَيْرَ قَابِلَةٍ لِلْحَرَكَةِ وَ كَمَا فِي الإِسْمِ المُعْرَبِ بِالْحَرَكَةِ المُضَافِ إِلَى يَاءِ
مقصوره په دواړو صورتونو کې غير قابل دي د پاره د حرکت او يا په اسم معرب بالحرکة کې چې مضاف وي ياء د

المُتَكَلِّمِ نَحْوُ غُلَامِيْ فَإِنَّهُ لَمَّا اشْتَغَلَ مَا قَبْلَ يَاءِ المُتَكَلِّمِ بِالْكَسْرَةِ لِلْمُنَاسَبَةِ قَبْلَ
متکلم ته لکه غلامي څکه چې کله مشغول شو ماقبل د ياء د متکلم په کسري سره دوجې د مناسبت نه مخکې د

دُخُوْلِ العَامِلِ اِمْتَنَعَ أَنْ يَدْخُلَ عَلَيْهِ حَرَكَةٌ أُخْرَى بَعْدَ دُخُوْلِهِ مُوَافَقَةً
دخول د عامل نه نو منع ده چې داخل شي په دې باندې حرکت آخر وروستو د دخول د عامل نه د پاره د موافقت د

لَهَا أَوْ مُخَالِفَةً فَمَا ذَهَبَ إِلَيْهِ بَعْضٌ مِنْ أَنَّ إِعْرَابَ مِثْلِ هٰذَا الإِسْمِ فِي حَالَةِ الجَرِّ
هغې او يا د مخالفت پس هغه چې ذهاب کړې هغې ته بعضې هغه چاچې اعراب د مثل د دې اسم په حالت جري

لَفْظِيٌّ غَيْرُ مَرْضِيٍّ مُطْلَقًا أَيْ فِي الأَحْوَالِ الثَّلٰثِ يَعْنِيْ كَوْنُ الإِعْرَابِ تَقْدِيْراً فِي هٰذَيْنِ النَّوْعَيْنِ
کې لفظي دي غير صحيح ده مطلقاً يعني په احوال ثلاثو کې يعني کيدل د اعراب دي تقديري په دغه نوعو کې د

مِنَ الإِسْمِ المُعْرَبِ إِنَّمَا هُوَ فِي جَمِيْعِ الأَحْوَالِ غَيْرَ مُخْتَصٍّ بِبَعْضِهَا أَوْ اِسْتُثْقِلَ عَطْفٌ عَلَى تَعَذَّرَ أَيْ تَقْدِيْرُ
اسم معرب نه دا په ټولو احوالو کې غير مختص دي د بعضې پورې استثقل عطف دي په تعذر باندې يعني تقدير د

الْإِعْرَابِ فِيْمَا تَعَذَّرُوْا فِي الْإِسْمِ الَّذِيْ اسْتُثْقِلَ ظُهُوْرُ الْإِعْرَابِ فِيْ لَفْظِهٖ وَ ذٰلِكَ إِذَا كَانَ
اعراب په هغه خای کې چې متعذر وي یا په هغه اسم کې چې ثقیل وي ظهور د اعراب په لفظ کې دا ده چې کله
مَحَلُّ الْإِعْرَابِ قَابِلاً لِلْحَرَكَةِ الْإِعْرَابِيَّةِ لٰكِنْ يَكُوْنُ ظُهُوْرُهٗ فِي اللَّفْظِ ثَقِيْلًا عَلَى اللِّسَانِ كَمَا
وي محل د اعراب قابل د پاره د حرکت اعرابیه لیکن ثقیل وي ظهور د اعراب په لفظ کې په ژبه لکه څرنګه چې
فِي الْإِسْمِ الَّذِيْ فِيْ آخِرِهٖ يَاءٌ مَكْسُوْرٌ مَا قَبْلَهَا سَوَاءٌ كَانَتْ مَحْذُوْفَةً بِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ كَقَاضٍ أَوْ غَيْرَ مَحْذُوْفَةٍ
په هغه اسم کې چې آخري یاء ماقبل مکسوره وي محذوفه وي په التقاء د ساکنینو لکه قاضٍ یا غیر محذوفه وي
كَالْقَاضِيْ رَفْعاً وَ جَرًّا أَيْ فِيْ حَالَتَيِ الرَّفْعِ وَ الْجَرِّ لَا فِيْ حَالَةِ النَّصْبِ لِاسْتِثْقَالِ
لکه قاضي په حالت رفعي او جري کې یعنې په دواړو حالتونو د رفع او جر کې نه په حالت د نصب کې د وجې د ثقیل
الضَّمَّةِ وَ الْكَسْرَةِ عَلَى الْيَاءِ دُوْنَ الْفَتْحَةِ.
والي د ضمې او کسرې نه په یاء باندې په غیر د فتحې نه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافیه د اعراب لفظي او تقدیري بیان کوي .

اغراض دجامي : ولما فرغ من تقسيم الاعراب الى الحركة والحرف : په دې عبارت سره شارح تذکیر د ماسبق او توطیه او تمهید د متن آتي د پاره کوي .

ولما كان التقديري : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : اعراب لفظي اصل دي په نسبت سره اعراب تقدیري ته په کار وه چې اعراب لفظي یې مقدم کړې وي په اعراب تقدیري باندې سره ددې نه چې ده وروستو ذکر کړي دي .

جواب : شارح ددې دوه جوابات ورکړي دي :

اول جواب : خبره دې صحیح ده خو د تقدیري اقسام کم دي دوه دي یو فیما تعذر او دویم استثقل او اقل مقدم وي په اکثر باندې .

دوهم جواب : زمونږ مقصد او مراد اختصار وو او اختصار په دې کې وو چې اول تقدیري ذکر کړو او بیا لفظي .

التقدير اى تقدير الاعراب : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : زمونږ خبره شروع وه په اعراب کې او ته تقدیرا تو ته لاړې .

جواب : نو شارح جواب ورکړو چې زه مقدرات نه بیانوم بلکه تقدیر د اعراب بیانوم .

فيما اى في الاسم المعرب : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې اعراب به تقديري وي په هغه ځای کې چې اعراب متعذر وي نو مبني خو هم متعذر دي په کار ده چې په تولو مبنیاتو کې اعراب تقديري شي

جواب : مراد د ما نه اسم معرب دي نه اسم مبني

تعذر الاعراب فيه : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې ما موصوله شوه نو تعذر ضمير ما ته راجع دي اوکه اعراب ته که ما ته راجع وي نو فساد دمعنی راځي نو معنی دا شوه چې اعراب به تقديري وي په هغه اسم معرب کې چې تعذر وي په کې معرب ، اوکه ضمير اعراب ته راجع کوي نو معنی خو صحيح شوه خو ليکن تعذر دا جمله صله واقع شوې او چې جمله صله واقع شي نو هغې کې عائد ضروري وي نو صله بلا عائده وګرځيده

جواب : ضمير اعراب ته راجع دي خو کله کله عائد حذف کيږي .

اي امتنع : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : تعذر او داستثقل خو يوه معنی ده چې ګران نو په دې اقسامو کې خو تقابل صحيح نه شو .

جواب : د تعذر معنی ده چې مانع وي دظهور نه اوداستثقال معنی ده چې ظهور يې کيدې شي خو ثقل په لسان راولي .

وذلک اذا لم يکن الحرف الذي : بيان دقاعدې دتقدير داعراب به په هغه صورت کې وي چې هغه حرف چې هغه محل داعراب ږي چې هغه قابل دحرکت اعرابيه نه وي لکه هغه اسم مقصور چې په اخر کې يې الف مقصوره وي اومعرب بالحرکة وي اوس برابره خبره ده چې دغه الف يې په لفظ کې ذکر وي لکه العصا اوکه حذف شوې وي په التقاء دساکنينو سره لکه په عصاً کې تنوين او الف دواړه ساکن دي نو الف حذف شوې اوهمدارنګه هغه اسم معرب بالحرکة چې مضاف وي ياء دمتکلم ته لکه غلامي .

فان الالف غير قابل : چې الف دا قابل دحرکت نه دي په اسم مقصور کې .

نحو غلامي فانه : دغلامي اعراب به تقديري وي ځکه چې ماقبل دياء نه مشغول وي په کسرې سره دمناسبت دياء دوجې نه مخکې ددخول دعامل نه اوس دعامل ددخول نه بعد پرې بل حرکت هم نه شي راتللې چې موافق وي دحرکت دياء سره اوکه مخالف موافق خو ځکه نه شي

راتلې چې لازم به شي توارد دعلتينو په معلول واحده کې ياء يو دا معلول دي او يو علت هغه کسره اوبل به عامل شي اومخالف حرکت هم نه شي راتلې ځکه لازم به شي وجود دعلت په غير دمعلول نه علت به وي چې ياء ده اومعلول چې کسره دماقبل دياء ده نه وي.

دلته يو سوال وارديږي:

سوال: مخکې تا وويل چې الف هم علامه دتثنيې اوعلامه داعراب ده دلته به دې هم داسې کړې وي کسره به دې هم علامه داعراب اوهم علامه دياء کړې وي.

جواب: دا مونږ نه شو کولې ځکه په تثنيه کې چې الف علامه دتثنيه ده خو علامه حقيقيه ده اومونږه چې غلامه درفع ګرځولې وه نو هغه علامه اصطلاحيه وه يوه علامه حقيقيه ده اوبله اصطلاحيه لکه جاءني زيد دلته دلته عامل حقيقي متکلم دي اوعامل اصطلاحي هغه جاءني دي نو دلته يوه رفعه ده اواثر دعامل حقيقي اواصطلاحي دواړو وګرځيده نو دعامل اصطلاحي او حقيقي جمع په يو معمول کې راتلې شي.

فما ذهب اليه بعض: په غلامي کې په حالت جري کې اعراب لفظي دي اوتوارد نه لازميږي ځکه دا جر معلول دياء دپاره وو مخکې او اوس دامعلول وګرځيده دپاره دعامل يادعلت.

مطلقا: دا ځکه منصوب دي چې دا حال دي دغلامي نه اوغلامي معنىً مفعول مطلق دي دتعذر دپاره تعذر فعل الاعراب فاعل كعصاً وغلامي كاف په معنى دمثل سره.

او استثقل عطف على تعذر: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: زه به درته وښائم چې يو لفظ به وي په لسان باندې به ثقيل وي اواعراب به يې تقدري نه وي لکه قبر حرب بمکان قفر ليس قرب قبر حرب قبر.

جواب: ظهور داعراب به پرې ثقيل وي اوتا چې کوم مثال ذکر کړو ددې خو الفاظ ثقيل دي په لسان باندې.

وذلک اذا کان محل الاعراب الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: تعذر يې فعل معلوم راوړو او استثقل يې فعل مجهول نو ددې څه وجه ده ؟.

جواب: تعذر فعل لازمي دي نو ددې وجې نه يې معلوم راوړ او استثقل متعدي دي نو ددې وجې نه يې هغه مجهول راوړو.

رفعاً وجراً اى في حالتي الرفع والجر: په في حالتي الرفع والجر سره وجه دنصب معلومه شوه چې رفعاً

جرا دامنصوب دي بنابر ظرف زمان

وَ نَحو مُسْلِمِيَّ عَطفٌ عَلى قَوْلِهِ كَقَاضٍ يَعْنِي تَقْدِيْرُ الاِعْرَابِ لِلاِسْتِثْقَالِ قَدْ يَكُوْنُ فِي الاِعْرَابِ بِالْحَرَكَةِ

او مسلمي عطف دي په قول د مصنف قاضٍ باندې يعني تقدير د اعرب د وجې د ثقل نه كله وي په اعراب بالحركة

وَ قَدْ يَكُوْنُ فِي الاِعْرَابِ بِالْحَرْفِ نَحو مُسْلِمِيَّ بِخِلَافِ تَقْدِيْرِ الاِعْرَابِ لِلتَّعَذُّرِ فَاِنَّهُ مُخْتَصٌّ

كې او كله وي په اعراب بالحرف كې لكه مسلمي په خلاف د تقدير د اعراب متعذر نه خكه چې هغه خاص دي

بِالاِعْرَابِ بِالْحَرَكَةِ رَفْعاً يَعْنِيْ تَقْدِيْرُ الاِعْرَابِ فِيْ نَحْو مُسْلِمِيَّ اِنَّمَا هُوَ فِيْ حَالَةِ الرَّفْعِ

په اعراب بالحركة پورې په حالت رفعي كې يعني تقدير د اعراب په مثل د مسلمي دا په حالت د رفعي كې دي

فَقَطْ دُوْنَ النَّصْبِ وَ الْجَرِّ نَحو جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ فَاِنَّ اَصْلَهُ مُسْلِمُوْيَ بِسُقُوْطِ النُّوْنَ بِالاِضَافَةِ

فقط په غير د نصب او جر نه لكه جاءني مسلمي خكه اصل د دي مسلموي وو په سقوط د نون د وجې د اضافت نه نو

فَاجْتَمَعَ الْوَاوُ وَ الْيَاءُ وَ السَّابِقُ مِنْهُمَا سَاكِنٌ فَاُنْقُلِبَتِ الْوَاوُ يَاءً وَ اُدْغِمَتِ الْيَاءُ فِيْ يَاءٍ وَ كُسِرَ مَاقَبْلَ

جمع شو واو او ياء او مخكې ترې نه ساكن نو بدل شو واو په ياء باندې نو مدغم شوه ياء په ياء كې او مكسور شو ماقبل

الْيَاءِ فَلَمْ يَبْقَ عَلَامَةُ الرَّفْعِ الَّتِيْ هِيَ الْوَاوُ فِي اللَّفْظِ فَصَارَ الاِعْرَابُ فِيْ حَالَةِ الرَّفْعِ تَقْدِيْرِيًّا

د ياء نه پس پاتې نه شو علامه د رفع چې هغه واو وو په لفظ كې پس وګرځيده اعراب په حالت رفعي كې تقديرا په

بِخِلَافِ حَالَتِيِ النَّصْبِ وَ الْجَرِّ فَاِنَّ الاِدْغَامَ يَخْرُجُ الْيَاءُ مِنْ حَقِيْقَتِهَا فَاِنَّ الْيَاءَ الْمُدْغَمَةَ اَيْضاً يَاءٌ

خلاف د حالت نصبي او جري كې خكه چې ادغام نه خارجوي ياء د خپل حقيقت نه خكه چې ياء مدغمه هم ياء ده

وَقَدْ يَكُوْنُ الاِعْرَابُ بِالْحُرُوْفِ تَقْدِيْرِيًّا فِي الاَحْوَالِ الثَّلٰثِ فِيْ مِثْلِ جَاءَنِيْ اَبُو الْقَوْمِ وَ رَاَيْتُ اَبَا الْقَوْمِ وَ مَرَرْتُ بِاَبِي

او كله وي اعراب په حروفو سره تقديري په درې واړو احوالو كې په مثل د جاءني ابو القوم ورأيت ابا القوم ومررت بابي

الْقَوْمِ فَاِنَّهُ لَمَّا سَقَطَ حُرُوْفُ الاِعْرَابِ عَنِ اللَّفْظِ بِالْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ لَمْ يَبْقَ الاِعْرَابُ لَفْظاً

القوم خكه چې كله چې ساقط شو حروف د اعراب د لفظ نه د وجې د التقاء ساكنينو نه پاتې نه شو اعراب لفظي

صَارَ تَقْدِيْرِيًّا وَ اللَّفْظِيُّ اَيْ الاِعْرَابُ الْمُتَلَفَّظُ فِيْمَا عَدَاهُ يَعْنِيْ فِيْمَا عَدَا

بلكې وګرځيد تقديري او لفظي يعني هغه اعراب چې تلفظ پرې كيدې شي ماسوي د دغو ځايونو نه دي يعني

مَا ذَكَرَهُ مِمَّا تَعَذَّرَ فِيْهِ الاِعْرَابُ اَوْ اسْتُثْقِلَ وَ لَمَّا ذَكَرَهُ فِيْ تَفْصِيْلِ الْمُعْرَبِ

چې كوم مونږ ذكر كړل هغه چې متعذر وو په هغې كې اعراب او يا ثقيل وو كله چې ذكر شو په تفصيل د معرب كې

الْمُنْصَرِفِ وَ غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ وَ كَانَ غَيْرُ الْمُنْصَرِفِ اَقَلَّ مِنَ الْمُنْصَرِفِ وَ بِمَعْرِفَتِهِ يُعْرَفُ الْمُنْصَرِفُ عَلٰى

منصرف او غير منصرف او وو غير منصرف كم د منصرف نه او په پيژندلو د غير منصرف پيژندل شي منصرف په

قِيَاسِ الاِعْرَابِ التَّقْدِيْرِيِّ وَ اللَّفْظِيِّ عُرِفَ غَيْرُ الْمُنْصَرِفِ وَ اكْتَفٰى بِتَعْرِيْفِهِ

قياس د اعراب تقديري او لفظي ته نو تعريف وكړو مصنف د غير منصرف او اكتفا يې وكړه په تعريف د غير منصرف

نــقـــال.

نو وي ويل

اغراض دجامي : ونحو مسلمي عطف على قوله كقاضٍ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال : دا دی، چې لفظ د نحو مستدرك او بې فائدې دی ځكه چې ددې مسلمي عطف په قاضٍ باندې دی نو د كاف مثليه لاندې د عطف په واسطې سره داخل دی نو بيا د نحو څه ضرورت دی ؟

جواب : شارح ددې جواب وركړو، چې ددې عطف په قاض باندې نه دی، بلكې په كقاضٍ باندې دی لهذا د عطف په واسطې سره دا د كاف مثليه لاندې داخل نه شو.

وقد يكون الاعراب تقديريا بالحروف في الاحوال الثلاث : شارح وايي چې كله كله په دريو حالاتو كې هم اعراب بالحرف تقديري راتلې شي لكه جاء ني ابو القوم الخ

في ماعدا ما ذكر : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : دادی چې د ماعداه ضمير راجع دی د تعذر او استثقال طرف ته او هغه دوه څيزونه دي نو د تثنيې ضمير راوړل په كار وو، دلته د ضمير او د مرجع په مينځ كې مطابقت نشته دی.

جواب : ددې دواړو تاويل د ماذكر يا مذكور سره يې وكړو، بيا دې طرف ته ضمير راجع كړو مذكور واحد دی لهذا مطابقت موجود دی.

ولما ذكر في تفصيل المعرب : په دې عبارت سره شارح توطيه اوتمهيد كيږدي د متن آتي دپاره.

وكان غير المنصرف : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : په كار دا وه چې منصرف دې مخكې كړې وي په غير منصرف د دوه وجهو نه : اول داچې په اجمال كې منصرف مقدم وو او دوهم داچې منصرف اصل دي په نسبت سره غير منصرف ته څه په مصرب باندې په ټولو حالاتو كې اعراب جاري كيږي.

جواب : غير منصرف دا اقل دي ځكه دامشروط بشرائط دي اوكوم څيز چې مشروط بشرائط وي نو هغه اقل وجودا وي اوبله وجه داچې معرفت دمنصرف داپيژندل كيږي په غير منصرف لكه په اعراب لفظي اوتقديري كې يې چې كړې وو.

على قياس الاعراب اللفظي والتقديري : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : په اعراب تقديري کې دا ويلې وو چې التقدير فيما تعذر الى اخره واللفظي فيما عداه نو دلته به هم تعريف دغير منصرف کړې وي او بيا دې ويلي وي چې والمنصرف ماعداه

جواب : منصرف دا فرد دي دافرادو دغير منصرف نه او اعراب لفظي د اعراب تقديري نه نو څکه مو هلته داسې وويل اودلته مو ونه ويل

تعريف د غير منصرف :

غَيْرُ	الْمُنْصَرِفِ	مَا	اَیْ	اِسْمٌ	مُعْرَبٌ	فِيْهِ	عِلَّتَانِ	تُؤَثِّرَانِ بِاِجْتِمَاعِهِمَا

چې غير منصرف يعني هغه اسم معرب چې په هغې کې دوه علته مؤثره وي چې په اجتماع د هغه عللو سره او په

وَ اسْتِجْمَاعِ شَرَائِطِهِمَا فِيْهِ اَثَرٌ سَيَجِئُ ذِكْرُهُ مِنْ عِلَلٍ تِسْعٍ اَوْ عِلَّةٌ وَاحِدَةٌ مِنْهَا اَیْ

اجتماع د شرائطو د هغې سره په هغې کې اثر وکړي چې را به شي ذکر د هغې د علتونو نه او يا يو علت د دې نه يعني

مِنْ تِلْكَ التِّسْعِ تَقُوْمُ هٰذِهِ الْعِلَّةُ الْوَاحِدَةُ مَقَامَهَا اَیْ مَقَامَ هَاتَيْنِ الْعِلَّتَيْنِ بِاَنْ تُؤَثِّرَ وَحْدَهَا تَاثِيْرَهُمَا .

ددغو نهو علتونو نه چې قائم وي دغه يو علت په ځاى د دوه علتونو چې تأثير وکړي يو اځې تأثير د دوو عللو.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب کافيه د غير منصرف تعريف کوي .

اغراض د جامي : غير المنصرف: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

غير المنصرف مبتدا ده ما موصوفه فيه علتان دا ورلره صفت موصوف سره د صفت نه داخبر د مبتدا دى او مبتدا معرفه وي او دلته نکره ده څکه اضافت د غير سره هم دا معرفه نه ګرځي څکه غير دا هم متوغل في الابهام دي نو منصرف ده ته په اضافت سره معرفه نه ګرځي .

جواب : داخبره دې صحيح ده چې غير دتوغل في الابهام دوجې نه مضاف اليه دده معرفه نه ګرځي خو داهله چې مضاف اليه دغير دپاره اضداد کثيره وي او دلته خو ضد واحد دي چې د منصرف ضد غير منصرف دي فقط نو معرفه ګرځي لکه عرب وايي چې عليک بالحرکة غير السکون نو دلته الحرکة دا موصوف دي او غير السکون دا ورلره صفت دي او دلته هم صفت دا مضاف دي غير ته خو دغير د مضاف اليه چې سکون دي ، دې دپاره ضد واحد دي چې حرکة دي نو صفت هم معرفه وګرځيده .

ما اى اسم معرب: په دې عبارت سره شارح د ما وضاحت کوي چې ما موصوفه ده ، دلته يو سوال وارديږي :

سوال : ته وايې چې غير منصرف داهغه دي چې فيه علتان زه به درته وښايم چې دوه علته به په

کې وي او غیر منصرف به نه وي لکه ضربت یو په کې تانیث دي اوبل په کې وزن فعل یا وصفیت دي

جواب : په ای اسم سره جواب وشو چې مراد د ما نه اسم دي او ضربت خو فعل دي ، فاندفع الاشکال

دلته یو بل سوال وارد یږي

سوال : تا وویل چې غیر المنصرف ما فیه علتان زه به درته وښائم چې دوه علته به په کې وي او غیر منصرف به نه وي لکه حضار او تمار .

جواب : دوه سببه به وي خو په معرب کې او حضار او تمار خو مبني دي معرب نه دي .

فیه علتان تؤثران : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : زه به درته وښائم چې علتین به په کې وي اوحکم به یې دغیر منصرف نه وي لکه قائمة تنوین پرې راغلې اوسره ددې نه چې وصفیت اوتانیث په کې دي .

جواب : دوه سببه به وي خو مؤثر به وي او دلته خو مؤثر نه دي .

باجتماعها واستجماع شرائطهما فیه : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : دوه سببه به په کې وي اومؤثر به هم وي اوسره ددې نه حکم به یې دغیر منصرف نه وي لکه نوح په دې کې علمیت اوعجمه شته اوتنوین پرې راغلې دي .

جواب : سببین مؤثرین به وي خو سره دشرائطونه اوپه نوح کې تحرک الاوسط او زیادة علی الثلاثة دا دوه شرطه نه دي موجود .

اثراً سیجئ ذکره : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : په قائمة کې خو سببینو اثر کړې دي مخکې یې په ډیرو اطلاق کېدلو اوچې علم یې وګرځوي نو اوس یې په ډیرو اطلاق نه کیږي .

جواب : مراد د اثر نه علم اثر نه دي بلکه خاص اثر دي چې ان لا کسرة ولا تنوین .

من علل تسع او علة واحدة منها ای من تلک : په دې عبارت سره شارح اول د تسع نه مخکې علل راویستلو نو غرض یې ترې دادې چې تسع صفت دي موصوف غواړي چې علل دي نو عبارت په حذف د مضاف سره شو . اوبل رد کوي په شارح هندي هغه وایي چې دلته عبارت په حذف

دمضاف الیه سره دي چې من تسع علة دي اوس دا رد ولې کوي ځکه مقصد ددواړو خو یو دي نو دا رد ځکه کوي چې وروستو راځي او واحدة منها مونږ تقدیر راوباسو چې علة واحدة او شارح هندي وایي چې او واحدة علة نو واحد مضاف او علة مضاف الیه اومضاف الیه په حقیقت کې تمیز وي اوتمیز واحد لره نه راځي . نو ددې وجې نه یې دشارح هندي رد وکړو

منها ای من تلک التسع : په دې عبارت سره شارح په منها کې د ها دضمیر مرجع متعینه کوي چې د ها ضمیر راجع دي تسع ته .

تقوم : په دې عبارت‌سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال : په تقوم کې ضمیر چا ته راجع دي ؟

جواب : په تقوم کې ضمیر راجع دي علت واحدة ته .

په دې باندې یو سوال کیږي .

سوال : یو علت څنګه قائمقام ددوو سببو ګرځي ؟

جواب : مراد قیام في الذات نه دي بلکه مراد قیام في الاثر دي او اثر یې ان لا کسرة ولا تنوین دي

اقسام د غیر منصرف :

وَ هِيَ أَيِ الْعِلَلُ التِّسْعُ مَجْمُوْعُ مَا فِيْ هٰذَيْنِ الْبَيْتَيْنِ مِنَ الْأُمُوْرِ التِّسْعَةِ لَا كُلُّ وَاحِدٍ حَتّٰى يُقَالُ لَا
اودانهه علتونه جمع شوي دي په دې دووبیتونوکې داموروتسعونه، نه هریودهغې تردې چې وویلې شي چې نه
يَصِحُّ الْحُكْمُ عَلَى الْعِلَلِ التِّسْعِ بِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْ هٰذِهِ الْأُمُوْرِ وَ ذٰلِكَ الْمَجْمُوْعُ :
صحیح کیږي حکم په علل تسعویه هرواحد ددغه امورونه اودامجموعه دشعرده:

عِجْزٌ عَدْلٌ وَ وَصْفٌ وَ تَأْنِيْثٌ	وَ مَعْرِفَةٌ وَ عُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيْبٌ
عدل دي وصف دي تانیث دي	معرفه ده عجمه ده بیاجمع ده بیا ترکیب دي

وَ الْعَدُوْلُ فِيْ عَطْفِ هَاتَيْنِ الْعِلَّتَيْنِ مِنَ الْوَاوِ إِلٰى ثُمَّ لِمُجَرَّدِ الْمُحَافَظَةِ عَلَى الْوَزْنِ .
او عدول په عطف ددې دوو علتونو کې د واو نه ثم نه د پاره د ساتلو د وزن شعري دي .

وَ النُّوْنُ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَا أَلِفٌ	وَ وَزْنُ فِعْلٍ وَ هٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيْبٌ
اوهغه نون چې زائدوي مخکې دهغه نه الف وي	اووزن فعل دي اوداویناډیره نژدې ده حقیقت ته

فَقَوْلُهُ زَائِدَةٌ مَنْصُوْبٌ عَلٰى أَنَّهُ حَالٌ إِذِ الْمَعْنٰى وَ تَمْنَعُ النُّوْنُ الصَّرْفَ
داقول دمصنف چې زائدةٌ دامنصوب دي بنابرحالیت ځکه چې معنی به یې داشي چې منع کوي نون منصرف لره

حَالَ	كَوْنِهَا	زَائِدَةً	وَ	قَوْلُهُ	اَلِفٌ	فَاعِلُ	الظَّرْفِ	اَعْنِيْ	مِنْ	قَبْلِهَا اَوْ
په حال كون د نون كې چې زائد وي او دا قول د مصنف چې الف فاعل د ظرف دي يعني مخكې د هغې نه يا										
مُبْتَدأٌ خَبَرُهُ الظَّرْفُ الْمُتَقَدِّمُ وَلَا يَخْفٰى اَنَّهُ لَا يُفْهَمُ مِنْ هٰذَا التَّوْجِيْهِ زِيَادَةُ الْاَلِفِ مَعَ اَنَّهَا										
مبتداء ده چې خبريې ظرف متقدم دي او پټه دې نه وي چې نه فهميږي ددې توجيه نه زيادت د الف سره ددې نه										
اَيْضًا زَائِدَةٌ وَ لِهٰذَا يُعَبِّرُ عَنْهُمَا بِالْاَلِفِ وَ النُّوْنِ الزَّائِدَتَيْنِ.										
چې دا هم زائد دي او ددې وجې نه تعبير كيدې شي ددې دواړو نه په الف او نون زائدتان سره.										

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب كافيه اقسام دغير منصرف بيانوي.

اغراض دجامي : وهي اي العلل التسع : په دې عبارت سره شارح اول بيان دمرجعٔ كوي د هي ضمير راجع دي علل تسعو ته ، بل په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : هي واحد دي او عدل وصف تانيث الخ دا خبر دي نو لازم شو حمل د متعدد په مفرد باندې.

جواب : دلته عطف مقدم دي په ربط باندې.

وذلك المجموع شعر والعدول في عطف : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : بعضې اسباب عطف دي په واو سره او بعضې په ثم سره په دې كې څه نكته ده ؟

جواب : په دې كې صرف رعايت د وزن شوې دي.

فقوله زائدةً : په دې عبارت سره شارح د زائدةً دنصب وجه ذكر كوي چې زائدة څكه منصوب دي چې دا حال دي دنون نه ، په دې باندې يو سوال وارد شو :

سوال : حال دفاعل يا دمفعول نه وي او نون څه شئ دي ؟.

جواب : دانون معنىً فاعل دي اصل عبارت داسې دي چې وتمنع نون الصرف او زائدةً حال شو د نون نه چې فاعل دي او د نون فعل داول بيت نه معلوميږي چې موانع الصرف چې دا اسباب موانع دي.

اذ المعنى : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : حال خو يا د فاعل او يا د مفعول نه وي نو نون څه شئ دي.

جواب : نون معنىً فاعل دي.

وقوله الف: الف فاعل دي د ظرف من قبلها دي په اعتبار د متعلق سره چې ثبت من قبلها الف، أو مبتدأ الف مبتدا مؤخره او من قبلها خبر مقدم په اعتبار د متعلق سره چې الف ثابت دي

ولا يخفى: په دې عبارت سره شارح په دې ترکيب رد کوي .

والنون زائدة من قبلها الف: په حال کون د نون کې چې نون به زائد وي او مخکې به الف وي اوس پنه نشته چې الف به هم زائد وي او که نه سره د دې نه چې دې ته الف نون زائدتان وايي

وَ لَوْ جُعِلَ الْاَلِفُ فَاعِلاً لِقَوْلِهِ زَائِدَةٌ وَ الظَّرْفُ مُتَعَلِّقاً بِالزِّيَادَةِ وَ أُرِيْدَ بِزِيَادَةِ
که چيرته وګرځولي شي الف فاعل دپاره د قول زائدة او ظرف متعلق شي تر زيادت پورې او اراده شي د زيادت د
الْاَلِفِ قَبْلَ النُّوْنِ اشْتِرَاكُهُمَا فِيْ وَصْفِ الزِّيَادَةِ وَ تَقَدُّمِ الْاَلِفِ عَلَيْهَا فِيْ هٰذِهِ الْوَصْفِ
الف نه مخکې د نون نه شريکيدل د دواړو په وصف د زيادت کې او تقدم د الف په دې نون باندې په دغه وصف
فُهِمَ زِيَادَتُهُمَا جَمِيْعاً وَ هٰذَا اِذَا قُلْتَ جَاءَ زَيْدٌ رَاكِباً مِنْ قَبْلِهِ اَخُوْهُ فَاِنَّهُ يَدُلُّ عَلٰى
کې نو فهم به شي زيادت د دواړو او دا لکه څرنګه چې ته وايي جاء زيد راکباً من قبله اخوه څکه چې دلالت کوي په
اِشْتِرَاكِهِمَا فِيْ وَصْفِ الرُّكُوْبِ وَ تَقَدُّمِ اَخِيْهِ عَلَيْهِ فِيْ هٰذِهِ الْوَصْفِ وَ قَوْلُهُ وَ هٰذَا الْقَوْلُ
اشتراک د دې دواړو په وصف د رکوب کې او تقدم د اخ په زيد باندې په دغه وصف کې د اقول د مصنف هذا القول
تَقْرِيْبٌ يَعْنِيْ اَنَّ ذِكْرَهُ الْعِلَلَ بِصُوْرَةِ النَّظْمِ تَقْرِيْبٌ لَهَا اِلَى الْحِفْظِ لِاَنَّ حِفْظَ النَّظْمِ اَسْهَلُ اَوِ الْقَوْلُ بِاَنَّ
تقريب يعني ذکر د علل په صورت د نظم کې قريب دي يادوني ته څکه چې حفظ د نظم آسان وي او يا قول په دې
كُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الْاُمُوْرِ التِّسْعَةِ عِلَّةٌ قَوْلٌ تَقْرِيْبِيٌّ لَا تَحْقِيْقِيٌّ اِذِ الْعِلَّةُ فِي الْحَقِيْقَةِ اثْنَانِ مِنْهَا
چې هر يو واحد د دې امورو تسعو نه علت دي دا قول قريبي دي نه تحقيقي څکه علت په حقيقت کې دوه دي د دې
لَا وَاحِدٌ اَوِ الْقَوْلُ بِاَنَّهَا تِسْعٌ تَقْرِيْبٌ لَهَا اِلَى الصَّوَابِ لِاَنَّ فِيْ عَدَدِهَا خِلَافاً فَقَالَ بَعْضُهُمْ
نه، نه يو يا قول په دې چې علتونه نهه دي دا قريب دي حقيقت ته څکه چې په شمار د عللو کې اختلاف دي بعضو
اَنَّهَا تِسْعٌ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ اِثْنَانِ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ اَحَدَ عَشَرَ لٰكِنِ الْقَوْلُ بِاَنَّهَا تِسْعٌ تَقْرِيْبٌ لَهَا اِلٰى مَا هُوَ
ويلي دي چې دا نهه دي بعضې ويلي دي چې دوه دي او بعضو ويلي دي چې يولس دي ليکن قول په نهو دا نژدې
الصَّوَابُ مِنَ الْمَذَاهِبِ الثَّلٰثَةِ ثُمَّ اَنَّهُ ذَكَرَ اَمْثِلَةَ الْعِلَلِ الْمَذْكُوْرَةِ عَلٰى تَرْتِيْبِ ذِكْرِهَا فِي الْبَيْتَيْنِ فَقَالَ .
دي حقيقت ته د مذاهبو ثلاثو نه بيا ذکر کړل مصنف امثله د علل مذکورو په ترتيب شعري سره نووي ويل

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب کافيه خپل ترکيب ذکر کوي .

اغراض د جامي: **ولو جعل الالف**: په دې عبارت سره شارح خپل ترکيب بيانوي او وايي چې دا الف فاعل دي دپاره د زائدة او دا ظرف من قبلها متعلق دي تر زائدة پورې ، شعر داسې شو چې

والنون زائدة الف چې الف به زائد وي الف فاعل د زائدة شو او من قبلها جار مجرور متعلق شو تر زائدة پورې

وارید بزیادة: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ستا د توجیه نه زیادت د الف معلوم شو ځکه نون چې زائد به وي الف او من قبلها به متعلق شي تر زائدة پورې نو د نون پته ونه لګیده چې زائد به وي اوکه نه؟

جواب: په ارید سره جواب ورکوي چې زما ترکیب بناء دې په یوې قاعدې باندې چې یو اسم مشتقي راشي خو صفت د مذکور نه وي او وروستو ترې ظرف راشي وروسته فاعل وي د دغه مشتقي راشي قاعده داده چې دغه فاعل د مشتقي لپاره دې مشتقي نه مخکې بل اسم دا دواړه به شریک وي په دغه مشتقي کې لکه جاء زید راکباً من قبله اخوه راکباً مشتقي دې خو صفت د مذکور نه دې راکباً اخوه صفت داخ دې او اخ فاعل دې د راکبا نو دا فاعل او مخکې مشتقي نه هغه اسم دا به دواړه شریک وي په مشتقي کې د دلته قاعده داده چې دا فاعل اخوه او راکباً نه مخکې اسم دا دواړه به شریک وي په رکوب کې فرق یې دادې چې ورور یې مخکې وو او زید وروسته وو

وقوله هذا القول تقريب: تقریب نژدې والې راولې یادولو ته ځکه نظم اسهل وي په حفظ کې په نسبت سره نثر ته.

او القول: تقريب په معنی د صواب سره .صحيح داده نو غير صحيح به هم وي څه ، څوک وايي علته دوه دي ترکیب او حکایت د اقول ضعیف دې ، چې ته وايي چې دا دوه په ټولو کې موجودیږي نو بیا خو ترکیب په ټولو کې موجودیږي نو صرف ترکیب واخله حکایت پریږده.

بعضې وايي چې یولس دي نهه دادې او یو هغه الف چې مشابه وي د الفینو د تانیث سره لکه ارطی او حبلی ، دوهم وصف اصلي معتبر کول پس د زوال نه لکه په احمر کې د سیبویه په نزد.

بعضې وايي چې نهه (۹) دي او دا صواب دې ځکه خير الامور اوساطها.

ثم انه ذكر: د مثالونو راوړو دوه ترتیبه دي اول لف نشر مرتب ، دوهم لف نشر غیر مرتب ، دلته لف نشر مرتب دې په دې کې دوه مذهبه دي: اول لف نشر مرتب اولی دې ځکه په دې کې به مطابقت وي د اجمال او د تفصیل او د مثال او د ممثل. دوهم مذهب دا چې لف نشر غیر مرتب اولی دې چې مثال د ممثل سره نژدې شي.

د غير منصرف د اقسامو مثالونه :

مِثْلُ عُمَرَ مِثَالٌ لِلْعَدْلِ وَ اَحْمَرُ مِثَالٌ لِلْوَصْفِ وَ طَلْحَةُ مِثَالٌ لِلتَّانِيْثِ وَ زَيْنَبُ مِثَالٌ لِلْمَعْرِفَةِ وَ فِيْ اِيْرَادِ
لکه عمر مثال دي دپاره د عدل احمر مثال دي د وصف طلحة مثال دي د تانيث زينب مثال دي د معرفې او په راوړلو
زَيْنَبَ مِثَالاً لِلْمَعْرِفَةِ بَعْدَ طَلْحَةَ اِشَارَةٌ اِلَى اللَّفْظِيِّ وَ الْمَعْنَوِيِّ وَ اِبْرَاهِيْمُ
د زينب کې مثال دپاره د معرفې وروستو د طلحة نه اشاره ده دواړو قسمونو ته نه چې لفظي او معنوي ته او ابراهيم
مِثَالٌ لِلْعُجْمَةِ وَ مَسَاجِدُ مِثَالٌ لِلْجَمْعِ وَ مَعْدِيْكَرِبَ مِثَالٌ لِلتَّرْكِيْبِ وَ عِمْرَانُ مِثَالٌ لِلْاَلِفِ وَ النُّوْنِ وَ اَحْمَدُ
مثال دي د عجمې مساجد مثال دي د جمع او معديکرب مثال دي د ترکيب او عمران مثال دي د الف او نون او احمد
مِثَالٌ لِوَزْنِ الْفِعْلِ.
مثال دي د وزن فعل

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب کافيه د غير منصرف د اقسامو مثالونه ذکر کوي.

اغراض د جامي : مثل عمر : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دا خو د عدل مثال نه دي بلکه د غير منصرف دي ؟

جواب : دا مثال د غير منصرف نه دي خو چې غير منصرف شوې نو دوجې د اعتبار د عدل نه غير منصرف شوې.

وفي ايراد زينب : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : مثال وي دپاره د توضيح د ممثل او تا دلته د تانيث لپاره دوه مثاله راوړي.

جواب : چونکه د تانيث دوه قسمه دي لفظي او معنوي نو طلحة د لفظي مثال دي او زينب د معنوي مثال دي.

د غير منصرف حکم :

وَ حُكْمُهُ اَيْ حُكْمُ غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ وَ الْاَثَرُ الْمُتَرَتِّبُ عَلَيْهِ مِنْ حَيْثُ اشْتِمَالِهِ عَلَى عِلَّتَيْنِ
او حکم د دې يعني حکم د غير منصرف او اثر مرتبه په غير منصرف د حيثيت د اشتمال د غير منصرف په دوو علتونو
اَوْ وَاحِدَةٍ مِنْهَا تَقُوْمُ مَقَامَهُمَا اَنْ لَا كَسْرَةَ فِيْهِ وَلَا تَنْوِيْنَ وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ لِكُلِّ عِلَّةٍ فَرْعِيَّةً
يا يو چې قائمقام وي د دووچې نه به راځي کسره په هغې او نه تنوين دا ځکه چې د هر يو دپاره شته علت فرعيه
فَاِذَا وَقَعَ فِي الْاِسْمِ عِلَّتَانِ حَصَلَ فِيْهِ فَرْعِيَّتَانِ فَيُشْبِهُ الْفِعْلَ مِنْ حَيْثُ
پس کله چې واقع شو په اسم کې دوه علته حاصل شو هغه ته دوه فرعيته پس مشابه شو د فعل سره د حيثيته

أَنَّ لَهُ فَرْعِيَّتَيْنِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْإِسْمِ أَحَدُهُمَا إِفْتِقَارُهُ إِلَى الْفَاعِلِ وَ آخِرُهُمَا اشْتِقَاقُهُ مِنَ

ددې نه چې دا فرع ده په نسبت سره اسم ته يو د مشابهتونو نه احتياج دي فاعل ته او دوهم يې اشتقاق دي د

الْمَصْدَرِ فَمَنَعَ الْإِعْرَابُ الْمُخْتَصُّ بِالْإِسْمِ وَ هُوَ الْجَرُّ وَ التَّنْوِيْنُ الَّذِيْ هُوَ عَلَامَةُ

مصدر نه پس منع شو د هغې نه اعراب کوم چې خاصه د اسم وي چې جر او تنوين دي چې هغه علامه د اسم

التَّمَكُّنِ وَ إِنَّمَا قُلْنَا لِكُلِّ عِلَّةٍ فَرْعِيَّةٍ لِأَنَّ الْعَدْلَ فَرْعُ الْمَعْدُوْلِ عَنْهُ وَ الْوَصْفُ فَرْعُ الْمَوْصُوْفِ وَ

متمکن ده او مونږ وويل چې هر يو علت فرعيه خکه چې عدل فرع د معدول عنه ده او وصف فرع د موصوف ده او

التَّأْنِيْثُ فَرْعُ التَّذْكِيْرِ لِأَنَّكَ تَقُوْلُ قَائِمٌ ثُمَّ قَائِمَةٌ وَ التَّعْرِيْفُ فَرْعُ التَّنْكِيْرِ لِأَنَّكَ تَقُوْلُ رَجُلٌ ثُمَّ الرَّجُلُ

تانيث فرع د تذکير ده لکه چې ته وايي قائم او قائمة او تعريف فرع د تنکير ده لکه ته وايي چې رجل او الرجل

وَ الْعُجْمَةُ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ فَرْعُ الْعَرَبِيَّةِ إِذِ الْأَصْلُ فِيْ كُلِّ كَلَامٍ أَنْ لَا يُخَالِطَهُ لِسَانٌ آخَرُ

عجمه په کلام د عربو کې فرع د عربيت ده خکه چې اصل په هر يو کلام کې داده چې خلط به نه وي د بل سره

وَالْجَمْعُ فَرْعُ الْوَاحِدِ وَالتَّرْكِيْبُ فَرْعُ الْأَفْرَادِ وَالْأَلِفُ وَالنُّوْنُ الزَّائِدَتَيْنِ فَرْعُ مَا زِيْدَتَا عَلَيْهِ وَوَزْنُ الْفِعْلِ فَرْعُ وَزْنِ

جمع فرع ده د واحد ترکيب فرع ده د افراد الف او نون زائدتان فرع ده د مازيدتا عليه او وزن فعل فرع ده د وزن

الْإِسْمِ لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيْ كُلِّ نَوْعٍ أَنْ لَا يَكُوْنَ فِيْهِ الْوَزْنُ الْمُخْتَصُّ بِنَوْعٍ آخَرَ فَإِذَا وُجِدَ

اسم خکه چې اصل په هر يو نوع کې داده چې نه به وي په هغې کې وزن مختص په نوع آخره پورې کله چې موجود

فِيْهِ هٰذَا الْوَزْنُ كَانَ فَرْعاً لِوَزْنِهِ الْأَصْلِيِّ وَ يَجُوْزُ أَيْ لَا يَمْتَنِعُ سَوَاءٌ كَانَ ضَرُوْرِيّاً

شو په هغې کې دا وزن نو شوه فرع د پاره د وزن اصلي او جائز نه دي چې منع نه شي برابره خبره ده چې ضروري وي

أَوْ غَيْرَ ضَرُوْرِيٍّ صَرْفُهُ أَيْ جَعْلُهُ فِيْ حُكْمِ الْمُنْصَرِفِ بِإِدْخَالِ الْكَسْرَةِ وَ التَّنْوِيْنِ فِيْهِ لَا

او که غير ضروري منصرف کيدل د هغې يعنې په حکم د منصرف کې په داخليدو د کسرې او تنوين په هغې کې نه

جَعْلُهُ مُنْصَرِفاً حَقِيْقَةً فَإِنَّ غَيْرَ الْمُنْصَرِفِ عِنْدَ الْمُصَنِّفِ مَا فِيْهِ عِلَّتَانِ أَوْ وَاحِدَةٌ

کيدل د هغې منصرف حقيقتاً خکه چې غير منصرف په نزد د مصنف هغه دي چې په هغې کې دوه علته او يا يو

تَقُوْمُ مَقَامَهُمَا وَ بِإِدْخَالِ الْكَسْرَةِ وَ التَّنْوِيْنِ لَا يَلْزَمُ خُلُوُّ الْإِسْمِ عَنْهُمَا

علت چې قائمقام د دوه علتونو وي او په داخليدو د کسرې د تنوين نه لازميږي خالي کيدل د اسم د دوه علتونو نه

وَ قِيْلَ الْمُرَادُ بِالصَّرْفِ مَعْنَاهُ اللُّغَوِيُّ لَا الْإِصْطِلَاحِيُّ وَ الضَّمِيْرُ فِيْ صَرْفِهِ رَاجِعٌ

چاويلي دي چې مراد په منصرف کيدو سره معنی لغوي د هغې ده نه اصطلاحي او ضمير په صرفه کې راجع دي

إِلَى حُكْمِهِ لِلضَّرُوْرَةِ أَيْ لِضَرُوْرَةِ وَزْنِ الشِّعْرِ أَوْ رِعَايَةِ الْقَافِيَةِ فَإِذَا وَقَعَ غَيْرُ الْمُنْصَرِفِ

حکم د هغې ته دپاره د ضرورت يعنې د ضرورت شعري يا دپاره د رعايت د قافيې نو کله چې واقع شو غير منصرف

فِي الشِّعْرِ فَكَثِيْراً مَا يَقَعُ مِنْ مَنْعِ صَرْفِهِ إِنْكِسَارٌ يُخْرِجُهُ عَنِ الْوَزْنِ أَوِ الزِّحَافِ

په شعر کې نو ډير خله هغه خه چې واقع کوي منع صرف د هغې انکسار وي چې خارجوي د وزن نه او يا الزحاف

يَخْرُجُهُ عَنِ السَّلَاَلَةِ اَمَّا الْاَوَّلُ فَكَقَوْلِهٖ شِعْر:
وي چې خارجوي د سلالت نه هرچې اول دي لکه داقول د شاعر

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبٌ لَوْ اَنَّهَا	صُبَّتْ عَلَى الْاَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا
را وارول شو په ما باندې مصائب که چیرته	را ارول شوي وي دا مصائب په ورځو ګرځیدلې به وې شپې

وَ اَمَّا الثَّانِيْ فَكَقَوْلِهٖ شِعْر:
اوهرچې دوهم دي لکه داقول د شاعر

اَعِدْ ذِكْرَ نُعْمَانٍ لَنَا اَنَّ ذِكْرَهُ	هُوَ الْمِسْكُ مَا كَرَّرْتَهُ يَتَضَوَّعُ
دوباره کړه مالره یاد د نعمان ځکه چې یاد دهغه	مشک دي ترڅوچې بیا بیا راخي خوریږي

فَاِنَّهُ لَوْ فَتَحَ نُوْنَ نُعْمَانَ مِنْ غَيْرِ تَنْوِيْنٍ لَيَسْتَقِيْمُ الْوَزْنُ وَ لٰكِنْ يَقَعُ
ځکه چې که چیرته فتحه ورکړې شي فتح د نون د نعمان ته په غیر د تنوین نه نو صحیح شو وزن شعري لیکن واقع
فِيْهِ زِحَافٌ يُخْرِجُهُ عَنِ السَّلَاسَةِ كَمَا يَحْكُمُ بِهٖ سَلَامَةُ الطَّبْعِ.
شو په دې کې زحاف چې خارجوي کلام د سلالت نه لکه څنګه چې پوهیږي په هغې باندې سلیم الطبع انسان

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب کافیه د غیر منصرف حکم بیانوي.

اغراض د جامي: وحكمه ان لاكسرة ولاتنوين: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: بناء د متونو په اختصار وي داخبره د غیر منصرف په اعراب کې معلومه شوې وه چې **بالضمة والفتحة** نو معلومه وه چې کسره پرې نه راځي نو بیا ولې **ان لا كسرة** وایي دلته به دې ویلې وي چې **ولا يجوز عليه تنوين**.

جواب: شارح د دې دري (۳) جوابات ورکړي دي:

اول جواب: دا حکم د غیر منصرف وو او حکم باندې تصریح په کار ده دا ضمنا ویل نه دي په کار.

دوهم جواب: بعضې خلکو ویلې وو چې په غیر منصرف کسره نه راځي او تنوین تابع د کسرې دي نو هغه به هم نه راځي نو دې وایي چې تابع تابع نشته اصالة دواړه نه راځي.

دریم جواب: دا چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دا تصریح وکړه ځکه چې بعضو خلکو دا تعریف د غیر منصرف ګرځولې وو نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وویل چې تعریف د غیر منصرف **مافيه علتان** دي او دا یې

حکم دي

اى حكم غير المنصرف : په دې عبارت سره شارح په حکمه کې د ٥ ضمير مرجع متعين کوي چې په حکمه کې ٥ ضمير راجع دي غير منصرف ته . اوپه دې باندې د يو سوال جواب هم ورکوي

سوال : دا ان لا كسرة ولا تنوين معلول دي اوسببين ورلره علت دي دمعلول اضافت کيږي علت ته نو داسې ويل په کار وو چې وحكمها او تا اضافت غير منصرف ته وکړو .

جواب : چونکه دا ان لا كسرة الخ داچې په چانه راخي نو داپه غير منصرف نه راخي نو ځکه يې ده ته اضافت وکړو نو اضافت دلته دادنی ملابست ذوجې نه دي .

والاثر المرتب عليه په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دحکم خو ډيرې معاني دي ستا کومه معنی مراد ده ؟

جواب : مراد زما نحوي معنی مراد ده چې اثر مرتبه په غير منصرف ده .

من حيث اشتماله : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دغير منصرف خو نور احکام هم دي چې رفع نصب جر وغيره نو ته څنګه وايې چې ان لا كسرة ولا تنوين ؟

جواب : دا حکم يې ځکه دي چې دا مشتمل دي په علتين باندې اورفع يې بناء بر فاعليت اونصب يې بناء بر مفعوليت .

فيه : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : کسره به نه وي په دنيا کې ؟

جواب : په غير منصرف کې به نه وي .

وذلک لان لکل : په دې عبارت سره شارح دکسرې اودتنوين دنه راتلو وجه بيانوي ، قاعده داده چې اصل په اسماو کې اعراب دي او اصل په افعالو کې بناء اوعمل دي اوس خواصو داسم جر اوتنوين وغيره دي نو اوس اسم چې عمل کوي نو دابه دوجې، دمشابهت دفعل نه کوي نو دا مشابهت په درې (۳) قسمه دي :

(۱) که مشابهت تمام دمعنی کې وو يعنې اسم فعل سره مشابه وو تمام دمعنی کې لکه اسماء افعال شو نو فعل خپل دواړه خواص اسم ته ورکړل چې بناء ده او عمل دي .

(۲) اوکه دا مشابهت ترتيب دحروف اصليو کې وو لکه اسم فاعل او اسم مفعول نو فعل ورلره

يوه خاصه ورکوي چې عمل دي
(۳) اوکه مشابهت داسم دفعل سره په جزء دمعنی کې وو یعني مشابهت بعیده یعنې اسم کې دوه سببه راغلل نو فعل کې هم دوه (۲) سببه دي (۱) احتیاج الی الفاعل ، (۲) اشتقاق من المصدر نو دامشابهت کمزوري دي نو اسم غیر منصرف مشابه شو دفعل سره په مشابهت بعیده سره نو عام اسم ددې خاص اسم چې غیر منصرف دي ترې نه خفه شو چې زما دشمن سره دې دوستانه وکړه نو کسره اوتنوین یې ترې نه منع کړو ، مونږ وویل چې په فعل کې دوه (۲) سببه دي (۱) احتاج الی الفاعل ، (۲) او اشتقاق من المصدر .
او کوفیان وايي چې مصدر مشتق دي دفعل نه نو بیا اشتقاقه من المصدر رانغلو نو یو علت پاتې شو ، نو یو بل علت هم شته چې اصل په فعل کې اعلال وي او اعلال بیماري ته وايي نو دا په کې بل علت راغلو .
ویجوز ای لایمتنع : هر کله چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰه فارغ شو داسبابو دغیر منصرف نه اجمالاً نو شروع یې وکړه په اسبابو دمنصرف کې ، د غیر منصرف نهه (۹) اسباب وو او د منصرف پنځه (۵) اسباب دي .

ای لایمتنع: په دې سره شارح معنی دجواز کوي ، معنی دجواز ده لایمتنع منصرف کیدل به ممتنع نه وي بیا که ضروري وي اوکه غیر ضروري ، په دې باندې یو سوال وارد شو :
سوال : جواز مرادف دي دامکان سره اوامکان په دوه (۲) قسمه دي : خاص ، عام ، دلته به امکان خاص مراد وي چې هغه سلب دضرورة من الجانبین دي یعني نه به منصرف والې ضروري وي اونه به غیر منصرف والې سره ددې نه چې ضرورة شعري کې منصرف والې ضروري وي .
جواب : جواز مرادف دامکان دي خو امکان په دوه قسمه دي خاص او بل عام او مراد دلته عام دي چې هغه سلب دضرورت دي دجانب مقابل دحکم نه .
صرفه ای جعله : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :
سوال : غیر منصرف چاته وايي ته وايي چې مافیه علتان نو ته وايي چې دضرورت دوجې نه به منصرف شي نو علتین خو په کې موجود وي .
جواب : مراد دادې چې په حکم دمنصرف کې به یې وګرځوي .
لا جعله منصرفاً حقیقة : یعني حقیقي منصرف به یې نه ګرځوي خو علتین به ترې نه بالکل لرې کوي .

وقيل المراد: دلته مراد هغه معنى لغوي ده چې تغير په حكم دغير منصرف كې . نه معنى اصطلاحي چې منصرف كول دي نو تقدير به داسې شي چې ويجوز تغير حكم غير المنصرف . دا مذهب يې په قيل سره ذكر كړو ددوه وجهو نه اوله وجه داچې معتبر په علومو كې هغه معاني اصطلاحيه وي نه معاني لغويه . اودوهمه وجه داچې انتشار په ضمائرو كې راځي مخكې خايونو كې ضميرونه غير منصرف ته راجع وو او دلته به حكم ته راجع شي

للضرورة اى لضرورة وزن الشعر: معنى دضرورت داده چې دپاره د وزنِ شعري و او دپاره درعايت دقافيې قافيه حرف آخر ته وايي چې موافقت د يو بيت سره په آخر كې راشي اوپه اصطلاح دقرآن كې دې ته رعايت دفاصلې وايي ځكه قافيه خو په اشعارو كې راځي

اما الاول: شعر كې مصائب راغلې داصيغه دمنتهى الجموع ده اودا يو سبب قائمقام دسببينو دي نو غير منصرف دي .

واما الثاني: په دې شعر كې نعمانٍ غير منصرف دي اوتنوين پرې راغلې ځكه كه چيرته تنوين ونه وايو نو په سبب كې به تغير راشي ثُعْ يو سبب دي اومابل سبب دي او نن بل سبب دي كه تنوين ونه وايو نو سبب به په يو حرف سره پاتې شي .

ديو سوال جواب :

فَإِنْ قُلْتَ الْإِحْتِرَازُ عَنِ الزِّحَافِ لَيْسَ بِضَرُوْرِيٍّ فَكَيْفَ يَشْمِلُهُ قَوْلُهُ لِلضَّرُوْرَةِ قُلْنَا	
كه ته ووايي چې احتراز دزحاف ضروري نه دي نوځنګه به شامل شي دې قول دمصنف ته چې للضرورة مونږ وايو	
الْإِحْتِرَازُ عَنْ بَعْضِ الزِّحَافَاتِ إِذَا أَمْكَنَ الْإِحْتِرَازُ عَنْهُ ضَرُوْرِيٌّ عِنْدَ الشُّعَرَاءِ وَ أَمَّا الضَّرُوْرَةُ	
احتراز د بعضې زحافاتو نه چې كله ممكن وي احتراز ددې نه ضروري دي په نزد دشعراو اوهرچې ضرورت چې	
الْوَاقِعَةُ لِرِعَايَةِ الْقَافِيَةِ فَكَمَا فِيْ قَوْلِهِ شِعْر:	
چې واقع وي دپاره درعايت دقافيې لكه په دې قول دشاعر كې:	
سَلَامٌ عَلٰى خَيْرِ الْأَنَامِ وَ سَيِّدٍ	حَبِيْبُ اللّٰهِ الْعَالَمِيْنَ مُحَمَّدٍ
سلام دې وي په بهترين دخلكو اوپه سردار	دمحبوب دالله تعالى اودبنده ګانوچې محمد ﷺ دي
بَشِيْرٍ نَذِيْرٍ هَاشِمِيٍّ مُكَرَّمٍ	عَطُوْفٍ رَؤُفٍ مَنْ يُسَمّٰى بِأَحْمَدٍ
زيرې وركوونكي،ويرونكي هاشمي اومعززدي	مهربان دي اونرم دي څوك چې مسمى دي په احمدسره
فَإِنَّهُ لَوْ قَالَ بِأَحْمَدَ بِالْفَتْحِ لَا يَخِلُّ بِالْوَزْنِ وَ لٰكِنَّهُ يَخِلُّ بِالْقَافِيَةِ	
پس كه چيرته ووېل شي احمدَ په فتحې سره نو خلل نه واقع كيږي په وزن كې ليكن خلل واقع شو په قافيه كې	

فَاِنَّ حَرْفَ الرَّوِيِّ فِيْ سَائِرِالْاَبْيَاتِ الدَّالُ الْمَكْسُوْرَةُ .

خکه چې حرف آخر په ټولو ابياتو کې دالِ مکسوره وي.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د يو سوال جواب کوي

اغراض د جامي : فان قلت: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : احتراز د زحاف نه خو ضروري نه دي نو څنګه دې د ضرورت لاندې راوستو

جواب :شارح په قلنا سره جواب کوي چې احتراز د بعضې زحافاتو نه چې کله ممکن وي ضروري وي .

واما الضرورة الواقعة : په دې شعر کې احمد مجرور ويلې شوې دې که په فتحې سره يې ووايو نو په وزن کې خو څه خرابي نه راځي بلکه په قافيه کې خرابي راځي چې په ټولو ابياتو کې دال مکسور دي نو دلته به مغائر شي .

اَوْ لِلتَّنَاسُبِ اَیْ وَ یَجُوْزُ صَرْفُ غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ لِيَحْصُلَ التَّنَاسُبُ بَيْنَهُ
او د پاره د تناسب يعنې جائز دې منصرف کيدل د غير منصرف د پاره چې حاصل شي مناسبت په مينځ د غير
وَ بَيْنَ الْمُنْصَرِفِ لِاَنَّ رِعَايَةَ التَّنَاسُبِ بَيْنَ الْكَلِمَاتِ اَمْرٌ مُهِمٌّ عِنْدَهُمْ
منصرف او په مينځ د منصرف کې خکه چې رعايت د مناسبت په مينځ د کلماتو کې امر مهم دې په نزد د نحويانو
وَاِنْ لَمْ يَصِلْ اِلٰى حَدِّ الضَّرُوْرَةِ مِثْلُ سَلَاسِلًا وَ اَغْلَالًا حَيْثُ صُرِفَ سَلَاسِلًا لِتَنَاسُبِ الْمُنْصَرِفِ
اګر که نه وي رسيدلې حد د ضرورت ته لکه سلاسلاً واغلالا چې منصرف شوې سلاسلا دوجې د تناسب د منصرف نه
الَّذِيْ يَلِيْهِ اَعْنِيْ اَغْلَالًا فَقَوْلُهُ سَلَاسِلًا وَ اَغْلَالًا مِثَالٌ لِجَمْعِ غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ الَّذِيْ
چې کوم نژدې دې دده سره يعنې اغلالا پس دا قول چې سلاسلا و اغلالا د پاره د مثال د جمع غير منصرف دې هغه
صُرِفَ وَ الْمُنْصَرِفُ الَّذِيْ صُرِفَ غَيْرَ الْمُنْصَرِفِ لِتَنَاسُبِهِ وَ مَا
چې منصرف شوې ده او هغه منصرف چې ګرځيدلې وي غير منصرف د پاره د مناسبت د غير منصرف يا هغه چې
يَقُوْمُ مَقَامَهُمَا اَيِ الْعِلَّةُ الْوَاحِدَةُ الَّتِيْ تَقُوْمُ مَقَامَ الْعِلَّتَيْنِ مِنَ الْعِلَلِ التِّسْعِ عِلَّتَانِ مُكَرَّرَتَانِ
قائم وي په مقام د هغې يعنې علت واحده چې قائم وي په مقام د دوه علتونو د نهو علتونو نه دي دوه علته مکرر
قَامَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَقَامَ الْعِلَّتَيْنِ لِتَكْرَارِهِمَا اَحَدُهُمَا الْجَمْعُ الْبَالِغُ
چې قائم وي هر واحد د هغې نه په مقام د دوه علتونو کې دوجې د مکرر کيدو د هغې نه يو يې جمع ده چې رسيدلې
اِلٰى صِيْغَةِ مُنْتَهَى الْجُمُوْعِ فَاِنَّهُ قَدْ تَكَرَّرَ فِيْهِ الْجَمْعِيَّةُ حَقِيْقَةً كَاَكَالِبَ وَ اَسَاوِرَ اَنَاعِيْمَ .
وي صيغې د منتهى الجموع ته خکه چې مکرر شوې په دې کې جمعيت حقيقتاً لکه اکالب ، اساور او اناعيم

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب کافيه مناسبت ذکر کوي د منصرف او د غير منصرف په مينځ کې

اغراض د جامي : او للتناسب : په ويجوز غير المنصرف سره اشاره وشوه چې للتناسب عطف دي په للضرورة باندې نو د ويجوز صرفه لاندې راغلو .

ليحصل التناسب : للتناسب دا مفعول له دې دپاره ديجوز ، مفعول له په دوه قسمه دي : يو هغه چې مفعول علت وي دپاره دوجود دفعل لکه قعدت عن الحرب جبناً نو دلته به مفعول له مقدم وي اودا مفعول له په وزِ شعري کې جوړيده چې اول به ضرورت راغلې وي بيا به منصرف ولاړې راغلې وي ، اوبل مفعول له هغه دي چې باعث دفعل وي لکه ضربته تاديباً او په دې کې به اول فعل راځي بيا مفعول له راځي اودامفعول له په تناسب کې جوړيږي چې اول به منصرف والې راځي اوبيا به تناسب راځي .

لان رعاية التناسب : په دې عبارت سره دليل ذکر کوي : منصرف والې دغير منصرف دتناسب دوجې داجائز دي ځکه رعايت دتناسب بين الكلمات دا امر مهم دي عند اللغات اګر که حد دضرورت ته نه رسيږي .

مثل سلاسلا واغلالاً : په دې عبارت سره شارح مثال تطبيق کوي دمثل سره ، سلاسلا دا غير منصرف دي اوسره ددې نه چې تنوين پرې راغلې خو دا دوجې داغلالا نه منصرف ګرځيدلې دي.

فقوله سلاسلاً : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دتوضيح دمثل دپاره يو مثال کافي وو تا دوه مثاله ولې ذکر کړل ؟

جواب : دا په حقيقت کې يو مثال دمنصرف دي اوبل مثال دغير منصرف دي کوم چې د منصرف دتناسب دوجې نه منصرف شوې دي .

ومايقوم مقامهما اي العلة الواحدة : ما موصوله ده او عبارت ده د علة نه ، بل په مقام علتين سره . مرجع د هما ذکر شوه چې علتين دي . دلته يو سوال وارديږي :

سوال : مايقوم مقامهما مبتدا ده او الجمع او الفاالتانيث يې خبر دي اوخبر حمل وي په مبتدا باندې او دلته حمل نه صحيح کيږي ځکه حمل دخاص راځي په عام باندې اودا جائز نه دي .

جواب : مراد د ما نه خاص ده عام نه ده اګر چې لفظاً عامه ده

علتان مکررتان په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال : نه وايي چې په دې کې سببين راغلل نو اسم سره يې تعلق کم شو نو اسم ترې نه تنوين اوکسره منع کړه نوس چې یو سبب په کې راغلو نو دفعل سره يې مشابهت کم شو نو اوس ترې نه کسره اوتنوين ولې منع کوي ؟

جواب : علت خو یو دي ليکن تکرار په کې راغلو نو داتکرار سبب ثاني شو

لتکرارهما : په دې عبارت سره شارح بيان داختلاف کوي اختلاف په دې کې دي چې دا یو سبب قائمقام دسببينو ولې دي نو په دې کې دري مذاهب دي

اول مذهب د مصنف چې دې کې تکرار سببِ ثاني دي اوداتکرار عام دي حقيقتا وي اوکه حکماً دحقيقتاً مثال لکه اکالب جمع د اکلب او اکلب جمع د کلب ده اوحکما چې د دې جمعو سره په حروفو اوحرکاتو اوسکناتو کې برابروي لکه مساجد .

دوهم مذهب دادې چې اصل په اسماو کې اعراب دي اوس چې تنوين اوکسره ترې منع کوي اوس د دې دپاره سبب قويه په کار دي اوهغه عدم تغير دي په جمع کې اوعدم تغير دي په الفينو کې .

دريم مذهب دادې چې په جمع کې سبب ثاني هغه عدم تغير دي اوپه الفينو دتانيث کې هغه دادې چې دوي لره مفرد من لفظه نشته دي .

الجمع البالغ الى صيغة منتهى الجموع : په دې سره یو دالف تعين کوي چې الف لام عهدي دي مراد په جمع سره صيغه دمنتهی الجموع ده ، اوبل راجح مذهب طرف ته اشاره کوي چې د مصنف چې کوم مذهب دي نو دا راجع دي .

حقيقتاً : تکرار عام دي که حقيقتاً وي لکه اکالب جمع د اکلب او اکلب جمع د کلب ده .

اَوْ حُكْماً كَالْجُمُوْعِ الْمُوَافَقَةَ لَهَا فِي عَدَدِ الْحُرُوْفِ وَالْحَرَكَاتِ وَالسَّكْنَاتِ كَمَسَاجِدَ وَمَصَابِيْحَ وَثَانِيَتُهُمَا التَّانِيْثُ
یاحکمالکه هغه جمع چې موافق وي په عدد د حروفو د حرکاتواوسکناتو کې لکه مساجداومصابيح دوهم تانيث دي
لٰكِنْ لَا مُطْلَقاً بَلْ بَعْضُ اَقْسَامِهٖ وَ هُوَ اَلِفَا التَّانِيْثِ الْمَقْصُوْرَةِ وَ الْمَمْدُوْدَةِ اَیْ كُلُّ وَاحِدَةٍ
ليکن نه مطلقابلکې بعض اقسام ددې اوهغه دوه الفه دتانيث دي چې مقصوره اوممدوده دي يعني هر واحد
مِنْهُمَا كَحُبْلٰى اَوْ حَمْرَاءُ لِاَنَّهُمَا لَازِمَتَانِ لِلْكَلِمَةِ وَضْعاً لَا تُفَارِقَانِهَا اَصْلاً
ددوونه لکه حبلی او حمراءخکه چې دواړه لازم دي کلمې لره په اعتبار دوضعې سره چې نه جدا کيږي د هغې نه بالکل

فَلَا يُقَالُ فِيْ حُبْلٰى حَبْلٌ وَلَا فِيْ حَمْرَاءَ حَمْرٌ فَيَجْعَلُ لُزُوْمُهَا لِلْكَلِمَةِ بِمَنْزِلَةِ تَانِيْثٍ آخَرَ
پس نه شي ويلې په حبلى كې حبل او په حمراء كې حمر نو پس وګرځيدو لزوم دې دپاره د كلمې په منزله دبل تانيث نو
فَصَارَ التَّانِيْثُ مُكَرَّرًا بِخِلَافِ التَّاءِ فَاِنَّهَا لَيْسَتْ لَازِمَةً لِلْكَلِمَةِ بِحَسْبِ اَصْلِ الْوَضْعِ فَاِنَّهَا
وګرځيد تانيث مكرر په خلاف د تاء سره ځكه چې دا نه دي لازم دكلمې سره په اعتبار داصل وضع ځكه چې دا
وُضِعَتْ فَارِقَةً بَيْنَ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ فَلَوْ عَرَضَ اللُّزُوْمُ لِعَارِضٍ كَالْعَلَمِيَّةِ مَثَلًا
وضع شوې دپاره دفرق په مينځ دمذكر او مؤنث نو كه چيرته عارض شي لزوم دوجې دعارض نه لكه علميت مثلاً
لَمْ يَقْوِ قُوَّةَ اللُّزُوْمِ الْوَضْعِيِّ.
نه قوي كوي لزوم وضعي.

اغراض دجامي : **او حكماً**: او كه تكرار حكماً وي لكه **مساجد** جمع د**مسجد** ده تكرار په كې شته خو دهغه مكررې جمعې سره په عدد او حروفو او حركاتو او سكناتو كې مشابه ده

وثانيتهما التانيث: **الفا التانيث** دا مبتدا مؤخره ده او **ثانيتهما** دا ورلره خبر مقدم شو . او بل داچې بعضو خلكو به دا توهم كولو چې سبب به الفين وي نو دې وايي چې نه سبب هغه تانيث دي په الفينو كې .

وهو الفا التانيث المقصورة والممدودة: په دې عبارت سره شارح د**الفا التانيث** مصداق بيانوي چې الفا دتانيث هغه الف مقصوره او الف ممدوده دي .

اى كل واحدة منهما: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : الفين به مجموعه چې په يوه كلمه كې راشي نو دا به سبب وي .

جواب : هر يو واحد جدا جدا سبب دي .

لانهما لازمتان للكلمة: ځكه چې دا الفين لازم دي دكلمې سره دا نه جدا كيږي دكلمې نه نو په حبلى كې حبل او په حمراء كې حمر نه شي ويلې نو ددې لزوم دكلمې سره دا تانيث آخر وګرځيدو .

بخلاف التاء: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : د يو سړي نوم وو رحمت نو يو په كې تانيث او بل په كې لزوم دتانيث شو نو دا غير منصرف كړه .

جواب : د **تا** اصل وضع دلزوم دپاره نه ده شوې بلكه وضع دپاره دفرق بين المذكر والمؤنث

راغلې ده اوس که د علميت دوجې نه ورته لزوم عارض شي نو داقوي نه دي په لزوم دوضع باندې

فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف بالضمة رفعاً وبالفتحة نصباً وبالكسرة جراً: تركيب فا تفصيليه المفرد موصوف المنصرف يې صفت موصوف سره دصفت نه معطوف عليه واو عاطفه الجمع مضاف المكسر مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه موصوف المنصرف صفت موصوف سره دصفت نه معطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه مبتدا با حرف جر الضمة معطوف عليه واو عاطفه الفتحة معطوف معطوف عليه واو عاطفه الكسرة معطوف معطوف عليه سره ددواړو معطوفاتو نه مجرور دجار، ،جار سره دمجرور نه متعلق شو تر ثابت پورې ثابت صيغه داسم فاعل ضمير په کې فاعل اوسره دمتعلق شبه جمله خبر دمبتدا شو مبتدا اوخبر جمله اسميه.

او رفعاً نصباً جراً دا يامنصوب دي بنابر ظرفيت تقدير دعبارت به داسې شي چې اعرب بالضمة حالة الرفع والفتحة حالة النصب والكسرة حالة الجر اويامنصوب دي بنابر حاليت نو تقدير دعبارت دارنګې دي چې فاعراب هذين القسمين حال کونهما مرفوعين بالضمة وحال کونهما منصوبين بالفتحة وحال کونهما مجرورين بالكسرة.

اويا منصوب دي بنابر مصدريت يعني مفعول مطلق واقع په حذف دمضاف سره تقدير دعبارت داسې دي چې اعرب اعراب رفع واعرب اعراب نصب واعرب اعراب جر

ابوک واخوک وحموک وهنوک وفوک وذومال بالواو والالف والياء مضافةً الى غير ياء المتكلم: ابوک مضاف مضاف اليه معطوف عليه، واخوک وحموک وهنوک وفوک وذومال دا ټول معطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه مبتدا با جار الواو معطوف عليه والالف والياء معطوف معطوف عليه سره دمعطوف نه مجرور دجار جارسره دمجرور په اعتبار دمتعلق سره ذوالحال مضافة الى غير ياء المتكلم ورلره حال ذوالحال سره دحال نه خبر دپاره دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه جمله اسميه.

عدل:

فَالْعَدْلُ مَصْدَرٌ مَبْنِيٌّ لِلْمَفْعُوْلِ اَیْ كَوْنُ الْاِسْمِ مَعْدُوْلاً خُرُوْجُهٗ اَیْ خُرُوْجُ الْاِسْمِ اَیْ كَوْنِهٖ
نو عدل مصدر مبني للمفعول دي يعني کيدل د اسم معدول خروج ددې يعني خروج د اسم يعني کيدل ددې

مُخْرِجاً عَنْ صِيْغَتِهِ الْاَصْلِيَّةِ اَیْ عَنْ صُوْرَتِهِ الَّتِیْ يَقْتَضِيْ الْاَصْلُ وَالْقَاعِدَةُ اَنْ يَّكُوْنَ ذٰلِكَ الْاِسْمُ عَلَيْهَا
ويستونكي دصيغې اصلي نه يعنې دهغه صورت نه چې تقاضا كوي اصل اوقاعده چې وي ده دغه اسم په دې
وَلَا يَخْفٰى اَنَّ صِيْغَةَ الْمَصْدَرِ لَيْسَتْ صِيْغَةُ الْمُشْتَقَّاتِ فَبِاِضَافَةِ الصِّيْغَةِ اِلٰى ضَمِيْرِ الْاِسْمِ
باندې او پټه دې نه وي چې صيغه د مصدر نه ده صيغه د مشتقاتو نو په اضافت د صيغې سره ضمير د اسم ته
خَرَجَتِ الْمُشْتَقَّاتُ كُلُّهَا وَاِنَّ الْمُتَبَادِرَ مِنْ خُرُوْجِهِ عَنْ صِيْغَةِ الْاَصْلِيَّةِ اَنْ تَكُوْنَ الْمَادَّةُ بَاقِيَةٌ وَالتَّغَيُّرُ اِنَّمَا وَقَعَ فِيْ
خارج شو مشتقات ټول او متبادر د خروج د صيغې اصليې نه داخبره ده چې وي دې ماده باقي او تغير واقع شوې په
الصُّوَرِ فَقَطْ فَلَا يَنْتَقِضُ بِمَا حُذِفَ عَنْهُ بَعْضُ الْحُرُوْفِ كَالْاَسْمَاءِ الْمَحْذُوْفَةِ
صورت كې فقط پس نه منقوضيږي په هغې سره چې حذف شوې وي دهغې نه بعضې حروف لكه اسماء محذوفة
الْاِعْجَازِ مِثْلُ يَدٍ وَدَمٍ فَاِنَّ الْمَادَّةَ لَيْسَتْ بَاقِيَةٌ فِيْهَا وَاِنَّ خُرُوْجَهُ عَنْ صِيْغَتِهِ الْاَصْلِيَّةِ يَسْتَلْزِمُ دُخُوْلَهُ فِيْ
الاعجاز لكه يد او دم خكه ماده نه ده باقي په دې كې او خروج د هغې د صيغې اصليې نه لازموي دخول د دې په
صِيْغَةٍ اُخْرٰى اَیْ مُغَايِرَةٌ لِلْاُوْلٰى وَلَا يَبْعُدُ اَنْ يَعْتَبِرَ مُغَايَرَتَهَا فِيْ كَوْنِهَا غَيْرَ دَاخِلَةٍ
بلې صيغې كې يعنې مغائروي داولې نه او بعيده نه ده چې معتبر شي مغائر د دې په كيد لو د دې چې غير داخل وي
تَحْتَ اَصْلٍ وَ قَاعِدَةٍ كَمَا كَانَتِ الْاُوْلٰى دَاخِلَةٌ تَحْتَهُ فَخَرَجَتْ عَنْهُ الْمُغَيِّرَاتُ الْقِيَاسِيَّةُ.
لاندې داصل او قاعدې نه لكه څنګه چې اول داخله وه لاندې داصل او قاعدې نه نو خارج شو مغائرات قياسيه .

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د كافيې د عدل تعريف او تفصيل بيانوي .

اغراض دجامي : <u>فالعدل خروجه عن صيغته الاصلية</u> : عدل يې مقدم كړو په نورو اسبابو باندې ځكه چې په اجمال كې هم مقدم دي او په اجمال كې يې ځكه مقدم كړو چې د شروط يې كم دي او دكوم څيز چې شرطونه كم وي نو هغه اكثر وجودا وي نو ځكه يې مقدم كړو .

<u>مصدر</u> : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : چې عدل د **افعل** په وزن دي او دا وزن كله كله په معنى داسم تفضيل سره وي او اسم تفضيل خو ذات مع الوصف دي او نور اسباب دمنع صرف خو صفات وي .

جواب : شارح جواب وركړو چې دا مصدر دي .

<u>مبني للمفعول</u> : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : چې عدل مصدر دي داكله مبني للفاعل وي نو عدل چې په معنى د عادل سره شي نو دا خو بيا ذات مع الوصف شو

جواب : شارح جواب وركړو چې دا مبني للمفعول دي .

ای کون الاسم معدولاً : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : چې عدل په معنی د معدول سره شو نو معدول خو عين لفظ شو اوعدل دا خو صفت د لفظ دي

جواب : شارح جواب ورکړو چې معدول په معنی د کون الاسم معدولا سره دي نو معدول صفت داسم شو چې لفظ دي

خروجه : په خروجه کې د هٔ ضمير راجع دې اسم ته .

ای کونه مخرجاً : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي .

سوال : دعدل نه دې تعبير په معدول سره وکړو اودا متعدي دي اوبيا ددې تفسير دې په خروج سره وکړو او خروج لازمي دي نو لازم شو تفسير دمتعدي په لازمي سره .

جواب : نو شارح جواب ورکړو چې خروجه په معنی دمخرج سره دي اومخرج صيغه داسم مفعول ده اوداخو فاعل غواړي نو متعدي شو .

عن صيغته الاصلية : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : اسم په معنی دهيئت اومادې سره دي اوصيغه هم په معنی دهيئت اومادې سره نو لازم شو خروج دکل اودا نه دي جائز ځکه چې خروج سبق دخول غواړي .

جواب : صيغه په معنی دهيئت اوصورت سره دي او اسم په معنی دمادې سره دي ، نو سوال دفع شو .

ولا يخفى : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : تعريف دعدل دې مانع نه شو ددخول دغير نه داخل شو په کې ټول اسماء مشتقات ځکه ددې خروج هم داصل اوهيئت نه راغلې وي .

جواب : په اضافت دصيغې سره اسم ته داخارج شول ځکه چې معنی داشوه چې دمعدول اود معدول عنه معنی به يوه وي اوپه مشتقاتو کې دمشتق اودمشتق منه معنی يوه نه وي .

وان المتبادر : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : تعريف دعدل دې مانع نه شو ددخول دغير نه داخل شو په کې اسماء محذوفة الاعجاز لکه دم او يد ځکه ددې خروج د دمعا و يدو نه راغلې دي اومعنې يې هم يوه ده .

جواب : دې سره يو بل قيد هم مونږ لرو چې ماده به يې هم باقي وي او په يد او دم کې واو حرف اصلي باقي نه دي پاتې شوې

وان خروجه عن صيغة الاصلية : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : تعريف د عدل دې مانع نه شو د دخول د غير نه داخل شو په کې مغائرات قياسيه لکه مقول چې داخارج د مقوول نه معنى يې هم يوه ده او ماده يې هم باقي ده ځکه واو زائده حذف شوې دي .

جواب : يو بل قيد هم شته دي هغه دا چې معدول عنه به د قاعدې او د قياس لاندې وي او معدول به نه وي لکه ثلث او مثلث چې د هر يو معنى ده دري او هر يو معدول دي د ثلاثة ثلاثة نه ، ثلاثة ثلاثة د قاعدې لاندې راغي ځکه چې قاعده داده چې تکرار د لفظ دا دلالت کوي په تکرار د معنى باندې او مقول کې خو دواړه ديوې قاعدې لاندې دي مخرج عنه چې مقوول دي هم د قاعدې لاندې دي ځکه د مجردو نه اسم مفعول په وزن د مفعول سره راځي او مقول هم د قاعدې لاندې دي ځکه دا قاعده ده چې حرف علت متحرک وي او ماقبل ترې نه ساکن وي حرکت ماقبل ته نقل کيږي نو چې حرکت نقل شو اجتماع د ساکنينو راغله نو واو وغورځيدلو مقول شو نو په مغائرات قياسيو کې دواړه د قاعدې لاندې دي .

وَ اَمَّا الْمُغَيِّرَاتُ الشَّاذَّةُ فَلَا نُسَلِّمُ اَنَّهَا مُخْرِجَةٌ عَنِ الصِّيَغِ الْاَصْلِيَّةِ فَاِنَّ الظَّاهِرَ اَنَّ مِثْلَ اَقْوُسٍ وَ
هرچې مغائرات شاذه دي نو مونږ نه منو چې دا خارج دي د صيغې اصليې نه ځکه چې ظاهر په مثل د اقوس او
اَنْيُبٍ مِنَ الْجُمُوْعِ الشَّاذَّةِ لَيْسَتْ مُخْرِجَةً عَمَّا هُوَ الْقِيَاسُ فِيْهِمَا اَعْنِيْ اَقْوَاساً وَ اَنْيَاباً بَلْ اِنَّمَا جُمِعَ
انيب د جموع شاذو نه ، نه دي خارج د هغه څه نه چې هغه قياس دي په دې کې يعني اقواسا او انيابا بلکې جمع
الْاَقْوُسُ وَ اَلْنَيَابُ اِبْتِدَاءً عَلَى اَقْوُسٍ وَ اَنْيُبٍ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُعْتَبَرَ جَمْعُهُمَا اَوَّلاً عَلَى
شوې اقوس او انياب اولاً په اقوس او انيب سره خلاف القياس په غير د دې نه چې معتبر شي جمع والي د هغوي اولاً په
اَقْوَاسٍ وَ اَنْيَابٍ وَ اِخْرَاجُ اَقْوُسٍ وَ اَنْيُبٍ عَنْهُمَا وَ قَالَ بَعْضُ الشَّارِحِيْنَ قَدْ جَوَّزَ
اقياس او انياب سره او معتبر شي اخراج د اقوس او انيب د دې نه ويلي دي بعضې شارحينو په تحقيق سره جواز ور
بَعْضُهُمْ تَعْرِيْفَ الشَّيْءِ بِمَا هُوَ اَعَمُّ مِنْهُ اِذَا كَانَ الْمَقْصُوْدُ تَمْيِيْزَهٗ عَنْ بَعْضِ مَا عَدَاهُ
کړې بعضې تعريف د شي په هغه څه سره چې عام وي د دې نه چې کله وي مقصود تميز د دې د بعضې ماعدا نه
فَيُمْكِنُ اَنْ يُقَالَ الْمَقْصُوْدُ هٰهُنَا تَمْيِيْزُ الْعَدْلِ عَنْ سَائِرِ الْعِلَلِ لَا عَنْ كُلِّ مَا عَدَاهُ فَحَيْثُ
پس ممکن دي چې وويل شي چې مقصود دلته تميز د عدل دې د نورو علتونو نه ، نه ماسوى د عدل نه په داسې

حَصَلَ بِتَعْرِيْفِهِ هٰذَا التَّمِيْزُ لَا بَأْسَ بِكَوْنِهِ اَعَمَّ مِنْهُ فَحِيْنَئِذٍ
...ان چې حاصل به شي په تعريف دعدل سره دغه فرق نوباک نشته په کيدلودعدل سره چې عام وي په دغه
لَا حَاجَةَ فِي التَّصْحِيْحِ هٰذَا التَّعْرِيْفَ إِلٰى اِرْتِكَابِ تِلْكَ التَّكَلُّفَاتِ.
...حت کې نوحاجت نشته په تصحيح ددې تعريف کې ارتکاب دغه تکليفونو ته

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافيه دمغائراتو شاذو بيان کوي.

اغراض د جامي : __واما المغيرات الشاذة__: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : چې تعريف دعدل ستا مانع نه شو ددخول دغير نه داخل شو په کې مغيرات شاذه لکه اقوس او انيب چې دامخرج دي د اقواس او انياب نه چې داجمع دقوس او ناب ده په اصل کې نيب و نو ستا درې واړه شروط په کې شته معنى يې هم متحده ده ماده يې هم باقي ده او اول چې اقواس اوانياب دي دي دقاعدې لاندې هم دي چې دغه وزن فعل فعل داجمع کيږي په افعال سره اودادوهم چې اقوس او انيب دي دقاعدې لاندې نه دي اوسره ددې نه چې دې ته څوک معدول نه وايي.

جواب : زه دانه منم چې قوس اونيب داجمع شوي دي په اقواس اوانياب سره اوبيا اقوس اوانيب دامخرج دي ددې نه بلکه قوس اوناب دا اولاجمع شوي دي په اقوس اوانيب سره ددې وجې نه ورته جموع شاذه هم وايي.

__وقال بعض الشارحين__: په دې عبارت سره شارح رد کوي په ماتن باندې ، دلته يو تمهيد ذکر کوو : يو معرَف دي او بل معرِف دي لکه دانسان تعريف وشي په حيوان ناطق سره نو انسان معرَف او حيوان ناطق معرِف دي نو په دې کې دوه شرائطه دي :

(۱) دمعرَف او معرِف په مينځ کې به تساوي په حسب دمصداق سره وي يعنې چې معرَف په څه صادقيږي په هغې به معرِف هم صادقيږي لکه دانسان اودحيوان ناطق مصداق په خارج کې يو د...

چې ددواړو به مينځ کې به ... بحسب المفهوم وي لکه انسان معرَف دي او مفهوم يې حيوان ناطق دي ... معرف چې ... ... دي دحيوان مفهوم جسم نام حساس متحرک بالاراده دي اود... مفهوم مدرک الکليات والجزئيات دي اوتبائن به بحسب المفهوم وي ... نه خلو ... نقصانات به لازم شي (۱) دواړه به الفاظ مترادفه اومعنى به يې يوه شي ، (۲) يو شئ به هم معلوم وګرځي اوهم مجهول په دې حيثيت سره چې معرَف موقوف دي په معرِف

باندې نو مجهول شو اوپه دې حيثيت سره چې ددواړو مفهوم يو دي نو معلوم شو (۳) توقف دشئ به راشي په خپل نفس معرَف به موقوف شي په معرِف پورې اومعرِف به موقوف شي په معرَف پورې . (۴) يو شئ به هم مقدم اوهم مؤخر وګرځي په دې حيثيت سره چې معرَف موقوف دي په معرِف نو معرَف موخر شو اوچې معرِف موقوف دي په معرَف نو معرِف مؤخر شو

اوهغه اوله خبره چې معرَف اومعرِف کې به تساوي وي په حسب دمصداق سره نوداځکه که تبائن په کې راشي نو معرِف اومعرَف خو يو په بل حمل کيږي نو حمل دتبائن به راشي په مبائن اخر باندې اوداخو محال دي .

دوهم داچې معرف به اعم نه وي دمعرف نه ځکه تعريف به مانع نه شي ددخول دغير نه لکه دانسان تعريف وشي په حيوان سره نوحمار وغيره په کې داخل شول

دريم داچې تعريف بالاخص هم نه دي جائز ځکه چې بيا به تعريف جامع نه شي خپلو افرادو لره لکه تعريف دانسان په حيوان ناطق ابيض سره نو ناطق اسود ترې نه خارج شو ، دا مذهب دمحققينو دي .

نو قدماء وايي چې تعريف بالاعم جايز دي ځکه چې مقصود هغه امتياز دمعرَف وي دبعضې ماعدا نه .

اوس دلته يو سوال راځي :

سوال : العدل خروجه عن صيغته الاصلية دا کافي وو نور قيودات تا ولې ولړول ځکه چې تعريف بالاعم دا جائز دي .

جواب : تعريف بالاعم په هغه وخت کې جائز وي چې مقصود امتياز دمعرَف وي دبعضې ماعدا نه اودلته مقصود هغه امتياز دي دجميع ماعدا نه يعنې داښودل غواړو چې داغير منصرف دي اودا نه دي .

دلته يو بل سوال هم راځي :

سوال : دتعريف سره چې کوم قيودات لړولې شوې دا خو شارح لړولې ماتن خو نه دي لړولې نو دې خو رد کوي په خپل ځان باندې .

جواب : دغه قيودات دعدل دتعريف سره په اماليو دکافيه کې چې دادده خپله شرحه ده لړولې دي نو شارح رحمه الله ګويا کې نقل کړې دي دهغې نه .

وَاعْلَمْ اَنَّا نَعْلَمُ قَطْعاً اَنَّهُمْ لَمَّا وَجَدُوْا ثُلٰثَ وَ مَثْلَثَ وَ اُخَرُ وَ جُمَعُ وَ عُمَرُ غَيْرَ مُنْصَرِفٍ وَ لَمْ يَجِدُوْا
پوه شه چې مونږ قطعاً پوهيږو چې کله دوي مونده کړه ثلاث او مثلث اخر او جمع او عمر غير منصرف او مونده يې نه
فِيْهَا سَبَباً ظَاهِراً غَيْرَ الْوَصْفِيَّةِ اَوِ الْعَلَمِيَّةِ احْتَاجُوْا اِلٰى اِعْتِبَارِ سَبَبٍ آخَرَ وَ لَمْ يَصْلُحْ
کړو په دې کې سبب ظاهر په غير د وصف او د علميت نه نو محتاج شو دوي معتبرولو د سبب آخر ته او صالح نه وو
لِلْاِعْتِبَارِ اِلَّا الْعَدْلُ فَاعْتَبَرُوْهُ فِيْهَا لَا اَنَّهُمْ تَنَبَّهُوْا لِلْعَدْلِ فِيْمَا عَدَا
د پاره د اعتبار مګر عدل پس دوي معتبر کړل دا عدل په دې کې دا نه چې دوي خکاره کړو عدل په ماسوی د
عُمَرَ مِنْ هٰذِهِ الْاَمْثِلَةِ فَجَعَلُوْهُ غَيْرَ مُنْصَرِفٍ لِلْعَدْلِ وَ سَبَبٍ آخَرَ وَ لٰكِنْ
عمر کې په غير د دې دري مثالونو نه پس وې ګرځول غير منصرف د وجې د عدل نه او د وجې د سبب آخر نه ليکن
لَا بُدَّ فِيْ اعْتِبَارِ الْعَدْلِ مِنْ اَمْرَيْنِ اَحَدُهُمَا وُجُوْدُ اَصْلٍ لِلْاِسْمِ الْمَعْدُوْلِ وَ ثَانِيْهِمَا اِعْتِبَارُ اِخْرَاجِهٖ
لابدي ده په معتبرولو د عدل کې د دوه امورونه چې يو وجود د اصل دې د پاره د اسم معدول او دوهم اعتبار د اخراج
عَنْ ذٰلِكَ الْاَصْلِ اِذْ لَا يَتَحَقَّقُ الْفَرْعِيَّةُ بِدُوْنِ اعْتِبَارِ ذٰلِكَ الْاِخْرَاجِ فَفِيْ بَعْضِ تِلْكَ الْاَمْثِلَةِ
د دغه اصل نه خکه چې نه متحقق کيږي فرعيت به غير د اعتبار د اخراج د اصل نه پس په بعضې د دغه مثالونو
يُوْجَدُ دَلِيْلٌ غَيْرَ مَنْعِ الصَّرْفِ عَلٰى وُجُوْدِ الْاَصْلِ الْمَعْدُوْلِ عَنْهُ فَوُجُوْدُهُ مُحَقَّقٌ بِلَا شَكٍّ وَ فِيْ بَعْضِهَا
کې دليل موجود دې په دليل د اصل معدول عنه باندې پس وجود يې ثابت دې په غير د شک نه او په بعضو کې
لَا دَلِيْلَ غَيْرَ مَنْعِ الصَّرْفِ فَيُفْرَضُ لَا اَصْلٌ لِيَتَحَقَّقَ الْعَدْلُ
دليل نشته په غير د منصرف باندې پس فرض کولی شي د هغې د پاره اصل د دې د پاره چې ثابت شي عدل په
بِاِخْرَاجِهٖ عَنْ ذٰلِكَ الْاَصْلِ فَانْقِسَامُ الْعَدْلِ اِلَى التَّحْقِيْقِيِّ وَالتَّقْدِيْرِيِّ اِنَّمَا هُوَ بِاِعْتِبَارِ كَوْنِ ذٰلِكَ الْاَصْلِ
اخراج د هغې د دغه اصل نه پس تقسيم د عدل تحقيقي او تقديري ته دا په اعتبار د کيدلو د دغه اصل نه دې
مُحَقَّقاً اَوْ مُقَدَّراً وَ اَمَّا اِعْتِبَارُ اِخْرَاجِ الْمَعْدُوْلِ عَنْ ذٰلِكَ الْاَصْلِ لِيَتَحَقَّقَ الْعَدْلُ فَلَا دَلِيْلَ
حقيقتاً او يا تقديراً او هرچې اعتبار د اخراج د عدل دې د اصل نه دې د پاره چې ثابت شي عدل پس نشته دليل په
عَلَيْهِ اِلَّا مَنْعُ الصَّرْفِ فَعَلٰى هٰذَا قَوْلُهٗ تَحْقِيْقاً مَعْنَاهُ خُرُوْجاً كَائِناً
دې باندې مګر غير منصرف کيدل نو بناء په دې چې دا قول د مصنف چې تحقيقاً معنی د دې هغه خروج چې کائن
عَنْ اَصْلٍ مُحَقَّقٍ يَدُلُّ عَلَيْهِ دَلِيْلٌ غَيْرَ مَنْعِ الصَّرْفِ كَثُلٰثَ وَ مَثْلَثَ.
وي د اصل ثابت نه چې دلالت کوي په هغې باندې دليل د غير منصرف لکه ثلاث او مثلث .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافيه په علامه فاضل هندي او علامه رضي باندې رد کول دي .

اغراض دجامي : واعلم انا نعلم قطعاً: په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده اختلاف ته ،

او اختلاف په تعريف دعدل تحقيقي اوعدل تقديري کې دي په دې کې دوه مذاهب دي :

اول مذهب دمحققينو : دوي وايي چې عدل تحقيقي وايي خروج اعتباري ته داصل محقق نه ، او تقديري وايي خروج اعتباري ته داصل اعتباري نه .

دوهم مذهب دمشهورينو : دوي وايي چې عدل تحقيقي وايي خروج تحقيقي ته داصل محقق نه ، اوعدل تقديري وايي خروج اعتباري ته داصل اعتباري نه .

نو اختلاف صرف په خروج دعدل تحقيقي کې دي :

تحقيقي دې ته وايي چې په وجود داصل باندې ماسوا دمنع نه بل دليل وي ، اوتقديري چې په وجود داصل سوادمنع صرف نه بل دليل نه وي ، دمشهورينو دپاره دري (۳) دلائل دي :

اول دليل : تحقيقا او تقديراً داصفات دخروج دي ددې نه معلومه شوه چې خروج به يو کې تحقيقي وي اوبل کې به اعتباري يعنې تقديري وي .

دوهم دليل : خروج خو په عدل تقديري کې اعتباري دي په عدل تحقيقي کې هم اعتباري شي نو ددواړو په مينځ کې به فرق رانه شي . .

دريم دليل : دليل په وجود داصل دابعينه دليل وي په وجود دفرعې باندې اودليل په وجود دفرعې دابعينه دليل وي په خروج دفرعې ددغه اصل نه .

اودمحققينو دپاره صرف يو دليل دي اوهغه داچې بعضې اسماء چې کله و [illegible] دعربو کې غير منصرف اوموجود نه وو په کې سبب دمنع صرف سوا [illegible] وغيره اوسببيت واحده خو مؤثر نه وو په منع دصرف کې نو مجبور شو دمؤثر اعتبار د سبب آخر ته اوصالح نه وو دپاره داعتبار دسبب آخر سوادعدل نه نو مونږ په عدل معتبر کړو اوبيا په بعضو اسماو کې دليل په اصل باندې موجود وو اوپه بعضو کې نه وو نو په کومُو اسماو کې چې په اصل دليل موجود وو نو تحقيقي اوکه نه موجود نو تقديري .

نو محققين وايي چې خروج دمعدول دمعدول عنه نه مونږ معتبر کړې دي اودوي دمشهورينو ددريواړو دلائلو نه جواب هم کوي .

اول دليل : چې دوي ويلې وو چې تحقيقاً اوتقديراً داصفات دخروج دي نو محققين جواب کوي چې صفت په دوه قسمه دي : يو توصيف بحالـه دي اوبل توصيف بحال متعلقه دي نو داتحقيقاً اوتقديراً دا خروج دي خو بحال متعلقه چې متعلق يې مخرج عنه دي اودا اصل دي نو دا صفات په حقيقت کې داصل دي اواصل خو تاسو هم منې چې يو کې تحقيقي اوبل کې تقديري وي .

دوهم دليل: چې دې ويلې وو چې فرق به رانه شي په عدل تحقيقي اوتقديري کې نو دوي جواب کوي چې فرق په اعتبار داصل سره شته چې يو کې اصل تحقيقي دي اوبل کې اعتباري دي

دريم دليل: نه جواب داکوي چې دامنم چې دليل په وجود داصل دادليل دي په وجود دفرع خو دانه منم چې دليل په وجود دفرع دادليل دي په خروج دفرع داصل نه لکه **اقوس** او**انيب** چې اصل ئې اقواس او انياب دي دليل په وجود داصل شته چې قياس يې تقاضا کوي نو دادليل دې په دې خبره چې اقوس اوانيب فرعه ده خو دادليل نه دي په دې خبره چې **اقوس** او**انيب مخرج** دي داقواس اوانيب نه

<u>فانقسام العدل الى التحقيقي الخ</u>: په دې عبارت سره اشاره کوي ماهو الحق ته چې شارح دمحققينو مذهب ته ترجيح ورکړې ده .

<u>تحقيقاً معناه خروجاً كائناً عن اصل محقق</u>: په دې عبارت سره شارح د **تحقيقاً** دنصب وجه بيانوي اوپه **عن اصل محقق** سره جواب ورکوي دمشهورينو ددليل نه :

نو وايي چې دامنصوب دي بناء بر مفعول مطلق نو په دې باندې يو سوال وارديږي :

سوال: چې مفعول مطلق خو دې ته وايي چې فعل مشتمل وي په ده باندې دقبيلې داشتمال دکل نه په جزء باندې نو خروجه خو مشتلم دي په خروجاً باندې نه په تحقيقاً .

جواب: نو دې جواب کوي چې دامفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه سره تقدير دعبارت داسې دي چې **خروجه خروجاً تحقيقاً محققاً يا عن اصل محقق** ، نو په دې باندې بيا يو سوال راځي .

سوال: تاوويل چې مفعول مطلق دې ته وايي چې فعل مشتمل وي په ده باندې دقبيلې د اشتمال د کُل نه په جزء باندې نو خروج خو فعل نه دي بلکه مصدُر دي ، ياخروجه هم مصدر دي اوخروجاً هم مصدر دي نو **احد المصدرين** مستدرک اوبلا فائدې شو .

جواب: په **خروجه** کې دغه مصدر ، مصدر عامله دي اومصدر عامله دامؤل وي په تاويل د ان سره دفعل نه نو خروجه په معنی دان يخرج سره دي .

<u>عن اصل محقق</u>: په دې عبارت سره جواب دمشهورينو ددليل نه هم وشو . هغوي ويلې وو چې تحقيقاً داصفت دخروج دي نو دې وايي چې صفت داصل دي .

يدل عليه غير منع الصرف: په دې عبارت سره شارح دتحقيقا معنى ذكر كول دي نووايي چې په وجود داصل باندې سوا دمنع صرف نه بل دليل وي داتحقيقي دي

كثلاث ومثلث: په دې عبارت سره شارح تطبيق دمثال كوي دممثل سره.

وَ الدَّلِيْلُ عَلٰى اَصْلِهِمَا اَنَّ فِيْ مَعْنَاهُمَا تَكْرَارٌ دُوْنَ لَفْظِهِمَا وَ الْاَصْلُ اَنَّهُ اِذَا كَانَ الْمَعْنَى مُكَرَّرًا يَكُوْنَ

او دليل په اصل ددې باندې چې معنى ددې مكرره ده نه لفظ.اوقاعده داده كله چې وي معنى مكرره . وي به

اللَّفْظُ اَيْضاً مُكَرَّراً كَمَا فِيْ جَاءَنِي الْقَوْمُ ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ فَعُلِمَ اَنَّ اَصْلَهُمَا لَفْظٌ مُكَرَّرٌ وَ هُوَ ثَلَاثَةٌ

لفظ هم مكرر لكه په جاءني القوم ثلاثة ثلاثة كې نو معلومه شوه چې اصل ددې لفظ مكرره دي چې هغه ثلاثة

ثَلَاثَةٌ وَ كَذَا الْحَالُ فِيْ اُحَادَ وَ مَوْحِدَ وَ ثُنَاءَ وَ مَثْنَى اِلٰى رُبَاعَ وَ مَرْبَعَ بِلَا خِلَافٍ وَ فِيْمَا وَرَاءَهَا

ثلاثة دي اوهمدارنګې حال داحاداوموحداوثناء،مثنى تررباع اومربع پورې په غيردخلاف نه او ماسوى ددې نه

اِلٰى عُشَارَ وَ مَعْشَرَ خِلَافٌ وَ الصَّوَابُ مَجِيْئُهَا وَ السَّبَبُ فِيْ مَنْعِ صَرْفِ ثُلَثَ وَ مَثْلَثَ وَ

ترعشاراومعشرپورې خلاف دي اوصحيح خبره راتلل ددې دي اوسبب په منع صرف كې ثلث اومثلث اوپه

اَخَوَاتِهِمَا الْعَدْلُ وَ الْوَصْفُ لِاَنَّ الْوَصْفِيَّةَ الْعَرْضِيَّةَ الَّتِيْ كَانَتْ فِيْ ثَلَاثَةٍ ثَلَاثَةٍ صَارَتْ اَصْلِيَّةً

اخواتودهغې كې عدل اووصف دي خكه چې وصفيت عرضي هغه چې دي په ثلاثة اوثلاثة كې وګرخيده اصلي

فِيْ ثُلَثَ وَ مَثْلَثَ لِاعْتِبَارِهَا فِيْمَا وُضِعَا لَهُ وَ اُخَرُ جَمْعُ اُخْرَى مُؤَنَّثُ اٰخَرُ وَ اٰخَرُ اِسْمُ التَّفْضِيْلِ

په ثلاث اومثلث كې دوجې داعتبار داصل وضع نه او اخر چې جمع داخرى مؤنث دآخراوآخر اسم تفضيل دي او

لِاَنَّ مَعْنَاهُ فِي الْاَصْلِ اَشَدُّ تَاَخُّرًا ثُمَّ نُقِلَ اِلٰى مَعْنَى غَيْرٍ وَ قِيَاسُ اِسْمِ التَّفْضِيْلِ اَنْ يُسْتَعْمَلَ بِاللَّامِ

معنى يې په اصل كې اشدتاخرا دي بيانقل شوه معنى غيرقياسي ته اسم تفضيل كه چيرته مستعمل شي په لام

اَوِ الْاِضَافَةِ اَوْ كَلِمَةِ مِنْ وَ حَيْثُ لَمْ يُسْتَعْمَلْ بِوَاحِدٍ مِنْهَا عُلِمَ اَنَّهُ مَعْدُوْلٌ

اوياداضافت سره اويا په كلمې دمن او حيث سره نه استعماليږي په يو ددوي كې نومعلومه شوه چې دا معدول دي

مِنْ اَحَدِهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ اَنَّهُ مَعْدُوْلٌ عَمَّا فِيْهِ اللَّامُ اَيْ عَنِ الْاُخَرِ وَ قَالَ

يو ددغو كلمونه پس ويلي دي بعضوچې دامعدول دي دهغه نه چې په هغې كې لام وي يعني د الآخر اوويلي دي

بَعْضُهُمْ هُوَ مَعْدُوْلٌ عَمَّا ذُكِرَهُ مَعَهُ مِنْ اَيْ عَنْ اٰخَرَ مِنْ اَنَّمَا لَمْ يَذْهَبْ اِلٰى تَقْدِيْرِ الْاِضَافَةِ

بعضو چې دا معدول دي د هغه نه چې په هغې كې من وي يعني اخرمن او ذهاب ونه كړو تقدير د اضافت نه

لِاَنَّهَا تُوْجِبُ التَّنْوِيْنَ اَوِ الْبِنَاءَ اَوْ اِضَافَةٌ اُخْرَى مِثْلُهَا نَحْوُ حِيْنَئِذٍ وَ قَبْلُ وَ يَاتَيْمَ تَيْمَ عَدِيٍّ وَ لَيْسَ

خكه چې لازموي هغه تنوين يابناء،يااضافت آخرته په مثل دهغې كې لكه حينئذ وقبل وياتيم تيم عدي او نشته

فِيْ اُخَرَ شَيْءٌ مِنْ ذٰلِكَ فَتَعَيَّنَ اَنْ يَكُوْنَ مَعْدُوْلًا عَنْ اَحَدِ الْاُخْرَيَيْنِ وَ جُمَعُ جَمْعُ جَمْعَاءَ مُؤَنَّثُ

په اخركې هيڅ ددې نه پس معلومه شوه چې دا به وي معدول يو د آخرينونه او جُمَعُ چې جمع د جمعاء ده او مونث د

اَجْمَعُ وَ كَذٰلِكَ كُتَعُ وَ بُتَعُ وَ بُصَعُ وَ قِيَاسُ فِعْلِ مُؤَنَّثِ اَفْعَلُ اِنْ كَانَتْ صِفَةً اَنْ تُجْمَعَ عَلٰى
اجمع ده او همدارنګي كتع بتع بصع او وزن قياس دفعلا مؤنث دافعل كه چيرته شي صفت كه چيرته جمع شي په
فِعْلٍ كَحَمْرَاءَ عَلٰى حُمْرٍ وَ اِنْ كَانَتْ اِسْمًا اَنْ تُجْمَعَ عَلٰى فَعَالٍ اَوْ فِعْلَاوَاتٍ كَصَحْرَاءَ
وزن دفعل باندې لكه حمراء په وزن د حمر باندې او ياوي اسم چې جمع شي په وزن د فعال او يا فعلاوات لكه صحرا
عَلٰى صَحَارِى اَوْ صَحْرَاوَاتٍ فَاَصْلُهَا اِمَّا جُمْعٌ اَوْ جَمَاعِىُّ اَوْ جَمْعَاوَاتٌ.
په صحارى او صحراوات پس اصل يې يا جمع ده يا جماعى ده او يا جمعاوات ده.

خلاصه دمتن په دې عبارت سره شارح دليل بيانوي دعدل تحقيقي دمثال دپاره .

اغراض دجامي : والدليل على اصلهما: په دې عبارت سره شارح دليل بيانوي دعدل تحقيقي په مثال باندې ځكه چې په اصل ددې باندې چې ثلاثة ثلاثة دي سواد منع صرف نه بل دليل موجود دي هغه داچې تكرار دمعنى دلالت كوي په تكرار دمعنى نو هركله چې دلته دثلاث اومثلث په معنى كې تكرار و اولفظ كې نه وو نو معلومه شوه چې اصل ددې ثلاثة ثلاثة دي .

وكذا الحال في احاد وموحد الخ: په دې عبارت سره شارح تعميم ذكر كوي او وايي چې لكه څنګه په ثلث مثلث كې عدل دي نو همدارنګې په احاد موحد ثنا ومثنىٰ رباع اومربع كې هم عدل تحقيقي او وصف دي .

وفيما وراها الى عشار ومعشر خلاف: په دې عبارت سره شارح اختلاف طرف ته اشاره كوي او هغه اختلاف داچې دڅلورو نه تر لسو پورې په دې كې عدل شته اوكه نه ؟ نو امام سيبويه رحمه الله وايي چې په دې كې هم عدل راتلې شي ځكه بعضو اشعارو كې يې استعمال راغلي دي ، او بعضې وايي چې نه شي راتلې ځكه چې دعزبو نه يې سماع نه ده شوې ، دشارح په نزد د سيبويه مذهب غوره دي .

والسبب في منع الصرف: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : تا وويل چې ثلث او مثلث داغير منصرف دي ځكه چې يو په كې عدل اوبل په كې وصف دي زه دانه منم چې په دې كې وصف شته ځكه چې وصف كې شرط دادې چې دابه په اصل وضع كې وصف وي او ثلث او مثلث كې خو په اصل وضع كې وصف نشته بلكه ددې وضعه دمرتبې معينې دپاره شوې ده چې مافوق الاثنين اوماتحت الاربع ده نو داخو دعلم په شان شو .

جواب : دا منم چې په دوي کې وصف عارضي دي خو چې کله مونږ په کې عدل معتبر کړ نو عدل دا په شان دوضع ثاني ده نو وصف هم په کې اصلي وګرځيده

واخر جمع اخری مؤنث آخر : په دې عبارت سره شارح تطبيق دمثال کوي دممثل سره : چې هرکله ومونږلې شو اخر په کلام دعربو کې غير منصرف اوموجود وو په کې يو سبب چې وصف دي نو لابدي شوه داعتبار دسبب آخر نه ، نو مونږ په کې عدل معتبر کړو ځکه چې جمع داخری ده اواخری مؤنث دآخر دي اودا اسم تفضيل دي اوقاعده په اسم تفضيل کې داده چې دابه مستعمل وي په يو دطرق ثلاثو سره چې هغه طرق ثلاثه : لام ، اضافت ، من دي دلته په دغه يو سره هم نه وو مستعمل نو معلومه چې دامعدول دي دالاخر يا آخر من نه .

فقال بعضهم : په دې عبارت سره شارح اشاره کوي اختلاف طرف ته : بعضې وايي چې دامعدول دي د الاخر نه نو په دې باندې يو سوال راځي :

سوال : چې دامعدول شو دالاخر نو آخر خو نکره ده او الاخر معرفه ده په کار ده چې دا هم معرفې شي .

جواب : دلته عدل مونږ لفظاً اومعناً دواړه ذکر کړي دي يعنې څرنګه مو چې لفظ کې الف لام لرې کړي همدارنګې مو دمعنی نه هم تعريف لرې کړي دي .

اوبعضې وايي چې دمعدول دي د آخر من نه .

وانما لم يذهب الى تقدير الاضافة : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې تا وويل چې اسم تفضيل دا په يو ددريو طريقو سره استعماليږي تا دلته وويل چې د الآخر يا آخر من نه معدول دي اضافت دې ولې ذکر نه کړو ؟

جواب : شارح وايي چې اضافت ته موځکه ذهاب ونه کړو چې که ته دامعدول کړي داضافت نه نو مضاف اليه خو به حذف وي نو بيا لابدي شوه ديو ددريو امورو نه يا به تنوين پرې راغلې وي په عوض دمضاف اليه کې لکه په حينئذ کې تنوين عوضي دي د اذاكان كذا نه اويابه مبني وي په ضمې سره لکه قبلُ اوبعدُ چې مضاف اليه يې حذف شوې ده اويابه تکرار داضافت کوي لکه ياتيم تيم عدي داول تيم مضاف اليه عدي حذف شوي دي تکرار يې کړي ، نو دلته په اخر نه ضمه وه نه تنوين نه تکرار وو نو معلومه شوه چې دامعدول دي په غير داضافت نه .

وجمع جمع جمعاء مؤنث اجمع: په دې عبارت سره شارح تطبيق دمثال كوي دمثل سره هغه داسې چې جمع دا غير منصرف ده يو په كې وصف دې اوبل عدل دې عدل په كې. خكه دې چې **جُمَعُ** دا جمع د **جمعاء** ده او**جمعاء** مؤنث د **اجمع** دې او قاعده په جمعاء كې دا ده چې كه داصفتي وي نو جمع كيږي په جمع سره لكه **حمراء** چې جمع شوې په **حمر** سره او كه اسمي وي نو جمع كيږي په **فعالى فعلاوات** سره لكه **صحراء** چې جمع شوې ده په **صحارى صحراوات** سره نو دلته په دغه وزن سره جمع شوې نه وو نو معلومه شوه چې دامعدول دې د **جمع** يا د **جماعى** يا د **جمعاوات** څخه.

وكذلك كتع بتع الخ: په دې عبارت سره شارح تعميم ذكر كوي يعنې دا هم غير منصرف دي دوجې د عدل اووصف نه د **جُمَعُ** په شان

دعدل اقسام:

فَإِذَا اعْتُبِرَ إِخْرَاجُهَا عَنْ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا تَحَقَّقَ الْعَدْلُ فَأَحَدُ السَّبَبَيْنِ فِيْهَا الْعَدْلُ التَّحْقِيْقِيُّ وَ
پس كله چې معتبر شواخراج ددې يوددې نه ثابت شوعدل پس يو داسبابو ددې نه په كې عدل تحقيقي شواو
الْاٰخَرُ الصِّفَةُ الْأَصْلِيَّةُ وَ إِنْ صَارَتْ بِالْغَلَبَةِ فِيْ بَابِ التَّاكِيْدِ إِسماً وَ فِيْ أَجْمَعَ وَ أَخَوَاتِهِ
دوهم صفت اصلي شواگر كه گرځيدلې وي په غلبې سره په باب دتاكيد كې اسم او په اجمع او په اخواتو دهغې
أَحَدُ السَّبَبَيْنِ وَزْنُ الْفِعْلِ وَ الْاٰخَرُ الصِّفَةُ الْأَصْلِيَّةُ وَ عَلٰى مَا ذَكَرْنَا لَا يُرَادُ
كې يو ددوو سببونو دوزن فعل نه او دوهم دصفت اصلي نه هغه بيان چې كوم مونږ ذكر كړنه وارديږي له دې نه په
الْجُمُوْعُ الشَّاذَّةُ كَأَنْيُبٍ وَ أَقْوُسٍ فَإِنَّهُ لَمْ يُعْتَبَرْ إِخْرَاجُهُمَا عَمَّا هُوَ الْقِيَاسُ فِيْهِمَا
جموع شاذو باندې لكه انيب او اقوس ځكه چې نه دې معتبر كړي نحويانو اخراج ددوي دوزن قياسي نه په دې
كَالْأَنْيَابِ وَ الْأَقْوَاسِ كَيْفَ وَ لَوِ اعْتُبِرَ جَمْعُهَا أَوَّلاً عَلٰى أَنْيَابٍ وَ أَقْوَاسٍ فَلَا شُذُوْذَ
كې لكه انياب او اقواس نو څرنگه به معتبر كړي جمع ددې اولاً په انياب او اقواس باندې پس نشته شاذ والې په
فِيْ هٰذِهِ الْجَمْعِيَّةِ وَلَا قَاعِدَةَ لِلْإِسْمِ الْمُخْرَجِ لِيَلْزِمَ مِنْ مُخَالَفَتِهَا نَشُذُوْذُ فَمِنْ
دې جموعو كې او نشته قاعده لپاره د اسم مخرج دې د پاره چې لازم شي مخالفت ددې نه شاذ والې پس د كوم
أَيْنَ يَحْكُمُ فِيْهِمَا بِالشُّذُوْذِ مِنْ هٰذَا تَبَيَّنَ الْفَرْقُ بَيْنَ الشَّاذِّ وَ الْمَعْدُوْلُ أَوْ تَقْدِيْراً
ځاى نه حكم كيدې شي په دې دشاذ والې او ددې ځاى نه معلوم شو فرق په مينځ دشاذ اودمعدول كې ياتقديراً
أَيْ خُرُوْجاً كَائِناً عَنْ أَصْلٍ مُقَدَّرٍ مَفْرُوْضٍ يَكُوْنُ الدَّاعِيْ إِلٰى تَقْدِيْرِهِ وَ فَرْضِهِ مَنْعُ الصَّرْفِ
يعنې وتل ددې كائن وي داصل مقدر مفروضه نه چې وي داعي تقدير دهغې ته اوتفريض دهغې ته غير منصرف

لَا غَيْرَ كَعُمَرَ وَ كَذٰلِكَ زُفَرَ فَإِنَّهُمَا لَمَّا وُجِدَا غَيْرَ مُنْصَرِفَيْنِ وَ لَمْ يُوْجَدْ فِيْهِمَا سَبَبٌ
نه بل څه لکه عمر او همدا رنګې زفرخکه چې دا دواړه چې کله موجود شو غير منصرف او نه وو په دې کې سبب
ظَاهِرٌ إِلَّا الْعَلَمِيَّةُ أُعْتُبِرَ فِيْهِمَا الْعَدْلُ وَ لَمَّا تَوَقَّفَ اِعْتِبَارُ الْعَدْلِ عَلٰى وُجُوْدِ الْأَصْلِ
ظاهرمګرعلميت نو معتبر شو په دې دواړو کې عدل او چې کله موقوف ووپه اعتبار د عدل کې په وجود د اصل
وَ لَمْ يَكُنْ فِيْهِمَا دَلِيْلٌ عَلٰى وُجُوْدِهٖ غَيْرَ مَنْعِ الصَّرْفِ قُدِّرَ فِيْهِمَا
باندې نو نه ووپه دې دواړو کې دليل په وجود د اصل نو مغائرت ورکړې شو غير منصرف ته او مقدر شو په دې دواړو
أَنَّ أَصْلَهُمَا عَامِرٌ وَ زَافِرٌ مَعْدُوْلًا عَنْهُمَا إِلٰى عُمَرَ وَ زُفَرَ وَ مِثْلُ بَابِ قَطَامِ
کې چې اصل د دې دواړو عامر او زافر شو چې معدول شوي دي د هغې نه عمر او زفر او په مثل د باب د قطام چې
اَلْمَعْدُوْلَةُ عَنْ قَاطِمَةٍ وَ أَرَادَ بِبَابِهَا كُلُّ مَا هُوَ عَلٰى فَعَالِ عَلَمًا لِلْأَعْيَانِ الْمُؤَنَّثَةِ
معدول دې د قاطمة او اراده يې وکړه په باب د هغې هرهغه څه چې په وزن د فعال وي چې علم وي د پاره د اعيان مؤنثو
مِنْ غَيْرِ ذَوَاتِ الرَّاءِ فِيْ لُغَةِ بَنِيْ تَمِيْمٍ فَإِنَّهُمْ اِعْتَبَرُوا الْعَدْلَ فِيْ هٰذَا الْبَابِ
په غير د ذوات الرأى نه په لغت د بني تميم کې خکه چې معتبر کړي دوي عدل په دغه باب کې دوجې د معتبرکولو
حَمْلًا لَهٗ عَلٰى ذَوَاتِ الرَّاءِ فِي الْأَعْلَامِ الْمُؤَنَّثَةِ مِثْلُ حَضَارِ وَ طَمَارِ فَإِنَّهُمَا مَبْنِيَّاتٌ وَ لَيْسَ فِيْهِمَا
دحمل نه په ذوات الراء باندې په اعلام مؤنثو کې لکه حضار او طمار خکه چې دا دواړه مبني دي او نشته په دې کې
إِلَّا سَبَبَانِ الْعَلَمِيَّةِ وَ التَّانِيْثُ وَ السَّبَبَانِ لَا يُوْجِبَانِ الْبِنَاءَ فَاعْتَبَرُوْا فِيْهِمَا الْعَدْلُ
مګر دوه سببونه چې علميت او تانيث دي او دوه سببونه نه لازموي بناء پس معتبرشو په دې دواړو کې عدل
لِتَحْصِيْلِ سَبَبِ الْبِنَاءِ فَلَمَّا اِعْتَبَرُوْا فِيْهِمَا الْعَدْلُ لِتَحْصِيْلِ سَبَبِ الْبِنَاءِ اعْتَبَرُوْا فِيْمَا عَدَاهُمَا
د پاره د حصول د سبب د بناء پس کله چې معتبر شو په دې کې عدل د پاره د حصول د سبب د بناء نو معتبر کړو په ما سوى
مِمَّا جَعَلُوْهُ مُعْرَبًا غَيْرَ مُنْصَرِفًا أَيْضًا حَمْلًا لَهٗ عَلٰى نَظَائِرِهٖ
د دې دوونه او هغه چې ګرځولي وو هغوي اسم معرب غير منصرف دوجې د حمل د هغې نه په خپلو مذاهبو سره
مَعَ عَدَمِ الْإِحْتِيَاجِ إِلَيْهِ لِتَحَقُّقِ السَّبَبَيْنِ لِمَنْعِ الصَّرْفِ الْعَلَمِيَّةِ وَ التَّانِيْثِ فَاعْتِبَارُ الْعَدْلِ
د عدم احتياج نه دې ته خکه چې ثابت شو دوه سببونه د غير منصرف چې علميت او تانيث دي پس اعتبار د عدل
فِيْهِ إِنَّمَا هُوَ لِلْحَمْلِ عَلٰى نَظَائِرِهٖ لَا لِتَحْصِيْلِ سَبَبِ مَنْعِ الصَّرْفِ.
په هغې کې دا دوجې د حمل د هغې نه په خپلو نظائرو باندې نه دوجې د حصول د سبب د غير منصرف نه.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د عدل اقسام بيانوي عدل په دوه قسمه دي : (۱) عدل تحقيقي (۲) عدل تقديري

(۱) عدل تحقيقي هغه ته وايي چې موجود وي دليل په وجود د اصل سره په غير د منع صرف .

(۲) **عدل تقديري** هغه ته وايي چې موجود نه وي دليل په وجود داصل سره په غير دمنع صرف

اغراض د جامي : فاحد السببين فيها العدل : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : دامنم چې دامعدول شي دجمع نه ځکه فعلى صفتي جمع کيږي په فعل سره نو په جمع کې هم وصف اوعلميت دي خو دانه منم چې معدول دجماعي يا جماعاوات نه ځکه چې اسمي وي بيا په دغه وزن سره جمع کيږي اوجمع کې خو وصفيت دي .

جواب : شارح جواب کوي چې په اصل وضع کې خو وصف دي خو وروستو په استعمال کې بيا غلبه داسميت پرې راغلې ده اوغلبه داسميت په وصفيت باندې وصفيت ته نقصان نه رسوي خو چې په اصلِ وضع کې وصف وي .

وفي جمع واخواته : په دې عبارت سره شارح اشاره کوي دې خبرې ته چې لکه څنګه جمع کتع بتع بصع غير منصرف دي همدارنګې ددوي مفرد مذکر هم غير منصرف چې اجمع اکتع الخ دي په دې کې يو سبب وصف اوبل وزن فعل دي .

وعلى ماذكرنا لا يرد جموع الشاذة : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : مخکې تا وويل چې په آخر کې عدل دي ځکه تا ويلي چې په اسم تفضيل کې قاعده داده چې دابه مستعمله وي په يود طرق ثلاثو سره اودلته نه دي مستعمل شوې نو معلومه شوه چې دامعدول دي دالاخر يا اخر من نه نو همدارنګې اقوس او انيب کې هم عدل معتبر کړه ځکه دغه وزن قوس او ناب جمع کيږي په افعال يعني اقواس او انياب سره اودلته نه وو جمع شوې نو معلومه شوه چې دا اقوس اوانيب معدول دي د اقواس او انياب نه .

جواب : اقوس اوانيب داجموع شاذه دي اوداعدم جمع والې داقوس اوانيب په اقوس اوانياب سره دا دليل دې دپاره دشاذوالي اوس که چيرته دادليل شي دپاره دعدل نو بيا به دشاذوالي د پاره څه قاعده اودليل پاتې نه شي .

اوتقدير اى خروجا كائناً عن اصل مقدر : په دې عبارت سره شارح د تقديراً دنصب وجه بيانوي اودې په ضمن کې دمشهورينو ددليل نه جواب هم کوي .

نو وايي چې دامنصوب دي بناء بر مفعول مطلق نو په دې باندې يو سوال وارديږي :

سوال : چې مفعول مطلق خو دې ته وايي چې فعل مشتمل وي په ده باندې دقبيلې داشتمال دكل نه په جزء باندې نو خروجه خو مشتلم دي په خروجاً باندې نه په تحقيقاً .

جواب : نو دې جواب كوي چې دامفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه سره تقدير دعبارت داسې دي چې **خروجه خروجاً تحقيقاً محققاً يا عن اصل محقق** ، نو په دې باندې بيا يو سوال راځي

سوال : تاويل چې مفعول مطلق دې ته وايي چې فعل مشتمل وي په ده باندې دقبيلې د اشتمال د كُل نه په جزء باندې نو خروج خو فعل نه دي بلكه مصدر دي ، ياخروجه هم مصدر دي او **خروجاً** هم مصدر دي نو **احد المصدرين** مستدرك اوبلا فائدې شو

جواب : په خروجه كې دغه مصدر ، مصدر عامله دي اومصدر عامله دامؤل وي په تاويل د ان سره دفعل نه نو خروجه په معنى د **ان يخرج** سره دي .

يكون الداعي : په دې عبارت سره شارح داصل مقدر معنى بيانوي چې په وجود داصل باندې په غير دمنع صرف نه بل دليل نه وي موجود دغې ته اصل مقدر وايي ، په دې باندې يو سوال راځي :

سوال : عدل تقديري ددريو وجوهو نه مقدر كولې شي يو داچې دپاره دمنع صَرف ، بل داچې سبب ثاني نه وي ، بل دا چې سبب ثاني وي خو صلاحيت دمنع صرف نه لري تا اولنې ذكر كړو اودا نور دوه دې پريخودل .

جواب : دا اولني يو وجودي دي اوثاني دوه داعدمي دي اودسبب نسبت وجودي ته اولى وي په نسبت سره عدمي ته .

فانها : **عمر** او **زفر** دا غير منصرف دي ځكه چې دا كله وموندل شول په كلام دعربو كې غير منصرف اوموجود نه وو په كې سبب ظاهر په غير دعلميت نه نو مونږه په كې معتبر كړو عدل .

ولما توقف : هر كله چې اعتبار دعدل داموصوف وو په وجود داصل اوپه وجود داصل باندې په **عمر** او **زفر** كې دليل نه وو په غير دمنع صرف نه نو فرض كړې شوه په كې داخبره چې اصل ددوي عامر او زافر دي اودا دواړه معدول دي د **عامر** او **زافر** نه **عمر** او **زفر** ته .

ومثل باب قطام في لغة بني تميم : شارح قيد د **مثل** ولږولو اشاره يې وكړه دې خبرې ته چې په **عمر** كې عدل معتبر كړې شوې وو دپاره دغير منصرف والي اوپه باب د**قطام** كې معتبر شوې دي

عدل خو حملاً علی نظائره چې هغه نظائر حضار او طمار دي

المعدولة عن قاطمة : په دې عبارت سره شارح بیان داصل د قطام کوي قطام دا معدول دي د قاطمة څخه . په دې یو سوال راځي

سوال : قاطمة دې وویل په غیر د تاء بـه دې ویلې یعنې عن قاطم لکه عمر چې معدول دې د عامر نه

جواب : قطام داعلم دښځې دي په کار ده چې معدول عنه یې هم مؤنث شي په خلاف دعمر څکه داعلم دمذکر دي .

واراد ببابها : په دې عبارت سره شارح بیان دباب د قطام کوي عدل به معتبر کولې شي په هر هغه فعال وزن کې چې علم وي دپاره داعیان مؤنثو په غیر د ذوات الراء بالاتفاق مبني وي .

قاعده : فعال دا په څلور قسمه دي

(۱) فعال چې اسم فعل وي لکه نزال دابه مبني وي بالاتفاق .

(۲) چې صفت دپاره دمؤنثو وي لکه فساق په معنی د فاسقة سره .

(۳) چې علم وي دپاره دمعنی مصدري لکه فجار په معنی د فجور یا فجرة سره .

دا دوه قسمه به هم مبني وي دوجه دمشابهت دنزال نه وزنا هم اوعدلاً یعنې ددواړو وزن هم یوشان دي او په نزال کې هم عدل شوې دي اوپه دې دواړو کې هم .

(۴) قطام دابه مبني وی په نزد د حجازیینو اومعرب دي په نزد دبنو تمیمو

قاعده : عدل دڅلورو وجوهو نه معتبر کولې شي .

(۱) دوجې دغیر منصرف والي څخه لکه په عمر کې .

(۲) دپاره دبناء لکه حضار او طمار په دې کې دوه سببه دي یو علمیت اوبل په کې تانیث دي خو دسببینو دوجې نه یو اسم مبني نه ګرځي نو مونږ په کې علمیت معتبر کړو چې دامعدول دي د احضر اود اثمر نه نو هغه مبني وو نو داهم مبني شو .

(۳) عدل معتبر کولې شي دوجې دحمل نه په نظائرو باندې لکه په قطام کې نو دامعدول دي د قاطمة نه دا څکه چې داحمل دي په حضار اوطمار باندې

(۴) عدل معتبر کولې شي دپاره دمبالغې لکه نزال د: معدول دي دانزل نه د انزل معنی ده چې راکوز شه اود نزال معنی ده بار بار راکوز شه .

وَ لِهٰذَا يُقَالُ ذِكْرُ بَابِ قَطَامِ هٰهُنَا لَيْسَ فِيْ مَحَلِّهِ لِاَنَّ الْكَلَامَ فِيْمَا قُدِرَ
دديٰ وجې نه ويلې شي ذکر د باب د قطام دلته نه دي په خپل محل حکه کلام په هغه کې وو چې کوم مقدروي په
فِيْهِ الْعَدْلُ لِتَحْصِيْلِ سَبَبِ مَنْعِ الصَّرْفِ وَ اِنَّمَا قَالَ فِيْ تَمِيْمٍ لِاَنَّ الْحِجَازِيِّيْنَ يَبْنُوْنَهُ
هغې کې دپاره دحصول دسبب دغیر منصرف اووو ا مصنف في تمیم حُکه چې حجازین مبني ګرځوي دغه اسم
فَلَا يَكُوْنُ مِمَّا نَحْنُ فِيْهِ وَالْمُرَادُ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ اَكْثَرُهُمْ فَاِنَّ الْاَقَلِّيْنَ مِنْهُمْ لَمْ يَجْعَلُوا
اومونږ بحث نه کوو دهغې نه اومراد د بني تمیم نه اکثر ددوي دي حکه چې اقل د هغوي نه دي ګرځولې اسماء
ذَوَاتِ الرَّاءِ مَبْنِيَّةً بَلْ جَعَلُوْهَا غَيْرَهُ مُنْصَرِفَةً فَلَا حَاجَةَ اِلٰى اِعْتِبَارِ الْعَدْلِ فِيْهَا التَّحْصِيْلُ
ذوات الراء مبني بلکې ګرځولې غیرمنصرف پس ضرورت نشته اعتبار دعدل ته په هغې کې دوجې دحصول د
سَبَبُ الْبِنَاءِ وَ حَمْلُ مَا عَدَاهَا عَلَيْهَا.
سبب دبناء نه اوحمل دماسوی وو په هغې باندې.

اغراض دجامي : ولهذا يقال: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : باب قطام ته څه ضرورت نه وو څکه زمونږ بحث په هغه عدل کې دي چې د غیر منصرف کیدو دوجې نه راغلې وي .

جواب : باب قطام راوړلو کښاشاره ده دې خبرې ته چې عدل يواځې دغير منصرف والي دوجې څخه نه راځي بلکه دوجې دحمل نه په نظائرو هم راځي .

والنما قال في تميم : په دې عبارت سره شارح اشاره کوي اختلاف ته : د بنو تميم قيد يې څکه ولړولو چې حجازيين باب د قطام مبني ګرځوي اوزمونږ بحث په معرب کې دي چې غير منصرف دي ، مراد اکثر بنو تميم دي څکه اقل وايي چې حضار او تمار غير منصرف دي نو عدل په کې معتبر نه شو دپاره دتحصيل دبناء اوقطام کې هم دعدل اعتبار کولو ته حاجت پاتې نه شو څکه داخو حمل وو په حضار او تمار نو په هغې کې عدل نه وو نو په قطام کې هم عدل نشته .

وصف:

اَلْوَصْفُ وَ هُوَ كَوْنُ الْاِسْمِ دَالًّا عَلٰى ذَاتٍ مُبْهَمَةٍ مَاخُوْذَةٍ مَعَ بَعْضِ صِفَاتِهَا سَوَاءٌ
وصف اوداکیدل داسم دي چې دال وي په ذات مبهمه باندې چې ماخوذوي سره دبعضې صفاتو برابره خبره ده
كَانَتْ هٰذِهِ الدَّلَالَةُ بِحَسْبِ الْوَضْعِ مِثْلُ اَحْمَرَ فَاِنَّهُ مَوْضُوْعٌ لِذَاتٍ مَا اُخِذَتْ مَعَ بَعْضِ صِفَاتِهَا
که دادلالت په اعتبار دوضع سره وي لکه احمرچې داموضوع ده دپاره دیوذات چې اراده شوې سره دبعضې صفاتو

الَّتِيْ هِيَ الْحُمْرَةُ اَوْ بِحَسْبِ الْاِسْتِعْمَالِ مِثْلُ اَرْبَعٍ فِيْ مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ فَاِنَّهُ مَوْضُوْعٌ
چې هغه حمرت دي يا په اعتبار د استعمال سره وي لکه اربع په مررت بنسوة اربع کې خکه چې دا موضوع دي د
لِمَرْتَبَةٍ مُعَيَّنَةٍ مِنْ مَرَاتِبِ الْعَدَدِ فَلاَ وَصْفِيَّةَ فِيْهِ بِحَسْبِ الْوَضْعِ بَلْ قَدْ تَعْرُضُهُ
مرتبې معينې دپاره دمراتبو دعدد نه پس وصفيت نشته په دې کې په اعتبار دوضع سره بلکې راخي دې ته کله
الْوَصْفِيَّةُ كَمَا فِي الْمِثَالِ الْمَذْكُوْرِ فَاِنَّهُ لَمَّا اُجْرِيَ فِيْهِ عَلَى النِّسْوَةِ الَّتِيْ هِيَ مِنْ قَبِيْلِ الْمَعْدُوْدَاتِ
وصفيت په مثال مذکوره کې پس کله چې جاري شو په دې باندې په هغه نسوو کې چې هغه دقبيلې دمعدوداتو
لَا الْاَعْدَادِ عُلِمَ اَنَّ مَعْنَاهُ مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ مَوْصُوْفَةٍ بِالْاَرْبَعِيَّةِ وَ هٰذَا مَعْنًى وَصْفِيٌّ
نه وي نه د عاداتو نه نو معلومه شوه چې معنی د مررت بنسوة موصوف ده په اربع سره اودا معنی وصفي ده چې
عَرَضَ لَهُ فِي الْاِسْتِعْمَالِ لَا اَصْلِيٌّ بِحَسْبِ الْوَضْعِ الْمُعْتَبَرِ فِيْ سَبَبِيَّةِ مَنْعِ الصَّرْفِ هُوَ الْوَصْفُ الْاَصْلِيُّ
پيش شوه دې ته په استعمال کې نه په اعتبار داصل وضع سره او معتبر په سببيت دمنع صرف کې وصف اصلي
لِاَصَالَتِهِ لَا الْعَرْضِيُّ لِعَرْضِيَّتِهِ فَلِذٰلِكَ قَالَ الْمُصَنِّفُ رَحِمَهُ اللهُ.
دي دوجې داصل والي دهغې نه. نه عارضي دوجې دعروض دهغې نه ددې وجې نه وويل مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې د وصف تعريف کوي.

اغراض د جامي: الوصف وهو كون الاسم دالا على ذات مبهمة مأخوذة مع بعض الخ: په دې عبارت سره شارح تعريف دوصف کوي ، اوبل په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: چې شمارل ستا وصف داسبابو دمنع صرف نه صحيح نه دي خکه وصف موصوف غواړي يا داعارض دي معرض غواړي نو دا خو ذات مع الوصف شو او نور اسباب داصرف صفات دي.

جواب: شارح جواب ورکړو په كون الاسم سره چې كون مصدر دي اومصدر صرف صفت وي.

سواء كانت الدلالة: په دې عبارت سره شارح دوصف اقسام بيانوي: وصف په دوه (۲) قسمه دي: يو هغه وصف چې واضع وضع کړې وي دپاره دوصف په اصل کې.

مثل احمر فانه موضوع لذات ما: په دې عبارت سره شارح توضيح بالمثال کوي چې په ذات کې تنوين دپاره دتعميم دي يعنې هر يو ذات چې وي او ما نکره دپاره دتاکيد ددغه تعميم ده لکه احمر دا ذات من له الحمرة ته وايي.

او بحسب الاستعمال: په دې عبارت سره شارح بل قسم دوصف ذکر کوي ، يا به په اصل وضع کې وصف نه وي بلکه په استعمال کې به په کې وصفيت راغلې وي لکه اربع شو په دې ترکيب

کې چې مررت بنسوة اربع په اصل کې ددې وضع دپاره دتعين دمرتبې معينې دعدد دپاره شوې ده چې مافوق الثلاثة او ماتحت الخمسة ده په دې ترکيب کې چونکه نسوة معدودات دي اعداد نه دي نو دا اربع صفت دي اى مررت بنسوة موصوفة بالاربعية اودا معنى وصفي ده چې عارضه شوې ده نسوة ته په استعمال کې

والمعتبر: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې وصف په دوه قسمه شو نو معتبر په کې کوم يو دي ؟

جواب : چې معتبر په کې وصف اصلي دي دوجې دقوت نه .

فلذلک قال المصنف : دلته يوه خارجي فائده ذکر کوو اوهغه داچې ماقبل دفلذلک اود من ثم نه دليل لمي وي اومابعد ددې نه دليل اني وي اودليل لمي دې ته وايي چې دليل ونيسي دجانب د علت نه په وجود دمعلول باندې لکه ته اور ووينې او ووايې چې دلته لوګي شته خو دا دشپې او دليل اني دې ته وايي چې دليل ونيسي دجانب دمعلول نه په وجود دعلت باندې لکه دورځې لوګي ووينې اوته ووايې چې دلته به اور هم وي نو وايي چې د انصرف نه عدم انصرف ته اړول داسبب قويه غواړي اوسبب قويه هغه وصف دي چې په اصلِ وضع کې وصف وي نو وصف عرضي معتبر نه دي اوددې نه وروستو وايي چې شرط ورلره دادى چې په اصلِ وضع کې به وصف وي علت ورلره سبب قويه دي نو دليل اني شو .

دوصف شرط :

شَرْطُهُ أَيْ شَرْطُ الْوَصْفِ فِيْ سَبَبِيَّةِ مَنْعِ الصَّرْفِ أَنْ يَّكُوْنَ وَصْفاً فِي الْأَصْلِ الَّذِيْ هُوَ الْوَضْعُ بِأَنْ يَّكُوْنَ
شرط ددې يعنې شرط د وصف په سببيت د منع صرف چې وي به وصف په اصل کې چې هغه وضع ده چې وي
وَضْعُهُ عَلَى الْوَصْفِيَّةِ لَا أَنَّ تَعْرُضَهُ الْوَصْفِيَّةُ بَعْدَ الْوَضْعِ فِي الْإِسْتِعْمَالِ سَوَاءٌ بَقِيَ عَلَى
وضع دپاره دوصفيت نه پيش کيدل دوصفيت وروستودوضع نه په استعمال کې برابره خبره ده چې باقي وي په
الْأَصْلِيَّةِ أَوْ زَالَتْ عَنْهُ فَلَا تَضُرُّهُ بِأَنْ تُخْرِجَهُ عَنْ سَبَبِيَّةِ مَنْعِ الصَّرْفِ الْغَلَبَةُ أَيْ
اصلينت باندې اويانه وي نو ضرر نه رسوي دې ته چې خارج کړي دې لره دسببيت دمنع صرف نه نوغلبه يعنې
غَلَبَةُ الْإِسْمِيَّةِ عَلَى الْوَصْفِيَّةِ وَ مَعْنَى الْغَلَبَةِ اخْتِصَاصُهُ بِبَعْضِ أَفْرَادِهِ بِحَيْثُ
غلبه داسميت په وصفيت باندې اومعنى دغلبې داده چې خاص کيدل دااسم دې په بعضې افرادوپورې په داسې شان
لَا يَحْتَاجُ فِي الدَّلَالَةِ عَلَيْهِ إِلَى قَرِيْنَةٍ كَمَا أَنَّ أَسْوَدَ كَانَ مَوْضُوْعاً لِكُلِّ مَا فِيْهِ
چې محتاج نه وي په دلالت کې پردې يوقرينې ته لکه څنګه چې اسود وضع وو دپاره دهغه څه چې په هغې کې

دَ ثُمَّ كَثُرَ اسْتِعْمَالُهُ فِي الْحَيَّةِ السَّوْدَاءِ بِحَيْثُ لَا يَحْتَاجُ فِي الْفَهْمِ عَنْهُ إِلَى قَرِيْنَةٍ

سواد وي بيا زيات شو استعمال يې په تورمار کې په داسې شان چې احتياج نه وي په فهم کې يوې قرينې ته نو د

فَلِذٰلِكَ الْمَذْكُوْرُ مِنْ اِشْتِرَاطِ اِصَالَةِ الْوَصْفِيَّةِ وَ عَدَمِ مُضِرَّةِ الْغَلَبَةِ صُرِفَ

دغه مذکور شرط دوجې چې هغه اصالت دوصف دي او عدم مضرت دغلبې دي نو منصرف وګرځولې شو دوجې

لِعَدَمِ اِصَالَةِ الْوَصْفِيَّةِ اَرْبَعٌ فِيْ قَوْلِهِمْ مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ وَ امْتَنَعَ مِنَ الصَّرْفِ لِعَدَمِ

دعدم اصالت دوصف نه اربع په قول ددې کې چې مررت بنسوة اربع منع شو دمنصرف کيدلو نه دوجې دنشتوالي

مُضِرَّةِ الْغَلَبَةِ اَسْوَدُ وَ اَرْقَمُ حَيْثُ صَارَا اِسْمَيْنِ لِلْحَيَّةِ الْاَوَّلُ لِلْحَيَّةِ السَّوْدَاءِ وَ الثَّانِيْ لِلْحَيَّةِ الَّتِيْ

دضرر دغلبې نه اسود او ارقم ګرځيدلې دواړه نومونه دپاره دمار اول دپاره دتورمار او دوهم د پاره دهغه مار چې په

فِيْهَا سَوَادٌ وَ بَيَاضٌ وَ اَدْهَمُ حَيْثُ صَارَ اِسْمًا لِلْقَيْدِ مِنَ الْحَدِيْدِ لِمَا فِيْهِ مِنَ الدُّهْمَةِ اَعْنِيْ

هغه کې تور والې او سپين والې وي او ادهم چې ګرځيدلې نوم دپاره دکړۍ داوسپنې خکه چې په دې کې دهمت يعني

السَّوَادَ فَاِنَّ هٰذِهِ الْاَسْمَاءَ وَ اِنْ خَرَجَتْ عَنِ الْوَصْفِيَّةِ لِغَلَبَةِ الْاِسْمِيَّةِ لٰكِنَّهَا بِحَسْبِ

تور والې دې پس دا اسماء اګر که خارج شوې دوصفيت نه دوجې دغلبې داسميت نه په دې باندې ليکن په اعتبار

اَصْلِ الْوَضْعِ اَوْصَافٌ لَمْ يُهْجَرِ اسْتِعْمَالُهَا فِيْ مَعَانِيْهَا الْاَصْلِيَّةِ اَيْضاً بِالْكُلِّيَّةِ فَالْمَانِعُ مِنَ

د اصلِ وضعې سره اوصاف دي نه دي پريخودل شوې استعمال ددې په معنيو اصليو کې بالکلية پس مانع د

الصَّرْفِ فِيْ هٰذِهِ الْاَسْمَاءُ الصِّفَةُ الْاَصْلِيَّةُ وَ وَزْنُ الْفِعْلِ وَاَمَّا عِنْدَ اسْتِعْمَالِهَا فِيْ مَعَانِيْهَا الْاَصْلِيَّةِ فَلَا اِشْكَالَ فِيْ

صرف نه په دغو اسماو کې صفت اصليه دي او وزن فعل او استعمال ددې په معنيو اصليو کې اشکال نشته په

مَنْعِ صَرْفِهَا لِوَزْنِ الْفِعْلِ وَ الْوَصْفُ فِي الْاَصْلِ وَ الْحَالِ.

منع صرف ددې کې دوجې دوزن فعل او دوصف اصلي نه او دحال نه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح شرط دوصف ذکر کوي .

اغراض د جامي : شرطه: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : تا وويل چې د وجود دوصف دپاره شرط دادې چې دا به په اصلِ وضع کې وصف وي زه به درته وښائم چې وصف به وي او په اصلِ وضع کې به نه وي .

جواب : شارح ورکړو چې شرط دوصف دپاره دسببيت دمنع صرف دادې نه دپاره دوجود دوصف .

ان يكون وصفا في الاصل : په وصفاً سره شارح اشاره کوي ترکيب ته چې في الاصل دکان پاره اسم دي او وصفا محذوف ورلره خبر دي .

الذي هو الوضع: په دې عبارت سره شارح معنی داصل بیانوي اوهغه داچې معنی داصل وضع ده.

بان یکون وضعه: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي بیان دمتن ته او وایي چې ددغه وصف وضع به دوصفیت دپاره شوې وي داسې نه چې وضع دوصفیت دپاره نه وي شوي خو په استعمال کې وصفیت ورته عارض شوې وي په وصف اصلي کې بیا برابره خبره ده چې وصفیت په کې باقي وي اوکه ترې نه زائل شوې وي

فلا تضره: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: چې ته وایي چې غلبه داسمیت په وصفیت باندې وصفیت ته نقصان نه رسوي ولې یې نه رسوي مخکې عام وو او وروستو دغلبې داسمیت نه خاص شو.

جواب: مراد زمونږ خاص ضرر دي هغه داچې دغه وصف دسببیت دمنع صرف نه خارج نه کړي.

الغلبة: په دې عبارت سره شارح تعین دالف لام کوي چې په الغلبة کې الف لام عوضي دي چې عوض دي دمضاف الیه نه یعني غلبة الاسمیة.

ومعنی الغلبة: دغلبې معنی ده چې دغه اسم خاص شي په بعضې افرادو ددغه اسم پورې په داسې شان چې په دلالت کې په دغه خاص اسم باندې قرینې ته ضرورت نه وي لکه اسود چې د مطلق تورځیز دپاره وضع شوې دي بیا ددې استعمال په تور مار کې داسې زیات شو دي چې په فهمیدلو ددغه مار کې ددغه اسود نه قرینې ته ضرورت نشته.

فلذلک: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: مخکې دوه خبرې ذکر دي: یو اصالة في الوصفیة او بل عدم ضرر دغلبې، نو که ذلک یو ته راجع کوي نو بل پاتې کیږي اوکه دواړو ته یې راجع کوي نو بیا مطابقت نه راځي په مینځ داشارې اودمشار الیه کې

جواب: ذلک مذکور ته راجع دي نو په مذکور کې دواړه راغلل

وامتنع: شارح اشاره کوي وجهې دامتناع ته چې غلبه داسمیت په وصفیت باندې وصفیت ته ضرر نه رسوي نو اسود او ارقم غیر منصرف شو

اسود وارقم للحية په حيث صار اسمين سره شارح اشاره کوي متعلق دللحية ته مخکې اسود تو ځيز ته او ارق برگ ځيز ته ويل کيده نو وروستو اسود دتور ار دپاره نوم کيخودلې شو او ارقم دبرگ مار دپاره

للقيد: شارح اشاره کوي معنى دقيد ته چې داد اوسپنې هاتهـ کړئ ته وايي اوتطبيق دمثال کوي دمثل سره په داسې شان سره چې ادهم د دهمة څخه دي او دا تور والې ته وايي بيا وروستو دهاتهـ کړو دپاره نوم کيخودل شو ځکه چې په دې کې هم تور والي وي ، نو په دغه مذکورو اسماو کې سببين يو وزن فعل اوبل وصف اصلي دي اوکه چيرته دغه اسماء په وصف اصلي کې مستعمل شي نو بيا خو هيڅ اشکال نشته يو به په کې وصف حالي اوبل وزن فعل وي په کې اوکه غلبه داسميت په کې راشي نو بيا به په کې يو وصف اصلي اوبل وزن فعل وي .

وَ ضَعُفَ مَنْعُ اَفْعٰى اِسْمًا لِلْحَيَّةِ عَلٰى زَعْمِ وَصْفِيَّةٍ لِتَوَهُّمِ اِشْتِقَاقِهٖ
اوضعيف دي غيرمنصرف کيدل دافعى چې نوم شي دپاره دمار په گمان دوصفيت ددې دوجې د توهم د اشتقاق
مِنَ الْفَعْوَةِ الَّتِيْ هِيَ الْخُبْثُ وَ كَذٰلِكَ مَنْعُ اَجْدَلُ لِلصَّقْرِ عَلٰى زَعْمِ وَصْفِيَّتِهٖ
ددې دفعوة نه چې په معنى دخبث سره همدارنگې غير منصرف کيدل اجدل دباز دپاره په گمان دوصفيت ددې
لِتَوَهُّمِ اشْتِقَاقِهٖ مِنَ الْجَدْلِ بِمَعْنَى الْقُوَّةِ وَ اَخْيَلُ لِلطَّائِرِ اَىْ لِطَائِرٍ ذِىْ خَيْلَانٍ
دوجې دتوهم داشتقاق دجدل نه په معنى دقوت سره اواخيل دمارغه دپاره يعنې هغه مارغه چې خاوند دخالونو
عَلٰى زَعْمِ وَصْفِيَّتِهٖ لِتَوَهُّمِ اشْتِقَاقِهٖ مِنَ الْخَالِ وَ وَجْهُ ضُعْفِ مَنْعِ الصَّرْفِ فِيْ هٰذِهِ الْاَسْمَاءِ
وي په گمان دوصفيت ددې دوجې دتوهم داشتقاق ددې دخال نه اووجه دضعف دمنع صرف په دغه اسماو کې
عَدَمُ الْجَزْمِ بِكَوْنِهَا اَوْصَافاً اَصْلِيَّةً فَاِنَّهَا لَمْ يَقْصُدْبِهَا الْمَعَانِيْ الْوَصْفِيَّةِ مُطْلَقاً لَا
عدم يقين په کيدلو ددې دي صفات اصليه ځکه چې نه دي قصد شوې په دې سره معاني اصليه بالکل نه
فِي الْاَصْلِ وَ لَا فِي الْحَالِ مَعَ اَنَّ الْاَصْلَ فِي الْاِسْمِ الصَّرْفُ.
په اصل کې اونه په حال کې سره ددې نه چې اصل په اسم کې منصرف دي

اغراض دجامي : وضعف منع افعیٰ للحية : چا ويلي چې افعى دفعوة نه دي اودا خباثت ته وايي دگنجي مار دپاره نوم وگرځولې شو ځکه داهم خبيث مار دي .

اجدل للصقر : چا گمان کړې وو چې اجدل مشتق دي دجدل نه او داقوت ته وايي بيا وروستو د باز دپاره نوم کيخودل شو ځکه دا هم قوي وي .

واخيل للطائر : چا گمان کړې چې اخيل دخيلان څخه دي اودا خال ته وايي بيا دهغه مارغه نوم

کیخودلې شو چې خال خال وي وجه دضعف یې یوه داده چې داخبره یقیني نه ده چې دا ددغو اسماو څخه مشتق دي اوپه اصلِ وضع کې وصف وو

سوال : اصالة في الوصفیت یې ضعیف شو یعني غیر منصرف والې یې ضعیف شو نو انصراف یې هم ضعیف شو نو ته یې منصرف کوې څنګه منصرف والې اوعدم انصراف په کې علی السویه وګرځوه .

جواب : چې دلیل موجود دي په انصراف ځکه چې هرکله په کې دواړه برابر وو نو اصل په اسماو کې انصراف وو نو مونږ منصرف کړو .

اَلتَّانِيْثُ اللَّفْظِيُّ الْحَاصِلُ بِالتَّاءِ لَا بِالْاَلِفِ فَاِنَّهُ لَا شَرْطَ لَهُ شَرْطُهُ فِيْ سَبَبِيَّةِ
تانیث لفظي چې حاصل وي په تاء سره نه په الف سره ځکه چې د هغې د پاره شرط نشته شرط یې په سببیت د
مَنْعِ الصَّرْفِ الْعَلَمِيَّةُ اَیْ عَلَمِيَّةُ الْاِسْمِ الْمُؤَنَّثِ لِيَصِيْرَ التَّانِيْثُ لَازِماً لِاَنَّ الْاِعْلَامَ
منع صرف کې علمیت دي یعني علمیت د اسم مؤنث چې وګرځي تانیث لازم د هغې د پاره ځکه چې اعلام
مَحْفُوْظَةٌ عَنِ التَّصَرُّفِ بِقَدْرِ الْاِمْكَانِ وَلِاَنَّ الْعَلَمِيَّةَ وَضْعٌ ثَانٍ وَ كُلُّ حَرْفٍ وُضِعَتِ الْكَلِمَةُ عَلَيْهِ
محفوظ دي د تسلط نه په قدر دامکان سره اویاعلمیت وضعه ثاني ده اوهرحرف چې وضع شي کلمه ددې د
لَا يَنْفَكُّ عَنِ الْكَلِمَةِ وَ التَّانِيْثُ الْمَعْنَوِيُّ كَذٰلِكَ اَیْ لَا لِتَانِيْثِ اللَّفْظِيِّ بِالتَّاءِ فِيْ اِشْتِرَاطِ الْعَلَمِيَّةِ
پاره نه جدا کیږي دهغې نه کلمه تانیث معنوي په تاءد تانیث لفظي دي په تاء سره په شرط کولو د علمیت سره
فِيْهِ اِلَّا اَنَّ بَيْنَهُمَا فَرْقاً فَاِنَّهَا فِيْ التَّانِيْثِ اللَّفْظِيِّ بِالتَّاءِ شَرْطٌ
په دې کې مګر په مینځ ددواړو کې فرق شته ځکه چې تانیث په تانیث لفظي کې په تاء سره شرط دي دپاره د
لِوُجُوْبِ مَنْعِ الصَّرْفِ وَ فِيْ الْمَعْنَوِيِّ شَرْطٌ لِجَوَازِهِ فِيْ وُجُوْبِهِ مِنْ
وجوددمنع صرف اوپه معنوي کې شرط دي دپاره دجواز دمنع صرف اوضروري ده په وجوب دمنع صرف کې د
شَرْطٍ آخَرَ كَمَا اَشَارَ اِلَيْهِ بِقَوْلِهِ وَ شَرْطُ تَحَتُّمِ تَاْثِيْرِهِ
شرط آخر نه لکه څرنګې چې اشاره کړې ده دې ته مصنف په دې قول سره چې شرط دوجوب دتأثیر دتانیث
اَیْ شَرْطُ وُجُوْبِ تَاْثِيْرِ التَّانِيْثِ الْمَعْنَوِيِّ فِيْ مَنْعِ الصَّرْفِ اَحَدُ الْاُمُوْرِ الثَّلٰثَةِ الزِّيَادَةُ عَلَى الثَّلٰثَةِ اَیْ زِيَادَةُ حُرُوْفِ
یعنې شرط دوجوب دتاثیر معنوي په منع صرف کې یودامورو ثلاثونه دي زیادت په دریو یعني زیادت دحروفو
الْكَلِمَةِ عَلَى ثَلٰثَةٍ مِثْلُ زَيْنَبَ اَوْ تَحَرُّكُ الْحَرْفِ الْاَوْسَطِ مِنْ حُرُوْفِهَا الثَّلٰثَةِ مِثْلُ سَقَرَ اَوِ الْعُجْمَةُ مِثْلُ مَاهَ وَ جُوْرَ وَ
دکلمې په ثلاثو لکه زینب یاحرکت دحرف اوسط ددې درې حروفونه لکه سقر یاعجمه ده لکه ماه وجور اوپه
اِنَّمَا اشْتُرِطَ فِيْ وُجُوْبِ تَاْثِيْرِ التَّانِيْثِ الْمَعْنَوِيِّ اَحَدُ الْاُمُوْرِ الثَّلٰثَةِ لِيُخْرِجَ الْكَلِمَةَ بِثِقْلِ
تحقیق سره شرط کړې شو په وجوب دتاثیر دتانیث معنوي کې یودامور ثلاثودي دپاره چې خارج شي کلمه دثقل

الْأُمُوْرِ الثَّلٰثَةِ عَنِ الْخِفَّةِ الَّتِيْ مِنْ شَانِهَا اَنَّ تَعَارَضَ ثِقْلُ اَحَدُ السَّبَبَيْنِ فَتَزَاحَمَ تَأْثِيْرُهُ

ديو دا امورو ثلاثو نه دهغه خفت نه چې د شان دهغې نه معارض دی ثقل ديو د سببينونه پس مقابل شو دهغې د تأثير

وَ ثِقْلُ الْاَوَّلَيْنِ ظَاهِرٌ وَ كَذَا الْعُجْمَةُ لِاَنَّ لِسَانَ الْعَجَمِ ثَقِيْلٌ عَلَى الْعَرَبِ فَهِنْدٌ يَجُوْزُ صَرْفُهُ

سره او ثقل د اولينو ظاهر دي همدا رنګې عجمه ځکه چې لسان د عجمو ثقيل دي په عربو پس هند جائز ده منصرف

نَظَرًا إِلٰى اِنْتِفَاءِ شَرْطِ تَحَتُّمِ تَاْثِيْرِ التَّانِيْثِ الْمَعْنَوِيِّ اَعْنِيْ اَحَدُ الْاُمُوْرِ الثَّلٰثَةِ.

کيدل د دی په نظر سره انتفاء د شرط د حتموالي د تاثير د تانيث معنوي يعني يو د دريو امورو

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره شارح د تانيث لفظي تعريف کوي.

اغراض دجامي: التانيث اللفظي بالتاء: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: تا وويل چې التانيث بالتاء او معنوي به هم همدرنګې وي تا **تانيث بالتاء** مقابل د معنوي وګرځولو او دلته تقابل نه صحيح کيږي ځکه کله ناکله ظهور د تاء په تانيث معنوي کې هم کيږي.

جواب: مراد د تانيث بالتاء نه تانيث لفظي مراد دي او معنوي په شان د لفظي دي خو په شرط د علميت کې.

الحاصل بالتاء: دلته شارح الحاصل صفت راوويستو نه حال د دې وجه داده چې تانيث لفظي سبب د منع صرف دي او دا په حقيقت کې فاعل وي نو د دې د پاره يې **الحاصل** مناسب دي.

لا بالالف: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې دا **بالتاء** قيد احترازي دي په دې سره احتراز راغې د الف مقصوره او ممدوده نه ځکه چې په هغې کې دا شرط نشته ځکه هغه لازم دي د اسم سره.

شرطه في سببية منع الصرف: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: ته وايې چې شرط د پاره د تانيث هغه علميت دي زه به درته وښايم چې تانيث به په کې موجود وي او عليمت به په کې نه وي لکه **امرأة**.

جواب: شرطيت د عليمت دا د پاره د وجود د تانيث نه دي بلکې د پاره د سببيت د منع صرف علميت شرط دي.

العلمية اى علمية اسم المؤنث: په دې عبارت سره شارح په العلمية کې کې د الف لام تعين کوي چې په العلمية کې الف لام يا عوض دي د مضاف اليه نه او يا دا الف لام عهد خارجي دي معهود

په دې سره هغه علميت دا سم مؤنث دي

ليصير التأنيث لازما : علميت ورلره ځکه شرط دي چې دا تانيث لازم وګرځي د دغه علم سره ځکه اعلام محفوظ وي د تغير نه

بقدر الامكان : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : ته وايې چې اعلام محفوظ وي د تغير نه زه به درته وښائم چې علم به وي او تغير به په کې راغلې وي لکه په ترخيم د منادى کې لکه يا عثم .

جواب : اعلام محفوظ وي د تغير نه څومره چې ممکن وي

ولان العلمية : علميت د تانيث لفظي د پاره ځکه شرط وګرځولې شو چې علميت سره په کې ګويا وضع ثاني راغله او هر حرف چې وضع د کلمې راغلې وي په دغه حرف سره نو دا نه جدا کيږي د کلمې نه

والتأنيث المعنوي : په دې عبارت سره شارح موصوف دالمعنوي وښودلو چې التأنيث موصوف دي .

اى كالتأنيث اللفظي بالتاء في اشتراط العلمية : ذکر دوجې د تشبيه د تانيث معنوي په شان د تانيث لفظي په اشتراط د علميت کې .

الا ان بينهما فرقا الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې تانيث معنوي په شان د تانيث لفظي دي نو دا سې به دې ويلې وي چې التأنيث اللفظي والمعنوي شرطهما العلمية .

جواب : په تانيث لفظي او معنوي کې فرق دي په تانيث لفظي کې علميت شرط دي د پاره د وجوب د غير منصرف والې او په تانيث معنوي کې شرط دي علميت د پاره د جواز د غير منصرف والې .

ولابد في وجوبه من شرط آخر : که چيرته ته غواړې چې وجوب د غيرمنصرف والې راشي په تانيث معنوي کې خود هغه د پاره درې شروط دي .

وشرط تحتم تأثيره اى شرط : په دې عبارت سره شارح د تحتم معنى بيانوي او بل په تأثيره کې د ضمير مرجع متعينه کوي . نو معنى د تحتم وجوب ده ، او په تأثيره کې ضمير راجع دي تانيث معنوي ته ، په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب هم ورکوي .

سوال: تا کلمه د او راوړي او کلمه د او راحي دپاره دتشکیک نو ستا هم په کې شک دي په مؤثر والي کې . یا سوال داسې دي چې او کله په معنی د واو سره راځي او واو دپاره دجمع راځي نو معنی دا شود چې کله دا دریواړه شروط په یوځای راغلل نو بیا به وجوب راشي

جواب: او دپاره دتنویع دي یعنې هر یو ددغه امور ثلاثو څخه جدا جدا مؤثر دي .

الزيادة على الثلاثة اى زيادة حروف الكلمة على ثلاثة: په دې عبارت سره شارح تعین دالف لام کوي په الزيادة کې چې الف لام دا عوض دي دمضاف اليه نه ، او زینب سره مثال ذکر کوي .

اوتحرك الحرف الاوسط: شارح د الحرف قید راوړو دپاره دتعین دموصوف دالاوسط ، او سقر سره مثال ذکر کوي .

مثل ماه وجور: په دې عبارت سره شارح بیان دمثال دعجمې کوي .

وانما اشترط: په دې عبارت سره شارح وجه داشتراط ددې دریو شروطو ذکر کوي چې زيادة على الثلاثة دا ثقیل دي په نسبت سره ثلاثة ته ، او تحرك الاوسط دا ثقیل دي په نسبت سره ساکن الاوسط ته ، اوعجمه داثقیله ده په نسبت سره عربي ته نو ددې دریواړو ثقل داضعیف دي په نسبت سره ثقل دسببینو ته نو دامقابله دسببینو دثقل نه شي کولې نو غیر منصرف والې دا واجب شو اوچې کله داشروط ثلاثه نه وي نو بیا خفت دامقابله دثقل دسببینو کولې شي نو بیا په غیر منصرف والي صرف جواز لري اوبس .

وَ يَجُوْزُ عَدَمُ صَرْفِهٖ نَظَرًا إِلٰى وُجُوْدِ السَّبَبَيْنِ فِيْهِ وَ زَيْنَبَ وَ سَقَرَ عَلَمًا
اوجائزدي غیرمنصرف کیدل يې هم په نظرسره وجودسببینو په دې کې زينب اوسقرچې داعلم دي دپاره د
لِطَبْقَةٍ مِنْ طَبَقَاتِ النَّارِ وَمَاهُ وَ جُوْر عَلَمَيْنِ لِلْبَلْدَتَيْنِ مُمْتَنِعٌ صَرْفُهَا اَمَّا زَيْنَبُ
طبقې داوراوماه اوجورچې علم دي دپاره دښارونومنع دي منصرف کیدل ددې هرچې زينب دي نودوجې د
فَلِلْعَلَمِيَّةِ وَ التَّانِيْثِ الْمَعْنَوِيِّ مَعَ شَرْطِ تَحَتُّمِ تَاثِيْرِهٖ وَ هُوَ الزِّيَادَةُ عَلَى الثَّلٰثَةِ اَمَّا سَقَرُ
علمیت اوتانیث معنوي نه په دې کې سره دشرط دختموالي دتاثیرددې چې هغه زیادت دي په دریوهرچې سقر
فَلِلْعَلَمِيَّةِ وَ التَّانِيْثِ الْمَعْنَوِيِّ مَعَ شَرْطِ تَحَتُّمِ تَاثِيْرِهٖ وَ هُوَ تَحَرُّكُ الْاَوْسَطِ وَ اَمَّا
دي دوجې دعلمیت اوتانیث معنوي نه سره دشرط دختموالي دتاثیرددې چې هغه حرکت دحرف اوسط دي اوهر
مَاه وَ جُوْر فَلِلْعَلَمِيَّةِ وَ التَّانِيْثِ الْمَعْنَوِيِّ مَعَ شَرْطِ تَحَتُّمِ تَاثِيْرِهٖ وَ هُوَ الْعُجْمَةُ فَاِنَّ
چې ماه اوجوردوجې دعلمیت دتانیث معنوي نه سره دشرط د ختموالي د تاثیر د هغې چې هغه عجمه ده پس که

سُمِّيَ بِهِ اَیْ بِالْمُؤَنَّثِ الْمَعْنَوِيِّ مُذَكَّرٌ فَشَرْطُهُ فِيْ سَبَبِيَّةِ مَنْعِ الصَّرْفِ الزِّيَادَةُ عَلَى الثَّلٰثَةِ لِاَنَّ الْحَرْفَ
مسمى شي په مؤنث معنوي سره مذكرنو شرط يې په سببت دمنع صرف كې زيادت دي په دريو خكه چې حرف
الرَّابِعَ فِيْ حُكْمِ تَاءِ التَّانِيْثِ قَائِمٌ مَقَامَهَا فَقَدَمٌ وَ هُوَ مُؤَنَّثٌ مَعْنَوِيٌّ سِمَاعِيٌّ بِاِعْتِبَارِ مَعْنَاهُ الْجِنْسِيِّ
رابع په حكم دتانيث كې قائم دي په مقام دتانيث پس قدم مؤنث معنوي سماعي دي په اعتبار د معنوى جنسي
اِذَا سُمِّيَ بِهِ رَجُلٌ مُنْصَرِفٌ لِاَنَّ التَّانِيْثَ الْاَصْلِيَّ زَالَ بِالْعَلَمِيَّةِ لِلْمُذَكَّرِ مِنْ غَيْرِ
سره چې كله مسمى شي پرې سړي اومنصرف دي خكه چې تانيث اصلي ختم شو په علميت سره مذكرته غير
اَنْ يَقُوْمَ شَيْءٌ مَقَامَهُ وَ الْعَلَمِيَّةُ وَحْدَهَا لَا يَمْتَنِعُ الصَّرْفِ وَ عَقْرَبٌ وَ هُوَ مُؤَنَّثٌ مَعْنَوِيٌّ
ددې نه چې قائم شي شئ آخر په مقام ددې اوعلميت خان ته كافي نه دي دمنع صرف دپاره عقرب مؤنث معنوي
سِمَاعِيٌّ بِاِعْتِبَارِ مَعْنَاهُ الْجِنْسِيِّ اِذَا سُمِّيَ بِهِ رَجُلٌ مُمْتَنِعٌ صَرْفُهَا لِاَنَّهُ
سماعي دي په اعتبار دمعنوى جنسي سره چې كله مسمى شي پرې سړي جائز نه دي منصرف كيدل ددې خكه
وَ اِنْ زَالَ التَّانِيْثُ بِعَلَمِيَّتِهِ لِلْمُذَكَّرِ فَالْحَرْفُ الرَّابِعُ قَائِمٌ مَقَامَهُ بِدَلِيْلِ اَنَّهُ
چې اگر كه ختم شو تانيث دوجې دعليمت نه مذكرته ليكن حرف رابع قائم دي په مقام دتانيث په دليل ددې
اِذَا صُغِّرَ قُدَمٌ ظَهَرُ التَّاءِ الْمَقْدُوْرَةِ كَمَا تَقْتَضِيْهُ قَاعِدَةُ التَّصْغِيْرِ فَيُقَالُ
چې كله تصغير وكړې شي نو خكاره شي تاه مقدره لكه څرنگې چې مقتضي دي دقاعدې د تصغير پس ويلې
قُدَيْمَةٌ بِخِلَافِ عَقْرَبٍ فَاِنَّهُ اِذَا صُغِّرَ يُقَالُ عُقَيْرِبٌ مِنْ غَيْرِ اِظْهَارِ التَّاءِ لِاَنَّ
شي قديمة خلاف دعقرب خكه چې كله تصغير وكړې شي ويلې كيږي عقيرب په غير داظهار دتاه نه خكه چې
الْحَرْفَ الرَّابِعَ قَائِمٌ مَقَامَهُ فَعَقْرَبٌ اِذَا سُمِّيَ بِهِ رَجُلٌ اِمْتَنَعَ صَرْفُهُ
حرف رابع قائم دي په مقام دتاه پس عقرب چې كله مسمى شي په دې سره سړي نوجائزنه دي منصرف كيدل ددې
لِلْعَلَمِيَّةِ وَ التَّانِيْثُ الْحُكْمِيُّ.
دوجې دعلميت اوتانيث حكمي نه .

اغراض دجامي : **فهنديجوز صرفه** : مخكې داخبره ذكر وه چې دتانيث لفظي دپاره علميت شرط دي اوهمدارنگه په تانيث لفظي كې خو په اول كې وجوب دمنع صرف راولي اوپه ثاني كې جواز دمنع صرف والي اوكه په تانيث معنوي كې كه غواړي چې منع صرف والې وجوبي شي نو دهغې دپاره دري شروط دي هغه شروط يې ذكر كړل اوس په هغې باندې تفريع ذكر كوي چې جائز دي صرف دهند جواز دلته په معنى دامكان خاص سره دي چې سلب دضرورت دجانبينو څخه راغلي وي يعني انصراف اوعدام انصراف دواړه يې برابر وي

نظراً الى انتفاء شرط : په دې عبارت سره دليل ذكر كوي دپاره دانصراف منصرف والې يې خكه

جائز دي چې شرط دپاره دوجوب دمنع صرف والي دتانيث معنوي هغه شروط ثلاثه وو هغه په کې مفقود دي اوعدم انصراف يې هم جائز دي دوجې دوجود دسببينو نه چې يو علميت اوبل تانيث معنوي دي

وزينب وسقر وماه وجور ممتنع صرفها: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: ته وايې چې زينب او سقر او ماه جور دامتنع دي ممتنع خو نه دي بلکه موجود دي

جواب: مراد دامتناع نه امتناع صرفي ده نه امتناع وجودي

امازينب: په دې عبارت سره شارح دليل دغير منصرف والي ذکر کوي زينب او سقر او ماه وجور دا غير منصرف دي سببين په دې دريواړو کې يو علميت اوبل تانيث معنوي دي اودوجوب دغير منصرف والي شروط هم په کې موجود دي په زينب کې زيادة على الثلاثة شرط شته او سقر کې تحرک الاوسط شرط شته او په ماه او جور کې شرط هغه عجمه ده

فان سمي به اى بالمؤنث المعنوي: په دې عبارت سره شارح تعين دضمير کوي د به ضمير راجع دي مؤنث معنوي ته که چيرته مرنث معنوي دمذکر دپاره علم وګرځوي نو ددې دمنع صرف والي دپاره شرط هغه زيادة على الثلاثة دي

فشرطه في سببية منع الصرف: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: تا ويلي وو چې دمسمی کولو دمذکر دپاره په مؤنث معنوي سره ددې دپاره شرط هغه زيادت على الثلاثة دي زه به درته وښائم چې زائد على الثلاثة به نه وي اومسمی شوې به وي په دې سره مذکر لکه قدم

جواب: دوجود دپاره داشرط نه دي بلکه دمنع صرف والي دپاره يې بيا دا شرط دي

لان الحرف الرابع: په دې عبارت سره دليل ذکر کوي دپاره داشترط د حرفِ رابع ځکه حرفِ رابع داپه حکم دتاء التانيث کې دي اوقائمقام دهغه دي اوس ده زيادة على الثلاثة معتبر کړو او هغه نور دوه يې مه ـر نه کړل

فقدم منصرف: قدم دامنصرف دي چې کله يې علم دپاره د رجل وګرځوي ځکه تانيث خو ترې نه په علميت سره زائل شو اود هغې قائمقام چې زيادة على الثلاثة دي هم نشته اوصرف علميت خو مؤثر نه ګرځي په منع دصرف کې

وعقرب ممتنع صرفها: عقرب دا چې كله علم وګرځولې شي دپاره درجل نو غير منصرف دي

لانه وان زال: په دې عبارت سره اول دليل ذكر كوي ځكه چې تانيث خو يې دعلميت دوجې نه ختم شوې ليكن حرف داقائمقام دتانيث دي.

بدليل انه: حرف رابع په عقرب كې ځكه قائمقام دتانيث دي چې دقدم تصغير كله راوړې نو تاء مقدره په كې ظاهريږي لكه ځرنګه چې قاعده دتصغير تقاضا كوي نو قديمة ويلې شي په خلاف دعقرب ځكه ددې په تصغير كې تاء نه ظاهريږي نو معلومه شوه چې حرف رابع دا قائمقام دتانيث دي نو عقرب غير منصرف شو دوجې دتانيث معنوي اوعلميت نه

معرفه:

اَلْمَعْرِفَةُ اَىْ التَّعْرِيْفُ لِاَنَّ سَبَبَ مَنْعِ الصَّرْفِ هُوَ وَصْفُ التَّعْرِيْفِ لَا ذَاتُ الْمَعْرِفَةِ شَرْطُهَا اَىْ شَرْطُ تَاْثِيْرِهَا فِىْ
معرفه يعنې تعريف ځكه چې سبب دغيرمنصرف وصف دتعريف دي نه ذات دمعرفې شرط دتاثير ددې په غير
مَنْعِ الصَّرْفِ اَنْ تَكُوْنَ عَلَمِيَّةً اَىْ كَوْنُ هٰذَا النَّوْعِ مِنْ جِنْسِ التَّعْرِيْفِ عَلٰى اَنْ يَّكُوْنَ الْيَاءُ مَصْدَرِيَّةً اَوْ مَنْسُوْبَةً
منصرف كې چې وي به علم يعنې كيدل ددې نوعي د جنس تعريف نه چې شي ياء مصدريه يا منسوبه
اِلَى الْعِلْمِ بِاَنْ تَكُوْنَ حَاصِلَةً فِىْ ضِمْنِهٖ عَلٰى اَنْ يَّكُوْنَ الْيَاءُ لِلنِّسْبَةِ وَ اِنَّمَا جُعِلَتْ مَشْرُوْطَةً بِالْعَلَمِيَّةِ
علم ته چې وي حاصله په ضمن دې كې اوچې وي ياءدپاره دنسبت اوګرځولې شوه معرفه مشروطه په علميت
لِاَنَّ تَعْرِيْفَ الْمُضْمَرَاتِ وَ الْمُبْهَمَاتِ لَا يُوْجَدُ اِلَّا فِى الْمَبْنِيَّاتِ وَ مَنْعُ الصَّرْفِ مِنْ اَحْكَامِ الْمُعْرَبَاتِ
سره ځكه چې تعريف دمضمراتو اومبهماتو نه موجوديږي مګرپه مبنياتو كې نو غيرمنصرف داحكامو دمعرباتو نه
وَ التَّعْرِيْفُ بِاللَّامِ اَوِ الْاِضَافَةِ يَجْعَلُ غَيْرَ الْمُنْصَرِفِ مُنْصَرِفًا كَمَا سَيَجِئُ فَلَا يَتَصَوَّرُ
دي اوتعريف په لام اواضافت سره ګرځوي غيرمنصرف منصرف چې رابه شي ذكر ددې نو نه متصور كيږي
كَوْنُهٗ سَبَبًا لِمَنْعِ الصَّرْفِ فَلَمْ يَبْقَ اِلَّا التَّعْرِيْفُ الْعَلَمِىُّ وَ اِنَّمَا جُعِلَ الْمَعْرِفَةُ سَبَبًا وَ
كيدل ددې سبب د پاره د غير منصرف پس پاتې نه شو مګر تعريف معنوي او وګرځولې شوه معرفه سبب او
الْعَلَمِيَّةُ شَرْطُهَا وَ لَمْ يَجْعَلِ الْعَلَمِيَّةُ سَبَبًا كَمَا جَعَلَ الْبَعْضِ لِاَنَّ فَرْعِيَّةَ
علميت يې شرط او وبه ګرځولې شي علميت سبب لكه ځرنګې چې ګرځولې دي بعضو ځكه چې فرعيت د
التَّعْرِيْفِ لِلتَّنْكِيْرِ اَظْهَرُ مِنْ فَرْعِيَّةِ الْعَلَمِيَّةِ لَهٗ.
تعريف دپاره دتنكير داځكاره ده دپاره دفرعيت دعلميت نه تنكير ته

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب كافيه دمعرفې تعريف كوي

اغراض دجامي: المعرفة اى التعريف: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال : معرفه عبارت ده دهغه څیز نه چې وضع وي دپاره دذات معینه نو داخو **ذات مع الوصف** شو او نور اسباب دمنع صرف صفات دي فقط .

جواب : ذکر دمعرفې مراد ترې نه تعریف اوتعریف دا صرف وصف دي

لان سبب منع الصرف : شارح دلیل ذکر کوي چې مراد ترې نه تعریف ځکه دي چې سبب دمنع صرف هغه وصف دمعرفه دي چې هغه تعریف دي نه ذات دمعرفې سبب دي .

شرطها ای شرط تاثیرها : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : تاوویل چې شرط دمعرفې دپاره علمیت دي زه به درته وښائم چې معرفه به وي اوعلم به نه وي لکه الرجل .

جواب : داشرط دپاره دوجود دمعرفې نه دي بلکه دسببیت دمنع صرف دپاره دي .

ای کون هذا النوع : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : تا وویل چې دمعرفې دپاره شرط علمیت دي نومعرفه کې خو علمیت پروت دي نو لازم شو شرطیت دشئ الی نفسه یاداچې معرفه په علمیت کې موجودیږي نو بیا خو ظرفیت د شئ الی نفسه راغلو ځکه ظرف او مظروف دواړه یو څیز دي .

جواب : معرفه جنس دي اومعرفه عامه ده علمیت الف لام موصولات مضمرات دا ټول په کې موجود دي نو ظرفیت یا شرطیت دخاص راغې عام لره .

وانما جعلت : دمعرفې نور اقسام مو معتبر نه کړو صرف علمیت مو معتبر کړو ځکه که د معرفې دپاره شرط مضمرات اومبهمات شي نو دا خومبني دي اوغیر منصرف خو دقبیلې د معرباتو څخه دي اوتعریف باللام اوبالاضافة خو یې شرط نه کړ ځکه چې دا خو غیر منصرف لره منصرف کوي نو صرف علمیت پاتې شو نو مونږ ورلره علمیت شرط کړو .

وانما جعل المعرفة سببا : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي .

سوال : بناء دمتونو په اختصار سره وي چې په معرفه کې صرف علمیت شرط دي نو داسې ووایه چې علمیت دا سبب دي او معرفه دا ورلره شرط دي یا داچې ستا کتاب ماخوذ دصاحب دمفصل نه هغه علمیت سبب ګرځولي اومعرفه یې ورلره شرط ګرځولې دي

جواب : ما معرفه سبب کړه اوعلمیت یې ورلره شرط وګرځولو دپاره دیوې نکتې اوهغه داچې

اسباب دمنع صرف کې فرعيت دي اوفرعيت دمعرفې داظاهر دتنکير دپاره په نسبت سره فرعيت دعلميت ته تنکير لره ځکه تعريف دا فرعه دتنکير ده بلا واسطه ځکه اول به يو شئ نکره وي بيا به معرفه ګرځي لکه درجل نه الرجل ، او علميت دافرع دتنکير ده خو په واسطې دمعرفې سره ځکه داقسم دي دمعرفې نه اومعرفه فرعه دتنکير ده .

عُجمه :

اَلْعُجْمَةُ وَ هِيَ كَوْنُ اللَّفْظِ مِمَّا وَضَعَهُ غَيْرُ الْعَرَبِ وَ لِتَاثِيْرِهَا فِيْ مَنْعِ الصَّرْفِ شَرْطَانِ
اوعجمه داکيدل دلفظ دي چې وضع کړې دي غيردعربواودتاثيردغيرمنصرف کيدلودپاره دوه شرطونه دي
شَرْطُهَا الْاَوَّلُ اَنْ تَكُوْنَ عَلَمِيَّةً اَىْ مَنْسُوْبَةً اِلَى الْعَلَمِ فِي اللُّغَةِ الْعَجَمِيَّةِ بِاَنْ تَكُوْنَ مُتَحَقِّقَةً فِيْ ضِمْنِ
شرط اول يې دادې چې منصوبه به وي علميت ته په لغت دعجموکې په داسې شان چې وي به محققه په ضمن
الْعَلَمِ فِي الْعَجَمِ حَقِيْقَةً كَاِبْرَاهِيْمَ اَوْ حُكْماً بِاَنْ يَنْقُلَهُ الْعَرَبُ مِنْ لُغَةِ الْعَجَمِ
دعلم کې په لغت عجمي کې حقيقتاًلکه ابراهيم اوياحکماپه داسې شان چې نقل کړې عربو دلغت دعجمونه
اِلَى الْعَلَمِيَّةِ مِنْ غَيْرِ تَصَرُّفٍ فِيْهِ قَبْلَ النَّقْلِ كَقَالُوْنَ فَاِنَّهُ كَانَ فِي الْعَجَمِ اِسْمُ جِنْسٍ سُمِّيَ
علميت ته په غيردبدلون نه په دې کې مخکې دنقل نه لکه قالون دااګرچې په عجموکې اسم جنس دي بيا مسمى
بِهِ اَحَدُ رُوَاةِ الْقُرَّاءِ لِجَوْدَةِ قِرَاءَتِهِ قَبْلَ اَنْ يَتَصَرَّفَ فِيْهِ الْعَرَبُ فَكَاَنَّهُ كَانَ عَلَماً
شوپه دې يودقراونه دوجې دبنه قرأت دهغې نه مخکې ددې نه چې تصرف وکړې په دې کې عرب نوګوياچې داعلم
فِي الْعَجَمِيَّةِ وَ اِنَّمَا جُعِلَتْ شَرْطاً لِئَلَّا يَتَصَرَّفُ فِيْهَا الْعَرَبَ مِثْلُ تَصَرُّفَاتِهِمْ
شوپه لغت عجمي کې اووګرځولې شودا شرط ځکه چې تصرف ونه کړې په دې کې عرب په شان دخپلو تصرفاتو
فِيْ كَلَامِهِمْ فَتَضْعُفُ فِيْهِ الْعُجْمَةُ فَلَا تَصْلُحُ سَبَبًا لِمَنْعِ الصَّرْفِ فَعَلَى هَذَا
په خپل کلام کې پس ضعيف شي په دې کې عجيمت نوبياصالح نه ګرځي دپاره دمنع صرف بناء په دې باندې
لَوْ سُمِّيَ بِمِثْلِ لِجَامٍ لَا يَمْتَنِعُ صَرْفُهُ لِعَدَمِ عَلَمِيَّتِهِ فِي الْعُجْمَةِ
که چيرته مسمى شي په مثل دلجام جائزنه دي غيرمنصرف کيدل دهغې د وجې د عدم علميت نه په عجمه کې
وَ شَرْطُهَا الثَّانِيْ اَحَدُ الْاَمْرَيْنِ تَحَرُّكُ الْحَرْفِ الْاَوْسَطِ اَوِ الزِّيَادَةِ عَلَى الثَّلٰثَةِ اَىْ عَلَى ثَلٰثَةِ اَحْرُفٍ لِئَلَّا
دوهم شرط يودامرينونه حرکت د حرف اوسط يا زيادت دي په حروفوثلاثو يعني په دريو حروفو ددې د پاره چې
يُعَارِضَ الْخِفَّةَ اَحَدُ السَّبَبَيْنِ فَنُوْحٌ مُنْصَرِفٌ هَذَا تَفْرِيْعٌ بِالنَّظَرِ اِلَى الشَّرْطِ الثَّانِيْ فَانْصِرَافُ
معارض نه شي خفت يو دسببينو سره پس نوح منصرف دي داتفريع ده په نظر سره شرط ثاني ته متصرف کيدل
نُوْحٍ اِنَّمَا هُوَ لِانْتِفَاءِ الشَّرْطِ الثَّانِيْ وَ هَذِهِ اِخْتِيَارُ الْمُصِ اَلْعُجْمَةُ سَبَبٌ ضَعِيْفٌ
دنوح دوجې دانتفاء دشرط ثاني نه شو اوداغوره مذهب دمصنف دي ځکه چې عجميت سبب ضعيفه دي

لِاَنَّهٗ اَمْرٌ مَعْنَوِيٌّ فَلَا يَجُوْزُ اِعْتِبَارُهَا مَعَ سُكُوْنِ الْاَوْسَطِ وَ اَمَّا التَّانِيْثُ فَاِنَّ
دي ځکه چې هغه امر معنوي دي پس جائز نه دي مغيرول دهغې سره دسکون داوسط نه هرچې تانيث دي پس
لَهٗ عَلَامَةً مُقَدَّرَةً تَظْهَرُ فِيْ بَعْضِ التَّصَرُّفَاتِ فَلَهٗ نَوْعُ قُوَّةٍ فَجَا
شته دهغې دپاره علامه مقدره چې ځکاره كيږي په بعضو تصرفاتو کې نوشته دهغې دپاره يو قسم قوة پس جائ
اَنْ يُعْتَبَرَ مَعَ سُكُوْنِ الْاَوْسَطِ وَ اِنْ لَا يُعْتَبَرَ فَاِنْ قُلْتَ قَدِ اعْتُبِرَتِ الْعُجْمَةُ مَاهِ
شوچې مغيرشي سره دسکون داوسط نه اويامغيرنه شي كه ته ووايې په تحقيق سره مغيرشوې عجيمت په ماه او
جُوْر مَعَ سُكُوْنِ الْاَوْسَطِ فِيْمَا سَبَقَ فَلِمَ لَمْ تُعْتَبَرْهَا قُلْنَا اِعْتِبَارُهَا فِيْمَا تَ ... اِنَّمَا هُ
جوركې سره دسکون داوسط نه مخكې ولې معتبرنه شودلته مونږوايو اعتبار دهغې نه په ماسبـ ...ئي دا د وجې د
لِتَقْوِيَتِهٖ بِسَبَبَيْنِ آخَرَيْنِ لِئَلَّا يُقَاوِمَ سُكُوْنُ الْاَوْسَطِ اَحَدُهُمَا فَلَا يَلْزَمُ مِنِ اعْتِبَارِهَا
تقويت دسببينو روادي ددې دپاره چې مقاومت ونه کړي سكون داوسط يو ددووسره پس نه لازميږي اعتبار دهغې
لِقُوَّةِ سَبَبِ آخَرَ اِعْتِبَارَ سَبَبِيَّتِهَا بِالْاِسْتِقْلَالِ وَ شَتَرُ وَهُوَ اِسْمُ حِصْنٍ بِهٖ دِيَارُ بَكْرٍ وَاِبْرَاهِيْمَ
نه دپاره دتقويت دسبب آخر اعتبار دسببيت دهغې مستقلاً اوشتر چې نوم دقلاده په آبادې د بكر كې او ابراهيم
مُمْتَنِعٌ صَرْفُهُمَا لِوُجُوْدِ الشَّرْطِ الثَّانِيْ فِيْهِمَا فَاِنَّ فِيْ شَتَرَ تَحَرُّكِ الْاَوْسَطِ
ممتنع دي متصرف كيدل ددواړو دوجې دوجود دشرط ثاني نه په دواړو کې ځكه چې په شتر كې حركت داوسط دي
وَفِيْ اِبْرَاهِيْمَ الزِّيَادَةُ عَلَى الثَّلٰثَةِ وَ اِنَّمَا خُصَّ التَّفْرِيْعُ بِالشَّرْطِ الثَّانِيْ لِاَنَّ غَرَضَهُ التَّنْبِيْهُ
اوپه ابراهيم كې زيادت په دريودي اوخاص كړومصنف تصريح په شرط ثاني ځكه چې غرض دده خبرداری وركول
عَلٰى مَا هُوَ الْحَقُّ عِنْدَهٗ مِنِ انْصِرَافِ نَحْوِ نُوْحٍ وَ لِهٰذَا قَدَّمَ انْصِرَافَهٗ
دي په هغه څه چې حق دي په نزد دده چې هغه منفرد كيدل دنوح دي ددې وجې نه چې مخكې كړومنصرف كيدل د
مَعَ اَنَّ مُتَفَرِّعٌ عَلَى انْتِفَاءِ الشَّرْطِ الثَّانِيْ وَ الْاَوْلٰى تَقْدِيْمُ مَا هُوَ مُتَفَرِّعٌ عَلٰى وُجُوْدِهٖ
نوح سره ددې نه چې دامتفرع ده په انتفاء دشرط ثاني سره او اولى تقدم دهغه څه ووچې كوم متفرغ وو په وجود
كَمَا لَا يَخْفٰى.
دشرط ثاني لكه چې داپټه نه ده

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب كافيه د عجمې تعريف او وضاحت كوي.

اغراض دجامي: وهي كون اللفظ مما وضع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: عجمه دا ذات مع الوصف دي او نور اسباب دمنع صرف ټول اوصاف دي نو شمارل ددې دا اسبابو دمنع صرف څخه صحيح نه شو

جواب : مراد دعجمې نه كون اللفظ مما وضع غير العرب دي نو كون دا مصدر دي اومصدر دا صرف وصف وي

في اللغة: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال : عجمه مشروط ده او په ان تكون كې بيا ضمير راجع دي عجمې ته نو لازم شو ظرفيت د شئ الی نفسه يا في په معنی د ظرفيت ده اوظرفيت داپه دوه قسمه دي حقيقي لكه الماء في الكوز، مجازي لكه ظرفيت دخاص وي دپاره دعام اودلته يو هم نه دي داول عدم صحت خو ظاهر دي او دوهم هغه نه صحيح كيږي ځكه دلته ظرفيت دخاص عام لره نشته دي

جواب : في اللغة العجمة دلته عجمه عامه ده اولغت داخاص دي نو ظرفيت دخاص راغې عام لره .

حقيقتاً او حكماً: دابه په عجمه كې حقيقتا علم وي لكه ابراهيم اويابه حكماً علم وي مطلب داچې په عجمو كې نوم نه وو اوعربو رانقل كړي اوعلم يې ګرځولي اوهيڅ قسم تغير يې په نه دي كړي لكه قالون داپه عجمو كې هر جيد څيز ته ويل كيدو يعني اسم جنس وو اوعربو بيا دا رانقل كړو اوديو جيد قاري دپاره چې حضرت نافع رضی الله عنه وو علم وګرځولو نو داحكماً علم وو په عجمو كې .

وانما جعلت شرطاً: علميت دعجمې دپاره ځكه شرط وګرځول شو چې دتصرف كولو څخه بچ شي چې ضعف په كې رانه شي نو بيا صلاحيت دمنع صرف والي نه لري .

فعلى هذا: بناء په دې چې دغه اسم به علم وي په عجمه كې نو كه په مثل د لجام يې علم وګرځولو دپاره ديو كس نو دابه غير منصرف نه وي ځكه چې داعلم نه وو په عجمه كې اودليل په دې چې داعلم نه وو په عجمه كې ځكه عربو په ـ ې كې تصرف كړې دي دلګام نه لجام ته .

وشرطها الثاني احد الامرين: سيبويه اواكثر نحاة دا وايي چې زيادة على الثلاثة وي نو تحرك الاوسط ته ضرورت نشته دي .

اى على ثلاثة احرف: په دې عبارت سره شارح اشاره كوي الف لام ته چې الف لام په الثلاثة كې عوض دي دمضاف اليه نه چې احرف دي .

لئلا يعارض الخفة احد السببين: داشرطين ځكه ولږولي شول چې خفت دامعارضه داحد السببين ونه كړي چې بيا به سببين مؤثر ونه ګرځي په منع دصرف كې

فانصراف: نوح منصرف دي

وهذا اختيار المصنف: په دې عبارت کې اشاره ده اختلاف ته . يو مذهب د مصنف دي دې وايي چې نوح منصرف دي ځکه عجمه سبب ضعيفه دي او دا سبب والې امر معنوي دي علامه لفظيه دې لره نشته نو جائز نه دي معتبر کول د عجمې سره د سکون د اوسط نه ، دوهم مذهب د جار الله زمحشري دي . دې وايي چې نوح په شان د هند دي هلته جواز د وجهين وو دلته به هم جواز د وجهينو وي

واما التانيث: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: تا وويل چې عجمه دا امر معنوي دي نو تانيث خو هم امر معنوي دي هلته دې جواز د وجهينو غوره کړې وو دلته هم داسې وکړه يعنې په عجمه کې

جواب: د تانيث معنوي دپاره علامه شته چې په بعضو تصرفاتو کې ظهور راځي لکه په تصغير کې نو تانيث لره يو نوعه قوت شته نو د دې وجې هلته سره د سکون د اوسط نه جواز د وجهين معتبر کولې شي او په عجمه کې نه .

فان قلت: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: تا عجمې سره د سکون د اوسط معتبر کړې دي په ماه وجور کې او دلته يې نه معتبروي

قلنا: په دې سره جواب ورکوي چې په ماه وجور کې مونږ عجمه معتبر کړي دپاره د تقويت د سببين آخرينو دپاره د دې چې سکون د اوسط د مقابل د سببينو ونه ګرځي او د دې خبرې نه چې داد پاره د تقويت د سببينو معتبر کړي شوې دا نه لازميږي چې دا مستقل سبب دي .

صرفهما: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: ته وايي چې ابراهيم او شتر دا ممتنع دي دا خو ممتنع نه دي دا خو راغلې دي .

جواب: مراد امتناع وجودي نه ده بلکه امتناعي حرفي مراد ده

لوجود الشرط الثاني فيهما: دا تفريع ده په شرط ثاني باندې

وانما اختص التفريع بالشرط الثاني: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: د عجمې دپاره دوه شرطه وو يو علميت او بل احد الامرين په دويم شرط دې تفريع هم وجودا او هم عدماً وکړه او په اول شرط دې ونه کړه ، يا دا چې صحيح ده په دوهم شرط دې تفريع کوله خو په وجودي باندې اولى چې مخکې يې کړي او تاعدمي مقدم کړي .

جواب : زمونږ مقصود تفریع کول نه وو بلکه تعین اوبیان د ماهو الحق وو چې په انصراف او عدم انصراف کې د نوح کوم یو حق دي .

وَ اعْلَمْ اَنَّ اَسْمَاءَ الْاَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مُمْتَنِعَةٌ عَنِ الصَّرْفِ اِلَّا سِتَّةٌ مُحَمَّدٌ وَ صَالِحٌ وَ شُعَيْبٌ وَ هُوْدٌ
پوه شه چې اسماء د انبیاو علیهم السلام جائزنه دي منصرف کیدل د هغې مګر د شپږو محمد ،صالح ،شعیب ،هود
لِكَوْنِهَا عَرَبِيَّةً وَ نُوْحٌ وَ لُوْطٌ لِخِفَّتِهِمَا وَ قِيْلَ اِنَّ هُوْداً كَنُوْحٍ لِاَنَّ سِيْبَوَيْهِ قَرَنَهُ مَعَهُ
چې داعربي دي او نوح اولوط دوجې دخفت دد ې نه چاویلي دي چې هود په شان د نوح دي ځکه چې سیبویه یوځای
يُؤَيِّدُهُ مَا يُقَالُ مِنْ اَنَّ الْعَرَبَ مِنْ وُلْدِ اِسْمٰعِيْلَ وَ مَنْ كَانَ قَبْلَ ذٰلِكَ
کړي د هغې سره تائیدوي داخبره کول چې ویل کیږي چې عرب داولاد داسماعیل نه دي او څوک چې مخکې دده
فَلَيْسَ بِعَرَبِيٍّ وَ هُوْدٌ قَبْلَ اِسْمٰعِيْلَ فِيْمَا يَذْكُرُ فَكَانَ كَنُوْحٍ .
نه وو هغه عربي نه وو او هود وو مخکې د اسماعیل نه لکه څنګه چې ذکر شوي په تاریخ کې نو شو په شان د نوح

اغراض د جامي : واعلم ان اسماء الانبياء عليهم السلام : په دې عبارت سره شارح یوه قاعده کلیه بیانوي هغه داچې اسماء د انبیاو علیهم السلام ټول غیر منصرف دي په غیر د محمد ، صالح ، شعیب او هود نه ځکه داعربي اسماء دي او نوح او لوط ځکه چې داخفیف دي

وقيل ان هودا كنوح : په دې عبارت سره شارح اشاره کوي اختلاف ته . بعضې وایي چې هود په شان د نوح دي یعنې جواز دوجهینو په کې دي او دلیل چې سیبویه دا پیوسته کړي د نوح سره اوتائید د سیبویه د قول داخبره کوي چې عرب دا داولاد د اسماعیل علیه السلام وه او دد ې نه مخکې عرب نه وو او هود علیه السلام هم مخکې تیر شوي دي .

جمع :

اَلْجَمْعُ وَ هُوَ سَبَبٌ قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ شَرْطُهُ اَيْ شَرْطُ قِيَامِهِ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ صِيْغَةُ مُنْتَهَى الْجُمُوْعِ وَ هِيَ
جمع چې داسبب قائم مقام د سببینو دي شرط یعنې شرط دپاره د قیام د سببینو صیغه د منتهی الجموع ده داهغه
الصِّيْغَةُ الَّتِيْ كَانَ اَوَّلُهَا مَفْتُوْحًا وَ ثَالِثُهَا اَلِفًا وَ بَعْدَ الْاَلِفِ حَرْفَانِ اَوْ ثَلٰثَةٌ اَوْسَطُهَا سَاكِنٌ
صیغه ده چې اول یې مفتح وي دریم یې الف وي اووروستو د الف نه دوه یادرې حرفه وي چې اوسط یې ساکن
وَ هِيَ الصِّيْغَةُ الَّتِيْ لَا تُجْمَعُ جَمْعُ التَّكْسِيْرِ مَرَّةً اُخْرٰى وَ لِهٰذَا سُمِّيَتْ صِيْغَةَ مُنْتَهَى الْجُمُوْعِ
وي داهغه صیغه ده چې دوهم ځل په جمع تکسیره نه جمع کیږي دد ې وجې نه مسمی شو په منتهی الجموع سره
لِاَنَّهَا جُمِعَتْ فِيْ بَعْضِ الصُّوَرِ مَرَّتَيْنِ تَكْسِيْراً فَانْتَهٰى تَكْسِيْرُهَا
ځکه چې په بعضو صورتونو کې داجمع شوي دوه ځل په جمع تکسیر سره پس آخر ته ورسیده تکسیر دد ې کوم

الْمُغَيِّرُ لِلصِّيْغَةِ .

چې مغير دي صيغې لره

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب كافيه د جمع تعريف كوي

اغراض د جامي : الجمع وهو سبب قائم مقام : په دې عبارت سره شارح اول تعين د الف لام كوي چې الف لام په الجمع كې عهدي دي اومعهود په دې سره هغه جمع ده چې قائمقام د سببينو وي .

شرطه اى شرط قيامه : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : ته وايې چې دجمع دپاره صيغه دمنتهى الجمع شرط ده زه به درته وښائم چې جمع به وي او منتهى الجموع به نه وي لكه مسلمون

جواب : شرط دپاره دقيام ددې دي په مقام دسببينو .

منتهى : داصيغه دمصدر ميمي ده نو دلته اضافت دمصدر شوې فاعل ته نو تقدير داسې شو چې صيغة ينتهى بها الجمع .

وهي الصيغة اللتي : داهغه صيغه ده چې اول يې مفتوح وي اوثالث يې الف وي اومابعد د الف يې دوه حرفه وي اويادرې وي خو اوسط حرف يې ساكن وي لكه مساجد او مصابيح .

ولهذا سميت : وجه تسميه ددې بيانوي ددې وجې ه چې دا بيا په جمع تكسيرې نه جمع كيږې مسمى كړې شوه په منتهى الجموع سره

لانها جمعت في بعض الصور الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : جموع جمع ده او اقل دجمع درې وي نو معنى دا شوه چې داجمع به كم از كم درې كرته جمع شوې وي او سره ددې نه چې په بعضو ځايونو كې دوه كرته جمع شوې لكه اناعيم او بعضو ځايونو كې يو كرت جمع شوې وي لكه مساجد .

جواب : مراد دجموع نه مافوق الواحد ده نه به جمع كيږې په تكسيرې سره . خو كه چيرته جمع شوه په سالمې سره نو جمع كيداى شي لكه ايامن داجمع ده صيغه دمنتهى الجموع ده اوغير منصرف ده اوجمع شوې په ايامنين سره اوهمدارنګه صواحب داجمع شوې په صواحبات سره .

فَأَمَّا جَمْعُ السَّلَامَةِ فَإِنَّهُ لَا يُغَيِّرُ الصِّيغَةَ فَجُوزُ اَنْ تَجْمَعَ جَمْعَ السَّالِمِ كَمَا
هرچې جمع سالمه ده پس نه بدليږي صيغه په هغې کې جائزدې چې جمع شي په جمع سالمې سره لکه څرنګې
تُجْمَعُ اَيَامَنُ جَمْعَ اَيْمَن عَلَى اَيَامِنِيْنِ وَ صَوَاحِبُ صَاحِبَةٍ عَلَى صَوَاحِبَاتٍ وَ اِنَّمَا اشْتُرِطَتْ
چې جمع کيږي ايامن چې جمع د ايمن ده په ايامنين سره او صواحب چې جمع د صاحبة ده په صواحبات سره او شرط کړې
لِتَكُوْنَ صِيغَتُهُ مَصُوْنَةً عَنْ قُبُوْلِ التَّغْيِيْرِ فَتُوَثِّرَ بِغَيْرِ
شودامنتهى الجموع دې دپاره چې شي صيغه محفوظه دقبول دتغيرنه مؤثره ګرځي منتهى الجموع په غير د
هَاءٍ مُنْقَلِبَةٍ عَنِ تَاءِ التَّانِيْثِ حَالَةَ الْوَقْفِ اَوِ الْمُرَادُ بِهَا تَاءُ التَّانِيْثِ
هاء نه چې په بدل کې راوړلې شوې وي د تاء تانيث نه په حالت وقفي کې يا مراد په دې سره تاء د تانيث ده په
بِاِعْتِبَارِ مَا يُؤَوَّلُ اِلَيْهِ حَالَةَ الْوَقْفِ فَلَا يَرِدُ نَحو فَوَارِهِ جَمْعُ فَارِهَةٍ وَ اِنَّمَا اشْتُرِطَ
اعتبار د مايؤول اليه سره په حالت وقفي کې پس نه وارديږي په مثال دفواره چې جمع د فارهة ده او شرط کړې شو
كَوْنُهَا بِغَيْرِهَا لِاَنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَعَ هَاءٍ كَانَتْ عَلَى زِنَةِ الْمُفْرَدَاتِ كَفَرَزَانَةٍ فَإِنَّهَا عَلَى
کيدل دهغې په غير د هاء نه ځکه چې که چيرته وي سره د هاء نه نو وي به په وزن د مفرداتو لکه فرازنة چې دا په
زِنَةِ كَرَاهِيَةٍ وَ طَوَاعِيَةٍ بِمَعْنَى الْكَرَاهَةِ وَ الطَّاعَةُ فَيَدْخُلُ فِيْ قُوَّةِ جَمْعِيَّتِهِ فُتُوْرٌ
وزن د کراهية ده او طواعية چې په معنى د کراهيت او د طاعت راځي پس داخل شو په قوت د جمعيت کې کوتاه
وَلَا حَاجَةَ إِلَى إِخْرَاجِ نَحو مَدَائِنِي فَإِنَّهُ مُفْرَدٌ مَحْضٌ لَيْسَ جَمْعاً لَا فِي الْحَالِ وَلَا فِي الْمَآلِ
والې او حاجت نشته اخراج په مثل د مدائني ځکه چې دا مفرد محضه دې نه جمع نه په حال کې او نه په مال کې
وَإِنَّمَا الْجَمْعُ مَدَائِنُ وَهُوَ لَفْظٌ آخَر بِخِلَافِ فَرَازِنَةٍ فَإِنَّهَا جَمْعُ فَرْزَيْنِ اَوْ فِرْزَانٌ بِكَسْرِ الْفَاءِ.
هرچې جمع د مدائن ده دا لفظ آخر دې په خلاف د فرازنة چې دا جمع د فِرزين يا فِرزان ده په کسرې د فاء سره ده.

اغراض د جامي :وانما اشترط: په دې عبارت سره شارح وجه د اشتراط بيانوي د جمع دپاره شرط دا وګرځولې شو چې دا به صيغه د منتهى الجموع وي دپاره د دې چې دا صيغه محفوظه شي د قبلولو د تغير نه.

بغير هاء منقلبة عن تاء: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: چې په غير د هاء نه وي نو غير منصرف به وي نو فرازنة صيغه د منتهى الجموع ده په غير د هاء ده نو غير منصرف دې شي.

جواب: مراد د هاء نه هغه هاء ده چې منقلبه وي د تاء تانيث څخه په حالت د وقف کې.

او المراد منه: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: فوارة صیغه د منتهی الجموع ده دریم الف دي او بعده حرفان هم دي او په غیر د هاء نه ده په کار ده چې منصرف شي

جواب: مراد د هاء نه تاء تانیثي ده چې په آینده کې هاء ګرځي اودا خو هاء د نفس کلمې څخه ده ځکه په مفرد کې هم موجوده ده

وانما اشترط: دا په غیر د هاء شرط ځکه ولږولې شو که چیرته سره د هاء نه شي نو دا به بیا په وزن د مفرد اتو شي لکه فرازنة چې په وزن د کراهیة او طواعیة سره ده نو په دې سره به نقصان راشي په قوت د جمعیت کې.

ولا حاجة: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: مدائني دا صیغه د منتهی الجموع ده ځکه بعد الالف حرفان شته او غیر منصرف نه دي

جواب: بعضو خلکو داسې جواب کړي چې د مصنف په متن کې یو بل قید لږول په کار وو چې ولا یاء نسبیة.

نو شارح رد وکړو دا سوال هم غلط دي او جواب یې هم ځکه چې مدائني دا مفرد محض دي نه في الحال جمع ده او نه في المآل او جمع هغه مدائن ده او غیر منصرف هم دي په خلاف د فرازنة سره ځکه دا جمع ده نو په غیر د هاء قید یې د دې د خروج د پاره ولږولو.

فَعُلِمَ مِمَّا سَبَقَ اَنَّ صِيغَةَ مُنْتَهَى الْجُمُوعِ عَلٰى قِسْمَيْنِ اَحَدُهُمَا مَا يَكُوْنُ بِغَيْرِ هَاءٍ وَ ثَانِيْهِمَا
پس معلومه شوه د ماسبق نه چې صیغه د منتهی الجموع په دوه قسمه ده یو هغه چې په غیر د هاء نه وي دوهم
مَا يَكُوْنُ بِهَاءٍ فَاَمَّا مَا كَانَ بِغَيْرِ هَاءٍ فَمُمْتَنِعٌ صَرْفُهُ لِوُجُوْدِ شَرْطِ تَاْثِيْرِهَا
هغه چې وي سره د هاء نه هرچې په غیر د هاء وي جائز نه دي منصرف کیدل د هغې دوجې د شرط د تاثیر د غیر
كَمَسَاجِدُ لَمَّا بَعْدَ اَلِفِهٖ حَرْفَانِ وَ مَصَابِيْحُ مِثَالُ لَمَّا
منصرف نه لکه مساجد مثال د هغې جمع دي چې وروستو د الف نه دوه حرفه وي او مصابیح مثال د هغه دي چې
بَعْدَ اَلِفِهٖ ثَلٰثَةُ اَحْرُفٍ اَوْسَطُهَا سَاكِنٌ وَ اَمَّا فَرَازِنَةُ وَ اَمْثَالُهَا مِمَّا هِيَ عَلٰى صِيغَةِ مُنْتَهَى الْجُمُوعِ
وروستو د الف نه دري حروفه وي اوسط یې ساکن وي هرچې فرازنة او مثل د دې دي چې په صیغه د منتهی الجموع
مَعَ الْهَاءِ فَمُنْصَرِفٌ لِفَوَاتِ شَرْطِ تَاْثِيْرِ الْجَمْعِيَّةِ وَ هُوَ كَوْنُهَا بِلَا هَاءٍ
وي سره د هاء نه دا منصرف دي دوجې د فوت کیدو د شرط د تاثیر د جمعیت نه چې هغه کیدل دي په غیر د هاء نه

وَ حَضَاجِرُ عَلَمًا لِلضَّبُعِ هٰذَا جَوَابُ سُؤَالٍ مُقَدَّرٍ تَقْدِيْرُهٗ اَنَّ حَضَاجِرَ عَلَمُ جِنْسٍ لِلضَّبُعِ يُطْلَقُ
اوحضاجرچې علم شي دپاره دليوه داجواب دسوال مقدر دي هغه داچې حضاجرعلم جنس دي دپاره دضبع اطلاق
عَلَى الْوَاحِدِ وَ الْكَثِيْرِ كَمَا اَنَّ اُسَامَةَ عَلَمُ جِنْسِ الْاَسَدِ فَلَا جَمْعِيَّتَهٗ فِيْهِ وَ صِيْغَةُ
يې په واحد او كثير دواړو كيږي لكه اسامه علم جنس دي د اسد د پاره پس نشته جمعيت په دې كې او صيغه د
مُنْتَهَى الْجُمُوْعِ لَيْسَتْ مِنْ اَسْبَابِ مَنْعِ الصَّرْفِ بَلْ هِيَ شَرْطٌ لِلْجَمْعِيَّةِ فَيَنْبَغِيْ اَنْ يَكُوْنَ مُنْصَرِفًا
منتهى الجموع نه ده داسبابو دمنع صرف نه بلكې داشرط دي دپاره دجمعيت پس مناسب دي چې شي منصرف
لٰكِنَّهٗ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ وَ تَقْرِيْرُ الْجَوَابِ حَضَاجِرُ حَالَ كَوْنِهٖ عَلَمًا لِلضَّبُعِ غَيْرُ
ليكن داغير منصرف دي بيان دجواب دادي چې حضاجرپه حال كون ددې كې چې داعلم وي دضبع دپاره غير
مُنْصَرِفٌ لَا لِلْجَمْعِيَّةِ الْحَالِيَّةِ بَلْ لِلْجَمْعِيَّةِ الْاَصْلِيَّةِ لِاَنَّهٗ مَنْقُوْلٌ عَنِ الْجَمْعِ فَاِنَّ
منصرف دي نه دوجې دجمعيت حاليه نه بلكې دوجې دجمعيت اصليه نه ځكه چې دامنقول دي دجمع نه ځكه
كَانَ فِي الْاَصْلِ جَمْعُ حَضْجَرٍ بِمَعْنَى عَظِيْمُ الْبَطْنِ سُمِّيَ بِهِ الضَّبُعُ مُبَالَغَةً فِيْ عَظِيْمِ
چې داپه اصل كې جمع د حضجرده معنى دغټ خيټي سره مسمى شوپه دې سره ليوه دپاره دمبالغې په غټوالي
بَطْنِهَا كَانَ كُلُّ فَرْدٍ مِّنْهَا جَمَاعَةٌ مِنْ هٰذَا الْجِنْسِ بِالْمُعْتَبَرِ فِيْ مَنْعِ صَرْفِهٖ هُوَ
د خيټې د هغه كې ګويا چې هر فرد د هغې نه جماعت دي ددغه جنس نه پس معتبر په منع منصرف د هغې كې
الْجَمْعِيَّةُ الْاَصْلِيَّةُ .
جمعيت اصليه دي

اغراض دجامي : فعلم مما سبق : په دې عبارت سره خلاصه ذكر كوي خلاصه دا چې صيغه دمنتهى الجموع دا په دوه قسمه ده يو سره دهاء اوبل په غير دهاء ، په غير دهاء نه داغير منصرف ده اوسره دهاء نه چې وي نو دامنصرف ده .

واما فرازنة: بعضو شارحينو ويلي چې كه دا **اما** تفصيلي وي نو اجمال كوم دي اوكه واو عاطفه وي نو معطوف عليه كوم دي ځكه داصحيح نه ده .

بعضو شارحينو ويلي چې واو استنافيه دي اوداتصريح **بما علم التزاما** ده او **اما** هم داستئناف دپاره اوداجمله معترضه ده او وضع شوې دپاره ددفع دتوهم چې متوهم به ويل چې فرازنة خو په غير د هاء څخه ده .

اوبعضو ويلي چې واو عاطفه دي اومعطوف عليه مقدر دي چې **اما الجمع اذا وجد الشروط فقد علم حكمه واما فرازنة** .

وامافرازنة فمنصرف: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : فرازنة مبتدا او منصرف ورلره خبر دي نو **مطابقت بين المبتدا والخبر** رانغلو .

جواب : منصرف دا خبر دي خو داجامد دي ځکه دا نوم دي دپاره د هرهغه اسم چې منصرف وي نو مطابقت هله ضروري وي چې خبر مشتقي وي اودلته خو خبر جامد شو .

وحضاجر علماً للضبع: په دې کې دوه نسخې دي : یو داچې دا **علمٌ** دامرفوع دي اوخبر دي دپاره د مبتدا محذوفې چې وهو دي دامبتدا اوخبر دواړه خبر دي دپاره د **حضاجر** مبتدا اوغیر منصرف دا ورلره خبر ثاني دي

دوهمه نسخه داده چې دا **علماً** منصوب دي اوحال دي دمبتدا نه چې **حضاجر** دي اوحال دمبتدا نه صحیح دي په نزد دابن مالک .

په دې یو سوال راځي :

سوال : چې لکه څرنګه چې دمضاف الیه په مضاف باندې تقدیم نه دي جائز همدارنګې متعلقات دمضاف الیه هم په مضاف نه شي مقدم کیدې نو دلته هم داسې ویل په کار دي چې وحضاجر غیر منصرف علماً .

جواب : قاضي بیضاوي په غیرالمنصرف کې داتحقیق ذکر کړي چې غیر داپه دوه قسمه دي: صفتي ، په معنی د لانافیې سره اودابیا په حقیقت کې مضاف مضاف الیه نه وي په دې صورت کې بیا تقدیم دمضاف الیه اودمتعلقاتو دواړو جائز دي په مضاف ځکه داپه حقیقت کې مضاف مضاف الیه نه وي نو دلته هم غیر په معنی ثاني سره دي .

هذا جواب سوال مقدر: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : حضاجر او سراویل دا خو مفردات دي نو خروج عن البحث راغلو .

جواب : شارح جواب ورکړو چې دا جواب دسوال مقدره څخه وو .

اوهغه داچې حضاجر داصیغه دمنتهی الجموع اوصیغه یاوزن دمنتهی الجموع داخو ورلره شرط دي اوسبب په حقیقت کې جمع ده نو چې شرط راغلو اوشروط نشته نو حضاجر بیا ولې ...ر منصرف استعمالیږي .

...اب : جمع په دوه قسمه ده : (۱) حالاً ، (۲) اصالتاً ، که دا حالا جمع نه وي نو اصالتاً جمع ده ...ه دامنقول ده دجمع نه لکه رجال دیو سړي دپاره نوم وګرځوي نو اصالتاً جمع ده

فانه كان في الاصل : په حضاجر كې جمعيت اصلي دي ځكه دا منقول دي د جمع نه ځكه دا په اصل كې جمع د حضجر ده په معنى د عظيم البذن سره په دې سره وضع مسمى كړي شوه ګويا كې هر فرد د دوي يو جماعت د عظيم البطن دي نو معتبر په حضاجر كې جمعيت اصلي دي

د يو سوال جواب :

فَـاِنْ قُلْتَ لَا حَـاجَةَ فِيْ مَنْعِ صَرْفِهٖ إِلٰى اِعْتِبَارِ الْجَمْعِيَّةِ الْاَصْلِيَّةِ فَاِنَّ فِيْهِ
كه نه سوال وكړې چې نشته حاجت په منع صرف د هغې كې اعتبار د جمعيت اصليه ته ځكه چې په دې كې
الْعَلَمِيَّةَ وَ الـتَّـانِيْثَ لِاَنَّ الضَّبُعَ هِيَ اُنْثَى الضِّبْعَانِ قُلْنَا عَلَمِيَّتُهٗ غَيْرُ مُؤَثِّرَةٍ وَ اِلَّا لَكَانَ
علميت او تانيث شته ځكه چې ضبع دا مؤنث د ضبعان دي مونږ وايو چې علميت د دې غير مؤثره دي ورنه ګرځيدلې
بَعْدَ التَّنْكِيْرِ مُنْصَرِفاً وَ التَّانِيْثُ غَيْرُ مُسَلَّمٍ لِاَنَّهٗ عَلَمُ الْجِنْسِ الضَّبُعِ مُذَكَّرًا كَانَ اَوْ مُؤَنَّثًا
په وو وروستو د تنكير نه منصرف او تانيث غير مسلم دي ځكه چې دا علم دي د پاره د جنس ضبع مذكر وي او كه مؤنث
وَ اِنَّمَا اِكْتَفَى الْمُصَنِّفُ فِي التَّنْبِيْهِ عَلٰى اِعْتِبَارِ الْجَمْعِيَّةِ الْاَصْلِيَّةِ بِهٰذَا الْقَوْلِ وَ لَمْ يَقُلِ الْجَمْعُ شَرْطُهٗ اَنْ
وي او اواك؛تفاء وكړه په خبرداري كې په اعتبار د جمعيت اصليه سره په دې قول او وي نه ويل چې جمع شرط ده د
يَكُوْنَ فِي الْاَصْلِ كَمَا قَالَ فِي الْوَصْفِ لِئَلَّا يَتَوَهَّمَ اَنَّ الْجَمْعِيَّةَ
هغې چې وي به په اصل كې لكه څرنګه چې ويل شوي په وصف كې د دې د پاره چې توهم ونه شي چې جمعيت
كَالْوَصْفِ قَدْ تَكُوْنُ اَصْلِيَّةً مُعْتَبَرَةً وَ قَدْ تَكُوْنُ عَارِضَةً غَيْرَ مُعْتَبَرَةٍ وَ لَيْسَ الْاَمْرُ كَذٰلِكَ اِذْ لَا
په شان د وصف دي كله اصلي معتبر وي او كله عارضي غير معتبر وي حالاتكه خبره داسې نه ده ځكه چې نه
يَـتَصَوَّرُ الْـعُـرُوْضِ فِي الْجَمْعِيَّةِ.
متصور كيږي وروستو په جمعيت كې.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب كافيه د يو سوال جواب وركوي .

اغراض د جامي : فان قلت : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : په منع صرف د حضاجر كې جميعت اصلي معتبرولو ته څه ضرورت نه وو ځكه يو په كې علميت دي او بل په كې تانيث دي چې ضبع مؤنث د ضبعان دي .

جواب : په قلت سره شارح جواب وركوي چې جمعيت اصلي ځكه معتبرو و چې علميت په كې مؤثر نه دي كه چيرته مؤثر وي په كار وه چې بعد التنكير دا منصرف ګرځيدلې وي او سره د دې نه چې غير منصرف وي او تانيث هم په كې غير معتبر دي ځكه چې دا علم جنس د ضبع دي مذكر او مؤنث په كې برابر دي .

وانما اکتفی المصنف : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : تا چې د جمع ځخه اصالتاً جمع واخسته نو په کار ده چې ويلې دې وې چې **شرطه ان يکون** جمعا في الاصل لکه په وصف کې دې چې ويلې وو

جواب : دا د پاره د دې چې متوهم دا وهم ونه کړي چې جمع يو اصلي ده او بله عارضي او اصلي به غير منصرف وي او عارضي به نه وي او سره د دې نه چې جمع عارضي بالکل نشته .

وَ سَرَاوِيْلَ جَوَابُ عَنْ سُوَالٍ مُقَدَّرٍ تَقْدِيْرُهُ اَنْ يُقَالَ قَدْ تَقَضَّيْتَ عَنِ الْاِشْكَالِ الْوَارِدِ عَلٰى
او سراويل دا جواب دې د سوال مقدر چې ويل کيږي چې تا خان خلاص کړو د هغه اشکال نه کوم چې وارد وو په
قَاعِدَةِ الْجَمْعِ بِحَضَاجِرَ يَجْعَلُ اَعَمَّ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ فِي الْحَالِ اَوْ فِي الْاَصْلِ فَمَا تَقُوْلُ فِيْ
قاعدې د جمع د حضاجر په ګرځولو د جمع ،عام د دې نه چې وي په حال کې او يا په اصل کې هغه چې ته وايې په
سَرَاوِيْلَ اِسْمُ جِنْسٍ يُطْلَقُ عَلَى الْوَاحِدِ وَ الْكَثِيْرِ وَلَا جَمْعِيَّةَ فِيْهِ لَا فِي الْحَالِ وَلَا فِي الْاَصْلِ
سراويل کې دا اسم جنس دې اطلاق يې په واحد او کثير کيږي او جمعيت نشته په دې کې نه په حال او نه په اصل کې
فَاَجَابَ بِاَنَّهُ قَدِ اخْتُلِفَ فِيْ صَرْفِهِ وَ مَنْعِهِ فَهُوَ اِذَا لَمْ يُصْرَفْ
مصنف جواب ورکړو چې اختلاف شوی په منصرف کيدو او غير منصرف کيدو د دې کې کله چې دا منصرف نه شي
وَ هُوَ الْاَكْثَرُ فِيْ مَوَارِدِ الْاِسْتِعْمَالِ فَيَرِدُ بِهِ الْاَشْكَالُ عَلٰى قَاعِدَةِ الْجَمْعِ
او دا د اکثرو رای ده او دا زيات وي په مورد د استعمال کې نو وارديږي په دې سره اشکال په قاعدې د جمعې
كَمَا قُلْتَ فَقَدْ قِيْلَ فِي التَّفَصِّيْ عَنْهُ اَنَّهُ اِسْمٌ اَعْجَمِيٌّ لَيْسَ بِجَمْعٍ
باندې لکه ځنګه چې تا ويل په تحقيق سره ويل شوې دي په خلاصي کې د هغې نه چې دا اسم عجمي دې جمع نه ده
لَا فِي الْحَالِ وَلَا فِي الْاَصْلِ حُمِلَ فِيْ مَنْعِ الصَّرْفِ عَلٰى مَوَازِنِهِ اَيْ عَلٰى مَا يُوَازِنُهُ مِنَ الْجُمُوْعِ
نه په حال او نه په اصل کې چې حمل شوې په منع صرف د هغې کې په خپلو وزنونو باندې يعني په هغه وزنونو د جمعو
الْعَرَبِيَّةِ كَاَنَاعِيْمَ وَ مَصَابِيْحَ فَاِنَّهُ فِيْ حُكْمِهَا مِنْ حَيْثُ الْوَزْنَ فَهُوَ وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ قَبِيْلِ الْجَمْعِ حَقِيْقَةً
عربيو لکه اناعيم او مصابيح ځکه چې په حکم د هغې کې د حيثيته د وزن نه دا اګر که نه ده د قبيلې د جمع نه حقيقتاً
لٰكِنَّهُ مِنْ قَبِيْلِهِ حُكْمًا.
ليکن د قبيلې د جمع نه حکماً ده.

اغراض د جامي : وسراويل جواب عن سوال مقدر : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : سراويل صيغه د منتهى الجموع ده او جمع نه ده او صيغه د منتهى الجموع دا يواځې

مؤثر نه وي په منع دصرف کې په غیر دجمع نه اوس دلته په کار ده چې سراویل دامنصرف شي او سره ددې نه چې غیر منصرف دي .

وكذلك الفعل: په دې عبارت سره شارح تقسيم د افعل كوي : افعل داپه دوه قسمه دي يعني اسم تفضيل : يو هغه دي چې مجرد وي د مِن څخه دابعد التنكير بالاتفاق منصرف دي ځكه معنى د وصفيت په كې قبل العلمية ظاهره نه وه تردې چې دا افعل اسمي ګرځيدلې دي . دوهم افعل چې من ورسره ذكر وي نو دامنصرف نه دي بلاخلاف يعني بالاتفاق منصرف نه دي ځكه معنى دوصفيت په كې ظاهره ده قبل العلمية فلاينصرف بلاخلاف.

نو اكثرو شارحينو معنى داسې كړي چې منصرف نه دي بالاتفاق خو دا توجيه اومعنى صحيح نه ده ځكه ده مخكې وويل چې مثل د احمر كې اختلاف دي خو چې معنى دوصفيت په كې قبل العلمية ظاهره وي اوس دلته په افعل كې چې مِن ورسره وي نو دا غير منصرف بالاتفاق نو په عبارت كې تضاد راغلو.

دوهمه وجه داده چې ده وويل چې فلاينصرف اودليل دا وايي چې بلاخلاف نو دانه صحيح كيږي ځكه قاعده داده چې كله يو فعل مقيد وي په يو قيد سره اوپه هغه فعل نفي داخله شي نو نفي متوجه وي قيد ته لكه ماجاءني زيد راكباً نو دلته نفي متوجه ده ركوب ته نه فعل ته چې مجيئت دي خو داقاعده اكثريه ده كليه نه ده ځكه الله تعالى فرمايي : وَأَنَّ اللهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ ، اوس ظلام مبالغه ده په ظالم كې اوس دامبالغه هم قيد دي نو ليس دلته متوجه دي قيد اومقيد دواړو ته اوكه داسې نه شي نو په معنى كې فساد راځي معنى به يې داسې شي چې الله ډير ظالم نه دي او لږدي اوحالاتكه الله تعالى خو بالكل ظالم نه دي.

اوس دلته ينصرف فعل مقيد دي په بلاخلاف سره نو نفي پرې داخله شوه نو قيد يې ختم كړو نو معنى داشوه چې غير منصرف دي خو بلاخلاف نه بلكه سره داختلاف نه.

اى انما خالف: په دې عبارت سره شارح تعين دلام كوي په للصفة الاصلية كې چې په للصفة الاصلية كې لام اجليه دي.

فانه لما زالت: په دې عبارت سره شارح ذكر دنتيجې اوخلاصې كوي : خلاصه داده چې سيبويه په مثل د احمر كې بعدالتنكير وصفيت اصلي معتبروي اودليل دا وايي چې مانع دوصفيت

اصلي چې علميت وو ختم شو په تنکير سره نو احمر غير منصرف شو دوجې د وصفيت اصلي او وزن فعل څخه

ديو سوال جواب :

فَإِنْ قُلْتَ كَمَا أَنْ لَا مَانِعَ مِنِ اعْتِبَارِ الْوَصْفِيَّةِ الْأَصْلِيَّةِ لَا بَاعِثَ عَلَى اِعْتِبَارِهَا
که ته سوال وکړې چې لکه څنګه مانع نشته اعتبار د وصفيت اصليه نه نو باعث هم نشته په اعتبار د هغې باندې
أَيْضاً فَلِمَ اِعْتَبَرَهَا وَ ذَهَبَ إِلَى مَا هُوَ خِلَافُ الْأَصْلِ أَعْنِيْ مَنْعَ الصَّرْفِ
همدارنګې نو بيا ولې معتبر کړې شوا وذهاب وکړې شو هغه څه ته چې هغه خلاف اصل دي يعنې غير منصرف ته
قُلْنَا الْبَاعِثُ عَلَى اِعْتِبَارِهَا اِمْتِنَاعُ أَسْوَدَ وَ أَرْقَمَ مَعَ زَوَالِ الْوَصْفِيَّةِ عَنْهُمَا
جواب کې ويل شوې دي باعث په معتبرولو د هغې کې امتناع د اسود او د ارقم ده سره د زوال د وصفيت د دوي نه
حِيْنَئِذٍ وَ فِيْهِ بَحْثٌ لِأَنَّ الْوَصْفِيَّةَ لَمْ تَزَلْ عَنْهُمَا بِالْكُلِّيَّةِ بَلْ بَقِيَ
په دغه وخت کې او په دې کې بحث شته څکه چې وصفيت نه دي زائله شوې د دوي نه بالکليه بلکې پاتې دي
فِيْهِمَا شَائِبَةٌ مِنَ الْوَصْفِيَّةِ لِأَنَّ الْأَسْوَدَ اِسْمٌ لِلْحَيَّةِ السَّوْدَاءِ وَ الْأَرْقَمُ اِسْمٌ
په دې دووکې يو شائبه د وصفيت اصلي نه څکه چې اسود دا نوم دې د پاره د تک تور مار او ارقم نوم دې د پاره د
لِلْحَيَّةِ الَّتِيْ فِيْهَا سَوَادٌ وَ بَيَاضٌ وَ فِيْهِمَا شَمَّةٌ مِنَ الْوَصْفِيَّةِ فَلَا يَلْزَمُ مِنَ
هغه مار چې په هغې کې سپين والې او تور والې وي او په دې دوارو کې بوې د وصفيت شته پس نه لازميږي په
اعْتِبَارِ الْوَصْفِيَّةِ فِيْهِمَا اِعْتِبَارَهَا فِيْ أَحْمَرَ بَعْدَ التَّنْكِيْرِ لِأَنَّهَا قَدْ زَالَتْ
معتبرولو د وصفيت نه په دې دوارو کې معتبرول د وصفيت په احمر کې وروستو د تنکير نه څکه چې زائله شوې
بِالْكُلِّيَّةِ وَ أَمَّا الْأَخْفَشُ فَذَهَبَ إِلَى أَنَّهُ مُنْصَرِفٌ فَإِنَّ الْوَصْفِيَّةَ
دې په دې کې وصفيت بالکليه هرچې اخفش دې نو ذهاب يې کړې دې ته چې دا منصرف دې څکه چې وصفيت
قَدْ زَالَتْ بِالْعَلَمِيَّةِ وَ الْعَلَمِيَّةُ بِالتَّنْكِيْرِ وَ الزَّائِلُ لَا يُعْتَبَرُ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ فَلَمْ يَبْقَ
زائله شوې دي په علميت سره او علميت په تنکير سره او زائل نه معتبريږي په غير د ضرورت نه پس پاتې نه شو
فِيْهِ إِلَّا سَبَبٌ وَاحِدٌ هُوَ وَزْنُ الْفِعْلِ وَالْأَلِفُ وَالنُّوْنُ وَ هٰذَا الْقَوْلُ أَظْهَرُ وَلٰكِنَّا اعْتَبَرَ سِيْبَوَيْهِ
په دې کې يو سبب چې هغه وزن فعل او الف او نون دي نو دا قول ډير مناسب دې نو کله چې معتبر کړو سيبويه
الْوَصْفَ الْأَصْلِيَّ بَعْدَ التَّنْكِيْرِ وَ إِنْ كَانَ زَائِلًا لَزِمَهُ يُعْتَبَرُهُ فِيْ حَالِ الْعَلَمِيَّةِ أَيْضاً
وصف اصلي وروستو د تنکير نه اګر که هغه زائله وو لازم شو په ده چې معتبر يې کړې په حال د علميت کې هم
فَيَمْتَنِعُ نَحْوُ حَاتِمٍ مِنَ الصَّرْفِ لِلْوَصْفِ الْأَصْلِيِّ وَ الْعَلَمِيَّةِ.
پس غير منصرف وګرځيد لکه حاتم د منصرف کيدو نه د وجې د وصف اصلي نه او علميت نه.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب کافيه د يو سوال جواب کوي .

اغراض دجامي : فان قلت : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې مانع داعتبار دوصفيت اصليه څخه موجود نه وو نو باعث په معتبرولو دوصفيت ، څه دي سره ددې نه چې غير منصرف والې خلاف الاصل دي .

قيل : په دې عبارت سره شارح جواب ورکوي :

جواب : وصفيت اصليه يې ځکه معتبر کړو چې اسود او ارقم دا بعد التنکير هم غير منصرف دي دوجې دوصفيت اصلي نه چې کوم زائل شوې وو اودوجې دوزن فعل څخه نو موږ احمر هم پرې قياس کړو .

وفيه بحث : په دې عبارت سره شارح ذکر د رد کوي : خلاصه د رد داده چې احمر مقيس دې او أسود او أرقم دامقيس عليه دي اوعلت جامعه اعتبار دوصفيت اصليه دي نو قياس داحمر په أسود او أرقم قياس مع الفارق دي ځکه احمر څخه صفت اصليه بالکليه ختم شوې دي اوپه أسود او أرقم کې يې څه شائبه نشته ځکه أسود تور مار ته وايي او أرقم برګ مارته وايي نو لهذا قياس د أحمر په أسود او أرقم باندې صحيح نه دي .

واما الاخفش : په دې عبارت سره شارح بيان دمذهب داخفش کوي : امام اخفش وايي چې احمر وغيره به منصرف وي بعد التنکير ځکه وصفيت زائله شو په علميت سره اوعلميت زائله شو په تنکير سره اوزائل څيزنه شي معتبر کيدې په غير دضرورت نه نو ضرورت ورته نشته نو احمر وغيره چې سکران دي په سبب واحده سره پاتې شو چې يو په کې وزن فعل اوبل په کې الف نون مزيدتان دي نو فينصرف .

وهذا القول اظهر : په دې عبارت سره شارح ماهو الراجح قول ذکر کوي :دامام اخفش قول دا ظاهر دي ددريو وجهو نه : اول داچې دامذهب موافق دې دقاعدې سره چې العلم اذا نکر صرف ، دوهم دا چې په مذهب دسيبويه باندې مخکې اعتراض وارد شو چې باعث په معتبرکولو دوصفيت اصله باندې څه شئ دي ، دريم داچې بل اعتراض هم پرې وارد يږي د ولايلزم سره .

ولما اعتبر سيبويه : سيبويه صفت اصليه معتبر کړي اګر چې زائل شوي نو په دې باندې يو سوال راځي :

سوال : خاتم دا ديو سړي نوم دي يو په کې وصفيت اصليه دي او بل علميت نو په احمر کې وصفيت اصليه زائله شوې وو او يو محال شئ وو او تا فرض کړې ؤ نو همدارنګې په باب د خاتم کې هم يو علميت دي او بل په کې وصف اصلي معتبر کړه .

فَاَجَابَ عَنْهُ الْمُصَنِّفُ بِقَوْلِهٖ وَلَا يَلْزَمُهُ اَیْ سِيْبَوَيْهِ مِنِ اعْتِبَارِ
نو جواب ورکړو ددې نه مصنف په دې قول سره چې نه لازميږي دده نه يعنې نه لازميږي د سيبويه نه په اعتبار .
الْوَصْفِيَّةِ الْاَصْلِيَّةِ بَعْدَ التَّنْكِيْرِ فِيْ مِثْلِ اَحْمَرَ عَلَمًا بَابُ خَاتَمٍ اَیْ كُلُّ عَلَمٍ كَانَ فِي الْاَصْلِ
وصفيت اصلي لره پس د تنکير نه په مثل د احمر کې چې علم وي باب د حاتم يعنې هر هغه علم چې وي په اصل
وَصْفًا مَعَ بَقَاءِ الْعَلَمِيَّةِ بِاَنْ اِعْتَبَرَ فِيْهِ اَيْضًا اَلْوَصْفِيَّةُ الْاَصْلِيَّةُ وَ حُكِمَ
کې وصف سره دبقاء د علميت نه په داسې شان چې معتبر شي په هغې کې هم وصفيت اصلي او حکم وکړې شي
بِمَنْعِ صَرْفِهٖ لِلْعَلَمِيَّةِ وَ الْوَصْفِيَّةُ الْاَصْلِيَّةُ لَمَّا يَلْزَمُ فِيْ بَابِ حَاتِمٍ عَلٰى تَقْدِيْرِ مَنْعِهٖ
په منع صرف د هغې دوجې د علميت او د وصفيت اصلي نه ځکه چې لازم به شي په باب د حاتم په تقدير د منع
مِنَ الصَّرْفِ مِنْ اِعْتِبَارِ الْمُتَضَادَّيْنِ يَعْنِي الْوَصْفِيَّةِ وَ الْعَلَمِيَّةُ فَاِنَّ الْعَلَمَ لِلْخُصُوْصِ وَ الْوَصْفَ
صرف باندې په اعتبار د متضادينو يعنې وصفيت او علميت ځکه چې علم د پاره د تخصيص وي او وصف
لِلْعُمُوْمِ فِيْ حُكْمٍ وَاحِدٍ وَ هُوَ مَنْعُ صَرْفِ لَفْظٍ وَاحِدٍ
دپاره د تعميم وي نو لازم به شي اعتبار د متضادينو په حکم واحده کې چې هغه منع صرف د لفظ واحده دي په
بِخِلَافِ مَا اِذَا اُعْتُبِرَتِ الْوَصْفِيَّةُ الْاَصْلِيَّةُ مَعَ سَبَبٍ آخَرَ كَمَا فِيْ اَسْوَدَ وَ اَرْقَمَ .
خلاف د هغه چې معتبر شي وصفيت اصليه سره د سبب آخر نه لکه په اسود او ارقم کې .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافيه جواب ورکوي :

اغراض د جامي : <u>ولا يلزمه ای سيبويه</u> : په دې عبارت سره شارح د سوال جواب ذکر کوي :

جواب : خلاصه د جواب داده چې دا سوال نه واردېږي ځکه که په خاتم کې علميت سره وصف اصلي هم معتبر کړي نو لازم به شي اعتبار د متضادينو په حکم واحده کې چې غير منصرف والي دي .

<u>باب خاتم ای کل علم</u> : په دې عبارت سره شارح بيان د خاتم کوي چې د خاتم نه مراد هر هغه علم دي چې په اصل کې وصف وي سره د بقاء د علميت نه .

<u>بان اعتبر فيه</u> : په دې عبارت سره حاصل د سوال ذکر کوي : چې حاصل د سوال دا دي چې په خاتم کې دې وصف اصلي معتبر کړې شي او حکم وکړې شي په منع صرف والي ددې باندې

دوجې دعلميت او وصف اصلي نه .

يعني الوصفية والعلمية : په دې عبارت سره شارح تعين دمتضادينو کوي چې هغه متضادين وصفيت اوعلميت دي اوبل دليل دتضاد ذکر کوي اودليل دتضاد هغه دا چې په علم کې خصوصيت وي اوپه وصف کې خصوصيت نه وي .

في حكم واحد : په دې عبارت سره شارح تعين دحکم کوي چې حکم واحد هغه منع صرف والې دي په لفظِ واحده کې .

د يو سوال جواب :

فَإِنْ قُلْتَ التَّضَادُ إِنَّمَا هُوَ بَيْنَ الْوَصْفِيَّةِ الْمُتَحَقِّقَةِ وَ الْعَلَمِيَّةِ لَا بَيْنَ الْوَصْفِيَّةِ الْأَصْلِيَّةِ الزَّائِلَةِ وَ
که ته سوال وکړې چې تضاد په مينځ د وصفيت متحققه او علميت کې دی نه په مينځ د وصفيت اصليه زائله او
الْعَلَمِيَّةِ فَلَوِ اعْتُبِرَتِ الْوَصْفِيَّةُ الْأَصْلِيَّةُ وَ الْعَلَمِيَّةُ فِيْ مَنْعِ صَرْفِ مِثْلُ حَاتِمٍ لَا
علميه کې نو که چيرته معتبر کړې شي وصفيت اصليه او علميت په غير د منع صرف کې په مثل دحاتم کې نه
يَلْزِمُ اجْتِمَاعُ الْمُتَضَادَّيْنِ قُلْنَا تَقْدِيْرُ اَحَدِ الضِّدَّيْنِ بَعْدَ زَوَالِهِ مَعَ ضِدٍّ آخَرَ فِيْ حُكْمٍ وَاحِدٍ
لازميږي اجتماع دمتضادينو مونږ وايو چې تقدير ديو دضدينو پس دزوال ددې نه سره دضد آخر لرې حکم واحد
وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ قَبِيْلِ اجْتِمَاعِ الْمُتَضَادَّيْنِ لٰكِنَّهُ شَبِيْهٌ بِهٖ فَاعْتِبَارُهُمَا مَعًا
اگر که نه وي دقبيلې داجتماع دمتضادينو لکه دا مشابه دي دمتضادينو سره پس معتبرول ددې دواړو يوځاى
غَيْرُ مُسْتَحْسِنٍ .
امرغيرمستحسن دي.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب کافيه د يو سوال جواب ورکوي .

اغراض د جامي : فان قلت : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : تضاد خو په وصفيت اوعلميت کې په هغه وخت کې وي چې وصفيت خو متحقق وي نو وصفيت خو زائله دي صرف اعتبار يې وکړه .

قلنا : شارح په قلنا سره جواب ورکوي :

جواب : فرض کول ديو دمتضادينو دضد آخر سره پس دزوال نه دا په حکم دواحد کې دې اوس دا اگر که دقبيلې داجتماع دضدينو څخه نه دي ليکن مشابه دي داجتماع دضدينو سره او اعتبار دضدينو معاً دا غير مستحسن دي .

دلته يو سوال راځي :

سوال: یو فعل چې کله مقید وي په یو قید سره نو کله چې نفي داخله شي په دغه فعل نو نفي به متوجه وي قید ته نه مقید ته نو دلته یلزم فعل دي مقید دي په لما یلزم سره او نفي پرې داخله شوې نو اوس به دا نفي متوجه وي لما یلزم قید ته نو معنی دا شوه چې سوال نه واردیږي په باب د خاتم باندې دوجې داعتبار د متضادینو څخه بلکه د بل څه دوجې څخه واردیږي او حالانکه بالکل په خاتم سوال نه واردیږي .

جواب: دا قاعده اکثریه ده کلیه نه ده .

د غیر منصرف باب کله مجرور کیږي ؟

وَ جَمِيْعُ الْبَابِ اَیْ بَابُ غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ بِاللَّامِ اَیْ بِدُخُوْلِ لَامِ التَّعْرِيْفِ عَلَيْهِ اَوْ بِالْإِضَافَةِ
او ټول باب یعني ټول باب د غیر منصرف په لام سره یعني په دخول دلام تعریفي سره پردې او یا په اضافت سره
اَیْ اِضَافَتُهُ اَیْ غَيْرُهُ يَنْجَرُّ اَیْ يَصِيْرُ مَجْرُوْراً بِالْكَسْرِ اَیْ بِصُوْرَةِ الْكَسْرِ
یعني اضافت ددې یعني غیر ددې نه جرور کوي یعني ګرځي مجرور په کسرې سره یعني په صورت د کسرې سره
لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْراً وَ اِنَّمَا لَمْ يَكْتَفِ بِقَوْلِهِ يَنْجَرُّ لِاَنَّ الْاِنْجِرَارَ قَدْ يَكُوْنُ بِالْفَتْحِ وَلَا
لفظاً او تقدیراً او اکتفاء یې ونه کړه په دې قول سره چې جرور کوي څکه چې جرور کول کله وي په فتحې سره او نه
بِاَنْ يَقُوْلَ يَنْكَسِرُ لِاَنَّ الْكَسْرَ يُطْلَقُ عَلَى الْحَرَكَاتِ الْبِنَائِيَّةِ اَيْضاً وَ لِلنُّحَاةِ
په دې قول سره چې کسره ورکوي څکه چې اطلاق د کسرې راځي په حرکات بنائیو سره هم دا رنګې او شته نحویانو
خِلَافٌ فِيْ اَنَّ هٰذَا الْاِسْمَ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ مُنْصَرِفٌ اَوْ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ فَمِنْهُمْ مَنْ ذَهَبَ اِلٰى اَنَّهُ
دپاره اختلاف چې دا اسم په دې حالت کې منصرف دي او یا غیر منصرف دي نو بعضو ذهاب کړې دې ته چې دا
مُنْصَرِفٌ مُطْلَقاً لِاَنَّ عَدَمَ انْصِرَافِهِ اِنَّمَا كَانَ لِمُشَابَهَةِ الْفِعْلِ فَلَمَّا ضَعُفَتْ
منصرف دي مطلقاً څکه چې عدم انصراف د دغې وو دوجې د مشابهت ددې نه د فعل سره هر کله چې ضعیف شو
هٰذِهِ الْمُشَابَهَةُ بِدُخُوْلِ مَا هُوَ مِنْ خَوَاصِّ الْاِسْمِ اَعْنِيْ اَللَّامُ اَوِ الْاِضَافَةُ قُوِيَتْ جِهَةُ الْاِسْمِيَّةِ
دغه مشابهت په دخول د دغه څه سره چې هغه خواص دي د اسم یعني الف لام او اضافت نو قوي شو طرف د اسمیت
فَرَجَعَ اِلٰى اَصْلِهِ الَّذِيْ هُوَ الصَّرْفُ فَدَخَلَهُ الْكَسْرُ دُوْنَ التَّنْوِيْنِ لِاَنَّهُ لَا يَجْتَمِعُ
پس راجع شو خپل اصل ته چې هغه منصرف دي داخلیږي په هغې باندې کسره نه تنوین څکه چې تنوین نه جمع
مَعَ اللَّامِ وَ الْاِضَافَةِ وَ مِنْهُمْ مَنْ ذَهَبَ اِلٰى اَنَّهُ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ مُطْلَقاً وَ الْمَمْنُوْعُ مِنْ غَيْرِ الْمُنْصَرِفِ
کیږي د الف لام او اضافت سره او بعضو ذهاب کړې دې ته چې دا غیر منصرف دي مطلقاً او ممنوع د غیر منصرف
بِالْاِضَافَةِ هُوَ التَّنْوِيْنُ وَ سُقُوْطُ الْكَسْرِ اِنَّمَا هُوَ بِتَبْعِيَّةِ التَّنْوِيْنِ وَ حَيْثُ ضَعُفَتْ مُشَابَهَتُهُ لِلْفِعْلِ
نه په اضافت کې هغه تنوین دي او سقوط د کسرې وو تابع د تنوین او کله چې ضعیف شو مشابهت یې د فعل سره

لَمْ تُؤَثِّرِ اِلَّا فِيْ سُقُوطِ التَّنْوِيْنِ دُوْنَ تَابَعَهُ الَّذِيْ هُوَ الْكَسْرُ فَعَادَ الْكَسْرُ إِلٰى حَالِهٖ
تاثیرېي ونه کړومګرپه سقوط دتنوین کې نه په تابع کې چې هغه کسره ده پس راواپس شوه کسره خپل حالت ته
وَ سُقُوْطُ التَّنْوِيْنِ لِاِمْتِنَاعِهٖ مِنَ الصَّرْفِ.
اوساقط شو تنوین ځکه چې هغه منع وه دمنصرف نه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافیه دا بیانوي چې بـاب د منصرف کلمه مجرور کیږي .

اغراض دجامي : اي باب: په دې عبارت سره شارح یو تعین دالف لام کوي چې په الباب کې الف لام عهدي دي معهود په دې سره تول باب دغیر منصرف دي اوبل غرض داچې باب مجرور دي چې تفسیر شي د الباب دپاره ځکه اعراب دمفسر اومفسر منه یو وي او بـاب مرفوع دي اومستقله جمله ده .

بالـلام اي بدخول لام التعریف: په دې عبارت سره شارح تعین دالف لام کوي کوي چې په بالـلام کې الف لام عهدي دې مراد ترې نه لام تعریفي دي ، اوپه دې عبارت باندې د یوسوال جواب هم ورکوي :

سوال : ته وایې چې تول باب دغیر منصرف په لام سره منصرف ګرځي نو په دنیـا د خدای کې خو غیر منصرف بالکل پاتې نه شو .

جواب : مراد دلام نه وجود دلام نه دي بلکه دخول دلام ترې نه مراد دي .

اي اضافته الى غيره: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : ته وایې چې په اضافت سره غیر منصرف ، منصرف ګرځي زه به درته وښائم اضافت به وي اوغیر منصرف به نه وي منصرف شوې لکه مررت بغلام احمد .

جواب : مراد د اضافت نه مضاف دي چې دغیر منصرف اضافت بـه بـل چاتـه شوې وي نه اضافت دغیر ده ته لکه مررت باحمدکم .

اي بصورة الکسر : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : ته وایې چې غیر منصرف په دخول دالف لام او اضافت سره ینجر بالکسر زه بـه درتـه وښائم دخول الف لام اواضافت به نه وي اوکسره بـه راغلې وي لکـه مـررت باحـمـد دلتـه پـه احمد حکماً کسره راغلې ده ځکه حالت نصبي تابع دجري وي په غیر منصرف کې .

جواب : مراد د کسرې نه کسره لفظي یاتقدیري ده نه حکمي کسره .

وانما لم یکتف په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : بناء دمتونو په اختصار وي داسې به دې ویلې وي چې **وجمیع الباب باللام او الاضافة ینجر** ، **بالکسر** به دې نه ویلې .

جواب : **ینجر** ما څکه ونه ویل چې جر کله په فتحې سره هم راځي .

ولا بأن یقول: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې د **ینجر** سره هغه نقصان لازمیده نو حرف **ینکسر** به دې ویلې وي .

جواب : **ینکسر** مو څکه ونه ویل چې د کسرې اطلاق په حرکاتو بنائیو سره هم کیږي نو خلکو به داتوهم کولو چې **وجمیع الباب باللام اوالاضافة یصیر مبنیا** ، اوحالاتکه خبره خو داسې نه ده .

وللنحاة خلاف: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : **ینجر** او **ینکسر** دواړه به دې نه ویلې **ینصرف** به دې ویلې وي .

جواب : **ینصرف** مو څکه ونه ویل چې په انصراف اوعدم انصراف کې یې اختلاف دي پس د دخول دلام نه اوداضافت نه اوپه مجرور ګرځیدلو کې په کسرې سره په دې کې اتفاق دي .

وَ مِنْهُمْ مَنْ ذَهَبَ إِلَى اَنَّ الْعِلَّتَيْنِ كَانَتَا بَاقِيَتَيْنِ مَعَ اللَّامِ اَوِ الْإِضَافَةُ كَانَ الْإِسْمُ غَيْرَ مُنْصَرِفٍ وَ اِنْ
اوبعضوذهاب کړي دې ته چې هغه علتونه اګرکه وي باقي سره دلام اواضافت نه وي به اسم غیرمنصرف اګرکه
زَالَتَا مَعًا اَوْ زَالَتْ اَحَدُهُمَا كَانَ مُنْصَرِفًا وَ بَيَانُ ذٰلِكَ اَنَّ الْعَلَمِيَّةَ تَزُوْلُ بِاللَّامِ وَ
زائله شوي وي یوځای یازائله وي یو ددې نه وي به اسم منصرف بیان یې دادې چې علمیت زائله کیږي په لام او
الْإِضَافَةِ كَانَ فَإِنْ كَانَتِ الْعَلَمِيَّةُ شَرْطًا لِلسَّبَبِ الْآخَرِ زَالَتَا مَعاً كَمَا فِيْ اِبْرَاهِيْمَ وَ اِنْ
اضافت سره پس که شي چیرته علمیت شرط د پاره د سبب آخر نو زائله به شي یوځای لکه په ابراهیم کې او که
لَمْ تَكُنْ شَرْطًا كَمَا فِيْ اَحْمَدَ زَالَتْ اَحَدُهُمَا وَ اِنْ لَمْ تَكُنْ هُنَاكَ عَلَمِيَّةٌ كَمَا فِيْ اَحْمَرَ
چیرته نه ووشرط لکه په احمد کې نوزائله کیږي یو ددې دواړو نه اوکه چیرته نه وو هلته علمیت لکه په احمر کې
بَقِيَتِ الْعِلَّتَانِ عَلٰى حَالِهِمَا وَ هٰذَا الْقَوْلُ اَنْسَبُ بِمَا عُرِفَ بِهِ
نوباقي پاتې کیږي دواړه علتونه په خپل حال اوداقول ډیر مناسب دي دهغه څه نه چې تعریف کړي په هغې سره
الْمُصَنِّفُ غَيْرَ الْمُنْصَرِفِ .
مصنف دغیر منصرف.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب کافيه بيان داختلاف کوي .

اغراض دجامي : فمنهم من ذهب : په دې عبارت سره شارح بيان داختلاف کوي : اختلاف په دې کې دي چې غير منصرف په دخول دلام او اضافت سره منصرف ګرځي اوکه نه په دې کې دري مذاهب دي :

اول مذهب : دوي وايي چې دغه غير منصرف منصرف ګرځي مطلقاً دامعنی چې علتين په کې پس ددخول دالف لام نه موجود وي اوکه نه اوهمدارنګه پس داضافت نه اودليل دا وايي چې دا غير منصرف وو دوجې دمشابهت دفعل نه اوس چې په ده خواص داسم راغلل نو مشابهت يې دفعل سره ضعيف شو نو جهت داسميت په کې قوي شو نو اوس به يې رجوع کيږي اصل خپل ته چې انصراف دي .

فدخله الکسر دون التنوين : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې ته وايي منصرف ګرځي نو کسره پرې راغله تنوين پرې ولې نه راځي ؟

جواب : دتنوين ذاتا دالف لام اواضافت سره تضاد دي ځکه الف لام راځي دپاره دتعريف او تنوين راځي دپاره دتنکير اواضافت راځي دپاره داتصال اوتنوين راځي دپاره دانقطاع .

دوهم مذهب : دوي وايي چې غير منصرف به پس ددخول دالف لام نه اواضافت نه مطلقاً غير منصرف وي .

والممنوع من غير المنصرف : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : چې غير منصرف شو نو کسره پرې ولې راځي ؟

جواب : ممنوع په غير منصرف باندې اصالتاً تنوين وو اوکسره دتبعيت دتنوين نه پس منع شو ځکه تنوين خاصه داسم وه نو کسره هم خاصه داسم ده نو چې مشابهت يې دفعل سره ضعيف شو نو کسره چې تابع ده داپرې راتلې شي اومؤثر شو علتين صرف په سقوط دتنوين کې

فمنهم من ذهب : په دې عبارت سره شارح دريم مذهب بيانوي : چې مونږ به ګورو که علتين په کې موجود وو سره دلام او اضافت نه نو اسم به غير منصرف وي اوکه په کې نه وو موجود نو اسم به منصرف وي .

وبيان ذلك: په دې عبارت سره شارح يوه قاعده كليه بيانوي: قاعده بناء ده په دې خبره چې مونږ به دا څرنګه معلوموو چې علتين په كې يو پاتې دي يا يو هم نشته او يا دواړه شته.

نو قاعده داده چې علميت د سبب آخر د پاره شرط وي نو اسم به منصرف ګرځي په دخول د الف لام او اضافت سره ځكه علميت به هم ختم شي او مشروط به هم اسم به بلا سببه پاتې شي لكه **ابراهيم** او كه چيرته علميت سبب وو نو اسم به **على سبب واحد** پاتې شي نو منصرف به شي.


او كه په دغه اسم كې علميت نه وو نو علتان به دواړه باقي وي لكه په **أحمر** كې يو وصفيت دى او بل وزن فعل دى نو دغه اسم به غير منصرف وي.

وهذا القول انسب: په دې عبارت سره شارح بيان د ماهو الراجح كوي چې دا آخري مذهب راجح دى ځكه چې مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ هم دغير منصرف دا تعريف كړي چې **مافيه علتان**.



د مرفوعاتو نقشه :

المرفوعات :



(۱) فاعل

(۲) مفعول مالم یسم فاعله

(۳) مبتدا

(۴) خبر

(۵) خبر دان

(٦) اسم د ماولا

(۷) اسم د کان

(۸) خبر د لای نفي جنس

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿اَلْمَرْفُوْعَاتُ﴾ :

دمرفوعاتو تعريف :

اَلْمَرْفُوْعَاتُ جَمْعُ الْمَرْفُوْعِ لَا الْمَرْفُوْعَةِ لِاَنَّ مَوْصُوْفَهُ الْاِسْمُ وَ هُوَ مُذَكَّرٌ لَا يَعْقِلُ وَ يُجْمَعُ

المرفوعات دالمرفوع جمع ده نه دالمرفوعة خکه چې دمرفوع موصوف اسم دی او هغه مذکر غير ذوی العقول دی او جمع

هٰذَا الْجَمْعُ مُطَّرِدًا صِفَةُ الْمُذَكَّرِ الَّذِيْ لَا يَعْقِلُ كَالصَّافِنَاتِ لِلذُّكُوْرِ مِنَ الْخَيْلِ وَ جِمَالٍ سِبَحْلَاتٍ اَیْ ضَخْمَاتٍ

کیږي دامذکر غير عاقل هميشه دالف او تاء سره لکه صافنات دمذکر آسونو دپاره او جمال سجلات يعنې مضبوط اوښان

وَكَالْاَيَّامِ الْخَالِيَاتِ هُوَ اَيِ الْمَرْفُوْعُ الدَّالُّ عَلَيْهِ الْمَرْفُوْعَاتُ لِاَنَّ التَّعْرِيْفَ اِنَّمَا يَكُوْنُ لِلْمَاهِيَةِ لَا

اولکه أيام خاليات او دامرفوع چې په کوم باندې مرفوعات دلالت کوي خکه چې تعريف دماهيت دپاره وي نه د

لِلْاَفْرَادِ مَا اشْتَمَلَ اَیْ اِسْمٌ نِ اشْتَمَلَ عَلٰی عَلَمِ الْفَاعِلِيَّةِ اَیْ عَلَامَةِ كَوْنِ الْاِسْمِ فَاعِلًا وَ

افرادو دپاره هغه دي چې مشتمل وي په علامت دفاعل باندې يعنې داسم دفاعل کيدو په علامت باندې او

وَ هِيَ الضَّمَّةُ وَ الْوَاوُ وَ الْاَلِفُ وَ الْمُرَادُ بِاِشْتِمَالِ الْاِسْمِ عَلَيْهَا اَنْ يَكُوْنَ مَوْصُوْفًا

علامت هغه ضمه، واو او الف دی او مراد داشتمال داسم نه په علامت دفاعليت باندې دادې چې اسم دې علامت ته

بِهَا لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْرًا اَوْ مَحَلًّا وَلَا شَكَّ اَنَّ الْاِسْمَ مَوْصُوْفٌ بِالرَّفْعِ الْمَحَلِّيِّ اِذْ مَعْنَى الرَّفْعِ الْمَحَلِّيِّ اَنَّهُ

موصوف وي لفظاً يا تقديراً يا محلاً او څه شک نشته چې اسم رفع محلي سره موصوف وي خکه چې درفع

فِيْ مَحَلٍّ لَوْ كَانَ ثَمَّهُ مُعْرَبٌ لَكَانَ مَرْفُوْعًا لَفْظًا اَوْ

محلي معنی داده چې اسم په يو داسې محل کې وي چې که چيرته په دې ځای اسم معرب وي نو دا به لفظاً يا

تَقْدِيْرًا فَكَيْفَ يَخْتَصُّ الرَّفْعُ بِمَا عَدَا الرَّفْعِ الْمَحَلِّيِّ وَ هُوَ يَبْحَثُ مَثَلًا عَنْ اَحْوَالِ الْفَاعِلِ

تقديراً مرفوع وي نو رفع درفع محلي سره څنګه خاص کيدی شي لکه مصنف مثلاً دفاعل داحوالونه بحث کوي

اِذَا كَانَ مُضْمَرًا مُتَّصِلًا كَمَا سَيَجِيْءُ .

په هغه وخت کې چې ضمير متصل وي زر ده چې ددې بيان به راشي .

دمتن خلاصه : هو ما اشتمل على علم الفاعلية : دعلم نحوي دمبادياتو او مقدماتو نه دفارغيدو نه پس علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللّٰهُ داسم مرفوع تعريف کوي چې مرفوع هغه اسم دي چې د فاعليت په علامت مشتمل وي .

اغراض جامي : عام طور باندې چې کله شارح شرحه ليکي نو ددې څلور اهم اغرض کيدي

شي : (۱) وضاحت دمتن ، دماتن عبارت مجمل وي شارح داجمال وضاحت كوي . (۲) دفع د سوال مقدر چې په متن باندې كوم اعتراض كيږي شارح ددې اعتراض مقدر په خپله شرحه كې جواب وركوي (۳) ماتن په متن كې كوم قاعده كليه بيان كړي وي چې دهغه قاعدې څه شرائط اوقيودات وي اوماتن نه وي ذكر كړي نو شارح داقيودات اوشرائط په خپله شرحه كې ذكر كوي . (۴) شارح كله په خپله دماتن په متن باندې اعتراض كوي ، اوددې نه غير نور اغراض هم كيدې شي ليكن اكثر دا څلور اغراض وي .

اوس شارح دهر عبارت نه مخكې غرض بيانوي چې په هغې سره دشارح دعبارت مفهوم په يادولو كې آساني وي دې ته په اصطلاح كې دعبارت تقطيع اويا دشارح اغراض وايي ، نو دجمع المرفوع نه تركالايام الخاليات پورې ديوسوال مقدر جواب دی ،اى المرفوع سره دفع دخل مقدر اولان التعريف انما يكون للماهية لا للافراد كې ديو سوال مقدر جواب دى ، اى اسم اشتمل د دوه مقدر سوالونو جواب دى ، علامة كون الاسم فاعلاً هم ديو سوال مقدر جواب دى ، وهي الضمة والواو والالف كې دفاعليت دعلامت مصداق بيانوي ، والمراد باشتمال نه دراتلونكې متن اذاكان مضمراً متصلاً كما سيجئ پورې ديو سوال مقدر جواب دى .

سوال : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ دمرفوعاتو بحث په منصوباتو اومجروراتو په بحث باندې ولې مقدم كړو ؟

اول جواب : څكه چې مرفوعات اصل دى په نسبت سره منصوباتو اومجروراتو ته ، څكه چې دا مرفوعات عمده في الكلام وي يعني په فاعل او مبتداء باندې مشتمل كيږي او منصوبات او مجرورات فرع دى او اصل په فرع باندې مقدم وي .

دوهم جواب : ددې وجې نه چې دا په حركت قويه يعنى په ضمه باندې مشتمل دى .

تركيب دمرفوعاتُ : دا مرفوع ، منصوب ، مجرور اوساكن په څلوروطريقوسره ويلې شي:

(۱) ساكن: په دې بناء چې داد باب اودفصل په شان يو عنوان دى اوپه دې هيڅ اعراب نشته لا محل لها من الاعراب لكه اسماء معدوده ، زيد ، عمرو ،بكر وغيره . (۲) مرفوع ويلو په صورت كې دري تركيبونه كيدې شي : (۱) دا خبر دى د مبتداء محذوف د هذه ، دا په اصل كې وو : هذه المرفوعات . (۲) دا مبتداء ده او ددې خبر محذوف دى دا په اصل كې وو: المرفوعات هذه . (۳) دا مبتداء ده اوددې خبر : هو ما اشتمل على الخ دى . (۳) دمنصوب ويلو په صورت كې به دا

مفعول وي د اقْرَأْ یا خُذْ یعنی اقرا المرفوعات یا خُذ المرفوعات . (۴) د مجرورويلو په صورت کې به دا مضاف اليه وي ددې مضاف بحث محذوف دی دا په اصل کې وو : هذا بحث المرفوعات .

جمع المرفوع : په دې عبارت سره شارح دجامي غرض ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مرفوعات دچا جمع ده ؟ دالمرفوع یا د المرفوعة ؟ اودا دواړه احتمالات صحیح نه دي اول احتمال ددې وجې نه صحیح نه دي چې المرفوع مذکر دی نو ددې جمع مرفوعون په راتلو سره ولې نه ده مرفوعات ، او دوهم احتمال داچې دا ددې وجې نه صحیح نه دي چې مرفوعات صیغه دصفت ده چې تقاضا کوي دموصوف اوددې موصوف الاسماء دي ځکه دلته داسم مرفوع بحث کیږي نو تقدیر دعبارت به داسې شي الاسماء المرفوعات او قاعده ده چې اتصاف الجمع بالجمع تقاضا کوي دا اتصاف المفرد بالمفرد ددې قاعدې په رڼا کې دالمرفوعات مفرد صفت به جوړ شي د الاسماء مفرد نو عبارت به داسې شي الاسم المرفوعة نو په دې صورت کې موصوف (الاسم) او صفت (المرفوعة) په مینځ کې مطابقت پاتې نه شو ځکه چې موصوف (الاسم) مذکر دی او صفت (المرفوعة) مؤنث دی حالانکه دموصوف او صفت په مینځ کې مطابقت ضروري دی

جواب : مرفوعات دا دمرفوع جمع ده ، نه دمرفوعة او وجه ددې داده چې ددې موصوف الاسم دی اودا مذکر دی نو صفت به هم مذکر وي ددې دپاره چې د موصوف او صفت په مینځ کې مطابقت پاتې شي ، پاتې شو دا سوال چې بیا ددې جمع مرفوعات په الف او تاء سره ولې ده مرفوعون ولې نه ده ؟ نو ددې جواب دادې چې المرفوع د الاسم صفت دی اوالاسم مذکر غیر عاقل دی اوقاعده داده چې مذکر غیرعاقل صفت جمع په الف او تاء سره راتلې شي ، شارح دجامي رَحِمَهُ اللّٰهُ ددې درې مثالونه بیان کړي دي : (۱) لکه صافن ، داد خیل (آس) صفت دی چې مذکر غیرعاقل دی اوددې جمع په الف اوتاء سره صافنات راځي . (۲) اودویم مثال لکه سجل دا دجمل (اوښ) صفت دی چې مذکر غیر عاقل دی نو ددې جمع په الف او تاء سره سجلات راځي (۳) اودریم مثال لکه الخالي دیَوْم (ورځ) صفت دی چې مذکر غیر عاقل دی نو ددې جمع په الف اوتاء سره خاليات راځي ، همدارنګې المرفوع د الاسم صفت دی اودا مذکر غیر عاقل دی نو ددې جمع هم په الف اوتاء سره راځي نو ددې وجې نه يې مرفوعات راوړو .

فائده : سِبحلْ په کسرې د سين او په فتحې د باء او په سکون د حاء سره دی ، په معنی د

مضبوط

اى منضبطاً: ددې نه يې مقصد تفسير دغيرمشهور په مشهور سره دي .

سوال : دمذكر غير ذوي العقول جمع په الف اوتاء (جمع مؤنث) سره ولې راځي په واو او نون سره ولې نه راځي ؟

جواب : ځكه چې مؤنث هم ناقص العقل كيدى شي نو دناقص العقل دكيدو په وجه ګويا چې په دوي كې عقل دنشت برابر دى اودا په منزله دغيرعاقل كې دي نو ددې مناسبت دوجې نه مذكر غير ذوي العقول (چې په هغې كې عقل نه وي) ددې جمع هم په الف او تاء سره راتلى شي.

هو اى المرفوع الدال عليه المرفوعات: په دې عبارت سره شارح دجامي غرض ديو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : د هُوَ ضمير په مرجع كې دوه احتماله دي : (۱) يا به د هُوَ مرجع المرفوعات وي . (۲) اويابه المرفوع وي ، او دا دواړه باطل دي : (۱) المرفوعات ددې وجې نه صحيح نه دى چې په دې كې دري اشكاله دي : (۱) دراجع اومرجع په مينځ كې مطابقت نشته ځكه چې هُوَ ضميردواحد دى او مرفوعات جمع ده . (۲) ضمير مذكر دى اومرفوعات مؤنث دى . (۳) المرفوعات جمع ده او جمع په افرادو باندې دلالت كوي نو دافرادو تعريف لازمي شو ، حالانكه تعريف دماهيت كيدى شي نه د افرادو ، ضابطه او قاعده داده چې : **التعريف للماهية بالماهية** ، چې تعريف د ماهيت په ماهيت وي (۲) او المرفوع ددې وجې نه صحيح نه دى چې د مرجع ماقبل كې ذكر كول ضروري دي او دلته دمرفوع ذكر په ماقبل كې نشته ، لهذا **اضمار قبل الذكر** لازم راځي كوم چې جائز نه دي .

جواب : د هُوَ مرجع المرفوع دى پاتې شو داسوال چې په دې صورت كې **اضمار قبل الذكر** لازم راځي كوم چې جائزنه دي، نو ددې جواب دادې چې دمرجع په ذكر كولو كې دوه صورتونه دي : (۱) كله مرجع صراحتاً مذكور وي . (۲) اوكله ضمناً ،معنىً اودلالة مذكور وي . دلته مرجع د المرفوع اګرچې صراحتاً مذكور نه ده ليكن دالمرفوعات په ضمن كې مذكور ده ځكه چې په هره جمع كې ددې مفرد مذكور او موجود وي او د مذكور مرجع ضمني طرف ته ضمير راجع كول

صحيح دی لکه اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى کې دضمير مرجع عدل دی چې د اعْدِلُوا په ضمن کې مذکور دی ځکه چې په هر مشتق کې مصدر موجود وي نو لهذا اضمار قبل الذکر والاخرابي به لازم رانه شي ځکه چې اضمار قبل الذکر په هغه وخت کې لازم راځي چې کله مرجع نه صراحة مذکور وي او نه ضمناً. شارح د ملا جامي په الدال عليه المرفوعات سره دې ضمني مرجع طرف ته اشاره کوي.

لان التعريف: په دې سره شارح دجامي غرض اومقصد ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف رَحِمَهُ اللهُ د هُوَ په ځاې هِيَ ولې نه راوړو ددې دپاره چې ضمير المرفوعات طرف ته راجع شوي وي او دماقبل والاعتراض به هم نه کيدو؟ يا د هُوَ ضمير مرجع المرفوعات ولې نه جوړول يا په مذکور کې تاويل کړي وي ددې دپاره چې په راجع اومرجع کې تذکير اوتانيث مفرد تثنيه جمع په اعتبار سره عدم مطابقت اشکال ختم شوي وي او هُوَ ضمير المرفوعات په تاويل سره مذکور طرف ته راجع کيدو مصنف رَحِمَهُ اللهُ دا دوه صورتونه ولې اختيار کړي؟.

جواب: دجواب نه مخکې يو تمهيدي خبره ياده وساتي چې تعريف هميشه دماهيت کيږي د افرادو نه کيږي، منلي شوي قاعده ده چې: التعريف للماهية بالماهية مثلاً چې کله مونږ د کلمې تعريف په لفظ د وضع الخ سره کوو نو مونږ دکلمې دماهيت تعريف کوو دکلمې د افراد: اسم، فعل، حرف تعريف نه کوو، اوس دجواب حاصل دادې چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ دالمرفوعات مرجع جوړه نه کړه اومذکوره دواړه صورتونه يې اختيار نه کړو ځکه چې المرفوعات جمع ده اوپه جمع کې دافرادو لحاظ ساتلې شي، که چيرته دضمير مرجع المرفوعات جوړ شي نو تعريف دافرادو به وشي حالانکه دذکر شوي ضابطې او قاعدې لاندې تعريف دافرادو نه کيږي بلکې دماهيت کيږي ددې وجې نه مرجع المرفوع (مفرد) يې جوړه کړه.

هو ما اشتمل: په دې سره صاحب دکافيې غرض دمرفوع تعريف کول دي چې مرفوع هغه اسم دي چې د فاعليت په علامت مشتمل وي.

اى اسم: په دې سره شارح دجامي مقصد ددرې مقدرو سوالونو جواب ورکول دي:

اول سوال: دمصنف رَحِمَهُ اللهُ په عبارت کې کلمه د ما په ظاهره دعموم دپاره ده اوددې نه شئ مراد دی لهذا دمرفوع تعريف ددخول دغير نه مانع نه دي ځکه چې دا دريند په هغه دال باندې

صادق راځي کوم چې په جاء زیدٌ کې واقع دی ځکه چې د زید دال فاعلیت په علامت، د ضمې باندې مشتمل دی حالانکه صرف دال مرفوع نه شي ویلې بلکه زید مکمل مرفوع ویلې شي ، همدارنګې د مرفوع تعریف په پوره جمله د جاءني زید باندې صادقه راغله ځکه چې پوره جمله یو شي دی چې مشتمل ده په علامت دفاعل باندې حالانکه پوره جمله مرفوع نه شي ویلې بلکه مرفوع صرف زید دی نو تعریف مانع پاتې نه شو.

دوهم سوال : د مرفوع تعریف په فعل مضارع باندې صادق راځي ځکه چې هغه هم یو شي دی چې په علامت دفاعلیت باندې مشتمل دي حالانکه دې ته مرفوع نشي ویلې

دریم سوال : هُوَ مبتداء دي او مَااشتمل موصول صله یوځاې شو نو خبر شو اوموصول معرفه وي نو قاعده داده چې کله مبتداء اوخبر دواړه معرفه وي نو ضمیر دفصل راوړل ضروري دي نو لهذا دماتن عبارت صحیح نه دي ؟

جواب : ای اسم يې راوړو شارح دجامي ددري واړو سوالونو جواب ورکوي چې ما دعموم د پاره نه دي بلکې ما نه مراد اسم دی قرینه پرې داده چې دلته داسم مرفوع بحث کیږي لهذا د مرفوع تعریف د زید په دال باندې صادق نه راځي ځکه چې دا اسم نه دي بلکه حرف دی ، د دویم سوال جواب هم وشو ځکه چې فعل مضارع فعل دي ځکه چې د مانه مراد اسم دی ځکه تعریف په فعل مضارع باندې صادق رانه غلو ، د دریم سوال جواب دادې چې اسم یې نکره راوړه دې طرف ته یې اشاره وکړه چې ددې نه مراد ماموصوفه ده ماموصوله نه ده قرینه پرې داده چې دلته ما خبر واقع کیږي اوپه خبر کې اصل تنکیر دی لهذا ضمیر دفصل راوړل ضروري نه دی همدارنګې په جمله باندې هم صادق رانه غلو ځکه چې د ما نه مراد اسم دی او اسم دمفرد دقسم نه دي .

ای علامة: په دې سره دشارح غرض دیوسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ علم الفاعلیة راوړو اودفاعلیت دعلاماتو نه مراد ضمه ، واو ، الف دی حالانکه دعَلَم تعریف په دې باندې صادق رانه غلو ځکه چې دعلم تعریف دی ما وضع لشيء بعینه غیر متناول غیره بوضع واحد چې علم هغه دي چې دیو معین څیز دپاره وضع شوي وي او وضع دواحد سره غیر ته شامل نه وي ، اوضمه ، الف او واو په دی معنی فاعل اومرفوع علم

نه دي لهذا دمرفوع تعريف صحيح نه دي .

جواب : د عَلَم ډيرې معانې دي (۱) جهنډا (۲) غر (۳) علامت (۴) علم په معنى د **ماوضع لشيء معين** ، نو شارح علامة وويل معنى يې متعينه کړه چې دلته عَلَم په معنى دعلامت دي په معنى د **ماوضع لشيء معين** نه دى ، نو لهذا اشکال دفع شو .

کون الاسم فاعلاً : په دې سره دشارح مقصد ديوسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : په عبارت کې اصل اختصار وي اوابن حاجب خو ډير اختصار **قائل دي نو ده ته په** کار وو چې د **علم الفاعلية** په ځاې **علم الفاعل** ويلي وي دتاء او **ياء** مصدريت اضافه يې ولې وکړه ؟

جواب : مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د **يا** او **ياء مصدريه اضافه وکړه دې طرف ته اشاره وکړه چې رفع ديو** شي دفاعل کيدو علامت دي نه د ذات دفاعل ، ځکه چې ذات دفاعل رفع نه په غير **هم موندل** کيږي لکه په رايت زيداً کې ، يا په بل عبارت دسوال مقدر جواب يې **هم کړي چې په الفاعلية** کې **ياء** دنسبت ده نو تقدير دعبارت به داسې وي چې **علامة الشيء الذي هو منسوب الى الفاعل** مطلب به داوي چې اسم مرفوع هغه دي چې مشتمل وي دهغه څيز په علامت باندې چې دا څيز منسوب وي فاعل طرف ته حالانکه دامطلب غلط دي ځکه چې اسم مرفوع بعينه په علامت دفاعل باندې مشتمليږي نه ددې څيز په علامت باندې چې **منسوب الى الفاعل** وي . **کون الاسم** نه شارح دجامي ددې اشکال جواب ورکوي چې **الفاعلية** کې **ياء** دنسبت دپاره نه ده بلکې **ياء** مصدريه ده نو مطلب به داوي چې اسم مرفوع هغه دي چې دفاعل کيدو په علامت باندې مشتمل وي .

سوال : داسم مرفوع تعريف : **وهو ما اشتمل على علم الفاعلية** ، دمرفوعاتو ټول انواعو ته جامع نه دي داتعريف هغو انواعو ته خو شامل دي چې په **علم الفاعلية** باندې مشتمليږي او چې کوم انواعو د **علم الفاعلية** ته نه مشتمليږي لکه مبتداء خبر ، نو داتعريف دوي ته نه دي شامل ، حالانکه تعريف دپاره جامع کيدل ضروري دي .

جواب : په فاعل کې تعميم دی فاعل که حقيقي وي يا حکمي ، مبتداء اوخبر حکماً فاعل کيږي ځکه چې دفاعل دوه خاصيتونه دي (۱) دجملې جزء ثاني وي . (۲) مسند اليه وي . په

مبتداء کې مسند الیه والاوپه خبر کې اول خاصیت (د جملې جزء ثاني کیدل) موندل کیږي ځکه چې دا حکماً فاعل دي او د مرفوعاتو تعریف خپلو ټولو انواعو ته شامل دي .

وهي الضمة : په دې سره د شارح غرض د علم الفاعلیة مصداق بیانول دي چې د دې مصداق درې شیان دي : (۱) ضمه لکه جاء زید (۲) واو لکه جاء ابوک . (۳) الف لکه جاء رجلان .

والمراد : نه د شارح غرض دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د اشتمال څو قسمونه دي (۱) اشتمال الکل علی الجزء . (۲) اشتمال الظرف علی المظروف . (۳) اشتمال الموصوف علی الصفة . (۴) اشتمال ذي الحال علی الحال . (۵) اشتمال الکلي علی الجزئي باعتبار الصدق ، نو دلته د اشتمال کوم قسم مراد دي ؟ .

جواب : دلته اشتمال الموصوف علی الصفة مراد دي گویا چې اسم مرفوع په منزله د موصوف دي او علامة الفاعلیة ضمه وغیره په منزله د صفت کې دي او اشتمال نه مراد اشتمال الموصوف علی الصفة د دې وجې نه دي چې لکه څنګه د صفت نه پس موصوف وي نو همدارنګې د علامة الفاعلیة نه پس به هم بعد الاسم مرفوع وي په منزله د تابع .

لفظاً اوتقدیراً : په دې سره شارح مقصد دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مرفوع تعریف جامع نه دي ځکه چې دا په فتیٰ باندې صادق نه راځي چې کوم په جاءني فتی کې واقع دي ځکه چې په دې کې علامت د فاعلیت : ضمه ، الف او واو کې په یو باندې هم مشتمل نه دي حالانکه دا مرفوع دي ؟

جواب : په اشتمال علی علم الفاعلیة کې تعمیم دی برابره خبره ده چې د الفظاً وي او یاتقدیراً اوپه مثال مذکور کې فتیٰ اګر چې لفظاً علامت د فاعلیت ورته شامل نه دي لیکن تقدیراً ورته مشتمل دي ځکه چې په فتی کې رفع تقدیري ده .

او محلاً : په دې سره د شارح غرض دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مرفوع تعریف جامع نه دي ځکه چې دا په هؤلاء باندې صادق نه راځي چې کوم په قام هؤلاء کې واقع دي ځکه چې دانه لفظا په علامت د فاعلیت باندې مشتمل دي او نه تقدیراً ځکه چې اعراب لفظي او تقدیري دواړه د معرب سره خاص دی او هؤلاء مبني دي په دې باندې نه لفظي اعراب راتلی شي او نه تقدیري نو تعریف دې جامع پاتې نه شو ؟

جواب : اشتمال على علم الفاعلية كښ يو قسم بل تعميم هم دي كه دالفظاً وي اوكه تقديراً اوكه محلاً ، او په مثال مذكور هؤلاء كښ كه لفظا يا تقديراً ورته علامت دفاعل شامل نه دى ليكن محلا ورته شامل دي اود رفع محلي معنى داده چې اسم په داسې محل كې واقع وي چې كه چيرته دده په ځاې باندې اسم معرب وي نو په دې باندې به رفع وي اودلته همداسې دي چې كه چيرته د هؤلاء په ځاې باندې زيد وي نو دا به لفظاً مرفوع وي .

ولا شک : په دې سره غرض دجامي علامه رضي اوشارح هندي باندې رد كول دي هغوي دذكر شوي سوال جواب دا وركړي چې ما اشتمل على علم الفاعلية مطلق داسم مرفوع تعريف نه دى كوم چې معرب اومبني دواړو ته شامليږي بلكه دا تعريف صرف دمرفوع معرب دي گويا معرف خاص دي نو تعريف به يې هم خاص وي اومعرب دمرفوع كيدو همدا دوه صورتونه دي لفظاً يا تقديراً او هؤلاء چونكې معرب نه دي بلكې مبني دي لهذا كه چيرته تعريف په دې صادق نه راځي نو دادې دجامعيت دپاره مضر نه دي ځكه چې دادمعرف فرد دسره دي نه .

جواب :ولاشک نه علامه جامي په هغوبعضوشارحينو باندې ردكوي چې حاصل يې دادي چې معرف خاص نه دي بلكې عام دى معرب اومبني دواړو ته شامل دي ځكه چې دمرفوع (يعنې فاعل وغيره) په شان چې دامعرب وي نو همدارنگې مبني هم كيدى شي چنانچې څو كرخې پس به مصنف د هغه فاعل نه بحث كوي چې ضمير متصل وي اوظاهره ده چې ضمير متصل مبني وي اودده رفع محلي وي لهذا دا ويل چې معرف مطلق مرفوع نه دي بلكې مرفوع معرب دي صحيح نه ده بلكې معرف مطلق مرفوع وي كه دامعرب وي اوكه مبني لفظا وي اوكه تقديرا يا محلا ، لهذا جواب او تشريح هماغه صحيح ده كومه چې ددې نه مخكې مونږه كړي ده.

فاعل :

فَمِنْهُ اَىْ مِنَ الْمَرْفُوْعِ اَوْ مِمَّا اشْتَمَلَ عَلٰى عَلَمِ الْفَاعِلِيَّةِ الْفَاعِلُ وَ اِنَّمَا قَدَّمَهُ
نودذې نه يعنې دمرفوع نه اويادهغه څه نه چې په علامت دفاعل مشتمل وي فاعل دي اودايې ځكه مقدم كړو
لِاَنَّهُ اَصْلُ الْمَرْفُوْعَاتِ عِنْدَ الْجَمْهُوْرِ لِاَنَّهُ جُزْءُ الْجُمْلَةِ الْفِعْلِيَّةِ الَّتِىْ هِىَ اَصْلُ الْجُمَلِ وَ
چې داپه مرفوعاتوكې اصل دى دجمهورپه نزدځكه چې دادجمله فعليه جزدي كوم چې دتولوجملواصل دي او
لِاَنَّ عَامِلَهُ اَقْوٰى مِنْ عَامِلِ الْمُبْتَدَا وَ قِيْلَ اَصْلُ الْمَرْفُوْعَاتِ الْمُبْتَدَا لِاَنَّهُ
داځكه چې دفاعل عامل دمبتدادعامل نه ډيرقوي دي اوچاويلي چې دتولومرفوعاتواصل مبتداده ځكه چې

بَاقٍ عَلٰى مَا هُوَ الْاَصْلُ فِي الْمُسْنَدِ اِلَيْهِ وَهُوَ التَّقَدُّمُ بِخِلَافِ الْفَاعِلِ وَلِاَنَّهُ يُحْكَمُ عَلَيْهِ بِكُلِّ
په هغه حالت باقي دي كوم چې په مسند اليه كې اصل وي په خلاف دفاعل اوداځكه چې په دې حكم كولې هر
حُكْمٍ جَامِدٍ اَوْ مُشْتَقٍّ فَكَانَ اَقْوٰى بِخِلَافِ الْفَاعِلِ فَاِنَّهُ لَا
يو حكم دجامد سره يامشتق سره لهذا مبتدا دفاعل په نسبت ډيره قوي ده په خلاف دفاعل كې ځكه چې نشي
يُحْكَمُ عَلَيْهِ اِلَّا بِالْمُشْتَقِّ .
كولې حكم په دې باندې مګر صرف په مشتق سره.

اغراض دجامي : ددې ځاې نه دمرفوعات دهر يو قسم تعريف اودهر يو قسم احكاماتو دبيانولو شروع كوي.

وجه دحصر دمرفوعاتو : دمرفوعاتو عامل به يالفظي وي اويامعنوي ، كه چيرته معنوي نو بيابه خالي نه وي يابه په مسند اليه كې عامل وي يا په مسند كې ، كه چيرته په مسند اليه كې عامل وي نو مبتداء ، اوكه چيرته په مسند كې عامل وو نو بيا خبر دى ، اوكه چيرته عامل لفظي وي نويا به فعل شبه وي اويا حرف ، كه چيرته فعل شبه وي نوقائم بالمعمول به وي يا به واقع على المعمول كه چيرته قائم بالمعمول وو نو فاعل به يا واقع على المعمول وي نونائب فاعل او كه چيرته عامل حرف وي نو يابه په مسند اليه كې عامل وي اويا په مسند كې كه چيرته په مسند اليه كې عامل وي نو يابه په كلام موجب كې وي اويا په كلام غيرموجب كې ، كه چيرته په كلام موجب كې وي نو دافعال ناقصه اسم به وي اوكه چيرته په كلام غيرموجب كې وي نو د ما ولا مشبه بليس اسم اوكه چيرته په مسند كې عامل وي نو يابه كلام موجب وي اويا به غير موجب كه چيرته كلام موجب وي نو دمشبه بالفعل خبر اوكه چيرته كلام غير موجب وي نو د لائ نفي جنس خبر به وي.

اى من المرفوع : ددې نه دشارح غرض بيان دمرجع دي ، **فَمِنْهُ** كې د (ه) ضمير مرجع متعين كول دي د ضمير مرجع كې اختلاف دى دبعضو په نزد دضمير مرجع المرفوع ده اودليل هغه دليل پيش كوي چې په دې صورت كې ددواړو ضميرونو مرجع يوه وي يعني لكه څنګه چې مخكې **هُوَ** ضمير مرجع المرفوع وو نو دلته هم المرفوع مرجع كيدل په كار دي . (۲) **فمنه الفاعل** نه د مرفوع دتعريف نه پس دتقسيم بيان كوي اوپه تقسيم كې دمقسم ذكر كول ضروري وي اود بعضو په نزد دضمير مرجع **ما اشتمل على علم الفاعلية** دي هغوي دا دليل بيانوي چې : (۱) دا قريب دي او حق للاقرب وي . (۲) دا مرجع صراحةً ذكر ده او المرفوع ضمناً مذكور ده . حاصل

داچې که چیرته اتحاد دمرجع ته وکتل شي نو مرجع المرفوع زیاته مناسب ده اوکه چیرته دنږدي والي دمرجع لحاظ وکړل شي نو ما اشتمل علی علم الفاعلیة مرجع جوړول ډیر زیات مناسب دي

دزیات تفصیل دپاره وګورئ سوال باسولي ص ۱۷۸ : **اعلم ان في مرجع ضمير منه خلاف ارجع البعض الی المرفوع بوجهين : احدهما اتحاد المرجع للضميرين والآخر كونه معرفاً . وارجع البعض الی ما اشتمل بوجهين : احدهما قرب المرجع والآخر كونه مرجعاً صريحاً** .

وانما قدم : په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : سوال دادې چې فاعل يې په نورو مرفوعاتو ولې مقدم کړو ؟

جواب : وانما قدم سره جواب ورکوي چې دهغې حاصل دادې چې په دې باره کې دنحویانو دوه مسلکه دي چې په مرفوعاتو کې اصل کوم يو دي : (۱) نو دجمهورو په نزد په مرفوعاتو کې اصل فاعل دي نو ځکه يې دامقدم کړو ، دجمهورو دوه دليلونه دي :

اول دليل : داچې فاعل دجمله فعلې جز وي اوجمله فعليه په ټولو جملو کې اصل دي نو ددې وجې نه فاعل هم په ټولو مرفوعاتو کې اصل دي .

سوال : جمله فعليه په ټولو جملو کې اصل ولې دي ؟

جواب : ځکه دجملې نه مراد اومقصد مخاطب ته فائده ورسول دي اودا مقصد په جمله فعليه کې ډير موندل کيږي په نسبت سره جمله اسميه ته ځکه چې په جمله فعليه کې دفعل سره فاعل (کار کوونکي) هم معلوميږي ځکه چې دفعل وضع دده دپاره شوي وي چې دده اسناد شوي وي فاعل ته همدارنګې په جمله فعليه کې زمانه هم موندل کيږي اودا خوبياني په جمله اسميه کې نشته ، نو چونکې فاعل دجملې فعلې جزء دې نو ددې وجې نه دا اصل المرفوعات شو . دجمله فعليه داصل کيدو دويمه وجه يې دا بيان کړي چې دجملې نه مراد ربط بالغير وي اوپه جمله فعليه کې ربط بالغير زيات موندل کيږي په نسبت سره جمله اسميه ته چې دامستقل بالذات وي اودکوم څيز سره دربط تقاضا نه کوي . دجمله فعليه داصل کيدو دريمه وجه يې يوه داهم بيان کړي ده چې دجملې نه مقصود اخبار اوانشاء وي اوفعل ددواړو دپاره موضوع اومفيد وي ، په خلاف دجمله اسميه کې چې دا صرف داخبار فائده ورکوي او د انشاء دپاره نه ده وضع ،خارجي عوارض او ادوات خارجيه لکه استفهام ، تمني ، ترجي وغيره

چې ددې دوجې نه دانشاء معنی ورکوي

دويم دليل : داچې دفاعل عامل دمبتدا دعامل نه قوي وي ځکه چې دفاعل عامل لفظي موجود ، محسوس او مسموع وي اودمبتداء عامل معنوي معدوم اومعقول وي اودمؤثر قوت داثر دقوت تقاضا کوي لهذا فاعل اصل او قوي شو .

فائده : دفاعل داصل کيدو يوه وجه داهم بيانولې شي چې په دې کې معنی دفاعليت بالاصالت موندل کيږي اوپه نورومرفوعاتوکې بالتبع اودفاعل سره دمشابهت دوجې نه موندل کيږي . او يوه وجه يې داهم بيان کړې چې دفاعل حذف جائز نه دي مګر شاذ اونادر . اودنورو مرفوعاتوحذف جائز دی او همدارنګې دحضرت علي کرم الله وجهه نه منقول دي چې **کل فاعل مرفوع** ددې نه هم دفاعل اصل کيدل معلوميږي .

وقيل : (قائله سيبويه) : په دې سره دشارح غرض اومقصد دعلامه سيبويه رَحِمَهُ اللهُ مذهب بيانول دي ، علامه سيبويه رَحِمَهُ اللهُ وايي چې په مرفوعاتو کې اصل مبتدا ده نوددې وجې نه په مرفوعاتو کې ددې مخکې کول زيات مناسب دي ددې دوه دليله دي .

اول دليل : په مسند اليه کې اصل تقديم دي اومبتداء په خپل اصل باندې باقي ده نو لهذا مبتدا اصل شوه

دويم دليل : په مبتداء باندې په جامد اومشتق دواړو سره حکم لږولې شي په خلاف دفاعل کې چې په دې سره دمشتق سره حکم لږولې شي اوجامد سره حکم نشي لږولې نو ددې وجې نه مبتداء اصل او اقوی شوه

محاکمه : په دې کې راجح مسلک دجمهورو دي اودعلامه سيبويه رَحِمَهُ اللهُ داول دليل جواب دادې چې فاعل داصل په اعتبار سره خو مقدم دي ليکن ديومانع په وجه يې دامقدم نه کړو هغه مانع دادې چې دفاعل دمبتداء سره التباس لازم رانه شي لکه ضرب زيد نو ثابته شوه چې دفاعل تاخير ضروري دي ، **وتأخير الضروري لا يفيد شيئاً من الضعف** ددوهم دليل جواب دادې چې په مبتداء کې تعميم دي چې په دې باندې په اسم جامد اومشتق هر قسمه حکم لږولې شي او په فاعل کې تخصيص دي صرف په اسم مشتق سره حکم لږولې شي ، اوپه تعميم کې کمزوري موجود وي اوپه تخصيص کې رفعت او اوچتوالي وي لهذا فاعل **اصل المرفوعات** شو همدارنګې مونږ داجواب هم ورکولې شو چې اصل دادې چې په کوم څيز باندې حکم دمشتق

سره ظرفونو مسي نو دجامد سره حكم لرول خلاف اصل تقليل اوغير معتمد دي لهذا ددې څه اعتبار نه شي کولې

دفاعل تعريف:

وَهُوَ اَيِ الْفَاعِلِ مَا اَيْ اِسْمٌ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً لِيَدْخُلَ فِيْهِ مِثْلُ قَوْلِهِمْ اَعْجَبَنِيْ اَنْ ضَرَبْتَ زَيْداً
اودا يعني فاعل هغه يعني هغه اسم دی حقيقةً يا حكماً چې داخل شي په دې کې دا قول دنحا تو اَعْجَبَنِيْ اَنْ ضَرَبْتَ زَيْداً
اُسْنِدَ اِلَيْهِ الْفِعْلُ بِالْاَصَالَةِ لَا بِالتَّبْعِيَّةِ لِيَخْرُجَ عَنِ الْحَدِّ تَوَابِعُ الْفَاعِلِ
چې اسناد يې شوي وي دې ته دفعل بالاصالة نه بالتبعية ددې دپاره چې ووځي دفاعل دتعريف نه توابع دفاعل
وَكَذَا الْمُرَادُ فِيْ جَمِيْعِ حُدُوْدِ الْمَرْفُوْعَاتِ وَالْمَنْصُوْبَاتِ وَالْمَجْرُوْرَاتِ غَيْرُ التَّابِعِ بِقَرِيْنَةِ ذِكْرِ التَّوَابِعِ
اوهمدا مراد په ټولو تعريفونو د مرفوعاتو منصوباتو او مجروراتو کې تابع دغير مراد دي په قرينه دذکر کولو دتوابع
بَعْدَهَا اَوْ شِبْهُهُ اَيْ مَا يُشْبِهُهُ فِي الْعَمَلِ وَ اِنَّمَا قَالَ ذٰلِكَ
پس ددې نه يا ددې دمشابهه يعني دا چې په عمل کې دفعل سره مشابهت لري اودا يې ددې وجې نه وويل چې
لِيَتَنَاوَلَ فَاعِلَ اِسْمِ الْفَاعِلِ وَالصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةِ وَ الْمَصْدَرِ وَاِسْمِ الْفِعْلِ وَ اَفْعَلِ التَّفْضِيْلِ وَالظَّرْفِ.
د فاعل د تعريف اسم فاعل ، صفت مشبه ، مصدر ، اسم فعل ، اسم تفضيل او د ظرف فاعل ته شامل شي.

خلاصه دمتن: وهو ما اسند اليه الفعل او شبهه الخ . په دې کې علامة ابن حاجب رَحِمَهُ اللّٰهُ دفاعل تعريف کوي چې فاعل هغه اسم دي کوم طرف ته چې دفعل يادشبه فعل اسنادو کړې شي اودافعل شبه فعل ددې اسم نه مخکې وي اوددې اسم سره قائم وي اوپه دې واقع نه وي دفعل مثال قام زيد اودشبه فعل مثال زيد قائم ابوه ، دلته د ابوه اسناد دي قائم طرف ته .

اغراض دجامي : په پورتني عبارت کې علامه جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ دفاعل تعريف ، ددې دقيودو، فوائدو اوپه دې باندې کيدونکي سوال جواب اودصاحب دکافيې دعبارت وضاحت کوي چې دهغې تفصيل په لاندې ډول دي :

اى الفاعل: په دې سره غرض دشارح بيان دمرجع ده ، علامه جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ اى الفاعل ووېل د هُوَ ضمير مرجع يې متعينه کړه چې دضمير مرجع فاعل دی .

اى اسم: په دې سره غرض دشارح ديوسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د ما نه مراد ماموصوله ده چې کوم معرفه وي ځکه دا په ذهن کې کثيرالوقوع ده او قاعده دا ده چې کله مبتدا اوخبر دواړه معرفه وي نوضمير دفصل راوړل ضروري وي او دلته يې نه دي راوړې ؟

جواب : اى اسم يې راوړو علامه جامي ددې سوال جواب وركوي چې دلته ما موصوفه ده چې كومه نكره وي قرينه پرې داده چې داپه محل دخبر كې ده اوپه خبر كې اصل نكره وي لهذا ضمير دفصل راوړل ضروري نه دي.

حقيقة او حكماً: په دې سره غرض دشارح ديوسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : چې كله دما نه مراد اسم دى نو دفاعل تعريف جامع نشو ځكه چې دا تعريف اعجبني ان ضربت زيداً كې ان ضربت باندې صادق نه راځي ځكه چې دااسم نه دي بلكې دا جمله ده حالانكې دا فاعل دي

جواب : په اسم كې تعميم دي كه دا حقيقتاً وي اوكه حكماً اوپه ذكر شوي مثال كې ان ضربت اگر چې حقيقتا اسم نه دي ليكن حكماً اسم دي ځكه چې ان ضربت كې د ان مصدريه دوجې نه په تاويل د ضربک كې په حكم داسم كې دې.

بالاصالة: په دې سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : تعريف دفاعل ددخول دغير نه مانع نه دي ځكه چې دادفاعل تابع دي مثلاً جاءني زيد وعمرو كې عمرو باندې صادق راځي ځكه چې دا اسم دي چې دې طرف ته فعل مسند دي اوفعل ددې نه مقدم دي اوددې سره قائم هم دي حالانكه دا فاعل نه دي بلكې تابع دفاعل دي ؟

جواب : بالاصالة سره علامه جامي رَحِمَهُ اللَّهُ ددې سوال جواب وركوي چې دفاعل په تعريف كې اسناد نه مراد اسنادبالاصالة دى نه اسناد بالتبعية اوپه ذكر شوي مثال كې اگرچې عمرو طرف ته دفعل اسناد دي ليكن بالاصالة نه دي بلكې بالتبعية دي لهذا دفاعل تعريف په دې باندې صادق نه راځي.

وكذا المراد: ددې نه دشارح غرض بيان ديوې فائدې دي :

فائده : شارح وايي چې همدارنگې دټولو مرفوعاتو ،منصوباتو اومجروراتو په تعريفاتو كې هم اسنادنه مراد اسناد بالاصالة دي په دې باندې قرينه داده چې مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ د مرفوعاتو، منصوباتو اومجروراتو نه پس دتوابعو بحث يې مستقل ذكر كړي دي.

اي مايشبهه : ددې نه غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ د فاعل تعريف كړي دي چې كوم طرف ته د فعل نسبت شوي وي يا د

شبه فعل ، نو داتعریف په دې ابوه باندې صادق رانه غلو کوم چې په زید قائم ابوه کې واقع دې ځکه چې دې طرف ته دقائم نسبت دي اوقائم شبه فعل نه ده بلکه دامشابه بالفعل ده ځکه چې شبهٔ مصدر نوم دي د هغه نسبت کوم چې دمشبه اودمشبه به په مینځ کې وي لهذا دفاعل تعریف په ابوه باندې صادق رانه غلو نو تعریف دې جامع نه شو .

جواب : په شبهه کې مصدر داسم فاعل په معنی باندې دي په معنی دمشابهه لهذا تعریف په قائم ابوه باندې صادق راغې .بیا مشابه اسم فاعل صیغه دصفت ده چې تقاضا کوي د موصوف ځکه چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د ما موصوفه اضافه وکړه نو په دې سره یې حذف دموصوف طرف ته اشاره کړي . بیا دلته په دې باندې اعتراض واردیږي چې د ما نه مراد شيء دي کومه چې نکره ده اوشبه په معنی دمشابه اسم فاعل دضمیر په طرف دمضاف کیدو دوجې نه معرفه وي نو دموصوف صفت په مینځ کې مطابقت نشته ددې اعتراض نه دبچ کیدو دپاره شارح رَحِمَهُ اللّٰهُ دمشابه دفعل مضارع سره تعبیر وکړو ، اوس یشبه فعل دخپل فاعل اودمفعول سره یوځای شو نو جمله فعلیه ترې جوړه شوه اوجمله فعلیه دنکرې په حکم کې راځي ځکه چې په موصوف اوصفت کې مطابقت موندل کیږي اومذکوره اعتراض به لازم رانه شي .

<u>في العمل</u> : دا وجه دشبه بیان دي چې مشابهت په عمل کې مراد دي یا دا دیو سوال مقدر جواب دي :

سوال : شبه فعل ته دکوم مشابهت دوجې نه شبه فعل وایي ځکه چې مشابهت بالفعل ددري حالتو نو به خالي نه وي : (۱) که چیرته معنی حدثي مشابهت دوجې نه وي نو صحیح نه ده ځکه چې فى الدار زيد کې في الدار ظرف شبه فعل دي لیکن په دې کې معنی حدثي نشته .(۲) او که چیرته دحرکاتو او سکناتو په اعتبار سره وي نوبیا هم نه ده صحیح ځکه چې هیهات شبه فعل دي اوحرکاتو اوسکناتو کې دفعل مشابه نه دي . (۳) اوکه چیرته دمشتق کیدو مشابهت وي نو داهم صحیح نه دي ځکه چې اعجبني ضرب زيد کې ضرب مصدر شبه فعل دي لیکن مشتق نه دي بلکه مشتق منه دي نو تاسو دکوم مشابهت په بناء شبه فعل ته فعل وایي ؟

جواب : په في العمل سره یې جواب ورکړو چې دمشابهت مذکورو دري صورتونو نه ، یو هم مراد نه دي بلکه مشابهة في العمل مع الفعل مراد دي یعنې لکه څنګه چې فعل خپل فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوي همدارنګې شبه فعل هم فاعل ته رفع اومفعول ته نصب ورکوي .

وانما قال: په دې سره اوشبهه دقید فائدې بیانوي چې ماتن شبهٔ د دې وجې نه وویل چې دفاعل تعریف په اسم الفاعل ، صفت مشبه ، مصدر ، اسم الفعل ، افعل التفضیل اوظرف فاعل ته هم شامل شي ځکه چې داټول په عمل کې دفعل مشابه دي .

په اسم باندې د فعل او یا د شبه فعل تقدیم :

وَ قُدِّمَ اَيِ الفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ عَلَيْهِ اَيْ عَلٰى ذٰلِكَ الاِسْمِ وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ زَيْدٌ فِيْ
اومخکې یې کړي یعني فعل یاشبه فعل په دې یعني په دې اسم اوپه دې سره یې احترازوکړود زَیْدٌ نه کوم چې
زَيْدٌ ضَرَبَ لِاَنَّهٗ مِمَّا اُسْنِدَ اِلَيْهِ الفِعْلُ لِاَنَّ الاَسْنَادَ اِلٰى ضَمِيْرِهٖ
په زَیْدٌضَرَبَ کې دي ځکه چې داد هغه قبیل نه دي چې هغه طرف ته دفعل اسناد شوي وي ځکه چې اسناد ضمیر
فَيْهِ اِسْنَادٌ اِلَيْهِ فِي الحَقِيْقَةِ لٰكِنَّهٗ مُؤَخَّرٌ عَنْهُ وَ المُرَادُ تَقْدِيْمُهٗ عَلَيْهِ وُجُوْباً
دیوخیزته په حقیقت کې اسناد هم دې خیزطرف ته وي لیکن ددې نه اسم مؤخردي اومراد دتقدیم نه په دې کې وجوباً
لِيَخْرُجَ عَنْهُ المُبْتَدَاُ المُقَدَّمُ عَلَيْهِ خَبَرُهٗ نَحْوُ كَرِيْمٌ مَنْ يُكْرِمُكَ فَاِنْ
دي ددې دپاره چې هغه مبتدا اترې خارجه شي چې دهغې خبرددې نه مقدم وي لکه کَرِیْمٌ مَنْ یُکْرِمُکَ که چیرته
قُلْتَ قَدْ يَجِبُ تَقْدِيْمُهٗ اِذَا كَانَ المُبْتَدَا نَكِرَةً وَ الخَبَرِ ظَرْفًا نَحْوُ فِي الدَّارِ رَجُلٌ قُلْتُ
ته ووایې چې کله تقدیم دخبرواجب وي چې کله مبتدا نکره اوخبرظرف وي لکه فِي الدَّارِ رَجُلٌ نوموږ وایو په جواب
المُرَادُ وُجُوْبُ تَقْدِيْمِ نَوْعِهٖ وَ لَيْسَ نَوْعُ الخَبَرِ مِمَّا يَجِبُ تَقْدِيْمُهٗ بِخِلَافِ
کې چې مراد دفعل شبه دفعل دنوع تقدیم دي اودخبرنوع ددې نه نه دي چې ددې تقدیم واجب وي بالعکس
نَوْعِ مَا اُسْنِدَ اِلَى الفَاعِلِ .
دهغه خیزچې دهغې اسناد وشي فاعل طرف ته .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره غرض دشارح په تعریف دفاعل کې دلرېدلي دویم قید وقدم علیه متعلق بحث کوي :

اغراض دجامي : **ای الفعل** : په دې سره غرض دشارح دیوسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د قدم ضمیر مرجع فعل او شبه فعل دواړو ته راجع دي نو راجع کیدل د ضمیر واحد تثنیې ته (د واحد ضمیر تثنیې طرف ته راګرځول) لازم راغلو کوم چې صحیح نه دي ؟

جواب : په قدم کې دضمیر مرجع فعل اوشبه فعل ددواړو مجموعه نه ده بلکه احد الامرین دي؟

اي على ذلک الاسم : په دې سره غرض د شارح بيان د مرجع ده ، د عليه ضمير مرجع يې متعينه کړه چې د ضمير مرجع ما ده کوم چې عبارت دې د اسم نه .

واحترز به : په دې سره غرض د شارح د قدم عليه د قيد فائدې بيانوي چې دا قيد احترازي دې په دې کې احتراز دې د هغه زيد نه چې په زيد ضرب کې واقع دي اګرچه زيد طرف ته فعل ضرب مسند دي ليکن فعل مقدم نه دي بلکه مؤخر دي لهذا زيد فاعل به نه وي .

لان الاسناد الى ضمير شيء : په دې سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په زيد ضرب کې ضرب ، زيد طرف ته مسند نه دي بلکه د ضمير طرف ته مسند دی ، چې کله د زيد طرف ته فعل ضَرَبَ مسند نه وي نو دا به د ما اسند اليه الفعل د قيد نه به خارج وي لهذا قدم عليه د قيد اضافه کولو سره دا خارجول اخراج د مخرج شو

جواب : ديو څيز ضمير طرف ته اسناد په حقيقت کې همدې طرف ته اسناد وي ، لهذا د ضرب زيد د ضمير په طرف اسناد ګويا زيد طرف ته اسناد دي ځکه د دې دويستلو د پاره د مذکوره قيد ضرورت راغي .

والمراد : په دې سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : تعريف د فاعل دخول د غير نه مانع نه دي ځکه چې دا تعريف په هغه مَن باندې صادق راځي کوم چې په کريم من يکرمک کې واقع دي ځکه چې هغه اسم دي او دې طرف ته شبه فعل يعنې کريم مسند دي او دا دې نه هم مقدم دي او د دې سره قائم هم دي په دې واقع نه دي حالانکه دا فاعل نه دي بلکه مبتداء ده .

جواب : قدم د تقديم نه مراد تقديم وجوبي دي ځکه چې قاعده ده : المطلق اذا يطلق يراد به الفرد الکامل او فرد کامل تقديم وجوبي دي او په ذکر شوي مثال کې کريم اګرچې په مَنْ باندې مقدم دې ليکن د دې تقديم وجوبي نه دي (بلکې جوازي دي) همدارنګې دا هم ويلې شو چې من يکرمک کريم ، نو لهذا تعريف مانع دي .

فان قلت : په دې غرض د شارح يو اعتراض نقل کړي وو او په قلت سره د دې جواب ورکوي :

اعتراض : تعريف د فاعل د دخول د غير نه مانع نه دي ځکه چې دا تعريف په رجل باندې

صادق راځي کوم چې في الدار رجل کې واقع دي ځکه چې دا اسم دی چې کوم طرف ته شبه فعل يعنې ظرف (في الدار) مسند دي اودامقدم دي اوتقديم يې هم وجوبي دي ځکه چې قاعده ده چې کله خبر ظرف وي اومبتداء نکره وي نو دخبر تقديم په مبتداء باندې واجب وي ، نو لهذا د في الدار تقديم په رجل باندې واجب دي حالانکه رجل فاعل نه دي بلکې دا مبتداء ده .

جواب : دلته دقدم نه مراد دمسند دنوعې تقديم وجوب دي چې دا مسند (فعل ياشبه فعل) نوع مقدم کول واجب وي ، دخبر په نوع باندې تقديم دمبتداء واجب نه ده بلکې دديې بعض افراد (دبعضې عوارضو دوجې نه) تقديم واجب دي په خلاف د ما اسند الى الفاعل کې چې دديې نوعې تقديم په فاعل باندې واجب دي .

عَلٰى جِهَةِ قِيَامِهٖ اَیْ اِسْنَادًا وَاقِعًا عَلٰى طَرِيْقَةِ قِيَامِ الْفِعْلِ اَوْ شِبْهِهٖ بِهٖ اَیْ بِالْفَاعِلِ
په جهت دقيام دديې يعنې داسې اسناد چې واقع وي په طريقې دقيام دفعل يادشبه فعل دديې سره يعنې دفاعل سره
فَطَرِيْقُ قِيَامِهٖ بِهٖ اَنْ يَّكُوْنَ عَلٰى صِيْغَةِ الْمَعْلُوْمِ اَوْ عَلٰى مَا فِیْ حُكْمِهَا كَاِسْمِ الْفَاعِلِ وَ الصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةِ وَ
نوطريقه دقيام داده چې دابه په صيغې دمعلوم سره وي اويا په حکم ددې کې وي لکه اسم فاعل صفت مشبه او
احْتَرَزَ بِهٰذَا الْقَيْدِ عَنْ مَفْعُوْلِ مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهٗ كَزَيْدٌ فِیْ ضُرِبَ زَيْدٌ عَلٰى صِيْغَةِ الْمَجْهُوْلِ وَ الْاِحْتِيَاجُ
په دې قيد سره يې احترازو کړو: مفعول مالم يسم فاعله نه لکه زَيْدٌ په ضُرِبَ زَيْدٌ په صيغه دمجهول اوضرورت
اِلٰى هٰذَا الْقَيْدِ اِنَّمَا هُوَ عَلٰى مَذْهَبِ مَنْ لَّمْ يَجْعَلْهُ دَاخِلًا فِی الْفَاعِلِ كَالْمُصَنِّفِ وَ اَمَّا
دې قيد ته دهغه چاپه مذهب باندې چې مفعول مالم يسم فاعله په فاعل کې نه داخلوي لکه مصنف اوهرچې د
عَلٰى مَذْهَبِ مَنْ جَعَلَهٗ دَاخِلًا فِيْهِ كَصَاحِبِ الْمُفَصَّلِ فَلَا حَاجَةَ اِلٰى هٰذَا الْقَيْدِ بَلْ يَجِبُ اَنْ لَّا
هغه چا په مذهب چې داخلوي يې لکه صاحب دمفصل نوبياحاجت نشته دې قيد ته بلکې واجب دي چې نه
يُقَيَّدَ بِهٖ مِثْلُ زَيْدٌ فِیْ قَامَ زَيْدٌ فَهٰذَا مِثَالٌ لِمَا اُسْنِدَ اِلَيْهِ الْفِعْلُ وَمِثْلُ اَبُوْهُ فِیْ زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ
شي مقيد لکه زَيْدٌ په قَامَ زَيْدٌ کې نو دامثال دهغه فاعل دي چې دفعل اسناد شوي وي ورته اوپه اَبُوْهُ په زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ
فَهٰذَا مِثَالٌ لِمَا اُسْنِدَ اِلَيْهِ شِبْهُ الْفِعْلِ .
کې نو دامثال دهغه چې اسناد شوي وي دې فاعل ته دشبه فعل .

خلاصه دمتن : په پورتني عبارت کې دفاعل په تعريف کې دموجود دويم قيد فائده اوپه دې باندې کيدونکي سوال اوجواب تفصيل دي :

اغراض دجامي : اى اسنادا واقعا: دايې وويل شارح دې ته اشاره وکړه چې على جهة قيامه متعلق محذوف دي چې کوم واقعاً دي او واقعاً صفت دي د اسناداً محذوف ، اسناداً واقعاً

موصوف صفت یوځای شو د أسند مفعول مطلق دي .

علی طریقة : په دې عبارت کې شارح دجهت معنی متعینه کړه چې جهت په معنی د طریقې سره دي .

قیام الفعل اوشبهه : په دې سره غرض دشارح بیان د مرجع دی ، د قیامه د ضمیر مرجع یې متعینه کړه چې د ضمیر مرجع احد الامرین دی لکه د کلمې د اَوْ نه معلومیږي .

فطریق قیامه : په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال (۱) : د فاعل تعریف جامع نه دي ځکه چې داتعریف په هغه فاعل باندې صادق نه راځي کوم چې په مات زید او طال عمرو کې واقع دي ځکه چې دقیام مطلب په ظاهرهمدا دي چې د فاعل نه هغه فعل صادر وي حالانکه په دې مثالونو کې مرګ او اوږدیدل داد فاعل (زید) نه، نه دي صادر شوي ؟

سوال (۲) : دوهم سوال داچې دفاعل تعریف دې جامع نه دي ځکه چې دفعل منفي په فاعل باندې صادق نه راځي لکه ما ضُرب زید په دې کې دضرب دزید سره قیام نه دي بلکې دقیام نفي اوعدم دي .

جواب : دفاعل سره فعل یاشبه فعل دقیام مطلب دادې چې فعل په صیغې دمعلوم سره وي یاپه حکم دمعلوم کې لکه اسم تفضیل ، صفت مشبه وغیره اوس داتعریف په هغه فاعل باندې صادق راځي کوم چې په مات زید او طال عمرو کې واقع دي ځکه چې په دې کې فعل په صیغې دمعلوم سره دي، همدارنګې فعل منفي ماضُرِبَ زید باندې هم داتعریف صادق راځي ځکه چې کله چې دقیام نه مراد فعل معلوم وي نودا عام دي که منفي وي اوکه مثبت .

واحترز بهذا : په دې سره غرض دشارح د علی جهة قیامه دقید فائدې بیانول دي چې داقید احترازي دي په دې سره دمفعول مالم یسم فاعله نه احتراز دي اوپه دې کې دهغه زید نه هم احتراز دي چې کوم په ضُرِبَ زیدٌ کې واقع دي ځکه چې په دې کې صیغه دمعلوم نه ده بلکې صیغه دمجهول ده .

والاحتیاج : په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : صاحب دمفصل اوعبدالقاهر جرجاني دفاعل په تعریف کې علی جهة قیامه به نه دي

ذکر کړي نو ابن حاجب ته هم په کار وو چې نه يې وو ذکر کړي د هغوي خلاف ابن حاجب ولې و کړو ؟ حالانکه هغه دواړه هم دنحوي امامان منلي شي

جواب : په اصل کې صاحب دمفصل اودعبدالقاهر جرجاني په نزد **مفعول مالم يسم فاعله** په فاعل کې داخل دي لهذا د هغوي په نزد ددې قيد د لړولو ضرورت نشته ، او ابن حاجب او نور نحويان وايي چې **مفعول مالم يسم فاعله** په فاعل کې داخل نه دي بلکه دفاعل نه غير د مرفوعاتو جدا قسم دي لهذا ددوي په نزد ددې قيد ضرورت دي ددې دپاره چې ددې نه **مفعول مالم يسم فاعله** خارج کړې شي .

زيد في : دا يې زيات کړو شارح دا بيانوي چې محل داستشهاد **دقام زيد** مجموعه نه ده بلکه صرف **زيد** دي چې کوم په **قام زيد** کې واقع دي اودا **قام** فاعل دي دا خبره دسوال اوجواب په صورت کې هم زده کولې شي نو په دې وخت کې به غرض دجامي دفع او حل ديو مقدر سوال وي :

سوال : په تاباندې دفاعل مثال پيش کول لازم وو ، اوپه **قام زيد** کې **قام** فعل دی نودا مثال صحيح نه دي؟

جواب : مقصود خودفاعل مثال وو ليکن دفاعل سره يې فعل هم ذکر کړو ددې دپاره چې دا معلومه شي چې دادچا فاعل دي نو په **قام زيد** کې **قام** فعل او **زيد** فاعل دي او **زيد** محل داستشهاد دي .

فهذا مثال : په دې سره دممثل له تعين کوي چې زيد دهغه فاعل مثال دي چې کوم طرف ته فعل مسند وي ، همدارنګې دمثل لفظ يې زيات کړو دې خبرې طرف ته يې اشاره وکړه چې د جملې عطف په جملې باندې دې .

ابوه في : په دې کې شارح دا بيانوي چې محل داستشهاد د**زيد قائم ابوه** مجموعه نه ده بلکه صرف **ابوه** دي چې کوم په زيد قائم ابوه کې واقع دي .

فهذا مثال : په دې سره دممثل له تعين کوي چې ابوه دهغه فاعل مثال دي چې کوم طرف ته شبه فعل مسند دي .

سوال: صاحب د کافيې د فاعل دوه مثالونه ذکر کړي دي: (۱) قام زيد. (۲) زيد قائم ابوه، حالانکه مثال د وضاحت د پاره وي د دې د پاره يو مثال کافي وو دوه مثالونه يې ولې ذکر کړل؟.

جواب: صاحب د کافيې دلته دوه مثالونه د دې وجې نه راوړل چې دلته ممثل له متعدد وو يو مثل د ماأسند اليه الفعل دي او دويم مثال د ما اسند اليه شبه الفعل دي لهذا چې کله ممثل متعدد وي نو په مثالونو کې تعدد ضروري دي.

د فاعل د پاره يوه ضابطه او قاعده:

وَ الْأَصْلُ فِي الْفَاعِلِ أَيْ مَا يَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ الْفَاعِلُ عَلَيْهِ إِنْ لَّمْ يَمْنَعْ مَانِعٌ
او اصل په فاعل کې يعني هغه حالت چې په هغې باندې فاعل کيدل مناسب وي که چيرته نه وو موجود مانع چې
أَنْ يَّلِيَ الْفِعْلَ الْمُسْنَدَ إِلَيْهِ أَيْ يَكُوْنُ بَعْدَهٗ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَّتَقَدَّمَ عَلَيْهِ شَيْئٌ
فاعل متصل وي د مسند اليه سره يعني فاعل د فعل نه پس وي غير د دې نه چې مخکې کړي شي په دې باندې بل
اٰخَرُ مِنْ مَعْمُوْلَاتِهٖ لِأَنَّهٗ كَالْجُزْءِ مِنَ الْفِعْلِ لِشِدَّةِ اِحْتِيَاجِ الْفِعْلِ إِلَيْهِ وَ يَدُلُّ
څيز د معمولاتو د فعل نه ځکه دا په شان د جز دي د فعل نه د وجې د سخت احتياج د فعل نه فاعل ته او دلالت کوي
عَلٰى ذٰلِكَ إِسْكَانُ اللَّامِ فِيْ ضَرَبْتُ لِأَنَّهٗ لِدَفْعِ تَوَالِيْ أَرْبَعِ حَرَكَاتٍ فِيْمَا هُوَ بِمَنْزِلَةِ كَلِمَةٍ وَّاحِدَةٍ
په دې باندې ساکن کول د لام په ضَرَبْتُ کې د وجې دفع کولو د تسلسل د څلورو حرکاتو کوم چې په منزله د يوې کلمې
فَلِذٰلِكَ الْأَصْلِ الَّذِيْ يَقْتَضِيْ تَقَدُّمَ الْفَاعِلِ عَلٰى سَائِرِ مَعْمُوْلَاتِ الْفِعْلِ جَازَ ضَرَبَ غُلَامَهٗ زَيْدٌ
دي نو د هغه اصل د وجې نه چې تقاضا کوي تقدم د فاعل په ټولو معمولاتو د فعل باندې جائز دي ضَرَبَ غُلَامَهٗ زَيْدٌ د وجې
لِتَقَدُّمِ مَرْجِعِ الضَّمِيْرِ وَهُوَ زَيْدٌ رُتْبَةً فَلَا يَلْزَمُ الْإِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ مُطْلَقًا بَلْ لَفْظًا فَقَطْ وَذٰلِكَ جَائِزٌ
د تقدم د مرجع د ضمير نه او هغه زَيْدٌ دي رتبةً نو نه لازميږي اضمار قبل لذکر مطلقاً بلکې صرف لفظاً او دا جائز دي
وَامْتَنَعَ ضَرَبَ غُلَامُهٗ زَيْدًا لِتَأَخُّرِ مَرْجِعِ الضَّمِيْرِ وَهُوَ زَيْدٌ لَفْظًا وَّرُتْبَةً فَيَلْزَمُ الْإِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ
او ممتنع دي ضرب غلامه زيدا د وجې د تاخير د مرجع نه چې زيد دي لفظاً او رتبتاً نو لازم راغي اضمار قبل الذکر
لَفْظًا وَّرُتْبَةً وَذٰلِكَ غَيْرُ جَائِزٍ خِلَافًا لِلْأَخْفَشِ وَابْنِ جِنِّيْ وَمُسْتَنَدُهُمَا فِيْ ذٰلِكَ قَوْلُ الشَّاعِرِ شِعْر
لفظاً او رتبتاً او دا غير جائز دي خلاف ثابت دي اخفش او ابن جني لره او دليل د دوي دا قول د شاعر دي، شعر

جَزٰى رَبُّهٗ عَنِّيْ عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ	جَزَاءَ الْكِلَابِ الْعَاوِيَاتِ وَ قَدْ فَعَلَ
سزا دې ورکړي الله عدي بن حاتم ته	په شان د غپيدونکو سپو او دا کار الله تعالى وکړو

وَ أُجِيْبَ عَنْهُ بِأَنَّ هٰذَا لِضَرُوْرَةِ الشِّعْرِ وَ الْمُرَادُ عَدَمُ جَوَازِهٖ فِيْ سَعَةِ الْكَلَامِ وَ بِأَنَّهٗ
او جواب ورکوو د دې نه چې دا د ضرورت شعري د وجې نه دي او مراد عدم جواز دي په وسعت د کلام کې او دا چې

لَا نُسَلِّمَ اَنَّ الضَّمِيْرَ يَرْجِعُ اِلَى الْعَدِيِّ بَلْ اِلَى الْمَصْدَرِ الَّذِيْ يَدُلُّ عَلَيْهِ
مونږ داخبره نه منو چې ضمير عدي طرف ته راجع کيږي بلکې ددې دمصدر طرف ته چې په کوم باندې فعل
الْفِعْلُ اَیْ جَزٰی رَبُّ الْجَزَاءِ.
دلالت کوي يعني جَزٰی رَبُّ الْجَزَاءِ.

خلاصه دمتن: دمتن په عبارت کې دفاعل متعلق يو حکم بيان کړي چې فاعل په اصل کې دادي چې د فعل سره متصل وي.

بيا ماتن په دې ضابطه باندې يو تفريع ذکر کړي چې چونکې په فاعل کې اصل دادې چې دا د فعل سره متصل وي ددې وجې نه د **ضَرَبَ غلامَهُ زيدٌ** ترکيب جائز دي او **ضَرَبَ غلامُهُ زيداً** ترکيب ممتنع دي.

داول ترکيب دجائزکيدو وجه داده چې په دې کې د**غلامه**د ضمير مرجع **زيد** دي کوم چې دفاعل کيدو په بنا باندې رتبتاً دغلام نه مخکې دي ځکه چې **اضمار قبل الذکر** لازم رانه شي.

اودوهم ترکيب ددې وجې نه ناجائز دي چې په دې کې د**غلامه** ضمير مرجع **زيد** دي کوم چې مفعول به دي او دا **لفظاً** او **رتبتاً** په دواړو اعتبارو سره دضمير نه پس دي نو ددې وجې نه **اضمار قبل الذکر لفظاً** او **رتبةً** په دواړو اعتبارو سره لازم راغي اودا جائز نه دي.

اغراض دجامي: دفاعل دتعريف دفارغيدو نه پس اوس دپورتني عبارت نه دفاعل احکامات بيانوي:

في الفاعل: په دې سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: **الاصل** مبتدا او وروستې جمله **ان يلي الفعل** خبر دي اوخبر حمل کيږي په مبتداء باندې اودلته **الاصل** عام اومبهم دي ځکه چې معلومه نه ده چې اصل نه کوم اصل مراد دي **اصل في الفاعل** يا **اصل في المبتدا** يا **اصل في الخبر** وغيره او خبر (**ان يلي الفعل**) دا خاص دي اودخاص حمل په عام اومبهم باندې جائز نه دي؟.

جواب: د **في الفاعل** لفظ مقدر راويستو سره علامه جامي جواب ورکوي چې **الاصل** عام اومبهم نه دي بلکه په دې باندې الف،لام عهد خارجي دي ددې نه مراد اصل في الفاعل دي قرينه پرې داده چې بحث دفاعل جاري دي لهذا مبتداء هم خاص ده نو حمل صحيح دي.

ای ماینبغي: په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: داصل مشهوره معنی قاعده کلیه ده اوقاعده کلیه هغه ده چې په خپلو ټولو افرادو او جزئیاتو باندې منطبق وي نو دمصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دعبارت مطلب به داوي چې په فاعل کې قاعده کلیه داده چې داد فعل سره متصل وي فعل اوددې په مینځ کې هیڅ فاصله نه وي حالانکه ډیر ځایونه دي چې هلته فاعل دفعل سره متصل نه وي بلکه په مینځ کې یې فاصله وي مثلا (۱) ما ضرب عمروا الا زید (۲) ضربک زید، نوقاعده کلیه دې منقوضه اوماته شوه؟

جواب: ای ماینبغي سره شارح جواب ورکوي چې داصل ډیرې معاني دي: (۱) اصل په معنی دقاعدې کلیې (۲) اصل په معنی ددلیل سره (۳) اصل په معنی د اولی اومناسب، نو شارح دلته دریمه معنی متعینه کړې چې دلته اصل په معنی د اولی اومناسب دي یعنې دفاعل دپاره اولی اومناسب داده چې داد فعل سره متصل وي.

ان لم یمنع: په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مونږ داخبره نه منو چې په فاعل کې اولی اومناسب داده چې دفعل سره متصل وي ځکه چې ما ضَرَبَ عمروا الا زیدٌ کې زید فاعل دي اوددې سره دضرب متصل کیدل مناسب اواولی نه دي بلکې ممنوع دي؟

جواب: جواب دادې چې دفاعل دفعل سره متصل کیدل مناسب اواولی په هغه وخت کې دي چې کله کوم مانع نه وي اوپه ذکر شوي مثال کې مانع موجود دي او هغه مانع دفاعل إلاّ نه پس واقع کیدل دي.

المسند الیه: په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: لکه څنګه چې دفاعل دفعل سره متصل کیدل اولی اومناسب دي همدارنګې فاعل د شبه فعل سره متصل کیدل هم اولی دي نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ شبه فعل ولې ذکر نه کړو؟

جواب: المسند الیه سره شارح جواب ورکړې چې دلته دفعل نه مراد مسند الی الفاعل دي او دا فعل او شبه فعل دواړو ته شامل دي.

ای یکون بعده: په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: علامه ابن حاجب فرمایلي دي چې دفاعل دپاره اصل دادې چې داد فعل سره متصل

وي ، ددې اتصال دوه صورتونه دي (۱) دفعل نه مقدم اومتصل وي (۲) دفعل نه مؤخر او متصل وي ، او دلته کوم صورت مراد دي ؟

جواب : ای یکون بعده سره شارح دجامي جواب ورکړي چې دلته دایلاء دوهم قسم مراد دي یعنې دفعل نه مؤخر اومتصل وي اومقدم نه وي .

من معمولاته : په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : تاسو وویل چې که چیرته مانع نه وي نو دفاعل سره دفعل متصل کیدل مناسب دي مونږ درته مثال درکوو چې کوم مانع هم نشته لیکن ددې باوجود دفاعل سره فعل متصل نه دي لکه لیضربن زید په مینځ کې یې نون ثقیله فاصله ده ، یا لکه کفیٰ بالله شهیداً کې لفظ دالله فاعل دی کفیٰ فعل دی ددواړو په مینځ کې باء فاصله ده دفاعل دفعل سره اتصال نشته ؟

جواب : مراد دادې چې دفعل نور معمولات (مفعول به وغیره) دفاعل نه مخکې نه وي لهذا نون ثقیله په مینځ کې راتلل یا بالله کې د با راتلل دقاعدې خلاف نه دي ځکه چې دادفعل دمعمولاتو نه .نه دي .

لانه کالجزء من الفعل : ددې نه دفاعل دفعل سره دمتصل کیدو داولی کیدو دلیل بیانوي :

حاصل : د فاعل سره دفعل دمتصل کیدو اود ولویت ددلیل حاصل دادي چې فاعل په منزله دفعل د جُزء دی ، دشارح په عبارت کې داجمله صغری ده اوکبری داده چې هر هغه ځیز چې دیو ځیز دجز په شان وو په هغې کې اصل او اولی داده چې دهغه ځیز سره به متصل وي . لهذا دفاعل دپاره اولی داده چې دافعل سره متصل وي .

لشدة : په دې سره غرض دشارح دخپلې مخکینې دعوه دصغری دلیل بیانوي چې حاصل یې دادې چې فعل دفاعل په طرف شدت احتیاج وي لکه کل چې جز ته په شدت سره محتاج دي ددې نه معلومه شوه چې فاعل دفعل دجز په شان دي .

ویدل :ددې نه دفاعل په منزله دجز کیدو دلیل بیانوي چې په ضربتُ کې لام کلمه (یعنې باء) ساکن کول دلالت کوي چې فاعل دفعل دجز په شان دي ځکه چې لام کلمهٔ (باء) ددې وجې نه یې ساکن کړو چې توالي داربع جرکاتو لازم رانه شي اوتوالي داربع حرکاتو په یو کلمه کې منع ده نه په دوه کلمو کې نو ثابته شوه چې ضربت فعل فاعل یو ځای یوکلمه ده ددې نه شدت اتصال اوشدت احتیاج ثابتیږي .

فلذلک: داعبارت په ماقبل باندې تفریع ده چې دهغې حاصل دادې چې چونکې فاعل په اصل کې دادې چې دادفعل سره متصل وي دهمدې وجې نه ضرب غلامه زید ترکیب جائز دي او ضربَ غلامُه زیداً ترکیب ممتنع دي

الاصل الذي الخ: په دې شارع د ذلک مشار الیه متعین کړه چې دذلک مشار الیه اصل دي یعنې ددې وجې نه دې اصل ته چې تقاضا کوي دفاعل تقدم دفعل په باقي معمولاتو باندې جائز دی ضرب غلامه زید

لتقدم: په دې سره غرض دشارح دضرب غلامه زید دترکیب دجواز وجه بیانوي چې غلامهُ کې د ضمیر مرجع زید دي اګر چې لفظاً مؤخر دي لیکن رتبتاً مقدم دي ددې وجې نه زید فاعل دي او فاعل رتبتاً مفعول نه مقدم شو دفعل سره متصل وي لهذا لفظاً اضمار قبل الذکر لازم راغي نه رتبتاً او اضمار قبل الذکر لفظاً جائز دي .

لتاخر: په دې عبارت سره غرض دشارح دضرب غلامه زیداً دترکیب دممتنع کیدو وجه بیانول دي چې په غلامه کې د ضمیر مرجع زید دي چې کوم لفظاً هم مؤخر دي او رتبتاً هم مؤخر دی ، لفظاً خو ظاهردي او رتبتاً ددې وجې نه مؤخر دي چې دامفعول به دي اومفعول به رتبتاً مؤخر وي ، لهذا لفظاً او رتبتاً اضمار قبل الذکر لازم راغې چې کوم جائز نه دي .

خلافاللاخفش وابن جنی: په دې سره غرض دشارح بیان داختلاف دي . بعضې شارحینو ددې عبارت وضاحت دابیان کړي چې ددې عبارت تعلق ذلک غیر جائز سره دي اوددې مطلب دادې چې دجمهورو په نزد اضمار قبل الذکر لفظا اورتبتاً ناجائز دی په خلاف داخفش اوابن جني که دهغه په نزد اضمار قبل الذکر لفظاً اورتبتاً جائز دي .لیکن علامه جامي ددې عبارت دا مطلب بیانول صحیح نه دي ځکه چې اضمار قبل الذکر لفظاً اورتبتاً بالاتفاق ناجائز دي ، بلکه ددې صحیح وضاحت دادې چې ددې عبارت تعلق وذلک غیر جائز سره نه دي بلکه ددې تعلق د فیلزم سره دي اوس به دعبارت حاصل دا وي چې دجمهورو په نزد په ذکر شوي مثال کې اضمار قبل الذکر لفظاً اورتبتاً لازم راځي ددې وجې نه ددوي په نزد ذکر شوي مثال ممتنع دي ، اواخفش اوابن جني په نزد په مثال مذکور کې لفظاً اورتبتاً لازم نه راځي ددې وجې نه ددوي په نزد ذکر شوي مثال جائز دي .

ددوي دلیل دادې چې لکه ځنګه فعل په شدت کې فاعل ته محتاج وي همدارنګې فعل

په شدت کې دمفعول هم محتاج وي په دواړو کې اصل دادې چې دادفعل سره متصل وي نو په ذکر شوي ترکيب کې لفظاً اورتبتاً اضمار قبل الذکر لازم نه راځي بلکه صرف لفظاً **اضمار قبل الذکر** لازم راغې چې کوم جائز دي ،ددې وجې نه ذکر شوي مثال جائز دي.او **اخفش** او **ابن جني** د يو شاعر دشعر نه استدلال کوي

جَزٰى رَبُّهُ عَنِّيْ عَدِيَّ بْنَ حَاتِمٍ جَزَاءَ الْكِلَابِ الْعَاوِيَاتِ وَقَدْ فَعَلَ

په دې کې محل داستشهاد رَبُّهُ دي ، طريقه داستدلال داده چې رَبُّهُ د جَزٰى فاعل دي اوددې سره ضمير دمفعول متصل دي چې عدي بن حاتم طرف ته راجع دي چې کوم مفعول به دي او د فاعل نه مؤخر دي نو ددې نه معلومه شوه چې که چيرته دفاعل سره ضمير وي اوداضمير راجع وي مفعول مؤخر طرف ته نودا جائز دي .

اجيب: په دې سره غرض دشارح داخفش اوابن جني ددليل دوه جوابونه ورکوي اول جواب تسليمي دي اودوهم جواب عدم تسليمي دي :

(۱) جواب : مونږ منو چې د ربه ضمير عدي بن حاتم طرف ته راجع دي ددې باوجود هغه مؤخر دي ليکن دادضرورت شعري دوجې نه دي ، قاعده داده چې : **يجوز للشاعر مالايجوز لغيره** اوداچې کوم وويل شي چې دفاعل سره دضمير اتصال سره دتاخير دمفعول نه جائز نه دي دا په وسعت کلام (يعنې په نثر) کې دي .

(۲) جواب : مونږ دا نه منو چې د رَبُّهُ ضمير مرجع عدي بن حاتم دي بلکه مرجع جزا مصدر دي چې په دې باندې جَزٰى فعل دلالت کوي تقدير دعبارت به داسې شي چې : **جزى رب الجزاء** .

دشعر ترکيب : جَزٰى صيغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم . رَبُّهُ مرکب اضافي د جزى فاعل شو **عني** جار مجرور متعلق جزى فعل **عدي بن حاتم** عدي موصوف **بن** مضاف **حاتم** مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه صفت شو د پاره د موصوف ، موصوف سره د خپل صفت نه مفعول به شو د **جزى فعل** ، **جزا** مضاف **الكلاب العاويات** مرکب توصيفي مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول مطلق شو د **جزى فعل** ، فعل سره د خپل فاعل او سره د مفعول به او سره د مفعول مطلق نه دا جمله فعليه خبريه شو ه، **وقد فعل** دا جمله خبريه د ربه نه حال واقع شو .

د فاعل د تقديم وجوبي ځايونه :

وَ إِذَا انْتَفَى الْإِعْرَابُ الدَّالُّ عَلَى فَاعِلِيَّةِ الْفَاعِلِ وَ مَفْعُوْلِيَّةِ الْمَفْعُوْلِ بِالْوَضْعِ

اوچي کله نفي شو اعراب چي دفاعل په فاعليت اود مفعول په مفعوليت باندي دوضع په اعتبارسره دلالت کوي

لَفْظاً فِيْهِمَا أَيْ فِي الْفَاعِلِ الْمُتَقَدِّمِ ذِكْرُهُ صَرِيْحًا وَ فِيْ ضِمْنِ الْأَمْثِلَةِ وَ الْمَفْعُوْلِ

لفظاً په دواړو کي يعني په فاعل کي چي دهغې ذکرمخکي صراحتاً اودمثالونو په ضمن کي تيرشواودمفعول

الْمُتَقَدِّمِ ذِكْرُهُ فِيْ ضِمْنِ الْأَمْثِلَةِ وَ الْقَرِيْنَةِ أَيْ الْأَمْرُ الدَّالُّ عَلَيْهِمَا لَا بِالْوَضْعِ

متقدم ذکرپه ضمن دمثالونوکي تيرشواوقرينه يعني هغه څيزچي په فاعل اومفعول باندي بلاوضع دلالت کوي

إِذْ لَا يُعْهَدُ أَنْ يُطْلَقَ عَلَى مَا وُضِعَ بِإِزَاءِ شَيْءٍ أَنَّهُ قَرِيْنَةٌ عَلَيْهِ

خکه چي معلومه نه داچي اطلاق وشي په هغه څيزچي وضع شوي وي دپاره ديوڅيزچي گني داقرينه ده په هغه څيز

فَلَا يَرِدُ عَلَيْهِ أَنَّ ذِكْرَ الْإِعْرَابِ مُسْتَغْنًى عَنْهُ إِذِ الْقَرِيْنَةُ شَامِلَةٌ لَهُ وَ هِيَ إِمَّا لَفْظِيَّةٌ نَحْوُ

نونه وارديږي اعتراض چي داعراب دذکرضرورت نشته چي قرينه اعراب ته شامله ده اوقرينه به يالفظي وي لکه

ضَرَبَتْ مُوْسٰى حُبْلٰى أَوْ مَعْنَوِيَّةٌ نَحْوُ أَكَلَ الْكُمَّثْرٰى يَحْيٰى أَوْ كَانَ الْفَاعِلُ مُضْمَرًا مُتَّصِلًا بِالْفِعْلِ بَارِزًا كَضَرَبْتُ زَيْداً

ضَرَبَتْ مُوْسٰى حُبْلٰى يامعنوي لکه أَكَلَ الْكُمَّثْرٰى يَحْيٰى ياوي فاعل ضمير متصل دفعل سره بارز لکه ضَرَبْتُ زَيْداً

أَوْ مُسْتَتِرًا كَزَيْدٌ ضَرَبَ غُلَامَهُ بِشَرْطِ أَنْ يَكُوْنَ الْمَفْعُوْلُ مُتَأَخِّرًا عَنِ الْفِعْلِ لِئَلَّا يَنْتَقِضَ بِمِثْلِ

يامستتر لکه زَيْدٌ ضَرَبَ غُلَامَهُ په دي شرط چي مفعول به دفعل نه موخروي ددي دپاره چي مات نه شي داقول دمصنف

زَيْداً ضَرَبْتُ أَوْ وَقَعَ مَفْعُوْلُهُ أَيْ مَفْعُوْلُ الْفَاعِلِ بَعْدَ إِلَّا بِشَرْطِ تَوَسُّطِهَا بَيْنَهُمَا

زَيْداً ضَرَبْتُ ياواقع وي مفعول ددي يعني مفعول دفاعل نه پس دإِلَّا په دي شرط چي إِلَّا به په مينځ کي وي په دواړو

فِيْ صُوْرَتَيِ التَّقْدِيْمِ وَالتَّأْخِيْرِ نَحْوُ مَا ضَرَبَ زَيْدٌ إِلَّا عَمْرواً أَوْ بَعْدَ مَعْنَاهَا نَحْوُ إِنَّمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا وَجَبَ

صورتونو په تقديم اوتاخير کي لکه مَا ضَرَبَ زَيْدٌ إِلَّا عَمْرواً يا پس دمعنى دالاته لکه إِنَّمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا نو واجب دي

تَقْدِيْمُهُ أَيْ تَقْدِيْمُ الْفَاعِلِ عَلَى الْمَفْعُوْلِ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الصُّوَرِ أَمَّا فِيْ صُوْرَةِ اِنْتِفَاءِ الْأَعْرَابِ فِيْهِمَا وَالْقَرِيْنَةِ

تقديم يعني دفاعل په مفعول په دي ټولو صورتونو کي هرچي په صورت دانتفاءداعراب اودقريني په دي دواړو کي

فَلِلتَّحَرُّزِ عَنِ الْاِلْتِبَاسِ وَ أَمَّا فِيْ صُوْرَةِ كَوْنِ الْفَاعِلِ ضَمِيْرًا مُتَّصِلًا فَلِمُنَافَاةِ الْاِتِّصَالِ الْاِنْفِصَالَ

نو دبچ کيدو دالتباس نه اوهرچي په صورت دکيدو دفاعل کي ضمير متصل نو دوجي دمنافاة داتصال دانفصال سره

وَ أَمَّا فِيْ صُوْرَةِ وُقُوْعِ الْمَفْعُوْلِ بَعْدَ إِلَّا لٰكِنْ بِشَرْطِ تَوَسُّطِهَا بَيْنَهُمَا

اوهرچي په صورت دواقع کيدو دمفعول پس دالاته لکن په شرط دمينځ کي واقع کيدو په مينځ دفاعل اومفعول کي

فِيْ صُوْرَتَيِ التَّقْدِيْمِ وَ التَّأْخِيْرِ فَلِئَلَّا يَنْقَلِبَ الْحَصْرُ الْمَطْلُوْبُ فَإِنَّ الْمَفْهُوْمَ مِنْ قَوْلِهِ مَا ضَرَبَ

په دواړو صورتونو دتقديم اوتاخير کي نو ددي وجي نه چي حصر مطلوب بدل نه شي خکه چي دقائل داقول مَا ضَرَبَ

زَيْدٌ اِلَّا عَمْرًوا اِنْحِصَارُ ضَارِبَيَّةِ زَيْدٍ فِيْ عَمْرٍو مَعَ جَوَازِ اَنْ يَّكُوْنَ عَمْرٌو مَضْرُوْبًا لِشَخْصٍ آخَرَ

زَيْدٌ اِلَّا عَمْرًوا نه مفهوم دزيد دضاربيت انحصار دي په عمرو كې سره دجواز ددې چې عمرو ديو بل چامضروب وي

وَ الْمَفْهُوْمُ مِنْ قَوْلِهٖ مَا ضَرَبَ عَمْراً اِلَّا زَيْدٌ اِنْحِصَارُ مَضْرُوْبِيَّةِ عَمْرٍو فِيْ زَيْدٍ مَعَ جَوَازِ اَنْ يَّكُوْنَ زَيْدٌ

اوقائل ددې قول مَا ضَرَبَ عَمْراً اِلَّا زَيْدٌ انحصار دمضروبيت دعمرو په زيد كې دي سره دجواز ددې چې وي زيد

ضَارِبًا لِشَخْصٍ آخَرَ فَلَوْ اِنْقَلَبَ اَحَدُهُمَا بِالْآخَرِ لَانْقَلَبَ الْحَصْرُ الْمَطْلُوْبُ وَاِنَّمَا قُلْنَا بِشَرْطِ تَوَسُّطِهَا بَيْنَهُمَا

ضارب دبل كس كه چيرته بدل شي يو دبل نه نوحصر مطلوب به بدل شي اومونږ وايو په شرط دمينځ كې واقع كيدو

فِيْ صُوْرَتَيِ التَّقْدِيْمِ وَ التَّاخِيْرِ لِاَنَّهٗ لَوْ قُدِّمَ الْمَفْعُوْلُ عَلَى الْفَاعِلِ مَعَ اِلَّا فَيُقَالُ مَا ضَرَبَ

په دواړو صورتو د تقديم او تاخير خكه كه چيرته مخكې كړي مفعول په فاعل سره دالا نو ويلي به شي چې مَا ضَرَبَ

اِلَّا عَمْرَوٌ زَيْدٌ فَالظَّاهِرُ اَنَّ مَعْنَاهُ اِنْحِصَارُ ضَارِبِيَّةٍ فِيْ عَمْرٍو اِذِ الْحَصْرُ اِنَّمَا هُوَ فِيْ

اِلَّا عَمْرَوٌ زَيْدٌ نو ظاهره داده چې ددې معنى دزيد دضاربيت انحصار دي په عمرو كې خكه حصر به دې كې كيږي

مَا يَلِيْ اِلَّا فَلَا يَنْقَلِبُ الْحَصْرُ الْمَطْلُوْبُ فَلَا يَجِبُ تَقْدِيْمُ الْفَاعِلِ لٰكِنْ لَمْ يَسْتَحْسِنْهُ

كوم چې دالا سره متصل دي لهذا حصر مطلوب به منقلب نه وي نو نه دي واجب دي تقديم د فاعل لكن خه نه دي

بَعْضُهُمْ لِاَنَّهٗ مِنْ قَبِيْلِ قَصْرِ الصِّفَةِ قَبْلَ تَمَامِهَا وَ اِنَّمَا قُلْنَا الظَّاهِرُ اَنَّ مَعْنَاهُ كَذَا

كڼلي بعضو خكه چې دا قصر د قبيلي دصفت نه دي مخكې دتماموالي دصفت نه او مونږ دا اَلظَّاهِرُ اَنَّ مَعْنَاهُ كَذَا

لِاِحْتِمَالِ اَنْ يَّكُوْنَ مَعْنَاهُ مَا ضَرَبَ اَحَدًا اَحَدٌ اِلَّا عَمْرَوا زَيْدٌ فَيُقْصَدُ اِنْحِصَارُ صِفَةِ

ددې احتمال دوجې نه ويلي وو چې ددې معنى به داوي چې مَا ضَرَبَ اَحَدًا اَحَدٌ اِلَّا عَمْرَوٌ زَيْدٌ نو قصد كوي انحصار دصفت

كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي الْآخَرِ وَ هُوَ اَيْضًا خِلَافُ الْمَقْصُوْدِ وَ اَمَّا وُجُوْبُ تَقْدِيْمِهٖ عَلَيْهِ

دهريو ددې نه په بل كې او دا همدا رنګې خلاف مقصود دي او هرچې وجوب د تقديم د مفعول دي پس دفاعل نه

فِيْ صُوْرَةِ وُقُوْعِ الْمَفْعُوْلِ بَعْدَ مَعْنًى اِلَّا لِاَنَّ الْحَصْرَ هٰهُنَا فِي الْجُزْءِ الْاَخِيْرِ فَلَوْ اُخِّرَ

په صورت دواقع كيدو دمفعول پس دمعنى دالانه خكه چې حصر دلته په آخرني جُزكې دي لهذا كه چيرته وروسته

الْفَاعِلُ لَانْقَلَبَ الْمَعْنٰى قَطْعاً.

كړو فاعل نو معنى به يې يقيناً بدله شي.

خلاصه دمتن : غرض دصاحب دكافيه دهغو عوارضو بيانول دي چې دهغې په وجه دفاعل تقديم په مفعول باندې واجب دى هغه عوارض څلور دي : (۱) په فاعل او مفعول دواړو كې اعراب لفظي او قرينه منتفي وي لكه ضرب موسیٰ عیسیٰ . (۲) دفاعل ضمير متصل بالفعل وي لكه ضربتُ زيداً . (۳) مفعول د الا نه پس واقع وي لكه ما ضرب زيد الا عمرواً . (۴) مفعول د الا د

معنی نه پس واقع وي لکه انما ضرب زید عمرواً .

اغراض دجامي : الدال: داد اعراب صفت کاشفه دي داعراب تعریف نه دي مطلب دادې چې کله اعراب منتفي شي چې کوم بالوضع دفاعل په فاعلیت اودمفعول په مفعولیت دلالت کوي که څیرته بالوضع سره ددې تشریح ونه کړي نو ویلي شي چې اعراب خو به په هر صورت کې موجود وي که لفظاً نه وي نو تقدیراً به وي ، که تقدیراً نه وي نو محلاً به وي ددې وجې نه يې وویل چې داعراب نه مراد هر اعراب نه دي بلکه صرف هغه اعراب مراددي چې دهغې وضع دفاعل په فاعلیت اودمفعول په مفعولیت باندې دلالت دپاره وي

في الفاعل: په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په فیهما کې دضمیر مرجع فاعل اومفعول دواړه دي دفاعل ذکر خو تیر شوي دي لیکن د مفعول ذکر نه دي تیر شوي نو لهذا په مفعول کې اضمار قبل الذکر لازم راغې کوم چې جائز نه دي .

جواب : دفاعل ذکر صراحتا شوي اودمثالونو په ضمن کې هم شوي اودمفعول ذکر اګرچې صراحتاً نه دي شوي لیکن دمثالونو په ضمن کې شوي اومذکور ضمني طرف ته ضمیر راجع کول صحیح دي لهذا اضمار قبل الذکر لازم رانغلو .

ای الامر الدال: په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داعراب ذکر مستدرک اوبې فایدې دي ځکه چې قرینه اعراب ته هم شامل دي ځکه چې دقرینې تعریف دادې چې دیو څیز په تعین باندې دلالت کوي اوداخبره په اعراب کې هم موندل کیږي ، لهذااعراب ذکر کول بې فائدې شو، مصنف رَحِمَهُ اللهُ ته دا ویل په کار وو چې اذا انتفی القرینة فیهما ، د اعراب ذکر کول نه وو پکار ؟ .

جواب : دقرینې لفظ اعراب ته شامل نه دي ځکه چې قرینه هغه ده چې دیو څیز په تعین باندې په غیر دوضع نه دلالت کوي اواعراب هغه دي چې دیو څیزپه تعین باندې بالوضع دلالت کوي نو په دواړو کې فرق دي نوددې وجې نه قرینه اعراب ته شامل نه شوه ، نو لهذا داعراب ذکر بې فائدې نه شو .

فلا یرد: دا په ماقبل باندې تفریع ده چې کله داخبره معلومه شوه چې په قرینه اواعراب کې فرق دي ، دقرینې دلالت دیوڅیز په تعین باندې بې دوضع ، اوداعراب دلالت دیو څیز په تعین

باندې بالوضع ، نو دا اعتراض به وارد نه وي چې داعراب نه پس دقرینې ذکر مستدرک او بې فائدې دي ځکه چې قرینه اعراب ته هم شامل ده لکه علامه فاضل هندي ویلي دي چې قرینه عام ده اعراب نه هم شامل ، نو په دې عبارت سره علامه جامي په فاضل هندي باندې هم رد وکړو.

وهي اما لفظية : دلته غرض دشارح دقرینې تقسیمول دي چې قرینه په دوه قسمه دي . (۱) قرینه لفظیه .(۲) قرینه معنویه . (۱) دقرینه لفظي مطلب دادې چې په لفظونو کې کومه قرینه موجود وي لکه ضربت موسی حبلی په دې کې ضربت کې تاء دفاعل په مؤنث کیدو باندې دلالت کوي ددې نه معلومه شوه چې فاعل حبلی دي ځکه چې مؤنث همدا دي . (۲) دقرینې معنوی مطلب دادې چې لفظاً اګرچې قرینه نه وي لیکن دجملې په معنی کې قرینه موجود وي لکه اکل الکمثری یحیی (یحیی ناشپاتي وخوړو) په دې مثال کې کمثری کې دفاعل دجوړیدو صلاحیت نشته ځکه معنی یې داده چې ناشپاتي یحیی وخوړو نو دامعنی خو غلطه ده .

الفاعل : په دې سره غرض دشارح بیان دمرجع دي چې دکان دضمیر مرجع فاعل دي .

بالفعل : داد متصل دصلې بیان دي .

بارزاً : په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : او کان الفاعل مضمراً متصلاً کې دمتصل نه ضمیر بارز مراد دي ځکه چې داتصال معنی ده یو څیز دبل څیز سره یوځای کول اودا په معنی ملفوظ کې خو متصور کیدی شي لیکن په مستتر کې نشي متصور کیدی ؟

جواب : شارح دجامي جواب ورکړې چې دلته دمتصل نه غیر مستقل مراد دي اوپه دې کې تعمیم دي برابره خبره ده چې دابارز وي لکه ضربت زیداً یا مستتر لکه زید ضرب کې هُوَ ضمیر .

بشرط ان یکون : په دې سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا قاعده زیداً ضربتُ مثال سره منقوضه ده ځکه چې په دې کې فاعل دضمیر متصل دي ددې باوجود دفاعل په مفعول باندې تقدیم واجب نه دي بلکې مفعول دفاعل نه مقدم دي.

جواب : دادې چې دفاعل تقدیم په مفعول باندې وجوب مشروط دي په دې شرط سره چې مفعول د فعل نه مؤخر وي اوپه ذکر شوي مثال کې مفعول دفعل نه مؤخر نه دي بلکې مقدم

دي لهذا ددې په ذريعه نقض وارد نه شو

اى مفعول الفاعل: په دې کې غرض دشارح دمفعوله ضمير مرجع متعينه کړه چې دضمير مرجع فاعل دي .

بشرط توسطها: په دې سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : دا قاعده منقوضه ده په ماضرب الا عمروا زيدٌ سره ځکه چې په دې کې مفعول د الا نه پس واقع دي سره دفاعل دتقديم نه په مفعول واجب نه دي بلکه فاعل مؤخر دي ؟

جواب : مفعول د اِلاّ نه پس دواقع کيدو په صورت کې تقديم دفاعل په مفعول باندې وجوب په دې شرط سره مشروط دي چې په تقديم اوتاخير دواړو صورتونو کې اِلاّ فاعل اومفعول دواړو په مينځ کې واقع وي اوپه ذکر شوي مثال کې الا دفاعل اومفعول په مينځ کې واقع نه دي بلکې ددواړو نه مقدم دي لهذا ددې په ذريعه نقض به وارد نه وي ، اوپاتې شوه داضابطه چې داولې ده نو ددې وجه په خپله شارح مخکې بيانوي .

اي تقديم الفاعل: په دې سره غرض دشارح بيان دمرجع ده چې په تقديمه کې دضمير مرجع فاعل دي .

على المفعول: داد تقديم د صِلې بيان دي .

في جميع هذه الصور: په دې عبارت کې دتقديم دمحل بيان کوي .

اما في صورة الخ: په دې سره غرض دشارح دذکر شوو څلورو صورتونو په کومو کې چې فاعل په مفعول باندې دمقدم کيدو وجوهات بيانوي چې دهغې تفصيل په لاندې ډول دي :

اول صورت : په دې صورت کې دتقديم وجه داده چې کله فاعل اوپه مفعول دواړو کې اعراب لفظي او قرينه منفي وي نودفاعل تقديم په مفعول باندې ددې وجې نه واجب دي چې په فاعل اومفعول دواړو کې التباس لازم رانه شي .

دوهم صورت : دا چې کله فاعل ضمير متصل بالفعل وي نودفاعل تقديم په مفعول باندې واجب دي ځکه چې که چيرته دفاعل تقديم واجب نه وي نوبيا دفاعل تاخير دمفعول نه جائز وي چې کله فاعل مؤخر وي نو ضمير متصل منفصل راوړل به لازم راشي کوم چې جائز نه دي ، ځکه چې داتصال او انفصال په مينځ کې منافات دي .

دريم صورت : دا چې کله مفعول د الا نه پس واقع وي په دې شرط چې په تقديم اوتاخير دواړو صورتونو کې به الا دفاعل اومفعول په مينځ کې واقع وي نو دفاعل تقديم به واجب وي ددې دپاره چې حصرِ مطلوب چې کوم دمتکلم مقصود وي هغه منقلب او اُلټه نه شي لکه **ما ضرب زيد الا عمرواً** نه مقصود دزيد ضاربيت په عمرو کې بندول دي دکلام معنی داده چې زيد د عمرونه غير بل چا نه دي وهلي البته دا کيدې شي ، چې زيد بل چا وهلي وي ، خلاصه داده چې که چيرته په دې کې يو په بل سره بدل کړې شي په داسې طريقې سره چې اول صورت کې فاعل مؤخر کړې شي اوپه دوهم صورت کې فاعل مقدم کړې شي نو حصرِ مطلوب به تبديل شي لهذا په اول مثال کې فاعل مقدم کول واجب دي اوپه دوهم مثال کې فاعل مؤخر کول واجب دي .

وانما قلنا بشرط توسطها : په دې سره غرض دشارح **بشرط توسطها الخ** دقيد فائدې بيانوي چې دا شرط يې ددې وجې نه ولږول چې که چيرته مفعول په فاعل باندې د اِلاً سره مقدم کړې شي اودا وويل شي چې **ما ضرب الا عمروا زيد** نو ظاهره داده چې ددې معنی صحيح پاتې شوه يعنې ددې معنی به دا وي چې ضاربيت د زيد په عمرو کې بند دی ، ځکه چې حصر په دې کې کيږي چې کوم چې د اِلاً سره متصل وي او دلته د اِلاً سره متصل عمرو دي نو حصر به په عمرو کې وي ، لهذا حصرِ مطلوب به بدل نه وي ځکه چې کوم مفهوم د **ماضرب زيد الاعمرو** دي نو همدغه مفهوم د **ماضرب الاعمرواً زيد** هم دي لهذا دفاعل تقديم به په مفعول باندې واجب نه وي ، زيات نه زيات صفت دضربِ ددې دمکمل کيدو نه مخکې په يو څيز کې بندول لازم راځي ځکه چې اصل صفتِ مقصوره **علی عمرو** هغه مطلق ضرب نه دي بلکه هغه ضرب دي چې کوم زيد (فاعل) طرف ته مسند وي ، دې ته **قصر الصفة قبل تمامها** ويلې شي اودا اګر چې دبعضې نحويانو په نزد غير مستحسن دي ليکن نا جائز نه دي .

وانما قلنا الظاهر : چې کله لفظ **الظاهر** معرف باللام ذکر کړې شي نو ددې معنی به راجحه وي چې دا ترې معلوميږي چې په دې کې يو بل احتمال هم دي چې کوم مرجوح دي ، ليکن چې کله لفظ **ظاهر** نکره ذکر کړې شي نوداد دوهم احتمال فائده نه وي چونکې شارح **الظاهر** معرف باللام ذکر کړو نو ددې نه معلومه شوه چې په دې کې دوهم احتمال هم دي ، نو شارح **وانما قلنا**

سره ددې دوهم احتمال بيانوي چې ما الظاهر معناه ددې وجې نه وويل چې په دې کې دا احتمال هم کيدې شي چې ما ضرب الا عمروا زيد نو ددې معنی به دا وي چې ما ضرب احدا احدا الا عمروا زيد (نه دې وهلې هيچا ديو چا نه مګر صرف عمرو زيد) په دې صورت کې فاعل اومفعول دواړو صفت په بل کې دانحصار فايده ورکوي . يعنې ضاربيت دزيد انحصار په عمرو کې وي اوپه عمرو کې دمضروبيت انحصار په زيد کې وي اودا هم دمتکلم دمقصود خلاف دي ځکه چې دمتکلم مقصد په يوجانب کې حصر کول دي په دواړو طرفونو کې نه وي اوپه دې صورت کې حصر دجانبينو نه دي

څلورم صورت : چې کلمه مفعول د إلاّ دمعنی نه پس واقع وي نو دفاعل په مفعول باندې تقديم هم ددريم صورت په شان ددې وجې نه واجب دي چې حصر مطلوب منقلب اوبدل نه شي مثلاً انما ضرب زيد عمروا کې مقصود ضاربيت دزيد په عمرو کې منحصر دي ځکه چې حصر په آخري جز کې وي او آخري جز عمرو دي ، که چيرته فاعل مؤخر کړي اودا ووايې چې انما ضرب عمروا زيد نو په دې وخت کې دعمرو دمضروبيت انحصار به په زيد کې وي حالاتکه مقصود ضاربيت د زيد انحصار دي په عمرو کې لهذا دفاعل تقديم په مفعول باندې واجب دي ددې دپاره چې حصر مطلوب منقلب اوبدل نه شي .

دفاعل دتاخير وجوبي ځايونه :

وَ اِذَ اِتَّصَلَ بِهِ اَىْ بِالْفَاعِلِ ضَمِيْرُ مَفْعُوْلٍ نَحْوُ ضَرَبَ زَيْداً غُلَامُهُ اَوْ وَقَعَ اَيِ الْفَاعِلُ
اوکله چې متصل شي ددې پورې يعنې دفاعل پورې ضمير دمفعول لکه ضرب زيدا غلامه يا واقع شي يعنې فاعل
بَعْدَ اِلَّا الْمُتَوَسِّطَةِ بَيْنَهُمَا فِيْ صُوْرَتِي التَّقْدِيْمِ وَالتَّاخِيْرِ نَحْوُ مَا ضَرَبَ عَمْراً اِلَّا زَيْدٌ وَفَائِدَةُ هٰذَا الْقَيْدِ مِثْلُ
پس دالا نه چې په مينځ کې وي په صورت دتقديم اودتاخير لکه ماضرب عمرا الازيد اوفائده ددې قيد په شان د
مَا عَرَفْتَ آنِفًا اَوْ وَقَعَ الْفَاعِلُ بَعْدَ مَعْنَاهَا اَىْ مَعْنَى اِلَّا نَحْوُ اِنَّمَا ضَرَبَ عَمْراً زَيْدٌ
هغه ده چې تاسو مخکې وپيژندله يا واقع وي دفاعل دمعنی نه پس يعنې دالا دمعنی نه پس لکه انما ضرب عمرا زيد
اَوِ اتَّصَلَ مَفْعُوْلُهُ بِهِ بِاَنْ يَّكُوْنَ الْمَفْعُوْلُ ضَمِيْراً مُتَّصِلاً بِالْفِعْلِ وَ هُوَ اَيِ الْفَاعِلُ
يا متصل وي مفعول ددې فعل پورې په دې شان چې وي مفعول ضمير متصل دفعل پورې اوهغه يعنې فاعل د
غَيْرُ ضَمِيْرٍ مُتَّصِلٍ بِهِ نَحْوُ ضَرَبَكَ زَيْدٌ وَجَبَ تَاخِيْرُهُ اَىْ تَاخِيْرُ الْفَاعِلِ عَنِ الْمَفْعُوْلِ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الصُّوَرِ
ضمير پورې متصل نه وي لکه ضربک زيد نو واجب دي تاخير ددې يعنې تاخير دفاعل دمفعول نه په دې ټولو صورتو

أَمَّا فِيْ صُوْرَةِ اِتِّصَالِ ضَمِيْرِ الْمَفْعُوْلِ بِهٖ لِئَلَّا يَلْزَمَ الْاِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ لَفْظاً وَ رُتْبَةً وَ أَمَّا فِيْ
کې هرچې په صورت داتصال دضمير دمفعول به نوددې وجې نه لازم نه شي اضمار قبل الذکر لفظااو رتبة اوهرچې په
صُوْرَةِ وُقُوْعِهٖ بَعْدَ اِلَّا أَوْ مَعْنَاهَا لِئَلَّا يَنْقَلِبَ الْحَصْرُ الْمَطْلُوْبُ وَ أَمَّا فِيْ صُوْرَةِ
صورت دوقوع کې دې پس دالااويا دمعنی دالانه نوددې وجې نه چې بدل نه شي حصر مطلوب اوهرچې په صورت
كَوْنِ الْمَفْعُوْلِ ضَمِيْراً مُتَّصِلاً وَالْفَاعِلُ غَيْرَ مُتَّصِلٍ لِمُنَافَاةِ الْاِتِّصَالِ الْاِنْفِصَالَ بِتَوَسُّطِ الْفَاعِلِ الْغَيْرِ
دکيدودمفعول کې ضمير متصل اوفاعل غير متصل نودوجې دمنافاة داتصال دانفصال سره په توسط دفاعل غير
الْمُتَّصِلِ بَيْنَهٗ وَ بَيْنَ الْفِعْلِ بِخِلَافِ مَا اِذَا كَانَ الْفَاعِلُ أَيْضاً ضَمِيْراً مُتَّصِلاً
متصل په مينځ ددې کې اوپه مينځ دفعل کې په خلاف دهغه صورت کې چې کله وي فاعل همدارنګې ضمير متصل
فَاِنَّهٗ حِيْنَئِذٍ يَجِبُ تَقْدِيْمُ الْفَاعِلِ نَحْوَ ضَرَبْتُكَ.
ځکه چې په دې وخت کې واجب دې تقديم دفاعل لکه ضربتک.

خلاصه دمتن: د واذا اتصل نه تر يجب تقديمه پورې غرض دصاحب دکافيې دهغو عوارضو بيانول دي چې دهغې په وجه دفاعل په مفعول باندې تاخيرواجب دي اوهغه عوارض څلور دي: (۱) دفاعل سره ضمير دمفعول متصل وي يعنې دفاعل سره داسې ضمير متصل وي کوم چې مفعول طرف ته راجع وي لکه ضرب زيدا غلامه . (۲) فاعل دالا نه پس واقع وي لکه ماضرب عمروا الازيد . (۳) فاعل دالا د معنی نه پس واقع وي لکه انما ضرب عمروازيد . (۴) مفعول ضمير متصل بالفعل وي اوفاعل ضمير متصل نه وي لکه ضربک زيد ، په دې څلورو ځايونو کې دمفعول په فاعل باندې مقدم کول واجب دي .

اغراض دجامي: بالفاعل: ددې نه غرض دشارح بيان دمرجع ده چې دبه ضمير مرجع فاعل دي .

المتوسطة: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: دسوال صورت داسې دې چې ستاسو داقاعده ماضرب الا زيد عمروا سره منقوضه اوماته ده ځکه چې په دې کې فاعل دالانه پس واقع دې سره ددې چې دفاعل تاخير په مفعول باندې واجب نه دي.

جواب: دفاعل دالا نه پس دواقع کيدو په صورت کې تاخير الفاعل عن المفعول وجوب دې په دې شرط چې الا دفاعل اومفعول دواړو په مينځ کې واقع وي په تقديم اوتاخيردواړوصورتونو

کې اوپه ذکر شوي مثال کې الا دفاعل اومفعول په مینځ کې واقع نه دي بلکې ددې دواړو نه مقدم دي لهذا ددې په ذریعه نقض او اعتراض نه واردیږي.

وقع الفاعل بعد: په دې کې دعطف دحاصل بیان دي چې ددې عطف په الا باندې دي.

معنی الا: په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دمرجع دي چې دمعناها ضمیر مرجع الا ده

بأن یکون: په دې سره غرض دشارح دمفعول سره دفعل دمتصل کیدو دصورت بیان دي چې مفعول ضمیر متصل بالفعل وي.

الفاعل: په دې سره غرض دشارح بیان دمرجع دې چې دضمیر مرجع فاعل دي.

ضمیر: په دې سره غرض دشارح بیان دترکیب دي چې متصل دموصوف محذوف صفت دي کوم چې ضمیر دي.

تاخیر الفاعل: په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دمرجع دې چې په تاخیره کې دضمیر مرجع فاعل دي.

عن المفعول: په دې کې دتاخیر دصلې بیان دي.

في جمیع هذه: په دې عبارت سره غرض دشارح دتاخیر دمحل بیان دي.

واما في صورة اتصال: په دې عبارت سره غرض دشارح په ذکرشوي څلورصورتونو کې دفاعل دمفعول نه دمؤخر کیدو دوجوب وجه بیانول دي:

اول صورت: چې کله مفعول ضمیر متصل بالفعل وي نودفاعل تاخیر ددې وجې نه واجب دي چې لفظاً اورتبةً اضمار قبل الذکر لازم رانه شي کوم چې ناجائزدي مثلاً ضرب زیدا غلامه په ځای ضرب غلامه زیدا ووایي نو په غلامه کې دضمیر مرجع زید دي کوم چې لفظاً هم مؤخردي اورتبةً هم،لفظاً تاخیرخویې ظاهردي اورتبتاً ددې وجې نه مؤخر دي چې هغه مفعول دي اومفعول دفاعل نه رتبتاًمؤخر وي نواضمارقبل الذکر لازم راغې کوم چې جائز نه دي.

دویم صورت: چې کله فاعل دالا نه پس واقع وي نودفاعل دتاخیر نه مفعول ددې وجې نه واجب دي چې حصرِ مطلوب منقلب اوبدل نه شي مثلاً ماضرب عمروا الازید ددې مطلب دادې چې مضروبیت د عمرو په زید کې بند دي که چیرته فاعل مقدم کړي اودا ووایي چې ماضرب زید الاعمروا نوددې مفهوم ضاربیت دزید په عمرو کې انحصار وي نودفاعل تاخیر دمفعول نه

واجب دي ددې دپاره چې حصر مطلوب منقلب اوبدل نه شي .

دريم صورت : چې كله فاعل دمعنى دالا نه پس واقع وي نو دفاعل تاخير ددې وجې نه واجب دي چې حصرِ مطلوب بدل نه شي لكه انما ضرب عمروا زيد چې ددې مطلب دادې چې مضروبيت دعمرو په زيد كې منحصر دي او كه چيرته فاعل مقدم كړي او داووايي چې انما ضرب زيد عمروا نو په دې وخت كې به مفهوم داوې چې ضاربيت دزيد په عمرو كې منحصر دي او داخلاف د مقصود دي نو دفاعل تاخير دمفعول نه واجب دي ددې دپاره چې حصرِ مطلوب منقلب اوبدل نه شي .

څلورم صورت : چې كله مفعول ضمير متصل بالفعل وي او دفاعل ضمير متصل نه وي نو د فاعل تاخير دمفعول نه واجب دي ځكه چې كه چيرته دفاعل تقديم جائز وي نو دضمير متصل منفصل كيدل به لازم راشي كوم چې جائز نه دي .

بخلاف ما: په دې كې غرض دشارح وهو غير متصل دقيد فائده بيانول دي چې كه چيرته فاعل هم ضمير متصل بالفعل وي نو دفاعل مؤخر كول جائز نه دي بلكه دفاعل په مفعول باندې تقديم واجب دي لكه ضربتك .

د فاعل د حذف جوازي بحث :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ الرَّافِعُ لِلْفَاعِلِ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ دَالَّةٍ عَلٰى تَعْيِيْنِ الْمَحْذُوْفِ
اوكله حذف كولى شي هغه فعل چې رفع وركوي فاعل ته دپاره دقيام دقريني چې دلالت كوي په تعين دمحذوف
جَوَازاً اَيْ حَذْفاً جَائِزاً فِيْ مِثْلِ زَيْدٌ اَيْ فِيْمَا كَانَ جَوَاباً لِسُؤَالٍ مُحَقَّقٍ لِمَنْ
باندې جوازاً يعني جائز حذف په دې مثال كې چې زيدٌ يعني په هغه څه كې چې وي جواب دپاره دسوال محقق دهغه چا د
قَالَ مَنْ قَامَ سَائِلاً عَمَّنْ يَقُوْمُ بِهِ الْقِيَامُ فَيَجُوْزُ اَنْ تَقُوْلَ
پاره چې ووايي چې څوک ولاړ دي يعني سائل دي دهغه چا باره كې چې قائم دي دهغه پورې قيام نو جائز دي چې ووايي
زَيْدٌ بِحَذْفِ قَامَ اَيْ قَامَ زَيْدٌ وَ يَجُوْزُ اَنْ تَقُوْلَ قَامَ زَيْدٌ بِذِكْرِهِ وَ اِنَّمَا قَدَّرَ
زيدٌ په حذف د قامَ سره يعني قام زيدٌ او جائز دي چې وايي قام زيدٌ په ذكر كولو د قام سره او په تحقيق سره مقدر كړو
الْفِعْلَ دُوْنَ الْخَبَرِ لِاَنَّ تَقْدِيْرَ الْخَبَرِ يُوْجِبُ حَذْفَ الْجُمْلَةِ وَتَقْدِيْرَ الْفِعْلِ حَذْفَ اَحَدِ جُزْأَيْهَا وَ التَّقْلِيْلُ فِي
فعل، نه خبر ځكه چې تقدير د خبر واجبوي حذف دجملې او تقدير دفعل واجبوي حذف كول يوجزد جملې او تقليل په
الْحَذْفِ اَوْلٰى وَ كَذَا يُحْذَفُ الْفِعْلُ جَوَازاً فِيْمَا كَانَ جَوَاباً لِسُؤَالٍ مُقَدَّرٍ نَحْوُ
حذف كې اولى دي او همدارنګې حذف كول د فعل جواز په هغه صورت كې چې وي جواب دسوال مقدر لكه دا

قَوْلِ الشَّاعِرِ فِيْ مَرْثِيَّةِ يَزِيْدَ بْنِ نَهْشَلٍ لِيُبْكَ عَلَى الْبِنَاءِ لِلْمَفْعُوْلِ يَزِيْدُ مَرْفُوْعٌ عَلٰى اَنَّهٗ مَفْعُوْلُ مَا لَمْ يُسَمَّ
قول د شاعر په مرثيه د يزيد بن نهشل کې ليبک مبني بر مفعول او يزيد مرفوع دي په دې شان چې دا مفعول مالم يسم
فَاعِلُهٗ ضَارِعٌ اَيْ عَاجِزٌ ذَلِيْلٌ وَ هُوَ فَاعِلُ الْفِعْلِ الْمَحْذُوْفِ اَيْ يَبْكِيْهِ ضَارِعٌ بِقَرِيْنَةِ السُّؤَالِ الْمُقَدَّرِ وَهُوَ
فاعله دي ضارع يعني عاجز او هغه فاعل دي دپاره د فعل محذوف يعني يبکيه ضارع په قرينې د سوال مقدر او هغه
مَنْ يَبْكِيْهِ وَ اَمَّا عَلٰى رِوَايَةِ لِيَبْكِ يَزِيْدُ عَلَى الْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ وَ نَصْبِ يَزِيْدَ فَلَيْسَ مِمَّا
مَن يبکيه دي او هر چې په روايت د ليبک يزيد مبني للفاعل دي او د يزيد د نصب روايت نو دا نه دي د هغه روايت نه په
نَحْنُ فِيْهِ لِخُصُوْمَةٍ مُتَعَلِّقٌ بِضَارِعٍ اَيْ يَبْكِيْهِ مَنْ يَذِلُّ
کوم کې چې مونږ وو د وجې د خصومت نه چې متعلق دي د ضارع پورې يعني يزيد ته هغه کس وژاړي چې څوک ذليل
وَ يَعْجِزُ عَنْ مُقَاوَمَةِ الْخُصَمَاءِ لِاَنَّهٗ كَانَ ظَهِيْرًا لِلْعَجَزَةِ وَ الْاَذِلَّاءِ وَ آخِرُ الْبَيْتِ وَ مُخْتَبِطٌ
وي او عاجز وي د انتقام د دشمنانو نه ځکه چې يزيد د عاجزا و د کمزورو خلکو مدد ګار وو او د شعر آخر دي چې ومختبط
مِمَّا تُطِيْحُ الطَّوَائِحُ الْمُخْتَبِطُ السَّائِلُ مِنْ غَيْرِ وَسِيْلَةٍ وَ الْاِطَاحَةُ الْاِهْلَاكُ وَ الطَّوَائِحُ جَمْعُ مُطِيْحَةٍ
مما تطيح الطوائح او مختبط بې وسيلې سوال کوونکي ته وايي او اطاحت هلاکولو ته وايي او طوائح د مطيحة جمع ده
عَلٰى غَيْرِ الْقِيَاسِ كَلَوَاقِحَ جَمْعُ مُلْقِحَةٍ وَ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِمُخْتَبِطٍ وَ مَا مَصْدَرِيَّةٌ يَعْنِيْ وَ يَبْكِيْهِ اَيْضًا
خلاف قياس لکه لواقح د ملقحة جمع ده او مما د مختبط متعلق دي او ما مصدريه ده يعني يزيد ته هغه کس هم وژاړي
مَنْ يَسْاَلُ بِغَيْرِ وَسِيْلَةٍ مِنْ اَجَلِ اِهْلَاكِ الْمُهْلِكَاتِ مَالَهٗ وَ مَا يَتَوَسَّلُ بِهٖ اِلٰى تَحْصِيْلِ
کوم چې سوال کوي بې وسيلې د وجې د هلاکيدو د مال د ده نه او د هغه څيز نه چې د کوم په ذريعه چې به ده حاصلولو
الْمَالِ لِاَنَّهٗ كَانَ مُعْطِيًا لِلسَّائِلِيْنَ بِغَيْرِ وَسِيْلَةٍ.
مال وجه ځکه چې داور کوونکي وو سائلينو ته په غير د وسيلې نه .

خلاصه د متن: د وقد يحذف الفعل نه د صاحب د کافيې غرض د فاعل د عامل احوال بيانول دي چې هغه فعل چې رافع للفاعل وي هغه په وخت د قيام قرينه جوازي کې حذف کولې شي لکه څوک ووايي چې من قام نو ددې په جواب کې وايي چې زيد نو زيد فاعل دي د فعل محذوف کوم چې قام دي په اصل کې دا وو قام زيد ،قام فعل يې حذف کړي او ددې په حذف باندې قرينه سوالِ محقق دي ،او دويم مثال د شاعر شعر دي : ليبک يزيد ضارع الخ : په دې شعر کې يبکيه فعل يې حذف کړي دي او ددې په حذف باندې قرينه سوال مقدر دي ځکه چې کله شاعر په خپل قول ليبک يزيد سره په يزيد باندې د ژړيدو حکم ورکړو نو ګويا چې سائل سوال کړي چې

مَن یبکیه ، څوک ژاړي، نو ده جواب ورکړو چې یاضارع یعني یبکیه ضارع

فائده دقریني متعلق : حذف کله جوازي وي اوکله وجوبي ، چې کوم ځاې کې حذف جوازي وي هلته دوه قرینې وي : (۱) لکه یواځې دقریني حذف یعني داسې قرینه وي چې دیو لفظ په حذف باندې دلالت کوي . (۲) دتعین دحذف قرینه یعني داسې قرینه چې داظاهره کړي چې دلته فلانې لفظ محذوف دي ، اوچیرته چې حذف وجوبي وي هلته ددې دوو نه غیر یوه دریمه قرینه هم کیدې شي .(۳) دریمه قرینه داده چې قائمقام دقریني وي یعني ددې محذوف لفظ کوم قائمقام هم موجود وي دلته زید مرفوع ویل دایواځې دحذف قرینه ده چې کله مرفوع وي نوکوم رافع به هم وي اودسائل دسوال تعین حذف دقرینې ده چې کله دقیام سره متعلق وي نوفعل محذوف به قام وي .

اغراض دجامي : الرافع للفاعل : په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : لکه څنګه چې دفعل حذف جائز دي همدارنګې دشبه فعل حذف هم جائزدي نومصنف دحذف تخصیص دفعل سره ولې وکړو ؟

سوال (۲) : دلته بحث داحوالودفاعل نه کیږي اوحذف دفعل خودفعل داحوالونه دي حالانکه مقصود د فاعل داحوالو نه بحث کول دي نودا خروج عن المبحث شو .

جواب دسوال (۱) : شارح الرافع للفاعل سره ددواړو سوالونو جواب ورکوي داول سوال جواب دادي چې دفعل نه مراد رافع للفاعل دي اودافعل اوشبه فعل دواړو ته شامل دي لهذا اول سوال دفع شو.

جواب دسوال (۲) : ددویم سوال جواب دادي چې که چیرته حذف دفعل دفعل داحوالو نه دي لیکن دلته دفعل نه مراد هغه فعل دي کوم چې رافع للفاعل وي اوچې کوم فعل رافع للفاعل وي هغه دفاعل د متعلقاتو نه دي لهذا په دې سره خروج عن المبحث نه شو.

دالة علی تعیین : په دې عبارت سره غرض دشارح ذیووهم لرې کول دي : وهم داوو چې دقرینې نه کیدې شي هغه قرینه مراد وي کوم چې دال وي په تعین دمعنی باندې لکه په مشترک کې چې وي که چیرته دامراد وي نوددې نه مقصود فوت کیږي ،شارح داوهم لرې کړو چې دقرینه نه

مراد دمحذوف په تعين باندې دلالت كوونكي قرينه ده اوقرينه دالة على تعين المعنى مراد نه ده .

اى حذفا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : جوازا مفعول مطلق دي ديحذف حالانكه په دې كې دمفعول مطلق شرط نه موندل كيږي دمفعول مطلق شرط دادې چې فعل دسابق مصدر وي دلته جوازاً ديحذف مصدر نه دي .

جواب : جوازا په اعتبار دموصوف محذوف سره مفعول مطلق دي كوم چې حذفاً دي اوحذفاً ديحذف مصدر دي .

جائزاً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : جوازاً دحذفاً صفت جوړول صحيح نه دي ځكه چې دصفت حمل په موصوف باندې كيږي او دلته دجوازا حمل په حذفاباندې صحيح نه دي ځكه چې دمصدر حمل په يوځيز باندې صحيح نه دي ځكه چې حذف جائزيږي نه جواز .

اى فيماكان: په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه سوالونو مقدرو جواب وركول دي :

سوال (۱) :په في مثل زيد كې دمثل دلفظ نه ثابتيږي چې حكم مذكور (حذف دفعل والا) زيد په مثل كې ثابت دي نه په خپله په عين زيد كې نوزيدبه خارج وي حالانكه داغلط دي ځكه چې حذف دعامل والاحكم په خپله په عين زيد كې موندل كيږي نه ددې په مثل كې .

سوال (۲) : مثال دممثل له دوضاحت دپاره وي اودوضاحت دپاره يومثال هم كافي وي مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ دوه مثالونه ولې ذكر كړل يو زيد اوبل ضارع ؟

جواب دسوال (۱) : په اى فيماكان سره جواب وركوي چې دمثل لفظ نه يوه قاعدې كليې طرف ته اشاره ده هغه قاعده كليه داده چې دمثل نه مرادهرهغه فاعل دي چې دسوال محقق په جواب كې واقع وي يا دسوال مقدر په جواب كې نوزيد په خپله هم په دې قاعده كې داخل دي لهذا دابه خارج نه وي .

جواب دسوال (۲) :ددويم سوال جواب په فيماكان جوابا لسوال محقق اومقدر سره په دې طريقې سره وركړي چې دلته دمثال تعدد دممثل له دتعدد په وجه دي يوممثل له جواب د سوال محقق دي ددې مثال زيد دي ، اودويم ممثل له جواب دسوال مقدر دي ددې مثال ضارع دي ددې وجې نه يې دوه مثالونه ذكر كړل .

سائلاً عمن یقوم : په دې عبارت سره غرض دشارح دفع دوهم ده وهم دا دې چې لمن قال من قام کې د من قام نه مراد دزید علم غیرمشهور دي اوزید علم مشهور دي نودقام زید مرادف دي لکه دماالغضنفر په جواب کې اسد وویل شي نودمن قام مطلب به داوي چې قام کوم کس دي نوددې په جواب کې وویل شو چې زید به مقصود وي چې دقام زید علم دي ددې نه مراد زید دي لهذا دلته په سوال کې فعل موجود نه دي په جواب کې هم دزید نه مخکې به فعل محذوف نه وي بلکه زید به خبر وي دمبتدا محذوف چې هُوَ دي .

جواب : سائلا عمن یقوم به القیام نه دشارح دجامي ددې سوال جواب ورکوي چې حاصل دجواب دادې چې دقام نه مراد هغه قام نه دي کوم چې دزید مرادف دي بلکې هغه قام مراد دي کوم چې فعل دي اود قیام نه مشتق دي لهذا په سوال کې فعل قام ذکر دي سائل ددې شخص متعلق سوال کوونکي دي چې دهغې سره دفعل قیام قائم دي نوپه جواب کې دزید نه مخکې هم همدافعل قام به محذوف وي نوپه دې صورت کې فعل حذف کول اوپواځې زید ویل هم جائز دي اوفعل ذکرکول اوقام زید ویل هم جائز دي .

فیجوز : په دې عبارت سره غرض دشارح داظاهرول دي چې په متن کې یجوز په معنی دجواز سره امکان خاص دي چې په دې کې دجانبینو نه ضرورت سلب کیږي نومطلب به داوي چې دفعل حذف هم ضروري نه دي اوعدم حذف (ذکرکول) یې هم ضروري نه دي .

وانما قدر : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : سوال دادې چې تاسو ویلي دي چې دمن قام په جواب کې دزید نه مخکې قام فعل محذوف دي مونږ وایو چې فعل محذوف نه دي بلکه زید مبتدا ده ددې نه پس قام خبر محذوف دي اودخبر محذوف منل اولی اوانسب دي ځکه چې په دې صورت کې به جواب دسوال مطابق وي په سوال کې من قام جمله اسمیه ده نوپه جواب کې به یې هم جمله اسمیه وي په خلاف ددې صورت چې ددې حذف دفعل دقبیلې نه جوړکړي شي اوویل شي چې زید فاعل دي ددې نه مخکې قام فعل محذوف دي په دې صورت کې به داجمله فعلیه وي اود سوال اودجواب په مینځ کې به مطابقت نه وي نودخبرحذف کولو والاصورت اولی کیدل په کاررو.

جواب : که چیرته دا حذف دفعل دباب نه جوړکړي شي نو دجملې یوجز یعني دمسند حذف لازم راځي اوکه چیرته دخبر د حذف دباب نه جوړکړي شي نو دمکمل جملې حذف لازم راځي نو دفعل دحذف په صورت کې **تقلیل في الحذف** او دخبر دحذف په صورت کې **تکثیر في الحذف** دي او**تقلیل في الحذف** اولی وي د**تکثیر في الحذف** نه ، پاتې شو دا سوال چې په دې صورت کې جواب دسوال مطابق نه راځي نو ددې جواب دادې چې **من قام** اګرچې صورةً جمله اسمیه ده لیکن معناً جمله فعلیه ده ځکه چې د**من قام** معنی ده **اقام زید ام عمر ام جواد ام حمید الخ** چونکې دهرفرد متعلق سوال کول محال وو نو ددې وجې نه دا سې عام الفاظ راوړل شو کوم چې تولو افرادوته شامل دي چې هغه **من** دي بیاچونکې **من** استفهامیه دي کوم چې تقاضا کوي دصدارت دکلام ددې وجې نه دایې مقدم کړو .

وکذا : په دې عبارت سره غرض دشارح دعطف دحاصل بیان دي چې حاصل یې دادې چې لکه څنګه د هغه فاعل دفعل حذف کول جائزدي کوم چې دسوال محقق په جواب کې واقع وي همدارنګې دهغه فاعل فعل حذف کول هم جائزدي چې دسوال مقدر په جواب کې واقع وي اوحذف دفعل په قرینې دسوال محقق مثال خو مخکې ذکرشوي دي اوحذف دفعل په قرینې دسوال مقدر مثال په دې شعر سره ورکوي چې کوم ضرار بن نهشل دخپل وروریزید بن نهشل په مرثیه کې ویلې دي ، شعر دادې چې :

لیبک یزید ضارع لخصومة و مختبط مما تطیح الطوائح

على البناء للمفعول : په دې عبارت سره غرض دشارح دصیغې بیان دي چې دا صیغه مجهول ده معلومه نه ده دا قیدیې ددې وجې نه ولږول چې دا شعر محل دا ستشهاد جوړشي ، ځکه چې کله داپه صیغې دفعل مجهول وي نو **یزید** به نائب فاعل وي او**ضارع** به مرفوع وي په دې بناء باندې چې دا فاعل دي دفعل محذوف د**یبک** ، که چیرته **لیبک** په صیغې دفعل معروف سره وي نو **یزید** به منصوب وي دمفعول به کیدو په بناء باندې او**ضارع** به مرفوع وي دفاعل کیدو په بناء باندې نوپه دې صورت کې به **ضارع** دفعل محذوف فاعل نه وي لهذا دازموږ دبحث نه خارج دي .

مرفوع : په دې عبارت کې شارح د**یزید** اعراب سره دوجې دا عراب بیان کوي چې **یزیدُ** مرفوع دي په دې بناء باندې چې دامفعول مالم یسم فاعله دي .

اي عاجز ذليل: په دې عبارت سره غرض دشارح دضارع معنی متعين کول دي ځکه چې دضارع دوه معنی ګاڼې دي : (۱) په معنی دمشابه سره (۲) اودويم په معنی دعاجز اوذليل سره نوشارح دويمه معنی متعينه کړه چې هغه عجز اوذلالت دي .

وهو فاعل: په دې عبارت سره غرض دشارح مثال دممثل له سره منطبق کول دي چې ضارع فاعل دي دفعل محذوف چې کوم يبکيه دي په اصل کې وو يبکيه ضارع ددې په حذف کولو باندې قرينه سوال مقدر دي اوهغه من يبکيه دي .

واما على رواية: په دې عبارت سره غرض دشارح على البناء للمفعول دقيد فائدې بيانوي چې داقيد يې ددې وجې نه ولږول چې که چيرته ليبک دفعل معروف صيغه وي نويزيد به منصوب وي دمفعول به کيدو په بناء باندې اوضارع به مرفوع وي دفاعل کيدو په بناء باندې چونکې ضارع په دې صورت کې فعل محذوف دفاعل نه وي لهذا دازمونږ دبحث نه خارج دي .

سوال : که چيرته دا ليبک مبني للفاعل وويل شي اويزيد مفعول جوړ کړي شي نودحذف ارتکاب به هم لازم رانه شي اومقصد چې کوم ديزيد ژړل دي هغه به هم پوره شي .

جواب : که چيرته ليبک مبني للفاعل يعنې په صيغې دمعروف سره وويل شي نو اشتغال بمالا يعني لازم راتلو ځکه چې علامه ابن حاجب دفعل دحذف مثال بيانول اودمعروف ويلو په صورت کې دلته حذف نه وي لهذا دلته دامثال دهغه روايت نه په کوم کې چې مونږ يو دهغې نه به خارج شي .

متعلق بضارع: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د لخصومة دمتعلق په باره کې دوه احتماله دي يابه دامتعلق وي ديبکي اويا دضارع اودا دواړه احتماله صحيح نه دي ، اول احتمال ددې وجې نه صحيح نه دي چې په لخصومة کې لام اجليه اوتعليليه دي اودلام اجليه مدخول دماقبل دپاره علت جوړيږي په لخصومة کې يزيد بن نهشل دمرثيې علت جوړيدو صلاحيت نشته ، اودويم احتمال ددې وجې نه صحيح نه دي چې که چيرته داد ضارع متعلق کړو نوبه اسم فاعل باندې به په غيرداعتماد نه عمل کول لازم راشي کوم چې جائز نه دي .

جواب : مونږ دويم شق اختيار رووچې لخصومة دضارع متعلق دي باقي پاتې شو داسوال چې په

اسم فاعل باندې په په غير داعتماد نه عمل كول لازم راشي نو ددې جواب دادې چې داد ضارع صفت دي د موصوف محذوف شخص په شخص باندې اعتماد كولو سره د ضارع عمل كوي نو عبارت به داسې شي چې يبكيه شخص ضارع .

يبكيه : په دې عبارت سره غرض د شارح د اول مصرعې معنى بيانول دي چې ژاړي يزيد ته عاجز او ذليل د خصومت په وخت كې ځكه چې يزيد د عاجزو او كمزورو خلكو مددګار وو .

والمختبط : په دې سره غرض د شارح د مختبط معنى بيانول دي چې د مختبط معنى ده بې وسيلې سوال كوونكي . د

الاطاحة : په دې عبارت سره غرض د شارح د اطاحة معنى بيانول دي چې د اطاحة معنى اهلاك (يعنې هلاكول) دي

والطوائح : دا د مطيحة خلاف قياس جمع ده لكه لواقح داخلاف قياس جمع ده د ملحقة ځكه چې د قياس تقاضا داوه چې طوائح د طائحة جمع وي نه د مطيحة لكه نواصر د ناصرة جمع ده ، د مطيحة جمع د قياس موافق مطيحات راتلل په كاروو ځكه چې د مفعلة جمع مفعلات راځي لكه مكرمة چې د دې جمع مكرمات راځي ليكن دلته خلاف قياس د طوائح جمع مطيحة جوړه كړې ددې د پاره چې فساد د معنى لازم رانه شي .

مما : د مختبط متعلق دي او ما مصدريه ده ما موصوله نه دي چې د عائد في الصلة د عدم موجودګۍ اعتراض واردوي ، چې هغوي د فعل يعنې تطيح د مصدر په تاويل سره ګرځولې ده .

ايضاً : په دې عبارت سره غرض د شارح د شعر د دويمې مصرعې معنى بيانول دي چې ده ته هغه شخص هم وژاړي كوم چې سائل وي بې وسيلې په وجه د هلاك كولو د مهلكاتو د مال د ده او په وجه د هلاكولو د ذرائعو د حاصلولو د مال ، ځكه چې يزيد بې وسيلې سوال كوونكو ته مال وركوي .

د فاعل د حذف وجوبي بحث :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ الرَّافِعُ لِلْفَاعِلِ لِقَرِيْنَةٍ دَالَّةٍ عَلَى تَعَيُّنِهِ وُجُوْبًا دد
او كله كله حذف كيږي هغه فعل چې رفع وركوي فاعل ته دوجې د قرينې نه چې دلالت كوي په تعين د فعل وجوبا
اَيْ حَذْفًا وَاجِبًا فِيْ مِثْلِ قَوْلِهِ تَعَالٰى وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ اَيْ فِيْ كُلِّ مَوْضِعٍ حُذِفَ
يعنې حذف واجب په مثل د دې قول د الله تعالى كې وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ يعنې په هر هغه ځاى كې چې حذف

الْفِعْلُ ثُمَّ فُسِّرَ لِرَفْعِ الْإِبْهَامِ النَّاشِئِ مِنَ الْحَذْفِ فَإِنَّهُ لَوْ ذُكِرَ الْمُفَسَّرُ لَمْ
شي فعل بيا تفسير و كړې دوجې د رفعې دابهام نه چې پيدا دي د حذف نه ځکه چې که چيرته ذکرشي مفسر نونه به شي
يَبْقَ الْمُفَسِّرُ مُفَسِّراً بَلْ صَارَ حَشْواً بِخِلَافِ الْمُفَسَّرِ الَّذِيْ فِيْهِ اِبْهَامٌ بِدُوْنِ حَذْفِهِ فَإِنَّهُ يَجُوْزُ
پاتې مفسر مفسر بلکې ګرځي بې فايدې په خلاف د هغه مفسر چې په کې ابهام وي په غير د حذف د دې نه ځکه چې جائز
الْجَمْعُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ مُفَسِّرِهٖ كَقَوْلِكَ جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَيْ زَيْدٌ فَتَقْدِيْرُ الْاٰيَةِ وَاِنِ اسْتَجَارَكَ اَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ
ده جمع په مينځ د مفسَر او مفسِر کې لکه دا قول چې جاءني رجل يعني زيد نو تقدير د آيت وَاِنِ اسْتَجَارَكَ اَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ
اسْتَجَارَكَ فَاَحَدٌ فِيْهَا فَاعِلُ فِعْلٍ مَحْذُوْفٍ وُجُوْبًا وَهُوَ اسْتَجَارَكَ الْاَوَّلُ الْمُفَسَّرُ بِاسْتَجَارَكَ
اسْتَجَارَكَ نو احد په دې کې فاعل د فعل محذوف دې وجوبا او هغه اسْتَجَارَكَ اول دې چې تفسيريږي شوې په اسْتَجَارَكَ
الثَّانِيْ وَ اِنَّمَا وَجَبَ حَذْفُهُ لِاَنَّ مُفَسِّرَهُ قَائِمٌ مَقَامَهُ مُغْنٍ عَنْهُ
دويم سره او په تحقيق سره واجب دې حذف د دې ځکه چې مفسر د دې قائم دې په ځاى د دې چې د دې نه مستغني دي
وَلَا يَجُوْزُ اَنْ يَكُوْنَ اَحَدٌ مَرْفُوْعاً بِالْاِبْتِدَاءِ لِاِمْتِنَاعِ دُخُوْلِ حَرْفِ الشَّرْطِ عَلَى الْاِسْمِ بَلْ لَا بُدَّ
او نه دې جائز چې شي احد مرفوع بناء برابتدائيت دوجې د امتناع د دخول حرف الشرط نه په اسم باندې بلکه لابدي
لَهٗ مِنَ الْفِعْلِ.
ده د دې د پاره فعل .

خلاصه دمتن: هغه فعل چې رافع للفاعل وي نو په وخت د قرينې کومه چې د محذوف په تعيين باندې دلالت کوي په وجوبي طور سره هم حذف کولې شي لکه د الله تعالى دا قول چې: ﴿وَاِنِ اسْتَجَارَكَ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ په دې کې د احد نه مخکې استجارک فعل په وجوبي طور باندې حذف کړي دي ځکه چې په آخر کې د دې قائمقام لفظ د استجارک موجود دي د عبارت تقدير داسې دي چې وان استجارک احد من المشركين استجارک .

اغراض دجامي: وجوبا: د مصنف قول وجوبا په جوازا باندې عطف دي .

وقد يحذف: په دې عبارت سره غرض د شارح حاصل د عطف بيانوي چې د ماتن قول وجوبا عطف دي په جوازاً باندې ځکه چې شارح د جامي د دې ټولو قيودا تو د لته اعاده کړې چې: کوم ذکريې د جوازا لاندې کړي وو حاصل دا دې چې هغه فعل کوم چې رافع للفاعل وي دا په وخت د قرينې کې چې د محذوف په تعيين باندې دلالت کوي وجوبي طور باندې حذف کولې شي لکه د الله تعالى دا قول: ﴿وَاِنِ اسْتَجَارَكَ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ په دې کې د احد نه مخکې فعل

استجارک یې حذف کړي دي .

حذفاً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : حذفاً مفعول مطلق دي حالانکه په دې کې دمفعول مطلق شرط نه موندل کیږي دمفعول مطلق شرط دادې چې فعل دسابق مصدر وي او دلته داسې نه ده .

جواب : حذفاً په اعتبار دموصوف محذوف سره مفعول مطلق دي .

وجوباً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : وجوباً د حذفاً صفت جوړول صحیح نه دي ځکه چې دصفت حمل په موصوف باندې کیږي او دلته دوجوباً حمل په حذفاً باندې صحیح نه دي ځکه چې دمصدر حمل په یوڅیز باندې صحیح نه دي ځکه چې حذف جائز کیږي نه جواز .

في مثل قوله: په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده چې مثل مضاف دي او ددې مضاف الیه قوله تعالی محذوف دي .

اي في کل موضع: په دې کې دضابطې بیان دي چې دمثل نه مراد هرهغه ترکیب دي چې په هغې کې اول دیوې جوازې قرینې په وجه باندې فعل حذف کړي وي اوحذف کولو نه پس ابهام پیداشوي وي ددې ابهام دلرې کولو دپاره دویم فعل په طریقې دتفسیر سره ذکر کړي دي په داسې ترکیب کې دفعل حذف ددې وجې نه واجب دي چې که چیرته فعل ذکر کړي شي نو مفسر مفسر نه پاتې کیږي بلکې بې فائدې اوزائد کیږي اودمفسِر اومفسَر اجتماع ناجائز کیدو دوجې نه دمفسر ذکر صحیح نه وي بلکه حشوه اولغوه به شي .

بخلاف المفسر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مونږ دانه منو چې دمفسِر اودمفسَر اجتماع ممنوع ده بلکه جائزده لکه جاءني رجل اي زید په دې کې رجل مفسَر اوزید مفسِر دي اودواړه جمع دي .

جواب : دمفسَراودمفسِراجتماع په هغه وخت کې ممنوع ده چې کله مفسِر دیولفظ محذوف نه ابهام لرې کولواوددې دتفسیردپاره راشي یعني دابهام علت حذف وي که چیرته مفسِردیو لفظ مذکورنه د ابهام دلرې کولودپاره راغلې وي نوپه هغه وخت کې اجتماع جائزده اوپه مثال مذکورکې دمفسِرد ابهام علت حذف نه دي بلکه لفظ مذکوردرجل نکارت دي اودنکارت

دابهام دلرې کولو دپاره زید راوړل شو

فتقدير الآية: په دې عبارت کې غرض دشارح مثال په ممثل باندې تطبيق کول دي چې دآيت دعبارت تقدير وان استجارک احد من المشركين استجارک دی . احدٌ فاعل دی ددې فعل استجارک وجوبي طور باندې محذوف دی چې ددې تفسير په دویم استجارک سره شوی دی

وانما وجب حذفها: په دې عبارت سره غرض دشارح په مثال مذکورکې دفعل دحذف وجوبي وجه بيانوي چې دفعل حذف ددې وجې نه واجب دی چې مفسِر دمفسَر قائمقام کيدوسره ددې ذکر نه مستغني کوي .

ولايجوز: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال: داسې خو هم کيدې شي چې احد فعل محذوف دفاعل کيدو په بناء باندې مرفوع نه وي بلکه دمبتداء کيدو په بناء باندې وي .

جواب: احد دفاعل کيدو په بناء باندې مرفوع دی ددې نه مبتدا جوړول جائز نه دي ځکه چې ان حرف شرط دی اوحرف شرط په فعل باندې داخليږي په اسم باندې ددې دخول ممتنع دی او احد اسم دی ځکه چې دامبتدا نه شي کيدې بلکه دفعل محذوف فاعل دی .

د فعل او فاعل دواړو حذف کول :

وَ قَدْ يُحْذَفَانِ اَيِ الْفِعْلُ وَ الْفَاعِلُ مَعاً دُوْنَ الْفَاعِلِ وَحْدَهُ فِيْ مِثْلِ نَعَمْ جَوَابًا لِمَنْ
اوکله کله دواړه حذف کيږي يعني فعل اوفاعل يوځای نه يواځې فاعل په دې مثال کې چې نعم جواب دهغه چادپاره
قَالَ اَقَامَ زَيْدٌ اَيْ نَعَمْ قَامَ زَيْدٌ فَحُذِفَتِ الْجُمْلَةُ الْفِعْلِيَّةُ وَذُكِرَ نَعَمْ فِيْ مَقَامِهَا وَهٰذَا الْحَذْفُ جَائِزٌ
چې ووايي اَقام زيد يعني نعم قام زيد نو حذف شوه جمله فعليه اوذکرشو نعم په ځای ددې کې اوداحذف جائزدی په
بِقَرِيْنَةِ السُّؤَالِ لَا وَاجِبٌ لِعَدَمِ قِيَامِ مَا يُؤَدِّيْ مُؤَادَهُ فِيْ مَقَامِهِ كَالْمُفَسِّرِ
قرينې دسوال سره اوواجب نه دی ځکه چې د قام زيد په ځای داسې څيزنه دی قائم په شان دمفسرچې ددې مفهوم
فَيَلْزَمُ فِي الْكَلَامِ اِسْتِدْرَاكٌ وَ اِنَّمَا قُدِّرَتِ الْجُمْلَةُ الْفِعْلِيَّةُ لَا الْاِسْمِيَّةُ بِاَنْ يُقَالَ
اداکړي نولازم به شي په کلام کې استدراک اوبه تحقيق سره مقدرومنل شوه جمله فعليه نه جمله اسميه چې وويل شي
اَيْ نَعَمْ زَيْدٌ قَامَ لِيَكُوْنَ الْجَوَابُ مُطَابِقًا لِلسُّؤَالِ فِيْ كَوْنِهٖ جُمْلَةً فِعْلِيَّةً .
يعني نعم زيد قام ددې دپاره چې شي جواب مطابق دسوال سره په کيدو ددې کې جمله فعليه .

خلاصه دمتن: وقد يحذفان په دې عبارت سره غرض دصاحب دکافيې داظاهرول دي چې

کله کله فعل او فاعل دواړه هم حذف کیږي لکه نعم دهغه کس په جواب کې چې ووايي اقام زيد ددې تقدير دعبارت نعم قام زيد دي په دې کې قام زيد حذف کړو اونعم يې په ځاې يې نعم ذکر کړو .

اغراض دجامي : اى الفعل والفاعل : په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمرجع دى چې په يحذفان کې د هما ضمير مرجع فعل اوفاعل دواړه دي .

دون الفاعل : داې وويل شارح ديو وهم ازاله وکړه هغه وهم دادې چې لکه څنګه يواځې دفعل حذف کول اودفعل اوفاعل دواړو حذف کول جائزدي نوهمدارنګې يواځې دفاعل حذف هم شائد چې جائز وي نوشارح دون الفاعل وحده وويل ددې وهم ازاله يې وکړه چې يواځې دفاعل حذف جائزنه دي .

اى نعم : په دې عبارت سره غرض دشارح مثال په ممثل له باندې تطبيق کول دي چې نعم په اصل کې نعم قام زيدوجمله فعليه يعنې قام زيديې حذف کړه اونعم يې ددې په ځاې ذکرکړو .

وهذا الحذف : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دې حذف ته هم دمخکنې حذف په شان واجب کيدل په کاروو ځکه چې قام زيد جمله يې حذف کړي اونعم يې ددې قائمقام جوړکړي وي اوچې چيرته دمحذوف قائمقام موجودوي هلته ددې حذف کول واجب وي .

جواب : نعم دحرف کيدو دوجې نه غير مستقل دي اوقام زيد دجمله کيدو دوجې نه مستقل دي او غير مستقل دمستقل قائمقام نه شي کيدې لهذا نعم ، دقام زيد په ځاې واقع کيدوسره ددې مفهوم کماحقه نه شي اداکولې لکه دمفسِر دذکرکولونه پس دمفسَر دذکر کولوضرورت نه پاتې کيږي بلکه که چيرته مفسَر ذکر کړي شي نواستدراک لازم راځي .

په بل عبارت سره ددې جواب داهم ورکولې شي چې قائمقام په دوه قسمه دي : (۱) مؤدي الى اصل المعنى يعنې داصل معنى اداکولو والا .(۲) مشير الى اصل المعنى يعنې اصل معنى ته صرف اشاره وکړي اواصل معنى ادا نه کړي ، په اول کې اجتماع دمفسر په مفسر سره جائز نه ده لکه مخکنې مثال استجارک کې تير شوي اوپه دويم کې اجتماع دمفسر په مفسر سره جائز ده لکه د نعم په صورت کې نوپه دې کې حذف جوازي به وي وجوبي به نه وي .

وانما قدرت: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دا حذف دجملې فعلیې دباب نه جوړه کړو دجملې اسمیې دباب نه یې ولې جوړنه کړو چې دایې ویلې وي چې ددې تقدیر نعم زید قام دي .

جواب :اولی خوداوه چې جواب دسوال مطابق وي اودلته سوال جمله فعلیه ده که چیرته ددې حذف د جملې فعلیې دباب نه ومني نو جواب به دسوال مطابق وي اوکه چیرته ددې حذف د جملې اسمیې د باب نه ومني نوجواب به دسوال مطابق نه وي ددې وجې نه ددې حذف دجملې فعلیې دباب نه ومنه .

د تنازع الفعلین بحث :

وَ اِذَا تَنَازَعَ الْفِعْلَانِ بَلِ الْعَامِلَانِ اِذِ التَّنَازُعُ يَجْرِیْ فِیْ غَيْرِ الْفِعْلِ اَيْضًا
اوچې کله تنازع وکړي دوه فعله بلکې دوه عامله ځکه چې تنازع جاري کیږي په غیر دفعل کې همدارنګې لکه
نَحْوُ زَيْدٌ مُعْطٍ وَ مُكْرِمٌ عَمْرًوا وَ بَكْرٌ كَرِيْمٌ وَ شَرِيْفٌ اَبُوْهُ اِقْتَصَرَ عَلَى الْفِعْلِ لِاَصَالَتِهٖ فِي الْعَمَلِ وَ
زید معط ومکرم عمروا وبکر کریم وشریف ابوه نواکتفاء یې وکړه په فعل باندې دوجې داصل کیدونه په عمل کې او
اِنَّمَا قَالَ الْفِعْلَانِ مَعَ اَنَّ التَّنَازُعَ قَدْ يَقَعُ فِي اَكْثَرَ مِنْ فِعْلَيْنِ اِقْتِصَارًا
په تحقیق سره یې وویل الفعلان سره ددې نه چې تنازع کله کله واقع کیږي زیات ددوه فعلینونه نواکتفاء یې و
عَلَى اَقَلِّ مَرَاتِبِ التَّنَازُعِ وَ هُوَ الْاِثْنَانِ ظَاهِرًا اَیْ اِسْمًا ظَاهِرًا وَاقِعًا بَعْدَهُمَا اَیْ بَعْدَ
کړه په کمه مرتبه دتنازع باندې اوهغه دوه دي ظاهر یعني په اسم ظاهر کې چې واقع وي پس ددې دواړو نه یعني پس د
الْفِعْلَيْنِ اِذِ الْمُتَقَدِّمُ عَلَيْهِمَا اَوِ الْمُتَوَسِّطُ بَيْنَهُمَا مَعْمُوْلٌ لِلْفِعْلِ الْاَوَّلِ اِذْ هُوَ يَسْتَحِقُّهٗ
دوه فعلینونه ځکه چې مقدم په دې دواړو یا په مینځ ددې دواړو کې معمول دې دپاره داول فعل ځکه چې دا مستحق
قَبْلَ الثَّانِيْ فَلَا يَكُوْنُ فِيْهِ مَجَالُ التَّنَازُعِ وَ مَعْنٰى تَنَازُعِهِمَا فِيْهِ اَنَّهُمَا
دی دمخکې دویم فعل نونشته په دې کې ګنجائش دتنازع اومعنی دتنازع ددې دواړو فعلونو په دې کې چې دا به په
بِحَسْبِ الْمَعْنٰى يَتَوَجَّهَانِ اِلَيْهِ وَ يَصِحُّ اَنْ يَكُوْنَ هُوَ مَعَ وُقُوْعِهٖ فِيْ ذٰلِكَ الْمَوْضِعِ مَعْمُوْلًا لِكُلِّ وَاحِدٍ
اعتبار دمعنی سره متوجه وي دې طرف ته اوصحیح ده چې وي دا سره دقوع ددې نه په دې ځای کې معمول دهر یو ددې
مِنْهُمَا عَلَى الْبَدَلِ فَحِيْنَئِذٍ لَا يُتَصَوَّرُ تَنَازُعُهُمَا فِي الضَّمِيْرِ الْمُتَّصِلِ لِاَنَّ الْمُتَّصِلَ
دواړو نه دبدلیت په طور نو په دې وخت کې نه متصور کیږي تنازع دفعلینو په ضمیر متصل کې ځکه چې هغه متصل
الْوَاقِعَ بَعْدَهُمَا يَكُوْنُ مُتَّصِلًا بِالْفِعْلِ الثَّانِيْ وَ هُوَ مَعَ كَوْنِهٖ مُتَّصِلًا بِالْفِعْلِ الثَّانِيْ
اوواقع وي وروسته ددې دواړونه نو وي به دا متصل ددویم فعل پورې اوهغه سره د کیدو ددې نه متصل دویم فعل

لَا يَجُوْزُ اَنْ يَكُوْنَ مَعْمُوْلًا لِلْفِعْلِ الْاَوَّلِ كَمَا لَا يَخْفٰى وَ اَمَّا الضَّمِيْرُ الْمُنْفَصِلُ الْوَاقِعُ

پورې نه ده جائز چې وي معمول دپاره داول فعل لکه څنګه چې دا خفي نه ده اوهرچې هغه ضمير منفصل چې واقع وي

بَعْدَهُ نَحْوُ مَا ضَرَبَ وَ اَكْرَمَ اِلَّا اَنَا فَفِيْهِ تَنَازُعٌ لٰكِنْ لَا يُمْكِنُ قَطْعُهُ بَيْنَهُمَا

پس د دې نه لکه ماضرب واکرم الا انانو په دې کې تنازع دفعلینو خو ده لیکن نه ده ممکن ختمول د دې په مینځ د دوي

هُوَ طَرِيْقُ الْقَطْعِ عِنْدَهُمْ وَهُوَ اِضْمَارُ الْفَاعِلِ فِي الْاَوَّلِ عِنْدَ الْبَصْرِيِّيْنَ وَفِي الثَّانِيْ عِنْدَ الْكُوْفِيِّيْنَ لِاَنَّهُ لَا يُمْكِنُ اِضْمَارُهُ

کې چې هغه اضمار د فاعل دې په اول کې په نزد دبصريانو او په دويم کې د کوفيانو څکه چې نه دې ممکن اضمار د دې

مَعَ اِلَّا لِاَنَّهُ حَرْفٌ لَا يَصِحُّ اِضْمَارُهُ وَلَا بِدُوْنِهٖ لِفَسَادِ الْمَعْنٰى لِاَنَّهُ

سره د الانه څکه چې دا داسې حرف دې چې نه صحيح کيږي اضمار د دې او نه د الانه غير د وجې د فساد د معنی څکه چې

يُفِيْدُ نَفْيَ الْفِعْلِ عَنِ الْفَاعِلِ وَ الْمَقْصُوْدُ اِثْبَاتُهُ وَ مُرَادُ الْمُصَنِّفِ بِالتَّنَازُعِ هٰهُنَا مَا يَكُوْنُ

دا فائده کوي نفي د فعل د فاعل نه او مقصود اثبات د فعل دې او مراد د مصنف په تنازع کې دلته هغه ده چې دهغې د

طَرِيْقُ قَطْعِهٖ اِضْمَارَ الْفَاعِلِ فَلِهٰذَا خَصَّهُ بِالْاِسْمِ الظَّاهِرِ وَ اَمَّا

ختمولو طريقه فاعل ته ضمير ورکول دي نو د دې وجې نه مصنف خاص کړه دا تنازع د اسم ظاهر پورې او هرچې هغه

التَّنَازُعُ الْوَاقِعُ فِي الضَّمِيْرِ الْمُنْفَصِلِ فَعَلٰى مَذْهَبِ الْكِسَائِيْ يَقْطَعُ بِالْحَذْفِ وَ اَمَّا عَلٰى مَذْهَبِ

تنازع چې واقع وي په ضمير منفصل کې نو په مذهب د کسائي باندې ختمولې شي په حذف باندې او هرچې په مذهب

الْفَرَّاءِ فَيَعْمَلَانِ مَعًا وَ اَمَّا عَلٰى مَذْهَبِ غَيْرِهِمَا لَا يُمْكِنُ قَطْعُهُ

د فراء باندې نو دواړه عمل کوي يو ځاې او هرچې په مذهب د غير د دې دواړو نه دې نو نه دې ممکن ختمول د دې تنازع

لِاَنَّهُ طَرِيْقُ الْقَطْعِ عِنْدَهُمُ الْاِضْمَارُ وَ هُوَ مُمْتَنِعٌ كَمَا عَرَفْتَ.

څکه چې د تنازع د ختمولو طريقه ضمير ورکول دي او هغه ممنوع دي لکه تا چې و پېژندل

خلاصه دمتن: د دې ځاې نه صاحب د کافيې د نمبريانو په مینځ کې يوه معرکة الآراء مسئله شروع کوې چې کله دوه يا زيات فعل چيرته په يو معمول کې چې اسم ظاهر وی تنازع او جګړه وکړي نو د دې معمول تعلق به د څلور قسمه جوړ وي، او د دويم فعل معمول به څوک جوړ وي چنانچه په ذکر شوي پورتني عبارت کې د تنازع او جګړې څلور صورتونه دي: (۱) دواړه فعله په فاعل کې جګړه کوي لکه ضربني واکرمني زيد . (۲) دواړه فعله په مفعول کې جګړه کوي لکه ضربت واکرمتُ زيدا . (۳) اول فعل د فاعل تقاضا کوي او دويم فعل د مفعول تقاضا کوي لکه ضربني واکرمت زيدا . (۴) اول فعل د مفعول تقاضا کوي او دويم فعل د فاعل تقاضا کوي لکه ضربت واکرمني زيد .

اغراض دجامي: بل العاملان: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: تنازع چې لکه څنګه په فعلینو کې کیږي همدارنګې په شبه فعل کې هم کیږي مثلا اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضیل وغیره لکه زید معط ومکرم عمروا په دې کې معط او مکرم دواړه اسم فاعل دي چې دواړه په عمروا کې تنازع کوي لکه څنګه چې په بکر کریم وشریف ابوه کې کریم اوشریف دواړه صفت مشبه دي کوم چې په ابوه کې تنازع کوي نودفعلان تخصیص صحیح نه دي.

جواب: دفعلان نه مراد عاملان دي اوعاملان فعل، شبه فعل ټولوته شامل دي

واقتصر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: چې کله دفعلان نه مراد عاملان دي نومصنف ته واذا تنازع العاملان ویل په کاروو چې اشکال نه وي نو الفعلان یې ولې وویل.

جواب: په فعل باندې یې ددې وجې نه اکتفاء وکړه چې فعل په عمل کې اصل دي اواسم فرعه ده ځکه چې دفعل وضع دهمدې عمل دپاره وي همدا وجه ده چې یو فعل هم غیرعامل نه دي.

واما قال: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: تنازع چې لکه څنګه په دوه فعلینو کې راځي همدارنګې ددوه فعلینو په زیاتوکې هم راځي لکه کما صلیت وسلمت وبارکت ورحمت وترحمت علی ابراهیم په دې کې په پنځم فعل علی ابراهیم کې تنازع کوي هر یو غواړي چې دازما تعلق جوړشي نو فعلان یې ولې وویل تنازع الافعال ویل په کاروو.

جواب: دفعلین ذکر دحصر دپاره نه دي بلکه مصنف دتنازع کم نه کمه مرتبه یې بیان کړې ده چې تنازع کم نه کم په دوه فعلینو کې کیږي دزیاتو څه حد نه شته.

ای اسماً ظاهراً: په دې کې شارح داظاهره کړې ده چې ظاهر ددوه شیانوپه مقابله کې راځي: (۱) د خفي په مقابله کې. (۲) دمضمر په مقابله کې، نو اسماً یې وویل شارح داظاهره کړه چې دلته

ظاهر د مضمر په مقابله کې دي همدارنګې ظاهراً صیغه د صفت ده کوم چې د موصوف تقاضا کوي په اسماً سره د موصوف حذف طرف ته یې اشاره کړې ده .

واقعاً: په دې عبارت سره شارح اشاره کړې چې **بعدهما** ظرف دي او د دې متعلق محذوف دي کوم چې **واقعاً** دي .

ای بعد الفعلین: په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د مرجع دي په **بعدهما** کې د **هما** ضمیر مرجع یې بیان کړې چې د **هما** ضمیر مرجع **بعد الفعلین** ده .

اذ المتقدم: په دې عبارت سره غرض د شارح د **بعدهما** د قید فائده بیانول دي چې دا قید یې د دې وجې نه ولړول چې که چیرته اسم ظاهر د فعلینو نه مقدم وي یا د فعلینو په مینځ کې واقع وي نو دا به د اول فعل معمول وي ځکه چې د دویم فعل دراتلو نه مخکې اول فعل د دې مستحق شوي دي لهذا په دې کې د تنازع ګنجائش نشته .

ومعنی تنازعهما: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د تنازع نسبت فعلینو طرف ته کول صحیح نه دي ځکه چې د تنازع معنی ده جګړه کول او جګړه او مخاصمه په ذي روح شیانو کې متصور کیږي او فعلین ذي روح نه دي .

جواب : دلته د تنازع معنی مخاصمت او جګړه کول نه دي بلکه تنازع په معنی د توجه سره ده نو معنی به یې داوي چې دوه فعله په اعتبار د معنی سره یو اسم ظاهر طرف ته متوجه وي او اسم ظاهر د فعلینو نه پس واقع وي علی سبیل البدلیة د هر یو معمول جوړ شي .

سوال : چې لکه څنګه تنازع د ذي روحو سره متحقق کیږي همدارنګې توجه هم د ذي روحو سره متحقق کیږي نو اولني اشکال بیا اعاده شو .

جواب : توجه مجازا د تعارض په معنی کې دي مطلب دا دې چې په اسم ظاهر کې د عمل کولو دپاره دوه فعله په خپلو کې متعارض وي .

علی سبیل البدل: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : چې کله اسم ظاهر د هر یو فعل معمول جوړیدې شي نو په دې صورت کې به **توارد المؤثرین علی اثر واحد** لازم راشي کوم چې جائز نه دي .

جواب : په **علی سبیل البدل** سره یې جواب ورکړو چې **معمول لکل واحد** نه مراد **معمول علی سبیل**

البدلية دي نه په طريقې داجتماع سره .

فحينئذ: په فحينئذ باندې فاء تفريعيه ده داپه ماقبل باندې دتفريع بيان دي چې کله داخبره معلومه شوه چې دتنازع دمتحقق کيدو دپاره ددوه امرونو موندل ضروري دي نوپه ضمير متصل کې تنازع نه متصور کيږي ځکه چې ضمير متصل که چيرته دفعلينو نه پس واقع وي نودابه ددويم فعل سره متصل وي اوکله چې ددويم فعل سره متصل شونوبيا داول معمول نه جوړيږي اونه دضمير متصل په منفصل باندې راتلل لازم راځي کوم چې جائز نه دي .

واما الضمير المنفصل الخ: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : تنازع دفعلينو لکه څنګه چې په اسم ظاهر کې متحقق کيږي همدارنګې په ضمير منفصل کې هم متحقق کيږي لکه ماضرب واکرم الا انا نوبيا دااسم ظاهر سره يې تخصيص ولې وکړو ؟

جواب : په ضمير منفصل کې اګرچې تنازع متحقق کيږي ليکن ددې تنازع رفع کول په هغه طريقه ممکن نه دي کومه طريقه چې نحويانودرفع دتنازع دپاره تجويز کړي ده اوهغه طريقه دبصرينو په نزد په اول فعل کې دفاعل ضمير راوړل دي اودکوفينو په نزد باندې په دويم فعل کې ضمير راويستل دي دلته په دې طريقه باندې تنازع ختمول ممکن نه دي ځکه چې دفاعل ضميردراويستلو دوه صورتونه دي : (۱) دالاسره . (۲) دالا نه په غير ، دالا سره اضمار ددې وجې نه جائزنه دي چې الا حرف دي اوحرف داضمار قابل نه وي اودالانه په غير هم ممکن نه دي ځکه چې فساد دمعنى لازم راځي ځکه چې په ذکر شوي مثال کې مقصود دفاعل دپاره دفعل اثبات دي که چيرته دالا نه په غير ضمير راوړي نودفاعل نه دفعل نفي کيږي چونکې په ضمير منفصل کې تنازع فعلين رفع کول داضمار په طريقه باندې نه دي اودمصنف مقصود دلته هغه تنازع بيانول دي چې دهغې رفع کول داضمار په طريقې باندې ممکن وي ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ دلته دااسم ظاهر تخصيص وکړو.

واما التنازع: داجمله مستانفه ده اوديو سوال مقدر جواب هم دي :

سوال : چې کله په ضمير منفصل کې په دې طريقه باندې دتنازع رفع کول ممکن نه دي چې کومه نحويانو تجويز کړي ده نوآيا په دې کې دتنازع درفع کولوکومه طريقه شته اويانه ؟

جواب : په دې کې اختلاف دي ، دامام کسائي وغيره مذهب دادې چې په ضميرمنفصل کې

د تنازع د رفع کولو طريقه حذف ده يعني د يو فعل فاعل به حذف کړي او دويم ته به عمل ورکړي . لهذا امام کسائي ماضرب واکرم الا انا کې د فاعل د حذف قايل دي په ده باندې اعتراض وشو چې د فاعل حذف کول خو جائز نه دي نو امام کسائي دده دا جواب ورکوي چې په عام وحالاتو کې د فاعل حذف کول صحيح نه دي ليکن چې کله دده نه غير د تنازع د رفع کولو کوم صورت باقي پاتې نه شي نو د فاعل حذف کول جائز دي اوامام فراء مذهب تشريک رافعين دي يعني دواړه فعله به يوځاې شي او فاعل ته به رفع ورکړي او دده نه غير باقي نحويان: د بصري او د کوفي په نزد دده د تنازع د رفع کولو طريقه د سره ممکن نه ده ځکه چې د هغوي په نزد د تنازع د رفع کولو طريقه اضمار دي او هغه ممتنع دي .

په امام فراء باندې هم اعتراض کيږي چې کله تشريک الرافعين جائز نه وي ځکه چې قاعده ده چې توارد العلتين المستقلتين على معمول واحد لايجوز ، په يو معمول کې د دوه علتونو وارديدل جائز نه دي ، امام فراء دده دا جواب ورکوي چې کله د تنازع د رفع کولو بله طريقه ممکنه صورت پاتې نه شي نو په دې وخت کې د دوه علتونو راوړل په يو معمول باندې جائز دي د مجبورۍ په اساس .

د تنازع الفعلين صورتونه :

فَقَدْ يَكُوْنُ اَىْ تَنَازُعُ الْفِعْلَيْنِ فِي الْفَاعِلِيَّةِ بِاَنْ يَقْتَضِيَ كُلٌّ مِنْهُمَا اَنْ يَكُوْنَ الْاِسْمُ الظَّاهِرُ فَاعِلًا لَهُ
او کله کله وي يعني تنازع د فعلينو په فاعليت کې چې تقاضا کوي هر يو دده چې وي دې اسم ظاهر فاعل دده د دواړه
فَيَكُوْنَانِ مُتَّفِقَيْنِ فِيْ اِقْتِضَاءِ الْفَاعِلِيَّةِ مِثْلُ ضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ وَقَدْ يَكُوْنُ تَنَازُعُهُمَا فِي الْمَفْعُوْلِيَّةِ بِاَنْ تَقْتَضِيَ
نو وي دا دواړه متفق په اقتضاء د فاعليت کې لکه ضربني واکرمني زيد او کله کله وي تنازع په مفعوليت کې چې تقاضا
كُلٌّ مِنْهُمَا اَنْ يَكُوْنَ الْاِسْمُ الظَّاهِرُ مَفْعُوْلًا لَهُ فَيَكُوْنَانِ مُتَّفِقَيْنِ فِيْ اِقْتِضَاءِ الْمَفْعُوْلِيَّةِ مِثْلُ
کوي هر يو دده چې وي دې اسم ظاهر مفعول دده د دواړه نو وي دا دواړه متفق په اقتضاء د مفعوليت کې لکه
ضَرَبْتُ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا وَقَدْ يَكُوْنُ تَنَازُعُهُمَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ وَالْمَفْعُوْلِيَّةِ وَذٰلِكَ يَكُوْنُ عَلٰى وَجْهَيْنِ اَحَدُهُمَا اَنْ يَقْتَضِيَ
ضربت واکرمت زيداً او کله کله وي تنازع د دوي په فاعليت او مفعوليت کې او دا وي په دوه وجهو يو دا چې تقاضا
كُلٌّ مِنْهُمَا فَاعِلِيَّةَ اِسْمٍ ظَاهِرٍ وَمَفْعُوْلِيَّةَ اِسْمٍ ظَاهِرٍ آخَرَ فَيَكُوْنَانِ مُتَّفِقَيْنِ فِيْ ذٰلِكَ الْاِقْتِضَاءِ مِثْلُ
کوي هر يو دده دواړو نه د فاعليت د اسم او دويم د مفعوليت د اسم ظاهر نو وي دا دواړه متفق په دې تقاضا کې لکه
ضَرَبَ وَاَهَانَ زَيْدٌ عَمْرًا وَلَيْسَ هٰذَا قِسْمًا ثَالِثًا مِنَ التَّنَازُعِ بَلْ هُوَ اِجْتِمَاعُ الْقِسْمَيْنِ الْاَوَّلَيْنِ وَثَانِيْهِمَا اَنْ يَقْتَضِيَ
ضرب واهان زيد عمروا او نه دي دا دريم قسم د تنازع بلکې دا اجتماع د اولني دوه قسمونو دا او دويم دا چې تقاضا کوي

أَحَدُ الْفِعْلَيْنِ فَاعِلِيَّةَ اِسْمٍ ظَاهِرٍ وَالْآخَرُ مَفْعُوْلِيَّةَ ذٰلِكَ الْاِسْمِ الظَّاهِرِ بِعَيْنِهٖ وَلَا شَكَّ فِيْ اِخْتِلَافِ اِقْتِضَاءِ

یو د دې فعلینو نه یو د فاعلیة د اسم ظاهر او بل د مفعولیت د دې اسم ظاهر بعینه او شک نشته په اختلاف د اقتضاء

الْفِعْلَيْنِ فِي الصُّوْرَةِ وَ هٰذَا هُوَ الْقِسْمُ الثَّالِثُ الْمُقَابِلُ لِلْاَوَّلَيْنِ فَقَوْلُهٗ مُخْتَلِفَيْنِ

د فعلینو په صورت کې او دا هغه دریم قسم دی چې مقابل دی دا ولو قسمونو نو دا قول د مصنف چې مختلفین نو دا د پاره

لِتَخْصِيْصِ هٰذِهِ الصُّوْرَةِ بِالْاِرَادَةِ يَعْنِيْ قَدْ يَكُوْنُ تَنَازُعُ الْفِعْلَيْنِ وَاقِعًا فِي الْفَاعِلِيَّةِ وَالْمَفْعُوْلِيَّةِ حَالَ

د تخصیص د دې صورت تر اراده پورې یعنې کله کله وي تنازع د فعلینو واقع په فاعلیت او مفعولیت کې په حال

كَوْنِ الْفِعْلَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ فِي الْاِقْتِضَاءِ وَ ذٰلِكَ لَا يُتَصَوَّرُ اِلَّا اِذَا كَانَ الْاِسْمُ الظَّاهِرُ

کون د دې کې چې وي دا دواړه فعلین مختلفین په اقتضاء کې او دا نه متصور کیږي مگر چې کله په اسم ظاهر کې

الْمُتَنَازَعُ فِيْهِ وَاحِدًا وَاِنَّمَا لَمْ يُوْرِدْ مِثَالًا لِلْقِسْمِ الثَّالِثِ لِاَنَّهٗ اِذَا اُخِذَ فِعْلٌ مِنَ الْمِثَالِ الْاَوَّلِ وَفِعْلٌ

متنازع فیه یو وي او رایې نه وړو مثال د پاره د دریم قسم ځکه چې کله واخستل شي یو فعل د اول مثال نه او یو فعل

مِنَ الْمِثَالِ الثَّانِيْ حَصَلَ مِثَالٌ لِلْقِسْمِ الثَّالِثِ وَذٰلِكَ يُتَصَوَّرُ عَلٰى وُجُوْهٍ كَثِيْرَةٍ مِثْلُ ضَرَبَنِيْ وَضَرَبْتُ زَيْدًا وَ

د دویم مثال نه نو حاصل به شي مثال د دریم قسم د پاره او دا متصور کیږي په ډیرو وجهو سره لکه ضربني وضربت زیداً و

اَكْرَمَنِيْ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا وَاَكْرَمَنِيْ وَضَرَبْتُ زَيْدًا وَغَيْرُ ذٰلِكَ مِمَّا يَكُوْنُ الْاِسْمُ الظَّاهِرُ مَرْفُوْعًا

اکرمني و اکرمتُ زیداً و ضربني و اکرمت زیدا و اکرمني وضربت زیدا او غیر د دې نه هغه چې اسم ظاهر مرفوع وي.

خلاصه د متن: په ذکر شوي پورتنې عبارت کې د تنازع الفعلین څلور صورتونه ذکر کړي شو چې د دې وضاحت په مخکنې متن کې شوي دي.

اغراض د جامي: فقد یکون: په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د اقسامو د تنازع دې چې تنازع په درې (۳) قسمه ده:

(۱) تنازع په فاعلیت کې وي (یعنې اول فعل د اتقاضا کوي چې اسم ظاهر دې زما د پاره فاعل شي او دویم فعل د اتقاضا کوي چې اسم ظاهر دې زما د پاره فاعل شي) لکه ضربني و اکرمني زید.

(۲) تنازع په مفعولیت کې وي (یعنې اول فعل د اتقاضا کوي چې اسم ظاهر دې زما د پاره مفعول شي او دویم فعل دا تقاضا کوي چې اسم ظاهر دې زما د پاره مفعول شي) لکه ضربت و اکرمت زیداً.

(۳) تنازع په فاعلیت او مفعولیت دواړو کې وي په دې طریقه باندې چې دواړه فعله من حیث الاقتضاء مختلف وي لکه ضربني و اکرمت زیداً.

تنازع الفعلین : په دې عبارت کې شارح دیکون دضمیر مرجع بیان کړه چې مرجع یې تنازع الفعلین دي .

بان یقتضي : په دې عبارت سره غرض دشارح دتنازع الفعلین في الفاعلیت صورت بیانول دي چې د تنازع في الفاعلیت صورت دادې چې دفعلینو نه هر یو ددې خبرې تقاضا کوي چې اسم ظاهر زما فاعل جوړ شي .

فیکونان : داپه ماقبل باندې دتفریع بیان دې چې په دې صورت کې فعلین په اقتضاء دفاعلیت کې متفق وي لکه ضربني واکرمني زید په دې کې دواړه فعل د ضربني او اکرمني زید دخپل فاعل جوړولو خواهشمند اوآرزومند دي اودواړه په زید کې متفق دي .

بان یقتضي : په دې عبارت سره غرض دشارح دتنازع في المفعولیت صورت بیانول دي چې دفعلینو نه هر یو ددې خبرې تقاضاکوي چې اسم ظاهر دې زما مفعول جوړ شي .

فیکونان : داپه ماقبل باندې دتفریع بیان دي چې تنازع في المفعولیت په صورت کې فعلین دمفعول دتقاضاکولو کې متفق وي لکه ضربت واکرمت زیدا په دې دواړه فعل ضربت او اکرمت ددې نه هر یو زید خپل مفعول جوړولو خواهش او آرزو لري اودواړه په اقتضاء دمفعولیت کې متفق دي په دې دواړو ځایونو کې د فیکونان متفقین داضافه کولو وجه داده چې دمصنف دقول مختلفین تقابل صحیح شي .

وذلک یکون : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : چې کله تنازع په فاعلیت اومفعولیت کې وي نوظاهره داده چې دادواړه فعله من حیث الاقتضاء مختلف وي لهذا دفاعلیت اومفعولیت نه پس د مختلفین ذکر کول مستدرک اوبې فائدې شو.

جواب : دتنازع في الفاعلیت والمفعولیت دوه صورتونه دي : (۱) دفعلینو نه هر یو فعل اسم ظاهر خپل فاعل جوړول غواړي اودویم اسم ظاهر خپل مفعول جوړول غواړي اوداپه دې طریقه باندې وي چې متنازع فیه اسم ظاهر دوه وي لکه ضرب واهان زید عمروا ، په دې مثال کې هر یو فعل زید خپل فاعل او عمروا خپل مفعول جوړولو تقاضاکونکي دي لیکن دا قسم دمذکوره دوه قسمونو اجتماع ده مقابل نه دي . (۲) دفعلینو نه هر یو فعل اسم ظاهر خپل فاعل جوړول

غواړي او دويم فعل همدا اسم ظاهر خپل مفعول جوړول غواړي په دې طريقې سره چې متنازع فيه اسم ظاهر يو وي لکه ضربني واکرمت زيد په دې مثال کې فعل اول ضربني زيد خپل فاعل جوړول غواړي اودويم فعل اکرمت ، زيد خپل مفعول جوړول غواړي په دې صورت کې دواړه فعل په اقتضاء کې مختلف دي ځکه چې دادويم قسم داول دوه قسمونو اجتماع نه ده بلکه مقابل دي نومصنف دې قسم دتخصيص دپاره خپل قول مختلفين اضافه وکړه .

يعني قد يکون: په دې عبارت کې شارح دريې خبرو طرف ته اشاره وکړه : (۱) دې خبرې طرف ته يې اشاره کړې چې دعامل معنیٰ هغه فعل دي کوم چې مستفاد وي دضمير نه کوم چې مصدر طرف ته راجع وي لهذا تقدير دعبارت داسې دي چې **قد يکون تنازع الفعلين واقعاً في الفاعلية والمفعولية حال کون الفعلين مختلفين في الاقتضاء** .

وانما لم يورد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ددې څه وجه ده چې مصنف داول قسم مثال يې هم ذکر کړې او ددوهم قسم مثال يې هم ذکر کړې ليکن دد ريم قسم مثال يې نه دي ذکر کړې .

جواب : شارح ددې نه دوه جوابه ورکړي دي :

جواب (۱) : دد ريم قسم مثال **سهل الحصول** وو ددې وجې نه مصنف ذکر نه کړو ، او **سهل الحصول** ددې وجې نه وو که چيرته داول قسم مثال نه يوفعل واخستل شي اوددويم قسم دمثال نه هم يوفعل واخستل شي نوددريم قسم مثال ترې جوړيږي لکه **ضربني واکرمت زيداً** .

جواب (۲) : **وذلک يتصور**: په دې عبارت سره غرض دشارح ددويم جواب بيان دي چې حاصل يې دادې چې ددريم قسم مثالونه ډير دي ددې اته مثالونه متصوركيدي شي : (۱) داول قسم دمثال نه اول فعل اوددويم قسم دمثال نه هم اول واخستل شي لکه **ضربني وضربت زيداً** . (۲) د اول قسم مثال نه دويم فعل اوددويم قسم دمثال نه هم دويم فعل واخستل شي لکه **اکرمني و اکرمت زيداً** . (۳) داول قسم دمثال نه اول فعل اوددويم قسم دمثال نه دويم فعل واخستل شي لکه **ضربني واکرمت زيداً** . (۴) داول قسم د مثال نه دويم فعل اوددويم قسم دمثال نه اول فعل واخستل شي لکه **اکرمني وضربت زيداً** . داڅلور صورتونه دي که چيرته دا څلور منعکس کړې شي چې عامل ناصب په رافع باندې مقدم کړې شي نو مزيد څلور مثالونه به حاصل شي :

(۱) ضربت وضربني زيداً (۲) اکرمت واکرمني زيداً (۳) اکرمت وضربني زيداً (۴) ضربت واکرمني زيداً ، چونکې ددې مثالونه ډير دي ددې وجې نه ددې خاص مثال يې ذکر نه کړو .

اختلاف د نحويانو :

فَيَخْتَارُ النُّحَاةُ الْبَصْرِيُّوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الثَّانِيْ لِقُرْبِهٖ مَعَ تَجْوِيْزِ إِعْمَالِ الْأَوَّلِ	نو غوره کوي نحويان د بصرې عمل ورکول دويم فعل ته دوجې د قربت نه سره د جائز کيدو نه عمل ورکول اول فعل ته
وَ يَخْتَارُ النُّحَاةُ الْكُوْفِيُّوْنَ الْأَوَّلَ أَيْ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ مَعَ تَجْوِيْزِ إِعْمَالِ الثَّانِيْ	او غوره کړي نحويانو د کوفې اول يعني عمل ورکول اول فعل ته سره د جائز کيدو نه عمل ورکول دويم فعل ته دوجې د
لِسَبْقِهٖ وَلِلْاِحْتِرَازِ عَنِ الْإِضْمَارِ قَبْلَ الذِّكْرِ.	سبقت نه او دخان ساتلو د اضمار قبل الذکر نه .

دمتن خلاصه : د فيختار نه صاحب د کافيې په تنازع د فعلينو کې اختلاف د نحويانو بيانوي چې حاصل يې دا دې چې د بصرې نحويان دويم فعل ته عمل ورکول راجح ګڼي دوجې د قرب او د نزدې والي نه ، خو اول فعل ته عمل ورکول هم جائز ګڼړي ، او نحويان د کوفې اول فعل ته عمل ورکول راجح ګڼړي دوجې د سبقت نه خو دويم فعل ته عمل ورکول هم جائز ګڼړي .

اغراض د جامي : النحاة : په دې عبارت سره غرض د شارح د حذف موصوف طرف ته اشاره کړي ځکه البصريون اسم منسوب دي او اسم منسوب د مشتق په حکم کې وي او اسم مشتق صيغه د صفت وي کوم چې د موصوف تقاضا کوي نو النحاة سره يې موصوف ذکر کړو همدارنګې دې خبرې طرف ته يې اشاره وکړه چې د البصريون نه مراد ټول بصريان نه دي بلکې نحويان د بصرې مراد دي .

الفعل : په دې عبارت سره شارح اشاره وکړه چې الثاني صفت دي د محذوف موصوف الفعل دپاره.

لقربه : په دې عبارت سره غرض د شارح د بصرې د نحويانو دليل بيانول دي .

دليل د بصريينو : د بصرې د نحويانو په نزد دويم فعل ته عمل ورکول اولی دي ځکه چې دويم فعل اسم ظاهر ته ډير نژدې دي او د الحق للجار قاعدې لاندې اقرب د مطلوب حاصلولو زيات مستحق دي ، لهذا دويم فعل ته عمل ورکول اولی دي (۲) همدارنګې اول ته عمل ورکولو سره د عامل او د معمول په مينځ فصل په اجنبي سره به لازم راشي کوم چې په باب د تنازع د فعلينو

کې ذکرېږي چې سره دي ليکن غير مستحسن دي

مع تجويز اعمال الاول: په دې عبارت سره شارح دا ظاهروي چې د مصنف عبارت **فيختار** کې اختيار په معنی د اولويت اود ترجيح سره دي نه په معنی د قطع او د جزم او لزوم سره مطلب دا دې چې د بصريانو په نزد دويم فعل ته عمل ورکول اولی اوراجح دي لازم او واجب نه دي ځکه چې اول فعل ته عمل ورکول هم جائز دي ګويا چې اختلاف په اولويت اوعدم اولويت کې دي نه په جواز اوعدم جواز کې .

ويختار النحاة: په دې عبارت سره غرض د شارح د عطف د تعين بيان دي چې دا **الكوفيون** عطف په **البصريون** باندې دې .

اعمال الفعل: په دې عبارت سره شارح دا وضاحت کوي چې **الاول** دا صفت دي د موصوف محذوف **الفعل** دپاره بيا موصوف اوصفت يوځای شو د مضاف محذوف دپاره مضاف اليه شو کوم چې اعمال دي .

مع تجويز اعمال الثاني: په دې عبارت سره شارح اشاره کړي ده د مصنف په عبارت کې دا ختيار نه مراد اختيار په طريقې د ترجيح سره دي نه په طريقې د قطعي او د لزوم سره ، لکه مخکې د دې ذکر شوي دي .

لسبقه: په دې عبارت سره شارح د کوفي د نحويانو دليل بيانوي :

د کوفيانو دليل

د کوفيانو دليل دا دې چې د دوي په نزد اول فعل ته عمل ورکول اولی دي ځکه چې اول فعل په طلب د معمول کې مقدم دي لهذا د مخکې کيدو دوجې نه معمول د فعل د حاصلولو زيات مستحق دي لکه په عام عرف کې ويلې شي چې مخکې راشي ، او مخکې خپل مقصود حاصل کړئ ، يعني اول راشي او مقصود د ټولو نه اول حاصل کړي ، او يا د عربي مقوله ده چې **الحق للمتقدم** ، حق د مخکني دپاره دي .

وللاحتراز: په دې عبارت سره شارح د کوفيانو دويم دليل بيانوي چې کله چيرته دويم فعل ته عمل ورکړل شي د تنازع د رفع کولو دپاره په اول فعل کې د فاعل ضمير راوړل شي نو په دې صورت کې به اضمار **قبل الذکر** راشي کوم چې جائز نه دي د دې وجې نه اول فعل ته عمل ورکول اولی دي .

د بصرينو په نزد د قطع د تنازع طريقه:

فَإِنْ أَعْمَلْتَ الْفِعْلَ الثَّانِيَ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الْبَصْرِيِّيْنَ بَدَأَ بِهِ لِأَنَّهُ الْمَذْهَبُ الْمُخْتَارُ

که چيرته عمل ورکړي دويم فعل ته لکه دا مذهب د بصرينو دي په دي يې شروع وکړه ځکه چې دا مختار مذهب دي

الْأَكْثَرُ اِسْتِعْمَالًا أَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِي الْفِعْلِ الْأَوَّلِ إِذَا اقْتَضَى الْفَاعِلَ لِجَوَازِ الْإِضْمَارِ قَبْلَ

او زيات مستعمل دي نو مضمر به کړي فاعل په اول فعل کې چې کله تقاضا د فاعل کوي دوجې د جواز د اضمار قبل

الذِّكْرِ فِي الْعُمْدَةِ بِشَرْطِ التَّفْسِيرِ وَلِلُزُومِ التَّكْرَارِ بِالذِّكْرِ وَامْتِنَاعِ الْحَذْفِ عَلَى وَفْقِ الْاِسْمِ الظَّاهِرِ الْوَاقِعِ بَعْدَ

الذکر په عمده کې په شرط د تفسير او د لزوم د تکرار په ذکر سره او امتناع د حذف موافق د اسم ظاهر چې واقع وي پس

الْفِعْلَيْنِ أَيْ عَلَى مُوَافَقَتِهِ إِفْرَادًا وَتَثْنِيَةً وَجَمْعًا وَتَذْكِيرًا وَتَأْنِيثًا لِأَنَّهُ مَرْجِعُ الضَّمِيرِ وَالضَّمِيرُ يَجِبُ أَنْ يَكُوْنَ

د فعلينو يعني د دې موافق مفرد، تثنيه، جمع، مذکر، مؤنث ځکه چې دا مرجع د ضمير ده او ضمير واجبوي چې دي

مُوَافِقًا لِلْمَرْجِعِ فِي هٰذِهِ الْأُمُوْرِ دُوْنَ الْحَذْفِ لِأَنَّهُ لَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْفَاعِلِ إِلَّا إِذَا سُدَّ

موافق د مرجع سره په دې امورو کې نه په حذف کې ځکه چې نه دي جائز حذف کول د فاعل مګر کله چې قائم شي يو

شَيْءٌ مَسَدَّهُ خِلَافًا لِلْكِسَائِيِّ فَإِنَّهُ لَا يُضْمِرُ الْفَاعِلَ بَلْ يَحْذِفُهُ تَحَرُّزًا

څيز قائمقام د دې خلاف ثابت دي د کسائي ځکه چې هغه نه مضمر کوي فاعل بلکې حذف کوي فاعل دوجې د ځان

عَنِ الْإِضْمَارِ قَبْلَ الذِّكْرِ وَ يَظْهَرُ أَثَرُ الْخِلَافِ فِي نَحْوِ ضَرَبَانِي وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ عِنْدَ الْبَصْرِيِّيْنَ

ساتلو د اضمار قبل الذکر نه او ظاهر يږي اثر د اختلاف په دې مثال کې لکه ضرباني واکرمني الزيدان په نزد د بصرينو

وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ عِنْدَ الْكِسَائِيِّ وَجَازَ أَيْ إِعْمَالُ الْفِعْلِ الثَّانِي مَعَ اقْتِضَاءِ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ الْفَاعِلَ

وضربني واکرمني الزيدان په نزد د کسائي او جائز دي يعني عمل ورکول دويم فعل ته سره د اقتضاء د اول فعل نه د فاعل

خِلَافًا لِلْفَرَّاءِ فَإِنَّهُ لَا يَجُوْزُ إِعْمَالُ الْفِعْلِ الثَّانِي عِنْدَ اقْتِضَاءِ الْأَوَّلِ الْفَاعِلَ

خلاف ثابت دي د فراء د پاره ځکه چې هغه نه جائزوي عمل ورکول دويم فعل ته په وخت د اقتضاء د اول فعل کې فاعل

لِأَنَّهُ يَلْزَمُ عَلَى تَقْدِيرِ إِعْمَالِهِ إِمَّا الْإِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الْجُمْهُوْرِ أَوْ حَذْفُ

له ځکه چې لازميږي په تقدير د عمل ورکولو دده کې يا اضمار قبل الذکر لکه دا مذهب د جمهورو دي او يا حذف د

الْفَاعِلِ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الْكِسَائِيِّ بَلْ يَجِبُ عِنْدَهُ إِعْمَالُ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ فَإِنِ اقْتَضَى الثَّانِي

فاعل لکه دا مذهب د کسائي دي بلکې واجب دي دده په نزد عمل ورکول اول فعل ته که چيرته تقاضا کوله دويم فعل

الْفَاعِلَ أَضْمَرْتَهُ وَ إِنِ اقْتَضَى الْمَفْعُوْلَ حَذَفْتَهُ أَوْ أَضْمَرْتَهُ تَقُوْلُ

د فاعل نو فاعل ته به ضمير ورکړي او که چيرته تقاضا کوله د مفعول نو مفعول به حذف کړي او يا به يې مضمر کړي نو

ضَرَبَنِي وَ أَكْرَمَانِي الزَّيْدَانِ وَلَا يَلْزَمُ حِيْنَئِذٍ مَحْذُوْرٌ وَ قِيْلَ رُوِيَ عَنْهُ

وايي به ضربني واکرماني الزيدان او نه دي لازم په دې وخت کې کومه خرابي او چا ويلي دي چې د دوي نه روايت شوي

تَشْرِيْكُ الرَّافِعَيْنِ اَوْ اِضْمَارُهُ بَعْدَ الظَّاهِرِ كَمَا فِيْ صُوْرَةِ تَاخِيْرِ النَّاصِبِ تَقُوْلُ ضَرَبَنِيْ وَ
دواړه عامل رافع شريکول يا مضمر کول پس داسم ظاهر نه لکه په صورة د تاخير د عامل ناصبه کې نو وايې به ضربني و
اَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ هُوَ وَ ضَرَبَنِيْ وَ اَكْرَمْتُ زَيْداً هُوَ وَرِوَايَةُ الْمَتْنِ غَيْرُ مَشْهُوْرَةٍ عَنْهُ وَحَذَفْتَ الْمَفْعُوْلَ
اکرمني زيد هو وضربني واکرمت زيدا هو او روايت د متن داغير مشهور دي دده نه او حذف به کړې مفعول دوجې د
تَحَرُّزًا عَنِ التَّكْرَارِ لَوْ ذُكِرَ وَعَنِ الْاِضْمَارِ قَبْلَ الذِّكْرِ فِي الْفُضْلَةِ لَوْ اُضْمِرَ اِنِ اسْتُغْنِيَ عَنْهُ وَ
خان ساتلو د تکرار نه که چيرته ذکر کړې شي او د اضمار قبل الذکر نه په فضله کې که چيرته مضمر کړې شي او که
اِلَّا اَىْ وَ اِنْ لَمْ يُسْتَغْنَ عَنْهُ اَظْهَرْتَ اَيِ الْمَفْعُوْلَ نَحْوُ
چيرته مستغني وي دده نه او که چيرته نه وي يعني که چيرته مستغني نه وي نو ظاهر به کړې يعني مفعول لکه
حَسِبَنِيْ مُنْطَلِقًا وَحَسِبْتُ زَيْدًا مُنْطَلِقًا لِاَنَّهُ لَايَجُوْزُ حَذْفُ اَحَدِ مَفْعُوْلَيْ بَابِ حَسِبْتُ وَلَا يَجُوْزُ اِضْمَارُهُ
حسبني منطلقا وحسبتُ زيداً منطلقا ځکه چې نه دي جائز حذف يو د مفعولينو د باب حسبت او نه دي جائز اضمار د دې
لِئَلَّا يَلْزَمَ الْاِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ فِي الْفُضْلَةِ .
ځکه چې لازم به نه شي اضمار قبل الذکر په فضله کې .

خلاصه دمتن: د دې ځاې نه صاحب د کافيې طريقه د قطع د تنازع په نزد د بصرينو د تفصيل بيان کوي چې که چيرته د بصري د نحويانو د مذهب مطابق دويم فعل ته عمل ورکړې نو کتلې به شي چې اول د فاعل تقاضا کوي يا د مفعول که چيرته د فاعل تقاضا يې کوله نو اول کې به د فاعل ضمير راوړې شي کوم چې په مفرد ،تثنيه ،جمع ،مذکر مؤنث کې د اسم ظاهر موافق وي.

خلافاً للکسائي: ليکن د امام کسائي په دې کې اختلاف دي هغه داوايي چې په اول فعل کې به فاعل حذف کولې شي ضمير به نه شي راوړې ځکه چې که چيرته ضمير راوړې شي نو اضمار قبل الذکر به لازم راشي کوم چې صحيح نه دي .

اغراض دجامي: **وجاز خلافاً للفراء**: د دې نه پس د امام فراء مسلک بيانوي چې که چيرته اول فعل د فاعل تقاضا کوي نو د جمهورو په نزد دويم فعل ته عمل ورکول هم جائز دي البته په راجح والي کې اختلاف دي ليکن امام فراء د جمهورو مخالفت کوي او وايي چې دويم فعل ته عمل ورکول دسره جائز نه دي بلکه اول فعل ته عمل ورکول واجب دي او که چيرته اول فعل د مفعول تقاضا کوي نو د بصري د نحويانو د مذهب مطابق د تنازع د رفع صورت دا دې چې دا به کتلې شي د مفعول د ذکر نه استغناء ده او که نه يعني مفعول که چيرته ذکر نه کړې شي نو کومه خرابي لازم راځي او که نه ، که چيرته استغناء وه نو د اول فعل مفعول به حذف منلې شي او دا به

ذكر كولې هم نه شي او ددې دپاره به ضمير هم نه شي راوړلې اوكه چيرته د مفعول ذكر نه استغناء نه راتله يعنې ددې ذكر كول ضروري وي نو داول فعل مفعول به ظاهرولې شي عدم استغناء به په هغه وخت كې وي چې كله دامفعول دافعال قلوبو ددوه مفعولونه ديو مفعول ثاني وي او ددې مفعول اول ذكروي ځكه چې په افعال قلوبو كې ضابطه اوقاعده داده چې ددې دوه مفعولونو نه د يو مفعول ذكر كول او ددوهم حذف كول جائز نه دي .

الفعل: په دې كې شارح داظاهروي چې الثاني داصفت دي دموصوف محذوف دپاره كوم چې الفعل دي

كما هو مذهب البصرين: په دې عبارت كې شارح دابيانوي چې داتفصيل دبصرينو دمذهب مطابق دي

وبدأ: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : مصنف په اجمال اوتفصيل كې دبصرينو مذهب ولې مقدم كړي ؟

جواب :چونكې دبصرينو مذهب مختار اوكثير الاستعمال وو نو ددې وجې نه يې دامقدم كړو .

الفعل: په دې عبارت سره غرض دشارح دابيانول دي چې الاول داصفت دي دموصوف محذوف دپاره كوم چې الفعل دي .

اذاقتضى الفاعل : دادمصنف دقول اضمرت الفاعل ظرف دي مطلب دادې چې كله اول فعل دفاعل تقاضا وكړي نو په اول فعل كې به دفاعل ضمير راوړلې شي .

لجواز الاضمار: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : كه چيرته دويم فعل ته عمل وركړې شي اوبه اول فعل كې دفاعل ضمير راوړې شي نوداضمير به وروسته اسم ظاهرطرف ته راجع وي نوددې نه اضمار قبل الذكر به لازم راشي كوم چې جائز نه دي .

جواب :اګرچې اضمار قبل الذكر لازم راځي ليكن فاعل په كلام كې عمده وي اوبه عمده كې اضمار قبل الذكرپه شرط دتفسير سره جائز دي يعنې كه چيرته دعمده في الكلام مخكې تفسير كيږي نوپه دې كې اضمار قبل الذكر جائز دي .

ولللزوم التكرار: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : دبصرې نحويان داضمار قبل الذكر ارتكاب ولې كوي حالانكې درفع دتنازع دپاره دوه طريقې نورې هم دي : (۱) داول فعل فاعل ذكر كول . (۲) داول فعل فاعل حذف منل .

جواب (۱) : كه چيرته درفع دتنازع دپاره فاعل ذكر كړې شي نو تكرار به لازم راشي كوم چې دفصاحت خلاف دي .

جواب (۲) : اوكه چيرته فاعل حذف ومنلې شي نوداهم غلط دي ځكه چې عمده في الكلام حذف كول ممنوع دي ، اوس درفع دتنازع يو صورت پاتې شو اوهغه ضمير راوړل ددې وجې نه بصرينو دا اختيار كړو .

الواقع بعد الفعلين: په دې عبارت كې شارح دابيانوي چې داسم ظاهر نه مراد هغه اسم ظاهر دي چې ددوه فعلينو نه پس واقع وي .

اى على موافقته: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : وفق مصدر باب مجرد دي حالانكه ددې باب مجرد غير مستعمل دي .

جواب : مصدر مجرد په معنى دمزيد سره ده وفق په معنى دموافقت .

ياپه بل عنوان چې دسوال صورت داسې دي چې دوفق معنى ده ددوه شيانوپه خپل مينځ كې مطابق اوموافق كيدل نودالفظ د نسب متكرره نه دي اوكوم لفظ چې دنسب متكرره نه وي هغه دمفاعله په وزن راځي لكه مضاربة يو بل وهل ، نوجواب يې وركړوچې دلته وفق په معنى دموافقت دي دقبيلې دذكركولومجردو اود اراده كولو دمزيد .

سوال : بياسوال وارديږي چې دضمير موافقت داسم ظاهر سره ناممكن دي ځكه چې ضمير هميشه معرفه وي اواسم ظاهر كله معرفه وي اوكله نكره .

جواب : نو په افرادوتثنيه سره يې جواب وركړو چې دموافقة نه موافقة في الافراد والتثنيه والجمع مراد دي نه في التعريف والتنكير .

لانه مرجع الضمير: په دې عبارت سره غرض دشارح په پينځو امورو مذكورو كې دضمير داسم ظاهرسره دموافقت دضروري كيدووجه بيان كړې ده چې دضميرمرجع اسم ظاهردي اوپه راجع او مرجع كې په دې پنځوامورومذكوروكې مطابقت واجبيږي ددې وجې نه ضميرپه دې پنځو

امورو کې داسم ظاهر سره موافق کیدل ضروري دي.

دون الحذف: غرض دصاحب دکافیې په دې عبارت سره دابیانول دي چې په اول فعل کې دفاعل دپاره به ضمیر راوړلې شي اودافاعل به حذف کولې نه شي.

لانه لایجوز: په دې عبارت سره ددې دلیل بیانوي چې دفاعل حذف ددې وجې نه جائز نه دي چې په دې صورت کې په اول فعل کې دفاعل ضمیردي کوم چې عمده دي لهذا که چیرته فاعل حذف کړي شي نو دعمده حذف به لازم راشي کوم چې جائز نه دي مګر چې کله ددې قائمقام موجود وي اودلته ددې قائمقام موجود نه دي نوددې وجې نه حذف جائز نه دي.

خلافاً للکسائي فانه لایضمر الفاعل: په دې عبارت سره غرض دشارح دکسائي داختلاف وضاحت کول دي کسائي وایي چې په اول کې به فاعل حذف منلې شي اوضمیر به نه شي راوړلې ځکه چې دضمیر په صورت کې به اضمار قبل الذکر لازم راشي اواضمارقبل الذکر دکسائي په نزد په عمده کې په شرط دتفسیر هم جائز نه دي.

ویظهر اثر الخلاف: په دې عبارت سره غرض دشارح دعامو نحویانودبصرې اودامام کسائي په مینځ کې داختلاف ثمره بیانول دي چې ددواړو په مینځ کې ثمره داختلاف په تثنیه اوجمع کې به ظاهر وي نه په مفرد کې ځکه چې دجمهورو نحویانو دبصرې په نزد په مفرد کې به ضربني واکرمني زید وي اودامام کسائي په نزد هم همدارنګې وي لیکن ثمره داختلاف په تثنیه اوجمع کې ظاهریږي.

چنانچه دعامو نحویانو دبصرې په نزد په تثنیه کې به داویلې شي ضرباني واکرمني الزیدان ځکه چې په ضرباني کې به دفاعل ضمیر راویستلې شي اودابه راجع وي وروسته الزیدان طرف ته نودراجع اودمرجع په مینځ کې مطابقت ضروري دي نوضرباني به وایي اود امام کسائي په نزد باندې حذف دفاعل سره به داوایي چې ضربني واکرمني الزیدان، نو دضربني نه پس دالزیدان فاعل به محذوف وي په اصل کې دا داسې وو چې ضربني الزیدان واکرمني الزیدان فاعل چونکې اسم ظاهر دي ددې وجې نه به فعل واحد پاتې وي برابره خبره ده که فاعل تثنیه وي اوکه جمع.

همدارنګې په جمع کې دعامو نحویانو دبصرې په نزد ضربوني واکرمني الزیدون په اضمار دفاعل سره به وي اودامام کسائي په نزد ضربني واکرمني الزیدون په حذف دفاعل سره به وي.

تبصره : حق د جمهورو علماء سره دي په فاعل کې اضمار اولی دي د حذف نه اګرچې اضمار قبل الذکر د فاعل او حذف د فاعل دواړه خلاف قیاس دي لیکن اضمار قبل الذکر په کلام د عربو کې موجود او مستعمل دي مثلاً ضمير د شان ،ضمير د قصه په خلاف د حذف د فاعل چې داپه کلام د عربو کې بالکل موجود نه دي لهذا د کسائي مذهب مرجوح دي ځکه چې دوي د شنيع (اضمار قبل الذکر) نه ځان ساتلې ليکن د اشنع (حذف د فاعل) ارتکاب يې کړي ګويا چې **فر من المطر وقام تحت الميزاب** ، لکه په پښتو کې متل دي چې : **دباران نه تختيدم او د ناوې لاندې مې شپه شوه** .

فائده : په پنځو ځايونو کې اضمار قبل الذکر جائز دي : (١) **ربه رجلاً** . (٢) په ضمير شان کې لکه **قل هو الله احد** . (٣) **نعم رجلاً زيد** ، په **نعم** کې ضمير دي کوم چې **زيد** طرف ته راجع دي . (۴) په تنازع الفعلين کې . (۵) چې کله اسم ظاهر په ضمير سره بدل کړي شي لکه **ضربه زيداً** .

وجاز خلافاً للفراء : داجمله معترضه ده ددې نه دامام فراء مذهب بيانول مقصود دي که چيرته اول فعل د فاعل تقاضا وکړي نو د جمهورو په نزد دويم فعل ته عمل ورکول جائز دي ليکن امام فراء د جمهورو مخالفت کوي او وايي چې دويم فعل ته عمل ورکول جائز نه دي بلکه اول فعل ته عمل ورکول واجب دي .

لانه يلزم : په دې عبارت کې شارح د امام فراء دليل بيانوي چې که چيرته دويم فعل ته عمل ورکړي او اول فعل د فاعل تقاضا وکړي نو د دوه حالتونو نه به خالي نه وي : (١) يا به د فاعل د پاره ضمير راوړې شي نو اضمار قبل الذکر به لازم راشي لفظاً او رتبةً .(٢) يا به فاعل حذف کوي نو د عمده حذف لازم راځي او دا دواړه امره ممنوع دي لهذا دويم فعل ته عمل ورکول جائز نه دي بلکې اول فعل ته عمل ورکول واجب دي بيا به کتلې شي چې دويم فعل د فاعل تقاضا کوي يا د مفعول که چيرته د فاعل تقاضا کوي نو په فعل ثاني کې به د فاعل ضمير راوړې شي کوم چې راجع وي اسم ظاهر مابعد طرف ته نو په دې صورت کې به لفظاً اضمار قبل الذکر لازم راشي ليکن رتبتاً به رانه شي ،او داسې اضمار قبل الذکر جائز دي او که چيرته دويم فعل د مفعول تقاضا وکړي نو په دې کې دوه صورتونه جائز دي :

(١) مفعول حذف کول ځکه چې مفعول په کلام کې فضله واقع کيږي او د فضله حذف کول جائز دي .

(۲) د مفعول دپاره به ضمير راوړلې شي چې مرجع به يې اسم ظاهر وي اګرچې لفظاً ددې نه مؤخروي ليکن رتبتاً به مقدم وي لهذا اضمار قبل الذکر لفظاً اورتبةً لازم رانه غلو بلکې فقط لفظاً لازم راغلوکوم چې جائزدي ځکه چې اسم ظاهرداول فعل معمول دي اواول فعل ددويم فعل نه مقدم دي

قيل روي عنه: دامام فراء دمتن درروايت نه غير دوه روايتونه نور هم دي : (۱) تشريک رافعين يعنې اسم ظاهر په طريقې داشتراک دداړو فعلينو معمول جوړکړي شي په دې صورت کې **توارد العلتين علی معلول واحد** به لازم راشي کوم چې جائز نه دي . (۲) اسم ظاهر ددويم فعل معمول جوړکړي شي اوداول فعل دفاعل دپاره داسم ظاهر نه پس ضمير منفصل راوړې شي لکه **ضربني واکرمني زيد هو** لکه دناصب دتاخير په صورت کې کولې شي يعنې چې کله اول فعل دفاعل تقاضا وکړي اودويم دمفعول تقاضا وکړي نوفراء وايي چې دويم فعل ته به عمل ورکولې شي اواول فعل دفاعل دپاره داسم ظاهر نه پس ضمير راوړې شي لکه **ضربني واکرمت زيداً هو** .

نودامام فراء ددې روايت مطابق تنازع په دې طريقې باندې رفع کولې شي چې **زيد** ته به ددويم فعل يعنې **اکرم** فاعل جوړکړي اواول فعل دفاعل دپاره د اسم ظاهر نه پس ضمير راوړې شي اوداوويلې شي **ضربني واکرمني زيد هو** او **ضربني واکرمت زيداً** کې رفع دتنازع په دې طريقې باندې وې چې **زيد** به ددويم فعل **اکرمت** مفعول جوړکړي شي اواول فعل **ضربني** دفاعل دپاره داسم ظاهر نه پس ضمير منفصل به راوړې شي **ضربني واکرمت زيداً هو** .

وروایة: په دې عبارت سره غرض دشارح په صاحب دکافيې باندې اعتراض کول دي :

اعتراض :صاحب دکافيې په متن کې دامام فراء چې کوم روايت نقل کړي دي هغه روايت مشهور نه دي مصنف ته په کاروو چې ده مشهور روايت ذکر کړي وي .

جواب :بعضې حضراتو د مصنف د طرف نه جواب ورکوي چې غير مشهور روايت يې ددې وجې نه ذکر کړو چې دا غير مشهور هم مشهور شي .

وحذفت: دمتن ددې عبارت عطف په **اضمرت الفاعل** باندې دې دعبارت حاصل دادې چې که چيرته دبصري دنحويانو دمذهب مطابق دويم فعل ته عمل ورکړي شي اواول فعل دمفعول

تقاضا کوي نو دوه صورتونه دي

(۱) دمفعول دذکر نه استغناء وي (۲) یابه دمفعول دذکر نه استغناء نه وي ، که چیرته استغناء وي یعني دمفعول ذکر کول ضروري نه وي نو داول فعل مفعول به حذف منلې شي ، اوذکر کولې به نه شي اوددې دپاره به ضمیر هم نه شي راوړلې .

تحرزاً: په دې کې ددې خبرې دلیل بیانوي چې که چیرته مفعول ذکر کړي نوتکرار به لازم راشي کوم چې **مخل في الفصاحة** دي اوکه چیرته ددې دپاره ضمیر راوړي نو **اضمار قبل الذکر في الفضلة** به لازم راشي کوم چې جائز نه دي لهذا دتکراراودا **اضمار قبل الذکر في الفضلة** نه دبچ کیدو دپاره داول فعل مفعول به حذف منلې شي اوکه چیرته دمفعول دذکر نه استغناء نه وي یعني ددې ذکر کول ضروري وي نو په دې وخت کې به داول فعل مفعول به ظاهرولې شي نه به حذف کولې شي اونه به ضمیر راوړې شي اوعدم استغناء به په هغه وخت کې وي چې کله دامفعول د افعال قلوبو ددوه مفعولو نه دیو مفعول ثاني وي او ددې مفعول اول مذکور وي لکه **حسبني منطلقاً وحسبت زیداً منطلقا** داپه اصل کې **حسبني وحسبت زیدا منطلقا** وو .

اولاً : **حسبني** او**حسبت** په **زیداً** کې تنازع وکړه **حسبني** غواړي چې **زید** زما فاعل جوړشي او**حسبت** غواړي چې زما مفعول جوړشي نو دبصرې د نحویانو دمذهب مطابق **زیداً** دفعل ثاني **حسبتُ** مفعول جوړ کړي شو او**حسبني** دفاعل دپاره يې ضمیر راوړو .

ثانیاً : **حسبني** او**حسبت** په **منطلقا** کې تنازع وکړه **حسبني** غواړي چې **منطلقاً** دې زما مفعول ثاني جوړ شي او**حسبت** غواړي چې زما مفعول ثاني دې جوړ شي نو دبصرې د نحویانو دمذهب مطابق **منطلقا** د فعل ثاني مفعول ثاني جوړشواوداول فعل مفعول ثاني ظاهر کړي شو نو **حسبني منطلقا وحسبت زیدا منطلقا** شو ،نه يې داحذف کړو اونه يې ددې دپاره ضمیر راوړو ځکه چې که چیرته حذف کول يې نو د افعال قلوبو ددوه مفعولو نه دیومفعول حذف لازم راتلو کوم چې جائزنه دي ځکه چې دافعال قلوبو دوه مفعوله د مبتدا اوخبر په حکم کې دي نو یو حذف کول دجملې دیو جزء دحذف کولو مترادف به وي کوم چې جائز نه دي اوکه چیرته ضمیر راوړي نو **اضمار قبل الذکر في الفضلة** لازم راتلو اوهغه هم جائز نه دي ددې وجې نه داول مفعول دویم فعل مو ظاهر کړو .

د مثالونو خلاصه د بصرينو د مذهب مطابق :

صورت د تنازع	اسم ظاهر مفرد	اسم ظاهر تثنيه	اسم ظاهر جمع
دواړه فعله اسم ظاهر فاعل جوړول غواړي	ضربني واكرمت زيداً (په اول فعل کې هو ضمير مستتر دي)	ضرباني واكرمني الزيدان (اول فعل کې الف ضمير تثنيه دي)	ضربوني واكرمني الزيدون (اول فعل کې واو ضمير جمع دي)
اول فعل اسم ظاهر فاعل او دويم دې مفعول جوړول غواړي	ضربني واكرمت زيداً (په اول فعل کې هو ضمير مستتر دي)	ضرباني واكرمت الزيدين (اول فعل کې الف ضمير تثنيه دي)	ضربوني واكرمت الزيدين (اول فعل کې واو ضمير جمع دي)
دواړه فعله اسم ظاهر خپل مفعول جوړول غواړي	ضربت واكرمت زيداً	ضربت واكرمت الزيدين	ضربت واكرمت الزيدين
اول فعل اسم ظاهر مفعول او دويم دې فاعل جوړول غواړي	ضربت واكرمني زيد	ضربت واكرمني الزيدان	ضربت واكرمني الزيدون

د کوفيانو په نزد طريقه د قطع د تنازع :

وَ إِنْ أَعْمَلْتَ الْفِعْلَ الْأَوَّلَ كَمَا هُوَ مُخْتَارُ الْكُوفِيِّيْنَ أَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِي الْفِعْلِ الثَّانِيْ لَوْ اِقْتَضَاهُ
که چیرته عمل ورکوي اول فعل ته لکه دا غوره کړي کوفيانو نو مضمر به کړي فاعل په دويم فعل کې که تقاضايي
نَحْوُ ضَرَبَنِيْ وَ أَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ إِذَا جَعَلْتَ زَيْدًا فَاعِلَ ضَرَبَنِيْ وَ أَضْمَرْتَ فِيْ أَكْرَمَنِيْ ضَمِيْرًا
کوله د فاعل لکه ضربني واكرمني زيد چې کله وګرځوي زيد فاعل د ضربني او ضمير ور کړي اكرمني ته داسې ضمير
رَاجِعًا إِلَى زَيْدٍ لِتَقَدُّمِهِ رُتْبَةً فَلَا مَحْذُوْرَ فِيْهِ حِيْنَئِذٍ لَا حَذْفُ الْفَاعِلِ وَ لَا الْإِضْمَارُ
چې راجع وي زيد ته دوجې د مخکې والي نه رتبةً نو نشته څه مانع په دې کې په دې وخت کې نه حذف د فاعل او
قَبْلَ الذِّكْرِ لَفْظًا وَ رُتْبَةً بَلْ لَفْظًا فَقَطْ وَ هُوَ جَائِزٌ وَ أَضْمَرْتَ الْمَفْعُوْلَ فِي الْفِعْلِ الثَّانِيْ
نه اضمار قبل الذكر لفظاً او رتبةً بلکې لفظاً فقط او دا جائز دي او ضمير به ور کړي مفعول ته په دويم فعل کې که تقاضا
لَوْ اِقْتَضَاهُ عَلَى الْمَذْهَبِ الْمُخْتَارِ وَ لَمْ تَحْذِفْهُ وَ إِنْ جَازَ حَذْفُهُ لِئَلَّا يُتَوَهَّمَ أَنَّ مَفْعُوْلَ
يې کوله په غوره مذهب باندې او دا به نه حذف کوي اګرچې جائز دي حذف د دې خکه چې دا وهم پيدا کيږي چې مفعول
الْفِعْلِ الثَّانِيْ مُغَايِرٌ لِلْمَذْكُوْرِ وَ يَكُوْنُ الضَّمِيْرُ حِيْنَئِذٍ رَاجِعًا إِلَى لَفْظٍ مُتَقَدِّمٍ رُتْبَةً كَمَا تَقُوْلُ ضَرَبَنِيْ
د دويم فعل دا جدا دي د مذكور نه او وي به ضمير په دې وخت کې راجع مخکني لفظ ته رتبتاً لکه چې وايې ضربني

وَاَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ اِلَّا اَنْ يَمْنَعَ مَانِعٌ مِنَ الْاِضْمَارِ كَمَا هُوَ الْقَوْلُ الْمُخْتَارُ وَمِنَ الْحَذْفِ كَمَا هُوَ الْقَوْلُ الْغَيْرُ الْمُخْتَارِ فَتُظْهِرُ
واكرمته زيد مگر كه چيرته مانع وود ضمير نه لكه داغوره قول دي او د حذف نه لكه دا قول غير مختار دي نو ظاهروي
الْمَفْعُوْلَ فَاِنَّهُ اِذَا امْتَنَعَ الْاِضْمَارُ وَالْحَذْفُ لَا سَبِيْلَ اِلَّا اِلَى الْاِظْهَارِ نَحْوُ حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ
به مفعول خكه چې كله اضمار او حذف ممتنع وي نو بله لاره نشته مگر د اظهار لكه حسبني وحسبتهما منطلقين الزيدان
مُنْطَلِقًا حَيْثُ أُعْمِلَ حَسِبَنِيْ فَجُعِلَ الزَّيْدَانِ فَاعِلًا لَهُ وَ مُنْطَلِقًا مَفْعُوْلًا لَهُ
منطلقا په داسې شان چې عمل وركړي شو حسبني ته نو وگرځول شو الزيدان فاعل د دې د پاره او منطلقا مفعول د دې
وَ أُضْمِرَ الْمَفْعُوْلُ الْاَوَّلُ فِيْ حَسِبْتُهُمَا وَ أُظْهِرَ الْمَفْعُوْلُ الثَّانِيْ وَ هُوَ مُنْطَلِقَيْنِ لِمَانِعٍ وَ هُوَ
د پاره او مضمر شو اول مفعول په حسبتهما كې او ظاهر يې كړو دويم مفعول او هغه منطلقين دي د مانع د وجې نه او هغه
اَنَّهُ لَوْ أُضْمِرَ مُفْرِدًا خَالَفَ الْمَفْعُوْلَ الْاَوَّلَ وَ لَوْ أُضْمِرَ مُثَنًّى
مانع دا دي چې كه چيرته د مفرد ضمير وركړي شي نو دا د مفعول اول خلاف دي او كه چيرته د تثنيې ضمير وركړي شي
خَالَفَ الْمَرْجِعَ وَ هُوَ قَوْلُهُ مُنْطَلِقًا وَ لَا يَخْفٰى اَنَّهُ لَا يُتَصَوَّرُ التَّنَازُعُ فِيْ هٰذِهِ الصُّوْرَةِ اِلَّا اِذَا
نو دا خلاف دي د مرجع يعني د دې قول منطلقا او دا خبره خفي نه ده چې نه ده متصور تنازع په دې صورت كې مگر كله
لَاحَظْتَ الْمَفْعُوْلَ الثَّانِيْ اِسْمًا دَالًّا عَلَى اتِّصَافِ ذَاتٍ مَّا بِالْاِنْطِلَاقِ مِنْ غَيْرِ مُلَاحَظَةِ تَثْنِيَتِهٖ وَ اِفْرَادِهٖ
چې ته لحاظ وكړي د دويم مفعول اسم چې دال وي په يو ذات بالانطلاق په غير د لحاظ كولو د تثنيې او د مفرد
وَ اِلَّا فَالظَّاهِرُ اَنَّهُ لَا تَنَازُعَ بَيْنَ الْفِعْلَيْنِ فِي الْمَفْعُوْلِ الثَّانِيْ لِاَنَّ الْاَوَّلَ يَقْتَضِيْ
كيدو ورنه ظاهر دا ده چې كومه تنازع نشته د دوه مفعولينو په مينځ كې په دويم مفعول كې خكه چې اول فعل تقاضا
مَفْعُوْلًا مُفْرِدًا وَ الثَّانِيْ مَفْعُوْلًا مُثَنًّى فَلَا يَتَوَجَّهَانِ اِلٰى اَمْرٍ وَاحِدٍ فَلَا تَنَازُعَ.
كوي د مفعول مفرد او دويم فعل د مفعول تثنيې نو نه متوجه كيږي يو امر طرف ته نو بيا څه تنازع نشته.

خلاصه د متن: په دې عبارت كې غرض د مصنف د كوفې د نحويانو د مذهب مطابق د رفع د تنازع تفصيل بيانول دي ، د كوفې د نحويانو د مذهب مطابق كه چيرته اول فعل عمل ته وركړل شي نو دويم فعل به يا د فاعل تقاضا كوي او يا د مفعول ، كه چيرته د فاعل تقاضا يې كوله نو په دې كې به ضمير راوړي شي لكه ضربني واكرمني زيد ، د كوفې د نحويانو د مذهب مطابق زيد د اول فعل ضرب فاعل جوړ شو او كه چيرته د اكرمني د فاعل د پاره په دې كې ضمير مستتر ومنل شي كوم چې راجع وي اسم ظاهر زيد طرف ته كوم چې لفظاً مؤخر دي ليكن رتبتاً مقدم دي خكه چې د اول فعل معمول دي لهذا لفظاً او رتبتاً اضمار قبل الذكر لازم راغلو كوم چې جائز دي .او كه چيرته دويم فعل د مفعول تقاضا وكړي نو په دې كې دوه مذهبه دي غوره مذهب دا دې چې د دې

دپاره به ضمير راوړې شي او غير مختار مذهب دادې چې مفعول به حذف ومنلې شي په دې شرط چې دضمير راوړويا دحذف نه كوم مانع نه وي او كه چيرته مانع وو نو ددويم فعل مفعول به ظاهرولې شي اودا په هغه وخت كې چې كله دا دافعال قلوبو نه ديو مفعول ثاني وي او اول مفعول ذكر وي چې ددې تفصيل مخكې ذكر شوي دي او په شرحه كې يې هم ذكر را روان دي .

اغراض دجامي: لئلا يتوهم : په دې عبارت سره غرض دشارح دمفعول داضمار دغوره كيدو وجه بيانوي چې كه چيرته ددويم فعل مفعول حذف ومنلې شي نو دا وهم به پيداوي چې كيداى شي ددويم فعل مفعول داسم ظاهر نه جدا وي او كه چيرته ضمير راوړلې شي نو دا وهم به نه پيداكيږي ځكه چې ضمير داسم ظاهر طرف ته راجع وي كوم چې په مابعد كې مذكور دي او هغه اسم ظاهر اگرچې لفظاً مؤخر دي ليكن رتبتاً مقدم دي ځكه چې دا داول فعل معمول دي لهذا فقط اضمار قبل الذكر لازم راغې كوم چې جائز دي لكه ضربني واكرمته زيد .

الا ان يمنع مانع : چې كله ددويم فعل دمفعول دضمير راوړلو نه كوم څيز مانع وي لكه دا غوره مذهب دي او دحذف نه هم كوم مانع وي لكه دا مذهب غير مختار دي نو ددويم فعل مفعول به ظاهرولې شي چونكې اضمار قبل الذكر اوحذف دواړه ممتنع دي نو دمفعول دظاهرولو نه غير كومه بله لاره نشته ، اودا په هغه وخت كې وي چې كله دا دافعال قلوبو نه ديو مفعول ثاني وي او اول مفعول مذكور وي او هغه داسم ظاهر سره موافق نه وي لكه حسبني وحسبتهما منطلقين الزيدان منطلقاً دا په اصل كې وو حسبني وحسبت الزيدان منطلقاً.

اول: حسبني او حسبت په الزيدان كې تنازع وكړه حسبني غوښتل چې الزيدان زما فاعل جوړ شي او حسبت غوښتل چې الزيدان زما مفعول جوړشي نو دكوفې دنحويانو دمذهب مطابق الزيدان يې دحسبني فاعل جوړ كړو او دحسبت دمفعول دپاره هما ضمير به راوړي نو حسبني وحسبتهما الزيدان منطلقاً شو .

دوهم: حسبني او حسبتهما په منطلقاً كې تنازع وكړه حسبني غوښتل چې منطلقاً دې زما مفعول ثاني جوړ شي او حسبت غوښتل چې منطلقاً دې زما مفعول ثاني جوړشي نو دكوفې دنحويانو د مذهب مطابق منطلقاً د حسبني مفعول ثاني جوړ كړو او ددويم فعل مفعول يې ظاهر كړو نو حسبني وحسبتهما منطلقين الزيدان منطلقاً شو . مونږ ددويم فعل دويم مفعول يې ظاهر كړو نه يې حذف كړو او نه يې ضمير راوړو ځكه چې كه چيرته حذف كول يې نو دافعال قلوبو ددوه

مفعولونه يو مفعول حذف كول اوپه يو مفعول باندې اكتفاء كول لازم راتلو اوداجائز نه وو ، او كه چيرته ضمير يې راوړو نو په دې كې دوه صورتونه وو يابه يې مفرد ضمير راوړو اويابه د تثنيې، كه چيرته دمفرد ضميريې راوړو نو دابه يې ويل :**حسبني وحسبتهما اياه الزيدان منطلقا**، نو دافعال قلوبو ددوه مفعولينو په مينځ كې مطابقت نه پاتې كيدو ځكه چې اول مفعول د تثنيې ضمير دې اودويم مفعول دمفرد ضمير دې حالانكه دافعال قلوبو ددوه مفعولينو په مينځ كې مطابقت ضروري وي اوكه چيرته ضمير تثنيه راوړي اوداووايي چې **حسبني وحسبتهما اياهما الزيدان منطلقا**، نودراجع اودمرجع په مينځ كې به مطابقت پاتې نه شي حالانكه دراجع اود مرجع په مينځ كې مطابقت ضروري وي ، نو چې كله ضميرراوړل هم جائز نه وي او حذف كول هم جائز نه وي نو مونږ ددويم فعل دويم مفعول مو ظاهر كړو

ولا يخفى: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : په ذكر شوي مثال كې تنازع نه شي متصور كيدې ځكه چې دتنازع دمتحقق كيدو دپاره شرط دادې چې فعلين دعمل كولو دپاره دامرواحد طرف ته متوجه وي اوپه ذكر شوي مثال كې فعلين امرِ واحد طرف ته متوجه نه دي ځكه چې اول فعل دمفرد مفعول تقاضا كوي اودويم فعل دتثنيې مفعول تقاضا كوي .

جواب : په ذكر شوي مثال كې **منطلقا** نه مطلقاً لفظ د**منطلقاً** مراد نه دي بلكې مراد هغه اسم دي چې ديو ذات دصفتِ انطلاق سره په متصف كيدو باندې دلالت وكړي داعام دي كه مفرد وي ياتثنيه وي لهذا ددې معنى په اعتبار سره فعلين ددې طرف ته متوجه كيږي اودامثال دباب دتنازع نه دي اوكه چيرته ددې اعتبار ونه كړي شي نولفظ د**منطلقاً** په جوړولو سره به تنازع نه متصور كيږي .

د مثالونو خلاصه د كوفيانو د مذهب مطابق :

صورت دتنازع	اسم ظاهر مفرد	اسم ظاهرتثنيه	اسم ظاهر جمع
دواړه فعل اسم ظاهر فاعل جوړول غواړي	ضربني واكرمني زيد	ضرباني واكرماني الزيدان	ضربوني واكرموني الزيدون
اول فعل اسم ظاهرخپل مفعول اودويم فعل فاعل جوړول غواړي	ضربت واكرمني زيد	ضربت واكرماني الزيدين	ضربت واكرموني الزيدين

دواړه فعل اسم ظاهر مفعول جوړول غواړي	ضربت واکرمت زیداً	ضربت واکرمت الزیدین	ضربت واکرمت الزیدین
دویم فعل اسم ظاهر مفعول اواول فعل خپل فاعل جوړول غواړي	ضربني واکرمت زید.	ضربني واکرمت الزیدان	ضربني واکرمت الزیدون

په ضمیر کې د مثالونو خلاصه :

صورت دتنازع	اسم ظاهر مفرد	اسم ظاهر تثنیه	اسم ظاهر جمع
دواړه فعله اسم ظاهر مفعول جوړول غواړي	ضربت واکرمته زیدا	ضربت واکرمتهما الزیدین	ضربت واکرمتهم الزیدین
اول اسم ظاهر فاعل او دویم اسم ظاهر مفعول جوړول غواړي	ضربني واکرمته زید	ضربني واکرمتهما الزیدان	ضربني واکرمتهم الزیدون

د کوفیانو د یو دلیل جواب :

وَ لَمَّا اسْتَدَلَّ الْكُوْفِيُّوْنَ عَلٰى اَوْلَوِيَّةِ اِعْمَالِ الْفِعْلِ الْاَوَّلِ بِقَوْلِ امْرِئِ الْقَيْسِ (شِعْرٌ) وَ لَوْ اَنَّمَا

اوچې کله استدلال وکړو کوفیانو په غوره والي دعمل ورکولو اول فعل ته په قول دامرئ القیس شعر که چیرته ما

اَسْعٰى لِاَدْنٰى مَعِيْشَةٍ كَفَانِيْ وَ لَمْ اَطْلُبْ قَلِيْلٌ مِنَ الْمَالِ حَيْثُ قَالُوْا

کوشش کولې دادنی معیشت نو کافي به وو زما د پاره اوما به نه طلب کولو لږ مال په داسې شان چې دوي ویلي دي چې

قَدْ تَوَجَّهَ الْفِعْلَانِ اَعْنِيْ كَفَانِيْ وَلَمْ اَطْلُبْ اِلٰى اسْمٍ وَاحِدٍ وَهُوَ قَلِيْلٌ مِنَ الْمَالِ فَاقْتَضَى الْاَوَّلُ

دواړه فعله به متوجه وي یعنې کفاني ته اولم اطلب یو اسم طرف ته او هغه قلیل من المال دي نو تقاضا کوي اول فعل

رَفْعَهٗ بِالْفَاعِلِيَّةِ وَ الثَّانِيْ نَصْبَهٗ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ وَ امْرُءُ الْقَيْسِ الَّذِيْ هُوَ اَفْصَحُ شُعَرَاءِ الْعَرَبِ

درفع بنا بر فاعلیت اودویم فعل دنصب بنا بر مفعولیت او امرء القیس کوم چې ډیر فصیح دي په شعر اودعربو کې

اَعْمَلَ الْاَوَّلَ فَلَوْ لَمْ يَكُنْ اِعْمَالُ الْاَوَّلِ اَوْلٰى لَمَا اخْتَارَهٗ اِذْ لَا

اوده اول فعل ته عمل ورکړي نو که چیرته اول فعل ته عمل ورکول اولی نه وي نو ده به نه اختیارولو څکه چې نشته

قَائِلَ بِتَسَاوِي الْاِعْمَالَيْنِ فَاَجَابَ الْمُصَنِّفُ عَنْ طَرَفِ الْبَصْرِيِّيْنَ وَ قَالَ وَ قَوْلُ امْرِءِ الْقَيْسِ

قائل په برابروالي ددواړو عملونو نو جواب ورکړو مصنف د طرف د بصریونو نه او وي ویل چې قول دامرئ القیس

كَفَانِيْ وَلَمْ اَطْلُبْ قَلِيْلٌ مِنَ الْمَالِ لَيْسَ مِنْهُ اَيْ مِنْ بَابِ التَّنَازُعِ لِفَسَادِ الْمَعْنٰى عَلٰى تَقْدِيْرِ تَوَجُّهِ كُلٍّ مِنْ

کفاني ولم اطلب قلیل من المال د دې نه، نه دي یعنې د باب دتنازع نه دوجې دفساد د معنی په تقدیر د توجه د هر یو

كَفَانِيْ وَ لَمْ اَطْلُبْ إِلَىٰ قَلِيْلٌ مِنَ الْمَالِ لِاِسْتِلْزَامِهٖ عَدَمَ السَّعْيِ لِاَدْنٰى مَعِيْشَةٍ وَ انْتِفَاءَ كِفَايَةِ
كفاني ولم اطلب نه د قليل من المال طرف ته دوجې داستلزام نه كوشش نه كول دادنى معيشت دپاره اوانتفاء دكافي
قَلِيْلِ الْمَالِ وَ ثُبُوْتَ طَلَبِهِ الْمُنَافِيْ لِكُلٍّ مِنْهُمَا وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ لَوْ تَجْعَلُ مَدْخُوْلَهَا
كيدو دلږمال اوثبوت دطلب ددې كوم چې منافي دي دهريو ددې نه اوداخكه چې كه چيرته وگرخولې شي مدخول
الْمُثْبَتَ شَرْطاً كَانَ اَوْجَزَاءً اَوْمَعْطُوْفاً عَلٰى اَحَدِهِمَامَنْفِيًا وَلَامَنْفِيَّ مِنْ ذٰلِكَ مُثْبَتًا فَعَلٰى هٰذَا يَنْبَغِيْ
ددې مثبت شرط يا جزاء اويامعطوف په يوددې دواړوباندې منفي اومنفي ددې نه مثبت نوپه دې اساس مناسب
اَنْ يَكُوْنَ مَفْعُوْلُ لَمْ اَطْلُبْ مَحْذُوْفاً اَيْ لَمْ اَطْلُبِ الْعِزَّ وَ الْمَجْدَ كَمَا يَدُلُّ عَلَيْهِ الْبَيْتُ الْمُتَاَخِّرُ
دي چې وي مفعول لم اطلب محذوف يعني لم اطلب العز والمجد لكه څنگه چې دلالت كوي په دې باندې وروستي شعر
اَعْنِيْ قَوْلَهُ شِعْرٌ وَلٰكِنْ اَسْعٰى لِمَجْدٍ مُؤَثَّلٍ وَقَدْ يُدْرِكُ الْمَجْدَ الْمُؤَثَّلَ اَمْثَالِيْ وَحِيْنَئِذٍ يَسْتَقِيْمُ الْمَعْنٰى
قصد كوم د اقول شعر ولكن اسعى لمجد مؤثل وقد يدرك المجد المؤثل امثالي اوپه دې وخت كې به صحيح وي معنى
يَعْنِيْ اَنَا لَا اَسْعٰى لِاَدْنٰى مَعِيْشَةٍ وَ لَا يَكْفِيْنِيْ قَلِيْلٌ مِنَ الْمَالِ وَ لٰكِنِّيْ اَطْلُبُ الْمَجْدَ الْاَثِيْلَ
يعني زه كوشش نه كوم دادنى معيشت دپاره اونه كافي كيږي لږمال او ليكن زه طلب كوم دائمي بزرگي چې
الثَّابِتَ وَ اَسْعٰى لَـهُ .
ثابته وي اوددې دپاره كوشش كوم .

خلاصه دمتن: په دې عبارت كې صاحب د كافيې د كوفيانو په خپل مسلك باندې يو استدلال ذكر كوي اوشارح ددې دليل ضعف بيانوي .

دكوفينو اول فعل ته دعمل وركولو په اولويت باندې دامرؤالقيس شاعر داشعر :

كفاني ولم اطلب قليل من المال

نه استدلال كړي او ويلي دي چې په لفظ د **قليل** كې **كفاني** او **لم اطلب** دواړه تنازع كړي نو شاعر اول فعل ته دعمل وركولو په وجه قليل تـه رفع وركړي ده ، ليكن صاحب د كافيې وايي چې د كوفيانو دا استدلال صحيح نه دي بلكه داشعر دسره دباب دتنازع نه ، نه دي .

ددې تفصيل لاندې په شرحه كې وگورئ :

اغراض دجامي: ولما استدل: په دې عبارت سره غرض دشارح راتلونكي عبارت كې د صاحب د كافيې غرض بيانول دي ددې حاصل دادې چې دكوفي نحويان اول فعل تـه دعمل وركولو په اولويت باندې دامرؤالقيس شاعر په دې شعر سره استدلال كوي چې :

ولو انما اسعى لادنى معيشة كفاني ○ ولم اطلب قليل من المال

طريقه داستدلال : په دې شعر کې دفعلينو يعنې دکفاني او دولم اطلب دواړه امرواحد يعنې قليل من المال طرف ته متوجه دي کفاني دفاعل کيدو په بناء باندې درفع تقاضا کوي اولم اطلب دمفعول کيدو په بناء باندې ددې دنصب تقاضاکوي نوامرؤالقيس کوم چې افصح دشعراو دعربونه دي اول فعل ته عمل ورکړي دي ځکه چې ده قليل مرفوع ويلي ددې نه معلومه شوه چې اول فعل ته عمل ورکول اولى دي که چيرته اول فعل ته عمل ورکول اولى نه وي نو د امرؤ القيس په شان فصيح اوبليغ شاعر به قليل مرفوع نه ويل.

اذلا قائل: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دامرؤالقيس اول فعل ته دعمل ورکولو نه دا نه لازميږي چې اول فعل ته عمل ورکول اولى دي کيدي شي چې فعلينو ته عمل ورکول دده په نزد باندې مساوي وو نواول فعل ته عمل ورکول جائز شو اولى نه شو .

جواب : فعلينوته عمل ورکولوکې دتساوي يعنې دتساوي داعمالينو څوک هم قائل نه دي يو فريق دويم فعل ته دعمل ورکولو داولويت قائل دي ، اودويم فريق اول فعل دعمل داولويت قائل دي دريم څوک فريق نشته چې دتساوي قائل وي، لهذا دامرؤالقيس اول فعل ته عمل ورکول ددې په اولويت باندې دلالت کوي چونکې دمصنف په نزد دبصرې دنحويانو مذهب راجح دي ځکه چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ دبصرې دنحويانو دطرف نه دکوفې نحويانوته جواب ورکړوچې دامرؤ القيس مذکورشعردسره دباب د تنازع نه ،نه دي ځکه چې که چيرته دادباب دتنازع نه ومنل شي نوفسادمعنى اوتناقض اوخلاف مقصود لازم راتلو .

ددې ديادولو نه مخکې يوه قاعده په ذهن کې کينوې چې که چيرته دلفظ لو مدخول مثبت وي نو دا منفي کوي اوکه چيرته منفي وي نو دا مثبت کوي برابره خبره ده که مدخول شرط وي او که جزا ، او يا په دې کې په يو يعنې يا په شرط او يا په جزا باندې معطوف وي لکه ويلي شي چې : لوا کرمتني اکرمتک (که چيرته تا زما اکرام وکړو نو زه به هم ستا اکرام وکړم) يعنې نه تا زما اکرام وکړو اونه ما ستا اکرام وکړو په دې کې دواړه اکرامه منفي دي اولکه ويلي شي لولم تکرمني لم اکرمک (که چيرته تا زما اکرام نه کولو نو مابه هم ستا اکرام نه کولو) يعنې نه تا زما اکرام وکړو نو ما ستا اکرام وکړو په دې کې دواړه اکرامه مثبت دي نو ددې قاعدې په اساس باندې دشاعر قول ولو انما اسعى لادنى معيشة داجمله اولى ادنى معيشت دسعي او کوشش نه

کولو ته مستلزم دي ځکه چې دامثبت دي او د لو دواقع کیدو نه پس منفي شو .
اودشاعر قول کفاني قليل من المال داقليل مال دنه کفایت کولو ته مستلزم دي ځکه چې دامثبت دي او د لو دجزا واقع کیدو دوجې نه منفي شو او لم اطلب منفي دي لیکن د لو جزا کفاني باندې دمعطوف کیدو دوجې نه مثبت شو یعنې لږ مال طلب کوم پس که چیرته دشاعر قول لم اطلب هم قليل من المال طرف ته متوجه وي لکه څنګه چې دکوفې نحویانو دعوی کړې ده چې دابه د لږ مال طلب کولو ته مستلزم وي ځکه چې دامنفي دي لیکن د لو په جزاء باندې دمعطوف کیدو دوجې نه مثبت شو
نودټول شعر مطلب به داوي چې ما ادنی معیشت لږ مال دپاره کوشش نه کولو، اوماته لږ مال کافي هم نه دي لیکن زه لږ مال طلب کوم ، نودشعر اول اوآخر کې تناقض اوتخالف لازم راځي چې مخکې یې وویل چې ماته ادنی معیشت اولږ مال کافي نه دي اوپه آخر کې وایي چې زه دا طلب کوم نومعنی به فاسده شي نوثابته شوه چې دلته کومه تنازع نشته بلکه معلومه شوه چې لم اطلب دې اسم طرف ته متوجه نه دي چې کوم طرف ته متوجه دي بلکې اول فعل کفاني ، قليل من المال طرف ته متوجه دي اوددویم فعل لم اطلب مفعول محذوف دي اوهغه العز والمجد دي اوددې مفعول محذوف باندې قرینه دویم بیت دي اوهغه دویم بیت دادې چې :

ولکنما اسعى لمجد مؤثل ۞ وقد يدرک المجد المؤثل امثالي

لیکن زه ددائمي بزرګي کوشش کوم اوزما په شان خلک دائمي بزرګي حاصلوي .
اوس به معنی صحیح وي چې ما دادنی معیشت سعي نه ده کړې اولږ مال ما ته کفایت هم نه کوي لیکن زه دائمي بزرګي دپاره سعي اوکوشش کوم .

مفعول مالم يسم فاعله :

اَیْ مَفْعُوْلُ فِعْلٍ اَوْ شِبْهِهٖ فِعْلٍ لَمْ يُذْكَرْ فَاعِلُهٗ وَ اِنَّمَا لَمْ يَفْصِلْهُ عَنِ الْفَاعِلِ وَ لَمْ يَقُلْ
یعنې مفعول داسې فعل یاشبه فعل چې دهغې فاعل مذکور نه وي اودایې جدانه کړودفاعل نه اووې نه ویل
وَ مِنْهُ كَمَا فَصَلَ الْمُبْتَدَأُ حَيْثُ قَالَ وَ مِنْهَا الْمُبْتَدَأُ لِشِدَّةِ اِتِّصَالِهٖ بِالْفَاعِلِ حَتّٰى سَمَّاهُ
ومنه لکه مبتدا یې جدا کړې په داسې شان چې ویلي ومنها المبتدا دوجې دشدت اتصال نه دفاعل سره تردې چې مسمی
بَعْضُ النُّحَاةِ فَاعِلًا كُلُّ مَفْعُوْلٍ حُذِفَ فَاعِلُهٗ ، اَيْ فَاعِلُ ذٰلِكَ الْمَفْعُوْلِ وَ اِنَّمَا
کړې بعضې نحاتو فاعل هر داسې مفعول چې حذف شوې وي فاعل ددې یعنې فاعل ددې مفعول اوپه تحقیق سره یې

أُضِيْفَ	إِلَى	الْمَفْعُوْلِ	لِمُلَابَسَةٍ	كَوْنِهٖ	فَاعِلاً	لِفِعْلٍ	مُتَعَلِّقٍ	بِهٖ	وَ	أُقِيْمَ	
اضافت وشو مفعول ته دوجې د مناسب نه د کیدو دده نه فاعل دفعل چې متعلق وي ترده پورې اوقائم کړې وي											
هُوَ أَيِ الْمَفْعُوْلُ مَقَامَهٗ أَيْ مَقَامَ الْفَاعِلِ فِيْ إِسْنَادِ الْفِعْلِ أَوْ شِبْهِهٖ إِلَيْهِ.											
دا يعنې مفعول په ځاې دده يعنې مقام دفاعل په اسناد دفعل اوشبه فعل کې ده طرف ته .											

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې دمرفوعاتو د بل قسم **مفعول مالم يسم فاعله** بيان کوي يعنې هغه مفعول چې دهغې فاعل حذف کړې شوي وي اودايې دفاعل قائمقام کړې وي اومفعول د فاعل دقائمقام کيدو شرط دادې چې دفعل صيغه **فُعِلَ** يا **يُفْعَلُ** طرف ته تبديل کړې شي .

اغراض دجامي: __اى مفعول فعل اوشبه فعل__: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په مفعول مالم يسم فاعله کې دمانه مراد فقط فعل دي ځکه چې عمل په همدې فعل کې اصل دي نولهذا تعريف دې جامع نه شو په شبه فعل کې په **زيد مضروب غلامه** کې غلامه ته شامل نه شو .

جواب : شارح **اى مفعول فعل اوشبه فعل** وويل نوپه دې سره يې جواب ورکړو چې **ما** عام دي فعل اوشبه فعل دواړو ته شامل دي .

__لم يذکر__: په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : **لم يسم فاعله** دلالت کوي په عدم وجود دفاعل باندې چې دمفعول فاعل بالکل موجودنه دي اوراتلونکي عبارت **کل مفعول حذف فاعله** دا دال دي په وجود دفاعل باندې فاعل خو موجود دي ليکن دعبارت نه محذوف دي په دواړو عبارتونو کې تضاد اومنافات دي .

سوال (۲) :باب د **سمى يسمى** متعدي وي دوه مفعولينوته اودلته متعدي دي يومفعول ته .

جواب : په **لم يذکر** سره شارح ددواړو سوالونو جواب ورکړي :

داول سوال جواب: د اول سوال جواب داسې دي چې **لم يسم** په معنى د **لم يذکر** سره دي چې ددې مطلب دادې چې فاعل خوموجود وي ليکن په عبارت کې نه وي ذکر شوي اوبعينه همدا مطلب دي دمابعد عبارت د**کل مفعول حذف فاعله** نولهذا په دواړو کې څه تضاد نشته .

ددويم سوال جواب :او ددويم سوال جواب داسې دي چې **لم يسم** په معنى د**لم يذکر**سره

دي اولم يذكر متعدي دي يو مفعول طرف ته لهذا دويم سوال او اشكال هم ختم شو.

وانما لم يفصله: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: لکه څنګه چې مصنف مبتدا جدا ذکر کړي او **ومنها المبتدا** يې ويلې نو همدارنګې مفعول مالم يسم فاعله هم مستقل اوجدا ذکر کول په کار وو اوداسې ويل په کاروو چې **ومنه مفعول مالم يسم فاعله** ځکه چې دادمرفوعاتو مستقل اوجدا قسم دي.

جواب: مفعول مالم يسم فاعله دفاعل سره شديد اتصال اوکمال مناسبت دي دڅواحکامونه غير باقي ټول احکام مشترکه دي تردې چې بعضې نحويانو همدا فاعل شمارکړي اودفاعل په تعريف کې **على جهة قيامه به** دقيدذکر يې نه دي کړي اودايې هم دفاعل په تعريف کې داخل کړي ددې شدت اتصال اود کمال مناسبت دوجې نه مصنف دفاعل نه يې جدا نه دي ذکر کړي بلکه دفاعل سره يې ذکر کړي دي.

اى فاعل ذلک المفعول: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمرجع دي چې د**فاعله** ضمير مرجع مفعول دي.

وانما اضيف: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دفاعل اضافت مفعول طرف ته صحيح نه دي ځکه چې فاعل دفعل وي نه دمفعول.

جواب: دفاعل اضافت مفعول طرف ته دادنى ملابست دوجې نه دي اودنى ملابست دادې چې فاعل هم ددې فعل وي کوم چې دمفعول سره متعلق وي ددې اعتبار نه چې دفاعل اضافت مفعول طرف ته صحيح دي.

واقيم هو اى المفعول: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمرجع دي چې د **هُوَ** ضمير مرجع مفعول دي.

اى مقام الفاعل: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمرجع دي چې دضمير مرجع فاعل دي.

في اسناد الفعل: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مفعول دفاعل قائمقام کول صحيح نه دي ځکه چې دفاعل نه دفعل صدور کيږي اوپه مفعول باندې فعل واقع کيږي اوپه دې دواړو کې تضاد دي.

جواب: مفعول د فاعل قائمقام کيدل صدور فعل يا د وقوع فعل د لحاظ نه، نه دي بلکې

اسنادِ فعل او اسنادِ شبه فعل دلحاظ نه دي اوددې لحاظ نه په دواړو کې تضاد نشته.

دمفعول مالم يسم فاعله شرطونه:

وَ شَرْطُهُ اَىْ شَرْطُ مَفْعُوْلٍ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلَهُ فِيْ حَذْفِ فَاعِلِهٖ وَ اِقَامَتِهٖ مَقَامَ الْفَاعِلِ اِذَا كَانَ عَامِلُهُ
اوشرط ددې يعنې شرط دمفعول مالم سم فاعله په حذف دفاعل کې اودقائمقام کیدودفاعل کې چې کله عامل
فِعْلاً اَنْ تُغَيَّرَ صِيْغَةُ الْفِعْلِ اِلٰى فُعِلَ اَىْ اِلَى الْمَاضِيْ الْمَجْهُوْلِ اَوْ يُفْعَلُ اَىْ اِلَى الْمُضَارِعِ الْمَجْهُوْلِ
ددې فعل وي چې بدله کړي صيغه دفعل فُعِلَ طرف ته يعنې ماضي مجهول ته اويا يُفْعَلُ يعنې مضارع مجهول
فَيَتَنَاوَلُ مِثْلَ اُفْتُعِلَ وَاسْتُفْعِلَ وَيُفْتَعَلُ وَيُسْتَفْعَلُ وَغَيْرِهَا مِنَ الْاَفْعَالِ الْمَجْهُوْلَةِ الْمَزِيْدِ فِيْهَا.
طرف ته نو داشامليږي مثل اُفْتُعِلَ وَاسْتُفْعِلَ وَيُفْتَعَلُ وَيُسْتَفْعَلُ اوغيرددې نه دافعال مجهوله مزيد فيه ته.

خلاصه دمتن: حاصل دصاحب دکافيې ددې عبارت نه دادې چې مفعول مالم يسم فاعله د فاعل دقائمقام کولو شرط دادې چې دفعل صيغه فُعِلَ يعنې ماضي مجهول او يا يُفْعَلُ يعنې مضارع مجهول طرف ته تبديل کولې شي.

اغراض دجامي: اى شرط مفعول: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمرجع دې چې په شرطه کې د ﮧ ضمير مرجع مفعول مالم يسم فاعله دي.

في حذف فاعله: په دې عبارت سره دمافيه الشرط بيان دي يعنې داظاهروي چې هغه شرط په کوم ځيز کې دي.

اذاكان عامله: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: په زيدمضروب غلامه کې غلامه مفعول مالم يسم فاعله دي حالاتکه دلته دفعل صيغه فُعِلَ يا يُفْعَلُ طرف ته نه دي بدل شوي.

جواب: داشرط په هغه وخت کې دي چې کله ددې عامل فعل وي دلته عامل فعل نه دي بلکه شبه فعل دي.

اى الى الماضي المجهول: دفعل نه پس اى الماضي المجهول اوديفعل نه پس اى المضارع المجهول سره غرض د شارح ديوسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: اکتسبَ زيد، استخرج زيد، يستخرج زيد کې زيد مفعول مالم يسم فاعله دي حالاتکه د فعل صيغه فُعِلَ يا يُفْعَلُ طرف ته نه دي بدل شوي

جواب: ددې نه شارح دوه (۲) جوابات ورکړي دي:

جواب (۱): اول جواب داچې دفُعِلَ نه مراد ماضي مجهوله ده اوديُفْعَلُ نه مراد مضارع مجهوله ده لهذا داافتعل ، استفعل، يفتعل ، يستفعل وغيره ټولو ته شامل دي ځکه چې داټول افعال مجهوله دي.

جواب (۲): اودوهم جواب يې داهم ورکړي دي چې اې فعل او يفعل نه پس عبارت محذوف دي ، اونحوهما مما هو مبني للمفعول نو داعبارت به ټولو ته شامل شي

د مفعول ما لم يسم فاعله احكامات:

وَلَا يَقَعُ مَوْقِعَ الْفَاعِلِ الْمَفْعُوْلِ الثَّانِيْ مِنْ مَفْعُوْلَيْ بَابِ عَلِمْتُ لِاَنَّهُ مُسْنَدٌ اِلَى الْمَفْعُوْلِ الْاَوَّلِ
اونه واقع كيږي په ځاې دفاعل دويم مفعول ددوه مفعولينو دباب دعلمت نه ځكه چې دامسند وي اول مفعول ته د
اِسْنَاداً تَامًّا فَلَوْ اُسْنِدَ الْفِعْلُ اِلَيْهِ وَلَا يَكُوْنُ اِسْنَادُهُ اِلَّا تَامًّا لَزِمَ كَوْنُهُ مُسْنِداً
پوره اسناد سره نوكه اسنادوشي دفعل دې مفعول طرف ته اوددې اسنادتام نه وي نولازم به شي كيدل ددې مسند
وَمُسْنِدًا اِلَيْهِ مَعًا مَعَ كَوْنِ كُلٍّ مِنَ الْاَسْنَادَيْنِ تَامًّا بِخِلَافِ اَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرواً لِاَنَّ اَحَدَ الْاَسْنَادَيْنِ وَهُوَ
اومسند اليه يوځاې سره دكيدو دهريواسنادينونه تام په خلاف داعجبني ضرب زيد عمروځكه چې يودا اسنادينونه هغه
اِسْنَادُ الْمَصْدَرِ غَيْرُ تَامٍّ وَلَا الْمَفْعُوْلُ الثَّالِثُ مِنْ مَفَاعِيْلِ بَابِ اَعْلَمْتُ اِذْ حُكْمُهُ حُكْمُ الْمَفْعُوْلِ الثَّانِيْ
اسناد دمصدر دي غيرتام اونه دريم مفعول دمفاعليو دباب داعلمت نه ځكه چې حكم ددې په شان دحكم ددويم مفعول
مِنْ بَابِ عَلِمْتُ فِيْ كَوْنِهِ مُسْنَداً وَ الْمَفْعُوْلُ لَهُ بِلَا لَامٍ لِاَنَّ النَّصَبَ فِيْهِ مُشْعِرٌ بِالْعِلِّيَّةِ
دي دباب دعلمت په كيدو ددې سره مسند اومفعول له بې دلام نه ځكه نصب په دې كې اشاره كوي علت جوړيدو طرف
فَلَوْ اُسْنِدَ اِلَيْهِ لَفَاتَ النَّصْبُ وَ الْاِشْعَارُ بِخِلَافِ مَا اِذَا كَانَ مَعَ اللَّامِ نَحْوُ ضُرِبَ لِلتَّادِيْبِ
ته نوكه اسناديې وشي دې طرف ته نوفوت به شي نصب اواشاره په خلاف دهغه چې وي سره دلام لكه ضرب للتاديب
مَعَهُ كَذٰلِكَ اَيْ كُلٌّ مِنَ الْمَفْعُوْلِ لَهُ وَ الْمَفْعُوْلُ مَعَهُ كَذٰلِكَ اَيْ كَالْمَفْعُوْلِ الثَّانِيْ وَ
اومفعول معه همدارنگې دي يعنې هريودمفعول له اودمفعول معه نه همدارنگې دي يعنې دمفعول ثاني اود
الثَّالِثِ مِنْ بَابِ عَلِمْتُ وَ اَعْلَمْتُ فِيْ اَنَّهُمَا لَا يَقَعَانِ مَوْقِعَ الْفَاعِلِ اَمَّا الْمَفْعُوْلُ لَهُ فَلِمَا عَرَفْتَ
مفعول ثالث دباب دعلمت اواعلمت نه چې دادواړه نه واقع كيږي په ځاې دفاعل هرچې مفعول له دي نو داتاپيژندلي
وَ اَمَّا الْمَفْعُوْلُ مَعَهُ فَلِاَنَّهُ لَا يَجُوْزُ اِقَامَتُهُ مَقَامَ الْفَاعِلِ مَعَ الْوَاوِ الَّتِيْ اَصْلُهَا الْعَطْفُ
اوهرچې مفعول معه دي نوځكه چې نه دي جائزقائمول ددې په ځاې دفاعل سره دهغه واوچې اصل يې عطف وي

وَ هِيَ دَلِيْلُ الْاِنْفِصَالِ وَ الْفَاعِلُ كَالْجُزْءِ مِنَ الْفِعْلِ وَلَا بِدُوْنِ الْوَاوِ فَاِنَّهُ لَمْ يُعْرَفْ
اودادلیل دانفصال دي اوفاعل په شان دجزدي دفعل نه اونه په غیر دواونه ځکه چې نه معلومیږي په دې وخت
حِيْنَئِذٍ كَوْنُهُ مَفْعُوْلاً مَعَهُ.
کې نه معلومیږي کیدل ددې مفعول معه .

خلاصه دمتن: دصاحب دکافیې دعبارت حاصل دادې چې څلور مفاعیل داسې دي چې دفاعل قائمقام نه شي جوړیدي : (۱) دباب دعلمت دویم مفعول .(۲) دباب داعلمت دریم مفعول .(۳) مفعول له .(۴) مفعول معه .

اغراض دجامي: مواقع الفاعل: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مصنف ویلي دي چې دباب دعلمت نه ددوه مفعولینو نه دویم مفعول نه واقع کیږي اوعدم وقوع نه متبادر الی الذهن عدم وقوع في الکلام دي نو مطلب دادې چې په کلام دعربو کې دباب دعلمت مفعول ثاني واقع نه وي حالانکه داغلط دي بلکه واقع کیږي لکه علمت زیداً فاضلاً

جواب : موقع الفاعل سره یې ددې اشکال جواب ورکړو چې دعدم وقوع نه مراد عدم وقوع في الکلام نه دي بلکه موقع الفاعل دي چې دباب دعلمت مفعول ثاني دفاعل په ځای نه واقع کیږي .

مفعولي: په دې عبارت سره شارح داظاهروي چې باب دعلمت مضاف الیه دي ددې مضاف محذوف دي کوم چې مفعولي دي .

باب علمت: ددې نه مراد هغه فعل یاشبه فعل دي چې دوه مفعولینو طرف ته متعدي وي اودویم مفعول مخکې طرف ته مسند وي .

لانه: په دې عبارت سره غرض دشارح دباب دعلمت ددویم مفعول دفاعل دقائمقام نه کیدو وجه بیانوي چې باب دعلمت مفعول ثاني اول مفعول طرف ته په پوره اسناد سره مسند کیږي اوفعل هم د خپل مفعول مالم یسم فاعله طرف ته پوره اسناد سره مسند وي که چیرته باب دعلمت دمفعول ثاني د فاعل قائمقام یې کړو نودمفعول ثاني په یو وخت کې مسند اومسند الیه کیدل به لازم راشي کوم چې جائز نه دي .

بخلاف: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: مونږ دا نه منو چې شئ واحد په یو وخت کې مسند او مسند الیه کیدل جائز نه دي بلکه جائز دي لکه اعجبني ضربُ زید عمروا کې ضرب زید طرف ته مسند دي او اعجبني دفاعل کیدو دوجې نه مسند الیه هم دي نو شئ واحد (ضرب) په یو وخت کې مسند هم دي او مسند الیه هم دي.

جواب: دعدم جواز نه مراد دادې چې شئ واحد په یو وخت کې مسند او مسند الیه کیدل په هغه وخت کې جائز دي چې کله دواړه اسناد تام سره وي او په ذکر شوي مثال کې اګرچې اعجبني اسناد ضرب طرف ته اسنادِ تام دي لیکن دضرب اسناد زید طرف ته اسنادِ تام نه دي بلکې ناقص دي ځکه چې هغه مرکب اضافي دي لهذا اعتراض وارد نه دي.

المفعول: په دې عبارت سره شارح داظاهروي چې الثالث صفت دي دموصوف محذوف المفعول دپاره.

مفاعیل: په دې عبارت سره شارح دابیانوي چې باب اعلمت مضاف الیه دي دمضاف محذوف کوم چې مفاعیل دي.

الاحکمه: په دې عبارت سره غرض دشارح دباب اعلمت د مفعول ثالث د فاعل دقائمقام نه کیدو وجه بیانوي چې دباب اعلمت دمفعول ثالث مفعول ثاني طرف ته اسناد تام سره مسند وي او فعل مفعول ما لم یسم فاعله طرف ته په اسنادِ تام سره مسند وي که چیرته باب داعلمت دمفعول ثالث دفاعل قائمقام کړي شي نو مفعولِ ثالث په یو وخت کې اسناد تام سره مسند او مسند الیه کیدل لازم به راشي کوم چې جائز نه دي.

لان النصب فیه: په دې عبارت سره غرض دشارح دمفعول له بلا لام دفاعل دقائمقام نه کیدو وجه بیانول دي چې مفعول له بې دلام نه نصب ددې دفعل دپاره دعلت کیدو باندې دلالت کوي که چیرته دا دفاعل قائمقام کړي دي نو ددې نصب به فوت شي ځکه چې مفعول مالم یسم فاعله مرفوع وي منصوب نه وي چې کله ددې نصب فوت شي نو په علت کیدو باندې دلالت به هم فوت شي ددې وجې نه مفعول له دفاعل قائمقام نه شي کیدې.

بخلاف: په دې عبارت سره غرض دشرح دبلالام دقید فائده بیانول دي چې داقید یې ددې وجې نه لګولې دې چې که چیرته داقید یې نه وې لګولې نو اعتراض به وارد یدو چې مفعول له

دفاعل قائمقام كيدي شي لكه ضرب للتاديب كي ، للتاديب مفعول له دي حالانكه دادفاعل قائمقام دي ليكن چې كله بې دلام قيد يې ولړول نو دا اعتراض رفع شو ځكه چې للتاديب دفاعل قائمقام كيدو بلالام نه دي بلكه مع اللام دي .

اى كل من المفعول: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې كذلك دافقط د مفعول له خبرنه دي بلكه داد مفعول له اومفعول معه ددواړو خبر دي .

اى كالمفعول: په دې كې د ذلك مشار اليه بيان يې كړي چې مشار اليه دباب علمت مفعول ثاني اودباب اعلمت مفعول ثالث دي .

في انهما لايقعان: په دې عبارت سره وجه دشبه بيان دي چې تشبيه په دې خبره كې دي چې دادواړه د فاعل په ځاى نه واقع كيږي مطلب دادې چې لكه څنګه باب علمت مفعول ثاني اودباب اعلمت مفعول ثالث دفاعل قائمقام نه شي كيدي همدارنګې مفعول له اومفعول له هم دفاعل قائمقام نه شي كيدي(مفعول له دفاعل دقائمقام نه كيدو دليل مخكې ذكر شوي دي).

واماالمفعول معه: په دې عبارت سره غرض دشارح دمفعول معه دفاعل دقائمقام نه كيدو دليل بيانول دي چې مفعول معه دفاعل دقائمقام نه كيدودوه صورتونه دي : واو سره . په غير دواونه

(۱): واو سره دفاعل دقائمقام كيدل ددې وجې نه جائز نه ځكه چې دواو اصل عطف دي اوعطف معطوف عليه په مينځ كې مغائرت غواړي اودواو عطف دپاره كيدل دادانفصال دليل دي اومفعول مالم يسم فاعله په منزله د جُزء دفعل وي (دفاعل په شان) اوجزء داتصال تقاضا كوي اوداتصال او انفصال په مينځ كې منافات دي .

(۲):او په غير دواونه په غير هم دفاعل قائمقام نه شي كيدي ځكه چې په دې وخت كې ددې مفعول معه كيدل معلوم نه وي ځكه چې مفعول معه د واو سره وي .

مفعول به په نائب فاعل جوړيدو كې قوي كيدل :

وَ اِذَا وُجِدَ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ فِي الْكَلَامِ مَعَ غَيْرِهٖ مِنَ الْمَفَاعِيْلِ الَّتِيْ يَجُوْزُ وُقُوْعُهَا مَوْقِعَ الْفَاعِلِ
اوچې كله وموندل شي مفعول به په كلام كې سره دنورومفاعيلو هغه چې جائزوي واقع كيدل په ځاى دفاعل نو
تَعَيَّنَ اَيِ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ اَيْ لِوُقُوْعِهٖ مَوْقِعَ الْفَاعِلِ لِشِدَّةِ شِبْهِهٖ بِالْفَاعِلِ فِيْ تَوَقُّفِ تَعَقُّلِ الْفِعْلِ
متعين به وي يعني مفعول به يعني دواقع كيدونه په ځاى دفاعل باندې دوجې دشدت شبه نه دفاعل سره په توقف

عَلَيهِمَا فَاِنَّ الضَّرْبَ مَثَلاً كَمَا اَنَّهُ لَا يُمْكِنُ تَعَقُّلُهُ بِلَا ضَارِبٍ كَذٰلِكَ لَا
دپوهيدو دفعل کې په دې دواړو باندې خکه ضرب مثلا ممکن نه دې پوهيدل د دې په غير د ضارب نه همدارنګې نه
يُمْكِنُ تَعَقُّلُهُ بِلَا مَضْرُوْبٍ بِخِلَافِ سَائِرِ الْمَفَاعِيْلِ فَاِنَّهَا لَيْسَتْ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ
دي ممکن پوهيدل د دې په غير د مضروب نه په خلاف د ټولو مفاعيلو سره خکه چې د دې صفت سره موصوف نه
تَقُوْلُ ضُرِبَ زَيْدٌ بِاِقَامَةِ الْمَفْعُوْلِ بِهٖ مَقَامَ الْفَاعِلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ظَرْفُ زَمَانٍ اَمَامَ الْاَمِيْرِ ظَرْفُ
دي نو ويلې به شي ضرب زيد سره قائم کيدو مفعول به د فاعل په ځاې يوم الجمعة ظرف زمان دې امام الامير ظرف
مَكَانٍ ضَرْباً شَدِيْداً مَفْعُوْلٌ مُطْلَقٌ لِلنَّوْعِ بِاِعْتِبَارِ الصِّفَةِ وَ فَائِدَةُ وَصْفِ الضَّرْبِ بِالشِّدَّةِ التَّنْبِيْهُ
مکان دې ضرباً شديدا مفعول مطلق نوعي دي په اعتبار د صفت سره او فائده د وصف د ضرب د شدت سره تنبيه ده
عَلٰى اَنَّ الْمَصْدَرَ لَا يَقُوْمُ مَقَامَ الْفَاعِلِ بِلَا قَيْدٍ مُخَصِّصٍ اِذْ لَا فَائِدَةَ
په دې خبره باندې چې مصدر نه دې قائمقام د فاعل نه په غير د اسې قيد سره چې مخصص وي خکه چې نشته فائده
فِيْهِ لِدَلَالَةِ الْفِعْلِ عَلَيْهِ فِيْ دَارِهٖ جَارٌّ وَ مَجْرُوْرٌ شَبِيْهٌ بِالْمَفَاعِيْلِ اُقِيْمَ
په دې کې دوجې د دلالت د فعل نه په دې باندې في داره جار مجرور دي چې مشابه دي د مفاعيلو سره قائم وي په
مَقَامَ الْفَاعِلِ مِثْلُهَا فَتَعَيَّنَ زَيْدٌ وَ اِنْ لَّمْ يَكُنْ اَيْ وَ اِنْ لَّمْ يُوْجَدْ فِي الْكَلَامِ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ
ځاې د فاعل په شان نو متعين يې کړو زيد او که چيرته نه وي يعني که چيرته نه موندل کيږي په کلام کې مفعول به
فَالْجَمِيْعُ اَيْ جَمِيْعُ مَا سِوَي الْمَفْعُوْلِ بِهٖ سَوَاءٌ فِيْ جَوَازِ وُقُوْعِهَا مَوْقِعَ الْفَاعِلِ وَ
نو ټول يعنې مفعول به نه غير باقي ټول برابر دي په دې باره کې چې جائز دي د دې واقع کيدل د فاعل په ځاې او
الْمَفْعُوْلُ الْاَوَّلُ مِنْ بَابِ اَعْطَيْتُ اَيِ الْفِعْلُ الْمُتَعَدِّيْ اِلٰى مَفْعُوْلَيْنِ ثَانِيْهِمَا غَيْرُ الْاَوَّلِ
مفعول اول د باب اعطيت يعنې د هغه فعل چې متعدي وي دواړو مفعولينو طرف ته چې د هغې نه دويم د اول نه غير وي
اَوْلٰى بِاَنْ يُّقَامَ مَقَامَ الْفَاعِلِ مِنَ الْمَفْعُوْلِ الثَّانِيْ لِاَنَّ فِيْهِ
دا ډير بهتر دي په دې طريقه باندې چې قائم کړې شي د فاعل په ځاې د مفعول ثاني په نسبت خکه چې په دې کې
مَعْنَى الْفَاعِلِيَّةِ بِالنِّسْبَةِ اِلَى الثَّانِيْ لِاَنَّهٗ عَاطٍ اَيْ آخِذٌ نَحْوُ اُعْطِيَ زَيْدٌ دِرْهَماً مَعَ جَوَازِ
د فاعليت معنى وي په نسبت سره نور و ته خکه چې دا عاط يعنې اخستونکي لکه اعطي زيد درهما سره د جائز کيدو
اُعْطِيَ دِرْهَمٌ زَيْداً وَذٰلِكَ عِنْدَ الْاَمْنِ مِنَ اللَّبْسِ وَ اَمَّا عِنْدَ عَدَمِهٖ فَيَجِبُ اِقَامَةُ الْمَفْعُوْلِ الْاَوَّلِ
اعطي درهم زيدا په وخت کې د امن کيدو د لبس نه او چې کله د التباس نه امن نه وي نو واجب د مفعول اول قائمول
نَحْوُ اُعْطِيَ زَيْدٌ عَمْرواً.
لکه اعطي زيد عمروا.

خلاصه د متن: د صاحب د کافيې د عبارت حاصل دادې چې کله په کلام کې مفعول به وموندل شي او ددې سره نور مفاعيل هم وي کوم چې د فاعل د قائمقام کيدو صلاحيت لري نو د فاعل د قائمقام کيدو دپاره به مفعول به متعين وي ، بيا **تقول ضرب زيد** سره صاحب د کافيې يو داسې مثال پيش کړي چې په کوم کې مفعول به کې تول داسې مفاعيل وموندل شي کوم چې د فاعل د قائمقام جوړيدو صلاحيت لري لکه **ضرب زيد يوم الجمعة امام الامير ضربا شديدا في داره**. په دې کې **زيد** مفعول به دي کوم چې د فاعل د قائمقام کيدو دپاره متعين دي او **يوم الجمعة** مفعول فيه ظرف زمان دي او **امام الامير** مفعول فيه ظرف مکان دي **ضربا شديدا** مفعول مطلق نوعي دپاره دي او **في داره** جار مجرور دي کوم چې د **فضله في الكلام** کيدو د مفاعيلو مشابه دي ددې نه پس **وان لم يكن** سره دابيانوي چې که چيرته په کلام کې مفعول به ونه موندل شي نو باقي مفاعيل د فاعل قائمقام کيدو کې برابر دي بل ته ترجيح نه شي ورکولې بيا **والاول من** سره يې داظاهره کړه چې د **باب اعطيت** مفعول ثاني د فاعل قائمقام کول جائز دي ليکن اول مفعول د فاعل قائمقام کول اولى دي .

اغراض د جامي: <u>في الكلام</u>: داد **وجد** د صلې بيان دي .

<u>**مع غيره**</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: داخبره واضحه ده چې کله په کلام کې مفعول به وموندل شي نو د فاعل د قائمقام کيدو دپاره همدا متعين وي لهذا ددې ذکر کولو ضرورت نشته .

جواب: مراد دانه دي چې يواځې مفعول به وي بلکه مراد دادې چې په کلام کې مفعول به هم وي او باقي مفاعيل هم وي کوم چې د فاعل د قائمقام کيدو صلاحيت لري نو په دې وخت کې فاعل د قائمقام کيدو دپاره به مفعول به متعين وي .

<u>**اى المفعول**</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح بيان د مرجع دي د تعين د ضمير مرجع يې متعين کړه چې د ضمير مرجع **موقع الفاعل** دي .

<u>**لشدة**</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د فاعل د قائمقام کيدو دپاره د مفعول به د متعين کولو وجه بيانوي چې د مفعول به د فاعل سره شديد مشابهت دي ځکه چې لکه څنګه د فعل متعدي تعقل په فاعل باندې موقوف دي نو همدا رنګې په مفعول به باندې هم موقوف دي مثلاً ضرب

چې لکه څنګه د دې تعقل د ضارب نه په غير ممکن نه دي همدارنګې د مضروب نه په غير هم ممکن نه دي په خلاف د باقي مفاعيلو چې هغه په دې مرتبه کې نه دي نو د دې وجې نه به نائب فاعل به مفعول به وي

تقول ضرب زيد : په دې عبارت سره غرض د شارح ديو مثال پيش کول دي چې په هغې کې مفعول به او ټول مفاعيل موندل کيږي کوم چې د فاعل د قائمقام جوړيدو صلاحيت لري لکه **ضرب زيد يوم الجمعة امام الامير ضرباً شديداً في داره** په دې کې زيد مفعول به دي چې د فاعل د قائمقام کيدو د پاره متعين دي او **يوم الجمعة** مفعول فيه ظرف زمان دي او **امام الامير** مفعول فيه ظرف مکان دي **ضرباً شديدا** مفعول مطلق د نوع د پاره دي او **في داره** جار مجرور د فضله في الکلام کيدو د وجې نه د مفاعيلو مشابه دي .

باعتبار الصفة : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مفعول مطلق نوعي څنګه جوړ شو حالانکه مفعول مطلق نوعي د پاره شرط دي چې فاء کلمه مکسوره وي او په آخر کې يې **تاء** وي .

جواب : مفعول مطلق نوعي په دوه قسمه دي : (۱) مفعول مطلق نوعي په اعتبار د صفت سره . (۲) مفعول مطلق نوعي په اعتبار د صيغې سره ، دلته مفعول مطلق نوعي په اعتبار د صفت سره دي او د **فاء** کلمې مکسور کيدل او په آخر کې **تاء** کيدل دا شرط په مفعول مطلق نوعي په اعتبار د صيغې سره دي .

وفائدة : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مفعول مطلق مثال خو په ضربا باندې پوره شو بيا شديدا راوړو ته څه ضرورت وو ؟

جواب : **ضرباً** يې د **شديدا** سره د متصف کولو فائده په دې خبره باندې تنبيه کول دي چې مصدر په غير د مخصص د فاعل قائمقام نه شي کيدي ځکه چې يواځې د مصدر بې د قيد د مخصص نه کومه معتد به فائده نه وي ځکه چې په مصدري معنى باندې په خپله فعل مذکور دلالت کوي حالانکه د فاعل د عمده کيدو د وجې نه معتد به د فائدې محل دي لهذا د کوم څيز نه چې کوم معتد به فائده نه وي نو هغه د فاعل قائمقام نه شي کيدي مګر دا چې کله مصدر په يو صفت سره متصف کړي شي نو د دې نه به دا فائده حاصله وي لهذا دا د فاعل قائمقام جوړيدي شي .

ای وان لم یوجد : په دې عبارت سره غرض دشارح داظاهرول دي چې په لم یکن کې کان تامه دي ، دلم یوجد په معنی کې دي .

في الکلام : په دې عبارت سره غرض دشارح لم یکن په معنی دلم یوجد دصلې بیان کوي .

المفعول به : په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دمرجع دي چې دلم یکن دضمیر مرجع مفعول دي .

ای جمیع ماسوی : په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې په جمیع باندې الف لام دمضاف الیه دعوض نه دي کوم چې مفعول به دي .

في جواز : په دې عبارت سره دسواء دصلې بیان کوي .

المفعول : په دې عبارت سره شارح بیان دترکیب کوي چې الاول صفت دي ددې موصوف محذوف المفعول دي .

ای الفعل المتعدي : په دې عبارت سره شارح دابیانوي چې دباب اعطیت نه مراد هرهغه فعل دي چې دوه مفعولینو طرف ته متعدي وي اودمفعول ثاني مفعول اول نه جدا وي .

بأن : په دې عبارت سره شارح دصلې بیان کوي .

المفعول : په دې عبارت سره دا ظاهروي چې الثاني صفت دي د موصوف محذوف چې هغه المفعول دي .

لان فیه معنی : په دې عبارت سره شارح دنیابت دفاعل دپاره دباب اعطیت دمفعول اول داولی کیدو وجه بیانوي چې حاصل یې دادې چې دباب اعطیت اول مفعول دفاعل قائمقام کول ځکه اولی دي ځکه په دې کې په نسبت د دویم مفعول دفاعلیت والا معنی زیاته موندل کیږي ځکه چې مفعول اول آخذ (یعنې اخستونکي) وي اودویم مفعول ماخوذ(اخستل شوي) وي لکه اعطیت زیدا درهما په دې کې زید آخذ (اخستونکي دي) اودرهما ماخوذ دي ددې وجې نه مفعول اول د فاعل قائمقام کول اولی دي چنانچه اعطي درهم زیدا هم ویل جائز دي لیکن اعطي زید درهما ویل اولی دي .

وذلک عند الامن من اللبس : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا مخکني قاعده په اعطي زید عمروا سره منقوضه او ماته ده ځکه چې په دې کې

مفعول اول زید دفاعل قائمقام کول اولی نه دي بلکه واجب دي او دویم مفعول دفاعل قائمقام کول جائز نه دي

جواب: دمفعول اول اولویت اودویم مفعول جواز په هغه وخت کې دي چې کله دالتباس نه په امن کې وي او په ذکر شوي مثال کې دالتباس نه امن نشته ځکه چې دانه معلومیږي چې ورکونکي څوک دي او ورکړي شوي څیز څه دي ددې وجې نه مفعول اول دفاعل قائمقام کول واجب دي

﴿وَ مِنْهَا الْمُبْتَدَاُ وَالْخَبَرُ﴾ :

مبتداء او خبر :

وَ مِنْهَا الْمُبْتَدَاُ وَالْخَبَرُ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ وَمِنْهُ يَعْنِيْ مِنْ جُمْلَةِ الْمَرْفُوْعَاتِ اَوْمِنْ جُمْلَةِ الْمَرْفُوْعِ الْمُبْتَدَاُ وَ
او ددې نه مبتدا او خبر ده په بعضې نسخو کې ومنه دي یعنې دجملې دمرفوعاتو نه او یا دجملې دمرفوع نه مبتدا او
الْخَبَرُ جَمَعَهُمَا فِيْ فَصْلٍ وَاحِدٍ لِلتَّلَازُمِ الْوَاقِعِ بَيْنَهُمَا عَلٰى مَا هُوَ
خبر دي او دادواړه یې جمع کړل په یو فصل کې دوجې دتلازم نه چې واقع دي په مینځ ددې دواړو کې بناء په هغه څه چې
الْاَصْلُ فِيْهِمَا .وَ اشْتِرَاكِهِمَا فِي الْعَامِلِ الْمَعْنَوِيِّ فَالْمُبْتَدَاءُ هُوَ الْاِسْمُ لَفْظاً اَوْ تَقْدِيْراً
اصل دي په دې دواړو کې او ددواړو د شریکیدو دوجې نه په عامل معنوي کې نو مبتدا هغه اسم دي لفظاً یا تقدیراً دي
لِيَتَنَاوَلَ نَحْوَ اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ الْمُجَرَّدُ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ اَيِ الَّذِيْ لَمْ يُوْجَدْ
دپاره چې شامل شي دې مثال ته چې ان تصوموا خیر لکم چې خالي دي دعوامل لفظیو نه یعنې هغه چې نه وي موجود
فِيْهِ عَامِلٌ لَفْظِيٌّ اَصْلاً وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنِ الْاِسْمِ الَّذِيْ فِيْهِ عَامِلٌ لَفْظِيٌّ كَاسْمَيْ
په دې کې عامل لفظي بالکل او احتراز یې وکړو په دې سره دهغه اسم نه چې په دې کې عامل لفظي وي لکه اسم
اِنَّ وَ كَانَ وَ كَاَنَّهٗ اَرَادَ بِالْعَامِلِ اللَّفْظِيِّ مَا يَكُوْنُ مُؤَثِّراً فِي الْمَعْنٰى لِئَلَّا
دان او دکان او ګویا چې اراده کړي په دې سره عامل لفظي هغه چې مؤثر وي په معنی کې ددې وجې نه چې ونه
يَخْرُجَ عَنْهُ مِثْلُ بِحَسْبِكَ دِرْهَمٌ مُسْنَداً اِلَيْهِ وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنِ الْخَبَرِ وَ ثَانِيْ قِسْمَيِ الْمُبْتَدَاِ
وځي ددې نه دامثال بحسبک درهم مسند الیه وي او احتراز یې وکړو په دې سره دخبر نه او دقسم ثاني دمبتداء نه کوم
الْخَارِجِ عَنْ هٰذَا الْقِسْمِ فَاِنَّهُمَا لَا يَكُوْنَانِ اِلَّا مُسْنَدَيْنِ .
چې ددې قسم نه خارج دي ځکه چې دادواړه نه وي مګر مسند.

خلاصه د متن: صاحب دکافیې دمبتدا داول قسم تعریف کوي مبتدا هغه اسم دي چې دعوامل لفظیو نه خالي وي او مسند الیه وي.

اغراض دجامي: وفي بعض النسخ: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان داختلاف د نُسخو دي چې په بعضې نسخو کې ومنها المبتدا والخبر دي اوپه بعضې کې ومنه المبتدا والخبر دي، که چيرته منها وي نوضمير د مرجع به مرفوعات ته راجع وي مطلب به يې داوي چې من جملة دمرفوعاتو نه مبتدا اوخبر دي، او که چيرته منه وي نومرجع به يې مرفوع وي معنى به يې دا وي چې دجمله مرفوع نه مبتدا اوخبر دي په دواړو صورتونو کې من تبعيضيه دي اومنه والا نسخه راجح ده ځکه چې ماقبل فمنه الفاعل سره موافقت کيږي

جمعها في فصل واحد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر حواب ورکول دي:

سوال: دمبتدااوخبرنه هر يو دمرفوعاتو جدا اومستقل قسم دي نو هر يو يې په جدا فصل کې بيانول په کاروو لکه نور مرفوعات يې په منها يا په منه سره جدا ذکر کړي دي، مصنف داپه يوفصل کې ولې جمع کړو ؟

جواب: شارح مبتدا اوخبر په يو فصل کې دجمع کولو دوه وجې بيان کړي دي: (۱) اوله وجه دتلازم دوجې نه چې په مبتدا اوخبر کې داصل دلحاظ نه تلازم دي يودبل سره لازم اوملزوم دي هيڅ يوه مبتدا بې دخبر نه، نه وي اوهيڅ يو خبر بې دمبتدا نه، نه وي نوګويا چې دا دواړه جوړه ورونه دي(۲) دويمه وجه داده چې په مبتدا اوخبر کې عامل معنوي يعنې په ابتداء کې هم شريک دي ددې دواړو وجهو نه يې دا دواړه په يو فصل کې ذکر کړل.

على ماهو الاصل فيهما: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ستاسوداقول چې دمبتدا اودخبر په مينځ کې تلازم دي هيڅ يوه مبتدا بې دخبر نه، نه وي او هيڅ يو خبر بې دمبتدا نه، نه وي نودامنقوض دي په مبتدا قسم ثاني سره ځکه چې هغه داسې مبتدا ده چې بې دخبر نه وي ځکه چې ددې مابعد فاعل وي نه خبر لکه اقائم زيد کې قائم مبتدا قسم ثاني دي زيد ددې فاعل دي.

جواب: على ما هو الاصل سره علامه جامي ددې سوال جواب ورکوي چې تلازم په هغه صورت کې دي چې کله مبتدا اوخبر په خپل اصل باندې وي اوهغه اصل دادې چې مبتدا مسند اليه او خبر مسند وي اوچونکه مبتدا قسم ثاني کې مبتدا په خپل اصل (مسند اليه) باندې نه دي بلکه مسند دي ځکه چې هلته تلازم نشته.

لفظاً اوتقديراً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دمبتدا قسم اول تعريف جامع نه دي دا په ان تصوموا خير لکم کې په ان تصوموا باندې صادق نه راځي ځکه چې په تعريف کې هوالاسم قيد دي حالانکه ان تصوموا فعل دي نو تعريف په دې باندې صادق نه راځي لهذا تعريف جامع نه دي

جواب: هو الاسم کې تعميم دي برابره خبره ده که لفظاً وي يا تقديراً اوياحکايتاً اوياتاويلا په ذکر شوي مثال کې ان تصوموا اګرچې لفظاً اسم نه دي ليکن تقديراً او تاويلاً اسم دي ځکه چې دان مصدريه دوجې نه دصومکم په تاويل کې دي .

لم يوجد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: المجرد دتجريد نه مشتق دي چې ددې معنی ده خالي کول اويوڅيز دبل څيز نه خالي کول دا تقاضا کوي ددې خبرې چې اول هغه څيز موجود وي بيا وروسته خالي کړې شوي وي لکه زيد مجرد عن الثياب داتقاضا کوي دجامو دوجود مخکې ددې نه معلومه شوه چې مبتدا باندې مخکې عامل لفظي موجود وو بيا مبتدا ددې نه خالي کړې شوه حالانکه په مبتدا باندې خو دسره عامل لفظي وي نه .

جواب: المجرد په معنی دالذي لم يوجد کې دي يعنې عامل لفظي بالکل نه موندل کيږي .

اصلا: په دې عبارت سره شارح وضاحت کوي چې دعدم وجود نه مراد عدم وجود په طريق دسلب کلي سره دي نه په طريق درفع ايجاب کلي ، په ساده الفاظو کې داويلې شي . چې مراد دادې چې عامل لفظي بالکل موندل کيږي نه دامراد نه دي چې اکثر نه موندل کيږي اوکله کله موندل کيږي .

واحترز به: په دې عبارت سره غرض دشارح مجرد عن العوامل اللفظية دقيد فائده بيانول دي چې دا قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي دهغه اسم نه چې په هغې کې عامل لفظي موندل کيږي لکه د ان او د کانّ وغيره اسم .

کانه اراد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: دمبتدا تعريف جامع نه دي په بحسبک درهم کې په بحسبک باندې نه صادقيږي ځکه چې داد عامل لفظي نه خالي نه دي حالانکه دامبتدا ده .

جواب : دعامل نه مراد هغه عامل دي چې په لفظ اومعنى دواړو کې مؤثر وي نومقصد به دا وي چې مبتدا به د داسې عامل لفظي نه خالي وي چې په لفظ او معنى دواړو کې مؤثر وي او په ذکر شوي مثال کې باء لفظ کې خو مؤثر ده ليکن په معنى کې مؤثر نه ده ځکه چې دا زائده ده.

واحترزبه : په دې عبارت سره غرض دشارح دمسند اليه دقيد فائده بيانول دي چې داقيد احترازي دي په دې سره دخبر اومبتدا قسم ثاني نه احتراز دي ځکه چې دامسند اليه نه وي بلکه مسند وي

دمبتداء ثاني تعريف :

أَوِ الصِّفَةِ سَوَاءٌ كَانَتْ مُشْتَقَّةً كَضَارِبٍ وَ مَضْرُوْبٍ وَ حَسَنٍ أَوْ جَارِيَةً مَجْرَاهَا كَقُرَشِيٍّ
ياصيغه دصفت وي برابره خبره ده که مشتق وي لکه ضارب مضروب حسن يادهغې قائمقام وي لکه قريشي
الْوَاقِعَةِ بَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ كَمَا وَلَا أَوْ أَلِفِ الْإِسْتِفْهَامِ وَ نَحْوِهِ كَهَلْ وَمَا وَ مَنْ وَ عَنْ سِيْبَوَيْهِ
ياواقع وي پس دحرف نفي نه لکه ماولايا الف استفهام اوددې مثال نه وروستولکه هل اوماومن اودسيبويه نه
جَوَازُ الْإِبْتِدَاءِ بِهَا مِنْ غَيْرِ اِسْتِفْهَامٍ وَنَفْيٍ مَعَ قُبْحٍ وَ الاخفش يَرَى ذَلِكَ حَسَناً وَ عَلَيْهِ
نقل دي چې ابتداء دهغې سره بغير استفهام اونفي وي مگرقباحت سره اواخفش دې دا ښه گنړي اوپه دې باندې
قَوْلُ الشَّاعِرِ ع فَخَيْرٌ نَحْنُ عِنْدَ النَّاسِ مِنْكُمْ فَخَيْرٌ مُبْتَدأٌ وَ نَحْنُ فَاعِلُهُ وَ لَوْ جُعِلَ خَيْرٌ
دشاعرقول پيش کوي فَخَيْرٌ نَحْنُ عِنْدَ النَّاسِ مِنْكُمْ پس خيرمبتدا دي اونحن ددې فاعل دي اگرکه جوړکړې شي
خَبَراً عَنْ نَحْنُ لَفُصِلَ بَيْنَ إِسْمِ التَّفْضِيْلِ وَمَعْمُوْلِهِ الَّذِيْ هُوَ مِنْ بِأَجْنَبِيٍّ وَهُوَ غَيْرُ جَائِزٍ لِضُعْفِ
خبردنحن خبرنواسم تفضيل اودهغې معمول په مينځ کې چې من دي اجنبي فاصله لازميږي اودا جائزنه دي دضعيف
عَمَلِهِ بِخِلَافِ مَا لَوْ كَانَ فَاعِلًا لِكَوْنِهِ كَالْجُزْءِ رَافِعَةً
عمل دوجې نه په خلاف ددې صورت کې که چيرته نحنُ فاعل وي ځکه چې دهغه جُزپه شان وي کوم چې رفع ورکوي
لِظَاهِرٍ وَ مَا يَجْرِيْ مَجْرَاهُ وَ هُوَ الضَّمِيْرُ الْمُنْفَصِلُ لِئَلَّا يَخْرُجَ نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالَى
اسم ظاهرته اوکوم چې دهغې قائمقام وي اوهغه ضمير منفصل دي ځکه چې ونه وځي دې سره داقول دالله تعالى
أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِيْ يَا إِبْرَاهِيْمُ وَاحْتَرَزَ بِهِ عَنْ نَحْوِ أَقَائِمَانِ الزَّيْدَانِ لِأَنَّ أَقَائِمَانِ رَافِعٌ
أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِيْ يَا إِبْرَاهِيْمُ اوپه دې سره احترازکړي دي مثال داقائمان الزيدان نه ځکه چې اقائمان رفع ورکوونکي
لِضَمِيْرٍ عَائِدٍ إِلَى الزَّيْدَانِ وَ لَوْ كَانَ رَافِعَانِ لِهَذَا الظَّاهِرِ لَمْ يَجُزْ تَثْنِيَةُ
دي هغه ضميرته کوم چې الزيدان طرف ته راجع دي اوکه چيرته دې اسم ظاهرته رفع ورکولې نونه ده جائزتثنيه ددې

مِثْلَ زَيْدٌ قَائِمٌ مِثَالٌ لِلْقِسْمِ الْاَوَّلِ مِنَ الْمُبْتَدَاِ وَمَا قَائِمٌ الزَّيْدَانِ مِثَالٌ لِلصِّفَةِ الْوَاقِعَةِ بَعْدَ حَرْفِ
لکه زید قائم دا مثال د مبتدا اقسم اول دي اوماقائم الزيدان دامثال دي دهغه صفت کوم چې واقع وي پس دحرف
النَّفْيِ وَ اَقَائِمٌ الزَّيْدَانِ مِثَالٌ لِلصِّفَةِ الْوَاقِعَةِ بَعْدَ حَرْفِ الْاِسْتِفْهَامِ.
نفي نه واقائم الزيدان مثال دي دهغه صيغې صفت کوم چې واقع وي حرف استفهام نه وروستو.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې دمبتداء د قسم ثاني تعريف بيانيږي چې مبتداء قسم ثاني هغه دصفت صيغه ده چې حرف نفي يا الف استفهام نه وروستو واقع وي او اسم ظاهر ته رفع ورکړي.

اغراض دجامي: سواء كانت: په دې سره غرض دشارح ديوسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د مبتداء د قسم ثاني تعريف جامع نه دي په **قريشي** انت کې په **قريشي** باندې نه صادقيږي ددې وجې نه چې هغه دصفت صيغه نه ده حالانکه هغه مبتداء ثاني ده اوخپل مابعد انت ته رفع ورکوي.

جواب: صفت کې عموم دي برابره خبره ده که حقيقتاً وي لکه مشتقات **ضارب، مضروب، حسن** وغيره ، ياحکماً وي يعني دمشتق قائمقام وي اودهغې په حکم کې وي اوس دمبتداء قسم ثاني تعريف په قريشي باندې صادقيږي ځکه چې دا اسم منسوب دي ، او اسم منسوب دمشتقاتو حکم لري.

كماولا: په دې عبارت کې غرض دشارح تعين دمصداق دحرف نفي کړي دي چې دحرف نفي مصداق **ما** و**لا** دي.

ونحوه: په دې سره غرض دشارح جواب دسوال مقدر دي:

سوال: دمبتداء قسم ثاني تعريف جامع نه دي داپه **هل قائم زيد** کې په **قائم** باندې نه صادقيږي ددې وجې نه چې داحرف نفي يااستفهام نه وروستو واقع نه دي حالانکه دامبتداء قسم ثاني ده.

جواب: الف استفهام معطوف عليه دي اومعطوف سره دحرف عطف محذوف دي تقدير د عبارت داسې دي چې: **الف الاستفهام ونحوه** ، نو ددې نه معلومه شوه چې صرف الف استفهام مراد نه دي بلکه الف استفهام اوددې په شان نور حروف استفهاميه لکه **من ما** او **هل** وغيره

مراد دي . اوس تعريف په هل زيد قائم کې په قائم باندې صادقيږي .

وعن سيبويه : په دې کې غرض دشارح په صاحب دکافيه باندې اعتراض کول دي په مع القبح سره ددې جواب طرف ته اشاره کوي

اعتراض : سيبويه حرف نفي اواستفهام نه په غيرهم دصفت صيغه مبتداء جوړول جائز ګڼړي او تاسو حرف نفي يا الف استفهام لره شرط مقرر کړي نوتاسو دامام النحوين مخالفت ولې کوي ؟

جواب : شارح مع القبح سره ددې جواب طرف ته اشاره کړي ده اګر که سيبويه حرف نفي او الف استفهام بغير دصفت صيغې لره مبتداء جوړول جائز کړي دي ليکن مع القبح سره دا اعتراف هم کړي دي چې دا قبيح اوناخوښه دي لهذا دمصنف قول راجح او غوره دي ځکه چې مصنف دحق تابع دي د سړو يعني دخلکو تابع نه دي .

والاخفش : په دې سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستاسو خبره مو ومنله چې سيبويه دې لره قبيح ګڼړي ليکن امام اخفش حرف نفي اواستفهام نه بغيردصفت صيغې لره مبتدا مستحسن اوښه ګڼړي اوامام اخفش په دليل کې دشاعر داشعر پيش کوي چې فَخَيْرٌ نَحْنُ عِنْدَ النَّاسِ مِنْكُمْ .

طريقه داستدلال : طريقه داستدلال داده چې په دې کې خير صيغه دصفت ده اوداد مبتداء قسم ثاني ده اونحن فاعل قائمقام دخبر دي اوخير نه دحرف نفي نه وروستو واقع دي اونه د الف استفهام نه وروستو واقع دي ددې نه معلومه شوه چې حرف نفي اوالف استفهام نه بغير هم صيغه دصفت د مبتداء قسم ثاني جوړول مستحسن اوښه دي .

جواب : دامام اخفش ددې استدلال نه دوه (۲) جوابونه دي :

جواب (۱) : داشعر دکلام دفصحاو نه ،نه دي بلکه دغير فصحاء کلام دي اودې لره استشهاد اودليل نه شي جوړولې .

جواب (۲) : اګرکه داد فصحاو دکلام نه ومنل شي نوبيابه هم مونږ داسې وايو چې داد ضرورتِ شعري دوجې نه دي .

ولوجعل : په دې سره غرض دشارح دامام اخفش په استدلال باندې ديو سوال جواب ورکول ..

سوال : مونږ دانه منو چې په ذکر شوي شعر کې خير صيغه دصفت ده چې مبتدا قسم ثاني او نحن فاعل قائمقام دخبر دي بلکه خير خبر مقدم اونحن مبتدا مؤخر ده اوداد مبتدا اول د قبيلې نه دي . لهذا دامام اخفش استدلال صحيح نه دي ؟

جواب :اگر که خير لره خبر مقدم او نحن مبتداء مؤخر جوړکړي شي نواسم تفضيل يعني خير او ددې معمول يعني من په مينځ کې په اجنبي ځيز سره فاصله راځي اوهغه اجنبي ځيز نحن مبتدا ده حالانکه اسم تفضيل کمزورې عامل دي داسم تفضيل اودهغې دمعمول په مينځ کې په اجنبي ځيز سره فاصله جائز نه ده .

په خلاف ددې صورت کې چې خير صيغه دصفت دمبتداء قسم ثاني وي اونحن فاعل قائمقام خبر کې وي نوپه دې صورت کې په اجنبي ځيز سره فاصله نه راځي بلکه د نحن فاعل فاصله به وي اوفاعل په منزله دجز کې وي .

ومايجري: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمبتداء قسم ثاني تعريف جامع نه دي داپه أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ ، کې په أَرَاغِبٌ باندې نه صادقيږي ځکه چې دا اسم ظاهر ته رفع نه ورکوي بلکه ضمير انت ته رفع ورکوي حالانکه دا مبتداء قسم ثاني ده .

جواب : په اسم کې تعميم دي برابره خبره ده که اسم ظاهر وي يادا اسم ظاهر قائمقام وي او قائمقام نه مراد ضمير منفصل دي ددې وجې نه چې لکه څنګه اسم ظاهر په تلفظ کې غير ته محتاج نه وينو همدارنګې ضمير منفصل هم په خپل تلفظ کې غير ته محتاج نه دي ، اوس دلته دمبتداء ثاني تعريف په أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ باندې صادق شو .

واحترز به: په دې عبارت سره غرض دشارح رافعة للظاهر دقيد فائده ذکر کوي چې داقيد احترازي دې ددې نه اقائمان الزيدان خارج شو ، ځکه چې صيغه دقائمان صفت دي اواسم ظاهر لره رفع نه ورکوي بلکه اسم ضمير ته رفع ورکوي قرينه ورباندې داده چې که صيغه دصفت اسم ظاهر دپاره رافع وي نو فعل وشبه فعل تثنيه به نه وي ځکه چې کله فاعل اسم ظاهر وي نوفعل وشبه فعل به هميشه دپاره واحد راځي برابره خبره ده که فاعل تثنيه وي اوکه جمع .

مثال للقسم الاول: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دتعين دممثل له دي چې زيد قائم دا

مبتدا د قسم اول مثال دي

مثال للصفة: په دې عبارت سره هم غرض دشارح بیان دتعین دممثل لـه دي اقائم الزیدان ، دار هغه صیغې دصفت بیان دي چې دالف استفهام نه پس واقع وي.

د صیغې د صفت ترکیبي احتمالات:

فَإِنْ طَابَقَتِ الصِّفَةُ الْوَاقِعَةُ بَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ وَ الاِسْتِفْهَامِ اِسْمًا مُفْرَدًا مَذْكُورًا
که چیرته مطابق وي صیغه دصفت چې واقع وي وروستو دحرف نفي اواستفهام نه اوهغه اسم مفرد چې مذکوروي
بَعْدَهَا نَحْوُ مَا قَائِمٌ زَيْدٌ وَ اَقَائِمٌ زَيْدٌ وَ احْتَرَزَ بِهِ عَمَّا اِذَا طَابَقَتْ
دهغې نه وروستو لکه ماقائم زید واقائم زید او احترازیې کړي دي ددې په ذریعې سره دهغې نه چې کله مطابق وي
مُثَنًّى نَحْوُ اَقَائِمَانِ الزَّيْدَانِ اَوْ مَجْمُوْعًا نَحْوُ اَقَائِمُوْنَ الزَّيْدُوْنَ فَإِنَّهَا حِيْنَئِذٍ خَبَرٌ لَيْسَ إِلَّا
دتثنیې سره لکه اقائمان الزیدان یادجمع برابروي لکه اقائمون الزیدون پس په دې وخت کې خبربه نه وي جائزمګر
جَازَ الْاَمْرَانِ كَوْنُ الصِّفَةِ مُبْتَدَأً وَمَا بَعْدَهَا فَاعِلُهَا يَسُدُّ مَسَدَّ الْخَبَرِ وَكَوْنُ مَا بَعْدَهَا مُبْتَدَأً وَالصِّفَةِ خَبَرًا
دوه امرونه صیغه صفت مبتدا جوړول اومابعد فاعل قائم دخبروي اومابعدبه مبتدا اوي اوصیغه دصفت به خبر
مُقَدَّمًا عَلَيْهِ فَهٰهُنَا ثَلٰثُ صُوَرٍ اَحَدُهَا اَقَائِمَانِ الزَّيْدَانِ وَيَتَعَيَّنُ حِيْنَئِذٍ اَنْ يَّكُوْنَ الزَّيْدَانِ مُبْتَدَأً
مقدم وي نودلته دري صورتونه دي ددې نه یو اقائمان الزیدان اومتعین به وي په دې وخت کې دا الزیدان مبتداء
وَاَقَائِمَانِ خَبَرًا مُقَدَّمًا عَلَيْهِ وَثَانِيَتُهَا اَقَائِمٌ الزَّيْدَانِ وَ يَتَعَيَّنُ حِيْنَئِذٍ اَنْ يَّكُوْنَ الزَّيْدَانِ
او اقائمان خبرمقدم به وي اوبل په دې کې اقائم الزیدان دي اومتعین به وي په هغه وخت کې چې الزیدان صیغه د
فَاعِلًا لِلصِّفَةِ قَائِمًا مَقَامَ الْخَبَرِ وَ ثَالِثُهَا اَقَائِمٌ زَيْدٌ وَ يَجُوْزُ فِيْهِ الْاَمْرَانِ كَمَا عَرَفْتَ.
صفت دپاره فاعل قائمقام خبروي په دې کې دریم اقائم زید په دې کې دوه امره جائزدي لکه تاچې پیژندلي دي

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب دکافیې یوقانون اوقاعده بیانوي فرمایي چې که چیرته صیغه دصفت اسم ظاهر دمفرد مطابق وي نو په دې کې دوه طریقې جائز دي: (۱) صیغه دصفت دمبتداء قسم ثاني وي اودهغې مابعد فاعل قائمقام دخبر کې وي . (۲) صیغه دصفت خبر مقدم اودهغې مابعد مبتداء مؤخر جوړول جائز دي .

اغراض دجامي: الصفة الواقعة: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د طابقت په مرجع د هيَ ضمير کې دوه (۲) احتمالات دي (۱) يابه دهغې مرجع مطلق صفت وي (۲) يا به مرجع هغه صفت وي کوم چې دحرف نفي ياحرف استفهام نه وروستو واقع وي پس دواړه احتمالات صحيح نه دي ، اول احتمال ځکه صحيح نه دي که چيرته د**طابقت هيَ** ضمير مرجع مطلقِ صفت جوړ شي نو په **قائم زيد** کې به هم دوه امره جائز شي حالانکه دلته دوه امره جائز نه دي ، بلکه دصيغه صفت خبر مقدمِ اودهغې مابعد مبتدا مؤخر کيدل متعين دي اودويم احتمال ځکه صحيح نه دي که چيرته هيَ ضمير مرجع هغه صيغه د صفت وي کوم چې حرف نفي ياحرف استفهام نه وروستو واقع وي اورفع ورکوونکي وي اسم ظاهر ته نوکله چې هغه اسم ظاهر دپاره رافع وي نو اسم ظاهر به دهغې معمول وي نوپه دې کې دوه طريقې څنګه جائز دي .

جواب : دطابقت د هيَ ضمير مرجع هغه صيغه دصفت ده کوم چې حرف نفي يا الف استفهام نه وروستو واقع وي ليکن **رافعةً لظاهر** دقيد سره يې لحاظ ساتلي دي يعنې چې په مرجع کې قيد اول خو ملحوظ دي خو قيد ثاني متروک وي .

اسماً: په دې عبارت سره شارح دا ذکر کړي دي چې **مفرداً** صفت دي دموصوف محذوفه چې **اسماً** دي .

مذکوراً بعدها : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا مذکوره قاعده منقوضه اوماته ده په **زيد قائم** سره ځکه چې په دې مثال کې **قائم** صيغه دصفت ده اواسم ظاهر په **زيد** سره دمفرد کيدو کې مطابق دي ، نو په دې کې دوه امره جائز کيدل په کار دي حالانکه دلته دوه طريقې جائز نه دي.

جواب : **مذکوراً بعدها** سره غرض دشارح دجامي ددې اشکال جواب ورکول دي کوم چې د **مفرداً** نه وروستو صفت محذوف دي چې **مذکوراً بعدها** دي يعنې دصفت صيغې اسم ظاهر دمفرد سره مطابق وي اواسم ظاهر مفرد دهغې نه وروستو ذکر وي هلته په دې کې دوه امره يعنې دوه طريقې جائز وي او په **زيد قائم** کې اسم ظاهر دصيغې دصفت نه وروستو واقع نه دي بلکې مخکې يعنې په اول کې واقع دي ددې وجې نه دوه طريقې جائز نه دي .

ماقائم زيد: دا دهغه صيغې دصفت مثال دي کوم چې حرف استفهام نه وروستو واقع وي اود

اسم مفرد موافق وي

واحترزبه: په دې سره غرض دشارح دمفرداً دقيد فائده بيانول دي په دې سره احتراز دي د هغې صيغې دصفت نه کوم چې اسم ظاهر لره تثنيه اوجمع کې موافق وي ، دتثنيې مثال **ما قائمان الزيدان** اودجمع مثال **ما قائمون الزيدون** ، په دې صورتونو کې دوه طريقې جائز نه دي بلکه دصيغې دصفت خبر مقدم اواسم ظاهر مبتدا کيدل متعين دي .

كون الصفة: په دې سره غرض دشارح دامران مصداق بيانول دي چې ددې مصداق دوه شيان دي :

(۱)دصيغې دصفت مبتدا قسم ثاني اومابعد فاعل قائمقام دخبر وي .

(۲)دصيغې د صفت خبر مقدم اومابعد به مبتدا مؤخر وي .

فههنا ثلاث: دلته تول څلور صورتونه دي چې په هغې کې درې مستعمل اوجائز دي اوڅلورم غير مستعمل اوناجائز دي هغه درې (۳) استعماله دادي :

(۱)داصيغه صفت اسم ظاهرسره په تثنيه اوجمع کې موافق وي دتثنيې مثال **اقائمان الزيدان**، دجمع مثال **اقائمون الزيدون** په دې کې دوه طريقې جائز نه دي بلکې صيغه دصفت خبر مقدم کيدل اومابعد مبتدا مؤخر کيدل متعين او واضح دي .

(۲)صيغه دصفت مفرد وي اواسم ظاهر تثنيه وي مثال **اقائم الزيدان** ياجمع وي مثال **اقائم الزيدون** په دې کې هم دوه طريقې جائز نه دي بلکه صيغه دصفت مبتدا ثاني کيدل اوورستي فاعل قائمقام دخبر جوړول واضح اومتعين دي .

(۳)صيغه دصفت داسم مفرد موافق وي په دې کې دوه طريقې جائز دي اول داچې صيغه دصفت مبتدا قسم ثاني وي اوورستو فاعل قائمقام دخبر وي . دوهمه داچې صيغه دصفت خبر مقدم وي اومابعد مبتدا مؤخر وي .

(۴)صيغه دصفت تثنيه يا جمع وي اسم ظاهر مفرد وي مثال **اقائمان زيد** ، او **اقائمون زيد** ، په داصورت صرف عقلي غير مستعمل اوناجائز دي .

دخبر تعريف :

وَالْخَبَرُ هُوَ الْمُجَرَّدُ أَيْ هُوَالْإِسْمُ الْمُجَرَّدُعَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ لِأَنَّ الْكَلَامَ فِيْ اِسْمِ الْمَرْفُوْعَاتِ فَلَا يَصْدُقُ عَلَى
خبرهغه اسم دي چې خالي وي دعوامل لفظيونه ځکه چې کلام دمرفوعاتو په اسم کې دې پس نه صادقيږي په

يَضْرِبُ فِيْ يَضْرِبُ زَيْدٌ اَنَّهُ الْمُجَرَّدُ الْمُسْنَدُ بِهٖ الْمُغَايِرُ لِلصِّفَةِ	
يَضربُ باندې په يَضربُ زيد کې چې هغه خالي دې دعواملونه مسندبه مغاير وي دهغه صفت د صيغې کوم چې	
الْمَذْكُوْرَةِ لِاَنَّهُ لَيْسَ بِاِسْمِ الْمُسْنَدُ بِهٖ اَىْ مَا يُوْقَعُ بِهٖ الْاِسْنَادُ وَ احْتَرَزَ	
مذکوردې خکه چې دااسم نه دې بلکه مسندبه دې يعني هغه څيزکوم سره چې اسنادواقع کيږي اواحترازيې کړې	
بِهٖ عَنِ الْقِسْمِ الْاَوَّلِ مِنَ الْمُبْتَدَاِ لِاَنَّهُ مُسْنَدٌ اِلَيْهِ لَا مُسْنَدٌ بِهٖ الْمُغَايِرُ	
په دې ذريعې سره دمبتدا قسم اول نه خکه چې هغه مسنداليه دې مسندبه نه دې کوم چې مغائروي دصيغې د	
لِلصِّفَةِ الْمَذْكُوْرَةِ فِيْ تَعْرِيْفِ الْمُبْتَدَاِ وَاحْتَرَزَ بِهٖ عَنِ الْقِسْمِ الثَّانِيْ مِنَ الْمُبْتَدَاِ وَلٰكِنْ	
صفت نه چې ذکرشوي په تعريف دمبتداکې اواحترازيې کړې په دې سره دمبتدا قسم ثاني نه اوستادپاره جائز	
اَنْ تَقُوْلَ الْمُرَادُ الْمُسْنَدُ بِهٖ اِلَى الْمُبْتَدَاِ اَوْ تَجْعَلَ الْبَاءَ فِيْ بِهٖ بِمَعْنٰى اِلٰى	
دې چې ته ووايې چې مراد هغه دې کوم چې مبتدا طرف ته مسندوي يابه ته گرخوې باله په بِهٖ کې په منى دالى	
وَالضَّمِيْرُ الْمَجْرُوْرِ رَاجِعًا اِلَى الْمُبْتَدَاِ وَعَلَى التَّقْدِيْرَيْنِ يَخْرُجُ بِهٖ الْقِسْمُ الثَّانِيْ مِنَ الْمُبْتَدَا وَ يَكُوْنَ	
سره اوضمير مجرورلره راجع کړې مبتدا طرف ته اوپه دې صورتونوسره به ووځي دمبتدا قسم ثاني اووي به د	
قَوْلُهُ الْمُغَايِرُ لِلصِّفَةِ الْمَذْكُوْرَةِ تَاكِيْدًا.	
هغه دا قول الْمُغَايِرُ لِلصِّفَةِ الْمَذْكُوْرَةِ تَاكِيْدًا.	

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب دکافيې دخبر تعريف بيانوي چې خبر هغه اسم دې چې عوامل لفظيه نه خالي وي اومسند به وي اودصفتِ مذکوره مغائر وي .

اغراض دجامي : اى هو الاسم المجرد : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دخبر تعريف مانع نه دې په يضرب زيد کې په يضرب باندې صادقيږي خکه چې دا عوامل لفظيه نه خالي دې اومسند به وي اودصفتِ مذکوره مغائر دې حالانکه داخبر نه دې ؟.

جواب : المجرد دا صفت دې د موصوف محذوفه چې الاسم دې خکه چې دلته دااسم مرفوعاتو نه بحث کيږي اوخبر دا‌سم داد مرفوع قسم وي اودقسم په تعريف کې دمقسم ذکر ضروري وي خکه چې دلته الاسم محذوف ملحوظ دې ، نو لهذا په يضرب زيد باندې تعريف نه صادقيږي خکه چې هغه فعل دې .

سوال : کله چې دخبر په تعريف کې الاسم قيد ملحوظ دې نودهغې ذکر يې ولې ونه کړو ؟.

جواب : ځکه چې دمبتدا په تعریف کې الاسم لفظ مذکور وو او د مبتدا خبر رکنانِ متلازمان دي نو په دې باندې یې اکتفاء وکړه .

ای مایوقع به الاسناد: په دې عبارت کې شارح ددوه مقدرو سوالونو جواب ورکوي :

سوال(۱) : مسند ماخوذ دي داسناد نه اواسناد دباب افعال مصدر متعدي بنفسه بلاواسطه حرفِ جر وي نو مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ دې لره په حرف د باء سره ولې متعدي کړو ؟ .

سوال (۲) : مسند داسناد نه دي اوداسناد صله الی راځي بهاء نه راځي نو په کار دا وه چې داسې یې ویلي وي چې المسند الیه .

جواب : شارح دجامي ددې نه درې (۳) جوابونه ورکوي :

جواب (۱) : جار مجرور دالمسند متعلق دي په اعتبار دتضمین سره او المسند متضمن دي معنی دوقوع لره ، ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ المسند به د مایوقع به الاسناد په معنی کې کړې دي او وقوع لازمي څیز دي او وقوع لره متعدي جوړولو دپاره حرفِ جر ضرورت دي ، ددې وجې نه یې بهاء ذکر کړو په دې سره اول سوال ختم شو ، اودوقوع صله باء راځي الی نه راځي نو په دې سره دویم سوال هم رفع اوختم شو .

فائده : تضمین دفصاحت اوبلاغت یو صفت دي ددې مطلب دادې چې دیو مشبه فعل نه بل مشبه فعل معنی مراد واخیستې شي مجبوري په کې دا وي چې مابعد والاجار مجرور دفعل مذکور متعلق نه شي کیدې شي چې دلته به جار مجرور د المسند متعلق نه شي کیدې نو دا یې د مایوقع په معنی کې ذکر کړه .

واحترز به: په دې عبارت سره غرض دشارح د المسند به د قید فائدې بیانوي چې دا قید احترازي دي په دې سره دمبتداء قسم اول نه احتراز دي ځکه چې هغه مسند الیه وي مسند به نه وي .

في تعریف المبتدا: په دې عبارت سره غرض دشارح د المذکور صله بیان کړي ده .

واحترز به: په دې عبارت سره غرض دشارح دالمغائر للصفة المذکورة دقید بیان دي چې داقید احترازي دي په دې سره احتراز دي دمبتدا د قسم ثاني نه .

جواب (۲) : ولک ان تقول ، په دې سره غرض دشارح دجامي المسند به په باره کې دویم

جواب ذكر كوي چې المسند به نه مراد اسناد الى المبتدا دي يعنې داسناد صله محذوف ده چې الى المبتداء دي د مسند به معنى ده مسند الى المبتداء.

جواب (۳) : اوتجعل له : په دې سره غرض دشارح دالمسند به په باره كې دريم جواب بيانوي چې حرف باء د الى په معنى كې ده اود بِهٖ ضمير مرجع مبتدا وي تقدير دعبارت به داسې شي چې المسند الى المبتدا.

سوال : چې كله باء د الى په معنى كې ده نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ داول نه الى ولې ذكر نه كړه چې اشكال د سره پيدا شوي نه وي اوالمسند اليه به يې ذكر كړي وي ؟.

جواب : دالى نه باء طرف ته په تللو كې نكته داده چې دالى په ذكر كولو سره دخبر دمبتداء سره التباس لازم راتلو ولې چې مبتدا كې هم المسند اليه مذكور دي كه چيرته په خبر كې هم المسند اليه ذكر وي نو په مبتدا اوخبر كې په اعتبار دلفظ سره التباس راتلو نو ددې وجې نه مصنف د إليه په ځاي بِهٖ ذكر كړو.

وعلى التقديرين : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې ددوهم تقرير اود دريم تقرير مطابق په المسند به قيد سره دمبتدا اول قسم اودوهم قسم دواړه خارج شول ، مبتدا اول قسم ځكه خارج شوه چې هغه مسند اليه وي مسند به نه وي او مبتدا دوهم قسم ځكه خارج شوه چې هغه مسند الى الفاعل وي مسند الى المبتدا نه وي.

ويكون له : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : كله چې دالمسند به دقيد سره مبتدا قسم اول اوقسم ثاني دواړه خارج شول نو المغاير للصفة المذكورة ذكر مستدرك اوبې فائدې دي ځكه چې په دې سره دمبتدا قسم ثاني خارجول مقصود وو هغه په المسند به سره خارج شول نو بيا مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ المغاير للصفة المذكورة دذكر كولو څه فائده ده ؟

جواب : ددوهم تقرير اودريم تقرير مطابق للصفة المذكورة قيد احترازي نه دي بلكه محض تاكيد دپاره دي.

فائده : د اول تقرير اود دوهم تقرير په مينځ كې دري (۳) فرقه دي : (۱) داول تقرير مطابق د

المسند به صله محذوف نه راځي او د دويم تقرير مطابق دالمسند به صله محذوف ده چې ال المبتدا ده (۲) داول تقرير مطابق دالمسند به دقيد سره فقط دمبتدا اول قسم خارج شو او د دويم تقرير مطابق د المسند به قيد سره مبتدا اول اودويم قسم دواړه خارج شول.(۳) داول تقرير مطابق المغاير للصفة المذكورة قيد احترازي دي او د دويم تقرير مطابق المغاير للصفة المذكورة قيد احترازي نه دي بلکه صرف دتاکيد دپاره دي .

ددوهم تقرير او ددريم تقرير په مينځ کې فرقونه :

ددوهم تقرير او ددريم تقرير په مينځ کې دري (۳) فرقونه دي :

(۱) : د دويم تقرير مطابق د المسند به صله محذوف ده او د دريم تقرير مطابق د المسند به صله محذوف نه ده .

(۲) : د دويم تقرير مطابق د ﺑﻪ با په خپله معنى کې ده او د دريم تقرير مطابق د ﺑﻪ با د إلى په معنى کې ده .

(۳) : د دويم تقرير مطابق د ﺑﻪ ضمير مرجع الف لام په معنى د الذي دي او د دريم تقرير مطابق د ﺑﻪ ضمير مرجع مبتدا ده .

داول تقرير او دريم تقرير په مينځ کې فرقونه :

د اول تقرير او دريم تقرير په مينځ کې څلور (۴) فرقونه دي :

(۱) : د اول تقرير مطابق د ﺑﻪ با په خپله معنى کې ده او د دريم تقرير مطابق په ﺑﻪ کې با د إلى په معنى کې ده .

(۲) : داول تقرير مطابق د ﺑﻪ ضمير مرجع الف لام په معنى دالذي دي ، او د دريم تقرير مطابق د ﺑﻪ ضمير مرجع مبتدا دي .

(۳) : داول تقرير مطابق په المسند به قيد سره يواځې مبتدا اول قسم خارجيږي او د دريم تقرير مطابق په المسند به قيد سره يواځې مبتدا اول قسم خارجيږي او د دريم تقرير مطابق په المسند به قيد سره مبتدا اول قسم او دويم قسم دواړه خارج شول .

(۴) : د اول تقرير مطابق المغاير للصفة المذكورة قيد احترازي دي او د دريم تقرير مطابق المغاير للصفة المذكورة قيد احترازي نه دي بلکه صرف دتاکيد دپاره دي .

په مبتدا کې عامل :

وَاعْلَمْ اَنَّ الْعَامِلَ فِي الْمُبْتَدَاِ وَ الْخَبَرِ هُوَ الْاِبْتِدَاءُ اَیْ تَجْرِیْدُ الْاِسْمِ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِیَّةِ لِیُسْنَدَ
پوه شه چې عامل په مبتدا او خبر کې هغه ابتداده یعنې خالي کول داسم دي دعوامل لفظیونه چې اسناد یې وشي
اِلٰی شَیْءٍ اَوْ یُسْنَدَ اِلَیْهِ شَیْءٌ فَمَعْنَی الْاِبْتِدَاءِ عَامِلٌ فِي الْمُبْتَدَاِ وَ الْخَبَرُ رَافِعٌ
یوڅیزته یا اسناد وشي ده ته دیوڅیز پس دابتدا معنی مبتدا خبر کې هغه عامل دي چې دي دواړو ته رفع ورکوي
لَهُمَا عِنْدَ الْبَصْرِیِّیْنَ وَاَمَّا عِنْدَ غَیْرِهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمُ الْاِبْتِدَاءُ عَامِلٌ فِي الْمُبْتَدَاِ وَالْمُبْتَدَاءُ فِي الْخَبَرِ وَقَالَ الْاٰخَرُوْنَ
دبصیرینو او غیر بصرینو په نزد پس بعضو ویلي دي چې ابتدا عامل ده په مبتدا کې او مبتدا په خبر کې او نورو ویلي
اِنَّ کُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُبْتَدَاِ وَالْخَبَرِ عَامِلٌ فِي الْاٰخَرِ وَعَلٰی هٰذَا لَا یَکُوْنَانِ مُجَرَّدَیْنِ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِیَّةِ .
دي چې هر یو د مبتدا او خبر نه عامل دي په بل کې او بناء په دې باندې نه به وي خالي د عوامل لفظیه نه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب د کافیه په مبتدا کې د عامل بیان کوي .

اغراض دجامي : واعلم ان العامل : دمذکوره عبارت یوه جمله مستانفه ده چې دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې مبتدا خبر دواړه عوامل لفظیه نه خالي وي نو په دې کې عامل څوک وي ؟

جواب : واعلم سره شارح دجامي جواب ورکوي چې پدې عامل کې اختلاف دي تفصیل یې دادې چې په دې مقام کې دري مذاهب دي :

اول مذهب : دبصرې دنحویانو دي چې په مبتدا خبر کې عامل ابتدا ده یعنې داسم عوامل لفظیه نه خالي کیدل دي چې دهغه یو څیز طرف ته اسناد وشي یا هغې طرف ته دیو څیز اسناد وشي نو معنی دابتداء په مبتدا خبر کې عامل وي او هغه د دواړو دپاره رافع وي .

دویم مذهب : د کوفې په نحویانو کې دعلامه زمخشري مذهب دي چې په مبتداء کې عامل ابتدا ده او په خبر کې عامل مبتدا ده دده دلیل دادې چې ابتداء یو عدمي څیز دي ځکه چې ابتدا عبارت ده د **خلو عن العوامل اللفظیة** نه ، یعنې خالي والي دعوامل لفظیه نه ،او عدمي څیز عامل نه شي جوړیدي مګر دضرورت دوجې نه جوړیدي شي ځکه چې په مبتدا کې ضرورت مجبوري وه ، ځکه چې د مبتدا نه مخکې څه عامل موجود نه وو ددې وجې نه ابتداء (عدم شئ) لره عامل جوړ کړل اودخبر نه مخکې مبتدا موجود وه هغې لره موعامل جوړ کړو اوابتداء لره موعامل جوړ نه کړو .

دریم مذهب : دکوفې په نحویانو کې دعلامه سیبویه ، فراء اودعلامه رضي دي چې مبتدا په خبر کې عامل دي اوخبر په مبتدا کې عامل دي دمصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دبصري نحویانو مذهب راجح دي ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وویل چې مبتدا خبر دعوامل لفظیه نه خالي وي.

قوله : ای تجرید الاسم عن العوامل اللفظیة : په دې عبارت سره غرض دشارح دجامي ددوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : تا وویل چې په مبتدا خبر دواړو کې عامل ابتداء وي حالانکه ابتداء خو په مبتداء کې عامل وي ځکه چې داپه ابتداء کې دي په خبر کې څنګه عامل دي ؟.

سوال (۲) : کله چې تا وویل چې مبتدا خبر کې ابتدا عامل دي نو ابتداء خو یو لفظ دي بیاپه دواړو کې یعنې مبتدا خبر کې عامل لفظي شو نه معنوي ؟

جواب : ای تجرید، سره جواب ورکوي چې دابتداء نه لفظ ابتداءمرادنه دي بلکه تجرید عن العوامل اللفظیة مراددي چې دواړه عوامل لفظیونه خالي وي لهذادواړه اشکال رفع اوختم شول.

قوله لیسند الی شیء : په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : که دابتداء مطلب تجرید عن العوامل اللفظیة دي نودمبتدا تعریف اسماء معدوده مثلاً زید ، عمرو ، بکر باندې صادق راځي ځکه چې داهم دعوامل لفظیو نه خالي دي ؟.

جواب : لیسند الی شیء سره ددې اشکال رفع یې وکړه چې مبتداء خبر لره صرف عوامل لفظیه نه خالي کیدل کافي نه دي بلکه داهم ضروري دي چې هغې سره یو څیز طرف ته اسناد وشي یاهغې طرف ته دیو څیز اسناد وکړي شي اوپه اسماء معدوده کې اسناد نشته ددې وجې نه دمبتدا خبر تعریف په دې باندې نه صادقیږي .

احکامات د مبتداء :

وَ اَصْلُ الْمُبْتَدَاِ اَیْ مَا یَنْبَغِیْ اَنْ یَّکُوْنَ الْمُبْتَدَاُ عَلَیْهِ اِذَا لَمْ یَمْنَعْ مَانِعٌ التَّقْدِیْمُ عَلَی الْخَبَرِ
دمبتدااصل یعنې هغه حالت چې په هغې باندې مبتداکیدل مناسب وي کله چې څه مانع نه وي د تقدیم په خبر
لَفْظًا لِاَنَّ الْمُبْتَدَاَ ذَاتٌ وَ الْخَبَرُ حَالٌ مِنْ اَحْوَالِهَا وَ الذَّاتُ مُقَدَّمَةٌ عَلٰی اَحْوَالِهَا وَ مِنْ
باندې لفظاًځکه چې مبتداذات وي اوخبرحال وي دهغې په احوالوکې اوذات مقدم وي په احوالو باندې اوددې
ثُمَّ اَیْ وَمِنْ اَجْلِ اَنَّ الْاَصْلَ فِی الْمُبْتَدَاِ التَّقْدِیْمِ لَفْظًا جَازَ قَوْلُهُمْ فِیْ دَارِهٖ زَیْدٌ مَعَ کَوْنِ الضَّمِیْرِ عَائِدًا اِلٰی
وجې نه چې اصل په مبتداکې تقدیم دي لفظاًجائزدي دده داقول چې فی داره زید باوجوددې چې ضمیر راجع دي

زَيْدٌ الْمُتَأَخِرِ لَفظًا لِتَقدُّمِهِ رُتْبَةً لِأَصَالَةِ التَّقْدِيْمِ وَ امْتَنَعَ قَوْلُهُمْ صَاحِبُهَا فِي
زيدطرف ته چې مؤخر دي لفظاًاومقدم دي رتبةً ځکه چې مقدم كيدل اصل دي اومنع دي دده داقول چې صاحبهافي
الدَّارِ لِعَوْدِ الضَّمِيْرِ اِلىٰ الدَّارِ وَ هُوَ فِيْ حِيِّزِ الْخَبْرِ الَّذِيْ اَصْلُهُ التَّاخِيْرُ فَيَلْزَمُ
الدارځکه چې ضميردار طرف ته راجع دي اوهغه دخبر په خاي کې دي چې دهغې مؤخركيدل دي پس لازم به شي
عَوْدُ الضَّمِيْرِ إِلىٰ الْمُتَأَخِرِ لَفظاً وَ رُتْبَةً وَ هُوَ غَيْرُ جَائِزٍ.
واپس كيدل دضمير مؤخر لفظاً اورتبةً اوداجائزنه دي.

خلاصه د متن: دمبتدا اوخبر دتعريف دبيانولو نه پس ددې احكامات بيانوي اولنې حكم دادې چې په مبتدا کې اصل او اولى دادې چې مبتدا دخبر نه مقدم راشي بيا په دې باندې يوه تفريع ذكر كړي ده ددې وجې نه في الدار زيد تركيب جائز دي اوصاحبها في الدار تركيب ممتنع دي ځكه چې صاحبها في الدار دضمير مرجع الدار چې لفظاً هم مؤخر دي رتبة هم مؤخر دي نو اضمار قبل الذكر لازميږي.

اغراض د جامي: اى ماينبغي: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې اصل په مبتدا کې تقديم دي اود اصل مشهوره او متبادر الى الذهن معنى قاعده كليه ده اوقاعده كليه هغې ته ويلې شي چې دهغې په خلاف باندې عمل ونه شي نو مقصد دادې چې مبتدا هميشه مقدم وي دمبتدا تاخير جائز نه دي حالانكه اين زيد کې اين خبر مقدم او زيد مبتدا مؤخر دي نوقاعده كليه دلته قاعده كليه پاتې نه شوه.

جواب: شارح دجامي جواب وركوي چې دلته اصل په معنى د ماينبغي (يعنې مناسب) او اولى سره ده او په معنى دقاعدې كليې سره نه ده.

اذالم يمنع مانع: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: دمبتدا دتقديم او اولويت منقوض اوختم دي په في الدار رجل کې ځکه چې رجل مبتدا دي ليكن دې لره دخبر نه مقدم كيدل نامناسب اوناجائز دي همدارنګې په من ابوک کې من خبر مقدم اوابوک مبتدا مؤخر دي ددې تقديم نه دي جائز. بل په في الدار صاحبها کې في الدار خبر

مقدم او صاحبها مبتدا مؤخر دي ددې تقديم جائز نه دي .

جواب : دمبتدا مقدم کيدل په هغه وخت کې اولی دي کله يې چې په مخکښې کيدو کې څه مانع موجود نه وي اودلته مانع موجود دي هغه مانع دادې چې که چيرته مبتدا مقدم کړې شي نو مبتدا به محض نکره لازميږي چې داجائز نه دي ، همدارنګې من ابوک کې مانع ددې چې که چيرته ابوک مقدم کړې شي نود من استفهاميه صورت به په خطره کې پريوځي . همدارنګې په في الدار صاحبها کې مانع دادې چې که چيرته صاحبها مقدم کړې شي نو اضمار قبل الذکر به لفظاً اورتبةً لازم راځي چې داناجائز ده .

على الخبر: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللّٰهُ چې په واصل المبتدا التقديم کې کوم حکم بيان کړې دي هغه غير ضروري دي ځکه چې تقديم دمبتدا په خبر باندې يو بديهي خبره ده هر يو کس ته دا معلومه ده چې مبتدا ذات وي اوخبر دهغې حالت ته وايي اوذات په خپل حال باندې مقدم وي .

جواب : لفظاً سره شارح دجامي جواب ورکوي چې دلته کې دمبتدا په خبرباندې تقديم د اولويت نه مراد تقديم باعتبار اللفظ دي نه رتبتاً ځکه چې رتبتاً هر حال کې مبتدا مقدم وي اګرکه مانع من اللفظ هم موجود وي .

لان المبتدا: په دې سره غرض دشارح ديوسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمبتدا تقديم په خبر باندې اولی اوانسب ولې دي ؟

جواب : شارح دجامي په لان سره جواب ورکوي چې مبتدا ذات وي اوخبر دهغې داحوالو نه يو حال وي او ذات په حال باندې مقدم وي ددې وجې نه مبتدا په خبر باندې مقدم کول اولی وي .

ومن ثم : په دې سره غرض دصاحب دکافيې په ماقبل باندې تفريع کول دي چې مبتدا کې اصل دادې چې هغه به په خبر باندې مقدم وي نو ددې وجې نه في الدار زيد ترکيب جائز دي او صاحبها في الدار ترکيب ممتنع اوناجائز دي .

اي ومن اجل: په دې عبارت سره شارح د ثم مشار اليه متعين کوي چې دهغې مشار اليه اصل مذکور دي .

قوله: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: جاز فعل، او في داره زيد ددې فاعل دې حالانکه ددې فاعل جوړول صحيح نه دي ځکه چې فاعل مفرد وي او في داره زيد جمله ده؟

جواب: شارح جواب ورکوي چې تسليم مې کړه چې فاعل مفرد وي ليکن په مفرد کې تعميم دې برابره خبره ده که مفرد صريحي وي يامفرد تاويلي اوفي داره زيد په قول تاويل کې جوړ شو اومفرد تاويلي دي لهذا دې لره فاعل جوړول درست اوصحيح دي.

لتقدمه: په دې عبارت سره غرض دشارح دفي داره زيد دترکيب دجواز وجه بيانوي چې في داره زيد کې داره ضمير مرجع زيد دي اګرکه لفظاً مؤخر دي ليکن رتبتاً مقدم دي ځکه چې دا مبتدا دي اوپه مبتدا کې اصل دادې چې هغه په خبر باندې مقدم وي لهذا لفظاً اورتبتاً اضمار قبل الذکر لازم نه شو بلکه لفظاً اضمار قبل الذکر راغلي خو داجائز دي.

لعود الضمير: په دې عبارت سره غرض د شارح د صاحبها في الدار د ترکيب د ممانعت وجه بيانوي چې د صاحبها ضمير مرجع الدار دي چې لفظاً هم مؤخر دي او رتبتاً هم مؤخر دي، لفظاً مؤخر کيدل خو يې واضح دي او رتبتاً ځکه مؤخر دي چې دا څيز په خبر کې واقع دي اوپه خبر کې اصل دادې چې د مبتدا نه مؤخر وي لهذا لفظاً اورتبتاً اضمار قبل الذکر راغلو چې داناجائزدي.

د مبتدا نکره کيدل :-

وَ قَدْ يَكُوْنَ الْمُبْتَدَأُ نَكِرَةً وَ اِنْ كَانَ الْاَصْلُ فِيْهِ اَنْ يَّكُوْنَ مَعْرِفَةً لِاَنَّ لِلْمَعْرِفَةِ مُعَيَّنًا
اوکله مبتدا هم نکره وي اګرچې اصل په دې کې دادې چې دامعرفه وي ځکه چې دمعرفې معنى ده متعين کيدل
وَالْمَقْصُوْدُ الْمُهِمُّ الْكَثِيْرُ الْوُقُوْعِ فِي الْكَلَامِ اِنَّمَا هُوَ الْحُكْمُ عَلَى الْاُمُوْرِ الْمُعَيَّنَةِ وَلٰكِنَّهٗ لَا تَقَعُ نَكِرَةً عَلَى الْاِطْلَاقِ
اواکثراهم کثير الوقوع مقصد دادې چې امور معينه باندې حکم ولږولې شي ليکن نکره نه واقع کيږي على الاطلاق
بَلْ اِذَا تَخَصَّصَتْ تِلْكَ النَّكِرَةُ بِوَجْهٍ مَا مِنْ وُجُوْهِ التَّخْصِيْصِ اِذْ
بلکه هغه نکره چې کله په وجوه د تخصيص کې د څه وجې سره خاص وي په هغه وخت کې مبتدا واقع کيږي ځکه
بِالتَّخْصِيْصِ يَقِلُّ اِشْتِرَاكُهَا فَتَقْرُبُ مِنَ الْمَعْرِفَةِ مِثْلُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ
چې تخصيص سره ددې اشتراک کم واقع کيږي نو هغه د معرفه نه نژدې کيږي لکه دا قول دالله تعالى وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ
خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ فَاِنَّ الْعَبْدَ مُتَنَاوِلٌ لِلْمُؤْمِنِ وَالْكَافِرِ وَحَيْثُ وُصِفَ بِالْمُؤْمِنِ تَخَصَّصَ
مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ پس بې شک عبد شامل دې مؤمن اوکافرلره کله چې موصوف شو په مؤمن سره نو خاص شو

بِالصِّفَةِ فَجُعِلَ مُبْتَدَأً وَ خَيْرٌ خَبْرَهُ.
د صفت پورې پس جوړ کړې شو عبد لره مبتدا او خير ددې خبر دې.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې مصنف دمبتدا يو بل حکم بيانوي فرمايي چې مبتدا کله نکره هم کيدې شي ليکن شرط په دې صورت کې دادې چې په دې کې د وجوه تخصيص نه په يو څيز سره تخصيص شوي وي ورنه نکره صرف مبتدا نه واقع کيږي ، بيا مصنف رَحِمَهُ اللهُ د شپږ (۶) وجهو دتخصيص مثالونه ذکر کړه په دې مثالونو کې هر مثال کې وجه تخصيص طرف ته اشاره ده هغه نکره چې په هغې کې دصفت دوجې نه تخصيص پيدا شوي وي مثال لکه : وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ

اغراض د جامي : وان کان الاصل: په دې سره غرض دشارح دمبتدا اصل حکم بيانوي چې هغې طرف ته قد تقليله اشاره کوي چې مبتدا کله نکره هم راتلې شي ليکن مبتدا کې اصل دادې چې دا به معرفه وي

لان المعرفة: په دې کې داصل حکم وجه بيانوي چې مبتدا کې اصل معرفه ولې ده ؟ دهغې حاصل دادې چې معرفه کې تعين وي په کلام کې اهم اومقصود اوکثير الوقوع امور معينه باندې حکم لړول دي څکه چې مجهول څيز باندې حکم لړول غيرمفيد دي مثلاً رجلٌ قائمٌ ويل لغو دي هر يوکس ته دا معلوم دي چې دنيا کې به څوک سړي خامخا ولاړ وي ددې وجې نه په مبتدا کې اصل معرفه ده .

لکنه: په دې سره غرض دشارح ديوشبه ازاله کول دي هغه شبه داده چې کيدې شي دااذا تخصصت قيد اتفاقي نه وي بلکه احترازي وي چې نکره على الاطلاق مبتدا نه شي کيدې نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ لکنه سره دې شبه لره ختم کړه چې اذا تخصصت قيد اتفاقي نه دي بلکه قيد احترازي دي چې نکره على الاطلاق مبتدانه شي جوړيدلې بلکه هغه وخت کې مبتدا جوړيدلې شي چې کله په دې کې وجوه تخصيص کې په څه وجې سره تخصيص پيدا شوي وي .

فائده : بوجهٍ ما کې دوه احتمالات دي : (۱) مازائده دي . (۲) دوجه صفت دي . بوجهٍ ما اى بوجهٍ اي وجهٍ ، يعني څه نه څه وجې سره کومه وجه وي .

اذ بالتخصيص: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په تخصیص سره خو نکره معرفه نه شي جوړیدلې نو دې لره مبتدا جوړول څنګه صحیح دي ؟

جواب : د تخصیص معنی ده قلة الاشتراک نو د تخصیص د وجې نه نکره کې شریک افراد کمیږي نکره دغه وخت کې اګرکه معرفه نه شي جوړیدلې لیکن معرفې ته نژدې کیږي نو قرب الشيء دپاره د هغه څیز حکم وي نو دې وجې نه دې لره مبتدا جوړول صحیح دي وجوه تخصیص شپږ دي : (۱) هغه نکره چې په صفت سره د هغې تخصیص شوي وي مثال لکه دا قول د الله تعالی : وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ .

قوله تعالی: په دې عبارت سره غرض د شارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مِثْلُ اضافت وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ ، طرف ته صحیح نه دي ځکه چې مضاف الیه اسم مفرد دي او وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ جمله ده نو اضافت صحیح نه دي .

جواب : په اسم مفرد کې تعمیم دي برابره خبره ده که صریحي وي یا تاویلي وي ذکر شوي مثال کې مضاف الیه اګرکه صریحاً اسم مفرد نه دي لیکن تاویلاً اسم مفرد دي ځکه چې دا په تاویل د قول دي او قول مفرد هم دي او اسم هم دي .

فان العبد: په دې عبارت سره غرض د شارح مثال لره ممثل له باندې منطبق یعنې تطبیق کول دي چې وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ ، کې محل استشهاد عَبدٌ کوم چې نکره مخصصه مبتدا جوړیږي ځکه چې في عبد اول کې عام وو مؤمن کافر دواړو ته شامل وو کله چې عبد سره مؤمن صفت راوړلې شو نو عبد کافر ترې خارج شو نو په دې کې تخصیص پیدا شو او شریک افراد کم شول نو دا معرفه ته نژدې شو لهذا دې لره مبتدا جوړول صحیح شو نو عبد مبتدا جوړ کړې شو او خیر د دې خبر شو .

د تخصیص دویمه وجه :

وَمِثْلُ قَوْلِكَ اَرَجُلٌ فِي الدَّارِ اَمِ اِمْرَاَةٌ فَاِنَّ الْمُتَكَلِّمَ بِهٰذَا الْكَلَامِ يَعْلَمُ اَنَّ اَحَدَهُمَا فِي الدَّارِ								
لکه دا قول چې اَرَجُلٌ فِي الدَّارِ اَمِ اِمْرَاَةٌ پس بې شک دې کلام ویلو والا پوهیږي چې په دې دواړو کې یو په کور کې دي								
فَيَسْاَلُ	الْمُخَاطَبَ	عَنْ	تَعْيِيْنِهٖ	فَكَاَنَّهٗ	قَالَ	اَيُّ	مِنَ	الْاَمْرَيْنِ الْمَعْلُوْمِ كَوْنُ
پس سوال کیږي د مخاطب نه د هغې تعین په باره کې پس ګویا چې هغه وویل یعنې د دوه امرینو معلومونه کیدل								

آخرهما في الدَّارِ كَائِنٌ فِيهَا فَكُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا تَخَصَّصَ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ فَجُعِلَ رَجُلٌ مُبْتَدَأً
دیوددي په کورکي څنګه کیدل دي پس په دغه کي بوخاص شوي دي صفت سره پس جوړکړي شورجل مبتدا
وَ فِي الدَّارِ خَبَرَهٗ.
او وفي الدار ددي خبرشو.

خلاصه د متن: دتخصیص دوجوه دویمه وجه بیانیږي چې هغه نکره چې هغې کې دمتکلم د علم په وجې سره تخصیص راشي مثال لکه اَرَجُلٌ فِي الدَّارِ اَمْ اِمْرَاَةٌ .

اغراض د جامي : مثل قولک اَرَجُلٌ فِي الدَّارِ اَمْ اِمْرَاَةٌ: شارح ددې عبارت اضافه وکړه نو اشاره یې وکړه چې دا اَرَجُلٌ فِي الدَّارِ اَمِ اِمْرَاَةٌ، عطف دي په وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ باندې .

فان المتکلم: په دې عبارت سره غرض دشارح مثال لره ممثل له باندې منطبق کول دي چې په ذکر شوي مثال کې محل استشهاد رجل دي کوم چې نکره مخصصه ده اومبتدا جوړیږي څکه چې متکلم پوهیږي چې په کور کې دسړي اودښځې نه یو ضرورشته اوموجود دي البته متکلم دمخاطب نه دهغې تعین سوال کوي ګویا چې هغه داسې ووایي چې دوه امرونه چې په هغې کې یو په کور کې موجود کیدل دي هغه څوک دي پس رجل او امراة په دې دواړو کې په هر یو کې دمتکلم دعلم دوجې نه تخصیص پیدا شو څکه چې رجل لره مبتدا جوړکړي شو او في الدار لره دهغې یعنې دمبتدا دپاره خبر جوړ کړي شو.

د تخصیص دریمه وجه:

وَمِثْلُ قَوْلِکَ مَا اَحَدٌ خَيْرٌ مِنْکَ فَاِنَّ النَّکِرَةَ فِيهَا وَقَعَتْ فِي حَيِّزِ النَّفْيِ فَاَفَادَتْ عُمُوْمَ الْاَفْرَادِ
اولکه دامثال ستامَا اَحَدٌ خَيْرٌ مِنْکَ پس نکره په دې کې واقع شوي ده په خاي دنفي کې پس فائده یې ورکړه عموم
وَشُمُوْلَهَا فَتَعَيَّنَتْ وَتَخَصَّصَتْ فَاِنَّهٗ لَا تَعَدُّدَ فِي جَمِيْعِ الْاَفْرَادِ بَلْ هُوَ اَمْرٌ وَاحِدٌ وَ كُلُّ
اوشمول دافرادوپس متعین اوخاص شوه پس نشته دي تعدد په ټولوافرادوکي بلکه هغه یوامردي اودغه شان
كُلُّ نَكِرَةٍ فِي الْاِثْبَاتِ قُصِدَ بِهَا الْعُمُوْمُ نَحْوُ تَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ.
هره نکره په اثبات کې چې دهغې نه اراده کړې شوي وي دعموم مثال لکه تمرة خير من جرادة .

خلاصه د متن: وجوه تخصیصه کې دریمه وجه بیانوي چې هغه نکره چې په هغې کې صفت دعموم دوجې نه تخصیص پیدا شوي وي مثال مَا اَحَدٌ خَيْرٌ مِنْکَ دا مبتدا جوړیدي شي .

اغراض د جامي : مثل قولک : په دې کې دا ښودلي ده چې مَاۤاَحدٌ خَيْرٌ مِّنْکَ عطف په ارجل في الدار ام امرأة باندې دې .

فان النکرة : په دې عبارت سره غرض دشارح مثال لره ممثل له باندې منطبق کول دي په مثال مذکور کې محل داستشهاد احد دي کوم چې نکره مخصصه مبتدا جوړه شوې ده په دې کې صفت دعموم دوجې نه تخصيص پيدا شوي دي ځکه چې قاعده ده چې کوم نکره تحت النفي واقع وي نو هغه دعموم اوشمول فائده ورکوي په مثال مذکور کې هم نکره تحت النفي واقع ده او خپل ټولوافرادوته شامل ده پس په دې کې تخصيص پيدا شو ځکه چې په ټولوافرادو کې تعدد نشته دي بلکه ټول افراد په منزله دامر واحد کې دي پس احد کې صفت دعموم دوجې نه پيدا شو لهذا احد مبتدا جوړ شو اوخير دهغې خبر جوړ شو .

سوال : عموم وخصوص کې خو تضاد اوتناقض دي نکره تحت النفي چې کله دعموم فائده ورکوي نو په دې کې تخصيص څنګه راغلي ؟

جواب : دلته دتخصيص نه مراد تعريف اوتفرد نه دي کوم چې دعموم اودشمول ضد دي بلکه مراد تعين اوتقليل ، دفع دابهام اوقطع داحتمالاتو ده اودفع دابهام هغه وخت کې کيږي چې واحدحقيقي مراد واخستې شي ياواحد حکمي مراد واخستې شي واحد حکمي نه مراد دادې چې ټول افراد يعني مجموع من حيث المجموع مراد واخستې شي دلته کې واحدحکمي مراد دي ، فتعينت وتخصصت فانه لاتعدد في جميع الافراد بل هو امر واحد ، سره علامه جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ دغې طرف ته اشاره کړې ده .

فائده : په ذکر شوي مثال کې دمبتدا نکره مخصصه مثال دي دبنوتميم دمذهب مطابق ځکه چې هغه ماولا مشبه بليس لره عامل نه مني دجمهور مذهب مطابق خيراً منصوب دي او مامشبه بليس خبر دې اوددې بحث نه خارج دي پس ته سوچ اوفکر وکړه .

وکذاکل نکرة : په دې کې ديوې فائدې بيان دي څنګه چې هغه نکره چې تحت النفي واقع وي مبتدا جوړيدې شي دغه شان هغه نکره کومه چې موضع اثبات کې واقع وي اودهغې نه مقصود عموم وي نو هغه هم مبتدا جوړيدې شي مثال يې داقول دحضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې فرمايي : تمرة خير من جرادة ، فرق صرف دومره دې چې نکرة تحت النفي مطلقاً مبتدا جوړيدې شي برابره خبره ده که هغې نه عموم مقصود وي اويانه وي اونکره تحت الاثبات هغه وخت

مبتدا جوړيدلې شي چې کله دهغې نه عموم مقصود وي .

د تخصيص څلورمه وجه :

وَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ شَرٌّ أَهَرَّ ذَا نَابٍ لِتَخَصُّصِهِ بِمَا يَتَخَصَّصُ بِهِ الْفَاعِلُ
اومثال دهغوي داقول چې شَرٌّ أَهَرَّ ذَا نَابٍ دوجې دخاص کيدو دهغه څيزسره چې دهغه سره فاعل خاص کيږي دوجې
لِشِبْهِهِ بِهِ إِذْ يُسْتَعْمَلُ فِي مَوْضِعِ مَا أَهَرَّ إِلَّا شَرٌّ وَ مَا يَتَخَصَّصُ بِهِ
دمشابهت نه دهغه فاعل سره خکه چې هغه استعماليږي په ځاې د مااهر ذاناب الاشر اوهغه چې خاص وي ددې پورې
الْفَاعِلُ قَبْلَ ذِكْرِهِ هُوَ صِحَّةُ كَوْنِهِ مَحْكُومًا عَلَيْهِ بِمَا أُسْنِدَ
فاعل مخکې دذکرددې نه هغه صحيح کيدل دي دهغې محکوم عليه کيدل دهغه څيزسره چې هغې طرف ته دا
إِلَيْهِ فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ قَامَ عُلِمَ مِنْهُ أَنَّ مَا يُذْكَرُ بَعْدَهُ أَمْرٌ
مسند شوي وي پس کله چې ته وايې قام نودې نه معلوميږي چې ددې نه وروستوچې کوم مذکوردي هغه داسې
يَصِحُّ أَنْ يُحْكَمَ عَلَيْهِ بِالْقِيَامِ فَإِذَا قُلْتَ رَجُلٌ فَهُوَ فِي قُوَّةِ
امردې چې صحيح دي پس په دې باندې حکم لړول دقيام دې پس کله چې ته وايې رجل نوهغه دهغه په قوت کې
رَجُلٍ مَوْصُوفٍ بِصِحَّةِ الْحُكْمِ عَلَيْهِ بِالْقِيَامِ وَاعْلَمْ أَنَّ الْهِرَّ لِلْكَلْبِ بِالنُّبَاحِ الْمُعْتَادِ وَقَدْ يَكُوْنُ خَيْرًا
دې رجل موصوف بصحة الحکم عليه باالقيام پوه شه ته چې بې شک دسپي عادت خپل کله بنه هم وي چې کله
كَمَا إِذَا كَانَ مَجِيءُ حَبِيْبٍ مَثَلًا وَقَدْ يَكُوْنُ شَرًّا كَمَا إِذَا كَانَ مَجِيءُ عَدُوٍّ وَالْهِرُّ لَهُ بِنُبَاحٍ غَيْرِ مُعْتَادٍ يُتَشَاءَمُ بِهِ
دوست راشي او کله شر هم وي چې کله دښمن راشي او غير عادت خپل په دې سره بد فالي اخستې شي دا
فَيَكُوْنُ شَرًّا لَا خَيْرًا فَعَلَى الْأَوَّلِ يَصِحُّ الْقَصْرُ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْخَيْرِ فَمَعْنَاهُ شَرٌّ لَا خَيْرٌ أَهَرَّ
شردې خيرنه دي پس داولې مطابق قصرصحيح دې په نسبت دخيرپس معنی داشوه چې نه شراونه خيرسپې لره
ذَا نَابٍ وَ عَلَى الثَّانِيْ لَا يَصِحُّ فَيُقَدَّرُ وَصْفٌ حَتّٰى يَصِحَّ الْقَصْرُ فَيَكُوْنُ الْمَعْنٰى
غپولې دي اوددويم مطابق نه صحيح کيږي پس وصف لره مقدرکولې شي چې قصرصحيح شي نوشي به معنی
شَرٌّ عَظِيْمٌ لَا حَقِيْرٌ أَهَرَّ ذَا نَابٍ وَ هٰذَا مَثَلٌ يُضْرَبُ لِرَجُلٍ قَوِيٍّ أَدْرَكَهُ
غټ شرنه وړکوټې شرسپې لره غپولې دي اودامثال دهغه چې بيانيږي هغه طاقتورسړي دپاره چې بيامونډلې
الْعَجْزُ فِيْ حَادِثَةٍ .
وي عجز په څه واقعه کې

خلاصه دمتن: دتخصيص څلورمه وجه بيانيږي هغه نکره چې په هغې کې تخصيص پيدا شوې وي څنګه چې په فاعل کې تخصيص راځي يعنې هغه څيز سره تخصيص پيدا کيږي کوم

سره چې فاعل تخصیص حاصلوي مثال لکه شَرٌّ اَهَرَّ ذَانَابٍ په دې کې په طریقه دفاعل تخصیص پیدا شوي دي .

اغراض دجامي : مثل ولهم : په دې عبارت سره شارح دا بیانوي چې شَرٌّ اَهَرَّ ذَانَابٍ ، عطف په ما احد خیر منک باندې دي .

لشبهه : په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : شر اهر ذا ناب کې هر فاعل خونه دي بیا په دې کې په طریقه دتخصیص دفاعل څنګه پیدا شو ؟

جواب : شر اګر که فاعل نه دي لیکن دفاعل مشابه دي ددې وجې نه په دې کې تخصیص دفاعل پیدا شو .

اذ یستعمل : په دې عبارت سره غرض دشارح وجه دمشابهت بیانوي چې شر اهر ذا ناب الا شر په ځای باندې واقع دي یعنې داجمله اسمیه دجمله فعلیه په ځای استعمالیږي په دې کې هر ضمیر دفاعل نه بدل دي اوبدل عن الفاعل حکماً فاعل وي کله چې دادفاعل په معنی کې دي نوپه دې کې هم دفاعل په شان تخصیص پیدا شو .

سوال : د شر اهر ذا ناب معنی ما اهر ذا ناب الا اهر څنګه کیدې شي ؟ حالانکه ما اهر ذا ناب الا شر کې ما او الا سره حصر حاصل دي او شر اهر ذا ناب کې حصر نشته دي ؟

جواب : شر اهر ذا ناب کې هم حصر دي ځکه چې ددې اصل اهر شر ذا ناب دي په اهر کې ضمیر مستتر فاعل دي دشر ضمیر دفاعل په بدل دي اوبدل عن الفاعل حکماً فاعل وي اوفاعل دفعل نه مؤخر وي اودلته کې چې کله فاعل لره مقدم کړي شو نودحصر فائده یې ورکړه ځکه چې قاعده داده چې تقدیم ما حقه التاخیر یفید الحصر .

ومایتخصص به : ددې ځای نه دفاعل دتخصیص طریقه بیانیږي چې هغه څیز چې هغې سره فاعل خپل مذکور کیدونه مخکې تخصیص حاصلوي هغه دهغه محکوم علیه جوړولو صحت دي یعنې صحیح دي هغه فعل یادحکم سره کوم چې هغې نه مخکې ذکر وي یعنې فاعل نه مخکې ذکر وه .

لهذا فعل یا د حکم نه وروستو کوم څیز چې ذکر شي هغه عام نه وي بلکه هغه د فعل یا حکم

سره خاص کیږي مثال کله چې وویلي شي قام نو دې نه معلومه شوه چې ددې نه وروستو کوم څیز ذکر کیږي هغه به عام نه وي بلکه قیام دوصف سره به خاص وي کله چې دې نه بعد زید ذکر کړي شو نوددې نه هغه زید مراد دي کوم چې دقیام په وصف سره متصف دي دغه شان چې کله اهر ذکر شو نو ددې نه معلومه شوه چې ددې نه وروستو به هغه څیز وي کوم دصفت اهرار سره متصف وي کله چې ددې نه وروستو شر ذکر شو نو شر نه مطلق شر مراد نه دي بلکه هغه شر مراد دي کوم چې دصفت اهرار سره متصف وي لهذا په هر کې تخصیص پیدا شو پس دې سره مبتدا جوړول صحیح دي.

واعلم: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دسپي غپل په دوه قسمه دي: (۱) معتاد (دعادت مطابق) مثلاً کله چې نا آشنا سړي راشي. (۲) غیر معتاد (بغیر دعادت نه خپل) بیا دنباح معتاد دوه صورتونه دي: (۱) کله د خیر دوجې نه کیږي مثال دکور دخاوند دوست په راتلو سره دسپي غپل. (۲) اوکله دشر دوجې نه لکه مثال دکور دخاوند په دښمن په راتلو سره دسپي غپل اودویم قسم نباح غیر معتاد نه همیشه بدفالي مراد اخستلې شي هغه همیشه شر وي خیر نه وي کله چې دسپي غپل معتاد وو نوپه شر کې دخیر لحاظ سره حصراوتخصیص صحیح وو اومعنی داوه شر لا خیر اهر ذاناب اوکله چې نباح کلب یعنې دسپي غپل غیر معتاد وو نوهغه وخت کې حصر وتخصیص صحیح نه وو ځکه چې په هغې کې دشر نه علاوه دوهم احتمال نه وو دهغې په اعتبار سره په شر کې حصر خوصحیح شو نوتخصیص په کې څنګه راغلې؟

جواب: شارح دجامي په واعلم سره جواب ورکوي چې کله نباح غیرمعتاد مراد وي هغه وخت کې د شر صفت مقدر منلي شي یعني عظیم معنی به داسې شي شر عظیم لا حقیر اهر ذاناب، اوس حصر دتخصیص صحیح شو.

هذا مثل: په دې عبارت سره غرض دشارح دمثال محل استعمال بیانوي دا مثال په هغه وخت کې ویلي شي چې کله یو مضبوط اوطاقتور سړي لره څه حادثې عاجزه اومغلوبه کړي وي.

د تخصیص پنځمه وجه:

وَ مِثْلُ قَوْلِكَ فِي الدَّارِ رَجُلٌ لِتَخَصُّصِهِ بِتَقْدِيمِ الْخَبَرِ لِأَنَّهُ إِذَا قِيلَ فِي الدَّارِ
او مثال د ستا قول فِي الدَّارِ رَجُلٌ په وجه د خاص والي دهغې خبر دتقدیم سره ځکه چې کله وویلي شو فِي الدار نو

عُلِمَ أَنَّ مَا يُذْكَرُ بَعْدَهُ مَوْصُوْفٌ بِصِحَّةِ اِسْتِقْرَارِهِ
معلومه شوه چې هغه څيز کوم چې ذکر دي دهغې نه وروستو موصوف دي دهغې سره صحيح کيږي دهغې استقرار
فِي الدَّارِ فَهُوَ فِيْ قُوَّةِ التَّخْصِيْصِ بِالصِّفَةِ.
په کور کې پس هغه دصفت سره دخاص کيدو په قوت کې دي.

خلاصه دمتن: د تخصيص په وجوهو کې پنځمه وجه د تخصيص بيانيږي چې هغه نکره چې په هغې کې خبر دظرف په مقدم کولو سره تخصيص پيدا کيږي مثال لکه في الدار رجل.

اغراض دجامي: لتخصصه: په دې عبارت سره غرض دشارح مثال لره ممثل له باندې منطبق کول دي په دې مثال کې محل داستشهاد رجل دي کوم چې نکره مخصصه مبتدا جوړيږي ځکه چې په دې کې تخصيص دهغې خبر دظرف په مقدم کولو دوجې نه پيدا شو کله چې في الدار وويلي شو نو ددې نه معلومه شوه چې ددې نه وروستو چې کوم څيز ذکر کيږي هغه په استقرار في الدار سره موصوف وي لهذا تقديم د خبر په منزله د تخصيص په صفت سره دي.

د تخصيص شپږمه وجه:

وَ مِثْلَ قَوْلِكَ سَلَامٌ عَلَيْكَ لِتَخَصُّصِهٖ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْمُتَكَلِّمِ إِذْ أَصْلُهٗ سَلَّمْتُ سَلَامًا
مثال ستا داقول سَلَامٌ عَلَيْكَ دوجې دخاص کيدو دمتکلم دنسبت دوجې نه ځکه چې اصل دهغې سلمت سلاماً دي
فَحُذِفَ الْفِعْلُ وَ عُدِلَ إِلَى الرَّفْعِ لِقَصْدِ الدَّوَامِ وَ الْاِسْتِمْرَارِ. فَكَأَنَّهٗ قَالَ سَلَامِيْ
پس فعل حذف کړي شو رفع طرف ته عدول وکړي شو ددوام او استمرار دارادې دوجې نه گويا چې هغه ويلي دي
أَيْ سَلَامٌ مِنْ قِبَلِيْ عَلَيْكَ هٰذَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ فِيْمَا بَيْنَ النُّحَاةِ وَ قَالَ بَعْضُ الْمُحَقِّقِيْنَ مِنْهُمْ
سلامي يعني سلام من قبلي عليک دادنحويانو په مينځ کې مشهور ده او بعضې محققينو دنحاتو ويلي دي چې دنکرې
مَدَارُ صِحَّةِ الْإِخْبَارِ عَنِ النَّكِرَةِ عَلَى الْفَائِدَةِ لَا عَلَى مَا ذَكَرُوْهُ مِنَ التَّخْصِيْصَاتِ
دخبر جوړولو صحيح کيدو دارومدار په فائده باندې دي نه په هغه څيز باندې کوم چې نحاتو ذکر کړي دي تخصصاتو
الَّتِيْ يَحْتَاجُ فِيْ تَوْجِيْهَاتِهَا إِلٰى هٰذِهِ التَّكَلُّفَاتِ الرَّكِيْكَةِ الْوَاهِيَةِ فَعَلٰى هٰذَا يَجُوْزُ أَنْ يُقَالَ
نه چې دهغې په توجيه کې ضرورت دي دهغه تکلفات ضعيفه واهيه پس دهغوي مطابق جائز دي کله چې وويلي شي
كَوْكَبٌ اِنْقَضَّ السَّاعَةَ لِحُصُوْلِ الْفَائِدَةِ وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يُقَالَ رَجُلٌ قَائِمٌ لِعَدَمِهٖ
کوکب انقض الساعة فائده حاصلولو دوجې نه او صحيح نه دي چې وويلي شي چې رجل قائم دفائدې نه ورکولو د
وَ هٰذَا الْقَوْلُ أَقْرَبُ إِلَى الصَّوَابِ.
وجې نه اوداقول ډير نزدې دي صحت ته.

خلاصه دمتن: دتخصيص دوجوهو نه شپږمه وجه دتخصيص بيانيږي ي هغه نكره چې په هغې كې نسبة الى المتكلم دوجې نه تخصيص پيدا شوي وي لكه سلام عليک .

اغراض دجامي :لتخصصه :په دې عبارت سره غرض دشارح مثال لره ممثل له باندې تطبيق كول دي په دې مثال كې محل داستشهاد سلام دي كوم چې نكره مخصصه مبتدا جوړيږي ځكه چې په دې كې متكلم ته دنسبت دوجې نه تخصيص پيدا شوي وي ځكه چې ددې اصل سلمت سلاماً عليک وو سلمتُ فعل حذف شو لكه ځنګه چې دمفعول مطلق فعل حذف كيږي نوسلاماً عليک جوړشو او فعل دلالت كوي په حدوث باندې كله چې سلاماً لره مو په سلامٌ سره بدل كړو نو سلام عليک شو پس سلام كې نسبت الى المتكلم دوجې نه تخصيص پيدا شوګويا چې متكلم داسې وايي سلامي عليک يعنې سلام من قبلي عليک .

من قبلي عليک : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : كله چې سلام عليک په اصل كې سلامي عليک وو يعنې متكلم طرف ته داضافت دوجې نه دا معرفه شو نكره نه شو نومثال دممثل سره مطابق نه شو ځكه چې دلته دنكرې مخصصې مثالونه بيانيږي ؟

جواب : نوپه سلام من قبلي سره جواب وركوي چې په سلام كې ياء دمتكلم طرف ته مضاف ده ليكن په مينځ كې دقِبَلْ فاصله موجود ده داسې اضافت دتعريف يعنې دمعرفې فائده نه وركوي بلكه د تخصيص فائده وركوي يعنې په معنى دقلت اشتراک سره .

هذا هو المشهور : په دې عبارت سره غرض دشارح بيان داختلاف دي چې نكره دمبتدا جوړولو دصحيح كيدو دپاره تخصيص ضروري كيدل مشهور دي په مينځ د نحويانو كې ليكن بعضې محققين لكه علامه سيد سند شريف جرجاني اوعلامه ابن الدهني وغيره وايي چې دنكرې د مبتدا جوړولو دصحت دارومدار په تخصيصاتو باندې نه دي بلكه په فائده باندې دي كه چيرته دنكرې نه مخاطب ته فائده وي نو دې نكرې لره مبتدا جوړول صحيح دي اوكه فائده حاصله نه وي نو مبتدا جوړول صحيح نه دي لهذا كوكب انقض الساعة ويل صحيح دي ځكه چې ددې نه مخاطب ته دستوري دماتيدو علم حاصل شو چې مخكې ده ته نه وو حاصل او رجل قائم ويل صحيح نه دي ځكه مخاطب ته مخكې علم وو.

هذا القول: په دې عبارت سره غرض د جامي د دوو قولونو په مينځ کې محاکمه کول دي چې دويم قول اقرب الى الصواب دي ځکه دا د هغه تاويلاتو ضعيفه او تکلفات بعيده نه خالي دي کوم چې مخکې د نکرې مخصصې په ضمن کې بيان شو لکه مثال ولعبد مؤمن په دې کې دا تکليف وو چې د نکرې د مبتدا جوړولو د پاره تخصيص فردي ضروري دي دلته کې مؤمن د صفت دوجې نه عبد کې تخصيص نوعي حاصل شوي تخصيص فردي حاصل نه شو . ارجل في الدار کې دا تکليف دي چې هغه معتبر تخصيص دي کوم چې د مخاطب په اعتبار سره وي دلته هغه تخصيص حاصليږي کوم چې د متکلم د اعتبار د وجې نه وي . ما احد خير کې دا تکليف دي چې کومه وجه چې د تخصيص بيانيږي د دې نه معلوميږي چې دا تخصيص نه دي ځکه چې د تخصيص معنى ده قلة الاشتراک ، بلکه دلته تعريف او تعين حاصليږي کوم چې د مطلوب خلاف دي . شر اهر ذا ناب کې دا تکليف دي چې کوم تخصيص معتبر في الفاعل دي هغه دا دي چې کوم فاعل لره حکم او د مسندِ مقدم کيدو د وجې نه حاصل وي شر کې دا سې تخصيص يعنې مذکوره تخصيص نه حاصليږي . في الدار رجل کې دا تکليف دي چې دلته تخصيص خلاف اصل (خبر) د تقديم د وجې نه حاصليږي . سلام عليک کې تکليف واضح دي چې جمله فعليه جمله اسميه طرف ته منتقل شوي دي بيا د سلام پياه متکلم طرف ته نسبت شوي ده دا ټول تکلفات رکيکه او واهيه دي .همدارنګې مشهور اقوال د قرآني نصوص او د نورو تصريحاتو خلاف دي په قرآن مجيد کې الله تعالى فرمايلي دي : ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ، وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ﴾، نو دلته وجوه نکره ده او بې د څه تخصيص نه مبتدا ده همدارنګې يوم علينا ، هجرة سجدت ، رجل على الباب وغيره نو ځکه علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ دويم قول ته اقرب الى الصواب ويلي دي .

خبر جمله کيدل :

وَلَمَّا كَانَ الْخَبَرُ الْمُعَرَّفُ فِيْمَا سَبَقَ مُخْتَصًّا بِالْمُفْرَدِ لِكَوْنِهِ قِسْمًا مِنَ الْاِسْمِ فَلَمْ يَكُنِ الْجُمْلَةُ
او هر کله چې خبر چې مخکې يې تعريف وشو خاص وي د مفرد پورې ځکه چې هغه قسم دي د اسم نه نو نه شوه جمله
دَاخِلَةً فِيْهِ اَرَادَ اَنْ يُّشِيْرَ اِلَى اَنَّ خَبَرَ الْمُبْتَدَاِ قَدْ يَقَعُ جُمْلَةً اَيْضًا فَقَالَ
داخله په دې کې نو اراده يې وکړه چې اشاره وکړي دې طرف ته چې د مبتدا خبر کله جمله هم واقع کيږي نو وې ويل
اَلْخَبَرُ قَدْ يَكُوْنُ جُمْلَةً اِسْمِيَّةً مِثْلُ زَيْدٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ وَفِعْلِيَّةً مِثْلُ زَيْدٌ قَامَ اَبُوْهُ وَلَمْ يَذْكُرِ الظَّرْفِيَّةَ
چې خبر کله جمله هم واقع کيږي جمله اسميه لکه زيد ابوه قائم او فعليه لکه زيد قام ابوه او جمله ظرفيه يې

لِاَنَّهَا رَاجِعَةٌ اِلَى الْفِعْلِيَّةِ وَ اِذَا كَانَ الْخَبَرُ جُمْلَةً وَ الْجُمْلَةُ مُسْتَقِلَّةٌ بِنَفْسِهَا لَا تَقْتَضِي
ذكر نه كړه څكه چې هغه راجع ده فعليې طرف ته او كله چې خبر جمله وي اوجمله مستقل بالذات وي تقاضانه
الْاِرْتِبَاطَ بِغَيْرِهَا فَلَا بُدَّ فِي الْجُمْلَةِ الْوَاقِعَةِ خَبَراً عَنِ الْمُبْتَدَاِ مِنْ عَائِدٍ
كوي د ربط خپل غير طرف ته نوضروري ده په دغه جمله كې كومه چې خبرواقع كيږي د مبتدا دپاره يوعائدچې
يَرْبِطُهَا بِهِ وَ ذَالِكَ الْعَائِدُ اِمَّا ضَمِيْرٌ كَمَا فِي الْمِثَالَيْنِ الْمَذْكُوْرَيْنِ اَوْ غَيْرُهُ كَاللَّامِ
هغه جملې لره د مبتدا سره ربط كړي اوداعائد به ضميروي لكه په ذكرشومثالونوكې يادضميرنه غيرلكه لام
فِي نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ اَوْ وَضْعَ الْمُظْهَرِ مَوْضِعَ الْمُضْمَرِ فِي نَحْوِ الْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ اَوْ كَوْنَ الْخَبَرِ تَفْسِيْراً
په نعم الرجل زيد كې يااسم ظاهرلره ضميرپه خاې ايښودل لكه په الحاقة ما الحاقة كې ياخبرتفسيركيدل
لِلْمُبْتَدَاِ نَحْوُ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ وَ قَدْ يُحْذَفُ الْعَائِدُ اِذَا كَانَ ضَمِيْراً لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ نَحْوُ
مبتدا دپاره لكه په قل هو الله احد كې اوكله عائد حذف كيږي چې هغه وي د قرينې د موجودګي دوجې نه لكه
اَلْبُرُّ الْكُرُّ بِسِتِّيْنَ دِرْهَماً وَالسَّمَنُ مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ اَيِ الْكُرُّ مِنْهُ وَمَنَوَانِ مِنْهُ بِقَرِيْنَةِ اَنَّ بَائِعَ الْبُرِّ وَالسَّمَنِ
لكه البرالكر بستين درهما والسمن منوان بدرهم يعني الكرمنه اومنوان منه ددې قرينې نه چې غنم اوغوړي
لَا يُسَعِّرُ غَيْرَهُمَا .
خرخولو والاته علاوه قيمت به نه ښائي .

خلاصه د متن: صاحب د كافيه فرمايي چې خبر كله جمله هم راځي لكه زيد ابوه قائم ، زيد قائم ابوه ليكن جمله په خپله مستقله وي لهذا جملې لره خبر جوړولو دپاره شرط دادې چې په دې كې عائد وي چې مبتدا طرف ته راجع وي چې د مبتدا دخبرسره ربط راشي ليكن كله چې عائدضمير وي نوكله كله د قرينې دوجې نه حذف كولې شي .

اغراض د جامي: ولما كان الخبر: دا عبارت د علامه ابن الحاجب د قول والخبر دپاره تمهيد دې همدارنګې د يو سوال مقدره جواب هم دې ، تمهيد خو ظاهر دې خو دسوال جواب تفصيل دادې :

سوال : د خبر ذكر خو ماقبل كې وشو لهذا والخبر قد يكون د ذكر كولو څه فائده ده ؟

جواب : په ماقبل كې خبر مفرد ذكر وو څكه چې هغه داسم يو قسم وو اواسم دجملې قسم دې اوكله لفظ مفرد دې والخبر قد يكون كې خبر دجملې بيان دې يعنې دلته كې خبر دجملې بيان دې .

اسمية اوفعلية : په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :
سوال : دمثال نه مقصود د ممثل له وضاحت وي دهغې دپاره یو مثال کافي وو نومصنف دوه مثالونه ولې ذکر کړه ؟
جواب : دمثال تعدد دممثل له دتعدد دوجې نه دي ممثل له دوه دي : (۱) جمله اسمیه . (۲) جمله فعلیه ځکه یې دوه مثالونه ذکر کړل .
ولم یذکر: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :
سوال : خبر چې څنګه جمله اسمیه اوجمله فعلیه وي دغه شان جمله ظرفیه هم وي مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ جمله ظرفیه لره ولې ذکر نه کړو ؟
جواب : مصنف ځکه جمله ظرفیه ذکر نه کړه چې جمله ظرفیه مستقله جمله نه وي بلکې د جملې فعلي نائب وي اودغې طرف ته راجع وي ،ددې وجې نه د اکثرو نحاتو په نزد طرف متعلق دي فعل سره او فعل خپل فاعل سره جمله فعلیه دي .
واذاکان الخبر : د ادمصنف قول دفلا بد دلیل دي چې کله خبر جمله وي نو جمله مستقل بالذات وي نو خپل غیر سره دارتباط تقاضا نه لري کله چې خبردمبتدا سره مربوط وي نو په خبر کې یو عائد ضروري وي چې خبر لره مبتدا سره ربط ورکړي .
اذاکان الخبر جملة : په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده چې فلا بد کې فاء جزائیه ده ددې شرط اذا کان الخبر محذوف دي .
ولذلک العائد : په دې کې د عائد اقسام بیانوي چې عائد په څلور قسمه دي :
وجه دحصر : وجه دحصر ددې څلوروقسمونو داده چې عائد به یاضمیر وي اویاغیرضمیر نودا به ددرې (۳) حالتونو به خالي نه وي (۱) یابه الف لام وي . (۲) اسم ظاهر لره به په اسم ضمیر په ځای ایښودې شوي وي .(۳) خبر به دمبتدا تغیر وي دهر یو مثال (۱) زید ابوه قائم او زید قام ابوه ، په دې کې ابوه ضمیر عائد دي . (۲) عائد الف لام مثال نعم الرجل زید په دې صورت کې نعم الرجل خبر مقدم دي او زید مبتداء مؤخر دي اورابط اوعائد دالرجل الف لام دي . (۳) اسم ظاهر په ځای دضمیر کې لکه الحاقة ما الحاقة ، چې په اصل کې داسې وو الحاقة ما هي په هې کې چې کوم ضمیر چې خبر دي دالحاقة اسم ظاهر په ځای ایښودلې شوي دي چې عائد اورابط

جوړيږي (۴) د تفسير مثال لكه قل هوالله احد په دې كې هو مبتدا دي الله احد جمله ده او ماقبل خبر دي كوم چې د مبتدا تفسير دي ځكه چې د هو نه مراد هماغه دي كوم چې د الله نه مراد دي.

العائد: په دې كې شارح د مخذوف هو ضمير مرجع متعين كړي ده چې مرجع عائد دي.

اذا كان ضميراً: په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي.

سوال: وقد يحذف العائد كې العائد مطلق دي د دې نه معلوميږي چې د عائد ټول اقسام ضمير وغير ضمير ټولو لره حذف كول په وخت د قرينه كې جائز دي حالانكه عائد غير ضمير لره حذف كول جائز نه دي؟

جواب: شارح جواب وركوي چې د عائد نه مراد فقط ضمير دي ځكه چې د ضمير نه علاوه نور عائد مثلاً الف لام وغيره قليل الاستعمال دي كه چيرته دا حذف شي نو ذهن هغې طرف ته نه متوجه كيږي.

لقيام قرينة: په دې كې د حذف شرط بيانوي لكه البر الكر بستين درهماً او السمن منوان بدرهم، د دې اصل البر الكر منه بستين درهماً او السمن منوان منه درهماً وو، منه ضمير عائد دي دې لره مو حذف كړو د دې په حذف باندې قرينه داده چې غنم او غوړي خرڅولو والا به د غنم او د غوړو قيمت لړوي د ګازرو او د مولي قيمت به نه لړوي.

ظرف په تاويل د جملې كې كيدل:

وَمَا وَقَعَ ظَرْفًا اَيِ الْخَبَرُ الَّذِيْ وَقَعَ ظَرْفَ زَمَانٍ اَوْ مَكَانٍ اَوْ جَارًّا وَ مَجْرُوْرًا فَالْاَكْثَرُ مِنَ النُّحَاةِ
او هغه خبر چې واقع وي ظرف يعنې هغه خبر چې واقع وي ظرف زمان يا ظرف مكان يا جار مجرور پس اكثر نحاة
وَ هُمُ الْبَصْرِيُّوْنَ عَلٰى اَنَّهٗ اَيِ الْخَبَرُ الْوَاقِعُ ظَرْفًا مُقَدَّرٌ اَيْ مُؤَوَّلٌ بِجُمْلَةٍ
چې هغه بصرين دي په دې خبره باندې دي چې هغه خبر كوم چې ظرف واقع وي مقدر به وي يعنې د جملې په تاويل
بِتَقْدِيْرِ الْفِعْلِ فِيْهِ لِاَنَّهٗ اِذَا قُدِّرَ فِيْهِ الْفِعْلُ يَصِيْرُ جُمْلَةً بِخِلَافِ مَا
كې به وي په تقدير د فعل سره په دې كې ځكه چې كله مقدر كړې شي په دې كې فعل نو جمله ګرځي په خلاف د هغه
اِذَا قُدِّرَ فِيْهِ اِسْمُ الْفَاعِلِ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الْاَكْثَرِ وَهُمُ الْكُوْفِيُّوْنَ فَاِنَّهٗ يَصِيْرُ حِيْنَئِذٍ
صورت كې چې مقدر كړې شي په دې كې اسم فاعل لكه دا مذهب دي د كمو خلكو چې هغه كوفيان دي پس په دې
مُفْرَدًا وَوَجْهُ الْاَكْثَرِ اَنَّ الظَّرْفَ لَا بُدَّ لَهٗ مِنْ مُتَعَلِّقٍ عَامِلٍ فِيْهِ وَالْاَصْلُ فِي الْعَمَلِ
وخت كې ګرځي مفرد او د اكثرو دليل دا دې چې د ظرف د پاره متعلق ضروري دي چې په هغې كې عمل وكړي او

وَ هُوَ الْفِعْلُ فَلِذَا وَجَبَ التَّقْدِيْرُ فَالْأَصْلُ اَوْلٰى وَ وَجْهُ الْاَقَلِّ اَنَّهُ خَبَرٌ
اصل په عمل کې فعل دي ددې وجې مقدر کول واجب دي اصل ډير زيات بنه دي او د اقل دليل داده چې داخبر
وَ الْأَصْلُ فِي الْخَبَرِ الْاِفْرَادِ.
دي او اصل په خبر کې افراد دي

خلاصه دمتن: دصاحب دکافيې د عبارت حاصل دی چې کله خبر ظرف وي داکثرو نحويانو په نزد هغه دجملې په تاويل کې دي اوبعضې نحويانو په نزد هغه دمفرد په تاويل کې دي.

اغراض دجامي: ای الخبر: په دې سره شارح دجامي اشاره کړې ده چې ما موصوله ده چې ددې نه مراد خبر دي ما موصوله ځکه ده چې دخبر په ځاې واقع دي اوپه مبتدا کې اصل تعريف يعني معرفه ده.

ظرف زمان: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: په ظرف کې دري (۳) احتمالات دي: (۱) فقط ظرف حقيقي مرادوي. (۲) فقط ظرف مجازي مرادوي (۳) يامجازي اوحقيقي دواړه مرادوي اودا دري واړه احتمالات صحيح نه دي:

(۱) اول احتمال ځکه صحيح نه دي ځکه که چيرته ظرف نه مراد حقيقي وي نودامنقوض ده په زيد في الدار سره ځکه په دې کې في الدار مؤول دي په جملې دي حالانکه دا ظرف حقيقي نه دي بلکه ظرف مجازي دي.

(۲) که چيرته ظرف نه مراد ظرف مجازي وي دامنقوض دي په زيد خلفک سره، ځکه چې خلفک مؤول دي په جملې سره حالانکه داظرف مجازي نه دي بلکه ظرف جقيقي دي.

(۳) که چيرته ظرف نه مراد ظرف حقيقي او ظرف مجازي دواړه وي نوجمع په مينځ دحقيقت او مجاز کې لازم راځي اودا باطل ده.

جواب: ظرف زمان اوظرف مکان اوجارمجرور نه شارح جامي جواب ورکوي چې دظرف نه مراد ظرف حقيقي اومجازي دواړه دي ليکن په طريقه جمع په مينځ دحقيقت اومجاز نه ده بلکه په طريقې دعموم مجاز دي اوعموم مجاز داده چې دظرف نه مراد محتاج الى المتعلق دي داظرف حقيقي او مجازي دواړو ته شامل دي.

النحاة: په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده چې داکثر الف لام عهدي دي ددې نه مراد اکثر نحاة دي.

البصرين: په دې عبارت سره شارح داکثرو نحويانو مصداق متعين کړي دي چې داکثرو نحويانو مصداق بصريين دي.

على: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دمصنف داقول فالاکثر مبتدا دي اوانه مقدر بجملة ددې خبر دي ليکن دې لره خبر جوړول صحيح نه دي ځکه چې کله خبر جملة وي نوپه هغې کې يوضمير عائد کيدل ضروري دي کوم چې خبر دمبتدا سره يوځاې کوي په دې کې خو يوعائد هم نشته.

جواب: انه مقدر بجملة منصوب لنزع الخافض، دی اوهغه خافض على دي اصل کې على انه مقدر بجملة وه بيا د جار مجرو متعلق محذوف شو او په دې کې ضمير مستتر دي کوم چې مبتدا يعنې الاکثر طرف ته راجع دي لهذا عائد موجود دي.

اى الخبر الواقع: په دې عبارت سره شارح د انه د ضمير مرجع متعين کړي ده چې د ضمير مرجع الخبر الواقع ظرفاً دي.

مؤول: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوالينو مقدرينو جواب ورکول دي:

سوال (۱): خبر ظرف دي اوظرف مذکور وي مقدر نه وي نو دمصنف رَحِمَهُ اللَّهُ قول مقدراً ويل څنګه صحيح دي؟

سوال (۲): بجملة دادمقدر متعلق دي حالانکه دا دمقدر پورې متعلق کول صحيح نه دي ځکه چې دمقدر صله في راځي باء نه راځي.

جواب: مؤول ويلو سره شارح ددواړو سوالونو جواب ورکوي چې دهغې حاصل دادې چې مقدر مؤول په معنى کې دې اودمؤول صله باء راځي لهذا دواړه سوالونه رفع شول.

بتقدير الفعل: په دې عبارت سره غرض دشارح دخبر مؤول بجملة صورت بيانول دي ددې صورت دادې چې دظرف متعلق فعل لره مقدر ومنلي شي نودغه وخت کې خبر جمله جوړيږي ځکه چې فعل دخپل فاعل سره جمله جوړيږي.

بخلاف: په دې عبارت سره غرض دشارح داکثر مقابل بيانوي چې اقل نحاة يعنې داهل کوفو په نزد باندې اسم فاعل به مقدر وي په دې صورت کې به خبر مفرد وي ځکه چې اسم فاعل دخپل فاعل سره جمله نه جوړيږي بلکه مفرد وي.

ووجه الاكثر: په دې عبارت سره غرض دشارح د نحويانو دبصري دليل بيانوي چې كله ظرف خبر وي نو دهغې دپاره متعلق كيدل واجب دي اودغه متعلق په دغه ظرف كې عامل هم وي او په عمل كې اصل فعل دى نو داصل تقدير اولى وي نولهذا فعل به مقدر منلې شي .

ووجه الاقل: په دې عبارت سره غرض دشارح د نحويانو دكوفي دليل بيانوي چې ظرف خبر دى اواصل په خبركې افراددى دڅووجوهونه : (۱) خبر دمرفوعاتو قسم دى اومرفوع داسم قسم دى او اسم دمفرد قسم دى . (۲) مبتدا مفرد وي نوخبر كې هم اصل دادې چې په ركنان كې موافقت راشي . (۳) خبر كه جمله وي نوهغه عائد ته محتاج وي اوخبر مفرد څه څيز ته محتاج نه دى غيرمحتاج اصل وي په نسبت سره محتاج ته . (۴) كه چيرته خبر مفرد وي نوهغه دمبتدا سره سخت مضبوط ربط وي په خلاف دجملې چې هغه مستقل بالذات وي په دې صورت كې د هغه دمبتدا سره ربط كمزورې كيږي لهذا اسم فاعل لره مقدر منلې شي ځكه چې اسم فاعل دخپل فاعل سره مفرد وي جمله نه وي .

ثم ان الاصل: دادمابعد دپاره تمهيد دى چې مبتدا كې اصل تقديم دى اوتاخير يې هم جائز دى ليكن كله كله دڅه عارض دوجې نه خبر باندې دمبتدا تقديم واجبيږي چې هغې طرف ته مصنف په دې خپل قول : **اذا كان المبتدا** ، سره اشاره كړې ده ياغرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي .چې تقديم دمبتدا په خبر باندې بديهي حكم دى اوددې دبيانولو ضرورت نشته ، نو جواب يې وركړو چې حكم بديهي هغه اصالةً تقديم دمبتدا دى وجوب دتقديم نه دى دلته وجوب دتقديم دمبتدا بيانول مقصود دى يادسوال تقريرداسې كولې شي چې دمصنف په عبارت كې تعارض اوتدافع دى مخكې يې وويل چې : **والاصل في المبتدا التقديم** ، اواصل په معنى **اولى** او **ماينبغي** سره دى اودلته فرمايي چې په دې څلورو صورتونو كې تقديم دمبتدا واجب دى نودغه دواړو كلام كې تعارض دى نو په دې عبارت سره شارح جواب وركړو چې دمبتدا تقديم دوجوب دڅه عارض دوجې نه وي اوعوارض مستثنى **من القواعد والضوابط** دي لهذا په كلامينو كې څه تعارض نشته .

دمبتداد تقديم دوجوب اولنې صورت :

ثُمَّ اِنَّ الْاَصْلَ فِي الْمُبْتَدَاِ التَّقْدِيْمُ وَ جَازَ تَاخِيْرُهٗ لٰكِنَّهٗ قَدْ يَجِبُ لِعَارِضٍ كَمَا اَشَارَ
بيا اصل په مبتدا كې تقديم دى اوجائزدى تاخيرددې ليكن كله واجبيږي دڅه عارض دوجې نه لكه اشاره يې هغه

اِلَيْهِ بِقَوْلِهِ وَ اِذَا كَانَ الْمُبْتَدَأُ مُشْتَمِلًا عَلٰى مَا لَهٗ صَدْرُ الْكَلَامِ
طرف ته کړي په دې قول کې او کله چې مبتدا مشتمل وي په هغه څيز باندې چې د هغې د پاره صدارت د کلام وي
اَيْ عَلٰى مَعْنًى وَجَبَ لَهٗ صَدْرُ الْكَلَامِ كَالْاِسْتِفْهَامِ فَاِنَّهٗ يَجِبُ حِيْنَئِذٍ
يعني داسې معنى باندې چې د هغې د پاره صدارت د کلام واجب وي لکه استفهام نو په دې وخت کې واجب دي
تَقْدِيْمُهٗ حِفْظًا لِصِدَارَتِهٖ مِثْلُ مَنْ اَبُوْكَ فَاِنَّ مَنْ مُبْتَدَأٌ مُشْتَمِلٌ عَلٰى مَا
تقديم د مبتدا د هغې صدارت محفوظ ساتلو د پاره لکه من ابوک پس من مبتدا دي شامل دې هغه څيز ته چې د
لَهٗ صَدْرُ الْكَلَامِ وَ هُوَ الْاِسْتِفْهَامُ فَاِنَّ مَعْنَاهُ اَهٰذَا اَبُوْكَ اَمْ ذَاكَ وَ اَبُوْكَ خَبَرُهٗ
هغې د پاره صدارت د کلام وي او هغه استفهام دي پس د دې معنى ده داستا پلار دي يا هغه او ابوک د هغې خبر
وَ هٰذَا مَذْهَبُ سِيْبَوَيْهِ وَ ذَهَبَ بَعْضُ النُّحَاةِ اِلٰى اَنَّ اَبُوْكَ مُبْتَدَأٌ لِكَوْنِهٖ مَعْرِفَةً
دې او دا د سيبويه مذهب دي او بعضې نحات تللي دي دې طرف ته چې ابوک مبتدا دي خکه چې دا معرفه ده
وَ مَنْ خَبَرُهٗ الْوَاجِبُ تَقْدِيْمُهٗ عَلَى الْمُبْتَدَأِ لِتَضَمُّنِهٖ مَعْنَى الْاِسْتِفْهَامِ.
او من خبر دې او واجب وي دې لره مقدم کول په مبتدا باندې د وجې د متضمن کيدو معنى د استفهام ته.

خلاصه د متن: د صاحب د کافيې د عبارت حاصل دا دې چې څلور صورتونه داسې دي چې په هغې کې د مبتدا تقديم په خبر واجب دي په هغې کې اولنی صورت لاندې ذکر دي (۱) چې کله مبتدا په داسې معنى باندې مشتمل وي چې د هغې د پاره صدارت د کلام واجب وي مثلاً استفهام ، تمنى ، و غيره مثال من ابوک.

اغراض د جامي : علی معنی: په دې عبارت کې شارح دې خبرې ته اشاره کړې ده چې ما موصوفه ده چې د هغې نه معنى مراد ده .

وجب: په دې عبارت کې شارح اشاره کړې ده چې لهٗ ظرف مستقر دي د دې متعلق محذوف دي کوم چې وَجَبَ دي وصدر الكلام د وجب فعل دي بيا دا جمله صفت ده د ما موصوفه د عبارت مطلب دا دې چې کله مبتدا په داسې معنى باندې مشتمل وي چې د هغې د پاره صدارت د کلام واجب وي مثال لکه استفهام، تمنى ، قسم ، لام ابتدائيه و تعجب و شرط وغيره نو په دې وخت کې تقديم د مبتدا په خبر باندې واجب دي ، شارح استفهام خاص خکه ذکر کړو چې مصنف مثال د دې استفهام ور کړې دي .

حفظاً لصدارته: په دې عبارت سره غرض د شارح صورت مذکوره کې د تقديم د مبتدا وجه بيانوي چې صورت مذکوره کې په خبر باندې د مبتدا تقديم د وجوب صدارت د حفاظت په

خاطر دي ځکه چې که دمبتدا تقديم واجب نشي نوصورت به په خطره کې پريوځي .

فان من : په دې عبارت سره غرض دشارح مثال دممثل له سره تطبيق كول دي چې من ابوک کې من مبتدا دي كوم چې په داسې معنى باندې مشتمل دي چې دهغې دپاره صدارت دكلام واجب دي هغه معنى استفهام ده او ابوک دهغې خبر دي ځکه چې مبتدا لره په خبر باندې مقدم كول واجب دي .

فان معناه أهذا أبوک أم ذاک : په دې عبارت سره غرض دشارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : من نكره دي اوابوک كاف ضمير طرف ته دمضاف كيدو په وجه معرفه دي كه چيرته من مبتدا او ابوک خبر جوړ کړې شي نومبتدا لره نكره اوخبرله معرفه كيدل لازميږي چې دانا جائز دي .

جواب : مَن اګر چې صورةً نكره دي ليكن دمعنى په اعتبارسره معرفه دي ځکه چې ددې معنى ده أهذا ابوک ام ذاک په دې کې هذا او ذاک معرفه دي لهذا څه نقصان وارد نه شو .

وهذا مذهب سيبويه : په دې عبارت سره غرض دشارح اختلاف بيانول دي چې په من ابوک کې من مبتدا جوړول او ابوک خبر جوړول دسيبويه مذهب دى ، دسيبويه په نزد معرفه دداسې نكرې خبر نه شي جوړيدي چې كوم داستفهام په معنى باندې مشتمل وي اودبعضې نحويانو مذهب دادې چې مَن دنكرې كيدو په وجه مبتدا نه شي جوړيدې ددې وجې نه ابوک دمعرفې په وجې سره مبتدا مؤخر دي او من خبر مقدم دي .

سوال : من كه خبر دي نو بيا دې خبر ولې په مبتدا باندې مقدم کړو ؟

جواب : مَن په معنى داستفهام باندې مشتمل دي اوقاعده داده چې كله خبر په معنى د استفهام باندې مشتمل وي نودخبر تقديم په مبتدا باندې واجب دي ددې وجې نه يې خبر په مبتدا باندې مقدم کړو .

د مبتدا د تقديم د وجوب دويم او دريم صورت :

أَوْ كَانَا أَيِ الْمُبْتَدَأُ وَ الْخَبَرُ مَعْرِفَتَيْنِ مُتَسَاوِيَيْنِ فِي التَّعْرِيْفِ أَوْ غَيْرَ مُتَسَاوِيَيْنِ وَلَا قَرِيْنَةَ عَلَى
ياوي دواړه يعني مبتدا اوخبر معرفه برابره خبره ده كه په معرفه کې برابروي اويانه وي برابر اونه څه قرينه وي په كيدو

كَوْنِ اَحَدِهِمَا مُبْتَدَاً وَالْآخَرِ خَبَراً نَحْوُ زَيْدُ الْمُنْطَلِقُ اَوْ كَانَا مُتَسَاوِيَيْنِ فِيْ اَصْلِ التَّخْصِيْصِ لَا فِيْ قَدْرِهٖ حَتّٰى
دي چې يو مبتدا وي او بل خبر لکه زيد المنطلق یاوي دواړه برابر په اصل تخصيص کې نه په مقدار کې حتی که
لَوْ قِيْلَ غُلَامُ رَجُلٍ صَالِحٍ خَيْرٌ مِنْكَ لَوَجَبَ تَقْدِيْمُهٗ اَيْضًا مِثْلُ اَفْضَلُ مِنِّيْ اَفْضَلُ مِنْكَ
چيرته وويلي شي غلام رجل صالح خير منک نو دې لره مقدم کول هم واجب دي لکه افضل مني افضل منک، دپاره د
رَفْعًا لِلْاِشْتِبَاهِ.
لرې کولو د اشتباه.

خلاصه دمتن: (۱) په دې عبارت کې دتقديم دمبتدا په خبر باندې دوجوب دويم اودريم صورت ذکر کوي: (۲) مبتدا اوخبر دواړه معرفه وي برابره خبره ده که په تعريف کې مساوي وي اويانه، اوپه دې کې ديو په مبتدا کيدو اودبل په خبر کيدو باندې څه قرينه نه وي لکه زيد منطلق. (۳) مبتدا اوخبر په اصل تخصيص کې مساوي وي برابره خبره ده که مقدار تخصيص کې مساوي وي اويانه مثال لکه: افضل منک، افضل مني.

اغراض دجامي: اى المبتدا والخبر: په دې عبارت سره غرض دشارح دکانا ضمير مرجع متعين کول دي چې د کانا ضمير مرجع مبتدا اوخبر دي.

متساوين: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د متساوين د ذکر کولو نه وروستو معرفتين ذکر کول بې فائدې دي ځکه چې دمتساوين لفظ مساوات في التخصيص او مساوات في التعريف دواړو ته شامل دي لهذا د معرفتين ذکر بلا فائدې دي

جواب: که چيرته مصنف په متساوين باندې اکتفا کړي وي نو ددې نه داوهم پيدا کيدو چې د مبتدا خبر په تعريف کې مساوي کيدل شرط دي حالانکه داسې نه دي بلکه کله هم مبتدا اوخبر مساوي في التعريف نه وي بلکه خبر اعرف من المبتدا وي ددې وجې نه مصنف خپل قول متساوين باندې اکتفاء ونه کړه بلکه معرفتين سره يې اشاره وکړه چې مبتدا خبر معرفه کيدل ضروري دي په معرفه کيدو کې مساوات ضروري نه دي.

ولا قرينة: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا ضابطه منقوض ده او ماته ده په ابو حنيفه ابو يوسف سره ځکه چې په دې جمله کې

ابوحنیفه او ابویوسف د کنیت کیدو دوجې نه معرفه دي حالانکه په دې کې د مبتدا تقدیم په خبر واجب نه دي بلکه خبر مقدم دي.

جواب: د مبتدا خبر په معرفه کیدو په صورت کې د مبتدا تقدیم هله واجب دي کله چې په هغې کې دیو په مبتدا اود دویم په خبر کیدو باندې څه قرینه موجود نه وي اوپه ذکر شوي مثال کې ابویوسف د مبتدا کیدو اود ابوحنیفه په خبر کیدو باندې قرینه معنویه موجود ده اوهغه قرینه تشبیه ده ځکه چې مقصود ابویوسف د ابوحنیفه سره تشبیه ورکول دي نه ابوحنیفه د ابویوسف سره ځکه چې ابوحنیفه اعلم من ابي یوسف دي او ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ د ابویوسف استاذ دي.

کانا: د دې اضافه یې وکړه چې د متساوین عطف په معرفتین باندې دي.

في اصل التخصیص: په دې عبارت سره غرض د شارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: په غلام رجل صالح خیرمنک کې د مبتدا تقدیم په خبر باندې واجب دي حالانکه مبتدا او خبر په تخصیص کې مساوي نه دي ځکه چې خبر تخصیص حاصل کړي دي په یووجې سره او مبتدا تخصیص حاصل کړي دي په دوو (۲) وجهو سره: (۱) د اضافت دوجې نه. (۲) د صفت دوجې نه نو په مبتدا کې په نسبت د خبر تخصیص زیات دي نو په تخصیص کې مساوات نشته دي دا ولې؟

جواب: في اصل التخصیص سره جواب ورکوي چې د مبتدا او خبر په اصل تخصیص کې مساوي کیدل شرط دي په مقدار تخصیص کې مساوي کیدل شرط نه دي اوپه ذکر شوي مثال کې مبتدا او خبر په اصل تخصیص کې مساوي دي.

رفعاً للاشتباه: په دې عبارت سره غرض د شارح په دویم اودریم صورت کې تقدیم د مبتدا د وجوب وجه بیانوي په دغه دواړو صورتونو کې مبتدا لره ځکه مقدم کول واجب دي چې په مبتدا خبر کې اشتباه او التباس لازم نه شي.

د مبتدا د تقدیم د وجوب څلورم صورت:

أَوْ كَانَ الْخَبَرُ فِعْلًا لَهُ أَيْ لِلْمُبْتَدَا اِحْتِرَازاً عَمَّا لَا يَكُوْنُ فِعْلًا لَهُ كَمَا فِيْ زَيْدٌ قَامَ أَبُوْهُ
یاوي فعل خبر د هغې د پاره یعني د مبتدا د پاره احتراز دي د هغې نه چې نه وي فعل د هغه د پاره لکه زَیْدٌ قَامَ اَبُوْهُ
فَإِنَّهُ لَا يَجِبُ فِيْهِ تَقْدِيْمُ الْمُبْتَدَا لِجَوَازِ قَامَ أَبُوْهُ زَيْدٌ لِعَدَمِ الْاِلْتِبَاسِ مِثْلُ زَيْدٌ قَامَ
پس نه دي واجب په دې کې تقدیم د مبتدا ځکه چې جایز دي قام ابوه زید د نه کیدو د التباس دوجې نه لکه زید قام

وَجَبَ تَقْدِيمُهُ اَىْ تَقْدِيمُ الْمُبْتَدَاِ عَلَى الْخَبَرِ فِيْ هٰذِهِ الصُّوَرِ اَمَّا فِي الصُّوَرِ الْاَوَّلِ
نو دي تقديم واجب دي يعني مبتدا په خبرباندې مقدم کول په دې صورتونو کې هرچې په اول صورت کې نو دغې
فَلِمَا ذَكَرْنَا وَ اَمَّا فِي الصُّوْرَةِ الْاَخِيْرَةِ فَلِئَلَّا يَلْتَبِسَ الْمُبْتَدَاُ بِالْفَاعِلِ
وجې نه کوم چې مونږ ذکر کړه هرچې په آخري صورت کې نو دې وجې نه چې ملتبس نه شي مبتدا د فاعل سره چې
اِذَاكَانَ الْفِعْلُ مُفْرَدًامِثْلَ زَيْدٌ قَامَ فَاِنَّهُ اِذَا قِيْلَ قَامَ زَيْدٌ اِلْتَبَسَ الْمُبْتَدَاُ بِالْفَاعِلِ اَوْ بِالْبَدَلِ عَنِ
کله فعل مفرد وي لکه زَيْدٌ قَامَ پس چې کله وويل شي قام زيد نوملتبس به شي فاعل دمبتدا سره يا دبدل د
الْفَاعِلِ اِذَا كَانَ مُثَنًّى اَوْ مَجْمُوْعًا فَاِنَّهُ اِذَا قِيْلَ فِيْ مِثْلِ اَلزَّيْدَانِ قَامَا وَالزَّيْدُوْنَ قَامُوْا
فاعل نه چې کله تثنيه يا جمع وي څکه چې کله وويل شي په دې مثال کې چې اَلزَّيْدَانِ قَامَا وَ الزَّيْدُوْنَ قَامُوْا
قَامَا الزَّيْدَانِ وَ قَامُوْا الزَّيْدُوْنَ يَحْتَمِلُ اَنْ يَّكُوْنَ الزَّيْدَانِ وَ الزَّيْدُوْنَ بَدَلًا عَنِ الْفَاعِلِ
قاما الزيدان وقاموا الزيدون نو په دې کې احتمال ددې خبرې دي چې الزيدان او الزيدون بدل دي دفاعل نه
فَالْتَبَسَ الْمُبْتَدَاُ بِهٖ اَوْ بِالْفَاعِلِ عَلٰى هٰذَا التَّقْدِيْرِ اَيْضًا عَلٰى مَنْ يُّجَوِّزُ كَوْنَ
نو پس ملتبس به شي مبتدا دي فاعل سره په دې تقدير باندې هم د هغه سړي قول کوم چې جائزوي کيدل د
الْاَلِفِ وَالْوَاوِ حَرْفًا دَالًّا عَلٰى تَثْنِيَةِ الْفَاعِلِ وَ جَمْعِهٖ كَالتَّاءِ فِيْ ضَرَبَتْ هِنْدٌ.
الف او واو داسې حرف چې دلالت کوي دفاعل په تثنيه اوجمع والي باندې لکه ضربت هند کې تاء.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې تقديم د مبتدا په خبر واجب کيدو څلورمه وجه بيانوي خبر فعل للمبتدا يعني خبر داسې فعل وي چې د مبتدا ضمير طرف ته مسند وي مثال لکه: زيد قام.

اغراض دجامي: اى للمبتدا: په دې عبارت سره غرض دشارح د لَهُ ضمير دمرجع تعين کوي چې د لَهُ ضمير مرجع مبتدا ده.

احترز: په دې عبارت سره د لَهُ دقيد فائدې بيانوي چې داقيد احترازي دي ددې نه احتراز دي دهغه خبر نه کوم چې فعل للمبتدا نه وي بلکه لغير المبتدا وي مثال لکه زيد قام ابوه کې زيد مبتدا او قام ابوه خبر دي په دې کې دقيام فعل زيد دپاره ثابت نه دي بلکه زيد دغير يعني دهغه پلار دپاره ثابت دي.

فانه لايجب: په دې عبارت سره غرض دشارح وجه داحتراز بيانوي چې ددې صورت نه احتراز په دې وجې سره کړي دي چې په دې کې تقديم دمبتدا په خبر باندې واجب نه دي همدارنګې

زيد قام ابوه په ځاې **قام ابوه زيد** هم ويلي شي ځکه چې په دې صورت کې التباس نه لازميږي

ومن تقديم المبتدا: په دې عبارت سره غرض دشارح د **تقديمه** د ضمير دمرجع تعين کوي چې د ضمير مرجع مبتدا ده

في هذه الصورة: په دې عبارت سره بيان دمحل دتقديم دي .

امافي الصور الاول: په دې عبارت سره غرض دشارح په صور اربعه مذکوره کې خبر باندې د تقديم دمبتدا بيان دي **کمامرت** چې دهغې خلاصه داده چې په اولني صورت کې تقديم ځکه واجب دي چې صدارت د کلام فوت نه شي اوپه دويم اودريم صورت کې تقديم ځکه واجب دي چې په مبتدا او خبر کې التباس رانه شي .

واما في الصورة الاخيرة: په دې سره څلورم صورت کې په خبر باندې تقديم دمبتدا دوجوب وجه بيانوي هغه وجه داده چې مبتدا دغير مبتدا سره التباس لازم نه شي هغه غيرڅه څيز دي په دې کې څه تفصيل دي هغه تفصيل دادې چې خبر په فعل مفرد ياتثنيه ياجمع به وي که چيرته خبر فعل مفرد وي نوتقديم دمبتدا ځکه واجب دي چې د مبتدا دفاعل سره التباس لازم نه شي مثال **زيد قام** په ځاې **قام زيد** وويلي شي نومعلومه به نه شي چې **زيد** مبتداء مؤخر دي اوکه د **قام** فاعل دي .

اوکه خبر فعل تثنيه ياجمع وي نودجمهورو په نزد اګرچې فاعل سره التباس خو نه راځي ځکه چې دتثنيه الف اودجمع واودفاعل په ضمير باندې دلالت کوي اومابعدوالاسم ظاهر فاعل نه شي کيدي ليکن په دې صورت کې دمبتدا بدل عن الفاعل سره التباس لازم راځي لکه **الزيدان قاما** په ځاې **قاما الزيدان** او **الزيدون قاموا** په ځاې **قاموا الزيدون** وويلي شي نو به معلوم نه شي چې **الزيدان** يا **الزيدون** مبتدا مؤخر دي يا **قاما** اود**قاموا**ضمير دفاعل نه بدل دي ليکن دا تقرير دجمهورو نحويانو په نزد دي اوبعضې نحويان چې دهغې په نزد الف تثنيه او واو د جمع فاعل ضميرنه دي بلکه حرف دي کوم چې دفاعل تثنيه کيدو اوجمع کيدو باندې دلالت کوي مثال د**فعلت تاء** دفاعل په مؤنث کيدو باندې دلالت کوي نودهغوې په نزد دلته هم مبتدا د فاعل سره التباس لازم راځي مثال **الزيدان قاما** په ځاې **قاما الزيدان** وويلي شي نومعلوم به نه شي چې **الزيدان** فاعل دي يامبتدا مؤخر دي .

اوهمدارنګې **الزيدون قاموا** په ځاې **قاموا الزيدون** وويلي شي نو معلوم به نه شي چې **الزيدون**

فاعل دي او يا مبتدا مؤخره ده.

د مبتدا د تاخير د وجوب څلور (۴) صورتونه:

وَإِذَا تَضَمَّنَ الْخَبَرُ الْمُفْرَدُ أَيِ الَّذِيْ لَيْسَ بِجُمْلَةٍ صُوْرَةً سَوَاءٌ كَانَ بِحَسَبِ الْحَقِيْقَةِ جُمْلَةً أَوْ غَيْرَ جُمْلَةٍ

او كله چې متضمن وي خبر مفرد يعني هغه چې صورت د جملې نه وي برابره خبره ده كه حقيقةً جمله وي يا نه وي

مَا لَهُ صَدْرُ الْكَلَامِ أَيْ مَعْنًى وَجَبَ لَهُ صَدْرُ الْكَلَامِ

هغه خيز لره چې د هغه دپاره صدارت د كلام وي يعني داسې معنى لره چې د هغې دپاره صدارت د كلام واجب وي

كَالْاِسْتِفْهَامِ مِثْلُ أَيْنَ زَيْدٌ فَزَيْدٌ مُبْتَدَأٌ وَ أَيْنَ اِسْمٌ مُتَضَمِّنٌ لِلْاِسْتِفْهَامِ خَبَرُهُ

لكه استفهام مثلاً اين زيد پس زيد مبتدا دى او اين اسم دي چې متضمن دي استفهام لره دا د مبتدا دپاره خبر دي

وَهُوَ ظَرْفٌ فَإِنْ قُدِّرَ بِفِعْلٍ كَانَ الْخَبَرُ جُمْلَةً حَقِيْقَةً مُفْرَدًا صُوْرَةً وَإِنْ قُدِّرَ بِاِسْمِ الْفَاعِلِ

او هغه ظرف دي پس كه مقدر كړې شي فعل سره نو شي به خبر جمله حقيقةً مفرد صورتاً او كه مقدر كړې شي اسم فاعل

كَانَ الْخَبَرُ مُفْرَدًا صُوْرَةً وَحَقِيْقَةً وَعَلَى التَّقْدِيْرَيْنِ لَيْسَ بِجُمْلَةٍ صُوْرَةً وَاحْتَرَزَ عَنْ نَحْوِ زَيْدٌ أَيْنَ

سره نو شي به خبر مفرد صورةً وحقيقةً په دغه دوو صورتونو كې صورةً جمله نه ده او احترازي كړې دي لكه زيد اين

أَبُوْهُ إِذْ لَا تَبْطُلُ بِتَأْخِيْرِهِ صَدَارَةُ الْكَلَامِ لِتَصَدُّرِهِ فِيْ جُمْلَةٍ أَوْ كَانَ الْخَبَرُ

ابوه سره خكه چې نه باطليږي په تاخير د دې سره صدارت د كلام خكه چې هغه په جمله كې مخكې ده يا خبر خپل

بِتَقْدِيْمِهِ مُصَحِّحًا لَهُ أَيْ لِلْمُبْتَدَأِ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ مُبْتَدَأٌ فَبِتَقْدِيْمِهِ

مقدم كيدو سره هغې لره صحيح كيدونكي وي يعني مبتدا لره د حيثيت سره چې هغه مبتدا دي نو د دې تقديم

يَصِحُّ وُقُوْعُهُ مُبْتَدَأً مِثْلُ فِي الدَّارِ رَجُلٌ فَإِنَّ فِي الدَّارِ خَبَرٌ تَخَصَّصَ

به صحيح وي د دې مبتدا واقع كيدل مثال في الدار رجل خكه چې في الدار كې خبر دي تخصيص حاصل كړې دي

الْمُبْتَدَأُ بِتَقْدِيْمِهِ كَمَا عَرَفْتَ فَلَوْ أُخِّرَ بَقِيَ الْمُبْتَدَأُ

مبتدا د هغې مقدم كيدلو سره خه رنګه چې تا پيژندلي دي پس اګر كه هغه لره مؤخر كړې شي نو پاتې به شي مبتدا

نَكِرَةً غَيْرَ مَخْصُوْصَةٍ أَوْ كَانَ لِمُتَعَلِّقِهِ بِكَسْرِ اللَّامِ أَيْ كَانَ لِمُتَعَلِّقِ الْخَبَرِ التَّابِعِ لَهُ بِتَبَعِيَّةٍ يَمْتَنِعُ مَعَهَا تَقْدِيْمُهُ

نكره غير مخصوصه يا وي د هغې متعلق بكسر لام دپاره كوم چې د خبر تابع دي داسې تبعيت سره چې د هغې تقديم

عَلَى الْخَبَرِ فَلَا يَرِدُ نَحْوُ عَلَى اللهِ عَبْدُهُ مُتَوَكِّلٌ ضَمِيْرٌ كَائِنٌ فِيْ جَانِبِ الْمُبْتَدَأِ

په خبر باندې ممتنع دي پس اعتراض نه وارديږي په على الله عبده باندې ضمير چې كائن وي په طرف د مبتدا كې

رَاجِعٌ إِلَى ذٰلِكَ الْمُتَعَلِّقِ إِذْ لَوْ أُخِّرَ لَازِمَ الْإِضْمَارُ قَبْلَ الذِّكْرِ لَفْظًا وَمَعْنًى مِثْلُ عَلَى التَّمْرَةِ

او راجع وي دې متعلق طرف ته خكه كه مؤخر كړې شي نو لازم به شي اضمار قبل الذكر لفظاً او معناً لكه على التمرة

مِثْلُهَا زُبَداً فَقَوْلُهُ مِثْلُهَا اَيْ مِثْلُ التَّمْرَةِ مُبْتَدَاً وَ فِيْهِ ضَمِيْرٌ لِمُتَعَلِّقِ الْخَبَرِ وَ هُوَ التَّمْرَةِ
مثلهازبدا پس دده قول مثلهايعني مثل التمرة مبتداده اوپه دې کې ضمير دې خبر د متعلق دپاره او هغه تمره ده
لِاَنَّ الْخَبَرَ هُوَ قَوْلُهُ عَلَى التَّمْرَةِ وَ التَّمْرَةُ مُتَعَلِّقٌ بِهِ مِثْلَ تَعَلُّقِ الْجُزْءِ بِالْكُلِّ اَوْ كَانَ
خکه چې خبر دده هغه قول دي على التمرة د التمرة متعلق دي چې دهغې سره په مثل د تعلق نيولوجز د کل سره ياوي
الْخَبَرُ خَبَرًا عَنْ اَنَّ الْمَفْتُوْحَةِ الْوَاقِعَةِ مَعَ اِسْمِهَا وَ خَبَرِهَا الْمُؤَوَّلِ بِالْمُفْرَدِ مُبْتَدَاً اِذْ فِيْ تَاْخِيْرِهِ
خبرخبردان مفتوحه چې واقع وي داسم اوخبرسره چې مؤول وي دمفردسره مبتدا دهغې خکه چې په تاخيردي
خَوْفُ لُبْسِ اَنَّ الْمَفْتُوْحَةِ بِالْمَكْسُوْرَةِ فِي التَّلَفُّظِ لِاِمْكَانِ الذُّهُوْلِ عَنِ الْفَتْحَةِ
کې دان مفتوحه سره دالتباس ويره وي اوپه ان مکسوره سره دتلفظ په وجه ممکن کيدو د ذهول دفتحې سره
لِخَفَائِهَا اَوْ فِي الْكِتَابَةِ مِثْلُ عِنْدِيْ اَنَّكَ قَائِمٌ وَجَبَ تَقْدِيْمُهُ اَيْ تَقْدِيْمُ الْخَبَرِ عَلَى الْمُبْتَدَاِ
بوجه مخفي کيدو دهغې سره ياکتابة لکه عندي انک قائم واجب دي دې لره مقدم کول يعني مبتدا لره په خبر
فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ لِمَا ذَكَرْنَا.
باندې په دې ټولووجوهوکې چې مونږمخکې ذکرکړې.

خلاصه دمتن: د صاحب دکافيې ددې عبارت حاصل دادې چې څلور صورتونه داسې دي چې په هغې کې دتقديم دخبرپه مبتداباندې واجب دي: (۱) کله چې مفرد په داسې معنى باندې مشتمل وي چې د هغې دپاره صدارت دکلام واجب وي لکه اين زيد. (۲) تقديم دخبر مصحح للمبتدا وي لکه في الدار رجل. (۳) دمبتدا په جانب کې داسې ضمير وي چې د خبر متعلق طرف ته راجع وي لکه على التمرة مثلهازبداً. (۴) ان مفتوحه سره خبر واقع وي يعنې ان خپل اسم اوخبر سره يوځاې شي دمفرد په تاويل کې شي مبتدا اودهغې نه څو لفظ خبر واقع وي لکه عندي انک قائم.

اغراض دجامي: اى الذي ليس: په دې عبارت سره شارح فرمايي چې دلته کې مفرد د جملې په مقابله کې دي معنى داده چې خبر جمله نه وي.

صورة: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مثال دې دممثل سره مطابق نه دي ځکه چې ممثل له خبر مفرد دي اوکوم مثال چې ذکر شوي دي اين زيد په دې کې خبر مفرد نه دي بلکه جمله، ده ځکه چې خبر اين دي اوهغه ظرف دي او داکثرو نحويانو په نزدخبر ظرف مؤول بالجملة وي.

جواب : خبر دمفرد کیدو مطلب دادې چې هغه صورة جمله نه وي برابره خبره ده که حقیقةً جمله وي او یا نه وي او ابن زید کې این صورة جمله نه ده لهذا مثال دممثل سره مطابق شو

اي معنی: په دې عبارت سره غرض دشارح دادې چې ما موصوفه ده چې دمعنی نه عبارت ده

وجب : په دې عبارت سره شارح وایي چې لَهُ ظرف مستقر دوجب محذوفه متعلق دي اوصدر الکلام ددې فاعل دي دعبارت حاصل دادې چې کله خبر داسې معنی لره متضمن وي چې د هغې دپاره صدارت دکلام واجب وي لکه استفهام تمني وغیره نو په دې صورت کې مبتدا باندې تقدیم دخبر واجب دي باقي استفهام لره شارح خاص طور باندې ځکه ذکر کړو ځکه چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ په مثال کې دغه ذکر کړي دي .

فزید مبتدا : په دې عبارت سره غرض دشارح مثال دممثل له سره منطبق کول دي چې این زید کې زید مبتدا دي او این دهغې خبر دي اوداداسې معنی لره متضمن دي چې دهغې دصدارت کلام واجب دي اوهغه معنی داستفهام ده ځکه چې خبر په داسې معنی باندې مشتمل دي چې هغې دپاره صدارت د کلام واجب دي ددې وجې نه دلته کې خبر لره په مبتدا تقدیم واجب دي او این ظرف دي که چیرته ددې متعلق فعل مقدر ومنلې شي لکه دادبصرینومذهب دي نو خبر صورةً به مفرد وي لیکن حقیقتاً به جمله وي اودکوفیونودمذهب مطابق ددې متعلق اسم فاعل مقدر منلې شي نوخبربه صورتاً هم مفرد وي او حقیقتاً به هم مفرد وي بهر حال کوم صورت چې وي خبر صورة جمله نه وي لهذا مثال د ممثل له سره مطابق شو .

واحترز به: په دې عبارت سره غرض دشارح دمفرد دقید فائده بیانول دي چې داقیداحترازي دي ددې نه احتراز دي دهغه خبرنه چې جمله وي او داسې معنی ته متضمن وي چې هغې دپاره صدارت دکلام واجب وي لکه این زید په دې کې زید مبتدا دي او این ابوه جمله ددې خبر دي اوداداسې معنی لره متضمن دي چې هغې دپاره صدارت دکلام واجب دي اوهغه معنی داستفهام ده .

اذ لاتبطل: په دې عبارت سره غرض دشارح داحتراز وجه بیانول دي چې کله خبر جمله وي نو چې د هغې تقدیم دخبر په مبتدا واجب نه دي ځکه چې دخبر په تاخیر په صورت کې مقتضی صدارت نه باطلیږي ځکه چې این په کومه جمله کې واقع دي په هغې شروع کې موجود دي

اي للمبتداء : په دې عبارت سره غرض دشارح تعین دمرجع دضمیر دي چې د هغې مرجع مبتدا

ده .

من حيث انه : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ددې عبارت په ظاهره دامفهوم معلوميږي چې تقديم دخبر په مبتدا دذات دپاره مصحح وي حالانکه داسې نه ده ځکه چې في الدار رجل کې رجل مبتدا ده چې ديو مفيد معنی دپاره موضوع ده هغه معنی مفيده داده چې ذکر من بني آدم جاوز حد الصغر الى حد الکبر نو تقديم دخبر په مبتدا د ذات دپاره څنګه مصحح شو ؟

جواب : مراددانه دي چې تقديم دخبرمبتدا ذات دپاره مصحح وي بلکه مراد دادې چې تقديم دخبر مبتدا دصفت ابتدائيت دپاره مصحح وي او في الدار رجل کې تقديم دخبر مبتدا دوصف ابتدائيت دپاره مصحح دي ځکه چې که خبر مؤخر شي نومبتدا نکره محضه غير مخصصه لازم راځي اونکره محضه لره مبتدا جوړول صحيح نه دي ځکه چې تقديم دخبر دوجې نه مبتدا لره سبتدا جوړول صحيح ده .

فان في الدار : په دې عبارت سره غرض دشارح مثال دممثل له سره منطبق کول دي چې في الدار رجل کې رجل مبتدا ده او في الدار دهغې خبر دي چې دهغې تقديم رجل دمبتدا دپاره مصحح دي ځکه چې که چيرته دا مؤخر کړي شي نو نکره محضه مبتدا جوړول لازم راځي اوداجائز نه دي .

اى کان : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : او لمتعلقه : په يو عطف کې دوه احتمالات دي (۱) ددې عطف دکان په اسم باندې دي . (۲) يا د کان په خبر باندې دي پس دواړه احتمالات صحيح نه دي (۱) اول احتمال ځکه صحيح نه دي چې کان په اسم باندې چې کوم عطف وي هغه هم دکان اسم وي حالانکه جار مجرور دکان اسم نه شي جوړيدي . (۲)او دکان په خبر باندې عطف ځکه صحيح نه دي ځکه چې دجملې عطف په مفرد باندې راځي اودا غير مناسب دي .

جواب : شارح بکسر اللام سره جواب ورکوي چې دلته متعلق بفتح اللام مراد نه دي بلکه بکسر اللام مراد دي چې دهغې نه مراد دخبر تابع کيدل دي .

اى کان المتعلق : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا ضابطه په علی الله عبده متوکل سره منقوضه او ماته ده ځکه چې په دې کې عبده مبتدا ده اود هغې سره داسې ضمير متصل دي کوم چې متعلق خبر طرف ته راجع دي اوهغه متعلق خبر لفظ الله دي ځکه چې خبر متوکل دي او علی الله دهغې متعلق دي حالانکه په دې کې تقديم دخبر په مبتدا باندې واجب نه دي .

جواب : خبر دمتعلق نه مراد تابع دخبر دي داسې تابع چې دهغې تقديم په خبر باندې ممتنع دي او علی الله عبده متوکل کې علی الله دخبر داسې تابع نشته دي چې تابع کيدو سره دهغې تقديم په خبر باندې ممتنع وي بلکه دادخبر نه مقدم دي لهذا په دې سره نقض نه واردېږي .

کائن : په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده چې في المبتداء جار مجرور ظرف مستقر دکائن متعلق صفت دي دضمير .

جانب : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مثال دممثل له سره مطابق نه دي ځکه چې ممثل له دادې چې ضمير په مبتدا کې وي په مبتدا کې دکيدو مطلب دادې چې ضمير دمبتدا جز وي اوپه مثلها کې ضمير دمبتدا جز نه دي ځکه چې هغه مضاف اليه دي اومضاف اليه قيد وي اوقيد دمقيد نه خارج وي .

جواب : د ضمير في المبتدا مطلب دانه دي چې ضمير دمبتدا جُز وي بلکه مراد دادې چې په جانب مبتدا کې ضمير وي چې متعلق دضمير طرف ته راجع وي اوپه مثال کې داسې نه دي لهذا مثال دممثل له سره مطابق شو .

راجع الی ذلک : په دې سره غرض دشارح دمبتدا په جانب کې متعلق دخبر ضمير کيدو مطلب بيانوي چې جانب دمبتدا کې متعلق دخبر دضمير مطلب دادې چې ضمير دمتعلق خبر طرف ته راجع دي .

اذلو اخر : په دې عبارت سره غرض دجامي په صورت مذکوره کې د مبتدا په تقديم دخبردوجوب وجه بيانوي چې دهغې حاصل دادې چې صورت مذکوره کې په مبتداباندې تقديم دخبر ځکه واجب دي چې که خبر لره مؤخر کړې شي نو لفظاً اورتبتاً اضمار قبل الذکر لازم راځي چې داجائز نه دي .

فقوله مثلها : په دې عبارت سره غرض دشارح مثال دممثل له سره تطبيق کول دي چې علی التمرة مثلها زبدا کې مثل مبتدا دي اودهغې سره داسې ضمير متصل دي کوم چې متعلق دضمير

طرف ته راجع دي او متعلق خبر التمرة دي ځکه چې خبر د عن التمرة مجموعه ده او التمرة د هغې متعلق دي لکه څنګه چې جز د کل سره متعلق دي .

اوكان الخبر: په الخبر سره د ضمير مرجع بيانوي المفتوحة سره شارح د جامي والاضبط اعراب بيانوي چې ان همزه مفتوحه سره ده .

الواقعة: په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : خبر د ان نه مراد ياخو د ان د لفظ نه به خبر وي يا د هغې د اسم خبر وي دواړه احتمالات ځکه صحيح نه دي چې ان حرف کيدو دوجې نه د مبتدا جوړيدو صلاحيت نه لري او دويم احتمال ځکه صحيح نه دي چې خروج عن المبحث لازم راځي ځکه چې بحث په مبتدا او خبر کې کيږي د ان خبر د اسم نه ،نه کيږي .

جواب : دواړه احتمالات مراد نه دي بلکه مراد دادې چې ان مفتوحه خپل اسم د خبر سره يوځاې شو بيا د مفرد په تاويل کې شوه او مبتدا جوړه شوه او د دې نه څه لفظ د خبر واقع وي .

اذ في تاخيره: په دې عبارت سره غرض د شارح تقديم د مبتدا په خبر باندې د وجوب وجه بيانوي چې په دې صورت کې تقديم د خبر په مبتدا باندې ځکه واجب دي که چيرته خبر مؤخر شي نو ان مفتوحه د ان مکسوره سره التباس راځي تلفظ او کتابت د دواړو کې د غه شان د فتحې سره د غفلت امکان دي ځکه چې فتح خفيف او سريع ده د دې وجې نه مخاطب ته نه معلوميږي چې إِن تلفظ وشو يا د أَن تلفظ وشو او کتابت کې هم ځکه چې شروع د کلام کې إِنَّ راځي أَنَّ نه راځي .

اى تقديمه: په دې عبارت سره په تقديمه کې د ة ضمير مرجع متعين کوي چې د ة ضمير مرجع خبر دي .

على المبتدا: دا د صلې بيان دي .

في جميع هذه الصور: په دې کې د محل تقديم بيان دي .

د خبر د متعدد کيدو بحث :

وَقَدْ يَتَعَدَّدُ الْخَبَرُ مِنْ غَيْرِ تَعَدُّدِ الْمُخْبَرِ عَنْهُ فَيَكُونُ اِثْنَيْنِ فَصَاعِدًا وَ ذَٰلِكَ التَّعَدُّدُ اِمَّا بِحَسَبِ اللَّفْظِ وَالْمَعْنٰى
او کله متعدد کيږي خبر بغير د مخبر عنه نه پس وي به دوه يا زيات او دا تعدد يا په اعتبار د لفظ او معنى وي يو

جَمِيعًا وَ يُسْتَعْمَلُ ذٰلِکَ عَلٰى وَجْهَيْنِ بِالْعَطْفِ مِثْلُ زَيْدٌ عَالِمٌ وَعَاقِلٌ وَبِغَيْرِ الْعَطْفِ مِثْلُ زَيْدٌ عَالِمٌ عَاقِلٌ وَ إِمَّا
خاي او استعماليږي دا په دوه وجهو سره په عطف لکه زيدعالم وعاقل او بغير دعطف نه لکه زيدعالم عاقل او يا په
بِحَسْبِ اللَّفْظِ فَقَطْ نَحْوُ هٰذَا حُلْوٌ حَامِضٌ فَإِنَّهُمَا فِي الْحَقِيْقَةِ خَبَرٌ وَاحِدٌ أَيْ مُزٌّ وَفِي هٰذِهِ الصُّوْرَةِ تَرْکُ
اعتبار دلفظ سره صرف لکه هذا حلو حامض پس دا په حقيقت کې يو خبر دي يعني مُز په دې صورت کې پرېښودل
الْعَطْفِ أَوْلٰى وَ نَظَرَ بَعْضُ النُّحَاةِ إِلٰى صُوْرَةِ التَّعَدُّدِ وَ جَوَّزَ الْعَطْفَ وَلَا يَبْعُدُ
دعطف ډير ښه دي او بعضې نحاتو تعدد دصورت ته کتلي دي او عطف يې جائز ګرځولې وي او بعيده نه دي چې
أَنْ يُقَالَ مَرَادُ الْمُصَنِّفِ بِتَعَدُّدِ الْخَبَرِ مَا يَكُوْنُ بِغَيْرِ عَاطِفٍ لِأَنَّ التَّعَدُّدَ بِالْعَاطِفِ
وويلې شي چې دمصنف مراد خبر تعدد نه هغه دي چې بغير دعطف نه يې ځکه چې حرف عطف سره په تعدد کې
لَاخِفَاءَ بِهِ لَا فِي الْخَبَرِ وَلَا فِي الْمُبْتَدَاءِ وَلَا فِي غَيْرِهِمَا وَ أَيْضًا الْمُتَعَدِّدُ بِالْعَطْفِ
څه خفا راخي نه په خبر او نه په مبتدا کې او نه دې دواړو نه په علاوه کې او همدارنګې دعطف په ذريعې سره تعدد
لَيْسَ بِخَبَرٍ بَلْ هُوَ مِنْ تَوَابِعِهِ وَ لِهٰذَا أَوْرَدَ فِي الْمِثَالِ الْخَبَرَ الْمُتَعَدِّدُ بِغَيْرِ عَاطِفٍ وَ
دخبر نشته بلکه هغه به دخبر د توابعونه وي د دې وجې نه يې راوړې په مثال کې خبر متعدد دا و بغير حرف عطف لره او
لَوْ جُعِلَ التَّعَدُّدُ أَعَمَّ فَالْاِقْتِصَارُ عَلَيْهِ لِذٰلِكَ.
که جوړ کړې شي تعدد لره عام نو اکتفاء کول په دې باندې دهمدې وجې نه دي .

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې وايي چې ضمير کله متعدد هم وي دوه يا دوه نه زيات مثال لکه زيد عالم عاقل او تعدد دخبر ځکه جائز دي ځکه چې خبر دمبتدا حال بيانوي او ديو شي متعدد احوال کيدې شي .

اغراض دجامي : من غير تعدد المبتدا : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : قَدْ په مضارع باندې دتقليل فائده ورکوي حالانکه تعدد دخبر خو کثير دي ؟

جواب : شارح په مِن غير تعدد سره جواب ورکوي چې دلته کې دتعدد نه هغه تعدد دخبر مراد دي چې دمبتدا دتعدد نه غير وي يعنې مبتدا يو وي او خبر متعدد وي او دا قليل وي ځکه مصنف د قد ذکر راوړو .

ولذلک التعدد : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ددې سوال نه مخکې يو تمهيد بيانوي :

تمهيد : دتمهيد خلاصه داده چې تعدد دخبر ياخو دلفظ اومعنى دواړو لحاظ سره به وي يافقط دلفظ سره به وي كه دواړو لحاظ سره وي نوددې استعمال په دوو طريقو باندې دي .

(۱)عطف سره لكه زيدعالم وعاقل. (۲) په غير دعطف نه لكه زيد عالم عاقل .

كه تعدد فقط د لفظ لحاظ سره وي دهغې مثال هذاحلوحامض داپه حقيقت كې يوخبردي ځكه چې مقصود دحلاوت اوحموضت په مينځ كې منځنې كيفيت بيانول دي اوپه حقيقت كې په دې صورت كې تعدد نشته دي ځكه چې په دې كې ترك عطف اولى دې اوبعضې نحويانو ظاهري تعددته كتلي دي اوعطف يې جائزكړي دي .

ددې تمهيدنه وروستواصل اعتراض ولايبعد سره بيان كړي دي .

ولايبعد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : كله چې تعدد د خبر دوه قسمونه وو : (۱) عطف سره .(۲) په غير د عطف نه ، نو مصنف خو د تعدد بلا عطف مثال وركړي دي خو د تعدد بالعطف مثال يې ولې نه دي وركړي؟

جواب: شارح ددې دري (۳) جوابونه وركړي دي :

جواب (۱): اول جواب دادې چې دمصنف مقصود هغه تعدددخبر بيانول دي كوم چې د عطف نه بغيروي ځكه چې په دې كې خفا ده اوتعددبالعطف كې څه خفانشته دي نه په مبتدا كې اونه په خبر كې اونه ددې نه په غير كې ددې وجې نه مصنف تعددبالعطف مثال ذكر نه كړو داجواب تسليمي دي يعنې مونږ داتسليموو چې تعدد عاطف دتعدد دخبر دقبيلې نه دي .

جواب (۲) : داجواب عدم تسليمي دي چې مونږداخبره نه تسليمووچې تعددبالعاطف خبر دي بلكه خبر دتوابع نه دي خبر صرف معطوف عليه دي معطوف دهغې تابع نه چې خبردې وجې نه مصنف تعدد بالعاطف مثال ذكر نه كړو .

جواب (۳) : داجواب هم تسليمي دي كه مونږداتسليم كړو چې تعدددخبر نه مراد عام دي برابره خبره ده كه بالعطف وي اوكه بلاعطف نومونږ به داسې وايو چې مصنف په تعدد بلاعاطف په مثال باندې اكتفاء وكړه ځكه چې په دې كې خفا ده په خلاف دتعدد بالعاطف چې په دې كې هيڅ خفا نشته دي .

مبتدا معنی د شرط لره متضمن کیدل :

وَ قَدْ يَتَضَمَّنُ الْمُبْتَدَأُ مَعْنَى الشَّرْطِ وَ هُوَ سَبَبِيَّةُ الْاَوَّلِ لِلثَّانِيْ اَوْ لِلْحُكْمِ بِهٖ فَلَا يَرِدُ
اوکله متضمن کیږي مبتدا معنی د شرط لره او هغه سبب کیدل دي اول د ثاني دپاره یا دهغه حکم دپاره پس نه
عَلَيْهِ نَحْوُ وَ مَا بِكُمْ مِنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ فَيُشْبِهُ الْمُبْتَدَأُ الشَّرْطَ فِيْ سَبَبِيَّتِهٖ
وارد یږي په دې باندې اعتراض لکه وَمَا بِكُمْ مِنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ پس مشابه به وي مبتدا د شرط سره په سببیت کې
لِلْخَبَرِ كَسَبَبِيَّةِ الشَّرْطِ لِلْجَزَاءِ فَيَصِحُّ دُخُوْلُ الْفَاءِ فِي الْخَبَرِ وَ يَصِحُّ عَدَمُ دُخُوْلِهٖ
دپاره د خبر لکه سببیت د شرط دپاره د جزا نو صحیح کیږي دخول د فاء په خبر باندې او صحیح کیږي نه داخلیدل
فِيْهِ نَظَرًا اِلٰى مُجَرَّدِ تَضَمُّنِ الْمُبْتَدَاءِ وَ اَمَّا اِذَا قُصِدَ الدَّلَالَةُ عَلٰى ذٰلِكَ الْمَعْنٰى فِي اللَّفْظِ
په دې کې دپاره د نظر صرف تضمن د مبتدا طرف ته او هر کله چې اراده وشي د دلالت په دې معنی په لفظ کې
فَيَجِبُ دُخُوْلُ الْفَاءِ فِيْهِ وَ اَمَّا اِذَا لَمْ تُقْصَدْ فَلَمْ يَجِبْ دُخُوْلُهٗ فِيْهِ
پس واجب دي داخلیدل د فاء په دې باندې او هر کله چې اراده نه کړي شي نو نه ده واجب داخلیدل د فاء په دې باندې
بَلْ يَجِبُ عَدَمُهٗ .
بلکې نه داخلیدل یې واجب دي .

خلاصه د متن : د صاحب د کافیې د عبارت حاصل دادې چې کله کله مبتدا شرط لره متضمن وي په دې صورت کې دهغې په خبر باندې فاء داخلیدل صحیح دي .

اغراض د جامي : وهوسببية الاول : په دې عبارت سره غرض د شارح د مبتدا د شرط په معنی د متضمن کیدلو مطلب بیانوي چې مبتدا اول د مبتدا ثاني دپاره سبب وي لکه شرط چې د جزا دپاره سبب جوړیږي مثال لکه الذي يأتيني فله درهم (کوم سړي چې زما خواته راغلو نو دهغې دپاره به یو درهم وي) په دې کې راتلل د درهم د حصول دپاره سبب دي .

اوللحكم : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا ضابطه او قاعده منقوضه او ماته ده د قران کریم په دې آیت سره چې وَمَا بِكُمْ مِنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ (کوم نعمتونه چې ستاسو لره دي هغه د الله د طرف نه دي) په دې کې ما مبتدا ده چې د دې نه مراد نعمت دي په بكم کې باء د الصاق دپاره ده من نعمة د ما بیان دي فمن الله خبر دي حاصل د عبارت دا دې چې ای النعمة الملصقة بكم فحاصلة من الله ، الصاق النعمة بالعباد مبتدا ده او فمن الله یعني حصول النعمة من الله خبر دي او شئ اول یعني الصاق النعمة بالعباد وجود د شئ

ثاني يعنې حصول من العبد صدور من الله د وجود دپاره سبب نه دي ځکه چې دنعمت صدور هر حال کې من جانب الله وي برابره خبره ده که دا الصاق بالعباد وي يانه وي بلکه معامله برعکس ده چې دنعمت حصول اوصدور من الله دا سبب دي اتصال او الصاق بالعباد دپاره لهذا شرط دمعنی مذکور داعتبار نه مبتدا دشرط معنی لره متضمن نه دي نوپه دې خبر باندې د فاء داخليدل صحيح نه دي حالانکه ددې په خبر باندې فاء داخل ده اودا دالله تعالی کلام دي اودټولونه زيات فصيح اوبليغ کلام دي ؟

جواب : اول ددويم دپاره سبب کيدل په دې کې تعميم دي برابره خبره ده که اول ددويم دوجود د پاره سبب وي يا اول په دويم باندې دحکم دلږولو دوجې نه وي په دې مثال کې اګرکه اول د دويم د وجود دپاره سبب نه دي ليکن د حکم بالثاني سبب دي ځکه چې حصول دنعمت للمخاطبين دا سبب دي چې په دې خبره حکم ولږولې شي چې ددې نعمتونو صدور دالله تعالی دطرف نه دي .

فيشبه المبتدا : په دې عبارت سره غرض دجامي دمصنف دقول فيصح دخول الفاء دپاره دليل بيانوي چې کله مبتدا دشرط معنی لره متضمن وي نو دا دهغه شرط سره مشابه کيږي لکه ځنګه چې شرط د جزا سبب ګرځي .همدارنګې مبتدا دخبرسبب جوړيږي ددې وجې نه دمبتدا په خبر باندې دفاء داخليدل صحيح دي لکه ځنګه چې دشرط په جزاباندې دفاء داخليږي .

ويصح عدم دخوله : په دې عبارت سره غرض دشارح دې خبرې طرف ته اشاره کول دي چې دمصنف قول فيصح سره چې کوم صحت په ذهن کې راځي هغه دامکان خاص په معنی کې ده ددې تفصيل دادې چې دامکان دوه قسمونه دي : (۱) امکان عام ددې مطلب دادې چې صرف د جانب مخالف ضرورت سلب وي لکه زيد کاتب ، دبالامکان العام معنی داوي چې زيد کاتب دي اوعدم کتابت دده دپاره ضروري نه دي . (۲) امکان خاص : ددې مطلب دادې چې دجانب موافق اوجانب مخالف ددواړو ضرورت سلب وي لکه زيد کاتب بالامکان الخاص نوددې مطلب به داوي چې دزيد دپاره کتابت اوعدم کتابت دواړه ضروري نه دي .

ددې تمهيد نه پس پوهه شئ چې دلته فيصح نه مراد امکان خاص دي يعنې دا فاء داخليدل اونه داخليدل دواړه صحيح اوجائز دي په دې کې څه واجب اوضروري نه دي . دې مذکوره عنوان ته مونږ ديو سوال مقدره جواب ورکول هم ويلې شو يعنې مذکوره عنوان ديو سوال

مقدره جواب ورکول دي

سوال : دمصنف رَحِمَهُ اللهُ داقول چې مبتدا کله معنی دشرط لره متضمن وي دهغې دوه صورتونه دي : (۱) دشرط په معنی باندې قصد کړي شي يانه که قصد کړي شي نو خبرباندې د فاء داخليدل واجب دي اوکه قصد نه کړي شي نود فاء داخليدل ممتنع دي نود مصنف رَحِمَهُ اللهُ داقول يصح دخول الفاء په يو طريقه هم نه صحيح کيږي ځکه چې صحت دعبارت دي دجواز اولاجواز نه اودلته خو يا وجوب دي او يا امتناع ؟

جواب : دلته ټول دري صورتونه دي : (۱) مبتدا معنی شرط لره متضمن وي اودشرط اراده او قصد هم شوي وي دې لره بشرط شئ سره تعبيرکولې شي (۲) مبتدا معنی شرط لره متضمن وي ليکن د شرط اراده دقصد نه وي شوي بلکه دعدم شرط قصد وي دې لره بشرط لاشئ سره تعبير کولې شي . (۳) مبتدا معنی دشرط لره متضمن وي ليکن اراده هيڅ هم نه وي نه دشرط او نه دعدم شرط دې لره لابشرط شئ سره تعبيرکولې شي . (۱) که معنی دشرط باندې دلالت قصد اواراده وي نو په خبرباندې د فاء داخليدل واجب دي . (۲) اوکه عدم شرط اراده اوقصد وي نو په خبرباندې دفاء داخليدل ممتنع دي (۳) اوپه دريم صورت کې د فاء داخليدل اونه داخليدل دواړه جائز دي . دلته ددريم صورت نه مراد دي کوم چې دلابشرط شئ په درجه کې دي ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللهُ فيصح لفظ يې استعمال کړو.

ددې نوروضاحت اوتفصيل دادې چې دلته د معنی د شرط د متضمن کيدو دري (۳) صورتونه دي : (۱) بشرط شئ . (۲) بشرط لا شئ . (۳) لا بشرط شئ . که معنی دشرط لره په متضمن کيدو کې دبشرط شئ اعتبار وشي نو په خبر باندې فاء داخليدل واجب دي اوکه دبشرط لا شئ اعتبار وشي نو په خبر باندې دفاء داخليدل ممتنع دي اوکه دلا بشرط شئ اعتبار وشي نوپه خبر باندې دفاء داخليدل اونه داخليدل دواړه صحيح دي اودلته دريم صورت مراد دي .

مبتدا معنی د شرط لره د متضمن کيدو ځايونه :

وَ ذٰلِکَ الْمُبْتَدَأُ الْمُتَضَمِّنُ مَعْنَى الشَّرْطِ إِمَّا الْإِسْمُ الْمَوْصُوْلُ بِفِعْلٍ أَوْ ظَرْفٍ أَيِ الَّذِيْ جُعِلَتْ صِلَتُهُ جُمْلَةً فِعْلِيَّةً
اودامبتدامتضمن معنی دشرط يااسم موصول په فعل ياپه ظرف يعني هغه چې ګرځولې صله ددې جمله فعليه
أَوْ ظَرْفِيَّةً مُؤَوَّلَةً بِجُمْلَةٍ فِعْلِيَّةٍ هٰهُنَا بِالْإِتِّفَاقِ وَ إِنَّمَا اشْتُرِطَ أَنْ تَكُوْنَ صِلَتُهُ
ياظرفيه چې په تاويل دجملې فعلي کې وي په دې مقام باندې بالاتفاق اوبيشکه شرط يې ګرځولې چې صله ددې

فِعْلاً اَوْ ظَرْفاً مُؤَوَّلاً بِالْفِعْلِ لِيَتَأَكَّدَ مُشَابَهَتُهُ الشَّرْطَ لِاَنَّ الشَّرْطَ لَايَكُوْنُ اِلَّا فِعْلاً وَفِيْ حُكْمِ الْاِسْمِ
فعل یا ظرف مؤول بالفعل وي چې مضبوط شي مشابهت د شرط سره ځکه چې شرط نه وي مګر فعل او اسم موصول
الْمَوْصُوْلِ الْمَذْكُوْرِ الْاِسْمِ الْمَوْصُوْفِ بِهٖ اَوِ النَّكِرَةُ الْمَوْصُوْفَةِ بِهِمَا
د مذکور په حکم کې وي کوم چې د اسم سره موصوف وي یا د نکرې موصوفې سره او یا د دواړو سره موصوف وي
اَيْ بِاَحَدِهِمَا وَفِيْ حُكْمِهَا الْاِسْمُ الْمُضَافُ اِلَيْهَا مِثْلُ الَّذِيْ يَأْتِيْنِيْ هٰذَا مِثَالٌ لِلْاِسْمِ الْمَوْصُوْلِ
او یا یو سره او په حکم د دې کې هغه اسم دی چې مضاف وي دې طرف ته لکه الذي یأتیني دا مثال دی د اسم موصول
بِفِعْلٍ اَوِالَّذِيْ فِي الدَّارِ هٰذَا مِثَالٌ لِلْاِسْمِ الْمَوْصُوْلِ بِظَرْفٍ فَلَهٗ دِرْهَمٌ وَاَمَّا مِثَالُ الْاِسْمِ الْمَوْصُوْفِ بِالْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ
بفعل یا الذي في الدار او د امثال د اسم موصول بظرف فله درهم بهرحال مثال د هغه اسم چې موصوف وي په اسم مذکور
فَقَوْلُهٗ تَعَالٰى قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلَاقِيْكُمْ وَمِثْلُ كُلُّ رَجُلٍ يَأْتِيْنِيْ هٰذَا مِثَالٌ
سره لکه دا قول د الله تعالى چې قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلَاقِيْكُمْ بل مثال لکه کل رجل یأتیني دا مثال دی
لِلْاِسْمِ الْمَوْصُوْفِ بِفِعْلٍ اَوْ كُلُّ رَجُلٍ فِي الدَّارِ هٰذَا مِثَالٌ لِلْاِسْمِ الْمَوْصُوْفِ بِظَرْفٍ
د هغه اسم موصول چې اسم موصوف بفعل وي یا لکه کل رجل في الدار د امثال دی د هغه اسم چې موصوف بظرف وي
فَلَهٗ دِرْهَمٌ وَاَمَّا مِثَالُ الْاِسْمِ الْمُضَافِ اِلَى النَّكِرَةِ الْمَوْصُوْفَةِ بِاَحَدِهِمَا فَقَوْلُكَ كُلُّ غُلَامِ رَجُلٍ
فله درهم او هرچې مثال د هغه اسم چې مضاف وي نکره موصوفه باحدهما طرف ته پس ستا قول کل غلام رجل
يَأْتِيْنِيْ اَوْفِي الدَّارِ فَلَهٗ دِرْهَمٌ .
یأتیني او في الدار فله درهم .

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب د کافيې ددې تفصيل کوي چې مبتدا ته او په کوم ځای کې معنی د شرط لره متضمن وي د هغې خلاصه دا ده چې مبتدا په دوه صورتونو کې معنی د شرط لره متضمن وي: (۱) چې مبتدا اسم موصول وي چې د هغې صله جمله فعليه يا د اسې جمله ظرفيه وي چې د جمله فعليه په تاويل کې وي . (۲) مبتدا نکره موصوفه وي چې د هغې صفت جمله فعليه يا د اسې جمله ظرفيه وي چې جمله فعليه په تاويل کې وي په دې دواړو صورتونو کې مبتدا په معنی د شرط لره متضمن وي .

اغراض دجامي: المبتدأ المتضمن معنى الشرط : په دې عبارت سره غرض د شارح د جامي د ذلک مشار اليه تعين کړي دي چې ددې مشار اليه هغه مبتدا ده کومه چې معنی شرط لره متضمن وي .

اما : د اما اضافه سره غرض د شارح د جامي د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : کله چې دیو شئ په بل شئ باندې د اما په ذریعې سره عطف وشي نو دمعطوف علیه په شروع کې اما راوړل واجب دي اوکه د او په ذریعې سره یې عطف کړي نو دمعطوف علیه په شروع کې اما راوړل اولی دي دلته یې په او سره عطف شوي دي په کار خو داوه چې اما ذکر شوي وي .

جواب : د اما اضافه سره شارح جواب ورکوي چې تسلیم مې کړه چې داما ذکر کول دمعطوف علیه په شروع کې اولی دی لیکن اما ملفوظ کیدل ضروري نه دي کله اماملفوظ اوکله محذوف وي دلته محذوف دي .

الذي جعلت : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داسم موصول صله همیشه جمله وي اوفعل په غیر دفاعل نه اوظرف په غیر دمتعلق نه جمله نه شي جوړیدی نو د مصنف رَحِمَهُ اللهُ دا قول وذلک الاسم الموصول بفعل اوظرف څنګه صحیح دي ؟

جواب : دلته کې مراد فقط فعل اوفقط ظرف نه دي بلکه مراد فعل مع الفاعل اوظرف مع المتعلق دي اوظرف مع المتعلق او فعل مع الفاعل جمله وي .

ههنا : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دبصرې د نحویانو دمذهب مطابق ظرف دخپل متعلق سره جمله فعلیه په تاویل کې وي لیکن دکوفې د نحویانو د مذهب مطابق اسم فاعل لره مقدر منلې شي اواسم فاعل دخپل فاعل سره جمله نه جوړیږي چې کله جمله جوړه نه شوه نو جمله به څنګه صِله شي ؟

جواب : دلته بالاتفاق دټولو نحویانو په نزد ظرف جمله فعلیه په تاویل کې وي .

وانما اشترک : دشرط مذکور دلږولو وجه بیانوي داشرط یې ځکه لږولې دي چې مبتدا دشرط سره مشابهت مضبوط شي چې شرط همیشه فعل وي .

وفي حکم : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستاقاعده منقوضه ده په الله تعالی ددې قول سره چې ﴿قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ﴾ ځکه چې په دې کې مبتدا اسم موصول نه دي بلکه داسې اسم دي چې په اسم موصول بفعل سره موصوف دي لهذا ددې په خبر باندې دفاء داخلیدل څنګه صحیح دي ؟

جواب : زمونږ مراد داسم موصول نه عام دي برابره خبره ده که مبتدا پخپله اسم موصول وي يا داسي اسم چي اسم موصول بفعل يابظرف سره موصوف وي لهذا مثال مذکور زمونږ په ضابطه کي داخل دي خارج ترې نه دي .

اى باحدهما : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : نکره دې دواړه سره په يو وخت کي موصوف نه وي بلکه دغه دواړو کي په يو سره موصوف وي نو دمصنف قول **او النكرة الموصوفة بهما** څنګه صحيح دي ؟

جواب : دلته هما ضمير مضاف اليه دي ددې مضاف محذوف دي چي احد دي اصل کي داسي دي **او النكرة الموصوفة باحدهما** .

وفي حكمها: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال :ستا دا قاعده په **كل غلام رجل يأتيني فله درهم** سره ماته ده ځکه چي په دې کي نکره موصوفه بالفعل يا نکره موصوف بالظرف نه ده حالانکه ددې په خبر باندې **فاء**داخله ده دا ولې؟

جواب : هغه اسم چي مضاف وي نکره موصوفه بالفعل يانکره موصوفه بالظرف طرف ته هغه هم د اسم نکره موصوفه **بالفعل** يا **بالظرف** په حکم کي وي اوپه ذکر شوي مثال کي مبتدا داسي اسم دي کوم چي نکره موصوف **بالفعل** طرف ته مضاف وي لهذا په دې باندې د**فاء** داخليدل صحيح شو .

هذا مثال :په دې عبارت سره غرض دشارح دذکر شوو صورتونو دهر يومثال اوممثل له متعين کول کوم چي په دې لاندې نقشه کي ذکر دي :

۱	هغه اسم چي موصول بالفعل وي	الذي يأتيني فله درهم
۲	هغه اسم چي موصول بالظرف وي	الذي في الدار فله درهم
۳	هغه اسم چي اسم موصول بالفعل سره موصوف وي	قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ
۴	هغه اسم چي اسم موصول بالظرف سره موصوف وي	الرجل الذي في الدار فله درهم
۵	هغه اسم نکره چي موصوف باالفعل وي	كل رجل يأتيني فله درهم

۶	هغه اسم نکره چې موصوف بالظرف وي	كل رجل في الدار فله درهم
۷	هغه اسم چې مضاف وي داسې نکرې ته چې موصوف بالفعل وي	كل غلام رجل يأتيني فله درهم
۸	هغه اسم چې مضاف وي داسې نکرې ته چې موصوف بالظرف وي	كل غلام رجل في الدار فله درهم

ليت او لعل په هغه مبتدا داخليدل چې متضمن وي معنى دشرط لره:

وَ لَيْتَ وَ لَعَلَّ مِنَ الْحُرُوْفِ الْمُشَبَّهَةِ بِالْفِعْلِ اِذَا دَخَلَا عَلَى الْمُبْتَدَاءِ الَّذِيْ يَصِحُّ دُخُوْلُ الْفَاءِ
اوليت ولعل كوم چې دحروف مشبه بالفعل نه وي كله چې داپه هغه مبتدا داخل وي چې صحيح وي دخول دفاء
عَلٰى خَبَرِهٖ مَانِعَانِ عَنْ دُخُوْلِهٖ عَلَيْهِ لِاَنَّ صِحَّةَ دُخُوْلِهٖ عَلَيْهِ اِنَّمَا كَانَتْ لِمُشَابَهَةِ
په خبر ددې باندې نو دامانع وي ددخول دفاءنه په دې باندې خکه چې صحيح وي دهغه فاء دخول چې وي مشابه
الْمُبْتَدَاءِ وَ الْخَبَرِ لِلشَّرْطِ وَ الْجَزَاءِ وَ لَيْتَ وَ لَعَلَّ تُزِيْلَانِ تِلْكَ الْمُشَابَهَةَ لِاَنَّهُمَا تُخْرِجَانِ
دمبتدا او خبر دشرط او جزا سره دمشابهت دوجې نه اوليت اولعل دې مشابهت لره زائله كوي خكه چې دا اوباسي
الْكَلَامَ مِنَ الْخَبَرِيَّةِ اِلَى الْاِنْشَائِيَّةِ وَالشَّرْطُ وَالْجَزَاءُ مِنْ قَبِيْلِ الْاَخْبَارِ وَذٰلِكَ الْمَنْعُ اِنَّمَا هُوَ بِالْاِتِّفَاقِ مِنَ النُّحَاةِ فَلَا
كلام د خبريت نه انشائيت ته او شرط او جزاء د قبيلې د اخبار نه دي او دا منع بالاتفاق د نحاتو ده پس نه شي
يُقَالُ لَيْتَ اَوْ لَعَلَّ الَّذِيْ يَأْتِيْنِيْ اَوْ فِي الدَّارِ فَلَهٗ دِرْهَمٌ فَاِنْ قِيْلَ بَابُ كَانَ وَ بَابُ عَلِمْتَ اَيْضاً مَانِعَانِ بِالْاِتِّفَاقِ
ويلې ليت اولعل الذي يأتيني او في الدار فله درهم پس كه چيرته وويل شي باب كان وباب علمتُ هم مانع دي بالاتفاق
فَمَا وَجْهُ تَخْصِيْصِ لَيْتَ وَ لَعَلَّ قِيْلَ تَخْصِيْصُهُمَا بِبَيَانِ الْاِتِّفَاقِ اِنَّمَا هُوَ مِنْ بَيْنِ الْحُرُوْفِ الْمُشَبَّهَةِ
پس دليت اولعل سره دخاص كولو څه وجه ده ويلې شوي دي چې په بيان داتفاق كې دا دحروف مشبه بالفعل د
لَا مُطْلَقاً وَ وَجْهُ ذٰلِكَ التَّخْصِيْصِ الْاِهْتِمَامُ بِبَيَانِ الْاِخْتِلَافِ الْوَاقِعِ فِيْهَا.
مينځ نه دي نه مطلقاً او ددې تخصيص دوجې نه اهتمام دي بيان د اختلاف كوم چې په دې كې واقع دي.

خلاصه دمتن: هغه مبتدا چې معنى دشرط لره متضمن وي كله چې په دې باندې ليت او لعل داخل شي نودا دواړه ددې په خبرباندې دخول دفاء منع كوي بالاتفاق.

اغراض دجامي: <u>من الحروف المشبهة</u>: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي.

سوال: دمصنف عبارت ليت اولعل مبتدا دي اومانعان خبر دي حالانكه هغه لره مبتدا جوړول

صحيح نه دي ځکه چې مبتدا اسم دي او ليت او لعل حرف دي

جواب: ليت اولعل دا اسم وعلم دي هغه ليت ولعل دپاره کوم چې په ترکيب کې واقع کيږي او حروف مشبه بالفعل ځخه وي نودا په تاويل داسم يا په تاويل د هذا اللفظ مبتدا وي ددې وجې نه دې لره مبتدا جوړول صحيح دي.

اذا دخلا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: زمونږ بحث په مبتدا اوخبر کې روان دي اوليت اولعل حروف دي لهذا ددې نه بحث کول خروج عن المبحث دي

جواب: ليت اولعل نه بحث په دې اعتبار سره دي چې دامبتدا په خبر باندې داخليږي په دې حيثيت چې داد مبتدا دمباحثو سره متعلق دي لهذا خروج عن المبحث لازم نه راځي.

عن دخوله: داد مانعان دصلې بيان دي.

لان صحة: په دې عبارت سره غرض دشارح ليت ولعل دمبتدا متضمن معنى شرط لره په خبر باندې دخول دفاء نه منع والي وجه بيانوي چې وجه داده چې دخول دفاء مبتدا اوخبراوشرط د جزاء سره د مشابهت دوجې نه وو اوليت اولعل دې مشابهت لره زائل کوي ددې وجې نه ليت او لعل کلام لره دخبريت نه انشائيت طرف ته منتقل کوي اوشرط اوجزا من قبيل الاخبار نه دي نه من قبيل الانشاء کله چې مبتدا خبر شرط وجزاء مشابهت زائل شو نوپه خبر باندې دفاء دخول صحيح نه دي.

وذلک المنع: په دې عبارت سره شارح دې طرف ته اشاره کوي چې بالاتفاق داد مانعان متعلق دي.

من النحاة: په دې کې شارح دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چې دالاتفاق الف لام دعهد دي، ددې نه مراد د نحويانو اتفاق دي فلايقال په دې کې په دې ماقبل باندې دتفريع بيان دي ځکه چې ليت اولعل متضمن وي معنى دشرط په خبر باندې فاء داخليدل ممتنع دي ددې وجې نه ليت الذي يأتني فله درهم او لعل الذي في الدار فله درهم نه شي ويلي.

قيل: په قيل سره ديواعتراض نقل کولو نه وروستو په قيل سره ددې جواب ورکوي

اعتراض : لکه څنګه چې لیت او لعل مبتدا متضمن معنی دشرط په خبر باندې دخول دفاء مانع وي نو همدا شان دباب دکان اودباب دعلمتُ هم مبتدا متضمن معنی دشرط په خبر باندې دخول د فاء ممنوع دي بالاتفاق بیا لیت او لعل یې ولې خاص کړو ؟

جواب : لیت اود لعل تخصیص په اعتبار د جمیع ماعداه نه دي بلکه په اعتبار دحروف مشبه بالفعل دي اودحروف مشبه بالفعل نه صرف لیت اولعل مبتدا متضمن معنی د شرط په خبر باندې دفاء دخول بالاتفاق ممنوع دي اوددې تخصیص دوجې نه په حروف مشبه بالفعل کې د اختلاف بیانولو اهتمام دي .

دخول د اِن وغیره په هغه مبتدا چې متضمن وي معنی د شرط لره :

وَ الْحَقُّ بَعْضُهُمْ قِيْلَ هُوَ سِيْبَوَيْهِ اِنَّ الْمَكْسُوْرَةَ بِهِمَا اَىْ بِلَيْتَ وَ
اولاحق کړي دي بعضو دوي نه ویلي شوي وي چې هغه سیبویه دي ان مکسوره لره هغه دواړوسره یعني لیت و
لَعَلَّ فِي الْمَنْعِ عَنْ دُخُوْلِ الْفَاءِ عَلَى الْخَبَرِ وَ الْاَصَحُّ اِنَّهَا لَا تَمْنَعُ عَنْهُ لِاَنَّهَا
لعل سره منع کیدوکې دخول دفاء نه په خبرباندې اوصحیح خبره داده چې داده‌غې نه مانع نه دي خکه چې هغه
لَا تُخْرِجُ عَنِ الْخَبَرِيَّةِ اِلَى الْاِنْشَائِيَّةِ يُؤَيِّدُهُ قَوْلُهُ تَعَالٰى اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ مَاتُوْا وَ هُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ
نه اوباسي خبریت نه انشائیت طرف ته ددې تائید کوي دالله تعالی داقول اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ
تَوْبَتُهُمْ فَاِنْ قِيْلَ قَدْ اَلْحَقَ بَعْضُهُمْ اَنَّ الْمَفْتُوْحَ وَ لٰكِنَّ بِلَيْتَ وَ لَعَلَّ فَمَا وَجْهُ تَخْصِيْصِ
تَوْبَتُهُمْ پس که وویل شي چې لاحق کړي دي بعضوان مفتوحه لره اولکن لره د لیت ولعل سره نوڅه وجه ده دتخصیص
اِنَّ الْمَكْسُوْرَةِ بِالْاِلْحَاقِ قِيْلَ بَعْضُهُمُ الَّذِيْ اَلْحَقَ اِنَّ بِهِمَا هُوَ سِيْبَوَيْهِ
دان مکسوره دلاحق کولوسره اوویلي دي بعضودوي نه چاچې لاحق کړي دي ان لره ددې دواړوسره هغه سیبویه
فَاعْتَدَّ بِقَوْلِهِ وَ ذَكَرَهُ وَ لَمْ يَعْتَدَّ بِقَوْلِ مَنْ سِوَاهُ
دي پس مصنف اعتبار کړي دي دهغه قول اودغه لره یې ذکرکړي دي اواعتباریې نه دي کړي ددې نه غیرقول
بِذِكْرِهِ مَعَ اَنَّ كِلَا الْقَوْلَيْنِ لَا يُسَاعِدُهُمَا الْقُرْآنُ وَ كَلَامُ الْفُصَحَاءِ فَمَا يَدُلُّ
باوجوددې خبرې چې دواړه قولونه دقرآن مجید اوفصحاء دکلام موافقت نشي کولې پس هغه شی چې دلالت کوي
عَلٰى عَدَمِ مَنْعِ اِنَّ الْمَكْسُوْرَةِ عَنْ دُخُوْلِ اَلْفَاءِ عَلَى الْخَبَرِ مَا سَبَقَ وَ مَا يَدُلُّ
دان مکسوره دمانع نه کیدوباندې دخول دفاء په خبرباندې هغه چې مخکې تیرشوي دي اوکوم شی چې دلالت کوي
عَلٰى عَدَمِ مَنْعِ اِنَّ الْمَفْتُوْحَةِ وَلٰكِنَّ عَنْ دُخُوْلِ الْفَاءِ قَوْلُهُ تَعَالٰى وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ

په نه مانع کیدو د ن مفتوحه اولکن سره دخول دفاء نه دالله تعالی فرمان دي وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ	
وَقَوْلُ الشَّاعِرِ شِعْرٌ:	
اودشاعر داقول چې	
فَوَ اللّٰهِ مَا فَارَقْتُكُمْ قَالِيًا لَكُمْ	وَ لَكِنَّ مَا يُقْضٰى فَسَوْفَ يَكُوْنُ
په الله قسم زه ستانه دښمنۍ په وجه جدا شوي نه یم	لیکن دڅه چې الله تعالی فیصله وکړي هغه خامخا کیږي

خلاصه دمتن: هغه مبتدا کومه چې شرط معنی لره متضمن وي کله په دې باندې ان داخل شي نو په دې کې دنحویانو اختلاف دي صاحب دکافیې دبعضو نحویانو هم دغه اختلاف لره دلته کې ذکر کړو چې بعضې نحویانو ان مکسوره لره لیت اولعل سره پیوست کړي دي یعنې لکه څنګه چې لیت اولعل مبتدا متضمن معنی دشرط په خبر دخول دفاء نه مانع دي همدغه شان ان مکسوره لره هم مبتدا متضمن معنی دشرط په خبرباندې دخول دفاء مانع دي.

اغراض دجامي : وقیل هو: په دې عبارت سره غرض دشارح دبعضهم مصداق متعین کړي دي چې د بعضهم نه مراد علامه سیبویه دي

المکسورة: دادضبط اعراب بیان دي چې مراد ان مکسوره دي ان مفتوحه نه دي

بهما ای لیت ولعل: په دې کې دضمیر مرجع متعین کړي ده چې هغه لیت اولعل دي.

في المنع: په دې کې مافیه الالحاق بیان دي چې دان مکسوره الحاق لیت اولعل سره په خبر باندې دخول دفاء دمانع کیدو دوجې نه دي.

والاصح: ددې ځاي نه دمذهب سابق ضعف طرف ته اشاره کوي صحیح مذهب دادې چې ان مکسوره مبتدا متضمن معنی دشرط په خبر باندې دخول دفاءنه مانع نه دي په دې باندې دوه دلیلونه بیانوي: (۱) لیت اولعل مانع کیدل ددې وجې نه دي چې داکلام دخبریت نه انشائیت طرف ته منتقل کوي په خلاف دان مکسوره چې داکلام لره انشائیت طرف ته نه منتقل کوي بلکه دا خوکلام په خبریت باندې مضبوطوي.(۲) دقرآن مجیدنه هم ددې قول تائید کیږي چې ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ﴾ په دې کې اَلَّذِيْنَ مبتدا متضمن معنی دشرط دي په دې باندې ان مکسوره داخل ده ددې باوجود خبر فَلَنْ يُّقْبَلَ باندې فاء داخل ده

فان قیل: په دې عبارت سره دیو اعتراض دنقل کولو نه وروستو په وروستي قیل سره ددې

جواب ورکوي

اعتراض : لکه څنګه چې بعضې نحويانو ان مکسوره دليت اولعل سره لاحق کړي دي همدغه شان بعضې نحويانو ان مفتوحه اولکن لره هم دليت اولعل سره لاحق کړي دي مصنف رَحِمَهُ اللهُ دې لره ولې ذکر نه کړو ؟ اود ان مکسوره دالحاق سره دتخصيص څه وجه ده ؟

جواب : هغه بعضې نحويان کوم چې ان مکسوره لره دليت اولعل سره لاحق کړي دي هغه علامه سيبويه دي څکه چې علامه سيبويه دنحوې امام وو ددې وجې نه مصنف دهغه قول لره قابل اعتبار ومنلو اوذکر يې کړو اوهغه بعضې نحويان کوم چې ان مفتوحه او لکن لره د ليت او لعل سره لاحق کړي دي مصنف رَحِمَهُ اللهُ دهغوي قول لره غيرمعتبر وګڼړلو اوذکر يې نه کړو باوجود ددې چې دواړه قولونه داسې دي چې قرآن کريم اودفصحاء دکلام دهغې موافقت نه شي کولې د ان مکسوره په باره کې خودالله تعالى قول مخکې تير شوي دي اود ان مفتوحه مثال دالله تعالى دافرمان دي چې ﴿وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ﴾، په دې کې ما مبتدا متضمن معنى دشرط دي اوپه دې باندې ان مفتوحه داخل ده ددې باوجود په خبرباندې فاء داخل ده ، اود لکن مثال دشاعر په دې شعر کې مذکور دي :

فَوَ اللهِ مَا فَارَقْتُكُمْ قَالِيًا لَكُمْ	وَ لٰكِنَّ مَا يُقْضٰى فَسَوْفَ يَكُوْنُ

په دې کې په دويمه مصرعه کې ما مبتدا متضمن معنى دشرط لره ده په دې باندې لکن داخل دي ددې باوجود ددې په خبر فسوف يکون باندې فاء داخل ده .

د مبتدا حذف کول :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْمُبْتَدَأُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ لَفْظِيَّةٍ اَوْعَقْلِيَّةٍ جَوَازاً اَىْ حَذْفًا جَائِزًا لَا وَاجِبًا وَ
اوکله کله حذف کيږي مبتدا دپاره دقيام دقريني لفظيې اوياعقليې جوازا يعني حذف کول جائز دي نه واجب او
قَدْ يَجِبُ حَذْفُهُ اِذَا قُطِعَ النَّعْتُ بِالرَّفْعِ نَحْوُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَهْلُ الْحَمْدِ اَىْ هُوَ اَهْلُ الْحَمْدِ
کله کله واجبيږي حذف کول يې چې کله يې منع وشي دنعت درفع سره لکه الحمدلله اهل الحمد يعني هواهل الحمد
وَ اِنَّمَا وَجَبَ حَذْفُهُ لِيُعْلَمَ اَنَّهُ كَانَ فِي الْاَصْلِ صِفَةً فَقُطِعَ
اوددې نه غيرواجب نه دي ددې حذف کول ددې دپاره چې معلوم شي چې په اصل کې صفت وو پس ختم کړي شو
لِقَصْدِ الْمَدْحِ اَوِ الذَّمِّ اَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ فَلَوْ ظَهَرَ الْمُبْتَدَاُ لَمْ يَتَبَيَّنْ ذٰلِكَ وَ يَجِبُ
تعريف يامذمت يادې نه علاوه دارادې دوجې نه پس که ظاهروي مبتدا لره نو داخبره نه واضح کيږي اوواجب دي

حَذْفُهُ اَيْضًا عِنْدَ مَنْ قَالَ فِيْ نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ اِنَّ تَقْدِيْرَهُ هُوَ زَيْدٌ
حذف كول د دې همدا رنګې دهغه چاپه نزد چې څوک وايي چې نعم الرجل زيدکې د دې تقدير دادې چې هوزيدپه
كَقَوْلِ الْمُسْتَهِلِّ اَيِ الْمُبْتَدَأُ الْمَحْذُوْفُ جَوَازاً مِثْلُ الْمُبْتَدَا الْمَحْذُوْفِ فِيْ مَقُوْلِ الْمُسْتَهِلِّ
په شان دقول دمستهل يعني مبتدا محذوف جوازاپه مثل دمبتدا کې چې محذوف وي په مقوله دمستهل کې
لِلْهِلَالِ الرَّافِعِ صَوْتَهُ عِنْدَ اِبْصَارِهِ الْهِلَالُ وَاللهِ اَیْ هٰذَا الْهِلَالُ وَاللهِ بِالْقَرِيْنَةِ الْحَالِيَّةِ وَلَيْسَ مِنْ بَابِ
كومه چې سپوږمي دليدو په وخت کې اوچتوي الهلالُ والله يعني هذا الهلال والله قرينه حاليه ده اونه ده دباب د
حَذْفِ الْخَبَرِ بِتَقْدِيْرِ الْهِلَالُ هٰذَا لِاَنَّ مَقْصُوْدَ الْمُسْتَهِلِّ تَعْيِيْنُ شَيْءٍ بِالْاِشَارَةِ وَالْحُكْمُ
حذف دخبرنه په دې تقدير سره چې الهلال هذاځکه چې مقصود دمستهل تعين ديوشيز دي په اشاره سره اوحکم
عَلَيْهِ بِالْهِلَالِيَّةِ لِيَتَوَجَّهَ اِلَيْهِ النَّاظِرُوْنَ وَ يَرَوْهُ كَمَا
په دې باندې دي دهلاليت ځکه چې متوجه شي دې طرف ته دسپوږمي ليدونکي اودې ته وګوري لکه چې هغه
يَرَاهُ وَ اِنَّمَا اَتٰى بِالْقَسَمِ جَرْيًا عَلٰى عَادَةِ الْمُسْتَهِلِّيْنَ غَالِباً وَ لِئَلَّا
يې ګوري اوپه تحقيق سره راتګ کړې قسم لره چې جاري وي په عادت دسپوږمي ليدلو باندې غالباځکه چې
يُتَوَهَّمَ نَصْبُ الْهِلَالِ عِنْدَ الْوَقْفِ.
وهم رانه شي د نصب د الهلال سره په وخت داودريدو کې.

خلاصه دمتن: وقد يحذف المبتدا ، صاحب دكافيې والاوايي چې کله کله مبتدا لره په وقت دقيام دقرينې جوازي طور باندې حذف کولې شي لکه څنګه چې دسپوږمي ليدلووالاقول الهلال والله په دې کې الهلال خبر دي دمبتدا محذوف يعني دهذا اصل کې داسې وو هذا الهلال والله .

اغراض دجامي : لفظية وعقلية: په دې کې شارح يو وهم لره زائلوي وهم داوو چې شايد دقرينې نه مراد قرينه لفظيه وي ځکه چې متبادر قرينه لفظيه وي نولفظيه اوعقليه سره يې وهم لرې اوختم کړو چې په قرينه کې تعميم دي برابره خبره ده که لفظيه وي اوکه عقليه وي .

اى حذفا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : جوازا مفعول مطلق دي ديحذف حالانکه په دې کې دمفعول مطلق شرط نه موندل کيږي دمفعول مطلق شرط دادې چې فعل دسابق مصدر وي دلته جوازاً ديحذف مصدر نه دي .

جواب : جوازا په اعتبار دموصوف محذوف سره مفعول مطلق دي کوم چې حذفا دي اوحذفا

: يحذف مصدر دي

جائزاً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : جوازاً د حذفاً صفت جوړول صحيح نه دي ځکه چې دصفت حمل په موصوف باندې کيږي او دلته د جوازا حمل په حذفاباندې صحيح نه دي ځکه چې دمصدر حمل په يوڅيز باندې صحيح نه دي ځکه چې حذف جائزيږي نه جواز.

لَا وَاجِبًا: په دې عبارت سره شارح وايي چې د مصنف قول جوازاً د امکان خاص په معنی کې دي يعنې حذف کول او نه حذف کول دواړه په داسې ځاې کې صحيح کيږي.

وقد يجب: ددې عبارت دوه غرضه کيداى شي : (۱) په صاحب دکافيې باندې اعتراض کول (۲) يا په ابن حاجب باندې دشوي اعتراض جواب ورکول.

اول غرض: که اعتراض کول مقصود وي نو تقرير به داسې شي چې څنگه مبتدا حذف کول جائز دي همدارنگې په بعضې ځايونو باندې ددې حذف کول واجب هم دي بيا څه وجه ده چې صاحب دکافيې حذف جوازي لره يې ذکرکړو ليکن حذف وجوبي يې ذکر نه کړو دې لره ذکرکول په کاروو ددې نه وروستو شارح د حذف وجوبي دوه صورتونه بيان کړي دي : (۱) نعت د موصوف نه جدا شي اود منعوت د اعراب خلاف ولوستلې شي مثال لکه الحمد لله اهل الحمد په دې کې اهل الحمد کې صفت دي دلفظ الله بيا دې لره منعوت نه دجدا کولو سره مرفوع لوستلي شي اوخبر جوړ کړي شو دمبتداې محذوف د هُوَ تقدير به يې داسې شي الحمد لله هو اهل الحمد.

وانما وجب: په دې سره غرض دشارح دمبتدا دحذف وجوبي دوجې بيان دي چې حذف ځکه واجب دي چې معلوم شي چې په اصل کې هغه صفت وو بيا زيادتي مدح يا ذم دپاره دموصوف نه جدا کړي شو او دمنعوت داعراب خلاف ولوستلي شو ځکه چې کله نعت لره دمنعوت خلاف مرفوع ولوستلي شي نوسامع يو دم متوجه شي چې دمنعوت داعراب خلاف نعت لره مرفوع په لوستلو کې خامخا څه راز ضرور شته لهذا هغه متکلم طرف ته په پوره طريقه باندې متوجه وي اومقصود کوم چې زيادتي مدح او زيادتي ذم دي حاصل به شي اوکه مبتدا لره ظاهر کړي شي نودافائده به حاصل نه وي ځکه چې په دې وخت کې به داجمله مستأنفه وي نو معلوم به نه شي چې په اصل کې نعت وو لهذا مقصود کوم چې زيادتي مدح اوزيادتي ذم دي

حاصل به نه شي

فائده : دمبتدا حذف وجوبي مثال صرف دمدح سره خاص نه دي بلکه نورهم په دې کې ډير مثالونه دي الحمدلله اهل الحمد دادزيادتي مدح مثال دي اوزيادتي ذم مثال اعوذبالله من ابليس عدوالله په دې کې عدوالله په اصل کې دابليس صفت دي دې لره دمنعوت نه جدا کړودمنعوت اعراب خلاف مرفوع ولوستلي شو اوداخبر دي دمبتدا محذوف چې هُوَ دي اصل کې اعوذبالله من ابليس هو عدوالله دي

ويجب حذفه ايضاً: په دې عبارت سره غرض دشارح دمبتدادحذف وجوبي دويم صورت بيانول دي چې دبعضې نحويانوپه نزد مخصوص بالمدح اومخصوص بالذم دمبتدامحذوف خبردي دهغوي په نزدهم مبتدا لره حذف کول واجب دي مخصوص بالمدح مثال نعم الرجل زيد په دې کې زيد خبر دي د مبتدا محذوف اصل کې نعم الرجل هو زيد دي اومخصوص بالذم مثال لکه بئس الرجل عمرودا په اصل کې بئس الرجل هوعمرودي دادبعضونحويانومذهب دي او دبعضې نحويانوپه نزد هُوَمخصوص بالمدح اومخصوص بالذم په خپله مبتدامؤخرده اوجمله فعليه خبردي دهغوي مسلک مطابق دلته څه مبتدامحذوف نشته اوداز موتږ دبحث نه خارج دي .

دويم غرض : که چيرته ددې عبارت نه غرض په ابن حاجب باندې دواريدونکي اعتراض جواب ور کول وي نو داعتراض تقرير به هغه وي لکه چې مخکې تير شو چې څنګه دمبتدا حذف جائز کيږي نو همدارنګې واجب هم وي بياڅه وجه ده چې مصنف حذف جوازي بيان کړو اوحذف وجوبي يې بيان نه کړو نو شارح ددې جواب ورکوي

جواب : علامه جامي رَحِمَهُ‌اللهُ قد تقليله سره دهغې طرف ته اشاره وکړه چې دمبتدا حذف نهايت قليل دي اوالقليل کالمعدوم لهذا دې لره مستقلاً ځان ته يواځې دذکر کولو ضرورت نشته دي هسې خو ابن حاجب رَحِمَهُ‌اللهُ داختصار درپئ کيدو په اساس دقليل مخکې راتلونکي صورتونه پريږدي .

سوال : قَدْ تقليله په حذف جوازي هم داخل کړي شوي دي ددې حذف هم قليل دي دې لره هم ذکر په کار نه وو ؟

جواب : کله چې د قلت نه وروستو قلت ذکر کړي شي نو دويم قلت په نسبت سره اول نه نهايت

قلیل بلکې په اقله اوکمه درجه کې وي ځکه دې نه اول باندې نه شي قیاس کولې

اي المبتدا المحذوف: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: دابن حاجب مثال دممثل له سره مطابق نه دي ځکه چې الهلال والله کې الهلال خبر دي د هذا مبتدا حالانکه مثال مبتدا محذوف جوازي پیش کوو نومثال دممثل له سره مطابق نه دي ؟

جواب: شارح جواب ورکوي چې کقول المستهل کې کاف په معنی د مثل مضاف دي اوددې مضاف الیه محذوف دی کومه چې المبتدا محذوفه ده اوقول په معنی دمقول سره دي اوددې نه مخکې حرف جر في مقدر دي مکمل عبارت داسې دي چې مثل المبتدا المحذوف في مقول المستهل، بیا داعبارت خبر دي دمبتدا محذوف چې المبتدا المحذوف دي نومکمل عبارت به داسې شي چې والمبتدا المحذوف جوازاً مثل المبتدا المحذوف في قول المستهل نومعنی داده چې مبتدا محذوف جوازامثل دهغه مبتدا ده کوم چې محذوف دي دمستهل په مقوله کې لهذا مثال دممثل له سره مطابق شو .

المبصر للهلال: دادمستهل دمعنی بیان دي استهلالا په دوه معنو سره راځي : (۱) په وخت دولادت کې دماشوم آواز کول .(۲) د سپوږمۍ لیدونکي دسپوږمي لیدلو په وخت کې آواز کول نو المبصر للهلال سره شارح معنی ثاني لره متعین کړه چې د سپوږمۍ لیدونکي دسپوږمي لیدلو په وخت کې آواز کول دي .

اي هذا الهلال: ددې ځاې نه مثال دممثل له باندې منطبق کول دي چې حاصل يې دادې چې الهلال والله خبر دي دمبتدا محذوف چې هذا دي تقدیر دعبارت داسې دي چې هذا الهلال والله مبتدا لره حذف کړو اوددې په حذف باندې قرینه حالیه ده اوقرینه حالیه خلکو لره سپوږمۍ د لیدلو دپاره جمع کوي .

ولیس من باب الخبر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: مونږ دانه منو چې الهلال والله کې مبتدا محذوف دي بلکه خبر محذوف دي اصل کې وو الهلال هذا والله لهذا دمثال اوممثل له مطابق نه دي ؟

جواب: خبر لره حذف منل صحیح نه دي ځکه چې دسپوږمۍ لیدلو والامقصود اشاره یو شئ

لره متعین کول او په هغه باندې د هلالیت حکم لګول دي ځکه چې لیدلو والا هغه طرف ته متوجه شي او هغه ته وګوري ګویا چې هغه دا سپوږمۍ لیدلي وي او دا مقصود هله حاصلیږي چې هغه لره د حذف مبتدا د باب نه ومنلي شي که چیرته دې لره د حذف خبر د باب نه ومنلي شي نو دا مقصود به حاصل نشي او د مستهل مقصود به فوت شي.

والما اتی: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مثال خو په الهلال باندې تام شو د والله اضافه يې ولې وکړه؟

جواب: د والله اضافه يې د دوو (۲) وجهو نه وکړه:

اوله وجه: اوله وجه داده چې عام طور باندې د سپوږمۍ لیدلو والا دا عادت وي چې هغه نورو ته د یقین ورکولو د پاره قسم خوري. مصنف د هغه عادت خیال وساتلو او د قسم اضافه يې وکړه.

دوهمه وجه: دوهمه وجه داده چې د قسم اضافه يې د دري (۳) وجهو نه وکړه چې په حالت د وقف کې د الهلال د نصب وهم پیدا نه شي ځکه چې په کلمه واحده کې اصل وقف دي نو دا وهم به پیدا کیدلو چې الهلال په اصل کې مفعول به دي د فعل محذوف رأیتُ چې په اصل کې رأیت الهلال وو د وخت د تنګۍ په اساس يې فعل لره حذف کړو حالانکه دا د فعل محذوف مفعول به نه دي بلکې خبر دي د مبتدا محذوف، نو د دې وجې نه يې د قسم اضافه وکړه چې دا وهم پیدا نه شي.

د خبر حذف جوازي:

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْخَبَرُ جَوَازًا أَيْ حَذْفاً جَائِزاً لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ مِنْ غَيْرِ إِقَامَةِ شَيْءٍ مَقَامَهُ مِثْلُ
او کله کله حذف کیږي خبر جوازا یعني حذفاً جوازاً د پاره د قیام د قرینې په غیر د قائمولو د یو څیز په ځای د دې په شان
الْخَبَرِ الْمَحْذُوْفِ جَوَازاً فِي قَوْلِكَ خَرَجْتُ فَإِذَا السَّبُعُ فَإِنَّ تَقْدِيْرَهُ عَلَى الْمَذْهَبِ الصَّحِيْحِ كَمَا
د هغه خبر چې محذوف وي جوازلکه دا قول ستا چې خرجت فاذا السبع نو د دې تقدیر په صحیح مذهب باندې لکه
نَصَّ عَلَيْهِ صَاحِبُ اللُّبَابِ خَرَجْتُ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ عَلَى أَنْ يَكُوْنَ إِذَا ظَرْفَ زَمَانٍ لِلْخَبَرِ الْمَحْذُوْفِ
نص کړي په دې باندې صاحب د لباب چې خرجت فاذا السبع واقف په اساس چې اذا ظرف زمان دي د خبر د حذف
مِنْ غَيْرِ سَادٍّ مَسَدَّهُ أَيْ فَفِيْ وَقْتِ خُرُوْجِيْ اَلسَّبُعُ وَاقِفٌ.
کولو د پاره په غیر د قائمقام نه یعني ففي وقت خروجي السبع واقف.

خلاصه دمتن: كله خبر په وخت دقيام دقرينې كې حذف كولې شي نو بيا حذف په دوه (۲) قسمه دي (۱) جائز (۲) واجب حذف خبر جوازي په هغه وخت كې وي چې كله دخبر په حذف كولو باندې قرينه موجود وي اودخبر قائمقام نه وي اودخبر حذف په هغه وخت كې واجبيږي چې كله په حذف دخبر باندې قرينه هم موجود وي اودخبر قائمقام هم موجود وي دحذف جوازي مثال لكه خرجت فاذا السبعُ ، ددې تقدير دعبارت دادې چې خرجت فاذا السبعُ واقف دي اذا ظرف زمان دي كوم چې دخبرمحذوف متعلق دي چونكې ددې محذوف خبر كوم قائمقام موجود نه دي نوددې وجې نه به داحذف جوازي وي وجوبي نه وي .

اغراض دجامي : قد يحذف: دايې مقدر كړو دې خبرې طرف ته يې اشاره وكړه چې دمصنف قول الخبر داعطف دي په المبتداء باندې .

اي حذفاً جائز : دا په اصل كې ددوو سوالونو مقدرو جواب دي چې د هغې تفصيل گرځي مرا يعنې څو كرته مخكې تير شوي دي .

لقيام: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : دخبر دحذف په بيان كې مصنف قرينه ذكر نه كړه اودمبتدا دحذف په بيان كې يې قرينه ذكر كړه نوددې نه وهم پيدا شو چې كيداى شي خبر په هر حال كې حذف كول جائز وي برابره خبره ده كه قرينه وي يا نه وي حالانكه دخبر دحذف دپاره هم دمبتدا په شان قرينه په كار ده ؟ .

جواب : په لقيام قرينة سره يې جواب وركړو چې دخبر حذف كول په هغه وخت كې جائز وي چې كله يې په حذف باندې قرينه موجود وي .

سوال : چې كله په دواړو كې قرينه شرط ده نودلته مصنف ولې ذكر نه كړه ؟

جواب : نو شارح جواب وركړو چې دلته مو ځكه ذكر نه كړه چې په ماقبل باندې مو اكتفاء وكړه من غير اقامة سره شارح ثابته كړه چې كه چيرته دخبر قائمقام موجود وي نود خبرحذف كول جائز نه دي بلكه واجب دي .

الخبر المحذوف: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : خرجت فاذا السبع كې السبع مبتدا ده نه خبر حالانكه مثال دخبر محذوف جوازا پيش

کول وو نو مثال د ممثل له سره مطابق نه شو ؟

جواب : مثل مضاف دي د دې مضاف اليه محذوف دي کوم چې الخبر المحذوف جواز في قولک دي

فأن تقديره : په دې عبارت سره غرض د شارح مثال د ممثل له سره منطبق کول دي چې د هغې حاصل دا دې چې دا د صحيح مذهب مطابق د دې تقدير عبارت خرجت فاذا السبع واقف دي اذا ظرف زمان دي کوم چې د خبر محذوف متعلق دي چې معنی يې ده خرجت ففي وقت خروجي السبع واقف په دې صورت کې به خبر محذوف وي مذکور به نه وي او د دې قائمقام هم موجود نه دي لهذا مثال د ممثل له سره مطابق شو .

فائده : اصح مذهب يې د دې وجې نه وويل چې د بعضې نحويانو په نزد باندې اذا ظرف زمان نه دي بلکې ظرف مکان دي نو په دې وخت کې به خبر محذوف نه وي بلکه همدا اذا به خبر وي او معنی به يې دا وي چې ففي مکان خروجي السبع ، نو د دې قول مطابق به دا مثال زمونږ د بحث نه خارج وي .

د خبر د حذف جوازي اول مقام :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْخَبَرُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ وُجُوْبًا اَیْ حَذْفًا وَاجِباً فِيْمَا الْتُزِمَ اَیْ فِيْ تَرْكِيْبٍ
او کله کله حذف کيږي خبر لره جوازاً د قيام د قرينې د وجې نه وجوباً يعني په حذف وجوبي سره په هغه ترکيب کې
اُلْتُزِمَ فِيْ مَوْضِعِهِ اَیْ مَوْضِعِ الْخَبَرِ غَيْرُهُ اَيْ غَيْرُ الْخَبَرِ وَذٰلِکَ فِيْ اَرْبَعَةِ اَبْوَابٍ عَلٰی مَا ذَكَرَهُ
چې التزام کړې شوې وي په هغه ځاې کې يعني په غير د خبر کې او دا په څلور بابونو کې دي لکه څنګه چې ذکر کړې
الْمُصَنِّفُ اَوَّلُهَا الْمُبْتَدَأُ الَّذِيْ بَعْدَ لَوْلَا مِثْلُ لَوْلَا زَيْدٌ لَكَانَ كَذَا
مصنف چې د هغې نه اول هغه مبتدا ده چې لَوْلَا نه وروستو وي مثال لکه لَوْلَا زَيْدٌ لَكَانَ كذا يعني لولا زيد موجود څکه
اَیْ لَوْلَا زَيْدٌ مَوْجُوْدٌ لِاَنَّ لَوْلَا لِامْتِنَاعِ الشَّيْءِ لِوُجُوْدِ غَيْرِهِ فَيَدُلُّ عَلَی الْوُجُوْدِ
چې لولا امتناع د شې د پاره راځي د هغه د غير موجود ګې په وجې سره پس دلالت به کوي په وجود باندې او په تحقيق
وَ قَدِ الْتُزِمَ فِيْ مَوْضِعِ الْخَبَرِ جَوَابُ لَوْلَا فَيَجِبُ حَذْفُهُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ وَ الْتِزَامِ قَائِمٍ مَقَامَهُ
سره التزام کړې شوې په ځاې د خبر کې جواب د لولا نو واجب دي حذف کول د پاره د قيام د قرينې او د وجې د التزا.
هٰذَا اِذَا كَانَ الْخَبَرُ عَامًّا وَ اَمَّا اِذَا كَانَ خَاصًّا فَلَا يَجِبُ حَذْفُهُ
د قائمقام نه دا په هغه وخت کې دي چې کله خبر عام وي ليکن چې کله خبر خاص وي نو نه دي واجب حذف ک

كَمَا فِيْ قَوْلِهٖ شِعْرٌ :
دخبر لکه په دې شعر کې ذکر دي

وَ لَوْلَا الشِّعْرُ بِالْعُلَمَاءِ يُزْرِيْ	لَكُنْتُ الْيَوْمَ اَشْعَرَ مِنْ لَبِيْدٍ
که چيرته شعر علماو لره عيب دار کولې نه	نو نن به زه د لبيد نه غټ شاعروم

هٰذَا عَلٰى مَذْهَبِ الْبَصْرِيِّيْنَ وَ قَالَ الْكِسَائِيُّ الْاِسْمُ الْوَاقِعُ بَعْدَهَا فَاعِلٌ لِفِعْلٍ مُقَدَّرٍ
دا په مذهب د بصرينو باندې او کسائی ويلي دي چې هغه اسم چې واقع وي وروسته د دې نه فاعل د پاره د فعل مقدر
اَیْ لَوْلَا وُجِدَ زَيْدٌ وَ قَالَ الْفَرَّاءُ لَوْلَا هِيَ الرَّافِعَةُ لِلْاِسْمِ الَّذِيْ بَعْدَهَا.
يعنې لولا وُجِدَ زَيْدٌ او فراء ويلی دي چې لولا رفع ورکونکی دي هغه اسم لره کوم چې د هغه نه وروستو دي .

خلاصه د متن : صاحب د کافيې وايي چې کله کله خبر لره وجوباً حذف کيږي او بيا په دغه وجوباً باندې ماتن څلور مثالونه ورکړي دي چې په هغې کې د اصل څلورو ابوابو طرف ته اشاره کړې ده چې د هغې تفصيل روستو راځي .

اغراض د جامي : يحذف الخبر : په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده چې د وجوباً عطف په جوازاً باندې دی .

في ترکيب : په دې کې د ما مصداق لره متعين کوي چې د ما مصداق ترکيب دي .

موضع الخبر : په دې عبارت سره شارح د خبر مرجع متعين کړې ده .

غيرالخبر : په دې کې هم شارح د خبر مرجع متعين کړې ده

وذلک في اربعة ابواب : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مثال نه مقصود د ممثل له وضاحت کول دي او د وضاحت د پاره يو مثال کافي وو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ څلور مثالونه ولې ذکر کړه؟

جواب : د حذف خبر څلور بابونه دي د دې وجې نه مصنف د هر باب د پاره يو يو مثال بيان کړې نو تعدد د مثالونو د ممثل له د تعدد د وجې نه ، نه دي .

اولها : د دې ځای نه اولنی مقام ذکر کوي چې هغه مبتدا چې د لولا نه وروستو واقع وي د دې خبر لره حذف کول واجب دي مثال لولا زيد لکان کذا .

ای لولا زيد موجود : په دې عبارت سره غرض د شارح د جامي مثال لره په ممثل له باندې منطبق

کول دي چې لولا زيد لکان کذا کې زيد مبتدا ده کومه چې د لولا نه وروستو واقع دي ددې خبر محذوف د ي چې کوم موجود دي دا په اصل کې وو لولا زيد موجود لکان کذا .

لان لولا : ددی ځاې نه په حذف باندې قرينه ذکر کوي چې ددې په حذف باندې قرينه لولا دي ځکه چې لولا د امتناع ثاني دپاره راځي په سبب د وجود اول سره يعنې لولا دا ښائي چې اولنی شي موجود دي لهذا لولا په وجود باندې دلالت کوي .

وقد التزم : ددی ځاې نه دخبر دقائمقام بيان کوي چې د خبر قائمقام جواب د لولا دي .

فيجب : په دې عبارت سره د ماقبل دنتيجې بيان دي ځکه چې دلته کې حذف خبر باندې هم قرينه موجود ده او دخبر قائمقام هم موجود دي ددې وجې نه خبر لره په وجوبي طور باندې حذف کړي شو

هذا اذا کان : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا ذکر شوې ضابطه اوقاعده منقوضه او ماته ده د امام شافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ په دې شعر سره چې فرمايي :

ولولا الشعر بالعلماء يزري ❁ لکنت اليوم اشعر من لبيد

په دې شعر کې د لولا نه وروستو مبتدا ده ددی خبر يزری وروستو ذکر دی محذوف نه دي ، نو ددې نه دا معلومه شوه چې د لولا نه وروستو حذف د خبر واجب نه دي .

جواب : هغه مبتدا چې د لولا نه وروستو واقع وي ددې خبر لره حذف کول په هغه صورت کې واجب دي چې کله خبر دافعال عامه ځخه وي اوپه مثال مذکور کې خبر د افعال عامه ځخه نه دي بلکه د افعال خاصه ځخه دي لهذا ددې وجې نه نقض وارد نه شو .

هذا على مذهب : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مونږه داخبره نه منو چې هغه اسم چې د لولا نه وروستو واقع وي اوهغه مرفوع وي د مبتدا کيدو په وجه بلکه هغه مرفوع دي دفعل مقدر دفاعل په وجې سره لولا زيد لکان کذا تقديري عبارت لولا وجد زيد لکان کذا دي يا هغه مرفوع وي په خپله د لولا د وجې نه ځکه چې لولا د اسماء افعال نه دي چې خپل ما بعد لره د فاعليت په بناء رفع ورکوي لهذا مثال د ممثل سره مطابق نه شو .

جواب : هغه اسم چې لولا نه وروستو واقع وي دهغې په مرفوع کیدو کې اختلاف دي د نحاة بصري د مذهب مطابق هغه اسم چې لولا نه وروستو واقع وی هغه مرفوع وي د مبتدا په وجې سره که ددې خبر د افعال عامه څخه وي نو خبر لره حذف کول واجب دي او مصنف دغه مذهب لره اختيار کړو او مثال یې ذکر کړو لیکن دلته دوه (۲) مسلکونه نور هم دي کوم چې مرجوح دی کوم لره چې مصنف ذکر نه کړو ځکه چې دمصنف دخپل مذهب مطابق مثال د ممثل سره مطابق دي

مسلک (۲): امام کسائي کوفي مذهب دادي چې هغه اسم چې لولا نه وروستو واقع وي هغه مرفوع وي د فعل مقدر د فاعل کیدو په بنا ءباندې لولازید اصل کې داسې وو چې لولا وجد زید

مسلک (۳) : دامام فراء په نزد هغه اسم چې د لولا نه وروستو واقع وي هغه مرفوع وي د لولا د وجې نه ځکه چې لولا د اسماء افعالو څخه دي کوم چې خپل مابعد لره د فاعلیت په بناء باندې رفع ورکوي.

د خبر د حذف وجوبي دويم مقام :

وَ ثَانِيهَا كُلُّ مُبْتَدَاٍ كَانَ مَصْدَرًا صُوْرَةً أَوْ بِتَاوِيْلِهِ مَنْسُوْبًا إِلَى الْفَاعِلِ أَوِ الْمَفْعُوْلِ أَوْ
اودويم ددې نه هرهغه مبتدا چې مصدر وي صورة یا د مصدر په تاويل کې وي منسوب وي فاعل يامفعول يا
كِلَيْهِمَا وَ بَعْدَهُ حَالٌ أَوْ كَانَ اِسْمَ تَفْضِيْلٍ مُضَافًا إِلَى ذَلِكَ الْمَصْدَرِ وَ ذَلِكَ مِثْلُ ذَهَابِي رَاجِلًا وَ ضَرْبَ زَيْدٌ
دواړو ته اودهغې نه وروستو حال وي یا اسم تفضيل وي مضاف وي دې مصدر طرف ته مثال ذهابي راجلا و ضرب زید
قَائِمًا إِذَا كَانَ زَيْدٌ مَفْعُوْلًا بِهِ وَمِثْلُ ضَرْبِي زَيْدًا قَائِمًا أَوْ قَائِمَيْنِ وَأَنْ ضَرَبْتَ زَيْدًا قَائِمًا وَأَكْثَرُ شُرْبِي السَّوِيْقَ مَلْتُوْتًا وَ
قائما کله چې زید مفعول به وي مثال ضربي زيدا قائما او قائمين اوان ضربت زيدا قائما او وا كثر شربي السويق ملتوتا او
أَخْطَبُ مَا يَكُوْنُ الْأَمِيْرُ قَائِمًا فَذَهَبَ الْبَصْرِيُّوْنَ إِلَى أَنَّ تَقْدِيْرَهُ ضَرْبِي زَيْداً حَاصِلٌ إِذَا كَانَ قَائِمًا
اخطب مايكون الأمير قائما پس ذهاب کړي بصرينو دې خبرې ته چې تقدیر دعبارت ضربي زيدا حاصل اذا كان قائما دي
فَحُذِفَ حَاصِلٌ كَمَا يُحْذَفُ مُتَعَلَّقَاتُ الظُّرُوْفِ نَحْوُ زَيْدٌ عِنْدَكَ فَبَقِيَ إِذَا كَانَ
پس حذف کړي شو حاصل لره لکه څنګه چې حذف کیږي د ظروفو متعلقات مثال زید عندک پس پاتی شو اذا کان
ثُمَّ حُذِفَ إِذَا مَعَ شَرْطِهِ الْعَامِلِ فِي الْحَالِ وَأُقِيْمَ الْحَالُ مَقَامَ الظَّرْفِ لِأَنَّ
بیا حذف کړی شو اذا دخپل شرط سره کوم چې عامل دي په حال کې او حال لره د ظرف قائمقام جوړ شو ځکه چې
فِي الْحَالِ مَعْنَى الظَّرْفِيَّةِ فَالْحَالُ قَائِمٌ مَقَامَ الظَّرْفِ الْقَائِمِ مَقَامَ الْخَبَرِ فَيَكُوْنُ الْحَالُ قَائِمًا

په حال کې د ظرفيت معنی موجود ده پس حال قائمقام دي د ظرف کوم چې قائمقام دي د خبر پس حال قائم
مَقَامَ الْخَبَرِ.
مقام دخبر دي

خلاصه دمتن : ددې ځاي نه شارح د خبر دحذف وجوبي دويم مقام بيانوي

اغراض دجامي : وثانيها: ددې ځاي نه دخبر دحذف وجوبي دويم مثال بيانيږي چې په هغې سره يوې ضابطې طرف ته اشاره ده چې د هغې حاصل دادې (۱) هر هغه مبتدا چې صورة مصدر وي يا په تاويل دمصدر وي او منسوب الى الفاعل وي يا منسوب الى المفعول وي يا منسوب الى الفعل والمفعول دواړه وي او دمنسوب اليه نه وروستو حال وي (۲) يا مبتدا اسم تفضيل وي چې مضاف وي داسې مصدر طرف ته چې صورتاً يا تاويلاً مصدر وي کوم چې فاعل يا مفعول دواړو طرف ته منسوب وي اودمنسوب اليه نه وروستو حال واقع وي نوپه داسې صورت کې خبر لره حذف کول واجب دي.

وضاحت : ددې ضابطې دوه (۲) جزونه دي: (۱) هغه مبتدا چې مصدر وي برابره خبره ده که صورةً مصدر وي يا تاويلاً مصدر وي او منسوب وی فاعل طرف ته يا مفعول طرف ته يا دواړو طرف ته او منسوب اليه نه وروستو حال واقع وي (۲) هغه مبتدا چې اسم تفضيل وي او مضاف وي دې مصدر طرف ته چې کوم صورةً ياتاويلاً مصدر وي اومنسوب وي فاعل طرف ته يا مفعول طرف ته يا دواړو طرف ته او منسوب اليه نه وروستو حال واقع وي.

ددغه دواړو جزونو څخه په هر يو کې شپږ (۶) صورتونه دي:

داول جز شپږ (٦) صورتونه : داول جز شپږ صورتونه دادې: (۱) مبتدا صورتاً مصدر وي او فاعل طرف ته منسوب وي او د منسوب اليه نه پس حال واقع وي مثال ذهابي راجلا په دې مثال کې ذهابي صورتاً مصدر دي او خپل فاعل ضمير متکلم طرف ته منسوب وي او ددې نه وروستو حال واقع وي ددې تقدير عبارت ذهابي حاصل اذاکنت راجلا دي اول مو حاصل خبر لره حذف کړو ځکه چې ظرف اذاکنت ددې متعلق دي اوظرف په خپل متعلق باندې دلالت کوي کله چې کوم خبر لره موحذف کړو نو ذهابي اذاکنت راجلا شو ، دويم: اذا کنت فعل شرط کوم چې په حال کې فاعل دي حذف مو کړو او حال مو ددې قائمقام کړو ځکه چې په حال کې د ظرفيت معنی موندې شي مثال د جاءني زيد راکبا معنی ده جاءني زيد في زمان رکوبه کله چې حال لره

دظرف قائمقام جوړ شو نو ذهاني راجلا شو پس دمبتدا خبر معنی حاصل لره په وجوبي طور باندې حذف شوځکه چې د هغې په حذف باندې قرينه هم موجود ده او ددې قائمقام هم موجود وي قرينه راجلا دي ځکه چې راجلا په ظرف باندې دلالت کوي او ظرف په خبر باندې دلالت کوي نو راجلا به دلالت کوي په خبر باندې ځکه چې دال علی الشیء باندې دال ، دا دال علی ذالک الشیء وي او قائمقام هم راجلا دې ځکه چې راجلا قائمقام دي د ظرف اوظرف قائمقام دي د خبر لهذا راجلا به هم قائمقام شي دخبر .

(۲) مبتدا صورتاً مصدر وي او مفعول طرف ته منسوب وي او قائما ددې نه حال واقع دي مثال ضرب زيد قائما په دې مثال کې ضرب صورةً مصدر دي او مفعول طرف ته منسوب دي او قائما ددې نه واقع دی په اصل کې ضرب زيد حاصل اذكان قائما دي شارح رَحِمَهُ اللهُ دلته د زيد نه وروستو د اذا كان مفعولا به اضافه ځکه وکړه ځکه چې ضرب زيد قائما کې دوه (۲) احتمالات دي : (۱) داد ضرب فاعل دي (۲) ضرب مفعول دي نو شارح اذا كان الخ وويل اوپه دې سره يې دويم احتمال لره متعين کړو چې تکرار لازم نه شي ځکه د منسوب الى الفاعل مثال مخکې تير شوي دي .

(۳) مبتدا صورتاً مصدر وي او منسوب وي فاعل او مفعول دواړو طرف ته او ديو نه حال واقع وي اوکه دغه مثال لره ضربي زيدا قائمين ولوستلې شي نودا به دهغه مثال وي چې صورةً مصدر وي او منسوب وي فاعل او مفعول دواړو طرف ته او قائمين ددواړونه حال واقع وي باقي تقدير دعبارت او نور تفصيل مخکې تيرشوي دي .

(۴) مبتدا تاويلاً مصدر وي او منسوب وي فاعل طرف ته او ددې نه پس حال واقع وي مثال أَنْ ضَرَبْتَ قَائِمًا .

(۵) مبتدا تاويلاً مصدر وي او منسوب وي مفعول طرف ته او منسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال ضربت زيدا قائما .

(٦) مبتدا تاويلاً مصدر وي او منسوب وي فاعل اومفعول دواړه طرف ته او د منسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال ان ضربت زيدا قائما .

او نورو مثالونو کې که چيرته دفاعل او مفعول دواړو نه دحال دجوړول او مثال جوړول وي نو دقائما په ځاې تثنيه قائمين لوستلې شی مثال ان ضربت زيدا قائمين .

ددوهم جز شپږ (٦) صورتونه: او ددوهم جز هم همدرنګې شپږ (٦) صورتونه دي په لاندې ډول

(۱) چې مبتدا اسم تفضيل وي او مضاف وي صورةً مصدر طرف ته او هغه مصدر منسوب وي فاعل طرف ته او دمنسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال **اكثر شربي قائما**

(۲) مبتدا اسم تفضيل مضاف وي صورةً مصدر طرف ته او دا مصدر منسوب وي مفعول طرف ته او د منسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال **اكثر ضرب زيد قائما**

(۳) مبتدا اسم تفضيل وي او صورةً مصدر طرف ته مضاف وي اودا مصدر منسوب وي فاعل او مفعول دواړو طرف ته او دمنسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال **اكثر شربي السويق ملتوتا**

(۴) مبتدا اسم تفضيل وي او مضاف وي مصدر تاويلي طرف ته او هغه مصدر تاويلي منسوب وي فاعل طرف ته او دمنسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال **اخطب ما يكون الامير قائما**

(۵) مبتدا اسم تفضيل وي او مضاف وي مصدر تاويلي طرف ته اودامنسوب وي مفعول طرف ته او د منسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال **اكثر ان ضرب زيد قائما**

(٦) مبتدا اسم تفضيل وي او مضاف وي مصدر تاويلي طرف ته اودامنسوب وي فاعل او مفعول دواړو طرف ته او دمنسوب اليه نه وروستو حال واقع وي مثال **اكثر ان ضربت زيدا قائما**

دټولو مثالونو خلاصه:

۱-	مبتدا صورتاً مصدر وي	منسوب الى الفاعل وي	ذهابي راجلاً
۲-	مبتدا صورتاً مصدر وي	منسوب الى المفعول وي	ضرب زيدٍ قائماً
۳-	مبتدا صورتاً مصدر وي	منسوب الى الفاعل والمفعول وي	ضربي زيدٍ قائماً
۴-	مبتدا تاويلاً مصدر وي	منسوب الى الفاعل وي	ان ضربتُ قائماً
۵-	مبتدا تاويلاً مصدر وي	منسوب الى المفعول وي	ان ضرب زيد قائما
٦-	مبتدا تاويلاً مصدر وي	منسوب الى الفاعل والمفعول وي	ان ضربت زيدا قائماً
۷-	مبتدا اسم تفضيل مضاف وي صورتاً مصدر طرف ته	منسوب الى الفاعل وي	اكثر شربي قائما

۸-	مبتدا اسم تفضیل مضاف وي صورتاً مصدر طرف ته	منسوب الی المفعول وي	اکثر ضرب زید قائماً
۹	مبتدا اسم تفضیل مضاف وي صورتاً مصدر طرف ته	منسوب الی الفاعل والمفعول وي	اکثر شربي السویق ملتوتاً
۱۰-	مبتدا اسم تفضیل مضاف وي تاویلاً مصدر طرف ته	منسوب الی الفاعل وي	اخطب مایکون الامیر قائماً
۱۱-	مبتدا اسم تفضیل مضاف وي تاویلاً مصدر طرف ته	منسوب الی المفعول وي	اکثر ان ضرب زید قائماً
۱۲-	مبتدا اسم تفضیل مضاف وي تاویلاً مصدر طرف ته	منسوب الی الفاعل والمفعول وي	اکثر ان ضربت زیداً قائماً

فذهب البصریون: په دې عبارت سره غرض د شارح دادې چې په دې دوهم مقام کې تقدیر د عبارت او د اصل متعلق دنحویانو اختلاف دي په دې خبره د ټولو اتفاق دي چې **ضربي زیداً قائماً** کې د مبتدا خبر وجوبا محذوف دي لیکن په دې خبره کې اختلاف دي چې د دې اصل څه شئ دي او د حذف خبر صورت څه دي په دې کې پنځه (۵) مذهبه دي چې شارح را نقل کړي دي:

مذهب (۱): **فذهب البصریون** سره د اول مذهب بیان دی دبصري دنحویانو مذهب دادې چې د **ضربي زیدا قائما** تقدیر **ضربي زیدا حاصل اذاکان قائما** دي اول مو د **حاصل** خبر حذف کړو لکه څنګه چې دظرف متعلقات حذف کولې شي مثال **زید عندک** ظرف متعلق حاصل محذوف دي کله چې حاصل لره حذف کړي شو نو **ضربي زیدا اذا کان قائما** جوړ شو ثانیا **اذا کان** فعل شرط لره کوم چې په حال عامل دي حذف مو کړه او حال لره مو د هغې قائمقام کړه ځکه چې په حال کې د ظرف معنی موندلې شي ځکه چې حال د ظرف قائمقام شو نو **ضربي زیدا قائما** جوړ شو اوس د خبر حذف واجب دي ځکه چې حذف د خبر باندې قرینه موجود ده او قائمقام هم موجود دي قرینه **قائما** دي ځکه چې **قائما** دال دي په ظرف باندې او ظرف دال دي په خبر باندې او **دال علی الشيء** باندې دال ، **دال علی ذلک الشيء** وي او قائمقام هم **قائما** دی ځکه **قائما** قائمقام دي د ظرف او ظرف قائمقام دي د خبراو قائمقام دیو څیز داقائمقام د دې څیز کیدې شي.

په ذکر شوې مقام کې د مثال په تاويل کې د نحويانو پنځه مذاهب:

قَالَ الرَّضِيُّ هٰذَا مَا قِيْلَ فِيْهِ تَكَلُّفَاتٌ كَثِيْرَةٌ ، وَ هِيَ حَذْفُ اِذَا مَعَ الْجُمْلَةِ

رضی وايي دا هغه چې ويلی شوي دي په دې کې ډېر زيات تکلفات دي او هغه اذا حذف کول دي سره د جملې

الْمُضَافِ اِلَيْهَا وَلَمْ يَثْبُتْ فِيْ غَيْرِ هٰذَا الْمَكَانِ وَالْعُدُوْلُ عَنْ ظَاهِرِ مَعْنَى كَانَ النَّاقِصَةِ اِلٰى مَعْنٰى كَانَ التَّامَّةِ

مضاف اليه او ثابت نه دي په غير د دې خاې نه او عدول کول د کان ناقصه د ظاهر معنی نه د کان تامه طرف ته او

وَ الَّذِيْ يَظْهَرُ لِيْ اَنَّ تَقْدِيْرَهٗ بِنَحْوِ ضَرْبِيْ زَيْدًا يُلَابِسُهٗ قَائِمًا اِذَا اَرَدْتَّ

او هغه چې ظاهر شوي وي زما د پاره بې شک د هغې تقدير مثال ضربي زيدا يلابسه قائما به وي کله چې ته اراده

الْحَالَ عَنِ الْمَفْعُوْلِ وَ ضَرْبِيْ زَيْداً يُلَابِسُنِيْ قَائِمًا اِذَا كَانَتْ عَنِ الْفَاعِلِ اَوْلٰى . ثُمَّ تَقُوْلُ

وکړې د حال د مفعول نه او وضربي زيدا يلابسني قائما به وي کله چې حال فاعل نه اولی وي نو ته به بيا وايې چې

حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ الَّذِيْ هُوَ ذُو الْحَالِ فَبَقِيَ ضَرْبِيْ زَيْدًا يُلَابِسُ قَائِمًا وَ يَجُوْزُ حَذْفُ ذِي الْحَالِ

حذف کول د هغه مفعول چې ذوالحال دي نو باقي پاتې شو ضربي زيدا يلابس قائما او جائز دي حذف کول د ذوالحال

مَعَ قِيَامِ الْقَرِيْنَةِ كَمَا تَقُوْلُ الَّذِيْ ضَرَبْتَ قَائِماً زَيْدٌ اَىْ ضَرَبْتَهٗ ثُمَّ حُذِفَ يُلَابِسَ الَّذِيْ هُوَ خَبَرُ

سره د قيام د قرينې لکه چې ته وايې الذي ضربت قائما زيد يعنې ضربته بيا حذف کړې شو يلابس لره کوم چې خبر

الْمُبْتَدَاِ وَالْعَامِلِ فِي الْحَالِ وَقَامَ الْحَالُ مَقَامَهٗ كَمَا تَقُوْلُ رَاشِداً مَّهْدِيًّا اَىْ سِرْ رَاشِداً مَهْدِيًّا فَعَلٰى

دی د مبتدا او حال کې او قائم شو حال په خاې د دې باندې لکه چې ته وايې راشدا مهديا يعنې مهديا راشدا نو بنا په

هٰذَا يَكُوْنُوْنَ مُسْتَرِيْحِيْنَ مِنْ تِلْكَ التَّكَلُّفَاتِ الْبَعِيْدَةِ وَ قَالَ الْكُوْفِيُّوْنَ تَقْدِيْرُهٗ ضَرْبِيْ زَيْداً

دې باندې دا به راحت موندونکې شي د دې تکلفات بعيده نه او کوفيانو ويلی دي چې تقدير د هغه ضربي زيدا

قَائِماً حَاصِلٌ بِجَعْلِ قَائِمًا مِنْ مُتَعَلِّقَاتِ الْمُبْتَدَاِ وَ يَلْزَمُهُمْ حَذْفُ الْخَبَرِ مِنْ غَيْرِ سَدِّ شَيْءٍ

قائما حاصل دی او قائما لره د مبتدا په متعلقات د جوړولو سره او لازم به راشي هغه لره حذف کول د خبر او څه شی لره

مَسَدَّهٗ وَ تَقْيِيْدُ الْمُبْتَدَاِ الْمَقْصُوْدِ عُمُوْمُهٗ بِدَلِيْلِ الْاِسْتِعْمَالِ وَ ذَهَبَ

د هغه قائمقام نه په غير او مبتدا مقصود لره مقيد کول او د دې عام کيدل د استعمال د دليل نه وتلی دی او ذهاب

الْاَخْفَشُ اِلٰى اَنَّ الْخَبَرِ الَّذِيْ سُدَّتِ الْحَالِ مَحَلَّهٗ مَصْدَرٌ مُضَافٌ

کړې اخفش دې خبرې ته چې هغه خبر چې قائم شوي حال په محل د دې باندې هغه مصدر دي کوم چې مضاف

اِلٰى صَاحِبِ الْحَالِ اَىْ ضَرْبِيْ زَيْداً ضَرْبُهٗ قَائِمًا وَذَهَبَ بَعْضُهُمْ اِلٰى اَنَّ هٰذَا الْمُبْتَدَاَ لَا خَبَرَ لَهٗ

دي ذوالحال طرف نه يعنې ضربي زيدا قائما او تللی دي بعضې دې خبرې طرف ته چې د دې مبتدا خبر نشته دي

لِكَوْنِهٖ بِمَعْنَى الْفِعْلِ اِذِ الْمَعْنٰى مَا اَضْرِبُ زَيْداً اِلَّا قَائِماً.

څکه چې دا معنی فعل څخه دي څکه چې د دې معنی دا ده مَا اَضْرِبُ زَيْداً اِلَّا قَائِماً.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې شارح په ذکر شوې مقام کې د مثال په تاویل کې د نحویانو پنځه مذاهب بیانوي

اغراض دجامي : **اول مذهب** : په مذکوره مثال ضربي زیدا قائما د تاویل کې اول مذهب په مخکني عبارت کې تیر شوي دي لیکن په دې کې د نحویانو اختلاف دي او په دې باره کې مزید څلور مذاهب شارح جامي په پورتني عبارت کې بیان کړي دي چې دهغې تفصیل ذکر کولې شي

دویم مذهب: وقال الرضي: په دې عبارت سره غرض دشارح د دوهم مذهب بیان دي شیخ رضي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې د بصرینو دمذهب مطابق په ذکر شوې تو جیه کې ډیر تکلفات دي.

(۱) اذالره بمع جملة مضاف الیه حذف کول کوم چې ددې مقام نه علاوه په بل ځای کې ثابت نه دي.

جواب : (۱) دا جواب غلط دي ځکه چې حذف د اذا مع الجملة شائع کثیر لا تعد ولا تحصی دي. خصوصا د فاء تفریعیه په مقام باندې مثلا فهند یجوز صرفه ددې نه مخکې اذا کان الامر کذالک محذوف دي.

(۲) دکان ناقصه نه دکان تامه طرف ته عدول کول ځکه چې ظاهر دادي چې کان ناقصه دي ځکه چې قائما منصوب دي او هغه دکان خبر دي.

جواب : دلته کان تامه دي ناقصه نه شي کیدي ځکه چې د کان ناقصه خبر معرفه اونکره دواړه کیدي شي حالانکه دلته قائما نکره ده دې لره معرفه راوړل جائز نه دي ثابته شوه چې کان تامه دي ناقصه نه شي کیدلې.

(۳) حال دظرف قائمقام کول چې ددې په کلام دعربو کې کوم مثال نشته.

جواب : حال لره د ظرف قائمقام کول مشهور او معروف دي چې په حال کې هم دظرفیت معنی شته لهذا دعلامه رضي رَحِمَهُ اللَّهُ دري واړه اعتراضونه غلط دي ، علامه رضي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې اولی دادې چې داسې وویلې شي چې ددې اصل ضربي زیدا یلابسه قائما دي که چیرته قائما دمفعول نه حال واقع وي اوکه دفاعل نه حال واقع وي نو په اصل کې ضربي زیدا یلابسني قائما دي بیا ضمیر مفعول کوم چې ذوالحال دي هغه لره مو حذف کړه نو ضربي زید

يلابس قائما ترې جوړ شو

وحذف: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دلته ذوالحال حذف کيږي مثال يې لکه **الذي ضربت قائما زيد** ددې اصل **الذي ضربته قائما زيد** دی په دې کې ة ضمير ذوالحال دي کوم چې حذف شو ددې په حذف باندې قرينه **الذي** دي ځکه چې د جملې په صله کې د عائد موجود کيدل ضروري دي ددې نه وروستو **يلابس** دي کوم چې مبتدا خبر او په حال کې عامل دي دې لره حذف کړي شو او حال لره ددې قائمقام شو نو **ضربي زيدا قائما** جوړ شو .

كما تقول راشدا مهديا: په دې عبارت سره غرض د شارح د حال د عامل د حذف کولو نظير او مثال پيش کوي ددې مثال راشدا مهديا دي ددې اصل **سرا راشدا مهديا** دی سر په حال کې عامل دي دې لره مو حذف کړو او حال لره مو ددې قائمقام جوړ کړو نو **راشدا مهديا** جوړ شو دغه شان **يلابس** چې په حال کې عامل دي دې لره حذف کړي شو او حال لره ددې قائمقام جوړ شو

تبصره: دشيخ رضي رَحِمَهُ اللهُ تقديرهم د تکليف نه خالي نه دي ځکه چې د **يلابس** تقدير معهود او معروف نه دي همدارنګې مولانا وسيم ګل باسولی وايي چې اګر چې دبصرينو په تفسير او تشريح کې تکلفات دي او د شيخ رضی رَحِمَهُ اللهُ په تقرير کې يو تکلف دي ليکن دا تکلف واحد دومره خطرناک دي چې په درې واړو باندې وزني دي . هغه دادې چې په عامل محذوف کې اصل دادې چې هغه به د افعال عامه څخه وي او ملابست د افعال خاصو څخه دي ، لهذا ددې حذف کول مناسب نه دي ، د زيات تفصيل دپاره تاسو وګورئ سوال باسولي ص ۲۵۴.

دريم مذهب: په **قال الكوفيون** سره ددريم مذهب بيان دي دکوفي دنحويانو مذهب دادې چې د **ضربي زيدا قائما** اصل ضربي زيدا قائما حاصل دي داقائما دمبتدا د متعلقاتونه جوړوي يعنې د قائما تعلق دخبر محذوف سره نه دی لکه په اول او دوهم مذهب کې تير شوې دي بلکې د **قائما** تعلق دضرب مصدر سره دي کوم چې په ترکيب کې مبتدا واقع دي او ددې نه پس ددې خبر په وجوبي طور باندې محذوف دي کوم چې حاصل دي .

يلزمهم: په دې سره علامه جامي رَحِمَهُ اللهُ دکوفي دنحويانو په مذهب باندې رد کوي په دوه وجهو سره:

اوله وجه: په دې صورت کې خبر لره په غير قائمقام محذوف کيدل لازم راځي ځکه چې **قائماً** د مبتدا د متعلقاتو څخه دي او کوم څيز چې د مبتدا د متعلقاتو څخه وي هغه د خبر قائمقام نه شي جوړيدلې

دوهمه وجه: په دې صورت کې مبتدا لره مقيد کول لازم راځي ځکه چې حال د خپل فاعل قيد جوړيدي شي حالانکه په مبتدا کې مقصود عموم وي په دې باندې دليل دادې چې اهل عرب په داسې موقع باندې مبتدا په عموم کې استعمالوي

څلورم مذهب: په ذهب الا خفش عبارت سره غرض د شارح بيان د څلورم مذهب دي د علامه اخفش مذهب دادې چې حال لره چې د کوم خبر قائمقام جوړ شوي دي هغه حاصل نه دي بلکه مصدر دي چې مضاف دي ذوالحال طرف ته او **ضربي زيدا قائما** په اصل کې **ضربي زيدا ضربه قائما** وو په دې کې **قائما** حال دي د **ه** ضمير نه بيا **ضربه** چې **قائما** کې عامل دي دې لره مو حذف کړو او **قائما** لره مو د دې قائمقام جوړ کړو، اودا خفش دليل دادې چې په دې کې قلت د حذف دي

ليکن دا مذهب هم د ضعف نه خالي نه دي ځکه چې عامل د مصدر ضعيف دي اوکله چې ضعيف عامل حذف شي نو عمل نه شي کولې

پنځم مذهب: **ذهب بعضهم**: په دې عبارت سره غرض د شارح د پنځم مذهب بيان دي د بعضې نحويانو لکه علامه درستويه: د علامه ابن پاشا مذهب دادې چې دا داسې مبتدا ده چې د دې هيڅ خبر نشته لکه څنګه چې په مبتدا قسم ثاني کې د مبتدا خبر نه وي همدارنګې دا د فعل په معنی کې دي **ضربي زيدا قائما** دا د **ما اضرب زيدا الا قائما** په معنی کې دي

د خبر د حذف وجوبي دريم مقام :

وَ ثَالِثُهَا كُلُّ مُبْتَدَإِ اِشْتَمَلَ خَبَرُهُ عَلَى مَعْنَى الْمُقَارَنَةِ وَ عُطِفَ عَلَيْهِ شَيْءٌ
اودريم هرهغه مبتدا چې شامل وي خبر د دې په معنی د مقارنت او عطف شوي دي په دې باندې بل څيز په هغه
بِالْوَاوِ الَّتِيْ بِمَعْنَى مَعَ وَذَلِكَ مِثْلُ كُلُّ رَجُلٍ وَضَيْعَتُهُ اَيْ كُلُّ رَجُلٍ مُقْرُوْنٌ مَعَ ضَيْعَتِهِ فَهٰذَا الْخَبَرُ وَاجِبٌ حَذْفُهُ
واو سره چې په معنی د مع سره وي لکه كل رجل وضيعته اى كل رجل مقرون مع ضيعته پس دا خبر واجب دي حذف
لِاَنَّ الْوَاوَ يَدُلُّ عَلَى الْخَبَرِ الَّذِيْ هُوَ مَقْرُوْنٌ وَ اُقِيْمَ الْمَعْطُوْفُ فِيْ مَوْضِعِهِ.
کول ددې ځکه چې واو دلالت کوي په خبر باندې چې مقرون دي او معطوف لره د دې قائمقام جوړ شو

خلاصه دمتن: كُلُّ رَجُلٍ وَضَيْعَتُهُ د خبر د حذف وجوبي دريم مثال صاحب دكافيې پيش كړي دي چې په دې سره يوې قاعدې طرف ته اشاره ده چې د هغې تفصيل په شرحه كې مذكور دي

اغراض دجامي: كُلُّ رَجُلٍ وَضَيْعَتُهُ: د حذف وجوبي دريم مثال صاحب دكافيې پيش كړي دي چې په دې سره يوې قاعدې طرف ته اشاره ده شارح دې قاعدې لره صراحتا بيانوي هر هغه مبتدا چې د دې خبر په مقارنت باندې مشتمل وي او په دې باندې يوشيز په ذريعې د معنى د مع سره عطف وي د داسې مبتدا خبر حذف كول واجب دي مثال كل رجل وضيعته د دې اصل كل رجل مقرون مع ضيعته دي په دې كې د مبتدا خبر مقرون دې كوم چې د مقارنت په معنى باندې مشتمل دي او واؤ په ذريعې دمعنى دمع په ضيعته باندې عطف دي لهذا د دې خبر حذف كول واجب دي ځكه چې د دې په حذف باندې قرينه هم موجود ده اوقائمقام يې هم موجود دي . قرينه پرې داده چې واو په معنى دمع سره دي ځكه چې معيت په مقارنت باندې دلالت كوي او قائمقام معطوف ضيعته دي

د خبر د حذف وجوبي څلورم مقام :

وَرَابِعُهَا كُلُّ مُبْتَدَاٍ يَكُوْنُ مُقْسَماً بِهٖ وَخَبَرُهُ الْقَسَمُ وَذٰلِكَ مِثْلُ لَعَمْرُكَ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا اَىْ لَعَمْرُكَ وَبَقَاؤُكَ قَسَمِيْ
اوڅلورم هر هغه مبتدا چې مقسم به وي او خبر د دې قسم وي لكه لَعَمْرُكَ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا يعني لَعَمْرُكَ وَبَقَاؤُكَ قَسَمِيْ
اَىْ مَا اُقْسِمُ بِهٖ فَلَا شَكَّ اَنَّ لَعَمْرُكَ يَدُلُّ عَلَى الْقَسَمِ الْمَحْذُوْفِ وَ جَوَابُ الْقَسَمِ قَائِمٌ
يعني مَا اُقْسِمُ بِهٖ پس هيڅ شک نشته چې لَعَمْرُكَ دلالت كوي په قسم محذوف باندې او جواب قسم د دې قائم
مَقَامَهُ فَيَجِبُ حَذْفُهُ وَ الْعَمْرُ وَ الْعُمْرُ بِمَعْنًى وَاحِدٍ وَ لَا يُسْتَعْمَلُ مَعَ اللَّامِ اِلَّا الْمَفْتُوْحُ
مقام د دې دي پس واجب دي حذف كول د دې او عَمر او عُمر په يو معنى دي او نه استعماليږي دلام سره مګر مفتوح
لِاَنَّ الْقَسَمَ مَوْضِعُ التَّخْفِيْفِ لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِهٖ.
ځكه چې قسم د تخضيض خاې دي د كثرت استعمال دوجې نه .

خلاصه دمتن: په دې مقام كې صاحب دكافيې د خبر دحذف وجوبي څلورم مثال پيش كړو چې هغه لَعَمْرُكَ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا دي چې په دې سره يوې قاعدې طرف ته اشاره ده چې تفصيل يې لاندې په شرحه كې ذكر كيږي .

اغراض دجامي: ورابعها: څلورم مثال بيانوي چې د دې نه يوه قاعده اوضابطه معلوميږي چې هر هغه مبتدا چې مقسم به وي او د دې خبر لفظ قسم وي نو په دې كې حذف دخبر واجب

دي مثال لَعَمْرُکَ لَاَفْعَلَنَّ کَذَا دا په اصل کې لعمرک قسمي لافعلن کذا خبر قسمي په وجوبي طور باندې حذف دي ددې په حذف باندې قرينه هم موجود ده او قائمقام هم موجود دي ، قرينه پرې لام دقسم دي ځکه چې لام قسم په قسم باندې دلالت کوي او دجواب قسم قائمقام دي ددې وجې نه دخبر حذف کول واجب دي .

اى لعمرک وبقاؤک: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې عَمْرو په فتحې سره په معنى د بقاء ده

اى ما اقسم به: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې عَمْرو په فتحې سره په معنى د **بقاء** سره وي نوخبر محذوف **قسمي** په دې باندې حمل کول صحيح نه دي ځکه چې بقاء دمخاطب صفت دي اوقسم دمتکلم فعل دي .

جواب : قسمي په معنى د **ما اقسم به** کې دي لهذا حمل يې صحيح کيږي .

والعَمر والعُمر: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : عَمرو په فتحې سره او عُمرو په ضمې سره ددې دواړو په مينځ کې ترادف دي ياتغائر ؟ که ترادف وي نو دعمر بالفتح تخصيص يې ولې وکړو ؟

جواب : ان کې ترادف دي باقي عمرو بالفتح تخصيص يې ددې وجې نه وکړو چې په لام قسم سره عمرو بالفتح مستعمليږي ځکه چې قسم د کثرت استعمال د وجې نه موضع تخفيف دي او تخفيف تقاضا دفتحې کوي .

﴿خَبَرُ اِنَّ وَاَخَوَاتِهَا﴾ :

دانَ دخبر تعريف :

خَبَرُ اِنَّ وَاَخَوَاتِهَا اَىْ مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ خَبَرُ اِنَّ وَ اَخَوَاتِهَا اَىْ اَشْبَاهِهَا مِنَ الْحُرُوْفِ الْخَمْسِ الْبَاقِيَةِ
خبردان اوداخواتودي دمرفوعاتوڅخه دي خبردانَ اوددې داخواتويعني داشباهوددې دحروفوخمسوباقيونه
وَ هِيَ اَنَّ وَ كَاَنَّ وَ لٰكِنَّ وَ لَيْتَ وَ لَعَلَّ وَ هُوَ مَرْفُوْعٌ بِهٰذِهِ الْحُرُوْفِ لَا بِالْاِبْتِدَاءِ عَلَى
دي اوهغه ان .کان .لکن .ليت .لعل دي اودامرفوع وي ددې حروفوپه وجه نه دابتدائيت په وجه په مذهب
الْمَذْهَبِ الْاَصَحِّ لِاَنَّهَا لَمَّا شَابَهَتِ الْفِعْلَ الْمُتَعَدِّيَ كَمَا يَجِيْءُ عَمِلَتْ رَفْعاً وَ نَصْباً مِثْلَهُ هُوَ
صحيح باندې ځکه چې کله دادفعل متعدي سره مشابه وی لکه چې راروان دي نوعمل به کوي درفعې اود

اَیْ خَبَرُ اِنَّ وَ اَخَوَاتِهَا الْمُسْنَدُ اِلیٰ شَیْءٍ اٰخَرَ بَعْدَ دُخُوْلِ اَحَدِ هٰذِهِ الْحُرُوْفِ عَلَیْهِمَا
نصب په شان دذې يعني خبرد ان اوداخواتو چې مسندوي بل څيز ته پس دد خول ديودد ې حروفونه په دې دواړو
فَقَوْلُهُ الْمُسْنَدُ شَامِلٌ لِخَبَرِ کَانَ وَ خَبَرِ الْمُبْتَدَاءِ وَ خَبَرِ لَا الَّتِیْ لِنَفْیِ الْجِنْسِ وَ
باندې پس دده داقول المسند دا شامل دې دخبرد کان اوخبرد مبتدا اوخبرد هغه لاچې دنفي دجنس دپاره وي او
غَیْرِهَا وَ بِقَوْلِهٖ بَعْدَ دُخُوْلِ هٰذِهِ الْحُرُوْفِ خَرَجَ جَمِیْعُهَا عَنْهُ وَ الْمُرَادُ
غيردې نه اوپه دې قول سره چې بعد دخول هذه الحروف نو په دې سره ټرې خارج شو ټول ددې نه اومراد په
بِدُخُوْلِ هٰذِهِ الْحُرُوْفِ عَلَیْهِمَا وُرُوْدُهَا عَلَیْهِمَا لِاِیْرَاثِ اَثَرٍ فِیْهِمَا لَفْظاً اَوْ مَعْنًی
دخول ددې حروفو سره په دې باندې ورودددې په دې دواړوباندې دپاره دپيدا کولو داثر په دې کې لفظا اومعنا
فَلَا یَنْتَقِضُ التَّعْرِیْفُ بِمِثْلِ یَقُوْمُ فِیْ قَوْلِنَا اِنَّ زَیْداً یَقُوْمُ اَبُوْهُ فَاِنَّ یَقُوْمُ هٰهُنَا مِنْ حَیْثُ اِسْنَادِهٖ اِلیٰ
نونه ماتيږي تعريف په دې يقوم سره زمونږ په قول ان زيدا يقوم ابوه کې ځکه چې يقوم دلته په اعتبارد مسند
اَبُوْ لَیْسَ مِمَّا یَدْخُلُ عَلَیْهِ اِنَّ بِهٰذَا الْمَعْنیٰ بَلْ اِنَّمَا دَخَلَ عَلیٰ جُمْلَةِ یَقُوْمُ اَبُوْهُ
ابوطرف ته نه دې ددې نه چې داخل وي په دې باندې ان په دې معنی سره بلکه دا داخليږي په جملې ديقوم ابوه
فَلَا یَحْتَاجُ اِلیٰ اَنْ یُّجَابَ عَنْهُ بِاَنَّ الْمُرَادَ بِالْمُسْنَدِ الْمُسْنَدُ اِلیٰ اِسْمِ هٰذِهِ الْحُرُوْفِ
سره نواحتياج نه لري دې ته چې جواب ورکړې شي ددې نه چې مراد په المسندچې مسندوي داسم ددې حروفو ته
وَ یَلْزَمُ مِنْهُ اسْتِدْرَاکُ قَوْلِهٖ بَعْدَ دُخُوْلِ هٰذِهِ الْحُرُوْفِ وَلَا اِلیٰ اَنْ یُّجَابَ بِاَنَّ الْمُرَادَ بِالْمُسْنَدِ
اولازم دې ددې نه استدراک اودده داقول چې بعددخول هذه الحروف اونه داچې جواب ورکړې چې مراد په مسند
الْاِسْمُ الْمُسْنَدُ فَیَحْتَاجُ اِلیٰ تَاْوِیْلِ الْجُمْلَةِ بِالْاِسْمِ حَیْثُ یَکُوْنُ خَبَرُهَا جُمْلَةً مِثْلُ
سره اسم مسند دې نومحتاج به شي تاويل دجملې په اسم پورې په داسې شان سره چې خبرددې به جمله وي لکه
اِنَّ زَیْداً یَقُوْمُ مِثْلُ قَائِمٌ فِیْ اِنَّ زَیْداً قَائِمٌ فَاِنَّهُ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِ هٰذِهِ الْحُرُوْفِ.
ان زيدا يقوم .په مثل دقائم په ان زيدا قائم کې نودامسند دې پس ددخول ددې حروفونه .

خلاصه دمتن: دمبتدا اوخبر دبحث نه دفارغيدو نه پس اوس نور مرفوعات بيانوي د مرفوعاتو څخه يو ان اوددې داخواتو خبر دې بيا مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ ددې تعريف وکړو چې ان او ددې د اخواتو خبر اصطلاحي تعريف دادې چې هغه ددې حروفو د داخليدو نه پس مسند وي .

اغراض دجامي : اي من المرفوعات: په دې عبارت سره غرض دشارح دابيانوي چې خبر دان واخواتها مبتدا دې ددې خبرمحذوف دې چې من المرفوعات دې دا په اصل کې من المرفوعات خبر ان واخواتها دې .

ای اشباهها: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د اخوات اضافت ضمير ان طرف ته صحيح نه دي ځکه چې د اخواتو معنی ده خويندې يعنې ، خورياني ، ځکه چې ددې استعمال په ذوي العقول کې کيږي ان وغيره خو غير ذوي العقول دي ؟

جواب: د اخوات معنی اشباه ده دقبيل ذکر دملزوم اواراده ترې لازم نه دي ځکه چې اخ لره مشابهت لازم دي

من الحروف: په دې کې داخوات مصداق متعينوي چې دان نه مراد باقي پنځه حروف دي

وهي ان: نه باقي پنځه حروفو مصداق متعين کړو چې دحروف خمسو باقيو نه مراد ان ، كان ، ليت ، لكن ، لعل دي

وهو المرفوع: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دمبتدا دخبر نه پس دان وغيره خبر ذکر کول مستدرک اوبې فائدې دي ځکه چې ان وغيره صرف په خپل اسم کې عمل کوي په خبر کې عمل نه کوي دان خبر لکه څنګه چې په ان داخليدو نه مخکې د عامل معنوي د وجې نه مرفوع وو ددې د داخليدو نه پس هم دا عامل (ابتداء) دوجې نه مرفوع دي نه دان دحروفو دوجې نه لهذا دمبتدا خبر نه دوباره خبر د ان واخواتها ويل تکرار دي .

جواب: زمونږ کلام دبصريې دنحويانو دمذهب مطابق دي ، اودبصريې دنحويانو په نزد ان وغيره خبر ددې حروفو دوجې نه مرفوع دي نه د عامل معنوي (دابتداء) دوجې نه لهذا دمبتدا دخبر نه پس ددې ذکر مستدرک اوبې فائدې نه شو اودامذهب اصح دي ځکه چې ان اوددې نظائر دفعل متعدي مشابه دي لفظا اومعناً ، لفظاددې وجې نه چې لکه څنګه فعل متعدي ثلاثي اورباعي وي همدارنګې ددوې نه بعضې (انّ ، انّ ليت) ثلاثي دي اوبعضې (كانّ ، لكنّ ، لعلّ) رباعي دي اومعنا ددې وجې نه چې په دې کې دفعل معنی موندل کيږي لکه ان اوان په معنی دحققت اوکان په معنی دشبهت اولکن په معنی د استدرکت ، اولعل په معنی دترجيت ، او ليت په معنی دتمنيت کې دي چې کله داحروف لفظاًومعنی دفعل متعدي مشابه وي نوددې عمل هم فعل متعدي والاته يې ورکړو اوفعل متعدي په دوه اسمونوکې عمل کوي : (۱) فاعل

(۲) مفعول ، نو دا حروف هم په دوه اسمونو کې عمل کوي ، بیا دفعل متعدي دوه عملونه دي (۱) عمل اصلي (۲) عمل فرعي ، عمل اصلي دادې چې فاعل مرفوع مخکې او منصوب وروسته ، او عمل فرعي دادې چې منصوب مقدم مرفوع فاعل مؤخر چونکه حروف مشبه بالفعل دفعل متعدي فرعه ده ځکه دې فعل متعدي ته یې عمل فرعي ورکړو نولهذا ددې اول اسم منصوب او دویم به مرفوع وي

احد: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر حواب ورکول دي

سوال : ان وغیره دخبر تعریف جامع نه دي ځکه چې دا په ان زیدا قائم کې په قائم باندې صادق نه راځي ځکه چې دا په ټولوحروفو باندې دداخلیدونه پس مسند نه وي بلکې د حرف د ان د داخلیدو نه پس مسند وي حالانکه د بعد دخول هذه الحروف نه معلومیږي چې ان او داخواتها خبر هغه دي چې ددې ټولو حروفو د داخلیدو نه پس مسند وي حالانکه داخلاف واقع او بدیهي البطلان وي .

جواب : دخول مضاف دي ددې مضاف الیه محذوف دي چې احد دي دا په اصل کې وو بعد دخول احد هذه الحروف اوس داتعریف په ان زیدا قائم کې په قائم باندې صادق راځي ځکه چې دا په دې کې په یو حرف باندې دداخلیدو نه پس مسند وي .

علیها: په دې سره غرض دشارح ددخول دصلې بیان دي .

فقوله المسند: په عبارت سره غرض دشارح دفوائدو او دقیوداتو بیان دي چې په تعریف کې المسند په منزلې دجنس دي کوم چې دمبتدا خبر دکان خبراو لای نفي جنس غیر دټولو خبر ته شامل دي او بعد هذه الحروف دا په منزلـه دفصل دي ددې نه ان او ددې نظائر خبر نه غیر باقي ټول خبرونه ترې خارج شول .

والمراد بدخول: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دان وغیره خبر تعریف ددخول دغیر نه مانع نه دي ځکه چې دا ان زیدا یقوم ابوه کې فقط په یقوم باندې صادق راځي ځکه چې دا ان دداخلیدونه وروستو ابوه طرف ته مسند دي حالانکه صرف یواځې یقوم دان خبر نه دي بلکه دان خبر یقوم ابوه پوره جمله ده شارح جامي ددې سوال درې جوابونه ورکوي :

جواب (۱): د دخول نه مراد د دې حروف په مسند او مسند اليه باندې داسې وارديدل چې په هغې کې اثر لفظي او اثر معنوي پيدا کړي ، داثر معنوي مطلب دادې چې دامسند لره على وجه التحقيق مسند اليه دپاره ثابت کړي اوس په **ان زيدا يقوم ابوه** کې په **يقوم** باندې دان دخول په دې معنى سره متحقق نه دې ځکه چې دلته په **يقوم** کې نه خو څه اثر لفظي ظاهر شو اونه اثر معنوى ظاهر شو اثر لفظي داوو چې **يقوم** د ان دداخليدو نه وروستو مرفوع وي حالانکه **يقوم** دان دداخليدو دوجې نه مرفوع نه شو او اثر معنوي داوو چې **ان يقوم** لره د زيد دپاره **على وجه التحقيق** ثابتولې شي حالانکه دلته زيد دپاره قيام **على وجه التحقيق** ثابت نه دې بلکه قيام دابوه دپاره ثابت دې لهذا **ان زيدا يقوم ابوه** سره اعتراض نه واردېږي البته دلته **يقوم ابوه** مجموعه باندې دان دخول په دې معنى سره متحقق دې ځکه چې د **ان** په **يقوم ابوه** کې اثر لفظي هم دې اواثر معنوي هم دې اثر لفظي خو ځکه دې چې **يقوم ابوه** دان داخليدو نه وروستو مرفوع شوي دې او اثر معنوي خو ځکه دې چې **قيام** اوس د زيد د پاره **على وجه التحقيق** ثابت دې .

فلايحتاج: په دې عبارت سره غرض دشارح دمذکوره اعتراض دوه (۲) جوابونه نقل کول اوپه هغوي باندې رد کول دي .

جواب (۲): بعضې نحويانو داجواب ورکړي دي چې دمسندنه مراد **مسند الى اسماء هذه الحروف** دي نو اوس داتعريف په **ان زيدا يقوم ابوه** کې په **يقوم** باندې صادق نه راځي ځکه چې په دې کې **يقوم** د **ان** نه اسم طرف ته مسند نه دې بلکه ابوه طرف ته مسند دې .

رد جواب (۲): شارح دې جواب لره رد کړي دې ځکه چې که چيرته مسند نه **مراد مسند الى اسماء هذه الحروف** وي نو **بعد دخول هذه الحروف** والاعبارت به مستدرک اوبې فائدې وي ځکه چې په دې صورت کې د **المسند** دقيد نه **دکان** اومبتدا وغيره خبر به خارج شي اوددې قيد هيڅ ضرورت به باقي پاتې نه شي .

جواب (۳): بعضې حضراتو مذکوره اعتراض ته داجواب ورکړي دې چې په تعريف کې دمسند نه مراد اسم مسند دې لهذا داتعريف په **يقوم** باندې صادق نه راځي ځکه چې هغه فعل مسند دې اسم مسند نه دې نو لهذا په دې سره نقض نه واردېږي .

رد جواب(۳): شارح دې جواب لره هم ردکړي دي چې داجواب تام نه دی ځکه چې بعضې وخنونو کې د ان خبر جمله وي مثال لکه ان زیدا یقوم دلته ان خبر یقوم دي کوم چې جمله ده که مسند نه مراد اسم مسند وي نو دجملې په صورت کې به جملې لره داسم په تاویل کې کول پکار وي

قائم في: په دې عبارت سره غرض دشارح دادې چې خبرد ان زیدا قائم مجموعه نه ده بلکه فقط قائم خبر دي

فانه المسند: په دې عبارت سره غرض دشارح مثال دممثل له سره تطبیق کول دي چې په دې کې قائم خبر دي ځکه چې هغه ددې حروفو نه یو حرف یعنې د ان دداخلیدو نه وروستو مسند دي .

دانّ د خبر احکامات :

وَ اَمْرُهٗ كَاَمْرِ خَبَرِ الْمُبْتَدَاِ اَیْ حُكْمُهٗ كَحُكْمِ خَبَرِ الْمُبْتَدَاِ فِیْ اَقْسَامِهٖ مِنْ كَوْنِهٖ
اوامرددې په شان دامرد خبرد مبتدا دی یعنې حکم ددې په شان دحکم دخبرد مبتدا دي په اقسامو کې دکیدودې
مُفْرَداً وَ جُمْلَةً وَ نَكِرَةً وَ فِیْ اَحْكَامِهٖ مِنْ كَوْنِهٖ وَاحِداً وَ مُتَعَدِّداً وَ مُثْبَتاً وَ مَحْذُوْفاً وَ فِیْ
نه مفرداوجمله اونکره اومعرفه اودهغه په احکاموکې ددې کیدونه واحداومتعدداومثبت اومحذوف اوددې په
شَرَائِطِهٖ مِنْ اَنَّهٗ اِذَا كَانَ جُمْلَةً فَلَا بُدَّ مِنْ عَائِدٍ وَلَا یُحْذَفُ اِلَّا اِذَا عُلِمَ
شرائطوکې دي چې کله هغه جمله وي نودعائد کیدل ضروري دي اوحذف به نه شي کولی مگرکله چې معلوم
وَ الْمُرَادُ اَنَّ اَمْرَهٗ كَاَمْرِهٖ بَعْدَ اَنْ یَّصِحَّ كَوْنُهٗ خَبَراً بِوُجُوْدِ شَرَائِطِهٖ وَ انْتِفَاءِ مَوَانِعِهٖ
وي اومراددادې چې ددې امرپه شان دامردان دي چې صحیح وي کیدل ددې خبرپه وجود دشرائطواودمنفي کیدود
وَ لَا یَلْزَمُ مِنْ ذٰلِكَ اَنَّ كُلَّ مَا یَصِحُّ اَنْ یَّكُوْنَ خَبَراً لِلْمُبْتَدَاِ یَصِحُّ اَنْ یَّقَعَ خَبَراً
اولازم نه راځي ددې نه چې هرهغه څیزچې صحیح وي کیدل ددې خبردپاره دمبتدانوصحیح دي چې داواقع شي خبر
لِبَابِ اِنَّ حَتّٰى یَرِدَ اَنَّهٗ یَجُوْزُ اَنْ یُّقَالَ اَیْنَ زَیْدٌ وَ مَنْ اَبُوْكَ وَ لَا
دپاره دباب دان تردې پورې چې اعتراض واردشي چې جائزدي چې وویلې شي چې این زیداومن ابوک اونه دي
یَجُوْزُ اَنْ یُّقَالَ اِنَّ اَیْنَ زَیْداً وَ اِنَّ مَنْ اَبَاكَ اِلَّا فِیْ تَقْدِیْمِهٖ اَیْ لَیْسَ اَمْرُهٗ كَاَمْرِ
جائزچې وویلې شي ان این زیدا او ان من اباک مگرددې په مقدم کولوکې یعنې نشته امرددې په شان دامر د
خَبَرِ الْمُبْتَدَاِ فِیْ تَقْدِیْمِهٖ فَاِنَّهٗ لَا یَجُوْزُ تَقْدِیْمُهٗ عَلَى الْاِسْمِ وَ قَدْ جَازَ تَقْدِیْمُ الْخَبَرِ
خبراومبتداپه تقدیم ددې کې ځکه چې نه دي جائزتقدیم ددې په اسم باندې اوبه تحقیق سره جائزدي تقدیم دخبر
عَلَى الْمُبْتَدَاِ وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ هٰذِهِ الْحُرُوْفَ فُرُوْعٌ عَلَى الْفِعْلِ فِی الْعَمَلِ فَاُرِیْدَ اَنْ یَّكُوْنَ عَمَلُهَا
په مبتداباندې اوداددې وجې نه چې داحروف دافروع دي په فعل باندې په عمل کې نوداراده کړي چې عمل ددې

فَرْعِيًّا اَيْضاً وَ الْعَمَلُ الْفَرْعِيُّ لِلْفِعْلِ اَنْ يَتَقَدَّمَ الْمَنْصُوْبُ عَلَى الْمَرْفُوْعِ وَ الْاَصْلِيُّ اَنْ
فرعه وي همدارنګې اوعمل فرعي دپاره دفعل چې منصوب مقدم وي په مرفوع باندې اوعمل اصلي دادې چې
يَتَقَدَّمَ الْمَرْفُوْعُ عَلَى الْمَنْصُوْبِ فَلَمَّا اُعْمِلَتِ الْعَمَلَ الْفَرْعِيَّ لَمْ يُتَصَرَّفْ فِيْ
مخکې وي مرفوع په منصوب باندې پس کله چې دې ته عملي فرعي ورکړې شونوتصرف به نه شي کولې په دغه
مَعْمُوْلَيْهَا بِتَقْدِيْمِ ثَانِيْهِمَا عَلَى الْاَوَّلِ كَمَا يُتَصَرَّفُ فِيْ مَعْمُوْلَيِ الْفِعْلِ
دوه معمولو کې په تقديم ددويم سره په اول باندې لکه څنګه چې تصرف کولې شي په دواړو معمولو دفعل کې د
لِنُقْصَانِهَا عَنْ دَرَجَةِ الْفِعْلِ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ الْخَبَرُ ظَرْفًا اَیْ لَيْسَ اَمْرُهُ كَاَمْرِ خَبَرِ الْمُبْتَدَاِ فِيْ تَقْدِيْمِهٖ
وجې دنقصان ددرجې دفعل نه مګرچې وي خبرظرف يعنې چې نه وي امر ددې په شان دامر دخبراومبتدا په تقديم
اِلَّا اِذَا كَانَ ظَرْفًا فَاِنَّهٗ حُكْمُهٗ اِذَا حُكْمُهٗ فِيْ جَوَازِ التَّقْدِيْمِ اِذَا كَانَ
ددې مګرچې کله داظرف وي پس بې شک دهغه حکم هغه وخت کې حکم دې مقدم کيدوپه جائز کيدوکې چې کله
الْاِسْمُ مَعْرِفَةً نَحْوُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى اِنَّ اِلَيْنَا اِيَابَهُمْ وَ فِيْ وُجُوْبِهٖ اِذَا كَانَ الْاِسْمُ نَكِرَةً
اسم معرفه وي مثال لکه دالله تعالى داقول اِنَّ اِلَيْنَا اِيَابَهُمْ اوهغه لره واجب کيدوکې چې کله اسم نکره وي
نَحْوُ اِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْراً وَ اِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِكْمَةً وَ ذٰلِكَ لِتَوَسُّعِهِمْ فِي الظُّرُوْفِ
لکه اِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْراً وَاِنَّ مِنَ الشِّعْرِ لَحِكْمَةً اوداپه وجې دهغه دوسعت په کيدوسره په ظروف کې او په
مَا لَا يُتَوَسَّعُ فِيْ غَيْرِهَا.
غير ظروف کې وسعت نه شي کيدې.

خلاصه دمتن: غرض دصاحب دکافيې ددې ځاې نه خبر د ان حکم بيانول دي چې د ان وغيره دخبر حکم دمبتدا دخبر دحکم په شان دي خو بياهم ددې نه باب تقديم مستثنى دي يعنې همداسې خو ان وغيره دخبر حکم دمبتدا دحکم خبر دحکم په شان دي ليکن يو فرق په کې شته دي چې دمبتدا دخبر تقديم په مبتدا باندې جائز دې او ان وغيره خبر دتقديم دهغې په اسماء باندې جائز نه دي مګر چې کله ان وغيره خبر ظرف وي نو باب تقديم يعنې (يعنى مقدم کيدو په صورت کې) هم ان وغيره خبر حکم مبتدا دخبر دحکم په شان دي يعنې بيا تقديم دخبر هم جائز دي.

اغراض دجامي: <u>اى حكمه كحكم</u>: په دې عبارت سره غرض دشارح دامر دمعنى بيانول دي چې د امر معنى حکم دي يعنې د ان وغيره دخبر حکم مبتدا دخبر دحکم په شان دي.

في اقسامه: د دې خاې نه وجه د مشابهت بيانوي ، وجه د مشابهت د احكامو او شرائطو په اقسامو كې د خبر د مبتدا د حكم په شان دي مطلب دادې چې څنګه خبر د مبتدا مفرد وي جمله وي معرفه وي نكره وي د په شان كيدو مطلب دادې چې څنګه د مبتدا خبر يو وي متعدد وي محذوف وي مثبت وى هـ... رنګې د ان وغيره خبر كله يو وي متعدد وي محذوف وي ، مثبت وي او به شرائطو كې دهغه په شان كيدو مطلب دادې چې څنګه د مبتدا خبر كه چيرته جمله وي نو نه هغې عائد كيدل شرط دي اودې عائد لره حذف كول هم جائز دي كله چې قرينه موجود وي د غه شان دان وغيره خبر چې كله جمله وي نو د هغې عائد كيدل شرط دي كوم چې هغه اسماء طرف ته راجع وي هغه لره حذف هم جائز دي ځكه چې په دې باندې څه قرينه موجودوي وغيره وغيره .

والمراد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي .

سوال : مونږ داخبره نه منو چې ان وغيره خبر حكم دمبتدا د خبر دحكم په شان وي ځكه چې اين او من داخو دمبتدا دپاره خبر جوړيدې شي مثال لكه اين زيد من ابوك ليكن د ان وغيره خبر نشي جوړيدې داسې ويل جائز نه دي چې ان اين زيد ان من اباك ځكه چې ان تحقيق دپاره راځي او اين او من د استفهام دپاره راځي په دې دواړو كې منافات دي .

جواب : د دې نه مراد دادې چې د ان وغيره خبر حكم دخبر دمبتدا په شان هله وي چې دمخكې نه هغه لره خبرجوړول صحيح خو وي دې لره اكثر خبر جوړول صحيح نه دي دموانعو دوجې نه اود شرائطو د نه موندلو دوجې نه نود هغه حكم دمبتدا دخبر په شان نه دي د دې نه دانه لازميږي چې هر هغه لفظ چې دهغې مبتدا دخبر جوړول صحيح وي هغه د ان وغيره خبر جوړيدل صحيح دي لهذا اوس د اين او من سره نقص نه وارديږي .

اى ليس امره: په دې عبارت سره غرض دشارح حاصل داستثناء بيانول دي چې په باب دتقديم كې ان وغيره خبر دحكم دمبتدا دخبر په شان نه دي ځكه چې تقديم دخبر په مبتدا باندې جائز دي اود ان وغيره خبر تقديم په هغه اسماء باندې جائز نه دي .

وذلك: په دې عبارت سره غرض دشارح د ان وغيره دتقديم دخبر دعدم جواز وجه بيانوي چې حاصل يې دادې چې داحروف په عمل كې دفعل فرع دي لهذا مناسب داده چې دې لره د فعل عمل فرعي وركړې شي اودفعل عمل فرعي دادې چې منصوب دمرفوع نه مقدم وي او عيمل

اصلي دادې چې مرفوع د منصوب نه مقدم وي کله چې هغه لره دفعل عمل فرعي ورکړې شو نو هغې دواړو معمولينو نه په اول باندې ثاني نه شي مقدم کولې ورنه د هغه عمل به باطل شي لکه څنګه چې دفعل دواړو معمولينو څخه اول باندې ثاني لره مقدم کيږي ځکه چې ددغې حروفو درجه دفعل نه کمه ده.

الخبر: په دې عبارت سره غرض دشارح **يكون** دضمير مرجع متعين کول دي چې دضمير مرجع الخبر ده

اى ليس امره: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دمصنف په عبارت کې دحرف عطف نه بغير ديو مستثنى منه نه دوه استثنالازم راځي: (۱) **الا في تقديمه**، (۲) **الا ان يكون ظرفاً**، حالانکه دا ناجائز دي.

جواب: **الا ان يكون ظرفا** دمستثنى منه اول نه استثنى نه ده بلکه دمستثنى منه اول مستثنى نه استثناء ده مقصد دعبارت دادې چې په باب دتقديم کې ان وغيره دخبر حکم مبتدا دخبر حکم په شان نه دي مګر کله چې ان وغيره خبر ظرف وي نو باب تقديم يعنې تقديم په صورت کې ان وغيره خبر حکم دمبتدا دخبر په شان دي يعنې لکه څنګه چې مبتدا معرفه وي نو خبر دتقديم دظرف جائز دي مثال **في الدار زيد** دغه شان کله ان وغيره اسم معرفه وي نو دهغې خبر ظرف لره په اسم باندې مقدم کول جائز دي مثال **ان الينا ايابهم**، اوکه مبتدا نکره وي نو خبر ظرف لره په مبتدا باندې واجب دي مثال **في الدار رجل** دغه شان کله چې ان وغيره اسم نکره وي نو خبر ظرف لره د اسم نه مخکې کول واجب دي مثال لکه **ان من البيان لسحرا**، **ان من الشعر لحكمة**.

وذلک لتوسعهم: ددې ځاې نه داستثناء ثاني علت بيانوي چې لکه ان وغيره خبر ظرف وي نو بيا په باب دتقديم کې د ان وغيره خبر حکم مبتدا دخبر دحکم په شان ددې وجې نه دي چې ظروف کې هغه توسع وي کوم چې په غير ظروف کې نه وي مشهوره ضابطه او قاعده ده چې **يتوسع في الظروف مالايتوسع في غيرها**.

وجه دوسعت: وجه دوسعت داده چې ظرف په منزله دمحارم کې وي ځکه چې هر فعل څه نه څه زمان يا مکان کې ضرور وي برابره خبره ده که دا مکان يا زمان سره ذکر شي او يا نه ځکه

چې په ظرف کې وسعت وي

د لای نفي جنس د خبر تعريف:

خَبَرُ لَا الَّتِي الْكَائِنَةِ لِنَفْيِ الْجِنْسِ اَيْ لِنَفْيِ صِفَتِهِ اِذْ لَا رَجُلَ قَائِمٌ مَثَلاً لِنَفْيِ الْقِيَامِ

خبر د هغه چې کائن وي د پاره د نفي د جنس يعني د پاره د نفي د صفت خکه چې لا رجل قائم مثلا د پاره د قيام د نفي

عَنِ الرَّجُلِ لَا لِنَفْيِ الرَّجُلِ نَفْسِهِ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلٰى شَيْءٍ اٰخَرَ هٰذَا شَامِلٌ لِخَبَرِ الْمُبْتَدَاِ وَخَبَرِ اِنَّ وَ

دي د رجل نه نه د نفي د نفس رجل چې دا مسند وي يو بل څيز طرف ته او دا شامل دي د پاره د خبر د مبتدا او د خبر د ان او د

كَانَ وَغَيْرِهَا بَعْدَ دُخُوْلِهَا اَيْ بَعْدَ دُخُوْلِ لَا فَخَرَجَ بِهٖ سَائِرُ الْاَخْبَارِ وَ الْمُرَادُ

کان وغيره نه دې د داخليدو نه وروستو يعني لا د داخليدو نه پس نو خارج يږي په دې سره باقي خبرونه او مراد په

بِدُخُوْلِهَا مَا عَرَفْتَ فِيْ خَبَرِ اِنَّ فَلَا يَرِدُ نَحْوُ يَضْرِبُ فِيْ لَا رَجُلَ يَضْرِبُ اَبُوْهُ

دخول د دې سره هغه دي چې تا پيژندلي دي په خبر د ان کې پس نه وارد يږي په مثال د يضرب لا رجل يضرب ابوه کې

نَحْوُ لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ وَ اِنَّمَا عَدَلَ عَنِ الْمِثَالِ الْمَشْهُوْرِ وَ هُوَ قَوْلُهُمْ لَا رَجُلَ فِيْ

مثال لا غلام رجل ظريف او مصنف د مثال مشهور نه عدول کړي دي او هغه د دوی قول دي چې لا رجل في الدار د وجې

الدَّارِ لِاِحْتِمَالِ حَذْفِ الْخَبَرِ وَ جَعْلِ فِي الدَّارِ صِفَتَهٗ بِخِلَافِ مَا ذَكَرَهٗ

د احتمال د حذف د خبر او ګرځولې په في الدار سره صفت د دې په خلاف د هغه مثال سره چې هغه يې ذکر کړي دي

لِاَنَّ غُلَامَ رَجُلٍ مُعْرَبٌ مَنْصُوْبٌ لَايَجُوْزُ اِرْتِفَاعُ صِفَتِهٖ عَلٰى مَا هُوَ الظَّاهِرُ فِيْهَا

خکه چې غلام رجل معرب منصوب دي د دې صفت مرفوع کيدل لکه څنګه چې ظاهر دي او جائز نه دي په دې کې

اَيْ فِي الدَّارِ خَبَرٌ بَعْدَ خَبَرٍ لَا ظَرْفُ ظَرِيْفٍ وَلَا حَالٌ لِاَنَّ الظَّرَافَةَ لَا يَتَقَيَّدُ بِالظَّرْفِ

يعني في الدار کې دا خبر دې پس د خبر نه ظرف د ظريف نه او نه د حال نه خکه چې ظرافت نه مقيد کيږي په ظرف سره

وَ نَحْوِهٖ وَ اِنَّمَا اَتٰى بِهٖ لِئَلَّا يَلْزَمَ الْكِذْبُ بِنَفْيِ ظَرَافَةِ كُلِّ غُلَامِ رَجُلٍ وَ

او په مثل د دې او را تګ کړي دي مصنف په دې سره چې لازم نه شي کذب د انسان په نفي د ظرافت د هر غلام سره او

لِيَكُوْنَ مِثَالاً لِنَوْعَيْ خَبَرِهَا الظَّرْفِ وَ غَيْرِهٖ وَ يُحْذَفُ خَبَرُ لَا هٰذِهٖ حَذْفًا كَثِيْرًا اِذَا كَانَ

د دې د پاره چې شي مثال د پاره د خبر د دواړو صورتونو ظرف او غير ظرف ته او حذف کيږي خبر د لا زيات کله چې

الْخَبَرُ عَامًّا كَالْمَوْجُوْدِ وَالْحَاصِلِ لِدَلَالَةِ النَّفْيِ عَلَيْهِ نَحْوُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَيْ لَا اِلٰهَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا اللّٰهُ.

خبر عام وي لکه موجود او حاصل د پاره د دلالت د نفي په دې باندې لکه لا اله الا الله اي لا اله موجود الا الله.

خلاصه د متن: د مرفوعاتو نه د لای نفي جنس د خبر تعريف کوي چې د لای نفي جنس خبر هغه دي چې د لا د داخليدو نه وروستو يو بل څيز طرف ته مسند وي مثال لکه لا غلام رجل

ظريف فيها

اغراض دجامي : **ويحذف**: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې دلای نفي جنس خبر اکثر محذوف وي

الكائنة: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې دا **لنفي الجنس** دظرف مستقر **الكائنة** محذوف متعلق دي .

اى لنفي صفته: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : **لا رجل قائم** کې لا نه جنس **رجل** نفي نه ده بلکه **رجل** نه صفت دقيام نفي ده نولای نفي جنس ويل څنګه صحيح شول ؟ .

جواب : دمصنف په عبارت کې **لنفي** مضاف دي ددې مضاف اليه محذوف دي چې صفت دي اصل کې دا داسې وو چې **لنفي صفة الجنس** .

الى شئ آخر: په دې عبارت سره شارح د **المسند** دصلی بيان کوي .

هذا شامل: په دې عبارت سره شارح اشاره کړې ده چې **المسند** په منزله دجنس دي خبر دمبتدا ان وغيره خبر ټولو ته شامل دي .

اى بعد دخول لا: په دې عبارت سره شارح په **دخولها** کې د **ها** ضمير مرجع بيانوي .

فخرج به: دا په منزله دفصل دي په دې سره ترې د لای نفي جنس دخبر نه غير ټول خبرونه خارج شول .

والمراد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا داتعريف مانع نه دي دا په **لارجل يضرب ابوه** کې په **يضرب** باندې صادق راځي ځکه چې د لا داخليدو نه وروستو مسند الى الشيء وي اوهغه شي **ابوه** دي حالانکه فقط **يضرب** دهغه خبر نه دي بلکه خبر خو **يضرب ابوه** پوره جمله ده .

جواب : ددې جواب بعينه هغه دي کوم چې په مخکې باب کې تير شو ، اوددخول نه مراد دادې چې لای نفي جنس مسند او مسنداليه باندې وارد وي په دې کې داثر لفظي اوداثر معنوي دپيداکولودپاره اثر لفظي دادې چې مسند اليه منصوب اومسند مرفوع وي اواثر معنوي دادې چې مسند دمسنداليه نه نفي وکړي اودلته يضرب باندې د لا دخول په دې معنی

متحقق نه دي ځکه چې دلته نه اثر لفظي دي او نه اثر معنوي اثر لفظي داوو چې د يضرب لا. ددخول نه پس مرفوع دي حالانکه دامرفوع نه دي اواثر معنوی ځکه نشته چې رجل نه دضرب نفي کيده حالانکه رجل نه د ضرب نفي نه ده بلکه يضرب ابوه د مجموعې نه نفي کيږي لهذا په دې سره نقض نه واردېږي ، او د يضرب ابوه په مجوعې باندې د لا دخول په دې معنی سره متحقق دي اثر لفظي په دې شان چې يضرب ابوه د لا داخليدو نه پس په محل درفع کې دي اواثر معنوي په دې شان چې رجل نه د ضرب اوس نفي وشوه.

وانما عدل: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مضنف دمثال مشهور لا رجل في الدار نه عدول ولې وکړو ؟ حالانکه دا مثال مختصر وو په نسبت سره مثال مذکور لاغلام رجل ظريف فيها چې په دې کې طوالت دي.

جواب: مصنف دمثال مشهور نه ځکه عدول وکړو ځکه چې په دې کې دا احتمال هم دي چې د في الدار رجل صفت وي اوخبر محذوف وي نو په دې وخت کې د مقصود نه حاصليدو په خلاف دمصنف مثال چې په دې کې دا احتمال نشته دي ځکه چې غلام رجل معرب منصوب دي او ظريف مرفوع دي او ظاهره خبره ده چې مرفوع دمنصوب صفت نشي جوړيدي.

على ما هو الظاهر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دمصنف په مثال کې هم احتمال دي چې ظريف دغلام رجل صفت وي ددې په محل باندې محمول شي ځکه چې رجل اگرکه لفظا منصوب دي ليکن محلا مرفوع دي ځکه چې په حقيقت کې مبتدا دي.

جواب: شارح په على ما هو الظاهر سره جواب ورکوي چې دا احتمال خلاف ظاهر اومرجوح دي راجح داده چې دا خبر دي.

فيها اى في الدار: په دې عبارت سره غرض دشارح د ها دضمير مرجع متعين کول دي چې في الدار دي.

خبر بعد خبر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دفيها په ترکيب کې دوه احتمالات دي ياخوظرف دي دظريف دپاره يادظريف ضمير دفاعل نه حال دي اودا دواړه احتمالات صحيح نه دي ځکه چې په دواړو صورتونو کې ظرافت

د ظرف سره مقيد کيدل لازم راځي حالانکه ظرافت د ظرفِ دار سره نه شي مقيد کيدي ځکه چې کوم غلام په دار کې ظريف دي هغه د دار نه خارج هم ظريف دي

جواب : **فيها** نه ظرف دي او نه حال دي بلکه داد لا خبر ثاني دي .

وانما اتى : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مثال خو لا غلام رجل ظريف باندې ختميږي مصنف د دې نه وروستو د **فيها** اضافه ولې وکړه حالانکه دې د مثال سره څه تعلق نشته دي ؟

جواب : شارح د دې سوال دوه جوابونه ورکړي دي :

جواب (١) : اول جواب دا دي چې مصنف د **فيها** اضافه د دې وجې نه وکړه چې کذب لازم نه شي ځکه چې غلام رجل نکره تحت النفي واقع ده او قاعده دا ده چې کله نکره تحت النفي واقع وي نو د عموم فائده ورکوي که چيرته **فيها** لره يې نه وي ذکر کړې نو معنی به يې داسې وي چې د هيڅ سړي څه غلام ظريف نه دي حالانکه دا دروغ دي ځکه چې ډيرو خلکو ډير غلام ظريف وي .

جواب (٢) : مصنف ظريف نه پس **فيها** د دې وجې نه ذکر کړه چې تنبيه يې وکړه چې د لای نفي جنس خبر په دوه قسمه دي : (١) ظرف . (٢) غير ظرف . اول مثال د ظرف او دويم مثال د غير ظرف .

ويحذف خبرُ لا : په دې سره غرض د شارح د يحذف د ضمير مرجع متعين کول دي چې مرجع يې خبرُ لا دي .

هذه : په دې سره مشبه بليس خارجوي ځکه چې د دې خبر اکثر محذوف نه وي .

حذفاً : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : **كثيرا** د **يحذف** مفعول مطلق دي حالانکه د مفعول مطلق شرط دا دې چې هغه د فعل سابق مصدر وي او **كثيراً** د **يحذف** مصدر نه دي نو مفعول مطلق جوړول صحيح نه دي .

جواب : په **حذفاً** سره جواب ورکوي چې **كثيراً** صفت وي د موصوف محذوفه د **حذفاً** د پاره چې هغه مفعول مطلق دي د **يحذف** ، نو بيا څه اشکال وارد نه شو .

اذا كان الخبر عاماً : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مصنف د عبارت نه معلومېږي چې د لای نفي جنس خبر اکثر محذوف وي على الاطلاق برابره خبره ده که د افعالو عامو څخه وي يا د افعال خاصو څخه وي حالانکه داسې نه ده بلکه د لای نفي جنس خبر حذف کثير په هغه وخت کې وي چې کله د افعال عامه څخه وي

جواب : شارح د جامي د اذا كان الخبر عاماً سره جواب ورکوي چې د لای نفي جنس خبر په هغه وخت کې اکثر محذوف وي چې کله هغه د افعال عامه څخه وي

لدلالة : په دې کې د حکم مذکور دوجې بيان دي د لای نفي جنس خبر کثير الحذف کيدل د دې وجې نه دي چې په دې باندې نفي دلالت کوي ځکه چې نفي تقاضا کوي د منفي او کله چې منفي خاص باندې څه قرينه موجود نه وي نو نفي راجع وي منفي عام طرف ته او منفي عام چې کله په لفظونو مذکور نه وي نو دا به قرينه وي چې هغه محذوف وي مثال لکه لا اله الا الله په دې کې د لا خبر محذوف دي چې موجود دي اصل کې داسې وو لا اله موجود الا الله

په لای نفي جنس کې د نحويانو اختلاف :

وَ بَنُوْتَمِيْمٍ لَا يُثْبِتُوْنَهُ اَىْ لَا يُظْهِرُوْنَ الْخَبَرَ فِي اللَّفْظِ لِاَنَّ الْحَذْفَ عِنْدَهُمْ وَاجِبٌ اَوِ الْمُرَادُ
او بنو تميم دا نه ثابتوي يعنې نه ظاهروي خبر په لفظ کې ځکه چې حذف د دوي په نزد واجب دي يا مراد دا دي چې
اَنَّهُمْ لَا يُثْبِتُوْنَهُ اَصْلاً لَا لَفْظاً وَلَا تَقْدِيْراً فَيَقُوْلُوْنَ مَعْنَى قَوْلِهِمْ لَا اَهْلَ وَلَا مَالَ اِنْتَفَى الْاَهْلُ
چې دوي دا بالکل نه ثابتوي نه لفظا او نه تقديرا پس دوي وايي چې معنى د دې قول لا اهل ولا مال دا ده چې انتفى الاهل
وَ الْمَالُ فَلَا يَحْتَاجُ اِلَى تَقْدِيْرِ خَبَرٍ وَ عَلَى التَّقْدِيْرَيْنِ يَحْمِلُوْنَ مَا يُرَى خَبَراً فِي مِثْلِ
والمال نو نه دي محتاج تقدير د خبر ته او په دواړو تقديرونو باندې حمل کوي هغه چې خبر معلومېږي په دې مثل
لَا رَجُلَ قَائِمٌ عَلَى الصِّفَةِ دُوْنَ الْخَبَرِ.
کې چې لا رجل قائم دا حمل کوي په صفت باندې نه په خبر باندې

خلاصه د متن : په دې عبارت سره غرض د شارح بيان د اختلاف د بنو تميم دي کوم چې د لای نفي جنس په باره کې راغلي دي چې بنو تميم دا لای نفي جنس د سره بالکل عامل نه مني .

اغراض د جامي : بنوتميم لايثبتونه اى لايظهرون : مصنف د دې عبارت په معنى کې دوه احتماله بيانوي شارح د دې وضاحت کوي . (۱) لايظهرون نه داولې معنى بيان دي چې بنو تميم د لای نفي جنس خبر لره په لفظ کې نه ظاهروي ځکه چې د دوي په نزد لای نفي جنس خبر لره حذف کول واجب دي په دې احتمال سره به دا ثابت شي چې بنوتميم د لای نفي جنس خبر لره

مني لیکن وایي چې همیشه به محذوف وي

او المراد: په دې عبارت سره غرض دشارح ددویمې معنی بیان کوي چې بنو تمیم دلای نفي جنس خبر لره بالکل نه ثابتوي نه لفظاً اونه تقدیراً او لا لره په خبر کې بالکل عامل نه مني

فیقولون: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: کله چې بنو تمیم دلای نفي جنس دخبر قائل نه دي نو لا اهل ولا مال والا کلام خوبه بې فائدې او لغوه شي اوددې نه به فائده تامه حاصله نه شي.

جواب: دهغوئ په نزد د لا اسم بمعنی انتفی دي دلا اهل ولا مال معنی داده چې انتفی الاهلُ والمالُ نو لهذا په دې صورت کې تقدیر دخبر طرف ته به احتیاج نه وي اوکلام به هم مفید وي.

وعلی التقدیرین: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مذکوره توجیه به په لا اهل ولا مال کې به په کار راشي لیکن لارجل قائم اوددې په شان نور مثالونه چې په هغې کې خبر محذوف نه وي بلکه مذکور وي دهغې په باره کې به هغوي څه وایي؟

جواب: هغوي دې لره په خبر باندې نه محمول کوي بلکه داپه صفت باندې محمول کوي مثلاً لا رجل قائم کې په ظاهر چې کوم خبر مذکور دي هغه دلاخبر نه دي بلکه د رجل صفت دي اومحل باندې محمول دي اومرفوع وي ځکه چې رجل دلا دوجې نه مبني په فتحې دي اودمبني تابع دهغې دمحل تابع وي.

دماولامشبهتین بلیس داسم تعریف:

اِسْمُ مَا وَ لَا الْمُشَبَّهَتَیْنِ بِلَیْسَ فِیْ مَعْنَی النَّفْیِ وَ الدُّخُوْلِ عَلَی الْمُبْتَدَاِ وَ الْخَبَرِ وَ لِهٰذَا
اسم دماولاچې مشابه وي دلیس معنی نفي سره اوپه مبتدااوخبرباندې داخلیدوکې اوددې وجې نه دادهغه په
تَعْمَلَانِ عَمَلَهٗ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَیْهِ هٰذَا شَامِلٌ لِلْمُبْتَدَاِ وَلِکُلِّ مُسْنَدٍ اِلَیْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَا خَرَجَ بِهٖ
شان عمل کوي دامسندالیه دي داشامل دي مبتدااوهرهغه مسندالیه ته پس دداخلیدونه پس خارج شو په دې سره
غَیْرُ اِسْمِ مَا وَلَا وَ بِمَا عَرَفْتَ مِنْ مَعْنَی الدُّخُوْلِ لَا یَرِدُ مِثْلُ اَبُوْهُ فِیْ مَا زَیْدٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ
غیرد اسم دماولانه اوهغه څیزچې تا پیژندلي دي دمعنی ددخول نه اونه وارد یږي مثل ابوه مازید ابوه قائم کې
مِثْلَ مَا زَیْدٌ قَائِمًا وَ لَا رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْکَ وَ اِنَّمَا اَتٰی بِالنَّکِرَةِ بَعْدَ لَا لِاَنَّ لَا لَا تَعْمَلُ اِلَّا فِیْ
مثال مازید قائما ولا رجل افضل منک اوراتګ یې وکړوپه نکرې سره وروستو دلانه ځکه چې لاعمل نه کوي مګرپه

النَّكِرَةِ بِخِلَافِ مَا فَإِنَّهَا تَعْمَلُ فِي الْمَعْرِفَةِ هٰذَا لُغَةُ اَهْلِ الْحِجَازِ وَ اَمَّا بَنُوْ تَمِيْمٍ
نکره کې په خلاف د ماپ شکه هغه عمل کوي معرفه کې دا د اهل حجاز و لغت دي او هرچې بنو تميم دي نو دوي
فَلَا يُثْبِتُوْنَ لَهُمَا الْعَمَلَ وَ يَقُوْلُوْنَ الْاِسْمُ وَ الْخَبَرُ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَا مَرْفُوْعَانِ بِالْاِبْتِدَاءِ كَمَا
نه ثابتوي دغه دواړو د پاره عمل او وايي چې اسم او خبر د دې داخليدو نه وروستو مرفوع وي د ابتداء دوجې نه لکه
كَانَ قَبْلَ دُخُوْلِهِمَا وَ عَلٰى لُغَةِ اَهْلِ الْحِجَازِ وَرَدَ الْقُرْآنَ نَحْوُ مَا هٰذَا بَشَراً.
څنګه چې وومخکې د دخول د دې دواړو نه او په لغت د اهل حجاز و نازل شوي دي لکه مثال ما هذا بشراً.

خلاصه د متن : د مرفوعاتو د اقسامو نه بل قسم د ما و لا المشبهتين بليس اسم دي د دې تعريف دا دې چې ما و لا مشبه بليس هغه اسم دي چې د دې د داخليدو نه وروستو دا مسند اليه وي.

اغراض د جامي : في معنى النفي : په دې عبارت سره د ما و لا د ليس سره د مشابهت وجه بيانوي چې په دې کې وجه د مشابهت معنى د نفي او مبتدا او خبر باندې داخليدل دي يعنې څنګه چې په ليس کې د نفي معنى موندلې شي او دا په مبتدا او خبر باندې داخليږي همدغه شان ما و لا کې هم نفي والا معنى موندلې شي او دا هم په مبتدا او په خبر باندې داخليږي.

ولهذا تعملان : په دې عبارت سره غرض د شارح ثمره د مشابهت بيانوي څکه چې ما و لا د ليس مشابه دي د دې وجې نه دا د ليس والا عمل کوي.

هو المسند اليه : په دې عبارت کې شارح د ما و لا مشابه بليس د اسم تعريف کوي چې ما و لا مشابه بليس دا هغه اسم دي چې د دې نه يو په داخليدو نه وروستو دا مسند اليه وي.

هذا : په دې عبارت سره فوائد د قيودو بيان دي چې د مصنف په عبارت کې المسند اليه په منزله د جنس ده کومه چې مبتدا او هر مسند اليه ته شامل دي.

بعد دخولها : دا په منزله د فصل ده د دې نه ما و لا نه علاوه باقي ټول اسماء خارج شول.

ولما عرفت : په دې عبارت کې د هغه سوال جواب دي کوم چې په ماقبل کې د وه کړته تير شوي دي چې بعد دخولها نه مراد دا دې چې ما و لا اثر لفظي او اثر معنوي پيدا کړي لهذا ما زيد ابوه قائم کې فقط ابوه باندې تعريف نه صادقيږي څکه چې د دخول نه مراد ذکر في الاول يا لحوق في الآخر نه دي بلکه مراد دا دې چې هغه به مسند اليه وي او په مسند کې اثر لفظي او معنوي دواړه پيدا کړي په صورت معترضه کې دا سې نه دي ، نو بيا څه اشکال نشته

وانما اتی: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: څه وجه ده چې مصنف چې د لا اسم يې نکره ذکر کړه او د ما اسم يې معرفه ذکر کړه؟

جواب: لا فقط په نکره کې عمل کوي ددې وجې نه د لا اسم يې نکره ذکر کړه په خلاف د ما چې دا معرفه اونکره دواړو کې عمل کوي ځکه چې په مسند اليه کې اصل تعريف دي ددې وجې نه د ما اسم يې معرفه ذکر کړه

وهذا لغة: ددې ځاې نه اختلاف بيانوي چې د ماولا عامل کيدل داهل حجازو په لغت کې دي اوبنوتميم ماولا بالکل عامل نه مني او وايي چې څنګه ماولا اسم اوخبر دهغه داخليدو نه مخکې مرفوع بالابتداء وي همدغه شان ددې داخليدو نه وروستو هم دابتدائيت په بناء باندې مرفوع وي

وعلى لغة اهل الحجاز: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف داهل حجاز لغت لره ولې اختيار کړو ؟

جواب: ځکه چې قرآن مجيد دهغوي په لغت کې نازل شوي دي قرآن مجيد کې ذکر دي :ماهذا بشرا . په دې کې بشراً منصوب دي د ما دوجې نه ، ددې نه معلومه شوه چې ما عامل دي که ما عامل نه وي نو بشرا به منصوب نه وي بلکه مرفوع به وي.

په لا کې د ليس عمل د شاذ کيدو ذکر :

وَ هُوَ اَیْ عَمَلُ لَیْسَ فِیْ لَا دُوْنَ مَا شَاذٌ قَلِیْلٌ لِنُقْصَانِ مُشَابَهَةِ لَا بِلَیْسَ لِاَنَّ
اودا يعني عمل دليس په لا کې نه په ما کې شاذ اوقليل دي ځکه چې دلا مشابهت دليس سره کم دي ځکه چې
لَیْسَ لِنَفْیِ الْحَالِ وَلَا لَیْسَ کَذٰلِکَ فَاِنَّهٗ لِلنَّفْیِ مُطْلَقاً بِخِلَافِ مَا فَاِنَّهٗ اَیْضًا لِنَفْیِ الْحَالِ
ليس دنفي دحال دپاره وي اولا داسې نه دي ليس هغه مطلق نفي دپاره راځي په خلاف د ما چې هغه هم نفي دحال
فَیَقْتَصِرُ عَمَلُ لَا عَلٰی مَوْرِدِ السِّمَاعِ نَحْوُ قَوْلِهٖ:
دپاره وي پس بند به وي دلاعمل دسماع په ځاې کې په شان ددې قول

مَنْ صَدَّ عَنْ نِیْرَانِهَا	فَاَنَا ابْنُ قَیْسٍ لَا بَرَاحُ
چاچې دجنګ اور لړولي دي	نوزه ابن قيس يم اوزما دپاره هيڅ پرواه نشته دي

اَیْ لَا بَرَاحُ لِیْ وَ لَا یَجُوْزُ اَنْ تَکُوْنَ لِنَفْیِ الْجِنْسِ لِاَنَّهَا اِذَا کَانَتْ لِنَفْیِ الْجِنْسِ لَا
يعني لا براح لي اوجائزنه دي چې لادنفي جنس دپاره وي ځکه چې هغه لا کله چې نفي دجنس دپاره وي نه دي

يَجُوْزُ فِيْمَا بَعْدَهَا الرَّفْعُ مَا لَمْ يَتَكَرَّرَ وَ لَا تَكْرَارَ فِي الْبَيْتِ اِعْلَمْ اَنَّ الْمُرَادَ بِالْمُسْنَدِ وَالْمُسْنَدِ اِلَيْهِ
جائزپه ما بعد د دې کښې رفع تر څو چې مکرر نه شي او په بيت کښې تکرار نشته بوه شه چې مراد د مسند او مسند اليه نه
فِيْ هٰذِهِ التَّعْرِيْفَاتِ مَا يَكُوْنُ مُسْنَداً اَوْ مُسْنَداً اِلَيْهِ بِالْاَصَالَةِ لَا بِالتَّبْعِيَّةِ بِقَرِيْنَةِ ذِكْرِ التَّوَابِعِ فِيْمَا بَعْدُ
په دې تعريفاتو کښې هغه دي چې مسند يا مسند اليه بالاصاله وي نه تبعاً په قرينې د ذکر کولو د توابعو په مابعد کښې
فَلَا يَنْتَقِضُ بِالتَّوَابِعِ.
نو نه ماتيږي تعريف په توابعو سره

خلاصه د متن: صاحب د کافيې فرمايي چې ليس والاعمل په لا کښې شاذ دي ځکه چې د لا د ليس سره مشابهت ناقص دي ، تفصيل يې لاندې په شرحه کښې ذکر دي .

اغراض د جامي : عمل ليس: په دې کښې ضمير د مرجع متعين کړي دي چې د ضمير مرجع عمل ليس دي .

دون: په دې کښې شارح اشاره کړې ده چې د لا قيد احترازي دي د دې سره احتراز دي د ما نه .

قليل: د اد شاذ معنی تعين کول دي چې دلته د دې معنی قليل الاستعمال دي ځکه چې شاذ په دوو معنو کښې استعماليږي : (۱) خلاف قانون .(۲) قليل الاستعمال . نو په قليل سره يې معنی متعين کړه

لنقصان المشابهة: په دې کښې د حکم مذکور وجه بيانوي چې د ليس والاعمل په لا کښې شاذ دي ځکه چې د لا د ليس سره مشابهت ناقص دي ځکه چې ليس د نفي حال د پاره راځي او لا مطلق نفي د پاره راځي نه د نفي د حال د پاره په خلاف د ما چې د هغې د ليس سره مشابهت اتم دي لکه څنګه چې ليس د نفي د حال د پاره راځي همدارنګې ما هم د نفي د حال د پاره راځي او هرچې لا د ليس سره مشابهت ناقص دي نو لا هميشه د ليس والاعمل نه کوي بلکه د هغه عمل به په صرف مورد سماع کښې بندوي هرځاې به بند نه وي لکه د شاعر دا قول چې :

مَنْ صَدَّ عَنْ نِيْرَانِهَا	فَاَنَا ابْنُ قَيْسٍ لَا بَرَاحُ

په دې کښې براح د لا اسم دي د دې خبر محذوف دي چې لي دي په اصل کښې دا داسې وو لا براح لي .

ولا يجوز: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ممکن ده چې په دې شعر کښې لای نفي جنس وي مشبه بليس نه وي لهذا دعوی خو

ثابته نه شوه ؟

جواب : لای نفي جنس نه شي کیدي ځکه چې د لای نفي جنس دمابعد مرفوع کیدل په هغه وخت کې جائز دي کله چې د لا تکرار وي او په شعر کې خو د لا تکرار نشته نو ددې نه معلومه شوه چې دا دلای نفي جنس اسم نه دي بلکه لا داد ما مشبه بلیس اسم دي .

اعلم ان المراد : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د ان وغیره خبر اودلای نفي جنس خبر ماولا مشابه بلیس اسم دهغې تعریف دخول دغیر نه مانع نه دي ځکه داپه هغه توابعو باندې صادق راځي چې هغه هم دهغه داخلیدو نه وروستو مسند مسند الیه وي .

جواب : په تعریفاتو کې داسناد نه مراد اسناد بالاصاله دي قرینه پرې داده چې مصنف دتوابع بحث لره دمرفوعاتو اودمنصوباتو نه وروستو مستقلاً ذکر کړي دي ددې نه معلومه شوه چې داسناد نه مراد اسناد بالاصاله دي نه چې بالتبعه لهذا داتعریفات په خپلو توابعو باندې صادق نه راځي .

. **سوال** : ماتن اسم مرفوع یعنې افعال ناقص اسم لره ذکر نه کړو ددې څه وجه ده ؟

جواب : شارح ددې نه دوه (۲) جوابونه ورکړي دي :

اول جواب : اول جواب دادې چې ماتن هغه لره لیکلي وو لیکن دکاتبینو نه دغلطۍ دوجې نه پاتې شو لیکن داجواب کمزورې اوضعیف دي .

دوهم جواب : دویم جواب دادې چې همدغه ماولا المشبهتین بلیس دتعریف په ضمن کې د هغه بیان هم راغلي دي ځکه چې کله ما او لا عمل دلیس والا دي نو دلیس عمل هم د ما ولا په شان دي نو دلیس اسم مرفوع کیدو ذکر هم ضمناً راغلي دي نو ددې نه معلومه شوه چې دټولو افعالو ناقصه عمل دغه شان دي ځکه یې هغه لره ځان له ذکر نه کړو .

تمت المرفوعات بحمد الله

﴿اَلْمَنْصُوْبَاتُ﴾:

❁ (۱) مفعول مطلق

❁ (۲) مفعول به

❁ (۳) مفعول فيه

❁ (۴) مفعول معه

❁ (۵) مفعول له

❁ (۶) حال

❁ (۷) تميز

❁ (۸) مستثنى

❁ (۹) دافعال ناقصو خبر

❁ (۱۰) دحروف مشبه بالفعل اسم

❁ (۱۱) دماولا مشبهتين بليس خبر

❁ (۱۲) دلاي نفي جنس اسم

﴿ اَلْمَنْصُوْبَاتُ ﴾ :

وَ لَمَّا فَرَغَ مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ شَرَعَ فِي الْمَنْصُوْبَاتِ وَ قَدَّمَهَا عَلَى الْمَجْرُوْرَاتِ
اوکله چې فارغ شو مصنف د مرفوعاتو نه نو شروع یې وکړه په منصوباتو کې او دا یې مقدم کړل په مجروراتو باندې
لِكَثْرَتِهَا وَ لِخِفَّةِ النَّصَبِ فَقَالَ الْمَنْصُوْبَاتُ هُوَ مَا اشْتَمَلَ عَلَى عَلَمِ الْمَفْعُوْلِيَّةِ
د کثرت او د نصب د خفت د وجې نه پس وویل چې منصوبات دا هغه دي چې مشتمل وي په علامت د مفعولیت باندې
قَدْ تَبَيَّنَ شَرْحُهُ بِمَا ذُكِرَ فِي الْمَرْفُوْعَاتِ وَ الْمُرَادُ بِعَلَمِ الْمَفْعُوْلِيَّةِ عَلَامَةُ
او په تحقیق سره بیان شوي ده شرحه د دې هغه چې ذکر شوي ده په مرفوعاتو کې او مراد د علامت د مفعولیت نه
كَوْنِ الْإِسْمِ مَفْعُوْلاً حَقِيْقَةً اَوْ حُكْمًا وَهِيَ اَرْبَعٌ اَلْفَتْحَةُ وَالْكَسْرَةُ وَالْاَلِفُ وَالْيَاءُ نَحْوُ رَاَيْتُ زَيْدًا وَمُسْلِمَاتٍ وَاَبَاكَ
کیدل د اسم مفعول حقیقتاً او یا حکماً او دا څلور دي فتحه او کسره او الف او یاء مثال رأیتُ زیداً ومسلماتٍ او اباک
وَمُسْلِمَيْنِ وَمُسْلِمِيْنَ.
وَمُسْلِمَيْنِ وَمُسْلِمِيْنَ.

خلاصه د متن: مصنف د مرفوعاتو نه د فارغیدو نه پس اوس په منصوباتو باندې شروع وکړه د ټولو نه مخکې د منصوباتو تعریف یې وکړو چې منصوب هغه اسم دي کوم چې د مفعول په علامت باندې مشتمل وي بیا د علامت د مفعول تشریح کوي چې د مفعول علامت کله حقیقتاً وي او کله حکماً وي او د دې ټول څلور صورتونه دي:

(۱) نصب به کله د الف سره وي مثال رأیت زیداً

(۲) کله به د کسرې سره وي مثال رأیتُ مسلمات.

(۳) او کله به د الف سره وي مثال رأیتُ اباک.

(۴) او کله به د یاء سره وي مثال رأیت مسلمین ومسلمین.

اغراض د جامي : ولما فرغ: دا عبارت د مابعد د پاره تمهید دي چې کله مصنف د مرفوعاتو د بحث نه فارغ شو نو اوس منصوبات شروع کوي:

سوال : منصوبات یې په مجروراتو باندې ولې مقدم کړل ؟

جواب : د دې نه شارح څلور (۴) جوابات ورکړي دي:

اول جواب: منصوبات یې ځکه په مجروراتو باندې مقدم کړل چې د منصوباتو تعداد په

نسبت سره مجروراتو ته ډير زيات دي اوضابطه اوقاعده داده چې العزةُ للتكاثر.

دوهم جواب : نصب په نسبت سره جر ته خفيف وي ددې وجې نه يې منصوبات په مجروراتو باندې مقدم كړل.

دريم جواب : په منصوباتو كې فعل عامل وي چې په عمل كې اصل دي او په مجروراتو كې حروف عامل دي نو منصوبات په نسبت سره د مجروراتو نه اصل او قوي دي ځكه يې مقدم كړل.

څلورم جواب : منصوبات يې ځكه مقدم كړل چې ددې مرفوعاتو سره مناسبت دي په دواړو كې فعل عامل دي ګويا چې دواړه ورونه دي دواړو ديوې سينې نه پئ څكلي وي اوهغه سينه فعل دي فكانهما اخوان رضيعان من ضرع واحد وهو الفعل.

قد تبين: دعلامه جامي غرض دمنصوباتو دشرحې نه كولو وجه بيانوي چې ددې تشريح د مرفوعاتو په تعريف كې تيره شوي دي مثلاً د هُو ضمير مرجع منصوب دي كوم چې دالمنصوبات په ضمن كې تير شوي دي او د اشتمال نه مراد اشتمال الموصوف على الصفة دي عام دي چې لفظاً وي تقديراً وي اويامحلاً وي المنصوبات دمنصوب جمع ده ياد منصوبة وغيره ددې تفصيل مخكې تير شوي دي فلا نعيدها ثانياً.

والمراد بعلم المفعولية: په دې كې داوضاحت كوي چې علم په معنى دعلامت سره دي غر يا جنډه نه ده او المفعولية كې يا مصدريه ده مطلب دادې چې منصوب هغه اسم دي كوم چې مفعول كيدو علامت باندې مشتمل وي.

حقيقةً اوحكماً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي:

سوال : كه نصب دمفعول علامت يې نو غير مفعول حال ،تميز وغيره كې نصب ولې موندلې شي؟ حالانكه ضابطه اوقاعده داده چې علامة الشيء ما يوجد فيه ولا يوجد في غيره.

جواب : په مفعول كې تعميم دي برابره خبره ده كه حقيقتاً وي لكه مفاعيل خمسه ياحكماً وي لكه حال تميز وغيره.

وهي اربع: په دې كې علامت دمفعول مصداق بيانوي چې دمفعوليت علامت څلور دي: (۱) فتحه لكه رأيتُ زيداً. (۲) كسره لكه رأيت مسلمات. (۳) الف لكه رأيت اباك. (۴) ياء لكه رأيت

مسلمين ومسلمين .

د مفعول مطلق تعريف :

فَمِنْهُ اَیْ مِنَ الْمَنْصُوْبِ اَوْ مِمَّا اشْتَمَلَ عَلٰی عَلَمِ الْمَفْعُوْلِيَّةِ اَلْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ

نو دي نه يعني د منصوب څخه يا د هغه څه نه چي د مفعوليت په علامت باندې مشتمل وي مفعول مطلق دې

سُمِّيَ بِهٖ لِصِحَّةِ اِطْلَاقِ صِيْغَةِ الْمَفْعُوْلِ عَلَيْهِ مِنْ غَيْرِ تَقْيِيْدٍ بِالْبَاءِ اَوْ فِيْ اَوْ مَعَ اَوِ اللَّامِ

دې لره دا نوم څکه کېښودلې شوچي په دې باندې د مفعول اطلاق په با يا په في يا مع يا لام سره مقيد کيدونه بغير

بِخِلَافِ الْمَفَاعِيْلِ الْاَرْبَعَةِ الْبَاقِيَةِ فَاِنَّهٗ لَا يَصِحُّ اِطْلَاقُ صِيْغَةِ الْمَفْعُوْلِ عَلَيْهَا اِلَّا بَعْدَ تَقْيِيْدِهَا بِوَاحِدَةٍ مِنْهَا

په خلاف د باقي څلورو مفعولو چي دې باندې د مفعول اطلاق هغه قيود و څخه د يو سره مقيد کيدونه وروستو صحيح

فَيُقَالُ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ اَوْ فِيْهِ اَوْ مَعَهٗ اَوْ لَهٗ وَ هُوَ اَیِ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ (اِسْمُ مَا

وي لهذا ويلې شي مفعول به يا مفعول فيه يا مفعول معه يا مفعول به او هغه يعني مفعول مطلق د هغه څيز نوم دې

فَعَلَهٗ فَاعِلُ فِعْلٍ) وَ الْمُرَادُ بِفِعْلِ الْفَاعِلِ اِيَّاهُ قِيَامُهٗ بِهٖ بِحَيْثُ يَصِحُّ اِسْنَادُهٗ

کوم لره چي د فاعل فعل کړي وي او فاعل د فعل د کولو نه مراد فعل د فاعل سره قيام دې په داسې شان چي صحيح

اِلَيْهِ لَا اَنْ يَّكُوْنَ مُؤَثِّرًا فِيْهِ مُوْجِدًا اِيَّاهُ فَلَا يَرِدُ عَلَيْهِ مِثْلُ مَاتَ مَوْتًا

وي اسناد د فعل فاعل طرف ته نه چي د افعل په فاعل کې مؤثر وي د هغه موجد وي پس د دې تعريف باندې مات موتاً

وَ جَسُمَ جَسَامَةً وَ شَرُفَ شَرَفًا وَ اِنَّمَا زِيْدَ لَفْظُ الْاِسْمِ لِاَنَّ

وجسم جسامة وشرف شرفاً مثل اعتراض وارد به نه شي او په تحقيق سره زيات کړې شوې دې لفظ اسم څکه چي

مَا فَعَلَهُ الْفَاعِلُ هُوَ الْمَعْنٰى وَالْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ مِنْ اَقْسَامِ اللَّفْظِ وَيَدْخُلُ فِيْهِ الْمَصَادِرُ كُلُّهَا

هغه څه چي فاعل کړي وي هغه معنى ده او مفعول مطلق د لفظ اقسام څخه دې او په دې کې ټول مصادر داخليږي

مَذْكُوْرٍ صِفَةٌ لِلْفِعْلِ وَهُوَ اَعَمُّ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ مَذْكُوْرًا حَقِيْقَةً كَمَا اِذَا كَانَ مَذْكُوْرًا بِعَيْنِهٖ نَحْوُ

کوم چي مذکور دې او دا د فعل صفت او فعل عام دې حقيقةً مذکور وي څرنګه چي کله هغه بعينه مذکور وي مثال

ضَرَبْتُهٗ ضَرْبًا اَوْ حُكْمًا كَمَا اِذَا كَانَ مُقَدَّرًا نَحْوُ فَضَرْبَ الرِّقَابِ اَوْ اِسْمًا فِيْهِ مَعْنَى الْفِعْلِ

ضربته ضرباً يا حکماً مذکور وي کله چي مقدر وي مثال فضرب الرقاب يا اسم وي چي په دې کې د فعل معنى موجوده

نَحْوُ ضَارِبٌ ضَرْبًا وَخَرَجَ بِهِ الْمَصَادِرُ الَّتِيْ لَمْ يُذْكَرْ فِعْلُهَا لَا حَقِيْقَةً وَ لَا حُكْمًا نَحْوُ

وي مثال ضارباً ضرباً او د مذکور قيد نه هغه ټول مصادر خارج شول چي د هغې نه حقيقةً مذکور وي او نه حکماً مثال

اَلضَّرْبُ وَاقِعٌ عَلٰى زَيْدٍ بِمَعْنَاهُ صِفَةٌ ثَانِيَةٌ لِلْفِعْلِ وَ لَيْسَ الْمُرَادُ بِهٖ اَنَّ الْفِعْلَ كَائِنٌ

الضرب واقع على زيد او د هغې معنى څخه وي د افعل دويم صفت دې او د دې قيد نه دا مراد نه دې چي فعل کائن وي

بِمَعْنَى ذٰلِكَ الْاِسْمِ فَاِنَّ مَعْنَى الْاِسْمِ جُزْءُ مَعْنَاهُ بَلِ الْمُرَادُ اَنَّ مَعْنَى الْفِعْلِ مُشْتَمِلٌ
دمعنی ددې اسم پورې خکه معنی داسم دجزء دمعنی ددې دي بلکې مراد دادې چې معنی دفعل مشتمل وي په
عَلَيْهِ اِشْتِمَالَ الْكُلِّ عَلَى الْجُزْءِ فَخَرَجَ بِهٖ مِثْلُ تَادِيْباً فِيْ قَوْلِكَ ضَرَبْتُهُ
په دې اسم پورې لکه اشتمال دکل په جزء باندې نوخارج شو په دې سره مثال تاديباً په دې قول ستاکې چې ضربته
تَادِيْباً فَاِنَّهُ وَ اِنْ كَانَ مِمَّا فَعَلَهُ فَاعِلُ فِعْلٍ مَذْكُوْرٍ لٰكِنَّهُ لَيْسَ
تاديباخکه چې بلا شبه تاديباً کرچې دهغه قبيل څخه دي کوم سره چې فعل مذکور فاعل کړي دي ليکن نه دي
مِمَّا يَشْتَمِلُ عَلَيْهِ مَعْنَى الْفِعْلِ وَ كَذٰلِكَ خَرَجَ بِهٖ مِثْلُ كَرَاهَتِيْ فِيْ
دهغه قبيلې نه چې مشتمل وي په دې باندې معنى دفعل اوهمدارنگې خارجيږي په دې سره دامثال کراهتي په
نَحْوِ كَرِهْتُ كَرَاهَتِيْ فَاِنَّ لِلْكَرَاهَةِ اِعْتِبَارَيْنِ اَحَدُهُمَا كَوْنُهَا بِحَيْثُ قَامَتْ بِفَاعِلِ
په کرهت کراهتي کې خکه چې دکراهت دپاره دوه اعتباره دي يوکيدل دکراهتي په دې شان چې قائم وي په فاعل
الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ وَاشْتُقَّ مِنْهَا فِعْلٌ اُسْنِدَ اِلَيْهِ وَلَا شَكَّ اَنَّ مَعْنَى الْفِعْلِ
د فعل مذکور پورې اومشتق کيږي ددې نه هغه فعل اسناديې شوي دي طرف ته اوشک نشته چې معنى دفعل
مُشْتَمِلٌ عَلَيْهَا حِيْنَئِذٍ وَ ثَانِيْهِمَا كَوْنُهَا بِحَيْثُ وَقَعَ عَلَيْهَا فِعْلُ الْكَرَاهَةِ
مشتمل وي په دې باندې په دې وخت کې اودويم کيدل ددې په داسې شان چې واقع وي په دې باندې فعل دکراهت
فَاِذَا ذُكِرَتْ بَعْدَ الْفِعْلِ بِاِعْتِبَارِ الْاَوَّلِ كَمَا فِيْ قَوْلِكَ كَرِهْتُ كَرَاهَةً فَهُوَ مَفْعُوْلٌ مُطْلَقٌ وَ اِذَا
هرکله داذکرشو پس دفعل نه په اول اعتبارسره لکه په دې قول ستاکې کرهت کراهة نودامفعول مطلق دي اوکله
ذُكِرَتْ بَعْدَهُ بِالْاِعْتِبَارِ الثَّانِيْ كَمَا فِيْ قَوْلِكَ كَرِهْتُ كَرَاهَتِيْ فَهُوَ مَفْعُوْلٌ بِهٖ لَا
چې ذکرشي پس ددې نه په دويم اعتبار سره لکه په دې قول ستاکې چې کرهت کراهتي نودا مفعول به دي نه
مَفْعُوْلٌ مُطْلَقٌ اِذْ لَيْسَ ذٰلِكَ الْفِعْلُ مُشْتَمِلاً عَلَيْهِ بِهٰذَا الْاِعْتِبَارِ بَلْ هُوَ وَاقِعٌ عَلَيْهِ وُقُوْعَ
مفعول مطلق خکه چې نه دي دافعل مشتمل په دې باندې بلکې داواقع دي په دې باندې په شان دواقع کيدود
الْفِعْلِ عَلَى الْمَفْعُوْلِ فَخَرَجَ بِهٰذَا الْاِعْتِبَارِ عَنِ الْحَدِّ وَالْطَبَقَ الْحَدُّ عَلَى الْمَحْدُوْدِ جَامِعاً وَ مَانِعاً.
فعل په مفعول باندې نوخارج شو په دې اعتبارسره دتعريف نه اومنطبق شوتعريف په معرف باندې جامع اومانع.

خلاصه دمتن: ددې ځاې نه صاحب دکافيې دمفعول مطلق تعريف بيانوي چې مفعول مطلق دهغه څيز نوم دي چې کوم لره دفعل مذکور فاعل کړي وي اوهغه فعل مذکور دمفعول مطلق په معنى باندې مشتمل وي.

اغراض دجامي : من المنصوب: په دې عبارت سره شارح دجامي د هُوَ ضمير مرجع متعين

کوي چې ددې په مرجع کې دوه احتمالات دي . (۱) المنصوب (۲) ما اشتمل على علم المفعولية . اوله مرجع ددوه حيثيتونو څخه راجح ده : (۱) ددواړو ضمير مرجع متحد ده چې په اول کې هو ما اشتمل کې دضمير مرجع منصوب ده نودهغې مرجع هم کيدل په کاردي .(۲) دامرجع مقصود بالذات ده او دويمه مرجع ددوه وجهو نه هم راجح ده : (۱) دامرجع فردي ده . (۲) مرجع صريحي ده ، اومنصوب مرجع ضمني ده .

سمي به : ددې ځاې نه شارح د مفعول وجه تسميه بيانوي چې د مفعول مطلق نوم مفعول مطلق ددې وجې نه ايښودلې شوي دي چې په دې باندې دمفعول اطلاق په غير دڅه قيد نه کيږي نه دبه قيد اونه د له قيد اونه دمعه قيد اونه دفيه قيد په خلاف دباقي مفاعيلو چې په دې باندې دمفعول اطلاق مفعول لره باء مع يا لام څخه څه ديو سره مقيد کيدونه په غير صحيح نه دي همدارنګې ويلي شي مفعول به ، مفعول معه ، مفعول فيه ، مفعول له .

وهو اي المفعول المطلق : په دې عبارت سره غرض دعلامه جامي د هُوَ ضمير مرجع متعين کول دي چې د هُوَ مرجع هغه مفعول مطلق دي .

والمراد بفعل الفاعل اياه : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : دمفعول مطلق تعريف جامع نه دي ځکه چې داپه هغه موتا ، جسامةً ، شرفا باندې صادق نه راځي کوم چې مات زيد موتا ، جسم بکر جسامة ، شرف عمرو شرفا کې واقع دي ځکه چې دې لره دفعل مذکور فاعل نه دي کړي بلکه دا افعال خو الله تعالي کړي دي حالانکه داټول مفعول مطلق دي .

جواب : فاعل دمفعول لره دکولومطلب دادې چې هغه دفاعل سره قائم وي په داسې شان سره چې د هغه اسناد دفاعل طرف ته صحيح وي دامراد نه دي چې فاعل په هغې کې مؤثر اودهغې موجد هم وي اوس داتعريف په هغه موتا ، جسامة ، شرفا باندې صادق راځي کوم چې مات موتا ، جسم جسامة ، شرف شرفا کې واقع دي ځکه چې دافاعل سره په دې شان دي چې ددې نسبت اواسناد فاعل طرف ته صحيح دي .

وانما زيد : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: مصنف د مفعول مطلق په تعریف کې لفظِ اسم اضافه ولې وکړه ؟

جواب: که د لفظِ اسم اضافه یې نه کولې نو عبارت به داسې وي چې **هو ما فعله فاعل فعل** او دا صحیح نه دي ځکه چې مفعول مطلق د لفظ د اقسامو څخه دي او **مافعله فاعل فعل** معنی ده او د معنی حمل په لفظ باندې صحیح نه دي نو مصنف د لفظ اسم اضافه وکړه چې حمل یې صحیح شي .

ويدخل فيه: په دې عبارت سره غرض د شارح د قیوداتو فوائد بیانوي چې په تعریف کې **مافعله فاعل فعل** د اجنس دي کوم چې ټولو مصادرو ته شامل دي .

صفة للفعل: په دې سره د مذکور ترکیب بیان دي چې **مذکورِ** مجرور دي د **فعلٍ** صفت اول دي .

وهو اعم: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: د مفعول مطلق تعریف جامع نه دي ځکه چې دا په هغه **رقاب** باندې صادق نه راځي کوم چې په **فضرب الرقاب** کې واقع دي ځکه چې هغه لره د فعل مذکور فاعل نه دي کړي بلکه فعل غیر مذکور فاعل کړي دي حالانکه دا مفعول مطلق دي .

جواب: په **مذکورِ** کې تعمیم دي برابره خبره ده که حقیقتاً مذکور وي یا حکماً د حقیقةً مطلب دادې چې بعینه مذکور وي مثال **ضربته ضرباً** او د حکماً مطلب دادې چې محذوف وي اوس دا تعریف په **فضرب الرقاب** کې په **رقاب** باندې صادق راځي ځکه چې دلته فعل اګر که حقیقةً مذکور نه دي لیکن حکماً مذکور دي ځکه چې د دې اصل **فاضربوا ضرب الرقاب** دي .

او اسماً: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: د مفعول مطلق تعریف جامع نه دي دا په **ضرباً** باندې صحیح نه راځي کوم چې **ضارب ضرباً** کې واقع دي ځکه چې هغه لره د فعل مذکور فاعل نه دي کړي بلکه صیغه د صفت فاعل کړي دي حالانکه دا مفعول مطلق دي .

جواب: په فعل کې تعمیم دي برابره خبره ده که حقیقتاً وي او که حکماً وي او یا معناً وي یعنې داسې اسم وي چې په هغې کې د فعل معنی موندلې شي مثال مذکور اګر که حقیقتاً یا حکماً فعل مذکور نه دي لیکن معنیً مذکور دي ځکه چې صیغه د صفت کې معنی د فعل موندلې شي لهذا دا تعریف جامع دي .

خرج به المصادر : په دې عبارت کې دقیوداتو فوائد بیانوي چې مذکور په منزله دفصل اول دی په دې سره هغه ټول مصادر خارج شول چې دهغې فعل مذکور نه وي نه حقیقةً اونه حکما اونه معناً مثال لکه الضرب واقع علی زید کې الضرب مصدر دي .

بمعناه صفة ثانیة للفعل : په دې عبارت سره غرض دعلامه جامي دبمعناه ترکیب بیانول دي چې جار مجرور دمشتمل سره متعلق او دفعل صفت ثاني دي .

ولیس المراد : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : د مفعول مطلق تعریف دده په افرادو کې په یو باندې هم صادق نه راځي ځکه چې په تعریف کې بمعناه لفظ دي چې ددې نه متبادر الی الذهن دادې چې فعل مذکور اومفعول مطلق دواړو معنی یو وي هم معنی اومتحد في المعنی وي حالانکه دفعل اومصدر یوه معنی نه شي کیدلې ځکه چې دمصدر معنی دفعل د معنی جز وي اوفعل کل وي مثال ضربتُ ضرباً کې ضربتُ فعل دي په دې کې مصدر ،زمانه نسبت الی الفاعل دري ځیزونه دي . نودا کل او ضرباً مفعول مطلق (حرف مصدر) دهغه جز دي .

جواب : دا اعتراض هله واردیږي چې کله دبمعناه با دفي په معنی شي اوافعال عامه ځخه دیو سره متعلق وي حالانکه دلته داسې نه دي بلکه باء دعلی په معنی کې ده اوجارمجرور دمشتمل متعلق دي معنی داده چې دفعل مذکور معنی د مفعول معنی باندې داسې مشتمل وي لکه څنګه چې کل په جز باندې مشتمل وي اوپه مفعول مطلق کې هم دفعل معنی دمفعول مطلق په معنی باندې مشتمل وي لهذا اشکال رفع شو .

فخرج به : په دې عبارت سره غرض دشارح دقیوداتو فوائد بیانول دي چې بمعناه فصل ثاني دي په دې سره هغه تادیباً خارج شو کوم چې په ضربته تادیبا کې واقع دي ځکه هغه اګر که مافعله فاعل فعل مذکور دقبیل څخه دي لیکن دضرب معنی په دې باندې مشتمل نه ده .

وکذلک : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمفعول مطلق تعریف مانع نه دي ځکه چې داپه کراهتي باندې صادق راځي کوم چې کرهت کراهتي کې واقع دي ځکه چې دامافعله فاعل فعل دقبیل څخه دي لیکن دامفعول نه دي بلکه مفعول به دي .

جواب : بمعناه قيد سره هغه تاديباً خارج شو کوم چې ضربت تاديباً کې واقع دي دغه شان بمعناه دقيد سره هغه کراهتي هم خارج شو کوم چې په کرهت کراهتي کې واقع دي خکه چې په کراهت کې دوه اعتباره اودوه حيثيتونه دي (۱) کراهت په دې طور باندې کيدل چې هغه فعل مذکور دفاعل سره قائم دي او فعل ددې نه مشتق دي په دې اعتبار سره چې دفعل مذکور معنی په دې باندې مشتمل وي ځنګه چې کل په جز باندې مشتمل وي (۲) کراهت په دې طور سره کيدل چې په دې باندې فعل کراهت واقع وي يعنې بمعنی الشيء المکروه وي کله چې اول اعتبار سره فعل کراهت لره ذکر کړې شي مثال کرهت کراهة نو په دې وخت کې به دامفعول مطلق وي خکه چې په دې باندې دفعل مذکور معنی مشتمل ده. کاشتمال الکل علی الجز: اوکله چې دويم اعتبار سره کراهت لره دفعل نه وروستو ذکر کړې شي مثال کرهت کراهتي نودا به مفعول به وي نه چې مفعول مطلق خکه چې فعل په دې باندې مشتمل نه دي بلکه واقع دي لکه ځنګه چې په مفعول باندې واقع کيږي نوچې کوم اعتبار سره مفعول به دي هغه اعتبار سره د مفعول مطلق تعريف په ده باندې نه صادقيږي.

د مفعول مطلق احکامات :

وَ قَدْ يَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ لِلتَّاكِيْدِ اِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْ مَفْهُوْمِهٖ زِيَادَةٌ عَلٰى مَا يُفْهَمُ مِنَ
اوکله کله مفعول مطلق دتاکيد دپاره وي که چيرته ددې په مفهوم کې زيادت نه وي بناپه هغه څه چې فهميږي د
الْفِعْلِ وَالنَّوْعِ اِنْ دَلَّ عَلٰى بَعْضِ اَنْوَاعِهٖ وَ الْعَدَدِ اِنْ دَلَّ عَلٰى عَدَدِهٖ مِثْلُ جَلَسَ
فعل نه اودنوعې نه که دلالت وکړي په بعضې انواعو باندې اوعددې دي که عدد باندې دلالت کوي مثال جلس
جُلُوْساً لِلتَّاكِيْدِ وَ جِلْسَةً بِكَسْرِ الْجِيْمِ لِلنَّوْعِ وَ جَلْسَةً بِفَتْحِهَا لِلْعَدَدِ فَالْاَوَّلُ اَیْ
جلوسا دپاره دتاکيد وجلسة په کسرې دجيم سره نوع دپاره اوجَلسة په فتحې دجيم سره دعدد دپاره پس اول يعنې
الَّذِيْ لِلتَّاكِيْدِ لَا يُثَنّٰى وَ لَا يُجْمَعُ لِاَنَّهٗ دَالٌّ عَلَى الْمَاهِيَةِ الْمُعَرَّاةِ
هغه چې دتاکيد دپاره وي نه تثنيه جوړيدې اونه جمع خکه چې داپه داسې ماهيت باندې دلالت کوي کوم چې خالي
عَنِ الدَّلَالَةِ عَلَى التَّعَدُّدِ وَالتَّثْنِيَةُ وَالْجَمْعُ يَسْتَلْزِمَانِ التَّعَدُّدَ فَلَا يُقَالُ جَلَسْتُ جُلُوْسَيْنِ اَوْ جُلُوْسَاتٍ اِلَّا اِذَا
وي ددلالت نه په تعدد اوتثنيه اوجمع مستلزم دي تعدد لره نونشي ويلې جلست جلوسين يا جلوسات مګر کله چې
قُصِدَ بِهِ النَّوْعُ اَوِ الْعَدَدُ بِخِلَافِ اَخَوَيْهِ الَّذَيْنِ هُمَا لِلنَّوْعِ وَ الْعَدَدِ نَحْوُ جَلَسْتُ
قصد کړې شي په دې سره نوع اوياعدد په خلاف دهغه ورونوچې هغه دواړه دنوع اودعدد دپاره وي مثال جلست

جَلْسَتَيْنِ وَ جِلْسَاتٍ بِكَسْرِ الْجِيْمِ أَوْ فَتْحِهَا .
جلستين(دوه مختلفي ناستي)او جلست جلسات(متعددې ناستي)په کسرې دجيم سره يا په فتحې سره .

خلاصه دمتن: صاحب دكافيې دمفعول مطلق اقسام بيانوي چې دمفعول مطلق درې قسمونه دي : (۱) تاكيدي . (۲) نوعي . (۳) عددي (۱) تاكيدي هغه دي چې حرفِ تاكيد دپاره راغلي وي څه نوي معنى په دې كې نه شي موندلې . (۲) نوعي هغه دي چې نوع لره بيانيدو دپاره راغلي وي (۳) عددي هغه دي چې بيانِ عدد دپاره وي .

اغراض دجامي : فالاول: په دې عبارت سره صاحب دكافيې تفريع ذكر كوي چې مفعول مطلق قسم اول تثنيه اوجمع راوړلې شي ځكه چې محض تاكيد كې تثنيه جمع تصور نه وي او نوع اوعدد كې تثنيه اوجمع راوړولو ضرورت وي .

ان لم يكن: په دې سره غرض.دقسم اول اوقسم ثاني قسم ثالث بالمقابل كيدو دصحت بيان دي چې قسم اول مفهوم كې دفعل په مفهوم باندې زيادتي نه كيږي اوقسم ثاني اوثالث كې دفعل په مفهوم باندې زيادتي كيږي همدارنګې مفعول مطلق تاكيدي تعريف اوتعين طرف ته اشاره وكړه چې مفعول مطلق تاكيدي هلته وي چې چيرته دهغه معنى اومفهوم نه فعل دمفهوم دمعنى نه څه زائد څيز پيدا نه شي بلكه دواړو نه يو معنى دمفهوم ذهن نشين شي .

ان دل على بعض انواعه: په دې سره قسم ثاني ، قسم ثالث بالمقابل كيدو بيان دي چې قسم ثاني اوثالث په دې خبره كې مشترک دي چې دهغه مفهوم كې دفعل په مفهوم باندې زيادتي كيږي ليكن قسم ثاني دفعل په بعض انواعو باندې دلالت كوي اوقسم ثالث دفعل بعضې انواعو باندې دلالت نه كوي بلكه عدد محضې باندې دلالت كوي همدارنګې مفعول مطلق نوعي طرف ته يې هم اشاره وكړه چې په فعل دنوع باندې دلالت كوي .

ان دل على عدده: په دې كې قسم ثالث دقسم اول بالمقابل كيدو دصحت بيان دي چې قسم ثالث اوقسم اول په دې خبره كې شريک دي چې ددې په مفهوم كې دفعل بعضې انواعو باندې دلالت نه كيږي ليكن قسم ثالث كې دعدد ذكر كيږي كوم چې قسم اول كې نه كيږي همدارنګې مفعول مطلق عددي تعريف طرف ته اشاره وكړه كوم چې دفعل په تعداد باندې دلالت كوي .

للتاكيد: په دې عبارت سره د ممثل له د تعين بيان دي چې جلستُ جلوساً دا دمفعول مطلق تاكيد ... مثال دي .

بكسر الجيم: داد ضبط اعراب بيان دي .

للنوع: دممثل له تعين دي چې جلست جلسته دامفعول مطلق نوعي مثال دي .

بفتحها: داد ضبط اعراب بيان دي .

للعدد: دممثل له تعين دي چې جلست جلسة دادمفعول مطلق دعددي مثال دي .

الذي للتاكيد: په دې عبارت سره شارح د اول مصداق متعين کړي دي چې اول نه مراد هغه مفعول مطلق دي کوم چې تاکيد دپاره وي .

لانه دال: په دې کې غرض دشارح دحکم مذکور وجه بيانوي چې قسم اول کوم چې دتاکيد د پاره راځي هغه لره تثنيه اوجمع ځکه نشي راوړلې چې قسم اول په هغه ماهيت باندې دلالت کوي کوم چې د دلالت على التعدد نه خالي وي يعني نفس ماهيت اونفس مفهوم باندې دلالت کوي اوتثنيه اوجمع تعدد لره مستلزم ده که قسم اول لره تثنيه اوجمع راوړلې شي نواجتماع دنقيضينو لازم راځي .

فلا يقال: په دې سره په ماقبل باندې تفريع ده چې قسم اول لره تثنيه اوجمع راوړل جائز نه دي نودې وجې نه جلست جلوسين دتثنيې سره يا جلوسات دجمعې سره نه شي ويلې .

الا اذا قصد به: دادقسم اول نه استثناء نه ده ځکه چې کله مفعول مطلق نه عدد يادنوع قصد وشي نوهغه قسم اول نه پاتې کيږي بلکه دا فلايقال نه استثناء ده يعني جلست جلوسين يا جلست جلوسات نشي ويلې مگر کله چې دې سره دنوع يادعدد اراده وشي نوبيادمقصود مطابق تثنيه اوجمع راوړلې شي.

اللذين هما: په دې سره داخويه مصداق متعين کوي چې داخوين مصداق هغه مفعول مطلق دي چې د بيانِ عدد دپاره وي اوهغه مفعول مطلق کوم چې دبيان نوع دپاره وي هغه لره دمقصود مطابق تثنيه او جمع راوړلې شي مثال جلست جلستين وجلوسات که په کسرې دجيم سره وي نو دنوع دپاره به اوکه په فتحې دجيم سره وي نو عدد دپاره به وي .

وَ قَدْ يَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ بِغَيْرِ لَفْظِهٖ اَىْ مُغَايِراً لِلَفْظِ فِعْلِهٖ اِمَّا بِحَسْبِ الْمَادَةِ مِثْلَ
اوکله کله وي مفعول مطلق په غيردي لفظ نه يعني دخپل فعل دلحاظ نه مغائراومختلف ياپه اعتباردمادې
قَعَدْتُ جُلُوْساً وَ اِمَّا بِحَسْبِ الْبَابِ نَحْوُ اَنْبَتَهُ اللّٰهُ نَبَاتاً وَ سِيْبَوَيْهِ يُقَدِّرُ لَهٗ عَامِلاً مِنَ
سره لکه مثال قعدت جلوسايا په اعتباردباب سره وي لکه مثال انبت الله نباتاوسيبويه ددې دپاره عامل لره ددې

بَابِهِ اَیْ قَعَدْتُ وَ جَلَسْتُ جُلُوْساً وَاَنْبَتَهُ اللهُ فَنَبَتَ نَبَاتاً.

باب په مقدر کوي يعنې قعدت وجلست جلوساً او انبت الله فنبت نباتاً

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې وايي چې کله کله مفعول مطلق په اعتبار دلفظ دفعل مذکور مغائر هم وي بيا هم په اعتبار د معنی مغائرنه وي.

اغراض دجامي : المفعول المطلق: په دې سره ديکون ضمير مرجع متعين کړي ده چې هغه مفعول مطلق دي.

اى مغائراً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : مثال دممثل له سره مطابق نه دي ځکه چې غير. دون دعلاوه په معنی کې راځي اوس به يې معنی داوي چې کله کله مفعول مطلق دفعل لفظ سوا اوعلاوه يې حالانکه کوم مثال يعنې قعدت جلوسا ذکر کړي دي په دې کې مفعول مطلق دفعل لفظ غير نه دي بلکه دفعل سره مذکور دي.

جواب : غير ددون په معنی کې نه دي بلکه باء زائده ده اوغير په معنی دمغائر ځخه دي اوس به معنی دا وي چې کله کله مفعول مطلق دخپل دلفظ مغائر وي.

اما بحسب المادة: په دې سره دمغايرت دتعميم بيان دي چې په مغايرت کې تعميم دي برابره خبره ده که په اعتبار دمادې سره وي اوکه په اعتبار دباب سره وي ،په اعتباردمادې مثال قعدت جلوساً او په اعتبار دباب مثال انبته الله نباتاً چې فعل دباب مزيد نه اومفعول مطلق مجرد ځخه دي.

وسيبويه: په دې کې داختلاف بيان دي امام سيبويه وايي چې مفعول مطلق اودهغه فعل په مينځ کې لفظاً اومعنی اتحاد ضروري دي لکه ځنګه چې دمعنی اعتبار سره تغائر جائز نه دي همدغه شان د لفظ اعتبار سره هم تغائر جائز نه دي نه په اعتباردمادې سره اونه په اعتبار دباب سره ددې وجې نه هغه مذکوره دوو مثالونوکې تاويل کوي اودمفعول مطلق لفظ ځخه عامل لره مقدم مني نوداسې وايي چې قعدت جلوساً تقديري عبارت قعدت وجلست جلوساً دي اودانبته الله نباتاً تقديري عبارت انبته الله فنبت نباتاً دي

ليکن علامه مبرد علامه مازني ، علامه صيرفي تقدير دفعل نه انکار کوي دوي وايي چې تقدير داصل خلاف دي.

د مفعول مطلق فعل حذف جوازي :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ النَّاصِبُ لِلْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازاً
او کله کله حذف کولې شي فعل لره مفعول مطلق لره نصب ورکوونکي د قرينې دقيام په وخت کې جوازاً لکه دا
كَقَوْلِكَ لِمَنْ قَدِمَ مِنْ سَفَرِهٖ خَيْرَ مَقْدَمٍ اَیْ قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ فَخَيْرَ
قول ستا دهغه سړي دپاره کوم چې راغلي وي دخپل سفر نه خير مقدم يعنې قدمت قدوما خير مقدم پس خير
اِسْمُ تَفْضِيْلٍ وَ مَصْدَرِيَّتُهٗ بِاِعْتِبَارِ الْمَوْصُوْفِ اَوِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ لِاَنَّ اِسْمَ تَفْضِيْلٍ
اسم تفضيل دی او دې لره مصدر کيدل خپل موصوف يا مضاف اليه داعتبار څخه دي خکه چې داسم تفضيل د
لَهٗ حُكْمُ مَا اُضِيْفَ اِلَيْهِ.
پاره حکم دهغه څه دي چې اضافت يې شوي وي دې طرف ته

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې وايي چې کله کله دمفعول مطلق فعل ناصب لره په وخت دقيام د قرينې جوازي طورباندې حذف کولې شي مثال هغه سړي چې د سفر نه راواپس شي اوهغه ته وويلې شي چې خير مقدم ددې تقدير عبارت قدمت قدوما خير مقدم دي اول فعل قدمت لره مو حذف کړو بيا مو قدوما حذف کړو او خير مقدم مو دهغه قائمقام جوړ کړو

اغراض دجامي : اى المناصب: په دې عبارت سره غرض دشارح ددوو (۲) سوالونو جوابونه ورکول دي :

اول سوال : لکه څنګه چې دفعل حذف جائز دي همدغه شان دفعل مشبه حذف هم جائزدي بيا دفعل تخصيص يې ولې وکړو ؟

جواب : دفعل نه مراد ناصب مفعول مطلق دي اودافعل اوشبه فعل دواړو ته شامل دي .

دوهم سوال : حذف فعل دفعل داحوالوڅخه دي اوبحث په مفعول مطلق کې شروع دي لهذا خروج عن المبحث لازم راځي .

جواب : دفعل نه مراد هغه فعل دي کوم چې ناصب للمفعول المطلق وي اوکوم فعل مفعول مطلق دپاره ناصب وي هغه دمفعول مطلق دمتلعقاتو څخه وي اوديو څيز دمتعلقاتو نه بحث کول په اصل کې دهغه څيز نه بحث کول دي لهذا خروج عن المبحث نه راځي .

من سفره: داد قدم دصلې بيان دي

اى قدمت : په دې کې مثال لره په ممثل له منطبق کوي چې **خير مقدم** په اصل کې **قدمت قدوما خير مقدم** دي اول **قدمت** فعل لره مو حذف کړو بيا **قدوما** لره موحذف کړو او **خير مقدم** لره د هغې قائمقام مو جوړ کړو.

فخير اسم تفضيل : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مونږ دانه منوچې **خير** مفعول مطلق دي ځکه چې دمفعول مطلق دوه شرطونه دي .(۱) د فعل سابق معنی په دې باندې وي **كاشتمال الكل على الجزء** ، دلته **قدمت** معنی په **خير** باندې مشتمل نه ده . (۲) مفعول مطلق کې شرط دادې چې هغه به مصدر وي او **خير** مصدر نه دي بلکه اسم تفضيل دي .

جواب : **خير** مفعول مطلق کيدل د موصوف محذوفه داعتبار نه دي چې **قدوما** دي يا مضاف اليه د اعتبار نه دي ځکه چې اسم تفضيل د مضاف اليه په حکم کې وي.

د مفعول مطلق فعل حذف وجوبي سماعي :

وَ وُجُوْباً اَىْ حَذْفًا وَاجِباً سِمَاعاً اَىْ سِمَاعِيًّا مَوْقُوْفاً عَلَى السِّمَاعِ لَا قَاعِدَةَ لَهُ
اووجوباً يعني حذف واجب سماعي يعني سماعي چې موقوف وي په سماع باندې دهغې دپاره څه قاعده نشته
يُعْرَفُ بِهَا نَحْوُ سَقْياً اَىْ سَقَاکَ اللّٰهُ سَقْياً وَ رَعْياً اَىْ رَعَاکَ اللّٰهُ رَعْياً وَ خَيْبَةً اَىْ خَابَ خَيْبَةً مِنْ خَابَ
دې پيژندلې شي په دې مثال سقيا يعني سقاک الله سقيا او رعيا يعني رعاک الله رعيا او خيبة يعني خاب خيبة داد خاب
الرَّجُلُ خَيْبَةً اِذَا لَمْ يَنَلْ مَا طَلَبَ وَ جَدْعاً اَىْ جَدَعَ جَدْعاً
الرجل نه ماخوذ دي داپه هغه صورت کې دي چې کله يوسړي خپل مطلوب و نه مومي او جدعا يعني جدع جدعا
وَالْجَدْعُ قَطْعُ الْاَنْفِ وَالْاُذُنِ وَالشَّفَةِ وَالْيَدِ وَحَمْداً اَىْ حَمِدْتُ حَمْداً وَ شُكْراً اَىْ شَكَرْتُ شُكْراً وَ عَجَباً
او جدع معنی پوزه او غوږ او شونډې او لاس پريکيدل دي او حمدا يعني حمدت حمدا او شکرا يعني شکرت شکرا او عجبا
اَىْ عَجِبْتُ عَجَباً فَاِنَّهُ لَمْ يُوْجَدْ فِيْ كَلَامِهِمْ اِسْتِعْمَالُ الْاَفْعَالِ الْعَامِلَةِ فِيْ هٰذِهِ الْمَصَادِرِ
يعني عجبت عجبا پس بې شکه نه موندل کيږي په کلام دعربو کې استعمال د افعال عاملو په دې مصادرو کې
وَ هٰذَا مَعْنٰى وُجُوْبِ الْحَذْفِ سِمَاعاً قِيْلَ عَلَيْهِ قَدْ قَالُوْا حَمِدْتُ اللّٰهَ حَمْداً وَ شَكَرْتُهُ شُكْرًا وَ
او دا معنی د وجوب الحذف سماعا چا په دې باندې اعتراض کړي چې اهل عرب حمدت الله حمدا او شکرته شکرا او
عَجِبْتُ عَجَباً فَاَجَابَ بَعْضُهُمْ بِاَنَّ ذٰلِکَ لَيْسَ مِنْ كَلَامِ الْفُصَحَاءِ اَوْ
عجبت عجبا نو بعضو جواب ورکړي دي چې د دې عواملو استعمال د فصحاو د کلام څخه نه دي او بعضو ويلې دي

بِأَنَّ وُجُوْبَ الْحَذْفِ إِنَّمَا هُوَ فِيْ مَا اسْتُعْمِلَ بِاللَّامِ نَحْوُ حَمْداً لَهُ وَ شُكْراً لَهُ وَ عَجَباً لَهُ .
چې وجوب حذف په دې کې دې کوم چې په لام سره استعمال وي مثال حمداله،او شکراله اوعجباله

دمتن خلاصه : صاحب دکافيې وايي چې کله کله مفعول مطلق فعل ناصب لره وجوبا هم حذف کولې شي بيا دحذف وجوبي دوه قسمونه دي : (۱) سماعي (۲) قياسي . (۱) دسماعي مطلب دادې چې د حذف وجوبي څه قاعده کليه نه وي صرف د اهل عربونه اوريدلې شوي وي چې هغه په دې مقام باندې عامل لره حذف کوي (۲) اودقياسي مطلب دادې چې دحذف وجوبي دپاره قاعده کليه هم وي په پورتني عبارت کې دحذف سماعي مثالونه هم بيان شوي دي چې تفصيل يې لاندې په شرحه کې راځي .

اغراض دجامي : حذفاً واجباً: په دې سره شارح اشاره کوي چې وجوباً دواجبا په معنى کې صفت دې د موصوف محذوفه نه چې حذفاً دې .

اى سماعيا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : سماعيا داصفت دي دحذفا اودې لره صفت جوړول صحيح دي ځکه چې صفت په موصوف باندې حمل دي اودلته حمل صحيح نه دي ځکه چې حذف سماعي دي نه چې سماع يعني مصدر .

جواب : دلته ياء دنسبت محذوف ده په اصل کې سماعيا وو اوس به حمل صحيح شي ځکه چې دياء نسبت لړولو سره دامصدر نه پاتې کيږي بلکه صيغه دصفت په حکم کې به شي .

موقوفا على سماع: په دې کې دسماع دمعنى بيان دي چې ددې معنى ده کوم چې محض په سماع باندې موقوف وي دهغه دپاره څه قاعده کليه نه وي .

اى سقاک الله سقيا: دادعامل مصدر داظهار طرف ته اشاره ده صرف دتعليم دپاره وو نو دهغه حذف کول واجب دي ذکر کول جائز نه دي .

اى رعاک الله رعيا اى خاب خيبة اى جدع جدعا: په دې ټولوکې دعامل مقدر طرف ته اشاره ده تعليماً او تفهيماً .

من خاب: په دې کې لفظ د خيبة دماخذِ اشتقاقي بيان دي چې داماخوذ دي دخاب الرجل نه .

اذالم ينل: په دې کې ددې مثال محلِ استعمال بيانوي چې دامثال په هغه وخت کې ويلې شي

چې کله يو سړي خپل مقصود ونه مومي.

والجزع قطع: شارح د جزع معنى بيانوي چې د جزع معنى ده پوزه غوڅيا شونډې پرې كول

فائده: د شارح په عبارت كې واو په معنى د او دي ځكه چې د جزع معنى ده چې په هغې كې يو لره پرې كول نه چې ټول پرې كول وي

فانه لم يوجد: په دې عبارت سره غرض د شارح په مذكوره مثال كې وجوب د حذف د فعل بيانول دي چې په ذكر شوي مثال كې فعل لره حذف كول ځكه واجب دي چې دا مصادر په كلام د عربو كې د خپلو افعالو عاملو سره نه مستعمليږي او دغه د حذف وجوبي سماعي معنى ده.

قيل: په دې سره د شارح غرض ديو اعتراض نقل كول دي او د هغې اعتراض نه دوه (۲) جوابونه وركول دي.

اعتراض: مونږ دانه منو چې دا مصادر په كلام د عربو كې د خپل افعال عامله سره نه مستعمليږي بلكه اهل عرب خو يې استعمالوي هغوي دا وايي شكرت شكرا، وعجبت عجبا. او حمدت الله حمداً.

جواب: د دې نه شارح دوه (۲) جوابات وركړي دي.

اول جواب: په دې مصادرو سره د افعال عامله ذكركيدل د فصحاء كلام ځخه نه دي بلكه غير فصحاء كلام كې دي او زمونږ بحث په كلام فصحاء كې دي.

دوهم جواب: دې افعالو لره حذف كول په هغه وخت كې واجب دي چې كله مصادر د لام سره مستعمل وي مثال حمدا له شكرا له او عجبا له او تاسو چې كوم مثالونه ذكر كړل نو په هغې كې د لام ځخه مستعمل نه دي.

د مفعول مطلق فعل حذف وجوبي قياسي:

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ النَّاصِبُ لِلْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ حَذْفًا وَاجِبًا قِيَاسِيًا يُعْلَمُ لَهُ
او كله كله مفعول مطلق ناصب فعل لره واجبا قياسا حذف كولې شي يعني حذف قياسي باندې او معلوميږي د دې
ضَابِطٌ كُلِّيٌّ يُحْذَفُ مَعَهُ الْفِعْلُ لُزُوْمًا فِيْ مَوَاضِعَ مُتَعَدِّدَةٍ مِنْهَا اَيْ مِنْ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ
نه قاعده كليه چې د هغې سره فعل لره لازما حذف كولې شي په متعدد ځايونو كې د هغې نه يعني د دې ځايونو نه
مَوْضِعُ مَا وَقَعَ اَيْ مَفْعُوْلٌ مُطْلَقٌ وَقَعَ مُثْبَتًا اُرِيْدَ اِثْبَاتُهُ لَا نَفْيُهُ فَاِنَّهُ لَوْ اُرِيْدَ
يو ځاى هغه دې چې واقع يعني مفعول مطلق مثبت واقع وي او اراده يې د اثبات وي نه د نفي ځكه كه چيرته اراده

نَفْيُهُ نَحْوُ مَا زَيْدٌ يَسِيْرُ سَيْراً لَا يَجِبُ حَذْفُهُ بَعْدَ نَفْيٍ دَاخِلٍ عَلَى اِسْمٍ

کړي نفي د دې لکه مثال ما زيد يسير سيرا نو د دې حذف واجب نه دې پس د نفي نه داخل وي په داسې اسم باندې

لَا يَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ خَبَراً عَنْهُ أَوْ بَعْدَ مَعْنَى نَفْيٍ دَاخِلٍ عَلَى اِسْمٍ لَا يَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ

چې نه وي مفعول مطلق خبر د دې نه او يا پس د معنى د نفي نه په داسې اسم باندې داخل وي چې مفعول مطلق

خَبَراً عَنْهُ أَيْ عَنْ ذٰلِكَ الْاِسْمِ وَ اِنَّمَا قَالَ عَلَى اِسْمٍ لِاَنَّهُ لَوْ دَخَلَ عَلَى

خبر وي د دې نه يعني د دې اسم نه او به تحقيق سره ويلي دي چې په اسم باندې ځکه چې که چيرته داخل شي په

فِعْلٍ نَحْوُ مَا سِرْتُ اِلَّا سَيْراً وَ اِنَّمَا سِرْتُ سَيْراً لَا يَكُوْنُ مِنْهُ وَ اِنَّمَا وَصَفَ الْاِسْمَ

فعل باندې لکه مثال ماسرت الا سيرا او انماسرت سيرا نو دا به د دې قاعدې څخه نه وي او مصنف اسم لره موصوف

بِاَنْ لَا يَكُوْنَ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ خَبَراً عَنْهُ لِاَنَّهُ لَوْ كَانَ خَبَراً عَنْهُ نَحْوُ مَا سَيْرِيْ اِلَّا سَيْرٌ شَدِيْدٌ لَكَانَ

کړو چې نه وي مفعول مطلق خبر د دې نه ځکه که چيرته خبر وي د دې نه لکه مثال ماسيري الا سير شديد نو مفعول

مَرْفُوْعاً عَلَى الْخَبَرِيَّةِ أَوْ وَقَعَ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ مُكَرَّراً أَيْ فِيْ مَوْضِعِ الْخَبَرِ عَنْ اِسْمٍ لَا يَصِحُّ

مطلق به د خبر کيدو په بنا به مرفوع وي او يا به واقع وي مفعول مطلق مکرر يعني په ځاې د خبر کې د اسم نه صحيح

وُقُوْعُهُ خَبَراً عَنْهُ فَلَا يَرِدُ نَحْوُ دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا وَاِنَّمَا جَمَعَ بَيْنَ الضَّابِطَتَيْنِ لِاِشْتِرَاكِهِمَا فِيْ

کيږي وقوع د دې خبر د دې نه نو لهذا په دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا په شان به اعتراض نه واقع کيږي او به تحقيق سره جمع

الْوُقُوْعِ بَعْدَ اِسْمٍ لَا يَكُوْنُ خَبَراً عَنْهُ نَحْوُ مَا اَنْتَ اِلَّا سَيْراً أَيْ تَسِيْرُ سَيْراً وَ مَا اَنْتَ

يې کړي دواړه ضابطې دوجې د اشتراک نه په وقوع کې پس د داسې اسم نه چې نه وي خبر د دې لکه مثال ما انت

اِلَّا سَيْرَ الْبَرِيْدِ أَيْ تَسِيْرُ سَيْرَ الْبَرِيْدِ هٰذَانِ مِثَالَانِ لِمَا

الا سيرا يعني تسير سيرا او ما انت الا سير البريد يعني تسير سيرا البريد يعني دا دواړه مثالونه د هغه مفعول مطلق

وَقَعَ مُثْبَتاً بَعْدَ نَفْيٍ وَ اِنَّمَا اَوْرَدَ مِثَالَيْنِ تَنْبِيْهاً عَلَى اَنَّ الْاِسْمَ

دي کوم چې د نفي نه وروستو مثبت واقع وي او مصنف دوه مثالونه راوړي دوجې د تنبيه نه په دې چې اسم چې

الْوَاقِعَ مَوْقِعَ الْخَبَرِ يَنْقَسِمُ اِلَى النَّكِرَةِ وَالْمَعْرِفَةِ أَوْ اِلٰى مَا هُوَ فِعْلٌ لِلْمُبْتَدَاِ وَاِلٰى مَا

واقع وي په ځاې د خبر نو تقسيميږي نکرې او معرفې ته يا هغې خبر طرف ته چې منقسم کيږي مبتدا او يا هغه

يُشْبِهُ بِهٖ. فِعْلُهُ أَوْ اِلٰى مُفْرَدٍ وَ مُضَافٍ وَ اِنَّمَا اَنْتَ سَيْراً أَيْ تَسِيْرُ سَيْراً مِثَالٌ

څه ته چې مشابه وي د فعل سره او يا اسم مفرد او يا مضاف طرف ته او انما انت سيرا يعني تسير سيرا دا مثال دي د هغه

لِمَا وَقَعَ بَعْدَ مَعْنَى النَّفْيِ وَ زَيْدٌ سَيْراً سَيْراً أَيْ يَسِيْرُ سَيْراً مِثَالٌ لِمَا وَقَعَ مُكَرَّراً.

چې واقع وي پس د معنى د نفي نه او زيد سيرا سيرا يعني يسير سيرا دا مثال دي د هغه مفعول چې مکرر واقع وي

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب دکافيې دهغه مقاماتو نه دوه مقامات ذکرکوي چيرته چې دمفعول مطلق عامل ناصب لره په قياسي طور باندې حذف کول واجب وي دهغې اولنې مقام دادې چې هغه مفعول مطلق چې مثبت وي اونفي يامعنى دنفي نه وروستو واقع وي اونفي اويامعنى د نفي په داسې اسم باندې وي چې مفعول مطلق دهغې خبرنه شي جوړيدې اودويم هغه مفعول مطلق چې مکرر واقع وي اوپه داسې اسم باندې واقع وي چې مفعول دهغې خبرنه شي جوړيدې دغه دواړو ځايونو کې دمفعول مطلق عامل لره قياساً حذف کول واجب دي .

اغراض دجامي : دقياسا عطف په سماعاً باندې دې .

حذفاً قياسا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : قياسا صفت دي موصوف محذوفه دحذفاحالاتکه دې لره صفت جوړول صحيح نه دي ځکه چې صفت په موصوف باندې حمل دي دلته حمل صحيح نه دي ځکه چې حذف قياسي وي نه چې قياس (مصدر).

جواب : دلته ياء دنسبت موجود ده داپه اصل کې قياسيا وو.

يعلم له: په دې سره حذف قياسي دمعنى بيان دي چې دهغې دپاره څه قاعده کليه وي چې په هغې باندې نور امثله قياس کړي شي چې چيرته قاعده اوضابطه وموندلې شي هلته حذف واجب دي .

متعددة: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په عبارت کې اصل ايجاز اواختصار وي نومصنف رَحِمَهُ اللهُ له په کاروو چې داسې ويلي وي چې وقياسا فيما وقع مثبتا مواضع اود منها اضافه يې نه وي کړي ځکه چې اصل مقصود خو دحذف وجوبي قياسي معرفت دي هغه ددې عبارت نه هم حاصليدې شو اوپه دې کې اختصار هم دي علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ هم داختصار پسې دي لهذا مواضع اومنها ذکر بلا ضرورت اوبې فائدې دي ..

جواب : مصنف دمواضع لفظ ذکر کړو اواشاره يې وکړه چې حذف وجوبي قياسي ځايونه ډير اوکثير دي او منها سره يې اشاره وکړه چې مونږ دهغې نه بعضې لره ذکر کوو پس که مصنف

ددغه اضافه نه کولې نوداوهم به پیدا کیدو چې حذف وجوبي قیاسي صرف مذکوره صورتونو کې منحصر دي حالانکه داسې نه دي نوځکه مواضع منها یې ذکر کړه .

اي من هذه المواضع : په دې سره د منها ضمیر مرجع بیان دي .

موضع : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کلمه د ما کې دوه احتماله دي : (۱) یا ددې نه مراد مفعول مطلق دي . (۲) یامراد موضع دي . دواړه احتمالات صحیح نه دي ځکه چې که ددې نه مراد مفعول مطلق وي نود ما حمل په منها باندې صحیح نه دي ځکه چې په منها کې من تبعیضیه ده دبعضې په معنې کې جوړ دي اومبتدا ده او ما وقع جمله ددې خبردي اوکله چې جمله خبر وي نوبه دې کې یوعاید کیدل ضروري دي کوم چې مبتدا طرف ته راجع وي دلته کې عائد نشته دي اوکه ددې نه مراد مواضع وي نواګر که دما وقع حمل په منها باندې صحیح دي لیکن بیاد وقع ضمیر په مرجع کې دوه احتماله دي یاخودهغې مرجع موضع دي یادهغه مرجع مفعول مطلق دي که مرجع موضع وي نو مثبتا په وقع باندې صحیح نه دي ځکه چې حذف او محذوف مفعول مطلق وي نه چې موضع اوکه مرجع مفعول مطلق وي نو اګرکه دمثبتا حمل په وقع باندې صحیح به شي لیکن په دې صورت کې جمله صفتیه په غیرد عائد کیدل لازم راځي چې ناجائز دي .

جواب : ماعبارت دي دمفعول مطلق نه ددې مضاف محذوف دي کوم چې موضع ذي او د وقع ضمیر مرجع هم مفعول مطلق دي اوس به حمل هم صحیح شي اوجمله صفتیه بغیرعائد کیدل به هم لازم نه راځي .

اي مفعول مطلق : دادما تفسیر دي شارح وقع نه دماتفسیر لره ځکه مؤخر کړه چې دموصوف اوصفت په مینځ کې تفسیر سره فصل لازم نه شي .

اريد اثباته : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مثال دممثل له سره مطابق نه دي ځکه چې ممثل له هغه مفعول مطلق دي کوم چې کلام مثبت کې وي اوکوم مثال چې مذکور دي ما انت الا سيرا داکلام منفي دي .

جواب : چې مثبتانه مراد دادې چې په کلام کې مفعول مطلق داثبات اراده شوې وي اګرکه کلام منفي وي اومثال مذکور کې ما انت الا سيرا کې هم مفعول مطلق داثبات اراده کړې شوې

ده ځکه چې نفي د الا دوجې نه ماته شوه يعنې ختمه شوه

لانفيه : په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې مثبتاً قيد احترازي دي په دې سره دهغه مفعول نه احتراز دي چې دنفي اراده شوي وي

فأنه لو اريد : په دې سره داحتراز وجه بيانوي چې اگرکه مفعول مطلق دنفي اراده شوي وي نود هغه عامل ناصب لره حذف کول واجب نه دي مثال مازيد يسير سيرا

داخل على اسم : دا اضافه يې ددې وجې نه وکړه چې دمصنف قول داخل على اسم الى آخره دا متنازع فيه دي يعنې نفي غواړي چې دا زما صفت دي اومعنى غواړي چې دازما صفت دي نومصنف داخل على اسم لره دمعنى صفت جوړ کړه اودنفي صفت لره يې مقدر ومنلو اواشاره يې وکړه چې داخل على اسم تعلق نفي اومعنى نفي ددواړو سره دي .

المفعول المطلق : په دې کې ديکون ضمير مرجع لره متعين کوي چې ددې مرجع المفعول المطلق دي

اى عن ذلك الاسم : په دې سره غرض دشارح دعنه ضمير مرجع متعين کړي ده چې مرجع الاسم ده .

وانما قال على : په دې کې شارح دعلى اسم قيد فايده بيانوي چې دا قيد يې ځکه لږولي دي چې اگر که نفي يامنفي نفي په اسم باندې قيد داخل نه وي بلکه فعل په فعل باندې داخل وي نوپه دې وخت کې مفعول مطلق عامل ناصب لره حذف کول واجب نه دي مثال ما سرت الا سيرا وانما سرت سيرا .

وانما وصف : په دې کې اسم لره لايکون خبر عنه صفت سره دموصوف کيدو وجه بيانوي چې اسم لره لايکون سره ځکه موصوف کړه چې اگرکه مفعول مطلق دهغه اسم نه خبر جوړيدي شي نوبيابه هغه د خبريت په بناء باندې مرفوع وي دمفعول مطلق دکيدو په بناء منصوب به نه وي مثال ما سيرى الا سيرا شديدا

المفعول المطلق : په دې عبارت سره شارح دوقع دضمير مرجع متعين کوي چې دضمير مرجع مفعول مطلق دی.

اى في موضع الخبر : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : دالله تعالی داقول چې ﴿كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا﴾ مفعول مطلق دي ځکه چې مکرر دي حالانکه ددې عامل ناصب مذکور دي محذوف نه دي نو دوهمه قاعده کلیه نه شوه ؟

جواب : دمفعول مطلق دمکرر کیدو په صورت کې دهغه عامل ناصب لره وجوبي طور باندې حذف کول مشروط دي په دې شرط سره چې کوم په ضابطه سابقه کې تیر شوي دي یعنې في موضع الخبر عن اسم لایصح وقوعه خبرا عنه یعنې مفعول مطلق خودخبر په ځاې باندې وي او داسې اسم نه وروستو واقع وي کوم چې دخبرتقاضاکوي لیکن هغه ددې نه خبر جوړ نه شي او اذا دکت الارض دکادکا کې مفعول مطلق دکا دکا دخبر په ځاې کې نه دي دماقبل والا داسم نه ځکه چې ماقبل والا اسم د الارض نائب فاعل دي مبتدا نه دي چې دخبر تقاضا کوي .

وانما جمع : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : اوله قاعده اودوهمه قاعده هریوه مستقله اوجدا قاعده ده نومصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ دادواړو ولې جمع کړه اودادنورو قاعدوپه شان دنورو قاعدو نه په منهاو یلو سره جدا ذکر کول په کاروو .

جواب : دې دواړو لره یې ځکه جمع کړه چې دا دواړه په یوشرط کې شریک دي هغه دادې چې في موضع الخبر لایکون خبرا عنه یعنې دواړه دداسې اسم نه وروستوواقع وي هغه اسم دخبر تقاضاکوي لیکن هغه دواړه مفعول مطلق داسم نه خبر نه جوړیږي دې مناسبت دوجې نه دواړه مقاماتو لره داختیار دپاره یوځاې ذکر کړه .

ای تسیر سیرا: په دې کې عامل قدر اظهار طرف ته اشاره ده محض تعلیم اوتفهیم دپاره ورنه فعل لره حذف کول واجب دي دې لره ذکر کول جائز نه دي په اصل کې ما انت الا تسیر سیرا دي .

ای تسیر سیرالبرید: په دې کې هم عامل مقدر لره یې ظاهر کړه .

هذان مثالان: په دې کې دممثل له دتعین بیان دي چې ما انت الا سیرا او ما انت الا سیر البرید دواړه دهغه مفعول مطلق مثالونه دي کوم چې دنفي نه وروستو واقع وي .

وانما اورد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمثال نه مقصود ددمثل له وضاحت کول دي اوهغه دیو مثال نه هم حاصلیږي مصنف دوه (۲) مثالونه ولې ذکر کړل ؟

جواب :شارح ددې نه دري (۳) جوابات ورکړي دي :

اول جواب : شارح دجامي وايي چې ددوه مثالونو ذكر كولو دري وجې دي : (۱) مصنف دوه مثالونه ذكر كول په دې خبره باندې تنبيه ده چې هغه اسم چې دخبر په ځاى واقع وي اوداكله نكره وي او كله معرفه وي اول مثال دنكرې دي اودويم مثال دمعرفې دي

دوهم جواب: ياپه دې خبره باندې تنبيه كړي ده چې هغه اسم كوم چې دخبر په ځاى كې واقع وي كله دمنهافعل وي او كله دهغه سره دمبتدادفعل لره تشبيه وركولې شي اول مثال دهغه دي چې دمبتدا فعل وي اودويم مثال دهغه دي چې په هغې كې دمبتدا دفعل لره مفعول مطلق لره تشبيه وركړي ده .

دريم جواب : يا په دې خبره باندې تنبيه وركړي ده چې هغه اسم كوم چې دخبر په ځاى كې واقع وي كله هغه مفرد وي اوكله مضاف وي اول مثال دمفرد دي اودويم مثال دمضاف دي .

اى تسير سيرا: په دې كې عامل مقدر اظهار طرف ته اشاره ده محض تعليم دپاره ورنه دهغه حذف كول واجب دي دې لره ذكر كول جائز نه دي .

لما وقع: په دې كې دممثل له دتعين بيان دي چې انما انت سيرا دادهغه مفعول مطلق مثال دي كوم چې معنى دنفي نه وروستو واقع وي .

اى يسير سيرا: په دې كې عامل مقدر داظهار طرف ته اشاره ده .

لما وقع مكررا: په دې كې ممثل له دتعين بيان دي زيد سيرا سيرا دهغه مفعول مطلق مثال دي كوم چې مكرر واقع وي يعنې د دويمې قاعدې مثال دي .

د فعل د حذف وجوبي قياسي دريم مقام :

وَ مِنْهَا أَيْ مِنَ الْمَوَاضِعِ الَّتِيْ يَجِبُ حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ النَّاصِبِ لِلْمَفْعُوْلِ
اوبعضې ددې نه يعنې دهغه مواضعونه چې په هغې كې واجب دي حذف كول دهغه فعل چې نصب وركول مفعول
الْمُطْلَقِ فِيْهَا مَا وَقَعَ أَيْ مَوْضِعُ مَفْعُوْلٍ مُطْلَقٍ وَقَعَ تَفْصِيْلاً لِأَثَرِ مَضْمُوْنِ
مطلق ته په دې كې هغه چې واقع دي يعنې په ځاى د مفعول مطلق چې واقع وي تفصيل دپاره داثر د مضمون د
جُمْلَةٍ مُتَقَدِّمَةٍ وَ الْمُرَادُ بِمَضْمُوْنِ الْجُمْلَةِ مَصْدَرُهَا الْمُضَافُ إِلَى الْفَاعِلِ أَوِ الْمَفْعُوْلِ وَ بِالْأَثَرِ
جملې متقدمې اومراد دمضمون دجملې نه هغه مصدر دي چې مضاف وي فاعل اومفعول طرف ته اوداثرنه مراد
غَرَضُهُ الْمَطْلُوْبُ مِنْهُ وَ بِتَفْصِيْلِ الْأَثَرِ بَيَانُ أَنْوَاعِهِ الْمُحْتَمِلَةِ مِثْلُ قَوْلِهِ تَعَالَى
غرض ددې مضمون دي چې مقصودددې نه اودتفصيل داثرنه بيان دانواعو محتملو دي لكه دا قول دالله تعالى

فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ اَیْ بَعْدَ شَدِّالْوَثَاقَ وَإِمَّا فِدَاءً فَقَوْلُهٗ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ جُمْلَةٌ
فَشُدُّواالْوَثَاقَ فَإِمَّامَنًّابَعْدُیعني پس د شَدِالْوَثَاقَ نه وَإِمَّافِدَاءً نو داقول دالله تعالی فَشُدُّواالْوَثَاقَ یوه جمله ده چې ددې
مَضْمُوْنُهَا شَدُّوا الْوَثَاقَ وَ الْغَرَضُ الْمَطْلُوْبُ مِنْ شَدِّ الْوَثَاقِ اِمَّا الْمَنُّ اَوِ الْفِدَاءُ فَفَصَّلَ
مضمون شَدُّاالْوَثَاقَ دي او غرض مقصود د شَدُّاالْوَثَاقَ نه یا احسان کول دي او یا فدیه اخستل دي نو تفصیل یې بیان
اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ هٰذَا الْغَرَضَ الْمَطْلُوْبَ بِقَوْلِهٖ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَ إِمَّا فِدَاءً اَیْ
کړو الله تعالی ددې غرض مطلوب په دې قول سره چې پس ددوي سره احسان وکړې او یا ترې فدیه واخلې یعني
اِمَّا تَمُنُّوْنَ مَنًّا بَعْدَ الشَّدِّ وَ اِمَّا تَفْدُوْنَ فِدَاءً.
د کفارو د نیولو نه پس یا ددوي سره احسان وکړې او یا ترې فدیه واخلې .

خلاصه د متن: صاحب د کافیې په دې عبارت سره دریم ځاې ذکر کړو کوم ځاې کې چې د مفعول مطلق عامل ناصبه په قیاسي طریقه باندې حذف کول واجب دي چې دا هغه مفعول مطلق دي چې د جملې د مخکني مضمون د اثر د تفصیل د بیانولو د پاره راوړل شوي وي نو ددې فعل ناصبه حذف کول واجب دي .

اغراض د جامي : اى من المواضع: په دې عبارت سره یې د منها د ضمیر مرجع متعینه کړه چې د ضمیر مرجع مواضع دي .

التي يجب: په دې عبارت سره د مواضعو د تعیین بیان کوي چې د مواضعو نه مراد هغه مواضع دي په کوم کې چې د مفعول مطلق عامل ناصبه حذف کول واجب وي .

اى موضع: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کلمه د ما کې دوه احتماله دي : (۱) یا ددې نه مراد مفعول مطلق دي .(۲) یا مراد موضع دي . دواړه احتمالات صحیح نه دي ځکه چې که ددې نه مراد مفعول مطلق وي نو د ما حمل په منها باندې صحیح نه دي ځکه چې په منها کې من تبعیضیه ده د بعضې په معنې کې جوړ دي او مبتدا ده او ما وقع جمله ددې خبر دي او کله چې جمله خبر وي نو په دې کې یو عاید کیدل ضروري دي کوم چې مبتدا طرف ته راجع وي د لته کې عائد نشته دي او که ددې نه مراد مواضع وي نو اګر که د ما وقع حمل په منها باندې صحیح دي لیکن بیا د وقع ضمیر په مرجع کې دوه احتماله دي یا خو د هغې مرجع موضع دي یا د هغه مرجع مفعول مطلق دي که مرجع موضع وي نو مثبتا په وقع باندې صحیح نه دي ځکه چې حذف او محذوف مفعول مطلق وي نه چې

موضع اوکه مرجع مفعول مطلق وي نو اګرکه دمثبتا حمل په وقع باندې صحیح به شي لیکن په دې صورت کې جمله صفتیه په غیر دعائد کیدل لازم راځي چې نا جائز دي

جواب : مامفعول مطلق نه عبارت دي ددې مضاف محذوف دي کوم چې موضع دي اودوضع ضمیر مرجع هم مفعول مطلق دي اوس به حمل هم صحیح شي اوجمله صفتیه بغیرعائد کیدل به هم لازم نه راځي .

والمراد بمضمون : په دې عبارت سره دمتن وضاحت دي دمضمون دجملې نه مراد هغه مصدر دي کوم چې دجملې نه معلومیږي اودا مضاف وي یافاعل طرف ته اویامفعول طرف ته ، اود مضمون جملې نه مراد هغه غرض دي کوم چې دمضمون دجملې نه مطلوب اومقصود وي اود تفصیل داثر نه مراد دهغو انواعو تفصیل دي چې دهغې احتمال په سابقه جمله کې موجودوي.

دمضمون جملې دویستلو طریقه : که چیرته جمله فعلیه وي نو دمضمون دجملې دویستلو طریقه داده چې دفعل نه به مصدر وباسي اوفاعل اویامفعول طرف ته به یې مضاف کړي که چیرته جمله اسمیه وي نودخبر نه به مصدر وباسي اومبتداء طرف ته به یې مضاف کړي لکه زید قائم مضمون دجملې قیام زید دي اودضرب زید (په جمله فعلیه کې) ددې مضمون دجملې ضرب زید دي .

قوله تعالی : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مثل مضاف دي اوفشدو الوثاق مضاف الیه دي حالانکه دفشدو الوثاق مضاف الیه جوړول صحیح نه دي ځکه چې دافعل دي اوبل داچې داجمله ده اومضاف الیه خو مفرد وي .

جواب : دمثل مضاف الیه محذوف دي کوم چې قوله دي ، اوفشدوالوثاق ددې مقوله ده اوتعالی جمله معترضه ده لهذا مضاف الیه اسم اومفرد دي ، فاندفع الاشکال .

ای بعد شد الوثاق : په دې عبارت کې دې خبري طرف ته اشاره ده چې بعد مبني بر ضمه دي ځکه چې ددې مضاف الیه محذوف منوي دي .

فقوله : په دې عبارت سره مثال په ممثل له باندې تطبیق کوي چې دالله تعالی قول ﴿فَشُدُّوا الْوَثَاقَ﴾ جمله ده چې ددې مضمون شدوا الوثاق دي ددې نه غرض مطلوب یاخومن (احسان کول) دي اویافداء یعني فدیه اخستل اوپریخودل دي نوالله تعالی دخپل قول ﴿فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا

فِدَاء﴾ سره ددې غرض تفصیل بیان کړو نومنا اوفداء دامفعول مطلق دي کوم چې دمخکنې جملې دمضمون غرض اوغایت دتفصیل په بیان کې واقع دي لهذا ددې عامل ناصب وجوبي قیاسي طور باندې حذف کړو په اصل کې فاما تمنون منا واما تفدون فداء وو

د فعل د حذف وجوبي قیاسي څلورم مقام :

وَ مِنْهَا اَیْ مِنْ تِلْکَ الْمَوَاضِعِ مَا وَقَعَ اَیْ مَوْضِعُ مَفْعُوْلٍ مُطْلَقٍ وَقَعَ
اوبعضې ددې نه یعنې ددې مواضعونه هغه چې واقع وي یعنې په ځاې دمفعول مطلق چې واقع وي دپاره د
لِلتَّشْبِیْهِ اَیْ لِاَنْ یُشَبَّهَ بِهٖ اَمْرٌ آخَرُ وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ لِزَیْدٍ صَوْتٌ صَوْتٌ حَسَنٌ
تشبیه یعنې ځکه چې ددې سره مشابه کړې شي بل څیز اواحترازیې وکړو په دې سره د لزید صوت صوت حسن نه
لِاَنَّهٗ لَمْ یَقَعْ لِلتَّشْبِیْهِ عِلَاجاً اَیْ حَالَ کَوْنِهٖ دَالاً عَلٰی فِعْلٍ
ځکه چې حسن دتشبیه دپاره نه دي واقع شوي علاجا یعنې په داسې حال کې چې دلالت کوونکي وي په یوفعل
مِنْ اَفْعَالِ الْجَوَارِحِ وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ لِزَیْدٍ زُهْدٌ زُهْدَ الصُّلَحَاءِ لِاَنَّ
باندې دافعال جوارحو (ظاهري اعضاء) نه ددې قید نه مصنف لزید زهد زهد الصلحاء مثال نه احتراز وکړو ځکه چې
الزُّهْدَ لَیْسَ مِنْ اَفْعَالِ الْجَوَارِحِ بَعْدَ جُمْلَةٍ وَاحْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ صَوْتُ زَیْدٍ صَوْتُ حِمَارٍ مُشْتَمِلَةٍ
زهد نه دي دافعال جوارحو نه پس دجملې نه اواحترازیې وکړو په دې د صوت زید صوت حمار نه ځکه چې مشتمله ده
تِلْکَ الْجُمْلَةُ عَلٰی اِسْمٍ کَائِنٍ بِمَعْنَاهُ اَیْ بِمَعْنَی الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ وَ احْتَرَزَ بِهٖ
داجمله په یوداسې اسم باندې چې کائن وي ددې په معنی یعنې په معنی دمفعول مطلق اواحترازیې وکړو په
عَنْ نَحْوِ مَرَرْتُ بِزَیْدٍ فَاِذَا لَهٗ ضَرْبٌ صَوْتَ حِمَارٍ وَعَلٰی صَاحِبِهٖ اَیْ صَاحِبِ ذٰلِکَ الْاِسْمِ اَیْ الَّذِیْ
دې سره دمررت بزید فاذا له ضرب صوت حمار نه ددې په صاحب باندې یعنې په صاحب ددې اسم باندې یعنې هغه
قَامَ بِهٖ مَعْنَاهُ وَاحْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ مَرَرْتُ بِالْبَلَدِ فَاِذَا بِهٖ صَوْتٌ صَوْتَ حِمَارٍ نَحْوُ مَرَرْتُ بِهٖ
چې قائم په دې سره معنی ددې اواحترازیې وکړو په دې سره مررت بالبلد فاذا به صوت صوت حمار نه لکه مررت به
فَاِذَا لَهٗ صَوْتٌ صَوْتَ حِمَارٍ اَیْ یَصُوْتُ صَوْتَ حِمَارٍ مِنْ صَاتَ الشَّیْءُ صَوْتاً بِمَعْنٰی صَوَّتَ تَصْوِیْتاً فَصَوْتَ
فاذا له صوت صوت حمار یعنې یصوت صوت حمار دا د صات الشيء صوتا نه ماخوذ دي په معنی د صوت تصویتا نه پس صوت
حِمَارٍ مَصْدَرٌ وَقَعَ لِلتَّشْبِیْهِ عِلَاجاً بَعْدَ جُمْلَةٍ هِیَ قَوْلُهٗ لَهٗ صَوْتٌ وَهِیَ مُشْتَمِلَةٌ عَلٰی
حمار مصدر دي چې واقع دي دپاره دتشبیه علاجا پس دجملې داقول چې له صوت اودامشتمل دي په داسې اسم
اِسْمٍ بِمَعْنَی الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ وَهُوَ صَوْتٌ وَمُشْتَمِلَةٌ عَلٰی صَاحِبِ ذٰلِکَ الْاِسْمِ وَهُوَ الضَّمِیْرُ الْمَجْرُوْرُ
چې په معنی دمفعول مطلق وي اوهغه صوت دي اودا مشتمل وي په صاحب ددې اسم اوهغه ضمیرمجرور دي

فِيْ قَوْلِهٖ لَهٗ وَنَحْوُ مَرَرْتُ بِهٖ فَاِذَا لَهٗ صُرَاخٌ صُرَاخَ الثَّكْلٰى اَیْ يَصْرَخُ صُرَاخَ الثَّكْلٰى وَهِيَ اِمْرَأَةٌ
په دې قول کې چې له اولکه مررت به فاذا له صراخ صراخ الثكلى يعني يصرخ صراخ الثكلى اوثکلی هغه ښخه ده چې
مَـاتَ وَلَـدُهَـا.
مړشوي وي بچي ددې.

خلاصه د متن: هغه ځایونه چیرته چې د مفعول مطلق فعل ناصبه په قیاسي طورباندې حذف کول واجب وي د هغې نه یو هغه مقام دي چې چیرته مفعول مطلق د تشبیه د پاره وي یعنې د مفعول مطلق سره یو څیز سره تشبیه ورکړي شوي وي اوهغه دداسې جملې نه پس واقع وي چې هغه جمله دمفعول مطلق هم معنی اسم باندې مشتمل وي اوپه صاحب اسم باندې هم مشتمل وي لکه مررت بألبلد فاذا به صوت صوت حمار دي په دې کې صوت حمار مفعول مطلق دي کوم چې د تشبیه د پاره دي او د افعال جوارحو نه هم دي او پس د جملې نه واقع دي کوم چې له صوت دي او دا جمله د مفعول مطلق په هم معنی اسم باندې مشتمل دي کوم چې صوت دي او صاحب اسم باندې هم مشتمل دي کوم چې د له د ضمیر مجرور دي ځکه چې ددې فعل ناصبه په وجوبي قیاسي طور باندې حذف کړو په اصل کې دا داسې وو چې يصوت صوت حمار.

اغراض د جامي : منها ای تلک المواضع: په دې عبارت سره د منها دضمیر دمرجع بیان کړي دي.

ای موضع مفعول مطلق: په دې عبارت سره یې اشاره کړې چې ما عبارت دي دمفعول مطلق نه اوددې نه مخکې مضاف محذوف دي کوم چې موضع دي اوداهمدا رنګې دیو سوال مقدر هم دي:

سوال : کلمه د ما کې دوه احتماله دي: (۱) یاددې نه مراد مفعول مطلق دي .(۲) یامراد موضع دي. دواړه احتمالات صحیح نه دي ځکه چې که ددې نه مراد مفعول مطلق وي نود ما حمل په منها باندې صحیح نه دي ځکه چې په منها کې من تبعیضیه ده دبعضې په معنې کې جوړ دي اومبتدا ده او ما وقع جمله ددې خبردي اوکله چې جمله خبر وي نوپه دې کې یوعاید کیدل ضروري دي کوم چې مبتدا طرف ته راجع وي دلته کې عائد نشته دي اوکه ددې نه مراد مواضع وي نواګر که دما وقع حمل په منها باندې صحیح دا ځي لیکن بیا دوقع ضمیر په مرجع کې

دوه (۲) احتماله دي يا خو د هغې مرجع موضع دي يا د هغه مرجع مفعول مطلق دي ، كه مرجع يې موضع وي نو مثبتاً په وقع باندې صحيح نه دي ځكه چې حذف او محذوف مفعول مطلق وي نه چې موضع ، او كه مرجع مفعول مطلق وي نو اګر كه دمثبتا حمل په وَقَعَ باندې صحيح شي ليكن په دې صورت كې جمله صفتيه په غير د عائد كيدل لازم راځي چې ناجائز دي .

جواب : مامفعول مطلق نه عبارت دي ددې مضاف محذوف دي كوم چې موضع دي اود وضع ضمير مرجع هم مفعول مطلق دي اوس به حمل هم صحيح شي او جمله صفتيه په غير د عائد نه كيدل به هم لازم نه راځي .

اي لان يشبه به : په دې عبارت سره دې خبرې طرف ته يې اشاره كړې ده چې تشبيه مصدر مبني للمفعول په معنى دمشبه دي اوددې صله محذوف دي كوم چې بِهِ دي ، مراد دادې چې دمفعول مطلق سره د يوڅيز تشبيه وركړي شوي وي نه دمفعول مطلق سره تشبيه وركړي شوي وي يو څيز سره وي يعنې دمفعول مطلق مشبه به وي .

واحترز به : ددې ځاې نه دتشبيه دقيد فائده بيانوي چې داقيد احترازي دي په دې قيد سره د لزيد صوت صوت حسن دمثال نه احتراز دي ځكه چې په دې كې صوت ثاني دتشبيه دپاره نه ده بلكه دصوت اول نه بدل دي .

اي حال كونه : په دې عبارت كې دعلاجاً تركيب طرف ته يې اشاره كړې ده چې علاجا دوقع دضمير مستتر نه حال دي چې ددې مرجع مفعول مطلق دي .

دالا على فعل : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : علاجا دوقع دضمير دفاعل نه حال جوړول صحيح نه دي ځكه چې حال په ذوالحال باندې حمليږي او دلته د علاجا حمل په مفعول مطلق باندې صحيح نه دي ځكه چې د علاج معنى كيږي دافع للداء اومفعول مطلق خو دافع نه وي .

جواب : دعلاج نه مراد هغه علاج نه دي كوم چې دطبيبانو په اصطلاح كې دي بلكه دعلاج نه مراد دادې چې هغه دافعال جوارحو نه په يوفعل باندې دلالت كوي نو اوس يې حمل صحيح دي .

واحترز به : په دې عبارت سره دعلاجاً دقيد فائده بيانول دي چې داقيد احترازي دي ددې نه

احتراز کړي دي د لزید زهد زهد الصلحاء دمثال نه خکه چې په دې کې دویم زهد اګرچې دتشبیه د پاره دي لیکن دافعال جوارحو نه نه دي بلکه دافعال قلوبو نه دي .

واحترز به : په دې عبارت سره دبعد جملة دقید فائده بیانوي چې داقید احترازي دي په دې سره یې احتراز کړي دي د صوت زید صوت حمار دمثال نه ځکه چې دااګرچې دتشبیه دپاره دي اود افعال جوارحو نه هم دي لیکن دادجملې نه پس واقع نه دي ځکه چې صوت زید جمله نه ده .

تلک الجملة : په دې کې یې دمشتملة دضمیر مرجع متعینه کړي

کائن : په دې عبارت سره ترکیب طرف ته یې اشاره کړي ده چې بمعناه ظرف مستقر دکائن متعلق صفت شو داسم .

بمعناه ای بمعنی المفعول المطلق : په دې عبارت سره د هٔ دضمیر مرجع یې متعین کړي ده چې دضمیر مرجع مفعول مطلق دي .

واحترز به : په دې عبارت کې دبمعناه دقید فائده یې بیان کړي ده چې داقید احترازي دي په دې سره دمررت بزید فاذا له ضرب صوت حمار دمثال نه احتراز دي ځکه چې په دې کې صوت حمار اګرچې د تشبیه دپاره دي اودافعال جوارحو نه هم دي اوبعد الجملة هم دي کوم چې له ضرب دي لیکن داجمله دمفعول مطلق په هم معنی اسم باندې مشتمل نه ده .

علی : په دې عبارت کې دې خبري طرف ته اشاره ده چې دصاحبه عطف په اسم باندې دي .

ای الذي قام به : په دې عبارت سره تعین دمراد بیان دي چې دصاحب نه مراد هغه اسم دي چې دهغې سره دمفعول مطلق معنی قائم وي .

واحترز به : په دې عبارت سره د صاحبه دقید فائده بیانوي چې داقید احترازي دي په دې سره احتراز دي د مررت بالبلد فاذا به صوت صوت حمار دمثال نه ځکه چې په دې کې صوت حمار اګرچې دتشبیه دپاره دي اودافعال جوارحو نه هم دي اوبعد الجملة هم دي کوم چې به صوت دي اوداد مفعول مطلق په هم معنی اسم باندې هم مشتمل دي لیکن په صاحب داسم باندې مشتمل نه دي ځکه چې آواز دبلد سره نه قائمیږي .

ای یصوت صوت حمار : دادعامل مقدره داظهار طرف ته اشاره ده صرف دتعلیم دپاره ورنه ددې حذف کول واجب دي ، ذکر کول یې جائز نه دي .

من صات الشيء : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مثال دې دممثل له سره موافق نه دي ځکه چې ممثل له مفعول مطلق دي اوصوت حمار مفعول مطلق نه دي ځکه چې دمفعول مطلق دپاره شرط دي چې هغه به مصدر وي صوت مصدر نه دي مصدر ددې وجې نه . نه دي چې دمصدر علامت دادې چې په فارسي کې به ددې دمعنى په آخر کې به دن يا تن راځي لکه الضرب زدن ، والقتل کشتن اودصوت معنى ده صرف آواز ددې په آخر کې نه دن شته او نه تن شته . لهذا ددې مفعول مطلق جوړول صحيح نه دي

جواب : ددې سوال جواب يې په من صات سره ورکړو چې لفظ دصوت مجرد مزيدفيه يعنې : تصويت په معنى کې دی په معنى دآواز ويستلو لهذا ددې مفعول مطلق جوړول صحيح دي

فصوت حمار مصدر : په دې عبارت سره شارح مثال په ممثل له باندې تطبيق کوي چې مررت بزيد فاذا له صوت صوت حمار کې صوت حمار مفعول مطلق دي کوم چې دتشبيه دپاره دي اودافعال جوارحو نه هم دي اوبعدالجملة هم واقع دي کوم چې له صوت دي اوداجمله دمفعول مطلق ده معنى اسم باندې هم مشتمله ده کوم چې صوت دي اوصاحب اسم باندې هم مشتمل دي کوم چې دله ضمير مجرور دي ځکه چې ددې فعل ناصب په وجوبي قياسي طور باندې حذف کړو په اصل کې دا يصوت صوت حمار به وو .

ونحو مررت به فاذا له صراخ صراخ الثكلى : ددې ځاې نه ددې قاعدې دويم مثال پيش کړي دي لکه مررت به فاذا له صراخ صراخ الثكلى ، زما تلل وشو په داسې ښځې سره چې چغې يې وهلو په شان د هغه ښځې چې بچي يې مړه شوي وي ، صُراخ د صاد په پيش سره په وزن د سُوال دباب د عُلِمَ نه په معنى د چغې وهلو سره ، په حديث شريف کې ذکر دي : ثكلتك امک ، په تا دې مور بوره شي ، ويلې شي چې امرأة ثكلة وثكلى .

سوال : مصنف رَحِمَهُ اللهُ ددې قاعدې دوه مثالونه ولې ذکر کړل حالانکه دممثل له دوضاحت دپاره يو مثال کافي وو .

جواب : مصنف دوه مثالونه ددوه وجو نه ذکر کړي دي : (١) ددې وجې نه چې معلوم شي چې مفعول مطلق کله اسم غير ذوي العقول وي لکه په اول مثال کې اوکله ذوي العقول وي لکه په

دويم مثال کې (۲) دويم ددې وجې نه چې مفعول مطلق کله نکرې طرف ته مضاف کيږي لکه په اول مثال کې او کله دمعرفې طرف ته لکه په دويم مثال کې.

نحو مررت به: په دې عبارت سره دې خبرې طرف ته اشاره وکړه چې **صراخ صراخ الثکلی** عطف دې په **صوت صوت حمار** باندې.

اى يصرخ صراخ: دا دعامل مقدره داظهار طرف ته اشاره ده صرف دتعليم دپاره ورنه ددې حذف کول واجب دي ذکر کول يې جائز نه دي.

وهي امرأة: په دې عبارت کې دثکلی دمعنی بيان کوې چې ثکلی هغه ښځې ته وايي چې دهغې بچي مړ شوي وي.

د فعل د حذف وجوبي قياسي پنځم مقام:

وَ مِنْهَا اَىْ مِنْ تِلْکَ الْمَوَاضِعِ مَا وَقَعَ اَىْ مَوْضِعُ مَفْعُوْلٍ مُطْلَقٍ وَقَعَ مَضْمُوْنَ جُمْلَةٍ لاَ مُحْتَمَلَ
اوبعضې ددې نه يعنې ددې مواضعونه هغه چې واقع وي يعنې په خاې دمفعول مطلق واقع وي مضمون دجملې
لَهَا اَىْ لِهٰذِهِ الْجُمْلَةِ غَيْرُهُ اَىْ غَيْرُ الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ نَحْوُ لَهُ عَلَيَّ اَلْفُ دِرْهَمٍ اِعْتِرَافاً اَىْ
چې محتمل نه وي ددې دپاره يعنې ددې جملې دپاره غير ددې نه يعنې غير دمفعول مطلق لکه له علي الف درهم
اِعْتَرَفْتُ اِعْتِرَافاً فَاِعْتِرَافاً مَصْدَرٌ وَقَعَ مَضْمُوْنَ جُمْلَةٍ وَ هِيَ لَهُ عَلَيَّ اَلْفُ دِرْهَمٍ لِاَنَّ مَضْمُوْنَهُ
اعترافايعنې اعترفت اعترافا نواعترافامصدر دي واقع شوي مضمون دجملې اوهغه له علي الف درهم دي څکه
الْاِعْتِرَافُ وَلاَ مُحْتَمَلَ لَهُ سِوَاهُ وَ يُسَمّٰى هٰذَا النَّوْعُ مِنَ الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ تَاْكِيْداً لِنَفْسِهٖ
مضمون ددې اعتراف دي اوددې محتمل ددې نه غير نه دي اومسمى کولې شي دا قسم دمفعول مطلق تاکيد لنفسه
اَىْ لِنَفْسِ الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ لِاَنَّهُ اِنَّمَا يُؤَکِّدُ نَفْسَهُ وَ ذَاتَهُ لاَ اَمْراً
يعنې دنفس مفعول مطلق دپاره څکه چې مفعول دخپل نفس اوذات تاکيد کوي نه ديوداسې څيزچې ددې نه
يُغَايِرُهُ وَ لَوْ بِالْاِعْتِبَارِ.
مغايروي کرچې اعتباري وي.

خلاصه دمتن: په ذکر شوي عبارت کې د بل داسې مقام ذکر کوي چې هلته د مفعول مطلق فعل ناصبه په قياسي طور باندې حذف کول واجب دي چيرته چې مفعول مطلق د داسې جملې مضمون او خلاصه واقع وي چې په هغې کې د مفعول مطلق د معنى نه غير د دويم معنى احتمال نه وي لکه **علي الف درهم اعترافا**، دا په اصل کې **اعترفت اعترافا** وو (په ما باندې زر روپې

درهم واجب دي زه ددې اعتراف کوم ، اعتراف کول) د مفعول مطلق دې قسم ته تاکيد لنفسه وايي .

اغراض دجامي : اى من تلک المواضع : په دې عبارت کې د ها ضمير مرجع يې ظاهره کړه چې هغه مواضع دي .

اى موضع مفعول مطلق : په دې عبارت سره يې اشاره وکړه چې د ما نه مراد مفعول مطلق دي اوددې نه مخکې موضع مضاف محذوف دي

اى لهذه الجملة : په دې کې د لها ضمير مرجع يې متعين کړه چې دضمير مرجع جمله ده

اى غير المفعول المطلق : په دې عبارت کې د غيره دضمير مرجع يې متعين کړه چې هغه مفعول مطلق دي .

اى اعترفت اعترافا : دا دعامل مقدر داظهار طرف ته اشاره ده ، په اصل کې دا اعترفت اعترافا وو

فاعترافا مصدر وقع مضمون : په دې عبارت کې مثال په ممثل له باندې تطبيق کول دي چې په دې مثال کې اعترافا مصدر دي کوم چې دجملې مضمون اوخلاصه واقع کيږي اوبه دې جمله کې د اعتراف نه غير بل احتمال دسره نه دي .

هذا النوع : داد يسمى دضمير مرجع ظاهروي .

اى لنفس المفعول المطلق : په دې عبارت کې دلنفسه دضمير مرجع يې ظاهره کړه چې هغه مفعول مطلق دي .

لانه انما يوكد نفسه : په دې عبارت کې دمفعول مطلق دتاکيد لنفسه دنام ايخودلو وجه بيانوي چونکې په دې کې مفعول مطلق دخپل ذات اودخپل نفس تاکيد کوي مؤکد اومؤکد يو څيز وي په دې کې هيڅ قسمه تغاير نه وي نه ذاتي اونه اعتباري نوددې وجې نه دې ته تاکيد لنفسه وايي .

د فعل د حذف وجوبي قياسي شپږم مقام :

وَ مِنْهَا مَا وَقَعَ مَضْمُوْنَ جُمْلَةٍ لَهَا اَىْ لِهٰذِهِ الْجُمْلَةِ مُحْتَمَلٌ غَيْرُهُ

اوبعضې ددې نه هغه چې واقع وي مضمون دجملې ددې دپاره يعنې ددې جملې دپاره ددې نه غير دبل څيزاحتمال

اَىْ غَيْرُ الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ نَحْوُ زَيْدٌ قَائِمٌ حَقًّا اَىْ اُحِقُّ حَقًّا مِنْ حَقَّ يَحِقُّ اِذَا ثَبَتَ وَوَجَبَ فَحَقًّا مَصْدَرٌ

وي يعنې غير دمفعول مطلق نه لکه زيد قائم حقا يعنى احق حقا د حق يحق نه دي چې کله ثابت وي نو حقا مصدر

وَقَعَ مَضْمُوْنَ جُمْلَةٍ وَ هِيَ قَوْلُهُ زَيْدٌ قَائِمٌ وَ لَهَا مُحْتَمَلٌ غَيْرُهُ لِاَنَّهَا تَحْتَمِلُ الصِّدْقَ
دي واقع دي مضمون د جملې او هغه دا قول چې زيد قائم او ددې د پاره بل احتمال وي ځکه چې دا احتمال د صدق
وَالْكِذْبَ وَالْحَقَّ وَالْبَاطِلَ وَيُسَمّٰى هٰذَا النَّوْعُ مِنَ الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ تَاكِيْداً لِغَيْرِهٖ لِاَنَّهٗ مِنْ حَيْثُ هُوَ مَنْصُوْصٌ
او كذب او حق او باطل لري او مسمى كړي دا قسم د مفعول مطلق تاكيد لغيره د دې حيثيت نه چې دا منصوص
عَلَيْهِ بِلَفْظِ الْمَصْدَرِ يُؤَكِّدُ نَفْسَهٗ مِنْ حَيْثُ هُوَ مُحْتَمَلُ الْجُمْلَةِ فَالْمُؤَكَّدُ اِسْمُ
عليه وي په لفظ د مصدر سره نو خپل نفس تاكيد كوي د دې حيثيت نه چې دا جمله محتمله ده پس مؤكد اسم
مَفْعُوْلٍ مِنْ حَيْثُ اِعْتِبَارِ وَصْفِ الْاِحْتِمَالِ فِيْهِ يُغَايِرُ الْمُؤَكِّدَ اِسْمَ فَاعِلٍ مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ
مفعول دي د حيثيت د اعتبار د وصف د احتمال نه په دې كې مؤكد مغاير دي اسم فاعل د دې حيثيت نه چې دا
مَنْصُوْصٌ عَلَيْهِ بِالْمَصْدَرِ وَ يَحْتَمِلُ اَنْ يَكُوْنَ الْمُرَادُ اَنَّهٗ تَاكِيْدٌ لِاَجْلِ غَيْرِهٖ لِيَنْدَفِعَ
منصوص عليه وي په مصدر سره او دا احتمال لري چې وي مراد دا چې تاكيد د وجې د غير نه د دې وجې نه چې دفع شي
وَ عَلٰى هٰذَا يَنْبَغِيْ اَنْ يَكُوْنَ الْمُرَادُ بِالتَّاكِيْدِ لِنَفْسِهٖ اَنَّهٗ تَاكِيْدٌ لِاَجْلِ نَفْسِهٖ لِيَتَكَرَّرَ وَ يَتَقَرَّرَ
او بناء په دې باندې مناسب دي چې وي مراد په تاكيد لنفسه سره چې دا تاكيد لاجل نفسه وي چې مكرر او مقرر وي
حَتّٰى يَحْسُنَ التَّقَابُلُ.
د دې د پاره چې تقابل په ښه طريقې سره راشي.

خلاصه د متن: په ذكر شوي عبارت كې مزيد د داسې مقام ذكر دي چې هلته د مفعول مطلق فعل ناصبه قياسي طور باندې حذف كول واجب دي چيرته چې مفعول مطلق د داسې جمله مضمون او خلاصه واقع وي چې په هغې كې د مفعول مطلق د معنى نه غير د دويم معنى احتمال هم موجود وي لكه زيد قائم حقا دا په اصل كې وو احق حقا (زه حقه خبره كوم ، حقه وينا كول)

اغراض د جامي : اى لهذه الجملة: په دې عبارت كې د لها د ضمير مرجع يې متعين كړي ده چې د ضمير مرجع جمله ده .

اى هذه الجملة: په دې عبارت كې د لها د ضمير مرجع يې متعين كړي ده چې د ضمير مرجع جمله ده .

اى غير المفعول المطلق: په دې عبارت كې د غير د ضمير مرجع يې متعين كړي ده چې د ضمير مرجع مفعول مطلق دي .

اى احق حقا: دا د عامل مقدر د اظهار طرف ته اشاره ده ليكن دا صرف د پوهيدلو د پاره دي ورنه د دې حذف كول واجب دي ، ذكر كول يې جائز نه دي دا په اصل كې وو احق حقا .

من حق يحق اذا ثبت : دلته د حقا د معنی بيان کوي چې داد حق يحق نه ماخوذ دي چې ددې معنی ده ثبت وجب

فحقا مصدر وقع : په دې عبارت کې مثال په ممثل له باندې تطبيق کول دي چې په دې مثال کې حقا مصدر دي کوم چې د جملې مضمون او خلاصه واقع ده او هغه جمله زيد قائم دي او په دې جمله کې د مفعول مطلق د معنی حق نه غير د دويمې معنی احتمال هم دي او هغه معنی کذب او باطل دي ځکه چې زيد قائم جمله خبريه ده کوم چې د صدق او د کذب ، حق او باطل دواړو احتمال لري پس د حقا فعل ناصبه يعني احق په وجوبي طور باندې حذف کړې شو .

لانه من حيث : په دې عبارت سره د تاکيد لغيره وجه د تسميې د بيان په ضمن کې د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : تاکيد لغيره خو محال دي ځکه چې تاکيد نوم دي د تلفظ الشيء بلفظ واحد مرتين (تلفظ د يو څيز په يو لفظ سره دوه کرت) لهذا په ذکر شوي مثال کې حقا د خپل نفس او د خپل ذات تاکيد کوي په دې اعتبار سره چې هغه د جملې محتمل دي نو د مصنف قول يسمى تاکيدا لغيره ويل څنګه صحيح شو ؟

جواب : شارح ددې نه دوه (۲) جوابونه ورکړي دي :

اول جواب : دلته د اعتباري نه تغاير مراد دي ځکه چې مضمون جمله يعني حقا ددې حيثيت نه چې منصوص عليه په لفظ د مصدر دي يعني لفظ د مصدر په دې باندې صراحتا دلالت کوي د امتيقن دي او ددې حيثيت نه چې هغه د جملې محتمل دي دا غير متيقن دي لهذا ددې په مينځ کې تغاير اعتباري وموندل شو او ددې مغايرت اعتباري د وجې نه ددې نوم تاکيد لغيره کيخودل شو ورنه په حقيقت کې خو دا هم تاکيد لنفسه دي .

دوهم جواب : ويحتمل ان يکون سره ددې ذکر شوي اعتراض دويم جواب ورکوي چې د تاکيد لغيره لام اجليه او تعليليه دي نو يسمى تاکيدا لغيره معنی ده يسمى تاکيدا لاجل غيره او د غير نه مخکې مضاف محذوف دي نو عبارت به داسې وي چې ويسمى تاکيدا لاجل الدفاع غيره نو مطلب به دا وي چې ددې قسم نوم تاکيد لغيره ددې وجې نه دي چې دا د خپل ذات او د خپل نفس د تاکيد کولو سره د غير احتمال دفع کوي ځکه يې ددې نوم تاکيد لغيره کيخودو نو حاصل د

عبارت به داسې وي چې ويسمى تاكيدا لنفسه لاجل اندفاع غيره .

وعلى هذا ينبغي: په دې عبارت کې ديوې فائدې بيان کوي چې کله يسمى تاكيدا لغيره کې لام اجليه دي نو مناسب داده چې تاكيد لنفسه کې هم لام اجليه وي ددې دپاره چې ددواړو په عبارتونو کې په ښه طريقې سره تقابل راشي نو عبارت به داسې وي چې تاكيد لاجل نفسه يعني دخپل ذات تاكيد ، ددې دپاره چې دخپل ذات اودنفس تکرر اوتقرر وشي .

د فعل د حذف وجوبي قياسي اوم مقام :

وَ مِنْهَا مَا وَقَعَ مُثَنًّى اَيْ عَلٰى صِيْغَةِ التَّثْنِيَةِ وَ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لِلتَّثْنِيَةِ لِلتَّكْرِيْرِ
اوبعضې ددې نه هغه چې واقع وي مثنى يعني په صيغې دتثنيه باندې اګرچې نه وي دتثنيې دپاره بلکې دتکرير
وَ التَّكْثِيْرِ وَلَا بُدَّ فِيْ تَتْمِيْمِ هٰذِهِ الْقَاعِدَةِ مِنْ قَيْدِ الْاِضَافَةِ اَيْ مُثَنًّى مُضَافًا اِلَى الْفَاعِلِ
اودتکثير دپاره وي ﺍﻭ نشته لابدي دتکميل ددې قاعدې دپاره دقيد داضافت نه يعني مثنى چې مضاف وي فاعل
اَوِ الْمَفْعُوْلِ لِئَلَّا يَرِدَ مِثْلُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ اَيْ رَجْعًا مُكَرَّرًا كَثِيْرًا
يامفعول ته ددې دپاره چې وارد نه شي په دې قول دالله تعالى ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ اعتراض يعني رجوع مکرره ډيره
وَ فِيْ جَعْلِ الْمِثَالِ مِنْ تَتِمَّةِ التَّعْرِيْفِ لِاِفَادَةِ هٰذِهِ الْقَيْدِ تَكَلُّفٌ مِثْلُ لَبَّيْكَ اَصْلُهٗ اَلِبُّ لَكَ
اوپه ګرځولو دمثال کې تکميل دتعريف نه دپاره دافادې ددې قيد کې تکلف دي لکه لبيک داپه اصل کې الب لک
اَلْبَابَيْنِ اَيْ اُقِيْمُ لِخِدْمَتِكَ وَ اِمْتِثَالِ اَمْرِكَ وَ لَا اَبْرَحُ عَنْ مَكَانِيْ اِقَامَةً كَثِيْرَةً مُتَتَالِيَةً
البابين يعني زه ولاړيم ستاد خدمت دپاره اودحکم منلودپاره اونه جداکيږم دخپل ځاې نه ولاړه ډيره پرلپسې
فَحُذِفَ الْفِعْلُ وَ اُقِيْمَ الْمَصْدَرُ مَقَامَهٗ وَ رُدَّ اِلَى الثُّلَاثِيِّ بِحَذْفِ زَوَائِدِهٖ ثُمَّ حُذِفَ
نوحذف شوفعل اوقائم شومصدر په ځاې ددې اورواپس کړې شوثلاثي ته په حذف دزوائدو سره بيا حذف کړې شو
حَرْفُ الْجَرِّ مِنَ الْمَفْعُوْلِ وَاُضِيْفَ الْمَصْدَرُ اِلَيْهِ وَ يَجُوْزُ اَنْ يَّكُوْنَ مِنْ لَبَّ بِالْمَكَانِ بِمَعْنٰى اَلَبَّ فَلَا يَكُوْنُ
حرف جر دمفعول نه اومضاف يې کړو مصدر دې طرف ته اوجائز دي چې وي دلب بالمکان نه په معنى دالب نونه به وي
مَحْذُوْفَ الزَّوَائِدِ وَ عَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ سَعْدَيْكَ اَيْ اُسْعِدُكَ اِسْعَادًا بَعْدَ اِسْعَادٍ بِمَعْنٰى اُعِيْنُكَ اِلَّا
زوائد محذوف اوپه همدې باندې سعديک قياس دی يعني اسعدک اسعادابس داسعادمعنى زه ستامدد کوم مګر
اَنَّ اُسْعِدُ يَتَعَدّٰى بِنَفْسِهٖ بِخِلَافِ اَلِبُّ فَاِنَّهٗ يَتَعَدّٰى بِاللَّامِ .
داکه اسعد متعدي بنفسه وي په خلاف دالب ځکه چې دامتعدى باللام دي.

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې دلته آخري مقام بيانوي چيرته چې دمفعول مطلق فعل ناصبه قياسي طور باندې حذف کول واجب دي چې هغه مفعول مطلق چې دتثنيې په صورت

باندې وي ددې فعل ناصبه حذف كول هم واجب دي لكه لبيک داپه اصل كې الب لک البا بين وو نو بالآخر دتعليلاتو نه پس لبيک جوړ شو چې تفصيل يې لاندې په شرحه كې راروان دي .
همدارنګې سعديک داپه اصل كې اسعدک اسعادا بعد اسعاد دفعل ناصبه حذف اودڅو تبديلو نه پس دا سعديک جوړ شو

اغراض دجامي : اي على صيغة التثنية : په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه سوالينو مقدرو جواب وركول دي .

اول سوال : مثال د ممثل له سره مطابق نه دي ځكه چې ممثل له هغه مفعول مطلق دي كوم چې تثنيه وي او لبيک ددې معنى ثتنيه نه ده بلكې ددې معنى تكرار اوكثرت ده .

دوهم سوال : ددې قاعدې تقاضا داده چې ضرب ضربين كې فعل ناصبه په قياسي طور باندې حذف كول واجب دې ځكه چې په دې كې مفعول مطلق يعني ضربين تثنيه واقع ده حالانكه ددې فعل مذكور دي محذوف نه دي اونه د چا په نزد باندې ددې حذف كول واجب دي .

جواب : مثنى . شارح په دې عبارت سره ددواړو سوالونو جواب وركوي چې د مثنى نه مراد دادې چې هغه د تثنيې په صورت باندې وي او په معنى دتكرير اودتكثير باندې وي نو اوس دواړه سوالونه رفع شو ،اول سوال په دې طريقې باندې رفع شو چې لبيک صورة تثنيه ده اود تكراراو تكثير په معنى كې دي . او دويم سوال په دې طريقې سره رفع شو چې ضربين اګر چې صورةً تثنيه ده ليكن ددې معنى تكرير او تكثير نه ده ځكه چې د فعل ناصبه حذف كول واجب نه دي .

ولا بد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : مصنف ته په كاروو چې هغه د مضاف الى الفاعل يا الى المفعول قيد لړولې اودايې ويلي وي چې منها ما وقع مثنى مضافاً الى الفاعل والمفعول ځكه چې په ذكر شوي صورت كې دمفعول مطلق دفعل ناصبه حذف كول په هغه وخت كې وي چې كله دافاعل يامفعول طرف ته مضاف وي كه چيرته فاعل يامفعول طرف ته مضاف نه وي نو ددې حذف كول واجب نه دي لكه ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ په دې كې كَرَّتَيْنِ مفعول مطلق دي كوم چې دتثنيې په صورت كې . واقع دي

لیکن چونکې دافاعل یا مفعول طرف ته مضاف نه دي ددې وجې نه فعل مذکور دي محذوف نه دي .

وفي جعل المثال: په دې عبارت کې شارح دغرض په فاضل هندي باندې رد کول دي ، فاضل هندي دمذکوره اعتراض جواب داورکړي دي چې مصنف داضافت دقید په مثال باندې داکتفاء کولو دوجې نه،نه دي ذکر کړي ځکه چې په لبیک اوسعدیک کې مفعول مطلق دمفعول طرف ته مضاف دي ګویا چې دامثال تعریف دضابطې دتتمې نه دي نوشارح دا رد کړو چې دتعریف اوضابطې دتتمې جوړولو کې تکلف دي ځکه چې مثال دتعریف اودضابطې دتام کیدو نه پس دوضاحت دپاره وي نه ددې تعریف یادضابطې دتتمې دپاره .

اصله الب لک البابین: په دې عبارت کې دعامل مقدر داظهار طرف ته اشاره ده ، صرف دتعلیم دپاره ورنه ددې حذف کول واجب دي ذکر کول یې جائز نه دي .

ای اقیم: په دې عبارت سره دمثال دمعنی بیان دي چې دلبیک معنی ده زه ستا دخدمت اوستادامر دتعمیل دپاره ولاړ یم مسلسل کثرت سره اوزه دخپل ځاې نه ، نه جداکیږم .

فحذف الفعل: په دې عبارت سره مثال په ممثل له باندې تطبیق کول دي چې لبیک په اصل کې الب لک البابین دي الب فعل یې حذف کړو اومصدر یې ددې قائمقام کړو نو البابین لک شو بیا البابین نه زوائد یعنې همزه مکسوره او الف یې حذف کړو اودایې مجرد طرف ته منتقل کړو نو لبین لک شو بیا مصدر یې کاف ضمیر طرف ته مضاف کړو او لام جاره یې حذف کړو اونون دتثنیې داضافت په وجه وغورزیدو نو لببیک شو بیا مو باء په باء کې مدغم کړه نو لبیک شو.

ویجوز: په دې عبارت سره دلبیک ددویمې توجیه بیان کوي چې لبیک په اصل کې الب لک لببین وو الب فعل یې حذف کړو مصدر یې ددې قائمقام کړو نو لببین لک شو بیا مصدر یې کاف دضمیر طرف ته مضاف کړواو لام جاره یې حذف کړو اونون دتثنیې داضافت په وجه وغورزیدو نو لببیک شو بیا مو باء په باء کې مدغم کړه نو لبیک شو.

داولې توجیه اوددویمې توجیه په مینځ کې صرف دومره فرق دي چې داولې توجیه مطابق لبیک د محذوف الزوائدو نه دي اوددویمې توجیه مطابق دمحذوف الزوائد نه ، نه دي .

وعلی هذا القیاس سعدیک: په دې عبارت کې ددویم مثال سعدیک دتوجیه بیان دي چې دایې په لبیک په اوله توجیه باندې قیاس کول په کار دي ، سعدیک په اصل کې اسعدک اسعادین وو

معنی يې د'ده چې زه ستا تائيد اونصرت اومدد کوم بار بار په کثرت سره تائيد اونصرت کول اسعد فعل يې حذف کړو مصدر يې ددې قائمقام کړو بيا زوائد يعنې همزه مکسوره اوالف يې حذف کړو اونون د تثنيې د اضافت دوجې نه وغورزيدو نو سعديک شو .

الا ان اسعد يتعدی بنفسه : په دې عبارت سره داول مثال اودويم مثال په مينځ کې فرق ظاهروي ، اسعد دابې دواسطې دحرف جر نه متعدي وي . او الب دلام په واسطه باندې متعدي وي .

﴿اَلْمَفْعُوْلُ بِهٖ﴾ :
د مفعول به تعريف :

اَلْمَفْعُوْلُ بِهٖ هُوَ مَا وَقَعَ اَيْ هُوَ اِسْمٌ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ فِعْلُ الْفَاعِلِ وَ لَمْ يَذْكُرِ
مفعول به هغه چې واقع وي يعنې داهغه اسم دې چې واقع وي په دې باندې فعل دفاعل اوذکرېې نه کړوماتن
الْاِسْمَ اِكْتِفَاءً بِمَا سَبَقَ فِي الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ وَ الْمُرَادُ بِوُقُوْعِ فِعْلِ الْفَاعِلِ
اسم اکتفاء يې وکړه په هغه څيزباندې کوم چې په مفعول مطلق کې تيرشوي دې اومراد په وقوع فعل دفاعل په
عَلَيْهِ تَعَلُّقُهُ بِهٖ بِلَا وَاسِطَةِ حَرْفِ الْجَرِّ فَاِنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ فِيْ ضَرَبْتُ زَيْداً اِنَّ الضَّرْبَ وَاقِعٌ
دې پورې متعلق کيدل دي بې د واسطې د حرف جر نه ځکه چې دوي وايي په ضربت زيداکې چې ضرب واقع دې
عَلٰى زَيْدٍ وَلَا يَقُوْلُوْنَ فِيْ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ اِنَّ الْمُرُوْرَ وَاقِعٌ عَلَيْهِ بَلْ مُتَلَبِّسٌ بِهٖ.
په زيد باندې اودا به نه وايي په مررت بزيد کې چې مرور واقع دې په ده باندې بلکې ددې سره متلبس دې .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافيې دمفعول به تعريف کوي چې مفعول به دهغه څيز نوم دې چې په هغې باندې دفاعل فعل واقع وي لکه ضربت زيداً .

اغراض دجامي : ای هو اسم : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کلمه دما ددوه حالتونو نه خالي نه ده يا به ددې نه مراد اسم وي ، اويا به مسمی ، اودادواړه احتماله صحيح نه دي ځکه چې که چيرته دما نه مراداسم واخلي نو په دې باندې دفاعل دفعل وقوع صحيح نه دي ځکه چې دفعل وقوع په مسمی باندې کيږي نه په اسم باندې اوکه چيرته دمانه مراد مسمی واخلي نو خروج عن المبحث به لازم راشي ځکه چې بحث په اسم

کې کیږي نه په مسمی کې .

جواب : دما نه مراد مسمی دي لیکن مضاف محذوف دي کوم چې اسم دي په اصل کې دا هو اسم ما وقع الخ وو اوس د فاعل د فعل وقوع هم صحیح شوه او خروج عن المبحث هم لازم رانه غلو

ولم یذکر الاسم : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په دې صورت کې خو په تعریف کې تقدیر لازم راغلو کوم چې جائزنه دي ځکه چې تعریف د معرف دوضاحت دپاره وي او په تقدیر کې تجهیل دي کوم چې مخل او نقصان ده دي تعریف او وضاحت ته .

جواب : په تعریف کې تقدیر په هغه وخت کې ناجائز دي چې کله په دې باندې قرینه موجود نه وي او که چیرته قرینه موجود وي نو جائز دي او دلته قرینه موجود ده چې دمفاعیلو نه د ټولو نه مخکې مفعول یعنې دمفعول مطلق په تعریف کې لفظ داسم مذکور دي او هم دا لفظ په ټولو مفاعیلو کې ملحوظ دي.

والمراد بوقوع : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمفعول به تعریف جامع نه دي دا په ایاک نعبد کې په ایاک باندې صادق نه راځي ځکه چې عبادت په الله باندې نه واقع کیږي بلکې عبادت دالله دپاره وي همدا رنګې داتعریف په ما ضربت زیدا کې په زید باندې هم صادق نه راځي ځکه چې ضرب په زید باندې واقع نه دي بلکه دزید نه دضرب نفي دي حالانکه دامفعول به دي .

جواب : په مفعول به باندې دفاعل دفعل دواقع کیدو نه مراد دادي چې ددې سره دفعل تعلق وي بیا دا تعلق عام دي که نفیا وي یا اثباتا وي ، اوس داتعریف په ایاک نعبد کې په ایاک باندې صادق راغې ځکه چې دعبادت تعلق دالله سره دي اثباتا او په ما ضربت زیدا کې په زید باندې هم صادق راغلو ځکه چې اګرچې دضرب تعلق دزید سره اثباتا نه دي لیکن نفیا دي او قاعده داده چې السوالب تابعة للموجبات ، چې سوالب داتابع وي دموجباتو.

بلاواسطة : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : دمفعول به تعریف ددخول دغیر نه مانع دي ځکه چې داتعریف په مررت بزید کې په

زيد باندې صادق راځي ځکه چې ددې سره دمرور دفعل تعلق دي حالانکه دا مفعول به نه دي بلکه جار مجرور دي

جواب : دتعلق نه مراد تعلق بلاواسطه حرف جار دي او په ذکر شوي مثال کې دزيد سره دمرور والا فعل تعلق خو دي ليکن بې دواسطې دحرف جر نه ، نه دي بلکه په واسطې دحرف جر دي لهذا په دې باندې تعريف صادق نه راځي .

فانهم يقولون : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : ددې څه وجه ده چې په ضربت زيدا کې زيد يې مفعول به جوړ کړو او په مررت بزيد کې يې زيد مفعول به جوړ نه کړو حالانکه چې لکه څنګه په ضربت زيدا کې دضرب دزيد سره تعلق دي همدارنګې په مررت بزيد کې هم دمرور تعلق دزيد سره دي .

جواب : ددې وجه عرف او عادت دي چې داهل لغتو عادت همدارنګې جاري دي چې په ضربت زيدا کې خو دا وايي چې ضرب په زيد باندې واقع دي او په مررت بزيد کې دا نه وايي چې دفعل مرور په زيد باندې واقع دي بلکې دا وايي چې مرور ددې سره متلبس دي .

د تعريف د قيودو فوائد:

فَخَرَجَ بِهِ الْمَفَاعِيْلُ الثَّلَاثَةُ الْبَاقِيَةُ فَإِنَّهُ لَا يُقَالُ فِيْ وَاحِدٍ مِنْهَا إِنَّ الْفِعْلَ
نوخارج شو په دې سره باقي مفاعيل ثلاثه ځکه چې ددې نه يو ته نه شي ويلې چې فعل واقع دي په دې باندې
وَاقِعٌ عَلَيْهِ بَلْ فِيْهِ أَوْ لَهُ أَوْ مَعَهُ وَ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ بِمَا يُفْهَمُ مِنْ مُغَايَرَتِهِ لِفِعْلِ
بلکې په دې کې يا ددې دپاره يا ددې سره او مفعول مطلق دهغه څه دوجې نه چې فهميږي دمغايرت دفعل د
الْفَاعِلِ فَإِنَّ الْمَفْعُوْلَ الْمُطْلَقَ عَيْنُ فِعْلِهِ.
فاعل دوجې نه خارج شو ځکه چې مفعول مطلق دخپل فعل عين وي .

اغراض دجامي : فخرج به: په دې عبارت سره غرض دشارح دقيوداتو فوائد بيانول دي ،

ماوقع عليه فعل الفاعل نه باقي مفاعيل مفعول فيه ، مفعول معه ، مفعول له خارج شو ځکه چې ددې په باره کې دانه شي ويلې چې په دې باندې فعل واقع وي بلکې ويلې شي چې په دې کې فعل واقع وي يا ددې دپاره واقع دي يا ددې سره واقع دي او همدارنګې مفعول مطلق هم خارج شو ځکه چې **وقع عليه فعل الفاعل** نه دا هم معلوميږي چې مفعول به دفعل مغاير وي حالانکه چې

هيڅ يو فعل په خپل نفس اوپه خپل ذات باندې نه واقع كيږي اومفعول مطلق دفعل مغاير نه وي بلكه ددې عين وي

د فعل د فاعل نه مراد او مقصد :

وَ الْمُرَادُ بِفِعْلِ الْفَاعِلِ فِعْلٌ ن اعْتُبِرَ اِسْنَادُهُ اِلٰى مَا هُوَ فَاعِلٌ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً
اومراددفعل دفاعل نه هغه فعل چې معتبركړې شي اسناددې هغه طرف ته چې فاعل وي حقيقةً اوياحكماًنو
فَخَرَجَ بِهٖ مِثْلُ زَيْدٌ فِيْ ضُرِبَ زَيْدٌ عَلٰى صِيْغَةِ الْمَجْهُوْلِ فَاِنَّهٗ لَمْ يُعْتَبَرْ اِسْنَادُهٗ اِلٰى فَاعِلِهٖ وَ
خارج شوپه دې سره زيدپه ضرب زيدكې په صيغې دمجهول سره خكه چې نه دې معتبراسناددې فاعل ته اوځه
لاَ يُشْكَلُ بِمِثْلِ اُعْطِيَ زَيْدٌ دِرْهَماً فَاِنَّهٗ يَصْدُقُ عَلٰى دِرْهَماً اَنَّهٗ وَقَعَ عَلَيْهِ
اشكال نشته په اعطي زيددرهماباندې خكه چې داصادقيږي په درهماباندې خكه چې په دې باندې واقع كيږي
فِعْلُ الْفَاعِلِ الْحُكْمِيِّ الْمُعْتَبَرِ اِسْنَادُ الْفِعْلِ اِلَيْهِ فَاِنَّ مَفْعُوْلَ مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهٗ فِيْ حُكْمِ الْفَاعِلِ
فعل دفاعل حكمي چې معتبر دې اسناددفعل دې طرف ته خكه چې مفعول مالم يسم فاعله په حكم دفاعل كې
وَ بِمَا ذَكَرْنَا ظَهَرَ فَائِدَةُ ذِكْرِ الْفَاعِلِ فَلاَ يَرِدُ اَنَّهٗ لَوْ قَالَ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ الْفِعْلُ
دې اوپه هغه چې مونږذكركړې ظاهريږي فائده دذكردفاعل نونه واردېږي داكه چيرته وويل شي ماوقع عليه الفعل
لَكَانَ اَخْصَرَ نَحْوُ ضَرَبْتُ زَيْداً فَاِنَّ زَيْداً قَدْ وَقَعَ عَلَيْهِ بِلاَ وَاسِطَةِ حَرْفِ الْجَرِّ فِعْلٌ
نودابه ډيرمختصروي لكه ضربت زيداخكه زيداكله كله واقع كيږي په دې باندې بې دواسطې دحرف جرنه فعل
اُعْتُبِرَ اِسْنَادُهٗ اِلَى الْفَاعِلِ الَّذِيْ هُوَ ضَمِيْرُ الْمُتَكَلِّمِ.
چې معتبر وي اسناددې هغه فاعل ته چې هغه ضميردمتكلم وي .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب كافيه دفعل دفاعل نه چې كوم مراد او مقصود دې دهغې وضاحت كوي

اغراض دجامي : والمرادبفعل : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : دمفعول به تعريف نه مانع دي اونه جامع ، جامع ځكه نه دي چې داپه ضُرِبَ زيد كې په زيد باندې صادق نه راځي ځكه چې په دې باندې دفاعل فعل واقع نه دي حالانكه زيد مفعول به نه دي بلكه نائب فاعل دي ، اوجامع ځكه نه دي ځكه چې داتعريف په اعطي زيد درهما كې په درهما باندې صادق نه راځي ځكه چې په دې باندې دفاعل فعل نه دي واقع بلكه دنائب فاعل

فعل واقع دي

جواب: نو ددې جواب دادې چې ماوقع عليه فعل الفاعل کې فعل الفاعل مرکب اضافي دي په دې کې مضاف په فعل کې هم تصرف اوتاويل کولې شي اوپه مضاف اليه الفاعل کې هم تاويل کولې شي په مضاف کې به داتاويل کولې شي چې دفعل نه مراد مطلق فعل نه دي بلکه هغه فعل مراد دي چې دهغې اسناد فاعل طرف ته معتبر وي اوپه فاعل کې داتاويل وکړې شي چې په دې کې تعميم دي برابره خبره ده چې فاعل حقيقتاً وي اويا حکما چې کله دفعل نه مراد هغه فعل وي چې دهغې اسناد فاعل طرف ته معتبر وي نو ددې نه ضرب زيد کې زيد خارج شو ځکه چې ددې فعل اسناد فاعل طرف ته نه دي بلکه مفعول طرف ته دي اوچې کله په فاعل کې تعميم وي برابره خبره ده چې حقيقتاً وي اويا حکما نو داتعريف په اعطي زيد درهما کې په درهما باندې صادق راغلو ځکه چې په دې باندې دفعل حکمي فعل واقع کيږي ځکه چې زيد دنائب فاعل کيدو دوجې نه دفاعل په حکم کې کيږي .

وبماذکرنا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللَّهُ په خپل کتاب کې داختصار قائل دي اوپه عبارت کې اصل ايجاز او اختصار دي نومصنف ته په کار وو چې داسې يې ويلي وي چې ماوقع عليه الفعل په دې سره مقصود هم حاصليدو اواختصار هم وو د الفاعل اضافه بې فائدې اوبې ضرورته دي .

جواب: دپورتني تقرير اودسوال اوجواب نه دالفاعل دذکر کولو فائده هم واضحه شوه چې ددې نه هغه زيد خارج شوکوم چې په ضُرب زيد کې واقع دي اوپه دې کې داخل دې درهما کوم چې په أعطي زيد درهما کې واقع دي که چيرته الفاعل يې نه وي ذکر کړي نو دفاعل اوداسناد اعتبار به مقدر منل راتللو نو چې کله يې فاعل ذکر کړو نو اوس صرف داسناداعتبارمقدر منلې راغلل ځکه چې داقيد بې فائدې اوبې ضرورته نه دي بلکې ضروري دي .

فان زيدا: په دې عبارت سره مثال په ممثل باندې تطبيق کوي چې په ضربت زيدا کې زيدمفعول به دي ځکه چې په دې باندې بې دواسطې دحرف جر نه دفاعل فعل واقع کيږي اوددې فعل اسناد فاعل طرف ته معتبر دي اوهغه فاعل ضمير متکلم دي .

د مفعول به جوازي او وجوبي تقديم :

وَ قَدْ يَتَقَدَّمُ الْمَفْعُوْلُ بِهِ عَلَى الْفِعْلِ الْعَامِلِ فِيْهِ لِقُوَّةِ الْفِعْلِ فِي الْعَمَلِ فَيَعْمَلُ
او کله کله مقدم وي مفعول به په هغه فعل باندې چې عامل وي په دې کې دوجې د قوت دفعل نه په عمل کې نو عمل
فِيْهِ مُتَقَدِّماً وَ مُتَأَخِّراً إِمَّا جَوَازاً مِثْلُ اَللّٰهَ اَعْبُدُ وَ وَجْهَ الْحَبِيْبِ اَتَمَنّٰى وَ إِمَّا وُجُوْباً فِيْمَا تَضَمَّنَ
به کوي په دې کې مقدم یا موخر یا جوازا لکه الله اعبد ووجه الحبیب اتمنی او یا وجوبا په هغه ځه کې چې متضمن
مَعْنَى الْاِسْتِفْهَامِ وَالشَّرْطِ نَحْوُ مَنْ رَأَيْتَ وَمَنْ تُكْرِمْ يُكْرِمْكَ هٰذَا إِذَا لَمْ يَكُنْ مَانِعٌ مِنَ التَّقْدِيْمِ
وي معنی د استفهام او شرط لره لکه من رایت ومن تکرم یکرمک دا په هغه صورت کې چې نه وي مانع د تقدیم نه
كَوُقُوْعِهِ فِيْ حَيِّزِ أَنْ نَحْوُ مِنَ الْبِرِّ أَنْ تَكُفَّ لِسَانَكَ .
لکه واقع کیدل د دې په ځاې د ان لکه من البر ان تکف لسانک .

خلاصه د متن : د تعریف نه د فارغیدو نه پس اوس د مفعول به احکام بیانوي ، په پورتني عبارت کې د مفعول به یوه قاعده بیانوي چې کله مفعول به د فعل نه مقدم وي بیا د اتقدیم کله جائز وي لکه الله اعبد او کله واجب لکه من رایت او که چیرته کوم مانع موجود وي نو بیا تقدیم جائز نه دي لکه من البر ان تکف لسانک ، چې باقي تفصیل او وضاحت یې لاندې په شرحه کې ذکر شوې دي

اغراض د جامي : المفعول به : په دې عبارت سره بیان د مرجع کوي چې د یتقدم د ضمیر مرجع مفعول به دي

العامل فیه : په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه (۲) سوالینو مقدرو جواب ورکول دي :

اول سوال : تقدیم د معمول په فعل باندې د فعل د احوالو او د مباحثو نه دي د اپه بحث د فعل کې ذکر کول په کار وو نه د اسم په بحث کې دلته د دې ذکر خروج عن المبحث دي .

دوهم سوال : چې لکه څنګه مفعول به د فعل نه مقدم وي نو همدارنګې شبه فعل نه هم مقدم وي نو د فعل تخصیص یې ولې وکړو ؟

جواب : دلته د فعل نه مراد مطلق عامل دي کوم چې فعل او شبه فعل دواړو ته شامل دي او د فعل تخصیص یې د دې وجې نه وکړو چې دا په عمل کې اصل دي او د اول سوال جواب یې په دې طریقې سره ورکړو چې دلته د فعل نه مراد مطلق فعل نه دي بلکه عامل او ناصب د مفعول

به دي خكه چې داد مفعول به د متعلقاتو اومباحثونه دي په همدې بناء باندې دايې په ذكر د مفعول كې ذكر كړو نو خروج عن المبحث لازم رانه غلو

لقوة الفعل: په دې عبارت كې دحكم مذكور دوجې بيان دي چې مفعول به دفعل نه مقدم كول ددې وجې نه جائز دي چې دفعل عامل قوي دي اودا په معمول مقدم اومؤخر دواړو كې عمل كوي .

اما جوازاً: په دې عبارت كې د مفعول به د اقسامو بيان كوي چې ددې دري ۳. قسمونه دي (۱) جائز (۲) واجب (۳) ممنتع

(۱): دجوازي مثال لكه الله اعبد په دې كې لفظ دالله مفعول به دي داعبد اوددې . به جوازي طريقې سره مقدم دي اوپه وجه الحبيب اتمنى كې وجه الحبيب مفعول به دي داتمنى كوم چې ددې نه په جوازي طريقې سره مقدم دي .

(۲): دمفعول به په وجوبي طريقې سره مقدم كيدل په هغه وخت كې كيږي چې كله مفعول به داستفهام يا دشرط معنى ته متضمن وي داستفهام مثال من رايت په دې كې من مفعول به دي كوم چې درأيت نه په وجوبي طور باندې مقدم دي اودشرط مثال لكه من تكرم يكرمك په دې كې من مفعول به دي دتكرم اوددې نه په وجوبي طريقې سره مقدم دي .

(۳): هذا اذا لم يكن په دې عبارت سره ددريم . قسم بيان كوي چې دمفعول به تقديم جواز يا وجوب په هغه وخت كې دي چې كله دتقديم نه كوم مانع موجود نه وي اوچې كله كوم مانع موجود وي نو دمفعول به مقدم كيدل ممتنع دي اوهغه مانع دمفعول به د ان مصدريه لاندې واقع كيدل دي لكه من البر ان تكف لسانك په دې كې لسانك دتكف مفعول به دي داپه خپل عام تكف باندې مقدم كول جائز نه دي خكه چې ان مصدر فعل په تاويل دمصدر سره گرځوي او مصدر كمزورې عامل دي دخپل معمول په مقدم كولو كې عمل نه شي كولې خكه چې په دې صورت كې دمفعول به مقدم كول ممتنع دي .

دمفعول به دفعل حذف جوازي :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ الْعَامِلُ فِي الْمَفْعُوْلِ بِهٖ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ مَقَالِيَةٍ اَوْ حَالِيَةٍ جَوَازاً نَحْوُ
اوكله كله حذف كيږي هغه فعل چې عامل وي په مفعول به كې دوجې دقيام دقرينې مقالبي اوياحاليې جوزالكه

زَيْداً لِمَنْ قَالَ مَنْ اَضْرِبُ اَىْ اَضْرِبُ زَيْداً فَحُذِفَ الْفِعْلُ لِلْقَرِيْنَةِ الْمَقَالِيَّةِ الَّتِيْ

يد هغه چا د پاره چې ووايي من اضرب يعنې اضرب زيدا نو حذف کړې شو فعل د پاره د قيام د قرينې مقاليې هغه

هِيَ السُّوَالُ وَ نَحْوُ مَكَّةَ لِلْمُتَوَجِّهِ اِلَيْهَا اَىْ تُرِيْدُ مَكَّةَ فَحُذِفَ الْفِعْلُ لِلْقَرِيْنَةِ الْحَالِيَّةِ وَ وُجُوْباً فِيْ

چې سوال دې او لکه مكة د ې طرف ته تلونکي د پاره يعنې تريد مكة نو حذف کړې شوه قرينه حاليه او وجوبا په

اَرْبَعَةِ مَوَاضِعَ تَخْصِيْصُهَا بِالذِّكْرِ لَيْسَ لِلْحَصْرِ لِوُجُوْبِ الْحَذْفِ فِيْ بَابِ الْاِغْرَاءِ

څلورو ځايونو کې دا يې خاص کړو د ذکر پورې دا نه دې د پاره د حصر د چې د وجوب د حذف نه په باب د اغراء کې

وَالْمَنْصُوْبِ عَلَى الْمَدْحِ اَوِالذَّمِّ اَوِالتَّرَحُّمِ بَلْ لِكَثْرَةِ مَبَاحِثِهَا بِالنِّسْبَةِ اِلٰى هٰذِهِ الْاَبْوَابِ.

او په منصوب على المدح او يا ذم او يا ترحم کې بلکې د کثرت مباحثو د ې نه په نسبت سره د ې ابوابو ته

خلاصه دمتن: کله کله د مفعول به فعل په وخت د قايم د قرينې کې حذف کولې شي بيا دا حذف به يا جوازي وي لکه يو کس ووايي چې من اضرب نو د دې په جواب کې وويل شي زيدا، زيدا مفعول به دې د فعل محذوف کوم چې اضرب دې په اصل کې اضرب زيدا وو اضرب فعل يې حذف کړو د قرينې مقاليې (د سائل سوال) د وجې نه همدا رنګې کوم کس چې مکې طرف ته روان وي او ده ته وويل شي چې مكة. نو مكة مفعول به دې د فعل محذوف کوم چې تريد دې دا په اصل کې تريد مكة وو د تريد فعل يې حذف کړو د دې په حذف باندې قرينه حاليه (د مکې طرف ته د تللو حالت) دې.

اغراض دجامي: وجوباً: د دې عطف په جوازاً باندې دې يعنې د مفعول به د فعل ناصبه حذف کله وجوبي وي او دا وجوبي په څلورو ځايونو کې وي چې په دې څلورو ځايونو کې حذف کول واجب دې چې تفصيل يې مخکې را روان دې

العامل في المفعول به: په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي

سوال (۱): دلته د مفعول به بحث کيږي نه د حذف د فعل لهذا د حذف د فعل نه بحث کول اشتغال بما لايعني او خروج عن المبحث دي

سوال (۲): چې لکه څنګه د فعل حذف کول جائز دي همدا رنګې د شبه فعل حذف کول هم جائز دي د فعل تخصيص يې ولې وکړو؟

جواب: په العامل سره شارح د دواړو سوالونو جواب ورکړو چې دلته مطلق فعل مراد نه دي

بلکه عامل او ناصب للمفعول به مراد دي لهذا خروج عن المبحث لازم رانه غلو همدا رنګې شبه فعل هم په دې کې داخل شو ځکه چې لفظ دالعامل فعل اوشبه فعل دواړو ته شامل دي او دې تفصيل مخکې په بحث د مفعول مطلق کې تفصيلاً تير شوي دي ، هلته يې وګورئ

مقالية اوحالية : په دې عبارت سره شارح د قرينې اقسام بيانوي چې قرينه په دوه (۲) قسمه ده (۱) قرينه حاليه (۲) قرينه مقاليه دهر يو مثال په شرحه کې ذکر دي

تخصيصها : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دحذف وجوبي تخصيص داربعة مواضع سره صحيح نه دي ځکه چې ددې څلورو (۴) ځايونو نه غير هم د مفعول به د عامل ناصبه حذف کول واجب وي لکه (۱) باب الاغراء (۲) منصوب على المدح (۳) منصوب على الذم (۴) منصوب على الترحم . دباب الاغراء مثال لکه اخاک اخاک يعني الزم اخاک په دې کې اخاک مفعول به دي ددې فعل وجوبي طور باندې حذف دي . د منصوب على المدح مثال الحمد الله الحميد يعني اعني الحميد او د منصوب على الذم مثال لکه اتاني زيد الفاسق يعني اعني الخبيث ، اود منصوب على الترحم مثال لکه مررت بزيد المسکين يعني اعني المسکين په دې ټولو ځايونو کې د مفعول به د عامل حذف کول واجبيږي .

جواب : د مواضع اربعة تخصيص دحصر دپاره نه دي بلکه داپه نسبت سره نورو ځايونو ته . اوپه دې څلورو ځايونو کې مباحث ډير دي ځکه يې داذکر کړل اونور مواضع يې دغير اهم کيدو دوجې نه ذکر نه کړل .

فائده (۱) : د اغراء معنى ده مخاطب په يو فعل باندې برانګيخته کول اوپه باب داغراء کې دتنګي دوخت په بناء باندې حذف دفعل واجب وي

فائده (۲) : په اغراء اوتحذير کې فرق دي په اغراء کې اقدام على الشيء باندې برانګيخته کولې شي اوپه تحذير کې اعراض عن الشيء باندې برانګيخته کولې شي لکه اياک والاسد لهذا بعضې حضراتو چې اغراء په تحذير کې داخله کړي ده دا صحيح نه ده

د مفعول به د فعل حذف وجوبي سماعي :

اَلْاَوَّلُ مِنْ تِلْكَ الْمَوَاضِعِ الْاَرْبَعَةِ سَمَاعِيٌّ مَقْصُوْرٌ عَلَى السِّمَاعِ لَا يَتَجَاوَزُ عَنْ اَمْثِلَةٍ مَحْدُوْدَةٍ مَسْمُوْعَةٍ
اول ددې څلورو ځايونه سماعي دى چې مقصور وي په سماع باندې چې تجاوز نه کوي د مثالونو محدود و مسموعو

بِأَنْ يُقَاسَ عَلَيْهَا اَمْثِلَةٌ اُخرىٰ نَحْوُ اِمْرَأً وَنَفْسَهُ اَىْ اُتْرُكْ اِمْرَأً وَنَفْسَهُ وَانْتَهُوْا خَيْراً لَكُمْ اَىْ
نه چې قیاس کړې شي په دې باندې نور مثالونه لکه امرأ ونفسه یعني اترک امرأ ونفسه وانتهوا خيرا لكم يعني منع
اِنْتَهُوْا عَنِ التَّثْلِيْثِ وَاقْصِدُوْا خَيْراً لَكُمْ وَ هُوَ التَّوْحِيْدُ وَ اَهْلاً وَ سَهْلاً اَىْ اَتَيْتَ اَهْلاً
شي ای عیسایانو د تثلیث نه او اراده وکړي د خپل خان دپاره د خیر او هغه خیر توحید دي او اهلا وسهلا یعني اَتَيْتَ اَهْلاً
مَكَاناً مَاْهُوْلاً مَعْمُوْراً لاَ خَرَاباً وَ اَهْلاً لاَ اَجَانِبَ وَ وَطِيْتَ سَهْلاً مِنَ الْبِلاَدِ
هغه خاې ماهول یعني آباد ته نه خراب ته او راغلي يې ته خپلوانو ته نه پردو ته او تا په نرم خاې باندې قدم کېخودو
لاَ حَزْناً .
نه په سخت باندې

خلاصه دمتن : هغه څلور خایونه چیرته چې د مفعول بـه فعـل ناصبـه حـذف کـول واجب دي د دې نه اول مقام سماعي دي یعني د دې کومه قاعده کلیه نشته بلکه په مورد د سماع باندې مقصور او بند دي لکه امرأ ونفسه او انتهوا خيرا لكم .

اغراض دجامي : من تلك المواضع : په دې سره شارح دجامي اشاره کړي چې په الاول باندې الف لام دعهد خارجي دي د دې نه خاص مواضع مراد دي

مقصور : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : ماتن راتلونکي دري اقسام : منادى . تحذير . ما اضمر عامله کې هم د فعل حذف سماعي یعني مسموع عن العرب دي نو داول قسم تخصیص او د دې تقابل دا قسامو ثلاثو سره صحیح نه دي .

جواب : شارح مقصور على السماع سره جواب ورکوي چې د سماعي معنى ده صرف په سماع باندې موقوف کېدل دعربونه اوريدل شوي وي او د محدود مثالونو نه متجاوز نه وي او په دې باندې به نور مثالونه، نه شي قیاس کولې په خلاف د منادى . تحذير وغیره چې د هغه مورد په سماع باندې مقصور نه دي بلکې په دې باندې نور مثالونه هم قیاس کولې شي لهذا تقابل صحیح دي .

امرأ ونفسه : په دې عبارت سره د مثال وضاحت کوي چې دا په اصل کې اترک امرأ ونفسه دي امرأ مفعول به دي د اترک دپاره کوم چې په وجوبي طور باندې محذوف دي او د نفسه په ترکیب کې دوه احتماله دي (۱) واو عاطفه دي او نفسه عطف په امرأ باندې دي (۲) واو په معنى دمع دي او نفسه مفعول معه دي .

وانتهوا خیرا لکم: دا د حذف سماعي دویم مثال دي دا په اصل کې انتهوا عن التثلیث واقصدوا خیرا لکم وو، خیراً مفعول به دي د اقصدوا کوم چې محذوف دي وجوباً او سماعاً

اهلاً وسهلاً: دا دریم مثال دي د دې اصل اتیت اهلا او وطیت سهلا دي او لفظ د اهل د دوه (۲) شیانو په مقابله کې راځي

(۱): د خراب او وران په مقابله کې په دې صورت کې اهل په معنی د مأهول او د معمور به وي او دا به صفت وي د پاره د مکانا موصوف محذوف نو معنی به یې دا شي چې ته آباد ځاي ته راغلې یې نه وران ځای ته.

(۲) دویم د اجنبي په مقابله کې په دې صورت کې به یې معنی دا وي چې ته خپل کور او خپلو خپلوانو ته راغلې یې نه پردو او اجنبي خلکو ته ، او سهل د سخت په مقابله کې راځي د وطیت سهلاً معنی دا ده چې تا په نرم ځاي قدم ایښي دي نه په سخت ځاي باندې .

د منادی تعریف :

وَالْمَوْضِعُ الثَّانِيْ مِنْ تِلْكَ الْمَوَاضِعِ الْاَرْبَعَةِ الْمُنَادٰى وَهُوَ الْمَطْلُوْبُ اِقْبَالُهٗ اَيْ تَوَجُّهُهٗ اِلَيْكَ بِوَجْهِهٖ
او دویم ځاي د دې مواضعو اربعو نه منادی ده او دا هغه ده چې مطلوب وي اقبال د دې یعنې توجه د دې تا ته په مخ
اَوْ بِقَلْبِهٖ كَمَا اِذَا نَادَيْتَ مُقْبِلًا عَلَيْكَ بِوَجْهِهٖ حَقِيْقَةً مِثْلَ يَا زَيْدُ اَوْ حُكْمًا مِثْلَ
سره یا په زړه سره لکه ته داسې کس ته آواز وکړې چې مخامخ وي تا ته مخ د هغه حقیقةً لکه یازید او یا حکماً لکه
يَا سَمَاءُ وَيَا جِبَالُ وَيَا اَرْضُ فَاِنَّهَا نُزِّلَتْ اَوَّلًا مَنْزِلَةَ مَنْ لَهٗ صَلَاحِيَةُ النِّدَاءِ ثُمَّ اُدْخِلَ
یاسماء ویاجبال ویا ارض ځکه چې دا نازل شوي اولا په منزلې د هغه چا چې وو د هغه د پاره صلاحیت د نداء بیا داخل
عَلَيْهَا حَرْفُ النِّدَاءِ وَقُصِدَ نِدَائُهَا فَهِيَ فِيْ حُكْمِ مَنْ يُطْلَبُ اِقْبَالُهٗ
شو په دې باندې حرف نداء او اراده کړې شوه نداء د دې نو دا په حکم د هغه چا کې دي چې طلب کوي متوجه کول په
بِخِلَافِ الْمَنْدُوْبِ لِاَنَّهُ الْمُتَفَجَّعُ عَلَيْهِ اُدْخِلَ عَلَيْهِ حَرْفُ النِّدَاءِ لِمُجَرَّدِ التَّفَجُّعِ لَا
خلاف د مندوب ځکه چې مندوب متفجع علیه دي داخل شوي په دې باندې حرف نداء صرف د تفجع د پاره نه د
لِتَنْزِيْلِهٖ مَنْزِلَةَ الْمُنَادٰى وَقُصِدَ نِدَائِهٖ فَخَرَجَ بِهٰذَا الْقَيْدِ عَنْ تَعْرِيْفِ الْمُنَادٰى وَلِهٰذَا
پاره د واقع کیدو په ځای د منادی او د اراده کولو د نداء نو خارج شو په دې قید سره د تعریف د منادی نه او د دې وجې
اَفْرَدَ الْمُصَنِّفُ اَحْكَامَهٗ بِالذِّكْرِ فِيْمَا بَعْدُ وَفِيْهِ تَحَكُّمٌ فَاِنَّ الْمَنْدُوْبَ
نه جدا راوړه مصنف احکام د دې په ذکر کولو سره وروستو او په دې کې د زورنې فیصله ده ځکه چې مندوب

اَيْضًا كَمَا قَالَ بَعْضُهُمْ مُنَادًى مَطْلُوْبٌ اِقْبَالُهُ حُكْمًا عَلٰى وَجْهِ التَّفَجُّعِ فَاِذَا قُلْتَ
همدارنګې لکه چې بعضو ويلي دي چې منادی مطلوب دي اقبال دده حکما په وجه دتفجع نو هرکله چې وويل
يَا مُحَمَّدَاهُ فَكَاَنَّكَ تُنَادِيْهِ وَ تَقُوْلُ لَهُ تَعَالَ فَاَنَا مُشْتَاقٌ اِلَيْكَ فَالْاَوْلٰى اِدْخَالُهُ
يامحمداه نو ګوياچې ته هغه ته آواز کوې اوته ورته وايې چې راشه ځکه چې زه ستامشتاق يم نواولی داخلول د
تَحْتَ الْمُنَادٰى كَمَا فَعَلَهُ صَاحِبُ الْمُفَصَّلِ وَ قِيْلَ الظَّاهِرُ مِنْ كَلَامِ سِيْبَوَيْهِ اَيْضًا
مندوب دي لاندې دمنادی لکه صاحب دمفصل چې کړي اوچاويلي دي چې ظاهر دي د کلام دسيبويه نه همدارنګې
اِنَّهُ دَاخِلٌ فِي الْمُنَادٰى بِحَرْفٍ نَائِبٍ مَنَابَ اَدْعُوْ مِنَ الْحُرُوْفِ الْخَمْسَةِ وَ هِيَ
همدارنګې چې مندوب په منادی کې داخل دي په داسې حرف سره چې قائمقام وي دادعودپنځوحروفونه او هغه
يَا وَاَيَا وَهَيَا وَ اَيْ وَ الْهَمْزَةُ وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ لِيُقْبِلْ زَيْدٌ .
يا وايا وهيا واى والهمزة دي اواحترازيې وکړوپه دې سره دليقبل زيد مثال نه .

خلاصه دمتن: دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې هغه مواضع چيرته چې دمفعول به دفعل ناصبه وجوبي طورباندې حذف کولې شي دهغې نه دويم مقام منادی دي .

دمنادی تعريف : دمنادی تعريف دادې چې منادی هغه اسم دي چې دهغې متوجه کول مطلوب وي دهغه حرف په ذريعه کوم چې دادعو قائمقام وي .

اغراض دجامي : الموضع: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي شارح دابيان کړه چې الثاني صفت دي دموصوف محذوف الموضع دپاره .

من تلک المواضع: په دې عبارت سره شارح داظاهره کړه چې په الثاني کې الف لام عهدي دي .

اى توجهه: په دې عبارت سره غرض دشارح د اقبال معنی بيانول دي چې د اقبال معنی ده توجه .

بوجهه اوقلبه: په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي .

اول سوال : دمنادی تعريف جامع نه دي ځکه چې داپه هغه زيد باندې صادق نه راځي کوم چې په يازيد کې واقع دي چې کله دا نداء کوونکي ته دمخکې نه متوجه وي ځکه چې دده اقبال مطلوب نه دي ورنه د تحصيل حاصل خرابي به لازم راشي ځکه چې هغه دمخکې نه متوجه دي .

دوهم سوال : همدارنګې دمنادی تعريف په هغه منادی باندې هم صادق نه راځي چې کله

دده او د منادى په مينځ كې ديوال و غيره حائل واقع وي څكه چې دده اقبال او متوجه كول نه متصور كيږي د حائل اود مانع دوجې نه

جواب : دمنادى په اقبال كې تعميم دي برابره خبره ده چې دمخ سره وي چې دې ته اقبال وجهي ويلي شي يا دزړه سره وي چې دې اقبال ته اقبال قلبي ويلي شي داقبال وجهي مثال سو مدبر دمخ اړونكي رابلل . اوداقبال قلبي مثال لكه يو مقبل دمخكې نه متوجه شوي كس رابلل . همدارنګې دا تعريف په هغه منادى باندې هم صادق راغي چې ددې اودمنادى په مينځ كې څه حائل وي څكه چې دا هم اقبال قلبي دي

حقيقة اوحكماً : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : ياسماء او يا ارض اوياجبال ددې اقبال نه متصور كيږي نه بالوجه اونه بالقلب څكه چې دا غير ذوي العقول اوغير ذوي الروح دي حالانكه قرآن مجيد كې دامنادى واقع ده لكه ﴿يٰأَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي﴾.

جواب : اقبال عام دي برابره خبره ده كه دا حقيقتاً وي اوياحكماً اويامجازاً . حقيقتاً لكه يازيد ، حكما لكه يا سماء يا ارض ياجبال . دحكماً مطلب دادې چې مخكې منادى ددې څيز په مرتبه كې فرض كړي شوي وي چې په كوم څيز كې د نداء صلاحيت وي بيا په دې باندې حرف نداء داخله كړي شوه اوددې دنداء قصد اواراده بې وكړه حكما ددې اقبال مطلوب دي

بخلاف المندوب : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : چې كله په اقبال كې تعميم دي برابره خبره ده كه دا حقيقتاً وي اوياحكماً وي اويا مجازاً نو مندوب دمنادى په تعريف كې داخل شو څكه چې حكماً ددې اقبال مطلوب دي لهذا دايې دمنادى نه پس جدا ذكر كول صحيح نه دي مصنف رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ مندوب جدا ولې ذكر كړو ؟

جواب : دالمطلوب اقباله په قيدسره يې مندوب دمنادى نه خارج كړو څكه چې مندوب متفجع عليه كيږي اوپه دې كې مقصود دمتكلم دمنادى په مرتبه كې فرض كول اوراغوښتل او نداء كول نه دي بلكه صرف تفجع اواظهار درد اوافسوس وي څكه چې په مندوب كې نه اقبال حقيقي موجود دي اونه حكمي لهذا داقباله دقيد نه دا خارج شو په دې بناء باندې مصنف دا جدا ذكر كړو

وفيه تحكم : په دې عبارت سره شارح دجامي په صاحب دكافيه باندې اعتراض كول دي چې .

المطلوب اقباله دقید نه مندوب دمنادی دتعریف نه خارج کول اودحقیقتاً اودحکما تعمیم کول او یا سماء یاارض یاجبال داخلول داتحکم یعني حکم بې دلیله دي ځکه چې سماء او ارض وغیره چې په هغې کې د اول نه دمنادی دجوړیدو صلاحیت نه وي به وجه دغیر ذوي العقول کیدو هغه دمنادی حکمي په حکم کې داخلول اوهغه مندوب په کوم کې چې دمخکې نه حقیقةً د منادی جوړیدو صلاحیت موجود وي اوورسته دعارض دمرګ دوجې نه ختم شو داپه منادی حکمي کې نه داخلول بالادستي او بې دلیله حکم دي لهذا مندوب هم حکما منادی ده علی وجه التفجع ددې اقبال مطلوب وي مثلاً چې کله څوک ووایي یامحمداهٔ ګویا چې دا نبي کریم ﷺ ته آواز کوي او وایي چې تاسو تشریف راوړي زه ستاسو د زیارت او د لیدو مشتاق یم لهذا اولی داده چې مندوب هم په منادی کې داخل کړي لکه صاحب دمفصل چې داخل کړي اودسیبویه دکلام نه هم داظاهره ده.

تبصره: دشرح جامي ددې اعتراض جواب بعضې شارحینو داورکړي دي چې مندوب په کلام دعربو کې کثیر الاستعمال اوددې باب وسیع دي اګرچې دادمنادی حکمي په حکم کې داخل کړي شي نوپه باب وسیع اوکثیر الاستعمال کې به دمجاز ارتکاب لازم راشي حالانکه مجاز په وخت دضرورت کې د ډیرې مجبورۍ په حالت کې کله کله استعمالوي ځکه چې مندوب نه حقیقةً منادی دي اونه حکماً اونه مجازاً په منادی کې داخلولې شي.

همدارنګې په کلمه د مندوب باندې کلمه د وا داخله وي که چیرته مندوب په منادی کې داخل کړي نو وا به په حرف نداء کې داخلوي حالانکه دا هیڅوک په حروف نداء کې نه ده شمار کړي ددې وجوهو په اساس باندې علامه ابن الحاجب رَحِمَهُ اللهُ مندوب مستقل اوجدا ذکرو اوپه منادی حکمي کې یې داخل نه کړو.

ای من الحروف: داحرف نائب بیان دي چې دحرف نه مراد مطلق حرف نه دي بلکه ددې نه هغه حرف مراد دي کوم چې دپنځو حروفو نه وي.

وهي: په دې عبارت کې دپنځو حروفو دمصداق بیان کوي چې ددې مصداق یا ایا هیا ای همزه مفتوحه ده.

واحترز به: په دې عبارت سره شارح بحرف نائب دقید فائدې بیانوي چې داقید احترازي دي ددې نه دلیقبل زید مثال نه احتراز دي ځکه چې په دې کې اګرچې: زید اقبال مطلوب دي

لیکن دداسې حرف به ذریعه نه دي کوم چې دادعوا قائمقام وي بلکه دلام امر په ذریعه باندې دي او لام دامر د ادعوا قائمقام نه دي

د طلب اقسام :

لَفْظاً اَوْ تَقْدِيراً تَفْصِيلٌ لِلطَّلَبِ اَیْ طَلَباً لَفْظِيّاً بِاَنْ تَكُوْنَ آلَةُ الطَّلَبِ لَفْظِيَّةً نَحْوُ
لفظاً یاتقدیراً د اتفصیل دي د پاره د طلب یعنې طلب لفظي وي په دې طریقې سره چې آله د طلب لفظي وي لکه
يَا زَيْدُ اَوْ تَقْدِيرِيّاً بِاَنْ تَكُوْنَ آلَتُهُ مُقَدَّرَةً نَحْوُ يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا اَوْ لِنِيَابَةٍ اَیْ
یازید یا تقدیري وي په دې طریقې سره چې آله د طلب مقدر وي لکه يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا یا د نیابت نه یعنې د
نِيَابَةً لَفْظِيَّةً بِاَنْ يَكُوْنَ النَّائِبُ مَلْفُوْظاً اَوْ تَقْدِيرِيَّةً بِاَنْ يَكُوْنَ النَّائِبُ مُقَدَّراً كَمَا فِيْ
نیابت لفظي نه په دې طریقې سره چې نائب لفظي وي یاتقدیري په دې طریقې سره چې نائب مقدر وي لکه په ذکر
الْمِثَالَيْنِ الْمَذْكُوْرَيْنِ اَوْ لِلْمُنَادیٰ وَالْمُنَادیٰ الْمَلْفُوْظُ مِثْلُ يَازَيْدُ وَالْمُقَدَّرُ مِثْلُ اَلَا يَا اسْجُدُوْا اَیْ اَلَا يَا قَوْمُ اسْجُدُوْا
شوودوه مثالونو کې یامنادی او منادی ملفوظ لکه یازید او مقدر لکه الا یا اسجدوا یعنې الا یاقوم اسجدوا .

خلاصه د متن: صاحب د کافیې د منادی د تعریف تکمیل کوي چې منادی هغه اسم دي چې ددې متوجه کیدل په هغه حرف سره طلب کړي شي چې دادعوا قائمقام وي برابره خبره ده چې دالفظي وي او یا تقدیري .

اغراض د جامي : تفصيل للطلب : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دلفظاً اوتقدیر په ترکیب کې دري احتماله دي : (۱) دابه مفعول مطلق وي د المطلوب (۲) دابه مفعول به مطلق وي دنائب نه . (۳) دابه حال وي دا قباله د ضمیر نه چې د هغې مرجع منادی ده او دا دري واړه احتمالات صحیح نه دي . (۱) اول احتمال خو ددې وجې نه صحیح نه دي چې مطلوب په طلب باندې مشتمل نه دي نه لفظاً او نه تقدیراً حالانکه د مفعول مطلق شرط دادې چې د مخکنې فعل معنی په دې باندې مشتمل وي . (۲) دوهم احتمال ځکه صحیح نه دي چې نائب په نیابت باندې مشتمل دي نه په لفظاً اوتقدیراً باندې (۳) دریم احتمال ځکه صحیح نه دي چې د حال حمل په ذوالحال باندې کیږي او دلته دلفظاً اوتقدیرا په منادی باندې حمل صحیح نه دي ځکه چې منادی ملفوظ یامقدر وي لفظاً یاتقدیراً نه وي .

جواب : دري واړه احتمالات صحیح دي : (۱) دامفعول مطلق دي د مطلوب د پاره پاتې شو دا

سوال چې مطلوب په طلب باندې مشتمل نه دي نه لفظاً اونه تقدیراً نوددې جواب دادې چې لفظاً او تقدیراً مفعول مطلق دي دمطلوب په اعتبارد موصوف محذوف کوم چې طلب دي او ددې په آخر کې یاء دنسبت محذوف ده تقدیر دعبارت داسې دي چې **بحرف نائب مناب ادعوا طلباً لفظیاً اوتقدیریاً** ، دطلب لفظي مطلب دادې چې آله دطلب ملفوظ وي لکه **یازید** اودطلب تقدیري مطلب دادې چې آله دطلب مقدر وي لکه **یوسف اعرض عن هذا** ، داپه اصل کې **یوسف اعرض عن هذا** وو (۲) دا مفعول مطلق دي دنائب ، پاتې شو داسوال چې نائب په نیابت باندې مشتمل دي په لفظاً اوتقدیراً باندې مشتمل نه دي ددې جواب دادې چې نائب په اعتبار دموصوف محذوف نیابة مفعول مطلق دي اوددې په آخر کې یاء دنسبت محذوف ده تقدیر دعبارت داسې دي چې **بحرف نائب مناب ادعوا نیابة لفظیاً اوتقدیریاً** او دنیابت لفظي مطلب دادې چې نائب ملفوظ وي لکه **یازید** اود نیابت تقدیري مطلب دادې چې نائب مقدر وي لکه **یوسف اعرض عن هذا** داپه اصل کې وو **یوسف اعرض عن هذا** (۳) داحال دي د **اقباله** د ضمیر نه ، پاتې شو دا سوال چې د حال په ذو الحال باندې حمل کیږي ، نو ددې جواب دادې چې لفظاً اسم مفعول ملفوظاً په معنی باندې دي او تقدیرا د اسم مفعول مقدراً په معنی باندې دي نو اوس به حمل صحیح شي ، نو تقدیر د عبارت به داسې شي چې **بحرف نائب مناب ادعوا حال کون المنادی ملفوظاً اومقدراً** او د منادی ملفوظ مثال **یازید** او د مقدر مثال **الا یسجدوا ای الا یاقوم اسجدوا**

د منادی د منصوب کیدو وجه :

وَ اِنْتِصَابُ الْمُنَادٰی عِنْدَ سِيْبَوَيْهِ عَلٰی اَنَّهٗ مَفْعُوْلٌ بِهٖ وَ نَاصِبُهُ الْفِعْلُ الْمُقَدَّرُ وَ اَصْلُ

اوانتصاب دمنادی په نزد دسیبویه ددې وجې نه دي چې هغه مفعول به دي اوددې ناصب فعل مقدر دي اواصل

يَا زَيْدُ اَدْعُوْ زَيْداً فَحُذِفَ الْفِعْلُ حَذْفاً لاَزِماً لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِهٖ وَ لِدَلاَلَةِ حَرْفِ النِّدَاءِ

دیازید ادعوزیدا دي نوحذف یې کړوفعل په لازمي طورسره دوجې د کثرت استعمال نه اودوجې د دلالت دحرف نداء

عَلَيْهِ وَ اِفَادَتِهٖ فَائِدَتَهٗ وَ عِنْدَ الْمُبَرَّدِ بِحَرْفِ النِّدَاءِ لِسَدِّهٖ مَسَدَّ الْفِعْلِ

نه په دې باندې اودوجې دفائدې ورکولونه اوپه نزد دمبرد دحرف نداء دوجې نه دي دوجې دقائمقام کیدو دفعل نه

وَ قَالَ اَبُوْ عَلِيٍّ فِيْ بَعْضِ كَلاَمِهٖ اِنَّ يَا وَ اَخَوَاتِهَا اَسْمَاءُ الْاَفْعَالِ فَعَلٰی هٰذَيْنِ الْمَذْهَبَيْنِ لاَ

اوابوعلی نه خیل بعضې کلام کې ویلی دي چې یاء اوددې اخوات اسماء الافعال دي نوبناپه دې دواړو مذهبونه

يَكُوْنُ مِنْ هٰذَاالْبَابِ اَیْ مِمَّاانْتَصِبَ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ بِعَامِلٍ وَاجِبِ الْحَذْفِ وَعَلَى الْمَذَاهِبِ كُلِّهَا مِثْلُ يَازَيْدُ جُمْلَةٌ
بهوي دا ددې باب نه يعني منصوب وي مفعول به دوجې دعامل نه او دا په ټولو مذاهبو باندې يازيد مثال جمله ده
وَلَيْسَ الْمُنَادىٰ اَحَدَ جُزْئَيِ الْجُمْلَةِ فَعِنْدَ سِيْبَوَيْهٖ جُزْءُ الْجُمْلَةِ اَیْ الْفِعْلُ وَ الْفَاعِلُ مُقَدَّرَانِ وَعِنْدَ الْمُبَرِّدِ
اونه ده منادى يو ددوه جزونو د جملې نه نو د سيبويه په نزد جزء د جملې يعني دفعل او دفاعل مقدر دي او دمبرد په
حَرْفُ النِّدَاءِ قَائِمٌ مَقَامَ اَحَدِ جُزْئَيِ الْجُمْلَةِ اَيِ الْفِعْلِ وَالْفَاعِلُ مُقَدَّرٌ وَعِنْدَ اَبِيْ عَلِيٍّ اَحَدُ جُزْئَيْهَا اِسْمُ الْفِعْلِ
نزد حرف نداء قائم دي په ځاې د يو جزء د جملې يعني دفعل او دفاعل مقدر او په نزد دابي علي يو جز د اسم الفعل
وَالْآخَرُ ضَمِيْرٌ مُسْتَتَرٌ فِيْهِ .
او بل ضمير مستتر په دې کې

اغراض دجامي : وانتصاب المنادى: په دې عبارت سره غرض دشارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : منادى د باب دحذف دعامل نه جوړول صحيح نه دي ځکه چې دمنادى عامل ياء حرف نداء ده کوم چې مذکور ده .

جواب : دمصنف کلام دسيبويه دمذهب مطابق دي (۱) دسيبويه مذهب دا دې چې دمنادى منصوب کيدل دمفعول به په بناء باندې دي اوفعل ناصب مقدر دي يازيد په اصل کې ادعو زيدا وو فعل دکثرت استعمال دوجې نه وجوبا حذف کړې شوا ودې وجې نه چې حرف ندا په دې باندې دلالت کوي او هغه د فعل محذوف فائده ورکوي (۲) اودمبرد مذهب دا دې چې دمنادى منصوب کيدل دحرف نداء دوجې نه دي ځکه چې دا په عمل کې دفعل قائمقام دي (۳) اودابوعلي مذهب دا دې چې ياء اودې نظائر داسماء افعالو په شان دي او خپل مابعد ته دمفعوليت په بناء باندې نصب ورکوي ، د مبرد اودابوعلي دمذهب مطابق منادى دحذف دعامل دباب نه . نه دي ، اودسيبويه مذهب مطابق د حذف دعامل دباب نه دي اودمصنف په نزد مذهب دسيبويه راجح دي ځکه يې منادى دحذف دعامل په باب کې يې شمار کړو .

وعلى المذاهب : په دې عبارت سره شارح د يوې فائدې بيان کوي چې ددرې واړو مذاهبو مطابق يازيد وغيره جمله ده اومنادى دجملې ددوه جزونو نه يو جزء هم نه دي دسيبويه دمذهب مطابق دجملې دواړه جزونه فعل اوفاعل مقدر دي اودمبرد په نزد حرف نداء دجملې ددواړو جزونو نه يو جزء دفعل قائمقام دي اوفاعل مقدر دي ، اودابوعلي دمذهب مطابق دجملې ددواړو جزونو نه يو جزء اسم فعل دى ا . . ـ جزء په دې کې ضمير مستتر دي ، ددرې واړو مذاهبو مطابق

زید منادی د جملې نه خارج دي

اعراب د منادی :

وَ يُبْنَى اَيِ الْمُنَادىٰ قَدَّمَ بَيَانَ انبِنَاءِ وَ الْخَفضِ وَ الْفَتحِ عَلَى النَّصَبِ لِقِلَّتِهَا بِالنِّسْبَةِ اِلَى النَّصْبِ
او مبني به وي يعنې منادی مخکې يې کړو بيان د بناء او د جر او د فتح په نصب باندې د وجې د کم نسبت نه د نصب
وَ لِطَلَبِ الْاِخْتِصَارِ فِيْ بَيَانِ النَّصْبِ بِقَوْلِهِ وَ يُنْصَبُ مَا سِوَاهُمَا عَلَى مَا يُرْفَعُ
سره او د طلب د اختصار نه په بيان د نصب کې په دې قول سره چې وينصب ماسواهما په هغه څه باندې چې رفع ورکولې
بِهِ اَىْ عَلَى الضَّمَّةِ اَوِ الْاَلِفِ اَوِ الْوَاوِ الَّتِيْ يُرْفَعُ بِهَا الْمُنَادىٰ فِيْ غَيْرِ صُوْرَةِ النِّدَاءِ اَوِ
شي دې سره يعنې ضمه يا الف يا واو باندې کوم سره چې د منادی په غير نداء صورت کې رفع ورکولې شي يا
الْفِعْلُ مُسْنَدٌ اِلَى الْجَارِ وَ الْمَجْرُوْرِ اَغْنِيْ بِهِ وَلاَ ضَمِيْرَ فِيْهِ وَ اِرْجَاعُ الضَّمِيْرِ اِلَى الْاِسْمِ غَيْرُ مُلَائِمٍ
فعل چې مسند وي جار مجرور طرف ته قصد کوم زه به او نشته ضمير په دې کې او راجع کول د ضمير اسم ته غير مناسب
لِسَوْقِ الْكَلَامِ اِنْ كَانَ اَيِ الْمُنَادىٰ مُفْرَداً اَىْ لاَ يَكُوْنُ مُضَافاً وَلاَ شِبْهَ مُضَافٍ وَ هُوَ كُلُّ اِسْمٍ
دې د سياق کلام سره که چيرته وي يعنې منادی مفرد يعنې نه وي مضاف او نه شبه مضاف او دا هر هغه اسم دې چې
لاَ يَتِمُّ مَعْنَاهُ اِلاَّ بِاِنْضِمَامِ اَمْرٍ آخَرَ اِلَيْهِ مَعْرِفَةٌ قَبْلَ النِّدَاءِ اَوْ بَعْدَهُ وَ اِنَّمَا
نه پوره کيږي معنی د دې مګر په يو ځای کولو د بل امر د دې سره معرفه مخکې د نداء نه او يا وروسته د دې نه او په
بُنِيَ الْمُفْرَدُ الْمَعْرِفَةُ لِوُقُوْعِهِ مَوْقِعَ الْكَافِ الْاِسْمِيَّةِ الْمُشَابِهَةِ لَفْظاً وَ مَعْنًى لِكَافِ
تحقيق سره مبني يې کړه مفرد معرفه د وجې د وقوع نه په ځای د کاف اسميه چې مشابه دي لفظاً او معناً د کاف
الْخِطَابِ الْحَرْفِيَّةِ وَ كَوْنِهِ مِثْلَهَا اِفْرَاداً وَتَعْرِيْفاً وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ يَا زَيْدُ بِمَنْزِلَةِ اَدْعُوْكَ وَ هٰذِهِ الْكَافُ
خطاب حرفيه سره د مثل کيدو د وجې نه مفرداً او معرفه او دا څکه چې يا زيد په منزله د ادعوک دي او دا کاف په شان
كَكَافِ ذٰلِكَ لَفْظاً وَ مَعْنًى وَ اِنَّمَا قُلْنَا ذٰلِكَ لِاَنَّ الْاِسْمَ لاَ يُبْنٰى اِلاَّ لِمُشَابَهَةِ الْحَرْفِ
د کاف د ذلک دي لفظاً او معنی او مونږ دا څکه وويل څکه چې اسم دا نه وي مبني مګر د وجې د مشابهت د حرف او
اَوِ الْفِعْلِ وَلاَ يُبْنٰى لِمُشَابَهَةِ الْاِسْمِ الْمَبْنِيِّ مِثْلُ يَا زَيْدُ وَ يَا رَجُلُ مِثَالاَنِ لِمَا هُوَ
يا د فعل سره او نه شي مبني کيدې د مشابهت د اسم مبني سره لکه يا زيد و يا رجل دا دواړه مثالونه د هغه چا دي چې
مَبْنِيٌّ عَلَى الضَّمَّةِ اَوَّلُهُمَا مَعْرِفَةٌ قَبْلَ النِّدَاءِ وَ ثَانِيْهِمَا مَعْرِفَةٌ بَعْدَ النِّدَاءِ وَ يَا زَيْدَانِ مِثَالُ
مبني وي په ضمه باندې اول د دې نه معرفه وي مخکې د نداء نه او دويم معرفه ده پس د نداء نه او يا زيدان مثال
الْمَبْنِيِّ عَلَى الْاَلِفِ وَيَازَيْدُوْنَ مِثَالُ الْمَبْنِيِّ عَلَى الْوَاوِ.
دې د مبني على الالف او يا زيدون د امثال دي د مبني على الواو.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې دمنادی داقسامو بیان کوي . منادی په څلور قسمه ده :
(۱) منادی مبني على علامة الرفع . (۲) منادی مجرور (۳) منادی مبني على الفتح . (۴) منادی معرب منصوب ، چې ددې خلاصه داده چې که چیرته منادی مفرد معرفه وي نودابه په علامت درفع باندې مبني وي لکه **یازید** ، که چیرته په منادی باندې لام داستغاثې داخل وي نودامعرب به مجرور وي لکه **یالزید** ، اوکه چیرته دمنادی په آخر کې دالف داستغاثه وي نودابه مبنی علی الفتح وي لکه **یازیداه** که چیرته منادی مفرد معرفه اومنادی مستغاث نه وي نودابه معرب منصوب وي لکه **یاعبدالله** .

اغراض دجامي : **ای المنادی**: په دې عبارت سره په یبني کې دهو ضمیر مستتر مرجع یې بیان کړه.

قدم بیان البناء : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د منادی د پاره په اعتبار د اعراب سره څلور (۴) احوال دي : (۱) **بناء على علامة الرفع** . (۲) جر . (۳) **بناء على الفتح** . (۴) نصب ، په دې څلورو کې اصل نصب دي ځکه چې منادی د منصوباتو نه ده اوپه منصوباتو کې بحث کیږي نوعلامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ دپاره مناسب وو چې نصب یې مقدم کړي وي اوباقي دري امور یې وروسته ذکر کړي وي نو مصنف دابرعکس ولې وکړو یعنې نصب یې وروسته کړو اودانور یې مخکې کړل ؟

جواب : ددې دوه (۲) وجهې دي :

اوله وجه داده چې منادی منصوب **کثیرالاستعمال** اوباقي دري واړه **قلیل الاستعمال** دي یاقلیل **المحل** دي اوقلیل په کثیرو باندې مقدم وي ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللهُ نصب مؤخر کړو .

دوهمه وجه داده چې علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ خوداختصار قائل دي نودطلب داختصار دپاره یې داسې وکړل ځکه چې دمنصوب منادی مواقع اومواضع ډیر زیات دي که چیرته دنصب بیان یې مقدم کړي وي نو بیابه تول مقامات فردا فردا اوجدا جدا بیانول لازم راتلل چې په هغې سره طوالت لازم راتلو ځکه چې علامه مخکې ددې مقابلات اومغایرات (دري اقسام) کوم چې لړ وو هغه یې بیان کړل ددې نه پس یې داوویل چې **وینصب ماسواهما** چې په دې ماسوی کې به منادی منصوب وي او ددې نه اختصار هم حاصل شو کوم چې د مصنف مطلوب او

مقصود دي

ای علی الضمة: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمصداق دما کوي چې په ما کې عموم دي ضمه ، الف ، واو ټولوته شامل دي

الخ: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دیبنی دضمير مرجع منادی ده اودیرفع دضمير مرجع هم منادی ده حاصل د عبارت به داوي چې يبني المنادی علی ما يرفع به المنادی په دې صورت کې به اجتماع ضدين علی شئ واحد به لازم راشي ځکه يبني دلالت کوي چې منادی مفرد معرفه مبني وي اويرفع دلالت کوي چې معرب وي ځکه چې رفع د القابو داعراب نه دي نودانه دي مگر تعارض اوتناقض

جواب : شارح ددې دوه (۲) جوابات ورکړي دي

اول جواب : اجتماع دضدينو په يو محل کې په يوزمان کې خوناجائزدي ليکن په دوه زمانو مختلفو کې جائزدي دلته دادويم صورت دي چې اجتماع دضدينو په دوه زمانو مختلفو کې راغلي ځکه چې د يبنی نه مراد دحرف نداء داخليدو نه پس زمانه ده اوديرفع نه مراد دحرف نداء ددخول نه مخکې دنداء غير صورت زمانه ده ، نومقصد دعبارت به داوي چې هغه منادی مفرد معرفه چې دحرف نداء ددخول نه مخکې معرب وو دحرف نداء دداخليدوته پس په علامت درفع به مبني ويلي شي .

اوالفعل: په دې عبارت سره دسوال ددويم جواب بيان دي

دوهم جواب :دا اعتراض په هغه وخت کې وارديږي چې کله ديرفع نائب فاعل په دې کې ضمير دهو مستتر وي اوهغه منادی طرف ته راجع وي حالانکه داسې نه دي بلکه ديرفع نائب فاعل به دي .

وارجاع الضمير: په دې عبارت سره غرض دشارح په فاضل هندي باندې رد کول دي ، فاضل هندي د مذکوره اعتراض جواب داورکړي چې ديرفع دضميرمرجع اسم دي نه منادی لهذا اجتماع دمتضادينو په يو امر باندې لازم نه راځي . مولاناجامي دفاضل هندي جواب ردکړي وجه د رد يې داده چې د يرفع د هو ضمير اسم طرف ته راجع کول د سياق کلام سره مناسب او موافق نه دي ځکه چې دلته په منادی کې بحث کيږي نه په مطلق اسم کې ، همدارنګې په دې صورت کې به انتشار دضمائرو به لازم راشي

ان كان اى المنادى : په دې عبارت سره غرض د شارح دكان دضمير مرجع بيانول دي

اى لايكون : په دې عبارت سره غرض د شارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : مثال د ممثل له سره مطابق نه دي ځکه چې ممثل له منادى مفرد دي او مثال زيدان زيدون مفرد نه دي بلکه تثنيه او جمع ده .

جواب : دلته مفرد د مضاف او شبه مضاف په مقابله کې دي نه د تثنيې او د جمع په مقابله کې ، لهذا مفرد تثنيه او جمع ته به هم شامل وي . او د مفرد معنى داده چې مضاف شبه مضاف نه وي او زيدان او زيدون مضاف او شبه مضاف نه دي ، لهذا مثال د ممثل له سره مطابق شو

وهو كل اسم لايتم : په دې عبارت سره د شبه مضاف دتعريف بيان دي چې شبه مضاف هغه اسم دي چې د هغې معنى د يوبل امر ديوځاي کولو نه په غير تام نه وي .

قبل النداء : په دې عبارت سره غرض د شارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : مثال د ممثل له سره مطابق نه دي ځکه چې ممثل له منادى مفرد معرفه دي او په مثال کې رجل نكره ده نه چې معرفه .

جواب : په معرفه کې تعميم دي ، برابره خبره ده چې د نداء نه مخکې معرفه وي او يا د نداء نه پس معرفه وي لکه په يارجل کې رجل دنداء نه مخکې نكره وه ليکن دنداء نه پس معرفه شوه .

وانما بنى : په دې عبارت سره غرض د شارح دمنادى مفرد معرفه دمبني کيدو وجه بيانول دي چې ددې تقرير دادې چې منادى مفرد معرفه دكاف اسمي په ځاى کې واقع کيږي او په افراد او تعريف کې ددې مشابه دي او كاف اسمي د ذلك دكاف خطاب حرفي مشابه دي لفظاً اومعناً او قاعده ده چې هغه اسم چې د هغه اسم په ځاى واقع وي کوم چې دمبني الاصل مشابه وي نو دغه اسم به هم مبني وي لهذا منادى مفرد معرفه مبني وي مثلاً په يازيد کې د زيد ادعوک كاف د كاف اسمي په ځاى واقع دي او دا كاف اسمي د ذلك کـ ـ ـ ف حرفي مشابه دي لفظاً اومعنا لفظاً خو ظاهر دي او معنا ځکه چې دادواړه معنى دخطاب دپاره وضع شوي دي

والما قلنا : په دې عبارت سره غرض د شارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : منادی مفرد معرفه دمبني کیدو په دلیل کې صرف **لوقوعه موقع الکاف الاسمیة** ویل کافي وو ددې نه پس **المشابهة لکاف الخطاب الحرفیة** ویلو څه ضرورت وو ؟

جواب : د**المشابهة** اضافه یې ددې وجې نه وکړه ځکه چې اسم مبني وي مبني اصل دحرف یا د فعل د مشابهت دوجې نه ، اسم مبني سره دمشابهت دوجې نه مبني نه وي په دې بناء باندې مصنف د**المشابهة** اضافه وکړه صرف کاف ضمیر اسمي سره دمنادی مفرد معرفه دمشابه کیدو دوجې نه ددې بناء ثابت نه وي .

مثالان : په دې عبارت سره دممثل له دتعین بیان کوي چې **یازید** او**یارجل** کې دادواړه دهغه منادیٰ مفرد مثالونه دي چې مبني بنا برضمه وي اول مثال دنداء نه مخکې دمعرفې دي اودویم مثال دنداء نه دپس معرفې دي .

مثال : په دې عبارت سره دممثل له دتعین بیان دي چې **یازیدان** دهغه منادی مفرد معرفې مثال دي کوم چې په علامت رفع الف باندې مبني وي او **یازیدون** د هغه منادی مثال دي کوم چې په علامت رفع واو باندې مبني وي .

منادیٰ مجرور په لام الاستغاثة سره :

تَدْخُلُهُ	بِلَامٍ	اَیْ	الْاِسْتِغَاثَةِ	بِلَامِ	الْمُنَادٰی	یَنْجَرُّ	اَیْ	وَ یُخْفَضُ

اوجرور کولې شي یعنې جربه ورکوي منادی ته دلام استغاثې دوجې نه یعنې په داسې لام سره چې داخلیږي په

اَنَّهُ	عَلٰی	دَلَالَةً	الْمُسْتَغَاثِ	عَلَی	اُدْخِلَتْ	وَ هِیَ لَامُ التَّخْصِیْصِ	وَقْتَ الْاِسْتِغَاثَةِ

وخت داستغاثه کې اوهغه لام دتخصیص دي چې داخلیږي په مستغاث باندې دلالت کوي په دې خبرې چې دا

یَلْتَبِسَ	لِئَلَّا	فُتِحَتْ	اِنَّمَا	وَ	مِثْلُ یَا لِزَیْدٍ	بِالدُّعَاءِ	اَمْثَالِهِ	مَخْصُوْصٌ مِنْ بَیْنِ

مخصوص دي په مینځ دخپلوامثالو کې لکه یالزیداوفتحه ورکړي شوه ددې وجې نه چې التباس رانه شي د

لَامُ	لَمْ تُفْتَحْ	فَاِنَّهُ لَوْ	یَا لَقَوْمٍ	اَیْ	یَا لَلْمَظْلُوْمِ	نَحْوُ	حُذِفَ الْمُسْتَغَاثُ	اِذَا	بِالْمُسْتَغَاثِ لَهُ

مستغاث له سره چې کله حذف شي مستغاث لکه یاللمظلوم یعنې یالقوم ځکه چې که چیرته فتحه ورنه کړې لام

وَ لَمْ یُعْکَسِ	مُسْتَغَاثٌ لَهُ	اَوْ	مُسْتَغَاثٌ	هٰذَا الْمِثَالِ	فِيْ	اَنَّ الْمَظْلُوْمَ	لَمْ یُعْلَمْ	الْمُسْتَغَاثِ

دمستغاث ته نونه معلومیږي چې مظلوم په دې مثال کې مستغاث دي اویامستغاث له اوددې عکس یې نه

مَعَهَا	الْجَرِّ	لَامُ	تُفْتَحُ	الَّتِيْ	کَافِ الضَّمِیْرِ	مَوْقِعَ	وَاقِعٌ	الْمُنَادَی الْمُسْتَغَاثَ	الْاَمْرُ لِاَنَّ

دې اخستې ځکه چې منادی مستغاث واقع وي په ځاې دکاف دضمیرچې فتحه ورکوي ددې سره لام دجرنه

نَحْوُ لَکَ بِخِلَافِ الْمُسْتَغَاثِ لَهُ لِعَدَمِ وُقُوْعِهِ مَوْقِعَ الضَّمِيْرِ فَاِنْ عَطَفْتَ عَلَى الْمُسْتَغَاثِ بِغَيْرِ
لکه لک بخلاف المستغاث له د عدم وقوع نه په ځای د ضمیر که چیرته عطف کړي شي په مستغاث باندې په غیر د
يَا نَحْوُ يَا لِزَيْدٍ وَ لِعَمْرٍو وَ كُسِرَتْ لَامُ الْمَعْطُوْفِ لِاَنَّ الْفَرْقَ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ الْمُسْتَغَاثِ
یاء لکه یالزید ولعمرو نو کسره به ورکولې شي لام د معطوف ته ځکه چې فرق په مینځ د دې او په مینځ د مستغاث
لَهُ حَاصِلٌ بِعَطْفِهِ عَلَى الْمُسْتَغَاثِ وَ اِنْ عَطَفْتَ مَعَ يَا فَلَا بُدَّ مِنْ فَتْحِ
له حاصل دي دوجې د عطف نه په مستغاث باندې او که چیرته عطف کړي سره د یا نه نو لابدي ده د فتحې ورکولو
اللَّامِ الْمَعْطُوْفِ اَيْضاً نَحْوُ يَالَزَيْدٍ وَيَالَعَمْرٍو.
ته لام د معطوف ته همدارنګې لکه یالزید ویالعمرو

خلاصه د متن: د دې ځای نه د منادی د دویم قسم بیان دي که چیرته په منادی باندې لام داستغاثې داخل وي نو دا به معرب مجرور وي لکه یالزید .

اغراض د جامي : <u>ای ینجر</u> : په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي :

اول سوال : اول سوال دا دې چې **خفض** باب متعدي دي لهذا دا د **خافض** صفت دي نه د منادی که چیرته د منادی صفت شي نو دا به **خروج عن المبحث** لازم راشي .

دوهم سوال : دویم سوال دا دې چې **خفض** د حرکت سره خاص دي ځکه چې دا هغه منادی مستغاث ته به شامل نه وي کوم چې مجرور بالحرف وي لکه **یالزیدین** حالانکه دې ته هم منادی مستغاث ویلي شي .

جواب : په **ینجر** سره شارح د دواړو سوالونو جواب ورکوي چې **یخفض** د **ینجر** په معنی کې دي او دا لازمي دي او د منادی صفت دي همدارنګې **جر** عام دي منادی **مجرور بالحرکت** او **مجرور بالحرف** دواړو ته شامل دي .

<u>**ای بلام تدخله**</u> : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د لام اضافت استغاثې طرف ته صحیح نه دي ځکه چې لام حرف دي او حرف خپل مدلول او معنی طرف ته مضاف وي او استغاثه د لام د معانیو او مدلول نه ، نه دي .

جواب : د لام اضافت استغاثې طرف ته دادنی ملابست او مناسبت د وجې نه دي او هغه ادنی

ملابست دادې چې دا داستغاثې په وخت کې په لام د منادی باندې داخلیږي.

وهي لام التخصيص: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د لام ډیرې معاني دي تعلیل، تخصیص، ابتداء وغیره دلته کومه یوه معنی مراد ده

جواب: شارح جواب ورکوي چې دلام نه مراد لام دتخصیص دي اودا په مستغاث باندې داخلولې شي په دې خبرې باندې ددلالت کولو دپاره چې دادخپلو امثالو په مینځ کې ددعاء سره مخصوص دي

وانما فتحت: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: لام استغاثه لام جاره دي اولام جاره چې کله په اسم ظاهر باندې داخل وي نودا په خپله مکسوریږي ددې دپاره چې لام ابتدائیه مفتوحې سره ددې التباس لازم رانه شي نوبیا یې لام استغاثه ته فتح ولې ورکړه ؟

جواب: لام داستغاثې ته یې فتحه ددې وجې نه ورکړه چې دمنادی مستغاث اومستغاث له سره په هغه وخت کې التباس لازم رانه شي چې کله مستغاث حذف کړې شي لکه **یاللمظلوم** داپه اصل کې وو **یالقوم للمظلوم** اوس که چیرته دمستغاث لام ته یې فتحه ورنه کړه نودانه معلومیږي چې په مثال کې مظلوم مستغاث دي اوکه مستغاث له ځکه چې په دواړو باندې لام جاره داخلیږي نودفرق کولو دپاره یې دمستغاث لام مفتوح اودمستغاث له لام یې مکسور کړو.

ولم يعكس الامر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: که چیرته مقصود دمستغاث اودمستغاث له په مینځ کې فرق کول اوالتباس ختمول وو نو ددې بالعکس سره چې دمستغاث لام ته کسره اودمستغاث له لام ته فتحه ورکړې نومصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ داسې ولې ونه کړل ؟

جواب: چونکه منادی مستغاث دکاف ضمیر په ځای واقع کیږي اوپه کاف ضمیر باندې لام مفتوحه داخلیږي لکه لک نومستغاث باندې هم لام مفتوح داخل کړې ددې مناسبت نه چې دا کاف دضمیر قائمقام اوددې په ځای واقع دي په خلاف دمستغاث له چې هغه دکاف ضمیر په ځای واقع نه دي، لهذا دا یې په خپل اصل باندې پریخودو سره دې ته یې کسره ورکړه ځکه

چې اصل ئې دي چې لام جاره کله په اسم ظاهر باندې داخل وي نو دا په خپله مکسور وي لکه ولله

فان عطفت : دا په ماقبل باندې تفريع ده چې د مستغاث لام ته فتحه ددې وجې نه ورکړې شوه چې مستغاث او د مستغاث له په مېنځ کې التباس رفع شي ورنه په اصل کې په دې کې هم کسره وه دغه وجه ده چې که چيرته ديوبل سبب دوجې نه مستغاث او د مستغاث له په مينځ کې فرق کيږي نو بيا به د مستغاث لام ته فتحه نه شي ورکولې بلکه چې ددې کوم اصل حرکت چې کسره ده دا به ورکولې شي مثلاً که چيرته په منادى مستغاث باندې د کوم اسم عطف وکړې شي يا د حرف نداء داعادې نه په غير نو د معطوف لام ته به کسره ورکولې شي نه فتحه لکه **يالزيد ولعمرو**. د **لعمرو** لام مکسور دې ځکه چې دلته د معطوف او د مستغاث له په مينځ کې په مستغاث باندې د عطف دوجې نه فرق حاصل شو ځکه چې معطوف د معطوف عليه په حکم کې وي چې کله معطوف عليه منادى مستغاث وي نو معطوف به هم منادى مستغاث وي نه مستغاث له ، چونکې د عطف دوجې نه مستغاث او د مستغاث له په مينځ کې فرق واضح شو نو د لام په ذريعه د فرق کولو ضرورت پاتې نه شو ځکه چې **يالزيد ولعمر** کې معطوف **ولعمرو** کې لام ته ددې خپل اصلي حرکت کسره ورکړې شوه او که چيرته د کوم اسم منادى په مستغاث باندې عطف کړې شي د ياء داعادې سره نو بيا به د مستغاث لام مکسور ويل جائز نه دي بلکه مفتوح ويل واجب دي دوجې دويرې د التباس نه لکه **يالزيد ويالعمرو** ځکه چې کله په معطوف باندې يا حرف نداء او د لام استغاثې اعاده وکړې شو نو دا مستقل منادى د مستغاث په حکم کې شي ګويا چې ماقبل په دې باندې عطف نه دې ځکه چې په دې باندې لام مفتوح وي چې د مستغاث له سره يې التباس نه وي.

منادى په لام الاستغاثه سره د معرب کيدو وجه :

وَ إِنَّمَا أُعْرِبَ الْمُنَادىٰ بَعْدَ دُخُولِ لَامِ الْإِسْتِغَاثَةِ لِاَنَّ عِلَّةَ بِنَائِهِ كَانَتْ مُشَابَهَتُهٗ
او په تحقيق سره معرب کړې شوه منادى پس د دخول دلام داستغاثې نه ځکه چې علت د بناء ددې وو مشابهت
لِلْحَرْفِ وَ اللَّامُ الْجَارَّةُ مِنْ خَوَاصِ الْإِسْمِ فَبِدُخُولِهَا ضَعُفَتْ مُشَابَهَتُهٗ لِلْحَرْفِ
ددې د حرف سره او لام جاره دا د خواصو د اسم نه دې نو په دخول ددې سره دوه چنده شو مشابهت د حرف سره نو
فَـأُعْرِبَ عَلٰى مَا هُوَ الْاَصْلُ فِيْهِ.
اعراب يې ورکړو کوم چې په اصل کې وو.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب کافيه د منادى په لام الاستغاثه باندې د معرب کېدو وجه بيانوي

اغراض دجامي : وانما اعرب المنادى: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : منادى مستغاث خو هم دکاف اسمي په ځاې باندې واقع ده لهذا داهم مبني کېدل په کاروو دا يې معرب ولې کړو ؟

جواب : دجواب حاصل دادې چې دمنادى مفرد معرفې دمبني کېدو وجه داوه چې هغه مبني الاصل دحرف سره مشابه وو ليکن چې کله په دې باندې لام داستغاثې داخل شو کوم چې د خواصو داسم نه دي نو ددې مشابهت دحرف سره ضعيف شو ځکه چې هغه منادى مفرد معرفه په خپل اصلي حالت اعراب باندې راغله.

په منادى بلام الاستغاثه باندې يو اعتراض او د هغې جواب :

قِيْلَ قَدْ يُخْفَضُ الْمُنَادىٰ بِلاَمَيِ التَّعَجُّبِ وَ التَّهْدِيْدِ اَيْضاً فَلاَمُ التَّعَجُّبِ نَحْوُ يَا لِلْمَاءِ وَ
ويلي شوي دي چې کله کله مجرورېږي منادى په لام دتعجب سره اوپه لام دتهديد سره نولام دتعجب لکه ياللماء و
يَالِلدَّوَاهِيْ وَلاَمُ التَّهْدِيْدِ نَحْوُ يَالِزَيْدٍ لَاَقْتُلَنَّکَ فَلِمَ اَهْمَلَ الْمُصَنِّفُ ذِکْرَهُمَا وَکَيْفَ يَصْدُقُ قَوْلُهُ فِيْمَا بَعْدُ
ياللدواهي اولام تهديد لکه يالزيد لاقتلنک نو ولې پرېخودو مصنف ذکر ددې دواړو او څنګه به صادق راشي وروستي
وَ يُنْصَبُ مَاسِوَاهُمَا کُلِّيًا وَ اُجِيْبَ بِاَنَّ کُلاًّ مِنْ هَاتَيْنِ اللاَّمَيْنِ لاَمُ الْاِسْتِغَاثَةِ
قول دمصنف چې وينصب ماسواهما په کلي طريقې سره او جواب يې ورکړو چې هريو ددې دواړو لامينو نه لام داستغاثې
کَاَنَّ الْمُهَدِّدَ اِسْمَ فَاعِلٍ يَسْتَغِيْثُ بِالْمُهَدَّدِ اِسْمَ مَفْعُوْلٍ لِيَحْضُرَ فَيَنْتَقِمَ مِنْهُ وَ يَسْتَرِيْحَ
دي ګوياچې مهدداسم فاعل فرياد کوي دمهدد اسم مفعول نه چې حاضرشي نو انتقام به واخلي ددې نه او راحت
مِنْ آلَمِ خُصُوْمَتِهٖ وَ کَاَنَّ الْمُتَعَجِّبَ يَسْتَغِيْثُ بِالْمُتَعَجَّبِ مِنْهُ لِيَحْضُرَ فَيَقْضِيَ
بيا موزي دتکليف دخصومت نه او ګوياچې تعجب کوونکي فرياد کوي دمتعجب منه نه چې حاضرشي نو پوره يې
مِنْهُ الْعَجَبَ وَ يَتَخَلَّصَ مِنْهُ وَ اُجِيْبَ عَنْ لاَمِ التَّعَجُّبِ بِوَجْهٍ آخَرَ ذَکَرَهُ
کړو ددې نه تعجب او خلاصې به بيا موزي ددې نه او جواب يې ورکړي دلام دتعجب نه په بلې وجې سره چې ذکر کړي
الْمُصَنِّفُ فِي الْاِيْضَاحِ وَهُوَ اَنَّ الْمُنَادىٰ فِيْ قَوْلِهِمْ يَالِلْمَاءِ وَلِلدَّوَاهِيْ لَيْسَ الْمَاءُ وَلاَ الدَّوَاهِيْ وَاِنَّمَا الْمُرَادُ يَاقَوْمُ
مصنف په الايضاح کې او هغه داچې منادى ددې قول ياللماء و ياللدواهي کې الماء او الدواهي نه ده بلکه مراد ياقوم

أَوْ يَا هَؤُلَاءِ اِعْجَبُوا لِلْمَاءِ وَلِلدَّوَاهِيْ وَلاَ يَخْفٰى عَلَيْكَ اَنَّ الْقَوْلَ بِحَذْفِ الْمُنَادىٰ عَلٰى تَقْدِيْرِ كَسْرِ اللاَّمِ
یاهؤلاء اعجبوا للماء وللدواهي دي او خفي دې نه وي په تا باندې چې حذف دمنادی قول دلام کسرې په تقدير باندې هم
ظَاهِرٌ وَ اَمَّا عَلٰى تَقْدِيْرِ فَتْحِهَا فَمُشْكِلٌ لِاِنْتِفَاءِ مَا يَقْتَضِيْ فَتْحَهَا
ظاهر دي او هرچې په تقدير دفتحې ددې باندې نو مشکل دي دوجې دانتفاء دهغه څيز چې تقاضا کوي دفتحې
حِيْنَئِذٍ كَمَا هُوَ الظَّاهِرُ مِمَّا سَبَقَ.
ددې په دې وخت کې لکه دا ظاهر دي مخکې.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب کافيه په منادی بلام الاستغاثه باندې اعتراض کيږي نو شارح دا بيانوي .

اغراض دجامي : قيل: په دې عبارت سره شارح په مصنف باندې شوي دوه (۲) اعتراضونه نقل کوي او دهغې جواب ورکوي :

اول اعتراض :منادی چې لکه څنګه دلام استغاثې دوجې نه مجروروي همدا رنګې دلام تعجب او د لام تهديد د دخول د وجې نه به هم مجرور وي د لام تعجب مثال لکه یاللماء ویاللدواهي او د لام تهديد مثال لکه یالزید لاقتلک نو مصنف دا دواړه ولې ذکر نه کړل ؟

دوهم اعتراض : چې کله منادی دلام تعجب اودلام تهديد دوجې نه مجروروي نو دمصنف قول وينصب ماسواهما به څنګه صحيح وي ځکه چې مأسواه کې هغه منادی هم شامله ده چې په هغې باندې لام د تعجب اولام دتهديد داخل وي حالانکه ددې وجې نه منادی منصوب نه وي بلکه مجرور وي .

اول جواب : په اجيب سره شارح ددواړو سوالونو جوابات ورکوي چې حاصل يې دا دي چې لام دتعجب اولام دتهديد په حقيقت کې همدا لام داستغاثې دي ګويا چې نومونه مختلف دي اومصداق يې يو دي ځکه چې مهدِد ، دمهدَد نه فرياد کوي چې هغه حاضر شي اودا دهغه نه انتقام واخلي اودخصومت دتکليف نه په راحت کې شي همدا رنګې لام دتعجب کې ګويا چې متعجب ، دمتعجب منه نه فرياد کوي چې هغه حاضرشي اودا دهغه نه خپل تعجب پوره کړي اودهغه نه خلاصی بيا موزي .

دوهم جواب : په اجيب سره شارح دجامي دلام تعجب په باره کې دويم جواب ورکوي چې حاصل يې دا دي چې په اصل کې ماء اودواهي منادی نه دي بلکه منادی محذوف ده کوم چې

قوم او هؤلاء دي داپه اصل کې وو ياقوم اعجبوا للماء ياهؤلاء اعجبوا للدواهي

ولايخفى: په دې عبارت سره دشارح دجامي غرض په دويم جواب باندې اعتراض کول دي چې په لام تعجب باندې فتحه هم جائزده اوکسره هم جائزده که چيرته الماء اوالدواهي په لام باندې کسره وي نودا به مستغاث له جوړشي اوقوم هؤلاء کوم چې محذوف دي دابه مستغاث جوړ شي په دې صورت کې کوم اشکال نشته ليکن که چيرته الماء الدواهي په لام باندې فتحه وي نوبيا حذف دمنادى قول محل داشکال دي ځکه چې دفتحې مقتضى منتفي دي اوهغه منادى دکاف اسمي په ځاى واقع کيږي او الماء الدواهي منادى نه ده بلکه منادى قوم او هؤلاء محذوف دي

منادى مبني په فتحې سره:

وَ	يُفْتَحُ	اَىْ	يُبْنَى	الْمُنَادىٰ	عَلَى	الْفَتْحِ	لِاِلْحَاقِ	اَلِفِهَا	اَىْ	اَلِفُ الْاِسْتِغَاثَةِ
اوفتحه ورکولې شي يعني منادى مبنى کولې شي په فتحې باندې په يوځاى کولو دالف سره يعني الف داستغاثې										
بِآخِرِهٖ	لِاِقْتِضَاءِ الْاَلِفِ	فَتْحَ	مَاقَبْلَهَا	وَلاَ لاَمَ	فِيْهِ	حِيْنَئِذٍ	لِاَنَّ اللاَّمَ	يَقْتَضِي	الْجَرَّ	وَ الْاَلِفُ
په آخر ددې پورې دتقاضا کولو دالف دفتحې ماقبل ددې اوپه دې کې به لام نه وي ځکه چې لام تقاضا کوي دجرا والف										
الْفَتْحَ	فَبَيْنَ	اَثَرَيْهِمَا	تَنَافٍ	فَلاَ	يَحْسُنُ	الْجَمْعُ	بَيْنَهُمَا	مِثْلُ	يَا زَيْدَاهُ	بِاِلْحَاقِ
دفتحې نوپه مينځ ددې دواړواثرکې منافات دي نوځه نه ده جمع په مينځ ددې دواړوکې لکه يازيداه په الحاق										
الْهَاءِ	بِهٖ	لِلْوَقْفِ.								
دهاء سره ددې پورې دپاره دوقف.										

خلاصه دمتن: په دې ځاى کې دمنادى ددريم قسم بيان دي چې که چيرته دمنادى په آخر کې الف داستغاثې داخل وي نومنادى به مبني على الفتح وي ليکن په دې صورت کې به لام پرې نه وي داخل لکه يازيداه.

اغراض دجامي: اى يبنى المنادى: په دې عبارت سره شارح ديو سوال مقدر جواب ورکوي:

سوال: ويفتح معطوف دي په مخکې ويخفض باندې اوخفض نه اعراب مراد دي (يعني خفض حرکت اعرابي ته وايي)، لهذا ديفتح نه به هم اعراب مراد وي نو يفتح المنادى دينصب المنادى په معنى به وي چې کله يفتح دينصب په معنى باندې وي نووروسته وينصب ماسواها دذکر نه به استغناء راشي اوددې دذکر کولو ضرورت به پاتې نه وي.

جواب: دده جواب دادې چې دیفتح نه مراد دده حقیقي معنی بناء علی الفتح دي نه چې یفتح دینصب په معنی باندې دي اوورستنه دینصب نه مراد معرب منصوب کیدل دي ځکه چې دیفتح ذکر دینصب نه، نه مستغني کوي

ای الف الاستغاثة: په دې عبارت سره په الفها کې د ها ضمیر مرجع متعین کوي چې د ها ضمیر مرجع الف الاستغاثه دي

لاقتضاء الالف: په دې عبارت سره دمفتوح کیدو وجه بیانوي ، دمنادی په آخر کې دالف استغاثه دلاحق کیدو په صورت کې به دمنادی دمفتوح کیدو وجه داده چې کله دمنادی په آخر کې الف داستغاثې داخل وي نودادماقبل دمفتوح کیدو تقاضا کوي .

ولا لام فیه: په دې عبارت کې بیان د فائدې کوي مصنف دا بیانوي چې کله د منادی په آخر کې الف د استغاثې داخل وي نو په دې صورت کې به په دې باندې لام د استغاثې نه داخلیږي

لان اللام: په دې عبارت سره دلام دنه موجودیدو وجه بیانوي چې لام تقاضا کوي دجر او الف تقاضا کوي دفتحې اودې دواړو په اثر کې منافات دي ددې وجې نه دادواړه نه جمع کیږي لکه یازیداه ددې په آخر کې الف داستغاثې دي او هاء دوقف ده .

د منادی منصوب بیان :

وَ يُنْصَبُ مَا سِوَاهُمَا اَیْ يُنْصَبُ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ مَا سِوَى الْمُنَادَى الْمُفْرَدِ الْمَعْرِفَةِ
اومنصوب به وي غیرددې دواړونه یعنې منادی به منصوب وي په مفعولیت سره غیردمنادی مفرد معرفې نه
وَالْمُنَادَى الْمُسْتَغَاثِ مَعَ اللَّامِ اَوِ الْاَلِفِ لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْرًا اِنْ كَانَ مُعْرَبًا قَبْلَ دُخُوْلِ حَرْفِ النِّدَاءِ لِاَنَّ
او منادی مستغاث سره د لام اوالف نه لفظاً اوتقدیراً که چیرته معرب وي مخکې د دخول دحرف ندانه ځکه چې
عِلَّةَ النَّصْبِ وَ هِيَ الْمَفْعُوْلِيَّةُ مُتَحَقِّقَةٌ فِيْهِ وَمَا غَيَّرَهُ مُغَيِّرٌ عَنْ حَالِهٖ وَمَا سِوَى
علت دنصب هغه مفعولیت دي چې متحقق وي په دې کې اونه وي بدل کړي یو بدلونکي دخپل حال نه اوغیر
الْمُفْرَدِ الْمَعْرِفَةِ اِمَّا مَا لَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا بِاَنْ يَّكُوْنَ مُضَافًا اَوْ شِبْهَ مُضَافٍ وَاِمَّا مَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا وَلٰكِنْ لَا يَكُوْنَ
دمنادی مفرد معرفې نه یاهغه چې نه وي مفرد چې وي مضاف اویاشبه مضاف اویابه مفرد وي لیکن نه به وي
مَعْرِفَةً وَ اِمَّا مَا لَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا وَلَا مَعْرِفَةً فَالْقِسْمُ الْاَوَّلُ وَ هُوَ مَا لَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا لِكَوْنِهٖ مُضَافًا
معرفه اویابه هغه وي چې نه وي مفرد اونه معرفه نواول قسم داهغه دي چې نه وي مفرد دوجې دکیدونه مضاف

مِثْلَ يَا عَبْدَ اللهِ وَ الْقِسْمُ الثَّانِيْ وَ هُوَ مَا لَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا لِكَوْنِهٖ شِبْهَ مُضَافٍ مِثْلَ يَا طَالِعًا جَبَلًا وَالْقِسْمُ الثَّالِثُ

لکه یاطالعاً جبلا او دویم قسم هغه دي چې نه وي مفرد دوجې د کیدو نه شبه مضاف لکه یاطالعاً جبلا او دریم قسم

وَهُوَ مَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا وَلٰكِنْ لَا يَكُوْنُ مَعْرِفَةً مِثْلَ يَا رَجُلًا مَقُوْلًا لِغَيْرِ مُعَيَّنٍ اَىْ لِرَجُلٍ غَيْرِ

هغه چې وي خو لیکن نه وي معرفه لکه یا رجلاً چې ویلې شوي د پاره د غیر معین یعنې د پاره د سړي غیر

مُعَيَّنٍ وَ هٰذَا تَوْقِيْتٌ لِنَصْبِ رَجُلًا لَا تَقْيِيْدٌ لَهٗ لِاَنَّهٗ مَنْصُوْبٌ لَا يَحْتَمِلُ الْمُعَيَّنَ

معین او دا توقیت دي د نصب د رجلاً د پاره تقید نه دي د دې د پاره خکه چې دا وي منصوب او احتمال د معین نه لري

وَالْقِسْمُ الرَّابِعُ وَهُوَ مَا لَا يَكُوْنُ مُفْرَدًا وَلَا مَعْرِفَةً مِثْلَ يَا حَسَنًا وَجْهُهٗ ظَرِيْفًا وَلَمْ يُوْرِدِ الْمُصَنِّفُ لِهٰذَا الْقِسْمِ مِثَالًا

او څلورم قسم هغه دي چې نه وي مفرد او نه معرفه لکه یاحسنا وجهه ظریفاً او رانه وړو مصنف د دې قسم د پاره مثال

اِذْ حَيْثُ اِتَّضَحَ اِنْتِفَاءُ كُلٍّ مِنَ الْقَيْدَيْنِ بِمِثَالٍ سَهُلَ تَصَوُّرُ اِنْتِفَائِهِمَا مَعًا فَلَا

خکه چې کله واضحه شوه د مثال نه د دواړو قیدونو نه انتفاء نو د دواړو جدا منتفي کولو تصور آسان شو نو نشته

حَاجَةَ اِلٰى اِيْرَادِ مِثَالٍ لَهٗ عَلٰى اِنْفِرَادِهٖ مَعَ اَنَّ الْمِثَالَ الثَّانِيَ يَحْتَمِلُهٗ فَيُمْكِنُ اَنْ يُّرَادَ بِقَوْلِهٖ

حاجت د راوړو د مثال د دې د پاره جدا سره د دې نه چې دویم مثال د دې احتمال لري نو ممکن ده چې راوړي په دې قول

يَا طَالِعًا جَبَلًا هٰذِهِ الْعِبَارَةُ اَعَمُّ مِنْ اَنْ يُّرَادَ بِهَا مُعَيَّنٌ اَوْ غَيْرُ مُعَيَّنٍ فَاَمْثِلَةُ الْاَقْسَامِ بِاَسْرِهَا مَذْكُوْرَةٌ وَ هٰذِهِ

سره چې یاطالعاً جبلاً دا عبارت عام چې مراد کړي شي په دې سره معین او یا غیر معین نو د ټولو مثالونو ذکر شوا و دا

الْاَمْثِلَةُ كُلُّهَا مِثَالٌ لِمَا سِوَى الْمُسْتَغَاثِ اَيْضًا فَلَا حَاجَةَ اِلٰى اِيْرَادِ مِثَالٍ لَهٗ عَلٰى حِدَةٍ.

مثالونه ټول مثالونه دي غیر د مستغاث نه هم دا رنګې نو ضرورت نشته راوړو د مثال ده ته جدا.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې مصنف د منادی د څلورم قسم بیان کوي چې که چیرته منادی مفرد معرفه نه وي او منادی مستغاث هم نه وي نو دا به معرب منصوب وي لکه یاعبدالله.

اغراض دجامي: بالمفعولية: په دې عبارت سره شارح دجامي د منادی د منصوب کیدو وجه بیانوي چې منادی د مفعول کیدو دوجې نه به منصوب وي.

ماسوی المنادی المفرد المعرفة الخ: په دې عبارت سره غرض دشارح د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: هما ضمیر او د دې په مرجع کې مطابقت نشته خکه چې ضمیر د تثنیې دي او مرجع دري شیان دي: (۱) منادی مفرد معرفه. (۲) منادی مستغاث باللام. (۳) منادی مستغاث

بالالف نومرجع امور ثلاثه شو ځکه چې وينصب ماسواها نوداضمير دواحد مؤنث سره راوړل په کار وو

جواب : د راجع او مرجع په مينځ کې مطابقت موجود دي ځکه چې مرجع دوه (۲) شيان دي . (۱) منادی مفرد معرفه . (۲) منادی مستغاث مطلقاً ، برابره خبره ده چې مستغاث باللام وي يا بالالف نو اجمالاً دوه قسمه دي البته په تفصيل کې دري قسمه جوړيږي مستغاث باللام ، مستغاث بالالف يې دواړه جدا قسمونه شمار کړي دي .

لفظاً اوتقديراً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په ياغلامي کې غلامي منادی مفرد معرفه اومستغاث نه غير دي حالانکه په دې باندې نصب نشته .

جواب : په نصب کې تعميم دي برابره خبره ده چې لفظي وي اوکه تقديري ، اوپه غلامي کې نصب اګرچې لفظي نه دي ليکن تقديري دي .

ان كان معرباً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : يا په يوم ينفع الصادقين کې يوم ينفع الصادقين چې کله يوکس علم جوړکړي نودامنادی مفرد معرفه اومنادی مستغاث نه ماسواء ده حالانکه دامعرب منصوب نه دي بلکه مبني بالفتح دي نود مصنف وينصب ماسواهما ويل څنګه صحيح دي ؟

جواب : منادی مفرد معرفه او د منادی مستغاث نه غير د منصوب کيدو شرط دادې چې هغه په حرف نداء باندې د داخليدو نه مخکې معرب وي او يا يوم ينفع حرف نداء د داخليدو نه مخکې مبني ده ځکه چې قاعده داده چې ظرف کله جملې طرف ته مضاف وي نو دا مبني وي .

لان علة النصب: په دې عبارت سره غرض د شارح په غير د منادی مفرد معرفه او د مستغاث د منصوب کيدو وجه بيانول دي چې په دې کې د نصب علت متحقق او موجود دي او هغه مفعول کيدل دي او کوم داسې مغير هم و نه موندل شو چې دا د خپل اصلي حالت نصب او د اعراب نه بدل کړي لکه څنګه چې منادی مفرد معرفه او منادی مستغاث کې مغير موندل شوي ځکه ددې دواړو نه غير منادی دخپل اصلي حالت نصب باندې باقي پريخي ده .

وما سوى المنادى المفرد المعرفة: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول

١

دي

سوال : د مثال نه مقصود د ممثل له وضاحت وي او وضاحت يو مثال سره هم كيږي نو مصنف دري مثالونه ولې ذكر كړل ؟

جواب : د مثال تعدد د ممثل له د تعدد د وجې نه دي ځكه چې د منادى مفرد معرفې څلور (۴) قسمونه دي اول دا چې مفرد نه وي بلكه مضاف وي لكه **ياعبدالله** . دوهم دا چې مفرد نه وي بلكه شبه مضاف وي لكه **ياطالعاً جبلاً** . دريم دا چې مفرد وي ليكن معرفه نه وي لكه **يارجلاً** څلورم دا چې نه مفرد وي او نه معرفه لكه **ياحسنا وجهه ظريفا** ، د دې آخري قسم مثال يې بيان نه كړو چې د هغې وجه شارح وروسته ذكر كوي ، نو چې كله ممثل له متعدد وو نو مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ مثالونه هم متعدد بيان كړل .

مقولاً : په دې عبارت كې بيان د تركيب دي ، دې خبرې طرف ته يې اشاره كړې ده چې لغير معين د مقولا متعلق شو او د رجلاً نه حال دي .

اى لرجل غير معين : په دې عبارت سره يې اشاره وكړه چې غير معين صفت دي د موصوف محذوف د رجل د پاره .

وهذا توقيت : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : رجلاً د غير معين سره د مقيد كولو ضرورت نشته ځكه چې كله رجلاً منصوب وي نو په دې كې د معين احتمال د سره نه وي ځكه چې كه چيرته معين وي نو بيا به منصوب نه وي بلكې مبني به وي على علامة الرفع .

جواب : غير معين د رجل تقيد نه دي بلكه د رجل د پاره توقيت دي يعنې رجل منصوب د هغه وخته پورې وي چې كله تر څو پورې د غير معين د پاره وي .

ولم يورد : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : د دې خبرې څه وجه ده چې مصنف د دري قسمونو مثالونه ذكر كړي ليكن د څلورم قسم مثال يې نه دي ذكر كړي .

جواب : شارح د دې دوه (۲) جوابونه شارح وركړي دي .

اول جواب : چې كله د مفرد او د معرفې د دواړو قيدونو نه د هر يو قيد انتفا د مثالونو سره

واضحه شوه نو بیا خې ددې دواړو دانتفاء تصور آسان شو ددې وجې نه ددې مثال یې جدا ذکر نه کړو یعنې چې کله دمفرد دنه کیدو مثال یې هم ذکر کړو او دمعرفې دنه کیدو مثال یې هم ذکر کړو نودواړو دنه یوځای کیدو مثال په آساني سره معلومیږي.

دوهم جواب: په مع سره ددویم جواب بیان دي چې دویم مثال یعنې **یاطالعاجبلاً** دڅلورم قسم دمثال احتمال هم لري ځکه چې ممکن ده چې **یاطالعاً جبلا** نه داعبارت مراد واخستل شي عام ددې نه چې ددې نه معین مراد وي یاغیر معین که چیرته معین مراد وي نوددویم قسم مثال به جوړشي اوکه چیرته غیر معین ترې مراد وي نوڅلورم قسم دپاره به مثال جوړ شي نو دټولو قسمونو مثالونه په متن کې ذکر دي

وهذه: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دمصنف دپاره ضروري وو چې لکه څنګه ده دمنادی مفرد معرفه دماسواء مثالونه ذکرکړل همدارنګې دمستغاث دماسواء مثالونه به یې هم ذکرکړي وي داسې یې ولې ونه کړل

جواب: دامثالونه چې لکه څنګه منادی مفرد دمعرفه نه ماسواء کې دي همدارنګې دمنادی مستغاث دماسواء کې هم دي لهذا ددې دپاره دجدا مثالونو دذکرکولو ضرورت نه وو.

توابع دمنادی:

وَ تَوَابِعُ الْمُنَادَى الْمَبْنِيِّ عَلَى مَا يُرْفَعُ بِهِ الْمُفْرَدَةُ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً اِنَّمَا قَيَّدَ
اوتوابع دمنادی مبني په هغه خبرسره چې رفع ورکولې شي په دې سره مفرد حقیقةً اویاحکماً په تحقیق سره مقید
الْمُنَادىٰ بِكَوْنِهِ مَبْنِيًّا لِاَنَّ تَوَابِعَ الْمُنَادىٰ الْمُعْرَبِ تَابِعَةٌ لِلَفْظِهِ فَقَطْ وَ قَيَّدْنَا
کړه مصنف منادی په کیدوددې سره مبني ځکه چې توابع دمنادی معرب تابع دي دلفظ فقط اوموږ مقید کړو
الْمَبْنِيَّ بِكَوْنِهِ عَلَى مَا يُرْفَعُ بِهِ لِاَنَّ تَوَابِعَ الْمُسْتَغَاثِ بِالْاَلِفِ لاَ
مبني په کیدو ددې سره په هغه څیزسره چې رفع ورکولې شي په دې سره ځکه چې توابع دمستغاث بالالف نه
يَجُوْزُ فِيْهَا الرَّفْعُ نَحْوُ يَا زَيْداً وَ عَمْراً لاَ وَ عَمْرٌو لِاَنَّ الْمَتْبُوْعَ مَبْنِيٌّ عَلَى الْفَتْحِ وَ قَيَّدَ التَّوَابِعَ
دي جائزپه دې کې رفع لکه یازیدا وعمروا وعمرو ځکه چې متبوع مبني ده په فتحې سره اومقید یې کړل توابع
بِكَوْنِهَا مُفْرَدَةً لِاَنَّهَا لَوْ لَمْ تَكُنْ مُفْرَدَةً لاَ حَقِيْقَةً وَلاَ حُكْماً كَانَتْ مُضَافَةً بِالْاِضَافَةِ الْمَعْنَوِيَّةِ وَ
په کیدوددې سره مفردځکه چې که نه وي مفرد نه حقیقةً اونه حکماًنودابه مضاف وي په اضافت معنوي سره او
حِيْنَئِذٍ لاَ يَجُوْزُ فِيْهَا اِلاَّ النَّصْبُ وَ اِنَّمَا جَعَلْنَا الْمُفْرَدَةَ اَعَمَّ مِنْ اَنْ تَكُوْنَ مُفْرَدَةً حَقِيْقَةً
په دې وخت کې نه دي جائزپه دې کې مګرنصب اوبه تحقیق سره وګرځول مفردعام ددې چې وي مفرد حقیقة چې

بِأَنْ لَاتَكُوْنَ مُضَافَةً مَعْنَوِيَّةً وَلَالَفْظِيَّةً وَلَاشِبْهَ مُضَافٍ أَوْ حُكْماً بِأَنْ تَكُوْنَ مُضَافَةً لَفْظِيَّةً أَوْ مُشَبَّهَةً بِالْمُضَافِ

نه وي مضاف معنوي او نه لفظي او نه شبه مضاف او يا حكما چي وي مضاف لفظي او يا شبه مضاف خكه

فَإِنَّهُمَا لَمَّا اِنْتَفَتْ فِيْهِمَا الْإِضَافَةُ الْمَعْنَوِيَّةُ كَانَتَا فِيْ حُكْمِ الْمُفْرَدَةِ لِتَدْخُلَ فِيْهَا

چي كله منتفي شو په دي كي اضافت معنوي نودا به وي په حكم دمفرد كي د دي دپاره چي داخل شي په دي كي

الْمُضَافَةُ بِالْإِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ وَالْمُشَبَّهَةُ بِالْمُضَافِ لِأَنَّهُمَا كَالتَّوَابِعِ الْمُفْرَدَةِ فِيْ جَوَازِ الرَّفْعِ وَالنَّصْبِ نَحْوُ يَازَيْدُ

مضاف په اضافت لفظي اوشبه مضاف خكه چي دا په شان دتوابع مفرد دي په جواز درفع اودنصب لكه يازيد

الْحَسَنُ الْوَجْهِ وَالْحَسَنَ الْوَجْهِ وَيَازَيْدُ الْحَسَنُ وَجْهُهُ وَالْحَسَنَ وَجْهُهُ وَلَمَّا لَمْ يَجْرِ الْحُكْمُ الْآتِيْ فِي التَّوَابِعِ

الحسن الوجه والحسن الوجه ويازيد الحسن وجهه والحسن وجهه اوهر كله چي جاري نه شو راتلونكي حكم په توابعو

كُلِّهَا بَلْ فِيْ بَعْضِهَا وَلَمْ يَجْرِ فِيْمَا هُوَ جَارٍ فِيْهِ مُطْلَقاً بَلْ لَا بُدَّ

ټولو كي بلكي په بعضو توابعو كي او نه جاري كيږي په هغه څه كي چي جاري وي په دي كي مطلق بلكي لابدي ده

فِيْ بَعْضِهَا مِنْ قَيْدٍ فَصَّلَ التَّوَابِعَ الْجَارِيَةَ هٰذَا الْحُكْمُ فِيْهَا وَصَرَّحَ

په بعضو كي د قيد نه په تفصيل سره بيان كړل مصنف هغه توابع چي جاري دا حكم په دي كي او تصريح يي وكړه

بِالْقَيْدِ فِيْمَا هُوَ مُحْتَاجٌ إِلَيْهِ فَقَالَ مِنَ التَّاكِيْدِ أَيِ الْمَعْنَوِيِّ لِأَنَّ التَّاكِيْدَ اللَّفْظِيَّ حُكْمُهُ فِي الْأَغْلَبِ حُكْمُ

په قيد سره هغه چي محتاج اليه وي نو وويل د تاكيد نه يعني معنوي خكه چي د تاكيد لفظي حكم په اغلب كي حكم

الْأَوَّلِ إِعْرَاباً وَبِنَاءً نَحْوُ يَا زَيْدُ زَيْدُ وَقَدْ يَجُوْزُ إِعْرَابُهُ رَفْعاً وَنَصْباً وَكَأَنَّ

داول وي په اعتبار د اعراب اوبناء سره لكه يازيد زيد او په تحقيق سره جائزدي اعراب د دي رفعا او نصبا او گويا

الْمُخْتَارَ عِنْدَ الْمُصَنِّفِ ذٰلِكَ وَلِذٰلِكَ لَمْ يُقَيِّدِ التَّاكِيْدَ بِالْمَعْنَوِيِّ وَالصِّفَةِ مُطْلَقاً وَعَطْفِ الْبَيَانِ

چي غوره په نزد د مصنف دادي او د دي وجي نه مقيد يي نه كړو په معنوي سره او صفت مطلقا او عطف بيان

كَذٰلِكَ وَالْمَعْطُوْفِ بِحَرْفِ الْمُمْتَنِعِ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ يَعْنِي الْمُعَرَّفَ بِاللَّامِ بِخِلَافِ الْبَدَلِ

همدارنگي اومعطوف په هغه حرف چي ممتنع وي دخول ديا په دي باندي يعني معرف باللام په خلاف د بدل سره

وَالْمَعْطُوْفِ الْغَيْرِ الْمُمْتَنِعِ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ فَإِنَّ حُكْمَهُمَا غَيْرُ حُكْمِهَا كَمَا سَيَجِيْءُ

اوهغه معطوف چي نه وي ممتنع دخول ديا په دي باندي نوحكم د دي دتوابعو دحكم نه غير دي چي ژر دي به يي

تُرْفَعُ حَمْلاً عَلٰى لَفْظِهِ الظَّاهِرِ أَوِ الْمُقَدَّرِ لِأَنَّ بِنَاءَ الْمُنَادٰى عَرْضِيٌّ

بيان راشي مرفوع به ويلي شي دوجي دحمل نه په هغه لفظ ظاهريا مقدر خكه چي بناء دمنادى عارضي دي نو

فَيُشْبِهُهُ الْمُعْرَبَ فَيَجُوْزُ أَنْ يَكُوْنَ تَابِعُهُ تَابِعاً لِلَفْظِهِ وَتُنْصَبُ حَمْلاً عَلٰى مَحَلِّهِ

مشابه شو دمعرب سره نوجائزده چي تابع د دي تابع دلفظ اومنصوب به ويلي شي دوجي دحمل نه په محل باندي

لِأَنَّ حَقَّ تَابِعِ الْمُنَادَى الْمَبْنِيِّ أَنْ يَكُوْنَ تَابِعاً لِمَحَلِّهِ وَهُوَ هٰهُنَا مَنْصُوْبُ الْمَحَلِّ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ مِثْلُ

خكه حق د تابع دمنادى مبني هغه دا چي وي به تابع د دي محل او هغه دلته منصوب المحل دي بالمفعولية لكه

يَاتَيْمَ اَجْمَعُوْنَ وَاَجْمَعِيْنَ فِي التَّاكِيْدِ يَازَيْدُ الْعَاقِلُ وَالْعَاقِلَ فِي الصِّفَةِ وَاقْتَصَرَ عَلَى مِثَالِهَا لِاَنَّهَا
ياتيم اجمعون واجمعين په تاكيد كې يازيد العاقل والعاقل صفت كې او اكتفاء يې وكړه په دې مثال باندې ځكه چې
اَكْثَرُ وَاَشْهَرُ وَيَاغُلَامَ بِشْرٍوَ بِشْراً فِيْ عَطْفِ الْبَيَانِ وَيَا زَيْدُ وَالْحَارِثَ وَالْحَارِثُ فِي الْمَعْطُوْفِ
دا اكثر او ډير مشهور وي وياغلام بشرو بشرا په عطف بيان كې ويازيد والحارث والحارث په معطوف كې په هغه
بِحَرْفِ الْمُمْتَنِعِ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ.
هغه حرف سره چې ممتنع وي دخول ديا په دې باندې.

خلاصه دمتن: دصاحب دكافيې دعبارت حاصل دادې چې دمنادى مبني هغه توابع كوم چې مفرد وي برابره خبره ده چې تابع دصفت وي ياتاكيد وي ياعطف بيان وي او يا داسې معطوف بالحرف وي چې په هغې باندې دخول ديا ء ممتنع وي دداسې توابعو حكم دادې چې دابه په لفظ باندې محمول كولو سره سره مرفوع ويل هم جائز دي او په لفظ باندې محمول كولو سره سره منصوب ويل هم جائز دي .

اغراض دجامي : على مايرفع: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : داقاعده منقوضه اوماته ده په يازيداه والحارث مثال سره ځكه چې په دې كې الحارث دمنادى جوړيدو تابع دي او دا تابع معطوف په حرف دي چې په دې باندې دخول ديا ء ممتنع دي حالانكه په دې كې دوه وجهې جائز نه دي بلكه نصب متعين دي .

جواب : دمبني نه مراد مطلق مبني نه ده بلكه مراد هغه منادى مفرد معرفه ده كوم چې مبني على علامة الرفع وي او په يازيداه والحارث كې زيد مبني على علامة الرفع نه دي بلكه مبني على الفتح دي لهذا ددې سره نقض نه واردېږي .

حقيقتاً اوحكماً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : داقاعده منقوضه ده دهغه الحسن سره كوم چې په يازيدالحسن الوجه كې واقع دي ځكه چې په دې كې دوه وجهې رفع اونصب جائزدي حالانكه دا دمفرد تابع نه دي بلكه مضاف په اضافت لفظيه سره دي ، اوهمدارنګې داقاعده منقوضه ده هغه الحسن سره كوم چې په يازيد الحسن وجهه كې واقع دي ځكه چې په دې كې هم دوه وجهې جائزدي حالانكه دا دمفرد تابع نه دي بلكه داشبه مضاف دي .

جواب : په مفرد کې تعميم دي برابره خبره ده چې داحقيقي وي ياحکمي وي ، مفرد حقيقي هغه دي چې مضاف په اضافت معنويه اومضاف په اضافت لفظيه اوشبه مضاف نه وي ، او مفرد حکمي هغه دي چې هغه فقط مضاف په اضافت معنويه سره نه وي ، اومضاف په اضافت لفظي سره وي اوشبه مضاف وي نومضاف په اضافت لفظيه سره اوشبه مضاف په مفرد حکمي کې داخل دي او په اول مثال کې الحسن اګرچې مفرد حقيقي نه دي ليکن مفرد حکمي دي ځکه چې دامضاف په اضافت معنويه سره نه دي بلکه مضاف په اضافت لفظي سره دي همدارنګې په دويم مثال کې اګرچې الحسن مفرد حقيقي نه دي ليکن مفرد حکمي دي ځکه چې داشبه مضاف دي .

وانما قيد : په دې عبارت سره شارح منادى دمبني دقيد سره دمقيد کولو وجه بيانوي چې منادى يې دمبني قيد سره ددې وجې نه مقيد کړه چې دمنادى معرب تابع فقط دلفظ تابع وي د لفظ اودمحل د تابع کيدو په صورت کې دوه اعرابه جائز نه وي.

وقيدنا: په دې عبارت کې منادى مبني على مايرفع به دقيد سره دمقيد کولو وجه بيانوي چې ددې تفصيل مخکې تير شوي دي ، چې منادى مبني على مايرفع دقيد سره يې ددې وجې نه مقيد کړو چې ددې نه منادى مبني مستغاث بالالف دتوابعو خارجول مقصود دي ځکه چې په دې دوه اعرابه جائز نه دي بلکه نصب متعين دي لکه يازيداه عمروا په دې کې عمرو مرفوع نه شي ويلې بلکه نصب متعين دي ځکه چې متبوع مبني على الفتح دي .

وقيد التوابع : په دې عبارت سره توابع دمفرد دقيد سره دمقيد کولو وجه بيانوي چې توابع يې دمفرد قيد سره ددې وجې نه مقيد کړو چې که چيرته توابع مفرد نه وي نه مفرد حقيقي اونه مفرد حکمي نودا به مضاف وي په اضافت معنويه سره اوپه دې صورت کې په دې کې نصب متعين دي رفع جائز نه ده

وانما جعلنا: په دې عبارت کې دمفرد حقيقي اودحکمي دتعميم فائده بيانوي چې داتعميم يې ددې وجې نه کړي دي چې مضاف بالاضافة اللفظيه اوشبه مضاف په دې حکم کې داخل شي ځکه چې هغه هم درفع اودنصب په جواز کې دتوابع مفرد په شان دي

ولما لم يجر الحکم : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : توابع پنځه دي مصنف بعضې ذکر کړي مثلاً بدل يې پريخودي حالانکه د ټولو حکم

بيانول په کړوو ، اوهمدارنګې په عبارت کې اصل ايجاز اواختصار وي نومصنف ته په کار وو چې داسې يې ويلي وي چې توابع المنادى المبني المفردة ترفع على لفظه وتنصب على محله ددې نه پس من الصفة والتاکيد وغيره به يې نه ذکرکولې ځکه چې توابع معلوم اومشهور دي په مينځ د خلکو ددې دذکر کولو ضرورت نه وو ، همدارنګې ددې خبرې څه وجه ده چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ بعضې توابع مطلق ذکر کړي اوبعضې يې مقيد ذکر کړي

جواب : راتلونکي حکم ترفع على لفظه وتنصب على محله په ټولو توابعو کې نه جاري کيږي په بعضو کې جاري کيږي اوپه بعضو کې نه جاري کيږي ځکه چې په کومو توابعو کې حکم جاري کيږي صرف هغه يې ذکر کړل اوباقي يې ذکر نه کړل اوبياچې په کومو توابعو کې په بعضو کې حکم جاري کيږي د هغې نه په بعضو کې مطلق جاري کيږي اوپه بعضو کې دقيد ضرورت وي ځکه يې چې چيرته دقيد حاجت اوضرورت وو هلته يې قيد ذکر کړو اوچې کوم ځاې کې دقيد دذکرکولو ضرورت نه وو نو هلته يې قيد ذکر نه کړو .

اى المعنوي : په دې عبارت سره توضيح دمتن ده شارح دابيان کړه چې دلته دتاکيد نه تاکيد معنوي مراد دي نه مطلق تاکيد .

لان التاکيد : په دې عبارت سره دتاکيد په معنوي قيد سره دمقيد کولو وجه بيانوي ، په اغلب او اکثرو مذاهبو د نحويانو کې داعراب اودبناء په اعتبار سره دتاکيدلفظي حکم بعينه دمؤکد وي لکه يازيد زيد په دې کې اول زيد موکد مبني برضمه دي نو دويم زيد کوم چې تاکيد دي دابه هم مبني برضمه وي په دې کې دوه وجهې جائز نه دي .

وقد يجوز : په دې عبارت کې داغلب دقيد فائده بيانوي چې داغلب نه مراد اغلب المذاهب دي نه اغلب الاستعمال اوداغلب قيد يې ددې وجې نه ولږول چې بعضې نحويانو په تاکيدلفظي کې هم رفع اونصب دواړه جائز کړي رفع په لفظ باندې محمول کوي اونصب په محل باندې محمول کوي لکه يازيد زيد وزيداً

وکان المختار : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : چې کله دتاکيد نه تاکيد معنوي مراد دي نومصنف رَحِمَهُ اللهُ تاکيد دمعنوي قيد سره ولې مقيد نه کړو چې لکه څنګه المعطوف بحرف يې په الممتنع دخول ياعليه په قيد سره مقيد کړي

جواب : چونکې دمصنف په نزد مختار دبعضې نحويانو مذهب وو چې په تاکيد لفظي کې هم رفع اونصب دواړه جائز دي ددې وجې نه مصنف تاکيد مطلق ذکر کړو دمعنوي قيد سره يې مقيد نه کړو

مطلقا: په دې عبارت کې بيان دعموم دي چې دصفت نه مطلق صفت مراد داعام دي که معرف باللام وي يامعرف باللام نه وي

وعطف البيان كذلك : ددې مطلب دادې چې عطف بيان هم دصفت په شان مطلق دي معرف باللام وي اويا نه وي .

يعني: ددې نه مراد تعيين دي چې معطوف بحرف چې په دې باندې دخول دياء ممتنع وي ددې نه مراد هغه معطوف بحرف دي کوم چې معرف باللام وي .

بخلاف :په دې عبارت سره شارح دجامي تاکيد ،صفت ، عطف البيان اودمعطوف بحرف ددې څلورو په خاص طور باندې دذکرکولو اومعطوف بحرف يې دالممتنع دخول ياعليه دقيد سره دمقيد کولو فائده بيانوي چې مصنف داڅلور په خاص طور باندې ځکه ذکر کړل اومعطوف بحرف يې په الممتنع دخول يا عليه په قيد سره يې ددې وجې نه مقيد کړل چې بدل اومعطوف بحرف په کوم باندې چې دياء دخول ممتنع نه وي ددې دواړو حکم دهغه څلورو دحکم نه لږ مختلف اوبدل دي چې ددې تفصيل به ان شاء الله نژدې راشي .

حملاً: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي چې على لفظه جار مجرور حملاً متعلق شو د ترفع دپاره مفعول له شو .

الظاهر :په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال :داقاعده منقوضه اوماته ده دهغه الحارث سره کوم چې يافتى العاقل کې واقع دي ځکه چې په دې حمل على اللفظ نه کيږي ځکه چې دمتبوع په لفظ باندې ضمه موجود نه ده .

جواب : که دمنادى مبني کيدل عارضي وي نودابه دمعرب مشابه وي لکه څنګه چې دمعرب اعراب ديوعارض دوجې نه کيږي هغه عارض دي دعامل همدارنګې منادى بناء هم د يو عارض دوجې نه وي اوهغه عارض دي ددې کاف اسمي په ځاې واقع کيدل دي لهذا دامنادى مشابه شوه دمعرب سره نولکه څنګه چې دمعرب تابع ددې لفظ تابع وي همدارنګې منادى مبني تابع به هم ددې لفظ تابع وي.

حملاً: په دې عبارت کښې شارح بیان دترکیب کوي چې **علی محله** په اعتبار دمتعلق سره مفعول له دی د تنصب دپاره

لان حق: په دې عبارت سره دحمل علی محله علت بیانوي چې په محل باندې ددې وجې نه محمول کړو چې منادی مبني دتابع حق دادې چې هغه ددې دمحل تابع وي اودلته منادی متبوع دمفعول کیدو دوجې نه محل په نصب کښې دی لهذا تابع باندې به هم نصب وي.

مثل یاتیم اجمعون: په دې عبارت سره دتوابعو مثالونه بیانوي چې دتاکید مثال **یاتیم اجمعون اجمعین** ، **اجمعون** کښې په حالت درفع باندې وي نوپه لفظ باندې به محمول وي او **اجمعین** په حالت دنصب کښې به وي نو په محل باندې محمول وي دصفت مثال یې بیان کړو **یازید العاقلُ والعاقلَ** که په العاقل باندې رفع وي نوحمل علی لفظه به وي اوکه نصب وي نوحمل به علی محله وي ، **یاغلام بشر بشراً** دعطف بیان مثال دی رفع **حمل علی لفظه** اونصب **حمل علی محله** بناء باندې او **یازید والحارث والحارث** معطوف بالحرف چې په دې باندې دخول دیاء ممتنع وي ددې مثال دی په الحارث باندې رفع اونصب دواړه جائزدي **حملاً علی لفظه ومحله**.

واقتصر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف صرف دصفت مثال باندې اکتفاء ولې وکړه دنورو دري توابعو مثالونه یې ولې ذکر نه کړل ؟.

جواب: مصنف صرف دصفت په مثال باندې اکتفاء وکړه ددې دکثرت استعمال اودخلکو په مینځ کښې دشهرت دوجې نه ، دشهرت دوجې نه دصفت مثال **اوقع في ذهن المبتدي** وي ، اودنورو دري قسمونو مثالونه یې دایجازاوداختصاردوجې نه پریخوده . بعضې شارحینو داویلي دي چې مصنف خصوصاً دصفت مثال ذکرکړي په علامه اصمعي باندې یې رد کړي دي ، علامه اصمعي وایي چې منادی مبني صفت تابع په طورباندې نه واقع کیږي ځکه دمنادی مفرد معرفه کاف ضمیراسمي په ځاې اوددې قائمقام واقع کیږي نوددې حکم به دضمیروالاوي او د ضمیرمتعلق قاعده ده چې **المضمر لایوصف ولایوصف به** چې نه موصوف کیدي شي اونه صفت چې کله ضمیر صفت نه شي راوړلي نودمنادی مفرد معرفه صفت هم نه شي راوړي نومصنف د صفت تابع خاص مثال ذکر کړو په اصمعي باندې یې ردوکړو وجه درد داده چې داصمعي دلیل

ضعيف دي ځکه چې يوځيز دبل ځيز سره مشابهت تشبيه په ټولو امورو کې تقاضا نه کوي

په معطوف کې دنحويانو اختلاف:

وَ الْخَلِيْلُ بْنُ اَحْمَدَ وَ هُوَ أُسْتَاذُ سِيْبَوَيْهِ فِيْ الْمَعْطُوْفِ بِحَرْفِ الْمُمْتَنِعِ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ
اوخليل بن احمد اودااستاذدي دسيبويه په داسې معطوف کې چې په هغې باندې ممتنع وي دخول ديا په دې
يَخْتَارُ الرَّفْعَ مَعَ تَجْوِيْزِهِ النَّصْبَ لِاَنَّ الْمَعْطُوْفَ بِحَرْفٍ فِيْ الْحَقِيْقَةِ مُنَادًى مُسْتَقِلٌّ
باندې غوره کوي رفع سره دجائزکيدودنصب نه ځکه چې معطوف بحرف په حقيقت کې مستقل منادی دي نو
فَيَنْبَغِيْ اَنْ يَّكُوْنَ عَلٰى حَالَةٍ جَارِيَةٍ عَلَيْهِ عَلٰى تَقْدِيْرِ مُبَاشَرَةِ حَرْفِ النِّدَاءِ لَهُ وَ هِيَ الضَّمَّةُ
مناسب ده چې وي په داسې حالت باندې چې جاري وي په دې باندې تقديردمباشرت دحرف نداءاوهغه ضمه ده
اَوْ مَا يَقُوْمُ مَقَامَهَا وَ لٰكِنْ لَمَّا لَمْ يُبَاشِرْهُ حَرْفُ النِّدَاءِ جُعِلَتْ تِلْكَ الْحَالَةُ
اوياهغه چې قائم وي په ځاې ددې خوليکن چې کله په دې باندې نه داخليږي حرف نداء نوو ګرځولې شودغه حالت
اِعْرَاباً فَصَارَتْ رَفْعاً وَاَبُوْعَمْرِو بْنُ الْعَلَاءِ النَّحْوِيُّ الْقَارِيُّ الْمُقَدَّمُ عَلَى الْخَلِيْلِ يَخْتَارُ فِيْهِ النَّصْبَ
اعرابي نوو ګرځيد دارفع اوابوعمروبن العلاء النحوي قاري چې مقدم دي په خليل باندې غوره کوي په دې کې نصب
مَعَ تَجْوِيْزِهِ الرَّفْعَ فَاِنَّهُ لَمَّا اِمْتَنَعَ فِيْهِ تَقْدِيْرُ حَرْفِ النِّدَاءِ بِوَاسِطَةِ اللَّامِ لَا يَكُوْنُ مُنَادًى
سره دجائزکيدودرفع ځکه چې کله ممتنع وي په دې کې تقديردحرف نداء په واسطې د لام سره نودانه ده منادی
مُسْتَقِلاً فَلَهُ حُكْمُ التَّبْعِيَّةِ وَ تَابِعُ الْمَبْنِيِّ تَابِعٌ لِمَحَلِّهِ وَ مَحَلُّهُ النَّصْبُ وَ اَبُو الْعَبَّاسِ
مستقله نوددې دپاره دې حکم دتابعيت اوتابع دمبني داتابع دي دمحل اومحل ددې نصب دي اوابوالعباس
الْمُبَرِّدُ اِنْ كَانَ الْمَعْطُوْفُ الْمَذْكُوْرُ كَالْحَسَنِ اَيْ كَاِسْمِ الْحَسَنِ فِيْ جَوَازِ نَزْعِ اللَّامِ عَنْهُ
المبردکه چيرته معطوف مذکوروي په شان دالحسن يعني په شان داسم دحسن په جوازدجداکولودلام کې ددې نه
فَكَالْخَلِيْلِ اَيْ فَاَبُوا الْعَبَّاسِ مِثْلُ الْخَلِيْلِ فِيْ اِخْتِيَارِ رَفْعِهِ لِاِمْكَانِ جَعْلِهِ مُنَادًى
نوبيا په شان دخليل دي يعني ابوالعباس په شان دخليل دي په غوره کولودرفع دوجې دامکان دګرځولودې منادی
مُسْتَقِلاً بِنَزْعِ اللَّامِ عَنْهُ وَ اِلاَّ اَيْ وَ اِنْ لَمْ يَكُنِ الْمَعْطُوْفُ الْمَذْكُوْرُ كَاِسْمِ الْحَسَنِ
مستقله په جداکولودلام سره ددې نه اوکه چيرته نه وي يعني که چيرته نه وي معطوف مذکورپه شان داسم دحسن
فِيْ جَوَازِ نَزْعِ اللَّامِ عَنْهُ مِثْلُ النَّجْمِ وَ الصَّعِقِ فَكَاَبِيْ عَمْرٍو اَيْ فَاَبُوا الْعَبَّاسِ مِثْلُ
په جائزکيدودجداکولودلام سره ددې نه لکه النجم والصعق نوبيا په شان دابي عمرو دي يعني ابوالعباس په شان
اَبِيْ عَمْرٍو فِيْ اِخْتِيَارِ النَّصْبِ لِاِمْتِنَاعِ جَعْلِهِ مُنَادًى مُسْتَقِلاً.
دابي عمرو دي په غوره کولو دنصب کې دوجې دممتنع ګرځولوددې نه منادی مستقل.

خلاصه دمتن: هغه معطوف بالحرف چې په هغې باندې دخول دياء ممتنع وي چې کله هغه

منادی مبني علی علامة الرفع تابع وي نوپه دې کې دجمهورو په نزد رفع اونصب دواړه جائزدي البته په اولویت کې دنحویانو اختلاف دي دامام خلیل په نزد داسې معطوف بحرف کې رفع غوره ده اوداابوعمرو په نزدباندې نصب غوره دي ، ابوالعباس مبرد نحوي وايي چې کله معطوف بالحرف دالحسن په شان وي یعنې ددې نه لام حذف کول جائزوي نوداامام خلیل مذهب غوره دي اوکه چیرته معطوف مذکور د الحسن په شان نه وي یعنې ددې نه لام حذف کول جائز نه وي نود ابوعمرو مذهب غوره دي ، ددې وجه په شرحه کې راځي

اغراض دجامي : په دې عبارت سره صاحب دکافیې وايي چې **منادی مبني علی علامة الرفع** هغه توابع کوم چې مضاف وي دامنصوب وي لکه **یارجل اباعبدالله** .

وابن احمد : په دې عبارت سره دامام خلیل تعارف مقصود دي چې ددې نه مراد خلیل بن احمد فراهیدي دي کوم چې دامام سیبویه استاذ دي په اصل کې دخلیل نوم ددري نحویانو تیر شوي دي : (۱) دسیبویه استاذ .(۲) دسیبویه همعصر اوهم زمان . (۳) دسیبویه شاګرد ، نو استاذ دسیبویه وویل نو داباقي دوه نور یې ترې خارج کړل .

بحرف الممتنع : په دې عبارت سره دابیانوي چې په المعطوف باندې لام دعهد دي ددې نه مراد **المعطوف بحرف الممتنع دخول یاءعلیه** دي چې ددې مخکې تفصیل ذکر شوي دي .

مع تجویز : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : اختیار په دوه معنو باندې استعمالیږي : (۱) په معنی دترجیح اوداولویت . (۲) په معنی دقطع اودجزم اودوجوب سره ،نو دلته کومه معنی مراد ده ؟.

جواب : نوشارح **مع تجویزه** سره جواب ورکړو چې دلته اختیار په معنی دقطع ووجوب نه دي بلکه اختیار په معنی دترجیح دي یعنې خلیل رفع ته ترجیح ورکوي اونصب هم جائز ګنړي .

لان المعطوف : په دې عبارت سره دخلیل ددلیل بیان کوي چې معطوف په حقیقت کې مستقل منادی وي ځکه چې حرف عاطف یاء حرف نداء قائمقام وي لهذا مناسب داده چې داپه همدې حالت باندې پریخودل شي کوم چې دحرف نداء دداخلیدو نه پس مستقل منادی وي اومنادی مستقل باندې ضمه یا الف یا واو وي نو په دې باندې به هم ضمه الف او واو کیدل په کاردي لیکن معرف باللام کیدو دوجې نه په دې باندې حرف نداء دخول ممتنع دي ځکه یې دې ته د

منادی مستقل والاحیثیت ورکړو مبنی علی علامة الرفع خو نه شي کولې البته حتی الامکان ددې لحاظ کولو سره مبني علی علامة الرفع په ځاې معرب مرفوع کړو نو ددې وجې نه یې رفع غوره کړه .

العلاء النحوي: په دې عبارت کې بیان دتعارف دې ، ابوعمرو نحوي قاري دادخلیل نه مقدم دې اودا ټول صفات صفات مادحه دي دابوعمرو مدح دتوصیف دپاره دي داصفات موضحه نه دي ځکه چې ابوعمرو مشهور اومعروف دې په مینځ د نحویانو کې دهیڅ وضاحت محتاج نه دي اود المقدم علی الخلیل نه مراد تقدم باعتبار الزمان مراد دي نه په اعتبار درتبې سره ځکه چې لم یسبق علی الخلیل احد في علم النحو .

مع تجویزه: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: اختیار په دوه معنو باندې استعمالیږي : (۱) په معنی دترجیح اوداولویت . (۲) په معنی دقطع اودجزم اودوجوب سره ،نو دلته کومه معنی مراد ده ؟.

جواب : نوشارح مع تجویزه سره جواب ورکړو چې دلته اختیار په معنی دقطع ووجوب نه دي بلکه اختیار په معنی دترجیح دي یعني خلیل رفع ته ترجیح ورکوي اونصب هم جائز ګڼړي .

فانه لما: په دې عبارت کې دابوعمرو ددلیل بیان دي چې کله معطوف بالحرف دمعرف باللام کیدو دوجې نه دحرف نداء دخول په دې باندې ممتنع دي نودامستقل منادی نه جوړیږي لهذا ددې حکم دخالص تابع حکم به وي اودمنادی مبني تابع ددې دمحل تابع وي اومتبوع چونکه محلاً منصوب دي لهذا په تابع باندې به هم نصب غوره وي .

وابوالعباس: په دې عبارت سره ددریم مذهب بیان کوي ابوالعباس مبرد دخلیل اودابوعمرو په مینځ کې محاکمه کوي چې کله معطوف معرف باللام الف دالحسن په شان وي یعني ددې نه لام حذف کول جائز وي نودخلیل مذهب به غوره وي ، ځکه چې کله ددې نه لام حذف کول جائز دي نودلام حذف کول اودامستقل منادی جوړول ممکن دي لهذا په دې باندې به رفع غوره وي اوکه چیرته معرف باللام د الحسن په شان نه وي یعني ددې نه لام حذف کول جائز نه وي نودابوعمرو مذهب غوره دي ځکه چې کله ددې نه لام حذف کول جائز نه وي نوددې مستقل منادی جوړول ممتنع دي چې کله ددې مستقل منادی جوړول ممتنع دي نوددې حکم به دتابع والاوي اودمنادی مبني تابع ددې دمحل تابع وي او متبوع محلاً منصوب دي لهذا نصب به

غوره وي

اي فابو العباس: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ان كان كالحسن شرط او كالخليل جزا ده حالانکه ددې جزا جوړول صحيح نه دي ځکه جزا جمله وي او دا جمله نه ده

جواب: فكالخليل دا خبر دي دپاره دمبتدا محذوف کوم چې ابو العباس دي مبتدا او خبر يوځاې کړو جمله شوه لهذا ددې جزا جوړول صحيح دي.

مثل الخليل: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: كالخليل دابو العباس خبر دي حالانکه کاف حرف دي دحرف خبر جوړول صحيح نه دي.

جواب: په مثل سره يې جواب ورکړو چې کاف په معنى دمثل سره اسم دي لهذا ددې خبر جوړول صحيح دي.

د توابعو د مضاف بيان:

وَ الْمُضَافَةُ عَطْفٌ عَلَى الْمُفْرَدَةِ أَيْ وَ تَوَابِعُ الْمُنَادَى الْمَبْنِيِّ عَلَى مَا يُرْفَعُ بِهِ
او مضاف دا عطف دي په مفردة باندې يعنې توابع د منادى مبني بناء په هغه څه چې رفع ورکوي په دې سره
الْمُضَافَةُ بِالْإِضَافَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ تُنْصَبُ لِأَنَّهَا إِذَا وَقَعَتْ مُنَادًى تُنْصَبُ
مضاف ته په اضافت حقيقي سره نصب به ورکوي ځکه چې کله داعلت واقع شي منادى نونصب به ورکوي نو
فَنَصْبُهَا إِذَا وَقَعَتْ تَوَابِعَ أَوْلَى لِأَنَّ حَرْفَ النِّدَاءِ لَا يُبَاشِرُهَا
نصب ددې چې کله واقع شي توابع نو په طريق اولى به منصوب وي ځکه چې حرف ندا نه داخليږي په دې باندې
مِثْلُ يَاتَمِيْمُ كُلَّهُمْ فِي التَّاكِيْدِ وَيَازَيْدُ ذَا الْمَالِ فِي الصِّفَةِ وَيَارَجُلُ اَبَاعَبْدِاللهِ فِي عَطْفِ الْبَيَانِ وَلَايَجِيءُ الْمَعْطُوْفُ
لکه ياتيم کلهم په تاکيد کې ويازيدذاالمال په صفت کې ويارجل اباعبدالله په عطف بيان کې او نه راځي معطوف
بِحَرْفٍ الْمُمْتَنِعِ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ مُضَافًا لِأَنَّ اللَّامَ يَمْتَنِعُ دُخُوْلُهَا عَلَى
په داسې حرف سره چې ممتنع وي دخول د ياء په دې باندې مضاف ځکه چې لام ممتنع دي دخول ددې په
الْمُضَافِ بِالْإِضَافَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ.
مضاف باندې په اضافت حقيقي سره.

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې وايي چې منادى مبني على علامة الرفع هغه توابع چې مضاف وي هغه منصوب وي لکه يارجل اباعبدالله.

اغراض دجامي : عطف على المفردة : په دې عبارت کې بیان دترکیب دي چې المضافة عطف دي په المفردة باندې .

اى وتوابع المنادى : په دې عبارت کې حاصل دعطف بیان دي مقصد دادې چې **منادى مبني على علامة الرفع** هغه توابع کوم چې مضاف وي دامنصوب وي .

بالاضافة الحقيقية : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داقاعده منقوضه اوماته ده په هغه **الحسن** سره کوم چې په **یازید الحسن الوجه** کې واقع دي ځکه چې دامنادى **مبني على علامة الرفع** تابع مضاف دي حالانکه په دې باندې نصب متعین نه دي بلکه رفع اونصب دواړه جائز دي .

جواب : دلته دمضاف نه مراد مضاف بالاضافة الحقيقية دي اوپه ذکرشوي مثال کې **الحسن مضاف بالاضافة الحقيقية** یعني مضاف **بالاضافة المعنویه** نه دي بلکه مضاف **بالاضافة اللفظية** دی اوپه مفرد حکمي کې داخل دي نه په **المضافة** کې لهذا نقض به وارد نه وي .

لانها: په دې عبارت سره شارح هغه منادى چې مبني وي په علامت درفع اوهغه توابع چې مضاف وي ددې دمنصوب کیدووجه بیانوي چې کله مضاف په خپله منادى واقع وي نودابه منصوب وي نوچې کله دامنادى دمبني تابع وي نوپه طریق اولى ددې منصوب کول په کاردي ځکه چې په دې صورت کې حرف نداءچې کوم موجب دبناءدي ددې نه لرې دي په ذهن کې دې وي چې دلته د اولویت دنصب نه مراد اولویت په طریقې دوجوب دي یعني په توابعو دمضاف باندې نصب واجب دي .

یاتیم کلهم : په دې عبارت سره شارح دتاکید مثال بیانوي .

یازید ذا المال : په دې عبارت سره غرض دشارح دصفت مثال بیانول دي .

ولا یجيء : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دتوابع مضاف تاکید صفت وغیره مثالونه یې بیان کړل لیکن دمعطوف بالحرف الممتنع دخول یاء مثال یې بیان نه کړو ددې مثال بیان هم کول په کار وو .

جواب : هغه معطوف بحرف چې په هغې باندې دخول دیاء ممتنع وي هغه نه شي مضاف کیدې ځکه چې دامعرف باللام وي اومضاف بالاضافة الحقيقية باندې دلام دخول ممتنع دي ددې وجې نه یې ددې مثال ذکر نه کړو.

...

توابع د بدل او د غير معطوف :

وَ الْبَدَلُ وَ الْمَعْطُوْفُ غَيْرُ مَا ذُكِرَ اَىْ غَيْرُ الْمَعْطُوْفِ الَّذِيْ ذُكِرَ مِنْ قَبْلُ وَ هُوَ
اوبدل اوهغه معطوف چې د هغې ذکرشوي يعني غير د هغه معطوف نه چې مخکې يې ذکرشوي او دا هغه معطوف
الْمُمْتَنِعُ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ فَغَيْرُهُ الْمَعْطُوْفِ الَّذِيْ لاَ يَمْتَنِعُ دُخُوْلُ يَا عَلَيْهِ
دي چې ممتنع وي دخول د ياء په دې باندې نوغير دذې نه هغه معطوف دي چې نه وي ممنمع دخول د ياء په دې
حُكْمُهُ اَىْ حُكْمُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حُكْمُ الْمُنَادَى الْمُسْتَقِلِّ الَّذِيْ بَاشَرَهُ حَرْفُ
باندې نوحکم د دې يعني د حکم د هريو د دې دواړو نه په شان د حکم د منادی مستقل دي هغه چې داخل وي حرف
النِّدَاءِ وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ الْبَدَلَ هُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالذِّكْرِ وَ الْاَوَّلُ كَالتَّوْطِيَةِ لِذِكْرِهٖ وَ
نداء او دا د دې وجې نه څکه چې بدل هغه مقصد د دې بالذکر او اول په شان د تمهيد دي د دې د ذکر کولو او
الْمَعْطُوْفُ الْمَخْصُوْصُ مُنَادًى مُسْتَقِلٌّ فِي الْحَقِيْقَةِ وَلاَ مَانِعَ مِنْ دُخُوْلِ حَرْفِ النِّدَاءِ عَلَيْهِ فَيَكُوْنُ
معطوف مخصوص چې منادی مستقل ده په حقيقت کې او نشته څه مانع د دخول د حرف نداء نه په دې کې نو وي
حَرْفُ النِّدَاءِ مُقَدَّراً فِيْهِ مُطْلَقاً اَىْ حَالَ كَوْنِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُطْلَقاً فِيْ هٰذَا الْحُكْمِ غَيْرَ مُقَيَّدٍ
به حرف نداء په دې کې مقدره مطلقا يعني په حال کون د هريو د دې نه مطلقا دي په دې حکم کې او مقيد نه دي
بِحَالٍ مِنَ الْاَحْوَالِ اَىْ سَوَاءٌ كَانَا مُفْرَدَيْنِ اَوْ مُضَافَيْنِ اَوْ مُضَارِعَيْنِ لِلْمُضَافِ اَوْ
په يو حال سره د احوالو نه يعني برابره خبره ده چې دا دواړه مقدر وي او يا مضاف وي او يا شبه مضاف وي او يا
نَكِرَتَيْنِ فَالْبَدَلُ مِثْلُ يَا زَيْدُ عَمْرُو وَيَا زَيْدُ اَخَا عَمْرٍو وَيَا زَيْدُ طَالِعاً جَبَلاً وَيَا زَيْدُ رَجُلاً صَالِحاً وَالْمَعْطُوْفُ مِثْلُ يَا
نکره وي نو بدل لکه يا زيد وعمرو و يا زيد اخاعمرو و يا زيد طالعا جبلا و يا زيد رجلاً صالحا او معطوف لکه يا
زَيْدُ وَعَمْرُو وَيَا زَيْدُ وَاَخَا عَمْرٍو وَيَا زَيْدُ وَطَالِعاً جَبَلاً وَيَا زَيْدُ وَرَجُلاً صَالِحاً.
زيد و عمرو و يا زيد و اخا عمرو و يا زيد و طالعا جبلا و يا زيد و رجلاً صالحا.

خلاصه د متن: بدل او هغه معطوف چې په هغې باندې دخول د ياء ممتنع نه وي د دې دواړو حکم د مستقل منادی والا دي.

اغراض د جامي : اى غير المعطوف: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : المعطوف غير ماذکر کې المعطوف موصوف او غير ماذکر صفت دي او د موصوف او صفت په مينځ کې په تعريف او تنکير کې مطابقت ضروري دي دلته مطابقت نشته څکه چې المعطوف معرفه ده او غير ماذکر نکره ده څکه چې غير د معرفې طرف ته د مضاف کيدو باوجود معرفه نه

شي جوړيدي

جواب : لفظ غير اګرچې معرفې طرف ته د مضاف کيدو باوجود معرفه نه جوړيږي ليکن که چيرته د غير د مضاف اليه صرف يو ضد وي نو دا معرفه جوړيږي دلته مضاف اليه معطوف بالحرف الممتنع دخول يا عليه دي او د دې ضد صرف يو دي او هغه دي معطوف بالحرف چې په هغې باندې دخول د يا ممتنع نه وي لهذا دلته غير معرفه دي او د موصوف او صفت په مينځ کې مطابقت موجود دي .

اى حكم كل واحد : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د حکمه ضمير بدل او معطوف بالحرف طرف ته راجع دي نو د راجع او د مرجع په مينځ کې مطابقت نه دي حکما ويل په کاروو .

جواب : مرجع بدل او معطوف بحرف دواړه دي ليکن د کل واحد تاويل سره لهذا د راجع او د مرجع په مينځ کې مطابقت موجود دي .

المنادى : په دې عبارت کې بيان د ترکيب دي ، المستقل د اصفت دي د موصوف محذوف کوم چې المنادى دي .

الذي باشره : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : بدل او معطوف بحرف هم مستقل منادى دي لهذا د امستقل منادى سره تشبيه ورکول تشبيه الشيء مع نفسه دي کوم چې جائز نه دي .

جواب : دلته منادى مستقل نه مراد هغه منادى ده چې په هغې باندې حرف نداء براه راست او بې واسطه داخل وي او بدل او معطوف بحرف باندې حرف نداء بې واسطې نه داخليږي لهذا دا تشبيه الشيء مع نفسه نه دي بلکه تشبيه احد القسمين مع آخر دي .

وذلک لان البدل : په دې عبارت سره د حکم مذکور وجه بيانوي چې بدل مقصود بالذات وي او مبدل منه په طور د تمهيد او توطيه وي چې کله مقصود بدل دي نو په حقيقت کې منادى هم بدل وي نه مبدل منه لهذا د بدل مستقل منادى والاحکم به وي ، او د معطوف بحرف حکم د منادى مستقل والا څکه دي چې حرف عطف د حرف نداء قائمقام دي او په دې باندې د حرف نداء د دخول نه کوم مانع هم نشته لهذا په دې کې حرف نداء مقدر وي څکه چې د دې حکم به د

منادى مستقل والا وي

اى حال: په دې عبارت کې بيان دترکيب دي مطلقاً حال واقع دي په حکمه کې د ۃ ضمير نه

سوال : قاعده داده چې حال دفاعل نه جوړيږي يادمفعول نه دمضاف اليه نه حال جوړول صحيح نه دي.

جواب : دمضاف اليه نه حال جوړول په هغه وخت کې صحيح وي چې کله مضاف حذف کړي اومضاف اليه ددې قائمقام جوړکړي دلته داسې کيږي چې حکم حذف کړي او ۃ ضمير ددې قائمقام کړي عبارت به داسې وي چې **وهو مطلقاً کالمنادى المستقل الخ**.

غير مقيد: په دې عبارت سره شارح دمطلقا معنى بيان کړي ده چې مطلقا په معنى دکامل سره نه دي بلکه دمطلق مقيد په مقابله کې دي مطلب دادې چې بدل اومعطوف ددې دواړو حکم دمستقل منادى دحکم په شان کيدل دي اوديوحال سره مقيد نه وي بلکه مطلق وي برابره خبره چې دامضاف وي يا مفرد وي ياشبه مضاف وي يانکره وي.

فالبدل مثل: په دې عبارت سره شارح دبدل اودمعطوف مثالونه بيانوي

دبدل مثال : لکه **يازيدعمرو** دادبدل مفرد غير مضاف مثال دي ،او**يازيداخاعمرو** دادبدل مضاف مثال دي ، او**يازيدطالعاً جبلا** دادبدل دشبه مضاف مثال دي ،او**يازيد رجلا صالحا** دادبدل نکره غيرمعينه مثال دي.

دمعطوف مثالونه : (۱) **يازيدوعمرو** دادمعطوف غيرمضاف مثال دي .(۲) **يازيدواخاعمرو** داد معطوف مضاف مثال دي . (۳) **يازيد وطالعاً جبلا** دادمعطوف شبه مضاف مثال دي .(۴) **يازيد ورجلاً صالحا** دمعطوف نکرې مثال دي .

منادى مفرد معرفه او هغه علم چې موصوف وي په ابن سره:

وَالْعَلَمُ أَيِ الْعَلَمُ الْمُنَادَى الْمَبْنِيُّ عَلَى الضَّمِّ أَمَّا كَوْنُهُ مُنَادًى فَلِأَنَّ الْكَلَامَ فِيْهِ وَ أَمَّا كَوْنُهُ مَبْنِيًّا عَلَى الضَّمِّ
اوعلم يعني منادى مبني برضمه ياکيدوددې نه منادى خکه چې کلام په دې کې دي اوياد کيدوددې مبني برضمه
فَلِمَا يُفْهَمُ مِنْ إِخْتِيَارِ فَتْحِهِ الْمُنْبِئُ عَنْ جَوَازِ ضَمِّهِ فَإِنَّ جَوَازَ الضَّمَّةِ لَا يَكُوْنُ إِلَّا فِي
نوهغه چې فهميږي دغوره کولودفتحې نه چې خبرورکوي دجوازدضمې نه خکه چې جوازدضمې نه وي مگر په
الْمَبْنِيِّ عَلَى الضَّمِّ الْمَوْصُوْفُ بِإِبْنٍ مُجَرَّدٍ عَنِ التَّاءِ أَوْ مَلْحُوْقٍ بِهَا أَعْنِي
مبني برضمه کې چې موصوف وي په ابن سره چې خالي وي دتا نه يادهغه موصوف سره چې لاحق وي دتاسره يعني

اِبْنَةٌ بِلا تَخَلُّلِ وَاسِطَةٍ بَيْنَ الاِبْنِ وَ مَوْصُوْفِهِ كَمَا هُوَ الْمُتَبَادِرُ إِلَى الْفَهْمِ فَيَخْرُجُ
ابنه بي د خلل نه چې واقع وي په مينځ دابن کې او د موصوف د دې کې لکه چې دامتبادر الى الفهم دي نو خارجيږي
عَنْهُ مِثْلُ يَازَيْدُنِ الظَّرِيْفُ ابْنَ عَمْرٍو مُضَافاً اَیْ حَالَ کَوْنِ ذٰلِکَ الاِبْنِ مُضَافاً إِلٰی عَلَمٍ آخَرَ فَکُلُّ
د دې نه دا مثال لکه يازيدن الظريف ابن عمرو مضاف په حال کون د دې ابن کې چې مضاف وي بل علم ته نو هر
عَلَمٍ يَکُوْنُ کَذٰلِکَ يَجُوْزُ فِيْهِ الضَّمُّ کَمَا عَرَفْتَ مِنْ قَاعِدَةِ بِنَاءِ الْمُفْرَدِ عَلٰی مَا يُرْفَعُ
هغه علم چې وي دا رنګې نو جائز ده په دې کې ضمه لکه تا چې پيژندلي د قاعدې د بناء نه په هغه څه چې مرفوع
بِهِ لٰكِنْ يُخْتَارُ فَتْحُهُ لِکَثْرَةِ وُقُوْعِ الْمُنَادٰی الْجَامِعِ لِهٰذِهِ الصِّفَاتِ وَ الْكَثْرَةُ مُنَاسِبَةٌ
وي په دې کې لکن غوره فتحه ده دوجې د ډيروقوع د منادى نه چې جامع وي د دې صفاتو د پاره او کثرت مناسب
لِلتَّخْفِيْفِ فَخَفَّفُوْهُ بِالْفَتْحَةِ الَّتِيْ هِيَ حَرَكَتُهُ الْاَصْلِيَّةُ لِکَوْنِهٖ مَفْعُوْلاً بِهٖ.
دي د تخفيف سره نو خفيفه يې کړه په فتحې سره هغه چې حرکت اصلي دي دوجې د کيدو نه مفعول به.

خلاصه دمتن: مخکې قاعده تيره شوه چې منادى مفرد معرفه په علامت د رفع باندې مبني وي نو اوس دا د هغې قاعدې نه استثناء ده چې منادى مفرد معرفه اګرچې مبني على علامة الرفع وي ليکن چې کله منادى مفرد معرفه علم وي او موصوف وي او د دې صفت لفظ د ابن يا دابنة وي نو بيا لفظ د ابن او ابنة بل علم طرف ته مضاف وي نو په دې صورت کې اوله منادى مفرد معرفه (علم موصوف) مبني على علامة الرفع نه وي بلکه په دې باندې رفع مختار ده اګرچې ضمه هم جائز ده .

اغراض دجامي : اى العلم المنادى: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : دلته خو دمنادى او دتوابعو دمنادى بحث روان دي ، نه دعلم موصوف نو په العلم الموصوف سره خروج عن المبحث لازم راځي .

جواب : دعلم نه مراد علم المنادى دي ځکه چې بحث دمنادى کيږي نو د دې وجې نه خروج عن المبحث لازم نه راځي .

مبني على الضم: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ذکر شوي قاعده منقوضه او ماته ده په ياعبدالله بن عمرو باندې په دې کې عبدالله منادى علم موصوف دي دابن سره او ابن مضاف دي دويم علم عمرو طرف ته ليکن په دې کې

فتحه مختار نه ده بلکه نصب واجب دي .

جواب : دعلم منادی نه مطلق منادی مراد نه ده بلکه منادی **مبني على الضم** مراد ده په دې باندې شارح دا قرینه پیش کړي چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ **يختار فتحه** وویل ددې عبارت نه دضمې جواز معلومیږي اودضمې جواز صرف په منادی **مبني على الضم** کې کیږي .

مجرد عن التاء : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دا قاعده منقوضه اوماته ده په **یاهندَ ابنة عمرو** سره ځکه چې په **هند** باندې فتحه مختار او ضمه جائز ده حالانکه دالفظ د ابن سره موصوف نه ده بلکه **ابنة** سره موصوف ده

جواب : په لفظ دابن کې تعمیم دي برابره خبره ده چې دا **مجرد عن التاء** وي یا **ملحوق بالتاء** وي اوپه ذکر شوي مثال کې **ملحوق بالتاء** ده اوپه ابن کې تعمیم دي نو نقض به وارد نه وي .

بلا تخلل: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا قاعده ماته ده په **یازیدن الظریف ابن عمرو** سره ځکه چې زید علم موصوف دي لفظ د ابن سره اودا مضاف دي دویم علم **عمرو** طرف ته نوذکر شوې قاعدې په رڼا کې په **یازید** باندې فتحه په کار وه سره دجواز دضمې حالانکې مختار خو فتحه جائز نه ده بلکې ضمه واجب ده .

جواب : مراد دادې چې په لفظ دابن اوددې دموصوف په مینځ کې کوم فاصل نه وي اوپه ذکر شوي مثال کې د**ظریف** فاصله موجود ده لهذا ددې په ذریعه نقض نه وارد یږي .

ای حال کون : په دې کې بیان دترکیب دي **مضافة** دا حال دي دابن نه .

فکل علم : په دې عبارت سره دذکر شوې قاعدې خلاصه بیانوي چې هرهغه علم چې ددې په شان وي یعني مبني وي او موصوف وي لفظ دابن یادابنة سره اومضاف وي دویم علم طرف ته نوپه دې کې اګر چې ضمه هم جائز ده لیکن فتحه غوره دي ددې وجه داده چې هغه منادی چې په هغې کې دا ټول صفات موندل کیږي نوددې واقع کیدل په کلام دعربو کې ډیر وي او کثرت دخفت تقاضا کوي اوپه حرکاتو کې فتحه **اخف الحرکات** ده ددې وجې نه نحویانو په دې فتحې سره خفیف کړه اودا فتحه هم دمنادی حرکت اصلیه دي ځکه چې دا مفعول به جوړیږي .

فائده : په یاد مو وي چې دمنادی دپاره حرکت اصلیه فتحه کیدل صورتاً دي نه حقیقتاً ځکه چې حقیقتاً حرکت اصلیه دمنادی دپاره نصب دي .

د معرف باللام د ندا طريقه:

وَ إِذَا نُوْدِيَ الْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ اَیْ إِذَا أُرِيْدَ نِدَاؤُهُ قِيْلَ مَثَلاً يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ
او کله چې معرف باللام ته ندا وکړل شي يعنې چې کله ددې د ندا اراده وکړې شي نو ويلې به شي چې يا ايها الرجل
بِتَوَسُّطِ اَيْ مَعَ هَاءِ التَّنْبِيْهِ بَيْنَ حَرْفِ النِّدَاءِ وَالْمُنَادَى الْمُعَرَّفِ بِاللَّامِ تَحَرُّزاً عَنْ اِجْتِمَاعِ آلَتَيِ
په توسط د اي او هاء د تنبيه سره په مينځ د حرف نداء او د منادى معرف باللام کې دخان ساتلو د اجتماع د دوه آلو د
التَّعْرِيْفِ بِلَا فَاصِلَةٍ وَيَا هٰذَا الرَّجُلُ بِتَوَسُّطِ هٰذَا وَيَا اَيُّهٰذَا الرَّجُلُ بِتَوَسُّطِ الْاَمْرَيْنِ مَعاً وَالْتَزَمُوْا
تعريف بې د فاصلې نه او يا هذا الرجل په توسط د هذا سره او يا ايهذا الرجل په توسط د دوه امرينو يو خاې او لازم کړي
يَعْنِي الْعَرَبَ رَفْعَ الرَّجُلِ مَثَلاً وَاِنْ كَانَ صِفَةً وَحَقُّهَا جَوَازُ الْوَجْهَيْنِ الرَّفْعِ وَ النَّصْبِ كَمَا
دي يعنې عربو مثلاً د رجل رفع اګرچې دا صفت وي او ددې حق په دواړو وجهو کې د رفعې او د نصب جواز دي لکه
مَرَّ لِاَنَّهُ اَيِ الرَّجُلُ مَثَلاً هُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالنِّدَاءِ فَالْتُزِمَ رَفْعُهُ لِتَكُوْنَ
چې مخکې تېر شوي دي خکه چې دا يعنې رجل مثلاً هم دا مقصود بالنداء دي نو لازم دي رفع ددې د دې د پاره چې
حَرَكَتُهُ الْاِعْرَابِيَّةُ مُوَافِقَةً لِلْحَرَكَةِ الْبِنَائِيَّةِ الَّتِيْ هِيَ عَلَامَةُ الْمُنَادَى فَتَدُلُّ عَلَى
حرکت اعرابيه د حرکت بنائيه سره موافق شي کوم چې د منادى علامت دي پس دا حرکت اعرابيه په دې خبره دلالت
اَنَّهُ هُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالنِّدَاءِ وَهٰذَا بِمَنْزِلَةِ الْمُسْتَثْنٰى عَنْ قَاعِدَةِ جَوَازِ الْوَجْهَيْنِ فِيْ صِفَةِ الْمُنَادَى
کوي چې دا مقصود بالنداء دي او دا په منزله د مستثنى کې دي د قاعدې د جواز د دوه وجهونه په صفت د منادى کې
وَلِهٰذَا لَمْ يَذْكُرْ هُنَاكَ مَا يُخْرِجُ صِفَةَ الْاِسْمِ الْمُبْهَمِ عَنْ تِلْكَ الْقَاعِدَةِ.
او ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دلته دا قيد يې ذکر نه کړو چې ددې قاعدې نه د اسم مبهم صفت خارج کړي.

د متن خلاصه: چې کله د معرف باللام نه ندا کول مقصود وي نو د حرف نداء او منادى معرف باللام په مينځ کې اي او هاء د تنبيه راوړه نو يا ايها الرجل يې ووايه ددې د پاره چې بې د فاصلې نه د دوو آلو د تعريف اجتماع لازم رانه شي يا د حرف ندا او د معرف باللام په مينځ کې هذا راوړه يا هذا الرجل ووايه يا اي او هذا دواړه راوړه ايهذا الرجل ووايه.

اغراض د جامي: اي اذا اريد: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: اذا نودي المعرف شرط او قيل يا ايهذا الرجل جزاء ده او د جزا په شرط باندې ترتب کيږي او دلته ترتب صحيح نه دي خکه چې يا ايها الرجل کې منادى اي دي نه الرجل خکه چې الرجل داي

صفت دي پس داویل چې کله معرف باللام منادی جوړه کړي شي نو یاایها الرجل ویل به صحیح نه وي ځکه چې الرجل چې کوم معرف باللام دي هغه بالکل دسره منادی ده نه او اي چې کومه منادی ده هغه معرف باللام نه ده .

جواب : دلته شرط نودې په معنی دارادې دندا ده نومطلب به داوي چې کله معرف باللام دنداء اراده وکړي شي نو یاایها الرجل کې اګر چې دلفظ په اعتبار سره الرجل دای منادی صفت دي لیکن په اعتبار د ارادې سره اصل مقصود بالنداء همدا الرجل دي لهذا دجزا ترتب په شرط باندې صحیح دي .

مثلاً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : د مصنف دعبارت نه معلومیږي چې کله هم د معرف باللام ندا کول مقصود وي نو ایها الرجل به ویلي شي حالانکه خبره داسې نه ده ځکه چې یا ایها الکرام وغیره هم ویلي شي ، په بل عبارت سره سوال دادې چې دجزاء ترتب په شرط باندې صحیح نه دي ځکه چې شرط کلي اوعام دي اوجزاء جزئي او خاص دي دخاص ترتب په عام باندې صحیح نه دي نومعنی به داوي چې کله معرف باللام ندا کړي شي اوچې کله معرف باللام هم وي نو یا ایها الرجل هم ویلي شي اودامعنی باطله ده .

جواب : مثلاً سره مصنف جواب ورکړي دي چې حاصل یې دادې چې په جزا کې قیل نه پس دمثلاً لفظ مقدر منلي شي نوجزابه هم کلي جوړه شي اویاایها الرجل ذکر په طور دتمثیل به وي نه په طور د تخصیص لهذا جزاء هم ټولو اسماء مبهمه اومعرفه ته به شامل وي .

والتزموا: په دې عبارت سره علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مخکې تاسوویل چې دمنادی مبني هغه تابع چې مفرد وي برابره خبره ده چې داصفت وي اویا تاکید وي په داسې تابع باندې رفع اونصب دواړه جائز دي نوددې قاعدې مطابق یاایهاالرجل کې الرجل باندې رفع اونصب دواړه جائز کیدل په کاردي ځکه چې الرجل داې صفت مفرد دي اوای منادی مبني دي حالانکه په الرجل باندې رفع متعین ده نصب جائزنه دي .

جواب : یا ایها الرجل کې اګرچې الرجل دمنادی صفت دي اودتابع کیدودجې نه ددې حق دا

وو چې په دې باندې دوه اعرابه رفع اونصب جائز کېدل په کار دي لیکن اهل عربو په دې باندې صرف یو اعراب د رفع لازم کړي دي ددې دپاره چې دامعلومه شي چې اصل منادی الرجل دي او همدا مقصود بالنداء دي اي غیر مقصود دي صرف دفاصلې په غرض یې راوړي نو دایې مرفوع کړي دي ددې دپاره چې ددې حرکت اعرابیه (رفع) ددې دحرکت بنائیه (ضمه) سره موافق شي کوم چې دمنادی علامت دي نو حرکت اعرابیه په دې خبره باندې دلالت کوي چې اصل مقصود بالنداء همدا الرجل دي.

ولهذا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دمصنف په عبارت کې تناقض دي خکه چې د وتوابع المنادی نه معلومېږي چې دمنادی مبني په تابع کې دوه وجهې جائزدي: (۱) رفع (۲) نصب. اود والتزموا نه معلومه شوه چې صرف یوه وجه جائز ده چې هغه رفع ده.

جواب: داعبارت دمخکنې قاعدې نه داستثناء درجه لري ددې وجې نه مصنف هلته دیوداسې قید اضافه نه ده کړي کوم چې داسم مبهم (اسم نکرې) صفت ترې خارج کړي.

توابع دمعرف باللام:

وَ تَوَابِعِهِ بِالْجَرِّ عَطْفٌ عَلَى الرَّجُلِ اَیْ وَ الْتَزَمُوْا رَفْعَ تَوَابِعِ الرَّجُلِ مُضَافَةً اَوْ مُفْرَدَةً
اوتوابع ددې په جرسره داعطف دي په الرجل باندې یعنې دوي لازم کړي رفع دتوابع دالرجل په مضاف یامفرد باندې
نَحْوُ یَااَیُّهَا الرَّجُلُ الظَّرِیْفُ وَیَااَیُّهَا الرَّجُلُ ذُوالْمَالِ لِاَنَّهَا تَوَابِعُ مُنَادیً مُعْرَبٍ وَجَوَازُالْوَجْهَیْنِ اِنَّمَایَکُوْنُ
لکه یاایهاالرجل الظریف اویاایهاالرجل ذوالمال خکه چې دامنادی دمعرب دتوابعو نه ده اوجواز ددوه وجهو داوي
فِیْ تَوَابِعِ الْمُنَادیٰ الْمَبْنِیِّ وَقَالُوْا بِنَاءً عَلٰی قَاعِدَةِ تَجْوِیْزِ اِجْتِمَاعِ حَرْفِ النِّدَاءِ مَعَ اللاَّمِ وَ هِیَ اِجْتِمَاعُ
په توابعو دمنادی مبني کې اودوي وویل بناء په قاعدې دتجویز داجتماع دحرف ندا سره دلام اوهغه اجتماع ددوه
اَمْرَیْنِ اَحَدُهُمَا کَوْنُ اللاَّمِ عِوَضاً عَنْ مَحْذُوْفٍ وَ ثَانِیْهِمَا لُزُوْمُهَا لِلْکَلِمَةِ یَا اَللّٰهُ لِاَنَّ اَصْلَهُ الْاِلٰهُ
امرینو یو ددې نه کېدل دلام عوض دمحذوف نه اودویم لزوم ددې دکلمې سره لکه یاالله خکه چې اصل ددې الاله دي
فَحُذِفَتِ الْهَمْزَةُ وَ عُوِّضَتِ اللاَّمُ عَنْهَا وَلَزِمَتِ الْکَلِمَةُ فَلاَ یُقَالُ فِیْ سَعَةِ الْکَلاَمِ لاَهٌ
پس همزه حذف کړي شوه ددې په عوض لام راوړي شو اوهغه لام کله لازم شوه پس په وسعت دکلام کې لاه نه شي ویلې
وَلَمَّا لَمْ یَجْتَمِعْ هٰذَانِ الْاَمْرَانِ فِیْ مَوْضِعٍ آخَرَ اُخْتُصَّ هٰذَا الْاِسْمُ بِذٰلِکَ الْجَوَازِ وَ لِهٰذَا
اوهر کله چې نه جمع کېږي دادواړه امرونه په بل ځای کې نو خاص یې کړو دااسم په دې جواز پورې اوددې وجې نه

قَالَ خَاصَّةً وَاَمَّا مِثْلُ النَّجْمِ وَالصَّعِقِ وَاِنْ كَانَتْ اللاَّمُ لاَزِمَةً فِيْهِ لٰكِنْ لَيْسَتْ عِوَضاً عَنْ مَحْذُوْفٍ
يې وويل خاصةً او هر چې په النجم او الصعق مثال کې دي اګرچې په دې کې لام لازم وي ليکن نه وي عوض د محذوف نه
وَاَمَّا النَّاسُ وَاِنْ كَانَتِ اللاَّمُ فِيْهِ عِوَضاً عَنِ الْهَمْزَةِ لِاَنَّ اَصْلَهُ الْاُنَاسُ لٰكِنْ لَيْسَتْ لاَزِمَةً لِلْكَلِمَةِ
او هر چې الناس دي اګرچې په دې کې لام عوض وي د همزې نه ځکه چې دا په اصل کې الاناس دي لکن نه دي لازم د کلمې
لِاَنَّهُ يُقَالُ نَاسٌ فِيْ سَعَةِ الْكَلاَمِ فَلاَ يَجُوْزُ اَنْ يُّقَالَ يَاالنَّجْمُ وَيَاالنَّاسُ وَلِعَدَمِ جَرَيَانِ
سره ځکه چې دا ويلې شي ناسٌ په وسعت د کلام کې نو نه دي جائز چې وويل شي یاالنجم او یاالناسُ او د عدم جريان
هٰذِهِ الْقَاعِدَةِ فِي الَّتِيْ فِيْ قَوْلِهِ شِعْر :
د دې قاعدې هغه چې په دې شعر کې ذکر دي

مِنْ اَجْلِكِ يَا الَّتِيْ تَيَّمْتِ قَلْبِيْ	وَ اَنْتِ بَخِيْلَةٌ بِالْوَصْلِ عَنِّيْ
ستا د محبت د وجې نه اې محبوبې تا زما زړه پامال کړو	حالانکې ته د ما سره په ميلاويدو کې بخيله يې

لِاَنَّ لاَمَهَا لَيْسَتْ عِوَضاً عَنْ مَحْذُوْفٍ وَ اِنْ كَانَتْ لاَزِمَةً لِلْكَلِمَةِ حَكَمُوْا عَلَيْهِ بِالشُّذُوْذِ
ځکه چې د دې لام د محذوف په عوض کې نه دي اګرچې کلمې ته لازم دي او نحويانو حکم کړې په دې باندې د شذوذ
وَ فِي الْغُلاَمَانِ فِيْ قَوْلِهِمْ ع فَيَا الْغُلاَمَانِ . اللَّذَانِ فَرَّا لِاِنْتِفَاءِ الْاَمْرَيْنِ كِلَيْهِمَا حَكَمُوْا
او په الغلامان کې چې په دې قول فيا الغلامان فرا کې واقع دي د وجې د انتفاء د دواړه امرينو حکم کړې په دې باندې
بِاَنَّهُ اَشَدُّ شُذُوْذاً .
چې دا اشد شذوذا دي .

خلاصه د متن: په دې عبارت سره ماتن دفع د سوال مقدر وکړه او وې ويل چې یاالله کې اګر چې په ظاهر د دوو آلو اجتماع کيږي او اي وغيره سره فاصله هم نه ده ليکن په حقيقت کې دا اجتماع نه دي ځکه چې د الله د لام همزه د مفتوحې په عوض کې ده او دا د کلمې جز دي پس په حقيقت کې اله د تعريف ياء ده لام نه دي لهٰذا د تعريف د دوو آلو په مينځ کې اجتماع لازم را نه غله .

اغراض د جامي : بالجر عطف: په دې سره غرض د شارح د توابعه د لفظ د ضبط اعراب او وجه د اعراب بيانول دي چې دا مجرور دي وجه دا ده چې دا عطف دي په الرجل باندې کوم چې مجرور دي .

اي والتزموا: په دې کې حاصل د عطف بيان دي چې نحويانو د الرجل په توابعو باندې هم رفع

لازم کړي برابره خبره ده داتابع مفرده وي يا مضاف وي مفرد طرف ته لکه مثال **يا ايها الرجل الظريف** دمضاف مثال **يا ايها الرجل ذوالمال**

لانها: په دې کې د **الرجل** په توابعو باندې رفع دلازم کولو وجه بيانوي چې د **الرجل** په توابعو باندې يې رفع ددې وجې نه لازم کړه ځکه چې دامنادی دمعرب دتوابعو نه ده اومنادی معرب توابع ددې لفظ تابع وي په دې باندې صرف يو اعراب جائز کيږي او ددوو وجهو جواز منادی مبني په توابعو کې وي.

وقالوا: په دې عبارت سره غرض دصاحب دکافيې ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مخکې ماتن قاعده بيان کړې چې کله معرف باللام دندا کول مقصود وي نوحرف ندا اومعرف باللام په مينځ کې د**ايها** وغيره فاصله ضروري ده داقاعده منقوضه اوماته دې په **يا الله** سره ځکه چې په دې کې حرف نداء بې دفاصل نه معرف باللام باندې داخل ده اودتعريف دوه آلې جمع کيږي.

جواب: په **يا اللهُ** کې اګرچې په ظاهره باندې ددوو آلو اجتماع په نظر راځي ليکن په حقيقت کې اجتماع نه ده ځکه چې په دې کې لام دهمزې محذوفې په عوض کې دي اوداد کلمې جز جوړشوي دي او په حقيقت کې آله دتعريف ياء ده لام نه دي لهذا په تعريف کې ددوو آلو جمع کيدل لازم نه راځي.

بناء: په دې عبارت سره شارح ددې خبرې وضاحت کوي چې نحويانو په **ياالله** کې چې کوم حرف ندا او معرف باللام داجتماع جائز کړي ده هغه ديوې نوې قاعدې په بناء اوهغه قاعده داده چې کله دوه امره جمع وي اوهلته حرف ندا اولام جمع کيدل هم جائز وي (۱) لام دکوم حرف محذوفه په عوض کې وي اصلي نه وي. (۲) لام کلمه لازم وي ددې نه جدا نه وي.

لان اصله: په دې کې شارح وجه بيانوي چې لفظ د**الله** کې لام عوضي اولازمي دي چې لفظ د**الله** په اصل کې **الاله** وو همزه موحذف کړه اوددې په عوض مو لام راوړو اودا **لام** دکلمې سره لازم دي ددې نه جدا نه دي چنانچې په وسعت کلام کې **لاه** نه شي ويلي.

ولمالم يجتمع: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دليل دې ددعوی سره مطابق نه دي ځکه چې ددليل نه دتعريف ددوآلو داجتماع نه د

لفظ د الله سره عدم اختصاص معلوميږي بلکې د دعوې نه د لفظ د الله سره د اختصاص مفهوم وي ؟

جواب : واقعي دليل د مفهوم په اعتبار سره عام دي چې کله هم دوه شيان مونډل شي هلته د دوو آلو تعريف جمع کيږي ليکن په ټول عربي لغت کې صرف يو ځاې دي چې هلته دا دوه امرونه مونډل کيږي هغه يو ځاې الله دي ګويا چې دا يو داسې کلي دي چې په يو فرد کې منحصر دي په بل ځاې کې دا دوه امره اجتماعاً نه مونډل کيږي د دې وجې نه لفظ د الله د دې جواز سره مختص شو د دې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ خاصةً ووېل .

واما مثل النجم : په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا قاعده منقوضه اوماته ده په النجم او الصعق سره ځکه چې د دې لام هم د کلمې سره لازم دي په دې باندې حرف ندا دخول بې د فاصلې نه جائز کيدل په کار دي حالانکه جائز نه دي .

جواب : اګر چې د دې لام د کلمې سره لازم دي ليکن د چا په عوض کې نه دي د دې وجې نه په دې باندې د حرف ندا داخليدل بې د فاصلې نه جائز نه دي .

واما الناس : په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا قاعده منقوضه اوماته ده په الناس سره ځکه چې د دې الف د محذوف په عوض کې دي ځکه چې د دې اصل اناس دي حالانکه په دې باندې د حرف ندا داخليدل بې د فاصلې نه جائز نه دي .

جواب : اګرچې د دې لام د محذوف په عوض کې دي ليکن د کلمې سره لازم نه دي چنانچې په وسعت د کلام کې ناس ويلي شي د دې وجې نه په دې باندې د حرف ندا داخليدل بې د فاصلې نه جائز نه دي .

ولعدم جريان : په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا قاعده منقوضه اوماته ده د شاعر په دې شعر سره چې :

من اجلک يا التي تيمت قلبي وانت بخيلة بالوصل عني

په دې کې التي باندې حرف ندا بې د فاصلې نه داخل دي او لام اګرچې د کلمې سره لازم دي ليکن د محذوف په عوض کې نه دي د دې باوجود په دې باندې حرف ندا بې د فاصلې نه داخل دي .

جواب : جواب دادي چې دا شاذ دي

فائده : په تيمٌ کې تا په ضمې او کسرې دواړو سره ويل جائز دي

وفي الغلامان : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دا قاعده منقوضه او ماته ده دشاعر په دې شعر سره چې فيا الغلامان اللذان فرا ، ځکه چې په دې کې دالغلامان الف لام نه دکلمې سره لازم دي او نه دمحذوف په عوض کې دي د دې باوجود په دې باندې حرف ندا بې دفاصلې نه داخل دي

جواب : چې کله دغلامان الف لام نه عوضي دي او نه لازمي نو ددې وجې نه نحويان په دې باندې داشذ شذوذا حکم لږوي چې په دې کې دوه شاذه جمع دي چې يو په التي کې شاذ دي چې مکمل شعر د ... دي فيا الغلامان اللذان فرا ، ايا کما ان تکسبان شرا . (ترجمه : اى هغه دوه جينکو چې تختيدلي وي ، خپل ځان دبدى دارتکاب نه بچ وساتى).

تنبيه : په تکسبان کې دوه (۲) نسخې دي :

(۱) : په حذف د نون سره ان تکسبا لکه ځنګه چې واضح دي چې ان مصدريه ناصبه نون تثنيه غورځوي.

(۲) : په اثبات دنون سره په دې صورت کې وجه يارعايت اولحاظ دسجع بندي وي يا دانون دتثنيې نه دي بلکه دانون ، نون وقايه دي په اصل کې ان تکسباني وو .

په ياتيم تيم عدي کې درفعې او دنصب د دواړو جواز :

وَ لَکَ اَیْ وَ جَازَ لَکَ فِيْ مِثْلِ يَا تَيْمَ تَيْمَ عَدِيٍّ اَیْ فِيْ تَرْکِيْبٍ تَکَرَّرَ فِيْهِ الْمُنَادیٰ الْمُفْرَدُ
او تاد پاره يعني تا ته جائز دي ياتيم تيم عدي په مثل کې يعني په داسې ترکيب کې چې تکرار وي په دې کې منادى مفرد
الْمَعْرِفَةُ صُوْرَةً وَوَلِيَ الثَّانِيَ اِسْمٌ مَجْرُوْرٌ بِالْاِضَافَةِ فِي الْاَوَّلِ الضَّمُّ وَ النَّصْبُ وَ فِي الثَّانِيْ النَّصْبُ فَحَسْبُ
معرفه صورةً او ددويم سره اسم مجرور په اضافت ملاو شوي وي په اول کې ضمه او نصب او په دويم کې صرف نصب
اَمَّا الضَّمُّ فِي الْاَوَّلُ فَلِاَنَّهٗ مُنَادیً مُفْرَدٌ مَعْرِفَةٌ کَمَا هُوَ الظَّاهِرُ وَ النَّصْبُ عَلٰى اَنَّهٗ
هرچې ضمه ده په اول کې نو ددې وجې نه چې دامنادى مفرد معرفه ده لکه چې ظاهر دي او نصب بناء په دې چې دا
مُضَافٌ اِلٰى عَدِيٍّ نِ الْمَذْکُوْرِ وَ تَيْمُ الثَّانِيْ تَاکِيْدٌ لَفْظِيٌّ فَاصِلٌ بَيْنَ الْمُضَافِ وَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ وَ ذٰلِکَ
مضاف دي عدي مذکور طرف ته او دويم تيم تاکيد لفظي دي فاصل دي په مينځ د مضاف او مضاف اليه کې او دا د

مَذْهَبُ سِيْبَوَيْهِ اَوْ مُضَافٌ اِلٰى عَدِيٍّ الْمَحْذُوْفِ بِقَرِيْنَةِ الْمَذْكُوْرِ وَ ذٰلِكَ مَذْهَبُ الْمُبَرِّدِ وَ

سیبویه مذهب دي اویا مضاف دي عدي محذوف طرف ته په ذکرشوي قرینې سره اوداامام مبرد مذهب دي او

السِّيْرَافِيُّ اَجَازَ الْفَتْحَ مَكَانَ النَّصْبِ عَلٰى اَنْ يَّكُوْنَ فِي الْاَصْلِ يَاتَيْمُ بِالضَّمِّ تَيْمَ عَدِيٍّ فَفُتِحَ

سیرافي جائز کړي ده فتحه په ځای د نصب چې داپه اصل کې یاتیمُ په ضمې سره تیمَ عدي دي نوفتحه یې ورکړه

اِتْبَاعًا لِنَصْبِ الثَّانِيْ كَمَا فِيْ يَا زَيْدَ بْنَ عَمْرٍو وَ تَعَيَّنَ النَّصْبُ فِي الثَّانِيْ لِاَنَّهُ اِمَّا

اتباع یې وکړه د دویم نصب لکه په یازید بن عمرو کې چې دي اومتعین کړي یې دي نصب په دویم کې ځکه چې

تَابِعُ مُضَافٍ اَوْ تَابِعٌ مُضَافٌ وَ تَمَامُ الْبَيْتِ:

داتابع دي د مضاف اویاپه خپله تابع د مضاف دي اومکمل شعر داسې دي چې

يَاتَيْمُ تَيْمَ عَدِيٍّ لَا اَبَا لَكُمْ	لَا يُلْقِيَنَّكُمْ فِيْ سَوْءَةٍ عُمَرُ
ای تیم عدي ستاپلارنشته دي	واقع دي نه کړي هرگزتاعمرپه ناکاره ځیزکې

وَ الْبَيْتُ لِجَرِيْرٍ حِيْنَ اَرَادَ عُمَرُ التَّيْمِيُّ الشَّاعِرُ اَنْ يَّهْجُوَهُ فَقَالَ جَرِيْرٌ خِطَابًا لِبَنِيْ تَيْمٍ لَا

اوداشعرد جریر دي چې کله عمرتیمي شاعرد دې د هجوې اراده وکړه نوجریربني تیم ته یې خطاب کولوچې ته مه

تَتْرُكُوْا عُمَرَ اَنْ يَّهْجُوَنِيْ فَيُلْقِيَنَّكُمْ فِيْ سَوْءَةٍ اَيْ مَكْرُوْهٍ مِنْ قِبَلِيْ

پریږده عمرچې هغه زما هجوه وکړي پس هغه دي تاواقع نه کړي په بدځیزکې یعنې په ناکاره ځیزکې زما طرف

يَعْنِيْ مُهَاجَاتَهُ اِيَّايَ.

نه یعنې هغه قصد کوي زما د هجوې

خلاصه دمتن: صاحب د کافیې وايي چې په یاتیم تیم عدي مثال کې رفع اونصب دواړه جائز دي.

اغراض دجامي: ای وجاز په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د ترکیب دي چې الضم والنصب داد لک ظرف فاعل دي په [illegible] متعلق سره کوم چې جاز دي.

في ترکیب: په دې عبارت سره غرض [illegible] د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف رَحِمَهُ اللهُ خو قواعد [illegible] یې یو مثال جزئي یاتیم تیم عدي ولې بیان کړو؟

جواب: دلته یې هم قاعده کلیه بیان کړې ځکه چې د مثل نه مراد هرهغه ترکیب دي چې په هغې کې منادی مفرده معرفه کې صورةً تکرار وي اود دویمې منادی سره کوم اسم مجرور بالاضافت یو ځای شوي وي یعنې د دې نه پس مضاف الیه واقع وي.

صورةً: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: مونږ داخبره نه منو چې په ياتيم تيم عدي کې منادى مفرد معرفه ده بلکه منادى مضاف ده يا عدي مذکور طرف ته لکه دادسيبويه مذهب دي ياعدي محذوف طرف ته لکه دادمبرد مذهب دي

جواب: دمفرد نه مراد دادې چې هغه صورةً مفرد وي اوپه ذکر شوي مثال کې اګرچې حقيقتاً منادى مضاف ده ليکن صورةً مفرد دي.

في الاول: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دمصنف رَحِمَهُ اللَّهُ داقول ولک في مثل ياتيم تيم عدي الضم والنصب کې حکم په مجهول لازم راځي ځکه چې دانه معلوميږي چې دا دوه اعرابه په اول تيم باندې دي ياپه دويم باندې نو خبره دلته مجهوله شوه اوحکم په مجهول باندې باطل دي.

جواب: ضمه اونصب په اول کې وي نه په دويم کې اوقرينه پرې داده چې بحث دمنادى شروع دي او منادى اول ده اوپه دويم کې به صرف نصب وي.

اما الضم: په دې سره په اول غرض کې دضمې دجائزکيدو وجه بيانوي چې په اول کې ضمه ددې وجې نه جائز ده چې دامنادى مفرد معرفه ده اومنادى معرفه په علامت درفع باندې مبني وي.

والنصب: په دې سره په اول غرض کې دنصب دجائزکيدو دوجې بيان دي چې په دې باندې نصب ددې وجې نه جائز دي چې دامضاف دي عدي مذکور طرف ته اومنادى مضاف منصوب وي.

وتيم الثاني: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: که چيرته اول تيم مضاف وي عدي مذکورطرف ته نودمضاف اومضاف اليه په مينځ کې دتيم سره به فصل لازم راشي کوم چې جائز نه دي؟

جواب: دمضاف اومضاف اليه په مينځ کې فصل په اجنبي سره ناجائزوي اودويم تيم داول تيم دپاره اجنبي نه دي بلکې ددې دپاره تاکيد اوتاکيد دمؤکد عين وي نودافصل په منزله د لافصل کې دي.

وذلک مذهب سیبویه : په دې عبارت سره غرض دشارح بیان داختلاف دي په دې کې درې مذاهب دي

مذهب (۱) : اول تیم مذکور عدي طرف ته مضاف کیدل دسیبویه مذهب دي .

مذهب (۲) : اودمبرد په نزد باندې اول تیم باندې نصب ددې وجې نه جائزدي چې دامضاف دي عدي محذوف طرف ته په دې باندې قرینه عدي مذکور دي داپه اصل کې وو یاتیم عدي تیم عدي ، مبرد وایي چې په دې صورت کې تقدیم تاخیر دفصل دخرابیو نه خلاصي کیږي .

مذهب (۳) : والسیرافي: داول تیم په ځاې دنصب باندې فتح جائزوي ځکه چې ددې اصل یاتیم تیم عدي دي اول تیم مفرد دمعرفه کیدو په بناء باندې مبني په ضمې دي اودویم تیم عدي مذکور طرف ته دمضاف کیدو دوجې نه منصوب دي نو اول تیم ددویم تیم دتابع کیدو په اساس په دې باندې فتحه جائز ده لکه یازیدبن عمرو کې دابن عمرو تابع کوي اوپه زید باندې فتحه جائز ده .

وتعین النصب : په دې عبارت سره شارح ددویم تیم اعراب اوددې وجه بیانوي چې په دویم تیم کې صرف نصب جائز دي ځکه چې دایادمضاف تابع دي لکه دسیبویه مذهب دي اودمضاف تابع منصوب وي یاخوداپه خپله مضاف دي لکه دمبرد مذهب دي اوتابع دمضاف هم منصوب وي . پوره شعردادي:

یَاتَیْمُ تَیْمَ عَدِيٍ لَاٰ اَبَاً لَکُمْ	لَاٰ یُلْقِیَنَّکُمْ فِيْ سَوْءَةٍ عُمَرُ
ای تیم عدي ستاپلارنشته دي	واقع دي نه کړي هرګزتاعمرپه ناکاره څیزکې

داشعر دجریر شاعر دي چې کله عمرتیمي دجریر دهجوې اراده وکړه نو جریر بنوتمیم ته خطاب کوي او وایي چې عمر ته زمادهجوې دپاره اجازت مه ورکوي داسې نه چې تا زما دطرف نه په یو ناکاره او ناخوښه کار کې واقع کړي یعنې که چیرته دازما هجوه وکړي نوزه به دټولو هجوه وکړم چې دهغې په وجه به تاسو ټول ذلیل اوخوار شي .

تبصره : مصنف رَحِمَهُ اللهُ په ولک في مثل یاتیم تیم عدي الضم والنصب کې حصروکړو اود سیرافي رَحِمَهُ اللهُ مذهب یې رد کړو وجه د رد یې داده چې د سیرافي مذهب کمزوري دي او یاتیم تیم عدي په یازید بن عمرو باندې قیاس کول قیاس مع الفارق دي ځکه چې یازید بن عمرو کې په زید باندې فتح دابن په اتباع کې نه ده بلکه ددې په شان دمنادی دکثیر الاستعمال دوجې نه

ځکه چې مخکې ددې تفصیل تیر شوي دي .

په منادی مضاف الی یاء المتکلم کې څلور وجوهات :

وَ الْمُنَادَى الْمُضَافُ اِلىٰ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ يَجُوْزُ فِيْهِ وُجُوْهٌ اَرْبَعَةٌ فَتْحُ الْيَاءِ مِثْلُ يَا غُلَامِيَ وَ سُكُوْنُهَا

اوهغه منادی چې مضاف وي یاء دمتکلم طرف ته نوجائزدي په دې کې څلوروجهې فتحه دیاء لکه یاغلامِيَ اوسکون

مِثْلُ يَا غُلَامِيْ وَ اِسْقَاطُ الْيَاءِ اِكْتِفَاءً بِالْكَسْرَةِ اِذَا كَانَ قَبْلَهَا كَسْرَةٌ اِحْتِرَازاً عَنْ نَحْوِ

ددې لکه یاغلامِيْ اوساقطول دیاء دپاره داکتفاء په کسرې باندې چې کله مخکې ددې نه کسره وي احترازدې دمثل د

يَا فَتَايَ مِثْلُ يَا غُلَامِ وَقَلْبُهَا اَلِفاً نَحْوُ يَا غُلَامَا وَ هٰذَانِ الْوَجْهَانِ يَقَعَانِ غَالِباً فِي النِّدَاءِ لِاَنَّ

یافتایَ نه لکه یاغلامِ اوبدلول ددې په الف باندې لکه یاغلاما اودادواړه وجهې واقع کیږي غالبا په نداء کې ځکه چې

النِّدَاءَ مَوْضِعُ تَخْفِيْفٍ لِاَنَّ الْمَقْصُوْدَ غَيْرُهُ فَيَقْصِدُ الْفَرَاغَ مِنَ النِّدَاءِ بِسُرْعَةٍ

نداء ځاي دتخفیف دي ځکه چې مقصود دنداء نه غیر دي نوقصد کوي متکلم دفراغ دنداء نه په جلتئ سره چې

لِيَتَخَلَّصَ اِلَى الْمَقْصُوْدِ مِنَ الْكَلَامِ فَخُفِّفَ يَا غُلَامِيْ بِوَجْهَيْنِ حَذْفُ الْيَاءِ

خلاصي ومومي دکلام نه مقصود طرف ته پس تخفیف یې وکړوبه یاغلامي کې په دواړووجهوسره یاء حذف کول او

وَ اِبْقَاءُ الْكَسْرَةِ دَلِيْلاً عَلَيْهِ وَ قَلْبُ الْيَاءِ اَلِفاً لِاَنَّ الْاَلِفَ وَ الْفَتْحَةَ اَخَفُّ مِنَ الْيَاءِ

پریخودل دکسرې په دې باندې ددلالت کولودپاره اویاء په الف سره بدلول ځکه چې الف اوفتحه زیاته خفیفه ده دیاء

وَ الْكَسْرَةِ وَهُمَا اَيْ هٰذَانِ الْوَجْهَانِ وَاِنْ كَانَا وَاقِعَيْنِ فِي الْمُنَادَى الْمُضَافِ اِلىٰ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ لٰكِنْ

اوکسرې نه اودا یعنې دادواړه وجهې اګرکه واقع وي په هغه منادی کې چې مضاف وي یاء دمتکلم طرف ته لیکن

لاَ يَقَعَانِ فِيْ كُلِّ مُنَادىً كَذٰلِكَ بَلْ فِيْمَا غَلَبَ عَلَيْهِ الْاِضَافَةُ اِلىٰ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ

نه واقع کیږي په هره منادی کې همدارنګې بلکې په هغه منادی کې چې غالب وي په دې باندې اضافت یاء دمتکلم

وَ اشْتَهَرَ بِهَا لِتَدُلَّ الشُّهْرَةُ عَلَى الْيَاءِ الْمُغَيَّرَةِ بِالْحَذْفِ اَوِ الْقَلْبِ فَلَا

طرف ته او په دې سره یې مشهورکړوددې دپاره چې دلالت وکړي شهرت دیاء مغیره په حذف اویابدلولوسره نونه شي

يُقَالُ يَا عَدُوْ وَ عَدُوَّا وَ قَدْ جَاءَ شَاذاً فِي الْمُنَادَى يَا غُلَامَ بِالْفَتْحِ اِكْتِفَاءً بِالْفَتْحَةِ

ویلې چې یاعدواویاعدوا او په تحقیق سره راغلې شاذ په منادی کې یاغلامَ په فتحې سره دپاره داکتفاء په فتحې باندې

عَنِ الْاَلِفِ وَيَكُوْنُ الْمُنَادَى الْمُضَافُ اِلىٰ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ بِالْهَاءِ فِيْ هٰذِهِ الْوُجُوْهِ كُلِّهَا وَقْفاً اَيْ

دالف نه او وي منادی مضاف یاء دمتکلم طرف ته په هاء سره په دې تولووجوهو کې په صورت دوقف کې یعنې

فِيْ حَالَةِ الْوَقْفِ تَقُوْلُ يَاغُلَامِيَهْ وَ يَاغُلَامِيْهِ وَ يَاغُلَامِهْ وَ يَاغُلَامَاهْ فَرْقاً بَيْنَ الْوَقْفِ وَ الْوَصْلِ.

په حالت دوقف کې به ته وایې چې یَاغُلَامِيَهْ وَیَاغُلَامِیْهِ وَیَاغُلَامِهْ وَیَاغُلَامَاهْ دوجې دفرق نه په مینځ دوقف اووصل کې

خلاصه دمتن: صاحب د کافيې وايي چې هغه منادی چې ياء د متکلم طرف ته مضاف وي په دې کې څلور وجهې دي (۱) په فتحې د ياء سره لکه ياغلاميَ (۲) په سکون د ياء سره لکه ياغلاميْ (۳) ياء حذف کول او په ماقبل کسره باندې اکتفاء کول لکه ياغلامِ (۴) ياء په الف سره بدلول لکه ياغلاما. همدا رنګې په حالت د وقف کې په دې ټولو صورتونو کې په آخر کې هاء د وقف لګول هم جائز دي

اغراض دجامي: المنادی: په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: ستاسو قاعده منقوضه او ماته ده په جاءني غلامي کې، په غلامي سره څکه چې دا مضاف دې ياء د متکلم طرف ته ليکن په دې کې څلور وجوه جائز نه دي بلکه صرف دوه وجهې جائز دي. (۱) سکون د ياء (۲) او فتحه د ياء.

جواب: دلته مطلق مراد نه دي بلکه منادی مضاف الی ياء المتکلم مراد دي المضاف صفت دي د موصوف محذوف المنادی څکه چې بحث د منادی روان دي.

وجوه: په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: يجوز فعل دي د دې دپاره فاعل د مفرد کيدل ضروري دي او ياغلامي د جملې کيدو د وجې نه د فاعل جوړيدو صلاحيت نه لري.

جواب: د يجوز فاعل ياغلامي نه دي بلکه د دې فاعل وجوه محذوف دي کوم چې مفرد دي.

اربعة: په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ياغلامي ياغلاميَ وغيره تفصيل دي او تفصيل د اجمال تقاضا کوي دلته مخکې کوم اجمال نشته؟.

جواب: دلته اربعة مقدر دي لهذا د تفصيل نه مخکې اجمال موجود دي.

مثل: د دې لفظ په اضافه کولو سره شارح ديو سوال مقدر جواب ورکوي:

سوال: مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ خو د قواعد کليه بيان پسې دي؛ دلته غلامي خو جزئي من الجزئيات دي د دې نه معلوميږي چې څلور وجوه صرف په ياغلامي کې جائز وي.

جواب : دلته مثل محذوف دي مراد ترې هرهغه منادى ده چې مضاف وي ياء دمتكلم طرف ته نو حكم دياغلامي يا امي وغيره ټولو ته به شامل وي اودلته دقاعدې كليې بيان وي .

اذا كان قبلها : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : داقاعده منقوضه اوماته ده په يافتاى په مثل سره يافتاى منادى مضاف ده ياء دمتكلم طرف ته حالانكې په دې كې ياء حذف كول اوپه ماقبل كسره باندې اكتفاء كول جائز نه دي .

جواب : دلته يوشرط محذوف دي هغه دادې چې ياء حذف كول اوپه ماقبل كسره باندې اكتفاء كول په هغه وخت كې جائز وي چې كله ياء ماقبل مكسور وي اوپه ذكر شوي مثال كې ياء ماقبل مكسور نه دي .

وهذان الوجهان : داجمله مستانفه ده چې دسائل ديوسوال جواب دي سائل سوال كړي دي چې وجوه اربعه مذكوره مساوي في الاستعمال دي يامتفاوت في الاستعمال ؟.

جواب : په دې كې تفاوت دي په آخري دوه وجهو كې ندا كثير الوقوع وي ځكه چې دندا موضع تخفيف دي ځكه چې نداء مقصود بالذات نه وي بلكه مقصود بالذات هغه كلام وي چې دنداء نه پس واقع وي ځكه چې دمتكلم دنداء نه زر فارغيدل غواړي ددې دپاره چې ددې نه خلاصي ومومي مقصودطرف ته متوجه وي په دې اساس باندې نداء كې په نسبت دنورو مواضعو زيات تخفيف وكړي شو لهذا په ياغلامي كې په دوه (۲) وجهو كې تخفيف موندل كيږي :

(۱) : ياء حذف كول اوپه ماقبل كسره باندې اكتفاء كول ددې دپاره چې كسره په ياء محذوفه باندې دلالت وكړي .

(۲) : ياء په الف سره بدلول ځكه چې الف اوفتحه د ياء اوكسرې نه خفيف دي .

وهما اى هذان الوجهان : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : داقاعده ماته ده په ياعدوي سره ځكه چې دامنادى مضاف دى ياء دمتكلم طرف ته حالانكه په دې كې ياء حذف كول اوپه ماقبل كسره باندې اكتفاء كول اوياء په الف سره بدلول دادواړه وجهې جائز نه دي .

جواب : دا دوه وجهې په هر منادى مضاف الى ياء المتكلم كې نه جاري كيږي بلكه په هغه منادى

کې جاري کیږي چې د هغې اضافت شوي وي یاء دمتکلم طرف ته کثیر او مشهور وي او دا شهرت په دې یاء باندې دلالت کوي چې دحذف کیدو دوجې نه یا په الف سره دبدلیدو دوجې نه دخپل هیئت اصلیه نه بدل شوي وي چونکې دیاءدوي اضافت یاء دمتکلم طرف ته مشهور نه دي ځکه چې په دې کې دا دوه وجې جائز نه وي .

وقد جاء : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : منادی مضاف یاء دمتکلم طرف ته په دې کې یوه بله پنځمه وجه هم جائز ده هغه داچې یاء به په الف سره بدل کړي شي بیابه الف حذف کړي اوپه ماقبل فتحه باندې به اکتفاء وکړي شي لکه یا غلامَ دا په اصل کې یاغلامي وو بیا یاغلاما شو ددې نه یاغلامَ جوړ شو لهذا په وجوه اربعه کې به انحصار باطل شي .

جواب : دا وجه شاذ او خلاف د قاعدې ده د قاعدې په اعتبار سره صرف څلور (۴) وجهې جائز دي لهذا حصر صحیح دي .

وبالهاء وقفا: صاحب دکافیې وایي چې دمنادی مضاف الی یاء المتکلم په آخر کې دوجوه اربعو مذکورو په حالت دوقف کې هاء داخلیږي پس یا غلامیه اویاغلامه اویاغلاماه به ویلي شي .

ویکون المنادی المضاف: په دې کې یکون مقدر کړو اواشاره یې وکړه چې بالهاء جارمجرور دیکون محذوف متعلق دي اوپه یکون کې ضمیرمستتر المنادی المضاف طرف ته راجع دي .

في هذه الوجوه کلها: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو وهم ازاله کول دي اوهغه وهم دااوو چې شاید دبالهاء تعلق دآخري دوو وجهو سره وي دا وهم یې لرې کړو چې دبالهاء تعلق دڅلورو وجهو سره دي .

وقفا اي في حالة الوقف: په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دترکیب دي وقفا منصوب دي بناء بر ظرفیت په اعتبار دحذف دمضاف سره .

فرقا: په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د علت دي په حالت د وقف کې مضاف الی یاء المتکلم کې د منادی په آخر کې د هاء د داخلولو وجه داده چې د وقف او د وصل په مینځ کې فرق پیدا شي .

په یاابي اویاامي کې د څلورو وجوهاتو نه غیر نورو وجوهات :

وَ قَالُوْا اَيِ الْعَرَبُ فِيْ مُحَاوَرَاتِهِمْ يَا اَبِيْ وَ يَا اُمِّيْ عَلَى الْوُجُوْهِ الْاَرْبَعَةِ كَسَائِرِ مَا اُضِيْفَ اِلَى
اوویلي یعنې عربو په خپلو محاوراتو کې یاابي اویاامي په څلورووجوهو سره لکه ټول هغه الفاظ چې اضافت یې شوي
يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ مَعَ وُجُوْهٍ اُخَرَ زَائِدَةٍ عَلَيْهَا لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِ نِدَائِهَا فِيْ كَلَامِهِمْ
وي یاء دمتکلم ته سره دنوروونوڅوجې زائدوي به دې باندې دوجې دکثرت استعمال نداء ددې نه په کلام ددوي کې
كَمَا اَشَارَ اِلَيْهَا بِقَوْلِهِ وَ يَا اَبَتِ وَ يَا اُمَّتِ اَيْ قَالُوْا يَا اَبَتِ وَ يَا اُمَّتِ اَيْضاً
لکه اشاره کړي دې ته مصنف په دې قول سره چې يَا اَبَتِ وَيَا اُمَّتِ یعنې دوي ویلي چې يَا اَبَتِ وَيَا اُمَّتِ همدارنګې
بِاِبْدَالِ الْيَاءِ بِالتَّاءِ فَتْحاً وَ كَسْراً اَيْ حَالَ كَوْنِ التَّاءِ مَفْتُوْحَةً عَلَى وَفْقِ حَرَكَةِ الْيَاءِ
په بدلولو د یاء سره په تاء باندې به فتحې اوکسرې سره یعنې په حالت دمفتوح کیدو کې موافق دحرکت دیاء
اَوْ مَكْسُوْرَةً لِمُنَاسَبَةِ الْيَاءِ وَ قَدْ جَاءَ الضَّمُّ اَيْضاً يَا اَبَتُ وَ يَا اُمَّتُ
یادمکسور کیدو په حالت کې دوجې دمناسبت یاء نه اوضمه هم راغلي ده همدارنګې لکه یاابتُ اویاامتُ دوجې
لِاِجْرَائِهِ مَجْرَى الْمُفْرَدِ الْمَعْرِفَةِ وَ لَمْ يَذْكُرْهُ لِلْقِلَّةِ وَ قَالُوْا يَا اَبَتَا وَ يَا اُمَّتَا
داجراء کیدو ددې په ځاې دمفرد معرفه کې اودا یې نه دې ذکر کړي دوجې دقلت نه اوویلي دي چې يَااَبَتَاوَيَااُمَّتَا
بِالْاَلِفِ بَعْدَ التَّاءِ جَمْعاً بَيْنَ الْعِوَضَيْنِ دُوْنَ الْيَاءِ فَمَا قَالُوْا يَا اَبَتِيْ وَ يَا اُمَّتِيْ
په الف سره پس دتاء نه دوجې دجمع کیدو نه په مینځ ددواړو عوضینو کې نه دیاء کې نوچاچې ویلي دي يَااَبَتِيْ وَيَااُمَّتِيْ
لِلْاِحْتِرَازِ عَنِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْعِوَضِ وَالْمُعَوَّضِ عَنْهُ فَاِنَّهُ غَيْرُ جَائِزٍ.
دوجې داحتراز دجمع نه په مینځ دعوض اودمعوض عنه کې ځکه چې داغیر جائزدي.

خلاصه متن : صاحب دکافیې ویلي دي چې اهل عرب په خپلو محاوراتو کې ددې څلورو وجوهو نه غیر کوم چې په یاغلامي کې جائز دي یاابي اویاامي کې ددې دنداء دکثرت دوجې نه دوه (۲) نورې وجهې هم په خصوصي طورباندې جائزکړي دي :

(۱) یاء په تاء سره بدلول یاابتِ او امتِ ویل بیا تاء د یاء دحرکت موافق مفتوح یا دیاء مناسبت دوجې نه مکسور ویلي شي.

تاء نه پس دالف اضافه کول یا ابتا او یاامتا ویل په دې صورت کې الف اوتاء دادواړه دیاء په عوض کې وي اوبه دې کې کومه خرابي نشته دي ځکه چې جمع بين العوضين ... ابتي اویاامتي ویل صحیح نه دي ځکه چې دعوض اود معوض عنه اجتماع جائز نه

ده لانه يوجب اللغو

اغراض دجامي : اي العرب: په دې سره دا ظاهروي چې دقالوا دضمير مرجع العرب دي

في محاوراتهم: په دې سره غرض دشارح دقالوا دصلې بيان کوي

اي قالوا يا ابت: په دې عبارت کې بيان دترکيب دي چې يا ابت او يا امت عطف دي په يا ابي او يا امي باندې لکه څنګه چې معطوف عليه يا ابي او يا امي دقالوا مقوله ده همدارنګې يا ابت يا امت هم دقالوا مقوله ده

اي حال: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي چې فتحا وکسرا دتاء نه حال دي

مفتوحة اومکسورة: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : فتحا وکسرا حال جوړول صحيح نه دي ځکه چې دحال حمل په ذوالحال باندې کيږي او فتحا کسرا د مصدر کيدو دوجې نه . نه محموليږي

جواب : فتحا وکسرا په تاويل داسم مفعول سره مفتوحة ومکسورة حال شو لهذا حال جوړول صحيح دي

وقد جاء: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : يا ابتُ ويا امتُ مفرد معرفې قائمقام جوړول او مبنی علی الضم ويل هم ثابت دي ځکه چې دلته صورةً اضافت نه دي . بيا مصنف دا ولې ذکر نه کړو ؟

جواب : دتاء ضمه اګرچې ثابت ده ليکن قليل ده او د القليل کالمعدوم قاعدې لاندې ددې اعتبار ونه کړې شو .

په يا ابنَ امّ او يا ابنَ عم کې داعراب وجوه:

وَ قَالُوْا يَا ابْنَ اُمِّ وَ يَا ابْنَ عَمِّ خَاصَّةً هٰذَا الْاِخْتِصَاصُ بِالنَّظْرِ اِلَى الْاُمِّ وَ الْعَمِّ
او هغوي ويلي دي يا ابن ام ويا ابن عم خاص طورباندې دا اختصاص ام او عم طرف ته دنظر کولو په اعتبار سره دي
اَیْ لَا يُقَالُ يَا ابْنَ اَخٍ وَ يَا ابْنَ خَالٍ بَلْ يُقَالُ يَا ابْنَ اَخِيْ وَ يَا ابْنَ خَالِيْ لَا بِالنَّظْرِ اِلَى الْاِبْنِ اَيْضاً
يعني يا ابن اخ او يا ابن خال نه شي ويلي بلکه يا ابن اخي ويا ابن خالي ويلي شي نه دابن طرف ته دنظر کولو په وخت کې هم
فَاِنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ يَا بِنْتَ اُمِّ وَيَا بِنْتَ عَمِّ عَلَى الْوُجُوْهِ الْاَرْبَعَةِ مِثْلُ بَابِ يَا غُلَامِيْ فَقَالُوْا يَا ابْنَ
ځکه چې هغه وايي يا بنت ام ويا بنت عم په څلور وجوهو باندې په شان دباب د يا غلامي پس هغوي ويلي دي يا ابن

أُمِّيْ وَيَا ابْنَ عَمِّيْ بِفَتْحِ الْيَاءِ وَسُكُوْنِهَا وَيَا ابْنَ أُمِّ وَيَا ابْنَ عَمِّ بِحَذْفِ الْيَاءِ وَالْاِكْتِفَاءُ بِالْكَسْرَةِ
امي اويا ابن عمي په فتحې دياء اود دې په سکون سره يا ابن ام ويا ابن عم دياء په حذف کولو اود کسرې په اکتفاء
وَ يَا ابْنَ أُمَّا وَ يَا ابْنَ عَمَّا بِإِبْدَالِ الْيَاءِ أَلِفاً وَ قَالُوْا بِزِيَادَةِ وَجْهٍ آخَرَ
کولو سره اويا ابن اما ويا ابن عما ياء په الف سره دبدلولو سره اوهغوي ديوې بلې وجې اضافه هم کړې دې چې شاذ
شُذَّ فِي الْمُضَافِ إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ يَا ابْنَ أُمَّ وَيَا ابْنَ عَمَّ بِحَذْفِ الْأَلِفِ وَالْاِكْتِفَاءُ بِالْفَتْحَةِ
دى په اضافت کې ياء دمتکلم طرف ته اويا ابن ام ويا ابن عم په حذف دالف او اکتفاء کول په فتحې سره دوجې د
لِكَثْرَةِ الْاِسْتِعْمَالِ وَطُوْلِ اللَّفْظِ وَ ثِقْلِ التَّضْعِيْفِ.
کثرت استعمال اود لفظ دطوالت اود تضعيف دثقل دوجې نه.

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې وايي چې يا ابن ام ويا ابن عم دا دواړه هم دباب دغلامي په شان دي په دې باب کې دغلامي په شان څلور وجوهات جائز دي او دهغه څلورو وجهو نه غير يوه بله وجه هم جائز ده او هغه داده چې ياء په الف سره بدل کړې شي بيا الف حذف کړې شي او په ماقبل فتحه باندې اکتفاء وکړې شي اويا ابن ام اويا ابن عم ويلې شي.

اغراض دجامي : وهذا الاختصاص: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دخاصة لفظ وويل ددې نه معلوميږي چې وجوه خمسه مذکوره په دې صورت کې جائز دي چې کله لفظ ابن مضاف وي اولفظ عم اوام مضاف اليه وي يعني تخصيص مضاف مضاف اليه دواړو اعتباراتو سره وي که چيرته په دې کې په يو کې تبديلي وشي نو وجوه خمسه به جائز نه وي حالانکه په يا بنت ام يا بنت عم کې هم وجوه خمسه مذکوره جائز دي.

جواب : دخاصة تعلق صرف دمضاف اليه سره دي يعني مضاف اليه لفظ دام يا دعم کيدل په کار دي په دې کې تبديلي نه ده په کار که چيرته مضاف تبديل شي دابن په ځای بنت شي نو کوم حرج نه راځي لهذا يا بنت امِ کې هم وجوه خمسه مذکوره جائز دي او په يا ابن خالي يا ابن اخي يا ابن اختي کې جائز نه دي.

بزيادة وجه اخر هذ : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د مصنف عبارت **وقالوا یا ابن ام خاصة الخ** بې فائدې دي ځکه چې کله مثل **باب یا غلامي** وويل نو په دې کې وجه خامس هم راغله ځکه چې په **یا غلامي** کې د اپنځمه وجه هم جائزده اگرچې **علی وجه الشذوذ** ده لکه حضرت جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې **وقد جاء شاذا في المنادی یاغلامَ بالفتح**

جواب : په دواړو کې فرق دادې چې په **یاغلامي** کې وجه خامس شاذ وو لیکن **یا ابن ام** او **یا ابن عم** کې شاذ نه دي په دې اساس باندې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دامستقل ذکر کړي دي.

لکثرة : په دې سره حذف دالف او اکتفاء په فتحې باندې ددې وجه بیانوي چې الف یې حذف کړو او په ماقبل فتحه باندې داکتفاء کولو دري وجوهات دي :

(۱) ددې نداء کثیر الاستعمال دي او کثرت استعمال دخفت تقاضا کوي او فتحه **اخف الحرکات** ده.

(۲) د طوالت دلفظ دوجې نه ځکه چې په **یا غلامي** کې دري لفظه دي او **یا ابن امّ** کې څلور الفاظ دي : (۱) **یا** . (۲) **ابن** . (۳) **ام** . (۴) **یاء** دمتکلم او په **یا ابن عم** کې هم څلور الفاظ دي ځکه چې په دې تخفیف وکړي شو په خلاف د **یا ابي** او **یا امي** کې چې هغه **کثیر الاستعمال** دي لیکن په دې کې طوالت نشته.

(۳) د تضعیف د ثقل د وجې نه ځکه چې ددې دواړو په آخر کې میم مشدد دي په دې اساس باندې تخفیف وکړي شو ، په خلاف د **یا ابن ابي** چې په دې کې کثرت د استعمال هم دي او طوالت د لفظ هم دي لیکن په دې کې ثقل د تضعیف نشته ځکه یې په دې کې تخفیف نه دي کړي.

د منادی د ترخیم تعریف :

وَ لَمَّا كَانَ مِنْ خَصَائِصِ النِّدَاءِ التَّرْخِيْمُ شَرَعَ فِيْ بَيَانِهِ فَقَالَ وَ تَرْخِيْمُ الْمُنَادٰى جَائِزٌ اَیْ
او کله چې د نداء د خصائصو نه ترخیم وو نو مصنف ددې په بیان شروع وکړه پس وې ويل چې ترخیم د منادی جائز ده یعنې
وَاقِعٌ فِيْ سَعَةِ الْكَلَامِ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ شِعْرِيَّةٍ دَعَتْ اِلَيْهِ فَاِنْ دَعَتْ اِلَيْهِ ضَرُوْرَةٌ
واقع دي په وسعت د کلام کې په غیر د ضرورت شعري نه کوم چې دې طرف ته داعي وي پس که چیرته دې ته ضرورت پېښ
فَبِالطَّرِيْقِ وَ هُوَ فِيْ غَيْرِهِ اَیْ غَيْرِ الْمُنَادٰى وَاقِعٌ ضَرُوْرَةً اَیْ لِضَرُوْرَةٍ شِعْرِيَّةٍ
شي نو په طریق اولی جائز دي او ددې په غیر کې یعنې په غیر د منادی کې ضرورةً واقع دي یعنې د ضرورت شعري د

دَاعِيَةٍ اِلَيْهِ لاَ فِيْ سَعَةِ الْكَلَامِ وَ هُوَ اَیْ تَرْخِيْمُ الْمُنَادىٰ حَذْفٌ فِيْ
وجې نه کوم چې دې طرف ته داعي وي نه په وسعت د کلام کې او هغه یعنې ترخیم دمنادی چې حذف کولې به شي په
آخِرِهٖ اَیْ آخِرِ الْمُنَادىٰ تَخْفِيْفاً اَیْ لِمُجَرَّدِ التَّخْفِيْفِ لاَ لِعِلَّةٍ اُخْرىٰ مُفْضِيَةٍ اِلَى الْحَذْفِ الْمُسْتَلْزِمِ لِلتَّخْفِيْفِ فَعَلٰى
آخر دې کې یعنې دمنادی په آخر کې تخفیفاً یعنې صرف د تخفیف د پاره نه د بل علت د پاره چې مفضي وي حذف
هٰذَا يَكُوْنُ ذٰلِكَ التَّعْرِيْفُ مَخْصُوْصاً بِتَرْخِيْمِ الْمُنَادىٰ وَ يُعْلَمُ مِنْهُ
دمستلزم ته د پاره د تخفیف نو بناء په دې باندې وي به دا تعریف خاص د ترخیم دمنادی پورې او معلومیږي د دې نه
تَرْخِيْمُ غَيْرِ الْمُنَادىٰ بِالْمُقَايَسَةِ وَ يُمْكِنُ حَمْلُهٗ عَلٰى تَعْرِيْفِ التَّرْخِيْمِ مُطْلَقاً بِاِرْجَاعِ
ترخیم د غیر دمنادی په توسط د قیاس او ممکن دي حمل کول د دې په تعریف د ترخیم باندې مطلقاً په راجع کولو
ضَمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ اِلَى التَّرْخِيْمِ مُطْلَقاً وَالضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ اِلَى الْاِسْمِ .
د ضمیر د مرفوع ترخیم ته مطلقاً او په راجع کولو د ضمیر د مجرور اسم طرف ته .

خلاصه دمتن : صاحب د کافیې وايي چې په منادی کې ترخیم په هرحال کې جائز دي برابره خبره ده که د ضرورت شعري د وجې نه وي او یا نه وي او په غیر منادی کې د ضرورت شعري د وجې نه ترخیم جائز دي او په نثر کلام کې ترخیم جائز نه دي.

اغراض دجامي : ولماکان : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دلته بحث خو د مفعول به د عامل ناصب د حذف کیږي نه دمنادی په آخر کې د حذف کولو چې هغې ته ترخیم وايي نو د ترخیم دمنادی بحث ذکر کول خروج عن المبحث دي .

جواب : ترخیم دمنادی د خصائصو نه دي او د یو څیز د خصائصو په ذکر کولو سره هغه څیز واضح کیږي د همدې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللهُ ترخیم ذکر کړو .

ای واقع : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د جواز دوه قسمونه دي : (۱) جواز وقوعي یعنې کوم چې په کلام د عربو کې موجود وي. (۲) جواز امکاني لکه جواز مطابقي او دې ته جواز تصوري هم ویلې شي یعنې کوم چې موجود في الخارج نه وي نو دلته کوم یو جواز مراد دي ؟ .

جواب : دلته جواز وقوعي مراد دي .

في سعة الكلام : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : وقوع په دوه قسمه ده : (۱) وقوع په وسعت د کلام کې . (۲) وقوع په وخت د ضرورت

کې . دلته کومه يو وقوع مراد ده ؟

جواب : دلته دوقوع نه مراد هغه وقوع ده کوم چې په وسعت دکلام اوپه کلام نثر کې وي دضرورت شعري دوجې نه ،نه وي نوبس ځکه چې دضرورت شعري نه په غيرپه وسعت کلام کې جائز وي نو په ضرورت شعري کې خو به په طريقِ اولی جائز وي .

هو المنادي : په دې سره دا واضح کوي چې دغيره ضمير منادی طرف ته راجع دي .

اي لضرورة : په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي چې ضرورةً مفعول له دي جائز په معنی د واقع سره دې ددې وجې نه منصوب دي .

اي ترخيم المنادي : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د هُوَ ضمير په مرجع کې دوه احتماله دي : (۱) يادادې مرجع مطلق ترخيم دي . (۲) يا ترخيم د منادی ده ، که چيرته مرجع ترخيم د منادی وي نو د مطلق ترخيم تعريف معلوم به نه وي ، او که چيرته مرجع مطلق ترخيم وي نو (۱) دمصنف قول وشرطه الخ به صحيح نه وي ځکه چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ چې کوم شرائط بيان کړي دي هغه د ترخيم د منادی دي نه د مطلق ترخيم .

(۲) همدارنګې به اضمار قبل الذکر لازم راشي ځکه چې مخکې د مطلق ترخيم ذکر نه دي .

(۳) همدارنګې تعريف داعم بالاخص لازم راځي ځکه چې في آخره کې ضمير منادی طرف ته راجع دي هغه خاص دي اومطلق ترخيم عام دي نو تعريف داعم بالاخص لازم راغې .

جواب : ددې دپاره شارح دوه جوابه ورکړي دي :

جواب (۱) : اول جواب دادې چې د هُوَ ضمير مرجع ترخيم دمنادی دی پاتې شو داسوال چې د مطلق ترخيم تعريف نه معلوميږي نوددې جواب دادې چې دترخيم دمنادی دتعريف نه د مطلق ترخيم تعريف هم معلوميږي ځکه چې ددواړو تعريفونو په غير دځه فرق نه يو شان دي نو د مطلق ترخيم تعريف د ترخيم دمنادی په تعريف باندې قياس کولې شي .

جواب (۲) : د هُوَ ضمير مرجع مطلق ترخيم دي اود آخره ضميراسم طرف ته راجع دي نه دمنادی طرف ته پاتې شوداسوال چې وشرطه کې شرائط دترخيم دمنادی دي نه دمطلق ترخيم (۱) نو جواب دادې چې شرائط هم دمطلق ترخيم دي کوم چې دمطلق ترخيم منادی په ضمن کې موندل کيږي .(۲) پاتې شو داسوال چې اضمار قبل الذکر لازم راځي نوددې جواب دادې چې ذکرمقيد ذکر مطلق ته مستلزم دي نو ترخيم دمنادی نه مطلق ترخيم هم معلوميږي لهذا

اضمار قبل الذکر لازم نه راځي (۳) دريم داچې تعريف داعم بالاخص هم لازم نه راځي ځکه چې په آخره کې ضمير مطلق اسم طرف ته راجع دي نه دمنادی طرف ته نوتعريف دمساوي بالمساوي شو

فائده : دويم جواب په يمکن سره ذکر کوي اوشارح په دې سره ددې ضعف طرف ته اشاره کوي ځکه چې دآخره ضمير مطلق اسم طرف ته راجع کول ضعيف دي ځکه چې بحث دمنادی شروع دي نه دمطلق اسم نودمطلق اسم طرف ته ضمير راجع کول دسياق کلام خلاف دي .

اى لمجرد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : تعريف دترخيم ددخول دغير نه مانع نه دي ځکه چې داپه رام اوداع وغيره باندې صادق راځي ځکه چې ددې په آخر کې حذف هم دتخفيف دپاره دي حالانکه دې حذف ته ترخيم نشي ويلې ؟

جواب : مراد دادې چې حذف صرف دتخفيف په غرض سره وي دبل کوم علت دوجې نه ،نه وي مثلاً اصل حذف دتعليل په وجه شوي وي بيا داحذف مستلزم دتخفيف وي نوداسې حذف ته ترخيم نه شي ويلې اوداع او رام وغيره کې حذف صرف دتخفيف دوجې نه ، نه دي بلکه داعلال دوجې نه شوي دي .

دترخيم دمنادی شرائط :

وَ شَرْطُهٗ اَیْ وَ شَرْطُ تَرْخِيْمُ الْمُنَادیٰ عَلَی التَّقْدِيْرِ الْاَوَّلِ اَوْ شَرْطُ التَّرْخِيْمِ اِذَا کَانَ وَاقِعاً فِي الْمُنَادیٰ
اوددې شرط يعنې شرط دترخيم دمنادی په اول تقديرباندې اوياشرط دترخيم چې کله واقع وي په منادی کې
عَلَی التَّقْدِيْرِ الثَّانِيْ اُمُوْرٌ اَرْبَعَةٌ ثَلَاثَةٌ مِنْهَا عَدَمِيَّةٌ وَ هُوَ اَنْ لاَّ يَکُوْنَ مُضَافاً حَقِيْقَةً اَوْ
په دويم تقديرباندې څلورامور دي دري ددې نه عدمي دي اوهغه دادې چې دامنادی مضاف نه وي نه حقيقتاً او
حُکْماً فَدَخَلَ فِيْهِ الْمُشَبَّهُ بِالْمُضَافِ اَيْضاً اِذْ لاَ يُمْکِنُ الْحَذْفُ مِنَ الْاَوَّلِ لِاَنَّهٗ لَيْسَ
نه حکماًنوداخل شوپه دې کې شبه مضاف همدارنګې ځکه چې نه دي ممکن حذف داول نه ځکه چې دانه دي آخري
آخِرَ اَجْزَاءِ الْمُنَادیٰ نَظَراً اِلَی الْمَعْنیٰ وَلاَ مِنَ الثَّانِيْ لِاَنَّهٗ لَيْسَ آخِرَ اَجْزَائِهٖ
جزدمنادی داجزاونه په نظرکولوسره معنی ته اونه دويم(مضاف اليه)ځکه چې دانه دي آخري جزدمنادی داجزاونه
نَظَراً اِلَی اللَّفْظِ فَامْتَنَعَ التَّرْخِيْمُ فِيْهِمَا بِالْکُلِّيَةِ وَ اَنْ لاَّ يَکُوْنَ مُسْتَغَاثاً لاَ مَجْرُوْراً بِاللاَّمِ
په نظرکولوسره لفظ ته نوممتنع دي ترخيم په دې دواړو کې بالکلية اوبل داچې دانه وي مستغاث مجرور باللام دوجې

لِعَدَمِ ظُهُوْرِ اَثَرِ النِّدَاءِ فِيْهِ مِنَ النَّصَبِ اَوِ الْبِنَاءِ فَلَمْ يَرِدْ عَلَيْهِ التَّرْخِيْمُ الَّذِيْ هُوَ مِنْ خَصَائِصِ
دعدم ظهور داثر د ندا ،نه په دې کې دنصب یادبنا ،نه نونه وارد یږي په دې باندې هغه ترخیم چې هغه دخصائصو د
الْمُنَادٰى وَلاَ مَفْتُوْحاً بِزِيَادَةِ الْاَلِفِ لِاَنَّ الزِّيَادَةَ تُنَافِي الْحَذْفَ وَ لَمْ يَذْكُرِ الْمَنْدُوْبَ
منادی نه وي اونه مفتوح وي په زیادت دالف سره خکه چې الف دامنافي دي دحذف سره اومندوب یې ذکرنه کړو
لِاَنَّهُ غَيْرُ دَاخِلٍ فِي الْمُنَادٰى عِنْدَهُ وَ مَا وَقَعَ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ فَكَاَنَّهُ
خکه چې دانه دی داخل په منادی کې دده په نزد اوهغه چې واقع دي په بعضو نسخو کې چې ولامندوبأ ذکردي نو ګویا
مِنْ تَصَرُّفِ النَّاسِخِيْنَ مَعَ اَنَّ وَجْهَ اِشْتِرَاطِهِ عِنْدَ دُخُوْلِهِ فِي الْمُنَادٰى ظَاهِرٌ وَ هُوَ
چې داد تصرف د ناسخینونه دي سره دد چې وجه داشتراط په وخت دد دخول دد په منادی باندې ظاهره ده اوهغه
اَنَّ الْاَغْلَبَ فِيْهِ زِيَادَةُ الْاَلِفِ فِيْ آخِرِهِ لِمَدِّ الصَّوْتِ اِظْهَاراً لِلتَّفَجُّعِ فَلاَ
داچې غالب په دې کې زیاتوالي دالف په آخر دمنادی کې دپاره داوږدوالي دآوازدي دپاره داظهار دجزع اوفزع نونه دي
يُنَاسِبُهُ التَّرْخِيْمُ لِلتَّخْفِيْفِ وَ اَنْ لاَّ يَكُوْنَ جُمْلَةً لِاَنَّ الْجُمْلَةَ مَحْكِيَّةٌ بِحَالِهَا
مناسب ترخیم دپاره دتخفیف اوبل داچې نه وي دامنادی جمله خکه چې جمله دخپل حال نه حکایت کوي نو لهذا
فَلاَ تُغَيَّرُ.
دانه شي متغیر کیدي.

خلاصه دمتن: صاحب دکافیې په دې عبارت کې دترخیم دمنادی شرائط ذکر کوي دترخیم دمنادی څلور شرطونه دي چې ددې نه دري عدمي اویو وجودي دي ، دري عدمي شرطونه دادي : (۱) منادی مضاف نه وي . (۲) منادی مستغاث باللام وبالالف نه وي . (۳) منادی جمله نه وي ، او وجودي شرط دادې چې په دوو خبرو کې یوه خبره موندل کیږي . (۱) منادی علم زائد علی الثلاثة وي . (۲) یادمنادی په آخر کې تاء دتانیث وي .

اغراض دجامي : اي شرط ترخيم المنادى: په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دمرجع دي که چیرته حذف وي نوبیا به د ترخیم دمنادی تعریف مقصود وي نو بیا دشرطه ضمیر مرجع هم ترخیم د منادی ده اوکه چیرته دمطلق ترخیم تعریف مقصود وي نو مرجع به هم مطلق ترخیم وي.

اذاكان واقعا: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دضمیر مرجع مطلق ترخیم جوړول صحیح نه دي خکه چې په شرطه سره مصنف کوم شرائط بیان کړي دي هغه دمطلق ترخیم نه دي بلکې دترخیم دمنادی دي

جواب : داشرط دمطلق دترخيم دي ليکن په شرط دا دي چې دامطلق ترخيم په منادى کې واقع وي

امور اربعة: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دامقام مقام دحصر دي مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته دحصر لفظ ذکر کول په کار وو ؟

جواب : شرطه مبتدا ده خبر محذوف دي کوم چې امور اربعة دي اودامفيد دحصر دي

ثلاثة منها: په دې عبارت سره غرض دشارح ددوه مقدره سوالونو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : شايد امور اربعة اوشرائط اربعة يوشان او على نمط واحد وي .

جواب : امور اربعة على نمط واحد نه دي بلکه په دې کې درې عدمي او يو وجودي دي .

سوال (۲) : دترخيم دشرائطو دوه قسمونه دي : عدمي ، وجودي ، وجودي اشرف من العدمي وي نو د شرط وجودي تقديم اولى وي،نو دلته مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ شرائط عدمي ولې مقدم کړل؟

جواب: عدمي شرائط زيات وو او قاعده داده چې العزة للتكاثر ، نوددې قاعدې ماتحت مو عدمي په وجودي باندې مخکې کړل .

حقيقتا اوحكماً: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا قاعده منقوضه اوماته ده په ياطالعا جبلاً سره ځکه چې دامضاف نه دي بلکه شبه مضاف دي په دې کې ترخيم جائزكيدل په کاروو ځکه چې په دې کې عدمي شرط ان لايكون مضافا موندل کيږي حالانکه په دې کې ترخيم جائز نه دي لکه څنګه چې په مضاف کې ترخيم نه جائز کيږي .

جواب : په ان لايكون مضافا کې تعميم دي برابره خبره ده که داحقيقي وي اوکه حکمي وي ، اوشبه مضاف اګرچې مضاف حقيقي نه دي ليکن مضاف حکمي دي .

اذ لايمكن: په دې سره غرض دشارح دشرط مذکور عدمي وجه بيانول دي چې منادى مضاف کې دترخيم دوه صورتونه دي : (۱) دمضاف په آخر کې به حذف کولې شي . (۲) يابه دمضاف اليه په آخر کې حذف کولې شي . (۱) که چيرته دمضاف په آخر کې حذف کولې شي نو په وسط دکلام کې به ترخيم لازم راشي ځکه چې مضاف مضاف اليه کې بالنظر الى المعنى کلمه واحده وي .(۲) اوکه چيرته دمضاف اليه په آخر کې حذف کولې شي نو په غير منادى کې به ترخيم لازم

راشي ځکه چې د مضاف مضاف اليه دلفظ په اعتبار سره دوه جدا جدا کلمې وي کله چې د مضاف په آخر کې هم نه شي حذف کولی اود مضاف اليه په آخر کې هم نه شي حذف کولی نو په مرکب اضافي کې بالکليه ترخيم منع اوناجائز دي .

وان لايكون مستغاثا : په دې کې بيان دترکيب دي ، دان او دلا اضافه يې وکړه دا يې ظاهره کړه چې د **مستغاثا** عطف په **مضافا** باندې دي اوهغه د **يكون** خبر دي نودا به هم د**يكون** خبر وي .

لامجرورا باللام : په دې کې بيان دتعميم دي ، دمنادی مستغاث کې تعميم دي برابره خبره ده چې مجرور باللام وي يامفتوح وي په زيادت دالف سره اوپه دواړو کې ترخيم نه شي کيدي .

لعدم ظهور اثر النداء : په دې عبارت سره په مستغاث باللام کې دترخيم دعدم جواز وجه بيانوي چې حاصل يې دادې چې دنداء اثر يانصب وي يا **بناء على الضم** وي نصب ددې وجې نه اثر دي چې منادی په حقيقت کې دادعو فعل مفعول به کيږي اوبناء ددې وجې نه اثر دي ځکه چې منادی دکاف حرفي مشابه دي اودا اثر نصب او**بناء على الضم** منادی مستغاث باللام کې نه ظاهريږي ځکه چې دامجرور وي لهذا دترخيم دمنادی دخصوصياتو نه ده نو په دې باندې نه وارديږي .

لان الزيادة تنافي الحذف : په دې سره دمستغاث بالالف کې ترخيم دعدم جواز وجه بيانوي منادی مستغاث بالالف کې مد صوت او دآواز اوږدوالي مطلوب اومقصود وي ځکه چې په آخر کې الف زياتولې شي اوپه ترخيم کې اختصار دمنادی مطلوب وي ددې وجې نه په آخر کې يو دوه حرفه حذف کولې شي نودزيادتي اوپه حذف کې منافاة دي ددې وجې نه منادی مستغاث بالالف کې ترخيم جائز نه دي .

ولم يذكر المندوب : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دترخيم دعدمي شرائطو نه يوشرط داهم دي چې دامندوب نه وي مصنف داولې ذکر نه کړو؟

جواب : چونکې دمصنف په نزد مندوب په منادی کې داخل نه دي ددې وجې نه يې مندوب ذکر نه کړو.

وما وقع : په دې عبارت سره غ س دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دکافيې په بعضو نسخو کې خو **ولا مندوبا** موجود دي .

جواب: شارح دجامي ددې دوه جوابه ورکړي دي

جواب (۱): دادناسخينو اودکاتبينو تصرف دي هغوي دغلطۍ نه ولامندوبا ليکلي دي.

جواب (۲): مَع ان وجه سره دويم حواب ورکړو چې که چيرته مندوب په منادی کې داخل ومنل شي نو بيا مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ دولامندوبا سره ددې نفي ددې وجې نه، نه ده کړي ځکه چې ددې وجه واضحه وه اوهغه داچې کوم علت دمستغاث بالالف وو هغه په همدې کې موجود دي چې منادی په مندوب کې د اظهار دتشجع دپاره ددې په آخر کې الف زيات کړو اوپه دې سره اوږدوالي دآواز مقصود وي اوحذف ددې منافي دي لهذا ترخيم به جائز نه وي ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ دولا مندوبا ويلو ضرورت محسوس نه کړو.

وان لايکون: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي ، د **جملةً** عطف په مضافا باندې دي.

لان الجملة: په دې عبارت سره غرض دشارح دمذکور شرط وجه بيانوي چې جمله کله علم وي نودا مبني وي اودخپل حال حکايت وي لهذا په دې کې څه قسم تغير حذف وقطع نه شي کيدي اونه ددې قصه **محکي عنها** باندې به دلالت فوت شي چې په دې سره به مقصود فوت شي اوپه ترخيم کې تغير اوحذف ضروري دي لهذا په جمله کې به ترخيم نه شي کيدي.

دمنادی دترخيم څلورم شرط:

وَالشَّرْطُ الرَّابِعُ اَحَدُ الْاَمْرَيْنِ الْوُجُوْدِيَّيْنِ وَهُوَ اَنْ يَّكُوْنَ الْمُنَادٰى اِمَّا عَلَماً زَائِداً عَلٰى ثَلَاثَةِ اَحْرُفٍ لِاَنَّهُ
اوڅلورم شرط يو ددې امرينووجودينونه هغه دادې چې منادی ياعلم وي اوزائدوي په درې حروفوباندې ځکه چې
لِعَلَمِيَّتِهٖ نَاسَبَهُ التَّخْفِيْفُ بِالتَّرْخِيْمِ لِكَثْرَةِ نِدَاءِ الْعَلَمِ مَعَ اَنَّهُ لِشُهْرَتِهٖ فِيْمَا
دوجې دعلميت نه مناسب دې ددې سره تخفيف دوجې دکثرت دعلم ندا نه دوجې دشهرت نه په هغه څه کې چې
اَبْقٰى مِنْهُ دَلِيْلٌ عَلٰى مَا اُلْقِيَ وَ لِزِيَادَتِهٖ عَلَى الثَّلَاثَةِ لَمْ يَلْزَمْ نَقْصُ الْاِسْمِ عَنْ اَقَلِّ اَبْنِيَةِ
باقي وي ددې نه دليل په هغه څه چې حذف کړي شوي وي اوياد وجې دزيادت نه په درې حروفو باندې نه لازميږي
الْمُعْرَبِ بِلاَ عِلَّةٍ مُوْجِبَةٍ وَ اِمَّا اِسْماً مُتَلَبِّساً بِتَاءِ التَّانِيْثِ وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَماً وَلاَ
ناقص کيدل داسم کم داوزانو دمعرب بې دعلت موجبه نه اويا اسم متلبس وي په تاء تانيث سره اګر که علم نه وي اونه
زَائِداً عَلَى الثَّلَاثَةِ لِاَنَّ وَضْعَ التَّاءِ عَلَى الزَّوَالِ فَيَكْفِيْهِ اَدْنٰى مُقْتَضٍ لِلسُّقُوْطِ
زائدوي په درې حروفوباندې ځکه چې وضع دتاء دزوال دپاره وي نوکافي کيږي ادنی مقتضی دپاره دسقوط نو

فَكَيْفَ إِذَا وَقَعَ مَوْقِعاً يَكْثُرُ فِيْهِ سُقُوْطُ الْحَرْفِ الْأَصْلِيِّ وَ لَمْ

ځنګه به وي چې كله تاء په داسې ځاې كې واقع وي چې زيات وي په هغه ځاې كې ساقطيدل د حرف اصلي او نشته

يُبَالُوْا بِبَقَاءِ نَحْو ثُبَةٍ وَ شَاةٍ بَعْدَ التَّرْخِيْمِ عَلٰى حَرْفَيْنِ لِأَنَّ بَقَاءَهُ كَذٰلِكَ لَيْسَ

څه باك په بقاء د مثل ثبة او شاة كې د پس ترخيم نه په دوه حرفونو باندې ځكه چې د دې بقاء همدا رنګې نه دې د

لِأَجْلِ التَّرْخِيْمِ بَلْ مَعَ التَّاءِ اَيْضاً كَانَ نَاقِصاً عَنْ ثَلَاثَةٍ إِذِ التَّاءُ كَلِمَةٌ اُخْرٰى بِرَأْسِهَا وَلَا يُرَخَّمُ

وجې د ترخيم نه بلكه سره د تاء هم ناقص دې د درې حروفونه ځكه چې تاء بله كلمه ده په خپله او ترخيم نه شي كيدې

لِغَيْرِ ضَرُوْرَةٍ مُنَادًى لَمْ يَسْتَوْفِ الشُّرُوْطَ الْمَذْكُوْرَةَ إِلَّا مَا شَذَّ نَحْوُ يَا صَاحِ فِيْ يَا صَاحِبُ

په غير د ضرورت د داسې منادى نه چې نه شي پوره كولې ذكر شوي شرطونه مګر كوم چې شاذ دي لكه يا صاح يا صاحب

وَ مَعَ شُذُوْذِهٖ فَالْوَجْهُ فِيْ تَرْخِيْمِهٖ كَثْرَةُ اِسْتِعْمَالِهٖ مُنَادًى.

كې او د شذوذ سره نو وجه په ترخيم د دې منادى كې هغه كثرت استعمال د منادى دي.

خلاصه د متن : د دې ځاې نه څلورم شرط يعنې وجودي شرط بيانوي چې په دوه خبرو كې يوه خبره و موندل شي يا د امنادى مرخم علم جوړ شي او د درې حروفو نه په زياتو باندې مشتمل وي يا د دې په آخر كې تاء د تانيث وي .

اغراض د جامي : <u>لانه لعلميته ناسبه التخفيف</u> : د علميت د شرط لږولو وجه بيانوي چې د علميت شرط يې د دې وجې نه ولږول چې د علم ندا ډيره كيږي او كثرت تقاضا كوي د تخفيف، ځكه چې د آخر نه ترخيم وكړو او تخفيف په كې وكړو همدا رنګې د علم د شهرت د وجې نه چې كومه حصه د دې باقي ده هغه د دې په حذف شوي حصه باندې به دلالت كوي .

<u>ولزيادته على الثلاثة</u> : په دې عبارت سره غرض د شارح د زائد على الثلاثة د شرط وجه بيانوي چې دا شرط يې د دې وجې نه ولږول چې د كوم علت موجبه نه په غير د اسم معرب د اوزانو نه په كم ترين وزن نه هم كم تر وزن باندې كيدل لازم رانه شي (يعنې د درې حروفونه په كمو حروفو باندې كيدل لازم رانه شي).

فائده : بلا علة موجبة قيد يې د دې وجې نه ولږول چې د دې د پاره چې عصا يد دم وغيره ترې خارج شي ځكه چې په دې كې نقص د علت موجبه د وجې نه دې .

<u>اسما</u>: په دې كې بيان د تركيب دې چې بتاء التانيث ظرف مستقر معلبسا متعلق صفت شو د موصوف محذوف اسما يعنې اګرچه منادى علم نه وي يا علم وي ليكن زائد على الثلاثة نه

وي نو بیا شرط دادي چې داد تاء تانیث سره متلبس وي .

لان وضع التاء علی الزوال : په دې عبارت سره دشرط مذکور وجه بیانوي چې دتاء وضع دزوال او سقوط دپاره ده لهذا ددې دساقطیدو دپاره ادنی مقتضی کافي دي یعنې دتاء دغورزولو د پاره بهانې جوړوي په بعضې ځایونو کې په داسې ځای کې واقع وي چې چیرته حروف اصلي هم غورزیږي پس دترخیم د وجې نه تاء هم ساقطیږي خلاصه داده چې دمنادی دآخر نه حرف اصلي په کثرت سره ساقطیږي اوهغه تاء چې دهغې وضع په زوال باندې وي نو هغه خو به په طریقِ اولی سره ساقطیږي .

ولم یبالوا : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د تاء تانیث په صورت کې چې کله زائد علی الثلاثة حروفو والا شرط نه وي نو یاثبة او یا شاة کې د ترخیم نه پس اسم معرب په کم وزن (دري حروف) باندې باقي نه وي بلکه دوه حروف پاتې کیږي مثل یا شاة کې یاشا ویلي شي .

جواب : دثبة اوشاة دترخیم نه پس په دوه حروفو باندې باقي پاتې کیدل دترخیم دوجې نه ،نه دي بلکې دترخیم نه مخکې دتاء سره هم په دوه حرفونو باندې وو ځکه چې تاء جدا مستقله کلمه ده .

ولا یرخم : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : یاصاحب کې ترخیم نه پس یاصاح ویلي شي حالانکه په دې کې وجودي شرط یعنې احدالامرین نه یوهم نه موندل کیږي نه په آخر کې تاء تانیث دي نه علم دي اګرچې زائد علی الثلاثه دي لیکن زائد علی الثلاثة په غیر دعلم نه معتبر نه وي .

جواب : جواب دادي چې په یاصاحب کې ترخیم شاذ اوخلاف قانون دي .

ومع شذوذه : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دشذوذ دوه قسمه دي : (۱) شذوذ مع الداعي . (۲) شذوذ من غیر الداعي ، دلته کوم یو مراد دي ؟

جواب : دلته شذوذ مع الداعي مراد دي او داعي په دې منادی کې کثیر الاستعمال کیدل دي .

په ترخيم د منادی کې د محذوف د کميت ذکر :

وَ لَمَّا فَرَغَ مِنْ بَيَانِ شَرَائِطِ التَّرْخِيْمِ شَرَعَ فِيْ بَيَانِ كَمِّيَّةِ الْمَحْذُوْفِ بِسَبَبِهِ

اوکله چې فارغ شو مصنف د بيان د شرائطو د ترخيم نه نو شروع يې وکړه په بيان د کميت د محذوف کې په سبب

فَقَالَ فَإِنْ كَانَ فِيْ آخِرِهِ أَيْ آخِرِ الْمُنَادٰى زِيَادَتَانِ كَائِنَتَانِ فِيْ حُكْمِ الزِّيَادَةِ الْوَاحِدَةِ

د دې کې نو وې ويل چې که چيرته د دې په آخر کې يعنې په آخر د منادی کې دوه زيادات چې کائن وو په حکم د يو زيادت

فِيْ أَنَّهُمَا زِيْدَتَا مَعًا وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ ثَمَانِيَةٍ وَ مَرْجَانَةٍ فَإِنَّ الْيَاءَ وَ

کې وي په دې خبره چې دا دواړه زيات شوي يو ځاې او په دې سره يې احترازو کړو د ثمانية او مرجانة نه ځکه چې يا او

النُّوْنَ فِيْهِمَا زِيْدَتَا أَوَّلًا ثُمَّ زِيْدَتْ تَاءُ التَّأْنِيْثِ فَلَمْ يُحْذَفْ مِنْهُمَا إِلَّا الْأَخِيْرُ كَأَسْمَاءَ

نون په دې دواړو کې زيات شوي اولاً بيا زيات شوي تا د تانيث نو حذف نه شو د دې دواړو نه مګر آخري لکه اسماء

إِذَا جَعَلْتَهَا فَعْلَاءَ مِنَ الْوَسَامَةِ أَيِ الْحُسْنِ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ سِيْبَوَيْهِ لَا

په هغه وخت کې چې ته وګرځوې فعلاء د وسامة نه يعنې په معنی د حسن سره لکه دا مذهب د امام سيبويه دی نه

أَفْعَالًا جَمْعَ اِسْمٍ عَلٰى مَا هُوَ مَذْهَبُ غَيْرِهٖ لِأَنَّهُ يَكُوْنُ حِيْنَئِذٍ مِنْ بَابِ عَمَّارٍ وَ

د افعالا په وزن د ااسم جمع ده په هغه مذهب چې د سيبويه نه غير دی ځکه چې وي په دې وخت کې د باب د عمار او

مَرْوَانَ أَوْ كَانَ فِيْ آخِرِهٖ حَرْفٌ صَحِيْحٌ أَيْ صَحِيْحٌ أَصْلِيٌّ لِتَبَادُرِهٖ إِلَى الذِّهْنِ لِأَنَّ

مروان يا وي په آخر د دې کې حرف صحيح يعنې صحيح اصلي چې د وجې د منتقل کيدو نه ذهن طرف ته ځکه چې

الْغَالِبَ فِي الْحَرْفِ الصَّحِيْحِ الْأَصَالَةُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ نَحْوُ سَعْلَاةٍ لِأَنَّهُ لَا يُحْذَفُ مِنْهُ إِلَّا التَّاءُ وَهُوَ

غالب په حرف صحيح کې اصل کيدل دي نو وخي د دې نه د سعلاة مثال ځکه چې نه حذف کيږي د دې نه مګر تاء او دا

أَعَمُّ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ حَقِيْقَةً أَوْ حُكْمًا فَيَشْمُلُ مِثْلَ مَرْمِيٍّ وَ مَدْعُوٍّ فَإِنَّ الْحَرْفَ الْأَخِيْرَ مِنْهُمَا فِيْ حُكْمِ

عام دی د دې نه چې حقيقةً وي او يا حکماً نو دا شامليږي مرمي او مدعو مثال ته ځکه چې حرف آخر د دې نه په حکم د

الصَّحِيْحِ فِي الْأَصَالَةِ قَبْلَهُ مَدَّةٌ أَيْ أَلِفٌ أَوْ وَاوٌ أَوْ يَاءٌ سَاكِنَةٌ حَرَكَةُ مَاقَبْلَهَا مِنْ جِنْسِهَا

صحيح کې دي په اصل والي کې مخکې د دې نه مده وي يعنې الف يا واو يا ياء ساکنه وي او ماقبل حرکت د دې د جنس

وَالْمُرَادُ بِهَا الْمَدَّةُ الزَّائِدَةُ لِتَبَادُرِهَا إِلَى الذِّهْنِ لِغَلَبَتِهَا وَ كَثْرَتِهَا فَيَخْرُجُ

نه وي او مراد په دې ځاې کې مده زائده ده چې د امتبادر الى الذهن دي د وجې د غلبې او د ډير واقع کيدو نه نو خارجيږي

مِنْهُ نَحْوُ مُخْتَارٍ فَإِنَّهُ لَا يُحْذَفُ مِنْهُ إِلَّا الْحَرْفُ الْأَخِيْرُ وَ هُوَ أَيْ وَ الْحَالُ أَنَّ فِيْ آخِرِهٖ

د دې نه مختار مثال ځکه چې د دې نه ، نه حذف کيږي مګر آخرني حرف او هغه يعنې حال دا چې په آخر د دې کې

حَرْفًا صَحِيْحًا قَبْلَهُ مَدَّةٌ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعَةٍ مِنَ الْحُرُوْفِ كَمَنْصُوْرٍ وَعَمَّارٍ وَمِسْكِيْنٍ لِئَلَّا يَلْزَمَ

حرف صحيح وي او مخکې د دې نه مده وي او زيات وي د څلورو حروفو نه لکه منصور ، عمار ، مسکين ځکه چې لازم نه

مِنْ حَذْفِ حَرْفَيْنِ مِنْهُ عَدَمُ بَقَائِهِ عَلَى اَقَلِّ اَبْنِيَةِ الْمُعْرَبِ وَاِنَّمَا لَمْ يَأْخُذْ هٰذَا الْقَيْدَ فِيْ
شي دحذف ددوه حرفينو ددې نه عدم بقاء په کم بناء دمعرب باندې اوپه تحقيق سره نه دې اخستې داقيد په دې
قَوْلِهٖ زِيَادَتَانِ فِيْ حُكْمِ الْوَاحِدَةِ لِاَنَّ نَحْوَ ثُبُوْنَ وَ قُلُوْنَ يُرَخَّمُ بِحَذْفِ
قول د مصنف کې چې زيادتان في حکم الواحدة کې خکه چې په ثبون او قلون مثال کې ترخيم کولې شي په حذف کولو
زِيَادَتَيْهِ لِاَنَّ بَقَاءَ الْكَلِمَةِ فِيْهِ عَلٰى حَرْفَيْنِ لَيْسَ لِلتَّرْخِيْمِ حُذِفَتَا
دزياتي حروفو سره خکه چې بقاء دکلمې په دې کې په دوه حرفونوسره نه ده دپاره دترخيم، حذف کولې به شي
اَیْ الْحَرْفَانِ الْاٰخِرَانِ فِيْ كِلَا الْقِسْمَيْنِ اَمَّا فِي الْاَوَّلِ فَلَمَّا كَانَتَا فِيْ حُكْمِ الْوَاحِدَةِ فَكَمَا زِيْدَتَا
يعنې دواړه آخري حروف په دواړو قسمونو کې هرچې په اول کې نو دواړه په حکم ديو کيدودوجې نه لکه زيادت
مَعًا حُذِفَتَا مَعًا وَ اَمَّا فِي الثَّانِيْ فَلِاَنَّهٗ لَمَّا حُذِفَ الْاٰخِرُ مَعَ صِحَّتِهٖ وَ اَصَالَتِهٖ
وشويوځای اوحذف شويوځای اوهرچې په دويم کې نوخکه چې کله آخري حرف سره دصحت اوداصل کيدونه
حُذِفَتِ الْمَدَّةُ الزَّائِدَةُ لِئَلَّا يَرِدَ الْمَثَلُ السَّائِرُ صُلْتَ عَلَى
حذف کړې شو نو مده زائده به هم حذف کولې شي ددې دپاره صادقه نه شي هغه محاوره چې تاپه زمري باندې
الْاَسَدِ وَ بُلْتَ عَنِ النَّقَدِ.
حمله وکړه او چيلئ دويرې نه متيازې وکړې .

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې ددې ځای نه په ترخيم کې دحروفو دحذف مقدار بيانوي که چيرته د منادی په آخر کې داسې دوه حروف زيات وي ديوسره دزياتيدو دوجې نه ديو زياتي په حکم کې وي يا ددې په آخر کې حرف صحيح وي دهغې ماقبل مده زائده وي اوهغه دڅلورو حروفو نه زائد وي نوپه دې دواړو صورتونو کې په وقت دترخيم کې دآخر نه دوه حروف به حذف کولې شي دزيادة واحده مثال اسماء اومروان اودمده زائدې مثال منصور وغيره .

اغراض دجامي : ولما فرغ: دادمابعد دپاره تمهيد دې چې کله مصنف دترخيم دشرائطو د بيانيدو نه فارغ شو نو دترخيم دسبب نه دمحذوف مقدار بيانوي .

ای آخر المنادی: په دې سره غرض دشارح په آخره کې د هٖ ضمير مرجع بيانول دې چې د هٖ ضمير مرجع آخر المنادی ده .

کائنتان: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دې چې في حکم الواحدة ظرف مستقرد کائنتان متعلق شو دزيادتان صفت دې .

الزيادة: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دې چې الواحدة صفت دې دموصوف

محذوف الزيادة دپاره

في انهما: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دوه زيادات ديو زيادتې په حکم کې په کوم اعتبار سره وي ؟

جواب: دوه زيادات ديو زيادت په حکم کې په دې اعتبارسره وي چې لکه څنګه چې حرف واحد په يو کرت سره زياتولې شي همدارنګې دادوه حروف هم په يوځاې باندې زياتيدي شي

واحترز: په دې عبارت سره غرض دشارح في حکم الواحدة دقيد فائدې بيانوي چې داقيد احترازي دي په دې سره دثمانية اودمرجانة مثال نه احتراز دي څکه چې په ثمانية کې مخکې ياء زياته کړې شوه بيا تاء زياته کړې شوه اوپه مرجانة کې اول نون زيات کړې شو او بيا تاء دتانيث لهذا دا دوه زيادتيانې ديو زيادت په حکم کې نه دي .

کاسماء: په دې عبارت سره غرض دشارح توضيح دمثال دي ، مصنف دزيادتان في حکم زيادة واحدة دمثال بيان وکړو په اسماء سره شارح ددې وضاحت کوي چې دامثال په هغه وخت کې دي چې کله اسماء د فعلاء په وزن باندې وي داپه اصل کې وسماء وو اودامـاخوذ دي دوسامة نه چې ددې معنی ده حسن او داد سيبويه مذهب دي چې ددې حاصل دادې چه اسم په اصل کې وسم وو واو مو خلاف قياس په همزې سره بدل کړو نو اسم شو ، دسيبويه نه غير دنورو نحويانو مذهب دادې چې اسماءٌ په وزن دافعالٌ دي په اصل کې اسماوٌ وو واحد اسمٌ دي چې په اصل کې سمو وو ددې مذهب مطابق اسماءٌ زيادتان کائنتان في حکم الزيادة الواحدة مثال نه جوړيږي بلکه دابه دباب دعمار نه شي دباب عمار مطلب دادې چې دابه ددې قاعدې په دويم شق اوکان في آخره حرف صحيح قبله مدة کې داخل شي څکه چې ددې په آخر کې حرف صحيح ماقبل مده زائده ده .

اوکان في آخره: ددې عبارت اضافه يې وکړه شارح دجامې دابيانوي چې د حرف صحيح عطف په مخکې زيادتان باندې دې .

اى صحيح اصلي: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: ستا قاعده منقوضه اوماته ده په سعلاة باندې څکه چې ددې په آخر کې حرف صحيح دي چې ددې نه مخکې مده ده ددې باوجود په وخت دترخيم کې ددې دآخر نه دوه حرفه نه شي

حذف کولې بلکې يو حرف حذف کولې شي

جواب: د حرف صحيح نه مراد مطلق حرف صحيح نه دي بلکه حرف صحيح اصلي مراد دي ځکه چې د صحيح نه متبادر الی الذهن اصلي مراد وي د دې وجه داده چې حرف صحيح غالباً اصلي وي لکه حرف علت غالباً زائده وي لهذا سعلاة وغيره سره نقض نه واردېږي ځکه چې د دې تاء اصلي نه ده بلکې زائده ده.

وهو اعم: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا قاعده منقوضه ده په مدعو او مرمي سره ځکه چې په وخت د ترخيم کې د دې آخر نه دوه حرفه حذف کولې شي حالانکه د دې په آخر کې حرف صحيح نه دي بلکه حرف علت دي.

جواب: په حرف صحيح کې تعميم دي برابره خبره ده که حقيقي وي او يا حکمي او د دې په آخر کې اګر چې حرف صحيح حقيقي نه وي ليکن حرف صحيح حکمي موجود دي ځکه چې دا د اصلي کېدو دوجې نه د حرف صحيح په حکم کې دي.

اي الف او ياء: په دې عبارت سره غرض د شارح د مدې تعريف کوي چې مده هغه الف يا واو يا ياء ته ويلې شي کوم چې ساکن وي او د دې ماقبل حرکت د دې د جنس نه وي يعنې که چېرته واو وونو ماقبل مضموم او که چېرته ياء وي نو ماقبل به مکسور وي او که چېرته الف وي نو ماقبل به مفتوح وي.

والمراد بها: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا قاعده منقوضه ده په مختارٌ سره ځکه چې د دې په آخر کې حرف صحيح دي چې د دې نه مخکې مده ده د دې باوجود په وخت د ترخيم کې دوه حرفه نه شي حذف کولې بلکې يو حرف راء حذف کولې شي.

جواب: د مدې نه مراد مده زائده ده ځکه چې همدا متبادر الی الذهن دي ځکه چې مده زائده همدا غالب او کثير الاستعمال دي لهذا مختارٌ وغيره به ترې خارج شي ځکه چې د دې په آخر کې ماقبل مده زائده نه ده بلکه مده غير زائده ده ځکه چې مختار په اصل کې مُختَيِرٌ وو.

وهو اي والحال: په دې سره غرض د شارح بيان د ترکيب دي چې وهو اکثر من اربعة جمله حاليه ده دا حال دي د آخره د ضمير مجرور نه مقصد د عبارت دا دې چې هغه اسم چې د هغې په آخر کې

حرف صحيح وي او ددې ماقبل مده وي اوهغه دڅلورو حروفو نه زيات هم وي لکه عمار ، منصور ، مسکين نو د ترخيم په وخت کې د داسې اسم د آخر نه دوه حرفه به حذف کولې شي .

لئلا يلزم : په دې عبارت سره د شرط مذکور وجه بيانوي چې داشرط يې ددې وجې نه ولږول چې د دوه حروفو د حذف نه پس د کلمې اسم معرب په اقل وزن يعنې د دري حروفو نه کم کيدو باندې لازم رانه شي .

والمانم يأخذ : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مصنف ته په کار وه چې اوله قاعده په دې قيد وهو اکثر من اربعة احرف سره مقيد کولې ددې د پاره چې هلته هم د دوه حرفونو د حذف نه د کلمې اسم معرب په اقل وزن يعنې د دري حروفونه په کم باندې باقي پاتې کيدل لازم رانه شي مصنف رَحِمَهُ اللهُ داسې ولې ونه کړو ؟

جواب : که چيرته مصنف اوله قاعده هم دې قيد سره مقيده کړي وي نو ثبون اوقلون به داولې قاعدې نه خارجيدو ددې وجې نه چې داڅلورو حروفو نه زيات نه دي حالانکې داپه اوله قاعده کې داخل دي .

لان بقاء : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : که چيرته دقيد دنه لږولو دوجې نه ثبون اوقلون داخلول دي نو بيابه هماغه خرابي لازم راځي د کوم نه چې مونږ ته بچ کيدل په کاروو يعنې دثبون اودقلون د دري حروفو نه کم کيدل لازم راځي .

جواب : ددې دري حروفو نه کم کيدل دترخيم دوجې نه ، نه دي بلکه دادترخيم نه مخکې همدا دوه حروف دي ځکه چې ددې په آخر کې واو اونون زائده دي او د **ثبة قلة تاء** مستقله اوجدا کلمه ده .

اى الحرفان الاخيران : په دې عبارت سره غرض دشارح دا واضح کول دي چې د حذفتا دالف ضمير مرجع **الحرفان الاخيران** ته راجع دي .

في كلا القسمين : په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دصِلې دي ، د **حذفتا** دصِلې بيان دي .

اما في الاول : په دې عبارت سره غرض دشارح په دواړو قسمونو کې د منادی د آخر نه دوو حرفونو د حذف کولو وجه بيانوي چې حاصل يې دادې چې په اول قسم کې به دوه حرفه حذف

کولې شي چې دا دواړه زیادتیانې دیو زیادت په حکم کې دي نو لهذا لکه څنګه چې دادواړه یوځاې زیاتې شوي دي نو همدارنګې به یوځاې حذف کولې شي ددې دپاره چې **جدائی میان یاران خطاء است** ، ددوستانو په مینځ کې جدائي راوستل ګناه ده ، لازم رانه شي ، اوپه دویم قسم کې ددې وجې نه چې کله آخري حرف باوجود د صحیح کیدو حذف کړو نو ددې سره به مده هم حذف کولې شي ددې دپاره چې مشهور مثال صادق رانه شي چې : **صلت علی الاسد وبلت عن النقد** ، چې په زمرې باندې تا حمله وکړه او چیلې چې کله دا ولیده نو دویرې نه یې مُتیازې وکړې .

دمرکب کیدو په صورت کې د ترخیم مقدار :

وَ اِنْ کَانَ مُرَکَّباً وَ یُعْلَمُ مِنْ بَیَانِ شَرْطِ التَّرْخِیْمِ اَنَّهُ لاَ یَکُوْنُ مُضَافاً وَ لاَ جُمْلَةً مِثْلُ بَعْلَبَکَّ
اوکه چیرته مرکب وي اومعلومیږي دبیان دشرائطودترخیم نه چې دامنادی به نه وي مضاف اونه جمله لکه بعلبک
وَ خَمْسَةَ عَشَرَ عَلَمَیْنِ حُذِفَ الْاِسْمُ الْاَخِیْرُ فَیُقَالُ فِيْ بَعْلَبَکَّ یَا بَعْلَ وَ فِيْ خَمْسَةَ عَشَرَ
اوخمسة عشرچې دادواړه علم وي نوحذف کولې به شي آخرنې اسم نوویلې به شي په بعلبک کې بعل اوپه خمسة عشر
یَا خَمْسَةَ لِتُنْزِلِهٖ مَنْزِلَةَ تَاءِ التَّانِیْثِ فِيْ کَوْنِ کُلٍّ مِنْهُمَا کَلِمَةً عَلٰی حِدَةٍ صَارَتْ
کې یاخمسة دوجې دواقع کیدونه په ځاې دتاء تانیث کې په کیدودهریوددې دواړونه کلمه جدانوداوګرځیده په
بِمَنْزِلَةِ الْجُزْءِ وَاِنْ کَانَ غَیْرَ ذٰلِکَ الْمَذْکُوْرِ مِنَ الْاَقْسَامِ الثَّلاَثَةِ فَحَرْفٌ وَاحِدٌ اَیْ فَیُحْذَفُ حَرْفٌ وَاحِدٌ
منزله دجزء اوکه چیرته غیرددې مذکوردرې اقسامونه وي نویوحرف دي یعنې یوحرف به حذف کولې شي د
لِحُصُوْلِ الْفَائِدَةِ الْمَقْصُوْدَةِ وَ عَدَمِ مُوْجِبِ حَذْفِ الْاَکْثَرِ نَحْوُ یَا حَارِ وَ یَا مَالِ فِيْ یَا حَارِثُ وَ
وجې دحصول دمقصودې فائدې نه اودیونه دزیات حذف دعدم موجب دوجې نه لکه یاحاراویامال په یاحارث او
یَا مَالِکُ .
یامالک کې .

خلاصه دمتن : که چیرته منادی مرخم مرکب وي نوددې آخري اسم به مکمل حذف کولې شي لکه د **بعلبک** نه **بعل** ، اوکه چیرته منادی دمذکوره درې قسمونو نه یوقسم هم نه وو یعنې نه ددې په آخر کې دوه زیادتیانې دیوزیادت په حکم کې وي ، اونه حرف صحیح وي چې ددې نه مخکې مده وي ، نه منادی مرکب وي نو په وخت دترخیم کې به یوحرف حذف کولې شي ځکه چې په دې صورت کې دیو حرف په حذف کولو سره فائدې مقصودې چې تخفیف دي

حاصليږي نو ديو حرف نه زيات دحذف دپاره کوم موجب نشته لهذا فقط يو حرف به حذف کولې شي اوپه ياحارث کې ياحار اوپه يامالک کې به يا مال ويلي شي

اغراض دجامي : وان کان مركبا ويعلم منه: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دمصنف په عبارت کې مرکب عام دي مرکب اضافي اوجمله، مرکب اسنادي، دواړو ته شامل دي نو دمصنف په عبارت کې تناقض لازم راځي ځکه چې مخکې دمصنف قول وان لايكون مضافا ولاجملة نه منادى مضاف اوپه جمله کې دترخيم عدم جواز معلوميږي اودې قول نه منادى مضاف او په جمله کې دترخيم جواز معلوميږي

جواب : دمرکب نه مراد هغه مرکب دې چې دجملې اودمرکب اضافي نه غيروي ځکه چې مخکې د ترخيم په شرائطو کې ددې دواړو نفي شوي ده

لنزوله منزلة التاء: په دې عبارت سره دمرکب ددويم جزء دحذف کولو وجه بيانوي چې حاصل يې دادې چې که چيرته منادى مرکب وي نوپه وخت دترخيم کې به آخري اسم حذف کولې شي چنانچه په بعلبک کې دترخيم نه پس بعل اوپه خسة عشر کې دترخيم نه پس ياخسة ويلي شي ځکه چې آخرني اسم مستقل اوجدا کلمه کيدو په اعتبار سره په منزله دتاء تانيث دي نولکه څنګه چې په وخت دترخيم کې تاء حذف کولې شي همدارنګې آخرني اسم به هم حذف کولې شي.

المذکور: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : داسم اشارې اودمشاراليه په مينځ کې مطابقت نشته اسم اشاره مفرد ده اومشاراليه اقسام ثلاثة دي.

جواب : اقسام ثلاثه دمذکور په تاويل کې دي اودامفرد دي لهذا داسم اشارې اودمشاراليه په مينځ کې مطابقت موجود دي

فيحذف: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : دمصنف قول وان کان غير ذلک داشرط دې اوفحرف واحد دا جزا ده حالانکه ددې جزا جوړول صحيح نه دي ځکه چې جزا جمله وي اودا جمله نه ده.

جواب: حرف واحد نائب فاعل دي دفعل محذوف کوم چې يحذف دي فعل دخپل فاعل سره يوځاې شو جمله شوه اوجزا شوه دپاره دشرط لهذا اشکال کول صحيح نه دي.

دمنادی مرخم اعراب:

وَ هُوَ اَىْ الْمُنَادَى الْمُرَخَّمُ فِيْ حُكْمِ الْمُنَادَى الثَّابِتِ بِجَمِيْعِ اَجْزَائِهٖ فَيَبْقَى الْحَرْفُ الَّذِيْ صَارَ

اودا يعني منادی مرخم په حکم دمنادی ثابت کې دي په ټولو اجزاوکې نوباقي پاتې شوهغه حرف چې ګرځيدلی

آخِرَ الْكَلِمَةِ بَعْدَ التَّرْخِيْمِ عَلٰى مَا كَانَ عَلَيْهِ قَبْلَهٗ عَلَى الْاِسْتِعْمَالِ الْاَكْثَرِ فَيُقَالُ فِيْ

وي آخردکلمې پس دترخيم نه په کوم باندې چې دامخکې وو په اکثراستعمال باندې پس ويلې به شي په ياحارث

يَا حَارِثُ يَا حَارِ بِكَسْرِ الرَّاءِ عَلٰى مَا كَانَ قَبْلَ التَّرْخِيْمِ وَ فِيْ يَا ثَمُوْدُ يَا ثَمُوْ بِوَاوٍ مُتَطَرِّفَةٍ

کې ياحارِ په کسرې دراسره بناء په هغه څه چې مخکې دترخيم نه وواوپه ياثمودکې ياثموپه هغه واوسره چې په طرف

بَعْدَ ضَمَّةٍ وَ فِيْ يَا كَرَوَانُ يَا كَرَوَ بِوَاوٍ مُتَحَرِّكَةٍ بَعْدَ فَتْحَةٍ وَ قَدْ يُجْعَلُ قَدْ

کې واقع دي پس دضمې نه اوپه ياکروان کې ياکروپه واومتحرک سره پس دفتحې نه اوکله کله ګرځولی شي قد

لِلتَّقْلِيْلِ اَىْ وَ يُجْعَلُ الْمُنَادَى الْمُرَخَّمُ عَلَى الْاِسْتِعْمَالِ الْاَقَلِّ اِسْماً بِرَاْسِهٖ كَاَنَّهٗ لَمْ يُحْذَفْ

دپاره دتقليل يعني ګرځولی شي منادی مرخمه په کم استعمال باندې مستقل اسم ګوياچې نه وي حذف شوي

مِنْهُ شَيْءٌ فَيَكُوْنُ لَهٗ فِيْ بِنَائِهٖ وَ اِعْلَالِهٖ وَ تَصْحِيْحِهٖ حُكْمُ نَفْسِهٖ لَا حُكْمُ الْاَصْلِ فَيُقَالُ

ددې نه څه څيزنووي به ددې دپاره په بناءاوپه اعلال کې اوپه تصحيح کې خپل مستقل حکم نه داصل حکم پس ويلی

يَا حَارُ بِالضَّمِّ كَاَنَّهٗ اِسْمٌ مُفْرَدٌ مَعْرِفَةٌ بِرَاْسِهٖ فَيُضَمُّ وَ يَا ثَمِيْ لِاَنَّهٗ لَمَّا جُعِلَ

به شي ياحارُ په ضمې سره ګوياچې دامستقل اسم مفرد معرفه دي نوداضمه ورکوي اوياثمي ځکه چې کله وګرځول

ثَمُوْ اِسْماً بِرَاْسِهٖ صَارَتِ الْوَاوُ طَرَفاً بَعْدَ ضَمَّةٍ فَلَا جَرَمَ قُلِبَتِ الْوَاوُ يَاءً وَ كُسِرَ مَا قَبْلَهَا

ياثمومستقل اسم نوو ګرځيدواوپه طرف کې پس دضمې نوخامخابدلولی به شي واوپه ياء سره اوماقبل ته به کسره

كَاَدْلٍ فِيْ اَدْلُوٍ وَ يَا كَرَا لِاَنَّهٗ لَمَّا جُعِلَ اِسْماً بِرَاْسِهٖ اِرْتَفَعَ الْاِعْلَالُ وَ هُوَ

ورکولی شي لکه ادلٍ په ادلوکې اوياکرا ځکه چې کله کرومستقل اسم جوړشونودتعليل مانع ختم شواوهغه مانع

وُقُوْعُ السَّاكِنِ بَعْدَ الْوَاوِ فَانْقَلَبَتِ الْوَاوُ اَلِفاً لِتَحَرُّكِهَا وَ انْفِتَاحِ مَا قَبْلَهَا.

دواونه پس دساکن واقع کيدل وو پس واودمتحرک کيدواو: ماقبل مفتوح کيدودوجې نه په الف سره بدل شو.

خلاصه دمتن: صاحب د کافيې په دې عبارت کې د منادی مرخم د اعراب بيان کوي:

(۱): د منادی مرخم داعراب په باره کې دوه استعماله دي: (۱) په اکثر استعمال کې منادی مرخم د هغه منادی په حکم کې کولی شي کوم چې ثابت په ټولو اجزاو سره وي ګويا چې ددې

دآخر نه څه د سره حذف شوي نه دي لهذا هغه حرف چې د ترخيم نه پس د کلمې آخر جوړ شو هغه په هماغه حرکت باندې پريخودلې شي په کوم حرکت باندې چې هغه مخکې د ترخيم نه وو پس په ياحارث کې ياحار په کسرې د راء سره به ويلي شي لکه څنګه چې د ترخيم نه مخکې کسره وه اوپه ياثمود کې ياثمو ويلي شي يعنې واو کوم چې په طرف کې واقع کيږي پس دضمې نه دا په ياء سره نه شي بدلولې بلکې په خپل حال به پريخودلې شي لکه څنګه چې د ترخيم نه مخکې وو اوپه ياکروان کې ياکرو دفتحې نه پس واو متحرکه سره ويلي شي لکه څنګه چې د ترخيم نه مخکې وو ګوياچې ددې نه پس الف اونون موجود دي نو د قال والا قانون ماتحت به واو په الف سره نه شي بدلولې.

(۲) : اوپه قليل استعمال کې کله هم منادى مستقل اسم جوړولې شي اوپه دې باندې د مستقل منادى حکم جاري کيږي لهذا ددې په مبني کيدو او اعلال اوتصحيح کې ددې دخپل ذات حکم به وي داصل حکم به نه وي يعنې د ترخيم نه پس ددې په آخر کې چې کوم حرف دي اګرچې هغه دبناء مقتضى دي نو هغه به مبني جوړولې شي اوکه چيرته د اعلال مقتضي وي نو تعليل به کولې شي اوکه چيرته د اعلال مقتضي نه وي نو تعليل به نه شي کولې لهذا په ياحارث کې ياحارُ په ضمې د راء سره به ويلي شي ځکه چې کله دا مستقل اسم جوړ شو نوپه دې باندې به د مستقل اسم حکم جاري وي چونکې دا مفرد معرفه دي او مفرد معرفه مبني په ضمې باندې وي لهذا دا به مبني په ضمې وي اوپه ياثمود کې به ياثمي ويلي شي ځکه چې کله دا مستقل اسم جوړ کړي شو نو واو په طرف کې دضمې نه پس واقع شو نو دا موپه ياء سره بدل کړو بيا د ياء د مناسبت دوجې نه دماقبل ضمه په کسرې سره بدله کړه نو ثمي شو لکه څنګه چې ادلٍ په اصل کې ادلو وو واو په طرف کې دضمې نه پس واقع شو نو واو يې په ياء سره بدل کړو نو ادلي شو بيا دياء دمناسبت دوجې نه دماقبل ضمه په کسرې سره بدله کړه نو ادلي شو په ياء باندې ضمه ثقيله وه نو دامو وغورزوله ادلين شو بيا التقاء دساکنينو راغله دياء اودتنوين په مينځ کې ياء مو حذف کړه ادلٍ شو اوپه ياکروان کې به ياکرا ويلي شي ځکه چې کله دا مستقل اسم جوړ شو نو کوم څيز چې د تعليل نه مانع وو هغه مرتفع شو هغه مانع دا دې چې کله واو نه پس ساکن واقع وي نو هلته به د قال والا قانون نه شي جاري کولې لهذا د واو متحرک او د ماقبل مفتوح

کیدو دوجې نه واو په الف سره بدل کړې شو نو یاکرا شو

اغراض دجامي : **وهو ای المنادی** : په دې عبارت سره غرض دشارح د هُوَ ضمیر مرجع ظاهرول وو چې د هُوَ ضمیر مرجع المنادی ده

في حکم المنادی : د المنادی لفظ یې مقدر کړو شارح اشاره کوي چې **الثابت** صیغه دصفت ده ددې موصوف **المنادی** محذوف ده

بجمیع اجزائه : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ داویل چې منادی مرخم دمنادی ثابت په حکم کې دي صحیح نه ده ځکه چې منادی مرخم دثابت په حکم کې نه دي بلکې عین منادی ثابت دي ځکه چې ثابت په معنی د متحقق اوموجود کې دي اومنادی مرخم هم په دې معنی ثابته ده لهذا منادی مرخم دمنادی ثابت سره تشبیه ورکول صحیح نه دي .

جواب : دلته ثابت متحقق اوموجود په معنی کې نه دي بلکه دمحذوف په مقابله کې دي مطلب دادې چې منادی مرخم چې ددې دآخر نه یو یادوه حرفه محذوف کیږي دې ته **منادی ثابت بجمیع اجزاءه** په حکم کې کولې شي

فیبقی : ددې نه دفي حکم **الثابت** تفصیل بیانوي چې دترخیم نه پس آخري کلمه په دې حرکت باندې باقي پاتې کیږي په کوم باندې چې مخکې وو

علی الاستعمال : دا لفظ یې مقدر راوویستو شارح اشاره وکړه چې دالاکثر صیغه دصفت ده ددې موصوف **الاستعمال** محذوف دي همدارنګې دې خبرې طرف ته یې هم اشاره وکړه چې الاکثر د **الاستعمال** صفت دي نه د **المذهب** ځکه چې په دې کې کوم اختلاف نشته بلکې متفق علیه مسئله ده .

فیقال في یاحارث یاحار : په دې عبارت سره په مثالونو سره وضاحت کوي چې **یاحارث** دترخیم نه پس **یاحارِ** په کسرې دراء سره ویلې شي اریاثمودُ دترخیم نه پس **یاثمو** ویلې شي اویاکروان دترخیم نه پس **یاکروَ** ویلې شي په دې کې څه قسم تبدیلي نه شي کولې کوم چې په آخر دکلمه کې داعلال وغیره په صورت کې کولې شي

قد للتقلیل : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د اکثر په مقابله کې اقل وي لهذا مصنف ته په کار وو چې اقل يې هم ذکر کړي وي مصنف دا سې ولې ونه کړو؟

جواب: د به قد يجعل باندې قد تقليله دي لهذا ددې ذکر کولو نه پس د اقل لفظ د ذکر کولو ضرورت نشته

اي ويجعل المنادى المرخم: په دې سره د يجعل هُوَ ضمير مرجع يې بيان کړه۔

د مندوب تعريف:

وَ قَدْ إِسْتَعْمَلُوْا يَعْنِيْ الْعَرَبَ صِيْغَةَ النِّدَاءِ يَعْنِيْ يَا خَاصَّةً فِي الْمَنْدُوْبِ لِأَنَّهُ لاَ يَدْخُلُ
او په تحقيق استعمال کړي يعني عربو صيغه د ندا، يعني يا خاص په مندوب پورې ځکه چې دا نه داخليږي په غير د ياء
عَلَيْهِ سِوَاهَا لِكَوْنِهَا اَشْهَرَ صِيَغِهَا فَكَانَتْ اَوْلٰى بِأَنْ يُتَوَسَّعَ فِيْهَا بِإِسْتِعْمَالِهَا فِيْ غَيْرِ
نه بل دوجې د مشهورې صيغې کيدو نه پس دا اولى ده چې توسع وشي په دې کې په استعمال ددې سره په غير د
الْمُنَادَى وَ الْمَنْدُوْبُ فِي اللُّغَةِ مَيِّتٌ يَبْكِيْ عَلَيْهِ اَحَدٌ وَ يَعُدُّ مَحَاسِنَهُ
منادى کې او مندوب په لغت کې هغه مړى دې چې ژاړي په ده باندې يو کس او شماري دده محاسن ددې دپاره چې
لِيَعْلَمَ النَّاسُ اَنَّ مَوْتَهُ اَمْرٌ عَظِيْمٌ لِيَعْذِرُوْهُ فِي الْبُكَاءِ وَ يُشَارِكُوْهُ
معلومه شي خلکو ته چې مرګ دده يو عظيم کار دې د دې دپاره چې دا کس په ژړا کې معذور وګڼړي او شريک شي دده
فِي التَّفَجُّعِ وَ فِي الْاِصْطِلَاحِ هُوَ الْمُتَفَجَّعُ عَلَيْهِ وُجُوْداً اَوْ عَدَماً
سره په تفجع کې او په اصطلاح کې مندوب هغه دې چې په هغې باندې د افسوس اظهار وکړي شي وجوداً يا عدماً په
بِيَا اَوْ وَا فَالْمُتَفَجَّعُ عَلَيْهِ عَدَماً مَا يُتَفَجَّعُ عَلٰى عَدَمِهِ
يا سره او يا وا سره پس متفجع عليه عدمي هغه دې چې د هغې په نه موجوديدو باندې د افسوس اظهار وکړي شي
كَالْمَيِّتِ الَّذِيْ يَبْكِيْ عَلَيْهِ النَّادِبُ وَ الْمُتَفَجَّعُ عَلَيْهِ وُجُوْداً مَا يُتَفَجَّعُ عَلٰى وُجُوْدِهِ
لکه هغه مړى چې په هغې باندې ژاړي ژړيدونکي او متفجع عليه وجودي هغه ده چې ددې په وجود باندې جزع
عِنْدَ فَقْدِ الْمُتَفَجَّعِ عَلَيْهِ عَدَماً كَالْمُصِيْبَةِ وَ الْحَسْرَةِ وَ الْوَيْلِ اللَّاحِقَةِ لِلنَّادِبِ
فزع کولې شي په وخت د ورکيدو د متفجع عليه عدمي لکه مصيبت او حسرت او ويل کوم چې لاحق کيږي ژړيدونکي
لِفَقْدِ الْمَيِّتِ فَالْحَدُّ شَامِلٌ لِقِسْمَيِ الْمَنْدُوْبِ مِثْلُ يَا زَيْدَاهُ وَ يَا عَمْرَاهُ وَ مِثْلُ يَا حَسْرَتَاهُ
ته د مړي د ورکيدو په وجه نو تعريف د مندوب دواړو قسمونو ته شامل دې لکه يا زيداه او يا عمراه او لکه يا حسرتاه
وَ يَا مُصِيْبَتَاهُ وَ يَا وَيْلَاهُ وَ اخْتُصَّ الْمَنْدُوْبُ بِوَا مُمْتَازًا بِهِ عَنِ الْمُنَادَى لِعَدَمِ
او يا مصيبتاه او يا ويلاه او مندوب د وا سره خاص دې او دادې وا په وجه باندې د منادى نه ممتاز دې دوجې د

دُخُوْلِهٖ عَلَيْهِ بِخِلَافِ يَا فَاِنَّهُ مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمَا.
داخليدو په دې باندې په خلاف د يا ، چې دا مشترک ده په مينځ ددواړو کې

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې وايي چې اهل عرب کله صيغه دندا په مندوب کې هم استعمالوي او صيغې دندا نه مراد صرف ياء ده او مندوب هغه دي چې په هغې باندې وا يا دياء په ذريعې باندې اظهار دتفجع او دافسوس وکړې شي لکه يازيداه وا عمراه او وا صرف دمندوب سره خاص دي په نداء کې نه استعماليږي او ياء په مندوب او ونداء ددواړو په مينځ کې مشترک دي

اغراض دجامي : يعني العرب: په دې عبارت سره غرض دشارح دا ستعملوا دضمير دمرجع بيانول او دفاعل تعين کول دي .

يعني ياخاصة: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال :صيغې دنداء خو پنځه (۵) دي حالانکه په مندوب کې فقط ياء استعماليږي باقي حروف دندا نه استعماليږي نو دمصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وقد استعملوا صيغة النداء ويل به څنګه صحيح وي ؟ .

جواب : په صيغة النداء کې اضافت عهدي دي ددې نه په دې کې دنداء دصيغونه خاص ياء د نداء مراد ده فاندفع الاشكال .

لانه: په دې عبارت سره دياء دخصوصياتو دوجې بيان دي دياء نه غير چې کوم باقي حروف دنداء وي هغه په مندوب باندې نه داخليږي ځکه چې دنداء دصيغو نه ياء په ټولو کې ډيره مشهوره ده لهذا دا ددې خبرې ډيره حقداره ده چې دا په غير منادی کې استعمالولو سره وسعت ورکړل شي .

لغة: په دې کې دمندوب لغوي بيان دي په لغت کې مندوب هغه مړي ته وايي چې ددې محاسنو په ذکر کولو سره په ده باندې وژړل شي ددې دپاره چې خلک دده مرګ يو امر عظيم وګڼړي او په اظهار دهمدردي کې ددوي سره شريک سي

وفي الاصطلاح: په دې سره دمندوب اصطلاحي تعريف دي په اصطلاح کې مندوب هغه ته وايي چې په هغې باندې واو يا ياء سره وژړل شي

وجودا او عدما: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د مندوب تعريف جامع نه دي ځکه چې ددې نه متفجع عليه وجودي ترې خارج شو مثلاً ياحسرتاه يامصيبتاه ياويلتاه ځکه چې تفجع په دې باندې نه شي بلکې ددې د وجې نه کيږي

جواب : په متفجع علبه کې تعميم دي برابره خبره ده که وجودي وي ياعدمي ، متفجع عليه عدمي هغه دي چې ددې دفقدان اودعدم په وخت کې وژړل شي مثلا په مړي باندې ژړيدونکي وا يا يا سره وژاړي اومتفجع عليه وجودي هغه دي چې متفجع عليه عدمي دفقدان او ورکيدو په وخت کې متفجع عليه په وجود باندې اظهار دتفجع وکړې شي مثلاً مړي دفن کړي اوچې کله ولي کور ته راشي نودفقدان دمړي دوجې نه ده ته غم ،مصيبت اوحسرت وي اوداووايي چې ياحسرتاه يامصيبتاه نودې ته متفجع عليه وجودي وايي

فالحد : داپه ماقبل باندې دتفريع بيان دي چې کله په متفجع عليه کې تعميم وي برابره خبر : د که وجودا وي اوياعدماً نودمندوب داتعريف به دواړو قسمونو ته شامل وي لکه يازيداه ياعمر ، داد متفجع عليه عدمي مثالونه دي اوياحسراتاه ويامصيبتاه دمفتجع عليه وجودي مثالونه دي

واختص بوا ددې عبارت حاصل دادي چې مندوب د وا سره خاص دي

المندوب: په دې کې بيان دمرجع دي چې په اختص کې ضمير مستتر مندوب طرف ته راجع دي

ممتازاً: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د خاصې تعريف دادي چې : ما يختص به ولا يوجد في غيره ، اومندوب د ياء سره هم مستعمليږي نو بيا دوا سره څنګه خاص شو ؟

جواب : بوا دا جار مجرور دي متعلق دي تر اختصاص پورې په اعتبار د تضمن د معنی د امتياز معنی داده چې مندوب د وا په ذريعې سره د منادی نه ممتاز کيږي ځکه چې وا په منادی باندې نه داخليږي په خلاف د ياء چې دا د مندوب او منادی دواړو په مينځ کې مشترک دي .

د مندوب حکم :

وَ حُكْمُهُ اَىْ حُكْمُ الْمَنْدُوْبِ فِي الْاِعْرَابِ وَ الْبِنَاءِ حُكْمُ الْمُنَادٰى اَىْ مِثْلُ حُكْمِهٖ يَعْنِيْ اِذَا وَقَعَ
اوحکم د دې یعني حکم د مندوب په اعراب او بناء کې د منادی حکم دي یعني په شان د حکم د منادی دی یعني چې

الْمَنْدُوْبُ عَلٰى صُوْرَةِ قِسْمٍ مِنْ اَقْسَامِ الْمُنَادٰى فَحُكْمُهُ فِي الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ مِثْلُ حُكْمِ ذٰلِكَ الْقِسْمِ مِنَ
کله واقع شي مندوب په صورت د قسم د اقسامو د منادی کې نو حکم د دې په اعراب او بناء کې په شان د دې قسم د

الْمُنَادٰى كَمَا اِذَا كَانَ مُفْرَداً مَعْرِفَةً يُضَمُّ وَ اِذَا كَانَ مُضَافاً اَوْ مُشَبَّهاً بِهٖ
منادی کې لکه چې کله مندوب مفرد معرفه وي نو ضمه به ورکولې شي او چې کله مضاف یا شبه مضاف وي نو

يُنْصَبُ وَلَا يَلْزَمُ مِنْ ذٰلِكَ جَوَازُ وُقُوْعِهٖ عَلٰى صُوْرَةِ جَمِيْعِ اَقْسَامِ الْمُنَادٰى
نصب به ورکولې شي او نه لازمیږي د دې جواز د وقوع د دې په صورت د ټولو اقسامو د منادی کې د دې د پاره چې

لِيَرِدَ عَلَيْهِ اَنَّهُ لَا يَقَعُ نَكِرَةً لِاَنَّهُ لَا يُنْدَبُ اِلَّا الْمَعْرِفَةُ.
وارد شي په دې باندې چې نه واقع کیږي نکره ځکه چې دا نه مندوب کیږي مګر معرفه

خلاصه د متن : د مندوب د حکم بیان دي چې په معرب او مبني کیدو کې د مندوب حکم د منادی د حکم په شان دي همدا رنګې د مندوب په آخر کې د آواز د اوږدوالي د پاره الف زیاتول جائز دي ځکه چې په ندبه کې اوږدوالي د آواز مقصود او مطلوب وي او په حالت د وقف کې د الف نه پس د هاء زیاتول هم جائز دي لکه **یازیداه**

اغراض د جامي : فان خفت : صاحب د کافیې وایي چې که چیرته د مندوب په آخر کې د الف په زیاتولو سره د بلې صیغې سره د التباس خوف وي نو په دې وخت کې الف د دویم مدې سره بدلولې شي کوم چې د آخر مندوب د حرکت سره موافق وي مثلاً د واحدې مؤنثې مخاطب غلام د ندبې سره التباس لازم راځي لهذا الف د کاف د کسرې د مناسبت نه په یاء سره بدل کړي شو **واغلامکیه** به ویلې شي همدا رنګې چې کله د مخاطبینو جماعت غلام ندبه کول مقصود وي نو **واغلامکماه** به نه شي ویلې ځکه چې که چیرته [illegible] وایې نو تثنیه مخاطب غلام د ندبې سره به التباس لازم راشي لهذا الف به د میم د حر[illegible] د مناسبت د وجې نه په واو سره بدلوو او **واغلامکموه** به وایو.

ای حکم المندوب: په دې کې د حکمه د ضمیر مرجع یې متعین کړه چې د دې مرجع مندوب دي

ای مثل: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: مونږ دا نه منو چې دمندوب حکم بعینه دمنادی حکم دي ځکه چې دحکم معنی ده اثر مرتبه علی الشيء او دا عرض دي او عرض صرف په یو محل سره قائمیدي شي که چیرته منادی والاحکم په مندوب کې راشي نو د عرض واحد په دوه محلونو کې قیام به لازم راشي او دا ناجائز دي قاعده ده چې قیام العرض بالمحلین باطل

جواب: دمصنف په عبارت کې مضاف لفظ دمثلُ محذوف دي په اصل کې عبارت داسې وو چې وحکمه في الاعراب والبناء مثل حکم المنادی یعنې دمندوب حکم په اعراب اوبناء کې دمنادی دحکم په مثل دي نه چې عین منادی لهذا قیام العرض بالمحلین والااشکال به لازم رانه شي

یعني اذا وقع: په دې عبارت سره توضیح دمتن دي . چې کله مندوب دمنادی داقسامونه په یو قسم صورت کې واقع وي نو دمندوب حکم په اعراب اوبناء کې دمنادی دهمدې قسم دحکم په مثل وي مثلاً که چیرته مندوب مفرد معرفه وي نو دا به دمنادی مفرد معرفه په شان مبني په ضمه وي لکه وازیدُ او که چیرته مندوب مضاف یاشبه مضاف وي نو دا دمنادی مضاف یادشبه مضاف په شان به منصوب وي لکه واعبدالله واطالعاً جبلا

ولایلزم: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د مصنف د عبارت وحکمه في الاعراب والبناء الخ نه دا معلومیږي چې د منادی ټول اقسام په مندوب کې هم موندل کیږي حالانکه داسې نه دي ځکه چې نکره غیر معینه د منادی قسم دي ، لیکن مندوب نکره نه وي لکه وروسته چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي . ولایندب الا المعروف .

جواب: دلته تشبه ومثلیت اعراب اوبناء والا دحکم دلحاظ نه دي داقسامو دلحاظ نه ، نه دي په دې سره دا نه لازمیږي چې دمنادی ټول اقسام په مندوب کې هم موندل کیږي

په مداتو سره الحاق د الف او د هاء ذکر :

وَ جَازَ لَکَ زِیَادَةُ الْاَلِفِ فِيْ آخِرِهٖ اَيْ آخِرِ الْمَنْدُوْبِ لِمَدِّ الصَّوْتِ الْمَطْلُوْبِ فِيْ
او جائز دي ستا دپاره زیادة دالف په آخر کې یعنې په آخر دمندوب کې دپاره داوږدوالي دآواز کوم چې مطلوب دي په
النُّدْبَةِ فَاِنْ خِفْتَ اللَّبْسَ اَيْ اِلْتِبَاسَ ذٰلِکَ اللَّفْظِ عِنْدَ زِیَادَةِ الْاَلِفِ بِغَیْرِهٖ عَدَلْتَ
ندبه کې که چیرته ویره دالتباس وي یعنې التباس ددي لفظ وي په وخت دزیادت دالف دغیر سره نوعدول کوې

اِلٰی حَرْفِ مَدٍّ مُجَانِسٍ لِحَرْكَةِ آخِرِ الْمَنْدُوْبِ مِنْ كَسْرَةٍ اَوْ ضَمَّةٍ كَمَا اِذَا اَرَدْتَ
حرف مدي طرف ته چې هم جنس وي د حرکت د مندوب د آخر سره د کسرې او ضمې نه لکه کله چې ته اراده وکړې
نُدْبَةَ غُلَامٍ مُخَاطَبَةٍ قُلْتَ وَا غُلَامَكِيْهِ لَا وَا غُلَامَكَاهُ لِلْاِلْتِبَاسِ بِنُدْبَةِ غُلَامٍ مُخَاطَبٍ
د ندبې د غلام د مخاطبې ښځې نو وايې به واغلامکيه نه واغلامکاه د وجې د التباس نه د ندبې د غلام د مخاطب سره
وَاِذَا اَرَدْتَ نُدْبَةَ غُلَامِ جَمَاعَةٍ مُخَاطَبِيْنَ قُلْتَ وَا غُلَامَكُمُوْهُ اِذِ الْمِيْمُ اَصْلُهُ الضَّمُّ لَا وَا غُلَامَكُمَاهُ
او کله چې ته د مخاطبينو د يو جماعت د ندبې اراده وکړې نو وايې به واغلامکموه ځکه چې د ميم اصل ضمه ده نه
لِلْاِلْتِبَاسِ بِنُدْبَةِ غُلَامِ مُخَاطَبَيْنِ اِثْنَيْنِ وَ جَازَ لَكَ الْهَاءُ اَيْ اِلْحَاقُهَا بِهٰذِهِ الْمَدَّاتِ
واغلامکماه د وجې د التباس نه د ندبې د غلام د مخاطبينو سره او جائز ده ستا د پاره ها يعني الحاق ددې مداتو
فِيْ حَالِ الْوَقْفِ لِبَيَانِهَا .
پورې په حالت د وقف کې د بيانولو د مدې د پاره

خلاصه د متن : صاحب د کافيې وايي چې ددې ټولو مداتو سره په حالت د وقـف کې هاء لاحق کول هم جائز دي ددې د پاره چې د اضافي د هاء په ذريعه مده ښه واضحه شي .

اغراض د جامي : وجاز لک : د مندوب په آخر کې د آواز د اوږدوالي د پاره الف زياتول جائز دي ځکه چې په ندبه کې اوږدوالي د آواز مطلوب وي او د الف په زياتوالي سره د امطلوب حاصليږي وجاز نه د جامي د شارح دوه غرضه دي.

(۱) اشاره يې وکړه چې لک جار مجرور د جاز متعلق دي او د زيادة الالف متعلق اعتبار نه د ظرف فاعل دي .

(۲) د جاز لفظ يې مقدر کړو په علامه اندلسي باندې يې رد وکړو چې فرمايي چې که چيرته ياء حرف نداء سره ندبه کړې شي نو په آخر کې الف زياتول واجب دي ددې د پاره چې د منادى او د مندوب کې التباس نه وي نو د جاز لفظ يې مقدر کړو شارح په اندلسي باندې رد کوي چې د الف زياتوالي جائز دي واجب نه دي ځکه چې ددې وجې نه التباس بيا هم نه ختميږي ځکه منادى مستغاث بالالف کې التباس باقي پاتې وي همدا رنګې لام د جاز صله جوړيږي د وجب صله نه جوړيږي .

اى آخر المندوب : په دې عبارت سره شارح د آخره د ضمير مرجع بيانوي چې د آخره ضمير آخر المندوب ته راجع دي .

لمد الصوت : په دې عبارت سره شارح د زيادة الالف وجه اوغرض بيانوي چې په ندبه کې د آواز اوږدوالې مقصود وي اوپه زياتوالې دالف سره دامقصود حاصليږي

اي التباس ذلک اللفظ : په دې عبارت سره شارح داللبس دتفسير په التباس سره دکولو دوه غرضه کيدي شي

(۱) لبس ثلاثي مجرد غيرمشهوروو او التباس دباب مزيد مشهوروو ، نوتفسير د غيرمشهور بالمشهور يې وکړو

(۲) لَبس په فتحې دلام سره دلَبس معنى التباس اواشتباه ده اوپه ضم دلام سره لُبس په معنى دکپړو اغوستلو سره ،نودالتباس نه يې تفسير وکړو شارح دا ظاهره کړه چې دالَبس په فتحې دلام سره دي نه په ضمې دلام سره ځکه چې ددواړو رسم الخط اونقش يوشان دي

ذلک اللفظ : په دې سره شارح دابيانوي چې داللبس الف لام دمضاف اليه عوض دي کوم چې ذلک اللفظ دي .

عدلت : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمصنف قول فان خفت شرط اوقلت واغلامکيه جزا ده اودجزاپه شرط باندې ترتب کيږي دلته ترتب صحيح نه دي ځکه چې دعبارت مطلب به داجوړ شي چې کله هم دالتباس خوف وي نو واغلامکيه ووايې حالانکه دا بديهي البطلان دي دهر التباس په وخت کې ياغلامکيه ويل صحيح نه دي مثلاً وا امتکيه ويل هم جائز دي .

جواب : دمصنف قول قلت الخ دادشرط جزا نه ده بلکه ددې جزا محذوف ده کوم چې عدلت الخ دي يعنې که چيرته دالف په زياتوالې سره دالتباس خوف وي نودحرف مدې طرف ته به عدول کولې شي کوم چې دمندوب دآخري حرف حرکت موافق وي برابره خبره ده چې داقول وي يابل څيز لهذا اوس دجزا ترتب اوربط مع الشرط به صحيح وي .

کما اذا اردت ندبة غلام : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : چې کله جزا عدلت محذوف دي نو قلت واغلامکيه ذکر مستدرک اوبې فائدې او اشتغال بمالايعني به وي .

جواب : واغلامکيه ذکر په طور دمثال دي بيا مخکې دمثالونو وضاحت کوي

اذالميم : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : واغلامكموه کې واو دمندوب دآخري حرف حرکت دمجانس څنګه وي ځکه چې واغلامکم کې خو ميم ساکن دي

جواب : ميم په اصل کې مضموم وو ځکه چې واغلامکم اصل کې واغلامکموو دتخفيف دپاره مو ميم ساکن کړو بيااجتماع دساکنينو (واو ميم) دوجې نه مو واوحذف کړو .

وجاز لک الهاء : ددې ټولو مداتو سره په حالت دوقف کې هاء لاحق کول جائز دي ددې دپاره چې دهاء د اضافې دوجې نه مده ښه واضحه شي لکه يازيداه .

اى الحاقها : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : وجاز لک الهاء کې دجواز نسبت هاء طرف ته صحيح نه دي ځکه چې جواز اوعدم جواز په اعراضو کې کيږي او هاء من قبيل الذوات دي

جواب : الحاق دمضاف محذوف دي اوهغه عرض دي لهذا نسبت صحيح دي .

في حال : په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : الوقف د الهاء دپاره مفعول فيه دي حالانکه مفعول فيه ظرف زمان وي يامکان دلته ددې نه يو هم نه دي

جواب : دلته حال محذوف دي کوم چې ظرف زمان دي .

ندبه د چا کيدې شي ؟ :

وَلاَ يُنْدَبُ مِنْ قِسْمِ الْمَنْدُوْبِ الْمُتَفَجَّعِ عَلَيْهِ عَدَماً اِلاَّ الْاِسْمُ الْمَعْرُوْفُ الَّذِيْ اشْتَهَرَ الْمَنْدُوْبُ بِهِ											
اوندبه نه شي کولې دقسم دمندوب متفجع عليه عدمي نه مګراسم معرفه هغه چې مشهوردې مندوب په دې سره											
لِيُعْذَرَ	النَّادِبُ	بِمَعْرِفَتِهِ	فِيْ	نُدْبَتِهِ	وَ	التَّفَجُّعِ	عَلَيْهِ	فَلاَ	يُقَالُ		
ددې دپاره چې معذور وګنړل شي نادب په معرفت ددې سره په ندبه کې اوپه اظهارد همدردۍ کې نونه شي ويلې											
وَا	رَجُلاَهْ	اِذْ	مَا	اشْتَهَرَ	بِهٰذَا	اللَّفْظِ	مَنْدُوْبٌ	خَاصٌّ	اِنْتَقَلَ	الذِّهْنُ	اِلَيْهِ وَ
چې وارجلاه ځکه چې نه دې مشهورپه دې لفظ سره خاص مندوب چې منتقل شي ذهن هغه طرف ته او											
يُعْرَفُ	بِهِ	لِيُعْذَرَ	النَّادِبُ	بِالنُّدْبَةِ	عَلَيْهِ .						
وپيژندل شي په دې سره ددې دپاره چې معذوره وګنړل شي نادب په ندبې کولوسره په دې مندوب باندې											

خلاصه دمتن : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې ندبه صرف دمشهور اودمعروف کيدې شي دغير معروف اودغيرمشهور نه شي کيدي .

اغراض دجامي : من قسم : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : ستاسو دا وينا چې ندبه صرف د مشهور او د معروف کيدي شي دا منقوضه ده په يامصيبتاه ياحسرتاه ياويلاه سره ځکه چې دامندوب دې حالانکه نکره ده .

جواب : زمونږ مراد دمندوب نه مندوب عدمي دې اوپه ذکر شوي مثال کې مندوب متفجع عليه عدمي نه دي بلکې وجودي دي لهذا نقض به وارد نه وي .

الا الاسم المعروف : دالاسم لفظ يې مقدر راوويستو شارح اشاره کوي چې المعروف صفت دي دموصوف الاسم محذوف .

الذي اشتهر به : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستاسو قاعده ولايندب الا المعروف منقوضه اوماته ده په وامن قلع باب خيبر سره ځکه چې دلته دغيرمعروف اودنکرې ندبه کولې شي .

جواب : دالمعروف نه مراد هغه اسم دي چې دهغې سره مندوب مشهور وي برابره خبره ده که علم وي يا غير علم چونکې په دې سره حضرت علي رضی الله عنه مشهور اومعروف دي لهذا دده ندبه کول جائز دي .

ليعذر التادب : په دې سره دمندوب دمعروف اودمشهور کيدو دشرط دوجې بيان کوي چې دمندوب مشهور کيدل ځکه ضروري دي چې دمندوب دشهرت دوجې نه ندبه کوونکي په ندبه کولو اوتفجع کې معذور وګڼړل شي .

فلايقال : داپه ماقبل باندې تفريع ده چونکه ندبه صرف دمشهور اودمعروف کيدي شي ددې وجې نه وارجلاه نه شي ويلي ځکه چې په دې لفظ سره کوم خاص مندوب مشهور نه دي چې هغه طرف ته ذهن منتقل شي اوهغه په دې سره مشهور وي ددې دپاره چې ندبه کوونکي په ندبې کولو سره معذور وګڼړل شي .

د مندوب په آخر کې د الف د الحاق ممانعت :

وَ امْتَنَعَ اِلْحَاقُ الْاَلِفِ بِصِفَةِ الْمَنْدُوْبِ بَلْ يَجِبُ اَنْ يُلْحَقَ بِمَوْصُوْفٍ مِثْلِ وَا
او ممتنع دي الحاق د الف په صفت د مندوب سره بلکې واجب دي چې الف د موصوف سره لاحق کړې شي لکه وا
زَيْدَاهُ الطَّوِيْلُ لِاَنَّ اِتِّصَالَهٗ بِالصِّفَةِ لَيْسَ كَاِتِّصَالِ الْمُضَافِ بِالْمُضَافِ اِلَيْهِ لِاَنَّهٗ
زیداه الطویل ځکه چې د دې صفت سره اتصال د مضاف مضاف الیه سره د اتصال په شان نه دي ځکه چې مضاف
جِئَ بِهٖ لِتَمَامِ الْمُضَافِ فَهُوَ كَالْجُزْءِ بِخِلَافِ الصِّفَةِ فَاِنَّهٗ جِئَ بِهَا بَعْدَ
الیه د مضاف د مکمل کیدو دپاره راوړې شي پس دا په شان د جزء دي په خلاف د صفت ځکه چې دا راوړې شي پس د
تَمَامِ الْمَوْصُوْفِ لِلتَّخْصِيْصِ اَوِ التَّوْضِيْحِ فَلِهٰذَا جَازَ مِثْلُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَاهُ وَلَمْ يَجُزْ مِثْلُ وَازَيْدُ الطَّوِيْلَاهُ
تکمیل د موصوف نه د تخصیص او یا د توضیح دپاره ځکه چې یا امیر المومنیناه په مثل کې جائز دي او وازید الطویلاه
خِلَافاً لِيُوْنُسَ فَاِنَّهٗ يَجُوْزُ اِلْحَاقُ الْاَلِفِ بِآخِرِ الصِّفَةِ فَاِنَّ
په مثل جائز نه دي خلاف ثابت دي امام یونس لره ځکه چې هغه د صفت په آخر کې الف لاحق کول جائز ګنړي ځکه چې
اِتِّصَالَ الْمَوْصُوْفِ بِالصِّفَةِ وَ اِنْ كَانَ فِي اللَّفْظِ اَنْقَصَ مِنَ الْاِتِّصَالِ بَيْنَ الْمُضَافِ وَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ
اتصال د موصوف د صفت سره اګرچې په اعتبار د لفظ سره ناقص دي د اتصال نه په مینځ د مضاف او مضاف الیه کې
اِلاَّ اَنَّهٗ اَتَمُّ مِنْهُ مِنْ جِهَةِ الْمَعْنٰى لِاِتِّحَادِهِمَا بِالذَّاتِ فَاِنَّ الطَّوِيْلَ هُوَ زَيْدٌ لاَ
مګر اکمل دي د دې نه په اعتبار د معنی سره د وجې د اتحاد د دواړو نه په ذات کې ځکه چې طویل هغه زید دي نه د ده نه
غَيْرُهٗ بِخِلَافِ الْمُضَافِ وَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ فَاِنَّهُمَا مُتَغَايِرَانِ وَ حَكٰى يُوْنُسُ
غیر په خلاف د مضاف مضاف الیه ځکه چې دا دواړه متغایر دي (په اعتبار د معنی سره)، او امام یونس حکایت کړي
اَنَّ رَجُلاً ضَاعَ لَهٗ قَدَحَانِ فَقَالَ وَا جُمْجُمَتَيَّ الشَّامِيَّتَيْنَاهُ وَ الْجُمْجُمَةُ الْقَدَحُ.
کړي چې د یو انسان دوه پیالې ضائع شوي نوي ویل چې های زما دوه شامي پیالې او جمجمه پیالې ته وایي.

خلاصه د متن : صاحب د کافیې په دې عبارت کې یوه قاعده بیان کړي ده چې د مندوب د صفت په آخر کې د الف لاحق کول ممتنع دي بلکه د موصوف په آخر کې الف لاحق کول واجب دي لکه وازیداه الطویل البته په مضاف او مضاف الیه کې به د الف الحاق د مضاف الیه سره وي ځکه چې یا امیر المومنیناه جائز دي او وازید الطویلاه جائز نه دي لیکن په دې کې د امام یونس اختلاف دي د ده په نزد به الف د صفت په آخر کې لاحق کول جائز دي.

اغراض د جامي : الحاق الالف: په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالونو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱): وامتنع کې دامتناع تخصیص د وازیدن الطویلاه سره صحیح نه دي ځکه چې لکه ځنګه وازید الطویلاه ممتنع دي همدارنګې واعمرون الفاضلاه هم ممتنع دي.

سوال (۲): امتنع فعل دي اوفعل دفاعل تقاضا کوي اودفاعل دپاره مفرد کیدل ضروري دي او وازیدن الطویلاه جمله ده لهذا دافاعل نه شي جوړیدي.

جواب: دامتنع فاعل الحاق الالف محذوف دي چې ددې مطلب دادې چې دمندوب دصفت په آخر کې الحاق دالف منع دي بلکه دموصوف سره الحاق دالف واجب دي برابره خبره ده چې هغه هر یو موصوف صفت وي وازیدن الطویلاه سره تخصیص نه دي دلته صرف په طور دتمثیل سره یې ذکر کړي دي لکه شارح دجامي دمثل لفظ زیات کړو دې طرف ته یې اشاره وکړه همدارنګې الحاق الالف کوم چې فاعل محذوف دي هغه مفرد دي لهذا دواړه اشکاله دفع شو.

لان اتصاله: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دموصوف اوصفت اودمضاف اومضاف الیه په مینځ کې دفرق دوجې نه چې په اول دندبه کې د الف الحاق دموصوف په آخر کې کیږي اوپه دویم کې دمضاف الیه په آخر کې (۲) همدارنګې دامتناع ددلیل بیان هم دي. (۳) اویونس نحوي دقیاس رد هم دي، حاصل دادې چې دموصوف اتصال او ربط دصفت سره داد هغه اتصال په شان نه دي کوم چې دمضاف اومضاف الیه په مینځ کې کیږي بلکه دمضاف مضاف الیه اتصال شدید اوقوي وي ځکه چې مضاف الیه دمضاف دتتمیم اود تکمیل دپاره راوړې شي لهذا مضاف الیه دمضاف دپاره په منزله دجز کیدي شي په خلاف دصفت چې دموصوف دتمامیدو نه پس دموصوف دتخصیص یادتوضیح دپاره راوړي شي نولهذا مضاف الیه د مضاف دپاره په منزله دجز وي ځکه چې هغه دواړه په منزله دکلمې واحده کې وي ددې وجې نه د مضاف الیه په آخر کې دمندوب الف لاحق کړو او یاامیرالمومنیناه به ویلي شي چونکې صفت په منزله د موصوف دجزء نه وي ځکه هغه دواړه جدا اومستقلې کلمې شماریږي ددې وجې نه دصفت په آخر کې علامت دمندوب به ورسره لاحق کړو او یازیدن الطویلاه ویل جائز نه دي بلکې دموصوف په آخر کې به الف ملحق کړو او وازیداه الطویل ویل ضروري دي په خلاف دیونس نحوي چې هغه وایي چې دمندوب د صفت په آخر کې علامت دمندوب لاحق کول جائز دي په دې باندې یونس نحوي دوه دلیلونه قائم کړي دي یو دلیل عقلي اوبل دلیل نقلي.

لان اتصال: په دې سره د دلیل عقلي بیان کوي چې د دې خلاصه داده چې د موصوف صفت په خپل مینځ کې اتصال او ربط اګرچې په اعتبار دلفظ سره د مضاف مضاف الیه داتصال نه انقص دي لیکن د معنی دلحاظ نه اکمل دي ځکه چې موصوف صفت د ذات په اعتبار سره متحد او شي واحد وي لکه مثال مذکور ته وګورئ چې د زید او طویل نه یو ذات مراد دي په خلاف د مضاف مضاف الیه چې هغه متحد بالذات نه وي بلکه دیو بل نه غیر وي نو چې کله د مضاف الیه په آخر کې علامت د مندوب الحاق جائز دي حالانکه هغه د معنی په اعتبار سره متغایر او دیو بل نه غیر دي نو د صفت په آخر کې په طریقِ اولی سره علامت د مندوب الحاق جائز کیدل په کار دي چې هغه دواړه د معنی په اعتبار سره دیو بل عین وي.

وحکی یونس: په دې سره د دلیل نقلي بیان دي چې دیو بانده چې دوه پیالي ورکې شوي وي نو دې بانده چې په دې باندې ندبه کوله او ویل یې چې واجمجتي الشامیتیناه دا د مندوب صفت دي او د دې په آخر کې یې الف لاحق کړي نو د دې نه معلومه شوه چې د مندوب د صفت په آخر کې الف لاحق کول جائز دي.

داول دلیل جواب: د نحوي نظر لفظ طرف ته وي نه معنی طرف ته، دلفظ په اعتبار سره مضاف مضاف الیه په منزله د کلمه واحده کې وي او موصوف صفت په منزله د کلمتین مستقلتین کې وي او اتصال د الف لفظ سره کیږي نه د معنی سره نو لهذا دلفظ اعتبار به وي

ددوهم دلیل جواب: د بانده چې دا قول شاذ او غیر فصیح دي لهذا دا قول قابل د استدلال نه دي.

والجمجمة القدح: په دې عبارت سره غرض د شارح د جامي په مصنف رَحِمَهُ اللهُ باندې رد کول دي چې مصنف په شرح د مفصل کې د جمجمه معنی قدح الرأس سره کړي په منی د عظم الرأس د سر هډوکي کوم چې په دماغو باندې مشتمل وي، نو شارح د جامي د جمجمه معنی القدح سره وکړه په مصنف باندې یې رد وکړو وجه د رد داده چې اګرچې جمجمه په معنی د عظم الرأس سره هم راځي لیکن دلته دا نه شي مراد کیدي د دوه وجو نه

(۱) یو د دې وجې نه چې جمجمه په معنی د عظم الرأس د هر انسان د پاره جمجمه واحده کیدي شي نه جمجمتین چې دلته تثنیه ده (۲) دویمه وجه داده چې دلته د جمجمتین صفت الشامیتیناه راوړو دا هم قرینه ده چې دلته پیاله مراد ده نه قدح الرأس ورنه معنی به دا وي چې هاى زما

دواړه شامي دماغ حالانکه دامعنی غلطه ده . نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دوه جوابه ورکړي دي

(۱) قدح الرأس نه مراد هم پیاله ده نه عظم الرأس چونکي غټه پیاله عام طور باندې په سر باندې ایخودې شي ددې وجې نه مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د رأس طرف ته یې اضافت وکړو (۲) اصل کې دمصنف عبارت قدح الكأس وو اضافت بیانیه وو کاتب دغلطي نه دكأس په ځای رأس لیکلي نو دا سهوه دکاتب ده نه د مؤلف .

د حرف ندا حذف کول :

وَ يَجُوْزُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ حَذْفُ حَرْفِ النِّدَاءِ اِلَّا اِذَا كَانَ مُقَارِناً مَعَ اِسْمِ الْجِنْسِ وَ يَعْنِيْ بِهِ

او جائز دي دپاره دقیام دقرینې حذف دحرف نداء مګر چې کله مقارن وي د اسم جنس سره او قصد کوي په دې سره

مَا كَانَ نَكِرَةً قَبْلَ النِّدَاءِ سَوَاءٌ تَعَرَّفَ بِالنِّدَاءِ كَيَا رَجُلُ اَوْ لَمْ يَتَعَرَّفْ

مصنف هغه اسم کوم چې دنداء نه مخکې نکره وي برابره خبره ده که دنداء سره معرفه وي لکه یارجل یا معرفه نه

مِثْلُ يَا رَجُلاً لِاَنَّ نِدَاءَهُ لَمْ يَكْثُرْ كَثْرَةَ نِدَاءِ الْعَلَمِ فَلَوْ حُذِفَ مِنْهُ حَرْفُ النِّدَاءِ

وي لکه یارجلاً ځکه چې دانداء دعلَم دنداء په شان کثیر نه دي پس که چیرته ددې نه حرف نداء حذف کړې شي نو

لَمْ يَسْبِقِ الذِّهْنُ اِلٰى اَنَّهُ مُنَادًى وَ الْاِشَارَةِ اَىْ وَ اِلَّا مَعَ اِسْمِ الْاِشَارَةِ لِاَنَّهُ

سبقت نه کوي ذهن دې خبرې طرف ته چې دا منادی ده او اسم اشاره یعني که چیرته نه وي سره د اسم اشارې ځکه

كَاِسْمِ الْجِنْسِ فِي الْاِبْهَامِ وَالْمُسْتَغَاثِ وَالْمَنْدُوْبِ لِاَنَّ الْمَطْلُوْبَ الْمَقْصُوْدَ فِيْهِمَا مَدُّ الصَّوْتِ وَتَطْوِيْلُ

چې دا په ابهام کې د اسم جنس په شان دي او مستغاث او مندوب ځکه چې په دې دواړو کې مقصود اوږدول آواز او د

الْكَلَامِ وَالْحَذْفُ يُنَافِيْهِ فَبَقِيَ عَلٰى هٰذَا مِنَ الْمَعَارِفِ الَّتِيْ يَجُوْزُ فِيْهَا حَذْفُ حَرْفِ النِّدَاءِ

کلام دي او حذف ددې منافي دي نو باقي پاتې شو په دې باندې د معارفو نه هغه چې جائز وي په دې حذف دحرف نداء

الْعَلَمُ سَوَاءٌ كَانَ مَعَ بَدَلٍ عَنْ حَرْفِ النِّدَاءِ كَلَفْظَةِ اللّٰهِ فَاِنَّهُ لَا يُحْذَفُ مِنْهُ

او پاتې شو علَم برابره خبره ده که دا حذف وي سره دبدل دحرف نداء نه لکه لفظ دالله ځکه چې نه شي حذف کولې ددې

اِلَّا مَعَ اِبْدَالِ الْمِيْمِ الْمُشَدَّدَةِ مِنْهُ نَحْوُ اَللّٰهُمَّ اَوْ بِغَيْرِ بَدَلٍ نَحْوُ يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا اَىْ يَا يُوْسُفُ وَلَفْظَةُ

نه حرف نداء مګر سره دبدلولو دمیم مشدد لکه اللهم یا په غیر دبدل نه لکه یوسف اعرض عن هذا یعني یا یوسف او لفظ

اَيٌّ اِذَا وُصِفَ بِذِي اللَّامِ نَحْوُ اَيُّهَا الرَّجُلُ اَىْ يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ اَوْ بِالْمَوْصُوْفِ بِذِى

دای چې کله معرف باللام سره موصوف کړې شي لکه ایهاالرجل یعني یا ایهاالرجل یا لفظ دای موصوف وي په ذي

اللَّامِ نَحْوُ اَيُّهٰذَا الرَّجُلُ اَىْ يَا اَيُّهٰذَا الرَّجُلُ فَلَا يَجُوْزُ الْحَذْفُ مِنْ اَيُّهٰذَا مِنْ غَيْرِ اَنْ يَتَّصِفَ هٰذَا بِذِى اللَّامِ

اللام پورې لکه ایهذا الرجل یعني یا ایهذا نو نه دي جائز حذف د ایهذا نه په غیر ددې نه چې متصف کړې دا په ذي اللام

وَالْمُضَافُ إِلَى اَيِّ مَعْرِفَةٍ كَانَتْ نَحْوُ غُلَامَ زَيْدٍ اِفْعَلْ كَذَا وَالْمَوْصُوْلَاتُ نَحْوُ مَنْ لَاْ يَزَالُ مُحْسِناً اَحْسِنْ اِلَيَّ وَاَمَّا
اوچې مضاف وي هرې معرفې لکه غلام زيد افعل كذا اوموصولات لکه من لايزال محسنا احسن اليّ اوليکن په
الْمُضْمَرَاتُ فَشَذَّ نِدَاءُ هَا نَحْوُ يَا اَنْتَ وَيَا اِيَّاكَ.
په ضمائرو کې نداء شاذ ده لکه يا انت ويا اياک.

خلاصه دمتن : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې که چيرته کومه قرينه موجودوي نو د حرفِ ندا حذف کول جائز دي ليکن چې کله حرف اسم جنس يا اسم اشاره يا مستغاث يا مندوب مقارن وي نوددې حذف کول جائز نه دي.

اغراض دجامي : لقيام قرينة: په دې عبارت سره شارح يووهم لرې کړو : وهم داوو چې شايد د حرف نداء حذف على الاطلاق جائز وي برابره خبره ده که قرينه وي يا نه لکه دمصنف د عبارت نه اطلاق فهميږي نو **لقيام قرينة** يې وويل داوهم يې لرې کړو چې دحرف نداء حذف مطلقاً جائز نه دي بلکه په هغه وخت کې جائز دي چې کله څه قرينه موجوده وي.

اذاكان مقارنا: په دې عبارت سره شارح اشاره وکړه چې **مع اسم الجنس** ظرف مستقر په اعتبار د متعلق سره خبر دې دکان محذوف.

يعني به: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : يارجلُ معرفه ده اواسم جنس هم نه دي ځکه چې ددې نه **رجل معين** مراد دي چې کله اسم جنس په فرد مبهم باندې دلالت کوي نوددې نه مخکې حرف نداء حذف کول په کاردي حالانکه داجائز نه دي.

جواب : داسم جنس نه مراد هغه اسم دي چې دندا نه مخکې نکره وي برابره خبره ده که دنداء نه پس معرفه وي يانه دمعرفې مثال لکه **يارجل** دنکرې مثال لکه **يارجلاً** نودداسې اسم جنس نه مخکې دحرفِ ندا حذف کول جائز نه دي.

لان ندائه : په دې عبارت سره غرض دشارح وجه دعدم جواز بيانول دي چې داسم جنس نه دحرف ندا حذف کول ځکه جائز نه دي چې داسم جنس ندا دعلم دنداء په شان **كثير الوقوع** نه وي لهذا که چيرته د اسم جنس نه حرفِ ندا حذف کړې شي نوذهن ددې دمنادى کيدو طرف ته سبقت نه کوي نو مقصد به فوت شي.

اى والا مع اسم الاشارة: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دعطف دي د والاشارة عطف دي

په الجنس باندې .

لانه: کې داسم اشارې نه دحرف ندا حذف کولو دعدمِ جواز وجه بيانوي چې داسم اشارې نه حرف ندا حذف کول ددې وجې نه جائز نه دي چې اسم اشاره په ابهام کې داسم جنس په شان دي نو لکه څنګه چې داسم جنس نه حرف ندا حذف کول جائز نه دي نو همدارنګې داسمِ اشارې نه هم حرف نداء حذف کول جائز نه دي .

لان المطلوب: په دې عبارت کې دمستغاث اودمندوب نه حرفِ نداء دحذف کولو دعدمِ جواز وجه بيانوي چې دمستغاث اودمندوب نه حرف نداء حذف کول ځکه جائز نه دي چې په دې دواړو کې اوږدوالي د آواز مطلوب وي اوحذف ددې منافي دي .

فبقي هذا: داپه ماقبل باندې دتفريع بيان دي چې کله داسم جنس اسم اشاره اودمستغاث اومندوب نه حرفِ ندا حذف کول جائز نه دي نوهغه معارف چې دهغې نه حرفِ ندا حذف کول جائز دي نو لاندې ذکر شوي شيان به باقي پاتې وي :

(۱) منادی دعلم نه مخکې حرفِ ندا حذف کول جائز دي بيا په علم کې تعميم دي برابره خبره ده که حرفِ ندا ترې حذف کړي اوددې په عوض په علم باندې بل څيز راوړل شي اويانه داول مثال لکه لفظ د اللهم چې کله لفظ دالله نه حرفِ ندا حذف کړي شي نوددې په عوض ميم مشدد به راوړو اللهم به وايو اوددويم مثال لکه يوسف اعرض عن هذا داپه اصل کې وو يا يوسف اعرض عن هذا د يوسف نه مخکې حرفِ ندا مو حذف کړه ليکن ددې په عوض مو بل څيز رانه وړو .

(۲) ولفظة ايّ دويمه معرفه ده چې ددې نه مخکې حرفِ ندا حذف کول جائز دي هغه لفظ دايّ دي برابره خبره ده چې ددې صفت معرف باللام وي يا داسې اسم وي چې موصوف وي دمعرف باللامِ سره لکه ايها الرجل داپه اصل کې يا ايها الرجل وو ددې نه يې حرفِ نداء حذف کړي ده ځکه چې دايّ صفت معرف باللام دي اودويم مثال ايهذا الرجل داپه اصل کې وو يا ايهذا الرجل په دې کې هذا دايّ صفت دي بيا داموصوف دي دالرجل معرف باللام سره .

(۳) دريم مقام هغه منادی چې مضاف وي يوې معرفې طرف ته لکه غلام زيد افعل کذا په اصل کې دا ياغلام زيد افعل کذا وو .

(۴) خلورم مقام چې چیرته حرفِ ندا حذف کول جائز دي هغه موصولات دي لکه من لایزال الخ په اصل کې دا یامن لایزال وو

اما المضمرات: په دې عبارت سره شارح یو وهم لرې کوي هغه وهم دادې چې دموصولاتو نه دحرفِ ندا حذف کول ځکه جائز دي چې هغه معرفه دي نو مضمرات هم معرفې دي ددې نه مخکې هم دحرفِ ندا حذف کول جائز کیدل په کار دي نو واما المضمرات نه داوهم یې لرې کړو چې دمضمراتو ندا ډیر شاذ اونادر دي ځکه چې ددې نه مخکې حرفِ ندا حذف کول جائز نه دي.

دحرف ندا په حذف کولو کې دیو سوال جواب :

وَ شُذَّ حَذْفُ حَرْفِ النِّدَاءِ مِنْ اِسْمِ الْجِنْسِ فِيْ اَصْبِحَ لَيْلُ اَىْ صِرْ صُبْحاً يَا لَيْلُ حُذِفَ حَرْفُ
اوشاذ دي حذف کول دحرف نداء داسم جنس نه په اصبح لیل کې یعني صر صبحا یالیل حذف کړي شوه حرف نداء د
النِّدَاءِ مِنَ اللَّيْلِ مَعَ اَنَّهُ اِسْمُ جِنْسٍ شُذُوْذاً قَالَتْهُ اِمْرَاَةُ اِمْرِئِ الْقَيْسِ
اللیل نه سره ددې چې دااسم جنس دي په شاذ طریقې سره دالفظ دامرءالقیس ښځې په هغه وخت کې وویل چې
حِيْنَ كَرِهَتْهُ وَ فِيْ اِفْتَدِ مَخْنُوْقُ اَىْ يَا مَخْنُوْقُ قَالَهُ شَخْصٌ وَقَعَ فِي اللَّيْلِ عَلٰى نَائِمٍ مُسْتَلْقٍ
کله ښځې ده لره ناخوښ کړو او افتدمخنوق یعني یامخنوق داهغه کس وویل چې دشپې په یوچت باندې پروت وو او
فَخَنَقَهُ وَ قَالَ اِفْتَدِ مَخْنُوْقُ حُذِفَ حَرْفُ النِّدَاءِ عَنِ الْمَخْنُوْقِ مَعَ اَنَّهُ
ده مري بنده کړي شوه اووې ویل چې اې مرې بندونکې فدیه راکړه دمخنوق نه حرف نداءیې حذف کړه سره ددې
اِسْمُ جِنْسٍ شُذُوْذاً وَ فِيْ اَطْرِقْ كَرَا اَىْ يَا كَرَوَانُ وَ فِيْهِ شُذُوْذَانِ حَذْفُ
چې هغه اسم جنس دي په شاذ طریقې باندې او اطرق کراکې یعني یاکروان او په دې کې دوه شاذ دي(۱) حذف کول د
حَرْفِ النِّدَاءِ مِنْ اِسْمِ الْجِنْسِ وَ تَرْخِيْمُ غَيْرِ الْعَلَمِ قِيْلَ هِيَ رُقْيَةٌ يَصِيْدُوْنَ بِهَا
حرف نداء داسم جنس نه(۲) اوترخیم دغیرعلم او ویلې شوي دي چې دا یومنتر دي چې په دې باندې ښکار کولې
الْكَرَوَانَ وَ يَقُوْلُوْنَ اَطْرِقْ كَرَا اَطْرِقْ كَرَا اِنَّ النَّعَامَةَ فِي الْقُرٰى فَيَسْكُنُ وَ يُطْرِقُ
شي کروان مرغې اوهغه وایي چې اطرق کرا اطراق کرا ان النعامة فی القری نو پس بیا هغه او ډیرېږي او سرلاندې کړي
حَتّٰى يُصَادَ وَ الْمَعْنٰى اَنَّ النَّعَامَةَ الَّذِيْ هُوَ اَكْبَرُ مِنْكَ قَدِ اصْطِيْدَ وَ حُمِلَ
تردې چې ښکارېږي کړي او مطلب دادې چې بلاشبه شترمرغ چې دتا نه غټ دي هغه مو ښکار کړي دي اووړي مودي
اِلَى الْقُرٰى فَلاَ تُخَلّٰى اَيْضاً.
کلي ته نوته هم نه شي پاتې کیدلې.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې د يو سوال مقدر جواب ورکوي چې ددې تفصيل لاندې په شرحه کې ذکر دي :

اغراض دجامي : دپورتني عبارت نه ماتن غرض ديو سوال مقدر جواب ورکول دي اوشارح دهغې وضاحت کوي

سوال : ستا داوينا چې داسم جنس نه حرف ندا حذف کول جائز نه دي دامنقوضه ده په اصبح ليل ، افتد مخنوق ، اطرق کرا سره ځکه چې په اصبح ليل کې ليل اسم جنس دي ددې نه مخکې حرف ندا حذف کړې شوي ده ، اوپه افتد مخنوق کې مخنوق اسم جنس دي ددې نه حرف ندا حذف کړې شوي ده اوپه اطرق کرا کې کرا اسم جنس دي اوددې نه حرف ندا حذف کړې شوي دي .

جواب : نو ددې نه جواب دادې چې داټول شاذ دي .

حذف حرف النداء : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : شذ ماضي مجهول دې او اصبح ليل ددې نائب فاعل دي حالانکه ددې نائب فاعل جوړول صحيح نه دي ځکه چې نائب فاعل اسم وي اوداسم مفرد قسم وي اودلته اصبح ليل جمله ده لهذا ددې نائب فاعل جوړول صحيح نه دي .

جواب : دشذ نائب فاعل اصبح ليل نه دي بلکه نائب فاعل محذوف دي کوم چې حذف حرف النداء دي اوهغه مفرد دي لهذا ددې نائب فاعل جوړول صحيح دي او د اصبح ليل نه مخکې في مقدر دي او داد شذ دپاره ظرف دي .

اى صر صبحا : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داصبح همزه دتعديې دپاره ده لکه داکرم همزه دتعديې دپاره دي نوپه دې وخت کې به معنى داوي چې اصبح ياليل هيئاً آخر ظاهره داده چې دامعنى صحيح نه ده .

جواب : داهمزه دصيرورت دپاره ده نه دتعديې دپاره د اصبح ليل معنى ده صر صبحا ياليل .

قالته امرأة . په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې داقول دامرء القيس دښځې دي دا ددې ښځې په هغه وخت کې وويل چې کله دابښځې دصحبت دامرء القيس نه تنګه راغله

افتد مخنوق: دا په اصل کې افتد يامخنوق وو . ويلي شي چې سليک بن سلکه په چت باندې پروت وو يوغل دده مرې باندې زور وکړو او وې ويل چې افتد مخنوق ، څه مال راکړه بيابه دې پرېږدم ، د مخنوق نه حرف نداء د شذوذ په طريقې باندې حذف کړې شوي دي باوجود ددې چې دا اسم جنس دي

اطرق کرا: دريم مثال ، اصل کې دا يا کروان وو شارح وايي چې په دې کې دوه شذوذه دي:

(۱) : دا اسم جنس نه حرف نداء حذف کول

(۲) : غير علم کې ترخيم کول ، شارح ددې مثال وضاحت کوي او وايي چې مشهوره داده چې دايو منتر دي چې ددې په ذريعه باندې دکروان مرغه ښکار کيږي اوهغه ته ويل شي چې اطرق کرا اطرق کرا ان النعامة في القرى ، اى کروان مرغه خپل سر لاندې راتاو کړه ځکه چې شتر مرغ په کلي کې دي مطلب دادې چې شتر مرغ چې کوم دتانه غټ دي دهغې ښکار موکړي دي او هغه مو کلي ته رسولې دي نو ته هم رانه بچ نه شي پاتې کيدلې اوښکار کيدي شي .

دمنادى حذف كول :

وَ قَدْ يُحْذَفُ الْمُنَادىٰ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازاً نَحْوَ اَلا يَا اسْجُدُوْا بِتَخْفِيْفِ اَلاَ عَلٰى
اوکله منادى دقرينې په موجودګي کې جوازاً حذف کولې شي لکه الايااسجدوا دالادتخفيف سره په دې خبره باندې
اَنَّهٗ حَرْفُ تَنْبِيْهٍ وَيَا حَرْفُ النِّدَاءِ اَىْ يَا قَوْمُ اسْجُدُوْا وَ الْقَرِيْنَةُ اِمْتِنَاعُ دُخُوْلِ يَا عَلَى الْفِعْلِ
چې داحرف تنبيه دي اوياء حرف نداء ده يعني ياقوم اسجدوااوقرينه دياءپه فعل باندې ددخول ممتنع کيدل دي
بِخِلَافِ قِرَاءَةِ اَلاَّ يَسْجُدُوْا بِتَشْدِيْدِ اللاَّمِ لِاَنَّهٗ لَيْسَ مِنْ هٰذَا الْبَابِ فَاِنَّ اَنْ حِيْنَئِذٍ نَاصِبَةٌ
په خلاف دالايسجدوپه تشديددلام سره ځکه چې دانه دي ددې باب نه ځکه چې ان په دې وخت کې ناصب دي دپاره
لِلْمُضَارِعِ اُدْغِمَتْ نُوْنُهَا فِيْ لاَمِ لاَ وَ يَسْجُدُوْا فِعْلٌ مُضَارِعٌ سَقَطَ نُوْنُهٗ بِالنَّصْبِ.
دمضارع مدغم کړې شونون ددې په لام کې اويسجدوافعل مضارع دي ساقط شوي دي نون ددې دنصب دوجې نه.

خلاصه دمتن اوتشريح : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې کله په وخت دقيام د قرينې د منادى په جوازي طور باندې حذف کولې شي لکه الا يااسجدوا همزه مفتوحه اودلام د تخفيف سره چې داحرف تنبيه دي اوياحرفِ ندا دي اومنادى محذوف ده کوم چې قوم دي چې په اصل کې وو الاياقوم اسجدوا اودمنادى په حذف باندې قرينه داده چې ياء حرفِ ندا ده او حرفِ ندا په فعل باندې نه داخليږي ددې نه معلومه شوه چې منادى محذوف ده په خلاف دهغه

چې کله دې نه الا يسجدوا په تشديد دلام سره وويل شي نو په دې وخت کې به دا زمونږ دبحث نه خارج وي ځکه چې په دې صورت کې ان مصدريه دفعل مضارع دپاره ناصب وي ، الا په اصل کې ان لا وو نون دلام دقريب المخرج دوجې نه په لام سره بدل کړې شو اولام مو په لام کې مدغم کړو نو الا شو اويسجدوا فعل مضارع ده چې ددې نون ان ناصبه دوجې نه حذف شو .

د فعل د حذف دريم مقام :

اَلثَّالِثُ مِنْ تِلْکَ الْمَوَاضِعِ الْاَرْبَعَةِ الَّتِيْ وَجَبَ حَذْفُ نَاصِبِ الْمَفْعُوْلِ بِهٖ فِيْهَا مَا اَيْ مَفْعُوْلٌ بِهٖ اُضْمِرَ
دريم دهغو ځايونو چې په هغې کې دمفعول به ناصب حذف کول واجب دي يعني هغه مفعول به دي چې مضمروي
اَيْ قُدِّرَ عَامِلُهُ النَّاصِبُ لَهُ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ اَلشَّرِيْطَةُ وَ الشَّرْطُ وَاحِدٌ وَ اِضَافَتُهَا اِلَى التَّفْسِيْرِ
يعنې ددې عامل ناصب مقدر کړې شوي وي په شرط د تفسير الشريطة او الشرط يودي اوددې اضافت تفسير ته
بَيَانِيَّةٌ اَيْ مَا اُضْمِرَ عَامِلُهُ بِنَاءً عَلٰى شَرْطٍ هُوَ تَفْسِيْرُهُ اَيْ تَفْسِيْرُ الْعَامِلِ
بيانيه دي يعنې هغه چې مضمروي عامل ددې اوبناء وي به يوشرط سره چې هغه تفسير دي يعنې تفسيردعامل
بِمَا بَعْدَهُ وَ اِنَّمَا وَجَبَ حَذْفُهُ حِيْنَئِذٍ اِحْتِرَازًا عَنِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْمُفَسَّرِ
چې دما بعد سره وي او به تحقيق سره واجب دي حذف ددې په دې وخت کې احترازيې وکړو دجمع نه په مينځ دمفسر
وَ الْمُفَسِّرِ وَ هُوَ اَيْ مَا اُضْمِرَ عَامِلُهُ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ كُلُّ اِسْمٍ بَعْدَهُ فِعْلٌ اَوْ شِبْهُهُ
اومفسر کې اوهغه يعنې مااضمر عامله على شريطة التفسير هر هغه اسم دي چې دهغې نه پس فعل يا شبه فعل وي
اِحْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ زَيْدٌ اَبُوْکَ وَلَا يُرِيْدُ بِهٖ اَنْ يَلِيَهُ الْفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ مُتَّصِلًا بِهٖ
احترازيې وکړو په دې سره د زيد ابوک دمثل نه اونه دي مراد په دې سره چې دامتصل وي دفعل يادشبه فعل سره
بَلْ اَنْ يَكُوْنَ الْفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ جُزْءَ الْكَلَامِ الَّذِيْ بَعْدَهُ نَحْوُ زَيْدًا عَمْرٌو ضَرَبَهُ وَزَيْدًا اَنْتَ ضَارِبُهُ
بلکه مراد دادي چې فعل ياشبه فعل ددې کلام جزوي کوم چې ددې نه پس وي لکه زيدا عمرو ضربه اوزيدا انت ضاربه
مُشْتَغِلٌ ذٰلِکَ الْفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ عَنْهُ اَيْ عَنِ الْعَمَلِ فِيْ ذٰلِکَ الْاِسْمِ بِضَمِيْرِهٖ اَيْ بِالْعَمَلِ
اعراض کونکي وي ددې فعل ياشبه فعل ددې نه يعنې دعمل نه په دې اسم کې دضمير سره يعنې په عمل کولو
فِيْ ضَمِيْرِهٖ اَوْ فِيْ مُتَعَلِّقِهٖ اَيْ مُتَعَلِّقِ ذٰلِکَ الْاِسْمِ اَوْ مُتَعَلِّقِ ضَمِيْرِهٖ وَ حَاصِلُهُ
کې دضمير سره يا ددې دمتعلق سره يعنې دمتعلق ددې اسم سره اويادمتعلق دضمير سره اوحاصل ددې دادې چې
اَنْ يَكُوْنَ الْفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ مُشْتَغِلًا بِالْعَمَلِ فِيْ ضَمِيْرِ ذٰلِکَ الْاِسْمِ اَوْ مُتَعَلِّقِهٖ فَارِغًا عَنِ
چې فعل ياشبه فعل ددې مشغول وي په عمل سره په ضميرددې اسم کې اويادمتعلق ددې کې چې فارغ وي د
الْعَمَلِ فِيْهِ بِسَبَبِ ذٰلِکَ الْاِشْتِغَالِ لَا بِسَبَبٍ آخَرَ بِحَيْثُ لَوْ سُلِّطَ

عمل نه په دې کې په سبب د دې اشتغال سره نه په بل سبب سره په داسې شان سره چې که چيرته مسلط کړې شي

بِمُجَرَّدِ رَفْعِ ذٰلِكَ الْاِشْتِغَالِ عَلَيْهِ اَيْ عَلٰى ذٰلِكَ الْاِسْمِ هُوَ اَيْ اَحَدُ الْاَمْرَيْنِ الْفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ بِعَيْنِهٖ

صرف د رفع کولو د دې اشتغال په دې باندې يعنې په دې اسم باندې هغه يعنې يو د دوه امرينو فعل يا شبه فعل بعينه

اَوْ مُنَاسِبُهٗ اَيْ مَا يُنَاسِبُهٗ بِالتَّرَادُفِ اَوِ اللُّزُوْمِ لَنَصَبَهٗ اَيْ لَنَصَبَ

يا د دې مناسب يعنې هغه فعل چې مناسب وي په اعتبار د ترادف او يا د لزوم سره نو نصب به ورکوي يعنې نصب به

اَحَدُ هٰذَيْنِ الْاَمْرَيْنِ الْاِسْمَ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ كَمَا هُوَ الظَّاهِرُ الْمُتَبَادِرُ

ورکوي يو د دې امرينو دې اسم ته د مفعوليت د وجې نه لکه چې ظاهر او متبادر دې پس ضمير يا د دې د متعلق سره نو

فَبِقَيْدِ الْاِشْتِغَالِ بِالضَّمِيْرِ اَوْ مُتَعَلِّقِهٖ خَرَجَ نَحْوُ زَيْدًا ضَرَبْتُ وَبِقَيْدِ الْفَرَاغِ عَنِ الْعَمَلِ فِيْهِ بِمُجَرَّدِ ذٰلِكَ الْاِشْتِغَالِ

په قيد د اشتغال بالضمير او متعلق د دې نه خارج شو زيدا ضربت مثال او په قيد د فراغ عن العمل فيه بمجرد ذلک الاشتغال

خَرَجَ نَحْوُ زَيْدٌ ضَرَبْتُهٗ فَاِنَّ الْمَانِعَ عَنْ عَمَلِ ضَرَبْتُهٗ فِيْ زَيْدٍ لَيْسَ بِمُجَرَّدِ اِشْتِغَالِهٖ بِضَمِيْرِهٖ فَاِنَّ

خارج شو زيد ضربته مثال ځکه چې مانع د عمل د ضربته په زيد کې نه دې صرف د اشتغال نه په ضمير پورې ځکه چې

عَمَلَ مَعْنَى الْاِبْتِدَاءِ فِيْهِ وَ رَفْعَهٗ اِيَّاهُ اَيْضًا مَانِعٌ عَنْ ذٰلِكَ وَ بِقَيْدِ النَّصْبِ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ

عمل د معنى د ابتداء په دې کې او رفع ورکول دې، دې ته هم دا رنګې مانع دې د دې نه او په قيد د نصب بالمفعولية

خَرَجَ خَبَرُ كَانَ فِيْ نَحْوِ زَيْدًا كُنْتُ اِيَّاهُ.

سره خارج شو خبر د کان په دې مثال کې چې زيدا کنت اياه.

خلاصه د متن : هغه مواضع اربعه چې په هغې کې د مفعول به عامل ناصب حذف کول جائز دي په هغې کې د دې نه دريم مقام ما اضمر عامله على شريطة التفسير دي ، د دې تعريف دا دې چې ما اضمر عامله هر هغه اسم دي چې د هغې نه پس فعل يا شبه فعل وي او هغه فعل يا شبه فعل د دې اسم نه اعراض وکړي او د دې ضمير يا د دې متعلق کې عمل کوي د دې حيثيت نه که چيرته دې فعل يا شبه فعل ته يا د دې مناسب مراد ته يا مناسب لازم په دې اسم باندې مقدم کړې شي نو هغه دې ته د مفعوليت په بناء باندې نصب ورکوي .

اغراض د جامي : <u>من تلک</u>: په دې سره شارح د جامي د دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې په الثالث باندې الف لام د عهد دي او مراد دا دې چې هغه مواضع اربعه په کوم کې چې د مفعول به عامل ناصب حذف کول واجب دي په هغې کې دريم ځاې ما اضمر عامله على شريطة التفسير دي .

<u>اى مفعول به</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د ما نه متبادر الى الذهن ماموصوله دي کوم چې معرفه دي چې کلمه مبتدا او خبر دواړه معرفه وي نو ضمير دفصل راوړل ضروري وي دد ې دپاره چې دخبر او دنعت په مينځ کې امتياز راشي لهذا دلته ضمير دفصل په کاروو الثالث هو ما کيدل په کار وو .

جواب : شارح اى مفعول به نکره راوړه ددې جواب ورکوي چې ماموصوفه ده کومه چې نکره وي ځکه چې ضمير دفصل راوړل ضروري نه دي .

اى قدر: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مصنف دعبارت نه دامعلوميږي چې ضمير هم عامل وي حالانکه ددې څوک قائل نشته .

جواب : دلته داضمار نه ددې لغوي معنى اخفاء اوستر مراد دى اصطلاحي معنى ضمير مراد نه دي .

الناصب له : شارح اشاره وکړه دعامل اضافت دضمير په طرف دعهد دپاره دي ددې نه خاص عامل ناصب مراد دي .

الشريطة والشرط واحد: په دې عبارت سره غرض دشارح ددري سوالونو جوابات ورکول دي .

سوال (۱) : شريطة دفعيلة په وزن دي کوم چې دمفعول په معنى کې وي نو شريطه به دمشروط په معنى کې وي اومعنى به داوي چې هغه مفعول به چې دهغې عامل مقدر کړي شوي وي دمشروط په تفسير باندې دامعنى ددې مقام سره مناسب نه ده .

سوال (۲) : دشريطه معنى علامت دي لکه چې ويلي شي اشراط الساعة يعني علاماتها دامعنى هم ددې مقام سره مناسب نه ده .

سوال (۳) : مصنف دنورو نحويانو مخالفت ولې وکړو حالانکه نور نحويان ددې نوم مااضمر عامله على شرط التفسير ږدي ماتن دشرط په ځاې شريطة ولې وويل ؟

جواب : شارح ددري واړو سوالاتو جواب ورکړي چې دلته شريطه دشرط په معنى کې ده په دواړو کې کوم فرق نشته لهذا دري واړه سوالات رفع اوختم شو .

واضافتها الى التفسير بيانية : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : شريطة التفسير مرکب اضافي دي اوپه دې کې مضاف مضاف اليه په مينځ کې تغاير

وي اودلته تغاير نشته ؟

جواب : دشريطه تفسير طرف ته اضافت ،اضافت بيانيه دي په دې کې تغاير شرط نه دي البته د اضافت په نورو اقسامو کې تغاير ضروري وي .

اى ما اضمر عامله : په دې کې دحاصل معنى بيان کوي .

بناء : په دې کې اشاره کړې ده چې په متن کې کلمه د على بنائيه ده همدارنګې يې اشاره وکړه چې على شريطة التفسير په اعتبار دمتعلق سره دبناء مفعول له دي دماضمر دپاره .

اى تفسير العامل : په دې عبارت سره يې اشاره کړې ده چې په التفسير باندې الف لام مضاف اليه د (عامل) په عوض کې ده اوس به يې معنى داوي چې هغه مفعول به چې دهغې عامل مقدر کړې شوي وي اويو دشرط په بناء باندې وي اوهغه شرط ددې تفسير يعنې دعامل تفسير وي ددې مابعد سره .

وانما وجب : په دې عبارت سره شارح په ما اضمر عامله کې دعامل ناصب دحذف کولو دوجوب وجه بيانوي چې عامل حذف کول ددې وجې نه واجب دي چې که چيرته داحذف نه کړې نو. دمفسِر اودمفسَر اجتماع به لازم راشي اوهغه جائز نه دي .

اى ما اضمر : په دې عبارت سره د هُو دضمير مرجع متعين کړه چې د هُوَ ضمير مرجع ما اضمر دي .

واحترز : په دې عبارت کې د بعده دفعل اودشبهه دقيد فائده بيانول دي چې داقيد احترازي دي د زيد ابوک دمثال نه ځکه چې په دې کې د زيد نه پس فعل ياشبه فعل نه دي .

ولا يرد : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مااضمر عامله تعريف جامع نه دي ځکه چې داپه هغه زيد باندې نه صادقيږي کوم چې په زيدا عمرو ضربه او زيدا انت ضاربه کې واقع دي ځکه چې ددې نه پس فعل ياشبه فعل نه دي بلکه ددې نه پس اسم واقع دي هغه عمرو او انت دي حالانکه دادواړه مثالونه هم د مااضمر عامله دقبيل نه دي .

جواب : د بعده فعل اوشبهه نه دامراد نه دي چې هغه فعل ياشبه فعل ددې اسم سره متصل وي بلکې ددې نه مراد دادې چې ددې اسم نه پس چې کوم کلام واقع وي فعل ياشبه فعل ددې جز

وي او زيداً عمرو ضربه اوزيد انت ضاربه کې هم د زيد نه پس چې کوم کلام واقع دي فعل ياشبه فعل د دې جزء دي .

ذلك الفعل: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د ضمير او د دې په مرجع کې مطابقت ضروري وي او دلته مطابقت نشته ځکه چې ضمير د واحد دي او مرجع دوه شيان (فعل ، شبه فعل) دي .

جواب : د ضمير مرجع احد الامرين دي لکه کلمه د آوْ نه معلوميږي .

عن العمل: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : اشتغال او فراغ د عمل نه کيږي نه د اسم نه او د عنه او د بضميره مرجع خو اسم دي نو دا څنګه صحيح دي .

جواب : د ضمير مرجع عمل ده او اسم د ضمير مرجع جوړول د ادنی ملابست د وجې نه ده او هغه ادنی ملابست دا دې چې اسم د عمل د اثر مظهر او محل وي .

اى متعلق: په دې عبارت کې بيان د مرجع دي اشاره يې وکړه چې د متعلقه د ضمير مرجع کې اختيار دي برابره خبره ده چې د دې مرجع اسم جوړوي او که ضمير .

وحاصله: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دلته د اشتغال معنی حقيقي مراد ده، يا معنی مجازي فراغ مراد ده که معنی حقيقي وي، نو باء د دې صله جوړول صحيح دي، ليکن عن صله جوړول صحيح نه دي، که مجازي معنی فراغ مراد وي، نو عن صله جوړول صحيح او باء صله جوړول صحيح نه دي او که دواړه مراد وي، نو جمع بين الحقيقة والمجاز راځي او جمع بين الحقيقة والمجاز دا ناجائز ده .

جواب : دلته د اشتغال معني حقيقي مراد ده پاتې شو دا سوال چې په دې صورت کې عن د دې صله جوړول صحيح نه دي نو د دې جواب دا دې چې عن د مشتغلٌ صله ده ليکن مشتغل متضمن دي ، معنی د فارغاً ته ګويا دلته صنعت تضمين اختيار کړې شوې دي، د صنعت تضمين مطلب دا دې چې د يو فعل شبه فعل نه دويم فعل يا شبه د معنی مراد واخستل شي دلته هم د اشتغال نه د فراغ معنی اخستل شوې ده نو تقدير د عبارت دا سې شو چې مشتغل بضميره او متعلقه حال کونه فارغاً عن العمل في ذلك الاسم

بسبب ذلک الاشتغال لابسبب آخر: په دې عبارت سره غرض دشارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: د ماأضمر عامله تعريف منقوض اومات شو په زيدا هل ضربته باندې دلته د ضربت زيداً نه اعراض کول اوددې په ضمير کې عمل کول دي، ليکن که چيرته دا په زيد باندې مسلط کړې شي، نو دا زيد ته نصب نه ورکوي.

جواب: مراد دادې چې فعل يا شبه فعل په دې اسم کې عمل کولو نه اعراض او فراغ فقط د همدې اشتغال دوجې نه وي، نه د بلې وجې نه او زيدا هل ضربته کې ضربت اعراض او فراغ عن العمل صرف داشتغال بالضمير دوجې نه، نه دي، بلکې دلته دا عراض وجه هغه هل استفهاميه دي، ځکه د استفهام ما بعد په ما قبل کې عمل نه شي کولې.

بحيث لو سلط: شارح د بحيث اضافه وکړه، نو په دې سره دابيانوي چې جمله شرطيه لوسلط فيه احترازي دي، د زيد ذهب به نه احتراز دي.

بمجرد رفع ذلک الاشتغال: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د ما اضمر عامله تعريف دخول دغير نه مانع نه دي، ځکه چې دا په هغه زيد باندې صادق راځي کوم چې زيد ضربته کې واقع دي، ځکه چې هغه اسم دي او ددې نه پس داسې فعل واقع دي کوم چې ددې اسم په ضمير کې دعمل کولو د وجې نه په خپله اسم کې عمل کولو ته اعراض کوي، او هغه فعل ددې حيثيت نه دي، چې که دغه فعل زيد باندې مسلط شي، نو هغه به د نه مفعوليت د وجې نه نصب ورکوي حالانکه هغه د ما اضمر عامله دباب نه، نه دي.

جواب: مطلب دادې چې د فعل په اسم کې عمل کولو نه مانع فقط د فعل ضمير اسم يا متعلق اسم کې عمل کولو سره مشغول کيدل دي، څه نور مانع نه وي، او که اشتغال رفع شي، نو اسم ته به د مفعوليت په بناء سره نصب ورکوي او په ذکر شوي مثال کې يو مانع شته دي، هغه د زيد مرفوع بالابتداء کيدل دي.

اى على ذلک الاسم: په دې عبارت سره شارح د عليه دضمير مرجع متعين کړه.

هو اى احد الامرين: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د راجع او مرجع په مینځ کې مطابقت نشته هُوَ ضمیر واحد او مرجع فعل شبه فعل دوه څیزونه دي

جواب : مرجع احد الامرین دي کومه چې د کلمې د او نه معلومیږي.

الفعل او شبهه په دې عبارت سره شارح د احد الامرین مصداق بیان کړو.

اي ما یناسبه بالترادف واللزوم : په دې عبارت سره غرض د شارح دیو وهم لرې کول دي :

وهم : شاید چې د مناسب نه مراد فقط مناسب مرادف وي، ځکه چې همدغه مشهور او متبادر الی الذهن دي ، نو دلته یې هغه وهم لرې کړو، چې د مناسب نه مراد مناسب لازم او مرادف دواړه دي.

اي لنصب احد هذین الامرین : دلته شارح د نَصَبَ د هُوَ ضمیر مستتر مرجع بیان کړه او د الاسم په لنصبه کې د هٗ ضمیر بارز منصوب مرجع بیان کړه.

بالمفعولیة : د قید وجه په خپله شارح دجامي رحمه الله مخکې ذکر کوي.

فبقید : په دې عبارت شارح دقیودو دفوائدو بیان کوي: (۱) اشتغال بالضمیر او دمتعلقه د قید نه زید ضربت مثال خارج شو، ځکه چې په دې کې د زید نه پس چې کوم فعل واقع دي هغه د زید ضمیر یا په متعلق کې دعمل کولو سره مشغول نه دي.

بمجرد ذلک الاشتغال : په دې قید سره د زید ضربته مثال خارج شو، ځکه چې په زید کې د ضربته عمل کولو نه مانع صرف د فعل زید ضمیر سره مشغولیدل نه دي، بلکې په زید کې معنی د ابتداء عمل کول او دې ته ابتداء په بناء رفع ورکول هم مانع دي.

بالمفعولیة : په دې قید سره د کان خبر خارج شو، کوم چې په زید کنت ایاه کې واقع دي ، ځکه چې زید اګر چې اسم دي او ددې نه پس داسې فعل واقع دي کوم چې په ضمیر کې دعمل کولو وجه نه ، چې په خپله په دې کې عمل کولو نه اعراض کوي او هغه فعل ددې حیثیت نه دي، چې که چیرته دا په دې باندې مسلط کړی شي نو دې ته نصب ورکوي ، لیکن دا نصب د مفعولیت د وجې نه ، نه دي ، بلکې د کان د خبر د وجې نه دي ، ددې وجې نه دې ته ما اضمر نه ویلې کیږي.

د ما اضمر عامله څلور صورتونه:

وَ هٰهُنَا صُوَرٌ اَرْبَعٌ اِحْدٰهَا اِشْتِغَالُ الْفِعْلِ بِالضَّمِيْرِ مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِهٖ بِعَيْنِهٖ

دلته څلور صورتونه دي يو مشغوليدل دفعل دي دضمير سره .سره دتقدير د مسلط کيدونه په عين ددئ باندې

وَ الثَّانِيَةُ اِشْتِغَالُهٗ بِالضَّمِيْرِ مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِ مَا يُنَاسِبُ الْفِعْلَ

کې دويم مشغوليدل د دئ دضمير سره ،سره دتقدير د مسلط کيدو په هغه صورت کې چې مناسب وي دفعل

بِالتَّرَادُفِ وَ الثَّالِثَةُ اِشْتِغَالُ الْفِعْلِ بِالضَّمِيْرِ مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِ مَا

سره دوجې د ترادف نه او دريم مشغوليدل دفعل دي دضمير سره .سره دتقدير د مسلط کيدو د هغه صورت چې

يُنَاسِبُ الْفِعْلَ بِاللُّزُوْمِ وَ الرَّابِعَةُ اِشْتِغَالُ الْفِعْلِ بِالْمُتَعَلِّقِ وَلَا يُتَصَوَّرُ حِيْنَئِذٍ

مناسب وي دفعل سره دوجې دلزوم نه او څلورم مشغوليدل دفعل متعلق سره او نه متصور کيږي په دئ وخت کې

اِلَّا تَقْدِيْرَ تَسْلِيْطِ الْفِعْلِ الْمُنَاسِبِ بِاللُّزُوْمِ وَلِهٰذَا اَوْرَدَ الْمُصَنِّفُ اَرْبَعَةَ اَمْثِلَةٍ ثَلٰثَةٌ مِنْهَا لِلْمُشْتَغِلِ

مګر تقدير د مسلط کيدو د مناسب فعل نو ددئ وجې نه مصنف راوړه څلور مثالونه دري ددئ نه د مشغوليدو دي

بِالضَّمِيْرِ بِاَقْسَامِهِ الثَّلٰثَةِ وَوَاحِدٌ لِلْمُشْتَغِلِ بِالْمُتَعَلِّقِ وَالْاَحْسَنُ فِيْ تَرْتِيْبِهَا حِيْنَئِذٍ تَاخِيْرُ

د ضمير سره د خپلو دري قسمونو سره او يو د متعلق سره او خه په ترتيب د مثالونو کې نو په دئ وخت کې تاخير د

مِثَالِ الْمُشْتَغِلِ بِالْمُتَعَلِّقِ كَمَا لَا يَخْفٰى وَجْهُهٗ مِثْلَ زَيْدًا ضَرَبْتَهٗ مِثَالُ الْفِعْلِ

هغه مثال چې مشتغل وي د متعلق سره لکه څنګه چې د دئ وجه پټه نه ده لکه زيدا ضربته دا مثال دي د هغه فعل

الْمُشْتَغِلِ بِالضَّمِيْرِ مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِهٖ بِعَيْنِهٖ وَزَيْدًا مَرَرْتُ بِهٖ مِثَالُ الْفِعْلِ

چې مشتغل وي دضمير سره ،سره د تقدير د مسلط کيدو دي د عين سره او زيدا مررت به دا مثال دي د هغه فعل چې

الْمُشْتَغِلِ بِالضَّمِيْرِ مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِ مَا يُنَاسِبُهٗ بِالتَّرَادُفِ فَاِنَّ مَرَرْتُ بَعْدَ تَعْدِيَتِهٖ

مشتغل وي دضمير سره ،سره دتقدير د مسلط کيدو د هغه چې مناسب وي د ترادف سره څکه مررت پس د متعدي

بِالْبَاءِ مُرَادِفٌ لِجَاوَزْتُ وَ زَيْدًا ضَرَبْتُ غُلَامَهٗ مِثَالُ الْفِعْلِ الْمُشْتَغِلِ بِالْمُتَعَلِّقِ

کيدونه د با سره نو دا مرادف دي جاوزت او زيدا ضربت غلامه دا مثال دي د هغه فعل چې مشتغل وي د متعلق سره

مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِ الْفِعْلِ الْمُنَاسِبِ بِاللُّزُوْمِ وَ زَيْدًا حُبِسْتُ عَلَيْهِ مِثَالُ الْفِعْلِ

سره دتقدير د مسلط کيدو د فعل مناسب دلزوم سره او زيدا حبست عليه دا مثال دي د هغه فعل چې مشتغل وي

الْمُشْتَغِلِ بِالضَّمِيْرِ مَعَ تَقْدِيْرِ تَسْلِيْطِ مَا يُنَاسِبُهٗ بِاللُّزُوْمِ فَاِنَّ حَبْسَ الشَّيْءِ

دضمير سره .سره د مسلط کيدو د هغه تقدير چې مناسب وي دلزوم سره څکه چې حبس کول د يو څيز په بل څيز

عَلَى الشَّيْءِ تَلْزَمُهٗ مُلَابَسَتُهٗ لِلْمَحْبُوْسِ عَلَيْهِ يُنْصَبُ زَيْدٌ فِيْ هٰذِهِ الْاَمْثِلَةِ بِفِعْلٍ

باندې د الازموي ملابست د محبوس عليه سره نو نصب ورکولې شي زيد ته په دي مثالونو کې په داسې فعل سره

مُضْمَرٍ يُفَسِّرُهُ مَا بَعْدَهُ اَیْ ضَرَبْتَ يَعْنِيْ اَنَّ الْفِعْلَ الْمُفَسَّرَ النَّاصِبَ لِزَيْداً فِيْ زَيْداً ضَرَبْتُهُ

بې مضمروي او دمابعد تفسيركوي يعني ضربت يعني هغه فعل مفسر چې نصب وركوي زيداًته په زيداً ضربته

ضَرَبْتُ الْمُقَدَّرُ فَاِنَّ الْاَصْلَ فِيْهِ ضَرَبْتُ زَيْداً ضَرَبْتُهُ اُضْمِرَ ضَرَبْتُ الْاَوَّلُ لِوُجُوْدِ

کې چه هغه ضربت مقدر دي ځکه اصل په دې کې ضربت زيدا ضربته دي نو مضمر کړې شو اول ضربت دوجې د

مُفَسِّرِهِ اَعْنِيْ ضَرَبْتُ الثَّانِيَ وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ جَاوَزْتُ فَاِنَّهُ مُفَسَّرٌ بِمَا يُرَادِفُهُ

وجود د مفسر نه چې هغه دويم ضربت دي او په همدې قياس باندې جاوزت ځکه چې دا مفسر دي د هغه څه چې مرادف

اَعْنِيْ مَرَرْتُ بِهٖ وَ اَهَنْتُ فَاِنَّهُ مُفَسَّرٌ بِمَا يَسْتَلْزِمُهُ اَعْنِيْ

وي د دې سره چې قصد کوم زه په مررت به او اهنت سره ځکه چې دا مفسر دي د هغه څه سره چې مستلزم وي چې قصد

ضَرَبْتُ غُلَامَهُ فَاِنَّ ضَرْبَ الْغُلَامِ يَسْتَلْزِمُ اِهَانَةَ سَيِّدِهٖ وَلَا بَسْتُ فَاِنَّهُ مُفَسَّرٌ بِمَا يَسْتَلْزِمُهُ

کوم زه په ضربت غلامه ځکه ضرب د غلام لازموي اهانت د سردار او لابست ځکه دا مفسر دي د هغه څه مستلزم وي

اَعْنِيْ حُبِسْتُ عَلَيْهِ.

چې قصد کوم زه په هغې سره حبست عليه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافيه د ما اضمر عامله څلور صورتونه بيانوي چې تفصيل يې لاندې په شرحه کې ذکر کيږي .

اغراض دجامي : د دې ځاې نه شارح د ما اضمر عامله څلور (۴) صورتونه ذکر کوي او د ماتن د بيان کړي شوو صورتونو وضاحت کوي .

ههنا صور اربع احدها اشتغال: په دې عبارت سره غرض د شارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مثال نه مقصود د ممثل له وضاحت کول وي او د وضاحت د پاره يو مثال هم کافي دي نو مصنف رحمه الله څلور مثالونه ولې ذکر کړل؟

جواب: په اصل کې د ما اضمر عامله څلور (۴) صورتونه دي کوم چې شارح په ترتيب سره ذکر کوي :

(۱) فعل ضمير په اسم کې عمل کوي او بعينه فعل په دې اسم باندې مقدم کړې شي .

(۲) فعل په ضمير کې عمل کوي او د فعل مناسب مراد په دې باندې مقدم کړې شي .

(۳) فعل په ضمير د اسم کې عمل کوي او د فعل مناسب لازم په دې باندې مسلط کولې شي .

(۲) فعل په متعلق داسم کې عمل کوي او د فعل مناسب لازم په دې باندې مسلط کولی شي، ځکه د دې ټولو صورتونو داحاطې کولو دپاره يې ډير مثالونه ورکړي دي نو دمثالونو تعدد د ممثل له دتعدد دوجې نه دي اودا جائز دي.

ولا يتصور: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: فعل په متعلق داسم کې عمل کوي دا هم د درې (۳) امورو احتمال لري:

(۱) بعينه فعل مسلط کړې شي، (۲) يا د دې مناسب مرادف مسلط کړې شي، (۳) يا د دې مناسب لازم مسلط کړې شي، نو تاسو ته د ههنا صور اربع ويل صحيح نه دي بلکې صور ستة ويل په کار وو.

جواب: کله چې فعل په متعلق د اسم کې عمل کوي، نو په دغه وخت کې د فعل مناسب لازم مسلط کولو نه غير يو بل صورت نه متصور کيږي، لهذا ټول صورتونه هم څلور (۴) دي، د دې وجې نه مصنف څلور (۴) مثالونه ذکر کړي دي، په دې کې درې (۳) د هغه فعل شبه فعل دي کوم چې په ضمير کې عمل کوي او يو د هغه دي چې کوم په متعلق د اسم کې عمل کوي.

والاحسن: په دې عبارت سره شارح په صاحب کافيه باندې اعتراض کول دي:

اعتراض: چې دمثالونو په ترتيب کې ښه داوه، چې دمشتغل بالمتعلق مثالونه يې مؤخر کړي وي لکه په تعريف کې متعلق مؤخر کړي د دې دپاره چې دمشتغل بالضمير مثالونه جدا شوي او دمشتغل بالمتعلق مثالونه په آخر کې شي.

جواب: د ماتن دطرف نه د شارح داعتراض جواب نورو شراحو ورکړې دي، چې نفس حسن خو د مصنف په ترتيب کې هم موجود دي، ځکه چې مصنف چې کوم ترتيب اختيار کړي دي په دې کې افعال معلومه يو ځای شوي دي او آخر کې فعل مجهول ذکر کړی دي.

مثال الفعل: په دې عبارت کې شارح د ممثل له نه تعيين کوي:

(۱) زيدا ضربته دهغه فعل مثال دي، چې بعينه هم دا مسلط شي.

(۲) زيدا مررت به دا دهغه فعل مثال دي، چې ضمير په اسم کې په عمل کولو سره مشغول کړي او د دې مناسب مرادف يعنې جاوزت په دې باندې مسلط کړی شي، ځکه چې مررت باء سره متعدي شي او د جاوزت مرادف شي.

زيدا ضربت غلامه : دا د هغه فعل مثال دي كوم چې په متعلق د اسم كې د عمل كولو سره مشغول وي او د فعل مناسب لازم يعنې اهنت په دې باندې مسلط كړي شوي وي نو دا هغې ته د مفعوليت په بناء باندې نصب وركوي .

زيدا حسبت عليه: دا د هغه فعل مثال دي، كوم چې ضمير په اسم كې عمل كولو سره مشغول شو او په دې باندې د دې مناسب لازم يعنې لابست مسلط كړى شو، ځكه چې د يو شي د بل د وجې نه محبوس كيدل او ګيريدل دې ته لازم دي، چې محبوس، د محبوس عليه سره ملابس وي

بنصب زيدا في هذه الامثله: په دې عبارت سره شارح مثالونه په ممثل باندې تطبيق كوي په ذكر شوو مثالونو كې زيد د هغه فعل مقدر د وجې نه منصوب دي ، چې د دې تفسير وروستنې فعل كوي . يعنې هغه فعل مفسر كوم چې په زيدا ضربت كې د زيد د پاره ناصب دي او هغه ضربت مقدر دي . ځكه چې د دې اصل ضربت زيدا ضربته دي اول ضربت يې حذف كړلو د مفسِّر د وجود د وجې نه او هغه مفسر دويم ضربت دي .

همدارنګې هغه فعل مفسر كوم چې په زيدا مررت كې د زيد د پاره ناصب دي هغه جاوزت مقدر دي ، ځكه چې د دې تقدير جاوزت زيدا مررت به دې ، جاوزت يې د وجود د مفسر د وجې نه حذف كړو او هغه مفسر د دې مرادف يعنې مررت دي .

همدارنګې هغه فعل مفسر كوم چې په زيدا ضربت غلامه كې د زيد د پاره ناصب دي هغه اهَنتُ مقدر دي ، ځكه چې د دې تقدير اهنت زيدا ضربت غلامه دي ، اهنت د وجود د مفسر د وجې نه يې حذف كړو او هغه مفسر د دې ملزوم ضربت غلامه دي ، ځكه د غلام وهل د ده د سيد د اهانت او سپكوالي سره مستلزم دي .

همدارنګې هغه فعل مفسر كوم چې په زيد حسبت عليه كې د زيد د پاره ناصب دي هغه لابست مقدر دي. ځكه چې د دې تقدير لابست زيدا حسبت عليه دي نو لابست دوجود د مفسر د وجې نه حذف كړي شو هغه مفسر حسبت عليه دي كوم چې د لابست ملزوم دي

په ما اضمر عامله کې د رفعې د غوره کولو جائز صورتونه:

ثُمَّ اَنَّ الْاِسْمَ الْوَاقِعَ فِيْ مَظَانَ الْاِضْمَارِ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ اِمَّا الْمُخْتَارُ اَوِ الْوَاجِبُ فِيْهِ الرَّفْعُ اَوِ النَّصْبُ اَوْ

بیا کوم اسم چې واقع وي په ځای د ګمان د اضمار علی شریطة التفسیر نو غوره او واجب په دې کې رفع ده او یا نصب او

يَسْتَوِيْ فِيْهِ الْاَمْرَانِ وَاِلٰى هٰذِهِ الصُّوَرِ الْخَمْسِ اَشَارَ الْمُصَ فَقَالَ وَيُخْتَارُ فِي الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ

یا برابروي په دې کې دواړه او دې پنځو صورتونو ته اشاره کړې مصنف او ویلي دي چې غوره په اسم مذکور کې

الرَّفْعُ بِالْاِبْتِدَاءِ اَيْ بِكَوْنِهِ مُبْتَدَاً لِاَنَّ تَجَرُّدَهُ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ يُصَحِّحُ رَفْعَهُ

رفع د ابتداء د وجې نه ده یعنې په کیدو د دې کې مبتدا ځکه چې خالي کیدل د عوامل لفظیو نه صحیح کوي رفع

بِالْاِبْتِدَاءِ يَرْجِحُ عِنْدَ عَدَمِ قَرِيْنَةِ خِلَافِهِ اَيْ قَرِيْنَةِ تَرْجِحُ

د دې په ابتداء سره او رفع ته ترجیح ورکوي په وخت د نه موندلو د قرینې په خلاف د دې یعنې د اسې قرینه چې راجح

خِلَافُ الرَّفْعِ يَعْنِي النَّصْبَ لِاَنَّ قَرِيْنَتَيِ الصِّحَةِ فِيْهِمَا مُتَسَاوِيَتَانِ لِاَنَّ وُجُوْدَ مَا

وي په خلاف د رفع یعنې نصب ځکه چې د دواړه قرینې د صحت په دې کې برابرې دي ځکه وجود د هغه څه چې

لَهُ صَلَاحِيَّةُ التَّفْسِيْرِ قَرِيْنَةٌ مُصَحِّحَةٌ لِلنَّصْبِ فَمَتٰى لَمْ تُرَجِّحِ النَّصْبَ قَرِيْنَةٌ اُخْرٰى

د هغه د پاره صلاحیت د تفسیر وي نو هغه قرینه مصححه ده د پاره د نصب نو کله چې نصب راجح نه شي نو بله قرینه

يَرَجَّحَ الرَّفْعُ بِسَلَامَتِهِ عَنِ الْحَذْفِ نَحْوُ زَيْداً ضَرَبْتُهُ اَوْ عِنْدَ وُجُوْدِ الْقَرِيْنَةِ الْمُرَجِّحَةِ

راجحه کوي رفع په سلامتیا د دې سره د حذف نه لکه زیداً ضربته او په وخت د موجود یدو د قرینې چې راجحه وي

مِنَ الْجَانِبَيْنِ وَلٰكِنْ تَكُوْنُ الْقَرِيْنَةُ الْمُرَجِّحَةُ لِلرَّفْعِ اَقْوٰى مِنْهَا اَيْ مِنْ تِلْكَ الْقَرِيْنَةِ الْمُرَجِّحَةِ لِلنَّصْبِ

د جانبینو نه لیکن هغه قرینه چې راجحه وي د پاره د رفع د اقوي ده یعنې د هغه قرینې نه چې راجحه وي د پاره د نصب

كَاَمَّا الدَّاخِلَةِ عَلٰى ذٰلِكَ الْاِسْمِ مَعَ غَيْرِ الطَّلَبِ اَيْ بِشَرْطِ اَنْ لَّايَكُوْنَ الْفِعْلُ الْمُشْتَغِلُ عَنْهُ طَلَبًا

لکه اما چې داخل وي په دې اسم باندې سره د غیر طلب نه یعنې په دې شرط چې نه وي فعل مشتغل د دې نه طلب

كَالْاَمْرِ وَالنَّهْيِ وَالدُّعَاءِ نَحْوُ لَقِيْتُ الْقَوْمَ وَاَمَّا زَيْدٌ فَاَكْرَمْتُهُ فَالْعَطْفُ عَلَى الْفِعْلِيَّةِ قَرِيْنَةُ النَّصْبِ وَكَلِمَةُ

لکه امر او نهي او دعاء لکه لقیت القوم واما زید فاکرمته نو عطف په فعلیت باندې د اقرینه ده د پاره د نصب او کلمه

اَمَّا قَرِيْنَةُ الرَّفْعِ وَهِيَ اَقْوٰى لِاَنَّهَا لَا يَقَعُ بَعْدَهَا غَالِبًا اِلَّا الْمُبْتَدَاُ بِخِلَافِ عَطْفِ الْاِسْمِيَّةِ

د اما د اقرینه ده د پاره د رفع او د اقوي ده ځکه چې نه واقع کیږي پس د دې نه اکثر امګر مبتدا په خلاف د عطف د اسمیت

عَلَى الْفِعْلِيَّةِ فَاِنَّهُ كَثِيْرُ الْوُقُوْعِ فِيْ كَلَامِهِمْ مَعَ اَنَّهَا تَاَيَّدَتْ بِالسَّلَامَةِ

په فعلیت باندې ځکه چې دا ډیره واقع کیږي په کلام د دوي کې او سره د دې نه چې د دې تائید شوي په سلامتیا سره

عَنِ الْحَذْفِ اَيْضًا وَ اِنَّمَا قَالَ مَعَ غَيْرِ الطَّلَبِ اِحْتِرَازاً عَمَّا اِذَا كَانَتْ مَعَ الطَّلَبِ نَحْوُ اَمَّا زَيْداً

د حذف نه او مصنف وویل مع غیر الطلب نو په دې سره یې احتراز وکړو د هغه اما نه چې وي د پاره د طلب لکه اما زیداً

فَاضْرِبْهُ فَاِنَّ الْمُخْتَارَ حِيْنَئِذٍ هُوَ النَّصْبُ فَاِنَّ الرَّفْعَ يَقْتَضِيْ وُقُوْعَ الطَّلَبِ خَبَرًا وَهُوَلَا يَجُوْزُ اِلَّا
فاضربه نو غوره په دې وخت کې هغه نصب دی ځکه رفع تقاضا کوي د واقع کیدو د طلب خبر او دانه دي جائز مګر په
بِتَاوِيْلٍ وَ مِثْلُ اَمَّا مَعَ غَيْرِ الطَّلَبِ اِذَا الْوَاقِعَةُ عَلَى الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ لِلْمُفَاجَاةِ فِيْ كَوْنِهَا
تاویل سره او مثال د اما سره د غیر طلب اذا دي چې واقع وي په اسم مذکور باندې د پاره د مفاجات په کیدو د دې کې
مِنْ اَقْوَى الْقَرَائِنِ مِثْلَ خَرَجْتُ فَاِذَا زَيْدٌ يَضْرِبُهُ عَمْرٌو فَاِنَّ الْمُخْتَارَ فِيْهِ الرَّفْعُ فَاِنَّ اِذَا لِلْمُفَاجَاةِ
چې دا د قوي قرائنو نه دي مثال لکه خرجت فاذا زید یضربه عمرو نو غوره په دې کې رفع ده ځکه چې اذا د پاره د مفاجات
لَا تَدْخُلُ اِلَّا عَلَى الْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ غَالِبًا وَمَا وَقَعَ فِيْ بَحْثِ الظُّرُوْفِ مِنْ اَنَّ اِذَا
مفاجات وي او نه دا خليږي مګر په جمله اسميه باندې غالباً او هغه چې واقع دي په بحث د ظروفو کې چې اذا د پاره د
لِلْمُفَاجَاةِ تَلْزِمُ بَعْدَهَا الْاِسْمِيَّةِ فَالْمُرَادُ بِلُزُوْمِ الْاِسْمِيَّةِ غَلَبَةُ وُقُوْعِهَا بَعْدَهَا فَلَا
مفاجات لازموي پس د دې نه مراد په لزوم د جملې اسميې غالب واقع کیدل دي پس د جملې اسمیې نه نو څه
تَنَاقُضَ.
تناقض نشته

خلاصه دمتن : مصنف دا وايي، چې داسې اسم چې **ما اضمر عامله على شريطة التفسير** واقع کېدای شي، په دې کې ټول پنځه (۵) صورتونه دي. اول دا چې رفع مختار او نصب جائز دا په دوو صورتونو کې وي : (۱) اسم مرفوع بالابتداء کېدل صحيح وي او د دې خلاف د نصب قرينه مرجحه نه وي. لکه **زيد ضربته** په دې کې رفع مختار ده نصب جائز دی. (۲) قرينه مرجحه جانبين نه دي ليکن قرينه مرجحه مرفعه د قرينه مرجحه للنصب نه قوي وي. بيا دا په دوه ځايونو کې کېږي يا به په اسم مذکور باندې داخل وي او اسم مذکور د داسې فعل سره مقارن وي کوم چې غير طلب وي، يعني اسم مذکور نه پس جمله خبريه وي، جمله انشائيه نه وي. لکه **لقيت اليوم واما زيد فاكرمته** . (۲) په اسم مذکور باندې **اذا** مفاجاتيه داخل وي. لکه **خرجت فاذا زيد بضربه عمرو**.

اغراض دجامي : **ثم ان الاسم**: دا عبارت د ما بعد لپاره توطيه او تمهيد دي او يا دا عبارت د يو سوال مقدر جواب دي . د دې توطيه او تمهيد کيدل خو ظاهر دي او که دا عبارت د سوال مقدر جواب وي، نو بيا تفصيل يې دا دي :

سوال : دا عراب په اعتبار سره د **مااضمر عامله** تقسيم پنځو اقسامو ته باطل دي، ځکه چې د تقسيم الشئ الى نفسه والاخرابي لازم راځي، ځکه چې وجوب د رفع په صورت کې داد **ما اضمر عامله** د قبيلې نه . نه دي. ځکه چې **ما اضمر عامله** خو د منصوباتو د اقسامو نه دي او د دې نه

بحث دمفعول به کیدو دحیثیت نه کیږي، نو د مرفوع کیدو په صورت کې خو دا زمونږ د بحث نه خارج دي

جواب: دلته د **ما اضمر** نه اضمار ظني مراد دي نه اضمار یقیني یعني هغه اسم داسې ځای کې واقع وي، چې کوم ځای کې د**ما اضمر عامله** کیدو ګمان او شبه وي، برابره خبره ده که په واقع کې **ما اضمر عامله** وي اویا نه وي، نو ددې اسم داعراب په اعتبار سره پنځه (۵) صورتونه دي: (۱) رفع مختار (۲) نصب مختار (۳) رفع واجب (۴) نصب واجب (۵) دواړه مساوي، مصنف رَحِمَهُ اللهُ هم دې پنځو (۵) صورتونو طرف ته اشاره کوي .

__ویختار__: ددې ځای نه دمخکې صورت یعني درفعې دغوره کیدو تفصیل بیانوي چې رفعه غوره کیږي په دوه صورتونو کې : (۱) اسم مرفوع بالابتداء کیدل صحیح وي او ددې خلاف نصب څه قرینه مرجحه نه وي. لکه **زید ضربته** په دې کې **زید** دعوامل لفظیه نه خالي کیدل داد قرینې مصححه دپاره رفع ده او ددې نه پس دداسې فعل کیدل چې په هغې کې دتفسیر صلاحیت وي دا قرینه مصححه للنصب وي نوپه دواړو کې قرینه مصححه موجود ده په دې اعتبار سره دواړه مساوي وي لیکن بیا درفعې دپاره قرینه مرجحه هم موجود ده هغه داده چې سلامتیا دحذف نه چې کله ددې مخالف دنصب دپاره کومه قرینه مرجحه موجود نه وي نو ددې وجې نه رفع غوره شوه .

__في الاسم المذكور__: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: مصنف رَحِمَهُ اللهُ وویل **ویختار الرفع بالابتداء** حالانکه دمبتداء د وجې نه خو رفع واجب کیږي خو مختار نه وي .

جواب: دلته د **الاسم المذكور** یعنې هغه اسم کوم چې دما اضمر په مظان کې واقع وي دا مراد دي .

__ای بکونه__: په دې عبارت سره شارح دیو وهم ازاله کوي :

وهم : وهم دادې چې لکه څنګه ابتدا په مبتدا کې عامل وي همدارنګې په خبر کې هم عامل وي نو ممکن ده چې دلته د اسم مذکور دخبر کیدو دوجې نه مرفوع وي اوپه دې کې ابتدا عامل وي .

جواب: دلته د ابتداء نه مبتداء مراد ده ، نو بیا څه اشکال نشته .

لان تجرد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: اختيار رفع تقاضا کوي داولنې جواز درفع دلته دمخکې نه دسره جواز نشته نو بيا اختيار څنګه ثابت شو ؟

جواب: مونږ دا خبره نه منو، چې داول نه جواز موجود نه دي، بلکې جواز موجود دي، ځکه چې د اسم عوامل لفظيه نه خالي کيدل داد قرينه مصححه اومجوزه للرفع دي .

اى قرينة ترجح خلاف الرفع: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال (١): کله چې د رفع خلاف دنصب کومه قرينه نه وي نو بيا رفع واجب کيدل په کار وو نه غوره کيدل .

سوال (٢): مونږ دا خبره نه منو، چې د رفع خلاف د نصب قرينه نشته، ځکه چې ددې نه پس د داسې فعل موجود کيدل، چې په کوم کې د تفسير صلاحيت وي دا د نصب قرينه ده.

جواب: شارح په اى قرينه سره ددواړو سوالونو جواب ورکړو، چې عدم قرينة خلافه نه مراد دقرينې مرجحې عدم دي نه دقرينې مصححې دعدم مقصد دادې چې دنصب قرينه مصححه وموندل شي البته قرينه مرجحه نه موندل کيږي نو رفع به غوره وي .

لان قرينتي الصحة: په دې عبارت سره شارح ددې دليل بيانوي چې دقرينې مصححې په وجود کې دواړه برابر دي ځکه چې تجرد دعوامل لفظيه دزيد درفع دپاره قرينه مصححه دي او زيد نه پس دداسې فعل وجود کوم چې دمفسر دجوړيدو صلاحيت لري ددې دنصب دپاره قرينه مصححه ده ليکن د زيد درفع دپاره قرينه مرجحه هم موجود ده هغه ده سلامتيا دحذف نه چې کله په نصب باندې کومه قرينه مرجحه موجود نه وي نو چې ترڅو پورې چې په نصب باندې کومه قرينه مرجحه نه موندل کيږي نو په زيد باندې رفع راجح اوغوره ده .

او عند وجود: په دې عبارت کې شارح درفعې دغوره کيدو دويم صورت بيانوي، ددې حاصل دادې چې د رفع او د نصب دواړو لپاره قرينه مصححه هم موجوده وي او قرينه مرجحه هم ددواړو لپاره موجود وي ليکن قرينه مرجحه للرفع قوي وي د نصب نه او دا په دوه (٢) ځايونو کې وي : (١) اما په اسم مذکور باندې داخل وي اوداسم مذکور نه پس فعل طلب نه وي يعنې

اسم مذکور نه پس امر، نهي او دعاء نه وي لکه **لقيت اليوم و اما زيد فاکرمته**، په دې کې د زيد عوامل لفظيه نه خالي کيدل دا قرينه مصححه للرفع ده. او ددې نه پس دداسې **فعل** کيدل کوم کې چې د تفسير صلاحيت وي دا قرينه مصححه للنصب ده او کلمه دما دا قرينه مرجحه للرفع ده او عطف على الفعلية دا قرينه مرجحه للنصب ده، ليکن قرينه مرجحه للرفع دا دقرينه مرجحه للنصب نه قوي دي دا قوت ددوه (۲) وجهو نه دي:

(۱) **اما** اکثر په مبتداء باندې داخليږي په خلاف د **عطف**، چې د جملې اسميې **عطف** په جمله فعليه باندې په کلام دعربو کې شائع دی. (۲) د رفع په صورت کې د حذف نه سلامتي ده.

<u>القرينه المرجحة من الجانبين:</u> په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: په اول صورت کې هم درفع قرينه دنصب دقرينې نه اولی او قوي دي نو په دې دواړو کې څه فرق شو؟

جواب: ددې نه مراد دادې چې قرينه مرجحه دجانبين نه موندل کيږي، ليکن مرجحه للرفع داد قرينه مرجحه للنصب نه اقوی ده. چې کله په اول صورت کې قرينه مرجحه دجانبينو نه، نه وي بلکه صرف په جانب درفع کې وي.

<u>ای من تلك القرينة:</u> په دې عبارت سره شارح د **منها** د **ها** دضمير مرجع بيانوي.

<u>کاماً الداخلة:</u> په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره وکړه چې د **اما** نه مطلق **اما** مراد نه دی، بلکې **اما** دې کوم چې په اسم مذکور باندې داخل وي.

<u>ای بشرط ان لا يکون الفعل المشتغل عنه:</u> په دې عبارت سره شارح دفع دوهم وکړه هغه وهم دادې چې شايد مع غير الطلب قيد اتفاقي وي احترازي نه وي، ځکه چې کله قيد اتفاقي وي، نو **بشرط ان لا يکون** سره دوهم ازاله وکړه دا قيد احترازي دي.

<u>و انما قال:</u> په دې عبارت سره شارح د **مع غير الطلب** قيد فائده بيانوي. چې دا قيد احترازي دي، په دې سره د هغه صورت نه احتراز دي، چې کله **اما** په داسې اسم باندې داخل شي کوم چې فعل طلب سره مقارن وي، يعنې ددې نه پس جمله انشائيه وي. جمله خبريه نه وي. لکه **اما زيد فاضربه** ځکه چې په دې صورت کې اسم مذکور باندې رفع غوره نه ده، بلکې نصب غوره دي، ځکه که چيرته په دې باندې رفع وويلې شي نو دا ددې خبرې تقاضا کوي، چې جمله انشائيه

ددې خبرجوړ کړې شي، حالانکه جمله انشائيه په غير د تاويل نه خبر نه شي جوړېدې، ځکه چې د رفع په صورت کې دا جمله **اما زيد مقول في حقه فاضربه** په تاويل کې وي.

دوهم مقام دادې، چې په اسم مذکور باندې **اذا** مفاجاتيه داخل وي، لکه **خرجت فاذا زيد يضربه عمرو**، په دې کې زيد دعوامل لفظيه نه خالي کيدل، دا قرينه للرفع ده او **عطف على الفعلية** دا قرينه مرجحه للنصب ده، ليکن قرينه مرجحه للرفع دادقرينه مرجحه للنصب نه اقوى ده. دا قوت په دوو (۲) وجهو سره دى. (۱) **اذا مفاجاتيه** اکثر په مبتدا باندې داخليږي په خلاف د جمله اسميه او جمله فعليه په کلام دعربو کې اکثرالوقوع ده. (۲) د رفعې په صورت کې د حذف نه سلامتي ده

ومثل اما: په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې دا **عطف المشبه على المشبه به** د قبيلې نه دي

واقعة على الاسم المذكور: په دې عبارت سره شارح د دوه (۲) غرضونو او مقصدونو بيان کوي (۱) **للمفاجاة** د جار مجرور متعلق بيانول. (۲) يا دا د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ستاسو ضابطه اوقاعده منقوضه اوماته ده په **خرجت فاذا السبع** سره چې په دې کې هم **اذا** مفاجاتيه ګډه کومه چې په اسم باندې داخل ده په دې کې رفع غوره کيدل په کاروو حالانکه رفع واجب ده.

جواب: دلته مطلق اسم مراد نه دي بلکه اسم مذکور ما اضمر عامله مراد دي.

في كونها: په دې عبارت کې شارح وجه دمشابهت اود مماثلت بيانوي

وما وقع: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دظروفو په بحث کې مصنف دا ذکر کړل، چې **ان اذا للمفاجات تلزم بعدها الجملة الاسمية** ددې نه دا معلومه شوه. چې د **اذا مفاجاتيه** نه پس جمله اسميه لازمه ده او دلته دا معلوميږي چې د **اذا** مفاجاتيه نه پس دجملې اسميې وقوع لازمي نه دي. بلکې غالب او راجح دي. لهذا په دواړو عبارتونو کې ښکاره تناقض نشته دي.

جواب: د ظروفو په بحث کې چې کوم **ويلزمها الجملة الاسمية** دى دې نه مراد لزوم استعمالي اعتباري اکثري دي نه لزوم حقيقي. نو لهذا په دې دواړو کې څه تناقض نشته دي

په ما اضمر عامله کې د نصب د غوره کولو صورتونه:

وَ يَخْتَارُ النَّصْبُ فِي الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ بِالْعَطْفِ اَیْ بِسَبَبِ عَطْفِ جُمْلَةٍ هُوَ فِيْهَا عَلٰى جُمْلَةٍ

اوغوره دي نصب په اسم مذكور كې د عطف دوجې نه يعني په سبب د عطف دداسې جملې نه چې هغه په دې جمله

فِعْلِيَّةٍ مُتَقَدِّمَةٍ لِلتَّنَاسُبِ اَیْ لِرِعَايَةِ التَّنَاسُبِ بَيْنَ الْجُمْلَةِ الْمَعْطُوْفَةِ وَ الْجُمْلَةِ

كې وي په جمله فعليه باندې چې مقدم وي د مناسبت دوجې نه يعني دلحاظ ساتلو د مناسبت نه په مينځ د جملې

الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهَا فِي كَوْنِهِمَا فِعْلِيَّتَيْنِ نَحْوُ خَرَجْتُ فَزَيْدًا لَقِيْتُهُ وَ بَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ

معطوفې اود جملې معطوف عليها په كيدو ددې دواړو كې چې دا فعليې وي لكه خرجت فزيدا لقيته اوپس د حرف

يَعْنِيْ مَا وَلَا وَ اِنْ وَلَيْسَ وَلَمْ وَلَمَّا وَلَنْ مِنْ هٰذِهِ الْجُمْلَةِ اِذْ هِيَ عَامِلَةٌ فِي الْمُضَارِعِ

نفي نه يعني د ما ولا وان وليس ولم ولما ولن ددې جملې نه خكه چې دا عامل دي په مضارع كې اونه شي مقدر كيدې

وَلَا يُقَدَّرُ مَعْمُوْلُهَا لِضُعْفِهَا فِي الْعَمَلِ نَحْوُ مَا زَيْدًا ضَرَبْتُهُ وَلَا زَيْدًا ضَرَبْتُهُ وَلَا عَمْرًا وَاِنْ زَيْدًا ضَرَبْتُهُ اِلَّا تَادِيْبًا

معمول ددې دوجې د ضعف نه په عمل كې لكه ما زيدا ضربته ولا زيدا ضربته ولا عمروا وان زيدا ضربته الا تاديبا

وَبَعْدَ حَرْفِ الْاِسْتِفْهَامِ نَحْوُ اَزَيْدًا ضَرَبْتَهُ وَاِنَّمَا قَالَ حَرْفِ الْاِسْتِفْهَامِ لِاَنَّهُ يُخْتَارُ الرَّفْعُ فِي اِسْمِ

اوپس د حرف استفهام نه لكه ازيدا ضربته اوهغه چې مصنف ويلي حرف الاستفهام خكه چې غوره ده رفع په اسم د

الْاِسْتِفْهَامِ مِثْلُ مَنْ اَكْرَمْتَهُ وَ لَمْ يَقُلْ هَمْزَةِ الْاِسْتِفْهَامِ لِيَشْمَلَ مِثْلَ

استفهام كې لكه من اكرمته اوداسې يې ونه ويل چې همزة الاستفهام ددې دپاره چې شامل شي دې مثال ته چې

هَلْ زَيْدًا ضَرَبْتَهُ فَاِنَّهُ يَجُوْزُ وَ اِنِ اسْتَقْبَحَهُ النُّحَاةُ لِاقْتِضَاءِ هَلْ لَفْظَ الْفِعْلِ لِاَنَّهُ

هل زيدا ضربته خكه چې دا هم جائزده اگرچې نحويانو دا قبيح گنړلې خكه چې لفظ د هل دفعل تقاضا كوي خكه چې

بِمَعْنٰى قَدْ فِي الْاَصْلِ فَلَا يَكْفِيْ فِيْهِ تَقْدِيْرُ الْفِعْلِ وَ بَعْدَ اِذَا الشَّرْطِيَّةِ الدَّالَّةِ عَلَى

هل په اصل كې په معنى دقد دې نو نه كافي كيږي په دې كې تقدير د فعل اوپس د اذا شرطيه نه چې دلالت كوي په

الْمُجَازَاةِ فِي الزَّمَانِ نَحْوُ اِذَا عَبْدَاللّٰهِ تَلْقَهُ فَاَكْرِمْهُ وَبَعْدَ حَيْثُ الدَّالَّةِ عَلَى الْمُجَازَاةِ فِي الْمَكَانِ

مجازات في الزمان باندې لكه اذا عبدالله تلقه فاكرمه اوپس د حيث نه چې دلالت كوي په مجازات في المكان باندې

نَحْوُ حَيْثُ زَيْدًا تَجِدْهُ فَاَكْرِمْهُ وَفِيْ قَبْلَ الْاَمْرِ وَالنَّهْيِ يَعْنِيْ مَوْضِعَ وُقُوْعِ الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ قَبْلَ الْاَمْرِ وَالنَّهْيِ

لكه حيث زيدا تجده فاكرمه اومخكې دامر اودنهي نه يعني په خاې دواقع كيدو داسم مذكور مخكې دامر اودنهي نه

مِثْلُ زَيْدًا اِضْرِبْهُ وَزَيْدًا لَا تَضْرِبْهُ وَاِنَّمَا اُخْتِيْرَ فِيْ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ اَیْ مَا بَعْدَ حَرْفِ الْاِسْتِفْهَامِ وَ النَّفْيِ

لكه زيدا اضربه وزيدا لاتضربه اوپه تحقيق سره يې غوره كړو په دې خايونو كې يعني پس د حرف استفهام اودنفي

وَ اِذَا الشَّرْطِيَّةِ وَ حَيْثُ وَ مَا قَبْلَ الْاَمْرِ وَ النَّهْيِ النَّصْبُ فِي الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ اِذْ هِيَ اَیْ هٰذِهِ الْمَوَاضِعُ

اود اذا شرطيه اود حيث نه اومخكې دامر اودنهي نه نصب په اسم مذكور كې خكه چې دا يعني دا خايونه مواضع د

مَوَاقِعَ الْفِعْلِ اَیْ مَوَاضِعَ وُقُوْعِ الْفِعْلِ فِیْهَا اَکْثَرُ فَاِذَا نُصِبَ الْاِسْمُ الْمَذْکُوْرَ
وقوع د فعل د فعل دي يعني مواضع دوقوع دفعل په دي کي اکثر وي نو کله چي نصب ورکړي شو اسم مذکور ته
وَقَعَ فِیْهَا الْفِعْلُ تَقْدِیْراً وَ اِلَّا فَلَا.
نو واقع کيږي په دي کي فعل تقديراً او که نصب ورنه کړي شي نو بيانه واقع کيږي.

خلاصه دمتن : دصاحب دکافيي دعبارت حاصل دادي، چي اسم مذکور په شپږ ځايونو کي رفع جائز مګر نصب مختار او غوره دي، (۱) اسم مذکور چي په کومه جمله کي واقع دي، دا عطف وي په تيره شوي جمله فعليه باندي لکه خرجت فزيداً لقيته. (۲) دحرف نفي نه پس واقع وي لکه ما زيداً ضربته، ولا زيداً ضربته ولا عمرواً، وإن زيداً ضربته، الا تاديباً. (۳) دحرف استفهام نه پس واقع وي، لکه ازيداً ضربته. (۴) د اذا شرطيه نه پس واقع وي، لکه اذا عبدالله تلقه فاكرمه. حيث نه پس واقع وي لکه حيث زيداً تجده فاكرمه. امر نه وړاندي واقع وي، لکه زيداً اضربه. نهي نه وړاندي واقع وي، زيداً لا تضربه په دي ځايونو کي اسم مذکور کي نصب مختار او غوره دي، پس کله چي اسم مذکور باندي نصب ويلى کيږي، نو فعل به په کي مقدر وي، ددي وضاحت په شرح کي را روان دي .

اغراض دجامي : في الاسم المذكور: په دي عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دلته د ما اضمر عامله نه بحث کيږي او په دي باندي خو نصب واجب دي ، نو د مصنف ويختار فيه النصب ويل به څنګه صحيح وي ؟.

جواب: ددي ځاي نه مراد الاسم المذكور دي، يعني هغه اسم کوم چي د ما اضمر عامله په مظان کي واقع وي.

ای بسبب عطف جملة : په دي عبارت سره شارح دوه خبرو طرف ته اشاره کړي ده . (۱) بالعطف کي باء سببيه ده، (۲) د العطف الف لام، دمضاف اليه نه عوض دي .

متقدمة : دا د جملة دويم صفت موضحه دي صرف دوضاحت دپاره دي ورنه عطف ته تقدم لازم دي. لهذا دا قيد اتفاقي دی نه احترازي

ما فيها: په دي عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال: ستاسو ضابطه اوقاعده منقوضه اوماته شوه په ضربت زید قائم سره په دې کې هم زیدا قائم عطف په جمله فعلیه باندې موجود دي، لیکن په دې باندې نصب مختار نه دی ؟

جواب: د عطف علی الجملة الفعلیة په صورت کې د نصب غوره کول په هغه جمله کې دي په کوم کې چې اسم مذکور واقع کیږي او په ذکر شوي مثال کې داسې نه دي.

الرعایة: په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي ، چې للتناسب مفعول له دي بیا د مفعول له دوه (۲) قسمونه دي: هغه مفعول له چې د هغې دحاصلولو دپاره فعل ذکر کړې شوي وي لکه ضربته تادیباً ، (۲) هغه مفعول له چې د هغې دوجود په سبب باندې فعل ذکر شوي وي لکه قعدت الحرب جُبناً په لرعایة سره شارح اشاره کړې ده چې دا دمفعول له اول قسم دي یعنې دتناسب دحاصلولو دپاره نصب غوره کړې شوې دي.

نَحْوُ ضربت فزیداً تعتیه: په دې عبارت سره شارح بیان دمثال کوي.

یعني: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: په حرف نفی کې لم لمالن هم داخل دي. حالانکه د دې نه پس په اسم مذکور کې نصب غوره نه دي ؟

جواب: دلته دحرف نفی نه دري (۳) حروف ما او لا او ان مراد دي. لم لمالن مراد نه دي، د دې وجه داده چې دا درې واړه په فعل مضارع باندې داخلیږي او په فعل مضارع کې عمل کوي او دا کمزورې عامل دي، ځکه دا فعل په ملفوظ کې عمل کوي. په فعل مقدر کې عمل نه کوي، لهذا د دې نه پس فعل مقدر نه وي او اسم مذکور کې نصب غوره په هغه وخت کې وي کوم وخت کې چې فعل مقدر وي، ځکه د دې حروفو نه پس اسم مذکور کې نصب نه شي غوره کیدای.

نَحْوُ ما زیداً ضربته: په دې عبارت سره شارح نه مثالونه بیانوي.

لاعمروا: شارح دجامې د دې اضافه ځکه وکړه، ځکه چې د لا نه پس معرفه ده. نو په دې باندې رفع او تکرار واجبیږي. لیکن کله چې ما اضمر عامله وي، نو په دې باندې رفع واجب نه ده، البته تکرار واجب دي.

ان زیداً ضربته الاتادیباً: د الاتادیباً اضافه یې ځکه وکړه چې معلومه شي چې دا ان نافیه دی.

ځکه چې ان نافيه په غير د استثناء نه . نه راځي .

وبعد: شارح د دې لفظ په اضافو کولو سره د دې خبرې بيان کوي چې د حرف استفهام عطف په حرف النفي باندې دي

وانما قال: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: حرف استفهام يې وويل والاستفهام يې ولې ونه ويل، حالانکه په دې کې ايجاز او اختصار وو او مصنف هم اختصار خوښوي؟

جواب: دلفظِ حرف اضافه کول د اسمِ استفهام دخارجولو دپاره وو، ځکه چې په اسم استفهام باندې رفع غوره ده، نصب نه دي غوره لکه من اکرمته.

ولم يقل همزة الاستفهام: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: مصنف حرف الاستفهام وويل او همزة الاستفهام يې ولې ونه ويل؟

جواب: حرف استفهام يې ځکه وويل، د دې دپاره چې دا هل ته هم شامل شي، ځکه چې د دې حکم هم دغه دي لکه هل زيداً ضربته .

فانه يجوز: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: هل زيداً ضربته والا ترکيب خو جائز هم نه دي، ځکه چې هل دفعل کيدو سره په اسم باندې نه داخليږي، ځکه چې هل په فعل باندې عاشق دي او داد خپل معشوق په طلب او تلاش کې ګرځي، لکه عاشق نامراده په خپل معشوق پسې سرګردانه ګرځي، کله چې دا خپل معشوق فعل ووينې، نو د دې د صبر پيمانه ډکه شي، تر څو چې خپل محبوب سره معانقه و مواصله ونه شي، ده ته سکون او صبر نه حاصليږي ، البته د ډېر تلاش نه پس اګر که معشوق ورته حاصل نه شي، نو فتصبر و تسکن نو بيا صبر کوي او ګذاره کوي، لکه هل زيد ساکن که چيرته يې معشوق وليده، نو بيا بې تابه شي، د دې په موجودګۍ کې اسم لرې کوي، ځکه هل زيداً ضربته والا ترکيب ناجائز دي نو ستاسو دا قول څنګه صحيح شو، چې حرف استفهام يې ځکه وويل د دې دپاره چې هل ته هم شامل شي د دې وجه داده، چې هل په حقيقت کې د قد په معنى باندې دي، لکه هل اتی علی الانسان په معنى د قد اتی علی الانسان دي او په قد کې تقدير د فعل کافي نه دي، نو په هل کې هم کافي نه دی، همدارنګې مولانا محمد کابلي وي دي په

سوال کـېلې کې چې ﴿لانها (ای هل) عاشق على الفعل فهو اذا رأى المعشوق لاصبر له حتى عانق بها لانها به معنى قد في الاصل﴾ ځکه دا یعنې هل دا عاشق دي په فعل باندې نو دا چې کله ووینې معشوق نو دده دپاره صبر نه وي تردې پورې چې دده سره معانقه وکړي اودده سره پیوسته شي ځکه چې دا په معنی دقد دي په اصل کې

جواب: که چیرته داصلِ وضعې په اعتبار سره داترکیب جائز نه دي او نحویانو دا قبیح جوړ کړي دي، لیکن په وخت د ضرورت کې داستعمال عارضي د وجې نه یې جائز کړی دي، په دې بناء باندې مصنف حرف الاستفهام وویل همزة الاستفهام یې ونه ویل.

الدالة على كلمة المجازاة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: که مصنف ببعد الشرط ویلې وي، نو دا به اخصر او اشمل وو اولفظ دشرط اذا او حیث دواړو ته به شامل شوي وو.

جواب: داسې یې ځکه ونه ویل، چې په اذا او حیث کې فرق دي اذا په مجازاة في الزمان باندې دلالت کوي او حیث په مجازاة في المكان باندې دلالت کوي او که چیرته بعد الشرط یې ویلې وي، نو وهم به شوې وي، چې شاید په دې کې یو مراد وي دواړه مراد نه وي.

نَحْوُ اذا عبدالله: په دې عبارت سره د اذا دمثال بیان یې وکړو او په نَحْوُ حيث زيدا تجده سره یې د حیث دمثال بیان یې وکړو.

ماقبل الامر: په دې عبارت سره شارح دماقبل اضافه ددې وجې نه وکړه چې دمصنف دعبارت دظاهر نه دغیر ظاهر طرف ته اوړېدلی دي، ځکه چې دا مراد نه دي، چې نصب په نفسِ امر او نهي کې دي، بلکې په هغه اسم کې دي، په کوم کې چې د امر او نهي نه وړاندې واقع وي.

يعني موضع: په دې عبارت کې شارح د ما بیان کوي چې ددې مانه مراد موضع مراد دي.

انما اختير: په دې عبارت کې شارح اشاره وکړه، چې اذهي مواقع الفعل بعد حرف النفي نه پس چې څه ذکر دي. ددې ټولو یو علت او یوه وجه ده.

اى هذه المواضع: په دې عبارت کې شارح د هِيَ ضمیر مرجع یې متعین کړي دي.

اى المواضع: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د مواقع الفعل نه معلومیږي چې په دې مواضع کې فقط فعل وي ځکه چې دمواضعو

اضافت فعل طرف ته اضافت لاميه دي او اضافت لاميه د اختصاص فائده ورکوي لهذا مواقع الفعل د نصب د وجوب فائده ورکوي نه د نصب د غوره کيدو نو په دې مواقعو کې نصب واجب کيدل په کار وو.

جواب: د مواقع اضافت فعل طرف ته په دې اعتبار سره دي، چې په دې ځايونو کې د فعل وقوع اکثر او اغلب دي، دا مراد نه دي چې دا مواقع فعل سره خاص دي.

په ما اضمر عامله کې د نصب د غوره کولو يو بل صورت:

وَ كَذٰلِكَ يُخْتَارُ النَّصْبُ فِي الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ عِنْدَ خَوْفِ لَبْسِ الْمُفَسِّرِ اَیْ اِلْتِبَاسِ مَا هُوَ
او همدارنګې غوره دي نصب په اسم مختار کې په وخت دويرې د التباس د مفسر سره يعنې التباس د هغه څه چې
مُفَسِّرٌ فِيْ حَالِ النَّصْبِ لٰكِنْ لَا مِنْ حَيْثُ هُوَ مُفَسِّرٌ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ بَلْ مِنْ حَيْثُ هُوَ
مفسروي په حال د نصب کې ليکن نه د دې حيثيت نه چې دا مفسروي په دې حالت کې بلکې د دې حيثيت نه چې دا
خَبَرٌ فِيْ حَالِ الرَّفْعِ بِالصِّفَةِ فَلَا يُعْلَمُ اَنَّهُ خَبَرٌ عَنِ الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ فِيْ حَالِ الرَّفْعِ مَعَ
خبر دي په حالت د رفعې کې په صفت سره سره نو نه معلوميږي چې دا خبر دي د اسم مذکور نه په حال د رفعې سره د
مُوَافَقَتِهِ لِلْمَعْنَى الْمَقْصُوْدِ اَوْ صِفَةٌ لَهُ مَعَ مُخَالَفَتِهِ لِلْمَعْنَى الْمَقْصُوْدِ فَالْاِلْتِبَاسُ اِنَّمَا هُوَ بَيْنَ خَبَرِيَّةِ
موافقت نه د معنی مقصود سره او يا صفت وي سره د مخالفت د معنی مقصود نو التباس صرف دا په مينځ د خبر د هغه
ذَاتِ مَا هُوَ مُفَسِّرٌ عَلٰى تَقْدِيْرِ النَّصْبِ وَ صِفَتِهِ لَا بَيْنَهُ بِوَصْفِ التَّفْسِيْرِ وَ بَيْنَ
ذات چې هغه مفسروي په تقدير د نصب باندې او صفت د دې کې نه په مينځ د دې کې په وصف د تفسير او په مينځ د
الصِّفَةِ فَاِنَّ التَّرْكِيْبَ لَا يَحْتَمِلُهُمَا مَعًا مِثْلُ قَوْلِهِ تَعَالٰى اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ بِنَصْبِ
صفت سره ځکه ترکيب د دې دواړو احتمال نه لري يو ځاې لکه دا قول د الله تعالى اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ په نصب د
كُلَّ عَلَى الْاِضْمَارِ بِشَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ وَ لَوْ رُفِعَ بِالْاِبْتِدَاءِ وَ جُعِلَ خَلَقْنٰهُ خَبَرًا
كل سره په اضمار على شريطة التفسير سره او که چيرته رفع ورکړې شي بنا بر ابتداء او وګرځولې شي خلقناه خبر
لَهُ كَانَ مُوَافِقًا لِلنَّصْبِ فِيْ اَدَاءِ الْمَقْصُوْدِ لٰكِنْ خِيْفَ لَبْسُهُ بِصِفَةٍ لِاِحْتِمَالِ كَوْنِ
د دې د پاره نو دا موافق شو د نصب سره په اداء د مقصود کې ليکن د دې سره د التباس ويره ده ځکه چې دا احتمال لري
قَوْلِهِ تَعَالٰى خَلَقْنٰهُ صِفَةً لِشَيْءٍ وَ قَوْلِهِ بِقَدَرٍ خَبَرًا لَهُ وَ هُوَ خِلَافُ الْمَقْصُوْدِ
چې دا قول د الله تعالى خلقناه دا صفت شي د پاره د شيء او دا قول بقدر دا خبر شي د دې د پاره او دا خلاف مقصود دي
فَاِنَّ الْمَقْصُوْدَ الْحُكْمُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ بِاَنَّهُ مَخْلُوْقٌ لَنَا بِقَدَرٍ لَا الْحُكْمُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
ځکه مقصود حکم په هر څيز باندې په دې اعتبار سره چې دا مخلوق دي زمونږ د پاره په تقدير سره نه حکم په هر څيز

مَخْلُوْقٍ	لَنَا	اَنَّهُ	بِقَدَرٍ	فَاِنَّهُ	يُوْهِمُ	كَوْنَ	بَعْضِ	الْاَشْيَاءِ	الْمَوْجُوْدَةِ
چې پیدا شوي وي زمونږ دپاره چې داد تقدیر سره دي خکه چې دا وهم پیدا کیږي چې کیدل دبعضې شیانو موجودو									
غَيْرَ مَخْلُوْقَةٍ لِلّٰهِ تَعَالٰى كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الْمُعْتَزِلَةِ فِي الْاَفْعَالِ الْاِخْتِيَارِيَّةِ لِلْعِبَادِ.									
غیر مخلوق دالله تعالی دپاره لکه دامذهب دمعتزلو دي په افعال اختیارو دبندګانو کې.									

خلاصه دمتن: صاحب کافیه په دې عبارت کې رفع جائز، نصب مختار یو بل صورت ذکر کوي، کله چې رفع سره د صفت مفسَّر د التباس ویره وي، نو په دې وخت کې هم اسم مذکور باندې نصب غوره دي، لکه دالله تعالی دا قول چې: (انا کل شئ خلقنا بقدر) چې ددې وضاحت په شرح کې را روان دي

اغراض دجامي: وعند خوف لبس المفسر: یو بل ځای چیرته چې نصب غوره دي، هغه بیانوي د عبارت حاصل دادې چې کله د رفع په صورت کې دصفت سره دمفسر دالتباس ویره وي، نو په دې وخت کې اسم مذکور باندې نصب مختار وي، لکه الله تعالی فرمایي: (انا کل شئ خلقناه بقدر) په دې کې په **کل شئ** باندې نصب مختار دي، ددې تقدیر د عبارت **خلقناه کل شئ خلقنا بقدر** دي دنصب دمختار کیدو وجه داده، چې ددې آیت نه مقصود دوه څیزونه دي: (۱) د هر یو څیز خالق الله پاك دي. (۲) او هر څیز په اندازه پیدا کړې شوې دي، که دا منصوب ووایو نو ددې ترکیب به داسې شي: **خلقناه** فعل سره دفاعله **کل شئ** مفعول به او د **بقدر** متعلق دي، نو ددې معنی دا شوه چې مونږ هر څیز په اندازه پیدا کړي دي، په دې صورت کې دواړه مقصدونه حاصل شو او که **کل شئ** مرفوع ووایو، نو ددې په ترکیب کې دوه (۲) احتماله دي:

(۱) **کل شئ** مبتدا **خلقناه بقدر** جمله ددې خبر په دې صورت کې هم دواړه مقصدونه حاصل شو. ځکه چې په دې وخت کې به یې معنی دا شي، چې مونږ هر څیز په اندازه پیدا کړي دي او دا بعینه هغه معنی ده کومه چې د نصب په صورت کې وه.

(۲) او دویم احتمال دادې چې **کل** مضاف **شيء** موصوف **خلقنا** فعل سره فاعل اوسره د مفعول به دا صفت شو موصوف سره دصفته دا مضاف الیه شو، مضاف الیه سره دمضاف الیه نه دا مبتدا شوه **بقدر** ددې خبر دي په دې صورت کې به یې معنی دا شي چې هر هغه څیز چې مونږه پیدا کړي دي هغه به اندازه دي ددې نه یو وهم پیدا کیږي، چې بعضې څیزونه د الله مخلوق نه دي لکه دا معتزلو مذهب دی. چې د بنده افعال اختیاریه د الله تعالی مخلوق نه دي چونکې

د رفع په صورت کې د صفت سره د مفسر د التباس ويره ده او د صفت جوړولو په صورت کې په مقصود کې خلل واقع کيږي. لهذا نصب مختار دي. ددې لپاره چې په مقصود کې خلل واقع نه شي

كذلك: په دې عبارت کې شارح بيان د عطف کوي ، چې داد **عطف المشبه على المشبه به** د قبيلې نه دي

اي التباس: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: د مصنف قول **عند خوف لبس الخ** صحيح نه دي، ځکه چې صفت سره د مفسّر التباس نشته. بلکې د خبر التباس دي، ځکه چې په ذکر شوي مثال کې **خلقنا** مفسر دي په حالت د نصب کې او په دې صورت کې د صفت جوړيدو احتمال نشته لهذا د مصنف داوينا چې د مفسر التباس به د صفت سره لازم راشي، باطل ده البته که **خلقناه** خبر جوړ کړو نو بيا يې د صفت سره التباس راځي ليکن په دې صورت کې **خلقناه** مفسر نه دي نو په کوم صورت کې چې التباس دي. په دې کې **خلقناه** مفسر نه دي او په کوم صورت کې چې مفسر دي، نو په هغه صورت کې التباس نشته لهذا د مصنف قول **عند خوف لبس المفسر بالصفة** په يو صورت کې هم صحيح نه دي

جواب: دلته د مفسر نه مراد ذات مفسر دي. مطلب دادې چې کوم ذات چې د نصب په حالت کې مفسر دي د رفع په حالت کې د صفت سره يې التباس لازم راځي. ليکن په دې حيثيت سره نه چې هغه مفسر دي بلکې ددې حيثيت نه چې هغه خبر دي

په ما اضمر عامله کې د رفع او د نصب مساوي صورت :

وَ يَسْتَوِىْ اَلْاَمْرَانِ اَيِ الرَّفْعُ وَ النَّصْبُ فَلِلْمُتَكَلِّمِ اَنْ يَّخْتَارَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِلَا تَفَاوُتٍ
او برابر دي دواړه امره يعني رفع او نصب نو جائز دي د متکلم دپاره چې غوره کړي هريو د دې دواړو نه بې د څه فرق
فِيْ مِثْلِ زَيْدٌ قَامَ وَ عَمْرًا اَكْرَمْتُهٗ اَىْ عِنْدَهٗ اَوْ فِيْ دَارِهٖ وَ نَحْوُ ذٰلِكَ وَ اِلَّا لَا يَصِحُّ الْعَطْفُ
نه لکه زيد قام وعمراً اكرمته يعني عنده يا في داره او ياد دې په شان نور او که چيرته نه وي نو بيا نه دي صحيح عطف
عَلَى الصُّغْرٰى لِعَدَمِ الضَّمِيْرِ اَىْ يَسْتَوِىْ الْاَمْرَانِ فِيْمَا اِذَا عُطِفَتِ الْجُمْلَةُ الَّتِيْ
په صغرى باندې د وجې د عدم ضمير نه يعني برابر دي دواړه امره په هغه ترکيب کې چې کله ته عطف کړي هغه جمله
وَقَعَ فِيْهَا الْاِسْمُ الْمَذْكُوْرُ عَلٰى جُمْلَةٍ ذَاتِ وَجْهَيْنِ اَىْ جُمْلَةٍ اِسْمِيَّةٍ
چې هغه واقع وي په دې اسم مذکور کې په داسې جمله چې خاوند د دوه وجهونو وي يعنې جمله اسميه چې د دې

خَبَرُهَا جُمْلَةٌ فَيَصِحُّ رَفْعُهُ بِالْاِبْتِدَاءِ وَ نَصْبُهُ بِتَقْدِيْرِ الْفِعْلِ وَ الْوَجْهَانِ مُسْتَوِيَانِ

خبر جمله فعلیه وي نو دمبتدا اکیدو دوجې نه صحیح ده رفع ددې په تقدیر دفعل سره اودوه وجهې برابردي دوجې

لِحُصُوْلِ التَّنَاسُبِ فِيْهِمَا فَفِي الرَّفْعِ تَكُوْنُ اِسْمِيَّةً فَتُعْطَفُ عَلَى الْجُمْلَةِ الْكُبْرٰى

دحصول دتناسب نه په دې دواړوکې نوپه رفع کې به وي جمله اسمیه نوعطف کولې به شي په جمله کبرى باندې

وَ هِيَ اِسْمِيَّةٌ وَ فِي النَّصْبِ تَكُوْنُ فِعْلِيَّةً فَتُعْطَفُ عَلَى الصُّغْرٰى وَ هِيَ فِعْلِيَّةٌ

اوهغه اسمیه ده اوپه نصب کې به وي جمله فعلیه نوعطف کولې به شي په صغرى باندې اوهغه جمله فعلیه ده

فَاِنْ قُلْتَ اَلسَّلَامَةُ مِنَ الْحَذْفِ مُرَجِّحَةٌ لِلرَّفْعِ قُلْنَا هِيَ مُعَارِضَةٌ بِقُرْبِ

که چیرته ته ووایې چې سلامتیا دحذف نه دامرجحه ده دپاره درفعې نو مونږ وایو چې دامعارض دي په قرب د

الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ فَاِنْ قُلْتَ لَا تَفَاوُتَ فِي الْقُرْبِ وَ الْبُعْدِ بَيْنَهُمَا اِذِ الْكُبْرٰى اَيْضًا قَرِيْبَةٌ

معطوف علیه سره که چیرته ته وایې چې څه فرق نشته په مینځ دقرب اوبعد کې خکه چې کبرى هم دارنګې قریبه

غَيْرُ مَفْصُوْلَةٍ عَنْهَا قُلْنَا هٰذَا بِاِعْتِبَارِ الْمُنْتَهٰى وَاَمَّا بِاِعْتِبَارِ الْمُبْتَدَاِ فَالصُّغْرٰى اَقْرَبُ.

ده چې جدا کیدونکې نه ده مونږ وایو په اعتبار دمنتهى اوهرچې په اعتبار دمبتدا سره نوصغرى ډیره قریبه ده.

خلاصه دمتن : ددې ځاې نه صاحب دکافیې دما اضمر عامله د اعراب دریم قسم بیانوي، صاحب دکافیې وایي چې زید قام و عمروا اکرمته په شان مثال کې رفع او نصب دواړه مساوي دي ددې مثل نه مراد هر هغه ترکیب دي په کوم کې چې ما اضمر عامله واقع وي، ددې عطف جمله ذات و جهین باندې وه یعنې داسې جمله اسمیه باندې عطف وي، چې د هغې خبر جمله فعلیه وي لکه زید قام و عمروا اکرمته نه دي کې عمرو منصوب ووایې نو دا جمله فعلیه جوړیږي او ددې عطف په جمله صغرى یعنې په قام باندې دي او که عمرو مرفوع ووایې نو دا به جمله اسمیه وي او ددې عطف به په جمله کبرى یعنې په زید قام باندې وي، چونکې په دواړو وجهو کې دمعطوف اومعطوف علیه په مینځ کې مناسبت موجود دي نولهذا دواړه امرونه برابر دي، اوپه یو بل باندې ورته ترجیح حاصله نه ده .

اغراض دجامي : اي الرفع والنصب: په دې عبارت کې شارح د الامران مصداق متعین کړي دي .

و للمتکلم: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو وهم دفع کول او ختمول دي .

وهم: وهم دادې چې شايد د استواء نه مراد **استواء في الوجود** وي او د امران نه مراد رفع اونصب وي نو مطلب به يې دا وي چې رفع او نصب په **وجود على الاسم المذكور** کې مساوي دي، نو په دې صورت کې اجتماع د حرکتينو مختلفينو په يو حرف والاخرابي لازم راځي، نو په **فللمتكلم** سره يې دا وهم لرې کړو، چې د **استواء** نه مراد **استواء في الوجود** مراد نه ده، بلکه استواء في الاختيار مراد ده، يعنې متکلم ته اختيار دي، په دې دواړو کې يې چې کوم خوښ وي اختيار دې کړي

اى عنده: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: په **زيد قام و عمروا اکرمته** کې په **عمروا** باندې نصب صحيح نه دي، ځکه چې که چېرته په دې باندې نصب ووايو، نو جمله **عمروا اکرمته** به عطف وي، په جمله صغرى يعنې په **قام** باندې، نو لکه څنګه چې **قام زيد** خبر دي همدارنګې په واسطه د عطف سره **عمروا اکرمته** هم د **زيد** خبر دي، حالانکه د دې خبر جوړيدل صحيح نه دي، ځکه چې خبر کله جمله وي، نو په دې کې عائد ضروري دي کوم چې مبتدا طرف ته راجع وي، اودلته په **اکرمته** کې عائد نشته دي، ځکه چې **ه** ضمير **عمرواً** طرف ته راجع دي نه **زيد** طرف ته؟

جواب: دلته عائد محذوف دي دا په اصل کې **زيد قام و عمروا اکرمته عنده** يا **في داره** وو.

فان قلت: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه **قلنا** سره د دې اعتراض جواب ورکوي:

اعتراض: مونږ دا خبره نه منو چې په ذکر شوي صورت کې رفع اونصب دواړي مساوي دي، بلکې رفع ته په نصب باندې ترجيح حاصل ده، ځکه چې د رفع په صورت کې د حذف نه سلامتيا ده او د نصب په صورت کې فعل حذف منل وي، نو راجحه قرينه د پاره د رفعې هغه سلامتيا ده د حذف نه.

جواب: قرب معطوف عليه د سلامتي عن الحذف معارض دي، يعنې که دا منصوب ووايې نو معطوف عليه به قريب وي، ځکه چې په دې صورت کې معطوف عليه **قام** دي او که دا مرفوع ووايو، نو معطوف عليه به بعيد وي، ځکه چې معطوف عليه به **زيد** وي کوم چې په نسبت سره د **قام** نه لرې ولاړ دي، نو لکه څنګه چې سلامتي عن الحذف قرينه مرجحه للرفع

ده، همدارنګې قرب معطوف عليه قرينه مرجحه للنصب ده، لهذا په دې کې يو ته په بل باندې ترجيح حاصل نه ده.

فان قلت: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي او په قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي:

اعتراض: دې دواړو جملو کې د قرب اود بُعد په اعتبار څه تفاوت نشته، ځکه چې لکه څنګه جمله صغرى قريب ده، په مينځ کې يې فاصله نشته، همدارنګې جمله کبرى هم قريب ده او په مينځ کې يې څه فاصله نشته؟

جواب: اګر چې د منتهى په اعتبار سره په دواړو کې فرق نشته، ليکن د مبداء په اعتبار سره په کې فرق شته دې، ځکه چې دجملې کبرى مبداء زاء ده او دجملې صغرى مبداء قاف دې او قاف قريب دې په نسب سره زاء ته.

د ما اضمر عامله داعراب څلورم قسم:

وَيَجِبُ النَّصَبُ اَیْ نَصَبُ الْاِسْمِ الْمَذْکُوْرِ بَعْدَ حَرْفِ الشَّرْطِ وَالْمُرَادُ بِهٖ هٰهُنَا اِنْ وَلَوْ فَاِنَّ اَمَّا وَاِنْ کَانَتْ مِنْ حُرُوْفِ
اوواجب دې نصب يعني نصب داسم مذکورپس دحرف شرط اومراد دلته اِنْ او لَوْدي ځکه اما اګرکه دحروفو د
الشَّرْطِ فَحُکْمُهَا مَا سَبَقَ مِنْ اِخْتِيَارِ الرَّفْعِ مَعَ غَيْرِ الطَّلَبِ وَ اِخْتِيَارِ النَّصَبِ
شرط نه دې نوحکم ددې هغه دې چې مخکې تيرشوې دې داختيارولو درفعې سره د غيرطلب او اختيار د نصب
مَعَ الطَّلَبِ وَ کَذَا يَجِبُ نَصَبُهُ بَعْدَ حَرْفِ التَّحْضِيْضِ وَهُوَ هَلَّا وَاَلَّا وَلَوْ لَاوَلَوْ مَا وَاِنَّمَا
سره دطلبه اوهمدارنګې واجب دې نصب ددې پس دحرف تحضيض نه اوهغه هلا.الا.لو.لا.لو ما دي او په تحقيق
وَجَبَ النَّصَبُ بَعْدَهُمَا لِوُجُوْبِ دُخُوْلِهِمَا عَلَى الْفِعْلِ لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْرًا مِثْلُ اِنْ زَيْدًاً
سره واجب دې نصب پس ددې دواړودوجې دوجوب ددخول ددې دواړو په فعل باندې لفظاًاوتقديراًلکه ان زيداً
ضَرَبْتَهُ ضَرَبَکَ مِثَالٌ لِحَرْفِ الشَّرْطِ وَاَلَّا زَيْدًا ضَرَبْتَهُ مِثَالٌ لِحَرْفِ التَّحْضِيْضِ.
ضربته ضربک نودامثال دې دحرف شرط اوالا زيدا ضربته دامثال دې دحرف تحضيض.

خلاصه دمتن: دلته مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د ما اضمر عامله داعراب څلورم قسم وجوب د نصب بيانوي، کله چې اسم مذکور دحرف شرط يا دحرف تحضيض نه پس واقع وي، نو په دې باندې نصب واجب دې د شرط مثال لکه ان زيداً ضربته ضربك د حرف تحضيض مثال لکه الا زيداً ضربته.

اغراض دجامي : ای نصب الاسم المذکور: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: دلته بحث د **ما اضمر عامله** کېږي او په دې باندې مطلق نصب واجب دی، ځکه چې هغه د مفعول به د قبیلې نه دي لهذا مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دوجوب نصب مقید کول په حروف شرط اوحروف تحضیض نه پس صحیح نه دي .

جواب: دلته مراد حقیقتاً **ما اضمر عامله** نه دي، بلکې **الاسم المذکور** یعنې هغه اسم مراد دي کوم چې د **ما اضمر عامله** په مظان کې واقع کېږي .

والمراد: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: اما هم حرف شرط دي، حالانکه ددې نه پس کله چې اسم مذکور واقع وي، نو په دې باندې نصب واجب نه دي، بلکې که اما د غیر طلب سره وي، نو په اسم مذکور باندې رفع غوره ده او که طلب سره وي، نو نصب مختار دي ؟

جواب: د حرف شرط نه مراد فقط **إنْ** او **لَو** دي **اما** مراد نه دي، ځکه چې ددې تفصیل مخکې تېر شوې دي .

كذا يجب: دا عبارت يې مقدر کړو په دې سره شارح اشاره کړې چې دحرف تحضیض عطف په حرف شرط باندې دي .

وهو: په دې عبارت کې شارح دحرف تحضیض مصداق بیانوي چې حروف تحضیض څلور (۴) دي : **الا، هلا، لولا، لوما.**

وانما وجب: په دې عبارت کې شارح دوجوب نصب وجه بیانوي، دحرف شرط اود حرف تحضیض نه پس اسم مذکور باندې نصب ځکه واجب دي، ځکه چې حرف شرط اوحرف تحضیض په فعل باندې داخلیدل واجب دي، برابره خبره ده که دافعل مذکور وي اويا دا فعل مقدر وي ، نو کله چې فعل مذکور نه وي، نو مقدر به وي لهذا اسم مذکور به دفعل مقدر دوجې نه منصوب وي

مثال لحرف الشرط: په دې عبارت کې شارح دممثل له تعیین کوي

مثال لحرف التحضیض: په دې عبارت کې هم شارح دممثل له تعیین کوي

د ما اضمر عامله د اعراب پنځم قسم :

وَلَيْسَ مِثْلَ اَزَيْدٌ ذَهَبَ بِهٖ مِنْهُ اَيْ مِنْ بَابِ الْاِضْمَارِ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ فَاِنَّ زَيْداً فِيْهِ وَاِنْ كَانَ
او نه دي د امثال ازيد ذهب به د دې نه يعني د باب د اضمار على شريطة التفسير نه خكه زيداً په دې كې اګرچې
يُظَنُّ فِيْ بَادِي النَّظَرِ اَنَّهٗ مِمَّا اُضْمِرَ عَامِلُهٗ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ وَ الْمُخْتَارُ فِيْهِ
معلوميږي د ظاهر نظر نه چې دا د هغه قبيلې نه دي چې مضمروي عامل د دې په شرط د تفسير سره او غوره په دې
النَّصَبَ لِوُقُوْعِ الْاِسْمِ الْمَذْكُوْرِ فِيْهِ بَعْدَ حَرْفِ الْاِسْتِفْهَامِ لٰكِنْ يَظْهَرُ بَعْدَ تَعَمُّقِ النَّظَرِ
كې نصب دي د وجې د وقوع اسم مذكور نه په دې كې پس د حرف استفهام نه لكن ظاهريږي پس د ډوب نظر نه چې
اَنَّهٗ لَيْسَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ وَ اِنْ صَدَقَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ اِسْمٌ بَعْدَهٗ فِعْلٌ مُشْتَغِلٌ عَنْهُ
دا د دې نه. نه دي خكه اګرچې صادقيږي په دې مثال باندې چې دا اسم دي او پس د دې نه فعل چې مشغول دي د دې
بِضَمِيْرِهٖ لٰكِنَّهٗ لَيْسَ بِحَيْثُ لَوْ سُلِّطَ عَلَيْهِ هُوَ اَوْ مُنَاسِبُهٗ
د ضمير سره ليكن دا نه دي د دې حيثيت نه كه چيرته مسلط كړې شي په دې باندې فعل او يا مناسب د دې فعل نو
لَنَصَبَهٗ لِاَنَّ ذُهِبَ بِهٖ لَا يَعْمَلُ النَّصَبَ وَ كَذَا مُنَاسِبُهٗ اَعْنِيْ اُذَاهِبَ فَاِنْ
نصب به وركوي خكه چې ذهب به دا عمل نه وركوي نصب ته او همدا رنګې د دې سره مناسب يعني اذاهب كه چيرته
قُلْتَ لَا يَنْحَصِرُ الْمُنَاسِبُ فِيْ اُذْهِبَ فَلْيُقَدَّرْ مُنَاسِبٌ اٰخَرُ يَنْصِبُهٗ مِثْلُ يُلَابِسُ
ته ووايې چې نه دي مناسب حصر په اذهب كې نو مقدر به راوړې بل مناسب چې نصب وركوي دې ته مثال لكه يلابس
اَوْ اَذْهَبَ عَلٰى صِيْغَةِ الْمَعْلُوْمِ فَيَكُوْنُ تَقْدِيْرُهٗ زَيْدٌ اَيُلَابِسُهُ الذِّهَابُ بِهٖ اَوْ اَذْهَبَهٗ اَحَدٌ قُلْنَا الْمُرَادُ بِالْمُنَاسِبِ
او اذهب په صيغې د معلوم سره نو وي به تقدير د دې زيداً يلابسه الذهاب به او اذهبه احد نو مونږ وايو مراد په مناسب
مَا يُرَادِفُ الْفِعْلَ الْمَذْكُوْرَ اَوْ يُلَازِمُهٗ مَعَ اِتِّحَادِ مَا اُسْنِدَ
سره هغه دي چې مرادف وي د ذكرشوي فعل سره او يا لازم وي د دې سره، سره د اتحاد د هغه څه چې اسناد يې شوې
اِلَيْهِ فَالْاِتِّحَادُ فِيْمَا ذَكَرْتَهٗ مَفْقُوْدٌ وَ اِذَا كَانَ الْاَمْرُ كَذٰلِكَ فَالرَّفْعُ اَيْ رَفْعُ
وي دې طرف ته نو اتحاد په دې مثالونو كې چې مونږ ذكر كړو نشته او چې كله امر داسې وي نو بيا رفع ده يعني رفع
زَيْدٍ فِي الْمِثَالِ وَاجِبٌ بِالْاِبْتِدَاءِ وَنَصْبُهٗ غَيْرُ جَائِزٍ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ فَلَيْسَ مِنْ بَابِ الْاِضْمَارِ عَلٰى
د زيد په مثال كې د مبتدا اكيد و دوجې نه او نصب د دې غير جائز دي بنابر مفعوليت نو دا نه دي د باب د اضمار على
شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ فَكَيْفَ مِمَّا يُخْتَارُ فِيْهِ النَّصَبُ.
شريطة التفسير نه نو څنګه به غوره شي په دې كې نصب.

خلاصه دمتن : دا عبارت په ظاهر کې د يو سوال مقدر جواب دي، ليکن په حقيقت کې د ما اضمر عامله داعراب پنځم قسم دي، چې په کوم باندې رفع واجب ده. اودا عبارت ديو سوال مقدر جواب هم دي

سوال: مخکې تير شو چې کله اسم مذکور دحرف استفهام نه پس واقع وي، نو په دې باندې نصب مختار او رفع جائز ده دا خبره منقوضه اوماته ده په ازيد ذهب به مثال سره ځکه چې په دې کې زيد دحرف استفهام نه پس واقع دي، ددې باوجود په دې باندې نصب مختار نه دي، بلکې نصب دسره جائز نه دي، بلکې رفع واجب ده؟

جواب: مصنف رَحِمَهُ اللهُ جواب ورکړو او شارح جامي په فان زيداً سره ددې تشريح کوي دا د ما اضمر عامله دباب نه ، نه دي، ځکه چې که چيرته په بادي النظر کې دزيد په باره کې دا ګمان وي چې داد ما اضمر عامله دباب نه دي ځکه چې دحرف استفهام نه پس واقع دي لهذا په دې باندې نصب غوره کول په کار دي، ليکن د ژور نظر نه پس دا خبره واضحه شوه، چې داد ما اضمر عامله دباب نه ، نه دي، ځکه چې که چيرته په دې باندې دا خبره صادق راځي چې دا اسم دي او ددې نه پس يو فعل دي کوم چې ددې په ضمير کې دعمل کولو نه پس په خپله په دې کې د عمل کولو نه اعراض کوي، ليکن هغه فعل ددې حيثيت نه ،نه دي که چيرته بعينه دا يا ددې مناسب په دې باندې مسلط کړی شي، نو هغه به دې ته نصب ورکړي، ځکه که په خپله دا مسلط کړي نو ددې دوه(۲) صورتونه دي: (۱) د باء سره.(۲) په غير دباء نه ، که دباء سره مسلط کړې شي، نو دنصب په ځاې به جر ورکوي او که په غير دباء نه مسلط کړې شي، نو دا فعل لازمي دي او فعل لازمي مفعول ته نصب نه ورکوي او که ددې مناسب مرادف لکه أذهب مسلط کړې شي، نو هغه دې مفعول مالم يسم فاعله کيدو په بناء باندې رفع ورکوي نه نصب نو معلومه شوه چې داد ما اضمر عامله دباب نه ، نه دي .

اغراض دجامي : منه اى من باب الاضمار: په دې عبارت کې شارح د منه دضمير مرجع بيان کړي ده .

فان قلت: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه قلنا سره شارح ددې اعتراض جواب ورکوي :

اعتراض: انحصار په اُذهب کې مناسب خو نه دي نور هم مناسبات موجود دي، چې د چا د وجې نه په اسم مذکور باندې نصب راځي، بل مناسب دې مقدر کړې شي ددې لپاره چې هغه اسم مذکور ته نصب ورکړي، مثلاً يلابس يا اذهب په صيغې دماضي معلوم که چيرته يلابس مقدر وګڼي، نو تقدير دعبارت به داسې شي: زيدا يلابسه الذهاب به يا زيدا يلابسه احدالذهاب به او که اذهب مقدر وګڼي، نو تقدير دعبارت به داسې شي چې : زيدا اذهب احد.

جواب: په فعل مذکور کې دمناسب مرادف يا دمناسب لازم نه مراد هغه مناسب دي چې د فعل مذکور او دفعل مقدر دمناسب په مينځ کې په مسند اليه کې اتحاد وي، يعنې دواړو مسند اليه يوه وي او په ذکر شوو صورتونو کې دفعل مذکور اودفعل مقدر مسنداليه يو نه پاتې کيدو ځکه چې دفعل مذکور مسند اليه زيد دي ، اودفعل مقدر مسند اليه الذهابُ دي يا احدٌ دي نو لهذا اشکال اواعتراض کول غلط دي .

اذاکان: په دې عبارت کې شارح دمتن وضاحت کوي ، په فالرفع کې فاء فصيحيه ده، ځکه چې دا جزاء ده د شرط محذوف کوم چې اذاکان الامر کذلك دي، يعنې کله چې معامله دغه شان وه، نو په ذکر شوي مثال کې په زيد باندې رفع بالابتداء واجب ده او د مفعوليت د وجې نه نصب جائز نه دي، کله چې په دې باندې نصب بالمفعولية جائز نه دي، نو نصب مختار څنګه شو، لهذا داد ما اضمر عامله د باب نه ، نه دي، بلکې دمظان اضمار نه دي.

اى رفع زيدا: په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې په الرفع کې الف لام د مضاف اليه نه عوض دي چې زيد دي .

واجب: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: فالرفع شرط محذوف د اذاکان الامر لپاره جزاء ده اوجزاء دپاره جمله کيدل شرط دي، او فالرفع مفرد دي؟

جواب: الرفع مبتدا ده، ددې خبر واجب محذوف دي، مبتدا او خبر سره يوځاې شو نو دا جمله جزا ده نو اشکال او سوال دفع شو .

د ما اضمر عامله داعراب بل قسم :

وَ كَذَا اَىْ مِثْلُ اَزَيْدٌ ذُهِبَ بِهٖ قَوْلُهٗ تَعَالٰى كُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِ اَىْ فِيْ صَحَائِفِ

او همدا رنګې يعني په مثل دا زيد ذهب به دا قول د الله تعالى كُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِ يعني په صحيفود
اَعْمَالِهِمْ فَهُوَ لَيْسَ مِنْ بَابِ الْاِضْمَارِ عَلَى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ لِاَنَّهُ لَوْ جُعِلَ مِنْهُ لَصَارَ
اعمالو ددوي كې نو دا نه دي د باب د اضمار على شريطة التفسير نه ځكه چې كه چيرته وګرځول شي د دې نه نو به ګرځي
التَّقْدِيْرُ فَعَلُوْا كُلَّ شَيْءٍ فِي الزُّبُرِ فَقَوْلُهُ فِي الزُّبُرِ اِنْ كَانَ مُتَعَلِّقًا بِفَعَلُوْا فَسَدَ الْمَعْنَى لِاَنَّ صَحَائِفَ
تقدير فَعَلُوْا كُلَّ شَيْءٍ فِي الزُّبُرِ نو دا قول د دوي فِي الزبر كه چيرته متعلق وي تر فعلوا نو معنى به يې فاسده شي ځكه صحيفې
اَعْمَالِهِمْ لَيْسَتْ مَحَلًّا لِفِعْلِهِمْ لِاَنَّهُمْ لَمْ يُوْقِعُوْا فِيْهَا فِعْلًا بَلِ الْكِرَامُ الْكَاتِبُوْنَ اَوْقَعُوْا
د اعمالو ددوي نه دي محل د پاره د فعلونو ددوي ځكه چې نه دي واقع شوي په دې كې فعل بلكې كرام كاتبين واقع
فِيْهَا كِتَابَةَ اَفْعَالِهِمْ وَ اِنْ كَانَ صِفَةً لِشَيْءٍ مَعَ اَنَّهُ خِلَافُ ظَاهِرِ الْاٰيَةِ
شوي دي د پاره د ليكلو د افعالو ددوي او كه چيرته د اصفت شي د پاره د شيء سره ددې چې دا خلاف ظاهر د آيت دي
فَاِنَّ الْمَعْنَى الْمَقْصُوْدُ اِذِ الْمَقْصُوْدُ اَنَّ كُلَّ شَيْءٍ هُوَ مَفْعُوْلٌ لَهُمْ كَائِنٌ فِي الزُّبُرِ
نو فوت به شي معنى مقصود ځكه چې مقصود دا دي چې هر هغه څيز چې كوونكي وي دوي لره دا ثابت دي په زبر
مَكْتُوْبٌ فِيْهَا مُوَافِقًا لِقَوْلِهِ تَعَالٰى وَ كُلُّ صَغِيْرٍ وَ كَبِيْرٍ مُسْتَطَرٌ لَا اَنَّ كُلَّ شَيْءٍ كَائِنٍ فِي صَحَائِفِ
او ليكل شوي دي په دې كې موافق ددې قول د الله تعالى وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّ كَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ، نه چې هر څيز كائن دي په صحيفود
اَعْمَالِهِمْ مَفْعُوْلٌ لَهُمْ فَالرَّفْعُ لَازِمٌ عَلَى اَنْ يَكُوْنَ كُلُّ شَيْءٍ مُبْتَدَاً وَ الْجُمْلَةُ الْفِعْلِيَّةُ صِفَةً
اعمالو ددوي كې چې كوونكي وي دوي لره نو رفع لازم ده په دې بناء چې شي كل شيء مبتدا او جمله فعليه صفت شي
لِشَيْءٍ وَ الْجَارُ وَ الْمَجْرُوْرُ فِي مَحَلِّ الرَّفْعِ عَلَى اَنَّهُ خَبَرُ الْمُبْتَدَاِ تَقْدِيْرُهُ كُلُّ شَيْءٍ هُوَ مَفْعُوْلٌ لَهُمْ
د پاره د شيء او جار مجرور په محل د رفع كې سره ددې چې دا خبر دي د پاره د مبتدا نو تقدير يې كل شيء هو مفعول لهم
ثَابِتٌ فِي الزُّبُرِ بِحَيْثُ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَلَا كَبِيْرَةً.
لهم ثابت في الزبر دي په داسې شان سره چې نه ده پريخي وړه ګناه او نه غټه ګناه .

خلاصه دمتن : په ظاهره دا عبارت د يو سوال مقدر جواب دي، ليكن په حقيقت كې دا هم د ما اضمر عامله د اعراب يو قسم دي چې ددې تفصيل لاندې په شرحه كې ذكر دي .

اغراض دجامي : سوال : مخكې تير شوې دي كه درفعې او د نصب دواړو د پاره قرينه مصححه وموندل شي، ليكن قرينه مرجحه صرف درفع د پاره وي، نو رفع مختار او نصب جائز وي، ليكن دا قاعده منقوضه او ماته شوه د الله تعالى په دې قول سره چې : **كل شئ فعلوه في الزبر،** ځكه چې **كل شئ** د عوامل لفظيه نه خالي كيدل قرينه مصححه للرفع دي او ددې نه پس داسې فعل كيدل چې په هغې كې دتفسير جوړيدو صلاحيت دي دا قرينه مصححه للنصب دي، ليكن

قرينه مرجحه صرف په رفع باندې موجود ده، اوهغه سلامتيا ده دحذف نه، په نصب باندې قرينه مرجحه نشته، نو دقاعدې موافق په كل شيء باندې رفع غوره كيدل په كار وو او نصب هم جائز كيدل په كار وو حالانكه رفع واجب ده.

جواب: په وكذاكل شئ سره مصنف جواب وركړو، شارح ددې تفصيل بيانوي چې لكه څنګه ازيد ذهب د ما اضمر عامله دقبيلې نه، نه دي همدارنګې د الله تعالى دا قول كل شئ فعلوه في الزبر هم د ما اضمر عامله د قبيلې نه، نه دي.

لانه لو جعل منه: په دې عبارت سره شارح د ما اضمر عامله د قبيلې نه دنه كيدو وجه بيانوي، كه داد ما اضمر عامله د قبيلې نه وي، نو تقدير عبارت به داسې شي، فعلوكل شيء في الزبر بيا د في الزبر په تركيب كې دوه (۲) احتماله دي: (۱) في الزبر د فعلوه متعلق شي كه چيرته داد فعلوه سره متعلق وي، نو معنى به يې فاسده شي، ځكه چې په دې وخت كې يې معنى دا شوه چې آيا هغوي هر يو څيز په اعمال نامه كې، ددې معنى د وجې نه به صحائف د بندګانو د فعل محل به جوړ شي، حالانكه صحائف اعمال دبندګانو دافعالو محل نه وي، بلكې د كراماًكاتبين افعال محل دي كراماًكاتبين د بندګانو افعال په صورت دكتابت كې په دې كې درج كوي.

(۲) دويم احتمال دادې چې في الزبر د شيء صفت دي اګر چې دا د ظاهر آيت خلاف دي، ځكه چې په دې صورت كې به دموصوف اوصفت په مينځ كې فعلو فاصله به شي ددې باوجود كه دا صفت جوړ كړې، نو معنى مقصودې به يې فوت شي، ځكه چې د آيت نه مقصود دادې چې څه چې بندګان كوي هغه د دوي په اعمال نامه كې ليكلې شي، لكه دالله تعالى فرمان دي: وكل صغير وكبير مستطر، چې هر وړوكى غټ څيز ليكلې شوي دي او كه صفت جوړ كړې شي، نو معنى به يې دا شي چې هر هغه څيز چې په اعمال نامه كې درج وي، هغه د بندګانو كړه وړه يعنې اعمال دي، په دې سره يو وهم باطل پيدا شو، چې د بندګانو بعض اعمال داسې هم دي، چې اعمال نامه كې هم نه وي، لهذا داد ما اضمر عامله د باب نه، نه دي.

نو لهذا په كل شيء باندې رفع واجب ده او دا مبتداء او فعلوه جمله فعليه ددې صفت دي او في الزبر ظرف مستقر ثابت سره متعلق شو ددې خبردي، تقدير دعبارت به داسې شي چې: كل شيء هو مفعول لهم ثابت في الزبر بحيث لا يغادر صغيرة ولا كبيرة، هر هغه عمل چې بندګانو كړې

وي دابه ددوي په عمل نامه کې ثابت وي په زبر کې په داسې شان سره چې نه به يې ورو کي عمل پريخي وي او نه غټ عمل.

اي في صحائف اعمالهم: په دې عبارت سره شارح يا خو تفسير د غير مشهور په مشهور سره کوي او يا دفع ديو وهم کوي ، هغه وهم دادې چې زبر د زبور جمع ده ، ددې نه مراد کتاب زبور دي کوم چې په داؤد عليه السلام باندې نازل شوې دي، حالانکه دا معنى دلته مراد نه ده، نو صحائف اعمال سره ددې وهم ازاله وشوه، چې دلته عمل نامه مراد ده.

په الزانية والزاني باندې د رفعې بحث:

وَاعْلَمْ اَنَّهُ قَدْ سَبَقَ اَنَّ الْاِسْمَ الْمَذْكُوْرَ اِذَا كَانَ الْفِعْلُ الْمُشْتَغِلُ عَنْهُ بِضَمِيْرِهٖ اَوْ مُتَعَلِّقِهٖ
پوه شه چې دا خبره مخکې تيره شوې ده چې اسم مذکور چې کله مشغول وي ددې نه په ضمير سره او يا ددې د متعلق
اَمْرًا اَوْ نَهْيًا فَالْمُخْتَارُ فِيْهِ النَّصَبُ وَالظَّاهِرُ اَنَّ قَوْلَهُ تَعَالٰى اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ
سره امر او يا نهي نو غوره په دې کې نصب دي او ظاهر چې دا قول د الله تعالى اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ
جَلْدَةٍ دَاخِلٌ تَحْتَ هٰذِهِ الْقَاعِدَةِ مَعَ اَنَّ الْقُرَّاءَ اِتَّفَقُوْا فِيْهِ عَلَى الرَّفْعِ اِلَّا فِيْ رِوَايَةٍ شَاذَّةٍ
جَلْدَةٍ دا داخل دي لاندې ددې قاعدې سره ددې چې قاريان متفق دي په دې کې په رفعې سره مگر په روايت شاذه
عَنْ بَعْضِهِمْ فَاضْطَرَّ النُّحَاةُ اِلٰى اَنْ تَمَحَّلُوْا لِاِخْرَاجِهٖ عَنِ الْقَاعِدَةِ الْمَذْكُوْرَةِ لِئَلَّا
سره د بعضو نورو نه نو مجبوره شو نحويان دې ته چې حيله جوړه کړي د خارجولو ددې قاعدې مذکورې نه خکه چې
يَلْزِمَ اِتِّفَاقُ الْقُرَّاءِ عَلٰى غَيْرِ الْمُخْتَارِ فَاَشَارَ الْمُصَنِّفُ اِلٰى مَا تَمَحَّلُوْا
لازم نه شي اتفاق د قاريانو په غير مختار باندې نو اشاره وکړه مصنف هغه څه ته چې حيله جوړه کړي نحويانو د
لِاِخْرَاجِهٖ عَنْهَا فَقَالَ وَ نَحْوُ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ
خارجولو ددې آيت ددې قاعدې نه نو وي ويل چې په دې مثال کې اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ
اَلْفَاءُ فِيْهِ مُرْتَبِطَةٌ بِمَعْنَى الشَّرْطِ عِنْدَ الْمُبَرِّدِ لِكَوْنِ الْاَلِفِ وَاللَّامِ فِي الزَّانِيَةِ وَالزَّانِيْ مُبْتَدَاً مَوْصُوْلًا
نو فاء په دې کې مرتبط ده په معنى د شرط پورې په نزد د مبرد د کيدو د الف او لام په الزانية والزاني مبتدا موصول په
فِيْهِ مَعْنَى الشَّرْطِ وَ اِسْمُ الْفَاعِلِ الَّذِيْ هُوَ صِلَتُهٗ كَالشَّرْطِ فَخَبَرُ الْمُبْتَدَاِ كَالْجَزَاءِ وَ الْفَاءُ
دې کې معنى د شرط ته او اسم فاعل هغه چې هغه ددې صله وي لکه شرط نو خبر د مبتدا په شان د جزا ده او فاء
اَلدَّاخِلَةُ عَلَيْهِ مُرْتَبِطَةٌ بِالشَّرْطِ لِدَلَالَتِهَا عَلٰى سَبَبِيَّتِهٖ لِلْجَزَاءِ
چې کومه داخله ده په دې باندې نو دا مرتبط ده د شرط پورې د وجې د دلالت نه په سببيت ددې باندې د پاره د جزا
وَ مِثْلُ هٰذِهِ الْفَاءِ لَا يَعْمَلُ مَا فِيْ حَيِّزِهَا فِيْ مَا قَبْلَهَا

او په شان ددې فاء په مابعد کې چې څه کيږي نوهغه ددې په مابعد کې کيږي نوداپه ماقبل کې عمل نه کوي نو
فَامْتَنَعَ تَسْلِيطُ الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ بَعْدِهَا عَلٰى مَا قَبْلَهٗ فَتَعَيَّنَ فِيْهِ الرَّفْعُ وَ الْاٰيَةُ
ممتنع دي مسلط کول دذکرشوي فعل وروسته ددې په ماقبل باندې نومتعين دي په دې کې رفع اوداآيت دوه
جُمْلَتَانِ مُسْتَقِلَّتَانِ عِنْدَ سِيْبَوَيْهِ اِذِ الزَّانِيَةُ مُبْتَدَأٌ مَحْذُوْفُ الْمُضَافِ وَ الزَّانِيْ عَطْفٌ
جملې دي مستقلې په نزددامام سيبويه ځکه چې الزانية مبتداچې ددې مضاف محذوف دي اوالزاني عطف دي په
عَلَيْهِ وَ الْخَبَرُ مَحْذُوْفٌ اَیْ حُكْمُ الزَّانِيَةِ وَ الزَّانِيْ فِيْمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ بَعْدُ وَ قَوْلُهٗ فَاجْلِدُوْا جُمْلَةٌ
دې باندې اوخبر محذوف دي يعنې حکم الزانية والزاني فيما يتلى عليهم بعداوداقول دالله تعالى فاجلدوا داجمله
ثَانِيَةٌ لِبَيَانِ الْحُكْمِ الْمَوْعُوْدِ وَ الْفَاءُ عِنْدَهٗ اَيْضاً لِلسَّبَبِيَّةِ اَیْ
ده دويمه دپاره دبيان دهغه حکم چې وعده يې شوې ده اوفاءهمدارنګې دسيبويه په نزد دسببيت دپاره دي يعنې
اِنْ ثَبَتَ زِنَاهُمَا فَاجْلِدُوْا وَ قِيْلَ زَائِدَةٌ اَوْ لِلتَّفْسِيْرِ وَ جُزْءُ
که چيرته ددې دواړو زناثابت شوه نودوي ته دُورې ورکړې اوچاويلي چې فاءزائده ده اويادتفسيردپاره ده اوجزء
الْجُمْلَةِ لَا يَعْمَلُ فِيْ جُزْءِ جُمْلَةٍ اُخْرٰى فَيَمْتَنِعُ التَّسْلِيْطُ فَلَا تَدْخُلُ فِي الضَّابِطَةِ فَتَعَيَّنَ الرَّفْعُ
دجملې داعمل نه کوي په جزء دبلې جملې نوممتنع دي تسليط نوداخل نه شوآيت په قاعده کې نورفع متعينه شوه
وَاِلَّا اَیْ وَاِنْ لَمْ تَكُنِ الْفَاءُ بِمَعْنَى الشَّرْطِ وَلَمْ تَكُنِ الْاٰيَةُ جُمْلَتَيْنِ اَيْضاً فَهِيَ تَكُوْنُ دَاخِلَةً تَحْتَ
اوکه چيرته نه وي يعنې که چيرته نه وي فاءپه معنى دشرط اونه وي آيت دوه جملې همدارنګې نوداوي داخل لاندې
الضَّابِطَةِ فَالْمُخْتَارُ حِيْنَئِذٍ فِيْهَا النَّصْبُ وَ اِخْتِيَارُ النَّصْبِ بَاطِلٌ لِاِتِّفَاقِ الْقُرَّاءِ عَلٰى
ددې قاعدې نوغوره په دې وخت کې په دې کې نصب دي اواختياردنصب باطل دي دوجې داتفاق دقاريانو په
الرَّفْعِ فَلَا بُدَّ مِنْ جَعْلِ الْفَاءِ بِمَعْنَى الشَّرْطِ اَوْ جَعْلِ الْاٰيَةِ جُمْلَتَيْنِ
رفع باندې نو نشته دي خلاصي د ګرځولو د فاء په معنى دشرط او يا ګرځول د آيت دوه جملې ددې دپاره چې
لِيَتَعَيَّنَ الرَّفْعُ.
متعينه شي رفع .

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې وايي چې دالله تعالى په قول الزانية والزاني فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة کې د الزانية او الزاني نه پس امر واقع دي ، ليکن قراء سبعه ددې په رفعې متفق دي حالانکه په دې باندې نصب مختار په کار وو، نو آيت يې دذکر شوې قاعدې نه دخارجولو دپاره نحويانو څو حيلې اختيار کړې دي، په ذکر شوي عبارت کې دغه حيلې مصنف ذکر کړې چې ددې حيلو تفصيل لاندې په شرحه کې ذکر شوي دي .

اغراض دجامي : **واعلم**: په دې عبارت کې شارح جامي دې خبرې طرف ته اشاره کوي.
چې دماتن عبارت **ونحوالزانية والزاني** د يو سوال مقدر جواب دي، **واعلم** سره شارح ددغه سوال تشريح کوي، چې د هغې حاصل دادې، چې مخکې تېر شوي دي، چې هغه فعل چې کوم داسم مذکور په ضمير يا د هغه په متعلق کې دعمل کولو د وجې نه په دې اسم کې عمل کولو نه اعراض کوي او هغه فعل امر يا نهي وي، نو په اسم مذکور باندې نصب مختار ده او په ظاهره د الله تعالى فرمان **الزانية والزاني فاجلدوا كل واحد منهما مائة جلدة** ددې قاعدې لاندې داخل دي، ځکه چې په دې کې **الزانية والزاني** نه پس **فاجلدوا** امر واقع دي، حالانکه په دې باندې نصب مختار نه دي، بلکې قراء سبعه ددې په رفع باندې متفق دي، صرف د عيسى بن عمرو يو قرات شاذه د نصب دي ، اوس په دوو (۲) محالونو کې يو محال لازم راځي :
(۱) يا خو د قراء سبعه په رفع باندې اتفاق غلط دي دا هم محال دي .
(۲) يا خو دنحويانو ذکر شوي قاعده غلطه ده دا هم محال ده، نو ځکه نحويانو حضراتو د خپلې قاعدې دبچ کولو دپاره په دې آيت کريمه کې څو تاويلات اوحيلې کړي دي نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ په **ونَحْوُ الزانية** سره دا حيلې کوي اوشارح ددې تشريح کوي .

عندالمبرد: په دې عبارت سره شارح دامام مبرد مذهب بيانوي، دامام مبرد په نزد په **فاجلدوا** کې **فاء** د شرط معنى سره ده يعنې دا **فاء** جزائيه ده، کومه چې د مابعد دماقبل سره ديو ځاې کولو دپاره راځي، ځکه چې په **الزانية والزاني** کې الف لام په معنى الذي اسم موصول سره دي موصول صله يوځاې شو دامبتدا چې متضمن وي معنى دشرط لره ، ځکه چې کله مبتدا اسم موصول وي او ددې صِله فعل يا ظرف وي، نو دغه مبتدا معنى د شرط ته متضمن وي او فعل او ظرف په منزله دشرط وي ، لهذا اسم فاعل کوم چې صِله ده دا په منزله دشرط دي او د مبتدا خبر **فاجلدوا** دا په منزله دجزاء دي په دې باندې **فاء** داخله ده دا فاء خبر دشرط سره يو ځاى کوي، ځکه چې دا **فاء** په دې خبره باندې دلالت کوي، چې شرط دجزاء دپاره سبب دي او دا يقيني خبره ده، چې دغه شان **فاء** مابعد په ما قبل کې عمل نه کوي، لهذا **فاجلدوا** په **الزانية** باندې مسلط کول ممتنع دي نو دا به د **ما اضمر عامله** دباب نه ، نه وي، ځکه په دې باندې نصب مختار نه دي بلکې دمبتدا د وجې نه رفع مختار ده.

فيه: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: نَحْوُ الزانية والزاني مبتداء او الفاء بمعنى الشرط ددې خبر دي حالانکه ددې خبر جوړول صحيح نه دي، ځکه چې کله خبر جمله وي، نو په دې کې عائد ضروري دی او دلته عائد نشته؟

جواب: عائد محذوف دی، چې هغه فيه دي.

مرتبطه: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي، اشاره يې کړې ده چې بمعنى الشرط ظرف مستقر په اعتبار دمتعلق سره خبر دي دمبتدا.

والآية جملتان مستقلتان عند سيبويه: په دې عبارت کې شارح بيان ددويم مذهب کوي چې دويم مذهب دامام سيبويه دي، دامام سيبويه په نزد دا آيت دوه مستقلې جملې دي، ځکه چې الزانية مضاف اليه دي، ددې مضاف محذوف دي کوم چې حکم دي او الزاني په دې باندې معطوف دي، مضاف مضاف اليه، چې يو ځای شي، نو مبتداء شوه ددې خبر فيما يتلى عليكم بعد وو او فاجلدوا كل واحد الخ دا جمله ثانيه مستقله ده. په دې باندې فاء دسيبويه په نزد هم جزائيه سببيه ده او ددې شرط محذوف دي اصل عبارت داسې دي ان ثبت زنا هما فاجلدوا كل واحد او دا دويمه جمله داولې جملې دحکم موعود دبيانولو دپاره دي چې کله دا دوه جدا جملې دي نو داد مااضمر عامله دقبيلې نه ، نه دي ځکه چې تسليط ممتنع دي يو دجملې جز ددويمې جملې په جزء کې عمل نه کوي ، دبعضو په نزد باندې په فاجلدوا کې فاء سببيه نه ده بلکه فاء زائده ده. اودبعضو په نزد فاء تفسيريه ده حکم دموعود تفسير کوي ددې دواړو قولينو مطابق هم فاجلدوا جدا جمله به جوړيږي ددې دماقبل سره تعلق به نه وي لهذا دابه د ما اضمر عامله دباب نه نه وي.

والا فالمختار النصب: يعني كه فاء په معنى دشرط نه وي ، لکه چې د مبرد مذهب دي او دا آيت دوه مستقلې جملې هم نه وي، لکه چې د سيبويه مذهب دي،نودا آيت دذکرشوې قاعدې لاندې داخل شوا په دې باندې نصب مختار دي، ليکن د نصب غوره کيدل باطل دي، ځکه چې د قراء سبعه په رفع باندې اتفاق دي، ځکه ضروري ده چې دا فاء يا خو د شرط په معنى باندې شي لکه چې دمبردمذهب دي يادا آيت دوه مستقلې جملې شي لکه چې د سيبويه مذهب دي.

الآية: په دې عبارت کې شارح بیان دترکیب کوي ، اشاره کوي دې خبرې طرف ته چې جملتان خبر دی د مبتدا محذوف چې هغه الآية ده.

مستقلتان: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: د مبرد د قول مطابق هم دا آیت دوه جملې دي، ځکه چې شرط هم جمله او جزاء هم جمله ده. نو بیا دسیبویه او د مبرد په مذهب کې فرق څه شو؟

جواب: د سیبویه په نزد دا آیت دوه مستقلې جملې دي. لیکن دمبرد په نزد دوه مستقلې جملې نه دي، ځکه چې جزاء په شرط باندې مرتب وي

وان لا اي وان لم تكن: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: الاشرطیه ده فالمختار النصب جزاء ده. حالانکه الا شرطیه کېدل صحیح نه دي، ځکه چې د شرط لپاره جمله کېدل ضروري دي، او الا حرف مفرد دي؟

جواب: دلته الا د ان لم تكن په معنی کې دي، چې هغه جمله ده لهذا ددې شرط جوړېدل صحیح دي.

څلورم قسم : تحذير :

د تحذير تعريف :

اَلرَّابِعُ مِنْ تِلْكَ الْمَوَاضِعِ الَّتِيْ وَجَبَ حَذْفُ النَّاصِبِ لِلْمَفْعُوْلِ بِهٖ فِيْهَا التَّحْذِيْرِ وَ اِنَّمَا
څلورم دهغه مواضعونه چې واجب وي حذف کول د ناصب دپاره دمفعول به په دې کې هغه تحذير دي اوپه تحقيق
وَجَبَ حَذْفُ الْفِعْلِ فِيْهِ لِضِيْقِ الْوَقْتِ عَنْ ذِكْرِهٖ وَ هُوَ فِي اللُّغَةِ تَخْوِيْفُ شَيْءٍ
سره واجب دې حذف دفعل دوجې دتنګوالي دوخت نه دذکر کولو ددې نه اوتحذير په لغت کې ويرول ديوڅيز دي
عَنْ شَيْءٍ وَ تَبْعِيْدُهٗ مِنْهُ وَ فِيْ اِصْطِلَاحِ النُّحَاةِ مَعْمُوْلٌ اَیْ اِسْمٌ عُمِلَ
دبل څيزنه اويوڅيز دبل څيزنه لرې کول دي اوپه اصطلاح دنحويانوکې معمول دي يعنې هغه اسم چې عمل کوي
فِيْهِ النَّصَبَ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ بِتَقْدِيْرِ اِتَّقِ تَحْذِيْرًا اَیْ حُذِّرَ ذٰلِكَ الْمَعْمُوْلُ تَحْذِيْرًا اَفَيَكُوْنُ مَفْعُوْلًا مُطْلَقًا
په دې کې نصب بناءبرمفعوليت په تقدير داتق سره تحذيرا يعنې حذر ذلک المعمول تحذيرا نووي به مفعول مطلق
اَوْ ذُكِرَ تَحْذِيْرًا فَيَكُوْنَ مَفْعُوْلًا لَهٗ مِمَّا بَعْدَهٗ اَیْ مِمَّا بَعْدَ ذٰلِكَ الْمَعْمُوْلِ اَوْ
اوياذکر کولې شي تحذيرا نووي به مفعول له دهغه څيزدپاره چې ددې نه پس وي يعنې پس ددې مفعول نه اويا
ذُكِرَ الْمُحَذَّرُ مِنْهُ مُكَرَّرًا عَلٰى صِيْغَةِ الْمَجْهُوْلِ عَطْفٌ عَلٰى حُذِّرَ اَوْ ذُكِرَ الْمُقَدَّرِ

ذکر کړي شي محذر منه مکرر په صيغې د مجهول سره داعطف دي په حذر باندې اویاذکر په مقدر باندې عطف وي
فَإِنْ قُلْتَ فَعَلَى هَذَا لَا بُدَّ مِنْ ضَمِيْرٍ فِي الْمَعْطُوْفِ كَمَا فِي الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ
که چیرته ته ووایې نو بنا ، په دې باندې نشته دې خکه چې دضمیر نه په معطوف کې لکه څنګه چې په معطوف علیه
قُلْنَا نَعَمْ لٰكِنَّهُ وَضَعَ فِي الْمَعْطُوْفِ الْمُظْهَرِ مَوْضِعَ الْمُضْمَرِ إِذْ تَقْدِيْرُ الْكَلَامِ أَوْ
کې دې نو مونږ وایوچې صحیح ده لیکن وضع شوي په معطوف مظهر په ځاي دمضمر کې ځکه تقدیر دکلام اویا
مَعْمُوْلٌ بِتَقْدِيْرِ اِتَّقِ ذُكِرَ مُكَرَّرًا اِلَّا أَنَّهُ وَضَعَ الْمُحَذَّرَ مِنْهُ مَوْضِعَ الضَّمِيْرِ الْعَائِدِ إِلَى الْمَعْمُوْلِ
معمول په تقدیر د اتق سره داذکر دي مکرر مګر داچې وضع شوي محذر منه په ځاي دضمیرچې راجع دي معمول
إِشْعَاراً بِأَنَّهُ مُحَذَّرٌ مِنْهُ لَا مُحَذَّرٌ.
طرف ته دپاره دخبرورکولوچې دامحذرمنه دي نه محذر.

خلاصه دمتن: صاحب دکافیې په دې عبارت سره دهغه مواضعو نه چې په کومو مواضعو کې عامل ناصب حذف کول واجب دي دهغې ذکر کوي چې هغه تحذیر دي .

د تحذیر تعریف: تحذیر هغه اسم دي کوم چې د اتق وغیره مقدر معمول وي، بیا تحذیر په دوه (٢) قسمه دي: (١) اول هغه چې د اتق مقدر معمول وي او دا دما بعد نه دویرولو دپاره ذکر شوې وي، (٢) کوم چې د اتق مقدر معمول وي او محذر منه وي، چې هغه یې مکرر ذکر کړې وي

اغراض دجامي: من تلك: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي ، چې په رابع باندې الف لام عهدي دي، یعنې هغه مواضع اربعه په کوم کې چې دمفعول به دعامل ناصب حذف کول واجب دي، په هغې کې څلورم قسم تحذیر دي .

وانماوجب: په دې عبارت سره شارح په دې مقام کې دمفعول به دعامل ناصبه دحذف وجوبي وجه بیانول دي چې دهغې حاصل دادې چې په دې مقام دتحذیر کې دمفعول به دعامل ناصبه حذف کول دوخت دتنګوالي دوجې نه کیږي .

في اللغة: په دې عبارت کې بیان لغوي دمعنی کوي . چې د تحذیر لغوي معنی ده یو څیز دبل څیز نه یرول او یو څیز دبل څیز نه لرې کول ، دې ته تحذیر وایي

اي اسم: په دې عبارت سره شارح لفظ مقدر کړو نو دې خبرې طرف ته یې اشاره وکړه چې معمول صیغه دصفت ده ددې موصوف اسم محذوف دي .

في اصطلاح: په دې عبارت کې شارح دمتن وضاحت کوي ، چې صاحب دکافيې چې دتحذير کومه معنی بيان کړي ده هغه معنی اصطلاحي ده لغوي نه ده.

عمل فيه: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د تحذير تعريف په اياك والاسد کې په اياك باندې صادق نه راځي، ځکه چې هغه معمول فيه دي معمول نه دي، بلکې معمول خو ناصب وي او نصب تحذير نه دي لهذا تعريف دې جامع نه دي؟

جواب: دلته د معمول نه مراد معمول فيه دي لکه د مشترك نه مراد مشترك فيه وي.

اى حذر: په دې عبارت سره شارح دتحذيراً ترکيب بيانوي، چې ددې په ترکيب کې دوه (۲) احتماله دي : (۱) دا مفعول مطلق دي د فعل محذوف حذر ، تقدير دعبارت داسې دي چې: حذر ذلك المعمول تحذيراً. (۲) دا مفعول له دي دفعل محذوف ذُكر تقدير دعبارت داسې دي چې: ذكر ذلك المعمول تحذيراً.

اى مما بعد ذلك المعمول: په دې عبارت کې شارح د ﻩ ضمير مرجع بيانوي .

على صيغة: په دې عبارت کې شارح بيان دصيغې کوي چې ذکر د ماضي مجهول صيغه ده .

عطف: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي، چې ذکر شوي ذکر دا معطوف دي، په حذر يا په ذكر مقدر باندې.

فان قلت: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي :

اعتراض : دذکر شوي ذکر عطف په حذر يا په ذکر مقدر باندې صحيح نه دي، ځکه چې حُذِّر يا ذُکر مقدر کوم چې معطوف عليه دي په دې کې ضمير دي، چې راجع دي معمول طرف ته او ذُکر چې معطوف دي، په دې کې ضمير نشته، ځکه چې ددې نائب فاعل المحذر منه اسم ظاهر مخکې ذکر دي، حالانکه کله چې په معطوف کې ضمير وي، نو په معطوف کې هم ضمير کيدل ضروري دي، ځکه قاعده داده، چې معطوف دمعطوف عليه په حکم کې دي؟

جواب: مونږ منو چې په معطوف عليه کې ضمير وي نو په معطوف کې هم ضمير کيدل ضروري وي ليکن دا په هغه وخت کې چې کله دضمير نه غير بل عائد او رابط نه وي دلته

عائد او رابط موجود دي او هغه وضع المظهر موضع المضمر يعنې ايخودل د مظهر په ځاى د مضمر بانديې دي ، په اصل کې دا موقع د ضمير وه او ذکر په کار وه مخکې المحذر منه نه وو په کار، ليکن د ضمير په ځاى اسم ظاهر المحذر منه کيخودې شو.

الا انه: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د ضمير په ځاى اسم ظاهر د کيخودو څه فائده ده ، چې کله د ضمير سره مقصود حاصليږي او په دې کې ايجاز او اختصار هم وو او په عبارت کې اصل اختصار وي.

جواب: د ضمير په ځاى اسم ظاهر يعنې المحذر منه د ذکر کولو نه مقصود دې خبرې طرف ته اشاره کول دي، چې په معطوف کې د معمول نه مراد محذر منه دي، نه محذر، کله چې په معطوف عليه کې حذر يا ذکر ضمير معمول طرف ته راجع وي، او د معمول نه مراد محذر وو، که چيرته ذکر په معطوف کې هم ضمير مستتر منلې کيدې نو دا به هم معمول طرف ته راجع کيدو نو په قرينې د معطوف عليه نه مراد محذر وو حالانکه دا خلاف واقع دي د دې فائدې په بناء بانديې چې په معطوف کې د معمول نه مراد محذر منه دي مصنف رَحِمَهُ اللّٰه د ضمير په ځاى اسم ظاهر ذکر کړو.

د تحذير مثالونه:

مِثْلُ اِيَّاکَ وَالْاَسَدَ وَاِيَّاکَ وَاَنْ تَحْذِفَ هٰذَانِ مِثَالَانِ لِاَوَّلِ نَوْعِيِ التَّحْذِيْرِ وَمَعْنَاهُمَا بَعِّدْ نَفْسَکَ مِنَ
لکه اياک والاسد واياک وان تحذف دا دواړه مثالونه دي د اول قسمونو د تحذير او معنى د دې دواړو بعد نفسک من
الْاَسَدِ وَ الْاَسَدَ مِنْ نَفْسِکَ وَ بَعِّدْ نَفْسَکَ عَنْ حَذْفِ الْاَرْنَبِ وَ هُوَ ضَرْبُهُ بِالْعَصَا وَ
الاسد والاسد من نفسک وبعد نفسک عن حذف الارنب دي او دا خرګوش دي چې وهلې يې وي په امسا بانديې و
بَعِّدْ حَذْفَ الْاَرْنَبِ عَنْ نَفْسِکَ وَعَلَى التَّقْدِيْرَيْنِ الْمُحَذَّرُ مِنْهُ هُوَ الْاَسَدُ وَالْحَذْفُ فَاِنَّ الْمُرَادَ مِنْ تَبْعِيْدِ
بعد حذف الارنب عن نفسک نو په دواړو تقديرونو سره محذر منه هغه اسد دي او حذف دي ځکه مراد د لرې والي
الْاَسَدِ اَوِ الْحَذْفِ مِنْ نَفْسِکَ تَحْذِيْرُهَا مِنْهُمَا لَا تَحْذِيْرُهُمَا مِنْهَا
د اسد نه او يا د ويرولو د خپل نفس نه هغه ويرول د خپل نفس د دې دواړو نه ، نه ويرول د دې دواړو د خپل نفس نه او
وَالطَّرِيْقَ الطَّرِيْقَ مِثَالٌ لِثَانِيْ نَوْعَيْهِ اَيْ اِتَّقِ الطَّرِيْقَ الطَّرِيْقَ وَلَا يَخْفٰى عَلَيْکَ اَنَّ تَقْدِيْرَ
الطريق الطريق د امثال دي د دويم قسم د پاره يعنې اتق الطريق الطريق او خفي دې نه وي په تا بانديې چې تقدير د
اِتَّقِ فِيْ اَوَّلِ النَّوْعَيْنِ غَيْرُ صَحِيْحٍ لِاَنَّهُ لَا يُقَالُ اِتَّقَيْتُ زَيْداً مِنَ الْاَسَدِ فَيَنْبَغِيْ اَنْ يُقَدَّرَ

اتق به وئيل دواړو قسمونو کې غيرصحيح ده ځکه چې نه شي ويلي اتقيت زيدا من الاسد مناسب دا ده چې مقدر

فِيْهِ مِثْلُ بَعِدْ وَنَحِّ وَتَقْدِيْرَ بَعِدْ فِيْ مِثَالِ النَّوْعِ الثَّانِيْ غَيْرُمُنَاسِبٍ لِاَنَّ الْمَعْنٰى عَلَى الْاِتِّقَاءِ

کړې شي په دې کې بعدا ونح او تقدير د بعد په مثال د دويم قسم کې غيرمناسب دي ځکه معنی د پرهيز کولو په لار

عَنِ الطَّرِيْقِ لَا عَلٰى تَبْعِيْدِهِ فَالصَّوَابُ اَنْ يُّقَالُ بِتَقْدِيْرِ بَعِدْ اَوْ اِتَّقِ وَ

ځنې دی دلارې نه. نه دلرې والي د محاطب دلارې نه نو صحيح دا ده چې وويل شي په تقدير د بعدا و د اتق سره او

نَحْوِهِمَا فَيَقَدَّرُ مِثْلُ بَعِدْ فِيْ جَمِيْعِ اَفْرَادِ النَّوْعِ الْاَوَّلِ وَفِيْ بَعْضِ اَفْرَادِ النَّوْعِ الثَّانِيْ مِثْلُ نَفْسَکَ

يا به مثل د دې نو مقدر کولی به شي په شان د بعد په ټولو افرادو د اول قسم او په بعضو افرادو د دويم قسم لکه نفسک

نَفْسَکَ فَاِنَّ الْمَعْنٰى عَلٰى بَعِدْ نَفْسَکَ مِمَّا يُؤْذِيْکَ کَالْاَسَدِ وَنَحْوِهِ وَيُقَدَّرُ مِثْلُ اِتَّقِ فِيْ بَعْضِهَا

نفسک نو معنی د دې بعد نفسک مما يؤذيک دی په شان د اسد او مقدر به شي په شان د اتق په بعضو کې لکه ذکر شوي

کَالْمِثَالِ الْمَذْکُوْرِ قِيْلَ لَفْظُ الْاَسَدِ فِيْ اِيَّاکَ وَالْاَسَدَ خَارِجٌ عَنِ النَّوْعَيْنِ فَيَنْبَغِيْ اَنْ لَّا يَکُوْنَ

مثال کې. جا ويلي دي چې لفظ د اسد په اياک والاسد کې د خارج دی د دواړو قسمونو نه نو مناسب دي چې نه وي

تَحْذِيْراً وَ لَيْسَ کَذٰلِکَ فَاِنَّهٗ اَيْضًا تَحْذِيْرٌ وَ اُجِيْبَ بِاَنَّهٗ تَابِعٌ لِلتَّحْذِيْرِ وَ التَّوَابِعُ خَارِجَةٌ

تحذير. او نه ده دا رنګې ځکه چې هم دا رنګې تحذير دي او جواب ورکړې شوی چې دا تابع دي د تحذير او توابع خارج

عَنِ الْمَحْدُوْدِ بِدَلِيْلِ ذِکْرِهَا فِيْمَا بَعْدُ.

دي د محدود نه په هغه دليل سره چې ذکر کړي يې دي وروستو

خلاصه دمتن: صاحب د کافيې په ذکر شوي عبارت کې د تحذير د دواړو قسمونو مثالونه ذکر کړي دي چې د دې وضاحت لاندې په شرحه کې راځي

اغراض دجامي: هذان مثالان: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال (۱): د لته مراد او مقصود بيان د مسائلو دي نه بيان د مثالونو. نو د مثالونو ذکر کول بې فائدې او اشتغال بمالا يعني دي

سوال (۲): د مثال نه غرض او مقصود د ممثل له توضيح او وضاحت وي. د دې لپاره خو يو مثال هم کافي دي. مصنف رَحِمَهُ اللهُ دوه (۲) مثالونه ولې ذکر کړل؟

جواب (۱): کله د مسئلې د وضاحت د پاره مثال ضروري وي. نو په دې وخت کې د مثال ذکر کول اشتغال بمالا يعني نه دي

جواب (۲): ددويم سوال جواب دادې چې تعدد دمثالونو د ممثل له دتعدد دوجې نه دي
دمثالونو تشريح : اياك والاسد او اياك وان تحذف دا دواړه د تحذير داول قسم مثالونه دي نو په دې باندې يو سوال واردېږي
سوال : دتحذير داول قسم دوه مثالونه يې ولې ذکر کړل د وضاحت دپاره خو يو مثال هم کافي وو ؟
جواب : ددې جواب دادې چې په دې خبره باندې دتنبيه کولو دپاره يې دوه مثالونه ذکر کړل، چې په اول قسم کې په محذر منه کې تعميم دي برابره خبره ده که اسم حقيقي وي . اوکه اسم صريحي وي او که اسم تاويلي په اول مثال کې محذر منه يعنې الاسد اسم صريحي دي اوپه دويم مثال کې محذر منه يعنې ان تحذف اسم تاويلي دي
يا په دې خبره باندې دتنبيه کولو دپاره چې داول قسم په محذر منه کې تعميم دي برابره خبره ده چې دا اسم ذات وي يا اسم صفت په اول مثال کې محذر منه الاسد اسم ذات دي اوپه دويم مثال کې محذر منه ان تحذف اسم صفت دي ددې دواړو مثالونو اصل دادې چې بعد نفسک من الاسد وبعد الاسد من نفسک بعد نفسک عن حذف الارنب وبعد حذف الارنب عن نفسک . دحذف معنى ده لرګى سره خرګوش (يعنې سويا) وهل . دا د حضرت عمر(ﷺ) وينا ده ، چې په حالت داحرام کې خرګوش (يعنې سويا) په همساء مه وهئ، ځکه که مړه شوه نو ضايع به شي، نود بعد نفسك من الاسد والاسد من نفسك نه اياك والاسد څنګه جوړ شو. ددې تفصيل دادې، چې دمعطوف نه من نفسك حذف کړې شو په معطوف عليه کې ددې په ذکر باندې اکتفاء وکړې شوه او من الاسد يې دمعطوف عليه نه حذف کړو په معطوف کې ددې په ذکر کولو باندې يې اکتفاء وکړه نو بعد نفسک والاسد شو بيا دوخت دتنګ والي دوجې نه فعل يې حذف ک و اولفظ دنفس ته دضرورت نه کيدو دوجې نه حذف کړو اوضمير متصل ديواځې کيدو دوجې نه په منفصل سره بدل شو نو اياك والاسد شو.

و<u>على التقديرين</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي
سوال : بعد نفسك من الاسد والاسد من نفسك کې تناقض واقع او تدافع دي ځکه چې د بعد نفسک من الاسد نه معلومېږي چې الاسد محذر منه او نفسک محذر دي او د الاسد من نفسک نه

معلومیږي چې چې الاسد محذر او من نفسک محذر منه دي په دویم مثال کې هم همدا تعارض دي

جواب: په دې دواړو صورتونو کې په اول مثال کې محذر منه الاسد دي او په دویم مثال کې محذر منه حذف دي. ځکه دخپل نفس نه اسد او ارنب لرې کولو نه مراد نفس ددې دواړو نه ویرول دي. نه دا خیزونه دنفس نه ډیرول او لرې کول دي او دویم داول قول دپاره تاکیدل دي او په تقدیم اوتاخیر کې دتکرار لفظي نه دبچ کیدو دپاره دي

والطریق والطریق: په دې عبارت کې شارح دممثل له تعین کوي داد تحذیر ددویم قسم مثال دي په اصل کې اتق الطریق الطریق وو دوخت دتنگ والي په بناء باندې فعل یې حذف کړو په دې کې الطریق محذر منه دي چې هغه یې دتکرار سره ذکر کړي دي.

ولا یخفی: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: معمول په تقدیر داتق کې اتق نه مراد فقط ددې معنی حقیقي ده اوکه فقط معنی مجازي ده یا دواړه معنی حقیقي او مجازي دواړه مراد دي. که معنی حقیقي اتقاء مراد وي، نو د تحذیر تعریف جامع نه شو، داول قسم په افرادو کې په یوفرد باندې صادق نه راځي، ځکه چې اول قسم اتق د مقدر معمول نه دي، ځکه چې دا فعل لازمي دی او فعل لازمي دمفعول به تقاضا نه کوي، ځکه چې داسې نه شي ویلې: اتقیت زیدا من الاسد او که مراد فقط معنی مجازي وي. بعد نح وغیره نو داتعریف جامع نه دي ددویم قسم په بعضې افرادو باندې صادق نه راځي لکه الطریق الطریق په دې کې دبعد تقدیر مناسب دي نه دي ځکه چې مقصود دلاړې نه بچ کیدل دي نه لاره لرې کول که چیرته معنی حقیقي او مجازي دواړه مراد وي، نو جمع بین الحقیقة والمجاز لازم راځي او داجائز نه دي

جواب: شارح په فالصواب سره ددې جواب ورکوي. چې د متن په عبارت کې معطوف سره د حرف عطف نه محذوف دي په اصل کې وو. معمول بتقدیر بعد او اتق و نحوهما پس تحذیر داول قسم په ټولو افرادو کې بعد مقدر منلې شي اوپه دویم قسم کې په بعضې افرادو کې به بعد مقدر منلې شي. لکه نفسك نفسك ددې معنی ده بعد نفسك مما یؤذیك کالاسد و نحوه اوپه بعضې افرادو کې اتق مقدر منلې شي. لکه اتق الطریق الطریق نو اوس به تعریف جامع شي

قيل: په دې عبارت سره غرض د اعتراض نقل کوي او په اجيب سره د دې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: د تحذير تعريف په اياك والاسد کې په الاسد باندې صادق نه راځي، ځکه چې الاسد نه په اول قسم کې داخل دی او نه په دويم قسم کې . په اول قسم کې ځکه داخل نه دی. چې په اول قسم کې معمول محذر وي او دا محذر نه دی بلکه محذر منه دی او په دويم قسم کې ځکه نه داخليږي چې په دويم قسم کې محذر منه مکرر وي او دا مکرر نه دی حالانکه دا په تحذير کې داخل دی

جواب: دا تحذير نه دی، بلکې دا د تحذير تابع دی. ځکه چې دا معطوف دی په تحذير باندې او توابع د تعريف نه خارج دي، ځکه چې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دا مستقل ذکر کړي دي

د تحذير د مختلف صورتونو نور مثالونه:

وَتَقُوْلُ فِيْ قِسْمَيِ النَّوْعِ الْاَوَّلِ اِيَّاكَ مِنَ الْاَسَدِ كَمَا كُنْتَ تَقُوْلُ اِيَّاكَ وَالْاَسَدَ وَمِنْ اَنْ تَحْذِفَ

او وايي به ته په دواړو قسمونو د اول قسم کې اياک من الاسد لکه څنګه چې تا اياک والاسد ويلي وو او من ان تحذف

كَمَا كُنْتَ تَقُوْلُ اِيَّاكَ وَاَنْ تَحْذِفَ وَتَقُوْلُ فِي الْمِثَالِ الْاٰخِرِ اِيَّاكَ اَنْ تَحْذِفَ بِتَقْدِيْرِ مِنْ اَىْ

لکه څنګه چې تا اياک وان تحذف ويلي وو او ته به وايي به آخري مثال کې اياک ان تحذف په تقدير د من سره يعني

اِيَّاكَ مِنْ اَنْ تَحْذِفَ لِاَنَّ حَذْفَ حَرْفِ الْجَرِّ عَنْ اَنْ وَاَنَّ قِيَاسٌ وَلَا تَقُوْلُ فِي الْمِثَالِ الْاَوَّلِ اِيَّاكَ الْاَسَدَ

اياک من ان تحذف ځکه حذف د حرف جر د اَن او د اَنَّ نه قياس دی او ته به نه وايي په اول مثال کې اياک الاسد د

لِاِمْتِنَاعِ تَقْدِيْرِ مِنْ وَ شُذُوْذِهٖ مَعَ غَيْرِ اَنْ وَ اَنَّ فَاِنْ قُلْتَ فَلْيَكُنْ بِتَقْدِيْرِ الْعَاطِفِ

وجې د امتناع د تقدير د من او شذوذ د دې سره د اَن او د اَنَّ که چيرته ته ووايې چې وي دا په تقدير د حرف عاطف سره

قُلْنَا حَذْفُ الْعَاطِفِ اَشَذُّ شُذُوْذًا لِاَنَّ حَذْفَ حَرْفِ الْجَرِّ قِيَاسٌ مَعَ اَنْ وَاَنَّ وَشَاذٌ كَثِيْرٌ فِيْ غَيْرِهِمَا

مونږ وايو حذف د عاطف دا ډير شاذ دی ځکه چې حذف د حرف قياس اوي سره د اَن او د اَنَّ او د دې نه غير شاذ ډيروي

وَاَمَّا حَذْفُ الْعَاطِفِ فَلَمْ يَثْبُتْ اِلاَّ نَادِراً

او هرچې حذف د عاطف دی نو دا نه دی ثابت مګر کم

خلاصه د متن: په دې عبارت کې صاحب د کافيې د تحذير څو مثالونه ذکر کړي دي . چې د هغې تفصيل شرح کې لاندې ذکر دي

اغراض د جامي: وتقول: په دې عبارت کې شارح په محذر منه کې د استعمال د لحاظ نه

عقلي به ۸ احتمالات جوړېږي ځکه چې محذر منه به يا اسم صريحي وي او يا به اسم تاويلي وي بيا دغه نه به استعمال به د من سره وي او يا د واو سره وي بيا به واو او من يا مذکور وي او يا به محذوف وي په دې اعتبار سره ټول عقلي صورتونه اته (۸) جوړېږي چې تفصيل يې دادې

(۱) محذر منه اسم تحقيقي وي او ددې استعمال د من مذکوره سره وي لکه اياک من الاسد

(۲) محذر منه اسم تحقيقي وي او ددې استعمال به من محذوفه سره وي لکه اياک الاسد

(۳) محذر منه اسم تاويلي وي او ددې استعمال به من مذکوره سره وي لکه اياک من ان تحذف

(۴) محذر منه اسم تاويلي وي او ددې استعمال د من محذوفه سره وي لکه اياک ان تحذف

(۵) محذر منه اسم تحقيقي وي او ددې استعمال د واو مذکوره سره وي لکه اياک والاسد

(۶) محذر منه اسم تحقيقي وي او ددې استعمال د واو محذوفه سره وي لکه اياک الاسد

(۷) محذر منه اسم تاويلي وي . او ددې استعمال د واو مذکوره سره وي لکه اياک وان تحذف .

(۸) محذر منه اسم تاويلي وي او ددې استعمال د واو محذوفه سره شوي وي لکه اياک ان تحذف

په دې اته (۸) صورتونو کې درې (۳) صورتونه ناجائز دي صرف عقلي دي په خارج کې د دغه وجود نه وي :

(۱) محذر منه اسم تحقيقي وي او ددې استعمال د واو محذوفه سره وي

(۲) محذر منه اسم تاويلي وي او ددې استعمال د واو محذوفه سره وي.

(۳) محذر منه اسم تحقيقي وي او ددې استعمال د من محذوفه سره وي. ځکه چې د اسم صريحي نه مخکې حذف د حرف جر جائز نه دي، که چېرته حذف وي نو دا به شاذ او خلاف قياس به وي . البته د اسم تاويلي نه مخکې حذف د حرف جر قياسي دي لکه ان تحذف ددې درې صورتونو نه علاوه باقي پنځه (۵) صورتونه جائز او مستعمل دي. شارح د جامي ددې تفصيل سره د مثالونو ذکر کړي دي لکه مخکې ټول تفصيل سره د اته (۸) عقلي احتمالاتو ذکر کړي دي .

فان قلت: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض رانقل کوي او په قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: مونږ په اياك کې من مقدر نه منو، بلکې مونږ واو مقدر منو او مونږ وايو اياك الاسد په اصل کې دا اياك والاسد وو.

جواب: بيا خو فرمن المطر و قام تحت الميزاب يعنې د باران نه تختيدم او د ناوې لاندې مې شپه شوه دغه مثال صادق راځي، ځکه چې د الاسد نه مخکې د من تقدير شاذ وو، او س د واو تقدير به اشذ الشذوذ شي، ځکه چې حرف جر کله أنْ يا أنّ سره وي نو ددې حذف قياسي وي. او کله چې د أنْ او أنّ نه غير وي نو دا شاذ او خلاف قانون خو دې خو ليکن کثير الاستعمال او کثير الوقوع دي ليکن د اسم صريحي يا تاويلي نه مخکې د حرف جر حذف کول خلاف قانون او شاذ هم دي او انتهائي نادر هم دي ځکه چې دا اشذ الشذوذ دي نو لهذا د واو تقدير صحيح نه دي

﴿ اَلْمَفْعُوْلُ فِيْهِ ﴾ :

د مفعول فيه تعريف :

اَلْمَفْعُوْلُ فِيْهِ وَ هُوَ مَا فُعِلَ فِيْهِ فِعْلٌ اَىْ حَدَثٌ مَذْكُوْرٌ تَضَمُّناً فِيْ ضِمْنِ الْفِعْلِ الْمَلْفُوْظِ اَوِ
مفعول فيه هغه دي چې په دې کې شوي وي يو کار يعنې کار چې مذکور وي متضمن په ضمن د فعل ملفوظ او يا
الْمُقَدَّرِ اَوْ شِبْهِهٖ ككـ اَوْ مُطَابِقَةً إِذَا كَانَ الْعَامِلُ مَصْدَراً فَقَوْلُهُ مَا فُعِلَ فِيْهِ فِعْلٌ شَامِلٌ
مقدر او يا د دې مشابهه سره همدا رنګې او يا مطابقي وي چې کله عامل مصدر وي نو دا قول ما فعل فيه فعل دا شامل
لِاَسْمَاءِ الزَّمَانِ وَ الْمَكَانِ كُلِّهَا فَاِنَّهٗ لَايَخْلُوْ زَمَانٌ اَوْ مَكَانٌ عَنْ اَنْ يُّفْعَلَ فِيْهِمَا فِعْلٌ سَوَاءٌ
دې اسماء زمان او مکان د واړو ته ځکه چې دا نه وي خالي د زمان او مکان نه چې په دې کې څه کار شوي وي برابره
ذُكِرَ الْفِعْلُ الَّذِيْ فُعِلَ فِيْهِمَا اَوْ لاَ وَ قَوْلُهُ مَذْكُوْرٌ خَرَجَ بِهٖ
خبره ده که ذکر شوي وي هغه فعل چې هغه په دې دواړو کې شوي وي او يا نه او دا قول چې مذکور په دې سره خارج
مَا لاَ يُذْكَرُ فِعْلٌ فُعِلَ فِيْهِ نَحْوُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمٌ طَيِّبٌ فَاِنَّهٗ وَ اِنْ كَانَ فُعِلَ
شو هغه څه چې نه وي ذکر په دې کې هغه څه چې په دې کې شوي وي لکه يوم الجمعة يوم طيب اګر چې واقع شوي وي
فِيْهِ فِعْلٌ لاَ مَحَالَةَ لٰكِنَّهٗ لَيْسَ بِمَذْكُوْرٍ لٰكِنْ بَقِيَ مِثْلُ شَهِدْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ دَاخِلاً فِيْهِ فَاِنَّ يَوْمَ
په دې کې فعل لامحاله ليکن دا مذکور نه وي ليکن باقي وي لکه شهدت يوم الجمعة دا داخل دي په دې کې ځکه ورځ

الْجُمُعَةِ يَصْدُقُ عَلَيْهِ اَنَّهُ فُعِلَ فِيْهِ فِعْلٌ مَذْكُوْرٌ فَاِنَّ شُهُوْدَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ لاَ يَكُوْنُ اِلاَّ فِيْ يَوْمِ

جمعې دا صادق راځي چې فعل مذکور په دې کې شوې وي خکه چې د جمعې دورځې راتلل دا نه وي مګر په ورځ

الْجُمُعَةِ فَلَوِ اعْتُبِرَ فِي التَّعْرِيْفِ قَيْدُ الْحَيْثِيَّةِ اَيِ الْمَفْعُوْلُ فِيْهِ مَا فُعِلَ فِيْهِ فِعْلٌ مَذْكُوْرٌ

د جمعې کې نو که چیرته معتبر کړې شي قید د حیثیت یعنې مفعول فیه هغه فعل دی چې په دې کې فعل مذکور وي

مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ فُعِلَ فِيْهِ فِعْلٌ مَذْكُوْرٌ لَخَرَجَ مِثْلُ هٰذَا الْمِثَالِ مِنْهُ

د دې حیثیت نه چې په دې کې فعل ذکر شوې وي نو خارج شوي به وي د دې په شان مثال د مفعول فیه د تعریف نه

فَاِنَّ ذِكْرَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِيْهِ لَيْسَ مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ فُعِلَ فِيْهِ فِعْلٌ مَذْكُوْرٌ

خکه د یوم الجمعة ذکر کول په دې کې الجمعة په شان کې نه وي د دې حیثیت نه چې هغه په دې کې فعل ذکر شوې وي

بَلْ مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ وَقَعَ عَلَيْهِ فِعْلٌ مَذْكُوْرٌ وَلاَ يَخْفٰى اَنَّهُ عَلٰى تَقْدِيْرِ اِعْتِبَارِ قَيْدِ

بلکې د دې حیثیت نه چې په دې کې واقع شوې دې ذکر شوې فعل او خفي دې نه وي چې دا په تقدیر د اعتبار د قید د

الْحَيْثِيَّةِ لاَ حَاجَةَ اِلٰى قَوْلِهٖ مَذْكُوْرٌ اِلاَّ لِزِيَادَةِ تَصْوِيْرِ الْمُعَرَّفِ وَ قَوْلُهٗ

حیثیت نه دې نو نشته حاجت نشته د مصنف دا قول مذکور ته مګر د معرف د تصویر د زیادت د پاره او د مصنف دا قول

مِنْ زَمَانٍ اَوْ مَكَانٍ بَيَانٌ لِمَا الْمَوْصُوْلَةِ اَوِ الْمَوْصُوْفَةِ اِشَارَةً اِلٰى قِسْمَيِ الْمَفْعُوْلِ فِيْهِ وَ تَمْهِيْداً

من زمان او مکان نو دا بیان دې د ماموصولې او یا ماموصوفې نو اشاره ده دواړو قسمونو د مفعول فیه ته او تمهید

لِبَيَانِ حُكْمِ كُلٍّ مِنْهُمَا.

دې د پاره د بیان د حکم د هریو.

خلاصه د متن: صاحب د کافیې په دې عبارت کې د مفعول فیه تعریف کوي مفعول فیه هغه زمان یا مکان دی، چې په هغې کې فعل ذکر شوې وي.

اغراض د جامي: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د مفعول فیه تعریف د دې په افرادو کې په یو فرد باندې هم صادق نه راځي، خکه چې زمان یا مکان داسې نه دي، چې په هغې کې فعل ذکر شوې وي، خکه چې فعل شامل دي درې (۳) امورو ته: (۱) حدث. (۲) نسبت الی الفاعل (۳) نسبت الی الزمان. په زمان او مکان کې صرف حدث واقع کیږي. او نسبت الی الفاعل او نسبت الی الزمان نه واقع کیږي.

جواب: په تعریف کې د فعل نه فعل لغوي یعنې حدث مراد دي فعل اصطلاحي کوم چې د امور ثلاثه نه مرکب دي مراد نه دي.

تضمن: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: کله چې فعل مذکور نه مراد فعل لغوي يعنې حدث دي، نو د **مفعول فيه** دا تعريف فقط په هغه مفعول فيه صادق راځي. د کوم عامل چې مصدر وي. لکه **اعجبني جلوسك امام زيد**. او د کوم مفعول فيه عامل چې مصدر نه وي، په دې باندې تعريف صادق نه راځي. لکه **يوم الجمعة** کوم چې په **صحت يوم الجمعة** کې واقع دي. ځکه چې په دې کې **فعل** نه دي ذکر شوي. ځکه چې کوم فعل ذکر دي هغه **فعل** اصطلاحي دي او تاسو د **فعل** نه **فعل لغوي** يعنې حدث مراد اخلی. او هغه دلته ذکر نه دي.

جواب: په فعل مذکور کې تعميم دي، برابره خبره ده که دا تضمنا ذکر وي او يا مطابقةً ذکر وي مطابقةً به په هغه وخت کې ذکر وي چې کله عامل مصدر وي لکه **اعجبني جلوسک امام الامير** . او تضمنا به په هغه وخت کې ذکر وي چې کله عامل **فعل** اصطلاحي وي ځکه چې د دې په ضمن کې مصدر . حدث ، يعنې **فعل لغوي** موجود دي .

<u>في ضمن الفعل الملفوظ او المقدر</u>: به دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: د مفعول فيه تعريف جامع نه دي، په هغه **يوم الجمعة** باندې صادق نه راځي. کوم چې د **متى صحت** په جواب کې واقع دي. ځکه چې په دې کې **فعل** د سره ذکر نه دي نه تضمناً او نه مطابقتاً حالانکه مفعول فيه دي.

جواب: په مذکور ضمناً کې تعميم دي برابره خبره ده که دا **فعل** د ملفوظ په ضمن کې وي اوکه د **فعل** مقدر په ضمن کې وي او **يوم الجمعة** کوم چې د **متى صحت** په جواب کې واقع دي. د دې نه مخکې **فعل صمت** مقدر دي

<u>شبه</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال: د مفعول فيه دا تعريف په **يوم الجمعة** باندې صادق نه راځي. کوم چې په **انا صائم يوم الجمعة** کې واقع دي. ځکه چې په دې کې **فعل** نه دي ذکر شوی نه مطابقتـه او نه تضمناً. ځکه چې په دې کې **فعل** ذکر نه دي بلکې شبه **فعل** ذکر دي؟

جواب: په ذکر شوي حدث کې تعميم دی برابره خبره ده که دا د **فعل** په ضمن کې وي يا د شبه

فعل په ضمن کې وي په ذکر شوي مثال کې د شبه فعل په ضمن کې دي

نقوله: په دې عبارت سره شارح فوائد د قيودو بيانوي. د مفعول فيه په تعريف کې **ما فعل فيه فعل** دا په منزله د جنس دي. ټول اسماء زمان و مکان ته شامل دي. ځکه چې بو زمان او يو مکان داسې نه دي چې په هغې کې يو فعل نه وي شوي. برابره خبره ده که مذکور وي او که نه وي او مذکور فصل اول دي ددې نه هغه زمان او مکان خارج شو چې په هغې کې فعل کړي شوي وي ليکن دا مذکور نه وي لکه **يوم الجمعة يوم طيب** اګر چې په **يوم الجمعة** کې څه نا څه فعل ضروري شوي وي ليکن هغه مذکور نه دي.

لكن بقي: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي او په **فلو اعتبر** سره د دې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: د مفعول فيه تعريف دخول دغير نه مانع نه دي. ځکه چې دا په **يوم الجمعة** باندې صادق راځي کوم چې په **شهدت يوم الجمعة** کې واقع دي. ځکه چې په دې باندې دا خبره صادق راځي. چې په دې کې فعل ذکر شوې وي. ځکه چې فعل **شهود** او **حضور** . د جمعې په ورځ کيږي حالانکه په ذکر شوي مثال کې **يوم الجمعة** مفعول فيه نه دي بلکې مفعول به دي؟

جواب: په **فلو اعتبر** سره شارح د دې اعتراض جواب ورکوي. چې په تعريف کې د حيثيت قيد ملحوظ دي. يعني مفعول فيه هغه اسم دي چې په هغې کې فعل ذکر شوې وي. د دې حيثيت نه چې په دې کې فعل ذکر شوې وي اوس دا تعريف په **شهدت يوم الجمعة** کې په **يوم الجمعة** باندې صادق نه راځي. ځکه چې د **يوم الجمعة** ذکر په دې حيثيت سره نه دي. چې په دې کې فعل ذکر شوې وي بلکې د دې حيثيت نه دي. چې فعلِ مذکور په دې باندې واقع دي

لا يخفى: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي او په **الا بزيادة** سره د دې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: کله چې د حيثيت قيد معتبر دي. نو په تعريف کې لفظ د مذکور ذکر کول مستدرك دي د دې هيڅ حاجت نشته. ځکه چې د مذکور د ذکر کولو نه مقصود **يوم الجمعة يوم طيب** خارجول دي او هغه د حيثيت په قيد سره خارج شو.

جواب: په دې صورت کې په تعريف کې د مذکور ذکر د **معرّف** د مزيد وضاحت د پاره دي

بيان لما الموصولة: په دې عبارت سره شارح دد ې خبرې وضاحت کوي چې مِنْ بيانيه دي د زمان او مکان ما موصوله يا موصوفه بيان دي.

اشارة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: په تعريف کې کلمه د او ذکر کول صحيح نه دي، ځکه چې او د تشکيك دپاره وضع شوي دي او تعريف د ايضاح او وضاحت دپاره وي، نو په دې دواړو کې منافات دي

جواب: دلته کلمه د او د تشکيك دپاره نه دي، بلکې د تقسيم او تنويع دپاره دي د مفعول فيه دوه قسمونو د بيانولو دپاره دي او دا او د تعريف سره منافي نه دي.

تمهيدا: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب و[illegible]

سوال: د مفعول فيه د اقسامو د ذکر کولو څه فائده ده؟

جواب: په ذکر د اقسامو کې د هر يو حکم بيانول په طور د تمهيد دي.

د مفعول فيه اقسام:

وَ هُوَ اَيِ الْمَفْعُوْلُ فِيْهِ ضَرْبَانِ مَا يُظْهَرُ فِيْهِ فِيْ وَ هُوَ مَجْرُوْرٌ بِهَا وَ مَا
او دا يعني مفعول فيه په دوه قسمه دي هغه چې ظاهر کړې شي په دې کې في او دا د ې وجې نه مجرور وي او هغه چې
يُقَدَّرُ فِيْهِ فِيْ وَ هُوَ مَنْصُوْبٌ بِتَقْدِيْرِ هُنَا وَ هٰذَا خِلَافُ اِصْطِلَاحِ الْقَوْمِ فَاِنَّهُمْ لَا يُطْلِقُوْنَ
مقدر وي په دې کې في او دا منصوب وي په تقدير د في سره او دا خلاف د اصطلاح د نحويانو دي ځکه دوي نه کوي اطلاق
الْمَفْعُوْلَ فِيْهِ اِلَّا عَلَى الْمَنْصُوْبِ بِتَقْدِيْرِ فِيْ وَ اَمَّا الْمَجْرُوْرُ بِهَا فَهُوَ مَفْعُوْلٌ بِهٖ بِوَاسِطَةِ
په مفعول فيه مگر په منصوب باندې په تقدير د في سره او هرچې مجرور د نحويانو په نزد نو دا مفعول به دي په واسطې د
حَرْفِ الْجَرِّ لَا مَفْعُوْلٌ فِيْهِ وَ خَالَفَهُمُ الْمُصَنِّفُ حَيْثُ جَعَلَ الْمَجْرُوْرَ اَيْضًا
حرف جر سره نه مفعول فيه او مخالفت کړې دي مصنف په داسې شان سره چې گرځولې دي مجرور هم دا رنگې
مَفْعُوْلًا فِيْهِ وَ لِذٰلِكَ قَالَ وَ شَرْطُ نَصْبِهٖ اَيْ شَرْطُ نَصْبِ الْمَفْعُوْلِ فِيْهِ تَقْدِيْرُ فِيْ اِذِ
مفعول فيه نو د دې وجې نه يې ويلي دي چې د دې د نصب شرط يعني شرط د نصب د مفعول فيه تقدير د في دي ځکه
التَّلَفُّظُ بِهَا يُوْجِبُ الْجَرَّ.
تلفظ په دې باندې واجبوي جر.

خلاصه د متن: د مصنف رَحِمَهُ اللهُ په نزد تقدير د في په مفعول فيه کې د مفعول فيه کيدو شرط نه دي بلکه د دې د منصوب کيدو شرط دي د دې وجې نه د مفعول فيه د منصوب کيدو د شرط

ذكر يې كړي چې مفعول فيه په هغه وخت كې منصوب وي چې كله په دې كې في مقدر وي كه چيرته في مذكور وي نو دابه مفعول فيه وي ليكن منصوب به نه وي بلكه د في دوجې نه به مجرور وي

اغراض دجامي : وهو: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : د مصنف رَحِمَهُ اللهُ قول و شرط نصبه تقدير في صحيح نه دي. څكه چې تقدير د في د منصوب كيدو شرط نه دي. بلكې د مفعول فيه دپاره شرط دي، لكه داد جمهورو نحويانو مذهب دي؟

جواب: د مصنف مذهب هم دغه وو، چې في به مقدر وي اويابه مذكور وي په دواړو صورتونو كې ظروف زمان و مكان مفعول به جوړيږي. لهذا تقدير د في د مفعول فيه جوړيدو شرط نه دي. بلكې دمفعول فيه دمنصوب كيدو شرط دي. كويا چې دمصنف رَحِمَهُ اللهُ په نزد مفعول فيه په دوه (۲) قسمه دي (۱) هغه مفعول فيه په كوم كې چې في مذكور دي، دا به مجرور شي په واسطې دحرف جر سره اومفعول فيه به ترې جوړيږي (۲) هغه مفعول فيه، چې په هغې كې في مقدر وي دا به منصوب شي او مفعول فيه به جوړشي ، په دې باره كې مصنف رَحِمَهُ اللهُ ووېل و شرط نصبه تقدير في، نو تقدير د في دمفعول فيه دمنصوب كيدو شرط دي نه د مفعول فيه كېدو څكه چې كه چيرته في مذكور وي نوبيا هم دمفعول فيه تعريف هم په دې صادق دي . څكه چې په دې كې فعل ذكر كولې شي په خلاف دنورو نحويانو چې هغوي د في د تقدير په صورت كې مفعول فيه وايي كه چيرته في مذكور وي نو دې ته مفعول فيه نه وايي بلكه په واسطې دحرف جر سره مفعول به كرخوي خلاصه داچې دمصنف رَحِمَهُ اللهُ داقول په خپل مذهب باندې مبني دي اوپه دې كې مصنف رَحِمَهُ اللهُ دجمهورو نحويانو مخالفت كړي دي څكه چې مصنف دحق تابع دي نه د سړو ، يعني حق چې كوم طرف وي نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ هغې طرف ته وي او دحق په مقابله كې دخلكو تابعداري نه كوي .

ولذلك قال: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې د مصنف په نزد تقدير د في دمفعول فيه دپاره شرط نه دي، بلكې ددې د منصوب كيدو دپاره شرط دي، څكه چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ وويل

چې د مفعول فيه د منصوب کيدو شرط دادې. چې في مقدر وي. څکه که في ملفوظ وي. نو مفعول فيه به منصوب نه وي. بلکې مجرور به وي

اى شرط نصب المفعول فيه: په دې عبارت سره شارح د ه د ضمير مرجع متعينه کوي

په ظرف زمان او مکان کې د في دتقدير ځايونه:

وَظُرُوْفُ الزَّمَانِ كُلُّهَا مُبْهَمًا كَانَ الزَّمَانُ اَوْ مَحْدُوْدًا تَقْبَلُ ذٰلِكَ اَىْ تَقْدِيْرَ فِيْ لِاَنَّ الْمُبْهَمَ مِنْهَا جُزْءُ مَفْهُوْمِ الْفِعْلِ

اوظروف زمان ټول مبهم دي ياوي زمان محدود نوقبلوي دا يعني تقدير د في څکه مبهم د دې نه دا جزء د مفهوم د فعل

فَيَصِحُّ اِنْتِصَابُهٗ بِلَا وَاسِطَةٍ كَالْمَصْدَرِ وَ الْمَحْدُوْدُ مِنْهَا مَحْمُوْلٌ عَلَيْهِ اَىْ عَلَى

دي نو صحيح دي منصوب کيدل د دې بې د واسطې نه لکه مصدر او محدود د دې نه محمول وي په دې باندې يعني په

الْمُبْهَمِ لِاشْتِرَاكِهِمَا فِي الزَّمَانِيَّةِ نَحْوُ صُمْتُ دَهْرًا وَاَفْطَرْتُ الْيَوْمَ وَظُرُوْفُ الْمَكَانِ اِنْ كَانَ الْمَكَانُ مُبْهَمًا

مبهم باندې دوجې د اشتراک نه په زمانه کې لکه صمت دهرا وافطرت اليوم اوظروف مکان که چيرته مکان مبهم

قَبِلَ ذٰلِكَ اَىْ تَقْدِيْرَ فِيْ حَمْلًا عَلَى الزَّمَانِ الْمُبْهَمِ لِاشْتِرَاكِهِمَا فِي الْاِبْهَامِ نَحْوُ جَلَسْتُ

وي نو دا قبلوي يعني تقدير د في د وجې د حمل کولو په زمان مبهم باندې دوجې د اشتراک نه په ابهام کې لکه جلست

خَلْفَكَ وَ اِلَّا اَىْ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ مُبْهَمًا بَلْ يَكُوْنُ مَحْدُوْدًا فَلَا يَقْبَلُ تَقْدِيْرَ فِيْ اِذْ

خلفک او که چيرته نه وي يعني که چيرته ظرف مکان مبهم نه وي بلکه محدود وي نو بيا نه قبلوي تقدير د في څکه

لَمْ يُمْكِنْ حَمْلُهٗ عَلَى الزَّمَانِ الْمُبْهَمِ لِاخْتِلَافِهِمَا ذَاتًا وَصِفَةً نَحْوُ جَلَسْتُ فِي الْمَسْجِدِ وَ

چې نه دي ممکن حمل د دې په زمان مبهم باندې د وجې د اختلاف د دواړو نه ذاتا او صفتا لکه جلست في المسجد او

فُسِّرَ الْمُبْهَمُ مِنَ الْمَكَانِ بِالْجِهَاتِ السِّتِّ وَ هِيَ اَمَامٌ وَ خَلْفٌ وَ يَمِيْنٌ وَ شِمَالٌ وَ فَوْقٌ وَ تَحْتٌ وَمَا

تفسير کړې ظرف مبهم د قبيلې د مکان نه په شپږ وجهتونو سره او هغه امام، خلف، يمين، شمال، فوق، تحت او هغه

فِيْ مَعْنَاهَا فَاِنَّ اَمَامَ زَيْدٍ مَثَلًا يَتَنَاوَلُ جَمِيْعَ مَا يُقَابِلُ وَجْهَهٗ اِلَى اِنْقِطَاعِ

څه چې د دې په معنې کې وي څکه امام زيد مثلاً دا شامليږي ټولو هغو څه ته چې مقابل وي مخ د دې انقطاع

الْاَرْضِ فَيَكُوْنُ مُبْهَمًا.

د زمکې ته نو وي به دا مبهم

خلاصه دمتن: مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي چې په ظروف زمان او مکان په کوم ځاې کې د في تقدير جائز دي او په کوم ځاې کې ناجائز دي، نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي چې ټول ظروف زمان برابره خبره ده که مبهم وي او که محدود وي نو تقدير د في قبلوي

اغراض دجامي : لان المبهم منها: په دې عبارت سره شارح ظرف زمان مبهم د في دتقدير د قبلولو وجه بيانوي. چې زمان مبهم دفعل دمفهوم جزء دي. ځکه چې په فعل کې هم زمانه مبهم وي. لهذا بې دواسطې دحرف جر نه ددې منصوب کېدل صحيح دي. ځکه چې قاعده داده چې کله دفعل جزء جدا ذکر کړې شي. نو ددې بې دواسطې دحرف جر نه منصوب کېدل صحيح دي. لکه په مفعول مطلق کې چې دي اوظروف زمان مبهم هم دفعل دمفهوم جزء دي او جدا مذکور دي. نو ځکه ددې بې دواسطې دحرف جر نه منصوب کېدل صحيح دي

والمحدود منها الخ: په دې عبارت سره شارح په ظرف زمان محدود کې د في دتقدير وجه بيانوي. او ظرف زمان محدود د في تقدير ځکه قبلوي چې دامحمول دي په زمان مبهم باندې اوشارح د حمل وجه دا بيان کړې ده. چې دا دواړه په زمانيت کې شريك دي د زمان مبهم مثال لکه صحت دهراً. د زمان محدود مثال لکه افطرت اليوم. ظروف مکان که مبهم وي. نو د في تقدير به قبلوي او که ظروف محدود وي، نو د في تقدير به نه قبلوي.

تقبل ذلك اى تقدير في: په دې عبارت سره شارح دمشار اليه بيان کوي.

ان كان المكان: په لفظ د مكان سره شارح ديو سوال مقدر جواب ورکوي

سوال : د کان په ضمير هُوَ مرجع کې دوه (٢) احتماله دي (١) مرجع ظروف وي. (٢) مرجع المكان وي اول صورت کې راجع مرجع کې مطابقت نشته مرجع جمع او راجع ضمير واحد دي. په دويم صورت کې د جملې خبريې په غير دعائد نه راتلل لازم راځي. ځکه ظرف المكان مبتدا ان كان مبهماً جمله خبريه ددې خبر دي.

جواب : مرجع المكان دي پاتې شوه داخبره چې جمله خبريه به په غير دعائد نه پاتې شي. نو ددې جواب دادې چې مکان طرف ته ضمير عائد اوراجع کول بعينه دظروفو طرف ته راجع کول دي. ځکه چې دظروفو اضافت مکان طرف ته اضافت بيانيه دي.

خلفاً: په دې عبارت کې شارح په ظرفِ مکان مبهم کې دفي تقدير دقبلولو وجه بيانوي چې ظرف مکان مبهم تقدير د في ددې وجې نه قبلوي چې دا محمول دي په زمان مبهم باندې اود حمل وجه يې داده چې دواړه په وصف دابهام کې شريعت لکه جلست خلفك

اذا لم يكن: په دې عبارت سره شارح په ظرف مكان محدود كې د في تقدير دقبلولو وجه بيانوي چې مكان محدود د في تقدير ځكه نه قبلوي چې دا په زمان مبهم باندې حملول ممكن نه دي. ځكه چې دا دواړه دذات او وصف په اعتبار سره مختلف دي د ذات په لحاظ سره ځكه مختلف دي چې هغه زمان دي اودا مكان دي ، اود صفت په لحاظ سره ځكه مختلف دي چې دا محدود دي او هغه مبهم دي

سوال: كه چيرته ظرف مكان محدود په ظرف مكان مبهم باندې حمل كړي نو په دې كې هم د في تقدير جائز كړي دي نو به دې كې څه حرج دي په ظرف زمان باندې حمل كول ضروري خونه دي

جواب: په دې كې استعارة من المستعير الفقير ده يعني د سوال كوونكي او فقير نه غوښتل لازم راځي، ځكه چې ظرف مكان مبهم په تقدير دفي كې په خپله محتاج دي د ظرف زمان مبهم .

وفسر المبهم: په دې عبارت سره شارح د ظرف مكان مبهم تفسير په جهات سته سره كړي دي

من المكان: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال: فسر المبهم بالجهات الستة دا عبارت منقوض او مات دي په الدهر سره، ځكه چې دا مبهم دي حالانكه دا د جهات سته نه . نه دي .

جواب: دلته د مبهم نه مراد مكان مبهم دي او الدهر مكان مبهم نه دي، بلكه زمان مبهم دي.

وهي: په دې عبارت سره شارح د جهات سته مصداق بيانوي چې هغه جهات سته يعنې شپږ (۶) جهات دادي : (۱) خلف (وروسته)، (۲) امام (مخكې)، (۳) يمين (خي طرف)، (۴) شمال (چپ طرف) ، (۵) فوق (پاس ، بره) ، (۶) تحت (لاندې) .

و ما في معناها: يعني كوم چې د دې شپږو (۶) جهاتو په معنى كې دي، لكه (۱) وراء ، (۲) قدام ، (۳) يسار ، (۴) قُبل ، (۵) دُبر ، (۶) علو ، (۷) سفل ، (۸) جنوب وغيره . دا تقسيم د كُل دي اجزاو طرف ته . نه د كلي تقسيم دي جزئياتو طرف ته .

فان امام: په دې عبارت كې شارح د جهات سته د مبهم كېدو وجه بيانوي چې دا مبهم د دې وجې نه دي چې په دې كې عموم دي مثلاً امام زيد دا هغه ټولو ځيزونو ته شامل دي كوم چې د دې مخ نه تر انقطاع د ارض پورې .

په مکان مبهم باندې د عند او لدى د حمل کولو ذکر :

وَ لَمَّا لَمْ يَتَنَاوَلْ هٰذَا التَّفْسِيْرُ بَعْضَ الظُّرُوْفِ الْمَكَانِيَّةِ الْجَائِزِ نَصْبُهَا قَالَ وَ حُمِلَ

او هر کله چې نه شامليږي دا تفسير بعضې ظروفو مکانيو ته چې جائزوي نصب د دې نو مصنف ويلي او حمل کړې

عَلَيْهِ أَيْ عَلَى الْمُبْهَمِ الْمُفَسَّرِ بِالْجِهَاتِ السِّتِّ عِنْدَ وَلَدٰى وَ شِبْهُهُمَا

شوي په دې باندې يعنې په هغه مبهم چې تفسيريږي شوي په شپږو جهتونو سره عند او لدی او د دې دواړو سره مشابه

نَحْوُ دُوْنَ وَ سِوٰى لِإِبْهَامِهِمَا أَيْ لِإِبْهَامِ عِنْدَ وَلَدٰى وَلَمْ يَذْكُرْ وَجْهَ حَمْلِ

لکه دون او سوی د وجې د ابهام د دې دواړو نه يعنې ابهام د عند او د لدی او نه دے ذکر کړي مصنف وجه د حمل د دې دواړو

شِبْهِهِمَا عَلَيْهِ لِأَنَّ حُكْمَهُ حُكْمُهُمَا وَ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ لِإِبْهَامِهَا كَمَا

د مشابه الفاظو د حمل کولو خکه چې حکم د دې د هغه دواړو حکم په شان دې او په بعضو نسخو کې لابهامها دې لکه

هُوَ الظَّاهِرُ وَ كَذَا حُمِلَ عَلَى الْمُبْهَمِ مِنَ الْمَكَانِ لَفْظُ مَكَانٍ وَإِنْ كَانَ مُعَيَّنًا نَحْوُ جَلَسْتُ مَكَانَكَ

چې ظاهر دې او همدارنګې حمل کړې په مکان مبهم باندې لفظ د مکان اګر که معين وي لکه جلست مکانک د وجې د

لِكَثْرَتِهِ فِي الْاِسْتِعْمَالِ مِثْلَ الْجِهَاتِ السِّتِّ لَا لِإِبْهَامِهِ وَ كَذَا حُمِلَ عَلَيْهِ مَا بَعْدَ

کثرت استعمال نه لکه هغه شپږ جهتونه دې د ابهام د وجې نه او همدارنګې حمل کړې په دې باندې مابعد د

دَخَلْتُ وَإِنْ كَانَ مُعَيَّنًا نَحْوُ دَخَلْتُ الدَّارَ لِكَثْرَتِهِ فِي الْاِسْتِعْمَالِ لَا لِإِبْهَامِهِ عَلَى الْأَصَحِّ أَيْ عَلَى الْمَذْهَبِ

دخلت اګر که معين وي لکه دخلت الدار د وجې د کثرت استعمال نه .نه د ابهام د وجې نه په اصح يعنې په مذهب

الْأَصَحِّ فَإِنَّهُ ذَهَبَ بَعْضُ النُّحَاةِ إِلٰى أَنَّهُ مَفْعُوْلٌ بِهٖ لٰكِنَّ الْأَصَحَّ

صحيح باندې خکه چې ذهاب کړې بعضو نحويانو دې طرف ته چې دا مفعول به دې ليکن زيات صحيح دا ده چې

أَنَّهُ مَفْعُوْلٌ فِيْهِ وَالْأَصْلُ اِسْتِعْمَالُهُ بِحَرْفِ الْجَرِّ لٰكِنَّهُ حُذِفَ لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِهٖ وَهٰذَا

دا مفعول فيه دې او اصل استعمال د دې دې په حرف جر سره ليکن حذف شوي د کثرت استعمال د وجې نه او دا

مَحَلُّ تَأَمُّلٍ فَإِنَّ الْفِعْلَ لَا يَطْلُبُ الْمَفْعُوْلَ فِيْهِ إِلَّا بَعْدَ تَمَامِ مَعْنَاهُ وَلَا شَكَّ أَنَّ مَعْنَى الدُّخُوْلِ

خاې د فکر دې خکه فعل نه طلب کوي مفعول فيه مګر پس د پوره والي د معنی نه او شک نشته چې معنی د دخول

لَا يَتِمُّ بِدُوْنِ الدَّارِ وَبَعْدَ تَمَامِ مَعْنَاهُ بِهَا يَطْلُبُ الْمَفْعُوْلَ فِيْهِ كَمَا إِذَا قُلْتَ دَخَلْتُ

دا نه پوره کيږي په غير د دار نه او پس د پوره والي د معنی نه په دې سره غواړي مفعول فيه لکه چې ته وايې دخلت

الدَّارَ فِي الْبَلَدِ الْفُلَانِيِّ فَالظَّاهِرُ أَنَّهُ مَفْعُوْلٌ بِهٖ لَا مَفْعُوْلٌ فِيْهِ وَمِمَّا يُؤَيِّدُ ذٰلِكَ أَنَّ كُلَّ فِعْلٍ

الدار في البلد الفلاني نو ظاهر دا ده چې دا مفعول به دې نه مفعول فيه او هغه چې تاکيد کوي د دې چې هر هغه فعل

نُسِبَ إِلَى مَكَانٍ خَاصٍ بِوُقُوْعِهِ فِيْهِ يَصِحُّ اَنْ يُّنْسِبَ

چې نسبت يې شوې وي بو خاص مكان ته د وجې د واقع كيدو نه په دې كې نو صحيح د ده چې نسبت يې وشي

إِلَى مَكَانٍ شَامِلٍ لَهُ وَلِغَيْرِهِ فَإِنَّهُ إِذَا قُلْتَ ضَرَبْتُ زَيْداً فِي الدَّارِ اَلَّتِيْ هِيَ

داسې مكان طرف ته چې شامل وي دې طرف ته او غير د دې نه خكه چې كله تا وويل ضربت زيدا في الدار هغه چې هغه

جُزْءٌ مِنَ الْبَلَدِ فَكَمَا يَصِحُّ اَنْ تَقُوْلَ ضَرَبْتُ زَيْداً فِي الدَّارِ كَذٰلِكَ يَصِحُّ اَنْ تَقُوْلَ

جزء وي د بلد نو لكه څنګه چې صحيح كيږي چې ته ووايې ضربت زيدا في الدار نو همدا رنګې صحيح دي چې ته ووايې

ضَرَبْتُ فِي الْبَلَدِ وَفِعْلُ الدُّخُوْلِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الدَّارِ لَيْسَ كَذٰلِكَ فَإِنَّهُ إِذَا قَالَ الدَّاخِلُ فِي الْبَلَدِ دَخَلْتُ

ضربت في البلد او فعل د دخول په نسبت سره دار طرف ته نه دي همدا رنګې خكه چې كله تا وويل الداخل في البلد دخلت

الدَّارَ لاَ يَصِحُّ اَنْ يَقُوْلَ دَخَلْتُ الْبَلَدَ فَنِسْبَةُ الدُّخُوْلِ إِلَى الدَّارِ لَيْسَتْ كَنِسْبَةِ الْاَفْعَالِ إِلَى

الدار نو نه صحيح كيږي چې ووايي دخلت البلد نو نسبت د دخول دار طرف ته نه دي په شان د نسبت د افعالو هغه

اَمْكِنَتِهَا الَّتِيْ فُعِلَتْ فِيْهَا فَلاَ تَكُوْنُ الدَّارُ مَفْعُوْلاً فِيْهِ بَلْ مَفْعُوْلاً بِهِ وَ قِيْلَ مَعْنَاهُ

امكنو ته چې شوې وي په دې كې نو نه وي دار مفعول فيه بلكې مفعول به. به وي او چا ويلي دي چې معنى د دې

عَلَى الْاِسْتِعْمَالِ الْاَصَحِّ فَيَكُوْنُ اَشَارَةً إِلَى اَنَّ اِسْتِعْمَالَ دَخَلْتُ مَعَ فِيْ نَحْوُ دَخَلْتُ فِي الدَّارِ صَحِيْحٌ

على الاستعمال الاصح د دنو وي به اشاره د دې طرف ته چې استعمال د دخلت سره د في لكه دخلت في الدار نو دا هم صحيح دي

لٰكِنَّ الْاَصَحَّ اِسْتِعْمَالُهُ بِدُوْنِ فِيْ وَ نُقِلَ عَنْ سِيْبَوَيْهِ اَنَّ اِسْتِعْمَالَهُ بِفِيْ شَاذٌّ.

ليكن صحيح استعمال په غير د في نه دي او نقل شوې دي د سيبويه نه چې استعمال د دې په في سره شاذ دي

خلاصه دمتن : صاحب د كافيې وايي چې عند او لدىٰ او د دې دواړو سره مشابه دا په مكان مبهم (جهات سته) باندې محمول دي يعني د دې حكم جهات سته والا دي. همدا رنګې لفظ د مكان اګر چې مكان مبهم نه دي، ليكن د كثرت استعمال د وجې نه دا هم په مكان مبهم باندې محمول دي همدا رنګې لفظ دخلت مابعد هم د صحيح قول مطابق په مكان مبهم باندې محمول دي.

اغراض د جامي : ولما لم يتناول هذا التفسير: په دې عبارت سره د ما بعد لپاره تمهيد بيانوي چې د تمهيد حاصل دا دی چې د مكان مبهم تفسير په جهات سته سره بعضې داسې ظروف زمانيه ته شامل نه دي. په كوم باندې چې نصب جائز وو. د دې وجې نه مصنف رحمه الله و حمل عليه ورياد د دې مطلب دا دي چې عند او لدى د غيره دا مكان مبهم په جهات سته باندې

محمول دي او د حمل وجه داده، چې لکه څنګه په جهات سته کې ابهام وي همدارنګې په دې کې هم ابهام وي د دې وجې نه دا په مکان مبهم باندې محمول دي.

ولم یذکر وجه حمل: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا تقریب تام نه دي یعني دلیل د دعوې مطابق نه دي، دعوی خو داوه، چې عند او لدی او د دې مشابهات محمول دي په مکان مبهم باندې او دلیل صرف د عند او لدی، د حمل ذکر کړې شوې دي د مشابهت نه دي پس دعوی عامه او دلیل خاص دي.

جواب: عند او لدی مشابهات په مکان مبهم باندې د محمول کېدو وجه بیانوي چې د دې وجې نه ذکر نه کړه ځکه چې د مشابهاتو حکم بعینه د عند او د لدی حکم دي.

وفي بعض النسخ لابهامها: په دې عبارت سره شارح د نسخو اختلاف بیانوي، چې مخکښې سوال او جواب په هغه صورت کې دي، چې کله عبارت لابهامهما وي، لیکن په بعضې نسخو کې عبارت لابهامها دي، په دې صورت کې ها ضمیر تانیث عند او لدی نه غیر نور محمولاتو ته به هم شامل وي یعني عند او لدی او د دې مشابه ټول ظروف مکان د دې د ابهام د وجې نه په ظرف مکان مبهم باندې محمول کړې دي لهذا د دې نسخې مطابق اشکال وارد نه شو.

وكذا حُمِلَ على المبهم: په دې عبارت سره شارح بیان د عطف کوي، لفظ د مکان عطف دي په عند او لدی باندې او دا عطف د مشبه على المشبه به د قبیلې نه دي، یعني لکه څنګه چې عند او لدی په مکان مبهم باندې محمول دي، همدارنګې لفظ د مکان هم په مکان مبهم باندې محمول دي د حمل وجه یې داده، چې لکه څنګه چې د جهات ستو استعمال کثیر او ډیر دي همدارنګې د دې استعمال هم کثیر او ډیر دي، او د حمل وجه ابهام نه ده، ځکه چې لفظ مکان معین وي لکه جلست مكانك.

وكذا حمل: په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د عطف دي، وروستو خلت معطوف دي په عند او لدی باندې دا هم عطف د مشبه على المشبه به د قبیلې نه دي، یعني څنګه چې عند او لدی او د دې مشابهات په مکان مبهم باندې محمول وي، همدارنګې د دخلت ما بعد په مکان مبهم باندې محمول دي، او د حمل وجه داده، چې د دې استعمال کثیر او ډیر دي، او د حمل وجه ابهام نه ده، ځکه چې دا په معین مکان باندې دلالت کوي لکه دخلت الدار.

على المذهب الاصح: په دې عبارت سره شارح بيان دتركيب كوي ، چې **الاصح** صفت دي د موصوف محذوف المذهب

فانه ذهب بعض النحاة: په دې عبارت سره شارح داصح مذهب مقابل بيانول دي ، دبعضې نحويانو مذهب دادې چې دامفعول به دي مفعول فيه نه دي، او اصل دادې چې ددې استعمال دحرف جر سره وي ليكن دكثرت استعمال دوجې نه حرف جر حذف كړې شو.

هذا محل: په دې عبارت سره شارح په صحيح مذهب باندې يو اعتراض كوي.

اعتراض: دخلت نه وروستو مثلاً په **دخلت الدار** كې **الدار** مفعول فيه جوړول او د مفعول به نه جوړول صحيح نه دي، ځكه چې دفعل نه دمفعول فيه طلب په هغه وخت كې وي چې كله ددې معنى تام شي، او په ذكر شوي مثال كې د دخول معنى د دار د ذكر كولو نه په غير نه پوره كېږي، كله چې د دار سره ددې معنى تام كېږي، نو بيا به داد مفعول فيه طلب كوي لكه **دخلت الدار في البلد الفلاني** كې چې ذكر دي، نو ظاهره ده چې **الدار** مفعول به دې مفعول فيه نه دي.

ولما يؤيد: په دې عبارت سره شارح دذكر شوي اعتراض مزيد تائيد كوي ، چې حاصل يې دادې چې په **دخلت الدار** كې **الدار** مفعول فيه جوړول صحيح نه دي، ځكه چې دمفعول فيه علامت دادې چې هر هغه فعل چې يو خاص مكان طرف ته منسوب وي، په دې مكان كې د واقع كېدو د وجې نه، نو دا فعل داسې مكان طرف ته منسوب كول هم صحيح نه دي، كوم چې دې مكان خاص ته هم شامل وي او ددې نه غير ته هم شامل وي. مثلاً كله چې يو سړى ووايي: **ضربت زيدا في الدار** په دې كې **الدار** خاص مكان دى كوم كې چې فعل **ضرب** واقع كېږي او دا دار د ښار يوجزء دي او ښار عام دي دار او غير دار ته شامل دي.

نو لكه څنګه چې **ضربت زيدا في الدار** ويل صحيح دي، همدارنګې **ضربت زيدا في البلد** ويل هم صحيح دي، ليكن د دخول نسبت دار طرف ته دغه شان نه دي مثلاً يو سړې ښار كې مقيم دي او هغه ووايي **دخلت الدار** نو دده **دخلت البلد** ويل صحيح نه دي، ځكه چې دخول فرع ده د خروج او دلته بلد نه وتل بيا نه موندې شو. ځكه چې هغه مخكې نه په ښار كې مقيم دي كله چې په **الدار** كې دمفعول فيه علامت موجود نه دي، نو ثابته شوه چې **الدار** مفعول به دى نه مفعول فيه.

جواب: دجمهورو طرف نه دا جواب وشو، چې دا قاعده اکثري ده کلي نه ده ، **فلا اشکال**

وقيل معناه: په دې عبارت سره شارح دعلى الاصح دويم تقرير او وضاحت بيانوي ، چې **الاصح** صفت دی دموصوف محذوف **الاستعمال** دا په اصل کې **على الاستعمال الاصح** وو ، شارح وايي بيا دې خبرې طرف ته اشاره وشوه، چې ددخلت استعمال په **في** سره هم صحيح دی، لکه **دخلت في الدار** ليکن اصح او راجحه داده، چې ددې استعمال د **في** نه په غير کې دی .

نقل عن سيبويه : په دې عبارت سره شارح ددويمې معنى تائيد کوي ، چې امام سيبويه رحمه الله ويلي دي چې د **دخلت** استعمال په **في** سره شاذ دی ددې نه معلومه شوه، چې د **دخلت** استعمال د **في** نه په غير اصح دی .

د عامل سره د مفعول فيه دمنصوب کيدو بيان :

وَيُنْصَبُ اَيِ الْمَفْعُوْلُ فِيْهِ بِعَامِلٍ مُضْمَرٍ بِلاَ شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ نَحْوُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِيْ جَوَابِ مَنْ
اومنصوب به وي يعني مفعول فيه عامل مضمرسره بې دشرط دتفسير نه لکه يوم الجمعة په جواب دهغه چاکې
قَالَ مَتٰى سِرْتُ اَىْ سِرْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَبِعَامِلٍ مُضْمَرٍ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ نَحْوُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ صُمْتُ
چې هغه ووايي متى سرت يعنې سرت يوم الجمعة اودمضمر عامل سره په شرط دتفسير سره لکه يوم الجمعة صمت
فِيْهِ وَ التَّفْصِيْلُ فِيْهِ بِعَيْنِهِ كَمَا مَرَّ فِي الْمَفْعُوْلِ بِهِ.
فيه اوتفصيل په دې کې بعينه هغه دی چې کوم تير شوې دی په مفعول به کې .

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې وايي، چې مفعول فيه دعامل مقدر سره بې د شرط دتفسير نه هم منصوب وي، مثلاً لکه يو سړی ووايي **متى سرت** نو ددې په جواب کې وويلې شي : **يوم الجمعة** نو **يوم الجمعة** منصوب دی دعامل مقدر د وجې نه، چې هغه سرت دی او ددې عامل مقدر يو فعل هم تفسير نه کوي، همدارنګې مفعول فيه په شرط دتفسير سره دعامل مقدر د وجې نه هم منصوب دی، لکه يو سړی ووايي : **يوم الجمعة صمت فيه** په دې کې **يوم الجمعة** منصوب دی دعامل مقدر د وجې نه چې هغه **صمت** دی چې ددې تفسير وروستنی **صمت** کوي .

اغراض دجامي : **والتفصيل فيه بعينه**: په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي ، چې په مفعول فيه کې چې کوم تفصيل دی هغه هماغه تفصيل دی کوم چې په مفعول به کې د ما اضمر عامله دعنوان لاندې تير شوی دی يعنې لکه څنګه چې په هغې کې پنځه (۵) قسمونه وو

رفع (۴) وجوب نصب (۵) دواړه مساوي

﴿ اَلْمَفْعُوْلُ لَهُ ﴾ :

د مفعول له تعريف :

اَلْمَفْعُوْلُ لَهُ هُوَ مَا فُعِلَ لِاَجْلِهٖ اَىْ لِقَصْدِ تَحْصِيْلِهٖ وَ بِسَبَبِ وُجُوْدِهٖ وَ خَرَجَ بِهٖ سَائِرِ
مفعول له هغه دي چې شوې وي كار ددې دپاره يعنې دوجې د قصد د حاصولو ددې او په سبب دوجود ددې سره او
الْمَفَاعِيْلِ مِمَّا فُعِلَ مُطْلَقاً اَوْ بِهٖ اَوْ فِيْهِ اَوْ مَعَهُ فِعْلٌ اَىْ حَدَثٌ مَذْكُوْرٌ اَىْ مَلْفُوْظٌ
خارج شو په دې سره ټول مفاعيل مفعول د مفعول مطلق، به، فيه او معه، فعل يعنې كار مذكور يعنې ملفوظ وي
حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً فَلاَ يَخْرُجُ عَنْهُ مَا كَانَ فِعْلُهُ مُقَدَّراً كَمَا اِذَا قُلْتَ تَأْدِيْباً فِيْ جَوَابِ مَنْ
حقيقتاً او يا حكماً نو نه خارجيږي ددې نه هغه چې وي فعل ددې مقدر لكه څنګه چې ته ووايې تاديباً په جواب د
قَالَ لِمَ ضَرَبْتَ زَيْداً فَقَوْلُهُ مَذْكُوْرٌ اِحْتِرَازٌ عَنْ مِثْلِ اَعْجَبَنِيْ التَّادِيْبُ فَاِنْ قُلْتَ
هغه چاكې چې ووايي لم ضربت زيداً نو دا قول مذكور دا احترازدي د اعجبني التاديب مثال نه كه چيرته ته ووايې
كَيْفَ يَصِحُّ الْاِحْتِرَازُ بِهٖ عَنْهُ وَ هُوَ اَيِ الْفِعْلُ الَّذِيْ فُعِلَ لِاَجْلِهٖ مَذْكُوْرٌ
چې څنګه صحيح دې احترازېه دې سره ددې نه او حالانكه دا يعنې هغه فعل چې شوې وي ددې دوجې نه دا ذكر
فِي الْجُمْلَةِ كَمَا فِيْ ضَرَبْتُ زَيْداً قُلْنَا اَلْمُرَادُ مَذْكُوْرٌ مَعَهُ فَاِنْ قُلْتَ
دې په جمله كې لكه څنګه چې په ضربت زيداً كې دې نو مونږ وايو چې مراد ذكر دې : دې سره كه چيرته ته ووايې
هُوَ مَذْكُوْرٌ مَعَهُ كَمَا فِيْ ضَرَبْتُهُ تَادِيْباً قُلْنَا اَلْمُرَادُ مَذْكُوْرٌ مَعَهُ فِيْ
چې دا مذكور دي ددې سره لكه څنګه چې په ضربته تاديباً كې دي نو مونږ وايو چې مراد ذكر دي ددې سره په هغه
التَّرْكِيْبِ الَّذِيْ هُوَ فِيْهِ وَ يَرِدُ ح نَحْوُ اَعْجَبَنِيْ التَّادِيْبُ الَّذِيْ ضَرَبْتُ لِاَجْلِهٖ
تركيب كې چې هغه په دې كې وي او وارد يږي اعتراض په دې وخت كې په اعجبني التاديب الذي ضربت لاجله باندې
اَللّٰهُمَّ اِلاَّ اَنْ يُرَادَ بِذِكْرِهٖ مَعَهُ اِيْرَادُهُ مَعَهُ لِلْعَمَلِ فِيْهِ مِثْلُ ضَرَبْتُهُ تَادِيْباً
اللهم مګر كه چيرته مراد وي په ذكر ددې سره راوړل د هغه، ددې سره دپاره د عمل په دې كې لكه ضربته تاديباً دا
مِثَالٌ لِمَا فُعِلَ لِقَصْدِ تَحْصِيْلِهٖ فِعْلٌ وَ هُوَ الضَّرْبُ فَاِنَّ التَّادِيْبَ اِنَّمَا يَحْصِلُ بِالضَّرْبِ وَ يَتَرَتَّبُ
مثال دې د هغه دپاره چې ددې د حاصلولو په اراده دې سره فعل شوې وي څكه تاديب دا حاصليږي په ضرب سره او مرتب
عَلَيْهِ وَ قَعَدْتُ عَنِ الْحَرْبِ جُبْناً مِثَالٌ لِمَا فُعِلَ بِسَبَبِ وُجُوْدِهٖ فِعْلٌ
كيږي په دې باندې او قعدت عن الحرب جبناً دا مثال دې د هغه مفعول له چې ددې د وجود په سبب سره فعل شوې

وَ هُوَ الْقُعُوْدُ فَاِنَّ الْقُعُوْدَ اِنَّمَا وَقَعَ بِسَبَبِ الْجُبْنِ.

وي او هغه قعود دي ځکه قعود واقع شوې په سبب د جبن اوبزدلي سره.

خلاصه دمتن : صاحب د کافیې په دې عبارت سره د مفعول له تعریف کوي، چې مفعول له هغه دي چې دچا دوجې نه چې فعل ذکر شوي وي لکه **ضربته تادیباً** او **قعدت عن الحرب جُبناً**.

اغراض دجامي : اي القصد: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: دمفعول له تعریف جامع نه دي، ځکه چې دا په هغه **تادیباً** باندې صادق نه راځي، کوم چې په **ضربته تادیباً** کې واقع دي، ځکه چې د **لاجله** نه متبادر دادې، چې ددې دوجود دسبب نه فعل ذکر شوي وي، په **ضربته تادیباً** کې د **تادیباً** دوجود دسبب دوجې نه فعل ذکر نه دي، بلکې ددې دحاصلولو دارادې دوجې نه فعل ذکر شوي دي.

جواب: په لاجله کې تعمیم دي برابره خبره ده چې ددې د وجود په سبب سره فعل ذکر شوې وي نودې ته مفعول له وجودي وایي یا ددې د حاصلولو په ارادې سره فعل ذکر شوې وي، نو دې ته مفعول له تحصیلي وایي، اوس دا تعریف په **تادیباً** باندې صادق راځي کوم چې په **ضربته تادیباً** کې واقع دي، ځکه چې ددې د حاصلولو په ارادې سره فعل ذکر شوې دي.

اخرج به: په دې عبارت سره شارح د **لاجله** دقید فائده بیانوي چې ددې قید په ذریعې سره د مفعول له نه غیر باقي ټول مفاعیل خارج شو، ځکه چې په باقي مفاعیلو کې یو هم داسې نشته، چې د هغې د حاصلولو په ارادې سره یاددې دوجود دسبب نه فعل ذکر کړې شوې وي.

اي حدث: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: دمفعول له تعریف دمفعول له په یو فرد باندې صادق نه راځي، ځکه چې مفعول له داسې نه دی، چې د چا د وجود دسبب نه یا ددې د حاصلولو په ارادې سره فعل ذکر شوې وي، ځکه چې دا فعل په درې (۳) امورو باندې مشتمل دي: (۱) په حدث. (۲) فاعل ته په نسبت. (۳) اوزمان ته نسبت. او یو مفعول له داسې نه دي، چې د چا د وجود د سبب نه یا دچا د حاصلولو د ارادې نه امور ثلاثه شوي وي.

جواب: دلته دفعل نه مراد فعل لغوي یعني حدث دي فعل اصطلاحي مراد نه دي

اي ملفوظ: په دې عبارت سره شارح بیان دمعنی کوي ، دمذکور معنی یې بیان کړه ده ددې ضرورت ځکه مخکې راغي ځکه چې دمذکور مصدر که چیرته **ذُکر** په ضمې دذال سره وي نو ددې معنی متعقل به وي (یعنې په عقل سره پوه شوي وي) نو شارح د مذکور **ملفوظ** نه اشاره وکړه. چې مذکور د **ذِکر** نه په کسرې د ذال سره دي، چې معنی یې **ملفوظ** ده، **متعقل** والا معنی مراد نه ده ورنه **اعجبني التادیب** دمذکوره قید نه خارج نه شو، ځکه چې ددې عامل هم متعقل دي.

حقیقتاً او حکماً: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دمفعول له. تعریف جامع نه دي. ځکه چې دا تعریف په **تادیباً** باندې صادق نه راځي، کوم چې د **لم ضربت زیداً** په جواب کې ویلې کېږي، ځکه چې ددې فعل مذکور نه دي؟

جواب: په فعل ملفوظ کې تعمیم دي برابره خبره ده چې حقیقتاً وي او که حکماً وي او په ذکر شوي مثال کې اګرچې حقیقتاً ملفوظ نه دي لیکن حکماً ملفوظ دي.

فقوله: په دې عبارت سره شارح د ذکر شوي قید فائده بیانوي دا قید احترازي دي، په دې سره احتراز وشو د **اعجبنی التادیب** مثال نه، ځکه چې د **التادیب** فعل یعنې **ضرب** کوم چې د تادیب دحاصلولو دارادې نه شوي وي هغه مذکور نه ده نه حقیقتاً او نه حکماً بلکه معقول او متعقل یعنې دعقل نه معلومیږي او فهمیږي.

فان قلت: په دې عبارت سره شارح یو اعتراض نقل کوي او په **قلنا** سره ددې اعتراض جواب ورکوي:

اعتراض: د ذکر شوي قید په ذریعې سره **اعجبنی التادیب** خارج کول صحیح نه دي، ځکه چې د تادیب دحاصلولو په ارادې سره چې کوم فعل شوې دي، یعنې **ضرب** هغه **في الجملة** یعنې یو نه یو ترکیب کې ذکر دي، لکه **ضربت زیداً** کې.

جواب: مراد دادې چې هغه فعل ددې اسم سره مذکور وي.

فان قلت: په دې عبارت سره شارح یو اعتراض نقل کوي او په **قلنا** سره ددې اعتراض جواب ورکوي:

اعتراض: هغه فعل خودې سره مذکور دې لکه په **ضربت تادیباً** کې چې ذکر دي؟

جواب: زمونږ مقصد دادې چې په کوم ترکیب کې مفعول له واقع وي په همدې ترکیب کې فعل ددې سره مذکور وي او **ضربت** په دې ترکیب کې واقع نه دي په کوم کې چې **التادیب** مذکور دي بلکه ددې سره خو **اعجبني** واقع دي او **ضربت** په دویم ترکیب کې واقع دي

ویرد: په دې عبارت سره شارح یو اعتراض نقل کوي اوپه **اللهم** سره ددې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: په اعجبني التادیب الذي ضرب لاجله کې **التادیب** سره فعل مذکور دي او په همدې ترکیب کې دي په کوم کې چې **التادیب** دي، حالانکه مفعول له نه دي؟

جواب: شارح ددې سوال جواب په **اللهم** سره دورکولوکوشش کړي دي چې زمونږمراد دادې چې دافعل ذکرکول ځکه دي چې دا په اسم کې عمل و کړي اوپه ذکرشوي مثال کې فعل خو یې ذکرکړي لیکن هغه فعل په اسم کې عمل نه کوي .

مثل ضربته تادیباً: په دې عبارت سره شارح دممثل له تعین کوي **ضربته تادیبا** دهغه مفعول له مثال دي، چې د چا د تحصیل دارادې سره فعل ذکر شوې دي او هغه فعل **ضرب** دي، ځکه چې **تادیب** د **ضرب** سره حاصل شوې دي او په دې باندې مرتب کیږي او **قعدت عن الحرب جبنا** کې **جبنا** دهغه مفعول له مثال دي چې د چا د وجې نه فعل ذکر شوې دي او هغه فعل **قعود** دي، ځکه چې **قعود** د بزدلۍ د وجې نه واقع شوي دي.

مفعول له په مستقل معمول کیدو کې د نحویانو اختلاف :

وَالْقَائِلُ بِكَوْنِ الْمَفْعُوْلِ لَهُ مَعْمُوْلاً مُسْتَقِلاً غَيْرَ دَاخِلٍ فِي الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ يُخَالِفُ خِلَافًا ظَاهِراً لِلزُّجَاجِ
اوقائل په کیدو دمفعول له معمول مستقل داغیرداخل دي په مفعول مطلق کې خلاف کوي خلاف ظاهردي زجاج
فَإِنَّهُ أَيِ الْمَفْعُوْلَ لَهُ عِنْدَهُ أَيْ عِنْدَ الزُّجَاجِ مَصْدَرٌ مِنْ غَيْرِ لَفْظِ فِعْلِهِ فَالْمَعْنَى
لره ځکه هغه یعني مفعول له دده په نزد یعني په نزددزجاج مصدر دي په غیردخپل فعل دلفظ نه نومعنی دده په
عِنْدَهُ فِي الْمِثَالَيْنِ الْمَذْكُوْرَيْنِ أَدَّبْتُهُ بِالضَّرْبِ تَادِيْبًا وَجَبُنْتُ فِي الْقُعُوْدِ عَنِ الْحَرْبِ جُبْنًا أَوْ ضَرَبْتُ ضَرْبَ تَادِيْبٍ
نزد په دواړو ذکر شوو مثالونو کې ادبته بالضرب تادیبا او جبنت في القعود عن الحرب جبنا او ضرب ضرب تادیب
وَ قَعَدْتُ قُعُوْدَ جُبْنٍ وَ رُدَّ قَوْلُ الزُّجَاجِ بِأَنَّ صِحَّةَ تَاوِيْلِ نَوْعٍ بِنَوْعٍ لَا تُدْخِلُهُ فِي
وقعدت قعود جبن دي اورد کړي یې دي قول دزجاج چې صحت دتاویل د بوې نوعې دبل نوعې سره دانه داخلوي په

حَقِيْقَتِهٖ اَلَا تَرٰى اَنْ صِحَّةَ تَاوِيْلِ الْحَالِ بِالظَّرْفِ مِنْ حَيْثُ اَنَّ مَعْنٰى جَاءَ
حقيقت ددې بلې نوعې کې آيا ته نه وينې چې صحت دتاويل دحال دظرف سره په داسې شان سره چې معنی د جاء
زَيْدٌ رَاكِبًا جَاءَ زَيْدٌ وَقْتَ الرُّكُوْبِ مِنْ غَيْرِ اَنْ تَخْرُجَ عَنْ حَقِيْقَتِهَا.
زيد راکباً زيد وقت الرکوب دد په غير ددې نه چې داخارج کړي ددې حقيقت نه.

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې په دې عبارت کې دمفعول له په باره کې دنحويانو نه د علامه زجاج اختلاف نقل کوي دعلامه زجاج په نزد مفعول له، مستقل معمول نه دي، بلکې په اصل کې مفعول مطلق من غير لفظ الفعل وي.

اغراض دجامي: والقائل: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي، چې دماتن قول خلافاً مفعول مطلق دي د يخالف دفعل محذوف بيا فعل فاعل اومفعول له دمفعول مطلق سره يوځای شو نو جمله شوه اوداخبر شو دمبتدا محذوف کوم چې القائل الخ دي.

ظاهراً: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي خلافاً مفعول مطلق دي دنوع دپاره، ځکه چې د خلاف دوه (٢) قسمونه دي:

(١) ظاهر (٢) خفي، او دا خلاف داول قسم نه دي. مقصد دا دې چې کوم نحويان چې دا وايي چې مفعول له، مستقل معمول دي اوپه مفعول مطلق کې داخل نه دي، هغه زجاج نحوي مخالف دي، ځکه چې د زجاج په نزد مفعول له، مستقل معمول نه دي، بلکې مفعول مطلق دي کوم چې په اعتبار د لفظ سره د فعل مذکور نه مغائر وي لهذا د زجاج په نزد د ضربته تاديبا معنی ده: ادبته بالضرب تاديبا او د قعدت عن الحرب جبناً معنی ده: جبنت في القعود عن الحرب جبناً يا د ضربت تاديباً معنی ده: ضربته ضرب تاديب او د قعدت عن الحرب جبناً معنی ده: قعدت قعود جبن.

ورد قول الزجاج بان صحة تاويل: په دې عبارت سره شارح دعلامه جازج دقول رد کوي اوپه دې باندې اعتراض کوي چې شارح وايي چې دزجاج قول مردود دي ځکه چې يو نوعه د بلې نوعې په تاويل کولو سره نه دا لازم نه راځي، چې اولنې نوعه د بلې نوعې عين جوړ او ددې په حقيقت کې داخل شي، چنانچه حال دمفعول فيه په تاويل کې کول صحيح دي. لکه جاء زيد راکبا ددې معنی ده جاء زيد وقت الرکوب ليکن ددې تاويل سره دا لازم نه راځي. چې حال دخپل حقيقت نه ووځي او د مفعول له عين جوړ شي همدارنګې که مفعول له دمفعول مطلق په تاويل

کې شي. نو د دې مطلب هرګز دا نه دي، د دې خپل حقیقت به ختم شي.

د مفعول له د نصب شرط:

وَشَرْطُ نَصْبِهِ اَیْ شَرْطُ اِنْتِصَابِ الْمَفْعُوْلِ لَهُ لَا شَرْطُ کَوْنِ الْاِسْمِ مَفْعُوْلًا لَهُ فَالسَّمَنُ وَالْاِکْرَامُ فِیْ قَوْلِکَ
او شرط د نصب د دې یعنې شرط د انتصاب د مفعول له نه شرط د کیدو د اسم مفعول له نو سمن او اکرام په قول ستا
جِئْتُکَ لِلسَّمَنِ وَلِاِکْرَامِکَ الزَّائِرَ عِنْدَهُ مَفْعُوْلٌ لَهُ عَلٰی مَا یَدُلُّ عَلَیْهِ حَدُّهُ وَ هٰذَا
کې جئتک للسمن ولا کرامک الزائر د مصنف په نزد مفعول له دي بناء په هغه څه چې دلالت کوي تعریف د دې او دا
کَمَا قَالَ فِي الْمَفْعُوْلِ فِیْهِ اِنَّ شَرْطَ نَصْبِهِ تَقْدِیْرُ فِیْ وَ هٰذَا اَیْضًا خِلَافُ اِصْطِلَاحِ
لکه څنګه چې یې ویلي په مفعول فیه کې چې شرط د نصب د دې تقدیر د في دي او دا هم دا رنګې خلاف د اصطلاح د
الْقَوْمِ تَقْدِیْرُ اللَّامِ لِاَنَّهَا اِذَا ظَهَرَتْ لَزِمَ الْجَرُّ وَ خَصَّ اللَّامَ بِالذِّکْرِ لِاَنَّهَا الْغَالِبُ فِیْ
نحویانو دي تقدیر د لام دي ځکه چې کله لام ظاهر شو نو لازم دي جر او خاص یې کړو ذکر د لام ځکه غالب په تعلیلاتو د
تَعْلِیْلَاتِ الْاَفْعَالِ فَلَا یُقَدَّرُ غَیْرُهَا مِنْ مِنْ اَوِ الْبَاءِ اَوْ فِیْ مَعَ اَنَّهَا مِنْ دَوَاخِلِ الْمَفْعُوْلِ لَهُ
افعالو کې نو نه دي مقدر غیر د دې د من او د باء او في سره د دې چې دا په مفعول له باندې د داخلیدونکو حروفو نه
کَقَوْلِهِ تَعَالٰی خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ وَقَوْلِهِ تَعَالٰی فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِیْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا وَقَوْلِهِ
دي لکه دا قول د الله تعالی خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ او دا قول د الله تعالی فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِیْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا او دا قول
عَلَیْهِ السَّلَامُ اِنَّ اِمْرَاَةً دَخَلَتِ النَّارَ فِیْ هِرَّةٍ اَیْ لِاَجْلِهَا.
د نبي کریم ﷺ چې یوه زنانه داخله شوه اور ته په باره د پیشو کې یعنې د وجې د پیشو نه.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره شارح د مفعول له د منصوب کیدو شرط بیانوي چې مفعول له په هغه وخت کې منصوب وي چې کله په دې کې لام مقدر وي که چیرته لام مقدر نه وي بلکه ظاهر وي نو د مفعول له د منصوب کیدو په ځای حرف جر د لام د وجې نه به مجرور وي.

اغراض د جامي: <u>ای شرط انتصاب</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: تقدیر د لام د مفعول له د نصب شرط نه دي، ځکه چې نصب خو د نفس د حرکت نوم دي کوم چې د عامل د وجې نه حاصلیږي او دا د یو شرط محتاج نه دي؟

جواب: شارح د انتصاب د لفظ اضافه وکړه او جواب یې ورکړو چې دلته نصب د انتصاب په معنی کې دي یعنې تقدیر د لام د نصب د پاره شرط نه دي بلکې د منصوب کیدو د پاره شرط دي

المفعول له: په دې عبارت سره شارح د نصبه د ضمیرمرجع متعین کوي چې مرجع مفعول له ده.

لا شرط: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: په عبارت کې اصل اختصار وي لهذا مصنف رَحِمَهُ اللهُ له په کار وو، چې **وشرطه** یې ویلې وي د دې دپاره چې مطلوب هم حاصل شوې وي او ایجاز او اختصار هم شوې وي نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ **لا شرط کون الاسم مفعولا له** ولې وویل؟

جواب: که مصنف رَحِمَهُ اللهُ **و شرطه** ویلې وي نو دې سره به دا وهم پیدا کیدو چې تقدیر دلام خو د مفعول له دپاره د مفعول له دکیدو شرط دي، حالانکه دا دمفعول له دمفعول له کیدو دپاره شرط نه دي بلکه د دې دمنصوب کیدو دپاره شرط دي مثلاً **جئتك للسمن او جئتك اكرامك** په دې کې سمن او اکرام مفعول له دي حالانکه لام مقدر نه دي اوداخبره داسې ده لکه دمفعول فیه په باره کې چې تیره شوې ده

و هذا كما قال: دا بالکل داسې ده لکه مصنف رَحِمَهُ اللهُ دمفعول له په بحث کې ویلي **وشرط نصبه**، یعنې څنګه چې هلته یې د قوم مخالفت کړی وو، همدارنګې یې دلته هم دقوم مخالفت کړي دي ، ځکه چې دقوم نحویانو په نزد تقدیر دلام دمفعول له د مفعول له کیدو دپاره شرط دي او د مصنف رَحِمَهُ اللهُ په نزد تقدیر دلام دمفعول له دمنصوب کیدو دپاره شرط دي.

لانها اذا ظهرت: په دې عبارت سره شارح دذکر شوي شرط وجه بیانوي چې د لام دمقدر کېدو شرط یې ځکه ولږولو چې که چیرته لام مقدر نه وي ، بلکې ظاهر وي نو مفعول له به منصوب نه وي بلکې مجرور به وي.

و خص اللام بالذكر: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

